يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ فَـَٔامَنَّا بِهِۦ

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقیقي انداز کښې

علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل، لاجوابه علمي تحفه

رُشدُ القرآن

فی تفسیر آیات القرآن

اووم جلد

له ابتداء د سورة ق نه تر آخره سورة الناس پورې

تالیف

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا اُسیدُالله صاحب رحمه الله

جدید مکتبه رشیدیه

محله جنگی قصه خوانی پشاور

091-2580074

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

حنفی شافعی

کفایت دینی کتب خانہ

کفایت اللہ ابن صدیق

واٹس ایپ گروپ ٹیلی گرام چینل

اس گروپ میں کتابیں اہل السنۃ والجماعت، حنفی، شافعی، مالکی، حنبلی، دیوبند ، علماء حق کے عقائد کے مطابق ہوں گی مختلف زبانوں میں اسلامی کتابیں پشتو عربی اردو فارسی جیسے تفسیریں، فتاویٰ درسی کتب خارجی کتب و غیرہ۔

کفایت اللہ ابن صدیق

easypaisa

+923052488551
+923247442395

مالکی حنبلی

بسم الله الرحمن الرحيم

يَهْدِي إِلَى الرُّشْدِ فَآمَنَّا بِهِ وَلَنْ نُشْرِكَ بِرَبِّنَا أَحَدًا

په پښتو ژبه کښې آسان، عام فهم او تحقيقي
انداز کښې، علمي او الهامي نکاتو باندې مشتمل ، لاجوابه علمي تحفه

پښتو

رشد القران

فی تفسیر آیات القرآن

اووم جلد

له ابتداء د سورة ق نه تر اخر د سورة الناس پوري

تالیف
شیخ القرآن والحدیث
حضرت مولانا أسید الله صاحب رحمه الله

جدید مکتبه رشیدیه
محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د كتاب ټول حقوق محفوظ دي

د كتاب نوم : **رشد القران فی تفسير آيات القرآن**

تاليف : شيخ القرآن والحديث حضرت مولانا **أُسيد الله** صاحب رحمه الله

تصحيح ونظر ثانی : مولانا تقی الله صاحب

جلد : اووم

صفحات : ٦٩٤

چاپ اول ځل : ۲۰۱۷ء

جديد مكتبه رشيديه
محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

د كتاب تر لاسه كولو ځايونه

پشاور ، اكوړه خټک ، كوټه ، پروان ، كندوز ، غزنې ، جلال آباد ، قندهار ، بغلان ، لوګر ، خوست

ركوعاتها (۳)	سورة ق مكية	آياتها (۴۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۰) وحسب النزول (۳۴)

سورة ق مكيَ دې، نزلت بعدالمرسلات وقبل البلد.

ربط: څرنګه چه مشرکين دَتوحيدنه انکارکوی(چه دا اصل الاصول دې)نودغه شان دوئ دَ قيامت حشر نشر،سزا جزاء،نه هم انکارکوی،نوماقبل سورتونو،سورة محمّد،سورة فتح، سورة حجرات کښ ذکراواثبات دَتوحيد اوشو،بالسنان،پدې سورة کښ دَ دويم اصل بيان دې چه قيامت دې.

دسورة دَمضامينو اجمالي خلاصه

سورة ق نه ورستو مسئله دَقيامت ذکرکيږی په هرسورة کښ دَماقبل نه على سبيل الترقى،اوتوحيدچه اصل الاصول دې نوورسره ورسره دَهغى بيان هم کيږی،په ابتداء کښ تمهيددې دعوې دَسورة ته بياذکردَدعوې دې چه(کذلک الخروج)اوبياپه هغى دوه دلائل عقليه ذکردی،يوتفصيلي بل مختصر،اومنونکوته بشارات اونه منونکوته تخويفات،زجرونه هم ذکرکيږی،اوپه آخرکښ مسئله دَتوحيد.

تفصيلي خلاصه

تمهيد مع الزجر:آيت نمبر ۱تا۳ او ديکښې د مشرکينو دوه شبهې نقل کيږي

دعوه دَسورت:آيت نمبر ۱۱ کذلک الخروج ده

دوه دلائل عقليوۀ بيان دې:

اول دليل عقلي: آيت نمبر ۶ تر ۱۱ پورې.

دويم دليل عقلي:آيت نمبر ۳۸

درې تخويفات ذکرکيږی:

(۱)اول تخويف:آيت ۱۲ تر۱۴

(۲)تخويف ثاني:آيت نمبر ۱۲ تر ۳۰

(۳)تخویف ثالث آیت ۳۶، ۳۷

یو بشارت ذکر کیږی، آیت ۳۱.۳۵

تسلی برائی نبی ﷺ ۳۹ تاآخر.

قٓ ۚ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِيْدِ ۝١ بَلْ عَجِبُوْٓا اَنْ جَآءَهُمْ
قٓ،قسم دې په قرآن چه خاوندد شرافت دې،بلکه دا کافران تعجب کوی دَدینه چه راغلې دې دوئ ته
مُّنْذِرٌ مِّنْهُمْ فَقَالَ الْكٰفِرُوْنَ هٰذَا شَيْءٌ عَجِيْبٌ ۝٢ ءَاِذَا
یرونکې دَ دوئ دَ جنس نه پس وائی کافران دا یوشئ عجیب دې،آیا(مونږ به بیاژوندی کیږو)کله چه
مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا ۚ ذٰلِكَ رَجْعٌۢ بَعِيْدٌ ۝٣ قَدْ عَلِمْنَا
مړه شو مونږ او شو مونږ خاورې دا(بیاژوندی کیدل) واپسي لرې ده ،په تحقیق سره معلوم دی مونږ ته
مَا تَنْقُصُ الْاَرْضُ مِنْهُمْ ۚ وَعِنْدَنَا كِتٰبٌ حَفِيْظٌ ۝٤
هغه چه کموی ئی زمکه د دوئ نه او زمونږسره کتاب دې حفاظت کونکې(دَعملونودَدوئ)
بَلْ كَذَّبُوْا بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ فَهُمْ فِيْٓ اَمْرٍ مَّرِيْجٍ ۝٥
بلکه دوئ تکذیب اوکړو د حق کله چه راغې دوئ ته نودوئ په خبروګډوډوکښ دی
اَفَلَمْ يَنْظُرُوْٓا اِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَ زَيَّنّٰهَا
آیا نه ګوری دوئ اسمان ته دَ پاسه دَدوئ چه څه رنګه جوړ کړیدې مونږ هغه او ښائسته کړیدې مودې
وَ مَا لَهَا مِنْ فُرُوْجٍ ۝٦ وَالْاَرْضَ مَدَدْنٰهَا وَ اَلْقَيْنَا فِيْهَا رَوَاسِيَ
اونشته دې په هغې کښ څه چاؤد(سورې) اوزمکه غوړه ولی ده مونږ هغه او ایخی دی مونږ په دیکښ مضبوط غرونه
وَ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍۢ بَهِيْجٍ ۝٧ تَبْصِرَةً وَّ ذِكْرٰى
اوزرغون کړی مودی په دیکښ دَ هر قسمه بوټونه تر و تازه. دَ پاره دَ پوهه کولو او دَپاره دَنصیحت

لِكُلِّ عَبۡدٖ مُّنِيبٖ ٨

دهرهغه بنده چه رجوع کونکې وی الله ﷻ ته،

﴿قٓ﴾دادَمقطعاتوقرآنیه ؤنه دي چه قطعی اوحقیقی معنی ئی الله ﷻ ته معلومه ده، او راجح قول دا دي چې دا حروف د تحدي دپاره راوړلې شوي دي.

﴿وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡمَجِيدِ﴾داقسم دې اوقسم برای استشهاددې اوجواب قسم ئی محذوف دې چه "انک لرسولٌ صادقٌ" یا "لتبعثنّ بعد الموت" دې چې مابعد آیت په دې دلیل دې ، یعني دا دعزت او شرافت والا کتاب په دې گواهي ورکوي چې ته د الله ﷻ برحق رسول ئي او بعث حق دې ،﴿ٱلۡمَجِيدِ﴾ یعنی ذو المجد و الشرف علی غیره من الکتب، یا ﴿ٱلۡمَجِيدِ﴾ صفت بحال متعلقه دې یعنی مجیدٌصاحبه،چاچه ایزده کړواوعمل ئی پرې اوکړو نوعندالله اوعندالناس به عزت مندشی(کشاف).

﴿بَلۡ عَجِبُوٓاْ﴾دا اضراب دې د جواب قسم محذوف نه او د مشرکینو اعتراض به طور شکوه نقل کیږي ، چې ته اګرچې د الله ﷻ برحق رسول ئي او بعث به خامخا کیږي او دا قرآن هم په دې گواه دې خو ددې باوجود دا مشرکان ستا په نبوت او بعث بعد الموت باندې اعتراض او حیرت و تعجب اظهار کوي چې دې څنګه رسول کیدې شي ، رسول خو فرشته پکار ده ، بشر کیدې نشي ، اوبیا دې چې د مرګ نه ورستو احوال بیانه وي دادَ کومه ځایه راغلي دي(مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡ)دیکښې اشاره ده دیته چې د دوئ دپاره باعث تعجب اموره دوه وو:(۱)یو د بشر نبي کیدل (۲) او بل انذار یعني مرګ نه روستو احوالو سره دوئ یرول ﴿أَن جَآءَهُم﴾ای لان جاءهم﴿مِّنۡهُمۡ﴾من جنسهم،﴿هَٰذَا﴾مشارٌالیه بشریت دَرسول او بعث دې.

﴿أَءِذَا مِتۡنَا﴾ دا د مشرکانو دلیل دې په عدم امکان د بعث، چې مونږ مړه شو او خاورې خاورې ذرې ذرې شو او اجزا خو په زمکه کښې میلاؤ او نوم نشان خو روک شي نو بیا دا څنګه کیدې شي چې دا ټول را جمع کړې شي او بیا ورله وجود او حیات ورکړې شي !!!
﴿ذَٰلِكَ﴾یعنی دابعث بعدالموت﴿رَجۡعُۢ بَعِيدٞ﴾ای بعیدٌ عن العقل والامکان،یعنی داخو دَ عقل نه

ډيره لرې ده؛ ځکه چې (۱) يو خو دا اجزاؤو پته نه لګي (۲) او بل د دې نه بيا څنګه ژوندي پيدا کيږي.

﴿ قَدْ عَلِمْنَا مَا تَنقُصُ ٱلْأَرْضُ ﴾ دا جواب دې د مشرکينو د دليل ، او دليل عقلي دې په امکان د بعث، چې بعث بالکل آسان او ممکن دې ، ځکه چې الله ﷻ عليم ذات دې ، د ستاسو د وجود يوې يوې ذرې علم ورسره دې ، هغه به د زمکې نه را اوباسي ،او قدير دې چې دې ذرو نه به بيا دوباره انسان جوړ کړي او حيات به ورله ورکړي ،

﴿ قد علمنا ما تنقص ﴾ دا د دوئ د **استبعاد اول شق جواب دې** چه ديکښې الله ﷻ لره د علم محيط اثبات دې ، چې زمکه دَانسان غوښه،هډوکی،ويخته وغيره زاړه کړی اووئی خوری،ريزه ريزه ئی کړی ليکن بياهم داټول اجزاء مونږته معلوم وی او مونږ سره په يو محفوظ کتاب کښ درج وی،لهذا دَ دوئ وراسته اجزاء معلومول مونږ ته قطعًا مشکل امر نه دې،د بخاري شريف روايت دې چه نبیﷺ فرمائی: لَيْسَ مِنَ الإِنْسَانِ شَيْءٌ إِلَّا يَبْلَى، إِلَّا عَظْمًا وَاحِدًا وَهُوَ عَجْبُ الذَّنَبِ، وَمِنْهُ يُرَكَّبُ الخَلْقُ يَوْمَ القِيَامَةِ وفی رواية لمسلم: «كُلُّ ابْنِ آدَمَ يَأْكُلُهُ التُّرَابُ، إِلَّا عَجْبَ الذَّنَبِ، مِنْهُ خُلِقَ وَفِيهِ يُرَكَّبُ». يعنى دَانسان ټول بدن خاورې کيږی مګر يو هډوکې نه خاوری کيږی چه هغه عجبُ الذنب،دې (پښتوکښ دې هډوکی ته "لکمونې" وائی)د دينه پيدا شوې دې او هم دينه به دَ انسان دوباره تخليق کيږی.

﴿وَعِندَنَا كِتَٰبٌ حَفِيظٌۢ ﴾حفيظ ياپمعنی دَمحفوظ دې يعنی دَهرتغيرنه محفوظ دې يا پمعنی دَ حافظ دې،اومراد ورنه يالوحِ محفوظ يا علم الهی دې.

﴿بَلْ كَذَّبُوا ﴾دادَ بل عجبوا نه اضراب دې ، يعني دوئ د تعجب د پاره څه واقعي باعث نشته ځکه چې دوئ د الله ﷻ علم محيط او قدرت تامه دواړه مني ، بلکه اصل مسئله د دوئ عناد ده ، چې هغې د وجهې نه حق نه انکار کوي او په ګډو وډو ئي سر دې ، ﴿بِٱلْحَقِّ﴾ ای بالامر الظاهر البين، مراد ورنه بعث بعدالموت دې﴿فَهُمْ فِىٓ أَمْرٍ مَّرِيجٍ ﴾ "مريج "پمعنی دَمختلط اومتلبس سره دې،يعنی داکافران په ګډوډاومتزلزل احوالو،اقوالوکښ مبتلادی،يو طرف ته د الله ﷻ علم محيط او قدرت تامه مني او بل طرف ته د بعث نه انکار کوي ،دغه شان د الله

ﷺ رسول په باره کښې کله وائی چې دا (نعوذبالله) ساحر دې، کله وائی کاذب دې، کله وائی کاهن دې، کله وائی شاعر دې، یا "مریج" پمعنی دَ فاسد سره دې یقال مرجت المعدةُ اذافسدت.

﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ﴾دا د **دوئ استبعاد دویم شق جواب** دې چې دیکښې الله ﷻ لره قدرت تامه اثبات شوې دې ،چې کوم ذات چې دومره لویو لویو کارونو باندې قادر دې ، آسمانونه ، زمکه ، غرونه وغیره پیدا کولې شي نو انسان بیا ژوندې کول هغه ته څه مشکل دي !!! ﴿ أَفَلَمْ يَنظُرُوٓاْ إِلَى ٱلسَّمَآءِ ﴾دیکښې د علویاتو بیان دې ﴿ كَيْفَ بَنَيْنَٰهَا ﴾ای بلاعمدٍ،یعنی داخومره لوئ عظیم الشان چهت ئی بغیردَستن نه اودره ولې دې،دې ته په نظرِدَعبرت سره اوګورئ،﴿وَزَيَّنَّٰهَا ﴾ اوبیائی په ستورو یا طبعی منظر سره مزین کړیدې،﴿فُرُوجٍ ﴾ جمع دَ "فرج" ده "شق" (چاود) ته وائی مراددادې چه دَهرعیب اونقصان نه سالم دې،نودادَ "ابواب السّمآء" سره منافی نه دې.

﴿وَٱلْأَرْضَ مَدَدْنَٰهَا ﴾دې کښې دَ سفلیاتو ذکر دې یعنی علویات ټولوباندې الله ﷻ قادردې﴿وَٱلْأَرْضَ ﴾ "منصوب" علی شریطة التفسیردې ﴿مَدَدْنَٰهَا ﴾ یعنی زمکه موخوره کړې اوغوړه ولی ده،هرچه ده نظریه دَاهل هیئت چه زمکه کرّه ده،نودَدې آیت سره مَخالفه نده څکه چه کرّه چه کله ډیره لویه وی نودَهغې هره هره حصه په نظرباندې خوره سطح راځی﴿وَأَلْقَيْنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ﴾ جمع دَ "راسیّ"ده،یادَ "راسیةٌ"ده،دَ "رُسوّ"نه مشتق دې،پمعنی دَثبات دَاجساموثقیله ؤ سره، نودَ "رواسی"معنی داده چه پاخه غرونه چه پخپله هم نه خوزیږی دَخپل ځائ نه اوزمکه ئی هم دَ خوځیدو نه منع کړیده،کقوله تعالی"رواسی ان تمیدبکم"اودغه رنګه په حدیث کښې هم مذکور دی چه کله الله ﷻ زمکه پیداکړه نوخوزیدله نودَپاسه نه ئی ورباندې دَغرونومیخونه اووهل نو اودریدله،﴿ مِن كُلِّ زَوْجٍ ﴾یعنی دازمکه موپه هرقسمه تازه بوټوسره زرغونه کړیده اوورونق مو ورکړیدې .یازوج پمعنی دَجوړې سره دې نوداپدې دلالت کوی چه په بوټوکښې هم مذکرمؤنث شته دې.

﴿تَبۡصِرَةً وَذِكۡرَىٰ﴾ مفعول له دي د ماقبل ټولو افعالو ((بنينا، زينا، مددنا، القينا،او انبتنا)) د پاره على وجه التنازع، او علت دي دَ دې کارونو ،((تبصرة)) او ((ذکریٰ)) کښې فرق دا دې چې "تبصرة" په مقابله کښې "جهل" راځي او او "ذکری" په مقابله کښې "غفلت" راځي ، يعني په دې صنائعو کښې غور و فکر کولو سره د الله ﷻ د قدرتونو نه جاهل نه ، معرفت نصيب کيږي او غافل نه ورسره ياد دهاني کيږي ، خو شرط دا دې چې دې جاهل او غافل کښې دوه صفاته وي : يو عبديت او بل انابت ،يعني دا کس متکبره او ضدي او معاند نه وي.

وَنَزَّلۡنَا	مِنَ	ٱلسَّمَآءِ	مَآءٗ	مُّبَٰرَكٗا	فَأَنۢبَتۡنَا بِهِۦ

اوراورولې دى مونږ دَطرفه دَاسمان نه اوبه مباركې نو رازغون كړې دي مونږ په هغې سره

جَنَّٰتٖ وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ ۝٩ وَٱلنَّخۡلَ بَاسِقَٰتٖ لَّهَا طَلۡعٞ نَّضِيدٞ ۝١٠ رِّزۡقٗا

باغونه او دانې (د هغه فصل)چه ريبلې شي، اوكجورې دنگې دنگې چه وي دَ هغې وږی لاندې باندې ، دَ پاره دَ رزق

لِّلۡعِبَادِۖ وَأَحۡيَيۡنَا بِهِۦ بَلۡدَةٗ مَّيۡتٗاۚ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ۝١١

دَ بندگانو ، او را ژوندئ كړه مونږ په هغې سره مړه (وچه) زمكه ،هم دغه شان به راوتل وى(ستاسودَقبرونونه).

﴿وَنَزَّلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ﴾داهم دَ ماقبل دليل عقلى حصه ده،او د الله ﷻ قدرت مظاهر پکښې بيانيږي،﴿مَآءٗ مُّبَٰرَكٗا﴾يعنى كثيرالمنافع،﴿وَحَبَّ ٱلۡحَصِيدِ﴾ "الحصيد"صفت دې دَموصوف محذوف دپاره،چې هغه الزرع يا النبت دي ،يعنى دانى دَ هغه بوټوچه"لو"كوليشى.﴿وَٱلنَّخۡلَ﴾ عطف دې په﴿جَنَّٰتٖ﴾ باندې﴿بَاسِقَٰتٖ﴾ دنگى دنگى كجورې ياپمعنى"حوامل"سره دې.﴿رِّزۡقٗا﴾ مفعول له دې،اى انبتناهاللرزق،

﴿ كَذَٰلِكَ ٱلۡخُرُوجُ ﴾دادَسورة **مركزى دعوه** ده،چه لکه څرنگه چه باران سره مړه زمکه راژوندئ شى، په زمکه بوټي نه وي بيا را زرغون شي ، بلكه څنو بوټو د تخم پته په زمكې كښ هم نه لگي خو بيا ئې هم الله ﷻ را پيدا كړي ، نودغه شان به دَقيامت په ورځ الله ﷻ مړه انسانان دَ زمكې نه دوباره راژوندى كړى ، برابره خبره ده چې د هغه اجزاء زمكې خوړلي وي

او كه محفوظ وي . او د بخاري او مسلم په روايت كښې دا هم راغلي دي ،چې قيامت په ورځ به الله ﷻ باران اوكړي نو دې باران سره به انسانان داسې ژوندي كيږي او پيدا كيږي لكه چې بوټي ورسره پيدا كيږي ،

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَّأَصْحٰبُ الرَّسِّ وَثَمُودُ ﴿١٢﴾ وَعَادٌ
تكذيب كړې وو مخكښې دَدوئ نه قوم دَنوح عليه السلام اوخاوندانودكوهي اوثموديانو، اوعاديانو
وَفِرْعَوْنُ وَإِخْوَانُ لُوطٍ ﴿١٣﴾ وَّأَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ وَقَوْمُ تُبَّعٍ ۚ كُلٌّ كَذَّبَ الرُّسُلَ
اوفرعون اوورونړو دكوط عليه السلام، اوخاوندانو دبنړ(ځنګل)اوقوم دتبع، هريو تكذيب كړې وو دَرسولانو،
فَحَقَّ وَعِيدِ ﴿١٤﴾ أَفَعَيِينَا بِالْخَلْقِ الْأَوَّلِ ۚ بَلْ هُمْ فِي لَبْسٍ
پس ثابت شو(په هغوئ)عذاب ځما.آياموتړسترې شوي يوپه اول ځل پيداكولو،بلكه دوئ په شك كښې دي
مِّنْ خَلْقٍ جَدِيدٍ ﴿١٥﴾
دَپيداكيدو نوي نه.

﴿ كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ ﴾ پديكښې مكذبينو اومنكرينو ته تخويف دنيوى بيانيږي، او ضمنًا تسلى ده حضور ﷺ ته يعنى لكه څرنګه چه دغه سركشو قومونو تكذيب اوكړو نو دَ الله ﷻ عذاب پرې راغې نو دغه شان به اې اهل مكه ؤ په تاسوعذاب راشى كه تكذيب كوئ. په آياتونو مذكورؤ كښې چه دَ كومو قومونو ذكر دې دَ دوئ دَ هلاكت واقعات مخكښې سورتونو لكه اعراف، حجر، فرقان، دخان وغيره كښې تيرشويدى.

﴿وَأَصْحٰبُ الرَّسِّ ﴾مشهور قول په بناء دوئ ته پيغمبر حضرت حنظله بن صفوان عليه السلام راليږلې شوې وؤ نور تحقيق دَسورة فرقان آيت(٣٨)كښې وګورئ. ﴿ وَإِخْوَانُ لُوطٍ ﴾ مراد دَ رونړو نه نسبى رونړه نه دى بلكه دوئ ته اخوان دَ لوط صرف دَمصاهرت(سخرګنئ)په وجه وئيلې شويدې(روح المعانى)﴿وَأَصْحٰبُ الْأَيْكَةِ ﴾قوم دَشعيب عليه السلام﴿وَقَوْمُ تُبَّعٍ﴾دَدې تفسيرپه سورة الدخان(٣٧)كښې شويدې چه داحميرى بادشاه وؤپخپله مؤمن وؤليكن قوم ئې كافروؤ.

﴿ كُلٌّ كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ ﴾ كذّب مفرد دَ وجهي دَ لفظ دَ كل نه راوړلې شوا و مراد دَ كلية نه تكثير دي كقوله تعالى واوتيت من كل شئ، ځکه چه په قوم نوح وغيره کښ بعضو ايمان راوړې وؤ كقوله تعالى فما آمن معه الاقليل

﴿أَفَعَيِينَا بِٱلْخَلْقِ ٱلْأَوَّلِ ﴾دازجردي منكرينودَقيامت ته استفهام دَتوبيخ دَپاره دي، ((افعيينا)) دا عيّت الحمامة بالبيضة نه ماخو ذ دي، او دا تعبير هغه وخت استعماليږي چې کله كونترې د اګۍ اچولو وخت راشي خو په دې نه پوهيږي چې چرته ئي واچوي ، او کله چې واچوي نو بيا په دې نه پوهيږي چې اوس ئي حفاظت څنګه اوکړي ، نو خپله اګۍ ئي راغستې يو خوا بل خوا ګرځي او څه بن ورله نه ورځي چې څه پرې اوكړي ، او دغه شان عرب وائي: اعياني دواءک ، کله چې د مرض تشخيص ورنه اونشي ، نو دلته ئي معني عاجزه کيدل ، متحير کيدل او تردد کښې اچيدل ده ، نو الله ﷻ منکرينو د بعث ته فرمائي چې مونږ تاسو اول ځل پيدا کړي يئ ،حالانكه د تاسو څه سابقه مثال هم نه وو، هر انسان له جدا جدا صورت ورګول وو، د پلار خوي ترتيب وو، او نور داسې ډير امور وو چې هغه قيامت په ورځ پيدا كولو كښې نشته ، خو دې باوجود الله ﷻ نه ستاسو د اول پيدائش نه عاجزه شوي دې او نه د څه تردد او تذبذب كښ مبتلا شوي دې نو دوباره پيدا کولو کښې بيا د استبعاد څه خبر ده!!

﴿بَلْ هُمْ فِى لَبْسٍ﴾يعنى نه مونږ عاجزه شوي يو او نه داكافران دَالله ﷻ دَقدرت نه انکار کولې شى بلكه اصل داده چه دوئ دَوقوع قيامت او دَ دوباره پيدا كيدلو په باره کښ په شک کښ دى.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ نَفْسُهُۥ ۖ وَنَحْنُ
اوبه تحقيق سره پيداكړيدې مونږانسان اومونږپوهيږو په هغه چه وسوسې اچوى، دَ هغى نفس دَ ده اومونږ
أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنْ حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ ﴿١٦﴾ إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلْيَمِينِ
زيات نزدې يو ده ته دَرګ دَمرئ نه،کله چه اخلى دوه اخستونکى(فرشتې)، چې خى طرف ته

وَعَنِ الشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ ﴿١٨﴾

اودگس طرف ته ناستې وی . نه رااوباسی انسان دخولې نه څه خبره مگرپه خوادَهغه کښې نگهبان تيار وي (ليکلوته).

﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ وَنَعْلَمُ﴾ داتخويف اخروی دې،اودَبيان سابق تتمه ده چه په انسان باندی زمونږقدرت کامله هم شته دې اوعلم کامل هم،نولهذادَانسان دوباره راژوندی کول مونږته مشکل نه دی.﴿خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ﴾ دَقدرت کامله بيان دې﴿وَنَعْلَمُ مَا تُوَسْوِسُ بِهِۦ﴾ دَعلم کامل بيان دې،چه مونږدَانسان دَهرقول اوفعل نه خبرداريو ، تر دې چه دَ هغه په پټو خبرو چه دَ وسوسی په طريقه دَهغه په زړه کښې تيريږی هغه هم مونږته معلوم دی.«به» کښې هاء، ضمير "ما" ته راجع دې،اوداهم کيديشی چی «الانسان» ته راجع وی ،دی صورت کښې به معنی داسی وی:دَده نفس چې د ده سره کومې پټې خبرې کوي مونږ ته د هغې هم پته ده .

﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ﴾ مراددَقرب نه دَجمهورومفسرينوپه نزدقرب علمی دې﴿حَبْلِ ٱلْوَرِيدِ﴾ اضافت بيانی دې،«حبل الوريد»شه رگ يعنی دَڅټ هغه غټ رگ ته وائی چه دَهغی په پرې کيدلو سره انسان مړ کيږی ، ممکنه ده چه دا کنايه وی دَ روح او نفس نه، نومطلب دادې چه مونږ دَ علم په اعتبارسره انسان ته دَده دَروح اونفس نه هم زيات نزدې يو ،څومره چه الله ﷻ دَانسان په احوالوباندی عالم اوخبرداردې دومره انسان پخپل ځان ندې عالم،علامه ابن کثير رحمه الله په نزد دَ "نحن" نه مرادفرشتې دی،ذات يا علم دَالله ﷻ نه دې مراد،يعنی زمونږ فرشتې انسان ته دَشه رگ نه زياتی قريبی دی.

﴿إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ﴾ "اذ"متعلق دې دَ "اقرب"سره يعنی مونږ زيات قريب يوانسان ته دَحبل الوريد دَ هغه نه،کله چه فرشتې دَهغه اعمال ليکی،نوپديکښې اشاره ده ديته چه الله ﷻ دومره زيات عالم دې دَ انسان د احوالو او اعمالو نگراني د پاره د فرشتو مقرر کولو ته ئی حاجت نشته دې،فرشتوتقررخوصرف دَظاهری اتمام حجت دپاره دې(روح المعانی). لکه په حديث کښې دی چه فرشتې دَ يو بنده نيک عمل بره اوړی اودَهغی ډيرې خوبيانې بيانوی ، ترکومه پورې چه الله ﷻ غواړی هغه به وړی.بيابه ورته الله ﷻ هغوئ ته القاء اوکړی چه تاسو صرف ځما دَ بنده دَ عمل محافظې يئ او څه دَ هغه دَزړه نگران يم ځمادې بنده داعمل ځما دَ

رضا دَ پاره نه دي کړي تاسو داپه جهنم کښ اوليکئ،او دَ يوبنده به داسې عمل راوړی چه دَ هغې به تحقير کوی او هغه به ډيرکم ګڼړی،اوهغه عمل به هم ترکومه پورې چه دَ الله ﷻ خوښه وی، وړی،بيا ورته الله ﷻ القاء اوکړی چه تاسوځما دَ بنده صرف دَ عمل محافظی يئ،ځه دَ هغه دَ زړه نګران يم،ځما دي بنده دا عمل ځما دَ رضاء د پاره کړيدې دا دَ نيکانو په دفترکښ اوليکئ (روح المعانی بحواله ابن مبارک وابن ابی الدنيافی الاخلاص).

﴿ يَتَلَقَّى ﴾ پمعنی دَ ياخذ سره دې، ﴿ ٱلْمُتَلَقِّيَانِ ﴾ هغه دوه فرشتې چه په هر انسان مقررې دی، او دَ هغه افعال، اقوال، اعمال ليکی او دوئ ته کراماً کاتبين ويلې کيږی. ﴿ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴾ 'قعيد' په وزن دَ فعيل دې اطلاق ئی په واحد او په متعددو يوشانته کيږی،ځکه واحد ذکر شو ورنه 'قعيدان' پکار وؤ، يا په عبارة کښ حذف دې ای عن اليمين قعيدوعن الشمال قعيد.

فائده: دقرآن ظاهر نه صرف دومره خبره معلوميږي چې دا دوه فرشتې دي ، يوه ښي طرف ته وي او بله ګس طرف ته ، خو د مکان تعيين ئي نه قرآن کښې راغلې دې او نه په صحيح احاديثو کښې ، البته بعضو سلفو نه مروي دي چې دا د انسان په اوګو باندې ناستې وي او بعض فرمائي چې د انسان په داړو باندې ناستې وي ، ليکن اصح داده چه علم دَ دې مفوض دې الله ﷻ ته،زمونږ عقول ئی ادراک نشی کولې اونه ئی مونږ مشاهده کولې شو.

﴿ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ ﴾ يعنی انسان چه دَخولې نه څه قسمه خبره رااوباسی که خيروی که شر، دا فرشتې ورته تيارې ناستې وی،اوليکی ئی، په دې مسئله کښ اختلاف دې چه آيا دَ انسان هرقول ليکلې شی ياصرف هغه چه په هغې کښ ثواب ياعقاب وی؟ نو امام مالک رحمه الله وغيره علماء فرمائی چه هرڅيزليکی'حتی الانين فی المرض' صاحب دَروح المعانی ليکی چه وفي شرح الجوهرة للقاني: مما يجبُ اعتقاده انّ لله تعالى ملائكةً يكتبون افعال العباد من خير او شرٍ او غيرهما قولاً كانت اوعملاً او اعتقاداً ، همّا كانت او عزما او تقريراً ، اختارهم سبحانه لذلک فهم لايهملون من شانهم شيئًا فعلوه قصداً او تعمداً او ذهولاً و نسياناً.

بعضِ علماؤ دَابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړيدی چه صرف هغه کلمات ليکلې شی چه دَثواب يا عقاب مدار وی پرې، بعضِ علماؤ د دواړو قولونو په مينځ کښ داسې تطبيق کړيدې چه

ابتداءً هر كلمه ليكلې شي ليكن چه كله دَده اعمال پيش كولې شي نو مباحات ورنه محوه كړې شي، او دا معنى ده دَالله ﷻ د ﴿يمحوالله مايشاء ويثبت﴾ والله اعلم

﴿مِن قَوْلٍ﴾ ذكردَقول دې خو فعل پكښې هم په دلالت النص سره داخل دې،او دغه شان دا ترينه هم معلوميږي چه فرشتې دَانسان دَزړه خيالات اووساوس نه ليكي كمافي الحديث، إِنَّ اللَّهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسهَا، مَا لَمْ تَعْمَلْ أَوْ تَتَكَلَّمْ

﴿رَقِيبٌ﴾يعنى فرشته چه دَده قول ساتنه كوى﴿عَتِيدٌ﴾تياره اوحاضره.دادواړه هم په وزن دَفعيل دى په مفرد او متعدد ئى اطلاق يو شانته كيږى ، كه دَ آيت كريمه استحضار وى نو دَ مسلمانانو نه به چرته هم گناه نه صادريږى خصوصاً گناه دَژبې.

وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ بِالْحَقِّ ذٰلِكَ مَا كُنتَ مِنْهُ تَحِيدُ ﴿١٩﴾
اورابه شى سختئ دَمرگ په رشتياسره(اوبه ويلې شى ده ته)داهغه دې چه ته به دَهغې نه تختيدلې،
وَنُفِخَ فِي الصُّورِ ذٰلِكَ يَوْمُ الْوَعِيدِ ﴿٢٠﴾ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ مَّعَهَا سَآئِقٌ
اوبه پوكلې شى په شپيلئ كښې ،دا ورځ دَ عذاب ده،اوراشى به هر نفس ورسره به وى يو شړونكې
وَشَهِيدٌ ﴿٢١﴾ لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هٰذَا فَكَشَفْنَا عَنكَ
اوگواهى كونكې(ورته به اوويلې شى)چه يقيناًوې ته په غفلت كښې دَدې ورځې نه نولرې كړله مونږستانه
غِطَآءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ ﴿٢٢﴾
پرده ،ستانونظرستانن ورځ تيزدې

﴿وَجَآءَتْ سَكْرَةُ الْمَوْتِ﴾داتخويف دې ، په دلائلو سره د بعث اثبات كولو نه ورستو اوس الله ﷻ د بعث پوره احوال به طور تخويف بيانوي ، او دې آيت كښې تخويف دې په ذكر دَ حالت دَ مرگ سره،يعني مرگ او دهغې سختئ راتلل يقيني دي د هغې دپاره تياري اوكړه ، تعبيرپه ماضى سره دلته اودغه رنگه په مابعدكښې دَوجه دَ تيقن نه شويدې، ﴿سَكْرَةُ

ٱلْمَوْتِ﴾ دَمرګ په شدت سره چه کومه بی هوشی اوسختی وی هغی ته وائی،په قراءت دَابن مسعودﷺکښ ((سکرات الموت)) په جمع سره راغلې دې،داموافق دې دَهغه حدیث سره چه بخاری،ترمذی وغیره ذکرکړیدې چه حضورﷺباندې چه کله دغه حالت راغې نوخپل لاسونه مبارک به ئی په اوبوکښ اووهل اوبیابه ئي په مخ مبارک باندې مسح کول اوفرمائیل به ئی((لااله الاّالله ان للموت سکرات)).﴿بِٱلْحَقِّ﴾ 'باء' دَملابست دپاره ده او حال دې د ((سکرة))نه ،ای متلبسةً بالحق،مرګ دَحق سره راغې،یعنی دَمرګ سکرات راتلل یقینی دی،کقوله تعالی کل نفسٍ ذائقة الموت،او یا((باء)) د پاره د تعدیه ده ، یعني دَ مرګ سختئ حقیقت څرګند کړو. یعنی دَ مرګ په وخت کښ به دَ هغو وعدو حقیقت ښکاره شی کوم به چه اللهﷻ او دَ هغه انبیاؤو کولې﴿ذَٰلِكَ﴾دینه مخکښ 'یقال له عند الموت'مقدردې،اواشاره ده مرګ ته ﴿تَحِيدُ﴾ای تَهربُ وتفرَ.

﴿وَنُفِخَ فِي ٱلصُّورِ﴾ دیکښې د قیامت واقع کیدلو منظر بیان دې ،چې صور به پو کړې شي او قیامت به واقع شي ،﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره 'نفخ' ته ده.﴿يَوْمُ ٱلْوَعِيدِ﴾یعنی داورځ دَ واقع کیدلو دَ عذاب ده کافرانولره، یا'وعید'عبارت دې دَعذاب موعودنه یعنی داورځ دَ واقع کیدلو دَ وعدې ده.

﴿ وَجَآءَتْ كُلُّ نَفْسٍ﴾ دیکښې د کافر حساب کتاب د پاره راوستلو منظر بیان دې ، چې چې دوه فرشتې به پرې مسلطې وي او یوه به ئي محشر طرف ته راکاږي او بله پرې ګواهي کوي ، ((کل نفسْ)) ابن عاشور رحمه الله متعدد قرائنو په وجه فرمائي چې دینه مراد نفس کافر دې ، او بعض مفسرین فرمائي چې دې نه مرادهرسړې دې مؤمن وي او که کافر ، نیک وي او که فاسق،اګرچه په اختلاف دَنفوسو سره به په کیفیت دَسوق اوشهادة کښ اختلاف وی . ٠

﴿سَآئِقٌ وَشَهِيدٌ﴾دینه(١)هغه دوه فرشتې مراددی چه په'اذیتلقی المتلقیان'کښ ئی ذکراوشویعنی یوه به ملک الحسنات وی اوبله ملک السیئات(٢)بعضِ وائی چه'سائق'فرشته ده چه میدان حشرته به انسان راکاږی اودَ'شهید'نه مرادجوارح دَانسان دی(٣)اصح داده(کما فی البحر) چه'سائق'هم اسم جنس دې تولې هغه فرشتې ورنه مراددی چه داسوق ورته حواله

شوې وی او "شهيد" هم اسم جنس دې تول ګواهی کونکی ورنه مراددی که کراماً کاتبين وی، که جوارح وی اوکه زمکه. په حديث کښې دی "لايسمع مدیٰ صوت المؤذن انسٌ ولاجنٌ ولاشئ الأشهدله يوم القيامة".

﴿ لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ ﴾ ديکښې د حساب کتاب د پاره پيشئ منظر بيان دې ، او خطاب کافر ته دې ،او دينه مخکښې " يقال للكافر الغافل " مقدر دې، يعنی کافر چه کله دَ هغی حقائقو معاينه اوکړی دَ کومو تصديق به ئی چه په دنيا کښې نه کولو نو ورته اوبه ويلې شی چه په دنيا کښې ته دَ کوم څيز نه منکر وې نوهغه نن په تا نازل شواوس ئی ښه اوګوره. ﴿مِّنْ هَٰذَا﴾ اشاره حالاتو دَ محشر ته ده،يا عملنامې ته ده، ﴿فَكَشَفْنَا عَنكَ غِطَاءَكَ ﴾ يعنی مونږ لرې کړه ستانه هغه پرده چه هغې دَ معاد امور ستا نه پټ کړی وو،چه هغه دَ غفلت،انهماک او محبت ساتل دَ دنيا دَ څيزونو سره او دَ خواهشات نفسانيه وُپرده وه، ﴿فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ﴾ يعنی نظردی نن ښه تيزدې اوښه لګی ځکه چه مانع زائله شو.

وَقَالَ قَرِينُهُ هَٰذَا مَا لَدَيَّ عَتِيدٌ ﴿٢٣﴾ أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ كُلَّ كَفَّارٍ عَنِيدٍ ﴿٢٤﴾
اواوبه وائی ملګرې دَده داهغه دې چه ماسره حاضردې،وغورځوئ په جهنم کښې هرکافرضدکونکې.
مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ مُّرِيبٍ ﴿٢٥﴾ الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ
ديرمنع کونکې دَخير،ظالم،شک کونکې(په دين کښې)هغه کافرچه ګرځولې ئې دې دَالله ﷻ سره اله بل،
فَأَلْقِيَاهُ فِي الْعَذَابِ الشَّدِيدِ ﴿٢٦﴾ قَالَ قَرِينُهُ رَبَّنَا مَا أَطْغَيْتُهُ
پس وغورځوئ دې په عذاب سخت کښې،اوبه وائی ملګرې دَده(شيطان)اې ربه زمونږنه وُګمراه کړې مادې په زوره
وَلَٰكِن كَانَ فِي ضَلَالٍ بَعِيدٍ ﴿٢٧﴾ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ
ليکن وُدې پخپله په ګمرا هئ لرې کښې دَحق نه،اوبه وائې الله ﷻ چه مه کوئ جګړې ځماپه خواکښې

وَقَدۡ قَدَّمۡتُ اِلَيۡكُمۡ بِالۡوَعِيۡدِ ﴿۲۸﴾ مَا يُبَدَّلُ الۡقَوۡلُ لَدَىَّ
اوپه تحقيق سره مخکښې مې ليږلې وؤ تاسو ته يرول . نشي بدليدلې هيڅ خبره«فيصله»ځماپه خواکښې
وَمَآ اَنَا بِظَلَّامٍ لِّلۡعَبِيۡدِ ﴿۲۹﴾
اونه يم ځه هيڅ ظلم کونکې په بندګانو خپلو.

﴿وَقَالَ قَرِيۡنُهٗ﴾ ديکښې د جرم ثبوت بيان دې چې کومه فرشته د ده په اعمالو ليکلو مقرر وه هغه به دده ټوله عمل نامه الله ﷻ په دربار کښې پيش کړې چې ما سره د ده دا جرائم ليکلي شوي دي ، مراد دَ «قرين» نه يافرشته ده چه کومه دَده دَعملونوپه ليکلومقرره وه او﴿هَـٰذَا﴾ اشاره دې کافر او د ده عملنامې ته ده، يا ورنه مرادشيطان دې چه کوم دنياکښې دَده سره ملګرې وؤ،کقوله تعالى: نقيّض له شيطاناً فهو له قرين(الزخرف:۳۶)په حديث کښې دي: ما من احدٍ الاّ و قد وُکّل به قرينه من الجنّ قالوا:ولا انت يارسول الله قال: ولا انا الاّ انّ الله تعالى اعانني عليه فاسلم فلا يامرني الاّ بخيرٍ.او﴿هَـٰذَا﴾اشاره کافرسړي ته ده،يعنى شيطان به وائي چه دامجرم حاضردې چه ماغواکړې وؤاوګمراه کړې مې وؤاوجهنم ته مې تيارکړيدې.«هذا» مبتدا دې او «ما لدي» ورنه بدل دې او«عتيد» خبر دې د اسم اشارې ،

﴿اَلۡقِيَا فِىۡ جَهَنَّمَ﴾داخطاب دې دَ طرفه دَ الله ﷻ نه فرشتو ته ، او ديکښې د فيصلې بيان دې چې الله ﷻ به د ده دَ جرمونو په وجه د ده په حق کښې د جهنم فيصله اوکړي ،په صيغې دَ "القيا" کښې مختلف اقوال دي:

(۱)داچه دادَتثنيه صيغه ده،يعنى دوؤفرشتوته حکم دې، او دا دوه فرشتې ياهغه ملک الحسنات اوملک السيئات دي يا دَ جهنم دوه نورې داروغه دي چه يوه به ئې دَ سر نه او بله دَ خپو نه اونيسي او جهنم ته به ئې اوغورزه وي کقوله تعالى"فيوخذبالنواصي والاقدام"(الرحمن)

(۲)دا دَ مفرد صيغه ده،په آخر کښې الف بدل دَ نون تاکيدخفيفه نه راغلې دې په اصل کښې "القينْ" دي

(۳)بعضِ وائی دلته صیغه د تثنیة دپاره د تکرار د فعل ده ، یعني کله د فعل تکرار اظهار په صورت د صیغې د تثنیې سره کیږي، نو ګویا دا په اصل کښې القِ القِ دي ، لکه قِفا نبکِ من.... په اصل کښې قف قف دي.

(۴)بعضِ وائی دامحمول دي په محاورې دَ عربو چه دوئ واحدته خطاب په تثنیه سره کوی.

﴿كُلَّ كَفَّارٍ﴾ دیکښې د فیصلې وجوهات بیانیږي ، چې په دوئ د جهنم فیصله د شپږ وجوهاتو او صفاتو په بنیاد شوې ده ، «کفار» دا **اول صفت او وجه** ده ، چې دې ډیر ناشکره دي ، د الله نعمتونو شکریه ئي په ایمان راوړلو سره نه ده ادا کړې ، ﴿عَنِيدٍ﴾ **دویم صفت** او وجهې بیان دې ، چې ډیر لوئ معاند وو ، حق خبره ئي صرف ضد او عناد په وجه نه منله ، (مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ)**دریم صفت** او وجهې بیان دې ،چې خپله خو ئي هڅې خیر او اسلام نه قبولو چې نور خلق ئي ترینه هم منع کولو او په لار کښې ورته رکاوټونه اچول (مُعْتَدٍ)**څلورم صفت** دې ، چې لوئ ظالم وو، خلقو باندې به ئي ظلم زیاتې کولو او مسلمانانو ته به ئي تکلیفونه رسول (مُرِيبٍ)دا **پنځم صفت** او وجهې بیان دې ، چې هغه تشکیک دې ،" مریب" وائي بل په شک کښې اچونکي ته ،یعني د اسلام تعلیماتو او احکاماتو باندې به ئي مختلف قسم اعتراضات کولو او د دین راهنمایانو باندې به ئي مختلف الزمات لګولو او هغې سره به ئي د تشکیک او بې اعتمادي فضا جوړوله،﴿ الَّذِي جَعَلَ مَعَ اللَّهِ ﴾ دا **شپږم صفت** او وجه ده ، چې هغه شرک دي. ﴿ الَّذِي ﴾ مبتداءدې متضمن دې معنی دَشرط لره او﴿فَأَلْقِيَاهُ﴾ ئی خبردې.

﴿قَالَ قَرِينُهُ﴾ مراددَ«قرین » نه ارجح قول مطابق شیطان دي ، یعني دې چې کله دا فیصله واوري ، نو ځان بچ کولو د پاره به ټوله ملبه په شیطان اوغورځوي او د دې ګناهونو ذمه دار او قصور وار به هغه اوګرځوي ، نو شیطان به ورته په جواب کښې اووائی چه ﴿رَبَّنَا مَآ أَطْغَيْتُهُ﴾ چه ما خو په زور نه وؤګمراه کړې بلکه ماخوصرف دعوت ورکړې وؤ ګمراهئ ته ، او

ده پخپل اختیارسره قبول کړي وؤ . داسې مضمون په سورة ابراهیم(۲۲)کښې هم تیردې
((وَمَاكَانَ لِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ سُلْطَانٍ.....))

﴿ قَالَ لَا تَخْتَصِمُوا لَدَيَّ ﴾ الله ﷻ به ورته اوس وائي چې بس، بحث مباحثه نوره ختمه کړئ، دې هیڅ فائده نشته ، ما په دنیا کښې خپل رسولان تاسو ته رالیږلي وو ، او هغوئ تاسو ته د کفر وعیدونه بیان کړي او اتمام حجت ئې دربانديې کړې وو ، لهذا اوس د جهنم ته تلو فیصله کښې نه څه تبدیلی کیدې شي او نه دا فیصله په بې انصافئ باندې مبني ده.﴿بِالْوَعِيدِ ﴾ مرادورنه دادقول دَالله ﷻدي،((لاملئنّ جهنم من الجنّة والنّاس اجمعين)) (السجدة:۱۳) او دغه شان دا قول د الله ﷻ((ان الله لايغفر ان يشرک به))﴿ اَلْقَوْلُ ﴾ الف لام عهد خارجي دې مرادورنه داقول دَالله ﷻدې چه﴿أَلْقِيَا فِي جَهَنَّمَ ﴾.

يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ هَلِ امْتَلَأْتِ وَتَقُولُ هَلْ مِنْ مَّزِيدٍ ۞
په هغه ورځ چه اووایوموږجهنم ته چه آیاته ډک شوې اوهغه به اوائی آیا څه نور هم شته

﴿يَوْمَ نَقُولُ لِجَهَنَّمَ ﴾ د فیصلې نه بعد اوس د دوئ د ټهکانې حالت بیانیږي ، "یوم"دپاره عامل مقدردې چه"انذر"دې یعني اې پیغمبره ﷺچه داخلق دَهغه ورځې نه اوویره وه چه په کومه ورځ موږ بې شماره کافران جهنم ته غورځولونه ورستو دَ هغه نه تپوس اوکړو چه ﴿هَلِ امْتَلَأْتِ﴾ آیاته ډک شوې؟ نوفوج در فوج مجرمان هضمولو باوجود به جهنم جواب اوکړی چه ﴿هَلْ مِن مَّزِيدٍ﴾ نور خلق هم را اوغورځوئ ځماخیټه لا نه ده ډکه شوې،شاید چه داخلق پدې سره اویریږي چه موږځومره خطرناکې ټهکانې ته روان یو،اودَخپل عمل نه منع شي .

ترمذی دَ انس رضي الله عنه نه روایت کړیدې چه حضور ﷺفرمائي چه" قَالَ: لَا تَزَالُ جَهَنَّمُ تَقُولُ: هَلْ مِنْ مَزِيدٍ، حَتَّى يَضَعَ فِيهَا رَبُّ العِزَّةِ قَدَمَهُ فَتَقُولُ: قَطْ قَطْ وَعِزَّتِكَ، وَيُزْوَى بَعْضُهَا إِلَى بَعْضٍ.

یعنی په جهنم کښې به دوزخیان غورځولې کیږی اوهغه به هل من مزیدوائی،حتّی چه الله ربُّ العزة به په هغې باندې خپل قدم (کمایلیق بشانه)کیدی نوهغه به یوبل سره راټول شي اووائی به چې ستا د عزت قسم بس بس،

او په بخاري او مسلم يو روايت كښې دي چې په جنّت كښ به هم ځائ خالي وى نودَهغې ډكولولو دپاره به الله ﷻ نورمخلوق هلته پيدا كړي اوهغوئ به پكښ آباد كړي.

لطيفه: يوبزرګ ته چاعرض اوكړوچه په حديث مذكوركښ چه دكوم مخلوق ذكردې دا خو ډير خوش قسمته دى چه پيدا كيدوسره جنّت ته داخل كړې شول، هغه ورته اوفرمايل چه دوئ ته به دَجنت څه مزه ملاؤ شى ؟ ځكه چه دوئ دَ دنيا تكليفونه نه دى ليدلى، قبر، حشر منازل ئى نه دى ليدلى، دَجنت دَراحت اوارام به دوئ سره څه قدر وى؟ قدر خوبه ئي مونږسره وى چه دَ دنيا تكليفونه، دَ قبر، حشر سختئ موليدلى دى.

تنبيه: حديث مذكوره په احاديثودَصفاتوكښ مشهورحديث دې، پديكښ دَالله ﷻ دَ قدم ذكر دې، چه دا دَ متشابهاتو نه دې، چه معنى حقيقى ئى الله ﷻ ته معلومه ده، البته اكثر متكلمين او بعضِ سلف دَدې تاويل صحيحه كوى چه موافق ذې دَقواعدشرعيه وَسره او نصوص شرعيۇ سره، نو دوئ وائى چه داكنايه ده دَ اذلال نه يعنى كله چه دَدوزخ طغيانى زياته شى نو الله ﷻ به ئي ذليل كړي، دَ دې اذلال نه تعبيرپه وضع قدم سره شويدې.

بعضِ علماؤاشكال كړيدې چه الله ﷻ وعده كړيده چه: لاملئنّ جهنم من الجنّة النّاس اجمعين (هود: ۱۱۹) نوچه دې ډك كړيشى نودَ ﴿هَلْ مِن مَّزِيدٍ﴾ څه مطلب دې، جواب (۱) دادې چه مراد دَامتلاء (ډكولو) نه دادې چه دَده يوطبقه به هم خالى نه وى اګرچه نورخالى ځايونه به پكښ وى، لكه خلق وائى كلې دَخلقونه ډك شوهيڅ خالى كورپكښ نشته دې حالانكه لارې كوڅې اوميدانونه خالى وى.

(۲) بعضِ وائى چه داپه اعتباردَحالينو دې، خالى والې اودَ ﴿هَلْ مِن مَّزِيدٍ﴾ مطالبه په اول الدخول كښ ده، بياپكښ نور مخلوق واچولې شى نوډك به شى (۳) بعضِ وائى چه جهنم به ډك وى ليكن په كافرانو اوپه عصاتوباندې دَ ډيرغضب په وجه به وائى چه ﴿هَلْ مِن مَّزِيدٍ﴾.

وَأُزْلِفَتِ	الْجَنَّةُ	لِلْمُتَّقِينَ	غَيْرَ	بَعِيدٍ	﴿۳۱﴾ هَٰذَا

اورانزدې به كړيشى جنت پرهيزګارانوته نه به وى لرې (ورته به اوښيلې شى) داهغه جنت دې

مَا	تُوْعَدُوْنَ	لِكُلِّ	اَوَّابٍ	حَفِيْظٍ	﴿٣٢﴾	مَنْ

چه وعده به ئي كيدله تاسو سره دَ پاره دَ هر رجوع كونكي حفاظت كونكي ﴿ دَ حقوق الله ﴾ ، هغه څوک چه

خَشِيَ الرَّحْمٰنَ بِالْغَيْبِ وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيْبٍ ﴿٣٣﴾ ادْخُلُوْهَا بِسَلٰمٍ

يريدلي وي دَالله جَلَّ جَلَالُهُ نه په غيبه سره او راغلي وى په زړه رجوع كونكي سره. داخل شئ دې جنت ته په سلامتئ سره،

ذٰلِكَ يَوْمُ الْخُلُوْدِ ﴿٣٤﴾ لَهُمْ مَّا يَشَآءُوْنَ فِيْهَا وَلَدَيْنَا مَزِيْدٌ ﴿٣٥﴾

داورځ دَهميش والى ده،وى به دَدوئ لپاره هغه څه چه غواړى ئى په جنت كښ او زمونږ سره شته څه نور هم

﴿وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِيْنَ﴾دابشارت اخرويه دې متقينو ته،چه دوئ ته به جنّت بالكل نيزدې راوستلې شي چې دوئ به ميدان حشر نه دهغي نعمتونو مشاهده كوي او خوشحاله كيږي به ورته او دغه شان ورته په تگ او داخليدو كښې به هم ورته هيڅ قسم تكليف نه وي ، (وَأُزْلِفَت)د "ازلاف" نه ماخوذ دې ، قريب كولو او نيزدې كولو ته وائي ، او دا د جنت نيزدې كول به حقيقتا وي چې الله جَلَّ جَلَالُهُ به ئي حشر ځائ ته بالكل نيزدې راولي او دوئ به د دې نعمتونو مشاهده كوي ، لكه جهنم به باره كښې چې راځي: « وبرزت الجحيم لمن يرى »، (غَيْرَ بَعِيْدٍ) منصوب دې بناء بر طرفيت ،اي: مكانا غير بعيد، يعني دوئ ته بالكل نيزدې ځائ ته راوستلې شي ،

﴿هَٰذَا﴾ دَدينه مخكښ"يُقال لهم" مقدردې،يعنى جنتيانوته به اوئيلې شى چه داهغه جنت دې چه دَهراوّاب اوحفيظ سره به ئى وعده كيدله ، «هذا»اشاره جنت ته ده، او اشاره د مذكر ورته په اعتبار د مسمى سره راوړلې شوې ده چې هغه مكان دې ،او مسمى اعتبار سره مذكر اشاره هم راوړلې شي او مؤنث هم ، خواه لفظ او اسم ئي مذكر وي يا مؤنث ، د تذكير او تانيث احكامات په هغې نه جاري كيږي ،بلكه د دې تعلق الفاظو سره دې ،«ابو السعود» (مَا تُوْعَدُوْنَ) حكايت د حال ماضي دې ، نو صيغه دمضارع ده خو معني ئي ماضي ده ، اي كنتم توعدون به في الدنيا

﴿ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ﴾ جنت د داخليدلو مستحق كسانو اوصاف بيانيږي: «اواب» دا ئي **اول صفت** دي او دي معنی ده كثيرالرّجوع الله ﷻ ته يعني چه كوم سړي بار بار الله ﷻ طرف ته رجوع كوی،يعني كه گناه ترينه اوشي نو فورا توبه اوباسي او الله جل جلاله ته رجوع اوكړي ، معصيت نه طاعت طرف ته او غفلت نه د ذكر طرف ته رجوع كونكې وي ، حضرت ابن مسعود ﷺ او مجاهد رحمه الله د﴿أَوَّابٍ﴾ معنی كوی چه هو الّذی يذكرذنوبه في الخلوة فيستغفرالله منها هغه چه په تنهايئ كښ خپل گناهونويادوی اودهغې نه استغفاركوی. حضرت عبيدبن عمير ﷺ فرمائی چه﴿أَوَّابٍ﴾ هغه دې هوالّذی لايجلسُ مجلسٌ حتّی يستغفرالله تعالی فيه يعنی چه په هرمجلس كښ استغفاركوی،

(حَفِيظ)دا ئي **دويم صفت** دې،او د حفيظ معنی ده د الله ﷻ د احكاماتو حفاظت كونكې، چې په هغې پوره كولو كښې نه سستي كوي او نه ئي ضائع كولو ته پريگدي ، لكه حديث شريف كښې راخي چې نبي كريم ﷺ يو ځل ابن عباس رضي الله عنهما ته او فرمائيل : يا غلام احفظ الله يحفظك. چې اې ماشومه د الله ﷻ د احكاماتو حفاظت كوه الله به د ستا حفاظت كوي.

﴿مَّنْ خَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ ﴾دا ئي **دريم صفت** دې ، چې هغه غيب باندې ايمان راوړل دي .

(وَجَآءَ بِقَلْبٍ مُّنِيبٍ)دا ئي **څلورم صفت** دې ، چې د انابت په صفت مستقيم پاتې وي حتي چې مرگ ورته هم په دې حال كښې راغلې وي او الله ﷻ ته دې صفت سره حاضر شوې وي .

﴿ٱدْخُلُوهَا بِسَلَٰمٍ﴾ اي : يقال لهم : ادخلوها، دا ئي د جزا او بدلې اعلان دې چې تاسو بدله دا جنت دې ديته داخل شئ «بسلام» دا داسې ټهكانه ده چې ديكښې به تاسو هر قسم تكليف ، پريشانئ ، غم او مصيبت نه په امن او سلامتئ كښي وئ ،(ذَٰلِكَ يَوْمُ ٱلْخُلُودِ)نن ورځ نه دا د ستاسو مستقل ټهكانه ده او دا نعمتونه به ستاسو سره هيمشه د پاره وي ، زوال به پرې نه راځي ، (لَهُم مَّا يَشَآءُونَ فِيهَا)چې څه غواړئ هغه به درته ميلاويږي ، نه څه ممانعت شته او نه د عدم موجودگئ احتمال ، بلكه هر څه به مهيا او حاضر خدمت وي ، (وَلَدَيْنَا مَزِيدٌ)يعني دې

چې څه غواړي هغه خو به ورله خود وي بلکه داسې ثيزونه به ورله هم وي چې د به نه د هغې مطالبه کړې وي او نه به د ده حاشيه خيال کښې راغلي وي. او هم داسې نعمتونو په باره کښې حديث کښې راغلي دي "ما لاعينٌ رأت ولااذنٌ سمعت ولاخطرعلى قلب بشر"چه نه به هغه دَ جنتيانو سترګو ليدلى وى نه به ئي غوږونو اوريدلى وى.نه به ئي دَ هغې تصوّرپه زړه کښې تيرشوې وى (اللّهم ارزقناها)

حضرت انس او جابر رضى الله عنهما فرمائى چه "مزيد" نه مراد ديدار الهى دي،النظرالى وجهه تعالى (مسلم) چه جنتيانو ته به نصيب کيږى او دا به ورته دَ ټولو نعمتونو نه زيات محبوب وى"رزقناالله بمنّه وفضله"

او يو مطلب د "مزيد" دا هم بيان شوې دې چې دينه مراد هغه نعمتونه او اجرونه دي چې هغه د عمل په سبب ميلاو شوي نعمتونو نه علاوه دي.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا قَبْلَهُمْ مِّنْ قَرْنٍ هُمْ اَشَدُّ مِنْهُمْ بَطْشًا
او ډيرهلاک کړيدى مونږمخکښې دَدوئ نه ډلې چه ووهغوئ زيات سخت دَدوئ نه په نيولو(قوت)کښې
فَنَقَّبُوْا فِي الْبِلَادِ هَلْ مِنْ مَّحِيْصٍ ۝ اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَذِكْرٰى
نو اوګرځيدل هغوئ په ښارونو کښې . آيا شته دې ځائ دَ خلاصې ، بيشکه پديکښې خامخانصيحت دې
لِمَنْ كَانَ لَهٗ قَلْبٌ اَوْ اَلْقَى السَّمْعَ وَهُوَ شَهِيْدٌ ۝
لپاره دَهغه چاچه وى هغه لره زړه يا کيږدى غوږ او دې حاضر وى (متوجه وى)

﴿ وَكَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم ﴾داتخويف دنيوى دې اهل مکې و ته "کم"خبريه دې يعنى مونږدَدې اهل مکې و نه مخکښې ډيرخلق دَ هغوئ دَ کفر په وجه هلاک کړيدى حالانکه هغوئ په بدنى قوت اومالى قوت کښې دَدوئ نه زيات وو،ليکن دَ دې باوجود زمونږ دَ عذاب نه بچ نشول نو تاسو هم دَ دينه عبرت اونصيحت واخلئ،ايمان راوړئ.

﴿ فَنَقَّبُوا فِي الْبِلَادِ ﴾ ((نقبوا)) د نقب نه دې او "نقب" په معنى "ثقب" سره دې ، "ثقب" سورې ته وائي . نو د "تنقيب معني دۀ سوري کول، يعني خارونه ئي سوري کړل او دلته دا

كنايه ده د تذليل او تسخير نه ، "فاء" د پاره د تفريع ده ، يعني داسې قوت او مال خو ورله ور کړي وو چې ټوله زمکه ئي ځان له مسخر کړې وه ، کاروبارونه ئي پکښې شروع کړي وو . غټې غټې بنګلې او قلعې ئي پکښې قائم کړې وې . فصل او کروندې ئي پکښې کولې او د هغې دپاره ئي ډيمونه جوړ کړي وو وغيره.(كما في قوله تعالى: واثاروا الارض وعمروها اكثر مما عمروها) خو چې کله عذاب پرې راغې نو دې هر څه باوجود بيا ئي د پناه او بچ کيدو ځائ نه وو.(ابو السعود، التحرير والتنوير)

تنقيب په معنى د "سير" ګرځيدلو سره هم راځي او دې صورت کښې به ئي معنى داسې شي چې دمرګ نه دبچ کيدلو دپاره په زمکه کښې ډير اوګرځيدل را اوګرځيدل او د پناه ځائ تالاش کړو ليکن چه کله زمونږعذاب راغې نو هيڅ ځائ ورته دخلاصيدلو ملاؤنه شو

دبحث او تالاش په معنى کښې هم استعماليږي ، او دې صورت باندې به ئي معنى داسې وي ، چې کله پرې د الله ﷻ عذاب راغې نو بيا ئي د پناه ځائيونه ډير تالاش کړو خو چرته ورته هم ځائ نشو ميلاو. (روح)

﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ﴾اشاره اهلاک ته ده،يعنى ددې تيرشوى قومونو په هلاکت کښې لوئ نصيحت اوعبرت دې دپاره دهغه چا چه صلاحيت پکښې وى.﴿لِمَن كَانَ لَهُ قَلْبٌ﴾ اى عقلٌ يعنى پخپله پکښې پوهه وى،اودقرآن په بيان کښې فکرکوليشى،دې کښې مرتبې داجتهادته اشاره ده﴿أَوْ أَلْقَى السَّمْعَ﴾ مرتبې دتقليدته اشاره ده چه پخپله نه پوهيږى نوبل ته غوږکيدى،﴿وَهُوَ شَهِيدٌ﴾ يعنى په قلب اودماغوسره حاضروى.

وَلَقَدْ خَلَقْنَا السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ
اوپه تحقيق سره مونږپيداکړيدى اسمانونه اوزمکه اوهغه څه چه په مينځ ددې دواړوکښې دى په مقدارد شپږوورځوکښې،
وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴿٣٨﴾ فَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَسَبِّحْ
اوندې رسيدلې مونږته هيڅ ستړلې والې پس صبرکوه ته اې پيغمبره! په هغه څه چه دوئ ئې وائى اوپاکى بيانوه

بِحَمْدِ رَبِّكَ قَبْلَ طُلُوْعِ الشَّمْسِ وَقَبْلَ الْغُرُوْبِ ﴿٣٩﴾ وَمِنَ الَّيْلِ

سره د حمد د خپل رب مخکښې دَ راختلو دَ نور نه او مخکښې دډوبيدلونه.اوپه څه حصې دَشپې کښې

فَسَبِّحْهُ وَاَدْبَارَ السُّجُوْدِ ﴿٤٠﴾

نوپاکي بيانوه دَالله ﷻ اوورستودَسجدونه.

﴿ وَلَقَدْ خَلَقْنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ ﴾دادويم دليل دې په ثبوت دَقيامت،چه هغه ذات چه دَ تولو کائناتو په پيدا کولو باندې نه دې ستړې شوې نوهغه قادر دې په دوباره پيدا کولو دَ انسانانو ، قتاده رحمه الله وغيره وائي چه پدې آيت کښې رد او تکذيب دې دَ يهوديانو په قول چه هغوئ وائي چه الله ﷻ ابتدأ دَ خلق دَ اتوار ورځې نه کړيده او دَ جمعې په ورځ ورنه فارغ شويدې اوذَهفته په ورځ ئې(نعوذبالله)ارام کړيدې ځکه چه ستړې شوې وؤ.سبحانه وتعالى عما يقولون علواًکبيراً.

﴿فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ﴾دَشپږو ورځونه مرادمتعارفې ورځې نه دی مراد بلکه مقدار دَ شپږو ورځو مراد دې.﴿وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٍ ﴾ "من"زائده دې دَپاره تاکيد،اوتنوين په﴿لُغُوبٍ ﴾کښې دَ تحقير د پاره دې، يعنى مونږ ته لږغونته ستړې والې هم نه دې را رسيدلې،

﴿فَٱصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾داتسلی ده حضور ﷺ ته،چه په يادِالهى کښې مشغول اوسه نو دَ دې کافرانو معاندانه خبرو ته به دی توجه نه وی،﴿عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ ﴾ داعام دې قول مذکور دَ يهوديانو ته شامل دې او دَ مشرکانو ويناگانو ته هم شامل دې چه کله وائی ته کاذب ئې،کله وائی ساحر ئې ، کله وائی مجنون ئې، کله وائی"انّ هذالشئ عجيب" وغيره .

اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی داآيت په دې دلالت کوی چه په شدائدوکښې قوی ذريعه دَ تسلی، الله ﷻ طرف ته رجوع کول دی.

﴿وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾اکثرمفسرین فرمائی چه پدې آیت کښې دَصلوات خمسوٗدَفرضیت بیان دې،نو﴿قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ﴾ نه مراد دَ سهارمونځ دې اودَ﴿وَقَبْلَ الْغُرُوبِ﴾ نه دَ ماسپخین، مازیګر مونځونه مراددی، ﴿وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ﴾ نه مراددَمانبام،ماسخوتن مونځونه مراددی.

(۲)بعض مفسرین وائی داآیت دَفرضیت دَصلوات خمسه وُنه قبل نازل شویدې نو پدیکښې دَ پنځوؤ مونځونو دَ فرضیت بیان نه دې بلکه دَ درې مونځونو بیان دې، سهار، مازیګر او دَ تهجد مونځ،

(۳)بعض وائی چه په دې کښې دَ مونځ بیان نه دې بلکه دَ عامو تسبیحاتو بیان دې، لکه "سبحان الله و بحمده" وئیل. په بخاری اومسلم کښې دَابوهریرهؓنه روایت دې چه کوم سړې په ورځ کښې سل(۱۰۰) ځله، سبحان الله و بحمده،اووائی دَهغه ګناهونه به معاف شی اګرچه دَ سمندر دَ زګ برابر ولې نه وي ،(بخاري) دغه شان دَابوهریرهؓپه یوروایت کښې دی چه کوم سړې سهاراومانبام سل(۱۰۰)سل(۱۰۰)ځله سبحان الله وائی قیامت په ورځ به دَده نه زیات بهترعمل کونکې بل څوک نوی ماسویٰ دَهغه چانه چه هغه دغه تسبیح دغه مقداریازیات دَدې نه وئیلی وی.

﴿وَأَدْبَارَ السُّجُودِ﴾یعنی دَسجدونه ورستوهم دَاللهﷻ تسبیح کوه(۱)بعض وائی دینه مرادهغه تسبیحات وئیل او اذکار دي چې فرض نه ورستو وئیلو فضائل راغلیدي . (۲)بعض وائی دینه مرادسنن اونوافل دی(۳)بعض وائی دینه مراددې رکعاته وتر دی.

وَاسْتَمِعْ يَوْمَ يُنَادِ الْمُنَادِ مِنْ مَكَانٍ قَرِيبٍ ﴿٤١﴾ يَوْمَ يَسْمَعُونَ
اوغوربکیده،په هغه ورځ چه اوازوکړی اوازکونکې دَځائ نزدې نه،په هغه ورځ چه واوزی به دوئ
الصَّيْحَةَ بِالْحَقِّ ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ ﴿٤٢﴾ إِنَّا نَحْنُ نُحْيِي وَنُمِيتُ
چغه په حقه سره.داورځ دَراوتلوده(دَقبرونونه)،بیشکه صرف هم مونږژوندی کول کوؤاومړه کول کوؤ
وَإِلَيْنَا الْمَصِيرُ ﴿٤٣﴾ يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ عَنْهُمْ سِرَاعًا
اوهم مونږته رجوع دَخلقوده،په هغه ورځ چه وچوی زمکه دَدوئ نه (نو را اوځی به دوئ)په جلدئ سره،

ذٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيْرٌ ﴿٤٤﴾ نَحْنُ اَعْلَمُ بِمَا يَقُوْلُوْنَ وَمَآ اَنْتَ
دادوباره ژوندی کول موږ ته بالکل اسان دی، موږ ښه پوهه یوو په هغه څه چې دوئ ئې وائی اونه ئې ته
عَلَيْهِمْ بِجَبَّارٍ فَذَكِّرْ بِالْقُرْاٰنِ مَنْ يَّخَافُ وَعِيْدِ ﴿٤٥﴾
په دوئ باندې زور کونکي (مسلط) پس نصیحت اوکړه په قرآن سره هغه چاته چې یریږی خما د عذاب نه

﴿وَاسْتَمِعْ﴾دا هم تسلي ده چې اې پيغمبره ، ته صبر کوه او د قيامت ورځ راتلو انتظار کوه او هغې صيحي ته غوږ کيده چې هغې سره به دوئ د قبرونونه راوتلل شروع شي او الله ﷻ دربار کښې به ئې پيشي وي او الله ﷻ به ورنه د دې هر څه حساب واخلي ،((استمع)) يا په خپله معنې کښې دې او مفعول ئې محذوف دې ، اي : استمع النداء او الصيحة يا "استمع" په معنی دَ "انتظر"دې.

﴿مِن مَّكَانٍ قَرِيبٍ﴾دَدې په تعين کښې اختلاف دې(١)بعضِ وائی دينه مراد ،صخره بيت المقدس،دې ځکه چه داآسمان ته دَنوروځايونوزيات قريب دې،اسرافيل عليه السلام به پدې باندې اودريږی او دا آواز به کوی :" ايتها العظامُ الباليةُ و الاوصال المتقطّعةُ و اللّحومُ المتمزّقةُ و الشّعورُ المتفرّقةُ ان الله يأمركنّ ان تجتمعن لفصل القضاء"يعنی اې زړوهډکو ، او اې بندنو بيل بيل شوؤ او اې غوښو توټې توټې شوؤ ،اې ويښتوخواره خواره شوؤ! اللهﷻ امر کوی تاسو ته چه راغوند شئ دَپاره دَ فيصلې دَ قضاء.

(٢)بعضِ وائی چه دَهرانسان دَقدم لاندې به دغه اوازکيږی(٣)اصح داده چه هرسړې به داوازداسې آوری چه خيال به کوی چه دااوازماسره خواشاکښې نزدې کيږی،

﴿يَوْمَ يَسْمَعُونَ الصَّيْحَةَ﴾داد َ﴿يَوْمَ يُنَادِ﴾ نه بدل دې مراددَ﴿ الصَّيْحَةَ﴾ نه نفخه ثانيه ده،﴿بِالْحَقِّ﴾ يعنی دابه يقينی اوازوې څه خيال اووهم به نه وی.

﴿يَوْمَ تَشَقَّقُ الْأَرْضُ﴾بدل بعدبدل دې،﴿ سِرَاعًا﴾ جمع دَ"سريع"ده حال دې دَمقدرنه،ای ليخرجون سراعًا،يعنی زمکه به اوشليږی نوخلق به ټول په منډه منډه راووځی،په حديث کښې

دی چه دامنډې وهل به ملک شام طرف ته وی،چه هلته صخره بیت المقدس باندې به اسرافیل علیه السلام دغه نداکوی(معارف القرآن).

﴿ ذَٰلِكَ حَشْرٌ عَلَيْنَا يَسِيرٌ ﴾تقدیم دَجارمجروردلالت کوی په اختصاص باندې یعنی دا حشر دَ خلقو صرف مونږ ته اسان دې،بل څوک دَدې قدرت نه لری،

﴿نَّحْنُ أَعْلَمُ ﴾تسلی ده حضور ﷺ ته،﴿وَمَآ أَنتَ عَلَيْهِم بِجَبَّارٍ ﴾یعنی ته په دوئ مسلط نه ئې چه مجبوره ئې کړې ایمان راوړو ته،بلکه ستا کار خو صرف دعوت ورکول دی،﴿ فَذَكِّرْ بِالْقُرْءَانِ مَن يَخَافُ وَعِيدِ﴾په اصل کښې وعیدی دې حالتِ وقف پوجه ئ ساقطه شوه،یعنی ته په قرآن سره وعظ او نصیحت اوکړه هغه چا ته چه څما دَ عذاب نه یریږی. یعنی ستا دعوت او وعظ خو اگرچه عام دې لیکن اثر به ورنه صرف هغه اخلی چه څما دَ عذاب او وعید نه یریږی، حضرت قتاده رحمه الله چه به داآیت اولوستلونودادعابه ئې کوله.اللّهم اجعلنامّمن یَخافُ وعیدکَ ویرجوا موعودکَ یا بارّ ، یا رحیم.

آياتها (۶۰)	سورة الذاريات مكية	ركوعاتها (۳)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	په نوم دالله ﷻ چه بيحده مهربان اورحم کونکي دي شروع کوم)	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۱) وحسب النزول (۶۷)

نزلت بعدالاحقافِ وقبل الغاشية.

ربط: پدې سورة کښ مسئله دَقيامت على سبيل الترقى دَماقبل نه بيانيږى، ماقبل کښ ذکرشو چه﴿ذَٰلِكَ يَوْمُ الْخُرُوجِ﴾يعنى قيامت حق دې هرسړې به دَقبرنه دوباره ژوندې کيږى. دې سورة کښ دى چه﴿ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ۝ وَإِنَّ الدِّينَ لَوَاقِعٌ ﴾حشربه هم کيږى اوحساب به هم کيږى.

دسورة دَمضامينواجمالى خلاصه

ابتداء کښ جزاءسزاباندې شواهدذکرکيږى، اودَحشرنشريوه نمونه، اثبات دعوى دپاره دوه عقلى دليلونه. په درميان کښ دَتخويف دنيوى پنځه(۵)نمونى، اورفع عذاب دپاره دَامورِثلاثه ؤبيان. زجرونه اوبشارات هم دى پکښ.

تفصيلى خلاصه

آيت نمبر ۳ ، ۴ څلور شواهد په دعوى باندى ذکر کيږى.

آيت نمبر ۵، ۶کښ دعوه ذکر کيږى

آيت ۷، حشر محشر نمونى بيان دې

آيت ۸، ۹ زجر دې مشرکينو ته.

آيت ۱۰ ، تر۱۴ ، تخويف اخروى دې.

آيت نمبر ۱۵تا۱۹ بشارت دې او دنجات علتَ بيان دې چې هغې تفصيل په درې امورو سره شوې دې.

آيت ۲۰تر ۲۳ کښ اول دليل عقلى او دهغى ثمرى ذکر دى، دا مشتمل دې درى قسمه دلائلو باندى. (۱)دليل آفاقى(۲)انفسى(۳)علوى

آيت ۲۴تر ۳۷ ، تخويف دنيوى اوله نمونه از قوم لوط.

آيت ۳۸ تر ۴۰ تخويف دنيوى دويمه نمونه از فرعون.
آيت ۴۱، ۴۲. تخويف دنيوى دريمه نمونه ازعاد.
آيت۴۳، ۴۵ تخويف دنيوى څلورمه نمونه از ثمود.
آيت ۴۶ تخويف دنيوى پنځمه نمونه ازقوم نوح.
آيت ۴۷، تر ۵۱ دويم دليل عقلي او دَ نقلي مقتضا ذكر دي.
آيت ۵۲، ۵۸تسلي براى رسول.
آيت ۵۹، ۶۰ تخويف براى مشركين.

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً

وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا ۝١ فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا ۝٢ فَالْجٰرِيٰتِ يُسْرًا ۝٣
قسم په هواگانو چه الوخونكى وى په الوخولو سره، بياپورته كونكى دى بوج لره. بيا چليدونكى دى په نرمئ سره،
فَالْمُقَسِّمٰتِ اَمْرًا ۝٤ اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَصَادِقٌ ۝٥
بياتقسيمونكى دى امر دَ الله تعالى، بيشكه هغه څه تاسوسره ئى وعده كيږى خامخاوعده رښتنى ده،
وَّاِنَّ الدِّيْنَ لَوَاقِعٌ ۝٦ وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْحُبُكِ ۝٧ اِنَّكُمْ
اوبيشكه چه قيامت خامخا واقع كيدونكي دي، قسم په اسمان چه بنائست والا دي په ستورو، بيشكه تاسو
لَفِيْ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ۝٨ يُّؤْفَكُ عَنْهُ مَنْ اُفِكَ ۝٩
خامخاپه گډو وډو خبرو كښي (اموخته) يئ، اړه ولي شى دَ قيامت نه هغه څوك چه اړه ولي شوي وى دَ خيرنه،

﴿وَالذّٰرِيٰتِ ذَرْوًا﴾ پدي آياتونوكښ په اثبات دَقيامت اوپه جزاءسزاباندي شواهد ذكر دى، دَ دي الفاظو په تفسيركښ دَ مفسرينو دوه اقوال دى:

يو قول دا دي چه دا څلور واړه مختلف صفات دي د يو موصوف، چه "الرّياح" دي، ﴿وَالذّٰرِيٰت﴾ يعنى قسم په هغوهواگانو چه دوړى او نور څيزونه الوځوى په الوخولو سره، يو بل آيت كښي هم د هوا دي صفت ته اشاره شوي ده: «فاصبح هشيما تذروه الرياح» ﴿فَالْحٰمِلٰتِ وِقْرًا﴾ دلته هم "الرّياح" موصوف مقدردي، يعنى قسم په هغه هواگانو چه اوچته وى بار دَ وريځو.

﴿وِقۡرٗا﴾ بار نه مرادوريځې دی لکه بل ځائ کښې راغلي دي ((حتى اذا اقلت سحابا ثقالا))
﴿فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ يُسۡرٗا﴾ يعنى قسم په هغوهواګانوچه نرمئ سره چليږی. ﴿فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا﴾ قسم په هغه هواګانوچه تقسيموی امر دَ الله ﷻ لره.يعنى په يو ځائ کښې باران دَرحمت اوکړی اوپه بل ځائ کښې ګلئ اووره وی.

دويم قول دا دې چه داځلورواړه دَمختلفوڅيزونودپاره صفات دی.﴿وَٱلذَّٰرِيَٰتِ﴾ صفت دې دَ الرّياح دپاره،﴿فَٱلۡحَٰمِلَٰتِ﴾ صفت دې دَ السحاب دپاره.﴿وِقۡرٗا﴾ نه مرادبار دَ أبودې يعنى قسم په هغه وريځوچه بار دَ اوبواوچتونکی دی،بعضوورنه حاملې ښځې مرادکړيدی چه بار دَحمل ئی أوچت کړي وی.﴿فَٱلۡجَٰرِيَٰتِ﴾دا صفت دې دَ السُّفن دپاره،يعنى قسم په هغه کشتوچه په سرداوبوپه نرمئ سره چليږی،﴿فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ﴾ داصفت دې دَ الملائكة دپاره،يعنى فرشتې چه په مخلوق کښ دَ رزق،باران،وغيره تقسيم دَتقدير الهی مطابق کوی.

﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٞ﴾داجواب قسم دې،دَاول دوؤقسمونوسره متعلق دې،يعنى لکه څرنګه چه هواګانې راوالوځی اوخورې ورې وريځې راجمع کړی نودغه شان بَه الله ﷻ هم ستاسو اجزاء راجمع کړی. او دَ وعدې نه مراد وعده دَ بعث بعد الموت ده . ((ان)) حرف مشبه بالفعل دې ،او((ما)) په ((انماتوعدون)) کښ كافه نه ده،بلكه موصوله ده،او((لصادق)) خبر دې دَ((ان)).

﴿وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٞ﴾ دا هم جواب قسم دې او اخری دوه قسمونو سره متعلق دې،يعنى څرنګه چه هواګانې اوچليږی بعضِ ځايونوکښ دَرحمت باران اوکړی بعضِ ځايونوکښ دَ عذاب، نو دغه شان به حساب کتاب خامخاکيږی بعضِ خلقوباندې به دَرحمت باران اوشی چه مؤمنان به جنت داخل شی اوبعضوباندې دَعذاب،چه کافران به جهنم ته لاړشی.

﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلۡحُبُكِ﴾دابل شاهددې په ثبوت دَ قيامت او دَ حشر نشر يو نمونى ذكر دی، ﴿ٱلۡحُبُكِ﴾جمع دَ حبيكة ده،لاروته وائی، حبكُ الرّمل دَ شګو په بيابان کښ دَ هوا په چليدو سره چه کومې لارې او لهرونه جوړ شی هغې ته وائی. حبكُ الماء په ولاړو اوبو باندې

دَ هوا په چليدو سره چه کومې چپې او لهرونه جوړ شی،هغې ته وائی، حبک الشعر ویخته کمسئ کول. چونکه دې لارو سره حسن اوښائست راځی نوځکه دَ، ذَاتِ ٱلْحُبُكِ﴾ معنی په خاوند دَ زينت او ښائست په ستورو او سپوږمئ وغیره سره کیږی (۲)بعضو حبک پخپله لفظی معنی محمول کړیدې،نومعنی داده چه قسم په آسمان چه لارو والا دې، او مراد دَ لارُو نه یا دَ فرشتو دَ تلو راتلو لارې دی یا دَ ستورو لارې مراد دی

(۳)بعضو ئی معنی المتقنة البنيان کړیده،یعنی قسم په مضبوط آسمان (۴) بعضو ئی معنی په جالی دار سره هم کړیده،دَشپې په وخت کښ چه کله تیاره وی اوآسمان بالکل صفانه ښکاری اوستوری موجود وی نو داسې محسوسیږی لکه چه دَستوروجال غوړه ولې شوې وی(والله اعلم).

او جواب قسم محذوف دې چې انكم لتحشرون دې، قسم او جواب قسم کښ مناسبت دا دې چه څنگه چې آسمان لارې لارې دې تاسو ته نه خکاری. څنگه چې هغې کښ موجود اشياؤ کښ تغير راځی،سپوږمئ اول بالکل وړه وی،ورو ورو غټې کیږی، حتی چه بدر کامل شی،بیا په زوال شی حتی چی بالکل غیبه شی هغې نه بعد ئې بیا الله ﷻ راپیدا کړی، ستوري د ورځې نه ښکاري او چې شپه شي نو بیا را ظاهر شي نو دغه شان به تاسو هم په مرگ سره څه ساعت د پاره پټ شئ او قیامت په ورځ خو به الله ﷻ دوباره را ژوندي کوي.

عامو مفسرینو جواب قسم «انكم لفي قول مختلف» گرځولي دې،دې صورت باندې قسم او جواب کښ مناسبت دادې چې څرنگه آسمان لارې لارې دې .دغه شان تاسو اقوال هم نبی ﷺ باره کښ مضطرب دی،څوک ورته څه وائی اوڅوک څه؟

﴿إِنَّكُمْ لَفِى قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ﴾ دا زجر دې اهل مکۆو ته ، چې حشر نشر دومره شواهد ، نمونې او دلائل تاسو ته بيان شو خو دې باوجود تاسو په گډو وډو سر دې «قول مختلف» نه مراد په اقوالو کښې اختلاف او تذبذب دې چې (۱) څوک په قیامت په راتلو کښې شک کوئ او څوک ترینه صفا انکار کوئ (۲) څوک قرآن ته سحر وایئ ، اوڅوک ورته شعر (۳) نبي ﷺ ته کله ساحر وائي ، کله دروغ ژن ، او کله مجنون. نو دا تذبذب ستاسو په ناحق والي ښکاره دليل دې،

بعض وائى خطاب په ﴿ إِنَّكُمْ ﴾ كښ عام دي مؤمن، كافردواړوته، اودَ ﴿ قَوْلٍ مُّخْتَلِفٍ ﴾ نه مراددادي چه بعضِ په حضور ﷺ ايمان راوړی لکه صحابه کرام ﷺ اوبعض ئی تکذيب کوی لکه کافران (بحرمحيط).

﴿ يُؤْفَكُ عَنْهُ ﴾ يعني دومره دلائلو او شواهدو بيان نه ورستو هم که څوک د حشر نشر او د قيامت د وقوع نه انکار کوي نو دا ازلي بد بخته دي ، هدايت ئي په قسمت کښې نشته ((عنه)) کښې ضمير ياراجع دي ((ما)) ته په ((انما توعدون)) کښ. چی هغی مصداق حشر دي. ای يُصرفُ عن الايمان بالحشر، يعنی دَحشر نه به هغه څوک انکاراو اعراض کوی چه په حقيقت کښ هغه دَ هر خير نه محرومه شوې وی،

بعضو مفسرينو ليکلي دي چې "عن" دلته د پاره د سببيت دي . لکه په دې قول د الله ﷻ کښې ((أإنا لتاركوا آلهتنا عن قولك)) او ضميرراجع دي ((قول مختلف))ته ، يعني دې ګډو وډو خبر په وجه که څوک ايمان نه اوړي او ترينه متاثره کيږې نو دې ازلي شقي او بد بخته دي ، (اضواء البيان).

قُتِلَ	الْخَرّٰصُوْنَ ⑩	الَّذِيْنَ	هُمْ	فِيْ	غَمْرَةٍ	سَاهُوْنَ ⑪ يَسْئَلُوْنَ
لعنت دې وي په اټکل کونکو ، هغه چه هغوئ په غفلت کښ بی هوشه(بی خبره)دی،تپوس کوی دوئ						
اَيَّانَ	يَوْمُ	الدِّيْنِ ⑫	يَوْمَ	هُمْ	عَلَى النَّارِ	يُفْتَنُوْنَ ⑬ ذُوْقُوْا
چه کله به وی ورځ دَقيامت،هغه ورځ چه دوئ به په اورباندې سيزلې شی،(ورته به اووئيلې شی)اوڅکئ						
فِتْنَتَكُمْ	هٰذَا	الَّذِيْ	كُنْتُمْ	بِهٖ	تَسْتَعْجِلُوْنَ ⑭	
عذاب خپل،داهغه عذاب	دې	چې	تاسو	پرې	تادي	کوله

﴿ قُتِلَ الْخَرّٰصُوْنَ ﴾ تخويف اخروی دې منکرينو دَقيامت ته، چه نن خو ترينه په غفلت کښ پراته دی اوتعجب او استهزا ورپوری کوی او د قيامت په راتلو تلوار کوي خو په دغه ورځ به دوئ د الله ﷻ رحمت نه لرې وي او په اور به سيزلې شي . ﴿ قُتِلَ ﴾ بمعنی "لُعنَ" ﴿ يَسْئَلُوْنَ ﴾ يعنی استهزاءً تپوس کوی چه قيامت چه ته ورنه مونږ يره وي هغه به کله راځی. ﴿ يَوْمَ ﴾ متعلق دې په

مقدر پورې، یعنی واقع کیږی به قیامت په هغه ورځ چه دوئ به په اُورکښ سوزولې کیږی.﴿ یُفۡتَنُونَ ﴾ بمعنی یُحرقون﴿ذُوقُوا﴾دینه مخکښ یقال هم مقدر دې﴿فِتۡنَتَكُمۡ ﴾فتنه پمعنی دَعذاب سره دې.

إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٥﴾ ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمْ
بیشکه متقیان به په جنتونوکښ اوپه چینوکښ وی . اغستونکی به وی د هغه څه چې ورکوی به دوئ ته
رَبُّهُمْ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا۟ قَبْلَ ذَٰلِكَ مُحْسِنِينَ ﴿١٦﴾ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ
رب دَدوئ، بیشکه وۆدوئ مخکښ دَدینه په دنیاکښ نیکی کونکی. وۆ دوئ به لږشانی دَشپې
مَا يَهْجَعُونَ ﴿١٧﴾ وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿١٨﴾ وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ
خوب کولو. اوپه وخت دَسحرونو کښ به دوئ مغفرت غوښتلو.اوپه مالونودَدوئ کښ حق(حصه)وۆ
لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴿١٩﴾
دَسوال کونکی اونه کونکی لپاره.

﴿ إِنَّ ٱلۡمُتَّقِينَ فِى جَنَّٰتٖ وَعُيُونٍ ﴾ دا بشارت اخرویه دې چې آخرت کښ به متقیان او مؤمنان په جنتونو او چینو کښ به وی،او قسم قسم نعمتونه به ورته دَالله ﷻ دَطرفه میلاویږی. ﴿ءَاخِذِينَ مَآ ءَاتَىٰهُمۡ ﴾اخذین پمعنی دَقابلین،راضین سره دې.ما" نه مراد ثواب او نعمتونه دَ جنت دی،یعنی پدی نعمتونو به خوشحاله وی او خوشحالئ سره به یی قبولوی.

﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ قَبۡلَ ذَٰلِكَ مُحۡسِنِينَ ﴾دا د ماقبل تعلیل دې چې دا نعمتونه به ورته په وجه د احسان میلاویږي ، او احسان په تفصیل کښې دلته درې امور بیان شوي دي:

(١)نفلی عبادات : یعنی فرضی عبادات اداکول خو هسی هم ضروری دی ،خو دَ هغی سره سره نفلی عباداتو اهتمام کول.

(٢)استغفار : کوم ګناهونه اوخطاګانی انسان نه اوشی په هغی باندی اصرار کولو په ځائ استغفار کول.

(٣)انفاق: یعنی نورو سره همدری کول او هغوئ ضروریات پوره کول.

﴿ كَانُوا۟ قَلِيلًا مِّنَ ٱلَّيْلِ ﴾ دا **اول امر** دي ، چې فرضي عبادت خو پريګده چې د نفلي عبادت به ئي دومره اهتمام كولو چې د شپې لګه حصه به ئي آرام له او نوره به ئي عبادت له وركوله.

﴿مَا يَهْجَعُونَ ﴾دَ هجوع نه مشتق دي پمعنى دَ نوم في الليل.

آسان اوزيات غوره تركيب دَ دي آيت دا دي چه «ما» زائده ده . «يهجعون» جمله خبر دي د فعل ناقص، «قليلاً» يا مفعول فيه مقدم دي دَ«يهجعون» يا ورله مفعول مطلق دي باعتبار دَموصوف سره ، اي زمانا قليلا،او هجوعا قليلا. «من الليل» دا صفت دي د «قليلاً» . نومطلب داشوچه دوئ به دَشپې ډيركم اوده كيدل اواكثره حصه به ئي په عبادت كښ تيره وله،اى ينامون قليلاًمن الليل ويصلّون اكثره(قرطبى)

بعضِ وائى چه"ما"نافيه دي اى كانواقليلاًمن الليل لايهجعون.نومطلب دادي چه ټوله شپه به نه اوده كيدل،دَشپې په څه حصه كښ به ئى عبادت كولو ،ابن كثيرؒ دَابن عباسؓ نه نقل كړيدى چه هغه فرمائى چه: لم تكن تمضى عليهم ليلة الاّ يأخذون منها و لو شيئًا،يعنى داسې شپه پدوئ نه ده تيره شوې چه عبادت ئى پكښ نه وى كړې اګركه لګ وى. (روح المعانى).

﴿وَبِٱلْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾ دا **دويم امر** دي ، چه دوئ پخپل عبادت غرورنه كوى بلكه دَ خپل قصوراوكوتاهئ اقراركوى،په ﴿وَبِٱلْأَسْحَارِ﴾ كښ اشاره ده ديته چه عبادت او تهجد دَ دوئ متصل وى دَ سهار سره،

﴿ وَفِىٓ أَمْوَٰلِهِمْ حَقٌّ ﴾دا **دريم امر** دي چه دَ مخلوق سره ښيګړې كوى،دَ﴿حَقٌّ﴾نه بعضو زكوٰة مرادكړيدې يعنى زكوٰة وركوى،ليكن چونكه داآيت مكى دي اوحكم دَ زكوة تفصيلاً په مدينه كښ نازل شويدې نو په دې وجه غوره داده چه دَزكوٰة نه علاوه حق ورنه مراددي لكه نفلى صدقه،صله رحمى،دَميلمه اكرام كول وغيره،په حديث كښ دى"انّ فى المال حقا سوىٰ الزكاة" ﴿لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ﴾سائل خوظاهردي چه هغه چاته وائى دَخلقونه دَخپل حاجت پوره كولو سوال كوى"محروم"بعضِ وائى هغه دې چه دَسوال كولونه اجتناب كوى خپل حاجت خلقوته نه ښكاره كوى،بعضِ وائى چه هغه سړې چه دَهغه هرڅه دَ څه آفت په وجه تباه شوي وى اودې محروم پاتې وى.

وَفِي الْأَرْضِ اٰيٰتٌ لِّلْمُوْقِنِيْنَ ⑳ وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ ㉑
اوپه زمكه كښې ډېر دلائل دَتوحيد دى دَ پاره دَ يقين كونكو . او په خانونو ستاسو كښې هم . آيا نو تاسو نه وينئ.
وَفِي السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوْعَدُوْنَ ㉒ فَوَرَبِّ السَّمَآءِ
اوپه اسمان كښې دي رزق ستاسواوهغه څه چه تاسوسره ئې وعده كيږي.پس قسم دې په رب دَاسمانونو
وَالْاَرْضِ اِنَّهٗ لَحَقٌّ مِّثْلَ مَآ اَنَّكُمْ تَنْطِقُوْنَ ㉓
اودَزمكې چه بيشكه دا خامخا حق دي پشان دَ دې چه تاسو خبرې كوئ .

﴿وَفِي ٱلْأَرْضِ ءَايَٰتٌ﴾ دادليل عقلى افاقي دې په ثبوت دَقيامت ،چه په زمكه كښې په وقوع دَ حشر او بعث بعد الموت باندې ډېر دلائل دى،كقوله تعالى: ومن آيته انك ترى الارض خاشعة فاذا انزلنا عليها الماء اهتزت و ربت انّ الّذى احياهالمحى الموتىٰ حم سجده:۳۹ . ﴿لِّلْمُوقِنِينَ﴾ يعنى دپاره دَهغه خلقوچه دَيقين طلب كونكى دى،

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمْ﴾ دادليل عقلى انفسى دې، يعنى انسان چه پخپل بدن اواعضاؤپه تركيب اوتناسب باندې غوروكړى نودَه دپاره پدې كښې ډېردلائل دى چه كوم ذات پدې قادردې نوهغه خماپه دوباره پيداكولوباندې هم قادردې،كقوله تعالى: ا لم يكُ نطفةً من منىّ يمنىٰ...ا ليس ذلک بقادرٍ على ان يحى الموتى(القيامة).

﴿وَفِي ٱلسَّمَآءِ رِزْقُكُمْ﴾ دادليل عقلى علوى دې،يعنى كوم الله ﷻ سره زمونږ رزق ليكلې شويدې او مونږ ته په وخت مقرر ميلاويږى ،نو دغه شان هغه سره قيامت وخت هم ليكلې شويدې،او په وخت مقرر باندى به ضرور راځى،څنګه چې عدم علم دَ تعين دَ رزق دَليل نه دې دَعدم وجود د رزق، نو دغه شان عدم علم په وخت مقرر د قيامت، دليل نه دې دَ قيامت په نه واقع كيدلو. «رزقكم» مضاف مقدر دې اې اسباب رزقكم يعنى په آسمان كښې ستاسو دَ روزئ اسباب دى لكه نور سپوږمئ اوباران چه سبب دَرزق دې،حسن بصرى رحمه الله به چه كله وريځه اوليده نو خپلو ملګرو ته به ئې اوفرمائيل:فيه والله رزقكم ولكنّكم تحرَمونه بخطاياكم.

پدې کښې ستاسو رزق دې لیکن تاسو ورنه د خپلو ګناهونو په وجه محروم یئ. بعضِ وائی مطلب دادې چه وفی السّماء تقدیرُ رزقکم یعنی د انسان رزق او هر هغه څیز چه دوئ سره ئی وعدې کیږی ټول په لوح محفوظ کښې لیکلی شویدی.

﴿وَمَا تُوعَدُونَ﴾ مراد ورنه وعده د بعث بعدالموت ده، مطلب دادې چه کچرته تاسو په عدم بعثت باندې استدلال په وجه د عدم تعیّن د وقت مقررسره کوئ نو د دې جواب دادې چه د قیامت وقتِ مقررعلم الله سره دې، نود عدم تعین نه استدلال په عدم وقوع باندې نشئ کولې نو په ﴿رِزْقُكُمْ﴾ کښې اشاره ده دیته چه لکه څرنګه باوجود دینه چې د رزق میلاویدو وخت مقرر مونږ ته معلوم نه وي ، خو وجود د رزق یقیني وي نودغه شان قیامت راتلل هم یقینی دي اګرچې مونږ ته ئي د متعین وخت پته نشته.

﴿فَوَرَبِّ ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ﴾ دا ثمره ده د ماقبل دلائلو، چې دماقبل دلائلونه دا ثابت شوه قیامت وقوع به کیږي او د دې وقوع داسې یقیني دې لکه چې تاسو په خپلوخبرو یقین دې چې دا زمونږ خبرې دی ،او ضمیر په «انه» کښې راجع دې حشرته یعنی داراتلل د حشر او بعث بعدالموت داسې یقینی دی لکه څرنګه چه تاسو پخپلو خبرو یقین کوئ چه دا زمونږ خبرې دی او یاراجع دې رزق ته، یعنی تاسو ته خپل مقرر رزق ملاویدل یقینی دی.

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرٰهِيمَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٤﴾ إِذْ دَخَلُوا عَلَيْهِ
آیاراغلې ده تاته قصه د میلمنو د ابراهیم علیه السلام چه عزت مندوؤ، کله چه داخل شول دوئ په ابراهیم علیه السلام،
فَقَالُوا سَلٰمًا ۖ قَالَ سَلٰمٌ قَوْمٌ مُّنْكَرُونَ ﴿٢٥﴾ فَرَاغَ
نودوئ اووئیل سلام (کوؤ مونږ په تا)، اووئیل ابراهیم سلام دې وی په تاسو، دا قوم نا اشنا دې. پس په پټه راغې دې
إِلٰى أَهْلِهٖ فَجَآءَ بِعِجْلٍ سَمِينٍ ﴿٢٦﴾ فَقَرَّبَهٗٓ إِلَيْهِمْ قَالَ أَلَا تَأْكُلُونَ ﴿٢٧﴾
خپل کورته نو راې وړلو سخې څورب، بیا ورنزدې ئی کړو هغوئ ته، ورته ئی اووئیل ولې نه خورئ تاسو.
فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً ۖ قَالُوا لَا تَخَفْ ۖ وَبَشَّرُوهُ بِغُلٰمٍ
نو محسوسه ئی کړه په زړه کښې د هغوئ نه یره ،هغوئ اووئیل مه یریږه. اوزیرې ئی ورته ورکړو د هلک

عَلِيْمٍ ۞ فَاَقْبَلَتِ امْرَاَتُهٗ فِيْ صَرَّةٍ فَصَكَّتْ وَجْهَهَا وَقَالَتْ عَجُوْزٌ عَقِيْمٌ ۞
پوهه . نومخامخ راغله ښځه دَ ده په چغه پس وئ وهلومخ خپل اووئي وئيل چه ځه بوډئ يم شنډه يم.
قَالُوْا كَذٰلِكِ ۙ قَالَ رَبُّكِ ۭ اِنَّهٗ هُوَ الْحَكِيْمُ الْعَلِيْمُ ۞
هغوئ‌فرښتوورته اووئيل هم داسې وئيلي دی رب ستا. بيشکه الله‌تعالیٰ هم هغه حکمت والاديريوهه دي

﴿ هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ضَيْفِ إِبْرَٰهِيمَ ٱلْمُكْرَمِينَ ﴾ پدې آياتونوکښ دَتخويف دنيوی په پنځه نمونوکښ **اوله نمونه** ذکرکيږی. اصل نمونه دَقوم لوط دَهلاکت ده چه دوئ دَآخرت نه غافله وو او په ګناهونوکښ مشغوله ووُ الله‌تعالیٰ ورباندې عذاب نازل کړوتول هلاک شول، نو دَ دينه تاسوهم اې اهل مکه عبرت واخلئ،دَدينه مخکښ دَابراهيم عليه‌السلام قصه دَهغې تمهيد دې، دَ ابراهيم عليه‌السلام او دَ قوم لوط عليه‌السلام دَهلاکت کومه واقعه چه په دې آياتونوکښ ذکرده،په سورة هود او سورة حجرکښ ئې تفصيل تيرشويدې اودغه رنګه دَ آياتونو مذکورۇ اکثر تفسير هم کړې شويدې

﴿ضَيْفِ﴾مصدردې اطلاق ئې په واحداوپه متعددکيږی. اطلاق دَضيف (ميلمنو)په دوئ دَ وجه دَخيال دَابراهيم عليه‌السلام نه شويدې،﴿ٱلْمُكْرَمِينَ﴾ يعنی عندالله عزت مندووُځکه چه دافرشتې وې چه دَهغوئ په شان کښ الله‌تعالیٰ فرمائی:بل عبادٌ مکرمون(انبياء:٢٢)ياداچه ابراهيم عليه‌السلام دَدوئ اکرام کړې ووُلکه په ورستوآيت کښ ئې ذکردې

﴿ فَقَالُواْ سَلَٰمًا ﴾ای نسلّم عليک سلامًا،نوداجمله فعليه ده چه په تجدّداوحدوث باندې دلالت کوی،ابراهيم عليه‌السلام جواب دَسلام په احسن طريقه سره ورکړوچه﴿ قَالَ سَلَٰمٌ ﴾ای سلام عليکم،نوداجمله اسميه ده،چه په دوام اواستمرارباندې دلالت کوی،پدې کښ دَميلمه يوادب طرف ته اشاره شوه چه هغه ته به دَهغه سلام اودَخبروجواب په احسن طريقه سره ورکوې چه هغه محسوسه نه کړی چه دې ځماپه راتلوخفه دې.﴿قَوْمٌ مُّنكَرُونَ﴾دائی ياپخپل زړه کښ اووئيل چه داڅوک نااشناخلق دی يائی هغوئ ته اووئيل چه(انتم قوم منکرون)وجه دَ نا آشنا

ګڼرلويادا وه چه دوئ سلام اوکړو اوسلام کول پدغه وخت کښ نا اشناوؤ. ياداچه دوئ بغير د اجازت او اطلاع نه داخل شوي وؤ. ياداچه دَدوئ وضع قطع دَعامو انسانانو نه بدله وه.

﴿فَرَاغَ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ﴾ راغ، بروغ پټ والي معنى ورکوي، اوکله چې صله کښ "الى" راشي نو بيا د "ذهاب" دَ تللو معنى ته متضمن شي، يعنى پټه تللو معنى ورکوي يعنى فوراً د ميلمنو نه په پټه کورته راغې او يو وريت شوې اوسُورب سخې ئى ورته دَخوراک دپاره راوړو، پدې کښ يوبل ادب دَميلمه ته اشاره ده چه ميلمه ته به داسې نه وائى چه خه ستادپاره دَخوراک انتظام کوم، ځکه کيديشى چه هغه دَحياء په وجه انکاراوکړي.

﴿سَمِينٍ﴾ ممتلئ الجسد بالشحم واللحم، يعنى دَغوښې اووازګى نه ډک بدن والا ﴿فَقَرَّبَهُۥٓ إِلَيْهِمْ﴾ يعنى خوراک ئى ورته نزدې کيخودلو، داهم دَميلمه ادب دې چه خوراک به ورنه لرې نه کيدې، ليکن هرکله چه ابراهيم عليه السلام اوليدل چه دوئ خوراک نه کوى نوورته ئى اووئيل﴿أَلَا تَأْكُلُونَ﴾ ګرانو ميلمنوتاسولې خوراک نهٔ کوئ، داهم دَميلمه ادب دې، چه په نرمه طريقې سره به ورته ست کوى.

﴿فَأَوْجَسَ مِنْهُمْ خِيفَةً﴾ يعنى چه دَست باوجودئى خوراک نه کولونو ابراهيم عليه السلام ورنه يره محسوسه کړه ځکه چه ددغه زمانى دستوروؤچه ميلمه به دچاطعام نه خوړلونو دابه دَدې علامه وه چه دَضرر رسولوپه نيت راغلي دي. هکذافي سورة هود

﴿وَبَشَّرُوهُ﴾ ضمير منصوب ابراهيم عليه السلام ته راجع دې نودَدينه معلوميږى چه فرشتواول ابراهيم عليه السلام ته بشارت دَولد ورکړيدې او بيا حضرت ساره رضي الله عنها من وراء الحجاب واؤريدلو نو خوشحاله شوه اوچه پوهه شوه چه دا فرشتې دى نو﴿فَأَقْبَلَتِ ٱمْرَأَتُهُۥ﴾ نو دَ پردې نه مخامخ راغله، او بيا دا احتمال وؤ چه ولد به دَبلې ښځې نه پيدا کيږى نو دَ دې وجه نه ورته ملائکو بشارت دوباره ذکرکړوچه دَهغې ذکرپه سورة هودکښ دې چه "فبشرنٰها باسحاق" (هود: ٧١) لهذا دَ دې آيت اودَسورة هودآيت په مينځ کښ منافات نشته دې، ﴿بِغُلَٰمٍ عَلِيمٍ﴾ يعنى پيغمبر به وى ځکه پيغمبرپه خلقو کښ لوئ عالم وى، اودَجمهورُوپه نزدمبشربه حضرت اسحاق عليه السلام دې، چه دَحضرت ساره رضي الله عنها دَبطن نه پيدا شوې وؤ. ﴿فِى صَرَّةٍ﴾ اى فى صيحة يعنى دَخوشحالئ نه ئې چغه

اووهله اوه‌تې اوکړو ﴿فَصَكَّتْ وَجْهَهَا﴾ يعنى تعجبًا ئى خپل مخ اووهلو، لکه څرنګه چه دا عادت دي دَ ښځو، اووئى وئيل چه﴿عَجُوزٌ عَقِيمٌ﴾ اى اناعجوزٌعقيمٌ، يعنى بوډۍ هم يمه اوشنډه هم يمه په ځوانۍ کښې مې اولاد نه دې شوې نو اوس به مې څنګه اولاد اوشى.

﴿قَالُوا كَذَٰلِكِ﴾ فرشتوورته اووئيل چه دکوم زيرى خبرمونږ درکړودامونږ دَ ځان نه، نه دې درکړې بلکه الله ﷻ هم داسې وئيلې دى.

﴿إِنَّهُ هُوَ الْحَكِيمُ الْعَلِيمُ﴾ تعليل دې دَماقبل، چه الله ﷻ حکيم دې په پخپلو اقوالو، افعالو، عليم دې په هرڅيزنوقول اوفيصله دَالله ﷻ حقه اويقينى دى

قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ أَيُّهَا الْمُرْسَلُونَ ﴿٣١﴾ قَالُوا إِنَّا أُرْسِلْنَا

اووئيل ابراهيم عليه السلام نوڅه دې مقصد ستاسواې رالېږلې شوؤ. اووئيل هغوئ بيشکه مونږه رالېږلى شوى يو

إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ ﴿٣٢﴾ لِنُرْسِلَ عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن طِينٍ ﴿٣٣﴾ مُّسَوَّمَةً

داسې قوم ته چې مجرمان دي، چه اووره ؤو په دوئ کاڼرى دَختونه جوړ شوى نشان دار دى

عِندَ رَبِّكَ لِلْمُسْرِفِينَ ﴿٣٤﴾ فَأَخْرَجْنَا مَن كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٣٥﴾

له طرفه دَ رب ستانه لپاره دَ اسراف کونکو ، پس اوباسل مونږ هغه څوک چه ؤو پدې کلى کښې دَ مؤمنانو نه .

فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ وَتَرَكْنَا فِيهَا آيَةً

پس نه وؤ موندلې مونږ په دې کلى کښې بې دَ يو کور، دَ مسلمانانو نه . او پرېخودله مونږ په هغې کښې نشانه

لِّلَّذِينَ يَخَافُونَ الْعَذَابَ الْأَلِيمَ ﴿٣٧﴾

دَپاره دَ هغه کسانو چه يرېږى دَ عذاب دردناک نه .

﴿قَالَ فَمَا خَطْبُكُمْ﴾ هرکله چه فرشتوابراهيم عليه السلام ته بشارت ورکړونوابراهيم عليه السلام ته دامعلومه شوه چه دَفرشتواصل مقصدهغه څه بل لوئ کاردې نوتپوس ئى ورنه اوکړوچه ستاسوڅه مقصددې فرشتوورته اووې چه﴿إِنَّا أُرْسِلْنَا إِلَىٰ قَوْمٍ مُّجْرِمِينَ﴾ چه مونږدقوم لوط دَهلاکت

دپاره راغلی یو ﴿ قَوۡمٍ مُّجۡرِمِينَ ﴾نه مرادقوم لوط دي چه دکفرشرک نه علاوه لوئ جرم ئی هم جنس پرستي وه ﴿لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ ﴾ يعنی چه دَ کانړو باران پرې اوکړو.دا باران دَ دوئ کلی پر مخی کولو عذاب نه ورستي وؤ (مزيد تفسيرپه سورة هود:۸۲کښ تيرشويدي)۔

﴿مُّسَوَّمَةً ﴾ای معلمة عليها اسم من يرمی. يعنی په هر کانړی به دَ هغه چانوم ليکلې شوې وؤ څوک چه به پرې ويشتلې کيدو.﴿لِلۡمُسۡرِفِينَ ﴾ ای المجاوزين الحدّ فی الفجور

﴿فَأَخۡرَجۡنَا مَن كَانَ فِيهَا ﴾يعنی دَ لوط عليه السلام په کلي کښ چه کومو خلقو ايمان راوړې وؤ. لوط عليه السلام ته موحکم اوکړوچه دوئ اوباسه کقوله فاسربا هلک چه هغه لوط عليه السلام اودَهغه دوه لونړه وې،بعض وائی چه ايمان راوړونکی ديارلس(۱۳)کسان وؤ،چه دَالله تعالىٰ دعذاب نه محفوظ شول.﴿غَيۡرَ بَيۡتٍ ﴾ يعنی يو کور چه دَ لوط عليه السلام وؤ.﴿مِّنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴾ آيت کريمه مشهوراستدلال دې دَ هغه علماؤو د پاره چه ايمان اواسلام واحدگنړی،ځکه چه دَ يو قسم خلقو نه تعبير په يوځائ کښ په﴿ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ﴾ سره اوشو اوپه بل ځائ کښ په﴿ٱلۡمُسۡلِمِينَ ﴾سره .

﴿وَتَرَكۡنَا فِيهَآ ءَايَةً ﴾مراددَنشاني نه هغه آثاردَعذاب دی چه تر ډير وخته پورې باقی وؤ،بعض وائی مراد ورنه هغه احجارکشيره دی چه دَيوبل لاندې باندې پراته وؤ،بعض وائی هغه تورې،بدبوداري اوبو ورنه مرادذی چه اوس ورته بحرمردار وئيلې کيږی ځکه چه په دغه اوبو کښ هيڅ دَ اُوبو ځناور ژوندې نشی پاتې کيدلې.

وَفِي مُوسَىٰٓ إِذۡ أَرۡسَلۡنَٰهُ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿٣٨﴾ فَتَوَلَّىٰ
اوپه قصه دَموسیٰ کښې هم نشانه ده کله چه اوليږلو مونږ دې فرعون ته په دليل ښکاره سره. پس انکارئ اوکړو
بِرُكۡنِهِۦ وَقَالَ سَٰحِرٌ أَوۡ مَجۡنُونٞ ﴿٣٩﴾ فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ
سره دَخپل لښکرنه اووئ وئيل دا ساحر دې يا ليونې دې. نو اونيولو مونږ دې او لښکر دَ ده نو اومو غورځول
فِي ٱلۡيَمِّ وَهُوَ مُلِيمٞ ﴿٤٠﴾
په درياب کښ اودې ملامته وؤ.

﴿وَفِي مُوسَىٰٓ إِذْ أَرْسَلْنَٰهُ﴾ دادَ **تخويف دنيوى دويمه نمونه** ده چه هلاکت دَفرعون دې،فرعون پخپل طاقت او لښکر باندې مغرور وؤ،دَحق نه ئې اعراض اوکړو.دَموسى عليه السلام تکذيب ئې اوکړو. نو الله تعالى سره دَخپل لښکرنه په درياب کښې غرق کړو. ﴿وَفِي مُوسَىٰٓ﴾ عطف دې په ﴿فِيهَآ﴾ باندې اى و ترکنا في موسىٰ آية ﴿إِذْ أَرْسَلْنَٰهُ﴾ بدل دې دَموسىٰ نه ﴿بِسُلْطَٰنٍ مُّبِينٍ﴾ سلطان مصدر دې اطلاق ئې په واحد او متعدد باندې يوشان کيږي،مراد ورنه هغه معجزات دى چه دَ موسىٰ عليه السلام په لاس ښکاره شوي وې.

﴿فَتَوَلَّىٰ بِرُكْنِهِۦ﴾ رکن نه مرادقوت اولښکردې او باء سببيه ده.يعنى په سبب دَخپل قوت اولوئ لښکرئې اعراض اوکړو،يا رکن بمعنى دَ قوم دې الرکن بمعنى القوم لانه يرکن اليهم او باء دمصاحبت يا ملابست د پاره ده . ﴿وَهُوَ مُلِيمٌ﴾ اللوم نه ماخوذ دې،باب افعال نه داسم فاعل صيغه ده اوخاصيت استحقاق ماخذ پکښې موجود دې يعنى دې دَ خپلو کارونو او دعوو دَ وجهې نه دَ ملامت مستحق وؤ.

وَفِي عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ الرِّيحَ الْعَقِيمَ ۝٤١ مَا تَذَرُ
اوپه قصه دَ عاد کښې هم نښانه ده کله چه اوليږلو مونږ په دوئ باد(هوا) شنډ(بې خيره) ، نه به ئې پريخودلو
مِنْ شَيْءٍ أَتَتْ عَلَيْهِ إِلَّا جَعَلَتْهُ كَالرَّمِيمِ ۝٤٢
هيڅ څيز چه راغې به هغه باد وربانديې مگر او به ئې گرځولو پشان دَ ذرې ذرې شوي څيز،
وَفِي ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ تَمَتَّعُوا حَتَّىٰ حِينٍ ۝٤٣
اوپه قصه دَثمودکښې هم نښانه ده کله چې اووئيلو شو دوئ ته فائده واخلئ ترخه وخته پورې،
فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ فَأَخَذَتْهُمُ الصَّاعِقَةُ وَهُمْ يَنظُرُونَ ۝٤٤
پس شرکشى ئې اوکړه دَامردَرب خپل نه نو اونيول هغوئ اواز دَ تندر او دوئ ورته کتل
فَمَا اسْتَطَاعُوا مِن قِيَامٍ وَمَا كَانُوا مُنتَصِرِينَ ۝٤٥
پس نه لرلودوئ طاقت دَ پاسيدلو او نه وؤ دوئ بدله اخستونکې

وَ قَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا قَوْمًا فٰسِقِيْنَ ﴿۴۶﴾

او قوم دَ نوح علیه السلام چه هلاک کړی وو مونږ مخکښ د دوئ نه. بیشکه وو هغوئ قوم فاسقان

﴿وَفِىْ عَادٍ إِذْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمُ﴾ دا **دریمه نمونه دَ تخویف دنیوی** ده. دقوم عاد دَهلاکت تفصیل په سورة اعراف، هود وغیره کښ تیرشویدې ﴿وَفِىْ عَادٍ﴾ دا هم عطف دې په ماقبل معطوف علیه ای وتركنا فی اهلاک عادٍ آیةً..... ﴿الرِّيحَ الْعَقِيمَ﴾ شنډه هوا، یعنی هغه هوا چه خلقوته پکښ هیڅ قسمه خیراوبرکت نه وی. دا داسې ګرمه اوتیزه هوا وه چه په دوئ راغله نوبیخ بنیاد ئی ورله ختم کړواودَدوئ هرڅیز ئی زرې زرې کړو. ﴿كَالرَّمِيمِ﴾ رمیم هغه زوړ څیز لکه هډوکی چه وراسته او زاړه شی، بیاریزه ریزه شی، یاهغه وابښه چه وچ شی. زرې زرې شی بوس ترې جوړشی.

﴿وَفِىْ ثَمُودَ إِذْ قِيلَ لَهُمْ﴾ دا **څلورمه نمونه دَتخویف دنیوی** ده. قوم ثمود دَهلاکت واقعه هم مخکښ تیره شویده. ﴿حَتّٰى حِينٍ﴾ ترڅه وخت پورې فائده واخلئ، مراد ورنه د دنیا زندګي ده. یعني الله ﷻ چې څومره ژوند درکړې دې نو دیکښې دالله ﷻ د نعمتونو نه خوند واخلئ خو ګورئ دا دنیا فاني ده، آخرت مه هیروئ او څما نافرماني مه کوئ ﴿فَعَتَوْا عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ﴾ خو قوم ئي خبره او نه منله او د الله ﷻ د احکاماتو نه ئي بغاوت اوکړو. نو عذاب پرې راغې
﴿وَهُمْ يَنظُرُونَ﴾ دَ نظر نه مأخوذ دې، یعنی په رڼاورځ ورباندې عذاب راغې اودوئ ورته کتل لیکن دَځان خلاصولو طاقت ئی نه وو.

بعض مفسرینو د ((حتی حین)) نه مراد هغه درې ورځې اغستې دي چې هغې کښې ورسره صالح علیه السلام د الله ﷻ عذاب د راتلو وعده کړې وه، کما في قوله تعالى: ((فقال تمتعوا في داركم ثلثة ايام)) او ((ينظرون)) د انتظار نه دي، اى وهم ينتظرون الاخذ والعذاب فى تلك الايام الثلثة (روح المعانی).

﴿فَمَا اسْتَطَاعُوا مِن قِيَامٍ﴾ یعنی دَ ډیر هیبت دَ وجه نه پرمخې پریوتل اودَپاسیدو طاقت ئی نه وو، او بیاپه دغه حال مړه شول، كقوله تعالى: فاصبحوا في دارهم جثمين (هود: ۶۷) بعض وائی

دا کنایه ده دَ دوئ دَ عجز نه علی سبیل المبالغه،یعنی دوئ زمونږدعذاب نه بالکل نشول خلاصیدلې، ځکه چه څوک دَقیام طاقت نه لری نو دَتختیدلو به څه طاقت اولری! (تفسیر کبیر). ﴿وَمَا كَانُوا مُنتَصِرِينَ﴾ یعنی دَعذاب راوړونکو فرشتو سره ئی مقابله نشوه کولې چه بدله ورنه واخلی اودَخپل ځان نه عذاب دفع کړی.

﴿وَقَوۡمَ نُوحٍ﴾ دا پنځمه نمونه ده دَ تخویف ﴿وَقَوۡمَ﴾ دَپاره فعل مقدردې ای اهلکنا قوم... ﴿مِّن قَبۡلُ﴾ ای قبل هؤلآء المذکورین،

وَالسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا بِأَيۡيْدٖ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ﴿٤٧﴾ وَالۡأَرۡضَ فَرَشۡنَٰهَا فَنِعۡمَ
او اسمان جوړکړیدې مونږ هغه پخپل قوت سره او بیشکه مونږ قدرت لرونکی یو او زمکه غوړه ولې ده مونږ هغه نو څه ښه
الۡمَٰهِدُونَ ﴿٤٨﴾ وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ ﴿٤٩﴾
غوړه ونکی یو مونږه . او دَ هر څیز نه مونږ پیدا کړیدی جوړئ دپاره ددې چه نصیحت واخلئ تاسو.
فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥٠﴾ وَلَا تَجۡعَلُواْ
پس په منډه لاړشئ الله ﷻ طرف ته،بیشکه څه تاسو ته دَهغه له طرفه ...ونکې ښکاره یمه.اومه ګرځوئ
مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَۖ إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ ﴿٥١﴾
دَالله ﷻ سره اِله بل.بیشکه څه تاسو ته دَهغه له طرفه یرونکې ښکاره یمه

﴿وَٱلسَّمَآءَ بَنَيۡنَٰهَا﴾ دَتخویف دنیوی پنځه نمونې ذکرکولو نه ورستو په ثبوت دَقیامت باندې **دلیل عقلی** ذکرکیږی چې الله ﷻ د لویو لویو قدرتونو خاوند دې ، پاسه اوګورئ دومره لوئ آسمان دا صرف الله ﷻ خپل قدرت سره اودرولې دې چې دا ستاسو دپاره پمنزله د یو چهت دې ، لاندې اوګورئ نو زمکه ئي درله الله ﷻ غوړولې ده چې تاسو له پمنزله د فرش ده ، دغه شان د کائنات هر هر څیز باندې غور اوکړئ نو ضرور به الله ﷻ ورله یو جوړه و مقابل پیدا کړې وي ،نو دغه شان د دې دنیا ژوند مقابل کښې یو ژوند شته چې هغه د

آخرت ژوندی ،چې هغه به ضرور راځي ، بیا دې نه خو سوچ او کړئ آیا دا څیزونه پیدا کول ګران دي او که انسان دوباره پیدا کول ؟!، چې دوئ دې په بنیاد د بعث انکار کوي

﴿وَٱلسَّمَآءَ﴾ منصوب علی شریطة التفسیردې،ای بنینا السماء بنیناها.﴿بِأَيۡيْدٖ﴾ای بقوة﴿وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ﴾ (١)یاد"وسع"نه مشتق دې پمعنی دَطاقت اوقدرة سره ای لقادرون یعنی آسمان مونږ پخپل قوة سره پیداکړیدې،دَ اسمان نه علاوه زمونږ قدرت هر څیز باندې حاوی دې. (٢)یا د "وسعت" نه ماخوذدې،پمعنی دَفراخئ سره،یعنی مونږفراخه کونکی یو د آسمان چې دې په مقابله کښې زمکه داسې ده لکه وسیع بیابان په مینځ کښې ګوتئ وي.

﴿وَٱلۡأَرۡضَ﴾ای وفرشناالارض﴿فَرَشۡنَٰهَا﴾ای مهّدناها﴿فَنِعۡمَ ٱلۡمَٰهِدُونَ﴾مخصوص بالمدح مقدردې چه"نحن"دې،﴿وَمِن كُلِّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَا زَوۡجَيۡنِ﴾دَ زوجین نه مراد متقابل او متضاد څیزونه دی لکه اسمان،زمکه،نوَر،سپوږمئ،ورځ ،شپه وغیره ﴿لَعَلَّكُمۡ تَذَكَّرُونَ﴾یعنی چه تاسونصیحت واخلئ اوپوهه شئ چه دَ هر څیز مقابل موجود دې نو دا ضروری شوه دَ دنیادې هم مقابل موجودوی چه آخرت دې،نومعلومه شوه بعث بعدالموت حق اویقینی دې.

﴿فَفِرُّوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ﴾ دا **ماقبل دلائلو مقتضا** بیان دې چې الله ﷻ د قدرت او خالقیت دا دلائل اوس د ستاسو نه دا تقاضه کوي چې تاسو صرف په هغه ایمان راوړئ او شرکاؤو نه ئې پاک اوګڼرئ."فاء" د پاره د تفریع ده او دې نه مخکښې " قل لهم " مقدر دې ﴿إِلَى ٱللَّهِ﴾ یعنی دَشرک نه توحید طرف ته،دَمعاصیؤو نه طاعت طرفَ ته او دَ عذاب نه ثواب اونجات طرفَ ته،دیکښې دعوت د توحید دې ﴿إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ﴾ یعنی دَعذاب اِوعقاب دَالله ﷻ نه ستاسودَپاره ښکاره یره ونکې یم،﴿وَلَا تَجۡعَلُواْ مَعَ ٱللَّهِ﴾ پدیکښې نهی ده دَشرک نه،ماقبل آیت کښې امروؤدَتوحید﴿إِنِّي لَكُم مِّنۡهُ نَذِيرٞ مُّبِينٞ﴾ تکراریادَتاکیددَپاره دې،یاپه اول کښې انذاردَعذاب دَ دنیا وؤ او په دیکښې انذاردَعذاب دآخرت نه دې.

كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا قَالُواْ سَاحِرٌ

دغه شان نه وؤ راغلې هغه کسانوته چه مخکښې وؤدَدوئ نه،هیڅ رسول مګر ووئیل به هغوئ داساحردی

اَوْ مَجْنُوْنٌ ﴿٥٢﴾ اَتَوَاصَوْا بِهٖ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُوْنَ ﴿٥٣﴾ فَتَوَلَّ
یالیوني دي . آیا دوئ یو بل ته د دغې وصیت کړیدي ، بلکه دوئ خلق دی سرکشه . پس اعراض اوکړه
عَنْهُمْ فَمَآ اَنْتَ بِمَلُوْمٍ ﴿٥٤﴾ وَّذَكِّرْ فَاِنَّ الذِّكْرٰى تَنْفَعُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٥٥﴾
ددوئ نه پس ته ئي ته ملامته کړې شوې اونصیحت کوه بیشکه نصیحت فائده ورکوی مؤمنانوته

﴿كَذَٰلِكَ مَآ أَتَى ٱلَّذِينَ ﴾پدیکښ **تسلی** ده نبی کریمﷺته چه لکه څرنګه چه ستاقوم ستاتکذیب کوی اوساحر،مجنون درته وائی نوته پدې صبرکوه ځکه ستانه مخکښ چه څومره رسولان تیرشویدی دهغوئ هم تکذیب شویدې اومجنون،ساحرورته وئیلې شویدی.

که څوک اشکال اوکړی چه نسبت دَ تکذیب کلیةً نه دې صحیح، ځکه چه بعض انبیاء داسې هم تیرشوي دی چه تکذیب ئی نه دې شوې لکه ادمعليه السلام اودغه شان دَ کومو انبیاؤچه تکذیب شویدې نوبعضو ئی تصدیق هم کړیدې؟**جواب دا دې** چه نسبت باعتباردَ اکثر او اغلب سره شویدې،یعنی اکثرخلقودَاکثروانبیاؤو تکذیب کړیدې او دَ ﴿ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِم ﴾ نه مراد کفّار دی،یعنی کفارودَخپلو انبیاؤتکذیب کړیدې.

﴿أَتَوَاصَوْاْ بِهِۦ ﴾تو اصی وائی یو بل ته وصیت کولوته،«به»کښ ضمیر قول مذکور ساحر اومجنون ته راجع دې،استفهام تعجبی دې یعنی دا خبره او دغه اعتراض د وخت هر کافر په خپل پیغمبر کړې دې، عجیبه غوندې خبره ده چې څنګه دوئ ټول دا یوه خبره کوی ، چرته ئي یو بل ته د دې وصیت کړې دې؟ ﴿بَلْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾بل ٚ د اضراب ابطالي د پاره دې ، یعني وصیت نه دې کړې بلکه اصل خبره داده چې دی خبرې کولو علت یو دې،چې هغه په دوئ ټولو کښ موجود دې چې هغه طغیان اوسرکشی ده

﴿فَتَوَلَّ عَنْهُمْ فَمَآ أَنتَ بِمَلُومٍ ﴾یعنی کله چې معلومه شوه چې دا سرکشه قوم دې نو ته دوئ سره بحث مباحثه مه کوه ځکه چې دوئ مني نه ،او ډیر ورته مه پریشانه کیږه ځکه چې په تاځه ملامت نشته دې، تاخپله ذمه واری پوره کړیده،﴿وَذَكِّرْ فَإِنَّ ٱلذِّكْرَىٰ﴾البته وعظ و

نصیحت کوه .د دې فائده شته دي او کم از کم دا فائده ئي خو یقیني ده چې کوم مؤمنان دي هغوئ له نفع ورکوي.

د آیت مذکور تفسیر نه معلومه شوه چه﴿فَتَوَلَّ عَنۡهُمۡ﴾نه مراد اعراض کول دی دَجدال نه. دعوت پریخودل نه دی،یعنی وعظ نصیحت مه پریږده ځکه چه دَچاپه قسمت کښ چه الله ﷻ ایمان راوړل لیکلی دی ستادعوت،اوبار بارنصیحت به هغوئ ته نفع ورکوی.اوهرچه مؤمنان دی نوستاپه وعظ نصیحت سره به دَهغوئ ایمانی بصیرت کښ اضافه کیږی اوپه یقین کښ به ئی قوت راځی(روح المعانی)

وَمَا	خَلَقۡتُ	الۡجِنَّ	وَالۡاِنۡسَ	اِلَّا	لِيَعۡبُدُوۡنِ ﴿۵۶﴾	مَاۤ	اُرِيۡدُ مِنۡهُمۡ
اوندی پیداکړی ماپیریان اوانسانان مگرلپاره دَدې چه ځماعبادت اوکړی.نه لرم اراده دَدوئ نه							
مِّنۡ	رِّزۡقٍ	وَّمَاۤ	اُرِيۡدُ	اَنۡ	يُّطۡعِمُوۡنِ ﴿۵۷﴾	اِنَّ اللّٰهَ	هُوَ الرَّزَّاقُ
دَهیڅ رزق اونه لرم اراده داچه خوراک راکړی ماته،بیشکه الله ﷻ صرف هغه رزق ورکونکې.							
ذُو	الۡقُوَّةِ	الۡمَتِيۡنُ ﴿۵۸﴾	فَاِنَّ	لِلَّذِيۡنَ	ظَلَمُوۡا	ذَنُوۡبًا	مِّثۡلَ
خاونددَقوت محکم دې،پس بیشکه لپاره دَهغه کسانوچه ظلم(شرک)ئی کړیدې حصه دَعذاب ده پشان							
ذَنُوۡبِ	اَصۡحٰبِهِمۡ	فَلَا	يَسۡتَعۡجِلُوۡنِ ﴿۵۹﴾	فَوَيۡلٌ	لِّلَّذِيۡنَ	كَفَرُوۡا	
دَحصې دَملگرودَدوئ پس زردی نه غواړی عذاب ځمانه.پس هلاکت دې دَهغه خلقولپاره چه کفرئی کړیدې							
مِنۡ	يَّوۡمِهِمُ	الَّذِىۡ	يُوۡعَدُوۡنَ ﴿۶۰﴾				
دَهغې ورځې دَدوئ نه چه وعده ئی ورسره کیږی							

﴿وَمَا خَلَقۡتُ الۡجِنَّ وَالۡاِنۡسَ﴾داعلت دې دَماقبل،چه دوئ ته وعظ نصیحت کوه ځکه چه انسان اوجن مادَخپل عبادت دپاره پیدا کړي دي﴿اِلَّا لِيَعۡبُدُوۡنِ﴾لام په لیعبدون کښ تعلیلیه دي، علت اوحکمت دَپیداکولو دَ انس و جن ذکرکیږی،یعنی مادوئ دَخپل عبادت دپاره پیداکړیدی،اودامنافی نه دې دَعبادت نه کولودَ کافرانو،ځکه چه دَغایت وجود لازم نه دې

بلکه کله کله غایت متخلف اوګرځی کفولکَ،بریتُ هذاالقلم لاکتبَ به یعنی داقلم می دَ دې د پاره جوړ کړوچه لیکل پرې اوکړم،لیکن کله پرې لیکل اونکړیشی ﴿۲﴾ بعض فرمائی چه دا خاص دې په مؤمنانو او نیک بختو پورې،یعنی په جنّاتو اوپه انسانانو کښ می اهل سعادة او مؤمنان دَعبادت دَپاره پیداکړیدی،په دې وجه امام بخاری رحمه الله ددې آیت ذکر کولو نه بعد فرمائي"وماخلقتُ اهل السعادة من اهل الفريقين الّاليوحّدون".

﴿۳﴾بعضِ فرمائی چه"لیعبدون"نه مراداستعداد اوصلاحیت دَعبادت دې،یعنې په هر جن انس کښ دَعبادت استعدادقدرتی طورسره موجوددې،البته بعضِ دااستعداد په صحیح مصرف کښ خرچ کړی اوبعضِ ئی ضائع کړی، کمافی الحدیث،کل مولودٍ یّولدعلی الفطرة فابواه یهوّدانه اویمجّسانه،یعنی هرمولودکښ فطرة دَاسلام اوتوحیدوی لیکن مورپلار ئی ورنه یایهودی جوړکړی یامجوسی نودغه شان هرجن انس کښ الله جل جلاله استعداددَعبادت پیداکړیدې.

که څوک اشکال اوکړی چه دَدې آیت تعارض دې دَسورة اعراف آیت﴿۱۷۹﴾ "و لقد ذرأنا لجهنّم كثيراً من الجنّ و الانس..." سره؟ چې دینه معلومیږي ډیر انسانان اوجنات داسې هم دي چې الله جل جلاله دوئ د جهنم د پاره پیدا کړي دي ،

جواب: ﴿۱﴾ په"لیعبدون"کښ لام دَعلت دپاره دې،اوپه"لجهنم" کښ دَعاقبت دپاره دې یعنی جن وانس خودَعبادت دپاره پیدادی لیکن چه عبادت ترک کړی نوانجام ئی جهنم شی

﴿۲﴾لام په دواړومواضعوکښ دَعلت دپاره دې لیکن دلته دَغایة تشریعی ذکردې اوپه اعراف کښ دَغایة تکوینی ذکردې،فلا تناقض بینهما.

﴿ مَآ أُرِيدُ مِنْهُم مِّن رِّزْقٍ ﴾یعنی رزق اراده ورنه،نه لرم چه ماته رزق راکړی،لکه څرنګه چه دَ دنیا مالکان دَدې دَپاره غلامان او نوکران ساتی چه څوک ورله مال ګټی،څوک ئی خدمت کوی، خوراک وغیره ورته تیاره وی،یامطلب داد چه دَدې دپاره می انسان نه دې پیداکړې چه خپل ځان یا یو بل له رزق ورکړی،بلکه رازق څه یم،رزق ځماپه ذمه دې،اودَانسان په ذمه عبادت دې خو دَ دې مطلب دا نه دي چه کسب معاش او دَ رزق حلال طلب هم نه دې پکار، بلکه مطلب دادې چه مقصوداصلی دَانسان عبودیت اواطاعت دې دَالله جل جلاله نوخپل تول استعداد دَ رزق په پیداکولو کښ ندې خرچ کول پکار،

﴿وَمَآ أُرِيدُ أَن يُطْعِمُونِ﴾دلته یا مضاف حذف دې،ای ان یطعموا خلقی یعنی ما انسان د دې د پاره نه دې پیدا کړې چه خما مخلوقاتو ته خوراک ورکړی. اسناد دَ اطعام الله ﷻ خپل ځان ته اوکړوځکه چه مخلوق ټول دَالله ﷻ عیال دی اودَچاعیال ته طعام ورکول هغه ته طعام ورکول دی،په حدیث کښ دی چه قیامت په ورځ به الله ﷻ انسان ته اوفرمائی چه"یاعبدی مرضتُ فلم تعدنِي، و جعتُ فلم تطعمني...الخ" نو دَ دې مطلب دا دې چه"مرض عبدی فلم تعده، و جاعَ عبدی فلم تطعمه".او یامضاف حذف نه دې،بلکه حقیقت باندې محمول دې یعنی ما انسان دې دَپاره نه دې پیدا کړې چې ماله خوراک راکړی،الله ﷻ خوراک نه غوختل او اطعام مطالبه نه کول خو یو یقینی امر دې،خو بیا هم دلته دې ذکر کولو کښ نکته دا ده چې ځنګه دا خبره یقینی ده چه انسان تخلیق مقصد "اِطعام الرب" نه دې او نه کیدیشی نو هم دغه شان دا خبره هم یقینی ده چه انسان تخلیق مقصد دنیا ګټل نه دی.

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ﴾تعلیل دې دَماقبل،چه الله ﷻ پخپله رزاق دې،نودَچانه طلب دَرزق نه کوی﴿ذُو ٱلْقُوَّةِ ٱلْمَتِينُ ﴾دې،انتهائي قوت والا دې او مستغني دې نودَچاخدمت اوتعاون ته ئی ضرورت نشته دې،

﴿ فَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا۟﴾داتخویف دنیوی دې اهل مکؤو او نورو کفارو ته، متفرع دې په ماقبل ((وماخلقت الجن والانس)) باندې، چې کچرته دوئ د زندګي مقصد اونه پیژندو او ایمان ئي نه راوړو نودوئ به هم داسې هلاک شی لکه دَدوئ نه مخکښ قومونوهلاک شویدی، ﴿ذَنُوبًا﴾ "ذنوب" په اصل کښ دَ کوهی بوکې ته وائی،عربو به د کوهي اوبو تقسیم او حصې د بوکو اعتبار سره کولو ،نو ذې وجهې نه ورو ورو ئي بیا اطلاق په کوهي د اوبو په حصې او بیا ئي په مطلق حصې باندې هم شروع شو، نو دلته ترینه مراد مطلق حصه ده ، مطلب دادې چه دې کافرانو د پاره هم دَ عذاب هغه حصه ده چه دَ دوئ نه مخکښ کفر او شرک ارتکاب کونکو ته ورکړې شوې وه. ﴿مِن يَوْمِهِمُ ٱلَّذِى ﴾ مراد دَ دې ورځې نه یا ورځ دَ بدر ده، یا ورنه مراد ورځ دَ قیامت ده.

ركوعاتها (۲)	سورة الطّور مكية	آياتها (۴۹)
	بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۵۲) وحسب النزول (۷۶)

داسورة مکی دي، نزلت بعدالسّجدة وقبل الملك.

ربط : ربط ئی ماقبل سره دادي چه پدې سورة کښ مسئله دَقیامت علی سبیل الترقی ذکرکیږی ماقبل سورة کښ ذکرشوچه﴿ إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَصَادِقٌ ۝ وَإِنَّ ٱلدِّينَ لَوَٰقِعٌ ﴾یعنی قیامت حق دې اوحساب هم حق دې هرسړی سره به حساب کیږی، په دې سورة کښ دی چه﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ۝ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ ﴾یعنی حساب به هم کیږی اوحساب نه ورستوبه عذاب وی چه هغې لره به څوک نشی دفع کولې.

دسورة دَمضامینواجمالی خلاصه

په دعوې دَسورة یعنی په اثبات دَقیامت باندې دوه(۲)عقلی اودوه(۲)نقلی دلیلونه، انبیاؤسابقۋاوکتبِ سابقۋنه،په درمیان اواخرکښ حضورﷺته تسلی ده دې نه علاوه تخویفات، بشارات،اوزجرونه هم پکښ مذکوردی.

تفصیلی خلاصه:

آیت ۱ نه تر ۷ پورې پنځه شواهد او دلائل دي په دعوې د سورت

آیت۸.۷ کښې دعوه د سورت ذکر ده

آیت ۹ نه تر ۱۲ پورې تخویف اخروي دې ،

آیت ۱۷ نه تر ۲۸ پورې بشارت اخروي دي

آیت ۲۹ نه تر ۳۴ پورې د مشرکینو څلور اعتراضات اودَ هغې جوابات ذکر کیږي

آیت ۳۵ نه تر ۳۸ پورې مشرکینو ته زجرونه ذکر کیږي

آیت ۳۹ نه تر ۴۴ پورې مشرکینو د حماقت بیان دي

آیت ۴۵. ۴۲ کښې تخویف اخروي دي

آیت ۴۷کښې تخویف دنیوي دي

آیت ۴۸، ۴۹ کښې تسلي ده

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً

وَالطُّوْرِ ۝١	وَكِتٰبٍ	مَّسْطُوْرٍ ۝٢	فِيْ رَقٍّ	مَّنْشُوْرٍ ۝٣	وَّالْبَيْتِ	الْمَعْمُوْرِ ۝٤		
قسم دې په کوه طور ،	او په کتاب	لیکلې شوی ،	په کاغذنو	خورو ورو کښې .	او بیت	معمور باندې		
وَالسَّقْفِ	الْمَرْفُوْعِ ۝٥	وَالْبَحْرِ	الْمَسْجُوْرِ ۝٦	اِنَّ	عَذَابَ	رَبِّكَ		
اوپه چت	پورته کړې شوی باندې	اوپه دریاب	ګرم کړی شوی باندې،	بیشکه	عذاب	درب ستا		
لَوَاقِعٌ ۝٧	مَّا	لَهٗ	مِنْ	دَافِعٍ ۝٨				
خامخا	واقع کیدونکې دې	نشته دې	لره	هیڅ	څوک	دفع کونکې		

﴿وَالطُّوْرِ﴾ دسورت په ابتداء کښې الله ﷻ د دعوې اثبات د پاره پنځه قسمونه خوري او په جواب کښې ورله دعوی ذکر کوي چې هغه ((ان عذاب ربک لواقع ، ماله من دافع)) ده ، دا هر یو قَسَم مستقل استشهاد او دلیل دې دَ دعوې په اثبات باندې او د هغې سره ئې لطیف مناسبت هم دې ، ((والطور)) **دا اول قسم دې** ، او په دعوې دَسورة یعنی په ثبوت دَقیامت باندې اول دلیل نقلی دې،طور په اصل کښې هغه غرته وائی چه تک شین وی،بوټی ونې پکښې وی،خو عرف کښې ئې اطلاق په هغه معروف غر باندې کیږي چه پکښې الله ﷻ د موسیٰ علیه السلام سره همکلامی کړې وه ، دیته طور سینا هم وائی. او دلته په قسم سره مقصود طور غر نه دې بلکه هغه وحی ده چه په کوهِ طورکښې په موسیٰ علیه السلام نازله شوې وه چه "انّ السّاعةَ آتیةٌ اکادُ اخفیها(طه:۱۵) او **قسم او جواب قسم کښې مناسبت** دا دې چې دغه وحی په دې ګواه ده چه قیامت خامخاواقع کیدونکې دې او هریو کس ته به د هغه د عمل بدله میلاویږي ،څوک ترینه تختیدلې یا ځان بچ کولې نشي . واؤ په "والطور" کښې قسمیه دې اوباقی کښې عاطفه دې.

﴿وَكِتٰبٍ مَّسْطُوْرٍ﴾ دا **دویم قسم او دویم دلیل نقلی** دې په ثبوت دَ قیامت، مراد دَ "کتاب" نه جنس کتاب سماوي دې یا په مناسبت دَطور سره تورات مراددې ((مسطور)) اي

مکتوب علی وجه الانتظام ، یعني په ترتیب سره لیکلې شوي. «في رق» "رق" نرمه اوباریکې څرمنې ته وائی،کله چه کاغذ نه وؤ موجود نوپه دې به لیکل کولې شو ، دلته ورنه مطلق اوراق مراد دی ، دَڅرمنې وی اوکه دَ کاغذ. «منشور» خور او کهلاؤ ته وائي، صفت دې دَ "رق" یا د "کتاب" ،یعني خور او کهلاؤ کتاب ، او دا کنایه ده د صفت هدایت . ځکه چې کتاب کهلاؤ وي نو څوک ترینه څه اخذ کولې شي ، که راټول او بند وي نو څوک به ترینه څه ازده کړي ، مطلب دا دې چې داسې کتابونه چې هغه سراسر هدایت دی ، د هدایت طلب ګار ته په کښې راهنمائي ده . **قسم او جواب قسم کښې مناسبت** دا دې چې دا د هدایت نه ډک کتابونه هم د دې ګواهي ورکوي چې قیامت به قائم کیږي، او څوک به ترینه بچ نشي

﴿وَٱلۡبَيۡتِ ٱلۡمَعۡمُورِ﴾ **دادریم قسم** او دلیل وحي دې، "بیت معمور" داپه ووم(۷)اسمان کښ په محاذاة دَ خانه کعبی دَ فرشتوقبله ده،چه روزانه دلته اویا(۷۰)زره فرشتې عبادت،طواف وغیره دپاره راځی،اوکوم فرشتې چه یوځل دلته عبادت اوکړی نوترقیامته پورې بیادَهغوئ نمبرنه راځی،په احادیثودَمعراج کښ ددې بیان دې،په مسلم وغیره کښ دی"ثمّ رُفع اليّ البیت المعمور فقلتُ یاجبرئیل ماهذا؟قال هذاالبیت المعموریدخله کل یومٍ سبعون الف ملکٍ اذا خرجوا لم یُعودوا فیه اخر ما علیهم" او یا ترینه مراد کعبه او بیت الله دې ، تفسیر جواهر القرآن کښې دي چې دلته هم ذکر د مکان دې خو مقصود ترینه هغه وحي ده چې دلته شوې ده ، **نو قسم او جواب قسم کښې مناسبت** دا شو چې هغه وحي چې په بیت الله کښې شوې ده **هغه** هم په دې شاهد ده چې قیامت به واقع کیږي.

بعض مفسرینو لیکلي دي چې «البیت المعمور» نه مراد زمکه ده چې انسان ئې تعمیر کړې دې او آباده کړې ئې ده ،او د دې قرینه ورستونې آیت دې چې هغې کښې د آسمان ذکر به طور شاهد شوې دې ،(تدبر قرآن) نو دې تقدیر باندې قسم او جواب قسم کښې مناسبت دا دې چې زمکه کښې که څوک څومره خه آبادي اوکړي نو هغې کښ تغییر خامخا واقع کیږي ، او دا څوک نشي منع کولې ، نو دا تغییرات په دې شاهد دي چې قیامت به خامخا واقع کیږي او دا به څوک دفع نه کړي.

﴿ وَٱلسَّقۡفِ ٱلۡمَرۡفُوعِ ﴾ دا **څلورم قسم** دې او اول دلیل عقلي دې او «السقف المرفوع » نه مراد آسمان دې ، او **قسم او جواب قسم کښې مناسبت** داسې دې چې دا آسمان هم په دې دلالت

كوي قيامت به واقع كيږي او څوک به ترينه ځان بچ نه كړي . ځكه چې كوم ذات دومره لوئ آسمان اوچت اودرولو باندې قادر دې هغه په قيامت راوستو باندې هم قادر دې . او انسان چې هغه باندې آسمان احاطه كړې ده، چرته چې هم ځي خو د آسمان نه لاندې به وي كقوله تعالى ﴿ إِنِ ٱسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا۟ مِنْ أَقْطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ فَٱنفُذُوا۟ ۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ﴾ الرحمن ۳۱. د دې دائرې نه بهر نشي وتلې ، نو آسمان خو د الله ﷻ د قدرت يو مظهر دې چې د دې دائرې نه نشي وتلې نو الله ﷻ د قدرت دائرې نه به څنگه اوزي او قيامت په ورځ به ځان څنگه بچ كړي

﴿وَٱلْبَحْرِ ٱلْمَسْجُورِ﴾ دا پنځم قسم دې اودويم دليل عقلي دې په ثبوت دَقيامت، او ((البحر)) نه مراد هغه سمندر دې چې زمكې نه ئې احاطه كړې ده، ((المسجور)) په معني د الممتلئ سره دې، يعني د اوبو ډک سمندر ، او قسم او جواب قسم كښې مناسبت دا دې چه لكه څرنگه بحر مسجور په تاسو احاطه كړيده چې زمكې كومې كنارې ته اوځئ، دې سره به مخامخ كيږئ نو دغه شان به قيامت هم په تاسو احاطه اوكړي او هيڅ چرته به ترينه ځان بچ نه كړئ ، (جواهر)

﴿ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَٰقِعٌ ﴾ جواب قسم دې،او دَ سورة مركزى دعوه ده، ﴿مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ﴾ من زائده دې برائى تاكيد يعنى هيڅ څوک به ئې نشي دفع كولې.

يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا ⑨ وَتَسِيرُ ٱلْجِبَالُ سَيْرًا ⑩ فَوَيْلٌ يَوْمَئِذٍ
په هغه ورځ چه ا خوځيږي به اسمان په زوره زوره ،اوروان به شي غرونه په عجيبه طريقې سره.پس هلاكت دې په دغه ورځ
لِّلْمُكَذِّبِينَ ⑪ ٱلَّذِينَ هُمْ فِى خَوْضٍ يَلْعَبُونَ ⑫ يَوْمَ يُدَعُّونَ
مكذ بينو لپاره،هغه چه هغوئ په باطل كښې پراته دي لوبې كوي، په هغه ورځ چه ورديكه كوليشى به دوئ
إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا ⑬ هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِى كُنتُم بِهَا تُكَذِّبُونَ ⑭
اوردَجهنم ته په سختوديكوسره،ورته به اووئيلې شى،دااوردې هغه چه تاسو پدې تكذيب كولو

أَفَسِحْرٌ هَٰذَا أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ ﴿١٥﴾ اِصْلَوْهَا فَاصْبِرُوٓا أَوْ لَا تَصْبِرُوا	
آیانوسحردي دااوکه تاسوئی نه وینئ.داخل شئ دې ته پس صبرکوئ تاسواوکه نکوئ،	
سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٦﴾	
«دواړه» برابر دی په تاسوبیشکه بدله درکولې کیږی تاسوته دهغه عملونوچه وئ تاسوچه کول به مو.	

﴿يَوْمَ تَمُورُ ٱلسَّمَآءُ مَوْرًا﴾ په دیکښې تخویف اخروی ذکرکیږی مکذبینو اومنکرینو دَ قیامت ته "یوم" یا ظرف دې دَ پاره دَ "لواقع" یعنې دا عذاب به په هغه ورځ واقعه کیږی په کومه ورځ چه اسمان اولړځیږی او دَ ډیرو خوځیدلوپه وجه به اوچوی. یا ظرف دې دپاره دَ ورستو ﴿فَوَيْلٌ﴾ یعنی پدغه ورځ به مکذبینو دپاره هلاکت وی، ﴿تَمُور﴾ای تضطرب "مور" ډیر په تیزئ سره حرکت کولو ته وائي ،او قیامت ته نیزدې به آسمان په خپله هم ډیر تیزئ سره به حرکت او جړقیدل شروع کړې چې هغې د وجهې نه به اوچوي او دغه شان په آسمان کښې موجود نظام د نور، ستوري ، سپوګمئ بلکه ټول نظام شمسي به د معمول حرکت خلاف انتهائي تیز رفتارئ سره حرکت شروع کړي او د عالم نظام به درهم برهم شي او قیامت به واقع شي.

﴿وَتَسِيرُ ٱلْجِبَالُ سَيْرًا﴾ یعنی غرونه به یوړلې شی په یوعجیبه وړلوسره،کیفیت دَسیرپه سورةواقعه آیت«۵»وغیره کښې ذکردې "وبسّت الجبال بسًا،فکانت هباءً منبثًا"یعنی غرونه به زرې زرې شی،دَشګوډیرئ به شی،اوبیابه په هواکښې خواره واره کړیشی،﴿ لِّلْمُكَذِّبِينَ﴾دَقیامت تکذیب کونکی،دَرسالت تکذیب کونکی.

﴿هُمْ فِى خَوْضٍ يَلْعَبُونَ﴾ "خوض" په اصل کښې اوبو کښې غوطه کیدلو ته وائي ، او یو باطل قول او عمل د خپل زندګئ مشن جوړول او هغې کښې همه تن مشغوله کیدلو د پاره هم استعمالیږي ، نو دلته ئي د دوئ تشبیه غوطه زن سړي سره ورکړې شوې ده چې څنګه هغه د غوطې په حالت کښې نه څه ویني او نه آوري دغه شان دوئ هم په باطل امورو کښې داسې ننوتي دي چې نه بل څه ویني او نه آوري .

﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ﴾داد ﴿يَوْمَ تَمُورُ ﴾ نه بدل دي «دَعًّا» ونيلې کيږي ټيل وهلو اوسختې ديکې ورکولوته کقوله تعالى:يدعّ اليتيم(ماعون۲)يعنى دوئ ته به جهنم ته ديکې ورکړيشى.اول به ورته لاسونه دَستهنوسره اوتړلې شى اوسرخپې به يئ يوځائ کړيشى بيابئ جهنم ته ټيل وهى(اعاذناالله منها)

﴿هَٰذِهِ ٱلنَّارُ ٱلَّتِي ﴾ دينه مخکښ:فيقال لهم:مقدردي﴿أَفَسِحْرٌ هَٰذَآ ﴾استفهام توبيخى دې،"هذا" اشاره عذاب دَجهنم ته ده،يعنى دنيا کښې چې تاسو باندې قرآن تلاوت کيدو او دې عذاب نه يرولې شوئ نو تاسو به وې چې دا سحر دې کقوله تعالى:« وقال الذين كفروا للحق لما جاءهم ان هذا الاسحر مبين » السبا: ۴۳نو اوس اوايئ چې دا عذاب هم سحر دې او که نه ؟ ﴿أَمْ أَنتُمْ لَا تُبْصِرُونَ﴾ يا که څنګه تاسو ته په دنيا کښې حق نه ښکاريدو او دا خو وئيلو «ومن بيننا و بينک حجاب » دغه شان دا عذاب هم اوس نه وينئ ؟!

﴿سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ﴾خبردَمبتدامحذوفِ دې:اى صبرُكم وجزعكم سواءٌعليكم. ﴿ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ تعليل دې دَ﴿سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ ﴾يعنى که تاسواوس پدې عذاب دَجهنم صبرکوئ اوکه فريادکوئ دواړه په عدم نفع کښې برابردى ځکه چه تاسوته دَخپلوعملونوجزاء ملاويږى چه داحتمى فيصله ده دَالله ﷻ.

إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَعِيمٍ ﴿١٧﴾ فَٰكِهِينَ بِمَآ ءَاتَىٰهُمْ رَبُّهُمْ

بيشکه متقيان به جنتونو او نعمتونوکښې وى. خوشحالى کونکى به وى په هغه څه چه ورکړې وى دوئ ته رب دَ دوئ

وَوَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ عَذَابَ ٱلْجَحِيمِ ﴿١٨﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَا

اوبچ کړى به وى رب دَ دوئ دَعذاب دَجهنم نه،ورته به اووئيلې شى خورئ اوڅکئ څه په خوند سره په سبب دَهغه عملونو

كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿١٩﴾ مُتَّكِـِٔينَ عَلَىٰ سُرُرٍ مَّصْفُوفَةٍ ۖ وَزَوَّجْنَٰهُم

چه تاسو به کول. تکيه لګونکى به وى په تختونوصف کړو شوؤ باندې . يوځائ به کړو مونږ دوئ

بِحُورٍ	عِينٍ ۝	وَالَّذِينَ	اٰمَنُوْا	وَاتَّبَعَتْهُمْ	ذُرِّيَّتُهُمْ	بِإِيْمَانٍ
غتو سترگو والا حورو سره،		او هغه خلق چه ایمان ئی راوړې دې		او اتباع ئی کړی وی د دوئ	اولادونو د دوئ	په ایمان کښ
أَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَمَآ أَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ كُلُّ امْرِئٍ						
یوځائ به کړومونږدوئ سره اولادونه ددوئ اوکم به نه کړودوئ نه په عمل د دوئ کښ هیڅ څیز.هربوسړې به						
بِمَا كَسَبَ رَهِيْنٌ ۝						
په هغه عمل کښ چه ئی کړې وی گرفتاره وی.						

﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ فِي جَنّٰتٍ﴾ مکذبینو ته دَ تخویف اخروی نه بعد مُتقینوته بشارات اخرویه او دهغوئ اخروي انعامات او حالات ذکر کیږی،او دا ئي **اول حالت او انعام** دې چه دوئ به هلته بالکل مأمون اوبی فکره اوسیږی،دَعیش عشرت ارام راحت هر قسمه اسباب اوسامان به ورته حاضر وی، دَ دوزخ دَ عذاب نه به محفوظ وی.﴿ فَاكِهِينَ ﴾ "فکه" د زړه خوشحالي او رضاء ته وئیلې کیږي ، یعني دوئ به الله ﷻ په ورکړه باندې رضا او خوشحاله وي اي: راضين مسرورين بما اٰتاهم ربهم ، یا په معنی دَ متلذذین سره یعنی خوندونه به اخلی دَجنت نعمتونو نه ، او یا فاعل ذی کذادې ای ذوی فاكهةٍ كثيرةٍ (قرطبی) یعنی ډیرو میوؤ والا به وی ﴿وَوَقٰهُمْ رَبُّهُمْ﴾ یعنی ابتداءً به جنت ته داخلیږی جهنم ته به نه ځی"اللّٰهم ارزقنا الجنة".

﴿ كُلُوا وَاشْرَبُوا ﴾ دا **د بل انعام** بیان دې ، چې خوراک سکاک فراواني به پرې وي ، چې څه ئي زړه غواړي هغه به خوري او څکي ، دینه مخکښ"يقال لهم"مقدردې، او مفعول ئي د تعمیم د پاره حذف شوې دې، یعني چې څه مو زړه غواړي هغه څکئ او خورئ ﴿ هَنِيٓـًٔا ﴾ صفت دې دَ مقدردپاره اي:"اكلاً و شربًا هنيئا"یامنصوب بنابرحالیت دې دَضمیردَ﴿ كُلُوا وَاشْرَبُوا ﴾ نه. "هنئ" هغه طعام ته وائی چه خونده وراومزیدار وی یاهغه طعام چه بغیردَمشقت نه حاصل وی.﴿بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴾ "باء" سببیه ده،نیک عمل سبب ظاهری دې دپاره دَدخول جنّت.

﴿مُتَّكِـِٔينَ﴾ دا ئي د بل انعام بيان دې ،چې الله تعالیٰ به ورله د ملګرو خائسته مجلس هم ورکړي ، قطار در قطار به کټونه او پالنګونه لګيدلي وي او دوئ په هغې ناست او تکيه لګولې خوراک سکاک به کوي، او ګپ شپ به هم لګوي «متكئين» حال دې دَضمير دَجمع نه په ﴿كُلُوا﴾ کښ، ﴿عَلَىٰ سُرُرٍ﴾ جمع دَسريرده،کټ پالنګ وغيره ته وائی، ﴿مَّصْفُوفَةٍ﴾ يعنی په سيدها قطار کښ به پراته وی ، يو بل ته به شاه نه وی دَ جنتيانو ،

﴿وَزَوَّجْنَٰهُم بِحُورٍ عِينٍ﴾ دا ئي د بل انعام بيان دې ، چې شهواني قوت تسکين د پاره به ورله الله تعالیٰ خائسته ، غټو او تورو سترګو والا حورې رفاقت کښ ورکړي ، تزويج معنی يوځائی کولو اوجوړئ ګرځول دی .

﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَٱتَّبَعَتْهُمْ﴾ دا ئي د بل انعام بيان دې چې الله تعالیٰ به ئي اولاد هم دوئ سره يو ځائ کړي دوئ د اکرام او رضاء د پاره ، حالانکه د هغوئ عمل به داسې نه وي چې هغې په وجه دوئ دا مقام او مرتبه موندلې وې.

په آيت کښ لوئ بشارت دې اهل ايمان ته،دَ کومو مؤمنانو والدين چه دَنيک عمل په وجه دَجنت اعلی درجو ته رسيدلی وی،اودوئ په عمل کښ دَ والدينو نه کم وی،نو الله تعالیٰ به دَ والدينو دَ خوشحالئ دپاره دَ دوئ اولاد دوئ سره يوځائ کړی.روح المعانی وغيره په حواله دَابن ابی حاتم اوحاکم اوبيهقی رحمهم الله دَابن عباس رضی الله عنه نه نقل کړيدی چه هغه فرمائی چه "انّ الله تعالى ليرفع ذرية المؤمن معه فى درجته فى الجنّة وان كانوا دونه في العمل لتقرّ بهم عينه" الله تعالیٰ دَ مؤمن دَ اولاد درجه په جنت کښ اوچته وی او ده سره ئی برابره وی اګرچه دوئ په عمل کښ کم وی دَ هغه نه،د پاره دَ دې چه دَهغه سترګې پرې يخې شی.

ابن کثير د طبرانی په حواله حديث مرفوع نقل کړيدې،چه نبی اکرم ﷺ فرمائی چه کله يو سړې جنت ته داخل شی نو هغه به دَ خپل مور پلار او بی بی او اولاد باره کښ تپوس اوکړی (چه هغوئ چرته دی) نو ده ته به اوويلې شی چه هغوئ دَعمل په اعتبارسره ستادرجې ته نه دی را رسيدلی،نوهغه به عرض اوکړی چه يارب قدعملتُ لی ولهم،ما دَ ځان د پاره هم او دَ هغوئ د پاره مې هم عمل کړې وۇ،نو الله تعالیٰ به حکم اوکړی چه هغوئ ورسره هم يو ځائ کړئ.

نو دینه معلومه شوه چې لکه څرنګه چه په برکت دَ عمل دَ والدینو سره اولاد ته نفع رسی نو دغه شان دَ اولاد دَ نیک عمل په برکت سره هم والدینو ته نفع رسی، دَ ابوهریره ﷺ نه روایت دې چه نبی کریم ﷺ فرمائی چه الله ﷻ دَ یو بنده درجه په جنت کښ اوچته کړی نو هغه به تپوس اوکړی چه داماته څنګه ملاؤ شوه نو الله ﷻ ورته اوفرمائی چه په استغفار دَ بچی ستا، ستا د پاره «ابن کثیر».

﴿ذُرِّيَّتُهُمْ﴾ مراد ورنه صلبي اولاد دي او بعضِ وائی چې دَ ذریت نه مراد مطلق توابع دی، صلبی اولاد نه علاوه نور خپل خپلوان ورنه هم مراد کیدیشی «بایمانٍ» جارمجرور متعلق دی ﴿وَاتَّبَعَتْهُمْ﴾ پورې اوتنوین دپاره ده تقلیل دی، یعنی دوئ هم مؤمنان وی. اګرچه ډیر کمزورې درجی کښ ایمان ولې نه وی.اوداهم کیدیشې چی «بایمان» جارمجرورمابعد «الحقنا» پوری متعلق وې،اودی صورت کښ تنوین په «بایمان» کښ دَپاره دَ تعظیم دې،اوایمان نه مراد آباؤو ایمان دې،مطلب به داسی شی چه دَ دوی دَ آباؤوعظیم اومضبوط ایمان په سبب به مونږ دوئ هم هغوئ سره ملحق کړو.«کشاف»

﴿وَمَآ أَلَتْنَاهُم مِّنْ عَمَلِهِم﴾ یعنی دَیوځائ کولودپاره به داسې نشی کولې چه اعلی نه ادنی جوړشی بلکه بمقتضٰی ئی فضل دَادنیٰ نه به اعلی جوړشی.

﴿كُلُّ ٱمْرِيٍٕ بِمَا كَسَبَ رَهِينٌ﴾ رهین بمعنی مرهونٌ دې مخکښ بیان دَفضل ووچه دَ اباؤو دَ نیک عمل په وجه دَ ذریت درجه هم اوچته کیږی پدیکښ بیان دَعدل دې چه هیڅ څوک به دَ بل په عمل کښ نه نیولې کیږی بلکه.هرسړې به په خپل عمل کښ ګانړه وی،ګویاچه عمل بمنزله دَ قرض دې او نفس دَ انسان بمنزله دَرهن دې.رهن ترهغه وخته پورې نه ورکولې کیږی تر څو چه قرض ادانه کړیشی،نوپه قیامت کښ که دَانسان عمل نیک اوصالح وی نودې به خلاص شی،اوکه عمل غیرصالح وی نوخلاصې به نوی کقوله تعالی: كلّ نفس بما كسبت رهينةٌ الاّ اصحاب اليمين«مدثر:۳۸، ۳۹»یعنی هرانسان پخپل عمل کښ ګانړه اوګرفتاردې عندالله، مګر اصحاب یمین چه دوئ په نیک عمل سره خپل ځانونه ازادکړیدی«روح المعانی»

وَاَمْدَدْنٰهُمْ بِفَاكِهَةٍ وَّلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٢٢﴾ يَتَنَازَعُوْنَ فِيْهَا

او زیاتوؤ به دوئ ته میوې او غوښې هغه چه دوئ ئې اشتهاکوی.تالانی به کوی په هغې جنتونوکښ

كَاْسًا لَّا لَغْوٌ فِيْهَا وَلَا تَاْثِيْمٌ ﴿٢٣﴾ وَيَطُوْفُ عَلَيْهِمْ غِلْمَانٌ لَّهُمْ

په پیالې دَ شرابو.چه نه به وی په هغی کښ لغوې وئیل اونه گناه اوگرځی به په دوئ باندې غلامان.خادمان دَدوئ

كَاَنَّهُمْ لُؤْلُؤٌ مَّكْنُوْنٌ ﴿٢٤﴾ وَاَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ يَّتَسَآءَلُوْنَ ﴿٢٥﴾

گویاکه هغوئ به ملغرې پټې ساتلې شوې وی.اومخ به کړی بعضِ دَدوئ نه بعض نوروته،دَیوبل نه به تپوس کوی.

قَالُوْٓا اِنَّا كُنَّا قَبْلُ فِيْٓ اَهْلِنَا مُشْفِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ فَمَنَّ اللّٰهُ

وائی به بیشکه وؤمونږمخکښ په دنیاکښ پخپل اهل کښ یریدونکی دَالله ﷻ نه.پس احسان اوکړو الله ﷻ

عَلَيْنَا وَوَقٰىنَا عَذَابَ السَّمُوْمِ ﴿٢٧﴾ اِنَّا كُنَّا مِنْ قَبْلُ نَدْعُوْهُ

په مونږ اووئ ساتلو دَعذاب گرمې هوانه.بیشکه وؤمونږمخکښ ددې نه چه عبادت موکولو دَالله ﷻ.

اِنَّهٗ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيْمُ ﴿٢٨﴾

بیشکه الله صرف هغه احسان کونکې مهربانه دې.

﴿وَأَمْدَدْنَٰهُم﴾ای وزدناهم، دا هم **انعام** دې چې کوم کوم نعمتونه ورله الله ﷻ ورکړي وي، نو دا نه ده چې بس په یو ځائ به اولاړ وي او یو متعین مقدار او یو خوند به ئي وي ، بلکه الله ﷻ به ورله وقتا فوقتا کم وکیف کښې اضافه کوي

﴿يَتَنَٰزَعُونَ فِيهَا﴾دا ئي **بل نعمت** تذکره ده ، چې شرابو دور به پکښې چلیږي او دابه بالکل صفا او پاکیزه شراب وي ، " تنازع " دوه معنې مفسرینو ذکر کړې دي: (۱) تعاطي ، یعني یو بل ورکول ، (۲) تجاذب ، تالانې یعنی دَخوشحالئ په وجه به دَیوبل نه اخلی اوتالانئ به کوی.﴿لَّا لَغْوٌ فِيهَا﴾ای فی شربها،یعنی دَدې شرابوڅکلوپه دوران کښ به دوئ

لغوَاوگډي وډي نه وائی لکه دَدنیاپه شرابوکښ دغه تاثیرډي ﴿وَلَا تَأْثِيمٌ﴾ اونه به ددې په څکلوسره دَځه ګناه ارتکاب کوی، یعنی داسې عمل چه په دنیاکښ ورته نسبت دګناه کیږی.

﴿وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ﴾ یعنی دَجنتیانو دَخدمت دپاره به داسې غلامان اوخدمتګاران وی چه په ښائست کښ، نظافت کښ اوپه ښائسته لباس کښ به داسې وی چه لکه ملغلرې، نه به ورته چالاس لګولې وی اونه پرې ګردوغبارلګیدلې وی.

﴿وَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾ دا د بل نعمت تذکره ده ، چې دوستان به را جمع کیږي او د تير ژوند (یعني د دنیا د ژوند) قصې او تذکرې به یو بل ته کوي. ﴿قَالُوا إِنَّا كُنَّا﴾ دا د هغوئ یوه تذکره به طور مثال پیش کیږي ، یعني په خپلو خبرو کښې به دا خبره هم کوي ، ﴿قَبْلُ﴾ یعنی مخکښ دَدې حال نه په دنیاکښ، ﴿فِي أَهْلِنَا مُشْفِقِينَ﴾ یعنی په دنیاکښ به دَعذاب اوعقاب دَالله تعالیٰ نه یریدلو ، ﴿عَذَابَ السَّمُومِ﴾ یعنی هغه عذاب چه په مساماتو دَبدن کښ ننوځی، چه هغه ګرمه هواده، دَجهنم، بعض وائی سموم دَجهنم دَنوموڼو نه یونوم دې ﴿إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ﴾ یعنی مونږبه په دنیاکښ صرف اوصرف دَالله تعالیٰ عبادت کولو ، یادَ دُعا نه دې، یعنی مونږبه په دنیاکښ هم دَدې عذاب نه دَبچ کیدودعاګانې دَالله تعالیٰ نه غوختلې، (اللّهم منّ علیناوقناعذاب السّموم انک انت البرّالرّحیم). ﴿إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ﴾ ای المحسن.

فَذَكِّرْ فَمَا أَنتَ بِنِعْمَتِ رَبِّكَ بِكَاهِنٍ وَلَا مَجْنُونٍ ﴿٢٩﴾ أَمْ يَقُولُونَ
پس نصیحت کوه ته پس نه ئی ته په سبب دَنعمت دَرب خپل سره کاهن اونه مجنون، خادوئ داوائی
شَاعِرٌ نَّتَرَبَّصُ بِهِ رَيْبَ الْمَنُونِ ﴿٣٠﴾ قُلْ تَرَبَّصُوا فَإِنِّي
چه دا پیغمبرشاعردې مونږ انتظار کوو په ده دَ حادثې دَ مرګ، ته ورته اووایه انتظارکوئ پس بیشکه ځه هم
مَعَكُم مِّنَ الْمُتَرَبِّصِينَ ﴿٣١﴾ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَامُهُم بِهَٰذَا أَمْ هُمْ قَوْمٌ
ستاسوسره دَ انتظار کونکو نه یمه آیا حکم کوی دوئ ته عقلونه دَ دوئ دَ دې خبرو بلکه دوئ قوم

طَاغُوْنَ ۞	اَمْ	يَقُوْلُوْنَ	تَقَوَّلَهٗ ۚ	بَلْ لَّا يُؤْمِنُوْنَ ۞	فَلْيَاْتُوْا

سرکش دي، خا،دوئ داوائي چه دځان ئي جوړکړيدې داقرآن بلکه ايمان نه راوړي دوئ،پس رادي وړي دوئ

بِحَدِيْثٍ	مِّثْلِهٖٓ	اِنْ	كَانُوْا	صٰدِقِيْنَ ۞

يوكلام	پشان	ددې	قرآن	کچرته	وی	دوئ	ريښتني

﴿فَذَكِّرْ﴾پدې آياتونوکښ د کفارو څو اعتراضات او د هغې جوابات نقل کيږي او نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکولې کيږي چې خپل وعظ ونصيحت جاري ساته ،ددوئ دبيکاره خبرو او بې بنياد اعتراضاتو په وجه دعوت او تبليغ مبارک کارمه پريږده،

﴿فَمَآ أَنتَ بِنِعْمَتِ﴾ديکښې د کفارو **دؤو اعتراضاتو ذکر او جواب** دې ، چې کفار کله تاته کاهن وائي او کله درته مجنون او ليونې ، خو نه ته کاهن ئي ځکه چې کهانت ځان له علم دې او دهغې خپل مقدمات وي او هغه دلته نشته ، او نه ته مجنون ئي ، ځکه چې هغه خو د عقل نعمت نه محرومه وي ، داسې پرحکمت کلام څنګه پيش کولې شي ، بلکه ته د خپل رب په نعمت سره متلبس ئي او د نبوت نعمت ئي درله درکړې دې او دهغه حقيقي صادق پيغمبر ئي،خو دوئ د ضد او حسد د وجهې نه دا اعتراضات کوي

﴿ أَمْ يَقُولُونَ ﴾دا د مشرکينو **دريم اعتراضات** ذکر دې ، چې کله دوئ په تا د شاعر ګمان کوي او شاعر دې بولي ، او په دې انتظار کښې دې چې څنګه نور شاعران مړه شول او پرستاران ئي ختم شول ، داسې به يو ورځ ته هم مړ شي او پرستاران به دې ختم شي ، نو دوئ به درنه خلاص شي ،"ام" پمعنی د"بل" سره دې ، او دوئ دا اعتراض علي سبيل الترقي ذکر کيږي ،چه خا، دوئ داخبره هم کوي چه داپيغمبر(نعوذبالله) شاعر دې.﴿ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ "ريب" "راب يريب" نه دې دَ شک معنی کښ استعماليږي، کمافي الحديث:ودع مايريبک إلى ما لايريبك ليکن دلته پمعنی دَ حادثې سره دې، ځکه چې د دې هم څه پته نه لګي، څه وخت هم راتلې شي. ((المنون))دَ مَنّ الشئ يمن نه دې، پمعنی دقطع سره،مراد ترينه مرګ دې،ځکه چې داهم انسان دنيا نه کټ کړې.او اضافت بيانيه دې ، يعني هغه حادثه چې مرګ دې ، او يا ((ريب)) په معني د حادثې سره او ((المنون)) په معني د دهر سره دې . يعني حوادث د زمانې

انتظار كوي ، چې هغه پرې راشي نو دې به هغې كښې مشغوله شي او دعوت كار به ورنه پاتې شي

﴿قُلْ تَرَبَّصُوا﴾ دا د كفارو د قولِ مذكور رد دې او تسلي ده نبي كريم ﷺ ته ،چې اوسئ په انتظار كښې ، مونږ هم انتظار كوو ، چرته به درله الله ﷻ دا خوب پوره نه كړي كما قال جل في علاه : « هو الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله ولو كره المشركون » او ډير زر دوئ خپل انجام په بدر كښې اوليدو .

﴿ أَمْ تَأْمُرُهُمْ أَحْلَٰمُهُم بِهَٰذَآ ﴾ ديكښې د دوئ بې وقوفي او د اعتراضاتو كمزوري طرف ته اشاره ده ، چې دا كوم عقل دې چې يو كس دې شاعر او كاهن هم وي چې دا انتهائي عقل مند كيدو باندې دلالت كوي او بل طرف ته ليوني هم وي چې دا ورنه د عقل د سلب تقاضه كوي !! كوم عقل تاسو ته دا خبره خودلې ده ،«هذا» كښې مذكور متضاد اقوالو ته اشاره ده.

﴿ أَمْ هُمْ قَوْمٌ طَاغُونَ ﴾اضراب ابطالي دې ، يعني دا دعقل تعليم نه دې بلكه دا د دوئ سركشي ده

﴿أَمْ يَقُولُونَ تَقَوَّلَهُ﴾دا د مشركينو خلورم اعتراض نقل كيږي چې دا قرآن د الله ﷻ كلام نه دې بلكه دې پيغمبر دَ خپل ځان جوړكړيدې ﴿بَل لَّا يُؤْمِنُونَ﴾ بل د پاره د اضراب ابطالي دې ، يعني پيغمبر د ځان نه ، نه دې جوړ كړې خو دوئ پرې د ضد او عناد د وجهې نه ايمان نه راوړي ﴿فَلْيَأْتُوا بِحَدِيثٍ﴾دادَ دوئ اعتراض جواب دې چې كچرې دا كلام دې پيغمبر د ځان نه جوړكړې دې نو تاسو خو هم عرب يئ، تاسو هم دَخپل ځان نه داسې كلام راوړئ،كه تاسو داسې كلام نشئ پيش كولې نوظاهره ده چه دا كلام دَ الله ﷻ دَ طرفه دې.

أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ الْخَالِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُوا السَّمَاوَاتِ
آيادوئ پيداكړى شويدى بى دَڅه څيزنه اوكه دوئ پخپله پيداكونكى دى آيادوئ پيداكړيدى اسمانونه
وَالْأَرْضَ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ
اوزمكه، بلكه دوئ نه كوى يقين آيادوئ سره دى خزانې دَرب ستايادوئ

الْمُصَيْطِرُوْنَ ۝٣٧ اَمْ لَهُمْ سُلَّمٌ يَّسْتَمِعُوْنَ فِيْهِ ۚ فَلْيَاْتِ
واكداره دی، آیاشته دي دوئ لره اندرپایه چه آوری (خبرې دملائکو) په هغې باندی.پس را دې وړی
مُسْتَمِعُهُمْ بِسُلْطٰنٍ مُّبِيْنٍ ۝٣٨
آوریدونکې ددوئ یو دلیل ښکاره.

﴿أَمْ خُلِقُوا مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ﴾ **دا زجر دې** مشرکینو ته په ایمان نه راوړلو باندې . چې دا مشرکین په الله تعالی باندې ایمان ولې نه راوړی؟ آیادوئ دا وائي چې د دوئ څوک خالق نشته یا دوئ خپله د خپل ځان تخلیق کړې دي،لهذا دوئ باندی دَ چا اطاعت او بندګی لازمه نه ده﴿مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ﴾معنی یا "من غیر خالق" ده یعنی دوئ خپل پخپله پیداشویدی هیڅ څوک خالق ئې نشته،او یا ئې معنی عبث او بې مقصد ده کقوله تعالی: "افحسبتم انماخلقنکم عبثا" آیت کښ استفهام انکاري دی یعنی نه داسی نشی کیدلې چې دوئ دپاره څوک خالق نه وی،ځکه چې دابالکل بدیه البطلان خبره ده چې دومره منظم او متقن وجودبغیر دَ خالقه خپل پخپله پیداشي،اونه دوئ خپل تخلیق کونکی دی،ځکه چه شې واحد په جهت واحده سره علت اومعلول نشي کیدې.

﴿أَمْ خَلَقُوا السَّمٰوٰتِ﴾**دابل زجر دې** چې آیاآسمانونه اوځمکې دوئ پیداکړې دی،چې دوئ ځان د کائنات حکمرانان اومالکان ګڼړي اوالله تعالی ته سرټیتی نه کوی!؟ ﴿بَل لَّا يُوقِنُونَ﴾ "بل" دلته هم د اضراب ابطالي د پاره دې ، یعني هر ګز دوئ نه دي پیدا کړي، دا خو د دوئ خپل اقرار دې چې ځمکو او آسمانونو خالق ومالک الله دې کما في قوله جل في علاه: ولئن سالتهم من خلق السموات و الارض و سخر الشمس والقمر ليقولن الله (العنکبوت: ٦١) بلکه اصل مسئله دا ده چې دلائل ټول موجود دي خو دوئ یقین نه کوي.

﴿ أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ ﴾**دابل زجر دې**،یعنې آیادوئ دَ الله تعالی خزانومالکان دی ،چې چاته ئې خوښه شی نبوت رزق وغیره ورته ورکړي او چاته یې چه خوښه شې ترینه یې منع کړې، نو ځکه دوئ ایمان نه رواړې،استفهام دَانکار دَپاره دې ﴿أَمْ هُمُ الْمُصَيْطِرُونَ ﴾دلته هم

استفهام دَ انکار د پاره دي، يعنی دَ خزانو مالکان خو خود نه دی بلکه دَ خزانو واکدِاره او چوکيداران هم نه دی.

﴿أَمۡ لَهُمۡ سُلَّمٞ﴾ پدیکښی هم زجودي مشرکینو دَمګی ته په انکار دَ رسالت باندي چه آیا دوئ، دَ حضور ﷺ دَرسالت نه انکارېدي وجه کوی چه دوئ دادعوه کوی چه دوئ په پوړو (اندرپایه) اسمان ته ختلی دی اوکلام دَالله ﷻ اودَفرشتوئی اوریدلي دي چه (نعوذ بالله) دا پیغمبر په حقه نه دي، استفهام انکاری دي، یعنی دَدوئ داطاقت نشته دي، ﴿يَسۡتَمِعُونَ﴾ مفعول محذوف دي چهٔ کلام الله دي، ﴿فِيهِ﴾ پمعنی دَ علیه دي،

﴿فَلۡيَأۡتِ مُسۡتَمِعُهُم﴾ کچرې دوئ پخپله دعوه کښی رښتنی وی نودعوه کونکې دي واضح دلیل پیش کړی، لکه څرنګه چه حضور ﷺ ئی په دلیل سره بیانوی

اَمۡ لَهُ الۡبَنٰتُ وَلَكُمُ الۡبَنُوۡنَ ۞ اَمۡ تَسۡـَٔلُهُمۡ اَجۡرًا فَهُمۡ
آیاالله ﷻ لره لونړه دی اوتاسولره خامن آیاته غواړې دَدوئ نه څه مزدوری چی دوئ
مِّنۡ مَّغۡرَمٍ مُّثۡقَلُوۡنَ ۞ اَمۡ عِنۡدَهُمُ الۡغَيۡبُ فَهُمۡ يَكۡتُبُوۡنَ ۞
دَتاوان نه درانه کړی شویدی آیادوئ سره شته دي علم دَغیب چه دوئ لیکل کوی (دَهغې نه).
اَمۡ يُرِيۡدُوۡنَ كَيۡدًا ؕ فَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا هُمُ الۡمَكِيۡدُوۡنَ ۞
آیااراده لری دوئ دَڅه پټ تدبیر ، پس هغه کسان چه کافران دی هم دوئ باندي به ئي تدبیرونه الټه کیږي .
اَمۡ لَهُمۡ اِلٰهٌ غَيۡرُ اللّٰهِ ؕ سُبۡحٰنَ اللّٰهِ عَمَّا يُشۡرِكُوۡنَ ۞
آیاشته دي دوئ لپاره اِله ماسویٰ دَالله ﷻ نه پاک دي الله دَهغه نه چه دوئ ورسره شریکه وی.
وَ اِنۡ يَّرَوۡا كِسۡفًا مِّنَ السَّمَآءِ سَاقِطًا يَّقُوۡلُوۡا سَحَابٌ مَّرۡكُوۡمٌ ۞
او که اووینی دوئ یو ټوټه دَ عذاب دَ اسمان نه راغورزیدونکی نو او به وائی داوریځ ده لاندې باندې،

﴿أَمْ لَهُ ٱلْبَنَٰتُ وَلَكُمُ ٱلْبَنُونَ ﴾پدیکښ دَمشرکانودَحماقت اوبې عقلئ بیان دې،او دائې **اول حماقت** بیان دې ،چه کوم شې ځان دَپاره نه خوخې الله تعالی دَپاره دَهغې اثبات کوي،نوادکوم منطق اوکوم انصاف دې؟ او مخکښني آیت «ام لهم سلم يستمعون فيه » نه ورستو راوړلو کښې اشاره ده دیته چه دَ کوموخلقودغه خیال اورائ وی نو د هغوئ عالم ملکوت ته ختل او کلام دَ الله اوریدل خودرکناربلکه داسې خلقوته څوک عقل مندهم نه وائی(ذکره صاحب الروح).

﴿ أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا ﴾ دا ئې دَ **دویم حماقت** بیان دې،چې دوئ چې ستا د رسالت نه انکار کوی نوآیاپه دې وجه چه ته دَ دوئ نه په تبلیغ او وعظ باندې څه مزدوری ، معاوضه غواړې چه دوئ نشی درکولې!؟ داسې نه ده بلکه پیغمبر خو اجر دَ الله ﷻ نه غواړی، خلقونه ئې نه غواړی نو بیا دَ دوئ څه نقصان کیږی چه الله باندې ایمان راوړی.

﴿أَمْ عِندَهُمُ ٱلْغَيْبُ ﴾ ای علم الغیب،**دریم حماقت** بیان دې،چی آیادوئ سره دَ غیب علم دې ، چی دوئ لیکي او هغې په بنیاد توحید او نبوت دومره یقین اوکلکه سره رد کوی ظاهره خبره ده چه هیڅ ورسره نشته نوبیاداحماقت نه سوا نورڅه دی!؟ حضرت قتادهؓ وغیره فرمائی چه دا دَ ﴿نَّتَرَبَّصُ بِهِۦ رَيْبَ ٱلْمَنُونِ ﴾ جواب دې،چه دوئ چه دغه خبره کوی او دَ حضور ﷺ دَمرګ انتظارکوی نوآیادوئ سره دَغیب علم دې،چه نبی کریمﷺ به مخکښ وفات کیږی او مونږ به ورستو،ابن عباسؓ فرمائی چه دَ﴿ٱلْغَيْبُ﴾نه مرادلوح محفوظ دې او﴿فَهُمْ يَكْتُبُونَ ﴾ یعنی دوئ دَ هغې نه لیکل کوی او خلقو ته ئې خبر ورکوی.بعضُ دَ﴿ يَكْتُبُونَ ﴾ معنی "یحکمون" کړي ده.

﴿ أَمْ يُرِيدُونَ كَيْدًا﴾دا ئې **څلورم حماقت** بیان دې چې آیا دوئ دا خیال دې چه مونږ به خپلو منازشونو او منصوبو کښ کامیاب شو ،اونبی کریم صلی الله علیه وسلم او دَ هغه دین به ختم کړو ، *ایں خیال است، جنون است، محال است*،بلکه دوئ تدبیرونه به په دوئ الټا کیږی،اوهم دوئ به هلاک کیږی. ﴿فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ یعنی دوئ ته به دَ خپلو تدبیرونو بدله ملاویږی.لکه یو څو کاله ورستو په بدر کښ ورنه واخستې شوه.

﴿ أَمْ لَهُمْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللَّهِ ﴾ دا ئي **پنځم حماقت** بيان دې، چې آيا دوئ دپاره الله تعالى نه ماسوا بل څوک اله او کارساز شته، چې دوئ دومره په جرأت سره دخدائ احکاماتو نه بغاوت کوي؟ او بيا ئي دا اله د الله تعالى په مقابله کښې مدد اوکړي اوعذاب نه ئي بچ کړي «سبحان الله عمايصفون» دا هم نشته نو بيا دا څومره لويه بې وقوفي اوحماقت دې.

﴿وَإِن يَرَوْا كِسْفًا ﴾دا يې **شپږم حماقت** بيان دې، کچرته په دوئ باندې دَ اسمان نه عذاب راروان وي نودوئ حماقت او ضد و عناد دې انتهاء ته رسيدلې دې چې دوئ به بياهم ايمان نه راوړي او هغې ته به وريځ وائي.

دا آياتونه دَ کافرانو دَ يو سوال په جواب کښې نازل دي . کافرانو به نبي کريمﷺ ته وئيل چه: او تُسقط السّماء کما زعمتَ علينا کسفًا(اسراء: ۹۲) يعنى که ته پخپله دعوه کښې صادق ئې نو په مونږ باندې دې دَ اسمان نه ټکړه دَعذاب نازله کړيشې، نو دَ دې په جواب کښې الله ﷻ فرمائي چه کچرته دوئ ټکړه دَعذاب اوهم وينې خو بيا به هم دَ ضد او عناد په وجه ايمان رانه وړي بلکه وائی به﴿سَحَابٌ مَّرْكُومٌ ﴾داوريځ ده چه دَ يو بل دَپاسه جمع کړې شوې ده عذاب نه دې، نو دَ داسې متعصبونه دَايمان راوړوتوقع نشته دې

فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا يَوْمَهُمُ الَّذِي فِيهِ يُصْعَقُونَ ۝٤٥
پس پريږده دوئ تردې چه ملاقات وکړي دورځې خپلې سره هغه چه په هغې کښې به بې هوشه کړې شي دوئ.
يَوْمَ لَا يُغْنِي عَنْهُمْ كَيْدُهُمْ شَيْئًا وَلَا هُمْ يُنصَرُونَ ۝٤٦ وَإِنَّ
هغه ورځ چه دفعه به نکړي ددوئ نه چلونه ددوئ هيڅ څيزاونه به دوئ سره مدداوکړيشي.اوبيشکه
لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٤٧
لپاره دهغه خلقوچه ظلم،شرک،ئې کړيدې عذاب دې مخکښې ددينه ليکن زيات ددوئ نه نه پوهيږي.

﴿فَذَرْهُمْ حَتَّىٰ يُلَاقُوا ﴾دا **تخويف اخروي** دې چې دوئ پريږده چه يوڅوورځې لوبې مشغولتيا ګانې اوکړي ،آخر به دَ داسې ورځ سره ملاقات اوکړي چه دَالله ﷻ دَ قهر تندر به

پرې را اوغورځيږي اوهوش اوحواس به ئې ختم شي. دَ يومهم نه مراد دَ مفسرينو په نزد
اولي والا ورځ ده چه دَ اسرافيل علیه‌السلام په شپيلئ سره به هر څه بې هوشه شي، كقوله تعالىٰ
في الصّور فصعق من في السموات والارض... بعض وائي مراد ورنه ورځ دَقيامت ده، ﴿يَوْمَ لَا يُغْنِي
﴾ بدل دي دَ ﴿ يَوْمَهُم ﴾ نه.

﴿وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا ﴾تخويف دنيوى دې﴿عَذَابًا دُونَ ذَٰلِكَ﴾ مشار اليه يوم دي. دون
پمعنى دَ قبلُ سره دې،اومراد ددې عذاب نه ياپه دنياكښ عذاب ملاويدل دى،يعنى
اخروى عذاب نه مخكښ دوئ ته په دنياكښ هم عذاب ملاويدونكې دې،لكه اوه (۷) كاله
قحط، جوع، قتل په بدركښ وغيره،بعض وائى مرادورنه دَقبرعذاب دې،اولى داده چه
دې دنياعذاب اودَقبرعذاب دواړه ورنه مرادكيديشى.

﴿وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ يعني دا جاهلان په دې نه پوهيږى چه دا دَ دُنيا عذاب
رجوع الى الله د پاره دې،كقوله تعالى:ولنذيقنّهم من العذاب الادنٰى دون العذاب الاكبرلعلهم
يرجعون(السجده:۲۱)په حديث كښ دى چه مؤمن بنده چه كله ناجوړه شي بيائى الله تعالىٰ جوړ
كړى نو دا دَ ده دَ تيرشوى گناهونو كفاره اوگرځي او دَ ائنده د پاره ورته نصيحت اوعبرت
اوگرځى او منافق چه ناجوړه شي بيا جوړ شى دَ ده مثال دَ اوښ دې چه مالک تړلې وى بيائې
كولاؤ كړى نودې نه پوهيږى چه دَځه پاره ئې تړلې وم او دَ څه دپاره ئې پرانستلم (رواه
ابوداؤد ،كتاب الجنائز).

وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا وَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
اوصبركوه ته اې پيغمبره! حكم دَرب خپل ته پس بيشكه ته زمونږپه حفاظت كښ ئې اوپاكي بيانوه سره دَحمد دَرب خپل
حِينَ تَقُومُ ﴿٤٨﴾ وَمِنَ اللَّيْلِ فَسَبِّحْهُ وَإِدْبَارَ النُّجُومِ ﴿٤٩﴾
په هغه وخت كښ چه پورته كيږې.اوپه څه حصې دَشپې كښ پس پاكي بيانوه دَالله جل جلاله.او په وخت د واپس تللو د ستورو

﴿وَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ ﴾دا تسلى ده حضورپاک صلى الله عليه وسلم ته،لام په ((لحكم ربک)) كښې يا په معنى د
((الى)) دې ، نو مطلب دا دې چې ته د الله تعالىٰ په دوئ د عذاب راتلو حكم ته انتظار كوه ، كما في قوله

جل في علاه : و اصبر حتى يحكم الله ، او يا په معنى د «على» سره دي . يعني ته د الله جل جلاله په حكم صبر كوه ، چې هغه د عفو او درگذر او انتقام نه اغستو حكم وو . كما في قوله جل في علاه : واصبر على ما يقولون و اهجرهم هجراً جميلاً ، او يا "لام" د پاره د تعليل دي . چې چونكه تا سره د الله ﷻ احكاماتو رسولو ذمه داري ده نو ته صبر كوه او تكليفونه برداشت كوه ، چرته بې صبرئ او دلبرداشته كيدو د وجهې ديكښې خلل رانشي (التحرير والتنوير)

﴿فَإِنَّكَ بِأَعْيُنِنَا﴾دَعين نه مراد معنى مجازى ده، يعنى ته زمونږ په حفاظت او نگرانئ كښ ئى، مونږ تا هم وينو او ستا دشمن هم وينو

« وسبح بحمد ربک » او د خپل رب ذكر تسبيح او حمد مستقل كوه ، ځكه چې دا د صبر د پاره ډير مفيد دي ، ﴿حِينَ تَقُومُ﴾ په وخت دَ اودريدلو كښ، وخت دقيام عام دي ،(١) كه مجلس نه پاسيدل وي لكه په حديث كښ دى چه كله به حضورﷺ دَ مجلس نه پاسيدلو نو دا دعا به ئي وئيله،سبحانک اللّهم وبحمدک اشهدان لاَ اله الاَ انتَ استغفرک واتوبُ اليکَ.چا ورنه د دې باره كښ تپوس اوكړو نو اوئي فرمائيل : دا كفاره ده دَ هغه چه په مجلس كښ شوې وى . (٢)او كه مانځه د پاره پاسيدل وي لكه دَ مانځه په ابتداء كښ،سبحانک اللّهم وبحمدک وتبارک اسمکَ...وئيلې كيږى،(٣) او كه خوب نه پاسيدل وي لكه حديث كښې راځي: من تعار من الليل فقال: لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الملك وله الحمد، وهو على كل شيء قدير. سبحان الله، والحمد لله، ولا إله إلا الله، والله أكبر، ولا حول ولا قوة إلا بالله، ثم قال: رب اغفر لي - أو قال: ثم دعا- استجيب له، فإن عزم فتوضأ، ثم صلى تقبلت صلاته . (مسند احمد)

﴿وَمِنَ ٱلَّيۡلِ فَسَبِّحۡهُ﴾مراد د دې نه يا تهجد مونځ دې ، يا ورنه مابنام، ماسخوتن مونځونه مراد دى.

﴿وَإِدۡبَٰرَ ٱلنُّجُومِ﴾مراد د دينه دَ سهار وخت دې چه په دغه وخت كښ ستورى پټيږى، مراد ورنه دوه ركعته سنت دى دَ سهار مونځ نه مخكښ،په سننُ كښ به حضورﷺ دَدې سنتونو ډير اهتمام كولو. په يوحديث كښ دى "ركعتا الفجرِ خيرٌ من الدّنيا و ما فيها" يا ورنه دوه ركعته فرض دَ سهار مراد دى ، والله اعلم.

ركوعاتها (۳)	سورة النّجم مكية	آياتها (۶۲)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكې دې شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۳) وحسب النزول (۲۳)

نزلت بعد الاخلاص و قبل العبس

بخاري، مسلم وغيرهماكښې دَابن مسعود رضي الله عنه نه نقل دی چه دَټولونه اول نازل شوې سورة چه پکښې سجده ده، سورة النجم دې، حضور ﷺ دَدې تلاوت دَعاموخلقوپه مجمع كښې اوكړو نوټولوخلقوسجده اوكړه مګريوسړی اونكړه هغه پخپل موټي كښې خاوره راوغسته په هغې ئې سجده اوكړه وئې وئيل داكافي ده، ماهغه سړې دكفرپه حالت كښې قتل كړې شوې اوليدلو او هغه اميه بن خلف وؤ، په بعض رواياتوكښې دَ زيدبن ثابت رضي الله عنه نه نقل دی چه ماداسورة دَ حضور ﷺ په مخكښې تلاوت كړونوحضور ﷺ سجده اونه كړه، پدې وجه امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله په نزدسجده واجبه نه ده، ليكن دَ اول روايت په لحاظ سره دَاحناف په نزدسجده واجبه ده.

ربط : كومه مسئله دَقيامت چه دَسورة قٓ نه شروع شويده نوهغه پكښې دَماقبل نه على سبيل الترقى ذكركيږي، ماقبل سورة طوركښې ذكروؤچه ﴿إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ لَوَاقِعٌ ۝ مَّا لَهُۥ مِن دَافِعٍ﴾ پدې سورة كښې دادی چې كله دغه عذاب راشي نوتاسو خو به ئې خود نشئ دفع كولې چې ستاسو شفعاء هم بيا ستاسو شفارش نشي كولې، يعنى بنيادی دعوه دَ سورت نفی شفاعت قهری ده ﴿وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغْنِى شَفَٰعَتُهُمْ شَيْـًٔا﴾.

دسورة دَمضامينواجمالي خلاصه

په اول كښې دعوې دَسورة ته تمهيد دې، بيادَسورة دوه (۲) دعوې دی: **اوله دعوه** ﴿أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ﴾ چه لات اوعزاة وَغيره پخپل حاجاتوكښې مه رابلئ، دوئ شفيع قهری مه ګنړئ.

دويمه دعوه ﴿أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ﴾ فرشتې شفيع قهری، شفيع بلااذنه مه ګنړئ، بيا اعاده دَ دواړو دعوؤ، بيا په دواړودليل عقلی، نقلی پيش کيږی، په آخرکښ خلاصه دَسورة ده.

تفصيلی خلاصه:

آيت نمبر1تا 18 صداقت رسول بيان دي

آيت 20،19 کښ اولی دعوی ذکر دي

آيت نمبر22،21کښ دويمی دعوی ذکر دي

آيت نمبر 23-25 کښ اولی دعوی اعاده ده

آيت 26-28 پوری دويمی دعوی اعاده ده

آيت نمبر 30،29 کښ تسلی ده

آيت 32،31 بنيادی دعوی اثبات، چی اختيار اوتصرف کامل صرف الله ﷻ سره دی، بل څوک بخښنی والانشته.

آيت نمبر32-35، پوری زجر دي يو مشرک ته،

آيت نمبر36-54 پورې دليل نقلي دې چې هغې کښې مختلف مضامين بيان دي.

آيت نمبر 55 تفريع ده ماقبل باندی،

آيت نمبر56 صداقت رسول بيان دي.

آيت نمبر 58،57 تخويف اخروی دي.

آيت 59-61 زجر دي.

آيت نمبر 62 خلاصه دَسورت ده

تمت خلاصة السورة مختصراًوتفصيلاً.

وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَىٰ ۝١ مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ ۝٢ وَمَا يَنطِقُ		
قسم دي په ستوری کله چه ډوب شی، چه ندي ګمراه شوي ملګرې ستاسو او نه دي بی لارې، اوخبرې نه کوی دي		
عَنِ الْهَوَىٰ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُ شَدِيدُ		
دَ خواهش خپل نه . نه دي دا قرآن مګر وحی ده چه ده ته وحی کيږي . ښودنه کړيده ده ته سخت		

الْقُوٰى ۙ﴿۵﴾ ذُوْ مِرَّةٍ ؕ فَاسْتَوٰى ۙ﴿۶﴾ وَهُوَ بِالْاُفُقِ الْاَعْلٰى ؕ﴿۷﴾ ثُمَّ دَنَا
قوة والا ، عقل والا، بیا په اصل صورت کښې ظاهر شو او دې په کنارو اوچتو دَ اسمان وؤ ، بیا رانزدې شو
فَتَدَلّٰى ۙ﴿۸﴾ فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ اَوْ اَدْنٰى ۚ﴿۹﴾ فَاَوْحٰى اِلٰى عَبْدِهٖ
پس ښه نزدې شو، پس شولو په اندازې دَ دوؤلیندو یا دَ دینه هم نزدې. پس وحی اوکړه الله جل جلاله خپل بنده ته
مَآ اَوْحٰى ؕ﴿۱۰﴾ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا رَاٰى ﴿۱۱﴾
هغه چه وحی ئې اوکړه. نه وؤ کړې انکار زړه دَحضور ﷺ دهغې نه چې ئې ولیدل

﴿وَالنَّجْمِ اِذَا هَوٰى ﴾پدې آیاتونو کښې تمهیددې چه پکښې دَنبی کریم ﷺ دَصداقت اثبات دې﴿وَالنَّجْمِ﴾ اسم جمع ده تول ستوری ورنه مراددی،واؤقسمیه دې اودا قسم دې اوقسم برائ استشهاد دې،یعنی په کوم څیزچه قسم کړې شویدې هغه شاهد اونمونه ګرځولې شویده په جواب قسم﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ﴾داجواب قسم دې، **مناسبت په مینځ دَمقسم به اوجواب قسم** کښې دا دې چې لکه څنګه چه داستورې طلوع کیږي اوسهارته قریب غروب کوی نو یو خودې دا تول مسافت سیدها قطع کوی، ویخته برابر هم یو خوا بل خوا نه ځی،اوبل داچه کله غروب ته قریب وی نوپه ادنی نظرسره معلومیږی چه داستورې سیدها را روان دې،دغه شان رسالت اوصداقت دَنبی کریم ﷺ هم حق دې اوپه ادنی نظرسره ئې صداقت معلومیږی،اولکه څرنګه چه ستوروسره رهنمائی حاصلیږی دَلارې نه ورک شوؤ ته، نو دغه شان حضور ﷺ هم منبع دَ هدایت اورهنمائی دې.

(۲)دَوالدمحترم رحمه الله استاذالاستاذ(یعنی مارتونګ باباجی رحمه الله استاذ)حضرت مولانا عبدالرحمن امروهی رحمه الله په حاشیه دَبیضاوی کښې فرمائی چه دَ﴿وَالنَّجْمِ﴾ نه مراد شُهب دی چه شیطانان پرې ویشتلې کیږی،مطلب دادې چه دا شُهب په دې دلیل دې چه ستاسو پیغمبر په حقه دې،څکه دا شُهب دَدې وجه نه دی چه اخری پیغمبر ﷺ دنیاته تشریف راوړې دې،په سورۃ جن کښې دَدې ذکردې،اوځه لږذکرئې په تفسیردَسورۃ احقاف کښې هم شویدې.

(۳) بعضِ وائی چه دَ ﴿وَالنَّجْمِ﴾ نه مرادباقی انبیاء دی، اومثال دَحضور ﷺ پُرنو ﷺ په شان دَ نور دې،

فانه شمسُ فضلٍ هم كواكبُها يظهرن انوارُهاللنّاس في الظلم

شاعرسرحد مولاناعبدالله نوښار په يوشعركښې وائی:

دی واړه خوبان ستوری اشنالکه دَنوَردې ښکارې کله ستوری دانوَرچه چرته وی

نونبی کریم ﷺ نوَردې اوباقی انبیاء علیهم السلام ستوری دی، ستوری چه پټ شی نونوَر ښکاره کیږی، نوچه باقی انبیاء وفات شول نواخری پیغمبر ﷺ دَنورپشان ښکاره شو، دَ ﴿إِذَا هَوَىٰ﴾ معنی دَدې قول په بناوفات کیدل اودنیانه تلل دی، یعنی دَانبیاؤراتلل اووفات کیدل په دې دلیل دې چه ﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ﴾

(۴) بعضِ وائی دَ «النجم» نه مرادقرآن دې، ځکه قرآن هم نجمًانجمًانازل شویدې، یعنی دا قرآن پدې گواه دې چه ﴿مَا ضَلَّ صَاحِبُكُمْ وَمَا غَوَىٰ﴾ اودَ ﴿إِذَا هَوَىٰ﴾ معنی دَدې قول په بناء نازلیدل دی دآسمان نه.

﴿مَا ضَلَّ﴾ ضلالت په جهالت اولاعلمئ سره دَحق لارې نه انحراف ته وائی ﴿وَمَا غَوَىٰ﴾ غوایت هغه انحراف چه قصداًاختیارکړیشی، بعض وائی دَضلالت تعلق دَقول سره دې، او دَ غوایت تعلق دَفعل سره دې، یعنی حضور ﷺ په اقوالوافعالودواړوکښ په حقه دې اود هغه هر حالت فعل اوقول ئې حجت او حق دې ، كما جاء في الرواية : اني انسّى لاسنّ (موطأ امام مالک).

﴿إِنْ هُوَ﴾ "ان" نافيه دې، "هو" نه مراد خبرې اوكلام دَنبی ﷺ دې كه وحی لفظی وی چه قرآن دې اوكه معنوی وی چه حديث دې، يعنی داپيغمبر ﷺ قرآن اوحديث دَخپل ځان دَطرفه نه بيانه وی بلكه دَالله ﷻ طرف نه ورته نه وحی كيږی، بعضوپدې آيت كريمه سره دليل نيولې دې په دې چه حضور ﷺ لره اجتهادكول منع وؤ، ځكه چه اجتهاد وحی نه وی، ليكن حقه داده چه نبی كريم ﷺ لره اجتهادكول منع نه وؤ، اجتهاددَهغه هم منسوب كيږی وحی ته، نودَدې آيت سره ئې مخالفت نشته دې.

﴿عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ﴾ ضمير منصوب په "علّمه" كښې حضور ﷺ ته راجع دې﴿ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ﴾ نه مراد حضرت جبرئيل عليه السلام دې كماقال تعالى: انه لقول رسولٍ كريم ذى قوة... (التكوير: ۱۹. ۲۰) يعنى حضور ﷺ ته دا قرآن قوة والا فرشتې ورښودلې دې، اوقوة ئې دومره دې چه دَلوط عليه السلام اووه (۷) بستيانې ئې په يو وزر كښې تر اسمانه پورې اوچتې كړې اوبيائې پرمخې رااوغورځولې، قوم ثمودئې په يوې چغې سره تول مړه كړل.

﴿ذُو مِرَّةٍ﴾ داثى بل صفت دې، يعنى دَمستحكم عقل والافرشته ده، بعضودَ﴿مِرَّةٍ﴾ معنى په "حسن" سره كړيده يعنى حسن والافرشته ده.

﴿فَٱسْتَوَىٰ﴾ "فاء" د پاره دتفصيل ده، او د ((عَلَّمَهُۥ)) تفصيل بيانه وي، (التحرير والتنوير) يعنى تعليم ئې داسې وركړو چې جبرئيل عليه السلام په افق باندې پخپل اصلى صورة كښې ښكاره شو او حضور ﷺ اوليدلو، بيا لاندې زمكې ته راكوز شو، نبي كريم ﷺ ته خه نيزدې شو او الله ﷻ د احكاماتو وحي ئي ورته اوكړه.

﴿وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ يعنى دې په كناروا وچتو دَاسمان باندې وؤ، دَدې نظارې تفصيلات ځنې مفسرينو داسې ذكر كړې دې چې جبرئيل عليه السلام به انسانى شكل كښې راتللو او وحى به ئى حضور ﷺ ته راوړله، يو ځل ورته حضور ﷺ فرمائش اوكړوچه ماته خپل اصلى شكل اوښايه، جبرئيل عليه السلام ورسره وعده اوكړه، نوحضور ﷺ يوځل دَ حراء غر باندې وؤ چه جبرئيل عليه السلام مشرقى افق كښې ښكاره شوشپږ سوه وزرې ئى وې، اوكنارې دَاسمان ئى تولې پټې كړې وې، او دا مراددې دَقول دَالله ﷻ چه ﴿فَٱسْتَوَىٰ ۞ وَهُوَ بِٱلْأُفُقِ ٱلْأَعْلَىٰ﴾ حضور ﷺ په دې نظارې سره بې هوشه شولو، نوبياجبرئيل عليه السلام د انسانانو په شكل كښې راكوز شو او نبي كريم ﷺ ئي ځان ته رانيزدې كړونو نبي ﷺ په هوش كښې راغې... او دا مراد دې الله ﷻ د دې قول نه ((ثم دنا فتدلى)) (قرطبي ، بغوي)

دا روايت اګرچې بعض مفسرينو ذكر كړې دې خو د حديث او تفسير معتبر كتابونو كښې په دې الفاظو او دې سياق سره د دې ذكر نشته دې ، البته معتبر رواياتو كښې دومره راغلي دي چې نبي ﷺ جبرئيل عليه السلام د اسمان نه راكوزيدو په حالت كښې خپل اصلي

شکل کښې اوليدلو ، د ده شپږ سوه وزرې وې ، او افق ئې ټول په خپل وجود سره پټ کړې وو.

﴿ثُمَّ دَنَا﴾ضمير مرفوع په کښې جبرئيل عليه السلام ته راجع دې، "دنو" نيزديکت ته وائي او "تدلي" آويزان کيدو او بره نه لاندې راکوزيدو ته وائي ، طبعي ترتيب دا دې چې اول آويزان کيدل وي او بياسرې نيزدې کيږي او دلته اول د نيزديکت او بيا د آويزان کيدو ذکر دې نو دې وجهې نه مفسرينو د دې متعدد توجيهات کړي دي:

(۱) بعض مفسرينو د نيزديکت او "دنو" نه مراد اراده د دنو اغستې ده ، يعني نبي کريم ﷺ ته ئې د نيزدې کيدلو اراده اوکړه نو آسمان نه لاندې راکوز شو .(ابو السعود)

(۲) ځنې مفسرين فرمائي چې دلته قلب دې ،تقدير د آيت داسې دې : ((ثم تدلى فدنا))

(۳) او ځنې مفسرين فرمائي چې "فاء" دلته پمعنې د "واؤ" سره ده چې مطلق جمع دپاره راځي او ترتيب باندې دلالت نه کوي ، خو دا تقديم او تاخير صرف په هغه صورت کښې جائز دې چې کله معطوف او معطوف عليه کښې ترادف يا تلازم وي ، لکه دنا فقرب او قرب فدنا دواړه وئيل جائزدي او شتمني فاساء الي وئيل هم جائز دي او أساء الي فشتمني وئيل هم جائز دي،او دلته هم چونکه د نيزديکت نه لاندې راکوزيدل او لاندې راکوزيدو نه نيزديکت لازميږي نو ځکه د دې ترتيب رعايت اونشو، (معانې القرآن للفراء ،اللباب)

﴿فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ﴾مقصوددلته دَجبرئيل عليه السلام او دَ حضور ﷺ په مينځ کښ دَغايت قرب او اتصال بيان دې،دَ ﴿قَابَ قَوْسَيْنِ﴾په تفسيرکښ مختلف اقوال دی:

(۱) بې تکلفه قول دا دې چې "قاب" مطلق مقدار په معنې کښې دې لکه په حديث کښ دی وَلَقَابُ قَوْسِ اَحَدِكُمْ فِي الْجَنَّةِ خَيْرٌ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ أَوْ تَغْرُبُ (بخاری)او قوس کمان ته وئيلې کيږي خو دلته د پاره دَمسافت دې، لکه چې رمح نيزې ته او قدم خپې ته وائي خو کله د مسافت د پاره هم استعماليږي، يعني دوئ مابين کښې فاصله په مقدار د دوه کمانونو وه.

(۲)بعضِ حضرات وائی چې دلته د "قاب " نه مراد هغه فاصله ده چې د کمان دستې (موټې) او د کمان "سيت "(د کمان بره او کوزه کناره چې راګګه کړې شوې وي) په مابين کښې وي، نو دې اعتبار سره هر کمان لره دوه "قابه" وي، يو هغه فاصله چې (بره کنارې د دستې

سره وي او بله هغه فاصله چې د کمان لاندې کنارې دَ دستې سره وي، دې تقدير باندې كلام كښې قلب شوې دې، په اصل کښې «قابِ قوسٍ» دې، يعنى په دومره اندازه قريب شو لكه قابين دَ يو قوس.

(۳) "قاب" نه مراد مقبض نه تر "وتر" پورې ځائ او مينځنئ فاصله ده،او دادَعربو دَ يو رواج مطابق وئيلې شوې دى چه كله به دوئ دَ چاسره دوستى كوله اودَ اتفاق معاهده به ئي كوله، نو دَ خپلې ليندې(قوس)لرګې او وتر به ئي د بل ملګري ليندې او وتر سره ميلاؤ کړو چې دا به علامه وه دَ دې چې دې كمانونو مخ به اوس يو طرف ته وي ، ديو بل مخالف به نه وي ، نو دې صورت کښې د دواړو كمانونو د وتر سره فاصله يوه وي ، نو ځکه «قاب قوسين» اوئيلې شو ،دې تقدير باندې دا كنايه ده د انتهائي قربت او نيزديكت نه.

﴿أَوْ أَدْنَىٰ﴾ "او" دَ شک د پاره نه دې بلكه پمعنى دَ "بل" دې،يعنى بلكه دَ دې نه هم كمه فاصله وه﴿فَأَوْحَىٰٓ إِلَىٰ عَبْدِهِۦ مَآ أَوْحَىٰ﴾ ضمير مرفوع په دواړو ځائيونو په «اوحى» كښې راجع دې جبرئيل عليه السلام ته ، او ضمير مجرور په «عبده» كښې راجع دې الله ﷻ ته ، يعني جبرئيل عليه السلام د الله ﷻ بنده ته عظيم الشان وحي اوکړه ، او تعيين د وحي نه دې شوې د پاره د تفخيم يعني داسې وحي وه چې الفاظ د هغې بيان نه او دماغ دَ هغې پوهيدلو نه قاصر دى . شعر:

به عندليب چه فرمودهٔ كه نالان است بگوش گل چه گفتهٔ كه خندان است
اكنون كين رادماغ كه پرسيدزباغبان بلبل چه گفت وگل چه شنيدوصباچه كرد

بعض مفسرين وائى چې اول «اوحى» كښې ضمير راجع دې جبرئيل او دويم كښې راجع دې الله ﷻ ،ته ضمير مستتر پكښې راجع دې الله ﷻ ته،مطلب دادې چه جبرئيل وحى اوكړه حضور ﷺ ته دَهغې چه الله تعالى جبرئيل عليه السلام ته کړې وه ،

﴿مَا كَذَبَ﴾ دا جواب د شبهې دې چې نبي كريم ﷺ د جبرئيل عليه السلام د ليدو تذكره كوي، داكيدې شي د زړه وهم او خيال وي چې هغه ورته متمثل شوې وي، لكه ځنې وخت تنهائي كښې خلقو ته وهم متمثل شي حقيقت كښې څه نه وي؛ او يا به دا څه جن او پيرې وو، خو ده به پرې وهم او ګمان د جبرئيل کړې وي «كذب» دلته پمعنى د وهم سره دې ،«لسان

العرب» يعني د جبرئيل عليه السلام ليدل څه خيال او وهم نه وو. بلكه حقيقت وو، او يا پمعنى دَ ما انكر،سره دې ، يعني ستركو چې څه ليدلي وو ، زړه هم هغه پيژندلې وو او يقين او وثوق ئي وو چې دا جبرئيل عليه السلام دې.

أَفَتُمٰرُونَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ۝١٢ وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ۝١٣
آياتاسو جګړې كوئ ده سره په هغې كښې چې ده ليدلې دى، اوخامخاپه تحقيق چه ليدلې ئى وو جبرئيل عليه السلام په را كوزيدلو كښې بل وارې.
عِنْدَ سِدْرَةِ الْمُنْتَهٰى ۝١٤ عِنْدَهَا جَنَّةُ الْمَاْوٰى ۝١٥ اِذْ يَغْشَى السِّدْرَةَ
دَسدرة المنتهىٰ سره‌هغې سره دې جنة الماوىٰ كله چې پټوله بيره
مَا يَغْشٰى ۝١٦ مَا زَاغَ الْبَصَرُ وَمَا طَغٰى ۝١٧
هغه څيزونو چې ئي پټوله . نه وؤ كوږ شوې نظر دَ حضور ﷺ او نه ؤ تير شوې دَ حد نه
لَقَدْ رَاٰى مِنْ اٰيٰتِ رَبِّهِ الْكُبْرٰى ۝١٨
خامخاپه تحقيق اوليدلى ده دَنشانودَرب خپل نه لوئ لوئ

﴿أَفَتُمٰرُونَهٗ عَلٰى مَا يَرٰى ﴾خطاب دې مشركينوته اوهغوئ ته زجردې،چه حضور عليه السلام دَ كوم څيز پخپلو ستركو معاينه كړيده بيا د هغې مشاهدې د صحت ګواهي الله ﷻ وركوي نو ، دې باوجود تاسو ورسره پكښې بحث مباحثې او جګړې كوئ؟ دمشاهدې نه بل غټ دليل څه دې چې تاسو ته پيش كړې شي ؟ دَ﴿مَا يَرٰى ﴾نه مرادليدل دَ صورة دَ جبرئيل عليه السلام دې،

﴿وَلَقَدْ رَاٰهُ نَزْلَةً اُخْرٰى ﴾په ديكښ د **مذكورې شبهې دويم جواب** دې چې خلاصه ئي تكرار د مشاهدې او د توهم احتمال دفعيه ده چې تاسو دې يو ځل ليدو كښې بحث مباحثه كوئ ، چې دا كيدې شي خيال وي جني وغيره وي ،نو نبي كريم ﷺ دې نه علاوه هم د معراج په موقع باندې د سدرة المنتهى په خوا كښې په اصل صورت كښې ليدلې دې،نو د لته په ليدلو كښې خو د وهم يا جني وغيره احتمال هډو سره امكان هم نشته «غرائب القرآن المعروف به تفسير نيشاپوري» .

﴿عِندَ سِدْرَةِ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾ دې کښې **مکان د رؤيت** ذکر دې ، چې سدرة المنتهى سره ئې ليدلې وو ، "سدرة" دَبيرې ونې ته وائى او دَ﴿ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾معنى ده ځائ دَانتهاء،نو دا يوځائ دې چه دَعالم محسوس او دَ عالم غيب انتهاء ده،دَعالم بالا نه چه څومره احکامات صادريږى فرشتې ئى دَدغې ځائ نه راوړى،اوپاسه چه څومره احوال ځى فرشتې ئى دغه ځائ ته رسوى، دَ رواياتو دَ مجموعې نه معلوميږى چه داداسې ونه ده چه جرړې ئې په شپږم اسمان کښ دى اوشاخونه ئى په ووم اسمان کښ، دعرش خې طرف ته ده ، پاڼې دَ هغې پشان دَ غوګونو دَ هاتيانو دى،اوبيرې ئى پشان دَمټکو دَ "هجر" دى ، سوار کس دَ هغې په سورى کښ اويا(٧٠) کاله سفراوکړى نوقطع به نشى،په يوروايت کښ(١٠٠)کاله راغلى دى اوديته سدرة المنتهى پدې وجه وائى لکه چه تير شو چه دا انتهاء د فرشتوده ، دَ دينه اخوا ماسوىٰ دَ الله ﷻ نه بل چاته علم نشته دې،ياورته په دې وجه وائى چه ارواح الشهدادى ځائ ته رسى .

فائده: دامسئله اختلافيه ده چه حضورﷺ په شبِ معراج کښ ديدار الهي نه مشرف شوې وو او که نه؟ دې کښې حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او حضرت عائشه رضي الله عنها مشهور اختلاف دې ، حضرت ابن عباس د دې اثبات کوي او حضرت عائشه رضي الله عنها ئي نفي کوي،او دې اختلاف په وجه د دوئ حضراتو د دې آيت په تفسير کښې هم آراء مختلفې دي، حضرت عائشه رضي الله عنها د «علمه شديد» نه تر « ولقد رآه نزلة اخرى» پورې آيتونه جبرئيل عليه السلام سره متعلق ګرځولي دي او ضميرونه ئي جبرئيل عليه السلام نه راجع کړي دي او عبد الله بن عباس رضي الله عنهما دا الله ﷻ سره متعلق ګرځولي دي او ضميرونو رجعه ئي الله ﷻ ته کړې ده . هم دې وجهې نه ورستنو علماؤو هم په دې مسئله کښې اختلاف دې، دواړو طرف ته قوي دلائل او د ترجيح قرائن شته دې ، مسئله هم څه اصولي نه ده ، بلکه فروع نما ده او مزيد دا چې د رؤيت په ثبوت او عدم ثبوت باندې څه عمل هم نه دې موقوف ،نو دې وجهې نه احوط قول دا دې چې ديکښې توقف اختيار کړې شي.

﴿عِندَهَا جَنَّةُ ٱلْمَأْوَىٰٓ ﴾ دادَ مکان مزيد تعارف دې ، چې سدره المنتهي هغه ځائ دې چې دې خواه کښې جنت الماوي(هغه جنت چې د مؤمنانو مستقر او ټهکانه ده) واقع دې .

﴿إِذْ يَغْشَى ٱلسِّدْرَةَ﴾ ديکښي د **رؤيت دَ وخت كيفيت** نظاره ذکر کيږي، «اذ» متعلق دې د ﴿رَءَاهُ﴾ سره، چې دا رؤيت په داسې وخت کښې شوې وو چې په بېرې ونې باندې د الله ﷻ د انوارتو تجلي وه ، ملائک ئي په پاڼړه پاڼړه باندې ناست وو او سرو زرو پتنګان ترينه راغونډ وو ، غرض يو داسې کيفيت وو چې الفاظ د هغې بيان نه قاصر او عاجز دي، ﴿مَا يَغْشَىٰ﴾ ابهام په وجه دَتفخيم شوې دې،چې دې کيفيت بيان، د الفاظو دائرې نه بهر دې ، البته رواياتو کښې ځنو څيزونو تعيين راغلي دې ، چې دې ونې باندې د الله ﷻ د انواراتو تجلي وه، دسرو زرو پتنګان پرې راټول شوي وو او د فرشتو اجتماع وه.

﴿مَا زَاغَ ٱلْبَصَرُ﴾ ديکښې د **مشاهدې كيفيت** بيانيږي، "زيغ" مطلب دې مقصود پريخودل او بل څه ته کتل او "طغيان" نه مراد دې مقصود سره سره بل څه کتل ، نو اول صورت کښې بالکل توجه نه وي او دويم صورت کښې کامله توجه نه وي ، نو دلته د دواړو نفي اوشوه ، چې دينه ثابته شوه چې دا مشاهده څه کامله او اعلى مشاهده وه ،چې نبي کريم ﷺ د جبرئيل نه سوا بل څه طرف ته نه متوجه شوې دې او نه ئي ورته سترګې غړولي دي . يا د "زيغ" نه مراد مقصود پريخودل او د "طغيان" نه مراد غير مقصود ته متوجه کيدل دي يعني مقصد نه اوړيدلې او غير مقصد کښې متوجه شوې نه وو(روح المعاني).

﴿لَقَدْ رَأَىٰ مِنْ ءَايَـٰتِ رَبِّهِ ٱلْكُبْرَىٰٓ﴾ يعني د جبرئيل عليه السلام د رؤيت نه علاوه ئي هم د الله ﷻ د قدرت لوئي لوئي نښانئ اوليدلې ، «الکبری» صفت دې د «آيات» او مفعول به محذوف دې د پاره د تفخيم او تعظيم ، يعني د الله ﷻ د لويو قدرتونو هغه نښانې ئي اوليدلې چې هغه دبيان د وس نه بهر دي ، او يا «الکبری» مفعول به دې د «رأى» ، يعني الله ﷻ لوئ لوئ قدرتونه مشاهده کړو، مراد دَ دينه ټول مغيبات دی جنت،جهنم،اودغه رنګه نور مغيبات چه دَهغې تفصيل په احاديثودَمعراج کښې ذکردي.

أَفَرَءَيْتُمُ	ٱللَّـٰتَ	وَٱلْعُزَّىٰ ⑲		وَمَنَوٰةَ	ٱلثَّالِثَةَ	ٱلْأُخْرَىٰ ⑳		
خبراکړئ	تاسوماته	دلات	او	دَ	عزّىٰ ،	او	دَ	مناة	دريم	بل .

﴿أَفَرَءَيْتُمُ ٱللَّٰتَ وَٱلْعُزَّىٰ﴾ دَتمهيدنه ورستودَسورة اوله ضمني دعوه ذكركيږی چه لات، مناة، عزیٰ آلهه مه ګڼئ، مشركانو دَ كاڼونه دادرې بتان جوړ كړی وو. اودَهغوی عبادت به ئي كولو، او خپل حاجات به ئي ورنه طلب كول ﴿ أَفَرَءَيْتُمُ ﴾ پمعنی دَاخبرونیٰ دي، مطلب دادې چه ماته خبراكړئ چه آيادَغه بتانوڅه قدرت شته په څه څيزباندی چه تاسوورته آلهه وايئ، بقول والدمحترم نورالله مرقده چه شيخ القرآن شاه منصورباباجیؒ فرمائی دلته نفديردي ومع ذلک لم يحصل له الالوهية افرأيتم... يعنی سره دَدينه چه حضورﷺ ته دغه مذكوره فضيلت حاصل دې چه جبرئيلؑ ئی ليدلې، سدرة المنتهیٰ ته ختلې دې، دَالله ديدارئ كړيدې، ليكن بياهم اله ندې نوستاسومعبودان دكوم باغ مولئ دی چه تاسوورته آله وايئ

﴿ٱللَّٰتَ﴾ داپه طائف كښ دَبنوثقيف دَتولونه لوئ بُت وو، بعض وائی په كعبه كښ وو (۱) دَلتَ يلُتَ نه اسم فاعل دې، لتَ ګډوډكول اووړه كولوته وائی، وائی چه دايونيک سړې وو حاجيان چه به حج ته راغلل نوده به هغوئ دپاره سويق(ستو)تياره ولواوپه هغوئ به ئي خوړلو چه كله مړ شو نو دوئ دفن كړو او دَ هغه دَ قبرعبادت ئی شروع كړو، بيادَڅه وخت تيريدلو نه ورستو ئی دَهغه په نوم بُت جوړكړو، په فتح الباری كښ دی چه كله دې مړ شو نو عمرو بن لُحی خلقوته اووئيل چه دې مړنه دې بلكه دَې كاڼړی كښ داخل شويدې نوخلقودَهغه كاڼړی عبادت شروع كړو.

(۲)بعضِ وائی چه لات دَ لوی يلوی نه مأخوذدې پمعنی دَ تاويدلو او طواف كولو، نو مشركانو به دَ دې بت نه طوافونه كول نوځكه پدغه نوم سره موسوم شو.

(۳)بعضِ وائی چه مشركانو دَ خپلو بتانو د پاره دَاللهﷻ دَ نومونو نه، نومونه مقرركړی وو نو وئيل به ئي چه لات دَ الله نه دې، او عزیٰ دَ العزيز نه دې(والله اعلم).

﴿وَٱلْعُزَّىٰ﴾ دادَقريشُ اوبنوكنانه وُ دَ ټولونه لوئ بُت وو، دَعزيز نه ماخوذ دې ‌ دَ اعزّ مؤنث دې، وائی چه دا يوجنّی شيطانه وه چه مكې ته نزدې په بطن نخله كښ دَ كيكر په درې(۳) ونو كښ اوسيدله، مشركانوبه ئي عبادت كولو، دې به ورسره خبرې كولې، روحُ المعانی په حواله دَ نسائی او ابن مردويه ليكلی دی چه هر كله مكه فتح كړې شوه نو حضورﷺ خالد بن وليدؓ نخله مقام ته اوليږلو، خالدبن وليدؓ راغې هغه درې ونې ئی كټ كړې او يوه كوټه

وه چه په هغې کښې به مشرکانو عبادت کولو هغه ئې هم اونړوله. او بيا راغې حضور ﷺ ته ئې خبرورکړو، حضور ﷺ ورته اوفرمائيل: ارجع فانک لم تصنع شيئا (يعنې عزیٰ دې نه ده مړه کړې واپس لاړشه) خالد بن وليد ﷺ بيا راغې، منجورانو چه اوليدلو نوچغې ئې شروع کړې ياعزیٰ ياعزیٰ نو په دې کښې دَ هغې پرې کړې شوې ونې نه يوه بربنډه ببرسرې ښځه راښکاره شوه، پخپل سر ئې خاورې دوړه ولې، خالد بن وليد ﷺ هغه په توره باندې اووهله او قتل ئې کړه، بيا راغې حضور ﷺ ته ئې خبرورکړو، حضور عليه السلام اوفرمائيل تلک العزیٰ" په روايت کښې دا هم راغلي چه کله ئې قتل کړه نو دا شعر ئې وئيل:

ياعُزّ کفرانکِ لاسبحانکِ   انی رأيت الله قداهانکِ

بيا راغې حضور ﷺ ته ئې خبرورکړونونبي عليه السلام اوفرمائيل تلک العُزیٰ ولن تُعبد.

﴿وَمَنَوٰةَ﴾ دا دَ اوس اوخزرج دَ قبيلو لوئ بُت وؤ (۱) دايا دَ نوءٌ نه مشتق دې، نوءٌ مفرد دې انواءٌ ئې جمع ده، او دينه مراد هغه ستورى دى چې دوئ عقيده وه چې دا باران په وررولو کښې مؤثر دى، نو کله به چه باران نه کيدلو نو مشرکانو به دَ دې بُت په تبرک سره دې ستورو نه باران طلب کولو (۲) يا مشتق دې دَ منى يمنى نه په معنى دَ صبّ او اراق سره، دې بُت ته مناة ځکه وئيلو چه دوئ به دلته څاروى ذبح کول وينى به ئې بيولې

﴿ٱلثَّالِثَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰٓ﴾ دا دواړه صفتين دى دَ ﴿وَمَنَوٰةَ﴾ او وصفت دَ پاره دَ تاکيد دې، بعض وائ چه ﴿ٱلثَّالِثَةَ﴾ دپاره دَ تاکيد دې او ﴿ٱلۡأُخۡرَىٰٓ﴾ په معنى دَ متاخرة دَ ذم لپاره دې.

أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلۡأُنثَىٰ ﴿٢١﴾ تِلۡكَ إِذٗا قِسۡمَةٞ ضِيزَىٰٓ ﴿٢٢﴾ إِنۡ هِيَ إِلَّآ

آيا تاسو لره نارينه اولاددى او الله جل جلاله لره لونړه دى دا خو بيا تقسيم دې ډيرناکاره ندى دا مګر

أَسۡمَآءٞ سَمَّيۡتُمُوهَآ أَنتُمۡ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا

صرف نومونه دى چه ايخى دى دا نومونه تاسو او پلارانو ستاسو ندې نازل کړې الله جل جلاله په معبودوالى دَ دوئ

مِن سُلۡطَٰنٍۚ إِن يَتَّبِعُونَ إِلَّا ٱلظَّنَّ وَمَا تَهۡوَى ٱلۡأَنفُسُۖ وَلَقَدۡ

هيڅ دليل اتباع نه کوى دوئ مګر دګمان او دَ هغې چه غواړي ئې نفسونه ددوئ او په تحقيق

جَآءَهُمْ مِّنْ رَّبِّهِمُ الْهُدٰى ﴿۲۳﴾ اَمْ لِلْاِنْسَانِ مَا تَمَنّٰى ﴿۲۴﴾

چه راغلې دي دوئ ته دَطرفه دَرب دَدوئ نه هدايت آياشته دې انسان لره هغه چه ئې آرزوکوي

فَلِلّٰهِ الْاٰخِرَةُ وَالْاُوْلٰى ﴿۲۵﴾

پس خاص الله جل جلاله لره دي آخرة او دنيا.

﴿ أَلَكُمُ ٱلذَّكَرُ وَلَهُ ٱلْأُنثَىٰ ﴾دا دَسورة دويمى ضمني دعوې ذکردې، مشرکينو به فرشتوته بنات الله وئيلو چې دا د الله تعالى لونړې دی او دې وجې نه به د هغوئ عبادت کولو او هغوئ به ئې شفيع قهري کنړلې ، نو الله تعالى په دې آياتونو کښې د دې باطلې عقيدې ترديد کوي ﴿ قِسْمَةٌ ضِيزَىٰٓ ﴾ضاز، يضيز، پمعنى دَظلم کولوسره، يعنى داظالمانه اوناجائز تقسيم دې چه ښه څيزستاسو په حصه کښې راشي اوبيکاره څيزدَالله تعالى په حصه کښې.

﴿إِنْ هِيَ إِلَّآ أَسْمَآءٌ ﴾دا دَ اولې دعوې ذکر دې "ان"نافيه دې، يعنى ستاسو دَ معبودانو، لات، عزىٰ اومناة هيڅ حقيقت نشته دې هسې ورله تاسو نومونه آلهه ايخى دی. ﴿مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا ﴾ اى بمعبوديتها﴿ إِلَّا ٱلظَّنَّ ﴾يعنى صرف خيالات او توهمات دي او﴿وَمَا تَهْوَى ٱلْأَنفُسُ﴾ خواهشات دي چې د هغې اتباع کوئ

﴿وَلَقَدْ جَآءَهُم مِّن رَّبِّهِمُ ٱلْهُدَىٰٓ﴾جمله حاليه تعجبيه ده ، چې د توهماتو او خواهشاتو اتباع کوي خو الله تعالى طرف نه ورته هدايت راغلې دې دهغې اتباع نه کوي .

﴿أَمْ لِلْإِنسَٰنِ ﴾دا اضراب انتقالي دې دَ ((ان يتبعون الا الظن وما تهوى الانفس))نه او استفهام انکاري دې ، يعني دوئ خو توهماتو او خواهشاتو اتباع کوي چې زمونږ بتان آلهه دي نو دوئ به مونږ د عذاب نه بچ کړي خو دا د دوئ تمناګانې دي ، د دوئ په تمناګانو څوک اله نشي جوړې دې ، دَانسان نه مرادانسانِ کافردې، دَ﴿مَا تَمَنَّىٰ ﴾نه مرادشفارش د بتانو دې.

﴿فَلِلَّهِ ٱلْءَاخِرَةُ وَٱلْأُولَىٰ ﴾علت دې دَ ماقبل، يعنى دنيا او آخرت دَالله تعالى په قبضه اختيار کښې دی، نوپه ديکښې به هغه څه کيږې چه الله تعالى ئې اوغواړی نه چه کافران.

وَكَمْ مِّنْ مَّلَكٍ فِي السَّمٰوٰتِ لَا تُغْنِيْ شَفَاعَتُهُمْ شَيْـًٔا اِلَّا
اوډېرې دفرښتونه په اسمانونوکښې داسې دي چه نفع به ورنکړي سفارش د دوئ د هيڅ څيز مګر
مِنْۢ بَعْدِ اَنْ يَّاْذَنَ اللّٰهُ لِمَنْ يَّشَآءُ وَيَرْضٰى ﴿٢٦﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ
ورستودَدينه چه اجازت اوکړي الله تعالى هغه چا لپاره چه ئې خوښه شي او راضي وي . بيشکه هغه کسان
لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ لَيُسَمُّوْنَ الْمَلٰٓئِكَةَ تَسْمِيَةَ الْاُنْثٰى ﴿٢٧﴾ وَمَا لَهُمْ
چه ايمان نه راوړي په آخرت باندې خامخانوم ايږدي فرښتو له نوم د ښځو حال داچه نشته دې دوئ لره
بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِنْ يَّتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنَّ الظَّنَّ لَا يُغْنِيْ
په دې هيڅ علم . نه کوي اتباع دوئ مګر د ګمان، او بيشکه ګمان نفع نه ورکوي
مِنَ الْحَقِّ شَيْـًٔا ﴿٢٨﴾
د حقيقت د هيڅ څيز.

﴿ وَكَم مِّن مَّلَكٍ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾دادويمی دعوې(چه فرښتې شفيع قهرى مه ګنړئ)اعاده ده،چه فرښتې اګرچه مقرب اومکرم دی عندالله،ليکن بياهم دَاذن الهی نه بغيرشفاعت نشی کولې.کم.خبريه دې براۍ تکثيراو﴿لَا تُغْنِي﴾ئې خبردې﴿أَن يَأْذَنَ ٱللَّهُ ﴾اى لهم بالشفاعة، يعنى فرښتې به هله شفاعت کوی چه الله ﷻ ورته اذن وکړی.

﴿لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ ﴾دينه مراد(١)مشفوع له دې يعنى چه الله ﷻ دَهغه دپاره شفاعت کول اوغواړی اوراضی وی پرې،چه هغه اهل ايمان اوتوحيددی(٢)ياورنه شفيع مراددې،

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴾زجر دې مشرکانوته چه دوئ دَ کفر او انکار اخرت ارتکاب سره سره ملائک په وصف انوثت سره هم متصف کوي او واني چې داد الله ﷻ لونړه دي .

﴿تَسۡمِيَةَ﴾دلته پمعني د " توصيف " سره دې،

﴿وَمَا لَهُم بِهِۦ﴾ای بمایقولون، داحال دي دَفاعل دَ﴿لَيُسَمُّونَ﴾ ﴿مِنْ عِلْمٍ﴾علم پمعنیٰ د دليل سره دي، نکره په سياق دَنفی کښ واقع ده نوعموم فائده کوی، يعنی دویٔ سره په دې خپل قول باندې هيڅ دليل نشته دي، ﴿إِلَّا ٱلظَّنَّ﴾ظن نه دلته مرادوهم دې، يعنی دویٔ صرف وهم اوبې بنيادو خيالاتو اتباع کوی حقيقت ورسره هيڅ نشته دې، ﴿وَإِنَّ ٱلظَّنَّ لَا يُغْنِى مِنَ ٱلْحَقِّ﴾ دَ حق نه مراد حقيقت اوعلم قطعی دې، يعنی ظن سره هيڅ کله هم علم قطعی او د څه شي اصل حقيقت نه معلوميږي ((من الحق)) بيان مقدم دې د ((شيئا)).

فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ عَن ذِكْرِنَا وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا ٱلْحَيَوٰةَ
پس اعراض اوکړه دَهغه چانه چه اعراض ئی کړې وی زمونږ دَ نصيحت نه او اراده نه لری مګردَژوند
ٱلدُّنْيَا ﴿٢٩﴾ ذَٰلِكَ مَبْلَغُهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ ۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِمَن ضَلَّ
دَ دنيا . دا منتهیٰ دَ دویٔ ده دَ علم . بيشکه رب ستا هغه ښه پوهه دې په هغه چاچه ګمراه شوې وی
عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱهْتَدَىٰ ﴿٣٠﴾
دَ لارې دَ الله جل جلاله . او هغه ښه پوهه دې په هغه چاچه په سمه لار روان وی

﴿فَأَعْرِضْ عَن مَّن تَوَلَّىٰ﴾داتسلی ده حضورﷺته چه کوم خلق زمونږ د ذکر او دين نه اعراض کوي او په دنيا کښې منهمک دي او د دنيا زندګي ئي مقصود اصلي ګرځولي ده نو ته د هغویٔ په ايمان او نجات باندې ډير حرص مه کوه او هغویٔ ته پريشانه کيږه مه ځکه چې دویٔ کښې خپله طلب نشته ، "اعراض" نه مقصود دعوت پريخودلو حکم نه دې چې ته دویٔ ته دعوت هم مه ورکوه بلکه دعوت نه قبولو باندې پريشانه کيدل دي چې دا پريګده. ﴿عَن ذِكْرِنَا﴾ دَ ذکر نه مراد ،قرآن دې، يا ايمان، يانبی اکرمﷺ. ﴿وَلَمْ يُرِدْ إِلَّا ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا﴾يعنی په دنيا راضی وی اخرت ئی هيروی، نظرئی صرف په دنيا وی، او ټول کوشش ئی دَدې په اصلاح کښ وی.

﴿ذَٰلِكَ﴾ديکښې د هغوئ کم علمئ طرف ته اشاره ده چې د دوئ علم انتهاء بس په دنيا باندې ده ، د دنيا ترقي ، خوشحالي ، کاميابي او ګټه پيژني خو دنيا نه ورستو لازوالې ، حقيقي او اصلي زندګئ دوئ ته هيڅ خبر او غم نشته دې کما قال تعالى «يعلمون ظاهراً من الحياة الدّنيا و هم عن الاخرة هم غٰفلون»(الروم:٧)خومره چه انسان سره دنيامحبت وی او دَ دنيا غلبه وی نودومره به دَاخرت نه غافله وی په حديث کښ دی:من احبّ دنياه اضرّبآخرته ومن احبّ آخرته،اضرّ بدنياه فآثروا مايبقىٰ على مايفنٰى(مشكوة)په مسنونو دعاګانو کښ يوه دادعاهم ده: اللّهم لاتجعل مصيبتنا في ديننا ولاتجعل الدّنيا اكبرهمّنا ولامبلغ علمنا.

دنياته ترجيح ورکول اوآخرت نه غافله کيدلو ته قرآن دَ کافرانوخصلت وئيلی دی اوکه دنيا کښې ډيره ترقي کړي وي خو چې آخرت علم ورسره نه وي هغه ته ئې بې علمه او جاهل وئيلې دي ليکن په دې آفسوس دې چه نن صبا دَ انګريزانو تعليم زمونږ دَ مسلمانانو داحالت جوړ کړيدې چه زمونږ ټول علوم،فنون،اوټول کوشش صرف په معاشياتوپورې منحصردې،او تعليم يافته هغه چاته وئيلې کيږي چې په دنيوي علومو او فنونو ئې عبور وي اګرچه هغه د خپل دين د ابجد نه هم واقف نه وي (الله ﷻ دې زمونږ په حال رحم اوکړی).

﴿إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ﴾تعليل دې دَ فاعرض عمن.... يعني ستا رب ته علم دې چې څوک به هدايت قبلوي او څوک نه قبلوي ، نو د چا هدايت په قسمت کښې نشته نو که هر څومره وعظ و نصيحت ورته اوکړي هغه ئې نه قبلوي ، نو دوئ په قسمت کښې هدايت نشته لهذا ته ورته مه پريشانه کيږه.

وَلِلّٰهِ	مَا	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَمَا	فِي	الْأَرْضِ	لِيَجْزِيَ
اوخاص الله لره دی هغه څه چه په اسمانونوکښې دی اوهغه څه چې په ځمکه کښې دی،لپاره دَدې چه بدله ورکړی الله ﷻ							
الَّذِينَ	اَسَاءُوا	بِمَا	عَمِلُوا	وَيَجْزِيَ	الَّذِينَ	اَحْسَنُوا	
هغه خلقوته چه بد ئې کړی وی په هغه عملونوچه دوئ کړيدی اوبدله ورکړی هغوته چه نيکئ ئې کړې وی							

بِالْحُسْنَى ﴿٣١﴾ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ						
په جنت حسنیٰ سره.داهغه دي چه ځان ساتي دَ کبيره ګناهونو نه او دَ بې حيائي کارونو نه مګر دَ واړه ګناهونو نه .						
اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ ؕ هُوَ اَعْلَمُ بِكُمْ اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ						
بيشکه رب ستا فراخ دي مغفرت (د هغه) الله جَلَّجَلَالُهٗ ښه پوهه دي په تاسو کله چه ئې تاسو پيدا کړئ دَ زمکې نه						
وَاِذْ اَنْتُمْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ ۚ فَلَا تُزَكُّوْا اَنْفُسَكُمْ ؕ						
اوکله چه تاسوواړه بچي وئ په خيټو دَ مياندو خپلو کښې ، پس پاکي مه بيانه وئ تاسو د خپل ځانونه						
هُوَ	اَعْلَمُ	بِمَنِ		اتَّقٰى ﴿٣٢﴾		
الله جَلَّجَلَالُهٗ	زيات	عالم	دي	په	هغه	چاچه پرهيزګاروی

﴿وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ لات وعزی منات د الوهيت او ملائکو د شفيع قهری کيدلو نفی نه بعد مقصودي دعوې اثبات بيان دې، چې کامل تصرف او اختيار صرف اوصرف الله جَلَّجَلَالُهٗ سره دي،چي هغه دَ آسمانونو او ځمکې او څه په ديکښې دی هغه مالک دې ﴿لِيَجْزِيَ الَّذِيْنَ﴾ لام دَ عاقبة لپاره دې، اودا(۱) يامتعلق دې دَ﴿وَلِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾سره،اومطلب دادې چه دَاسمان اوزمکې پيداکول څه بې مقصده نه دی بلکه دَدې پاره دی چه الله جَلَّجَلَالُهٗ شرک او معاصی کونکوته سزا ورکړی او موحدينو او نيکی کونکو ته جزاء ورکړی (۲) يا متعلق دې دَ هواعلم بمن ضلّ... سره يعنی چه الله جَلَّجَلَالُهٗ په ګمراه اوپه نيک دواړوباندې عالم دې،نو دواړوته به مستحقه بدله ورکوی.﴿اَسَاۗءُوْا﴾ای اشرکوا﴿اَحْسَنُوْا﴾ای وحّدوا﴿بِالْحُسْنَى﴾ای بالمثوبة الحسنٰی،چه هغه جنت دې،نو باء په﴿بِالْحُسْنَى﴾کښې دَصله دپاره ده،يا باء سببيه ده اودَ الحسنٰی نه مرادنيک عملونه دی،يعنی په سبب دَنيکوعملونو

﴿اَلَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ ﴾دا د محسنينو صفاتو بيان دي، يعنى محسنين هغه دى چه دكبيره گناهونو اودَفحش كارونونه اجتناب كوى،البته كله كله ورنه ارتكاب دَصغائرو اوشى ليكن هغه دَدرجې دَمحسنيت سره منافى نه دي.

دَ كبيره گناهونوتعريف اودې باره كښې يوڅوقابل تحقيق خبرې دَسورة نساء آيت«۳۱»كښې تيرې شويدى هلته دې مطالعه شي.

﴿وَٱلْفَوَٰحِشَ ﴾جمع دَفاحشةٌ ده او دينه مراد هغه كبيره گناه دې چې قباحت ئي د عام كبيره گناه نه زيات وي ، لكه شرک ، ناحقه قتل وغيره، «تفسير نيشاپوري» ياهغه كبيره گناه چې پكښې بې حيائي هم وي لكه زنا ،لواطت وغيره، بعضِ وائى فواحش هغه دى چه دنياكښې وربانديې حدجارى كيږى «إِلَّا ٱللَّمَمَ»لمم په لغت كښې ماقلّ قدره. ته وائى الَمّ بالطَّعام يعنى كم خوراک ئى اوكړو،الَمّ بالمكان،لږ پاتې شوپه مكان كښې،او لَمّه هغه ويختوته وائى چه مادون الوفرة وى،اومراد دَ لمم نه«۱»بعضِ وائى صغيره گناهونه دى چه په حسناتوسره معاف كيږى، لكه نامحرم ته نظركول،قُبله،لمس وغيره،ابن عباسرضي الله عنهفرمائى چه دَ لمم تفسير دَ هغې نه زيات خه څماپه نيز نشى كيدې كوم چه ابوهريرهرضي الله عنهدَ حضورﷺنقل كړيدې چه"انّ الله كتب على ابن ادم حظّه من الزّنا ادرک ذلک لامحالة، فزناالعين النظر، و زنااللّسان النطق، و النفس تمنى و تشتهى، و الفرج يصدّق ذلک اويكذبه" اوپه بل روايت كښې په اخركښې ئي دا اضافه هم ده :"فان تقدم بفرجه كان زانيًا و الّافهواللّمم".«ابن كثير»

«۲»بعضِ وائى چه لمم هغه گناه ته وائى چه باربارئى ارتكاب نه كوى،دَ يو ځل صدور نه بعد ورته بيا عود نه كوى،خواه كه گناه كبيره وى اوكه صغيره،نومطلب دادې چه محسنين هغه دى چه په گناهونو باندې مداومت او اصرارنه كوى،دَبشريت دَتقاضې مطابق ورنه احيانًا دَ گناه صدوراوشى ليكن دادَمحسنيت سره منافى ندې.

«۳»چاويلى دى چه لمم په لغت كښې بغير دَ ارتكاب نه يو عمل ته نيزدې كيدلو ، ته وائى نو دَ لمم نه مراد دَ گناه اراده كول،په زړه كښې دَ يو گناه راتلل بغير دَ ارتكاب نه.

بيان القرآن كښې حضرت تهانوي رحمه الله ليكلى دى چه په ايت كښې "الّااللمم" دَ استثناء مطلب دا نه دې چه دَ صغائرو اجازت شته دې،گناه اگرچه صغيره وى خو اجازت ئى نشته دې،

او مطلب دَ آيت دادې چه احياناًورنه ګناه صغيره صدور اوشي بغير دَ عود او اصرار نه.نو هغه به ورته معاف کيږی.

﴿إِنَّ رَبَّكَ وَٰسِعُ ٱلْمَغْفِرَةِ﴾ ديکښې **ترغيب دې ګناهګارانو** ته د توبې ، چې دَالله ﷻ رحمت ډير وسيع دې ، مايوسه کيږئ مه ، که هر څنګه ګناه درنه شوې وي ،الله ﷻ به درله معاف کړي ﴿ هُوَ أَعْلَمُ بِكُمْ ﴾ديکښې **تنبيه ده محسنينو** ته ، چې خپل عبادت باندې په عجب کښې مبتلا نشئ ،څکه چې کله په عباداتو کښې د انسان نه داسې خفيه آميزش اوشي چې بيا هغه قابل قبول نشي پاتې، تاسو ته به د هغې علم نه وي خو الله ﷻ ته به ئې وي ، لکه څنګه چې الله ﷻ ته د ستاسو د تخليق ټولو مراحلو علم دې او تاسو ته نشته دې ،﴿إِذْ أَنشَأَكُم ﴾ «اذ»متعلق دې دَ "اعلم" سره او دَ زمکی نه پيدا کول په اعتبار د سبب بعيد سره دي څکه چې انسان د مني پيدا کيږي او مني دخوراک نه جوړيګي او خوراک د زمکې نه راپيدا کيږي ، يا د مبدا او آغاز اعتبار سره وئيلي شوي دي څکه چې انسانيت آغاز او مبدا د زمکې نه شوې دې چې د دوئ جد امجد آدم عليه السلام د زمکې نه پيدا کړې شوې وو ﴿أَجِنَّةٌ﴾ جمع دَ جنين ده،دَ مور په خيټه کښې ماشوم ته وائی،ده ته جنين څکه وائی چه دې مستور وی

﴿فَلَا تُزَكُّوٓا۟ أَنفُسَكُمْ﴾تفريع ده په ماقبل چه الله ﷻ ستاسو په احوالو ، اعمالو عالم دې، او ستاسوهيڅ حال اوعمل ورنه خفی نه دې نو تاسو پخپله څان صفائی اوتزکيه مه بيانوئ.

﴿هُوَ أَعْلَمُ بِمَنِ ٱتَّقَىٰٓ﴾يعنی په متقی او غير متقی باندې الله ﷻ خه عالم دې،حضور ﷺ به داسې نوم هم خوښ نه وؤ چه په هغې کښ به دَ خپل څان لوئي ياخوبی طرف ته اشاره وه، حضرت زينب بنت ابی سلمه ﷺ فرمائی چه څما نوم "برّه" وؤ، نو حضور ﷺ اوفرمائيل "لاتزكوا انفسكم انّ الله اعلم باهل البرّ منكم" او بيا ئی او فرمائيل چه دې له زينب نوم کيدئ(ابن کثير) دا هم ياد ساتل پکاردی چه لکه څرنګه داسې نوم محمود نه دې چه پکښ خپله خوبی اوصفت وی نو دغه شان داسې نوم هم نه دې صحيح چه پکښ دَ ګناه معنی وی،حضور ﷺ دَيوې زنانه نوم جميله ايخې وؤچه دَ هغې نوم عاصيه وؤ، انوارالبيان کښ ليکلی دی چه ډيرخلق دَ تواضع په وجه دَ خپل نوم سره (العبد العاصی) ليکی،دا طريقه دَ رسول الله ﷺ سره برابرنه ده.

بعض علماؤو دَ ﴿فَلَا تُزَكُّوٓا أَنفُسَكُمْ﴾ معنی دا کړيده چه "لايزكي بعضكم بعضاً" يعني د رب د پاره دَيوبل تزکيه مه بيانوئ. يايقيني توګه باندې د چا تزکيه مه بيانوئ. په يوروايت کښې دي چه دَنبي کريمﷺ په مخکښې يوسړي دَبل مدحه اوکړه نونبي کريمﷺ ورته بار بار اوفرمائيل "ويلک قطعت عنق صاحبک" او بيائې اوفرمائيل چه کله په تاسوکښې څوک دخپل صاحب مدح کونکې وي نوداسې دې وائي چه څماوړباندې داسې ښه ګمان دې اوحساب ئې په اللهﷻ دې، ولا أزكي على الله احداً

په يوروايت کښې دي چه يوسړې دَحضرت عثمانؓ خواته راغې اودهغه صفت ئې شروع کړو نومقدادبن اسودؓ خاورې راوغستلې اودَهغه په مخ ئې وشندلې اوونې وئيل چه مونږ ته رسول اللهﷺ امرکړيدې چه: اذا لقينا المداحين ان نحثو في وجوههم التراب. ابن کثير بحواله مسلم و ابوداؤد).

أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ ۝ وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا وَأَكْدَىٰٓ ۝ أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ
آيا تا ليدلې دې هغه سړې چه اعراض ئې اوکړو، او ورتې کړو لږ مال او کلک شو (په نور باندې) آيا د ده سره علم د غيب دی
فَهُوَ يَرَىٰٓ ۝ أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِى صُحُفِ مُوسَىٰ ۝
چه دې دا عقيده ساتي آيا دې نه دې خبرکړې شوې په هغه څه چه په صحيفوموسیؑ کښې وو.
وَإِبْرَٰهِيمَ ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ ۝ أَلَّا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَىٰ ۝
اوپه صحيفودَابراهيمؑ کښې. هغه چې پوره کړې ئې دې (کار او عهد خپل) داچه نشي به بارکولې يوبارونکې بوج دَبل چا

﴿أَفَرَءَيْتَ ٱلَّذِى تَوَلَّىٰ﴾ په دېکښې يوکافرته زجرذکرکيږي. مجاهدؒ اوغيره مفسرين وائي چه دا آيت دَوليدبن مغيره باره کښې نازل شويدې، چه قرآن ئې واؤريدلو، اثرئې پرې اوکړو اواقرارئې هم اوکړو چه دا قرآن حق کتاب دې، ليکن يو بل کافر ورته پيغور ورکړو چه دَ خپلو مشرانو دين دې پريخودلو، ده ورته اووې چه څه دَاللهﷻ دعذاب نه يريږم. هغه ورته اووې چه ته يريږې نو ستا ټول عذاب څه پخپله ذمه اخلم خو په دې شرط سره چه لږ مال ماته راکړه، ده دا خبره اومنله او دَ مقرر شوی مقدار نه ئې لږ ورکړو او دَ نور مال ورکولونه ئې انکار اوکړو.

نو دا آیت نازل شو ، ﴿وَأَعْطَىٰ قَلِيلًا﴾ معنی داده کوم کس سره یې دا معاهده کړې وه ، هغه له یې لګ مال ورکړو ، ((واکدی)) دَ کدیة نه دې ، ګټ اوچتېدل ته وئیلې کیږي ، عرب وائي "اکدی الحافر" ، چې کله کوهې کنستونکي ته په لار کښې ګټ او کلکه خاوره راشي او دې د نور کنستلو نه ئي عاجز راشي ، او بیا دا استعمالیږي هر هغه کار دپاره چې عزم ئي اوکړې شي خو سر ته اونه رسولې شي ، نو دلته مطلب دا دې چې څومره مال ورکولو وعده ئي کړې وه هغې نه لګ شان ورکړو ، او په نور باندې په خپله کلک شو او ور ئي نه کړو . او څنو ئي داسې توجیه بیان کړې ده چې ((اعطی قلیلا)) اسلام ته لګ غوږ ونیو توجه ورکړه او څه میلان ئي ښکاره کړو ((واکدی)) خو سر ته ئي اونه رسولو ، او ایمان راوړلو نه منع شو

﴿ أَعِندَهُۥ عِلْمُ ٱلْغَيْبِ ﴾ یعنی آیاده سره دَغیب علم دې چه دَ دې په وجه دې په داسې ضمانتونو باور کوي ﴿فَهُوَ يَرَىٰٓ﴾ "فاء" د پاره تفریع ده ، او "رؤیت" نه مراد یا رؤیت قلبي دې ، یعني ده څه سره علم د غیب دې چې دې دا عقیده ساتي ، او یا رؤیت بصري دې ، یعني هغه څه ویني چې نور خلق ئي نه ویني .

﴿أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا﴾ دلیل نقلی دې په ثبوت دَقیامت دَ صحف دَ موسی او ابراهیم علیهما السلام نه او تخصیص دَدې دواړه انبیاؤ څکه اوشوچه دَنوح علیه السلام دَ زمانی نه تر ابراهیم علیه السلام دَ زمانې پورې به یو سړې دَ بچې په ضمانت کښې بچې به دَ پلار ، خاوند به دَ ښځې په ضمانت کښې نیولې کیدلو ، ابراهیم علیه السلام دَدې مخالفت اوکړو او موسی علیه السلام دَدې نفاذ اوکړو ، او تقدیم دَ صحف موسیٰ په صحف ابراهیم باندې دَوجې دَشهرت اواکثریت نه اوشو

﴿ٱلَّذِى وَفَّىٰٓ﴾ "توفیه" ادا کولو او سر ته رسولو ته وائیلې کیږي ، مفعول به دتعمیم د پاره حذف شوې دې؛ لهذا د دینه مراد :

(۱) هغه تمامو امتحاناتو او ابتلاګانو کښې کامیاب کیدل دی چه په ابراهیم علیه السلام راغلی وو ،

(۲) د الله ﷻ احکاماتو تبلیغ کول دي ،

(۳)او د غه شان دَ دينه مراد څلور رکعته اشراق نفل کول دی په اوّل النهارکښ. لکه ابن کثیرﷺ په حواله دَابن ابی حاتم دَ ابو امامهﷺ نه روايت نقل کړيدې چه حضورﷺ دا آيت تلاوت کړو چه﴿وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّىٰ﴾اوبيائي اوفرمائيل: اتدرون ماوفّیٰ ما ورته عرض اوکړو چه الله ورسوله اعلم، بيائي اوفرمائيل:وفي عمل يومه باربع رکعاتٍ من اول النهار.

(۴)دغه شان دا شامل دې، دې کلماتو دَ قرآن سهر او ماښام لوستلو لره هم:فسبحٰن الله حين تمسون وحين تصبحون وله الحمد في السمٰوات و الارض وعشيًا و حينَ تُظهرون. معاذ بن انسﷺ دَ خپل پلار نه نقل کوی چه حضورﷺاوفرمائيل: الا اُخبرکم لم سمّی الله تعالی ابراهيم خليله الّذی وفّی ، انه کان يقول کلما اصبح و امسیٰ ، فسبحان الله حين.....الی اخرالآية.(ابن کثير)

﴿أَلَّا تَزِرُ﴾ په اصل کښ ان لاَ دې "ان" تفسيريه دې، ﴿لَا تَزِرُ﴾نه واخله تر ﴿فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ﴾ پورې داټول تفسير دې دَ﴿بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَىٰ ۝ وَإِبْرَاهِيمَ﴾

دا **اول مضمون** دې دَصحف موسی او ابرهيم ﷺ يعنی په صحف موسیٰ او ابرهيم کښ دادی چه يو مجرم دَبل مجرم پيټی په خپل سرنشی اخستلې، اوڅوک دَبل چاپه ګناه کښ نشی نيولې کيدلې، اوهرچه په حديث کښ دی"انّ الميت ليعذّب ببکاء اهله"نومرادورنه هغه ميت دې چه وصيت ئی کړې وی چه څماپه مرګ دی جړاګانې اوکړيشی.

وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ ۝ وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَىٰ ۝
اوداچه نده انسان لره مگرهغه چه ئی سعی کړی وي . او بيشکه چه سعی دده زرده اوبه خودلې شی ده ته.
ثُمَّ يُجْزَاهُ الْجَزَاءَ الْأَوْفَىٰ ۝ وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ الْمُنتَهَىٰ ۝ وَأَنَّهُ هُوَ
بيابه بدله ورکړې شی ده ته بدله پوره.اوبيشکه چه رب ستاطرف ته آخري رسيدل دی،اوبيشکه اللهﷻصرف هغه
أَضْحَكَ وَأَبْكَىٰ ۝ وَأَنَّهُ هُوَ أَمَاتَ وَأَحْيَا ۝ وَأَنَّهُ خَلَقَ
خنده وی اوژړه وی.اوبيشکه اللهﷻصرف هغه مره کول اوژوندی کول کوی.اوبيشکه هغه پيداکړې دي

الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْاُنْثٰى ۝ مِنْ نُّطْفَةٍ اِذَا تُمْنٰى ۝ وَاَنَّ عَلَيْهِ النَّشْاَةَ

جوړې نر او ښځه دَ نطفې نه کله چه واچولې شي په رحم کښې. اوبیشکه دَ هغه په ذمه دی پیداکول

الْاُخْرٰى ۝ وَاَنَّهٗ هُوَ اَغْنٰى وَاَقْنٰى ۝ وَاَنَّهٗ هُوَ رَبُّ الشِّعْرٰى ۝

دوباره. او بیشکه صرف هغه غنی کول کوی او فقیرکول کوی، او بیشکه صرف هغه رب دې دَ شعری ستوری

﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَٰنِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ داعطف دې په ﴿أَلَّا تَزِرُ﴾ باندې، **دویم مضمون** بیان دې یعنی په صحف موسیٰ او ابراهیم کښې داهم وُو چه انسان ته به دَخپلې سعی جزا ورکولې کېږی. ان خیراً فخیر و ان شراً فشرٌ، دَبل چاپه ضمانت سره به څوک دَعذاب الهی نه نشی خلاصیدلې

بعضِ اهل بدعت لکه معتزله ؤ په دې آیت سره استدلال کړیدې په عدم ایصال ثواب باندې امواتو ته، یعنی مړوته دَ ژوندوله طرفه دَهیڅ عمل ثواب نه رسی، لیکن اهل سنت والجماعت قائل دی په ایصال ثواب باندې اوپه دې ئې اجماع ده چه دَ ژوندی سړی په دعا، استغفار، صدقې سره مړی ته ثواب او فائده رسی، او دا دَ نصوصِ شرعیه ؤ نه ثابته ده:

(۱) والّذین جآؤامن بعدهم یقولون ربّنا اغفرلنا و لاخواننا الّذین سبقونا بالایمان (حشر: ۱۰) په دیکښې دَ هغه مؤمنانوصفت بیان شویدې چه خپلووفات شده مؤمنانوته دُعادَمغفرت کوی، نو معلومه شوه چه دَ ژوندی دعا مړی ته فائده ورکوی،

(۲) جنازه کول هم دَژوندوعمل دې اوفائده پرې مړی ته رسی که مړی ته فائده نه رسیدلې نه بیابه نوه مشروعه. دَاحادیثوذخیره هم پدې باب کښې کثیره ده.

(۳) اذامات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاثة (مسلم ۱۶۳۱) پدې حدیث کښې درې څیزونو ذکر دی چې هغه مرګ نه بعد انسان ته نفع رسوی (۱) صدقه جاریه (۲) علم چې هغې سره نفع حاصلیږی (۳) ولد صالح، چه هغه ورله دعا کوی، نوپلار ته هغه دعا نفع ورکوی.

(۴) په یوروایت کښې دی چه: انّ امرءة رفعت صبيًا لها فقالت يارسول الله! ا لهذا حجّ؟ فقال نعم و لکِ اجرٌ (مسلم، ابوداؤد، ترمذی)

(۵) یوصحابی ﷺ دَحضور ﷺ خدمت کښې حاضرشواوعرض ئې اوکړو. إِنَّ أُمِّي افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا، وَأَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ، فَهَلْ لَهَا أَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا؟ قَالَ: «نَعَمْ» (بخاری)

(۲) سعدبن عباده ﷺ راغې اونبی کریم ﷺ ته ئې اووئیل انَ امّی توفیت اأتصدق عنهاقال نعم،قال ایّ الصدقة افضلُ کومه صدقه افضله ده،نوحضور ﷺ ورته اووئیل چه کوهې اوکنه اواوبه ئی وقف کړه نوهغه کوهې اوکنستلو او بیا ئی اووئیل هذه لامّ سعد ،دغه شان ډیر احادیث په دی دال دی چه ایصال ثواب حق دې اوهرچه دې آیت مذکوره ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ نومفسرین دَدې آیت یوڅوتوجیهات ذکرکوی:

(۱)ابن عباس ﷺ فرمائی چه دا حکم دَ مخکنو امتونو په حق کښ وو او دَ دې امت په حق کښ منسوخ دې په دی قول دَ الله ﷻ سره:والّذين امنوا و اتبعتهم ذريّتهم بايمانٍ الحقنابهم ذريّتهم (الطور: ۲۱) دَدینه معلومیږی چه دَآباؤپه نیک عمل سره مؤمن ذرّیت ته فائده رسی.

(۲)روح المعانی لیکلی دی چه دَخراسان والی عبدالله ابن طاهردَحُسین ابن الفضل نه تپوس اوکړوچه دَدې آیت دَ:والله يضاعفُ لمن يّشاء(بقره: ۲۶۱) سره تناقض دې،نوحسین ابن الفضل ورته اووئیل دلته په دې آیت کښ دَعدل الهی ذکر دې چه هرسړی ته به دَسعی مطابق خامخا جزاء ورکولې کیږی اوپه بقره کښ دَفضل الهی ذکردې،فقبّل عبدالله رأس الحسين

(۳)دلته مراد د سعي نه سعی ایمانی ده چه داپه آخرت کښ بل چاته فائده نه ورکوی چه ایمان دې دَیوکس وی اونجات دې پرې بل ته ملاؤشی،اوپه حدیث کښ دَسعی عملی ذکر دې، چه عمل دَ یو بل چاته نفع ورکوی، دَدارالعلوم دیوبند مفتی اعظم حضرت مولانا عزیز الرحمن صاحب په حالاتو کښ لیکلی دی چه هغه فرمائی:چه څه یوه شپه دَ اوده کیدلو دپاره سملاستم نواچانک می په زړه کښ دا اشکال راغې چه دَ ﴿وَأَن لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَىٰ﴾ خو مطلب دادې چه په آخرت کښ به دَ چا لپاره دَبل چاسعی پکار نه راځی،اوپه حدیث کښ خو دَ ایصال ثواب ترغیب راغلې دې چه په هغې سره دَمړی نه تخفیف عذاب او رفع عقاب کیږی او رفع درجات ئی کیږی اودغه رنګه دَدې آیت دَ انبیاؤ، صلحاؤو، حفاظو ،شهداؤ دَ شفاعت سره هم تناقض دې،نو دې فرمائی چه دَ دې اشکال مې ډیر حل تالاش کړولیکن ذهن کښ مې رانغې اوپه زړه مې داخوف طاری شوچه دَ دې تناقض حل څماپه ذهن کښ نشته دې نوګویاچه دې آیت باره کښ څماایمان سست او مضمحل دې،خدانخواسته کچرته دې حالت کښ ماته مرګ راشی نوڅمابه څه حالت وی، نو فوراً راپاسیدلم اوپیاده ګنګوه ته روان شومه،چه حضرت ګنګوهی رحمه الله نه دااشکال حل کړم، ګنګوه دَ دیوبند نه تقریبًا دیرش(۳۰)میله لرې

وؤ،صبح صادق نه مخکښ ګنګوه ته اورسیدم، نو حضرت ګنګوهی رحمه الله دتهجد دپاره اودس کولو ماورته سلام اوکړو،جواب نه پس ئی راته اوفرمائیل ته دلته په دې وخت څه کوې؟ عرض مې اوکړوچه یوعلمی اشکال کښې مبتلا یم ، نو بیا مې ورته خپل اشکال بیان کړو، نو حضرت رحمه الله د اودس په دوران کښې او فرمائیل چه په آیت کښې دسعی نه مرادسعی ایمانی ده چه داپه آخرت کښې بل چاته فائده نه ورکوی چه ایمان دې دیوکس وی اونجات دې پرې بل ته ملاؤ شی،اوپه حدیث کښې دسعی عملی ذکردې،چه عمل دَ یو بل چاته نفع ورکوی.

(۴)بعضِ فرمائی چه دلته دانسان نه مرادکافردې،اوهرچه مؤمن دې نوهغه ته خپل عمل هم فائده ورکوی اودبل عمل هم،خلاصه دکلام داده چه استدلال دمعتزله وړدې آیت سره باطل دې،ایصال ثواب حق دې ،البته دامام شافعی رحمه الله،مالک رحمه الله او دَ ظواهرو په نزد تلاوة دَ قرآن ثواب مړی ته نه رسی،دوئ وائی چه په نص صریح کښې ددې ثبوت نشته دې، لیکن احنافو اودجمهوروفقهاؤپه نزدلکه څرنګه چه دنوررونیکو اعمالوثواب رسی نودغه شان دقرآن دتلاوة ثواب هم رسی،دتلاوت نه بعدبهتره داده چه دااووئیلې شی،اللّهم اوصل ثواب ما قرأته الی فلانٍ،که په زړه کښې ئی اووائی نوهم کافی ده،خوداضروری ده چه تلاوة په اُجرت سره نه وی لکه بعضې خلق مړولپاره په ختم کولوپسې حافظانوته پیسې ورکوی،ځکه دَ داسې تلاوة ثواب نه وی نو ایصال ثواب به ئې څرنګه اوشی،هرچه دې قول دامام شافعی رحمه الله، مالک رحمه الله اودظواهرونو دَ دې په جواب کښې علماء فرمائی چه:

(۱)په نص کښې ددُعااودصدقې ثبوت راغلې دې،نوتلاوة هم هبه اودعابالقرآن ده

(۲) دویمه دا چه په احادیثوکښې دصوم،صدقې ذکردې نوداتمثیلات دی حصرنه دې او دَ تمثیلاتو حکم یوشان کیدل په شریعت کښې معروف دی.

(۳)په مشهورحدیث کښې دی"اقرؤاعلی موتاکم یٰسین"نوددې په تشریح کښې اصح قول دادې چه داحکم قبل الموت هم دې اوبعدالموت هم،نومعلومیږی چه تلاوت دقرآن مړی ته نفع ورکوی ورنه حکم به ئې نه وؤشوې(والله اعلم).

﴿وَأَنَّ سَعْيَهُۥ سَوْفَ يُرَىٰ ﴾یعنی قیامت په ورځ به انسان دخپلې سعی فائده اووینی،

﴿وَأَنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلْمُنتَهَىٰ ﴾دریم مضمون بیان دې یعنی انتهاء او رجوع دَ ټولو خلقو الله تعالیٰ ته ده،بل ذات ته نه ده،بعضِ وائی معنی داده چه الله تعالیٰ منتهی الافکار دې،یعنی دَهر

ځيز په حقائقو او ماهياتو کښې فکر چليږی ليکن دَالله ﷻ په ذات کښې نه چليږی، په حديث کښې دی تفکّروا في الخلق و لاتفکّروا في الخالق فانکم لن تقدروه(ابن ماجه)

﴿وَأَنَّهُۥ هُوَ أَضۡحَكَ وَأَبۡكَىٰ ﴾ **خلورم مضمون** بيان دې يعنی دَخوشحالئ اودَغم اسباب دَالله ﷻ په قبضه کښې دی، خوشحاله کول خفه کول الله ﷻ کوی. تکرارد"هو"اوتقديم ئی دَ حصر لپاره دې، يعنی صرف الله ﷻ دا کارکوی نه بل ځوک

﴿وَأَنَّهُۥ هُوَ أَمَاتَ وَأَحۡيَا﴾ **پنځم مضمون** بيان دې يعنی پيداکول اومړه کول هم صرف دَالله ﷻ په اختيارکښې دی

﴿خَلَقَ ٱلزَّوۡجَيۡنِ ﴾ **شپږم مضمون** بيان دې "هو"ضميرئی دلته دَمخکښې طرزموافق ذکرنه کړو ځکه دلته وهم دَ شرکت دَغيرالله نشته دې.

﴿وَأَنَّ عَلَيۡهِ ٱلنَّشۡأَةَ ٱلۡأُخۡرَىٰ ﴾ **اووم مضمون** بيان دې يعنی دوباره پيداکولو باندې هم قادردې لکه اول ځل قادردې، اودوباره پيداکول ئی پخپله ذمه واجب کړيدی.

﴿وَأَنَّهُۥ هُوَ أَغۡنَىٰ وَأَقۡنَىٰ ﴾ **اتم مضمون** بيان دې يعنی مالداره کول اومحتاجه کول صرف دَالله ﷻ په قبضه کښې دی، "اقنیٰ" د "قنيةٌ" نه دې او قنيه هغه مال ته وئيلې کيږي چې ذخيره اندوزي ئې کيږي او بل وخت ته هم پاتې کيږي ، لکه بنګلې ، باغونه ،حيوانات وغيره، و هو ما يدوم ويبقىٰ من الاموال ببقاء نفسه واصله «روح المعانی» او دلته بعضو وئيلي دي چې همزه د باب افعال د سلب ماخذ د پاره ده ، نو ځکه ئي د دې معنی "افقر" سره کړې ده، امام بخاری رحمه الله په کتابُ التفسيرکښې هم دغه معنی کړيده، بعضو وئيلي دي دلته خاصيت د اعطاء ماخذ دې نو دوئ ئې معنی"اعطى القِنيةَ" سره کړې ده، يعنی هغه ځيزونه ئی هم انسان ته عطاءکړيدی چه باقی پاتې کيږی او ذخيره کيږی، حضرت ابن عباس ﷺ ددې آيت معنی داکوی چه مالداره کول کوی اوراضی کول کوی په ورکړې باندې.

﴿وَأَنَّهُۥ هُوَ رَبُّ ٱلشِّعۡرَىٰ ﴾ **نهم مضمون** دې "شعریٰ"يوستورې دې چه مشرکانوبه ئي عبادت کولواو دَ عالم په احوالوکښې به ئي مؤثر ګڼرلو ،نو الله ﷻ فرمائی چه"شعریٰ"خالق نه دې چه تاسوئی عبادت کوئ بلکه مخلوق دې،علماء وائی چه دَتهولونه اول دَدې ستورې عبادت

دَخزاعه قبیلی یو سردارابو کبشه شروع کړې وۀ ،مشرکانو به حضورﷺ ته ابن ابی کبشه هم په دې وجه وئیل،چه ده هم نعوذبالله دَابی کبشه په شان نوې کار شروع کړیدې،بعضِ وائی چې ابی کبشه دَحلیمه سعدیهؓ دَزوج کنیت وۀپه دې وجه به حضورﷺ ته مشرکانو ابن ابی کبشه وئیل.بعضِ وائی چه دادَوهب عبدمناف کنیه وۀچه دې دَحضور علیه السلام دَمورله طرفه نیکه وۀ.

وَاَنَّهٗٓ اَهْلَكَ عَادَا ۨالْاُوْلٰى ﴿٥٠﴾ وَثَمُوْدَا فَمَآ اَبْقٰى ﴿٥١﴾
او بیشکه الله هلاک کړیدی عادِ اولی . او ثمود ئی هم (هلاک کړیدی) نوهیڅ څوک ئی پکښ نه دې پریخې
وَقَوْمَ نُوْحٍ مِّنْ قَبْلُ ۭ اِنَّهُمْ كَانُوْا هُمْ اَظْلَمَ وَاَطْغٰى ﴿٥٢﴾
او قوم دَ نوحؑ ئی هم هلاک کړیدې مخکښ دَ دوئ نه ، بیشکه هم دوئ وۀ ډیر ظالمان او ډیر سرکښه
وَالْمُؤْتَفِكَةَ اَهْوٰى ﴿٥٣﴾ فَغَشّٰىهَا مَا غَشّٰى ﴿٥٤﴾
او الټه کړې شوی کلی را اوئی غورځول . پس پټ کړل دا کلي هغه څیز چه پټ کړې ئی وۀ،
فَبِاَيِّ اٰلَاۗءِ رَبِّكَ تَتَمَارٰى ﴿٥٥﴾ هٰذَا نَذِيْرٌ مِّنَ النُّذُرِ الْاُوْلٰى ﴿٥٦﴾
نو د خپل رب کوم کوم نعمتونو کښ به ته شک کوی ،دا یرونکې دې دَ یرونکو مخکنونه .

﴿وَاَنَّهٗٓ اَهْلَكَ عَادَا ۨالْاُوْلٰى﴾ لسم مضمون بیان دې یعنی الله جل جلاله هغه زبردست قدرت والا ذات دې چه یو سرکش اومعاند ئي هم نه دې پریخی،قوم عاد ،ثمود اونوح نمونی تاسو ته مخکښ دی ،دغه شان روغ روغ کلی الله جل جلاله الټه کړیدی «عادا الاولی» مراد ورنه قوم هود علیه السلام دې، او"الاولی"ورته(۱)دَقوم ثمودپه مقابله کښ وئیلې شویدی ځکه چه ثمودیانوته عادِاُخریٰ وئیلې کیږی،قومِ هودپه تیزې اوسختی هواسره هلاک شوی وۀاوقوم ثمودپه صیحه اورجفه سره هلاک شوی وۀ(۲)بعضِ وائی په قوم عادچه کله عذاب راغلې وۀنودَدوئ یو وفد مکې ته راغلې وۀ نو هغوئ دَعذاب نه محفوظ وۀ،نومعذب قوم ته عاداولی وئیلی کیږی (۳) بعض مفسرینو دَ الاولی ترجمه په "القدماء"سره کړیده دوئ دَقومِ نوح علیه السلام نه ورستو په ټولو سرکشو قوموتوکښ اول هلاک شوی وۀ(والله اعلم).

﴿وَثَمُودَاْ ﴾دا عطف دې په «عادا» باندې ﴿فَمَآ أَبۡقَىٰ ﴾دَدواړوقومونوسره متعلق دې،يعنى قوم عاداوقوم ثمودکښې يوکافر هم دَعذاب نه بچ نشو ټول هلاک شول.

﴿وَقَوۡمَ نُوحٖ ﴾عطف دې په"عادا"باندې. ﴿مِّن قَبۡلُ﴾اى من قبل اهلاک عادٍ و ثمود ﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ﴾ ضمير دَ جمع ياراجع دې مخکښې درې واړه قومونه ته.يعنى دغه قومونه دَ قريشو نه زيات ظالمان اوسرکشه وۇ،نوپه دې کښې حضورﷺ ته تسلى ده،کمالايخفى.

ياراجع دې قوم نوح ته،يعنى قوم نوح دَعاداوثمودنه زيات ظالمان اوسرکشه وۇځکه چه دوئ به نوحعليه السلاموهلو او تکليفونه به ئې ورته رسول. يوسړى به خپل ځوې په لاس اونيولو او دَ نوحعليه السلام خواته به ئې بوتللو، ورته به ئې وئيل چه دا کاذب دې په ده ايمان رانه ورې، او ورته به ئې وئيل چه ماته هم خپل پلار دا وصيت کړيدې نن څه هم تا ته داوصيت کوم.نودغه رنګه پلار به مړ شو او ځوئ به ئې دَ پلار په وصيت قائم وۇ،دَنوحعليه السلامدعوت پرې اثر نه کولو.

﴿وَٱلۡمُؤۡتَفِكَةَ ﴾التپه کړى شووۇنه مراددَقوم لوط بستيانې دى.﴿أَهۡوَىٰ ﴾يعني اوچتې ئې کړې او بيا ئې په زمکه راغوزارې کړې اى اسقطهاالى الارض بعدان رفعهاعلى جناح جبرئيل عليه السلام الى السماء(روح المعانى)

﴿فَغَشَّىٰهَا مَا غَشَّىٰ ﴾ ابهام دَعذاب کښې تفخيم اوتهويل دَعذاب ته اشاره ده.تردى ځائ پورى صحف موسى اوابراهيم مضامينو بيان ختم شو،

﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكَ ﴾ ماقبل باندې تفريع ذکر کيږى خطاب دې هرانسان ته، اومراد"الاء"نه هغه دى چه په مخکنواياتونو کښې ذکرشول چه هلاکت دَظالمانو اودَسرکشودې،اودَدې هلاکت نه تعبيرپه"الاء"سره ځکه اوشوچه دَظالمانواوباغيانو هلاکت دَاللهﷻپه خلقوباندې ډير لوئ انعام دې،اودغه رنګه پديکښې عبرت اونصيحت دې عبرت اخستونکواونصيحت قبولونکوته.

﴿هَٰذَا نَذِيرٞ﴾اشاره ياقرآن ته ده،ياحضورﷺته ده،او ديکښې دَ قرآن او نبى ﷺ صداقت بيان دې،چه دا قرآن او داپيغمبر ظالمانو او سرکشانو لره نذيردې،لکه څرنګه چې مخکښې

کتابونه اورسولان وؤ، اويااشاره ده معذاب امتونو احوالو اواخبارو ته، په دی صورت کښ بيا تخويف دنيوی دي.

اَزِفَتِ الْاٰزِفَةُ ﴿٥٧﴾ لَيْسَ لَهَا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ كَاشِفَةٌ ﴿٥٨﴾
نزدې راغي نزدې راتلونکې (قيامت) نيشته دې دې ره ماسویٰ د الله جَلَّ جَلَالُهٗ نه څوک بيانه ونکې
اَفَمِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ تَعْجَبُوْنَ ﴿٥٩﴾ وَتَضْحَكُوْنَ وَلَا تَبْكُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاَنْتُمْ سٰمِدُوْنَ ﴿٦١﴾
آيا پس دَ دې کلام نه تاسو تعجب کوئ، او خاندئ او جاړئ نه ، او تاسو غافل يئ .
فَاسْجُدُوْا لِلّٰهِ وَاعْبُدُوْا ﴿٦٢﴾
پس سجده اوکړئ خاص الله جَلَّ جَلَالُهٗ ره اوعبادت کوئ دَده.

﴿أَزِفَتِ الْآزِفَةُ﴾ تخويف اخروی دې مشرکانوته چه ورځ دَقيامت چه تاسوورنه انکار کوئ قريبه ده﴿الْآزِفَةُ﴾ دَقيامت په نومونوکښ يونوم دې کقوله تعالی"وانذرهم يومَ الازفة اذ القلوب...".

﴿كَاشِفَةٌ﴾ دَنفسٌ مقدرصفت دې ای نفسٌ كاشفةٌ، اوکشف ياپمعنی دَبيانولودې، يعنی ماسویٰ دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ نه دَدې بيانونکې نشته دې چه کله به قيامت راځی، کقوله تعالی: لايُجلّيها لوقتها الاّ هو (اعراف:۱۸۷) يادَ کشف نه مرادازاله اولرې کول دی، يعنی چه کله قيامت واقع شي نو بيا به ئي څوک د لرې کولو قدرت نه لري سوا د الله جَلَّ جَلَالُهٗ نه او الله جَلَّ جَلَالُهٗ به ئي لرې کوي نه ، يا کشف پمعنی دَ تاخير دې، يعنی چه کله راشی نوڅوک به ئي نشی ورستوکولې.

﴿أَفَمِنْ هَٰذَا الْحَدِيثِ﴾ «هذا الحديث» نه مراد قرآن دې، په ديکښ منکرينو دَ قرآن ته زجر دې، چه تاسو دَ دې قرآن نه انکارکوئ اوپه دې پورې استهزاء کوئ، او دا خوف نه کوئ چه په تاسو به هم داسې عذاب راشی لکه مخکنو باندې چه راغلی وؤ.

﴿وَأَنتُمْ سَـٰمِدُونَ﴾ سمود: غفلت اوبې فکرئ ته وائی، ای انتم غافلون، بعضو ئی معنی متکبّرین کړیده، دینه علاوه نورې معنې لکه اعراض، لهولعب، ګانې وئیل ئی هم کړی شویدی.

﴿فَٱسْجُدُوا۟ لِلَّهِ﴾ په آخرکښ دَسورة خلاصه اولب لباب دې چه صرف الله تعالیٰ ته سجده کوئ او دَ هغه نه غواړئ، دا آیت دَاکثروعلماؤ په نیز آیت دَسجدې دې، حضور علیه السلام دَدې آیت دَ تلاوت په وخت کښ سجده کړې وه، دَابن مسعود رضی الله عنه قول په ابتداء دَ دې سورة کښ تیر شویدې چه: اوّل سورة اُنزلت فیها سجدة : النجم ، فسجدَ رسولُ الله ﷺ وسَجَدَالنّاسُ کلهم الاّ رجلاً... ، امام شافعی رحمه الله په نزدسجده واجبه نه ده، اواستدلال هغه په قول دَزیدبن ثابت کوی چه: قرأتُ النجم عندالنبی ﷺ فلم یسجد فیها: دَدینه جواب دادې چه احتمال دې چه نبی علیه السلام ورستو سجده کړې وی، اودغه شان زید رضی الله عنه هم. تاخیردَسجدې دَ تلاوت اګرچه مکروه تنزیهی دې لیکن کیدیشی چه حضور ﷺ بیانًاللجوازکړې وی اویابل څه عذرپه وجه وی(والله تعالی اعلم).

ركوعاتها (٣)	سورة القمر مكية	آياتها (٥٥)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٥٤) وحسب النزول (٣٧)

نَزَلَتْ بَعْدَ سُوْرَةِ الطَّارِقِ وَ قَبْلَ سُوْرَةِ ص

ربط: ماقبل سورة سره ئی ربط داسې دې چه دعوه دَدې سورة دَماقبل سورة دَدعوې لپاره علت اودليل دې، سورة النجم کښ داوۇچه ستاسوخودساخته معبودان ستاسوشفاعت نشی کولې، دې سورة کښ ئی دليل دې چه﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ﴾ چه دَهرڅيزخالق مالک الله تعالی دې نودَشفاعت اختيارهم هغه سره دې، بل چاته نشته دې.

دسورة دَمضامينواجمالي خلاصه

ابتداکښ اوآخرکښ شکوه ده، زجر، تخويف اخروی، بشارت اخروی اوپه درميان کښ دَتخويف دنيوی پنځه نمونې، دغه رنګه احوال قيامت، اواثبات قيامت لپاره يوه نمونه چه انشقاق القمردې.

تفصيلي خلاصه:

﴿ ٱقْتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ ﴾آيت(١)دَاثبات قيامت لپاره نمونه ده

﴿وَإِن يَرَوْاْ ءَايَةً ﴾ آيت(٢)نه تر(٥)پورې شکوه ده

﴿يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ ﴾ آيت(٦)نه تر(٨)پورې، تخويف اخروی دې

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ ﴾آيت(٩)نه تر(١٧)پورې دَتخويف دنيوی اوله نمونه ده

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ﴾آيت(١٨)نه تر(٢٢)پورې دويمه نمونه ده

﴿كذبت ثمود بالنذر﴾آيت نمبر ٢٣ نه ترآيت ٣٢ پورې تخويف دنيوی، دريمه نمونه ده

﴿كذبت قوم لوط﴾آيت نمبر ٣٣ نه ترآيت ٤٠پورې تخويف دنيوی څلورمه نمونه ده

﴿وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ ٱلنُّذُرُ ﴾آيت(٤١)نه تر(٤٢)پورې پنځمه نمونه ده.

﴿إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ﴾ آيت (۴۷ ، ۴۸) تخويف اخروی دي

﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ﴾ آيت (۴۹) دَسورة دعوه ده،

﴿إِنَّ ٱلْمُتَّقِينَ فِي جَنَّٰتٍ وَنَهَرٍ﴾ تر آخره پورې متقينو ته بشارت دي.

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً

اِقْتَرَبَتِ	السَّاعَةُ	وَانْشَقَّ	الْقَمَرُ ①	وَاِنْ	يَّرَوْا	اٰيَةً	يُّعْرِضُوْا	
نزدې شو قيامت او اوچاودله سپوږمۍ. اوکچرې اووينی دا کفار يو معجزه نو اعراض کوی ورنه								
وَيَقُوْلُوْا	سِحْرٌ	مُّسْتَمِرٌّ ②	وَكَذَّبُوْا	وَاتَّبَعُوْٓا	اَهْوَآءَهُمْ	وَكُلُّ	اَمْرٍ	
اووائی چه داسحردې پوخ او تکذيب اوکړودئ اواتباع ئی اوکړه د خپلو خواهشاتو ، او هر امر								
مُّسْتَقِرٌّ ③	وَلَقَدْ	جَآءَهُمْ	مِّنَ	الْاَنْۢبَآءِ	مَا	فِيْهِ		
قرارنيونکې دې (په خپل وخت کښ) اوپه تحقيق راغلی دی دوئ ته واقعات (د هلاکت) هغه چه په هغی کښ								
مُزْدَجَرٌ ④	حِكْمَةٌ	بَالِغَةٌ	فَمَا	تُغْنِ	النُّذُرُ ⑤			
عبرت دې، دا حکمت دې پوره،پس هيڅ فائده نه ورکوی دوئ ته يرول .								

﴿ٱقْتَرَبَتِ ٱلسَّاعَةُ وَٱنشَقَّ ٱلْقَمَرُ﴾ دا دَاثبات قيامت لپاره نمونه ده، او د دې بيان په دوه طريقو سره کيدې شي:

(۱) چه لکه څرنګه سپوږمۍ دوه ټکړې شوه دغه شان به تاسو هم ټکړې شئ او بيا لکه څرنګه چه ټکړې دَسپوږمۍ يوځائ شوې نو دغه شان به تاسو هم دوباره يو ځائ شئ او ژوندی به شئ

(۲) شق قمرمعجزه ده دَحضورﷺ،په دې سره دَ نبوت تصديق کيږی او دَ نبی هر قول صادق وی نو دا ضروری ده چه دَ قيامت دَ راتلوکوم خبرچه حضورﷺ ورکړيدې هغه صادق دې.

شقّ القمريعنی سپوږمۍ دوه ټکړې کيدل دَحضورﷺ په معجزاتو کښ مشهوره معجزه ده، په بخاری او مسلم وغيره کتابونو دَ حديثو کښ دا په صحيح سند سره مروی ده،مفسرينو

ليکلی دی چه دَ هجرت نه تقريباً پنځه کاله قبل حضور ﷺ ته اهل مکّه اوئيل چه مونږته پخپل نبوت څه دليل اوښايه. نوحضور ﷺ ورته سپوږمۍ ده ټکړی کيدل اوښودل حتی چه حرا غر دَ دوه ټکړو په مابين کښ وؤ. په صحيح بخاری اومسلم کښ دی چه ابن مسعود ﷺ فرمائی: انشق القمرعلی عهد رسول الله ﷺ فرقتين فرقة علی الجبل وفرقةً دونه فقال رسول الله ﷺ اشهدوابه، په يو روايت کښ دی چه سپوږمۍ دوه ټکړې شوه نو قريشواووئيل چه داسحر دې، نو يو کس اووئيل چه انتظار وکړئ چه مسافر راشی هغوئ څه وائی، ځکه چه محمّد عليه السلام دا طاقت نه لری چه په ټولو خلقو سحر وکړی چه مسافر راغلل نو هغوئ ورته هم دغه خبر اوکړو، په درّ منثور وغيره کښ دی چه مشرکان نبی ﷺ ته راجمع شول چه په هغې کښ وليدبن مغيره. ابوجهل، عاص بن وائل وغيره مشران وؤ، حضور ﷺ ته ئی اووئيل که چرته په رښتيا نبی ئی نو دا سپوږمۍ دوه ټکړې کړه چه يوه حصه په جبل ابی قيس وی اوبله په قينقاع وی، نونبی کريم ﷺ ورته اوفرمائيل کچرته مادا کار اوکړو نوايمان به راوړئ؟ نو هغوئ وئيل، هاؤ. دَځوارلسمې سپوږمۍ وه نبی کريم ﷺ دَ الله ﷻ نه دغه سوال اوکړو نو سپوږمۍ دَوه ټکړې شوه نصف په ابی قبيس وه اونصف په قينقاع وه، حضور ﷺ ورته اوازونه کول چه اشهدوا.

بعضِ قديم فلاسفه اودشمنان اسلام دَانشقاق القمرنه انکارکوی اودابعيده ګڼړی چه داسې کاردی واقع شی، علامه شبيراحمدعثمانی رحمه الله دَدې په جواب کښ ليکلی دی چه، طحاوی اوابن کثيراونوروددې واقعی دَتواتردعوه کړيده، اوپه څه عقلي دليل سره تراوسه پورې دَداسې واقعاتومحال کيدل نشی ثابت کيدلې، اوصرف دَاستبعادپه بناءباندې داسې قطعی الثبوت څيزونه نشی رد کيدلې، بلکه استبعاد خو دَ اعجاز(معجزې) سره لازم دې، ورځينؤ واقعاتو ته څوک معجزه وئيلې شی؟

هرچه دې دااعتراض چه که شق القمرواقع شوې وې نوټولې دنياوالې نه دې ليدلې اوپه تواريخو کښ ئی ولې ذکرنشته دې نو دَ دې په جواب کښ مولانا رحمه الله ليکلی دی چه داواقعه دَ شپې شوي ده، دَ مطالعو دَ اختلاف په سبب په بعضِ ملکونوکښ دغه وخت ورځ وه، اوپه بعض ځايونوکښ نيمه شپه وه اوخلق اوده وؤ.

دَدې حالاتو باوجوددَدې واقعې ذکرپه تاريخ کښ هم ملاويږی، دَهندوستان په تاريخ ليکلی شوې مشهورکتاب تاريخ فرشته کښ دَدې ذکرموجوددې چه دَهندوستان راجه ماليبار دا واقعه په خپلو سترګو ليدلې وه اوپخپل ډائری کښ ئی ليکلې وه، بيا څه وخت ورستو يو

صحابی حبیب بن مالک رضي الله عنه تجارتی سفر باندي هندوستان ته راغي نو دي راجه ورنه دَ دغې واقعې متعلق معلومات اوکړل،نوصحابی ﷺورنه وضاحت اوکړوچه الله ﷻ خپل آخری پیغمبرمبعوث کړیدي، دَ هغه په معجزې سره سپوږمۍ دوه ټکړې شوه او بیا یو ځائې شوه،دي اوریدلو سره راجه مسلمان شو (بحواله معالم العرفان).

﴿وَإِن يَرَوۡاْ ءَايَةً﴾دي کښې د کفارو اعتراض ذکر کیږي په معجزې باندي ، چې دا معجزه نه ده بلکه سحر دې ، او د «اية» نه مراد دلته معجزه د انشقاق القمرده﴿ مُّسۡتَمِرّٞ ﴾یادَ مرةٌ نه دې پمعنی دَ مضبوط اوقوی،یادَ مرور نه دې پمعنی دَ ذاهب یعنی لکه څرنګه چه مخکښې ساحران تلی دی تیرشویدی دغه شان به دې هم تیرشی،یاپمعنی دَ دائمٌ دې،ای مطرد دائمٌ بالی به محمدﷺ علی مرّالزمان.

﴿ وكذبوا و اتبعوا اهواءهم﴾دا دوئ اعتراض منشا بیان دې .چې د دې بنیاد اومنشاعناد او خواهش پرستي ده نور هیڅ نه دی.

﴿وَكُلُّ أَمۡرٖ مُّسۡتَقِرّٞ﴾دا جواب دې دوئ د اعتراض «سحر مستمر» ،«امر» نه مراد دلته هر امر مؤثر دې.یعنی هر امر چې هغی کښې الله ﷻ څه نه څه تاثیر ایخې وی،نو هغه خپل اثر ضرور پریګدی ،اګرچه څنې وخت څه عارضی اسبابو دَ وجهې نه دباؤ شی،لیکن انجام او نتیجه دا وي چې بلآخر هغه خپل اثر ظاهر کړی،نو دغه شان دَ حق او دعوت محمدیه تاثیر غلبه ده، اګرکه څه وخت پورې به دباؤ وی خو بلآخر همدا به غالب کیږی،کافران دې دی غلط فهمی کښې نه اوسی چه دا سحر دې یووقتی شې دې،څه مده پس به ختم شی.

﴿وَلَقَدۡ جَآءَهُم مِّنَ ٱلۡأَنۢبَآءِ ﴾دیکښې د کفارو عناد او سرکشۍ بیان دې چې دوئ دیر اویرولې هم شو او پرحکمت خبرو سره ورته نصیحت هم اوشو خو په دوئ دې تولو خبرو هیڅ اثر اونکړو،«من الانباء»بیان مقدم دې،دَ«ما» اود انباء نه مراد دَ هلاکت واقعات دی دَ تیرشوی امتونو.﴿مُزۡدَجَرٌ﴾دَزجرنه ماخوذدې،اصل کښې "مزتجر"وؤ، بیا تاء په دال سره بدل کړیشوه، نو مزدجر شو. مصدر میمی دی ای ازدجار،او غیر ثلاثی مجرد نه مصدر میمی

دهغه باب اسم مفعول په وزن رازی،او یا اسم ظرف دې، اي موضع ازدجار، یعنی ځائ دَ عبرت او دَ منع کیدلو دَ معاصیؤو نه.

﴿حِكْمَةٌ بَٰلِغَةٌ﴾ای تامةٌ بلغت منتهى البيان، یعني د بیان او وضاحت په دې انتها شوې ده، دایابدل دې دَ"ما"نه یادَمبتدامحذوف خبردې چه "هذهِ" دې، او اشاره یا "الانباء" ته ده ، یا قرآن ته ده،یعنی دا قرآن دَ پوره علم ، حکمت اونصیحت مجموعه ده.

﴿فَمَا تُغْنِ ٱلنُّذُرُ﴾"فاء" تفریعیه ده یعنی باوجود دَدی نه چه سابقوؤ امتونو حالات دوئ ته معلوم شول ،او قرآن چی حکمت نه ډک کلام دې هغه په دوئ لوستلې کیږی ،خو دی باوجود دوئ دَ رسولانو دعوت نه منی اودَ هغوئ خبره پری څه اثر نه کوی(ابو السعود)

((ما)) نافیه ده،ای لم تغن النذرشیئًا(خطیب)او "نذر"یاجمع دَنذیرده،یعنی دوئ ته پیغمبران هیڅ فائده نه ورکوی،ځکه چه دَ دوئ په زړونو مهر دَ ضلالت لګیدلې دې، یا "نذر" مصدردې پمعنی دَانذار،یعنی یره ول،یعنی که ته دوئ دَالله ﷻ دَعذاب اوویره وې خودوئ ته فائده نه ورکوی. یا ((ما))استفهامیه ده،ای فایّ شیءٍ تُغنی النّذر عنهم وهم معرضون عنها (قرطبی، شربینی وغیره).

فَتَوَلَّ عَنْهُمْ يَوْمَ يَدْعُ الدَّاعِ إِلَىٰ شَيْءٍ نُّكُرٍ ۝٦ خُشَّعًا

پس اعراض اوکړه ته دَدوئ نه،هغه ورځ چه راغواړي به راغوختونکي يو څيز نا اشنا (بد) ته .حال دا چه خکته به وی

أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ ۝٧ مُّهْطِعِينَ

سترګې دَدوئ را اوځی به دَ قبرونو نه ، لکه چې دوئ ملخان وی خواره واره تیټ سر منډی وهونکی به وی

إِلَى الدَّاعِ ۖ يَقُولُ الْكَافِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ۝٨

بلونکی ته، وائی به کافران چه دا ورځ ده سخته.

﴿فَتَوَلَّ عَنْهُمْ﴾ دا تسلی ده حضور علیه السلام ته چی نصیحت انتهاء ته رسیدلی دی،واضح واضح دلیلونه مخکښې راغلل ،اوس که دوئ ایمان نه راوړی نو دیکښې ستا څه قصور نشته.

﴿ يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ ﴾دا تخويف اخروى دي کافرانوته او جمله مستانفه ده او ظرف متعلق دي «يخرجون» سره. ،يعنى دوئ دي بى غمه کيږی نه ،قيامت ورځ شته.دوئ به الله ﷻ حضور ته پيش کيږی،او هغه به ورسره حساب کتاب کوی،دي تخويف ضمن کښ الله ﷻ دَ قيامت شپږ هولناک مناظر بيان کړل:

‹۱›﴿ يَوْمَ يَدْعُ ٱلدَّاعِ ﴾اسرافيل عليه السلام به شپيلئ اووهی.او آواز به اوکړی: هلموا الى عرض الرحمن چی خپل پروردګار دربارته حاضر شئ.

‹۲›﴿شَيْءٍ نُّكُرٍ ﴾ډير ناګوار او نااشنا منظر به وی ،چی هغه منظر سره به دوئ مخکښ واسطه نه وی راغلی،«نكر»صيغه صفت ده فُعُل په پمعنى ناګوار او نآآشنا کښ استعماليږی.

‹۳›﴿خُشَّعًا أَبْصَٰرُهُمْ يَخْرُجُونَ ﴾يعنى ټيټى سترګی او ذليله به دا کافران دَقبرونو نه را اوځی، چونکه ذلت اثر په سترګو کښ ښکاری نو دی وجهی نه دَخشوع نسبت ابصارو ته اوشو. «خشعا» حال دي دَ ضمير دَ«يخرجون» نه

‹۴›﴿كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُّنتَشِرٌ﴾ډير زيات خلق به دی اوده ډيری بدحواسئ نه به سرګردان اوخواره واره روان وی،لکه خواره واره ملخان وی،يو يو طرف ته ټوپ وهی،بل بل طرف ته.

‹۵›﴿مُّهْطِعِينَ﴾ستيونو به يی ټيټ وی او زر زر به آواز کونکی طرف ته روان وی، مهطع ويلي کيږی، هغه کس ته چی دَ ډيرې يری دَوجهی نه يی سرټيټ کړي وی،اخو ديخوا نه ګوری او سيدها خپل منزل طرف ته روان وی.‹التحرير والتنوير›

‹۶›﴿يَقُولُ ٱلْكَٰفِرُونَ هَٰذَا يَوْمٌ عَسِرٌ ﴾کافران به دا نعرې وهی چی داخو ډيره سخته اوتکليف ده ورځ ده.

مفسرين ليکی چی کفارو طرف دَ فعل اسناد، دلالت کوی په دې خبرې چه دا ورځ به په مؤمنانو باندې دومره سخته نه وی ‹ابو السعود›

كَذَّبَتْ	قَبْلَهُمْ	قَوْمُ	نُوحٍ	فَكَذَّبُوا	عَبْدَنَا	وَقَالُوا
تکذيب کړي	وو مخکښ	دَدوئ نه	قوم	دَنوح عليه السلام،نودوئ	تکذيب کړي	وو زمونږ دبنده،اووې ويل

مَجْنُوْنٌ	وَّازْدُجِرَ ⑨	فَدَعَا	رَبَّهٗٓ	اَنِّيْ	مَغْلُوْبٌ	فَانْتَصِرْ	⑩

دامجنون دي،اواورتلي شو.پس سوال اوکړوهغه دَرب خپل نه چه بیشکه خه عاجزه یمه نوځماامداداوکړه

فَفَتَحْنَآ اَبْوَابَ السَّمَآءِ بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ⑪ وَّفَجَّرْنَا الْاَرْضَ عُيُوْنًا فَالْتَقَى

نوپرانستی مونږدروازی دَاسمان په اوبو بهیدونکو سره . او را اوسپړدلي مونږ زمکی کښې چینی نویوځائ شوې

الْمَآءُ	عَلٰٓى	اَمْرٍ	قَدْ	قُدِرَ ⑫	وَحَمَلْنٰهُ

اوبهٔدَاسمان اوزمکی په (پوره کولو دَ) هغه امر چه فیصله کړې شوې وو. اوسورکړې وؤمونږنوح علیہ السلام

عَلٰى	ذَاتِ	اَلْوَاحٍ	وَّدُسُرٍ ⑬	تَجْرِيْ	بِاَعْيُنِنَا	جَزَآءً

په کشتئ تختو والا او میخونو والا باندې ، چلیده زمونږ د نظر لاندې (غرق شو دغه قوم) دَپاره دَبدله اغستلو

لِّمَنْ	كَانَ	كُفِرَ ⑭	وَلَقَدْ	تَّرَكْنٰهَآ	اٰيَةً

دَهغه چاچه ناشکری ئی کړې شوې وه،په تحقیق سره پرېښودله مونږدغه (کشتئ) نښه دَعبرت،

فَهَلْ مِنْ مُّدَّكِرٍ ⑮ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِيْ وَنُذُرِ ⑯ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا

نوآیاشته څوک عبرت اخستونکې،پس څنګه وؤعذاب ځمااویره ول ځمااوپه تحقیق اسان کړیدې مونږ

الْقُرْاٰنَ	لِلذِّكْرِ	فَهَلْ	مِنْ	مُّدَّكِرٍ	⑰
قرآن	دپاره	دَنصیحت،نوآیاشته	څوک	نصیحت	اغستونکې

﴿كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ﴾دَتخویف دنیوی په پنځه نمونوکښې **اوله نمونه** ذکرکیږی چه هلاکت دَقوم نوح دې،دَقوم نوح دَهلاکت تفصیلی واقعه په دولسمه(۱۲)اواتلسمه(۱۸)سپاره کښې تیره شویده.﴿فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا﴾ دوباره د ((کذبوا)) راوړل (۱) یا دَپاره دَتفسیر دی چی هغه تکذیب دادې (۲)او یا دَپاره دَتکرار دی چی تکذیب یو ځل نه وؤ،بلکه مسلسل اونسل در نسل دَهغوئ دا روش اوعادت وؤ،(۳) او یا تخصیص بعد التعمیم قبیل نه دې،یعنی ((کذبت

قبلهم قوم» كښې تكذيب نه مراد مطلق نبوت اورسالت انكار وؤ .او «فكذبوا عبدنا» كښې خاص دَ نوح عليه السلام دَنبوت نه انكار دي، «عبدنا» نه مرادنوح عليه السلام دي،نوح عليه السلام خپل قوم ته دعوت وركړوليكن هغوئ ئې تكذيب اوكړاو وئيل چه ﴿مَجْنُونٌ﴾دې ليونې دې.

﴿وَٱزْدُجِرَ﴾ عطف دې په «قالوا»،او خبر دې دَ الله تعالى د جانبه يعنى تبليغ دين په لار كښې ډير رټلى شوى وؤ ،مختلف قسم تكاليف ورته رسولى شوى وؤ، او مختلفوحربو سره هغه لار كښې ركاوټونه جوړ كړيشوى وؤ. نقل دى چه دَنوح عليه السلام دَقوم بعضِ خلقوبه چه چرته نوح عليه السلام اوليدلونومرئ بې ورته خپى كړه حتّى چه هغه به بې هوشه شوچه كله به په هوش شونووئيل بې، اللّهم اهدِقومى فانهم لايعلمون(كشاف، البحرالمحيط).

بعضِ وائى چه﴿وَٱزْدُجِرَ﴾عطف دې په﴿ مَجْنُونٌ﴾باندې، او دا هم مقوله دكفارو ده يعنى دوئ اووئيل چه په ده پيريان راغلى دى اوعقل ئى ختم شويدې،اي:ازدجرته الجنّ وذهبت بلبّه و تخبطته (روح،شربينى). ليكن اوله معنى اصحه ده.

نهه نيم سوه كاله تكليفونوبرداشت كولونه ورستوچه كله نوح عليه السلام مايوسه شونودعائى اوكړه چه﴿ أَنِّى مَغْلُوبٌ فَٱنتَصِرْ ﴾نو الله تعالى ئى دعاقبوله كړه﴿ فَفَتَحْنَآ أَبْوَٰبَ ٱلسَّمَآءِ ﴾حضرت ابن عباس رضي الله عنه دَ«ابواب السماء»نه حقيقي دروازې اخيستى دي،چې په دې ورځې خلاف عادت الله تعالى د وريځو په ځائ د اسمان نه اوبه اورولې ،حالانكه هځې د وريځى نه باران وريګى،او عام مفسرينو داآيت په تمثيل محمول كړيدى،چه لكه څرنګه چې اوبو يو تيز طوفان دروازې ماتى كړى اوپه مخ روان شى،دغه شان په دى روځ داسى باران وريدو لكه آسمان دروازى كولاؤ شوى وى،او اوبه ترينه رابهيږى(روح).

﴿بِمَآءٍ مُّنْهَمِرٍ ﴾يعنى ډيربهيدونكى اوبه وى، ساسكې ساسكې نه وؤ. "باء"دآله دپاره راغلى ده لكه" كتب بالقلم " كښې دَ آلې دَپاره ده، ديكښې دَابو شدت طرف ته اشاره ده چې دومره تيزې وې چې آسمانونو دروازې هم دې كهولاؤ كړې . مفسرين وائى چه څلويښت ورځې مسلسل دغه اوبه وريدلې.

﴿ وَفَجَّرْنَا ٱلْأَرْضَ ﴾ يعنى تولہ زمکہ مو چینہ چینہ کړہ اوهرځائى نہ اوبہ راوتلل شروع شو، دَاسمان نہ هم اوبہ راوریدلې،اوزمکې نہ هم اوبہ راوتلې ﴿فَٱلْتَقَى ٱلْمَآءُ ﴾ التقاء پہ معني د اجتماع سره دي ،«الماء» نہ مراد جنس اوبہ دي ، چې هغہ داسمان او زمکي دواړو اوبہ وې «امر» نہ مراد اندازه او مقدار د اوبو دي چې دې طوفان د پاره الله ﷻ پہ تقدير كښې ليكلې وو(تفسير ابن عطيه) يعني آسمان نہ هم اوبہ رااوبهيدلې او زمكې نہ هم ، تردې چې دواړه اوبہ ميلاويدو نہ پس هغہ مقدار تہ اورسيدلې چې كوم ورلہ پہ تقدير كښې ليكلې وو، او يا «امر»نہ هلاكت د قوم نوح دې ، يعني د آسمان او زمكې اوبو پہ هلاكت دقوم نوح اجماع اوكړه،

﴿عَلَىٰ ذَاتِ أَلْوَٰحٍ ﴾اى على سفينة ذاتِ الواحِ،﴿وَدُسُرٍ ﴾جمع دَ دسار ده، غټ مېنځ تہ وائى،ياهغه رسۍ اوپړې چه كشتۍ پرې ترلې كيږى.﴿تَجْرِى بِأَعْيُنِنَا ﴾يعنى زمونږپه نگرانۍ اوحفاظت كښې چليده،طوفان او نور آفاتو دَ بحر نہ محفوظه وه. ﴿جَزَآءً ﴾مفعول له دې اى أغرقواجزاءً،غرق كړې شول لپاره دَبدله اخستلودَهغه چاچه ناشكرى ئې شوې وه چه نوح عليه السلام وو،هرنبى نعمت وى دَالله ﷻ دَطرفه پہ امت باندې، نو دوئ دَ دې نعمت ناشكرى اوكړه نوهلاك شول.

﴿وَلَقَد تَّرَكْنَٰهَآ ﴾ضمير يا سفينۀ نوح تہ راجع دې،دَقتاده رحمه الله نہ روايت دې چه الله ﷻ سفينه دَ نوح پہ جودى غر باندې باقى پريخودله لپاره دَعبرت حتّى چه اوائلو دَ دې امت اوليده، يا ضمير راجع دې قصّه دَ نوح عليه السلام تہ يعنى دا قصه مو دَ عبرت ذريعه اوګرځوله.﴿فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴾استفهام دَامرپمعنى دې،يعنى نصيحت اوعبرت ورنه قبول كړئ.

«مدكر»په اصل كښې،مذتكردې تاء په دال سره بدل كړې شوه او ذال په دال بدل شو او بيا ادغام اوشو نو «مدكر» شو

﴿ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا ٱلْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ ﴾جمله قسميه ده چه دَخلورواړوقصوپه آخركښې ذكر شويده، لپاره دَتاكيددَمضمون.﴿ لِلذِّكْرِ ﴾لپاره دَوعظ اونصيحت اسان دې يعنى هرسړى پكښې دَخپل

حال مطابق نصيحت اوعبرت موندلی شی،اوبعضو مفسرينو ذکر نه مراد حفظ او يادول دَ قرآن اخيستي دي ،چی دا دَ قرآن يو لويه معجزه ده چی دومره لوئ کتاب په دومره آسانه سره ياد شی چې بل يو کتاب هم داسی نشته ، البته استنباط دَ احکام اومسائل د دې کلام اسان کار نه دي،لکه بعضې احمقان وائی چه په لږ غور وفکر او عربي ګرائمر ونيلو سره پرې هم سرې پوهيدې شي او احکام ترينه اخذ کولې شې ، او په دې آيت په سهارې سره دَ قرآن نه دَ احکامو او دَ مسائلو استخراج کوی،حالانکه دا واضحه ضلالت دې،علماء دَ دې امت اوائمه کرامو دَ احکامودَ استنباط او دَ قرآن په اسرارو او په دقائقو باندې پوهيدلو لپاره خپل عمرونه صرف کړيدی.

﴿فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ﴾ دلته هم استفهام پمعنی دَامردې،يعنی دَقرآن نه نصيحت واخلئ اودايادکړئ.

كَذَّبَتْ عَادٌ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿١٨﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ رِيحًا
تکذيب کړې وؤعاديانوپس څنګه وؤعذاب زما اوويره ول زما بيشکه مونږليږلې وؤ په دوئ باندی باد
صَرْصَرًا فِي يَوْمِ نَحْسٍ مُّسْتَمِرٍّ ﴿١٩﴾ تَنزِعُ النَّاسَ كَأَنَّهُمْ أَعْجَازُ
تيز په ورځ د نحوست مسلسل کښی .راويستل به دې باد خلق داسې لکه دوئ تنی
نَخْلٍ مُّنقَعِرٍ ﴿٢٠﴾ فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٢١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا
دَکجورو دی چه دَ ويخه راويستلی شوې وی. پس څنګه وؤ عذاب زما اوويره ول زما .اوپه تحقيق اسان کړيدې مونږ
الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٢٢﴾
قرآن دپاره دَنصيحت نوآياشته څوک نصيحت اغستونکې

﴿كَذَّبَتْ عَادٌ﴾ **دادويمه نمونه ده** دَتخويف دنيوی چه هلاکت دَقوم عاددې،دَدوئ دَهلاکت تفصيلی واقعه هم په اتمه،دولسمه،سپاروکښی تيره شويده،﴿رِيحًا صَرْصَرًا﴾تيزه هوايا سخته يخه هوا ،تفصيلی بحث په سورة حم سجده کښی تيرشويدې،﴿فِي يَوْمٍ﴾دَيوم نه مراد مطلق وقت

دي، څکه چه دا هوا صرف يوه ورځ نه وه بلکه مسلسل وه(۷)شپې اته(۸)ورځې وه،نو دَ« فِي ايام نحسات» سره ئي تناقض نشته﴿نحس﴾يعنى دَدوئ په حق کښ سپيره وه ﴿مُّسْتَمِرٍّ﴾ دا يا صفت دَ ﴿ نَحْسٍ﴾ دې يعنى دانحوست اوسپيره والې په دى خائ ختم نشو بلکه هلاکت نه بعد هم د هغى اثرجارى دې ،چى برزخ کښ ورته مسلسل عذاب ورکولى کيږى، يا «مستمر» د «يوم» صفت دې،او استمرار نه مراد يا استمرار بحسب الزمان دې ،يعنى هغه ورځ په دوئ مسلسل وه ،تردې چې ئي هلاک کړل،اويا استمرار بحسب الاشخاص دې،يعنى عذاب دهغې ورځې، دوئ کښ هر يوکس ته شامل وو ،وړوکى وواو که لوئ،بهر حال دى دواړو توجيهاتو مطابق مستمر خپل معروفه معنى دوام تسلسل کښ استعمال دې،او بعضو مفسرينو «مستمر» دَ "مر" بمعنى قوت نه ماخوذ گنړلې دې يعنى دا ډيره قوى او درنه ورځ وه،او بعضو ويلې دى چى دا« مرارة» نه ماخوذ دې، يعنى دا ډير ه ترخه او بې خونده ورځ وه او څنى مفسرينو دَ مرور معنى کښ اخستى دې ،اې ذاهب يعنى نحوست ورځى وې چى لاړې(تفسيرعثمانى)

﴿تَنزِعُ ٱلنَّاسَ﴾مروى ده چه دوئ پدغه ورځ په کندواوپه سورنگونو کښ پټ شوى وو او تيزې هواپه وجه ئى يو بل نيولى وو ،نوهوا رااوويستل اوالته ئى اوغورځول اوځتونه به ئى ورته مات کړل،نوسرونه به ئي دَجسمونونه جدا شول،﴿ كانهم اعجاز نخل منقعر﴾چونکه دوئ اوګده اوګده قد و قامت والا وو،نو هواچى اوچت کړل او سر دَ لاندى را اوغورځول نو داسى معلوميدل لکه کهجورې ونه دَ بيخه را اوباسلې شوې او په څمکه غورځولې شوې وى.

اوځنى مفسرين ليکى چى دا صرف دَدوئ سرونو تشبيه ده د کهجورو بيخونو سره ،يعنى هوا ورله ستونه او سرونه مات کړل او دا داسى خکاريدل لکه کجهورى ونې بيخونه چى راوباسلى شوى وى(روح)

نخل اسم جنس دې،صفت ئى مذکرهم راتلې شى دَوجه دَرعايت دَلفظ نه لکه دلته منقعرٍ راغلې دې اومؤنث هم راتلې شى رعايةً للمعنىٰ کمافى قوله تعالى: كانّهم اعجازنخلٍ خاوية(الحاقة:۷).

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ ﴿٢٣﴾ فَقَالُوٓا أَبَشَرًا مِّنَّا وَاحِدًا نَّتَّبِعُهُ ۥٓ

تکذیب کړې وو ثمودیانو د پیغمبرانو پس اوویل دوئ آیا د یو بشر چې زمونږ نه دې . یواخې دې، مونږ د هغه اتباع نې اوکړو.

إِنَّآ إِذًا لَّفِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٢٤﴾ ءَأُلْقِىَ الذِّكْرُ عَلَيْهِ

بیشکه پدغه وخت کښې به مونږ یو خامخا په گمراهئ اولیونتوب کښې آیا نازله ولې شی وحی په ده باندې

مِنۢ بَيْنِنَا بَلْ هُوَ كَذَّابٌ أَشِرٌ ﴿٢٥﴾ سَيَعْلَمُونَ غَدًا

به مینځ زمونږ کښې بلکه دې ډیر دروغژن تکبرکونکې دې. زرده چه پوهه به شی دوئ صبا

مَّنِ الْكَذَّابُ الْأَشِرُ ﴿٢٦﴾ إِنَّا مُرْسِلُوا النَّاقَةِ فِتْنَةً لَّهُمْ

چه څوک دې ډیر دروغژن، تکبرکونکې، بیشکه مونږ لیږونکی د اوښې یو د پاره دامتحان د دوئ

فَارْتَقِبْهُمْ وَاصْطَبِرْ ﴿٢٧﴾ وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ الْمَآءَ قِسْمَةٌۢ بَيْنَهُمْ

پس ته انتظارکوه د دوئ او صبرکوه. او خبرکړه دوئ چه بیشکه اوبه ویشلی شویدی په مینځ ددوئ کښې،

كُلُّ شِرْبٍ مُّحْتَضَرٌ ﴿٢٨﴾ فَنَادَوْا صَاحِبَهُمْ فَتَعَاطَىٰ فَعَقَرَ ﴿٢٩﴾

هر نمبر د اوبوته به حاضر وی نمبروالا ،نودوئ را اوباله ملگرې خپل. نو هغه نوره راوغسته اوزخمی نې کړه(اوښه)

فَكَيْفَ كَانَ عَذَابِى وَنُذُرِ ﴿٣٠﴾ إِنَّآ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ صَيْحَةً وَٰحِدَةً فَكَانُوا كَهَشِيمِ

پس څنگه وو عذاب زما او یره ول زما بیشکه مونږ اولیږله په هغوئ باندې چغه یوه نوشول هغوئ په شان د میده ریزو

الْمُحْتَظِرِ ﴿٣١﴾ وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْءَانَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٣٢﴾

«د شپول، د شپول جوړونکی او په تحقیق اسان کړیدې مونږ قرآن د پاره د نصیحت نو آیا شته څوک نصیحت اغستونکې.

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِالنُّذُرِ﴾ دادریمه نمونه ده د تخویف اخروی چه هلاکت د ثمودیانو دې، د دوئ د هلاکت تفصیل هم په اتمه، دولسمه سپاره کښې تیرشویدې.

﴿فَقَالُوٓا۟ أَبَشَرًا﴾ دا د دوئ تکذیب تفصیل بیان دي ،،بشرا،،مفعول به دي فعل محذوف دپاره . چې نتبعه دي او ورستو ((نتبعه)) ئی تفسیرکوی ای انتبع بشرا...او استفهام دَ انکار لپاره دي ((منا)) یعني زمونږ جنس نه دي ، حالانکه رسول خو فرشته پکار ده.((واحدا)) تن تنها دي ، ډله او پارټي ئي نشته ، نو ولې مونږ د داسې کس اتباع اوکړو. ﴿إِنَّآ إِذًا﴾یعنی که مونږ دَ داسې کس اتباع اوکړه نو دابه لويه ګمراهی اوليونتوب وی. ﴿وَسُعُرٍ﴾سعر اسم مفرد دی بمعنی دَ جنون ،یعنی ډیر غټ لیونی به یو کچرته مونږ اتباع اوکړه،اویا ((سعر)) جمع سعیر (بمعنی دَ اور) ده، دې صورت کښ دَ دوئ دا مقوله دَحضرت صالح علیه السلام هغه قول جواب دې چی هغه به ورته وی چی کچرته ځما اتباع نه کوئ نو تاسوبه ګمراه وئ او اور ته به ځان اوغورځوئ،نو ذوئ دَدې الټه جواب ورکړو، یعنی کچرته مونږ ستا اتباع اوکړه، نو ځان به ګمراه کړو،او اورونو ته به اوغورځوؤ.

﴿ أَءُلْقِىَ ٱلذِّكْرُ ﴾ ((الذکر)) نه مراد وحي ده ، یعنی آیاپه ده وحی نازلیږی ، په مونږ کښ چې دومره مالداره اوغټان موجود دی په هغوئ ولې نه نازلیږی،دې نه معلومیږی چه دې ډیر دروغژن او کبر جن دې (نعوذبالله)﴿أَشِرٌ﴾ای شدیدالبطر

﴿سَيَعْلَمُونَ غَدًا﴾ای قیل له،صالح علیه السلام ته اووئیلې شودَطرفه دَالله تعالی نه چه عنقریبه ده چه معلومه به شی چه کذاب اواشرخوک دې،مراددَ﴿ غَدًا ﴾نه وخت دَعذاب دنیوی دې یاورنه ورځ دَقیامة مراده ده.

﴿إِنَّا مُرْسِلُوا۟ ٱلنَّاقَةِ ﴾ارسال دَناقې کنایه ده دَاخراج نه،ثمودیانودَصالح علیه السلام نه مطالبه اوکړه چه که ته نبی ئی نو دَ دې وچ کلک غر نه حامله اوښه پیدا کړه،نوصالح علیه السلام دعااوکړه نواوښه پیداشوه.﴿فِتْنَةً﴾یعنی دااوښه دَدوئ لپاره امتحان دې چه اوس هم ایمان راوړی او که نه ((فارتقبهم))ته صرف دوئ انتظار او تماشه کوه چې څه کوي ((واصطبر)) او د دوئ په طغیان او په تکلیفونو باندې صبر کوه

﴿وَنَبِّئْهُمْ أَنَّ ٱلْمَآءَ قِسْمَةٌۢ﴾ يعنى اوبه به دثمود ديانو اودناقې په مابين کښې تقسيم وى په سورة الشعراء (۱۵۵) کښې دامضمون داسې بيان شويدې لهاشربٌ ولكم شربُ يومٍ معلوم يعنى يوه ورځ به دا اوبه څکى يوه ورځ به ستاسو څناورڅکى. ﴿كُلُّ شِرْبٍ﴾ شرب حصه يا نمبر د اوبو ﴿مُّحْتَضَرٌ﴾ اى يحضره صاحبه في نوبته. هريوبه خپلې خپلې حصې اونمبرته حاضريږى دبل نمبر ته به نه حاضريږى. ثموديان ددې ناقې نه تنګ شول څکه چه دې به ډيرې اوبه څکلې نودې د قتلولو منصوبه ئى جوړه کړه، دې لپاره ئى يوسړې تيارکړو چه دهغه نوم قداربن سالف وؤ، هغه توره راوغسته، اول ئى ترې خپې پرې کړې اوبيائى قتل کړه ﴿فَنَادَوْا۟ صَاحِبَهُمْ﴾ ملګرې خپل چه هغه قدار بن سالف وؤ ﴿فَتَعَاطَىٰ﴾ تعاطي يو كار په خپله كولو ته وئيلې كيږي، د عطا نه ماخوذ دې، مطاوع دې د عاطى، اي: عاطيته فتعاطى، يعني ماورله (څه شې) وركړو نو هغه واغستلو، د آيت د اسلوب نه معلوميږې چې قوم ټول دې اوښې نه تنګ وو، خو د چا براه راست په خپله قتلولو جرات نه كيدو، بلكه يو بل ته ئي دا معامله سپارله، نو دې بدبخت سره ئي خبره اوكړه، نو ده د براه راست قتل ذمه واري واغستله ﴿فَعَقَرَ﴾ زخمى ئى كړه بيائى قتل كړه.

﴿صَيْحَةً وَٰحِدَةً﴾ يعنى جبرئيل عليه السلام ورباندې چغه اوكړه چه دهغې پوجه دټولوزړونه اوچاؤدل اومردارشول، په سورة اعراف كښې د الرجفة (زلزله) ذكردې نوزلزله پرې دلاندې نه راغله اوصيحه پرې دبره نه راغله. ﴿فَكَانُوا۟ كَهَشِيمِ ٱلْمُحْتَظِرِ﴾ «هشيم» د هشم نه دې، هشم ماتيدو ته وئيلې كيږي، او «هشيم» وچې ګيا، غنو او پاڼو ته وائي څكه چې دا هم زر ماتيږي، او دلته ترينه مراد په طور خاص وچې غنې دي، «المحتظر» د حظيرة نه دې او حظيرة د ګډو بيزو نه چاپيره د غنو او سانګو نه جوړشوى شپول (باړ) ته وائى چه په هغې كښې د ننه ګډې بيزې محفوظ وى او «المحتظر» صاحب الحظيرة، شپول جوړه ونكى ته وائى. نو «هشيم المحتظر» نه مراد يا هغه ميده ميده ذرات دي چې شپول د پاره جمع كړې شوي ازغواو سانګو نه په آخركښې پاتې شوې وي چې هغه چور چور او منتشر خواه واره وي، او يا ترينه مراد هغه اوچ او ميده ميده ذرات دي چه دشپول نه پريوځى اوګډې بيزې ئى په خپوسره چوره چوره

اومیده میده کړی، نو مطلب دا شو چې الله ﷻ دوئ داسې ذرې ذرې کړو لکه شپول جوړولو دپاره جمع کړې شوو لرګو په ویخ کښې چې کوم د ازغو واړه واړه ذرات پاتې شي

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ ﴿٣٣﴾ إِنَّا أَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ حَاصِبًا

تکذیب کړې وؤقوم دلوط علیه السلام په پیغمبرانو،بیشکه مونږ لیږلې وه په دوئ باندې هوا د کانړو

إِلَّا آلَ لُوطٍ ۖ نَّجَّيْنَاهُم بِسَحَرٍ ﴿٣٤﴾ نِّعْمَةً مِّنْ عِندِنَا ۚ كَذَٰلِكَ

مګر آل دَ لوط ، نجات ورکړو مونږ دوئ ته په وخت دَ سهارکښې له وکهې دَ انعام د طرفه زمونږ نه ، هم دغه شان

نَجْزِي مَن شَكَرَ ﴿٣٥﴾ وَلَقَدْ أَنذَرَهُم بَطْشَتَنَا

بدله ورکوؤ مونږ هغه چاته چه شکرکوي.اوپه تحقیق یره ولی وؤ لوط. دوئ دَ نیولو زمونږ نه،

فَتَمَارَوْا بِالنُّذُرِ ﴿٣٦﴾ وَلَقَدْ رَاوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِ فَطَمَسْنَا

خو دوئ تکذیب کولو د رسولانو . په تحقیق سره مطالبه کړې وه دوئ دَ لوط نه دَمیلمنودهغه پس خاړه کړې مونږ

أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٧﴾ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً

سترګی دَ دوئ (ورته موااووئیل) پس اوڅکئ عذاب ځمااویره ول ځما،په تحقیق سره راغلې وؤپه دوئ په وخت دَ صبا کښې

عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ﴿٣٨﴾ فَذُوقُوا عَذَابِي وَنُذُرِ ﴿٣٩﴾ وَلَقَدْ

عذاب قرار نیونکې (ورته اووئیل شول)پس اوڅکئ عذاب ځمااویره ول ځما.په تحقیق سره

يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٤٠﴾

اسان کړیدې مونږ قرآن دَ پاره دَ نصیحت نو آیا شته څوک نصیحت اغستونکې

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ بِالنُّذُرِ﴾ دا **خلورمه نمونه** ده اوتخویف دنیوی دې چه هلاکت دَقوم لوط دې،دَدوئ دَهلاکت تفصیل هم په مخکنوسپاروکښ تیرشویدې ﴿حَاصِبًا﴾ هغه تیزه هوا ده چې په دوئ ئې کانړی وررولی وؤ، اې ریحا حاصبا، ﴿إِلَّا آلَ لُوطٍ﴾ یعنی پخپله لوط علیه السلام اودَده

دوه لونړي،ښځه ئې پکښې نه ده شامله ځکه هغه مؤمنه نه وه. ﴿نَّجَّيْنَٰهُم بِسَحَرٍ﴾دَسحرنه مراد دَ شپې اخری وخت دې﴿نِّعْمَةً﴾مفعول له دي دَ﴿نَّجَّيْنَٰهُم﴾لپاره. ﴿فَتَمَارَوْا﴾ یادَ مریةٌ نه مشتق دي، "شک" ته وائي چې حاصل ئې تکذیب دې ،یادَ "مراءٌ" نه مشتق دې یعنی جګړې ئې اوکړې دَ پیغمبرانو سره ﴿وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ﴾مراودة بدکارئ باندې اماده کول اودَهغې مطالبه کولوته وائی. یعني قوم د لوط علیه السلام نه دمیلمانو حوالګي مطالبه اوکړه ،چې دوئ ورنه خپل خبیث مقصد پوره کړي

﴿فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ﴾هرکله چه دوئ دَبدفعلئ په نیت فرشتوته رانزدې شول نو جبرئیل عليه السلام دَ خپل وزر یوه حصه دَدوئ په مخونوراخکله نودَدوئ مخونه خاړه شول نظرونه ئې زائله شول. او لوط عليه السلام ته حکم اوشوچه:فاسربِاهلک بقطعٍ من اللیل(هود:۸۱)بیاسحرته قریب په دوئ عذاب راغې چه بیان ئې په هودوغیره کښې تیرشویدې.﴿عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ﴾عذاب قرار نیونکې، ترهغې ترینه جدا نه شو تر څو یې چې دوئ هلاک کړی نه وو.

وَلَقَدْ جَآءَ ءَالَ فِرْعَوْنَ ٱلنُّذُرُ ۝٤١ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا كُلِّهَا فَأَخَذْنَٰهُمْ
اوپه تحقیق سره راغلی وؤ ال فرعون ته پیغمبران، تکذیب وکړو هغوئ زمونږ په آیاتونو ټولو نو ونیول مونږ هغوئ
أَخْذَ عَزِيزٍ مُّقْتَدِرٍ ۝٤٢ أَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ مِّنْ أُو۟لَٰٓئِكُمْ
په نیولو دَ غالب قادر ذات .(اې اهل مکۀ)آیا کفار ستاسو (دَ زمانې) غوره دی دَ هغوئ نه
أَمْ لَكُم بَرَآءَةٌ فِى ٱلزُّبُرِ ۝٤٣ أَمْ يَقُولُونَ نَحْنُ جَمِيعٌ مُّنتَصِرٌ ۝٤٤
یا ستاسو دَ پاره معافی ده په کتابونو کښې . بلکه دوئ دا وائی چه مونږه ډله یو بدله اغستونکې.
سَيُهْزَمُ ٱلْجَمْعُ وَيُوَلُّونَ ٱلدُّبُرَ ۝٤٥ بَلِ ٱلسَّاعَةُ
زرده چه شکست به ورکړیشی دې ډلې ته او اوبه ګرخوی دوئ شاګانې بلکه قیامت

⓸⓺	وَاَمَرُّ	اَدْهٰى	وَالسَّاعَةُ	مَوْعِدُهُمْ
	دي	او ډير تريخ	اوقيامت ډيرسخت دي	خائ د وعدې «دعذاب» د دوئ دې،

﴿وَلَقَدْ جَآءَ اٰلَ فِرْعَوْنَ النُّذُرُ ﴾دا پنځمه نمونه ده دتخويف دنيوى، چه فرعون اوقوم دهغه دَ موسى عليه السلام تكذيب اوكړونوټول موپه بحرِقلزم كښ غرق كړل اوهلاک شول. ﴿اٰلَ فِرْعَوْنَ ﴾ يعنى قوم دفرعون ﴿ بِاٰيٰتِنَا كُلِّهَا ﴾ايات تسعه ورنه مراددى ﴿فَاَخَذْنٰهُمْ ﴾يعنى دوئ موپه عذاب سره اونيول په نيولو دهغه ذات چه غالب دې په انتقام چې څوک ئي مغلوب كولې نشي او قادر دې په هلاكوالى او څوک ئي عاجز كولې نشي.

﴿اَكُفَّارُكُمْ خَيْرٌ ﴾داالتفات اوخطاب دې اهل مكۇو ته، اواستفهام انكارى دې يعنى ستاسو دَ زمانى كفار په څه مطمئن دى؟ آيادَدوئ قوت اوعدد زيات دې پاعتبار دَ مخكښنو كفارو سره ، چې هغوئ هلاک شول او دوئ به نه هلاكيږي ؟ يا دَدوئ كفر كمې درجې والا دې،او پيغمبر تكذيب كښ نرمى كوى او هغه ته تكليف او اذيت نه رسوى؟ هرگز هيڅ اعتبار سره ترينه څه نه دى نو بيا دا څنگه كيديشى چې هغوئ هلاک شول او دوئ دَ الله ﷻ دَعذاب نه بچ شى. ﴿اُولٰٓئِكُمْ﴾تيرشوى هلاک شوى قومونه،قوم نوح،قوم عاد ،ثموديان،قوم لوط، قوم فرعون،

﴿اَمْ لَكُمْ بَرَآءَةٌ ﴾ ام' اضراب انتقالي د پاره دې او د اطمينان دويم سبب بيانيږى چې آيا دوئ ته سابقۇو كتابونو نه آزادئ پروانه ميلاۇشويده،چې دوئ څه كول غواړي،كوى دى، عذاب به پرې نه راځى،نو ځكه اوس دوئ مطمئن دى ﴿فِى الزُّبُرِ ﴾جمع دَ زبورده،كتب سابقه ورنه مراد دى.

﴿ اَمْ يَقُوْلُوْنَ نَحْنُ ﴾ دا دريم سبب دَاطمينان بيانيږى چې آيا دوئ دَدې وجهې نه مطمئن دى چه دوئ سره يولوئ قوت دې،هوښيارانو اودجنگ ماهرينو جماعت دې،او خپل مينځ كښ اتفاق واتحاد او همدردى ده ،نودوئ دَ الله ﷻ دَ عذاب ا ولښكر و مقابله كولې شى او

دَ يو بل انتقام اغستې شی؟(ابو السعود) ﴿جَمِيعٌ﴾ پمعنی دَ جمعَ دي هغه منظم جماعت ته ویلی کیږی چه خبره یی یوه وی ﴿مُّنتَصِرٌ﴾ای منتقمٌ من الاعداء ﴿مُّنتَصِرٌ﴾ مفرد راوړلې شو «اګرچه مناسب منتصرون وو»دَ وجه دَ لفظ دَ «جميع» نه څکه هغه لفظًا مفرد دې. او دغه رنګه پدې کښ رعايت دَفو اصلو يعنی آخر دَ اياتونو هم شويدې.

﴿سَيُهْزَمُ الْجَمْعُ﴾ دا د دوئ زعم رددې چه دَدوئ داجماعت چه دوئ وربانديې غرورکوی ډير زر به شکست اوخری، او دا پیشن ګوئ اللهﷻ په ميدان بدرکښ ښکاره کړه، په روایاتو کښ دی چه دَبدرپه ورځ حضور عليه السلام پخپله خیمه کښ په دعا کښ مصروفه وو او ډیره زیاته زاری اوالححاح ئی کولو، ابوبکر رضي الله عنه ورته عرض اوکړوچه حسبک یارسولَ الله فقدالححتَ علی ربّکَ نوحضورﷺ دَخیمی نه راووتلو اودا آیت ئی لوستلو ﴿وَيُوَلُّونَ الدُّبُرَ﴾ "الدّبر"مفرد دې "الادبار" ئې جمع ده، رعايت دَ فو اصلو په وجه مفرد راوړلې شویدې، یاورنه جنسِ دُبر مراد دې چه په کثيرينو هم صادق کيږی، یاپه تاويل دکلّ واحدٍ سره دې

﴿بَلِ السَّاعَةُ مَوْعِدُهُمْ﴾ يعنی داشکست ئی ټوله سزانه ده بلکه اصل عذاب به ورته په قيامت کښ ملاویږی، اودَقيامت عذاب ډیرسخت اوتريخ دې دَعذاب دنيانه ﴿أَدْهَىٰ﴾ ای اعظم داهيةً «روح» يعنی ډير هيبت ناک دې ﴿وَأَمَرُّ﴾ ډیر تریخ دې، يعنی په انسان ډير مشکل دې، وهو استعارةٌ لصعوبتهاعلی النفسِ «روح المعانی».

إِنَّ الْمُجْرِمِينَ فِي ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ ﴿٤٧﴾ يَوْمَ يُسْحَبُونَ
بیشکه مجرمان په هلاکت کښ دی په جهنم کښ دی په هغه ورځ چه راخکلې شی دوئ
فِي النَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُوا مَسَّ سَقَرَ ﴿٤٨﴾ إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ
په اورکښ په مخونو دَ دوئ «پرمخې»، «ورته به اوئيلې شی»اوڅکئ مزه دَ رسيدلو دَ عذاب د جهنم، بيشکه هرڅيز
خَلَقْنَٰهُ بِقَدَرٍ ﴿٤٩﴾ وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍ بِالْبَصَرِ ﴿٥٠﴾
پیدا کړیدې مونږ هغه په اندازې سره، او نه دې امرزمونږمګريوخل لکه رپول دَسترګو

﴿إِنَّ ٱلْمُجْرِمِينَ فِى ضَلَٰلٍ﴾ داتخويف دي. يعنى مجرمين كه د دې زمانى او مخكښې زمانى دى ټول برابر دى دنياكښې هم په هلاكت كښې دى اوپه آخرت كښې به هم په جهنم كښې وى. پرمخې به اُورته غورځولې كيږى فرشتې به ورته وائى چه اوڅكئ مزه دَعذاب دَ جهنم ﴿فِى ضَلَٰلٍ﴾ اى فى هلاكٍ بالقتلِ فى الدنيا(جلالين)دائى دَدنياسزاده او﴿وَسُعُرٍ﴾دائى دَ آخرت سزاده. ابن عباس ﷺ دَ ﴿فِى ضَلَٰلٍ وَسُعُرٍ﴾ معنى فى خسرانٍ وجنونٍ كوى نو دا دَ دنيا سزا ده او ﴿يَوْمَ يُسْحَبُونَ﴾ دَ آخرت سزاده، يا دَضلال معنى داده چه دَجنت لاربه ورنه ورکه وى. نو دواړه دآخرت سزاګانې دى (والله اعلم).

﴿يَوْمَ يُسْحَبُونَ﴾ متعلق دې دَ يقال لهم سره چه دَ﴿ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ﴾نه مخكښې مقدردې اى يوم يُسحبونَ يُقالَ لهم ذوقوا... ﴿مَسَّ سَقَرَ﴾ الم اوتكليف دَجهنم. مس يمس معنى رسيدل او لګيدل ده، چونكه اوررسيدل او لګيدل سبب د الم دې نو دې وجهې نه الم او تكليف باندې اطلاق دَ مس اوشو. ﴿سَقَرَ﴾ عَلم دَجهنم دې(اعاذناالله منها).

﴿إِنَّا كُلَّ شَىْءٍ خَلَقْنَٰهُ﴾ داپه آخركښې دَسورة نفي د شفيع قهري او اثبات د قيامت كيږي، چه دَ هر څيزخالق صرف الله ﷻ دې، دَقيامت دَورځې دَشفاعت اختيارهم صرف هغه سره دې، دَ مشركانوخود ساخته معبودان دَ څا شفاعت نشى كولې. لهذاصرف دَ الله ﷻ عبادت كوئ صرف دَ هغه نه غواړئ ﴿بِقَدَرٍ﴾ او دغه رنګه الله ﷻ هر څيز په يو متعيّنه اندازې سره پيدا كړيدې، من جمله دَ هر څيز نه دنيا هم ده، دَدې لپاره هم يو متعينه مقررَه اندازه ده، آخر به يوه ورځ دافناء شى، اوهم دابه دَقيامت ورځ وى، نوثبوت دَ قيامت اوشو.

﴿كُلَّ شَىْءٍ﴾ منصوب دې، په اُضمرعاملُه على شريطة التفسيرسره ورستو ﴿خَلَقْنَٰهُ﴾ نى تفسيركوى په اصل كښې دې خلقناكلَّ شئ... ﴿بِقَدَرٍ﴾ معنى تقدير الهى ده يعنى هر څيز الله ﷻ دَ تقدير مطابق پيدا كړيدې، كوم چې په لوح محفوظ كښې ليكلى شويدى، يا ((قدر)) پمعنى دَاندازې سره دې، يعنى هر څيز الله ﷻ دَخپل حكمت او مشيئت مطابق په خاص

اندازې سره پيدا کړيدي،لکه بل ځائی کښې راغليدی.«وخلق کل شئ فقدره تقديرا»ليکن اوله معنی مراد اغستل زيات غوره ده ځکه چې متعدد احاديثو کښې ذکر راغلي دي

﴿وَمَا أَمْرُنَا إِلَّا وَاحِدَةٌ﴾ديکښې د الله ﷻ قدرت کامله بيان دي .او د آيت څو تفسيره شوي دي:

(۱) امر نه مراد تکوين او خلق دي . او «واحدة» صفت دي د موصوف محذوف د پاره ، اي: کلمة واحدة، نو مطلب دا آيت دا دې چې مونږ څه پيدا کول غواړو نو بس صرف يو کلمه د "کن" وئيل وي نو سترگو رپ کښې پيدا شي ، کما في قوله جل في علاه: اذا اراد شيئا ان يقول له کن فيکون،

(۲)يا «واحدة» صفت دې د«فعلة» محذوف، اي: ما شاننا الا فعلة واحدة يعني مونږچه څه کول غواړونو شان زمونږدادې چه هغه کارمونږته محض فعل واحد پشان وی په کولوکښې ئی مونږ ته څه مشقت نه رارسی

(۳) يادَ«امرنا»نه مراد قائمول اوراوستل دَقيامت دی،يعنی قيامت به داسې قائم شی لکه دَ سترگې رپ، نو دا تمثيل دې په قدرت اوسرعت کښې،کقوله تعالى:وماامرالسّاعة الاّکلمح البصراوهواقرب(النحل:۷۷).

وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ أَشْيَاعَكُمْ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ ﴿٥١﴾ وَكُلُّ شَيْءٍ
اوپه تحقيق سره هلاک کړيدی مونږستاسو په شان کافران نوآياشته څوک نصيحت اغستونکې.اوهرڅيز
فَعَلُوهُ فِي الزُّبُرِ ﴿٥٢﴾ وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ ﴿٥٣﴾ إِنَّ الْمُتَّقِينَ
چه کړي ئی دي هغوئ په اعمالناموکښې ليکلي شوي دي اوهرووړوکې اولوئ عمل ليکلې شويدې بيشکه پرهيزگاران
فِي جَنَّاتٍ وَنَهَرٍ ﴿٥٤﴾ فِي مَقْعَدِ صِدْقٍ عِندَ مَلِيكٍ مُّقْتَدِرٍ ﴿٥٥﴾
به په جنتونو او نهرونو کښې وی . د ناستې په اعلې ځائيونو کښې به وي په خواه کښې د لوئ بادشاه قدرة لرونکی

﴿وَلَقَدْ أَهْلَكْنَآ﴾تخويف دنيوی دې کفارمکه ؤته.﴿أَشْيَاعَكُمْ﴾ای اشباهکم فی الکفرمن الامم السابقة(روح المعانی)يعنی څرنگه چه تاسوکفراوتکذيب کوئ نودغه شان امم سابقوهم

کړې وؤ نوهغوئ مونږ هلاک کړی وؤنوتاسوولې دَهغې نه عبرت نه اخلئ ﴿فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ﴾ استفهام پمعنی دَامردې، یعنی نصیحت واخلئ

﴿وَكُلُّ شَيْءٍ فَعَلُوهُ﴾دیکښې اخروي عذاب طرف ته اشاره ده ، چې دنیا کښې الله ﷻ د عذاب نه بچ نشو او په آخرت کښې به هم نشي بچ کیدې ، بلکه دوئ چې څه کړي دي ، کراماً کاتبین او حفظه فرشتو هغه لیکلي دي او الله ﷻ به ورله د هغې سزا ورکوي.((فعلوه)) ضمیر دَ جمع یاراجع دې اشیاء (امم مکذبه ؤ) ته یعنی دغه مخکښنو امتونو چه څه هم کول ، کفر او معاصی، نو هغه دَ هغوئ په اعمالنامو کښې لیکلې شوي دې، یا ضمیر دَ جمع مطلق عبادو ته راجع دې ﴿فِي الزُّبُرِ﴾ای فی کتب الحفظة، دَ کراماً کاتبینو په رجسټرو کښې لیکلې شویدی.

﴿وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُّسْتَطَرٌ﴾ ،((مستطر)) نه مراد یا اعمال نامه کښې لیکل دي نو دا د ما قبل تاکید دې چې د دوئ ورو کې او لوئ هر یو عمل لیکلې کیږي کقوله تعالی:لایغادرُ صغیرةً ولاکبیرةً الاّ احصاها،حضورﷺحضرت عائشه ؓ ته یو ځل اوفرمائیل چه: یا عائشة ایّاک ومحقرات الذنوب فانّ لها من الله طالبًا(ابن کثیر)یعنی دَحقیر(صغیره)ګناهونو نه ځان ساته،بیشکه الله ﷻ دَ دې مطالبه هم کوی،یا((مستطر)) نه مراد په لوحِ محفوظ کښې لیکل دي ، نو دا بیا تاسیس دې، یعني صرف اعمالنامې کښې د دوئ اعمال نه دي لیکلي شوي ، بلکه علم الهي او لوحِ محفوظ کښې هم لیک دي (والله اعلم).

﴿إِنَّ الْمُتَّقِينَ﴾بشارت اخرویه دې چه مُتقیان به په جنتونو اونهرونو کښې وی﴿وَنَهَرٍ﴾جنس نهرونه مراد دی ،رعایت دَ فواصلوپه وجه مفرداوړلې شوي دې. ﴿مَقْعَدِ﴾ناستې او اوسانې ځائ ته وائي،﴿ صِدْقٍ ﴾رښتیا ته وائي،او مجازاً د هر جنس کامل حالت د پاره هم استعمالیږي ، لکه عرب وائي : رجل صدق ، اي : کامل في رجولية، یعني واقعي سړې دې ، او د عربو مشهور شاعر تابط شراً وائي:

إِنِّي لَمُهْدٍ مِنْ ثَنَائِي فَقَاصِدٌ بِهِ لِابْنِ عَمِّ الصِّدْقِ شَمْسِ بْنِ مَالِكٍ

یعني زه د خپل مدح وثنا هدیه خپل تره ځوي شمس بن مالک ته لیږم نو که د تره ځوي ښوک وي نو داسي پکار دې ، نو دلته د((مقعد صدق))نه مراد دناستې اعلی ځائ دې، چې ځائ د

ناستې او اوسانې هم داسې پکار دې ، ځکه چې يو طرف ته پکښې اعلى درجې آرام او راحت ميسر دې او بل طرف ته دا هميشه او لازوال هم دې

﴿عِندَ مَلِيكٍ﴾صيغه دَمبالغې ده اى عظيم الملک﴿مُّقْتَدِرٍ﴾عظيم القدرة،دَ لوئ بادشاه او قادر ذات قربت به ورته نصيب وي.

فائده:دې دواړواسماحسنٰى لره په استجابتْ دَدُعاکښې لوئ اثردې،حکايت دې چه سعيدبن مسيب فرمائى چه يو ځل څه جمات ته په دې خيال داخل شوم چه سحردې ليکن د شپې يوه ډير حصه لا تراوسه پاتې وه،په جمات کښې څمانه بغيربل څوک نه وؤ،نوځه اوده شوم،دَځه څيز اوازمى واورېدلو،نوځه اُويريدم،نوچاراته اووې چه يريږه مه؛بلکه داوايه چه"اللّهم انّک مليکٌ مقتدرٌ ما تشاء من امرٍ يکون" دينه بعدچه دَالله ﷻ نه دَځه سوال کوې نو هغه به قبليږى، سعيد بن مسيب رحمه الله فرمائي چې ما په دې صفاتو په وسيله چې څه دعا مې غوختې ده هغه قبوله شوې ده ،

اللّهم انّک مليکٌ مقتدرٌ ما تشاء من امرٍ يکون نسألك العفو والعافية في الدنيا و الاخرة

ركوعاتها (۳)	سورة الرحمن مدنية	اٰياتها (۷۸)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۵) وحسب النزول (۹۷)

نزلت بعد الرّعد و قبل الدهر

دا مدني سورت دې او زمانه دَنزول ئې بعدالهجرة ده.بعض وائي داسورة مکّي دې قرطبي رحمه الله اوبعضِ نورو مفسرينوترجيح ديته ورکړيده چه دامکّي دې.په ترمذی کښ د حضرت جابر رضي الله عنه نه نقل دی چه حضور ﷺ سورة رحمٰن دَاول نه ترآخره پورې دَصحابؤ په مخکښ تلاوت کړو،هغوئ خاموشه وو، نوحضور ﷺ ورته اوفرمائيل چه داسورة ما په ليلة الجن کښ په جناتو تلاوت کړو فکانوا احسنَ مردوداً منکم يعنی هغوئ ستاسو نه ښه جواب راکړو،کله چه به ما فبایّ الآء ربکماتکذبان آيت تلاوت کولونو هغوئ به په جواب کښ وئيل چه لابشئ من نعمکَ ربّنانکذّب فلک الحمد نو د دې حديث نه معلوميږی چه داسورة مکّی دې ځکه چه ليلة الجن مکی دورکښ شوې وه.

ربط : پدې سورة کښ مسئله دَتوحيدعلی سبيل الترقی دَماقبل نه بيانيږی،ماقبل سورة قمرکښ فرمائيلی وؤ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَهُ﴾ دلته سورة رحمن کښ فرمائی﴿تَبَرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِى الْجَلَلِ وَالْإِكْرَامِ﴾ يعنی لکه څرنګه چه خالق دَهرڅيزصرف الله تعالیٰ دې نو دغسې برکات هم خاص دَالله تعالیٰ په اسم کښ دی،نوبرکت دهنده هم صرف الله تعالیٰ اوګنړئ.

د سورة دَ مضامينو خلاصه

سورت الرحمن څلور حصو باندې مشتمل دې.

(۱)اوله حصه آيت(۱)نه تر(۱۳)پورې ده:ديکښ دَالله تعالیٰ نعمتونو بيان دې.

(۲)دويمه حصه آيت (۱۴)نه تر(۳۰)پورې ده :ديکښ دَالله تعالیٰ ربوبيت اوتوحيد دلائلو بيان دې

(۳)دريمه حصه آيت(۳۱)نه تر (۴۵)پورې ده:ديکښ تخويفات ذکر دی.

(۴)څلورمه حصه آيت ۴۲ نه تر ۷۷پورې ده: ديکښ بشارات دی.

اوبالكل آخري آيت تبٰرك اسم ربک کښې دعوې دَسورت بيان دې

تمت خلاصة السورة

اَلرَّحْمٰنُ ① عَلَّمَ الْقُرْاٰنَ ② خَلَقَ الْاِنْسَانَ ③ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ④
په هر چا مهربانه الله ﷻ ښودلې ئې دې قرآن پيداکړې ئې دې انسان ښودلې دې ئې ورته خبرې

﴿ اَلرَّحْمٰنُ ﴾دا **دَ سورت اوله حصه** ده چې ديکښې دَالله ﷻ نعمتونو بيان دې تول شپږ نعمتونه ذکر کيږي او هر نعمت بيان کښې دوه دوه نعمتونه جوړه جوړه ذکر کيږي، چې هغوئ دواړو يو بل سره ژور تعلق دې. نو دا **اول نعمت** بيان دې، ديکښې دَ الله ﷻ دوه لويو انعاماتو ذکر دې:

(۱)**عمومي رحمت**: چې هغې ذکر په «الرحمن» کښې دی چې هر مخلوق سره هغه رحمت اور رحم والا معامله کوي.

(۲)**خصوصي رحمت**: چې هغه خاص طور باندې په مخلوقاتو کښې په انسان او مسلمان باندې دې. چې هغه «علم القرآن» يعنې تعليم قرآن دې، يعنې الله ﷻ په انسان باندې خپل خصوصي فضل او رحم دا اوکړو چې هغهٔ ته ئې دَ قرآن تعليم ورکړو، اودَ خپل کتاب حامل يې اوګرځوو، چې د دې طاقت غرونو هم نه لرلو. «القرآن» مفعول ثاني «علّم» اورمفعول اول ئې محذوف دې چې هغه "الانسان" دې.

﴿خَلَقَ الْاِنْسَانَ ۝ عَلَّمَهُ الْبَيَانَ ﴾دَ **دويم نعمت بيان** دې، ديکښې هم دَ الله ﷻ دَ دوه لوئې انعاماتو ذکر دې.

(۱)**تخليق انسان**: چې انسان يې نيست ته نه هست او عدم نه وجود ته راوستو.

(۲)**تعليم بيان**: چې بيا ئې ورته دَاظهار مافي الضمير دَپاره ګوياني اوبيان سليقه او ملکه ورکړه، چې په دې باندې تفاهم، تخاطب اور نورډير مصالح دَ معاد ومعاش دواړو موقوف دی. «البيان» نه مراد قوت ګوياني اونطق دې، چې په دې سره دَ انسان تميز د نورو حيواناتونه راځي.

فائده: تخليق دَانسان اول شويدې اوتعليم دَقرآن ورته روستو ورکړې شوې دې، ليکن دې نه باوجود دلته نعمت دَ تعليم ذکر مقدم اونعمت تخليق ذکر مؤخر دې، نو ديکښې اشاره ده دې خبرې ته، چې روحاني نعمتونه دَجسماني نعمتونو نه افضل دی، اوروحاني نعمتونو کښې تولو نه افضل تعليم دَ قرآن دې، نو ځکه مقدم کړيشو.

اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ ﴿٥﴾ وَّالنَّجْمُ وَالشَّجَرُ يَسْجُدٰنِ ﴿٦﴾ وَالسَّمَآءَ

نور او سپوږمۍ (روان دي) په حساب سره، واړه بوټي او ونې سجده کوي (الله جل جلاله ته) او اسمان

رَفَعَهَا وَوَضَعَ الْمِيْزَانَ ﴿٧﴾ اَلَّا تَطْغَوْا فِي الْمِيْزَانِ ﴿٨﴾ وَاَقِيْمُوا

اوچت کړې ئي دې هغه او ایخې ئی ده تله . لپاره ددې چه تجاوز نه کوئ تاسو په تله کښې. او قائم ساتئ

الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ وَلَا تُخْسِرُوا الْمِيْزَانَ ﴿٩﴾ وَالْاَرْضَ وَضَعَهَا لِلْاَنَامِ ﴿١٠﴾

وزن په انصاف سره اومه کوئ کمې تاسو په تله کښې. او زمکه الله جل جلاله ئې ده پیدا کړیده لپاره دَخلقو

فِيْهَا فَاكِهَةٌ ۙ وَّالنَّخْلُ ذَاتُ الْاَكْمَامِ ﴿١١﴾

پدې کښې (قسم قسم) میوې دي ، او کجورې دي دَ غلافونو والا

وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ وَالرَّيْحَانُ ﴿١٢﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿١٣﴾

او دانې دي دَ بوسو والا او خوشبوئ دي. نو په کوم یو نعمت دَ نعمتونو دَ خپل رب، به ستاسو تکذیب کوئ

﴿اَلشَّمْسُ وَالْقَمَرُ بِحُسْبَانٍ﴾ دا دَ دریم نعمت بیان دې، دیکښې الله تعالی دوه لوئ نعمتونه ذکر کړیدي: (۱) نور (۲) سپوږمۍ، یعنی نور او سپوږمۍ باندې سوچ اوکه، چې دوئ څنګه خپل مدار کښې په ترتیب سره روان دي، اوحرکت کوي، بیا په دوئ کښې تغیر اوتبدل ته اوګوره، سپوږمۍ میاشت اول کښې اوګوره، مینځ کښې یې مشاهده اوکه، اوبیایې آخر کښې اوګوره. دغه شان نور دَورځ په شروع کښې اوګوره ،بیایې غرمه کښې اوګوره ،او بیا ئې ماذیګر او ماښام کښې نظاره اوکه . او دغه شان ئې ګرمۍ او یخنۍ کښې دَ فرق اندازه واخله، دا ټول یو مربوط نظام او متعین حساب ماتحت کیږي او دَ انسان فائدې دَ پاره کیږي، دې سره دَ انسان ډیر منافع ومصالح مثلاً موسمونو تبدیلیدل ، میوې او فصلونو نشونما او پخیدل، اوهغې کښې خوند اوذائقه پیدا کیدل وغیره، وابسته دي، ((حسبان)) مصدر دې لکه غُفران پمعنی دَ حساب سره: اي يجريان بحساب مقدر في بروجهما ومنازلهما یعنی خپل بروجونو او منازلو کښې متعین وخت اوحساب سره ځی. یا ((حسبان)) جمع دَ حساب دہ لکه شُهبان جمع دَ شِهاب دہ یعنی مختلفو برجونو اعتبار سره مختلف اوقات کښې تیره وی.

﴿وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ﴾ **دا خلورم نعمت بيان** دي ديکښې هم د دوه نعمتونو ذکر دي (۱) بوټي (۲) ونې ،يعنی بوټو اوونو ته اوګورئ.څومره فائده ترينه اخلئ.دا ټول دالله ﷻ حکم تابع اور منقاد دی اوتاسو خدمت کښې مامور کړی اوتاسو دپاره يې مسخر کړی دی «النجم» **نه مراد هغه بوټي دی چې تنه نه يې نه وی ،اوپه زمکه خوريګی.لکه کدو ، خربوزه، وغيرو ،او«الشجر» نه مراد هغه ونی اوبوټی دی چې تنه يې وی﴿يسجدان﴾ دسجدی نه مراد دادې چه دالله ﷻ دتکوينی حکم منقاد اوتابعدار دی**

﴿وَٱلسَّمَآءَ رَفَعَهَا وَوَضَعَ ٱلۡمِيزَانَ﴾ **دا پنځم نعمت بيان** دې او ديکښې هم د دوو نعمتونو ذکر دي: (۱) رفع سماء (۲) وضع ميزان.يعنی آسمان ئې قائم کړې دې .او بغير د ستون نه ئي دا شين چهت اوچت ادرولې دې،دَ دې نورمصالح او فوائد پريګده داڅومره لوئی فضل واحسان دې چې دا دَ الله ﷻ توحيد يو ښکاره دليل اونښه ده، او دغه شان دَ دې قائم ساتلو د پاره ئي عدل وانصاف حکم کړي دې،کچرته دا نه وې نو ټول کائنات کښې به فساد خور وې اوتباه وبرباد شوي به وؤ.«السماء»منصوب علی شريطة التفسير دې «رفعها» معنی خلقها مرفوعة ده يعنی ابتدا نه يې اوچت پيدا کړي دې،داسی نه ده چې اول يې پيدا کړو .اوبيا يې اوچت کړو.«و وضع الميزان» "ميزان" متعدد تفسيرونه شويدی،**غوره قول** دا دې چې دينه مراد عدل او انصاف دی يعنی الله ﷻ دَ عدل وانصاف حکم ورکړيدې،**ځنی مفسرين** وائی چې "ميزان" نه مراد هغه تکوينی انتظام دې چې دَ هغې په وجه ټول کائنات په عدل او صحيح نهج روان دی، **هغه ګرمی يخنی**، باد و باران،ورځ او شپه ، نور اوسپوږمئ او د غه شان دَ انسانانو اصلاح وهدايت دپاره دَ انبياوؤ بعثت اوکتابونو نازلول دی،خلاصه دا چې دينه مراد هغه ټول اسباب دی چې کائنات پرې صحيح اعتدال سره قائم دې،**او ځنی مفسرينو** ترينه ظاهری اوحسی"ميزان" (تله)مراد اخيستې ده.

﴿أَلَّا تَطۡغَوۡاْ﴾ "الا"په اصل کښې «أن لا» دې،"ان" تفسيريه دې.او "لا"ناهيه ده او دا دَ وضع ميزان تفسير دې،يعنی وضع د ميزان داده چې تاسو خپل حقوق په اغستو کښې بې انصافي مه کوئ.

يا "ان"مصدريه دې او دينه مخکښې لام اجليه مقدر دې او "لا" نافيه ده اي لئلا تطغوا يعنی "وضع ميزان" مقصد دا دې چې تاسو چرته د خپل حقوق په اغستلو کښې حدودو نه تجاوز

اونه کړئ.اوظلم و زیادتی نه کار وانخلئ "طغیان" وئیلی کیږی حدود نه تجاوز ته.مطلب دادی خپل حقوق اغستو کښ انصاف اوعدل نه کار اخلئ.څومره مو حق جوړیږی هغی نه تجاوز مه کوئ

﴿وَأَقِيمُوا الْوَزْنَ بِالْقِسْطِ﴾ یعنی کله چی دبل چا حقوق درسره وابسته وی نوهغه ته هم حقوق بیا پوره پوره انصاف سره ورکوئ ،کمی پکښ مه کوئ.

فائده:لفظ د "میزان" اهمیت او د حکم تاکید دپاره الله ﷻ دری(۳) ځله مکرر ذکر کړو په اسم ظاهر سره.

﴿وَالْأَرْضَ وَضَعَهَا﴾دا **شپږم نعمت** بیان دې،او دا هم په دوه نعمتونو باندی مشتمل دې:

(۱) وضع ارض(۲)پیداوار دَ زمکی،یعنی دَ الله ﷻ څومره فضل واحسان دې په تاسو چی تاسولره زمکه غوړولی ده او بیا ئې د هغې نه تاسو او تاسو د څاروؤ رزق بندوبست هم کړیدې،﴿لِلْأَنَامِ﴾نه مراد صرف انسانان دی یا انسانان او جنات دی او یاټول مخلوقات دی.

﴿فِيهَا فَاكِهَةٌ﴾یعنی مختلف قسم نعمتونه یې زمکی نه پیدا کړیدی:

(۱)بعض هغه چی هغې سره صرف تفکه (خوند اولذت) حاصلیږی.

(۲) بعض هغه دې چی هغی سره صرف غذائیت حاصلیږی.

(۳) ځنی هغه نعمتونه دی چی هغی سره تفکه اوغذائیت دواړه حاصلیږی.

(۴)ځنونه دا دواړه نه حاصلیږی بلکه خوشبووغیره ورکوی.

نو ((فیها فاکهة)) کښ دهغه نعمتونو ذکر دې چی هغی سره صرف تفکه حاصلیږی﴿وَالنَّخْلُ ذَاتُ الْأَكْمَامِ﴾ کښ دهغه نعمت ذکر دې چی هغې سره تفکه اوغذائیت دواړه حاصلیږی،چې هغه کجهوره ده،((الاکمام)) جمع دَ "کُم" ده، "اوعیة التمر"یعنی دکجهورو غلاف ته وائی﴿وَالْحَبُّ ذُو الْعَصْفِ﴾کښ دَهغه نعمتونو ذکر دې چی هغې سره صرف غذائیت حاصلیږی،((الحب)) دانې ته وائی، دینه مراد غنم،وربشی،دال،وغیره دی،((العصف)) بوسې ته وائی.یعنی صرف انسان ترینه فائده نه اخلی بلکه دهغی بوټې اوپټ دَ بوسو کار هم ورکوی ، چې هغې سره دوئ

څاروو ته خوراک میلاویږی، «الریحان» یعنی بعض بوټی داسی دی چی صرف خوشبو ورکوی، لکه گلاب، کشمالو وغیره ۔ الریحان ۔ معنی خوشبودار بوټی ده.

﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ ماقبل نعمتونو باندی تفریع ده. یعنی کوم ذات چی په تاسو دومره لوئ لوئ او دومره ډیر انعامات واحسانات کړیدی، آیا دِدې باوجود به دَهغه ذات نافرمانی کوئ، او بل چا ته به سر ټیټی کوئ او بل څوک به برکات دهنده بولئ. نو دا خو ډیر بې انصافي ده.

﴿الآء﴾ جمع دَ «أَلْيٌ» یا «إِلْيٌ» ده نعمت اوقدرت دواړو معنو کښې استعمالیږی. دلته ترینه مراد نعمت دې، مخاطبین انسان اوجنات دي، او جناتو ذکر اگرچې مخکښې صراحتاً نه دې شوې خود «انام» په ضمن کښې شویدی.

فائده: داآیت کریمه پدې سورة کښې (۳۱) ځلې مکررراغلې دې. په ظاهر کښې تکراردې لیکن په حقیقت کښې تکرار نه دې، هر ځائ کښې ئې مقصد جدا دې. اصول دَ نعمت چه ټول اته (۸) دی: (۱) باطنی (۲) ظاهری (۳) انفسی (۴) آفاقی (۵) بری (۲) بحری (۷) علوی (۸) سفلی. دا ټول دلته ذکر دي نو دا آیت دَ هر یوسره ذکر دې، او دغه رنگه دا آیت دَ تخویفاتو سره وه (۷) ځلې ذکردې، دَجهنم دروازې وه (۷) دی دَ ټولونه دَبچ کیدلو سبب دَتکذیب نه بچ کیدل دی، دغه رنگه اته (۸) ځلې دَ بشاراتوسره اولاًذکر دې، او اته (۸) ځلې ثانیًا ذکر دې، دَ جنت اته (۸) دروازې دی، هرې یوې ته دَداخلیدوسبب دَتکذیب نه بچ کیدل دی. نودامحض لفظی تشارک دې، البته دَ تکرار ظاهری په وجه پدیکښې حسن دَ کلام سره سره افاده دَ تاکید هم ده او دا قسم تکرار په کلام دَ عربوکښې په کثرت سره بلا نکیر استعمالیږی. لکه یو سړې بل ته وائی چه «الم احسن الیکَ بان خوّلتک فی الاموال، الم احسن الیک بان فعلتُ بک کذا و کذا» اوپه اشعاردَعربوکښې هم استعمال شویدې.

علماء وائی چه مستحبه ده چه سامع دی پس له دې هرآیت نه داالفاظ اووائی چه «لابشئ مّن نعمکَ ربّنانکذّب فلک الحمد» دَحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دې حضور ﷺ سورة رحمان دَاول نه ترآخره پورې زمونږ په مخکښې اولوستلو نوبیائی اوفرمائیل «مالی اَراکم سکوتًا، للجنّ کانوا احسنَ منکم ردّاً» ، ولې خاموشه یئ، یقیناً چې پیریان ډیر غوره وو د ستاسو نه په جواب کښې.

ځکه چه مابه نه لوستلو په هغوئ باندې دا آیت کریمه ﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ﴾ مګر هغوئ به وئیل چه لابشئ من نعمک ربّنانکذّب فلک الحمدُ (ترمذی).

خَلَقَ	الْإِنسَانَ	مِن	صَلْصَالٍ	كَالْفَخَّارِ ⑭	وَخَلَقَ	الْجَانَّ
الله جل جلاله پیدا کړې دې انسان دَ ختی کړنګیدونکی نه په شان دَ کودرې، او پیداکړی ئی دی پیریان						
مِن مَّارِجٍ	مِّن نَّارٍ ⑮	فَبِأَيِّ	ءَالَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبَانِ ⑯	رَبُّ الْمَشْرِقَيْنِ
دَخالصی شغلی دَ اور نه ، نوپه کوم یونعمت دَ نعمتونو دَ رب خپل به تاسو تکذیب کوئ، الله جل جلاله رب دَ مشرقینو دې						
وَرَبُّ	الْمَغْرِبَيْنِ ⑰	فَبِأَيِّ	ءَالَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبَانِ ⑱	
او رب دَ مغربینو دې، نوپه کوم یونعمت دَ نعمتونو دَ رب خپل به تاسو تکذیب کوئ						

﴿خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِن صَلْصَٰلٍ﴾ دا د **سورت دویمه حصه** ده، دیکښې **په دعوی دَتوحید باندې دلائل** ذکر کیږی. دا **اول دلیل عقلی انفسی** دې، چی انسان دې خپل پیدائش آغاز باندې غور اوکړی چې دې الله جل جلاله دَ خاورې نه پیدا کړې دې ،اوجنات دې په خپل تخلیق باندی غور اوکړي چې خالص دَ اور شغلو نه ئي پیدا کړیدی، آیاداسې بل ذات شته چې هغه دَخاورو او دَاور نه داسی ژوندې مخلوق پیدا کړی؟ هرګز نه شته چې په دې قادر شي، نو تاسو به دَالله جل جلاله کوم کوم قدرتونو نه انکار کوئ.

﴿صَلْصَٰلٍ﴾ هغه وچه او مټینه خټه چه کله اوکړنګولې شی نو اوکړنګیږی، (جلالین)

﴿كَٱلْفَخَّارِ﴾ کودرې، او چټکورې یعنې هغه خټه چه په اورکښې پخه شی ﴿ٱلْجَآنَّ﴾ دَ جان نه مراد یا جنس جن دې یا ورنه مراد ابو الجنّ (دَ پیریانو نیکه) دې، ﴿مِن مَّارِجٍ﴾ دَ اورخالصه شغله چه لوګې پکښې نه وی، یا هغه اور چه مختلف رنګونه پکښې وی، تور، سور، شین، او دا قسمه اور ډیر تیز وی. ﴿من﴾ په ﴿مِن مَّارِجٍ﴾ کښې ابتدائیه دې اوپه ﴿مِّن نَّارٍ﴾ کښې بیانیه دې، بیان دې دَ ﴿مَّارِجٍ﴾

﴿رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ﴾ دادويم دليل عقلی دي او آفاقي دليل دې، چه الله ﷻ د مشرقينو او مغربينو مالک او رب دې، او داخو صرف يو عنوان دې ، د دې په ضمن کښې د الله ﷻ ځومره انعامات او د قدرت مظاهر دي، چې دَ دوئ په تغير او تبدل سره موسمونه بدليږي، فصلونه پيدا کيږي، دَشپې اوورځې شروع اواختتام پدې سره کيږي، دغه شان خلقوته نورهم په زرهاؤ فوائد ور رسيږي، نو دا دَ الله ﷻ په تاسو لوئ لوئ نعمتونه دی.

﴿رَبُّ ٱلۡمَشۡرِقَيۡنِ وَرَبُّ ٱلۡمَغۡرِبَيۡنِ﴾مشرق او مغرب تذکره قرآن کښ مختلف صيغو سره شوي ده، ځنې ځائې کښ مفرد صيغه راغليده لکه رب المشرق والمغرب لا اله الا هو(المزمل۹) او ځنی ځائنو کښ صيغه دَجمعی راوړلی شويده، لکه فلا اقسم برب المشارق والمغارب (المعارج) او دلته صيغه دَتثنيي ده. ديکښ تطبيق داسی کيږی چی جهت او رخ ته اوکتلی شی چی هغه يو دې نو ځکه دَ هغې اعتبار سره صيغه هم هلته د مفرد ذکر شوي ده، اوکه موسم اعتبار سره اوکتلی شی نو دګرمئ اويخنئ مشرق او مغرب کښ واضح فرق موجود وی نو ځکه صيغه دَتثنيه استعمال شی او چونکه دَ هر ورځ نورخاتي او ډوبيدو ځائی دَبلی ورځی نه بدل وی نو دی اعتبار سره صيغه دَ جمع هم استعماليږی.

﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ﴾په طلوع اوغروب کښ بی شماره فوائددی. لکه اعتدال دَهوا، اختلاف دَموسمونو اوپيدا کول دَهرفصل په مناسب وخت کښ، نودکوم يونعمت نه به تاسو انکارکوئ.

مَرَجَ ٱلۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ ⑲ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٌ لَّا يَبۡغِيَانِ ⑳
روان کړی ئی دی دوه دريابونه يوبل سره لګيدلي ، دواړومينځ کښ يوه پرده ده تجاوزنه کوی دَ خپل حدود نه.
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ㉑ يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ㉒
نوپه کوم يونعمت دَنعمتونو دَ رب خپل به تاسو تکذيب کوئ . را اوځی دَ دواړونه غټی ملغری اووړی ملغری،
فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ㉓
نوپه کوم يو نعمت دَ نعمتونو دَ رب خپل به تاسو تکذيب کوئ

﴿مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ﴾ دا **دریم دلیل عقلی دې** په توحید او دبحری مظاهرِ قدرت او نعمتونو بیان دې، چه الله ﷻ پخپل قدرت سره دوه مختلف الطبع دریابونه یوځائ روان کړي وی، ددواړو سطح دَیوبل سره لګیدلی وی، په ظاهرکښ څه فصل اوحاجز نه وي لیکن بیا هم دواړه په یوبل کښ نه خلط کیږی ﴿مَرَجَ﴾ ای ارسل واجریٰ ﴿ٱلْبَحْرَيْنِ﴾ دوه دریابونه . بحرمالح (مالګین) بحرشیرین، کقوله تعالی: وهوالّذی مرجَ البحرین هذاعذبٌ فراتٌ وهذاملحٌ اجاجٌ (الفرقان:۵۳) بحرمالح هم دَالله ﷻ له طرفه یو لوئی انعام دې ځکه کچرې دانه وې نو په هواکښ به فساد او بدبوئي پیداشوې وې، بحرمالح سره بدبوئی اوفساد دَ هواختم شی.

﴿ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ ﴾ یعنی دَدواړوپه مینځ کښ محض دَالله ﷻ په قدرت کښ پرده اوحاجزدې چه دواړه نه یوځائ کیږی ﴿لَّا يَبْغِيَانِ ﴾ په یوبل کښ تجاوزنه کوی یعنی یوبل کښ نه خلط کیږی چه دَیواوبواثرپه بل کښ راشی، قتاده رحمه الله وائی: لایبغیان علی النّاسِ فیغرقانهم یعنی په خلقونه رااوړی چه خلق غرق کړی بناء پدې قول دَ﴿ بَرْزَخٌ﴾ نه مرادپرده اورکاوټ دَزمکې دې

﴿ يَخْرُجُ مِنْهُمَا ٱللُّؤْلُؤُ ﴾ دا د بحری نعمتونه ذکر دې چه الله ﷻ دَدې دریابونونه تاسولپاره. ملغری وغیره رااوباسی چه دَدې منافع ظاهردی. ﴿ٱللُّؤْلُؤُ﴾ وړې ملغرې ﴿وَٱلْمَرْجَانُ ﴾ غټې ملغرې، مشهوره داده چه ملغرې وغیره دَبحرمالح (مالګین) نه رااوځی، بحرشیرین کښ ملغرې نه وی اودلته دَ﴿مِنْهُمَا ﴾ نه معلومیږی چه دَدواړونه رااوځی، نوپدې وجه علماؤتاویل کړیدې چه (۱) ﴿مِنْهُمَا ﴾ یمعنی دَمن مجموعها دې، کمافی کقوله تعالی: یٰمعشرالجنّ والانسِ الم یأتکم رسُلٌ منکم ای من مجموعکم ځکه چه په جناتوکښ رُسل ندی راغلی (۲) بعضِ وائی دلته مضاف حذف دې، ای من احدهما، کمافی قوله تعالی "علی رجُلٍ من القریتین" ای من احدی القریتین، لیکن محققینو ظاهر دَ قرآن ته ترجیح ورکړیده چه ملغرې دَدواړونه رااوځی البته بحرمالح کښ ډیرې دی اوبحرشیرین کښ کمې، دَموجوده دوردَتجرباتونه هم ثابته ده چه بحرشیرین کښ ملغلرې وی، لهذاتاویلات اوتکلفاتوته ضرورت نشته.

په ملغرواومرجان کښې دَظاهری زینت نه علاوه طبّی فوائدهم دی چه داپه امراض قلب،جگر،جنون وغیره کښې استعمالیږی،نو دکوم یونعمت نه به تاسو انکارکوئ.

وَلَهُ الْجَوَارِ الْمُنْشَئٰتُ فِي الْبَحْرِ كَالْاَعْلَامِ ﴿٢٤﴾ فَبِاَيِّ	
اوداللهﷻ په قبضه کښې دی بیړۍ چلیدونکی دنگی دنگی په دریاب کښې پشان دغرونو نوپه کوم یو	
اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٥﴾	.
نعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ	

﴿وَلَهُ ٱلْجَوَارِ ٱلْمُنشَـَٔاتُ فِى ٱلْبَحْرِ﴾ دا **خلورم دلیل عقلی** دې په توحید ،اوپدې کښې هم دبحری نعمتونو بیان دې،چه اللهﷻ پخپل امرسره ستاسولپاره په دریاب کښې دغرونوپشان دنگې دنگې بیړۍ روانی کړیدی﴿ ٱلْجَوَارِ﴾ ی ورنه تخفیفاً حذف شویده. اصل کښې جواری دې،جمع دَ جاریةٌ ده کشتۍ ته وائی،کشتۍ ته جاریة په دې وجه وائی چه شان دَدې دادې چه داچلیږی په اوبو کښې اګرچه په بعضِ اوقاتوکښې په ساحل ولاړه وی،دَجوړیدونه مخکښې ورته فلک وائی کقوله تعالی: واصنع الفلک باعیننا(هود:٣٧)پس دَجوړیدونه ورته سفینه وائی،کقوله تعالی:فانجیناه واصحاب السّفینة(عنکبوت:١٥)اوپس دَچلیدونه ورته جاریةٌ وائی(کبیر).

﴿ٱلْمُنشَـَٔاتُ﴾صیغه داسم مفعول ده دَ((انشأ ینشأ))نه ، دَ دي دوه معني راځی،(١)صنع اوجوړول یعنی جوړې کړې شوې،صیغه دمجهول راوړلو کښې اشاره ده دې خبرې ته چې دې صنعت اوجوړول انسان ذاتی کمال نه دې،بلکه دَاللهﷻ احسان دې چې هغه ورته الهام کړیدې، (روح) (٢) انشأ بمعنی رفع کښې هم راځی،اي المرفوعات الشُرُع یعنی اوچتواچتو باد بانونو والا کشتۍ ﴿ كَٱلْأَعْلَـٰمِ﴾جمع دَعَلَم ده دنګودنګو غرونوته وائی،

﴿فَبِأَىِّ ءَالَآءِ﴾بیړۍ چلیدل دَاللهﷻ لوئ نعمت دې چه په دې سره دَخوراک وغیره سامانونه دَیوښارنه بل ښارته منتقل کیږی، خلق پکښې هم تجارتی وغیره سفرکوی.نودکوم یونعمت نه به تاسو انکارکوئ.

كُلُّ	مَنْ	عَلَيْهَا	فَانٍ ﴿٢٦﴾	وَّيَبْقٰى	وَجْهُ	رَبِّكَ	
هر هغه څه چه پدې زمکه دی فانی کیدونکی دی.او باقی به شی ذات درب ستاچه							
ذُو	الْجَلٰلِ	وَالْاِكْرَامِ ﴿٢٧﴾	فَبِاَيِّ	اٰلَاۤءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ ﴿٢٨﴾	
خاوند د لوییٔ او د عزت دي نو په کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کویٔ							

﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾دا **پنځم دليل عقلي** دې په توحيد .ټول په مخ دزمكې مخلوقات فنا كيدونكي اوختميدونكي دي،صرف يوذات ذوالجلال سره د خپلو صفاتو باقي پاتي كيدونكې دې،كوم چه فاني دې نوهغه مستحق دربوبيت نه دې،نولهذا صرف يو الله ﷻ كارساز، بركات وركونكې اوګڼړئ﴿ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ﴾اى على الارض من كښ عموم دې يعني هرڅه فناء كيدونكي دى.انسان دې كه جن،حيوان دې،كه اشجار .لقوله تعالى اناجاعلون ما عليها صعيداً جُرزاً(كهف ٢٨)او من اطلاق پرې تغليبا شويدې

چونكه اصل خطاب دلته انس وجن ته دې، نو دې وجهې نه،، من عليها فان ،،يعني د زمكې مخلوقاتو د فنا ذكر اوشو كنې زمكى آسمانونو او فضا كښ ټول مخلوقات به فنا كيږى صرف الله ﷻ ذات به باقى پاتى كيږى.

﴿وَيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ﴾ وجه نه مراد متاخرينو ذات بارى تعالى اغستې دې ﴿ذوالجلال﴾اي ذوالعظمة يعنى ډيرلوئ ذات دې،چاته يې هيڅ قسم ضرورت نشته،ديكښ صفات دتنزيه ته اشاره ده﴿والاكرام﴾اي ذوالفضل والاحسان يعنى ډير فضل اواحسان والا دې خپل بندګانو باندې ډير فضل او احسان كوى،ديكښ صفات كمال طرف ته اشاره ده.

﴿فَبِاَيِّ اٰلَاۤءِ رَبِّكُمَا ﴾ددنيافناءكيدل هم دانسان لپاره لوئ نعمت دې ځكه ددې فناءكيدل سبب دې لپاره دبقاء اوحيات ابدى،اولپاره دلقاء مع الله،صوفياءوائى الموتُ جسرٌيوصل الحبيب الى الحبيبِ.اوبل داچې مخكښ نه دوئ ته دا خبروركړې شو نو دا هم يو نعمت او احسان نه كم نه دې،نوځكه اوفرمائيلې شول چې دخپل پروردګار كوم كوم نعمتونو به تاسو ناقدرى كوئ.

فائده: ((ذوالجلال والاکرام)) دي دواړو اسماؤته په حديث کښې اسم اعظم وئيلې شويدى چه په دې سره کومه دعا اوغوښتلې شى نوهغه قبليږى. انس ﷺ فرمانى چه څه دنبى ﷺ سره ومه يو صحابى مونځ اوکړو بيا ئى داسې دعااوکړه: اللّهم انّى اسألک بان لک الحمد، لااله الاّ انت المنان، بديع السموات والارض ذوالجلال والاکرام ياحىّ ياقيوم. نونبى ﷺ صحابوته اوفرمائيل: اتدرُون بما دعا؟ هغوئ عرض اوکړو: الله ورسوله اعلم نبى ﷺ اوفرمائيل: والّذى نفسى بيدهِ لقد دعا الله باسمه الاعظم الذى اذادُعى به اجاب واذاسئل به اعطى (ترمذى. ابوداؤد) دغه شان په دې اسماؤو سره دَ دعا غوښتلو ترغيب هم راغلې دې، نبى ﷺ فرمائى الظّوا بـــ: ياذالجلال والاکرام، يعنى خپلې دعاګانې په دې الفاظو سره غواړئ

يَسْئَلُهٗ	مَنْ	فِي	السَّمٰوٰتِ	وَالْاَرْضِ	كُلَّ	يَوْمٍ	هُوَ
سوال كوي دَالله ﷻ نه	هغه څوک	چه په	اسمانونوکښې	دى اوزمکه کښې	دى	هر	وخت الله ﷻ
فِيْ	شَاْنٍ ۝	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ ۝		
څه نه څه تصرف کښې	وي.	نوپه کوم	يونعمت دَ	نعمتونو دَ رب خپل	به تاسو تکذيب کوئ		

﴿يَسْـَٔلُهُۥ مَن فِى ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ دا **شپږم دليل عقلى** دې په توحيد، چه دَزمکې، آسمان ټول مخلوقات الله ﷻ ته په وجود اوبقاء کښې محتاجه دى، اودهغه نه سوال کوى په لسانِ قال يا حال سره. او الله ﷻ په ټول کائناتو کښې هروخت پخپلې مرضئ سره تصرف کوى.

﴿كُلَّ يَوْمٍ هُوَ فِى شَأْنٍ﴾ يومِ دلته پمعنى دَوقتٍ سره دې اى کل وقتٍ من الاوقات ولحظةٍ من اللحظات (روح المعانى) شانِ نه مرادتصرف کول دى يعنى دَالله ﷻ تصرف هر وخت په کائناتو کښې جارى وى، دانه ده ممکنه چه په الله ﷻ باندې ستړې والې ياغفلت دَيوې لحظې لپاره هم طارى شى، عبدالله بن خبيب دَخپل پلارنه روايت کړيدې چه نبى کريم ﷺ دا آيت کريمه تلاوت کړو (کلّ يومٍ هُوفى شانٍ) نومونږعرض اوکړويارسول الله ﷺ وماذاک الشان؟ يعنى څه کاردې. نو نبى کريم ﷺ اوفرمائيل: ان يَغفرذنبًا، ويفرج کربًا، ويرفع قومًاويضعُ آخرين. يعنى شان اوکار دَالله ﷻ دادې چه ګناه معاف کوى. تکليفونه لرى کوى، يوقوم اوچتوى يعنى عزت ورکوى، يو ښکته کوى يعنى ذليله کوى ئې (ابن کثير)

مقاتل رحمه الله فرمائی چه داآیت دیهودیانو دَ قول تردید دې. چه هغوئ وائی چه الله ﷻ دَخالی په ورځ هیڅ کارهم نه کوی، ستړې وی ارام سره ناست وی (نعوذبالله)

په روح المعانی کښې دی چه عبدالله بن طاهردَحسین ابن الفضل نه تپوس اوکړوچه څه تطبیق دې دَدې آیت اودَهغه احادیثوپه مینځ کښې چه دَتقدیرباره کښې راغلی دی چه ترقیامته پورې څه کیږی دَقلم سیاهی په هغې وچه شویده، نوهغه ورته اووئیل: شُؤونٌ یُبدیها لاشؤونٌ یبتدیها یعنی شؤن (تصرفات) دی چه الله ﷻ ئی ښکاره کوی روستو دَتقدیرنه. دا نه چه شؤن دی اوس ئی شروع کوی. ((فِي شان)) جار مجرور "استقر" یا "ثابت" سره متعلق کیږی. او خبر واقع کیږی. دَ "هو" ضمیر دَپاره، او ((کل یوم)) مفعول فیه دې دَ استقر یا ثابت.

﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا﴾ وجود اوبقاء ستاسو، حاجتونه اوضروریات پوره کول ستاسو، دادَالله ﷻ په تاسولوئ لوئ انعامات دی، نودکوم یونعمت دَرب خپل نه به تاسو انکاراوکړئ.

سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَا الثَّقَلٰنِ ﴿٣١﴾ فَبِأَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿٣٢﴾
زرده چه شروع به کړومونږتاسوسره حساب اې دووفرقو نوپه کوم یونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تکذیب کوئ.

﴿سَنَفْرُغُ لَكُمْ أَيُّهَ الثَّقَلَانِ﴾ دی ځائی نه **دَسورت دریمه حصه** شروع کیږی او پدیکښې تخویفاتوبیان دې اودا آیت د هغی دپاره تمهید دې. ((سنفرغ لکم)) فراغت للشئ، سابق او لاحق دواړو تقاضه کوي، یعنی مخکښې یو کار کښې مشغول وی. بیادَهغی کارنه فارغ شی او دې بل کار ته متوجه شی، اودلته محض تمثیل مقصود دې او اشاره ده دیته چې دَدنیا چمک دمک، شوروغوغا اوتصرفاتو و تغیراتو الله ﷻ په علم کښې یومعلومه اومتعینه انتهاء ده، کله چې هغه پوره شی نو بیا به دا دنیا ورانه شی او تاسو ټول به دَالله ﷻ حضور کښې پیش کیږئ، اوهغه به تاسونه حساب کتاب اخلی، لکه چې یوسړې په یوکارکښې مشغول وی خو په ذهن کښې یی بل کار هم وی، نوکله چې هغه کار نه فارغ شی نو بیا دې بل کارته متوجه شی، اویا ((سنفرغ لکم)) کنایه دَتهدید نه، لکه مونږ پښتو کښې وایو ته صبراوکه.

﴿الثَّقَلَانِ﴾ انسانان اوجنات ورنه مراددی، دَثقل تشنیه ده، انس جن ته ثقل ځکه وائی (۱) چه دوئ مکلف دی دَاحکام شرعیه ؤ، یعنی دَاحکام شرعیه ؤبوج پرې پروت دې (۲) یاداچه دوئ بوج دی په زمکه (۳) یاداچه پدوئ دګناهونوبوج پروت دې (۴) یاداچه ثقل لفظ په عربئ

ژبه کښې هغه څیزته وائی چه دَهغې شان عظیم وی.قیمتی وی.لکه په حدیث کښې دی"انّی تارکٌ فیکم الثقلین کتابُ الله وعترتی"نوانس اوجن هم قیمتی اوقدردان دی.په"لکم"کښې دَجمع صیغه ذکرشوه اوپه﴿ أَيُّهَ ٱلثَّقَلَانِ ﴾کښې تثنیه ذکرشوه،داپدې وجه چه هرفریق جماعت دې،کقوله تعالی:وان طائفتان من المؤمنین اقتتلوا(حجرات:۹).

يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ إِنِ ٱسْتَطَعْتُمْ أَن تَنفُذُوا۟ مِنْ أَقْطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ
اې تولیه دَپیریانواوانسانانوکچرته وَس رسیږی ستاسوداچه اوتختئ تاسودغارودَاسمانونو
وَٱلْأَرْضِ فَٱنفُذُوا۟ ۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ ۝٣٣ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ
اودَزمکی نه نواوتختئ کنه،نه شئ تختیدلې تاسومګرپه زورسره نو په کوم یونعمت دَنعمتونو
رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٣٤ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّن نَّارٍ وَنُحَاسٌ
دَرب خپل به تاسو تکذیب کوئ؟راواوبه لیږلې شی په تاسوباندې لمبې دَاور دَجهنم، اوتورلوږې،
فَلَا تَنتَصِرَانِ ۝٣٥ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٣٦ فَإِذَا
نو تاسو به خان نشئ بچ کولې.نوپه کوم یونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تکذیب کوئ؟پس کله چه
ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ ۝٣٧ فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا
اوچوی اسمان نوشی به سور ګلابي په شانته دَ سرې څرمنې. نوپه کوم یونعمت دَنعمتونودَرب خپل به
تُكَذِّبَانِ ۝٣٨ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ إِنسٌ وَلَا جَآنٌّ ۝٣٩
تاسو تکذیب کوئ؟ پس پدغه ورځ به تپوس نشی کولې دګناه دَ ده په باره کښې ،نه دَ انسان نه اونه دَپیری نه.
فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ۝٤٠
نوپه کوم یو نعمت دَنعمتونو دَرب خپل به تکذیب کوئ؟

﴿يَٰمَعْشَرَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ﴾داتخویف دنیوی دې،چه کچرته په تاسوکښې ،اې انس و جن داطاقت وی چه څمادَعذاب نه دَبچ کیدلولپاره دَآسمانونواودَزمکې دَاطرافونه اووځئ اوبل

محفوظ مقام ته تلي شئ نولا رشئ﴿فَٱنفُذُوا﴾امر دَتعجيز لپاره دي.يعنى نشئ وتلي اوتختيدلي ‹روح›

﴿لَا تَنفُذُونَ﴾اى لاتقدرون على النفوذ﴿إِلَّا بِسُلْطَٰنٍ﴾اى بقوة وقهر.يعنى بغير دقوت اوقدرت نه دا كاركيدنشى چي تاسو دځان نه الله ﷻ عذاب دفع كړئ.اوقوت وقدرت تاسو سره نشته دي.

﴿يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ﴾دا تخويف اخروى دي، يعنى څرنګه دنيا كښې دَالله ﷻ عذاب نه نشئ بچ كيدلي اوهغه ځان نه نشئ لرې كولي نو دغه حالت موبه په آخرت كښې هم وى،د اور لمبى اوګرم كړې شوې تانبا به په تاسو غورزولي كيږى اوتاسو كښې به دومره همت نه وى چي ځان ترينه بچ كړئ يا دَيوبل مدد اوكړئ. ﴿شُوَاظٌ﴾دَاورخالصى شغلي ته وائى چي هغې كښې لوږى بالكل آميزش نه وى،﴿وَنُحَاسٌ﴾د نحاس دوه معني دَابن عباس ﷺ نه منقول دى يوه معنى خالص لوږى كړي ده،چى اور پكښې بالكل نه وى.اوبله معنى ترينه دَ تانبې منقول ده.﴿فَلَا تَنتَصِرَانِ﴾اي لاتمتنعان يعنى ځان به نشى بچ كولي

﴿فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا﴾مجرمان دَخپلوجرائمودَسزانه قبل ازوقت مطلع كيدل اوخبريدل هم دَالله ﷻ دَطرفه لوئ نعمت دي،ځكه دَتوبى موقع ورته ملاويږى،نوپس كوم يونعمت دَرب خپل نه به تاسو انكاركوئ.

﴿فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ﴾دا هم تخويف اخروى دي يعنى كله آسمان اوچوى ،اوسخت حرارت اوګرمئ په وجه تک سور شى،دا به يو ډيره هولناكه ورځ وى،په دغه ورځ به مجرمينوته دَخپلې صفائى موقع به نه وركولى كيږى،بلكه علاماتونه به دوئ څرګند معلوميږى، فرشتى به ئى سر او خپو نه نيسى اوجهنم ته به ئى غورځوئ.‹‹انشقت السماء›› آسمان اوچوى او دروازې دروازې به شى او فرشتى به ترينه راكوزى شى﴿فَكَانَتْ وَرْدَةً﴾جمله عطف ده په‹‹انشقت السماء›› او تشبيه بليغ ده،اي كالوردة، او وردة نه مراد ياګلاب دي او تشبيه په سورالى كښې وركړى شوي ده،يا وردة نه مراد الفرس الورد دي. دا دَ اسونو يو

خاص قسم دي چې رنګونه بدلوی را بدلوی،سپرلی موسم کښ ني رنګ زیړ وی چې یخنې راشي نورنګ یې سور شی اوکله چې یخني خه تیزه شي نو بیا رنګ خړ شی.په دی تقدیر وجه تشبیه تلون ده یعنی ډیر شدت د وجهی نه به آسمان رنګ بدلوی رابدلوی

﴿كَٱلدِّهَانِ﴾خبرثانی دې دَ کانت یاصفت دې دَ﴿وَرۡدَةً﴾ دَ «دهان» مختلفې معنی منقولی دی:ابن عباس ﷺ ئی معنی کوی الادیمُ الاحمر سره چمړه.بعضِ وائی چه جمع دَ دُهن ده.یعنی اسمانونه به سره شی او دَ تیلوپه شانته به اوبهیږی،په دې قول په بناء به ددې مطلب دَيوم تكونُ السّماء كالمهل«المعارج.۸»په شانته دي،

جواب دَ اذا یا محذوف دې چی "فما اعظم الهول"دې،یعنی خه لوئ هیبت به وی اویا ئی جواب "فيومئذ لايسئل " دې دَقیامت دَاحوالونه قبل ازوقت اخبارهم دَالله ﷻ دَطرفه یولوئ نعمت دي نو ځکه اوئیلې شو﴿ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴾

﴿فَيَوۡمَئِذٖ ﴾تنوین پکښ عوض دې دَمحذوف نه،تقدیردارنګه دې.فیوم اذانشقّت السّماء«البحرالمحیط»﴿لَّا يُسۡـَٔلُ عَن ذَنۢبِهِۦٓ ﴾ضمیر په ذنبه کښ انسّ اوجنّ ته راجع دې،باعتبارکل واحداو انسّ ولاجانّ اګرچه مؤخر دې لفظاً لیکن مقدم دې رتبةً ، ځکه چه نائب فاعل دې، دَ﴿لَّا يُسۡـَٔلُ ﴾مطلب دادې چه دګناهونو معلوملو اوتحقیق حال لپاره به دَچانه سوال نه کیږی چه آیادا ګناه دې کړیدې اوکنه؟ځکه چه هرڅه الله ﷻ ته معلوم دی دَچانه دَ تپوس کولوحاجت ورته نشته،البته دَالزام حجت لپاره به ورنه سوال کیږی چه په نورو آیاتونو کښ ئی«لکه اعراف،حجر وغیره» ذکر دې «۲»بعضِ وائی چه مواقف دَحشر به مختلف وی، نو په یوموقف کښ به ورنه سوال نه کیږی،لکه په وخت دَخروج کښ دَ قبرونو نه،اوپه بل موقف کښ به ورنه کیږی چه موقف دَحساب به وی«۳»بعضِ وائی چه دَ ګناه دَعذرصفائي بیانولو دپاره تپوس به ورنه نه کیږی کقوله تعالی:ولايؤذن لهم فيعتذرُون«المرسلات:36».

يُعۡرَفُ ٱلۡمُجۡرِمُونَ بِسِيمَٰهُمۡ فَيُؤۡخَذُ بِٱلنَّوَٰصِي وَٱلۡأَقۡدَامِ ﴿٤١﴾
پیژندلې به شي مجرمان په علامو خپلو سره نو او به نیولې شی دَ ویښتو دَ تندی او دَ قدمونو نه .

فَبِأَيِّ	آلَاءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبَانِ ﴿٤٢﴾	هَٰذِهِ	جَهَنَّمُ	الَّتِي	يُكَذِّبُ	
پس په کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ ورته به اوونیلي شي دا هغه جهنم دې چه تکذیب به								
بِهَا	الْمُجْرِمُونَ ﴿٤٣﴾	يَطُوفُونَ	بَيْنَهَا	وَبَيْنَ	حَمِيمٍ	آنٍ ﴿٤٤﴾		
کوو دَ دی مجرمانو. پیرې به وهي دوئ په مینځ دَدی کښ اوپه مینځ دَ اشیدلي انتهائي ګرمو اوبو کښې								
فَبِأَيِّ	آلَاءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبَانِ ﴿٤٥﴾					
نوپه	کوم	یونعمت	دَنعمتونودَرب	خپل	به	تاسو	تکذیب	کوئ

﴿ يُعْرَفُ الْمُجْرِمُونَ ﴾داپمنزله دَعلت دې لپاره دَماقبل،چه سوال به ځکه نه کیږی چه مجرمان به پخپلوخپلوعلاموسره پیژندلې کیږی نونیولې کیږی به اوجهنم ته به غورځولې کیږی ﴿بِسِيمَاهُمْ ﴾چه مخونه به ئي تور وی،قال تعالیٰ وتسوَدُّ وجوهٌ بدشکله اوپریشانه به وی،قال تعالیٰ وَوجوهٌ یومئذٍباسرةٌ ووجوهٌ یومئذٍعلیهاغبرةٌ سترګې به ئي شنې وی،قال تعالیٰ ونحشر المجرمینَ یومئذٍ زُرقًا

﴿فَيُؤْخَذُ بِالنَّوَاصِي ﴾نواصی دَناصیةٌ جمع ده ، دَتندی ویختوته وائی،کیفیت دَنیولوبه ئي داسې وی چه فرشته به ئی دَتندی ویخته دَ قدمونوسره اوتړی،دَملاهډوکی به ورته مات کړی،سراوخپې به ئي یوځائ شی اوجهنم ته به ئي اوغورځوی اوورته وائی به چه داهغه جهنم دې چه تاسوئی تکذیب کولو.بعض مفسرین وائی چی دوه فرشتې به یویو مجرم نیسی، یوه به یی تندی نه اونیسی اوبله به یی خپونه نیسی اوجهنم ته به یی غوزاری.

﴿ هَٰذِهِ جَهَنَّمُ الَّتِي ﴾دینه مخکښ یُقال لهم مقدردې﴿ يَطُوفُونَ بَيْنَهَا ﴾یعنی دې دوه قسمه عذابونه به پرې پیره او نمبر وی،کله به په اور والا عذاب کښ مبتلا وی اوکله به ګرمو اوبو عذاب کښ . دَ دی پیری اوطواف کیفیت کښ مفسرین داسې لیکی چه مجرمانوته به دَ اور دَ ډیرګرم والی په وجه تنده اولږی نواوبو طرف ته به منډه کړی نو هغه به ډیرې ګرمې وی چه اوئی څکی نوکلمې به ئي اوشلیږی لکه په سورة محمَّد(۱۵)کښ دی فقطّع امعاءهم نوبیابه خپل ځائ ته راشی،بیابه تږی شی،بیابه اوبوته لاړشی نوکله به په ګرم اورسره ورته عذاب

ملاویږی اوکله په سختوګرمو اوبو سره (ابن کثیر) بعض وائی چه په اُورکښ به سوزه ولې کیږی اوپه سرونو به ورته سختې ګرمې اوبه اړه ولې کیږی (اعاذناالله منهابفضله)

«بینها» ضمیر نار جهنم ته راجع دې «حمیم» ګرمو ایشیدلی اوبو ته وائی. او «ان» هغه اوبه چی هغی ګرمائش اوحرارت انتهاء ته رسیدلې وی

وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ جَنَّتٰنِ ﴿٤٦﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ
او دپارهٔ دهغه چاچه یریږی دقیام نه په حضوردخپل رب کښ دوه باغونه دی نوپه کوم یونعمت د نعمتونو
رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿٤٧﴾ ذَوَاتَآ اَفْنَانٍ ﴿٤٨﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿٤٩﴾
درب خپل به تاسو تکذیب کوئ (دواړه باغونه به د ښانګو والا وی نوپه کوم یونعمت دنعمتونو د رب خپل به تاسو تکذیب کوئ
فِیْهِمَا عَیْنٰنِ تَجْرِیٰنِ ﴿٥٠﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿٥١﴾
پدی دواړوکښ به دوه چینی وی چه بهیږی به. نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ
فِیْهِمَا مِنْ کُلِّ فَاکِهَةٍ زَوْجٰنِ ﴿٥٢﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿٥٣﴾
پدی دواړوکښ به وی دهرې میوې نه دوه دوه قسمه.نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ
مُتَّکِـِٕیْنَ عَلٰی فُرُشٍۢ بَطَآئِنُهَا مِنْ اِسْتَبْرَقٍ ۭ وَجَنَا الْجَنَّتَیْنِ
تکیه لګونکی به وی په داسی بستروچه استرونه به ئی دریښموی اوشوکول دمیوږدغی دواړوباغونوبه
دَانٍ ﴿٥٤﴾ فَبِاَیِّ اٰلَآءِ رَبِّکُمَا تُکَذِّبٰنِ ﴿٥٥﴾
نزدې وی . نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ

﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ ﴾ دی ځائ نه دسورة څلورمه حصه شروع کیږی چه پکښ مُتقیانو ته بشارات ذکرکیږی او تولونه اول خواصو ته بشارت ذکر کیږی. ﴿ وَلِمَنْ ﴾ عام دې جنس انس دواړوته شامل دې، نوپه دې سره بعض علماؤو استدلال کړي دې چه جنات مؤمنان به هم جنت ته داخلیږی په شان دَ مؤمن انسانانو، «خاف» خوف نه مراد کله مطلقاً یره وي، چې د تعظیم نه خالی وي او دهغي اثر تنفر او تبعد په شکل کښ ظاهریږی اوکله ترینه مراد خشیت او هغه

یره وی چې عظمت ،کبریائی ،او محسن والی دَ وجهی نه وی چې هغې لازمی اثر تقرب او طاعت اختیارول وی.اودلته ترینه د غه دویمه معنی مراد ده.دی وجهی نه ابن عباس ﷺ دلته دَ خائف تفسیر داسی کوی: من رکب طاعة الله وترک معصیته، "خائف" هغه چاته ویلی کیږی چې الله ﷻ اطاعت اختیار کړی او معصیت او نافرمانی پریګدی لیکن دې مطلب دا هرګز نه دې چې هغه به ګناه نه بالکل معصوم وی بلکه ارتکاب دګناه کله کله دخوف الهی سره جمع کیږی،چه نفس وربانديې غالب شی، دَ ګناه ارتکاب هم اوکړی اودعقاب دَالله ﷻ نه هم خائف وی. دَ دې تائید دهغه حدیث نه هم کیږی چه ابودرداء ﷺ فرمائی چه نبی کریم ﷺ دا آیت ولمن خاف مقام ربه جنتان تلاوت کړو نوماورته عرض اوکړوچه وان زنی وان سرق نو نبی کریم ﷺ دویم ځل بیادغه آیت تلاوت کړونومابیاعرض اوکړوچه وان زنی وان سرق دریم ځل ئی بیادغه آیت تلاوت کړونوماورته بیاعرض اوکړو وان زنی وان سرق نوونی فرمائیل نعم وان رغم انف ابی الدرداء.(ابن کثیر)

«مقام»یامصدرمیمی دې پمعنی دَقیام سره او مضاف دې فاعل ته،ای ولمن خاف قیامَ ربّه علیه (کشاف،روح)یعنی هغه څوک چه دَ نګرانئ دَالله ﷻ نه اویریږی،چه الله ﷻ ما او ځما احوال وینی،نودَ ګناه جسارت نه کوی،کمافی قوله تعالی:افمن هوقائمٌ علی کلّ نفسٍ بماکسبت.یا«مقام»اسم مکان دې،مراد ورنه مکان دَ وقوف دخلقودې په ورځ دَقیامت لپاره دَحساب،کماقال تعالی:یومَ یقومُ النّاسُ لرّب العالمین

﴿جَنَّتَانِ﴾دوه باغونه دَجنت،بعضٍ وائی تثنیه دَتکراراوکثرت لپاره ده،یعنی دوئ لپاره به قسمه قسمه ډیر باغونه وی،لیکن اکثرعلماء وائی تثنیه پخپلې معنی کښې ده، دوه باغونه به وی:(۱) یو به دَده وی بل به ئې دَمیلمنووی لکه دنیاکښ چه دَ کورسره حجره،بیټک وی (۲) یایوبه دَده وی بل به ئې دَ ازواجواو خادمانو وی (۳) یایوبه ئی په محل کښ د ننه وی او بل بهر وی (۴) مقاتل رحمه الله وائی یو به جنتِ عدن وی بل به جنت النعیم وی(۵)بعضٍ وائی یو به دَمعصیت دَترک په بدله کښ وی بل به دَطاعت په بدله کښ،یوبه دَعقیده توحید پوجه بل به دَحسن عمل پوجه،دې نه علاوه نوراقوال هم دی پکښ(روح،قرطبی وغیره). په حدیث کښ دَدې دواړوشان داسې راغلې دې چه:انّ عرض کلّ واحدةٍ منهمامسیرة مائة عام.

﴿ ذَوَاتَآ أَفْنَانٍ ﴾صفت دي د ﴿جَنَّتَانِ ﴾ افنان يا جمع د فنّ ده.هغه شاخونوته وائی چې نری او نرمې وي ،دې کښ اشاره ده کثرت دميوؤ ته. ځکه چه هر شاخ به د ميوؤ نه ډک وی(ابن کثير) يا﴿ أَفْنَانٍ﴾د فنّ جمع ده.يعنی دادواړه باغونه به مختلف انواعواشجارو اواثمارووالا وی ﴿فِيهِمَا عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ﴾ددوؤچينونه مرادتسنيم اوسلسبيل دی ﴿ تَجْرِيَانِ ﴾مطلب داچه اوبه به ئې نه وچيږی، اودا دوه چينې به د هغې انهار اربعه ؤنه علاوه وی چه په سورة محمّد (۱۵) کښ ئی ذکر دې

﴿ فِيهِمَا مِن كُلِّ فَـٰكِهَةٍ زَوْجَانِ ﴾دلته هم تثنيه يادتكراراودكثرت لپاره ده.چه په دې باغونو کښ به هرقسم بې شماره ميوې وی، د يوقسم ميوې به بی شماره اقسام وی.ياتثنيه پخپلې معنی ده،دوه قسمه ميوې به وی.يوقسم به هغه وی چه معروف وی.دنياکښ به ئې ليدلې وی،بل قسم غيرمعروف.يا يو قسم تازه ميوې بل قسم وچې ميوې

﴿مُتَّكِـِٔينَ﴾منصوب بناء برحاليت دې ذوالحال ئی يامحذوف دې ای يتنعمون خوندونه او مزې به اخلی په داسې حال کښ چې تکيه به ئې لګولې وي .يا حال دې د من نه په ((ولمن خاف)) کښ، جمع راوړلو کښ رعايت دې دمعنیٰ(روح المعانی)اومراددَاتکاء نه يعنی تکيه لرولونه اضطجاع دې ارام کول دی والمراد بالاتكاء ههناالاضطجاع ابن كثير) ﴿ عَلَىٰ فُرُشٍۭ بَطَآئِنُهَا مِنْ إِسْتَبْرَقٍ ﴾ استبرق غټوريښموته وائی.او بطائن جمع دبطانةٌ ده.دبسترې د استر يا د قالين لاندنئ حصې ته وائی کوم چه دزمکې سره لږيدلې وی.مقابل ئی ظهار راخی،چې دا د استر يا د قالين بالائی طرف ته وائی، نو مطلب دا شوچه دجنت دبسترو لاندې طرف به د ريښمو وی نو بالائی حصې خو تپوس مه کوه. دسعيدبن جبيرﷺنه چاتپوس اوکړوچه بطائن نی د استبرق دی نوظواهربه ئی څنګه وی؟ نو هغه ورته اووې هذا مما قال الله:فلا تعلم نفسٌ مّا اخفی لهم من قُرّة اعينٍ(سجده:۱۷).

﴿وَجَنَى ٱلْجَنَّتَيْنِ دَانٍ ﴾ جنی مصدر دې، شوکولو ته وائی.اوياصفت مشبه دې په معنی د مجنيّ سره ،مراد ترينه ميوه ده((دان))د دنا ،يدنو نه دې بمعنی قريب.يعنی شوکول د

میوو به بالکل قریب اوآسان وی. دَدي کیفیت روایاتو کښې داسې راځي چې کله جنتي دَ یوې ونې میوې ته اشتهاء اوشی نو الله ﷻ به ورته هغه رانیزدې کړی که جنتي یې په ولاړه شوکول غواړي نو په ولاړه بې هم شوکولې شي. که په ناسته یې شوکول غواړي نو په ناسته یې هم شوکولې شي، اوکه په ملاسته یې شوکول غواړي نو په ملاسته به یې هم شوکولې شي

فِيهِنَّ	قٰصِرٰتُ	الطَّرْفِ	لَمْ	يَطْمِثْهُنَّ	اِنْسٌ قَبْلَهُمْ
پدغه جنتونوکښې به په ناز کتونکې حورې وي ، نه به وی لاس لګولې دوئ ته انسان مخکښې دَجنتیانونه					
وَلَا	جَآنٌّ ۝	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ ۝ كَاَنَّهُنَّ
اونه پیرې،نوپه کوم یونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تکذیب کوئ،داسې به خکاري ، لکه چې دوئ					
الْيَاقُوْتُ	وَالْمَرْجَانُ ۝	فَبِاَيِّ	اٰلَآءِ	رَبِّكُمَا	تُكَذِّبٰنِ ۝
یاقوت اومرجان وی.نوپه کوم یونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تکذیب کوئ					

﴿ فِيهِنَّ قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ ﴾ضمیرپه فیهن کښې راجع دې﴿جَنَّتَان ﴾ته، جمع دَضمیرپه اعتبار دَ وُسعت او کثرت دَاشجارو او مساکنو او نهرونو ده (کبیر) یا ضمیر راجع دې فرش ته او فی بمعنی دَعلی دې کما فی قوله تعالی: فی جذوع النخل یعنی دی بسترو باندی به دوئ حورو سره ناست وی. او د "علی"په ځائ"فی" راوړلو کښې څو نکاتو طرف ته اشاره ده: (۱) یو نکته دا ده لکه څرنګه مظروف خپل ظرف کښې مستقر او پروت وی نودوئ به هم اکثر په جنت کښې حورو سره په بسترو باندې ناست اوپراته وی.

(۲)بله نکته داده چې لکه څرنګه یو ظرف خپل مظروف باندی احاطه کړی وی، اومظروف پکښې دننه پروت وی ،نو دا بسترې به هم دومره نرمې او پستې وی چې انسان پکښې کینی نو د ننه به لاړ شي.

﴿قٰصِرٰتُ الطَّرْفِ ﴾ قصرات صفت دې موصوف مقدردې ای ازواجٌ قاصرات الطرف، او دَقصرات الطرف معنی:(۱)یاداده چې قصرن ابصارهنّ علیٰ ازواجهنّ،یعني بندونکې به وي نظرونه خپل لره په خاوندانوخپلوپورې، بل چاته به نه ګوري، دادَښځې کمال اوعفت دې چې صرف خپل خاوندته ګوري،نو وصف یا مبني دې په ظاهر یا کنایه ده دَ فرطِ محبت نه دَ خپلو

خاوندانو سره.(۲)يامعنى داده چې دكمال حياء په وجه به سترګې خكته ساتي(۳)، يامعنى داده چې دوئ به دخاوندانو نظرونه خكته كونكي وي خپل ځان پورې،دډيرحسن په وجه به خاوندان ئې بل چا ته نه ګوري(۴) او بعض مفسرينو ئې معنى ذابلات الطرف تدللا كړې ده،يعنى ډير ناز نه سترګې به پټوي را پټوي.

﴿لَمْ يَطْمِثْهُنَّ إِنسٌ﴾يعنى داحورې به باكرې وي.طمث.خروج الدم ته وائي،په دې وجه حيض ته هم طمث وائي اوحائضه ښځې ته طامث وائي،اطلاق ئې په باكرو ښځوسره په جماع باندې كيږي،ځكه چه په دې كښ هم خروج الدّم وي،بعضِ وائي تعميم دې پكښ هر قسمه جماع باندې ئې اطلاق كيږي باكرې سره وي اوكه ثيّبه سره،اكثرو اوله معنى مرادكړيده،تعبيرپدې لفظ سره كولوكښ اشاره ده دېته چه دوئ به باكرې وي كله چه هم ورسره خاوندان جماع كوي (روح المعاني)فرّاء وائي چه.طمث.مس ته وائي.اى لم يمسهنّ.

«قبلهم» كښ ضمير ازواجو يعني جنتي خاوندانو ته راجع دې.چه﴿ قَـٰصِرَٰتُ ٱلطَّرْفِ﴾ورباندې دلالت كوي.

﴿كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ﴾دې آيت كښ دجنت دحورودحسن صورت بيان دې،چه دحسن سيرت نه ئې ورستوذكركړو،غالبًااشاره وي دېته چه حسن سيرت اولى اوبهتردې دحُسن صورت نه،په دې آيت كښ تشبيه دحورودجنت دياقوتُ اومرجانُ سره وركړې شويده،نوبعضِ وائي چه دياقوتوپه شان به صفاوي اودمرجان په شان به سپيني وي،بعضِ وائي چه مخونه به ئې دياقوتوپه شان سره وي اوباقي بدن بئ دمرجانوپه شان صفااوسپين وي،اوچونكه دادوه رنګونه په ښځوكښ داكثروخلقوخوښ وي نوځكه ئې ورسره تشبيه وركړه،ابن مسعود رضي الله عنهدنبى كريمﷺ نه نقل كړيدى چه:انّ المرأةَ من نسآء اهلِ الجنّة ليُرىٰ بياض ساقِهامن وّرآءسبعين حُلّةً من حريرحتّى يُرىٰ مخها(ابن كثير)يعنى دجنّتى حورې دپنډئ سپين والي به داوياجوړوباوجودښكاري.او مسند احمد په روايت دى چې پردې كښ به هغى مخ دآئينې نه زيات صفا خكاري او دهغى حوري يو ادنى غمى به دومره چمكدار وى چې مشرق اومغرب ټول به روښانه كړي.اوكه په هغې باندې اويا(70)كپړې هم پرتې وي،نو بيا هم هغې پنډئ به ښكاري.

هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ ۚ﴿۶۰﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۱﴾

نه ده بدله داحسن مګراحسان دي.نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ

﴿هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ﴾((احسان)) عربي کښ يو کار ښه اومحکمې طريقې سره انجام ته رسولو ته وائي.دلته مراد دَاول ((احسان)) نه "احسان في الطاعة" دې يعنې طاعت يې کمال ته رسولې وي.او دويم ((احسان)) نه مراد "احسان في العطاء" دې يعني کمال طاعت بدله کمال عنايت وعطاء نه سوا بل څه کيدې شي،ځنې روايانو نه معلوميږي چې اول احسان نه مرادتوحيددې په دنياکښ اودَدويم احسان نه مرادجنت دې په آخرت اى ماجزآء التوحيد الاّ الجنة.انس رضي الله عنه فرمائي چه قرأرسول الله ﷺ ﴿هَلْ جَزَآءُ الْاِحْسَانِ اِلَّا الْاِحْسَانُ﴾فقال وهل تدرون ما قال ربّكم؟ قالواالله ورسوله اعلمُ قال:يقول هل جزاء من انعمتُ عليه بالتوحيد الاّ الجنة (ابن کثير)

وَمِنْ دُوْنِهِمَا جَنَّتٰنِ ۚ﴿۶۲﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۙ﴿۶۳﴾

او علاوه دَدې دوؤجنتونونه دوه نورجنتونه دي نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ

مُدْهَآمَّتٰنِ ۚ﴿۶۴﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۚ﴿۶۵﴾ فِيْهِمَا

تک توربه وي دَډيرشين والي په وجه.نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ په دې دواړو جنتونو کښ به

عَيْنٰنِ نَضَّاخَتٰنِ ۚ﴿۶۶﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ۚ﴿۶۷﴾ فِيْهِمَا

دوه چينې وي جوش وهونکې(فواري) نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ په دې دواړوجنتونو کښ به

فَاكِهَةٌ وَّنَخْلٌ وَّرُمَّانٌ ۚ﴿۶۸﴾ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴿۶۹﴾

ميوې وي اوکجورې به وي اوانارېه وي.نوپه کوم یونعمت دنعمتونودرب خپل به تاسو تکذیب کوئ

﴿وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ﴾په دې آياتونو کښ عوامو دپاره بشارت اوهغوئ دپاره دوه جنتونه ذکر کيږي "دون" پمعنې دَادنى او کم سره دې يعنى دادوه(۲)جنتونه به دَاولنى جنتونو

نه په مرتبه کښې کم وی.ای ومن دون تینک الجنتین فی المنزلة والقدر جنتان اُخریان«روح المعانی»

﴿جَنَّتَانِ﴾تثنیه دلنه هم یا دَ کثرت لپاره ده لکه چه مخکښې تیرشویاپخپله معنٰی ده، بعض وائی مراد ورنه جنت الفردوس اوجنت الماوی دي.﴿مُدْهَآمَّتَانِ﴾صفت دي دَ ﴿جَنَّتَانِ﴾او د ادهیمام باب نه دَاسم فاعل تثنیه مؤنث ده.دُهمةٌ نه مشتق دي.دِ ډیرشین والی په وجه رنګ تور والی ته مائل شي هغی ونیلي کیږي.په قرآن مجیدکښې دایو آیت دي چه کلمه واحده باندي مشتمل دي.

﴿فِيهِمَا عَيْنَانِ نَضَّاخَتَانِ﴾نضخ اوبوشیندلوته یعنی فواري ته وائی.ای فوّارتانِ لاینقطعان «جلالین»یعنی فواري په شکل به په جوش اوتیزئ سره را اوزی چی هغې نه به یو حسین منظر جوړ شی

﴿فِيهِمَا فَٰكِهَةٌ وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ﴾نخل اورمان عطف دی په«فَٰكِهَةٌ»باندي دمعطوف اومعطوف علیه په مینځ کښې مغایرت وی نومعلومه شوه چه دادواړه په فواکه کښې نه دی داخل. په دې وجه امام ابوحنیفهرحمه الله پدې سره استدلال کوی په عدم حنث دَهغه چاچه هغه قسم اوکړی چه والله لا یاکل فاکهةً او بیا انار یا کجوري اُخوری.او دامغایرت دَ دنیاپه میوو کښې دي ځکه چه کجوري کښې غذائیت دي اوانارکښې دواء ده.د آخرت میوي خالص دَ تلذذ لپاره دی.صاحبین په مسئلی مذکوري کښې دَامام صاحبرحمه اللهسره مخالف دی.اووائی چه﴿وَنَخْلٌ وَرُمَّانٌ﴾جدا ذکرکول دَفضیلت اوکثیرالمنافع په وجه دی.اودغه رنګه په عربوکښې به دادواړه په کثرت سره استعمالیدل.

په حدیث کښې دی چه دَیهودیانویوځوکسان نبی کریمﷺ ته راغلل.تپوس ئی ورنه اوکړوچه آیاپه جنت کښې به میوي وی؟نبی کریمﷺاوفرمائیل نعم فاکهةٌ ونخلٌ ورمانٌ.هغوئ اوونیل آیااهل جنت به ئی خوری لکه په دنیاکښې؟ نبی کریمﷺ اوفرمائیل نعم واضعاف. هغوئ اوونیل نوقضاء حاجت به کوی؟حضورﷺورته اوفرمائیل لاولکنّهم یعرقون ویرشحون

فيذهب الله مافي بطونهم من اذى يعني خوله به پرې راشي اولګ غوندي به او بهيګي. اوخيتې نه به تو له ګندګي ختم شي. (ابن كثير).

فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ ﴿٧٠﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧١﴾ حُورٌ								
پدې جنتونو كښ به حورې وي نيكې ښائسته.نوپه كوم يونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تكذيب كوئ.حورې به وي								
مَّقْصُورَٰتٌ فِي ٱلْخِيَامِ ﴿٧٢﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٣﴾ لَمْ يَطْمِثْهُنَّ								
بندې ساتلې شوې په خيمو كښ.نوپه كوم يونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تكذيب كوئ.لاس به نه وي لګولې دوئ ته								
إِنسٌ قَبْلَهُمْ وَلَا جَآنٌّ ﴿٧٤﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٥﴾ مُتَّكِـِٔينَ								
انسان مخكښې دَجنتيانونه اونه پيرى.نوپه كوم يونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تكذيب كوئ.تكيه لګونكې به وي								
عَلَىٰ رَفْرَفٍ خُضْرٍ وَعَبْقَرِيٍّ حِسَانٍ ﴿٧٦﴾ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ﴿٧٧﴾								
په بالختونو شنوباندې اوپه غاليچو(ګدو)عمدؤباندې.نوپه كوم يونعمت دَنعمتونودَرب خپل به تاسو تكذيب كوئ								
تَبَٰرَكَ	ٱسْمُ	رَبِّكَ	ذِى	ٱلْجَلَٰلِ	وَٱلْإِكْرَامِ ﴿٧٨﴾			
بركت	والا	دې	نوم	دَرب	دَستاچه	خاونددلويئ	اودَعزت	دې

﴿ فِيهِنَّ خَيْرَٰتٌ ﴾ ((فيهن)) ضمير ((جنتان)) ته راجع دې، چونكه هر يو جنت بيا نورو ډيرو جنتونو ته متضمن دې ، نو دې وجهې نه ضمير دَجمعې ورته راجع كړې شو ، ((خيرات)) جمع دَ "خَيْرَة" ده. ښه اخلاقو والا حورې ﴿حِسَانٌ﴾ ښكلې صورتونو والا ،ام سلمه ﷺ فرمائي چه ما حضور ﷺ ته عرض اوكړوچه ﴿خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ﴾ څه معنى ده،اوئې فرمائيل:خيراتُ الاخلاق حسانُ الوجوه ﴿حُورٌ﴾ بدل دې دَ﴿خَيْرَٰتٌ حِسَانٌ﴾ نه جمع دَ "حوراءَ" ده،چه ستركو تور ئې ډير تور وي او سپين ئې ډيرسپين وي سترګې ئې غونډې او نازک نرې بانړه ئې وي

﴿ مَّقْصُورَٰتٌ ﴾اى مستوراتٌ ﴿فِي ٱلْخِيَامِ﴾ يعنى په خيمو كښ به پټې اومستورې وي، دا دلالت دې دَهغوئ په صيانت باندې،علامه شبيراحمدعثمانى رحمه الله فرمائي چه دينه

معلومیږی چه دښځې کمال اووصف،سترپرده ده،دښځواصلی ښائست په کورکښ کیناستل دی، پکارده چه ښځې دملغروپه شان په کورکښ پټې ناستې وی،نه داچه بازارونوکښ لارو کوڅو کښ دی ګرځی،نن مغربی ممالک دښځودغه قیمتی حقوق ضائع کوی اوبیادعوه هم کوی چه مونږ دښځو حقوق غواړو او د هغې علمبرداران یو.

﴿فِى ٱلۡخِيَامِ﴾مراددینه دهغوئ کورونه اومحلونه دی،په حدیث کښ دهغې بیان داسې راغلې دې چه ابوموسیٰ اشعریرضي الله عنه فرمائی چه نبی کریمﷺفرمائی چه:الخيمة درة مجوفة طولها فى السماء ستون ميلاً فى كلّ زاوية منهاللمؤمن اهل لايراهم الاخرون يطوف عليهم المؤمن (بخاری، مسلم،ترمذی)یعنی داخیمه دډډې ملغرې ده،اوږدوالی ئی شپیته(۲۰)میله دې،مؤمن لره به د هغې هر یو طرف ته اهل وی،هغوئ به یوبل نه وینی،دې به په هغوئ چکرلږه وی.اوبل روایت کښ رازی چه دَ دې به دغمونه جوړی اویا(۷۰) دروازې وی.

﴿لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٌ قَبۡلَهُمۡ﴾ای قبل اصحابُ الجنّتين،باقی تفسیرمخکښ تیر شویدې

﴿مُتَّكِـِٔينَ﴾حال دې دمقدرنه ای يتنعّمون،اوضمیرپکښ اصحاب الجنتين ته راجع دې.﴿عَلَىٰ رَفۡرَفٍ﴾ دَ رَفٌ نه مشتق دې،بلندئ ته وائی،کومه مرغئ چه په هواکښ اُوچته الوځی هغې ته هم رفرفه وائی،دلته ورنه مراد(۱)بعض وائی چه شنې ریښمی څادرې دی چه په بسترو یاتکیه ګانو باندې اچولې کیږی.(۲)بعضِ وائی بالختونه اوتکیه ګانې ورنه مراددی(۳)بعضِ وائی دَ جنّت چمنونه ورنه مراددی.﴿وَعَبۡقَرِيٍّ﴾ابن عباسرضي الله عنهاوقتاده وغیره وائی چې«عبقری» غالیچو ته یعنی ګدئ ته وائی،بعضِ وائی چه هرنادراوعمده څیزته وائی،حضورﷺدغه لفظ دحضرت عمررضي الله عنه باره کښ استعمال کړیدې،فلم ارىٰ عبقريًا يفري فَرِيَّه (بخاری،باب فضل عمر) یعنی ماداسې باکمال اوعمده سړې نه دې لیدلې چه دعمررضي الله عنهپه شان کارکوی، .بعضِ وائی «عبقری» منسوب دې "عبقر" ته،عربو دا ګمان وو چه عبقر دَ جناتو ښاردې،نودوئ هر عجیب غریب څیزدیته منسوب کوی،بعض وائی دَ غټو ریښموڅادرونوته وائی،وعلى كلّ حال اهل جنت چه کوم ځائ اوسیږی نوهلته به عمده عمده تکیه ګانی،بسترې،قالینونه

غوړیدلی وی،نوداداﷲ ﷻ بی شماره انعامات وی، نودَ کوم یو نعمت دَرب خپل نه به تاسو انکار کوئ.

دلته پوري دَعوامو جنت بیان پوره شو ،دَخواصو او عوامو په جنت کښ یو څو واضع فرقونه ذکرشو:

(۱)خواصو جنت کښ په ونی او میوی ډیرې وی،ځکه چه د هغی صفت ((ذواتا افنان)) راغلې دی.او عوامو جنت کښ به واړه بوټی ډیر وی ځکه چی صفت ((مدهٰمتان))راغلې دې.

(۲)دهغې چینو صفت جری راغلیدې چی بهیږی به اودَدې چینو صفت نضخ راغلیدې چې جوش به وهی،اوفوار به پریدی

(۳)د هغې هرې میوې جوړه ذکر دې،((من کل فاکهة زوجان))دیکښ دهغې ذکر نشته.

(۴) هلته چې دَحوروکوم اوصاف بیان شویدی دلته هغه ټول اوصاف نشته.

﴿تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِی الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ﴾داپه آخرکښ دعوه دَسورة ذکرکیږی چه دانعمتونه دَجنت به هغه چاته ملاویږی چه دعوت دَرب ئی اومنلوچه اﷲ ﷻ نه سوئ څوک کارساز نشته،برکت هم دَهغه په نوم کښ دې اوهغه خاوند دَفضل تام او اعطاء تام دې،اللّٰهم ارزقناها بفضلکَ وجودکَ وکرمکَ یاارحم الرّاحمین یاذاالجلال الاکرام،واغفرلنا ولوالدینا واساتذنا وازواجنا وذرّیاتناوجمیع امّة محمّدٍ ﷺ. آمین.

هرکه خوانَد دُعاطمع دارم　　زانکه من گنهگارم

صرفتُ العمرفی لهو ولعبٍ　　فـآهــاثمّ آهـاثُمّ آها

ركوعاتها (۳)	سورة الواقعة مكية	آياتها (۹۶)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكې دې شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۶) وحسب النزول (۴۶)

نزلت بعدطه قبل الشعراء.

ربط : (۱) پدی سورة کښ توحيددَماقبل سورة نه على سبيل الترقى بيانيږي، ماقبل سورة رحمٰن کښ داوؤچه﴿تَبٰرَكَ اسْمُ رَبِّكَ ذِى الْجَلٰلِ وَالْإِكْرَامِ﴾يعنى بركت والانوم صرف دَالله ﷻ دې اوهغه بركات وركونكې دې، نوهركله چه بركات خاص دَبارى تعالى په اسم کښ دى نو دى سورت کښ دى﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾يعنى الله ﷻ پدغه صفت کښ دَشريكانونه پاک اوګڼرئ.

(۲)ماقبل سورت کښ دَخواصو مؤمنانو اوعامو مؤمنانودَ جنت فرق بيان شوې وؤ.دې سورت کښ په تفصيل سره دَمكلفينو اقسام اواحوال بيانيږي.

فضيلت:ابن مسعود رضي الله عنه فرمائى چه:سمعتُ رسول الله ﷺ يقول:من قرأسورة الواقعة كلّ ليلةٍ لم تُصبه الفاقةُ ابداً،ابن عساكردَابن عباس رضي الله عنه نه دَدې په مثل مرفوعًاروايت نقل كړيدې،اوابن مردويه دَانس رضي الله عنه نه نقل كړيدى چه حضور ﷺ فرمائى:سورة الواقعةُ سورة الغنٰى فاقرؤها وعلّموها اولادكم،روايت دې چه عثمان رضي الله عنه دَعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيمارپُرسئ ته لاړو،هغه په مرض الوفات کښ وؤ،عثمان رضي الله عنه ورته اووئيل څه تكليف دې تاته،هغه ورته اووئيل دَ خپلو ګناهونو،عثمان رضي الله عنه ورته اووئيل چه خواهش دې څه دې،هغه ورته اووئيل دَالله ﷻ رحم، عثمان رضي الله عنه ورته اووئيل آياطبيب درله رااوغواړم هغه ورته اووئيل طبيب خو څه بيمار كړې يمه، عثمان رضي الله عنه ورته اووئيل آيادَبيت المال نه درته څه عطيه راوليږم،هغه ورته اووئيل ماته ضرورت نشته،عثمان رضي الله عنه ورته اووئيل چه ستانه ورستوبه ستابچوله به پكارراشى هغه ورته اووئيل آياته څما په بچوباندې دَفقرخطره كوې،ماهغوئ ته امركړيدې چه هرشپه سورة الواقعه لولئ،مادَحضور ﷺ نه اوريدلى دى:من قرأسورة الواقعة لم تصبه الفاقة ابدا(ابن كثير).

دسورة دَمضامينواجمالي خلاصه

ابتداء كښ تمهيد دي چه پكښ احوال دَقيامت دى.بيادَدريؤجماعتونو ذكردي، دَهغوئ احوال اونتيجه بطورِ لف نشرغيرمرتب،درميان كښ په توحيدخلوردلائل، بياعظمت دَقرآن،په آخركښ دَسورة دعوه.

تفصيلي خلاصه

﴿ إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴾آيت(١)نه ترآيت(٢)پورې تمهيددي احوال دَقيامت پكښ ذكركيږي

﴿ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴾آيت(٧)نه ترآيت (١٠) پورې دَدرې جماعتونويعنى اصحاب الميمنه،اصحاب المشئمه،السابقون اجمالي ذكردي.

﴿أُوْلَٰٓئِكَ ٱلْمُقَرَّبُونَ﴾ آيت(١١)نه ترآيت(٢٢)پورې دَ"السّابقون"دَاحوالوبيان دي،بطريق لف نشرغيرمرتب.

﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴾آيت(٢٧)نه ترآيت(٤٠)پورې،دَاول جماعت يعنى اصحاب الميمنه دَاحوالُ بيان دي

﴿وَأَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ﴾آيت(٤١)نه ترآيت(٥٢)پورې دَدويم فريق يعنى اصحاب المشئمه دَاحوالوبيان دي.

﴿نَحْنُ خَلَقْنَٰكُمْ ﴾آيت(٥٧)نه ترآيت(٢٢)پورې اول دليل عقلي دې په توحيد او په بعث

﴿أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴾آيت(٢٣)نه ترآيت(٢٧)پورې دويم دليل دې.

﴿أَفَرَءَيْتُمُ ٱلْمَآءَ ٱلَّذِى تَشْرَبُونَ ﴾آيت(٢٨)نه ترآيت(٧٠)پورې دريم دليل عقلي دې په توحيد

﴿أَفَرَءَيْتُمُ ٱلنَّارَ ٱلَّتِى تُورُونَ ﴾آيت(٧١)نه ترآيت(٧٣)پورې څلور دليل عقلي دې.

﴿ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴾آيت(٧٤)دلائلُ نه بعددعوىٰ دَسورة ذكرده.

﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴾آيت«۷۵»نه آيت«۸۲»پورې دقرآن دعظمت بيان دې

﴿ فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴾نه ترآيت«۸۷» پورې زجردې منکرينودقيامت ته. بياترآيت«۹۵»پورې ددرې واړوجماعتونو داحوالو اعاده ده

﴿فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ﴾آيت«۹۶»په آخرکښې دسورة ددعوې اعاده ده

تمت خلاصة السورة اجمالاًوتفصيلاً

إِذَا	وَقَعَتِ	ٱلۡوَاقِعَةُ ۝١	لَيۡسَ	لِوَقۡعَتِهَا	كَاذِبَةٌ ۝٢	خَافِضَةٌ		
کله چه واقع شی واقع کيدونکې«قيامت»نشته په واقع کيدو د هغې کښې دروغ. ښکته«ذليله»کونکې دې.								
رَّافِعَةٌ ۝٣	إِذَا	رُجَّتِ	ٱلۡأَرۡضُ	رَجّٗا ۝٤	وَبُسَّتِ			
پورته کونکې دې. کله چه اوخوځولې شی زمکه په سختوخوځولوسره.اوريزه ريزه کړې شی								
ٱلۡجِبَالُ	بَسّٗا ۝٥	فَكَانَتۡ	هَبَآءٗ	مُّنۢبَثّٗا ۝٦				
غرونه	په ريزه	ريزه	کولوسره،نوشی	به	داغرونه	دوړه	خوره	

﴿إِذَا وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ﴾دې آياتونوکښې د"ازواجاً ثلثه" داحوالودبيان دپاره تمهيددې،چه کله قيامت قائم شی نوپه دغه وخت به ټول خلق به په درې جماعتونوکښې تقسيم شی،اصحابُ الميمنه،اصحابُ المشئمه،مقرّبين،ورستوآياتونوکښې بيادې درې واړوجماعتونوتفصيلی احوال ذکرکيږی.«اذا»په باره کښې راجح قول دا دې دا دلته تهويل دپاره راغليدې،په دې سره دلته دقيامت حادثې هولناکۍ اوخوفناکۍ طرف ته اشاره ده،او ظرف «يعنی اذا اواذ» چې کله تهويل دپاره راشې نواصح او بې تکلفه قول دادې چې بيا دې دپاره نه دعامل تلاش کولوضرورت شته او نه ورله دجواب لټولو ضرورت شته ﴿ٱلۡوَاقِعَةُ ﴾ واقعه معنی ده واقع کيدونکې دا دقيامت په نومونوکښې يونوم دې،قيامت په دې نوم سره ځکه مسمّی شوچه هغه به لامحاله واقع کيږی«ابن کثير».

﴿لَيْسَ لِوَقْعَتِهَا كَاذِبَةٌ ﴾ وقعة يوغښ امر واقع كيدلوته وائى ((كاذبة)) مصدر دې په وزن دَاسم فاعل ،يعنى دې واقع كيدوكښ هيڅ دروغ نشه ، دابه په رښتيا واقع كيږى.يا((كاذبة)) صيغه داسم فاعل ده اوصفت دې دپاره دَموصوف محذوف . اي نفس كاذبة. دې صورت كښ "لام" په ((لوقعتها)) كښ دَتوقيت دَپاره دې يعنى اوس خو لګيايئ اودروغ وايئ چې قيامت نشته اودوباره ژوندې كيدل نشته،خوچې واقع شي نو بيابه څوك هم داخبرې نشى كولي

﴿خَافِضَةٌ ﴾خبردې دَمبتدا محذوف اى هى خافضةٌ للكافرين.يعنى كافرانولره ذليله كونكى ورځ ده چه جهنم ته به غورځيږى.﴿رَّافِعَةٌ ﴾خبربعدخبردې.اى رافعةٌ للمؤمنين، مؤمنانو لره عزت وركونكى ده چه جنت ته به داخليږى.

﴿ إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ ﴾بدل دې دَ﴿إِذَا وَقَعَتِ ٱلْوَاقِعَةُ ﴾نه."رج"خوځولو ته وائي يعنى ځمكه به دومره سخته اوخوځولي شى چې څه هم په مخ دَځمكي وى هغه به ټول راغوزار شى

﴿وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا ﴾يعنى غرونه ريزه ريزه شى،اى فُتِّتَتْ فَتًّا،بعضِ وايئ معنى داده چه يوړلې به شى دَخپلوځايونونه،كقوله تعالى:وسُيِّرتِ الجبالُ فكانت سرابًا.﴿فَكَانَتْ هَبَآءً ﴾ اى غبارًا﴿مُّنۢبَثًّا ﴾اى منتشراً.

وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَٰثَةً ۝ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ۝
اوشئ به تاسو ډلې درې، پس ښى طرف والا، څومره خه حال به وى دښي طرف والؤ.
وَأَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْمَشْـَٔمَةِ ۝ وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ ۝
اوګس طرف والا،څومره بد حال به وى دَ ګس طرف والؤ. او ړومبى كيدونكى خو ړومبى كيدونكى دى

﴿ وَكُنتُمْ أَزْوَٰجًا ثَلَٰثَةً ﴾تمهيدنه بعددَدرې(۳)جماعتونو اجمالى ذكردې چه كله قيامت قائم شى نوخلق به درې قسمه شى(۱)اصحاب الميمنه(۲)اصحابُ المشئمه(۳)السابقون.

﴿فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ﴾" الميمنة"معنى ښي طرف او " المشئمة"معنى گس طرف ده ښي طرف والا نه مراد جنتيان او گس طرف والا نه مراد جهنميان دي چونکه اهل عرب دښي طرف نه نيک فالي اوگس طرف نه بدشگوني اخلی نوځکه ورته «اصحب الميمنة» او «اصحب المشئمة» اويلي شو، يا چونکه جنتيانو ته به اعمال نامې په ښی لاس کښ او جهنميانو ته به گس لاس کښ ميلاويږی نو دي وجهې نه جنتيانو ته «اصحب الميمنة» اوجهنميانو ته «اصحب المشئمة» اويلي شوَيا چونکه جنتيان به جنت او عرش الهی ښې طرف ته اوجهنميان په گس طرف اولاړ وی نوځکه ورته «اصحب الميمنة» او «اصحب المشئمة» اوويلی شو.

يا«الميمنة» نه دَ "يُمن"بمعنى خوش بختی او برکت او «المشئمة» دَ"شؤم" بمعنى بدبختی ، نه ماخوذ دي، نو«اصحب الميمنة» نه مراد خوش بخت خلق «جنتيان» دي او «اصحب المشئمة» نه مراد بدبخته اوسپيره دي.

«اصحب الميمنة» مبتدا دي «مااصحب الميمنة»مبتدا سره دَ خبر نه پوره جمله خبر واقع کيږی د اول مبتدا دَپاره،يا «اصحب الميمنة» خبر دې مبتدا محذوف احدها دَ پاره.يعنی هغه دری ډلو کښ اوله ډله اصحب الميمنة ده او ما اصحب الميمنه پوره جمله انشائيه مقول في حقهمپه تاويل ورله صفت واقع شوي ده ،هم دهغه دوه صورتونه په «واصحب المشئمة»کښ جاري کيږی،خودلته به دويم صورت کښ مبتدا ثانيها وی.

﴿وَٱلسَّٰبِقُونَ ٱلسَّٰبِقُونَ﴾دادَدريم جماعت بيان دي،يعنی ړومبي کيدنکي خو ړومبي کيدونکې دی، دا تعبير دَهغوئ عظمت شان اوفضل باندی دلالت کوی،لکه پښتو کښ وائی:څه خوځه يم ، يا ته خو ته يی،مطلب دا چی دَسابقينو اوخيرکارونو کښ ړومبی کيدونکی څه تپوس کوئ،هغوئ خو بس هغوئ دی،دَهغوئ درجی الله ﷻ ته معلومې دی.او « السابقون» نه نيکئ کارونوکښ سبقت کونکی مراد دی خواه که هغه ايمان دې يا اعمال صالحه دی يا توبه ده،خلاصه دا چی دَشريعت هرحکم ته غاړه اېښودنکی وی اوپه اول وهله کښ بغير چوچرا نه ، تسليم کيږي.

دَدی جملې ترکيب کښ هم دوه احتماله دی،يو دا چې اول «السابقون» مبتدا او دويم «السابقون» ورله خبر،يااول «السابقون» خبردي،دَ ثالثها مبتدا محذوف دپارهَ،اودويم ورله صفت دي.

أُولَٰٓئِكَ الْمُقَرَّبُونَ ﴿١١﴾ فِي جَنّٰتِ النَّعِيمِ ﴿١٢﴾

هم دوئ نژدې کړې شویدی الله جل جلاله ته. دوئ به په جنتونو د نعمتونو کښې وي

ثُلَّةٌ مِّنَ الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾ وَقَلِيلٌ مِّنَ الْآخِرِينَ ﴿١٤﴾ عَلَىٰ سُرُرٍ

لویه ډله به وی د ړومبو خلقونه، او لږ خلق به وی د وروستنو نه ناست به وی دوئ په تختونو

مَّوْضُونَةٍ ﴿١٥﴾ مُّتَّكِئِينَ عَلَيْهَا مُتَقَابِلِينَ ﴿١٦﴾ يَطُوفُ

په سرو زرو اودلو شوو باندی، تکیه لګوونکی به وی په هغو تختونو باندی، یو بل ته مخامخ به وی. ګرځی را ګرځي به

عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ ﴿١٧﴾ بِأَكْوَابٍ وَأَبَارِيقَ وَكَأْسٍ

په دوئ لپاره د خدمت هلکان همیشه به هلکان وی، په ګلاسونو سره او په کوزو سره. او په کاسو د کو سره

مِّن مَّعِينٍ ﴿١٨﴾ لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا وَلَا يُنزِفُونَ ﴿١٩﴾ وَفَاكِهَةٍ

د بهیدونکو شرابونه نه به سر خوږیږي شی د دوئ د هغی شرابونه او نه به بیخوده (بیهوشه) کیږی. او په میوو سره

مِّمَّا يَتَخَيَّرُونَ ﴿٢٠﴾ وَلَحْمِ طَيْرٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ ﴿٢١﴾

د هغی قسمونونه چه دوئ ئې خوښه وی. او په غوښو د مرغانو سره د هغی قسمونونه چه د دوئ ورته زړه کیږی.

وَحُورٌ عِينٌ ﴿٢٢﴾ كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ ﴿٢٣﴾ جَزَآءً

او دوئ لپاره به حورې وی غټو سترګو والا، پشان د ملغرو پټو ساتلو شوو په غلافونو کښې. بدله ورکیدیشی دوئ ته

بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٢٤﴾ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا تَأْثِيمًا ﴿٢٥﴾ إِلَّا

په مطابق د هغه عملونو چه دوئ به کول. نه به آوری دوئ په جنت کښې عبث خبرې او نه د ګناه خبرې، مګر

قِيلًا سَلَٰمًا سَلَٰمًا ﴿٢٦﴾

داخبره چه سلام دي سلام دي.

﴿أُولَٰٓئِكَ ٱلۡمُقَرَّبُونَ ﴾دی ځائی نه دَدری واړو جماعتونو احوال بیانیږی بطور لف نشر غیر مرتب،داد **سابقینو حالت بیان دي**،((اولئک)) کښ اشاره "السابقون" ته ده.((المقربون)) دا ئي **اول حالت** بیان دې یعنی دوئ ته به جنت کښ دَعام جنتیانو په نسبت زیات قرب الهی نصیب وی.﴿فِي جَنَّٰتِ﴾جار مجرور ((المقربون)) سره متعلق دې.

﴿ ثُلَّةٞ مِّنَ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴾خبر دَ مبتدامقدردې،ای هم ثلةٌ. ثُلة په ضمي سره دَانسانانوجماعت ته وائی او په فتحې سره دَ ګډو بیزو رمې ته وائی،مطلب دادې چه سابقینو کښ به کثیر تعداد دَ "اولینو" وی اولګ غوندې تعداد به د آخرینو وی((الاولین)) او ((الآخرین)) نه څوک مراد دې؟ دې باره کښ متعدد اقوال راغلی دی:

(۱)دَ "الاوّلین" نه مراددآدم عليه السلام نه ترنبی کریم ﷺ پورې چه څومره امتونه تیرشویدی هغه مراد دی."الاخرین" نه دَنبی کریم ﷺ نه ترقیامت پورې خلق مراددی.

لیکن په **دې توجیه باندې اشکال** دې چه داخو دَ امم سابقۇوفضیلت راغې په دې اُمت باندې،ځکه چه دینه معلومیږی چه دې امت کښ به دَسابقینومقربینوتعدادکم وی مخکنی امتونو کښ به ډیروی،حالانکه دا دَ قرآن دَ نصوصولکه"کنتم خیرامّةٍ اخرجت..." ولتکونوا شهداءعلی الناس...نه خلاف ده اودغه شان په ډیرواحادیثوکښ هم دَدې امت فضیلت په مخکښنو امتونوباندې راغلې دې.

جواب دا دې چه دَ اُمم سابقۇو فضیلت نه دې راغلې ځکه چه: (۱)مخکښ امتونو کښ دَ سابقینو کثرت اودَدې امت سابقینو قلت صرف تعداد سره دې.چونکه هغوئ ته زمانه زیاته میلاؤ ده نو ځکه دَهغوئ سابقینو تعداد به هم زیادت وي او دې امت ته زمانه کم میلاؤ ده نو دې وجهې نه یی دَسابقینو تعداد هم کمٔ دي،لیکن تعداد نه قطع نظر زماني اعتبار اوشی او دَ زماني نسبت سره شمار اوشی نو بیا به دَدې امت سابقین زیات وی،دې مثال داسی واخلئ لکه یو مصنف پنځه کاله کښ پنځه کتابونه اولیکې،اوبل مصنف په دری کاله کښ څلور کتابونه اولیکې،نو که نفس تعداد ته اوګورو نو دَ اول مصنف کتابونه زیات دی لیکن که زماني تناسب سره حساب اولګوو نودویم تعداد زیات دې.(۲)بل داچي دَسابقینو تعداد زیاتوالی دَوجهی نه نفس فضیلت کښ کمي نه راځې ،ځکه چې دَدې امت فضیلت کثرت

متبعينو په اعتبار سره دي(۳)بل داچې په هغوئ کښ انبیاء دهغوئ هم داخل دی.نوکثرت دهغوئ دوجه دانبیاؤنه دي.

(۲)دویم قول دادي چه ((الاولین)) او((الآخرین)) دواړه ددې اُمت دی. اولین نه مراد ددې امت قرونِ اولی یعنی صحابهؓ تابعین وغیره دی ، په حدیث کښ ورته هم خیرالقرون وئیلې شوي دی،اود آخرین نه قرونِ اولی نه ورستو خلق مراد دي.نو مطلب دا شو چه امت محمدیه علی صاحبهاالف الف سلامٍ وتحیة کښ چه کومو خلقو ته دسابقینو مقربینو مرتبه حاصله وی نو اکثر به پکښ دقرونِ اولی خلق وی،اوقرونِ اولی نه ورستوبه ډیرکم خوش قسمته داسې وی چه دامرتبه به ورته حاصله وی .اکثرومفسرینولکه ابو حیان . ابن کثیر،قرطبی،آلوسي وغیره دې قول ته ترجیح ورکړیده،صاحب دروح المعانی ددې قول په تائیدکښ یوحدیث مرفوع هم ذکرکړیدي چه حضورﷺفرمائی چه هماجمیعًامن هٰذِهِ الامة یعنی دادواړه جماعتونه ددې امت نه دی،ددې قول په بناء﴿ وَكُنتُمْ أَزْوَاجًا ثَلَاثَةً ﴾کښ خطاب فقط دې امت ته دي.

(۳)دریم قول دادي چه اولین او آخرین دهراُمت مراد دی،شک نشته پدې کښ چه اول دهرامت غوره وی داخردهغې نه(والله اعلم).

﴿عَلَىٰ سُرُرٍ﴾**دویم حالت** بیان دي،یعنی خپلو دوستانو سره به کې شپ موقع میلاویږی، او د هغی انتظام به داسی شوې وی،چې دوئ به د سرو زور پرونه جوړ کټونو باندې تکیه وهلي یو بل به ته مخامخ ناست وی،دجنت خاشسته اوسدابهار هلکان به یی په خدمت باندې مامور وی، پاکیزه شرابو دور به چلیږی،عمده او لذیذې میوې به ورته پیش کیږی ،اوخوراک کښې به ورته مرغیو غوښه وی.

((سرر)) جمع دسریرده، مراد ورنه تختونه،پالنګونه دي ، او جار او مجرور متعلق دی کائنون پورې ﴿مَّوْضُونَةٍ ﴾ای منسوجةٍ بالذهب،دوضن نه مأخوذ دي،اودلو ته وائی،یعنی جنتیان به په داسې تختونوناست وی چه پرې به ئی د سرو زرو وی،یا﴿مَّوْضُونَةٍ ﴾ پمعنی د مصفوفةٍ دي،عکرمهؒ وائی مشبكة بالدرر و الياقوت یعنی یاقوت او ملغلرې به په کښې لګولې شوي وي . ﴿مُّتَّكِئِينَ﴾او﴿مُتَقَابِلِينَ ﴾دواړه حال واقع کیږی د((علی سرر)) متعلق ضمير نه ،یعنی جنتیان په کټونو ناست وی،تکیه به یی وهلی وی ،او یوبل ته به مخامخ وی

چا به چا ته شا او سټ نه وی.﴿وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ﴾ مخلدون دَ خلود نه دي يعنى هلک والى صفت به يى هميشه وى يا خلدة نه دي، خلده دَ غوږونو واليو يو خاص قسم دي. يعنى غوږونو کښې به ئې والئ وي.

﴿بِأَكْوَابٍ﴾ متعلق دي دَ﴿يَطُوفُ عَلَيْهِمْ﴾ سره، اکواب جمع دَ کوب ده :آنيةٌ لاعرا لها و لا خراطيم «روح المعانى» يعنى دَشرابو څکلو هغه لوخى چه نه ئې مخوکى وى او نه ئې کنډې وى، ترجمه ئې په ګلاس سره مناسبه ده.﴿وَأَبَارِيقَ﴾ جمع دَ ابريق ده، هغه لوخې دَ شرابو چه مخوکه ئې هم وى کنډه ئې هم وى، لکه کوزه،﴿وَكَأْسٍ مِّن مَّعِينٍ﴾ يعنى ډکې کاسى دَ جارى شرابو.﴿لَّا يُصَدَّعُونَ عَنْهَا﴾ عن سببيه دي اى عن سببها، دَصداع نه مأخوذ دي . سر دردته وائى چه دَ شرابو دَ نشې په وجه وى ، يعنى دَجنت په شرابو کښې به سردردى نه وى په خلاف دَ شرابو دَ دنيا نه يا دَ صدع نه ماخوذ دي، صدع جدا ولى او ټکړې کولوته وائى، يعنى هغه به داسى شراب وى چې هغى لذت به په هيڅ څه سره هم جنتيانو دَخلې نه ، نه ختميږى﴿وَلَا يُنزِفُونَ﴾ دَ نزف نه مأخوذ دي ، خاصه لزوم پکښې ده، دَعقل هغه فتورته وائى چه دَشرابو دَنشې په وجه وى.

﴿وَفَٰكِهَةٍ﴾ او ورستو﴿وَلَحْمِ﴾ دواړه عطف دى په﴿ بِأَكْوَابٍ﴾ يعنى داهلکان به په جنتيانو ميوې او غوښې دَ مرغو ګرځوى، جنتيان اګرچه دَدوئ دَدې خدمت نه به مستغنى وى، ليکن دا به دَدوئ اکرام، تعظيم وى او دَددوئ سره دَمحبت اظهاربه وى.

﴿ وَلَحْمِ طَيْرٍ﴾ دَ مرغو دَ غوښو ذکر ئې څکه اوکړو چه داپه ټولو غوښو کښې زياته لذيذه وى، اوپه تقديم دَ﴿وَفَٰكِهَةٍ﴾ په﴿وَلَحْمِ﴾ کښې اشاره ده ديته چه خوراک دَاهلِ جنت به دَلوږې دَوجى نه، نه وى، څکه چې وږې انسان دَميوې په ځائ لحم ته زياته ترجيح ورکوى، اواحتياج ئې ورته زيات وى، اوموړسړې فاکهى ته زياته ترجيح ورکوى.

﴿وَحُورٌ عِينٌ﴾ اى لهم حور، دَ سابقينو دريم حالت بيان دي، يعنى جنسى تسکين دَپاره به ورله الله ﷻ حورې مهيا کړې وى، غټوغټو سترګو والا به وى، دَ خيرې او آلودګئ نه محفوظ، پر قيدونکى غمى په شان به باعفته اوحسن دارې وي، دَخائست حالت به ئې دا وى چه انسان عقل به ورته حيران شى حُورٌ جمع دَحوراَء ده، لانه يُحارُفيه العيون ﴿ عِينٌ﴾ جمع دَ

"عيناً" ده، غټوسترګو والا، ﴿ كَأَمْثَٰلِ ٱللُّؤْلُوِ ٱلْمَكْنُونِ ﴾ يعنى په حفاظت او په صفائى كښ داسې دى لكه محفوظه ملغلره چه په سيپۍ كښ پرته وى ، دَ چا لاسونه ورته نه وى لګيدلى ﴿ جَزَآءً ﴾ يا مفعول له دې،اى يُفعل هم ذالک كله جزآءً ...يامفعول مطلق دې اى يُجزون جزاء (روح المعانى،جلالين)

﴿لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا ﴾ دا يى بل حالت بيان دې،يعنى تكميل راحت او تسكين دَپاره به ورته الله ﷻ ګير چاپيره ماحول هم خه ورکړې وي ،چې نه به فضول بكواس وي او نه د ګناه خبرې ، بلكه هر طرف نه به سلام سلام آوازونه وي ،چې سلامتي ده ،هيڅ پريشاني نشته ، دا هم يو لوئ نعمت دې چه انسان په غوږونو باندې دَ خپل مزاج مطابق خبرې آورى ، كښې عمده عمده خوراكونه بياهيڅ فائده نه وركوى، پښتو كښ متل دې چه "انسان دَ غوږونو دَ طرفه ښورب كيږى ښاروي دَخولې دَطرفه" ﴿وَلَا تَأْثِيمًا﴾ نه دګناه خبرې: غيبت ، دروغو ، كنځلو ټولو د ګناه خبرو ته شامل دې . ﴿ إِلَّا قِيلًا ﴾ اى قولاً مستثني منقطع ده «سَلَٰمًا سَلَٰمًا» دې كښ درې معروف احتماله دى:

(۱)بدل دې "قيلاً" نه دَدې تائيد دى آيت نه هم كيږى: لا يسمعون فيها لغواً الا سلاما (مريم ۶۲)

(۲)سلاما دَ سالماً په تاويل كښ صفت دې دَ "قيلاً" اي قولا سالما من هذه العيوب

(۳)سلماً مفعول به دې دَقيلا دَپاره ،يعنى صرف داوينا به وى چې سلاما سلاما .

وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴿٢٧﴾ فِى سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴿٢٨﴾ وَطَلْحٍ
او ښي طرف والا،څه ښه حال به وى دَ ښي طرف والؤو. (وي به دوئ) بېر د ازغو بيرو كښې .او كيلو
مَّنضُودٍ ﴿٢٩﴾ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴿٣٠﴾ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴿٣١﴾ وَفَٰكِهَةٍ
لاندې باندې كښې .اوپه اوږد سورى كښ، او په اوبو بهيدونكو كښ او په ميوو
كَثِيرَةٍ ﴿٣٢﴾ لَّا مَقْطُوعَةٍ وَلَا مَمْنُوعَةٍ ﴿٣٣﴾ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴿٣٤﴾
ډيرو كښ .چه نه به ختميږى (هروخت به وى)اونه به ترينه منع كولې شى او په اوچتو بسترو كښ

إِنَّآ	أَنشَأْنَٰهُنَّ	إِنشَآءً ﴿٣٥﴾	فَجَعَلْنَٰهُنَّ	أَبْكَارًا ﴿٣٦﴾	عُرُبًا	
بيشكه مونږپيداكړيدی حوری په جداقسم پيداكولوسره.پس ګرځولی دی مونږدوئ باكرې. عاشقانی په جنتيانو						
أَتْرَابًا ﴿٣٧﴾	لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ﴿٣٨﴾	ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٩﴾	وَثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْءَاخِرِينَ ﴿٤٠﴾			
همزولی لپاره دَ ښي طرف والؤو. ډله به وی دَ ړومبو خلقو نه . او ډله به وی دَ ورستنو خلقو نه .						

﴿ وَأَصْحَٰبُ ٱلْيَمِينِ ﴾پديكښ **دَدويم جماعت دَاحوالو** اوانعاماتوبيان دې،اصحاب اليمين وجه تسميه په تفسيردَ﴿ فَأَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ ﴾كښ تيره شويده،صرف دَتفنّن په وجه ورنه هلته تعبيرپه اصحابُ الميمنة سره اوشو اودلته ورنه په اصحاب اليمين سره،

﴿فِي سِدْرٍ مَّخْضُودٍ ﴾ دا دَ **اصحٰب اليمن اول حالت** بيان دې يعنی جنت كښ به كثير تعداد سره ګنړې اوغټې غټې ونې وی ،سورې به يی لرې لرې پورې خور وی.اوبه، به پكښ مينځ كښ روانې بهيږی،چی دا به حسين منظر پيش كوي. ﴿مَّخْضُودٍ ﴾الخضدُ نه مأخوذدې،ازغی قطع كول ﴿مَّخْضُودٍ ﴾ ای قُطع شوكه،روح المعانی په حواله دَحاكم اوبيهقی دَابو اُمامه نقل كړي ذی چه هغه فرمائی چه صحابه فرمائی چه بيشكه الله مونږته دَاعرابو(باندچيانو) دَ سوالونو په وجه ډيرنفع راكړي ده. يواعرابی يوځل راغې عرض ئی اوكړويارسولَ الله! په قرآن مجيدكښ الله دَ يوې داسې ونې ذكركړيدې چه هغه ايذاء رسونكی ده،حالانكه څه دا ګمان نه كوم چه په جنّت كښ دې داسې ونه وی چه چاته تكليف اُورسوی،نبی كريم ورنه تپوس اوكړوچه هغه كومه اونه ده،عرض ئی اوكړو دَ بيری اونه ده،نوحضور ورته او فرمائيل : "اليسَ اللهُ يقولُ فی سدرٍ مخضودٍ"الله دَ هغې ازغی قطع كړيدی او دَ هرازغی په ځائ ئی دَ بيرې دانې پيداكړيدی اوپه هرې دانې كښ به دوه اويا(۷۲)خوندونه وی، هر يو خوند به دَ بل نه جداوی.

بعضودَ﴿مَّخْضُودٍ ﴾معنی داكړيده چه شاخونه به ئی دكثرت دَدانوپه وجه خكته شوی وی،

﴿ وَطَلْحٍ ﴾ دَ کیلې اونې ته وائی﴿ مَّنضُودٍ ﴾ نضدنه دی،نضد لاندې باندې په ترتیب سره یوشی لګولو ته وائی مطلب دا چې ویخ نه ترسره پورې به دکیلونه ډکې وی تنه به ئې نه ښکاری،په خلاف دَدنیانه چه کیلې دَاونی په سرکښ وی فقط.

﴿ وَظِلٍّ مَّمْدُودٍ ﴾ امتدادیامکانی دې،یعنی ډیر لرې پورې به یې سوري خوروی لکه په حدیث کښ دی،دَابی هریرهرضي الله عنهنه روایت دې چه حضور ﷺفرمائی:انّ فی الجنة شجرةً یسیرالراکبُ فی ظلّهامائة عامٍ لایقطعهاافرؤا ان شئتم وظلّ ممدود.یعنی په جنت کښ داسې اونه ده چه سوار سرې دَهغې په سوری کښې سل(۱۰۰)کاله مزل اوکړی بیابه هم آخرته ئې اونه رسیږی(بخاری،مسلم وغیرهما) یاامتداد زمانی دې یعنی همیشه به وی دغه سوری،په نمر سره به نه ختمیږی.

﴿ وَمَآءٍ مَّسْكُوبٍ ﴾:سبک:بهیدلوته وائی،ای جارٍ من غیر اخادید،یعنی روانی اوبه به وی، په کندو یا کوهیانوکښ به نه وی،رسئ اوبوقوته به محتاج نه وی.

﴿ وَفَٰكِهَةٍ كَثِيرَةٍ ﴾چې الله ﷻ به ورته ډیرې میوې عطاءکړی،اوداسی باغات به ورله ورکړی چې هغی میوۍ باندې به نه زوال راځی لکه دنیا باغونه .چې موسم تیر شی بیا پکښ میوه نه وی او نه به یې شوکولو کښ څه تکلیف اوممانعت وی."کثرت" بحسب الانواع والاجناس دې،یعنی مختلف قسمه ډیری میوې به وی.﴿ لَّا مَقْطُوعَةٍ ﴾ یعنی دَموسم په ختمیدلوسره به نه ختمیږی په شان دَمیوودَدنیاچه موسم ختم شی نومیوه هم ختم شی.﴿وَلَا مَمْنُوعَةٍ﴾ یعنی دَجنتیانونه به منع نه وی چاردیواری او ګیرچاپیره به ورنه کیږ نه وی شوې لکه دَدنیادَباغونوپه شان،اونه به قیمتاًخرڅیږی

﴿ وَفُرُشٍ مَّرْفُوعَةٍ ﴾دویم حالت بیان دې یعنی جنسی تسکین دپاره به ورله الله ﷻ داسی بیبیانی پیدا کړی چې همیشه به ځوانی وی دَدوئ عاشقانې اوهمزولې به وی،په اوچتو پالنګونو باندی ورسره ناستې وی،"فرش"نه مراد یا ظاهری معنی ده یعنی بسترې اویاترینه مراد بیبیانې دی،ځکه چې بې بې باندې هم اطلاق دَ فِراش کیږی،لکه څرنګه چې پرې اطلاق

دَ لباس کیږی، «مرفوعة»، مرادترینه یا حسی رفعت دې، یعنی اوچت ځائی کښې به وی، یا معنوی رفعت دې، چې قدر ومنزلت والا به وي.

﴿إِنَّآ أَنشَأْنَٰهُنَّ إِنشَآءً﴾ «هن» ضمیر مصداق ازواج او بیبیانې دی، اومرجع یې "فرش" دې کچرته مراد ترینه غیر معروفه معنی شی، اوکه مراد ترینه معروفه معنی شی نوبیا دَدې مرجع حکما مذکور ده، ځکه چې فرش سره ازواج لازمی دی، معنی داچې الله ﷻ به دوئ له عجیبه زندګی ورکړې وي،

﴿فَجَعَلْنَٰهُنَّ أَبْكَارًا﴾ دا تفسیر دې د ماقبل، چې دا عجیب تخلیق به داسې وي چې همیشه به باکرې وی لکه حدیث کښې راغی چې کله خاوندان ورسره جماع اوکړی نو دوئ به بیا باکره شی، «عربا» جمع دَ "عروب" ده مینه ناکې، نازونو او اداګانو والا، خوش اخلاقې اوخاوندانو باندې به عاشقانې وی، «اترابا» هم عمر به وې دَ خاوندانو، خلاصه داچې که دوئ دنیا کښې ثیبه وی نو جنت کښې به باکره وی، که دوئ بد رنګې دی الله ﷻ به ورله حسن ورکړی، دوئ عمر زیات وی، بداوالي کښې وفات شوی وی الله ﷻ به ورله بیا ځوانی ورکړی.

په شمائل ترمذی کښې دی چه یوه بوډئ راغله عرض ئی اوکړویارسولَ الله! ماته دعا اوکړه چه الله ﷻ ماجنت ته داخله کړی، حضور ﷺ ورته (بطورِمزاح) اوفرمائیل: یاامّ فلان انّ الجنّة لا تدخلها عجوزٌ (او کماقال) اې دَفلانئ مورې بوډئ به جنت ته نه داخلیږی، نوهغه واپس شوه اوجړل ئی نبی کریم ﷺ صحابه ؤته اوفرمائیل چه دیته اووائی چه جنت به چه کله داخلیږی نوبوډئ به نه وی ځکه الله ﷻ فرمائی: انّاانشأناهنّ انشاءً...

﴿لِّأَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ﴾ متعلق دې یادَ﴿أَنشَأْنَٰهُنَّ﴾ سره، یادَ﴿أَتْرَابًا﴾ سره ای جعلناهنّ اترابًا لاصحاب الیمین ای مساویات فی الطول والعرض والجمال.﴿ثُلَّةٌ مِّنَ ٱلْأَوَّلِينَ﴾ خبردې دَ مبتدا محذوف ای هم ثلثةٌ، دَاوّلینُ اودآخرینو مصداق مخکښې تیرشویدې.

﴿وَأَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ مَآ أَصْحَٰبُ ٱلشِّمَالِ ۝٤١ فِى سَمُومٍ وَحَمِيمٍ ۝٤٢﴾

اوخاوندان دګس لاس، څه بدحال به وی دَخاوندانودګس لاس، په ګرموهواګانوکښې اوپه ګرمواوبوکښې به وی

وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ ﴿٤٣﴾ لَّا بَارِدٍ وَلَا كَرِيمٍ ﴿٤٤﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا
اوپه سوری کښې به وی دتورلوګی،چه نه به يخ وی اونه به نفع ورکونکې وی.بیشکه دوئ وو په دنیاکښې
قَبْلَ ذَٰلِكَ مُتْرَفِينَ ﴿٤٥﴾ وَكَانُوا يُصِرُّونَ عَلَى الْحِنثِ الْعَظِيمِ ﴿٤٦﴾
مخکښې ددینه،آزادپرېخودلی شوی.اووؤدوئ چه همیشه والې به ئې کولوپه ګنا لوئ شرک باندې
وَكَانُوا يَقُولُونَ أَئِذَا مِتْنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَامًا
اووؤ دوئ چه وئیل به ئې،آیاچه کله مړه شومونږه اوشومونږه خاوری اوهډوکی وراسته،
أَإِنَّا لَمَبْعُوثُونَ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴿٤٨﴾
آیامونږه به بیاراپورته کړې شو.آیااوپلاران زمونږمخکنی به هم راپورته کولیشی

﴿وَأَصْحَابُ الشِّمَالِ﴾ دا **دریم جماعت دَ احوالو** بیان دې،یعنی هغه خلق چه هغوئ ته عمل نامې په ګس لاس کښې دَقیامت په ورځ ملاؤشی،دوئ به په سختوعذابونوتکلیفونوکښې وی ﴿فِي سَمُومٍ﴾ای هم فی سموم.سموم:هغه ګرمه هواچه په مساماتودَانسان کښې ننوځی زهروته هم سم وائی ځکه چه داهم په مساماتودَانسان کښې داخل شی،انسان هلاک کړی﴿وَحَمِيمٍ﴾ډیری ګرمی اوبه، یا دَ جهنم په نومونوکښې یونوم دې﴿وَظِلٍّ مِّن يَحْمُومٍ﴾دَ تور لوګی په سوری کښې به وی﴿يَحْمُومٍ﴾بروزن يَفعُول تور لوګی معنی کښې استعمالیږی، حُمَمَة نه ماخوذ دې، حُمَمَة سکارو ته وائی﴿لابارد﴾سوری نه دوه فائدې حاصلیږې اول جسمانی فائده،چې هغه یخوالې دې،دیکښې دهغې نفي اوشوه اودویم:روحانی فائده،چی هغه اندرونی مسرت اوسکون دې او په ﴿لاكريم﴾ کښې د هغې نفی اوشوه،عرب هر قابل قدر شې اوقابل مدح صفت دَپاره د کرم لفظ استعمالوی،اوکله چې دَ قابل مدح صفت نفی کوی نو بیا هم ترینه دَ کرم نفی کوی، چونکه دلته دَسوری نه دَ نفع رسانی صفت نفی مقصود ده نوځکه لاکریم ذکر کړې شو.

﴿إِنَّهُمْ كَانُوا قَبْلَ ذَٰلِكَ ﴾اى في الدنيا، په دې کښې سبب دعذاب ذکرکيږی﴿مُتْرَفِينَ ﴾ دا **اول سبب** بيان دې چې مادی زندګۍ کښې ډوب وو او د هر قسم پابندۍ نه ځان ماوراء او آزاد ګڼړلو ،چې څه يې زړه غوختله بس هغه ئي کولو .﴿وَكَانُوا يُصِرُّونَ ﴾ دا **دويم سبب** دې چې په لويو لويو ګناهونو باندې اصرار دې ، «الحنث» په اصل کښې جرم او ګناه ته وائي ،او قسم ماتولو ته هم حنث وائي ځکه چې دا هم يو جرم دې، او دلته «الحنث » نه مراد (۱)يا حقيقي معنې ده مراد ترينه مطلقا ګناه کبيره دې چې هغې کښې شرک او بعث نه انکار وغيره داخل دي (۲)او يا د «الحنث» نه مراد معروفه معنی يعني قسم ماتول ده ، ځکه چې دوئ به دا قسم خوړلو چې : «واقسموا بالله جهد ايمانهم لئن جآءهم نذير ليكونن اهدى من احدى الامم» خو کله چې نبي کريم ﷺ مبعوث شو نو بيا ئي ايمان نه راوړلو ، (۳)او بعضو ترينه د دروغو قسم مراد اغستې دې ، او چونکه بعث بعد الموت نه انکار ټولو نه غټ دروغ دی نو لهذا په دې قسم خوړل د ټولو نه غټ دروغو قسم دې نو ځکه ورله «العظيم » صفت راوړلې شو ، د دوئ دا قسم په قرآن بل آيت کښې وضاحت سره ذکر دې: واقسموابالله جهدا ايمانهم لايبعث الله من يموت(النحل ۳۸)

﴿وَكَانُوا يَقُولُونَ ﴾د «الحنث» اول دؤو توجيهاتو مطابق دا **دريم سبب بيان** دې او آخری توجيه مطابق بيا دا د حنث تفسير دې ، ﴿ أَوَآبَاؤُنَا الْأَوَّلُونَ ﴾داعطف دې په محل دَ اسم دَ"انّ" باندې، تقدير دا رنګه دې أ إِنَّا و اباؤنا الاوّلون لمبعوثون. اسلوب د کلام په مزيد استبعاد باندې دلالت کوي ، چې مونږ خو پريګده زمونږ پلار نيکان به څنګه دوباره ژوندي کيږي

قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ ﴿٤٩﴾ لَمَجْمُوعُونَ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ
ته ورته اووايه چه بيشکه اولنی اوورستنی ټول خامخاجمع کولې به شي، وخت دورځې
مَعْلُومٍ ﴿٥٠﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا الضَّالُّونَ الْمُكَذِّبُونَ ﴿٥١﴾ لَآكِلُونَ مِنْ شَجَرٍ
معلومې ته، بيابه بيشکه تاسواې ګمراهانو انکار کونکو خامخا خوړونکی به يئ د اونې

مِنْ زَقُّوْمٍ ۝ فَمَالِــُٔوْنَ مِنْهَا الْبُطُوْنَ ۝ فَشٰرِبُوْنَ عَلَيْهِ مِنَ الْحَمِيْمِ ۝
دَ زقوم نه ، پس ډکه ونکی به يئ دَهغی نه خيټې، بيا څکونکی به يئ په هغې باندی دَ ابو گرمو نه
فَشٰرِبُوْنَ شُرْبَ الْهِيْمِ ۝ هٰذَا نُزُلُهُمْ يَوْمَ الدِّيْنِ ۝
نو څکونکی به يئ په شان دَ څکلو دَ جل وهونکو اوښانو دا ميلمستيا دَ دوئ ده په ورځی دَجزاء

﴿قُلْ إِنَّ الْأَوَّلِينَ ﴾جواب دي دَدوئ دَاستبعاداوانکار،اودوئ چونکه دَاوّل اومخکښ

وفات شوی خلقوبعثت ئی زيات ناممکن گنړلونو په دي وجه په جواب کښ﴿ الْأَوَّلِينَ﴾مقدم

ذکرشول،يعنی دابعيده مه گنړئ بلکه اولين اوآخرين به ټول قيامت په ورځ دَالله تعالى مخي ته

جمع کيږی﴿ إِلَىٰ مِيقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُومٍ ﴾دَقيامت ورځ ورنه مراد ده،اومعنی دَ"معلوم"داده چه معينه

اومعلومه عندالله ده،ياداچه په علاماتوسره معلومه ده، ﴿ ثُمَّ إِنَّكُمْ أَيُّهَا ﴾ اهل جهنم طرف ته

التفات دي﴿الْمُكَذِّبُونَ ﴾تکذيب کونکی دَبعث﴿ مِن شَجَرٍ مِّن زَقُّومٍ ﴾اول"من"ابتدائيه دي

اودويم "من"بيانيه دي دَ"شجر"بيان کوی،يعنی خوراک ابتدا به دَزقوم ونې نه کوئ (روح)

﴿ فَمَالِئُونَ مِنْهَا ﴾ددېري لوږې دَ وجهی نه به ترينه خيټی ډکې کړئ، ((منها)) ضميرراجع دي

"شجر" ته په اعتباردَمعنی،ځکه چه"شجر"په معنی دَشجرة دي

﴿فَشَارِبُونَ عَلَيْهِ ﴾دَډېر خوراک دَوجهی نه به سخته تنده اولگی نو فوراً به گرمی اوبه

اوڅکې، ((عليه)) ضمير زقوم ته راجع دي ، يا شجر ته راجع ته په تاويل دَ ماکول ،او يا دلته

لفظ دَشجررعايت شويدي او ماقبل کښ يې معني رعايت شوي وؤ. ﴿فَشَارِبُونَ شُرْبَ الْهِيمِ﴾

ای کشرب الهيم"هيم"جمع دَ"اهيم"ده هغه تگی اوښ ته وائی چه دَ تنده نه ختميدو مرض ورته

لږيدلې وی او په اُوبو نه مړيږی،يعني جل وهلې وي ، بعض وائی جمع دَهيام ده، دَ شگو هغه

ميدان چه په اوبو سره نه سيرابه کيږی(کشاف وغيره)مطلب دادې چه جهنميان به دَډيری تندی

په وجه دَجهنم ايشيدلی اوبه هم داسې څکی لکه تگې اُوښ چه په اوبوورپريخودلې شی،

﴿هَـٰذَا﴾ يعني دا قسم قسم عذابونه چه کوم ذکرشول دا به ئې صرف ميلمستيا وى، نو د ميلمستيا نه پس عذابونه به څومره لوئ وي "اللّهمّ اجرنامن النار" دې عذابونو ته ميلمستيا وئيل تهکمًا دى.

نَحْنُ	خَلَقْنٰكُمْ	فَلَوْلَا	تُصَدِّقُوْنَ ﴿٥٧﴾		اَفَرَءَيْتُمْ	مَّا
مونږ پيداکړى يئ تاسو		نو ولې تصديق نه کوئ تاسو (ايمان ولې نه راوړئ)			خبر راکړئ ماته	هغه نطفه چه
تُمْنُوْنَ ﴿٥٨﴾	ءَاَنْتُمْ	تَخْلُقُوْنَهٗٓ	اَمْ	نَحْنُ	الْخٰلِقُوْنَ ﴿٥٩﴾	نَحْنُ
تاسوئې (په رحم کښې) غورځوئ	آيا تاسو پيدا کوئ (دَ هغې نه) بشر		او که	مونږ	پيدا کونکي يو	مونږه
قَدَّرْنَا	بَيْنَكُمُ	الْمَوْتَ	وَمَا	نَحْنُ	بِمَسْبُوْقِيْنَ ﴿٦٠﴾	عَلٰٓى اَنْ
مقرر کړيدې	په مينځ ستاسوکښې	مرګ	او نه	شي مونږ	څوک عاجزه کولې	دَ دينه چه
نُّبَدِّلَ	اَمْثَالَكُمْ	وَنُنْشِئَكُمْ	فِيْ	مَا	لَا	تَعْلَمُوْنَ ﴿٦١﴾
په بدل کښې پيدا کړو نور خلق پشان ستاسو. او پيدا کړو مونږ تاسو په هغه ځائ کښې چه تاسو ته نه دې معلوم (يعنى قيامت)						
وَلَقَدْ	عَلِمْتُمُ	النَّشْاَةَ	الْاُوْلٰى	فَلَوْلَا	تَذَكَّرُوْنَ ﴿٦٢﴾	
په تحقيق سره معلوم شويدې تاسوته		پيداکول اول ځل		نو ولې نه قبلوئ نصيحت تاسو.		

﴿نَحْنُ خَلَقْنٰكُمْ فَلَوْلَا تُصَدِّقُوْنَ﴾ دا دليل اجمالى دې په معاد او بعث بعدالموت باندې، او دغه شان ضمنا توحيد دليل هم دې، يعنى تاسو پخپله دَدې اقرار کوئ چې مونږ تاسو پيدا کړې يئ، نو که اوس مړه اوفنا شولئ نو بيا پيدا کول دَستاسو په څه ګرانه ده چې تاسو ترينه انکارکوئ؟ ﴿فلولا تصدقون﴾ اي البعث

﴿اَفَرَءَيْتُمْ مَّا تُمْنُوْنَ﴾ تفصيل دَ اجمال دې يعنى تاسو خپل تخليق اطوارو اور مراحلو باندې غور اوکړئ، نو دا واضح دليل دې په بعث بعد الموت باندې. ﴿ماتمنون﴾ دزندګى اوله مرحله ده چې بې جانه نطفه وى، الله ﷻ ترينه خائسته شکل وصورت والا انسان پيدا

کړی.نودغه شان هغه په دې هم قادر دې چې چور چور او وراستو هډوکو ته بیا حیات ورکړی.او راژوندي کړی.

فائده:منی ذکر کولو سره استدلال ذکرکولو کښ ډیر لطافت دې،ځکه چې منی نچوړ دې دَ مختلف غذاګانو چې انسان یې خوري،دامختلفې غذاګاني دعالم مختلف اطرافوکښ وی هغه ځایٔ نه انسان ته رارسی اودي یې خوري،اونچوړ په صورت کښ ترینه منی جوړه شی،اوټول جسم کښ خوره شی،بیا شهوت په وخت کښ الله ﷻ په حکم سره ده جسم مختلف حصو نه راجمع شی (علی قول الاطباء المتقدمین)او ښځې رحم کښ قرار اونیسی .او الله ﷻ ترینه انسان جورکړی.نوکله چه دامتفرق اجزاؤ راجمع کولو اوبیا ترینه انسان جوړولو باندی الله ﷻ قادردې،نو که انسان مړ شی اوده اعضا ټکړې ټکړې او چور چور شی،نو دهغې جمع کول الله ﷻ ته مشکل دی (طیبي)

﴿تَخْلُقُونَهُ﴾دلته د خلق معنی مکمل صورت ورکول اور روغ انسان ترینه جوړه ول دی، "ها"ضمیر "ما"ته راجع دی په "ما تمنون"کښ

تنبیه:بعضِ روایاتوپه بناعلماءوائی چه مستحبه ده چه دَدې آیاتونواودغه رنګه بعدکښ راتلونکی آیاتونوکښ هری جمله استفهامیه تلاوت کولونه ورستوداالفاظ اووئیلې شی"بل انتَ یاربِّ"(روح المعانی وغیره)دَوالدمحترم شیخ القرآن والحدیث حضرت مولاناأسیدالله صاحب نوّرالله مرقده هم دامعمول وؤچه دَترجمې درس په دوران کښ به ئې دغه الفاظ وئیل.

﴿نَحْنُ قَدَّرْنَا بَيْنَكُمُ ٱلْمَوْتَ﴾داد زندګی بلې مرحلې بیان دې چې انسان دَپاره الله ﷻ په دنیا کښ یو وخت مقرر کړې دې،چې هغه وخت انسان پوره کړی نو مړ شي او ژوندې وجود ئې بې جانه ذهانچې سره بدل شی،که انسان ډیر هم نه غواړی خومرګ وربادی خامخارازی،نو کله چه الله ﷻ احیاء اوامات دواړو باندې قادر دې، دواړه دهغه په اختیار کښ دی نو بعث الموت باندې هم قادر شو ځکه چې بعث بعدالموت عبارت دې اماتت او احیاء نه. ﴿بینکم﴾ ذکر کولو کښ دیته اشاره ده چې دَمرګ حیثیت دَ دائری مرکز دې،دَدې نسبت ټولو ته برابر دې هیڅ ترتیب اوترجیح پکښ نشته اودغه شان دیته اشاره ده چې ګویامرګ تاسو مابین کښ موجود دې، نو هر وخت ورته تیار اوسئ

﴿وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ﴾تفريع ده په «نحن قدرنا...» باندی په واسطې د دَ "واؤ" حرف عطف سره ، تفريع دَ پاره اګر چه اصل دا دې چې "فاء" حرف عطف سره وی.خو چونکه دا صرف ماقبل باندې مرتب نه دې بلکه وعيد ته هم متضمن دې نوځکه "واؤ" حرف عطف سره ذکر کړې شو ،«التحرير والتنوير» مطلب دَ آيت دا دې چه چونکه مونږ د هر چاد پاره مرګ مقرر کړې دې نو لهذا تاسو کښې هم هيڅ څوک زمونږ نه نشی بچ کيدلې.ضروربه مرګ راځی، او ستاسو ځائ به تاسو نائبان او وارثان واخلی،﴿مسبوقين﴾ بمعنی دَ "مغلوبين" سره دې.﴿ عَلَىٰٓ أَن نُّبَدِّلَ﴾ جارمجرور متعلق کيږی «مسبوقين» پورې،﴿أَمْثَٰلَكُمْ ﴾جمع دَ "مِثل" ده، بمعنی نظير،يعنی الله ﷻ به ستاسو مړه کړی او ستاسو په ځائ به تاسو په شان نورانسانان يعنی وارثان اوناتبان راولی، ﴿وَنُنشِئَكُمْ﴾عطف دې په ﴿نبدل﴾، يعنی يو وخت پوری به قبر کښې پراته وئ اوبيا خو به د قيامت په ورځ ژوندی کوو، او الله ﷻ ته به حساب ورکوئ﴿فِى مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ "ما" نه مراد کيفيت اوهيئيت دې.يعنی کوم حالت اوکيفيت باندی به ستاسو بعث کيږی هغی نه تاسو ناخبري ئ،يا"ما" نه مراد"وخت" دې يعنی کومه ورځ به چی تاسو دوباره راپورته کوي چه هغه قيامت ورځ ده ،هغي علم تاسوته نشته

اکثر مفسرينو "ومانحن بمسبوقين"جمله حال ګرځولې ده دَقدرنا ضمير مرفوع نه،يعنی مونږ پدې هم قادر يو چی تاسو لرې کړو اوتاسو په ځائی نورخلق راولو ،اوستاسو صورتونه بدل کړو ،اوبيزوګانی ،خنزيران، درنه جوړ کړو ،دی صورت کښ بيادا صرف وعيد دې.

﴿وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ ٱلنَّشْأَةَ﴾ دا دَ استدلال تتمه ده يعنی تاسو زندګی باندی نظر واچولو ،اودَهغی مختلفو مراحلو کښ مودَالله ﷻ قدرت مظاهرومشاهده اوکړه نو دوباره پيداکول خودَهغی نه آسان دی،ځکه چې اول پيدائش کښ ماده نه وه،دويم کښ ماده شته،اول پيدائش کښ نقشه نه وه ،دويم کښ نقشه شته وغيره،کله چی الله ﷻ په اول پيدائش باندې قادر دې چی هغه په نسبت دَدويم نه ګران دې نو دويم پيدائش باندې خوبه بطريق اولی قادر دې.

أَفَرَءَيْتُم	مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾	ءَأَنتُمْ	تَزْرَعُونَهُۥٓ	أَمْ	نَحْنُ	ٱلزَّٰرِعُونَ ﴿٦٤﴾
خبر راکړئ ما ته ، هغه تخم چه کرئ ئي تاسو ، آیا تاسو زرغونه وئ هغه او که مونږه زرغونه ونکی یو .						
لَوْ	نَشَآءُ	لَجَعَلْنَٰهُ	حُطَٰمًا	فَظَلْتُمْ	تَفَكَّهُونَ ﴿٦٥﴾	
که مونږغوختلې نو دا فصل به مو درله ګرخولې وې ذرې ذرې ،نو بیا به تاسو تعجب کولې						
إِنَّا	لَمُغْرَمُونَ ﴿٦٦﴾	بَلْ	نَحْنُ	مَحْرُومُونَ ﴿٦٧﴾		
بیشکه چه مونږه تاوانیان شو بلکه مونږه محرومه شو.						

﴿أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ﴾ دادویم دلیل عقلی دې په توحیداوپه ثبوت دَقیامت چه تاسوچه کومه کرونده کوئ اوپه زمکه کښې اوچ تخم واچوئ نوبیاهغه څوک رازغونه وی،هغه فصل جوړول او بیا ئي فائده مند ګرځول دَ چا کار دې، زمونږ او که تاسو؟ بل انتَ یاربَ.په حدیث کښې دی:لایقولنّ احدُکم زرعتُ ولکن لیقل حرثتُ یعنی زرعتُ مه وایئ بلکه حرثتُ وایئ ځکه چه زرع دَالله ﷻ کاردې.قرطبی رحمه الله وائي چه څوک زمکه کری یعنی په زمکه کښې څه تخم اچوی نواعوذبالله نه پس دی دغه آیات تلاوت کړی یعنی﴿أَفَرَءَيْتُم مَّا تَحْرُثُونَ ﴿٦٣﴾ ءَأَنتُمْ تَزْرَعُونَهُۥٓ أَمْ نَحْنُ ٱلزَّٰرِعُونَ﴾ او بیا دې دا اوائي:بل الله الزّارع والمنبتُ والمبلغ،اللّهمّ صلّ علی محمّدٍ، و ارزقنا ثمرهُ،وجنبّناضرره،واجعلنا لانعمک من الشّاکرین،ولآلائک من الذاکرین، وبارک لنا فیه یا ربّ العالمین.نوپه دې سره به هغه فصل دَ ټولو آفاتونه، دَچنجو او دَ ملخانو ، میګو وغیره نه محفوظ وی،قرطبی وائی چه مونږدَدې تجربه اوکړه نوهم دغه شان وه.

﴿لَوْ نَشَآءُ لَجَعَلْنَٰهُ حُطَٰمًا﴾یعنی دَفصل زرغونه کیدلونه بعدهغه محفوظه ساتل هم زمونږکاردې ورنه که مونږاوغواړونوپه څه آفت سره به هغه ټول فصل وچ ذری ذری کړو.

﴿فَظَلْتُمْ تَفَكَّهُونَ﴾په اصل کښې تتفکّهون دې یوه " تاء" تخفیفًا حذف شوي ده، پمعنی دَ تتعجبون.یعنی دَهغې فصل په بدحال به تعجب کوئ،یا پمعنی دَ تندمون دې یعنی ندامت به کوئ پخپل کوشش اوخرچې باندې، چه مونږپدې دومره خرچه اوکړه بیاهم څه نفع په لاس

رانه غله.کسائی رحمه الله وائی تفکهه داضدادو نه دي پمعنی دنعمت اوخوشحالئ هم رازی اوپمعنی دَ غم هم رازی،بعضِ وائی﴿ تَفَكَّهُونَ﴾پمعنی دَتنوَعون کلامکم دي،یعنی بیابه قسم قسم خبری کوئ،کله به وایئ چه﴿إِنَّا لَمُغْرَمُونَ ﴾تاوان راته اورسیدلو په فصل کښ اوکله به وایئ﴿بَلْ نَحْنُ مَحْرُومُونَ ﴾دَرزق نه محرومه شو،تش لاس پاتی شو(ابن کثیر،روح المعانی وغیره).

أَفَرَءَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴿٦٨﴾ ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ أَمْ
خبر را کړئ ماته،هغه اوبه چه تاسوئی څکئ.آیاتاسوورولئ هغه دَوریځی نه اوکه
نَحْنُ الْمُنزِلُونَ ﴿٦٩﴾ لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ ﴿٧٠﴾
مونږه ئی وره وو، کچرته خوښه وي زمونږنوګرځولي به مو وي اوبه تروی ترخی. نو ولې شکرنه اوباسئ تاسو

﴿أَفَرَءَيْتُمُ الْمَاءَ الَّذِي تَشْرَبُونَ ﴾دادریم دلیل عقلی دي په توحیدچه هغه خوږی اوبه چه تاسوئی څکئ اوستاسوژوندورسره ترلي دي هغه زمونږپه حکم سره دَوریځونه نازلیږی که مونږاوغواړونودااوبه به تروی ترخی کړو.

﴿ءَأَنتُمْ أَنزَلْتُمُوهُ مِنَ الْمُزْنِ ﴾جمع دَمزنةٌ ده وریځی ته وائی،بعضِ وائی سپینی وریځی ته وائی چه اوبه دَهغی خوږی وی﴿ لَوْ نَشَاءُ جَعَلْنَاهُ أُجَاجًا ﴾ یعنی مالګینی چه په مرئ کښ انخلی،څکل ئی ممکن نه وی.

که څوک اشکال اوکړی چه په﴿ لَوْ نَشَاءُ لَجَعَلْنَاهُ حُطَامًا ﴾کښ په جواب دَلو باندي لام داخل کړي شو،نودلته ولې داخل نه کړي شو؟

جواب(۱): دَ قرینی حالیه په وجه دلته حذف شوي دي چونکه دا خبره عامه او معروفه ده چي لو په جواب باندي لام داخلیږی،نودی وجهې نه ترینه لام حذف شو،بله داچی ((لجعلنه حطاما)) کښ بالکل نیزدې ذکر هم اوشو،نودې وجهې نه یی هم دوباره راوړلو حاجت نه وو

(۲) دویم جواب دادې چه لام دلته د تاکید د پاره دې، چونکه خوګې اوبه مالګینې ګرځول په عرف عادت کښې زیات اسان دی او دغه رنګه وجود د مالګینو اوبو ډیر دې د خوږو اُوبو نه نو دلته "لام" تاکیدیه راوړلو ته حاجت نه وؤ چه هغه مفید دې د زیادة تحقیق، په خلاف د فصل نه، ځکه چه هغه حطام ګرځول د عادت اوعرف نه عام طور باندې خارج دې نو هلته لام تاکید ذکر شو (روح المعاني، کشاف).

﴿فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ﴾ د شکر تولو نه اعلی فرد توحید دې، نقل دی چه حضور ﷺ به چه کله اوبه اوڅکلې نو دابه ئې وئیل: الحمدلله الذی سقاناعذبًافراتابرحمته ولم يجعله ملحًااُجاجًابذنوبنا (ابن کثیر).

اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِىْ تُوْرُوْنَ ۝٧١ ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ اَمْ نَحْنُ
خبر راکړئ ماته، هغه اوور چه تاسوئې بلوئ. آیا تاسو پیدا کړیده اونه دهغه اور، اوکه مونږ
الْمُنْشِـُٔوْنَ ۝٧٢ نَحْنُ جَعَلْنٰهَا تَذْكِرَةً وَّمَتَاعًا لِّلْمُقْوِيْنَ ۝٧٣ فَسَبِّحْ
پیدا کونکی یو. مونږ ګرځولې دې دا اور یاد ګیرنه (د اور د جهنم) اونفع د پاره د مسافرو. پس پاکئ سره ذکر کوه
بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيْمِ ۝٧٤
نوم د رب خپل چه لوئ دې.

﴿اَفَرَءَيْتُمُ النَّارَ الَّتِىْ تُوْرُوْنَ﴾ دا خلورم دلیلِ عقلی دې په توحید، چه هغه اور چه تاسوئې بله وئ، نو آیا د هغې اُونې تاسو پیدا کړیدی که مونږه؟ بل انتَ یارب

﴿ءَاَنْتُمْ اَنْشَاْتُمْ شَجَرَتَهَآ﴾ په عربو کښې دوه اونې وې، مرخ، عفار چه د هغې څانګې یو بل سره مخلوېوجه اور پیدا کیږي هغه ورنه مراددی، نن صباچه کوم ګیس پیدا کیږي اود زمکې نه رااوځي، خلق پرې اوربلوی آیت دیته هم شامل دې.

﴿نَحْنُ جَعَلْنٰهَا﴾ ضمیر اور ته راجع دې. ﴿تَذْكِرَةً﴾ معنی یادګیرنه ده، یعنی دنیا اور مو د جهنم اور یاد ګیرنه ګرځولې دې، ځکه چې انسان ډیر اسباب معاش دې سره وابسته دی، نو چې کله

هم د کوڅې نو دَجهنم اوربه ورته مخکښې مخکښې کيږي،يا ﴿تذكرة﴾معنى نمونه ده يعنى دنيا اور مو د جهنم اور يوه نمونه ګرځولې ده لکه حديث کښې رازي چې دنيا اور د جهنم اور اويامو ٧٠حصه ده.

﴿وَمَتَٰعًا لِّلۡمُقۡوِينَ﴾اى المسافرين، د "قَوَاء "نه مشتق دي، "قواء" صحراء ته وائى «مقوين» هغه مسافرچې صحراء کښې يې پړاؤ اچولې وى ،اومراد ترينه مطلقا مسافر دى چونکه صحراکښې پړاؤ اچونکي ورته زيات حاجت مندوى نوځکه دَهغوئ تخصيص بالذكر اوشو،څنې مفسرينو مقوين معنى مستمتعين "نفع اخيستونکي" کړيده برابره خبره ده که هغه مقيمين دى يا مسافر ،مالداره وى که غريب.

﴿فَسَبِّحۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلۡعَظِيمِ﴾ دلائل اربعونه بعددعوه دَسورة اول ځل ذكركيږي.خطاب هرمخاطب ته دي چه خپل عظيم رب اودَاعلى صفاتوپروردګاردَهرشريک نه پاک اوګڼړه، "باء" په "باسم" کښې يادَملابست لپاره ده يا د استعانت لپاره.﴿ٱلۡعَظِيمِ﴾صفت دي لپاره دَ"اسم"يادَ"رب".

فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ۝٧٥ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٞ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ ۝٧٦
پس قسم کوم څه په ځايونو دَ ډوبيدو دَ ستورو . او بيشکه دا يقينا قسم -که تاسوپوهيږئ- لوئ دې
إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ ۝٧٧ فِي كِتَٰبٖ مَّكۡنُونٖ ۝٧٨ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ۝٧٩
بيشکه دا خامخا قرآن عزت مند دې . ساتلې شوې په كتاب پټ کښې دې.نه لړه وى ديته لاس مګرپاک خلق.
تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٨٠ أَفَبِهَٰذَا ٱلۡحَدِيثِ أَنتُم مُّدۡهِنُونَ ۝٨١
نازل شويدې دَطرفه دَربِّ العالمين.آيا نو داسې كلام تاسو معمولي كنړئ
وَتَجۡعَلُونَ رِزۡقَكُمۡ أَنَّكُمۡ تُكَذِّبُونَ ۝٨٢
او ګرځوئ تاسو حصه خپله دا چه تاسو ئي تكذيب كوئ

﴿ فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴾پدې آياتونو كښې دَقرآن كريم دَعظمت بيان دې اوترغيب دې تصديق بالقرآن ته. "لا" په باره كښې متعدد اقوال دي:

(۱) "لا" برائې نفي ده اومنفي كلام محذوف دې چې هغه قول دَ كفارو دې چې كله به ئې قرآن ته سحر ،كله شعر، او كله به ئې ورته د كان كلام وې، ،نو دې سره د دې قول رد اوشو يعنې دا كفار چې څه وائې ديكښې هيڅ حقيقت نشته، بلكه څه قسم خورم چې دا قرآن د الله ﷻ كلام دې.

(۲) "لا" زائده ده، "اقسم" معنى كښې تاكيد پيدا كولو دَپاره ، چې قسم خوړلو ته ضرورت نشته خو بيا هم قسم خورم ، لكه "لئلا يعلم اهل الكتاب" كښې لا برائې تاكيد زائد دې.

(۳) دا اصل كښې لام ابتدائيه دې خوفتحې دَاشباع دَوجهې نه ترينه لا جوړشو.

(۴) بعض وائې لا دَ "الا" حرف تنبيه په معنى كښې ده.

﴿ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ﴾مقسم بِهِ دې، (۱) مشهور قول دا دې چې مراد دَ مواقع النجوم نه دَ ستورو دَ غروب كيدلو مواقع دي. چونكه داوخت دَتهجد او آخر الليل وي الله ﷻ آسمان دنيا ته نزول كوي او دَ مغفرت اورحمت پرواني جاري كوي، تهجد كونكي تهجد دَپاره پاسي دغه شان نور عظيم امور، پكښې كيږي، نودې وجهې نه دينه باندې قسم اوخوړلي شو (۲) يااورنه مراد دَ قيامت په ورځ دَ دوئ راغورځيدل اوبې نوره كيدل دي (۳) حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وغيره وائي چه دَ "نجوم" نه مراد دَ قرآن آياتونه دي ځكه چه نجم حصّې ته وائي اوقرآن هم نجمًانجمًانازل شويدې، كمامرّفي سورة النجم، اودَمواقع نه مراددَقرآن دَنزول مواقع دي، يعنى دااستعاره ده دَ نزول دَ قرآن نه، الله ﷻ په نزول دَقرآن باندې قسم كوي اوكلام مؤكد كوي.

﴿ وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ ﴾ جمله معترضه ده په مابين دَقسم اوجواب قسم كښې لپاره دَبيان دَعظمت دَقسم. «قسم» موصوف دې او «عظيم» ئې صفت دې او «لو تعلمون» جمله معترضه ده په مابين موصوف اوصفت كښې لوتعلمون شرط دې اوجزاء يې يا محذوفه ده اې لعظمتموه او يابالكل متروكه ده ، او مقصود ترينه په دې تنبيه ده چې دَهغه عظمت شان اندازه تاسونشئ لګولي.

﴿إِنَّهُۥ لَقُرۡءَانٞ كَرِيمٞ﴾داجواب قسم دي، **مناسبة دَ قسم او جواب قسم** په مينځ کښ دادې چه لکه څرنګه په ستورو سره لاره موندلې کيږي كقوله تعالى:وبالنجم هم يهتدون (نحل:١٦) و كقوله تعالى:وهوالّذى جعل لكم النجوم لتهدوا بها(انعام:٩٧) دارنګه قرآن هم سبب دَهدايت دې (مظهرى وغيره)

﴿ كَرِيمٞ ﴾صفت اول دې دَ﴿ لَقُرۡءَانٞ﴾اى كريمٌ على الله ياداچه كرامت اوعزتْ ورته الله تعالى وركړيدې اودَده مرتبه ئې په نوروكتابونواوچته كړيده.ياكريم نه مراد ظاهرى معنى بذل واحسان ده.چونكه قرآن نه هم انسان ته ډير زيات فوائد حاصليږى،نوځكه ورته كريم اويلې شو.﴿ فِي كِتَٰبٖ ﴾ثى بل صفت دې،مراددَ﴿كِتَٰبٖ ﴾نه لوح محفوظ دې﴿ مَّكۡنُونٖ ﴾صفت دې دَ

«كِتَٰبٖ» "مكنون" ياخپل لغوى معنى کښ دې، يعنى پټ ساتلې شوې،چې مقرر شوې فرشتو نه علاوه چا ته دَ دې خبر نه وو او ياد "مصون" پمعنى کښ دې يعنى محفوظ ساتلې شوې، دَ تغير او تبدل نه.

﴿ لَّا يَمَسُّهُۥٓ إِلَّا ٱلۡمُطَهَّرُونَ ﴾دا يا صفت دې دَ﴿كِتَٰبٖ ﴾،نو بيا د ﴿المطهرون﴾ نه مراد فرشتې دى يعنى دې لوح محفوظ ته رسائى نشته سوا دَ فرشتو نه چې هر قسم ګناهونو او ګندګيانو نه پاکې دى،او ياصفت دې د ﴿ لَقُرۡءَانٞ﴾، نودې صورت کښ «المطهرون» نه مراد حدث اصغر اوحدث اكبر نه پاک خلق دې،يعنى دومره معزز اومقدس كتاب دې چې بې اودسه اوناپاک خلق خو دې ته لاس هم نه لګوي،دې صورت کښ «لايمسه» پمعنى دَ "لا ينبغي ان يمسه" کښ دې،ددې آيت سره بې اودسه قرآن ته لاس وړلو ممانعت باندې استدلال متعدد رواياتو کښ راغليدې:

(١)حضرت عمر ﷺ اسلام راوړلو واقعي کښ دې چې كله ده دَ خور نه قرآن پاڼړو مطالبه اوكړه نو هغې وركولو نه انكار اوكړو، او دا آيت ئې ورته اولوستلو. لايمسه الا المطهرون .

(٢) مصنف ابن ابى شيبه کښ دَحضرت سلمان ﷺ نه هم دې آيات سره استشهاد واستدلال ذكر دې،

دينه علاوه متعدد رواياتو کښې هم نبی کریم ﷺ دَدې حرمت ذکر راغلیدي عمرو بن حزام ﷺ ته مشهور خط کښې نبی ﷺ يو هدايت دا ليکلې وؤ. لا يمس القرآن الا على الطهور حضرت ابن عمر ﷺ نه هم يو روايت داسې مروی دې لا يمس القرآن الا طاهر (المعجم الكبير للطبراني)

﴿تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾ بل صفت دې دَقرآن، مصدر مبنى للمفعول دې اي منزل

﴿أَفَبِهَٰذَا ٱلْحَدِيثِ أَنتُم مُّدْهِنُونَ﴾ توبيخ دې يعنى قرآن په شان عظيم الشان كتاب تاسو معمولي ګڼړئ اودې کښې خبرې ترې کوئ، ﴿مدهنون﴾ "دهن" نه ماخوذ دې، " تيلو" ته ويلي کيږي، "ادهان" تيل لګولوسره څه شې نرمولو ته ويلې کيږي، چونکه ادهان مستلزم دې "نرمولو" لره. او قرآن کښې نرمی خودل مترادف دي دَ قرآن معمولی ګنړلو اوتوهين اوتکذيب لره، ځکه پري مجازا اواستعارتاً اطلاق دَ "ادهان" اوشو، هم دې وجهې نه بعض مفسرين دې ترجمه " تهاون" (سپک ګنړل) اوبعض تکذيب سره کوی.

﴿ وَتَجْعَلُونَ رِزْقَكُمْ ﴾ رزق ياپخپله معنى دې اومطلب دادې چه تاسوتکذيب خپل رزق اوخوراک ګرځولې دې، دَتکذيب نه بغيرستاسوګزاره نه کيږي (۲) يارزق پمعنى دَحصَى سره دې اى حظکم يعنى تاسوخپله حصه !وبرخه (په قرآن کښې) تکذيب ګرځولې ده يعنى خلقوته ترينه هدايت ملاويږي اوتاسوئى تکذيب کوئ (۳) يارزق پمعنى دَشکرسره دې اى شکرکم، يعنى تاسوچه کوم شکراداکوئ نوهغه تکذيب دې دَالله ﷻ لکه چه کله به باران اوشو نو مشرکانو به وئيل مُطرنابنوء كذا فلانكى ستورى پوجه په مونږباران اوشو، په اکثرو رواياتوکښې دی چه داآيات دَدوئ دَمذکوره قول په ردکښې نازل شويدې، ابن عباس ﷺ فرمائي: مطر النَّاسُ على عهدرسول الله ﷺ فقال النبى ﷺ :اصبح من الناس شاكر و منهم كافرٌ، قالوا هذهِ رحمةٌ وضعها الله، وقال بعضهم لقدصدق نوء كذا فنزلت هذه الآية (مسلم ج ۱)

فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾
پس ولې نه، په هغه وخت کښې چه ورسيږی روح مرئ ته، اوحال داچه تاسوپدغه وخت کښې ګورئ مرکيدونکی نه

وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ مِنكُمْ وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوْلَا إِن كُنتُمْ غَيْرَ						
اوموږزيات نزدې يوهغه مړي ته ستاسو نه ليكن تاسو نه وينئ ، نو ولې نه كچرته تاسو د حكم الهي ماتحته						
مَدِينِينَ	﴿٨٦﴾	تَرْجِعُونَهَا	إِن	كُنتُمْ	صَادِقِينَ	﴿٨٧﴾
نه يئ	-	واپس كوئ دغه روح	كچرته	يئ	تاسوريشتني	

﴿فَلَوْلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ﴾ دازجراوتوبيخ دې منكرينودقيامت ته چه كچرته ستاسوداګمان صحيح وى چه جزاءسزااوبعث بعدالموت نشته اوستاسوڅوک خالق مالک نشته چه دَهغه دَ حكم لاندې تاسومحكوم يئ،نوچه په كوم وخت كښې ستاسودَيوقريبي عزيز روح قبض كيږي، او تاسو ورته دَحسرت په نظرسره ګورئ،تمناموهم وى چه دې مړنه شي،نودده روح را واپس كړئ كنه په څه قوت اوتدبيرسره،چه داسى نه شئ كولې نو ستا ګمان باطل دې، سزاء جزاء ورځ هم شته اوستاسوخالق مالک هم شته چه تاسودَهغه دَحكم لاندې محكوم يئ.

﴿ فَلَوْلَآ﴾ تحضيضيه دې ، فعل باندې داخليږي، نو دې نه بعد« ترجعونها» فعل مقدر دې، چې هغې تفسير ورستو«ترجعونها»كوي، ﴿إِذَا بَلَغَتِ ٱلْحُلْقُومَ﴾ظرف متعلق كيږي ترجعونَ پورې. او ضمير مؤنث په «بلغت» او «ترجعونها» كښې راجع دې روح ته،ذكرئي اګرچه ماقبل كښې صراحتًا نشته ليكن سياق دكلام نه فهم كيږي ﴿وَأَنتُمْ حِينَئِذٍ﴾او﴿وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ﴾ دواړه جملې حاليه دى،دويم « لولا» تاكيد دې دَاول دَپاره،﴿إِن كُنتُمْ غَيْرَ مَدِينِينَ﴾شرط دى،جزاء ورله محذفه ده،چې هغې باندې« ترجعونها»دلالت كوى﴿إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ﴾شرط تاكيد دې دَشرط اول.

﴿ٱلْحُلْقُومَ﴾دَ خوراک سكاک مرئ ته وائى ﴿ وَنَحْنُ أَقْرَبُ إِلَيْهِ﴾ مراد دَ قُرب نه قُرب دې په اعتباردَعلم اوقدرة،يعنى دَهغه مړكيدونكى په حالاتوموږستاسونه زيات واقف يو،څكه تاسوصرف دَظاهرى اثارومشاهده كوئ موږئې دكنهه نه اوباطن نه واقف يو،بعض وائى مراددَقرب نه قرب دَملائكودې چه كوم روح قبض كوى.

﴿وَلَٰكِن لَّا تُبْصِرُونَ﴾ كنايه ده دَعدم ادراک نه ﴿غَيْرَ مَدِينِينَ﴾ معنى يا غير مجزيّين دى يعنى كچرى تاسونه حساب كتاب نه اغستلې كيدلې ياپمعنى دَ غير محكومين دي،يعنى كچرى تاسو دَالله ﷻ ماتحت نه يئ.

فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ۝ فَرَوْحٌ وَرَيْحَانٌ ۙ وَجَنَّتُ نَعِيمٍ ۝								
پس كچرته وى دغه مړې دَمقربينونه نو بياده لره آرام دې او روزى ده او جنت د نعمتونو دې								
وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ ۝ فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ								
او كچرته وى دا مړې دَ ښى لاس والؤو نه،نو(ورته به اوئيلې شى)سلام دې ستادپاره،ته دَخاوندانو								
ٱلْيَمِينِ ۝ وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُكَذِّبِينَ ٱلضَّآلِّينَ ۝ فَنُزُلٌ								
دَښى لاس نه يې.اوكچرته وى دامړې دَتكذيب كونكو دَ ګمراهانو نه نودَده دپاره ميلمستياده								
مِّنْ حَمِيمٍ ۝ وَتَصْلِيَةُ جَحِيمٍ ۝ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ ۝								
دَ ګرمو اوبو نه . او داخليدل دى جهنم ته ، بيشكه دا(احوال تول) بالكل هم دا حق يقينى دى.								
فَسَبِّحْ	بِٱسْمِ	رَبِّكَ	ٱلْعَظِيمِ ۝					
پس	پاكي	سره	ياده	وه	نوم	دَرب	خپل	چه لوئ دې

﴿فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ﴾ ضميرپه كان كښې متوفى ته راجع دې،پدې آياتوكښې دَجماعت ثلثه ؤ(سابقين،اصحاب الميمنه،اصحابُ المشئمه)دَاحوال واعاده ده،چه كچرته دادُنيانه رخصتيدونكې انسان دَمقربينُ نه وى نودَمرګ نه ورستوبه په قسم قسم خوشحالو او راحتونو كښې وى.﴿فَرَوْحٌ﴾ مبتدادې خبرئې محذوف دې چه هغه وربانديې مقدم دې اى فله روحٌ،ياخبردَمبتدامحذوف دې اى فجزاءه روحٌ"روح"پمعنى دَاستراحت سره دې،يعنى دَ دنيادَمشقتونونه به ورته راحت ملاؤشى،په حديث كښې دى چه فرشتې دَرحمت به ورته وائى، ايتهاالرّوح الطيبة،فى الجسدالطيّب كنتِ تعمرينه اخرجى الى روحٍ وريحانٍ وربٌ غير غضبان(ابن كثير).

بعضِ وائی روح معنی مغفرت دې، ابن کثیر رحمه الله وائی: وکلّ هذه الاقوال متقاربةٌ صحیحةٌ فانّ من ماتَ مقربًاحصل له جمیع ذلک من الرحمة والراحة والاستراحة والفرح....الخ.

﴿وَرَيْحَانٌ﴾ یاپمعنی دَرزق دې کمارُوی عن ابن عباس رضی الله عنه یاپمعنی دَخوشبوئ دَ کشمالو دَ گل. روح المعانی دَابن جریروغیره نه نقل کړیدی چه په مقرّبینو کښ هیڅ څوک ترهغه وخته پوری نه مړکیږی حتّی چه هغه ته دَجنت دَریحان نه دوه څانگی راوړې شی، دې هغه بوئ کوی اوروح ئی قبض شی. ﴿وَجَنَّتُ نَعِيمٍ﴾ یعنی دَنعمتونو والا جنتونه. اضافت لامیه دې.

﴿وَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ﴾ دَدویم جماعت بیان دې ﴿فَسَلَٰمٌ لَّكَ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْيَمِينِ﴾ دینه مخکښ یقال مقدر دې، معنی یاداده چې تاته سلامتی اوامن وامان حاصل دې ځکه چې ته اصحٰب الیمین نه یې، اویایی معنی داده چې اصحٰب الیمین له طرفه په تا سلام دې.

﴿وَأَمَّآ إِن كَانَ﴾ دادریم جماعت یعنی اصحاب المشئمه بیان دې ﴿فَنُزُلٌ﴾ ای فله نزلٌ بالجزائه نزلٌ ﴿مِّنْ حَمِيمٍ﴾ گرم ایشیدلی اوبه چه دَزقوم خوړلونه بعد به ئي څکی.

﴿إِنَّ هَٰذَا﴾ اشاره احوالو دَجماعات ثلثه ؤته ده، ﴿لَهُوَ حَقُّ ٱلْيَقِينِ﴾ داکوم احوال چې تاسو ته بیان شو دابالکل حق اوحقیقت اویقینی امور دی

﴿فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ﴾ داپه آخردَسورة کښ دعوه دَ سورة بیان شوه چه دَلویوصفاتووالاذات پاکی بیان کړه،

باقی تفصیل ئی لږمخکښ شویدې، په حدیث کښ دی چه کله داآیت نازل شونوحضور صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اجعلوهافی رکوعکم اوچه کله داآیت نازل شوچه سبّح اسم ربّک الاعلیٰ نوونئی فرمائیل: اجعلوهافی سجودکم(ابوداؤد، ابن ماجه).

صاحب دَمدارک وائی: لطیفةٌ عجیبةٌ لیسَ فی هذه السورالثلٰث لفظ الله، اقتربت، الرّحمٰن، الواقعه، والله اعلم باسراره، یعنی داعجیبه خبره ده چه په دې درې سورتونوکښ (باوجود د دینه چې اوگده سورتونه دي) اسم جلالة (الله) نه دې ذکرشوې الله تعالیٰ پخپل اسرارو ښه پوهیږی،

مولانا اشرف علی تهانوی رحمه الله فرمائی: اقول ومن اللّطائف، ان سورة المجادلة لاتخلو آيةً من آیاتها عن لفظ الله، والله اعلم باسراره، یعنی داهم عجیبه خبره ده چه په سورة المجادله کښې يو آيت هم دَلفظ دَالله ﷻ نه خالی نه دي الله ﷻ پخپل رازونو ښه پوهیږي.

ركوعاتها (۴)	سورة الحديد مدنية	آياتها (۲۹)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۵۷) وحسب النزول (۹۴)

نزلت بعد الزلزال قبل محمّد

ربط: ماقبل سره ئې ربط: (۱)دادې چه ماقبل کښې دَتوحیدبیان اوشودې سورة کښې مسئله دَانفاق اوجهاد بیانیږی چه توحیدلپاره دَالله ﷻ په لاره کښې مال خرچ کړئ اوجهاد اوکړئ، په دې دواړومسئلوباندې ائنده نهه(۹)سورتونه،مجادله،حشر،ممتحنه،صف، جمعه، منافقون، تغابن،طلاق،تحریم،متفرع دی،څلورپه مضمون دَجهاد ،څلورپه مضمون دَانفاق اویوسورة کښې دواړه مضمونونه جمع دی.دجهادمضمون والاسورة ابتداءپه سَبّح لله سره شویده،اودَانفاق،مضمون والاسورة په یسَبّح لِلهِ سره.

(۲)دَماقبل سورة په آخرکښې امردَتسبیح وؤ، په دې سورة په ابتداءکښې دَتسبیح ذکردې.

دسورة دَمضامینواجمالي خلاصه

دَ دې سورة درې حصَې دی:

اوله حصَه کښې دَتوحید ذکر دې چې هغه مقصود دَپاره تمهید دې،

په دویمه حصه کښې دَانفاق پنځه وجوه ذکر دي

په دریمه حصه کښې ترغیب دې جهادته.

تفصیلي خلاصه

﴿سَبَّحَ لِلّٰهِ﴾آیت اول نه ترآیت(۲)پورې تمهیددې اودَسورت اوله حصه ده چه پکښې دَمسئلې دَتوحید ذکردې،چه دَدې دَخاطره انفاق اوجهاداوکړئ.

﴿ءَامِنُوا بِاللّٰهِ وَرَسُولِهِ﴾آیت(۷)نه دَاول مضمون ابتداءده.اودَسورت دویمه حصه ده

﴿وَأَنفِقُوا مِمَّا﴾دَانفاق اوله وجه ده

﴿وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا﴾آیت(۱۰)دویمه وجه ده بطورترقی

﴿مَن ذَا ٱلَّذِى يُقْرِضُ ٱللَّهَ﴾آيت(١١)دريمه وجه ده
﴿ٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا﴾آيت(٢٠)خلورمه وجه ده.
﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ﴾ (٢١)پنخمه وجه ده.
﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِٱلْبَيِّنَٰتِ﴾آيت(٢٥) نه دويم مضمون يعنى دجهادبيان ذكر كيږي.

سَبَّحَ لِلَّهِ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ ①
پاکی وائی الله ﷻ لره هغه څیزونه چه په اسمانونوکښ دی اوپه زمکه کښ دی.اوالله ﷻ غالب دې،حکیم دې.
لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ يُحْىِۦ وَيُمِيتُ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ②
هغه لره ده بادشاهی داسمانونو اوزمکې،ژوندی کول کوی اومړه کول کوی.اوهغه په هرڅیزباندی قادردې.
هُوَ ٱلْأَوَّلُ وَٱلْءَاخِرُ وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ وَهُوَ بِكُلِّ شَىْءٍ عَلِيمٌ ③
هغه اول هم دې اوآخرهم دې،ظاهرهم دې اوباطن هم دې،اوهغه په هرڅیزباندی ښه پوهه دې

﴿سَبَّحَ لِلَّهِ﴾دا د **سورت اوله حصه ده** چې دیکښې د مسئله توحید ذکر دې او داتمهیداو ترغیب دې د جهاد او انفاق حکم دپاره ،چه دَدې دَخاطره دَمال خرچ کولواوجهادکولوحکم دې.،لام، په ،لله، کښ زائد دې لپاره دَتاکید ،کمافی نصحتُ له، دَمسبّحاتوابتداءپه بعضِ ځایونوکښ په ماضی سره شویده لکه دلته اوپه حشر،اوصف کښ،اوپه بعضِ ځایونوکښ په،یسبّح،مضارع سره شویده،لکه په جمعه اوتغابن کښ،پدې کښ اشاره ده چه تسبیح دَالله ﷻ په جمیعُ اوقاتوکښ جاری ده(روح المعانی وغیره)

﴿مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ﴾ ،ما، ذکر شو دَ ،من،ذکرنه شودپاره دَتغلیب دَاکثرو ، تسبیح دَذوی العقولوبالاتفاق قولی ده،البته غیرذوی العقولوپه تسبیح کښ اختلاف دې،بعضِ وائی داهم قولی ده،بعضِ وائی صرف تسبیح حالی ده،دَدې تفصیل دَسورة بنی اسرائیل آيت(۴۴)وان من شیئ الایسبّح بحمده....الخ کښ تیرشویدې،هلته ئې وګورئ.

﴿وَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلْحَكِيمُ﴾ «العزيز» معنى قادر اوغالب، «الحكيم» معنى حكمت نه ډک محکم احکامات صادر کونکې ، داجمله بطور علت راغلیده ، ماقبل حکم دپاره ، چونکه بادشاه دپاره دوه اموره ضروري وي: (۱) يو استيلاء ، نوالله ﷻ «العزيز» دې ، هغه هر چا باندې غالب دې ، (۲) دويم تدبير وتدبر: نوالله ﷻ «الحکيم» دې ، دهغه هرحکم محکم اوحکمت نه ډک دې ، خلاصه داچې ټول کائنات دَالله ﷻ تسبيح ځکه بيانوي چې هغه تن تنها بادشاه دې ، مخکښې آيتونو کښې د دې دوه صفاتو «العزيز» او «الحکيم» تفصيل اومظاهر بيانيږي.

﴿لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾ ديکښې دَ «العزيز» صفت يو مظهر او نمونه ذکر کيږي ، چې الله ﷻ ته دکائنات آسمانونو او زمکې زرې زرې کښې تصرف کلي اختيار حاصل دې ، ژوند هم هغه ورکوي ، مرګ هم هغه ورکوي اوهر څه باندې قادردې. ﴿يُحْيِۦ وَيُمِيتُ﴾ خبر دَ مبتدا محذوف دې اى :هو يحي ويميتُ «يحى» معنى داده چه انشاء دَحيات کوي يعنى اول ځل پيدا کول هم هغه کوي ، اومرګ هم هغه راولي.

﴿هُوَ ٱلْأَوَّلُ﴾ ديکښې دَ «العزيز» صفت دويمه نمونه بيانيږي چې هيڅ هم نه وو ، الله ﷻ وؤ ، يو وخت به داسې راشي چې ټول به فناشي خو الله ﷻ ذات به باقي وي ، هر چاباندې غالب دې ، هيڅ څوک ترينه هم هيڅ چرته نشي پټيدلې ، هغه ته د هر څه پته لګي. «الاول» اى السابق على جميع الموجودات ، يعنى الله ﷻ دَهرڅيزنه قبل موجودوؤ ، قبل دَده نه هيڅ هم نه وؤ. «والاخر» اى الباقي. بعدفنائها(روح) يعنى دَهرڅيزفناکيدلونه بعدبه هم موجودوي ، الله ﷻ باندې نه عدم سابق طاري شويدې اونه به پرې عدم لاحق طاري کيږي. ﴿وَٱلظَّٰهِرُ وَٱلْبَاطِنُ﴾ د دې په تفسير کښې متعدد اقوال منقول دي:

(۱) «الظاهر» معنى غالب ، چې هغه نه برتر څوک نشته ، «الباطن» معنى هغه ذات چې هغه نه ماسوا بل داسې پټ ځاځ نشته چې سرې پکښې د الله ﷻ نه پټ شي ، حديث کښې دَ الظاهر او الباطن دغه معنى راغليده: انت الظاهر فليس فوقک شيئ، وانت الباطن فليس دونک شيئ

(۲) الظاهر معنی آثار واعتبار سره بالکل ظاهر دې ځکه چې الله ﷻ دکائنات ذرې ذرې نه عیان دې،خوځوک یې کنه اوحقیقت معلومه وی ،نوبیا الباطن دې څوک یې حقیقت ته نشي رسیدلې،

(۳) الظاهر معنی امور ظاهریؤو باندې عالم،او الباطن معنی امور باطنیؤوباندې عالم.

(۴) بعضِ وائی چه﴿ وَالظَّاهِرُ﴾معنی داچه دظاهری نعمتونو مالک دې او﴿وَالْبَاطِنُ﴾معنی داچه باطنی نعمتونو مالک دې،کقوله تعالی: واسبغ علیکم نعمه ظاهرةً وباطنةً

فائده: چونکه دا اسماء حسنی صفات متضاده دی نوپدی وجه دّدی په مینځ کښې واؤ ذکرشو

﴿وَهُوَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾ یعنی الله ﷻ نه ماورا بل څه پناه ګاه نشته چی سړی پکښې پناه واخلی اوبچ شی،ځکه چی الله ﷻ هر څه باندی باخبر ذات دې.

هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَىٰ
الله ﷻ هغه ذات دې چه پیداکړی نی دې اسمانونه اوزمکه په اندازې دّشپږو ورځوکښې.بیائی استواء کړیده
عَلَى الْعَرْشِ يَعْلَمُ مَا يَلِجُ فِي الْأَرْضِ وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا
په عرش باندی،عالم دې په هغه څه چه ننوځی په زمکه کښې اوپه هغه څه چه رااوځی دّدی زمکی نه
وَمَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا ۖ وَهُوَ مَعَكُمْ
اوپه هغه څه چه راکوزیږی دّاسمان نه اوپه هغه څه چه خیژی اسمان ته،اوالله ﷻ تاسوسره دې
أَيْنَ مَا كُنْتُمْ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٤﴾ لَهُ مُلْكُ
هرچرته چه یئ تاسو،اوالله ﷻ په هغه عملونوچه تاسوئی کوئ لیدونکي دې،الله ﷻ لره ده بادشاهی
السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَإِلَى اللَّهِ تُرْجَعُ الْأُمُورُ ﴿٥﴾ يُولِجُ اللَّيْلَ فِي النَّهَارِ
دّاسمانونواودّزمکی اوخاص الله ﷻ ته ګرځولې شی ټول کارونه،داخلوی شپه په ورځی کښې
وَيُولِجُ النَّهَارَ فِي اللَّيْلِ ۚ وَهُوَ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿٦﴾
اوداخلوی ورځ په شپه کښې اوهغه ښه عالم دې په خبرودّسینوباندې

﴿هُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ﴾ په دی کښ دَ الحکیم صفت نمونه بیانیږی، چي اوخوګورئ دَالله ﷻ څنګه محکمه بادشاهی ده اوڅنګه حکمت باندې مبنی نظام دې. آسمانونه اوزمکی یی شپږ ورځو کښ پیدا کړی، حالانکه محض ارادې سره هم پیداکولي شول. اودکائنات ذرې ذرې باندی هغه نګرانی ده، زمکه کښ کومه قطره کوم تخم ننوځی، اوڅه چې ترینه راوځی، آسمان نه څه نازلیږی، اوڅه ورته خیژی، تاسو کوم ځائی وئ، او څه عمل کوئ تولو باندې الله ﷻ عالم دې، اوهغه ورته ګوری ﴿فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ﴾ مراد دَشپږوورځومقدار دې، لکه په اعراف وغیره کښ باربارتیردی.

﴿ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ﴾ استواء علی العرش دَمتشابهاتونه دې، متشابهاتوتفصیلی تفسیر په سورة ال عمران کښ تیرشویدې، چه سلف دَدی معنی نه کوی بلکه تفسیرئی په لفظ منصوصی سره کوی اوداسی وائی چه استواء یلیق بشانه، اومتاخرین اهل سنت دَدی داسی تفسیراو تاویل کوی چه دَنورونصوصوسره موافق وی، نودلته دَاستواء علی العرش معنی او تفسیر په تصرف سره کوی اومطلب دادې چه دکائناتوخالق صرف اللهﷻ دې، دَدی نه پیداکولونه بعدئی استواء علی العرش کړیده یعنی دکائناتونظم نسق ئی پخپله اغستې دې، بل چاته ئی دا اختیارنه دې ورکړې.

﴿مَا يَلِجُ فِى ٱلْأَرْضِ﴾ نه مراد دَباران قطری، تخم، مړی وغیره مراد دی، یعنی ګویاچه اللهﷻ ته دزمکی دَ اندرونی حصّی علم هم دې او﴿وَمَا يَخْرُجُ مِنْهَا﴾ دَبیرونی حصّی علم دې ورته، دې نه مراد، نباتات، معدنیات وغیره دی﴿ وَمَا يَنزِلُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ ﴾مرادورنه عذاب، رحمة، احکامات او باران قطرې وغیره دی، ﴿وَمَا يَعْرُجُ فِيهَا﴾ مراددَدینه فرشتی او نیک اعمال وغیره دی، حاصل داچه دَاللهﷻ علم دکائناتوپه ذری ذری محیط دې﴿وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنتُمْ﴾تمثیل دې دَاحاطی علمی دَاللهﷻ، معیت کنایه ده دَعلم نه،

﴿ لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ﴾ دیکښ دَ الله ﷻ ملک او بادشاهئ استحکام بیان دې چې تعلق صرف دې کائنات سره نه دی بلکه آخرت کښ به هم دَ الله ﷻ بادشاهی وی ،ستاسو ټول او ستاسو اعمال به هغه باندی پیش کیږی، او هغې مطابق به جزا درکوی

﴿ يُولِجُ ٱلَّيْلَ فِى ٱلنَّهَارِ ﴾ دا دَ حکمت او احکام بله نمونه ده، چې شپې ورځې تللو راتللو او د وړیکې کیدلو او غټیدلو الله ﷻ یو محکم نظام پیدا کړیدې چې هغې کښ ډیر حکمتونه او مصلحتونه پټ دی. ﴿ وَهُوَ عَلِيمٌۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ﴾ دا هم بیان دې د احاطی علمی د الله ﷻ

ءَامِنُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا مِمَّا جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ

ایمان راوړئ په الله ﷻ او په رسول دَهغه، او خرچ کړئ دَهغې مال نه چه ګرځولی یئ تاسو الله ﷻ خلیفه ګان

فِيهِ ۖ فَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا مِنكُمْ وَأَنفَقُوا لَهُمْ أَجْرٌ كَبِيرٌ ٧

په هغې کښ، پس هغه کسان چه ایمان ئې راوړې دې دَ تاسو نه او خرچ کړې ئې دې (مال) دوئ دپاره اجر لوئ دې

وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ ۙ وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ لِتُؤْمِنُوا بِرَبِّكُمْ

او څه عذر دې تاسو له چه ایمان نه راوړئ په الله ﷻ او رسول ﷺ راغواړی تاسو چه ایمان راوړئ په رب خپل

وَقَدْ أَخَذَ مِيثَٰقَكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ٨ هُوَ ٱلَّذِى

او په تحقیق سره اغستی ئې وه وعده ستاسو نه، کچرته یئ تاسو ایمان راوړونکی. الله ﷻ هغه ذات دې

يُنَزِّلُ عَلَىٰ عَبْدِهِۦٓ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ لِّيُخْرِجَكُم مِّنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ ۚ

چه نازلوی په بنده خپل (حضور ﷺ) باندی آیاتونه واضح چه را اوباسی تاسو دَ تیارو دکفرنه رڼرا دَ ایمان ته،

وَإِنَّ ٱللَّهَ بِكُمْ لَرَءُوفٌ رَّحِيمٌ ٩

او بیشکه الله ﷻ په تاسو خامخا مهربانه دې رحم کونکې دې

﴿ ءَامِنُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَأَنفِقُوا ﴾ دې ځائ نه د **سورت دویمه حصه** شروع کیږي ، دتمهید نه بعد دَ سورت اول مضمون انفاق فی سبیل الله بیان دې، چه کوم مال درته الله ﷻ بطور نیابت

درکړيدي دَهغی نه دَالله ﷻ په لاره کښی خرچ کړئ،الله ﷻ به درته لوئ اجردرکړی.«امنوا بالله و رسوله» داتمهید دي دَانفاق دَحکم دَپاره او خطاب پکښي مؤمنانو ته دي،مقصود ترینه ایمان مقتضی باندې عمل دي،یعنی الله ﷻ او دَ هغه رسول چی کوم حکم درکوی هغه منئ ، «انفقوا» یعنی هغی حکمونو نه یوحکم انفاق هم دي لهذا الله ﷻ په لار کښی خپل مال خرچ کوئ

﴿ جَعَلَكُم مُّسْتَخْلَفِينَ فِيهِ ﴾دا اوله وجه دَ انفاق ده،چه دامال دَالله ﷻ په لاره کښی څکه خرچ کړئ چه داپه حقیقت کښی ستاسونه دي،تاسوئی دَیوڅوورځودپاره نائبان او چوکیدار یئ، حقیقی مالک دَدې صرف الله ﷻ دي،هغه به ئي درنه یوه ورځ واپس اخلی کقول القائل:شعر:

وما المال والاهلون الاّ ودائع　　و لابدّ يومًا ان تردّ الودائع

دي تفسیر مطابق «مُّسْتَخْلَفِينَ» معنی نائب في التصرف ده یعنی صرف تصرف،اختیار درکړیدي،حقیقتاً یی مالکان نه یئ ګرځولی.

بعض وائی چه دَ﴿ مُّسْتَخْلَفِينَ ﴾مطلب دادي چه الله ﷻ تاسودَدی مال خلیفه ګان ګرځولی یئ په وراثت سره دَمخکښنونه،نولکه څرنګه چه دادَمخکښنوسره نه دي پاتی شوي نوتاسوسره به هم نه پاتی کیږی،نوغیرته منتقل کیدلونه مخکښ مخکښ په دي کښی انفاق اوکړئ.

﴿فَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ ﴾بشارت دي چی څوک ایمان تقاضو باندی عمل کوی،اوالله ﷻ په لارکښی مال خرچه کوی،هغوئ دَپاره لوئ لوئ اجرونه دي.

﴿ وَمَا لَكُمْ لَا تُؤْمِنُونَ ﴾دیکښی دَایمان دواعی بیان دي،اومراد دلته هم دَایمان نه مقتضی دَایمان ده،یعنی دَایمان په مقتضی باندې دَ عمل ټول دواعی اواسباب موجود دی،نوبیاتاسو ولی عمل نه کوئ،«ما» مبتدا ده «لکم»ورله خبر دي،«لا تؤمنون» جمله حال واقع کیږی، دَ «کم» ضمیر نه .﴿وَٱلرَّسُولُ يَدْعُوكُمْ ﴾اول داعی بیان دي،یعنی رسول ﷺ تاسوته ایمان دعوت درکوي،اودَایمان په مقتضی اوالله ﷻ په لار کښی خرچ کولو مطالبه درنه کوی.جمله

اسميه حال واقع کيږي تؤمنون ضمير نه.﴿وَقَدْ أَخَذَ مِيثَاقَكُمْ﴾دويم داعي بيان دي.يعنی تاسو هغه سره دَ دې عهد هم کړيدي چی مونږ به ايمان تقاضو باندي عمل کوؤ.او الله ﷻ لاره کښ به مال خرچه کوؤ.دينه هغه عهدمراد دی چی نبی کريم ﷺ دصحابوؤ نه اغستي وؤمسند احمد(رقم الحديث ۲۳۲۷۹) کښ دَحضرت عباده بن صامت رضي الله عنه نه روايت دي:بايعنا رسول الله ﷺ على السمع والطاعة في النشاط والكسل،وعلى النفقة في العسر واليسر،وعلى الامر بالمعروف والنهي عن المنكر ،وعلى ان نقول في الله تعالى ولانخاف لومة لائم يعنی مونږ نبی ﷺ په لاس دَدې خبر دَبيعت کړيدی:

١) چی هر قسم حالاتو کښ به يې اطاعت کوؤ،نشاط وی او که سستی وی.
٢)هر قسم حالاتو کښ به الله ﷻ په لار کښ خرچ کوؤ فراخی وی او که تنگدستی.
٣)حق وينا به کوؤ،دَچاملامت پرواه به نه کوؤ.

﴿إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ﴾يعنی کچرته واقعتاً مؤمنان يئ نو ايمان مقتضی باندی عمل کولو دَپاره دَغه دواعی کافی دی.

﴿هُوَ ٱلَّذِى يُنَزِّلُ﴾دا بل داعي ذکر کيږي دَايمان په تقاضو باندی عمل کولو دَپاره.يعنی الله ﷻ خومره لويه مهربانی اورحم وکرم دې په تاسو ،چی خپل واضح او خائسته احکامات تاسو ته درليږی اودَجهالت تيارونه مو دَايمان نور اورڼرا ته رااوباسی.لهذا ديکښ چون چرا مه کوئ،بلکه په خوشالئ سرهورباندئ عمل کوئ.

وَمَا	لَكُمْ	أَلَّا	تُنفِقُوا	فِي	سَبِيلِ	اللَّهِ	وَلِلَّهِ
اوڅه عذردې تاسولره چه نه خرچ کوئ مال په لاره دَالله ﷻ کښ اوحال داچه خاص الله ﷻ لره دې							
مِيرَاثُ	السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضِ	لَا	يَسْتَوِي	مِنكُم	مَّنْ	أَنفَقَ	مِن قَبْلِ
ميراث(پاتی کيدل)دَاسمانونواودزمکی،نه دی برابردَتاسونه هغه څوک چه خرچ کړې ئې دې مال مخکښ							
الْفَتْحِ	وَقَاتَلَ	أُولَٰئِكَ	أَعْظَمُ	دَرَجَةً	مِّنَ	الَّذِينَ	أَنفَقُوا
دَفتح مکی نه اوقتال ئی کړيدې،دغه کسان لوئ(اوچت)دی په درجه کښ دَهغه کسانونه چه خرچ کړی ئې دې مال							

مِنۢ	بَعْدُ	وَقٰتَلُوْا ۚ		وَكُلًّا	وَّعَدَ	اللّٰهُ	الْحُسْنٰى ۚ	وَاللّٰهُ
ورستودفتح	مکی	نه،اوقتال	ئی	کړیدي،اودټولوسره	وعده	کړیده	الله جل جلاله نوثواب.اوالله جل جلاله	

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ⑩

په هغه عملونوچه تاسوئی کوئ ښه خبرداردي

﴿ وَمَا لَكُمْ أَلَّا تُنفِقُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ﴾دادویمه وجه دانفاق ده.چه دامال دالله جل جلاله په لاره کښ خرچ کړئ،تاسوبه هسی هم مړه کیږئ دابه درنه پاتی کیږی،ددی مال وارث الله جل جلاله دي، نو چه بلااجره درنه پاتی کیږی نو اجر پری حاصل کړئ. ﴿وَلِلَّهِ مِيرَاثُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾داسمان ذکرکول،باوجود ددي چه هیڅ مخلوق ددی مالک - نه مجازاً او نه حقیقتاً-کیدیشی په دی کښ نکته داوی چه لکه څرنګه آسمان خالص دالله جل جلاله ملک دي(چه تاسوئی هم منئ)نودغه رنګه زمکه هم دالله جل جلاله ملک دي(بیان القرآن بتغیر).

﴿ لَا يَسْتَوِي مِنكُم مَّنْ أَنفَقَ ﴾پدی کښ بیان دي دتفاوت ددرجاتودانفاق کونکواوقتال کونکو،چه بعضِ صحابه رضي الله عنهم داسی دی چه دفتح مکی نه قبل ئی انفاق کړیدي اوقتال ئی کړیدي نودوئ په درجه اومرتبه کښ زیات دی دهغونه چه ورستودفتح نه ئی کړیدي،وجه داده چه فتحی مکی نه قبل وخت دابتلااوتکلیفونووخت وؤ،ابتلااوتکلیف په وخت کښ نیک عمل زیات بهتروی دراحت دوخت نه،﴿ مَّنْ أَنفَقَ﴾فاعل دي د﴿لَا يَسْتَوِي ﴾،اوقسیم اومقابل د﴿مَّنْ أَنفَقَ ﴾حذف دي دوجهی دظهورنه،چه هغه"ومن انفق من بعدالفتح"دي(کبیروغیره)﴿مِن قَبْلِ الْفَتْحِ ﴾فتح نه مراددبعضوپه نیزصلح حدیبیه ده،لیکن دجمهورومفسرینوپه نیزورنه فتح مکه مراده ده.

﴿أُولَٰئِكَ أَعْظَمُ دَرَجَةً ﴾اسم اشاری دپاره مشارالیه هغه مهاجرین اوانصار صحابه دی چې فتح مکه نه مخکښ انفاق اوقتال فریضه ادا کړیده ، دوئ باره کښ حضور ﷺ فرمائیلی دی چی:لوانفقَ احدُکم مثل اُحُدٍ ذهبًا مابلغ مدّ احدهم و لا نصیفه(بخاری وغیره)یعنی که په

تاسو کښې څوک دَاحد غر برابر مقدار سره زر نفقه کړی لیکن دَدوئ دیو موټی نفقی ته نه رسی.په یو روایت کښې داسی دی:دَعُوا لی اصحابی فوالذی نفسی بیده لو انفقتم مثل احدٍ،اومثل الجبال ذهبًامابلغتم اعمالهم،مفسرین وائی چه پدی آیت کښې واضح دلیل دې په دی چه حضرت ابوبکرصدیقرضي الله عنهپه تماموصحابه ؤکښې افضل وؤځکه دې اول اسلام راوړونکې وؤاواول خرچ کونکې وؤمال خپل لره په اسلام اوپه حضورﷺ ،

دَابن عمررضي الله عنهنه روایت دې چه دې وائی چه یوځل دَحضورﷺسره ناست وم. ابوبکررضي الله عنههم ناست وؤچه چوغه ئی اچولې وه اوهغه ئی دکیکروپه ازغوګندلې وه، جبرئیل ﷷ راغې اوونیل چه:ابوبکررضي الله عنهولې داسی چوغه اچولې ده چه دکیکروپه ازغوئی ګندلې ده، نوحضورﷺورته اوفرمائیل:انفقَ مالَه عليَّ قبل الفتح،یعنی ده خپل ټول مال په مابانذی خرچ کړیدې قبل دَفتحی نه. جبرئیلﷷاوونیل چه اللهﷻپه ده باندی سلام وائی اوورته اووایه چه ته څمانه په دی خپل فقرباندې راضی ئی اوکه ناراضه؟حضورﷺورته اوونیل نو ابوبکررضي الله عنهاوونیل چه آیاځه به دَخپل رب نه ناراضه کیږمه؟ځه د خپل رب نه راضي یمه (ابن کثیرؒ) قرطبی په دی روایت کښې دااضافه هم کړیده چه جبرئیلﷷاوونیل:فانّ الله یقولُ لکَ قد رضیتُ عنکَ کماانتَ عنّی راضٍ،ابوبکررضي الله عنهپه ژړاشو،بیاجبرئیلﷷحضورﷺته اوونیل چه کله نه ستادې ملګری داچوغه اچولی ده نودَعرش اوچته ونکوفرشتوهم داسی چوغی اچولی دی.

﴿مِنْۢ بَعْدُ﴾ای من بعدالفتح﴿وَكُلًّا﴾منصوب دې مفعول به مقدم دې دَ﴿وَعَدَ ٱللَّهُ﴾.﴿ٱلْحُسْنَىٰ﴾ نه مرادثواب حسنٰی دې چه جنت دې اومطلب دادې چه دواړه فریقینوته په نفقی او قتال باندی ثواب ملاویږی،صرف یو فریق ته نه.

مَّن	ذَا	ٱلَّذِى	يُقْرِضُ	ٱللَّهَ	قَرْضًا	حَسَنًا	فَيُضَٰعِفَهُۥ لَهُۥ
څوک دې هغه چه قرض ورکړی اللهﷻته قرض ښائسته،پس دوه چنده به کړی اللهﷻدغه قرض هغه لره.							
وَلَهُۥٓ	أَجْرٌ	كَرِيمٌ ⑪	يَوْمَ	تَرَى	ٱلْمُؤْمِنِينَ	وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ	يَسْعَىٰ نُورُهُم
اوهغه لره به وي اجر ښه . په هغه ورځ چه وینی به ته مؤمنان سړی اومؤمنانی ښځی چه منډه به وهی نوردَدوئ							

بَيْنَ	اَيْدِيْهِمْ	وَبِاَيْمَانِهِمْ	بُشْرٰىكُمُ	الْيَوْمَ	جَنّٰتٌ
مخکښې دَ دوئ نه او د ښي طرفونودَدوئ		ورته به اووئيلې شي	زيري دي تاسولره نن ورځ		دَجنتونو

تَجْرِيْ	مِنْ	تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	خٰلِدِيْنَ	فِيْهَا	ذٰلِكَ	هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٢﴾	
چه بهيږي	به	لاندې	دهغې نه	نهرونه	هميشه به وي	په هغې کښې	داهم	داکاميابي ده لويه

﴿مَّن ذَا ٱلَّذِى يُقۡرِضُ ٱللَّهَ﴾دا دريمه وجه دَانفاق ده،ماقبل نه علی سبيل الترقی،چه دا مال خرچ کړئ دَ الله ﷻ په لاره کښې په طوردَقرض سره،دَفقراوکمی نه مه ويريږئ،الله ﷻ به ئي درته واپس درکړی،دَ کميت اوکيفيت دواړو اضافې سره. دلته دَانفاق نه تعبيرپه قرض سره شوي دي،اشاره ده ديته چه دَانفاق اجرداسی قطعي اويقيني دي چه ګوياپه الله ﷻباندی قرض دي،(مدارک)"من"مبتدا مرفوع محلاًدي"ذا"ورله خبردي"الَّذی"موصول صفت دي دَ "ذا" يا ترينه بدل دي،يعنی څوک به وي داسی سړي چه قرض ورکړی الله ﷻته.

«قرضاً حسناً» قرض حسن بعض وائی هغه صدقه چه په اخلاص اوپه طريقه دَسنت سره خرچ کړې شی،دَ رياوبدعت شائبه پکښې نه وي،بعضووئيلی دی چه داهغه صدقه ده چه لس(۱۰) صفات وی په کښې:

(۱)حلال مال نه وی ځکه چه حرام مال الله ﷻنه قبلوی

(۲)بهتراو افضل څيزوی

(۳)په داسی حال کښې اوشی چه صدقه کونکې صحيح وی يعنی بيمارنه وی، دَژوند اميدئی وی،اودَفقريره ورسره وی

(۴)زيات حاجت مندته ئي ورکړی

(۵)په پټه ئی ورکړی،

(۶)من يعنی احسان اوتکليف نه ورکول،

(۷)خالص دَ الله ﷻدَرضادپاره ورکول

(۸)ورکړې شوې صدقه لګه ګڼل اګرچه ډيره وی

(۹)محبوب اوخوښ مال ورکول

(۱۰) دَفقيرکورته رسول(روح المعانی).

﴿ فَيُضَٰعِفَهُۥ ﴾ دا جواب استفهام دې دَ "ان" مقدره دَوجهې نه منصوب دې، او ضمير مستتر په کښې چه فاعل دې راجع دې الله ﷻ ته، او "ه" ضمير راجع دې قرض ته، مرادترينه اجراوثواب دَ قرض (صدقې) دې، په ديکښې دکميت او مقدار اضافې بيان دې، او په ﴿ وَلَهُۥٓ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴾ کښې دَ کيف اعتبار سره زياتوالې ذکر دې ((کريم)) معنى مَرضِيُّ سره شويده يعني عظيم الشان اجر به ورته ميلاويږي، چې هغه الله ﷻ ته معلوم دې، مخلوق د هغې تصور نشي کولې

﴿يَوْمَ تَرَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ دا بشارت أخرويه دې مؤمنانوته اوانفاق کونکوته، چه دَقيامت په ورځ چه کله دوئ په پل صراط باندې تيريږي نويونوراورنړابه ورسره وی فرشتې به ورته دَ جنت زيرې ورکوی، دَابن مسعود ﷺ نقل دی چه دې وائی چه: مؤمنانوته به په قدر دَ عملونو دَ دوئ دانُور ورکولې کيږي اوپل صراط باندې به تيريږي، دَبعضو سره به دَغرپه مقدار نور وی، دَ ټولو نوادنې نوربه دَوړې ګوتې په مقداروی کله به مړکيږي اوکله به بليږي ﴿يَوْمَ ﴾ يادَاُذکرمحذوف دپاره مفعول دې، يا ﴿ أَجْرٌ كَرِيمٌ ﴾ اويادَ ﴿فَيُضَٰعِفَهُۥ﴾ دپاره ظرف دې.

﴿ يَسْعَىٰ نُورُهُم ﴾ حال دې دَ مفعول دَ "ترى" نه او مراد دَ نور نه په نيز دَ جمهورو حقيقتًا نُور دې، او دا نور به ورته په پل صراط باندې تيريدلووخت کښې ورکولې کيږي، بعضِ وائي مخکښې دَدې نه به وی اوورسره به وی چه کله دوئ په پل صراط تيريږي.

﴿بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَٰنِهِم ﴾ يعنی مخکښې او خې طرف ته به يې نور وی، ددې دواړو جهتونو تخصيص: (۱) يا دَ دې وجهې نه اوشو چې اعمال نامې په دوئ ته هم دې جهتونو نه ميلاويږي، (۲) او يا مخکښې طرف ته به دَايمان نوروي، ځکه چې ايمان محل زړه دې اوزړه مخکښې طرف ته دې، او خې طرف ته به دَنيک اعمالو نور وي، ځکه چې نيک اعمالو خې طرف سره ډير مناسبت دې. نيک اعمال ليکونکې فرشتې هم دې طرف ته ناستې وي، اونيک اعمالو اعمالنامه هم په خې لاس ميلاويږي، اوکومو رواياتو کښې چې د ګس طرفونو ذکر راغلې دې نو هغه دَ دې دواړو نور اثر دې، (۳) او يا دلته "ايمانهم" نه مراد ټول اطراف دې خودَيمين تخصيص صرف شرافت په وجه شويدې.

﴿بُشۡرَىٰكُمُ ٱلۡيَوۡمَ ﴾دینه مخکښې يُقال لهم مقدردي،یعنی فرشتی به ورته وائی چه زیرې ستاسونن ورځ داخلیدل دی جنتونوته. ﴿ذَٰلِكَ﴾اشاره یانورته ده یا﴿ جَنَّٰتٌ﴾ ته ده په تاویل دَ ماذکر .

يَوۡمَ يَقُولُ ٱلۡمُنَٰفِقُونَ وَٱلۡمُنَٰفِقَٰتُ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱنظُرُونَا نَقۡتَبِسۡ

په هغه ورځ چه وائی به منافقان سړی اومنافقانی ښځی مؤمنانوته چه انتظاروکړئ مونږته چه رڼاواخلوستاسو

مِن نُّورِكُمۡ قِيلَ ٱرۡجِعُواْ وَرَآءَكُمۡ فَٱلۡتَمِسُواْ نُورٗاۖ فَضُرِبَ

درڼا نه. وورته به اووئیلې شی واپس شئ خپل ورستو پس طلب کړئ هلته رڼا.نو او به وهلې شي

بَيۡنَهُم بِسُورٖ لَّهُۥ بَابُۢ بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحۡمَةُ

به مینځ دَدوئ کښې یو دیوال چه هغی لره به دروازه وی. ننه طرف دَهغی . وی به په هغی کښې رحمت(جنت)

وَظَٰهِرُهُۥ مِن قِبَلِهِ ٱلۡعَذَابُ ۝13 يُنَادُونَهُمۡ أَلَمۡ نَكُن

اوظاهر دَ هغی، وی به دَ دې طرفه عذاب(دَجهنم) آوازیه اوکړی منافقان مؤمنانوته چه آیانه وؤمونږ

مَّعَكُمۡۖ قَالُواْ بَلَىٰ وَلَٰكِنَّكُمۡ فَتَنتُمۡ أَنفُسَكُمۡ

تاسوسره په دنیاکښې،مؤمنان به اووائی هاؤ،خولیکن تاسوپه فتنه کښې اچولی وؤخانونه خپل

وَتَرَبَّصۡتُمۡ وَٱرۡتَبۡتُمۡ وَغَرَّتۡكُمُ ٱلۡأَمَانِيُّ حَتَّىٰ جَآءَ

اوانتظار کولو تاسو(زمونږ دَهلاکت) اوشک خو کولو او دهوکه کښې اچولي وئ تاسو امیدونو،تردی چه راغې

أَمۡرُ ٱللَّهِ وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلۡغَرُورُ ۝14 فَٱلۡيَوۡمَ لَا يُؤۡخَذُ

امرد الله(مرګ) او دهوکه کړې وئ تاسو په باره دَ الله جل جلاله کښې دهوکه باز(شیطان)،پس نن ورځ به نشی اغستلې

مِنكُمۡ فِدۡيَةٞ وَلَا مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ مَأۡوَىٰكُمُ ٱلنَّارُۖ هِيَ مَوۡلَىٰكُمۡۖ

ستاسو نه فدیه او نه دَ کافرانو نه، ځائ دَ اوسیدلو ستاسو اور دې،هغه ستاسو متولي دې

وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٥﴾

او ډیر بد ځای د او سیدلو دی دا جهنم.

﴿يَوْمَ يَقُولُ الْمُنَٰفِقُونَ﴾ دا زجردې منافقانو ته چې هسې خو دوئ د ایمان دعوې کوی، خو کله چې ایمان مقتضی باندې عمل کولو وخت راشی، نو بیا شاته کیږی، او عمل پرې نه کوی، نو دې بدله به ورله الله ﷻ قیامت کښ داسې ورکړې چې لګ ساعت له به ورله نور ورکړی، چې کوم مؤمنانو سره دې، خو بیا به یې ترینه مړکړی، او جهنم ته به یې اوغورځوی ﴿يَوْمَ﴾ بدل دې د ﴿يَوْمَ تَرَى﴾ نه،

﴿انظُرُونَا﴾ یا په معنی د "انتظرونا" دې یعنی مونږ ته انتظار اوکړئ، په حدیث کښ دی چه پل صراط سره به الله ﷻ هر مؤمن ته هم نور ورکړی او هر منافق ته هم، چه کله دوئ روان شی په پل صراط باندې نو الله ﷻ به د منافقانو، نور مړ کړی (مؤمنان به ورنه مخکښ لاړشی) نو منافقان به مؤمنانو ته اواز اوکړی چه "انظرونا نقتبس من نورکم" اودریږئ چه مونږ ستاسو د نور نه نور واخلو . یا ﴿انظُرُونَا﴾ پخپله معنی کښې دې یعنی مونږ ته نظر شفقت اوکړئ، ﴿نَقْتَبِسْ﴾ جواب امر په وجه مجزوم دې، اقتباس په اصل کښ وئیلې کیږی د اور نه لیت بلول، تکره د اور اخستل.

﴿قِيلَ ارْجِعُوا﴾ قائلین به یا مؤمنان وی یا ملائکه، یعنی منافقانو ته به اووئیلې شی چه واپس لاړشئ هلته نه رڼا راوړئ، دوئ چه واپس شی نو ﴿فَضُرِبَ بَيْنَهُم﴾ د دوئ او د مؤمنانو په مینځ کښ به دیوال جوړشی. ﴿وَرَاءَكُمْ﴾ نه مراد (۱) یا دنیا ده، یعنی دنیا ته لاړشئ هلته نه د ایمان او عمل صالح نور او رڼا راوړئ، یا (۲) ورنه مراد هغه موقف او مکان دې چه په هغی کښ نور تقسیمدلو دا به ورته استهزاءً اووئیلې شی، لکه څرنګه چه دوئ په دنیا کښ مؤمنانو پورې استهزاء کوله اووئیل به ئې: انما نحن مستهزؤن،

﴿فَضُرِبَ بَيْنَهُم بِسُورٍ﴾ یعنی کله چې دوئ ته اوئیلی شی چې تاسو روستو لاړشئ، هلته رڼا تلاش کړئ، نو چې دوئ مخ واړوی او واپس شی نو الله ﷻ به د دوئ او مؤمنانو په مابین

كښې به يو حاجز او ديوال جوړ كړى، ﴿لَّهُۥ بَابٌۢ﴾يعنى دې ديوال كښې به يو دروازه وى. ﴿بَاطِنُهُۥ فِيهِ ٱلرَّحْمَةُ﴾ ضمير مجرور مرجع "سور" يا "باب" ده باطن يعنى مؤمنانو والاطرف ته به جنت وى ﴿وَظَٰهِرُهُۥ﴾ يعنى منافقانو والاطرف ته به عذاب دَجهنم وى

﴿يُنَادُونَهُمْ﴾يعنى منافقان به مؤمنانوته اوازونه كوى او ورته وائى به چه مونږدنيا كښې تاسوسره يوځائ نه وؤ ،تاسوسره مومونځونه كول،جهادونه كول نو اوس موولې پريخولو؟

﴿وَلَٰكِنَّكُمْ فَتَنتُمْ﴾دادَمؤمنانوجواب دې چې اګرچې ظاهرى طور باندى په دنيا كښې تاسو مونږ سره يدې اعمالوكښې شريک وئ،خو څو وجوهاتو دَوجهې نه نن تاسوزمونږ سره نشئ يوځائ كيدلې،«فتنتم انفسكم» دا **اوله وجه** ده چې خواهشاتو اتباع خو كړې وه او نفاق خواختيار كړې وؤ ،اوظاهرى نفع ته مو كتل،حالانكه دا په حقيقت كښې ځان په هلاكت كښې اچول وو. ﴿وَتَرَبَّصْتُمْ﴾دا **دويمه وجه** ده چې نن تاسو مونږسره څكه نشئ يو ځائ كيدې چې تاسو مونږ سره په دنيا كښې مخلص نه وئ،بلكه هميشه دَدې په انتظار كښې وئ چې څه بلا اومصيبت به په مسلمانانو نازليږى.﴿وَٱرْتَبْتُمْ﴾دا **دريمه وجه** ده . چې تاسو يقين نه وو بلكه اسلام اوداسلام تعليماتو په باره كښې تاسوتذبذب شكار وئ.اوشكوكو كښې مبتلا وئ، ﴿وَغَرَّتْكُمُ ٱلْأَمَانِىُّ﴾دا **څلورمه وجه** ده ،چې لوئ لوئ اميدونه خوټرلې وؤ،چه عمر دارز به راته ميلاويږى، نن وى كه صَباوى دامسلمانان به ختميږى،زمونږ هم دغه رويه او دوه رخې به مونږ له دنيا كښې فائده راكوى،دى سره سره شيطان هم درته داخبره زړه كښې اچولى ده چې الله ﷻ غفوررحيم دې،آخرت پرواه مه كوئ،هغه به مو اوبښى﴿حَتَّىٰ جَآءَ أَمْرُ ٱللَّهِ﴾مراد دَ "امرالله" نه مرګ دې،﴿وَغَرَّكُم بِٱللَّهِ ٱلْغَرُورُ﴾جمله عطف ده په «غرتكم الامانى»باندى او «الغرور» نه مراد شيطان دې.

﴿فَٱلْيَوْمَ لَا يُؤْخَذُ﴾داتفريع ده په ماقبل چه نن ورځ هيڅ فديه نه قبولې كيږى چه دوئ ته به پرى دَجهنم نه نجات ملاؤشى،په يو روايت كښې دى چه الله ﷻ به كافرته اووائى چه كچرته نن ورځ تاسره دوچنده دنياوى نوآيادابه تولة ته په فديه كښې وركړې چه جهنم نه

ازادشي،نوهغه به اووائی نعم یاربّ،الله ﷻ به ورته اوفرمائی ماستانه دَدی نه اسان څیزغوختی وڅه ماسره شرک مه کوه لیکن تاورنه انکارکړې وو.(روح)

﴿هِيَ مَوْلَاكُمْ﴾مولی یاپمعنی دَاولی دې ای هی اولی بکم.یعنی دا اُور دَ جهنم ستاسو دَ پاره غوره دې، یاپمعنی دَ متولی اوذمه دارسره دې،یعنی اوس جهنم دَسخت عذاب درکولو متولی اوذمه داردې، ﴿وَبِئْسَ الْمَصِيرُ﴾مخصوص بالذم محذوف دې چه هی دې

أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ
آیاوخت نه دې راغلې مؤمنانوته داچه اویریږی زړونه ددوئ دوجی دذکردالله ﷻ نه،اودهغی نه چه نازل شویدې
مِنَ الْحَقِّ وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ
دَحق نه یعنی قرآن،اوچه نه شی دوئ په شان دهغه کسانوچه ورکړې شوې وو هغوئ ته کتاب مخکښې دَدینه،
فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ ⑯
پس اوږده شول په هغوئ عمرونه،پس سخت شول زړونه دهغوئ،او ډیر دَ هغوئ نه فاسقان وو

﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا ﴾زجر دې بعض مسلمانوته،چې هغوئ نه اعمالو اوانفاق کښې سستی راغلې وه. یعنی آیاپه مؤمنانوداوخت نه دې راغلې چه دَدوئ زړونه دَقرآن او دَ الله ﷻ دَ ذکر به وجه نرم شی،وعظ نصیحت قبول کړی اومکمل اطاعت پکښې راشی.

صاحب د روح المعانی په حواله دَابن المبارک او ابن المنذردَاعمش رحمه الله نه نقل کړیدی چه هغه فرمائی چه کله صحابه کرام رضی الله عنهم مدینی ته راغلل نوپه معاش کښې ورته څه فراخی اوسهولت ملاؤشونوبعضوحضراتونه په خپل عمل کښې څه فتوراوکمې راغې،نو په دی باندی دا آیت نازل شو

«یان»مضارع ده اَنی یانی: اذا جاء اناه ،ای: وقته،﴿أَن تَخْشَعَ﴾جمله په تاویل دَمفردسره فاعل دې دَ﴿ أَلَمْ يَأْنِ ﴾، خشوع نه مراد دَزړه نرمی او خوف الهی دې، چی گناه پریگدی اوالله ﷻ احکاماتو باندې عمل شروع کړی.﴿وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ﴾عطف تفسیر دې ذکر الله او مانزل

دواړو نه مراد قرآن دې ځکه چې قرآن ذکر او نصیحت هم دې او آسمان نه نازل شوې حق هم دې ، یا "ذکر" نه مراد مطلقاً ذکر دې،او "مانزل" نه مراد قرآن دې.

﴿وَلَا يَكُونُوا۟ كَٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَـٰبَ﴾دینه مراد یهود او نصارىٰ دی یعنی اهل کتابو طرز عمل دې نه اختیاروئ،چې ابتدا کښې ورته کله تورات او انجیل احکامات بیان شو نو دوئ زړونه به نرم شو او ګناه به یې پریخو دو ،خودَوخت تیریدو سره سره دوئ زړونه سخت شو ،بیا به یې پرواه نه وه ،او د غه شان اکثریت پکښې رو رو خپل دین پریخودو. دا جمله عطف ده په ﴿تَخْشَعَ﴾او "لا" نافیه یا ناهیه ده

﴿فَطَالَ عَلَيْهِمُ ٱلْأَمَدُ﴾په دې کښې دَ مفسرینو یو څو اقوال دی:

(۱)چه دَهغوئ اودَ هغوئ انبیاؤو په مینځ کښې مدت تیرشو،دَانبیاؤو نه لرې شول نو زړونه ئې سخت شول اوډیرپکښې فاسقان شول.

(۲)بعض وائی مطلب دادې چه په دوئ باندې په غفلت کښې ډیروخت تیرشوحتیٰ چه دغه غفلت، حبّ دنیا او دین نه بې خبرئ په وجه دَدوئ زړونه سخت شول

(۳)بعض وائی انتظار دَ قیامت او دَ جزا ورباندې اوږد شو نو دَ خپل کتاب دَ احکاماتو خلاف ئې ژوندشروع کړو ، نو زړونه ئې سخت شول.

حضرت تهانوی رحمه الله فرمائی چه دی آیت نه درې(۳)خبرې معلومې شوې: یو دَ خشوع لزوم او دوام،دویم داچه په طولِ غفلت سره دَزړه قساوت پیداکیږی، دریم داچه دَقساوت قلبی علاج دَالله تعالیٰ ذکر دې.

قرطبی رحمه الله لیکلی دی چه داآیت دَفضیل بن عیاض رحمه الله مشهوربزرګ دَهدایت سبب ګرځیدلې دې،ده به اول ډاکې اوزناګانی کولې،په یوې جینئ عاشق شوې وؤ،نوهغې ورسره دَشپې دَملاقات وعده اوکړه،دې چه دَهغې خواته تلوپه دیوال ختلونواچانک ئې واؤریدل چه یو قاری داآیت تلاوت کولو﴿ أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ أَن تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ ٱللَّهِ ﴾ نودې راواپس شو اووئیل ئې:بلی والله قدآن،بیایووران کورته دَشپې لاړوچه په هغې کښې دَ مسافرو قافله وه، بعضوپکښې بعضوته وئیل چه فضیل ډاکوقافلې لوټ کوی هسې نه چه مونږهم لوټ کړی، فضیل په دی ډیرافسوس اوکړواووئیل چه افسوس څه تولّه شپه په ګناه کښې لګیایم او دَ مسلمانانو قوم څمانه یریږی،بیائې توبه اوباسله او الله تعالیٰ ته ئې عرض اوکړو:اللّهم انی قدتبتُ

اليکَ،وجعلتُ توبتی اليکَ جواربيتک الحرام،يعنی څه توبه اوباسم اوخپله باقی زندگی دَحرم شريف په جوارکښ تيروم،بيامکی ته لاړواوهلته ئی پوره ژوندَالله جل جلاله په عبادت کښ تيرکړو.

اِعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ يُحۡىِ الۡاَرۡضَ بَعۡدَ مَوۡتِهَا ؕ قَدۡ بَيَّنَّا

پوهه شئ چه بيشکه الله جل جلاله ژوندئ کوی زمکه ورستودمرګ اوچوالیدهغی نه،بيشکه بيان کړيدی مونږ

لَكُمُ الۡاٰيٰتِ لَعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُوۡنَ ﴿17﴾ اِنَّ الۡمُصَّدِّقِيۡنَ وَالۡمُصَّدِّقٰتِ

تاسوته دلائل (دَبعث بعدالموت) دپاره دَدی چه تاسو پوهه شئ،بيشکه صدقه کونکی سړی اوصدقه کونکی ښځی

وَاَقۡرَضُوا اللّٰهَ قَرۡضًا حَسَنًا يُّضٰعَفُ لَهُمۡ وَلَهُمۡ اَجۡرٌ كَرِيۡمٌ ﴿18﴾

اوهغه کسان چه قرض ئې ورکړې دې الله جل جلاله ته قرض ښائسته،دوه چنده به کړې شی دوئ ته،اووی به دوئ لره اجر د عزت

وَالَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖۤ اُولٰٓئِكَ هُمُ الصِّدِّيۡقُوۡنَ ۖ

اوهغه کسان چه ايمان ئی راوړې دې به الله جل جلاله اوپه رسولانودهغه،دغه خلق هم دوئ رِښتنی دی

وَالشُّهَدَآءُ عِنۡدَ رَبِّهِمۡ ؕ لَهُمۡ اَجۡرُهُمۡ وَنُوۡرُهُمۡ ؕ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا

اوشُهداءدی په نيزدرب خپل،وی به دوئ لره اجردَدوئ اونوردَدوئ،اوهغه کسان چه کفرئی کړيدې

وَكَذَّبُوۡا بِاٰيٰتِنَاۤ اُولٰٓئِكَ اَصۡحٰبُ الۡجَحِيۡمِ ﴿19﴾

اوتکذيب ئی کړيدې زمونږدآياتونو،دغه خلق خاوندان دَجهنم دی

﴿ اَعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ يُحۡىِ الۡاَرۡضَ ﴾ترغيب دې دَالله جل جلاله ذکراوقرآن ته په بيان دَمثال سره چه لکه څرنګه الله جل جلاله په باران سره اوچه زمکه ژوندئ کوې نودغه شان دَقرآن تلاوت او دَالله جل جلاله ذکر سره دَ زړه قساوت ختميږی،مړزړه ورسره ژوندې کيږی﴿لَكُمُ الۡاٰيٰتِ ﴾دآياتونه مراددليلونه دَبعث بعدالموت دی.

﴿إِنَّ ٱلْمُصَّدِّقِينَ وَٱلْمُصَّدِّقَٰتِ﴾ داهم ترغيب دي انفاق ته چه کوم خلق دَالله ﷻ په لاره کښې انفاق کوی، الله ﷻ به دوئ ته دَدی بدله خوځونده ورکوی ﴿وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦٓ﴾ ترغيب دي ايمان اوايمان مقتضياتو باندې عمل کولوته.دَصديقنو شهداء پوره تفصيل دَسورت النسا آيت ۶۹ کښې تير دي.

اِعۡلَمُوۡٓا اَنَّمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَا لَعِبٌ وَّلَهۡوٌ وَّزِيۡنَةٌ وَّتَفَاخُرٌۢ بَيۡنَكُمۡ
پوهه شئ چه بيشکه دَژوندَدَنيا لوبې دی اومشغولتياده اوښائست دې اوفخرکول دی په مينځ ستاسوکښې
وَتَكَاثُرٌ فِى الۡاَمۡوَالِ وَالۡاَوۡلَادِ‌ ؕ كَمَثَلِ غَيۡثٍ اَعۡجَبَ الۡكُفَّارَ نَبَاتُهٗ
اوډيرول دی په مالونواواولادونوکښې،مثال دَدنياپه شان دَباران دې چه ښه ښکاره شی زميندارته فصل دَباران.
ثُمَّ يَهِيۡجُ فَتَرٰٮهُ مُصۡفَرًّا ثُمَّ يَكُوۡنُ حُطٰمًا‌ ؕ وَفِى الۡاٰخِرَةِ عَذَابٌ
بيااوچ شی پس وينی ته هغه زيړ،بياشی هغه فصل ذری.اوپه آخرة کښې عذاب دي
شَدِيۡدٌ ۙ وَّمَغۡفِرَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرِضۡوَانٌ‌ ؕ وَمَا الۡحَيٰوةُ الدُّنۡيَاۤ
سخت دَانهماک کونکوته په دنياکښې اوبخنه ده دَطرفه دَالله ﷻ نه اورضامندی ده،اوندې ژوندَدَنيا
اِلَّا مَتَاعُ الۡغُرُوۡرِ ۝
مګر سامان دَدهوکی دې.

﴿ ٱعْلَمُوٓاْ أَنَّمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا ﴾ داخلورمه وجه دَ انفاق ده په بيان دَحقارت اوبی ثبوتئ دَدنيا، چه دادنياډيره حقيره اوبی ثبوته ښيزدې، ځي راځي نودَالله ﷻ په لاره کښې نې خرچ کړئ چه په آخرت کښې درته مغفرت اودَالله ﷻ رضا ميلاؤ شی چې دائمي نعمت دې او که الله لاره کښې نه خرچ کوئ نو بيا به درته عذاب شديد ملاويږی.

دي آيت کښې دَ زندګئ دري قسم احوال بيانيږی: (۱)ماشوم توب احوال (۲)ځوانئ احوال (۳)بوډاوالی احوال ﴿لَعِبٌ وَلَهْوٌ﴾ دادَماشوم توب احوال دي،ماشوم توب کښې انسان

محبوب ترين مشغله لوبى اوتماشه دى﴿وَزِينَةٌ وَتَفَاخُرٌ﴾دځوانى احوالو بيان دې چې ځوانۍ كښې يو طرف ته انسان ظاهرى زيب وزينت طرف ته توجه وي بل طرف ته هغه داسى كارکولو كوشش كښې وى چې هغې سره،دده نوم اوشي اودې فكركښې وى چې څرنګه دې خپلو همزولو كښې بر شي،﴿وَتَكَاثُرٌ فِي ٱلْأَمْوَٰلِ وَٱلْأَوْلَٰدِ﴾دادبوډاوالى حالت بيان دې،تكاثر كښې خاصه مبالغه ده يعنى دكثرت حرص ئې زيات شى،خوبهر حال دغه ټول فاني دى لوبه وى او كه تماشه وي، آخر تيره شى،تزين وى اوكه فخر وى آخر ختم شى، حرص وى دمال اوكه داولاد آخرترينه انسان لاړشى،بس دغه دنيا زندګئ حاصل دې.

بعض مفسرين فرمائى چې دلته دى امورو سره دنيا زندګئ تشبيه مقصود ده، «لعب» يعنى لكه څنګه چې يو انسان لوبه كښې مشغول وى نوهغې دوران ده ته خپله ټوله كاميابى او ناكامى دې لوبه كښې ښكارى،خو چې كله بس كړى نو سوا د ستړتيا نه ورته بل څه نشى حاصل. نو دغه شان دنيا ده،چې دې كښې څوک منهمک وى هغه ته هر څه بس دا ښكارى،خو چې ترينه لاړ شى نو بياورته پته اولګى.«لهو»يعنى مثال ئې دتماشى دې چې فضول وخت پكښې ضائع شى او ورته هيڅ حاصل نشى. «وزينة وتفاخر»لكه څنګه حسن فانى دې، عهده عارضى ده،نن شتې ،صبا نشته،دغه شان دنيا زندګى فانى اوعارضى ده. «وتكاثر في الاموال والاولاد» لكه څرنګه مال اولاد نه پاتي كيدونكى دى لګ،كله ډير، اوكله بالكل نه، نو زندګى دغه شان مثال دې چې دا آخر ختميدونكي ده،اګر چه عمر نوح ولي ميلاؤ نشى،اګر چه انسان په بقاء باندى حريص ولى نه وى(والله اعلم)

﴿ كَمَثَلِ غَيْثٍ﴾ددنيادسرعت زوال مثال دې چه لكه څرنګه په زمكه باران اوشى،تكه شنه شى،بياڅه وخت بعددغه واخه زيړشى،ذرى ذرى شى،دارنګه انسان اودهغه زندګي ده چه د يو څو ورځوصحت اوخوشحالۍ نه بعدورباندى مرضونه .غمونه بوډاوالې راشى، آخر مړ شى نو په داسى بى ثباته څيز باندى اطمينان نه دې پكار،اونه ورته ميلان پكاردې.

﴿أَعْجَبَ ٱلْكُفَّارَ﴾ابن مسعودﷺنه مروى ده چه مراد د كفار نه زميندارا ن دى ځكه چه كفر ستر (پټولو) ته وائى اودوئ هم تخم په زمكه كښې پټه وى،بعضِ وائى مرادورنه كافران

دی خکه چه دوئ دَدنیاپه ژوندباندی تکبراوتعجب کوی، په خلاف دَمؤمن نه﴿ ثُمَّ يَهِيجُ ﴾ای يتحرک الی اقصٰی مايتأتی له(روح)يعنی ښه زورکښ شی اوقوت ته اورسی، ياپمعنی دَ يجف او ييبس سره دې يعنی اوچ شی.

﴿وَفِي ٱلْأٰخِرَةِ عَذَابٌ﴾دَدنياپه مقابله کښ دآخرت شان بيانيږی يعنی څوک چه په دنياکښ منهمک شی نوپه آخرة کښ به ورته سخت عذاب ورکولې کيږی.﴿ وَمَغْفِرَةٌ مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ يعنی چاچه په دنياکښ غفلت اونکړو،انفاق فی سبيل الله ئی اوکړونوهغه ته به مغفرت اودَالله رضاملاويږی.﴿وَمَا ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَآ ﴾مرادورنه اطمينان اوهغه اعمال دی چه مختص دی په حياة دنيوي پورې،اوهرچه دی اعمالِ صالحه اوپه قدردَضرورت کسب دَمعاش،نوداپکښ نه دی داخل.

سَابِقُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ
وړاندوالې اوکړئ مغفرت ته دَ طرفه دَرب خپل نه او جنت ته چه فراخی پلنوالې دَهغی په شان دَ فراخي
ٱلسَّمَآءِ وَٱلْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ ءَامَنُوا بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ ط
دَاسمان اودزمکی ده . تيار کړې شويدې دپاره دَهغه خلقوچه ايمان ئی راوړې دې په الله جل جلاله اوپه رسولانودَهغه،
ذَٰلِكَ فَضْلُ ٱللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَآءُ وَٱللَّهُ ذُو ٱلْفَضْلِ ٱلْعَظِيمِ ۝٢١
دغه فضل دَالله جل جلاله دې چه ورکوی ئې هغه چاته چه ئی خوښه شی اوالله جل جلاله خاونددَفضل لوئ دې

﴿سَابِقُوٓا إِلَىٰ مَغْفِرَةٍ ﴾بشارة دې اوترغيب دې ايمان،انفاق،جهادفی سبيل الله ته،دلته مضاف مقدردې،ای الی اسباب مغفرةٍ وجنةٍ(روح)اواسباب دَمغفرت ايمان،انفاق اوجهاددې په لاره دَالله جل جلاله کښ،حضرت علی رضي الله عنه نه دَدی آيت په تفسيرکښ منقول دی چه:دَتولونه اول مسجدته داخليږه اوآخرکښ خارجيږه،انس رضي الله عنه وائی:تکبيرتحريمه ته دَامام سره شريک کيږه،بعضِ وائی دَقتال په صف اول کښ شه(روح).

﴿كَعَرْضِ السَّمَآءِ﴾ عرض كله په معنى دَپلن والى سره راځى او كله په معنى دَنفس وسعت سره، اودا يا په ظاهرباندى محمول دي يعنى دَجنت پلن والي دومره دي لكه اوه(٧) واړه اسمانونه اوزمكى چه دَيوبل سره متصل كړې شى. نوچه دَجنت پلن والي دومره دي نو طول نى الله جل جلاله ته معلوم دي دَمخلوق دَعلم نه خارج دي، ځكه طول زيات وى دعرض نه، وهذا قول الجمهور(قرطبى) بعضِ مفسرين وائى چه تمثيل دي دَوسعت دَجنت دپاره، ځكه چه دَانسانانو په نظركښ دَاسمانانو زمكى نه زيات وسعت نشته دي. ﴿ذَٰلِكَ﴾ يعنى دا وعده دَمغفرت اوجنت

مَآ اَصَابَ مِنْ مُّصِيْبَةٍ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ

نه رسيږى هيڅ تكليف په زمكه كښ اونه په ځانونوستاسوكښ مګرهغه ليكلي شويدي په كتاب(لوح محفوظ)كښ،

مِّنْ قَبْلِ اَنْ نَّبْرَاَهَا ۭ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ؀٢٢

مخكښ دَدينه چه پيداكړي وى مونږ هغه، بيشكه داكار(لوح محفوظ كښ ليكل)په الله جل جلاله باندى اسان دي

لِّكَيْلَا تَاْسَوْا عَلٰى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوْا بِمَآ

(داخبرمى دركړو) دَپاره دَدى چه تاسو خفه نه شئ په هغه څه چې فوت شى ستاسو نه او مستي اونه كړئ تاسو په هغې

اٰتٰىكُمْ ۭ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُوْرِۨ ؀٢٣ الَّذِيْنَ

چه دركړي دي تاسوته الله جل جلاله، اوالله جل جلاله نه خوښه وى هرتكبركونكي فخركونكي. داهغه دى

يَبْخَلُوْنَ وَيَاْمُرُوْنَ النَّاسَ بِالْبُخْلِ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ

چه بخل كوى(پخپله هم) اوحكم كوى نوروخلقوته هم دَبخل، اوهغه څوك چې اعراض اوكړى نو بيشكه الله جل جلاله

هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ؀٢٤

هم هغه بى پرواه دي ستايلي شويدي

﴿مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ﴾ دا پنځمه وجه دَانفاق ده. يعنى كچرته تاسوځكه نه خرچ كوئ دَ الله جل جلاله په لاره كښ چه دا به تاسوته دَتكليف اودَمصيبت به وخت كښ پكارراشى نو دا خيال

غلط دي ځکه چه کوم مصيبتونه په انسان راځي هغه دَمخکښ نه په تقديرالهي کښ مقرر دی، په مال سره هغه نه دفعه کيږی﴿مِن مُّصِيبَةٍ﴾کښ من زائده دي لپاره دَتاکيد او عموم. يعنی هرقسمه مصيبت﴿فِى ٱلْأَرْضِ﴾لکه قحط،فسادپه فصلونو اوباغونو کښ، زلزله، سيلابونه ، دهماکی کيدل وغيره.

﴿وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمْ﴾لکه مرضونه،اولادمرکيدل فقر،وغيره﴿إِلَّا فِى كِتَٰبٍ﴾ای الأمكتوبة مثبتة في كتاب«روح» کتاب نه لوح محفوظ ياعلم الهی مراددي.﴿مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَآ﴾ای نخلقها، ضمير يا مصيبت ته راجع دي،يا نفسونو ته يا ﴿الأرض﴾ته، ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ﴾يعنی دااثبات اومحفوظ کول په لوح محفوظ کښ

﴿لِّكَيْلَا﴾دا تقدير حکمت بيانيږي ، جارمجرورمتعلق دي په محذوف پوری ای اخبرکم بذلک... يعنی دَدغه خبرئ اطلاع موتاسوته ځکه درکړه چه تاسوته څه تکليف در ورسيږی،څه نعمت درنه فوت شی په هغی غمژن نه شئ اوچه څه نعمت درته ملاؤ شی نو په هغی تکبراونه کړئ،ځکه چه مصيبت اونعمت مخکښ نه مقررشويدي.

﴿وَٱللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾اشاره ده دی خبرئ ته چه خوشحاليدل هغه مذموم دی چه موجب دکبراوفخر وی،مطلق فرح مذموم نه ده﴿مُخْتَالٍ﴾هغه چاته وائی چه خپل ځان ورته ښه ښکاری،دَبل چاحقوق په خپل ځان نه منی،اودَلويئ په وجه دَخپلوانو،ګاونډيانو نه نفرت کوی.﴿فَخُورٍ﴾هغه څوک چه پخپله خپل صفتونه خلقوته کوی.

﴿ٱلَّذِينَ يَبْخَلُونَ﴾خبردي دَمبتدامحذوف ای هم الذين...يابدل دي﴿كُلَّ مُخْتَالٍ﴾نه ﴿وَيَأْمُرُونَ ٱلنَّاسَ﴾پخپله هم ګمراه دی نورخلق هم ګمراه کوی،ماقبل کښ دَضلال درجه وه دا دَ اضلال درجه ده،پخپله هم بخيل وی خلقوته هم دَ بخل امرکوی. ﴿وَمَن يَتَوَلَّ﴾زجردي بخل

کونکو ته چه څوک دَ الله ﷻ په لاره کښې دَانفاق نه اعراض او کړي نو الله ﷻ د ده او دَ ده دَانفاق نه مستغني دې، محمود دې فی ذاته، دَهغه دَشکر نه اعراض کول هغه ته ضرر نه رسوی.

لَقَدْ اَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَاَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيْزَانَ
خامخا په تحقيق سره ليږلي وُو مونږ رسولان خپل ښکاره دليلونو سره او نازل کړي مو وُو دَ هغوئ سره کتاب او تله
لِيَقُوْمَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ ۚ وَاَنْزَلْنَا الْحَدِيْدَ فِيْهِ بَاْسٌ شَدِيْدٌ
لپاره دَدې چه قائم شي خلق په عدل او پيدا کړيده مونږه اوسپنه چه په دې کښې جنګ دې سخت.
وَّمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللّٰهُ مَنْ يَّنْصُرُهٗ وَرُسُلَهٗ
اوفائدې دې نورې دَ خلقو د پاره، او چه ښکاره کړي الله ﷻ هغه څوک چې امداد کوي دَ الله ﷻ او دَرسولانو دهغه
بِالْغَيْبِ ۚ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ عَزِيْزٌ ﴿۲۵﴾
په غيبه سره بيشکه چه الله ﷻ طاقت والا دې، غالب دي

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ﴾ **دادسورت دريمه حصه ده** او دېکښې دَسورة دويم مضمون يعنی جهاد فی سبيل الله بيانيږي چه مونږ ارسال دَرسولانو او انزال دکتابونو کړيدې دَپاره دَدې چه خلق په انصاف قائم شي يعنی هدايت قبول کړي، ليکن چه بياهم هدايت نه قبلوی نو اوسپنه مو پيدا کړيده چه آلات دَحرب ورنه جوړشي او دَ منکرينو سره جهاد او کړيشی، په اوسپنه کښې ډيری فائدې دې خو اولاً وبالذات فائده ئې داده چه دَدينه دَجنګ اسلحه جوړشي او دَ اسلام او دَالله ﷻ دشمنانو سره پرې جهاد او کړيشي.

﴿بِالْبَيِّنَاتِ﴾ نه مراد دلائل او معجزات دی یاورنه مراد احکامات او هدايات دی ﴿مَعَهُمُ الْكِتَابَ﴾ جنس کتاب، نو دَهر رسول کتاب ته شامل دې، ﴿وَالْمِيزَانَ﴾ دا (۱) يا عطف تفسيری دې دَ ﴿الْكِتَابَ﴾، يعنی هغه کتاب چه هغه وزن کونکې وُو دَخلقو عقائدو دَپاره، (۲) ياورنه مراد حکم دې دَعدل او انصاف، (۳) يا ورنه مراد معروفه تله ده، دې صورت کښې مراد دَ انزال نه

انزال دَهغه احکامو او اسبابو دي چه دَتلی سره متعلق دی(روح)او یا دَ قبیلی دَعلفتها تبنًا و ماءً باردًا نه دي ای انزلناالکتاب ووضعناالمیزان.

﴿لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلْقِسْطِ﴾علت دي دَانزال دکتاب اومیزان.قیام بالقسط نه مراداتباع دَشریعت ده،﴿وَأَنزَلْنَا ٱلْحَدِيدَ﴾یعنی که څوک د دومره واضحه دلائلو او انصاف باندی مبني نظام اتباع نه کوي نو بیا مونږ اوسپنه هم پیدا کړیده «انزلنا»دلته پمعنی دَخلقنا دي،کقوله تعالی وانزل لکم من الانعام.﴿فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ﴾ د اوسپنې تخلیق مقاصد او فوائد بیانیږي ، ، دا اوله فائده ده چې هغې سره اوزار اوآلات دَجنګ جوړیږی اوکفر وفساد خلاف جهاد پرې کیږی چی هغې سره قیام بالقسط مقصد حاصلیږی ﴿وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ﴾ دا دویمه فائده ده چې دَخلقو معاش ضرورت ورسره هم پوره کیږی، څکه چې یو ګنړ شمیر اشیاء داسې دی چې هغې کښ داوسپنې استعمال څه نه څه درجه کښ ضرورت راپیښیږي ، او انسان هغی سره خپل معاش اونور ضرورتونه پوره کوی.﴿وَلِيَعْلَمَ ٱللَّهُ﴾دا ئي بله فائده او مقصود بیانیږي ، چې اولنو دوو فائدو باندې مرتب کیږي ،یعنی مقصودترینه امتحان دې چی یوطرف ته دَانسان ذاتي مفادات اوضروریات دی اوبل طرف ته دَالله ﷻ لار کښ جهاددې، نوالله ﷻ معلومول غواړی چی څوک پری خپله دنیا آبادول غواړی،اوڅوک پرې دَاسلام مدد اوحفاظت کول غواړی.«لیعلم الله »عطف دې په محذوف باندی ای لینفعهم ولیعلم الله.....الخ(روح)اوپه دی محذوف باندی سیاق دلالت کوی.﴿بِٱلْغَيْبِ﴾حال دې دَفاعل دَینصر نه یادَمفعول نه ای غائبًامنهم،یاغائبین منه(روح)﴿إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ﴾تنبیه ده چه دَجهادحکم کول داپدی وجه نه دې چه الله ﷻ دَاعلاء کلمة الله د پاره بل چاته محتاج دې،الله ﷻ خو پخپله قوت والا او غالب ذات دې دَچامددته ئی حاجت نشته،صرف ستاسو امتحان مقصود دې.

وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا وَإِبْرَٰهِيمَ وَجَعَلْنَا فِي ذُرِّيَّتِهِمَا

اوخامخاپه تحقیق سره لیږلي وۀمونږه نوح علیه السلام اوابراهیم علیه السلام اوګرځولي وۀمونږه په اولاد دَ هغو دواړوکښ.

النُّبُوَّةَ وَالْكِتٰبَ فَمِنْهُمْ مُّهْتَدٍ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ قَفَّيْنَا

نبوت او کتاب پس بعض د هغوئ نه هدایت موندونکی وو. او ډېر د هغوئ نه فاسقان وو بیا په وله پسی اولیږل مونږ

عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِرُسُلِنَا وَقَفَّيْنَا بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ ۙ

په نقش قدم د دوئ رسولان خپل او په دوئ پسی اولیږلو مونږ عیسی ابن مریم. او ورکړو مونږ هغه ته انجیل.

وَجَعَلْنَا فِيْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ رَاْفَةً وَّرَحْمَةً ۭ وَرَهْبَانِيَّةَ

او ګرځولې وه مونږه په زړونو د هغه خلکو چه اتباع ئې کړې وه د عیسی علیه السلام نرمی او رحمت او رهبانیت

ابْتَدَعُوْهَا مَا كَتَبْنٰهَا عَلَيْهِمْ اِلَّا ابْتِغَاۗءَ رِضْوَانِ اللّٰهِ

چه د خان نه ئې جوړ کړې وه. نه وه فرض کړې مونږ رهبانیت په دوئ مګر لپاره د طلب د رضا مندئ د الله ﷻ.

فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا ۚ فَاٰتَيْنَا الَّذِيْنَ

نو دوئ رعایت اونه ساتلو د هغې څنګه چې حق وو د رعایت ساتلو د هغې پس ورکړو مونږ هغه کسانو ته چه

اٰمَنُوْا مِنْهُمْ اَجْرَهُمْ ۚ وَكَثِيْرٌ مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٢٧﴾

ایمان ئې راوړې وو د دوئ نه اجر د هغوئ ، او ډېر د دوئ نه فاسقان وو

﴿وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا﴾ د تیرشوی آیت تفصیل دې چه مونږه د خلقو د اصلاح د پاره حضرت نوح علیه السلام او حضرت ابراهیم علیه السلام را اولیږل، او د دوئ په اولاد کښې موهم د نبوت سلسله جاری او ساتله لیکن بیا هم اکثر خلق نافرمانه وو. ﴿فَمِنْهُمْ﴾ ضمیر «ذریة» ته راجع دې.

﴿ثُمَّ قَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ﴾ یعنی دوئ نه بعد مو د رسولانو سلسله منقطع نه کړه بلکه پرله پسې مو پیغمبران رالیږلی دی ﴿عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ﴾ «هم» ضمیر مرجع نوح او ابراهیم علیهما السلام دي چونکه دوئ سره نور رسولان هم شته، لکه ابراهیم علیه السلام په زمانه کښې لوط علیه السلام لیږلي

شوي وو نوځکه ورته ضمير دجمع راجع کړيشو.﴿وَ قَفَّيْنَا بِعِيْسَى بْنِ مَرْيَمَ﴾تر دې چي دا سلسله عيسى عليه السلام ته رااورسيده.

﴿وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ ٱتَّبَعُوهُ﴾ضميرراجع دې عيسى عليه السلام ته.يعنى کوموخلقوچه دعيسى عليه السلام اتباع کړې وه يعنى حوارين،نوالله تعالىٰ دهغوئ په زړونوکښ دَيوبل سره مينه اومحبت جوړکړې وو،لکه دَصحابوؓ په شان کښ الله تعالىٰ فرمائى رحماء بينهم ﴿رَأْفَةً وَرَحْمَةً﴾ مشهوره داده چه دادواړه مترادف الفاظ دى،ليکن بعضِ وائى چه﴿رَأْفَةً﴾دفع الشرته وائى او﴿وَرَحْمَةً﴾جلبُ الخيرته وائى(روح).

﴿وَرَهْبَانِيَّةً﴾دَدې په وجه دَنصب کښ دوه قوله دى(۱)داپه﴿رَأْفَةً﴾باندى عطف دې اوجعلنا بمعنى دخلقنا يا صيرنا دې،او﴿ ٱبْتَدَعُوهَا﴾دَ﴿ وَرَهْبَانِيَّةً﴾صفت دې.(۲)بعضِ وائى چه دادَمَااضمِرعامله على شريطة التفسير دَقبيلى نه دې،معمول دې دَفعل محذوف چه تفسيرئى ورستو﴿ٱبْتَدَعُوهَا﴾کوى،اى ابتدعوارهبانيةً،اکثرمفسرينوداترکيب نه دې خوښ کړې ځکه چه پدى سره معتزله دَخپل مذهب اثبات کوى چه بنده دَخپل افعالوخالق دې،ځکه چه رأفة اورحمة دَالله تعالىٰ افعال دى نونسبت ئى الله تعالىٰ ته شويدې،اودَرهبانية نسبت بندګانوته شويدې ځکه چه دَدې خالق بندګان دى،ليکن دَدوئ دااستدلال کمزورې اوباطِل دې،ځکه چه دلته بندګانوته نسبت په دى اعتبارسره نه دې شوې چه دوئ ئى خالق دى بلکه په دى اعتبار سره شويدې چه دوئ دَدې تشريع کړيده،الله تعالىٰ نه ده کړې او﴿مَا كَتَبْنَٰهَا عَلَيْهِمْ﴾ پدى واضح دليل دې اى ماشرعناهاوانماهم التزموهامن تلقاء انفسهم(ابن کثير).

رهبانيت وئيلې کيږى:الفعلةُ المنسوبةُ الى الرّهبان،يعنى راهبانوته منسوب طرز عمل، نسبت دې دَ رهبان بروزنِ فعلان،دَرهب يرهبُ نه مأخوذدې،ويره کولوته وائى کقوله تعالى:واضمم اليکَ جناحکَ من الرّهب. "راهب" هغه چاته وائى چه دَالله تعالىٰ دَ يرې اوخوف په وجه دَ مخلوق نه تعلق قطع کړى،کناره کش شى په تنهايئ کښ. عبادات اومجاهدات اختيار

کړی، دَ رهبانیت ابتداء داسی اوشوه چه دَعیسیٰ علیه السلام دَرفع الی السَمآء نه ورستو عیسایانو ډیر محکومانه ژوندتیره ولو ،دَ بُت پرستو غلامان وؤ او دَ یهودو دَ لاسه به ورته ډیر تکلیف ور رسیدلو ،دینِ عیسوی علیه السلام باندی ورته عمل کول ډیرمشکل وؤ ،په دوئ کښ دوه اویا ‹۷۲› فرقی جوړې شوې،دَهغوئ نه صرف دری فرقونجات اومندلو .یوی فرقی قتال شروع کړو لیکن ډیر زر هغوئ شهیدان شول،بلی فرقی دعوت وتبلیغ شروع کړولیکن هغوئ هم په اروباندی شهیدان کړې شول اوپه اُورکښ اوسیزول شول.دریمی فرقی چه کله داحالات اولیدل نودَښارونونه بهراووتل غرونواوغارونوته لاړل هلته ئی دالله جل جلاله عبادت شروع کړو.

لکه ابن ابی حاتم رحمه الله پخپل تفسیرکښ دَعبدالله بن مسعود رضی الله عنه طویل روایت نقل کړیدې چه هغه وائی:قال لِی رسولُ الله ﷺ:یاابن مسعود:قلتُ لبیکَ یارسولَ الله!قال:هل علمتَ انّ بنی اسرائیلَ افترقواعلی ثنتین وسبعین فرقةً لم ینج منها الاّثلاث فرقٍ قامت بین الملوکِ والجبابرة بعد عیسیٰ بن مریم علیه السلام فدعتْ الی دین الله ودین عیسیٰ بن مریم،فقاتلتِ الجبابرة فقُتلت فصبرتْ و نجتْ،ثم قامت طائفةً اخریٰ لم تکن لهاقوة بالقتال فقامت بین الملوک والجبابرة فدعوا الی دین الله و دین عیسیٰ بن مریم،فقتلت وقُطعت بالمناشیروحرقت بالنیران فصبرت ونجتْ،ثم قامت طائفة اخریٰ لم یکن لهاقوة بالقتال ولم تطق القیام بالقسط فلحقت بالجبال فتعبدت وترهبت،وهم الذین ذکر الله، و رهبانیّة ابتدعوها ما کتبناعلیهم.

دا د رهبانیت ابتداء وه خو ورو ورو دا رهبانیة دَدوئ یو رواج جوړشو ،ځکه چی په سنه ‹۳۰۵› کښ دَروماباداشاه قسطنطین چه عیسائی مذهب قبول کړونوعیسایانوته اقتدار میلاؤ شو، هره قسمه ازادی ورته ملاوه شوه اوډیرې ګرجی هم جوړې شوې،لیکن دَدی باوجود هم دوئ رهبانیت پری نه ښودلو ،بلکهِ نوره غلو ئی هم پکښ اوکړه،دَعیسایانو پادریانو به دَ کورونونه ماشومان تختته ول اودَرهبانیت تربیت به ئی ورله ورکولو ،نکاح کول ئی په ځان حرام کړل،حلال خوراکونه ئی حرام کړل،غسل کول صفائی کول ئی حرام ګنړل ، دَ خپلو میاندو خویندو سره خبری کول ئی هم معصیت ګنړلو ، چونکه دَ رهبانیة دا طرزعمل دَ فطرت خلاف وؤ نوپه دی وجه پکښ ډیرې خامئ پیدا شوې، دَ دوئ عبادت خانی او دَ خلوت ځایونه دَ زناکارئ،بدکارئ مرکزونه جوړشول،حلال او حرام تمیزکولونه بغیرهرقسمه مال به

ئی خوړلو.وغیره وغیره.لکه په سورة التوبه کښ ددوئ حالت ذکردي ان كثيرا من الاحبار والرّهبان ليأكلون اموال النّاس بالباطل ويصدّون عن سبيل الله (توبه ۳۴)

﴿إِلَّا ٱبۡتِغَآءَ رِضۡوَٰنِ ٱللَّهِ﴾ صحيح داده چه دااستثنا منقطع ده. ای ماشرعناها عليهم لكنهم ابتدعوها ابتغاء رضوان الله. یعنی مونږ په دوئ رهبانیت نه ووفرض کړي لیکن دوئ پخپله د الله ﷻ درضامندئ دپاره دااختیارکړي وو.

﴿فَمَا رَعَوۡهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا﴾ ابن کثیروائی چه په دی کښ د دوئ ذم ذکر شویدي په دوو وجهوسره (۱) یو داچه دوئ په دین د الله ﷻ کښې دهغه څیز ایجاد اوکړوچه الله ﷻ ورته امرنه وؤکړي. (۲) دویم داچه کوم څیزدوئ په ځان لازم کړي وؤپه هغی قائم پاتی نه شول. اوهغه خامئ اوبداخلاقئ پکښ پیداشوي چه تفصیل مخکښ تیرشو.

بعض مفسرین وائی چه په دی کښ ذم په یوې وجهی سره دي چه درهبانیت اصل مقصد د الله ﷻ عبادت وؤلیکن دوئ دخپل مقصدنه لری شول، درهبانیت حق ئی ادانه کړو.

﴿فَـَٔاتَيۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنۡهُمۡ أَجۡرَهُمۡۖ﴾ ددینه مراد هغه حوارین او نصاری دی چې ظالم بادشاهونو ظلم وستم باوجود حق باندې مستقیم ولاړوؤ، اوحق طرف ته یی دعوت ورکولو اودین حق په لار کښ جهاد کولو یا مراد د دینه راهبان دی چه زمانه دحضور ﷺ ئی اوموندله اوایمان ئی راوړلو په یوحدیث کښ هم ددی تفسیر په الذین امنوابی وصدقونی سره راغلې دي ﴿وَكَثِيرٞ مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ﴾ مرادورنه هغه دی چه ایمان ئی په نبی علیه السلام باندې نه وؤ راوړلي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَءَامِنُواْ

اې هغه کسانوچه ایمان مو راوړي دي اویریږئ دالله ﷻ نه ایمان راوړئ

بِرَسُولِهِۦ يُؤۡتِكُمۡ كِفۡلَيۡنِ مِن رَّحۡمَتِهِۦ وَيَجۡعَل لَّكُمۡ نُورٗا

په رسول حضور ﷺ دالله ﷻ باندی. دربه کړی تاسوته دوه حصی درحمت خپل نه اوابه ګرځوی تاسولره رانړا

تَمۡشُونَ بِهِۦ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝٢٨ لِّئَلَّا يَعۡلَمَ

چه ځئ به تاسوپه هغی سره اوبخنه به اوکړی تاسوته، اوالله ﷻ بخونکي مهربانه دي. چه پوهه شی

اَهْلُ الْكِتٰبِ اَلَّا يَقْدِرُوْنَ عَلٰى شَيْءٍ مِّنْ فَضْلِ اللّٰهِ وَاَنَّ الْفَضْلَ
اهل كتاب يهود،نصارى،چه دوئ قادرنه دي په هيڅ څيزدفضل نبوت دالله ﷻ نه.اوبيشكه فضل نبوت
بِيَدِ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ۭ وَاللّٰهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ۝
په اختيار دالله ﷻ كښ دي،وركوى ني هغه چاته چه ئې خوښه شي.اوالله ﷻ خاوندد فضل لوئ دي

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ﴾ دې دوه آيتونو كښ اهل كتابو ته ايمان دعوت ،ايمان تولو مقتضياتو باندې على العموم عمل او جهاد باندې على الخصوص عمل ترغيب دې، او بشارت اعلان دې،چې اى اهل كتابو!الله ﷻ درته خپل رسول رالیږی دې هغه باندی ايمان راوړئ اوهغه په اتباع كښ الله ﷻ په لار كښ جهاد اوكړئ،اوعذرونه بهانې پريګدئ، الله ﷻ به درله دَ ايمان اوجهاد ډير اجرونه در كړی.

﴿يُؤْتِكُمْ كِفْلَيْنِ﴾ يعنى دوه چنده اجر به دركړى،يو اجر خپل نبى باندى ايمان راوړلو په سبب او بل نبى كريم ﷺ باندې ايمان راوړلو په سبب،لكه حديث كښ راغليدى، ثلاثة يؤتون اجرهم مرتين،رجل من اهل الكتاب امن بنبيه وأمن بي فله اجران﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ نُورًا﴾ نور نه مراد هغه نور دې چې مخكښ آياتونو كښ تير شويدې نورهم يسعى بين ايديهم

﴿أَلَّا يَقْدِرُونَ عَلَىٰ شَيْءٍ مِّن فَضْلِ اللَّهِ﴾ فضل الله نه مراد قتال دې يعنى چې اهل كتاب دابهانې اونه كړې چې دَ الله رسول نشته نو مونږ څنګه جهادَ اوكړو،دَچاپه نګرانئ كښ اوكړو، دې تفسير مطابق"لا"په لئلا كښ زائد نه دې،دادَحضرت حسين على رحمه الله رائى ده، جمهور مفسرينو مطابق﴿فَضْلِ اللَّهِ﴾ نه مراد تير شوى آيت كښ مذكور اجر دې،او"لا"په ﴿لِّئَلَّا﴾ كښ زائددې.يعنى قيامت په ورځ غير مؤمن اهل كتابوته پته اولګي چې صرف سابقه انبياوؤ باندى ايمان رواړل نجات دَپاره كافى نه دې بلكه نبى كريم ﷺ باندې ايمان راوړل هم ضرورى دى،

دَدى آيتونو يو بل تفسير هم منقول دې چې يا ايها الذين أمنوكښ خطاب غير اهل كتاب مؤمنانو ته دې ،دې تفسير اعتبار سره داپه آخر كښ بيا دَايمان اودَايمان مقتضياتو باندې عمل كولو طرف ته ترغيب ذكر كيږى،اوبشارت دې

يؤتكم كفلين» روايانو كښې راغلي چې كله دا آيانونه الذين اتيناهم الكتب من قبله هم به يؤمنون. اولئک يؤتون اجرهم مرتين(القصص ،۵۴.۵۳)نازل شو نو اهل كتاب مسلمانانو به په دې فخر كولو اوخپل فضيلت به يې ثابتولو، نو الله ﷻ غير اهل كتاب مؤمنانو په حق كښې دا آيت نازل كړو ،چې دوئ ته هم دوچنده اجر ميلاويږي،«كفلين»معنى يا نصيبين ده يعنى دوه چند اجربه ورته ميلاويږي،يو اجرنبى ﷺ باندې ايمان راوړلو په سبب.اوبل سابقه تولو نبيوۇ باندې ايمان په سبب كقوله تعالى:لا نفرق بين احد من رسله يا"كفلين" معنى ضعفين ده يعنى كيفيت اعتبار سره به ورله الله ﷻ اجر زيات كړي.

﴿وَأَنَّ ٱلْفَضْلَ بِيَدِ ٱللَّهِ﴾ كچرته "لا" په «لئلا يعلم» كښې زائد وى نوبيا عطف دې به په "الا يقدرون" باندې.يعني چې پدې خبرې باندې پوهه شى چې فضل او احسان صرف الله ﷻ په لاس كښې دې،اوكچرته "لا" په «لئلا» كښې زائد نه وى ،نوبيا عطف دې په "الا يعلم اهل كتاب" باندې.

ركوعاتها (۲)	سورة المجادلة مدنية	اياتها (۲۲)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	په نوم دَ الله ﷻ چه بيحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي (شروع کوم)	

ترتيبها حسب التسلسل (۵۸) وحسب النزول (۱۰۵)

سورة المنافقون نه بعد او سورة الحجرات نه قبل نازل شويدې.

ربط: (۱) خلور سورتونه، سورة مجادله، حشر، ممتحنه، او سورة الصّف دَسورة حديد په مضمون ثاني يعنى په جهاد في سبيل الله باندې متفرع دي، نو مخکښې سورة کښې ترغيب وؤ قتال او جهاد في سبيل الله ته، نو په دې سورة کښې زجردې هغه منافقانو ته چه جهاد ئې نه کولو، او دَجهاد خلاف ئې مشورې کولې. دغه شان سورة الحديد کښې په جهاد مضمون کښې ليعلم الله من ينصره ورسله ذکر وؤ دلته کښې دَ "كتب الله لاغلبن انا ورسلي ذکر دې.

(۲) مخکښې سورت کښې "الباطن" صفت ذکر شوې وؤ، ديکښې دَهغې نمونې بيانيږي.

(۳) مخکښې سورت آخر کښې دَ "فضل" ذکر وؤ، ديکښې مسئله ظهار بيانيږي چې هغه دَالله ﷻ فضل يو مظهر دې.

دسورة دَمضامينو اجمالي خلاصه

ابتداء کښې تمهيد دې حکم دَظهار ته، بيا مسئله او حکم دَظهار ذکر کيږي، دَمنافقانو دَاصلاح دپاره هغوئ ته زجرونه او درې (۳) قوانين ذکر کيږي.

تفصيلي خلاصه

﴿ قَدْ سَمِعَ اللَّهُ ﴾ آيت اول (۱) تمهيد دې حکم دَظهار ته.

﴿ الَّذِينَ يُظَاهِرُونَ ﴾ آيت (۲) تر آيت (۴) پورې دَظهار دَمسئلې بيان او حکم دې،

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ ﴾ آيت (۵) او (۲) کښې زجرا وتخويفات دي منافقانو ته.

دَ منافقانو پنځه شرارتونه او خباثتونه بيانيږي:

آيت (۷) کښې اول خباثت بيان دې

آيت (۸) کښې دويم او دريم خباثت بيان دې

آیت (۱۴ ۔ ۱۵) کښې څلورم خباثت بیان دې او تخویف دې

آیت ۱۲ ۔ ۱۹ ،کښې پنځم خباثت ذکر دې او په هغې زجر او تخویف دې

درې قوانین ذکر کیږي د پاره د اصلاح د منافقینو:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَـٰجَيۡتُمۡ﴾ آیت (۹) او (۱۰) اول قانون دې

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمۡ﴾ آیت (۱۱) دویم قانون دې

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَـٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ﴾ آیت (۱۲) دریم قانون دې

دی ﴿لَّا تَجِدُ قَوۡمٗا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ﴾ دَمخلصانو مؤمنانو مدحه او هغوئ ته بشارة دې

تمت خلاصة السورة اجمالاً وتفصيلاً

قَدۡ	سَمِعَ	ٱللَّهُ	قَوۡلَ	ٱلَّتِي	تُجَٰدِلُكَ	فِي	زَوۡجِهَا
په تحقیق	سره واوریدله قبوله کړه	الله جل جلاله	خبره	دَهغه ښځې	چه جګړه ئې کوله تاسره	په باره	دَخاوندخپل کښې
وَتَشۡتَكِيٓ	إِلَى	ٱللَّهِ	وَٱللَّهُ	يَسۡمَعُ	تَحَاوُرَكُمَآ		إِنَّ ٱللَّهَ
اوفریادئې کولو		الله جل جلاله ته،	اوالله جل جلاله	آوریدلې	خبرې ترې دَ	ستاسو دواړو.	بیشکه الله جل جلاله
سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ①							
ښه آوریدونکې دې ښه کتونکې دې.							

﴿ قَدۡ سَمِعَ ٱللَّهُ قَوۡلَ ٱلَّتِي ﴾ دی آیت کښې **تمهید دې حکم دَ ظهار** ته، دَآیت شانِ نزول باره کښې مفسرینو لیکلی دی چه داآیت دَخوله بنت ثعلبه رضي الله عنها باره کښې نازل شویدې، چه دادَاوس ابن صامت رضي الله عنه بی بی وه، دَاوس بن صامت رضي الله عنه په طبیعت کښې غصّه وه، یوه ورځ کورته راغې، کور والا سره یې خبرې ترې کولې، پدیکښې حضرت خوله رضي الله عنها څه داسې خبره اوکړه چې ده له پرې غصه ورغله او ظهارئې ورسره اوکړو یعنی "انتِ علیّ کظهرامیّ" ئې ورته اووئیل، اوظهارکول په جاهلیت کښې یعنی قبل دَ اسلام نه طلاق ګڼړلې کیدلو او حرمتِ ابدی به ورسره راتلو، نو دا دَ حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضره شوه او اوئې وئیل: ای ده الله رسوله، چې کله څه ځوانه وم خلقو ماته رغبت کیدو، نو "اوس" ماسره نکاح اوکړو، اوس چې غاخونه مې اوغورځیدو، خیته

مې دَ بچو نه خالی شوه، نوماسره یې ظهار اوکړو، اوبالکل یو اخې ئې پریخودلم، نوآیازمونږه یو ځائ اوسیدلو څه ګنجائش شتې اوکنه؟ نوحضور ﷺ ورته اوفرمائیل: والله ماأمرتُ فی شانکِ بشئٍ حتی الآن، یعنی تراوسه پوری ماته ستاپه شان کښې څه امر نه دې شوې، په یو روایت کښې دی چه حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: ماأراکِ الاّقدحرمتِ علیه، یعنی څه خیال کوم چه ته په هغه باندی حرامه شوی ئې. دې ورته اووئیل: ماذکرطلاقًا یعنی طلاق ئې نه دې راکړې. او دَ حضور ﷺ سره ئې باربارمجادله کوله. بیائې اووئیل چه یاالله: څه تا ته شکایت کومه دَ خپل یو اخې والي او دَ دې مصیبت، په یوروایت کښې دی چه دې اووئیل، څه الله ﷻ ته دَخپلې فاقې اوبدحالئ شکایت کومه، څماواړه ماشومان دی که داهغه ته ورکوم نوضایع کیږی اوکه دَ ځان سره ئې ساتمه نو دَ لوږې نه مری، سرئې خپل اسمان طرف ته اوچت کړې وؤاو دعاء ئې اوغوختله چه یاالله: څماباره کښې دَخپل نبی علیہ السلام په ژبه باندې څه حکم نازل کړه، دا دعا ئې کوله تردې چه الله ﷻ دا آیاتونه نازل کړل او حکم دَظهارنازل شو چه ورستوآیت کښې ذکر کیږی، حضور ﷺ دی ته اوفرمائیل ورشه خپل خاوندراوله، خاوند ئې راغې حضور ﷺ ورته دا آیاتونه اولوستل اوبیائې ورته اوفرمائیل: اتجدُرقبةً تعتقهامن قبلِ ان تمسها، نو هغه ورته اووئیل: نه، حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: افلاتستطیع ان تصوم شهرین، نوده ورته اوئیل په هغه ذات مې دې قسم وی چه ته ئې په حقه مبعوث کړې ئې، کچرته څه په ورځ کښې دوه درې ځله خوراک اونه کړم نو نظر مې زائله کیږی، حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: افتسطیع ان تطعم ستین مسکینًا، نو ده ورته اوئیل: څه قدرت نه لرم مګردا چه ته راسره تعاون اوکړې، نوحضور ﷺ ورته څه ورکړل اوورته ئې اوفرمائیل داشپیته مسکینانوته ورکړه (ابن کثیر)

﴿ قدسمِعَ اللّٰهُ ﴾ سماع کنایه ده اجابت او قبول نه یعنی الله ﷻ د هغې فریاد قبول کړو، لکه (سمع الله لمن حمده) کښې. ﴿ تُجَٰدِلُكَ ﴾ مراد دَجګړې نه بحث مباحثه کول دی یعنی باربارئې دا وئیل چه ماذکرطلاقًا. یعنی څماخاوند دَطلاق الفاظ نه دی وئیلی اومقصدئې طلاق نه وؤ، ﴿ وَتَشۡتَكِيٓ إِلَى ٱللَّهِ ﴾ یعنی دابه ئې وئیل: اللّٰهم انی اشکوالیکَ ﴿ تحاورکما ﴾ خبرې ترې ستاسو، تحاور: جانبینو نه خبرې ترې کیدو ته ویلې کیږی ﴿ إِنَّ ٱللَّهَ سَمِيعُۢ بَصِيرٌ ﴾ ماقبل دپاره علت دې

اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ مِّنْ نِّسَآئِهِمْ مَّا هُنَّ اُمَّهٰتِهِمْ ؕ اِنْ اُمَّهٰتُهُمْ
هغه کسان چه ظهارکوی ستاسو نه ، دَ ښځو خپلو نه، نه دی هغوئ میاندې دَ دوئ، نه دی میاندی ددوئ
اِلَّا الّٰٓئِیْ وَلَدْنَهُمْ ؕ وَاِنَّهُمْ لَيَقُوْلُوْنَ مُنْكَرًا مِّنَ الْقَوْلِ
مگر هغه چه زیږولی ئی دی دوئ،اوبیشکه دوئ یقیناً چې وائی یوه بې کاره خبره
وَزُوْرًا ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَعَفُوٌّ غَفُوْرٌ ②
اووائی دروغ،اوبیشکه اللهﷻخامخامعافی کونکې بخښونکې دي

﴿ اَلَّذِيْنَ يُظٰهِرُوْنَ مِنْكُمْ ﴾دې آیاتونوکښې **حکم دَ ظهار** ذکرکیږی،چه په ظهارسره خپله ښځه مورنه گرځی،دائمی حرمت ورسره نه راځی،لیکن داسې قول کول عقلاً اوشرعًادواړه منکراوبد دی،اوصفادروغ اودَحق نه انحراف دي.

ظهار مصدردې دَ ظَاهَرَیظاهِرُ ،په لغت کښې مقابلةُ الظَّهرِبالظهرِته وائی،کله چه دَدوؤکسانو په مینځ کښې عداوة شی نو هر یو خپل شا دَ بل شا ته اوگرځوی،او په ظهارکښې هم مظاهر دَ مظاهرمنها سره عداوة راشی نو ظهار ورسره اوکړی، بعضِ وائی چې ظَهر دلته پمعنی دَ عُلو سره دې،مرادورنه ختل دی کقوله تعالی: فمااستطاعوه ان يَظهروه(کهف:۹۷).نو دَ انتِ علیّ کظهر امّی،معنی داده چه:انه لایعلوها کمالایعلوامّه(بحر،کبیر)

په اصطلاح دَاحنافوکښې ظهار وائی:هوتشبیه المنکوحة بمحرمةٍ علیه علی التابید،یعنی دَ خپلې ښځې تشبیه دَهغه ښځې سره ورکول چه هغه په ده باندې همیشه دپاره حرامه وی،لکه مور، خور، لور،

(۱)احنافو په نیز ظهار صرف مورسره تشبیه ورکولو سره خاص نه دې،بلکه ټولو محرماتو ابدیۆو سره تشبیه ورکولو داحکم دي.

(۲) ظهار څنگه دَښځی کل له تشبیه ورکولو سره ثابتیږی،دغه شان هغه جزء چی ترینه تعبیر دَ کل کیږی لکه سر،سټ وغیره او جزشائع (لکه نصف،ثلث وغیره) له تشبیه ورکولو سره هم ثابتیږی،

(۳)ظهار څنګه ظهر سره تشبه ورکولو سره ثابتيږي،دغه شان دمحرماتو ابديوؤ په هغه عضوسره تشبيه ورکولو سره ثابتيږي چې هغې ته کتل حرام دي.

په﴿ مِنكُم ﴾کښ اشاره ده چه ظهارصرف دسړي حق دې په شان دطلاق.دښځې په ظهارسره ظهار نه واقع کيږي.

﴿وَإِنَّهُمْ لَيَقُولُونَ ﴾ضميرظهارکونکوته راجع دي﴿مُنكَرًا ﴾يعنى عقل ونقل دواړو اعتبار سره بې کاره خبره ده چې يو سړې خپلې ښځې له مور سره تشبيه ورکړي. اى ينكره الشرع والعقل والطبع (روح المعانى)﴿ وَزُورًا ﴾ زور دروغوته ويلى کيږي،اودا دروغ ځکه دى چې ګويا دې خبرورکوى چې څنګه مور په ما حرامه ده دغه شان ښځه هم راباندى حرامه ده ، يا د دې وجهې نه چې ګويا د ده دا اعتقاد دې چې دې الفاظوپه وجه ښځه داسې حراميږي لکه مور، او دا بالکل دروغ دي ځکه چې شريعت دا الفاظ د حرمت مؤقت سبب ګرځولى دى، د حرمت مؤبد نه.﴿ وَإِنَّ اللَّهَ لَعَفُوٌّ غَفُورٌ ﴾الله ﷻ معاف کونکې اوبخونکې دې نوپه ارتکاب دظهارسره هم معاف کول وى په توبى سره،صاحب دروح المعانى وائى چه دآيت نه معلومه شوه چې ظهارکول حرام دى بلکه ګناه کبيره ده ځکه چه پدى کښ دالله ﷻ دحکم بدلولو باندى اقدام دې،اودا دډيروکبائرونه زياته خطرناکه ده.

وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا
اوهغه کسان چه ظهاراوکړي دښځوخپلونه بياواپس کيږى دوئ دهغى خبرې نه چه دوئ کړې وه،
فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِّن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا ۚ ذَٰلِكُمْ
نو (په دوئ لازم دى) ازادول دمريئ(غلام)مخکښ ددى نه چه ښځه خاونديوبل ته نيزدې شى،دا(حکم دکفارى)
تُوعَظُونَ بِهِۦ ۚ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ③ فَمَن
نصيحت کوليشى تاسوته په دې سره ، او الله ﷻ په هغه عملونوچه تاسوئى کوئ خبرداردې،پس هغه څوک

لَمْ	يَجِدْ	فَصِيَامُ	شَهْرَيْنِ	مُتَتَابِعَيْنِ	مِنْ	قَبْلِ

چه اونه موندی(رقبه) نو په هغه باندې روژې نیول دي دوه میاشتې برله پسې مخکښې ددینه

أَنْ	يَتَمَاسَّا	فَمَنْ	لَّمْ	يَسْتَطِعْ	فَإِطْعَامُ	سِتِّينَ

چه ښځه خاوندیوبل ته نیږدې شي،پس هغه څوک چه نه لري طاقت دروژو نوپه هغه طعام ورکول دي شپیتوو

مِسْكِينًا ۚ ذَٰلِكَ لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ۚ وَتِلْكَ حُدُودُ اللَّهِ ۗ

مسکینانوته.دادې لپاره چه ایمان راوړئ تاسوپه الله ﷻ اوپه رسول دهغه.اودااحکام پولې دالله ﷻ دي

وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٤﴾

اولپاره دکافرانوعذاب دردناک دي

﴿ وَٱلَّذِينَ يُظَٰهِرُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ ﴾په دې آیاتونوکښې **کفارې د ظهار** بیان دې.چه کوم خلق ظهاراوکړي اوبیادخپل قول نه رجوع کول غواړي نوپه هغه باندې په دې درې کفاروکښې بالترتیب یوه کفاره لازمه ده(۱)تحریردرقبې، اوکه استطاعت ئې نه وي(۲)نودوه میاشتې پرله پسې روژې نیول، اوکه ددې استطاعت ئې نه وي(۳)نوشپیته مسکینانوته طعام ورکول.

﴿ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا﴾جمهور فقهاءفرمائي چې نفس ظهار سره کفاره نه ثابتیږي.بلکه "عود" سره ثابتیږي،خو د "عود" تعریف کښې ددوئ مابین کښې اختلاف دې:

(۱)احنافو په نیز"عود" نه مراد اباحت دتمتع دي،یعني چې دا اوغواړي چې ښځه ورله مخکښې دښځې نه فائده اغستل حلاله وه اوس هم حلاله شي،دې تقدیر باندې د"عود"معنی تدارک اوتلافی د مافات ده،او"عود"دې معنی کښې کلام عرب کښې استعمال شوې دې لکه وائی عادَ غیثٌ علی ما افسد.اي تدارکه بالاصلاح،(احکام القرآن)

(۲)امام مالک رحمه الله په نیز د"عود"نه مراد عزم علی الوطی دې،امام مالک اواحنافو قول کښې خاص فرق نشته.

(۳) امام شافعي رحمه الله په نيز "عود" مطلب دا دې چې ظهار كولو نه بعد دومره زمانې پورې طلاق نه وركولَ چې هغې كښې ښځې ته طلاق وركول ممكن وي لهذا كه دومره زمانې پورې يې طلاق ورنه كړو نو خپله پخپله به پرې كفاره لازمه شي.

(۴) اهل ظواهرو "عود" ظاهري معنى باندې محمول كړيدې. يعني كه دوباره داقول اوكړي نو كفاره پرې شته گني نشته.

﴿ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ ﴾ اي : فعليهم تحرير رقبة جمله خبرواقع كيږي دَ "الذين" اسم موصول نه چونكه مبتدا اسم موصول متضمن معنى شرط دې، نو ځكه ئې خبر باندې "فاء" داخله شوه، احنافو په نيز ((رقبة)) نه مراد مطلق غلام دې، مؤمن وي كه كافر، مذكر وي كه مؤنث او وړوكي يالوئ. ((من قبل ان يتماسا)) يعني جماع اودواعي دَجماع دواړه، دَ كفارې ادا كولو نه قبل منع دي، امام شافعي رحمه الله په نيز صرف جماع كول حرام دي

﴿ ذَٰلِكُمْ تُوعَظُونَ بِهِ ﴾ اى تُزجرون به عن ارتكاب المنكر (روح) اشاره حكم دكفاري ته ده، يعني دَدې كفارې په ذريعه تاسو دَارتكاب دَمنكرنه منع كولېشئ، تهانوي رحمه الله فرمائي چه دينه معلومه شوه چه په مالي جرمانې سره هم اصلاح دَنفس كيږي (ازماجدى).

﴿ فَمَن لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ ﴾ دَ "لم يجد" دپاره مفعول مقدردې، اى فمن لم يجدرقبةً، يعني چاته چه رقبه دَآزاده ولودپاره ملاؤنشي برابره خبره ده چه ورته ملاؤنشي ياورته ملاويږي خوقيمت ئې ورسره نه وي، نوپده باندې پرله پسې دوه مياشتې روژې نيول لازم دي، تتابع په روژه كښې دَاحنافوپه نيزشرط دې، دغه رنګه دوه مياشتې پوره كيدلونه قبل وربانديٰ تماس منع دې هم دَورځې هم دَشپې، كه په مينځ دكفارې كښې ئې تماس اوكړونوبيابه دَسرنه روژې نيسي.

﴿فَمَن لَّمْ يَسْتَطِعْ ﴾ يعني كه دَدوؤمياشتوروژو نيولوطاقت ئې نه وي، برابره خبره ده كه استطاعت ئې دَنفس روژې نيولونه وي يادَتتابع استطاعت ئې نه وي، نوبيابه شپيته مسكينانو ته طعام وركوي سهاراوماښام په مقداردَ "من اوسَطِ ماتُطعمونَ اهليكم" اوداهم كوليشي چه هرمسكين ته په مقداردَفطراني طعام وركړي تمليكًا. دى دريم صورة سره چونكه

﴿مِن قَبْلِ أَن يَتَمَآسَّا﴾ قيدنه دې لګيدلې،نودی وجه نه احناف وائی چه دَاطعام په خلال کښ هم جماع وغیره کولیشی.

﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره ده تیرشوی بیان اوتعلیم ته او دَ﴿لِتُؤْمِنُوا بِاللَّهِ﴾ نه مراد عمل کول دی په احکامو او شرائعو باندی﴿وَتِلْكَ﴾ یعنی دااحکام مذکوره دَالله ﷻ پولې او حدود دی نو دَ دینه تجاوزمه کوئ کافران چه ورنه تجاوزکوی نوهغوئ دَپاره درناک عذاب دې.

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ كُبِتُوا كَمَا كُبِتَ
بیشکه هغه کسان چه مخالفت کوی دَالله ﷻ اودَرسول دَهغه ذلیله به کړې شی لکه چه ذلیله کړې شویدی
الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَقَدْ أَنزَلْنَا آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ وَلِلْكَافِرِينَ عَذَابٌ
هغه خلق چه مخکښ وؤدَدوئ نه اوحال داچه نازل کړی وؤمونږدلائل واضحه.اولپاره دکافرانوعذاب
مُّهِينٌ ۝٥ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ جَمِيعًا فَيُنَبِّئُهُم بِمَا
رسواکونکې دې په کومه ورځ چه راپورته به کړی دوئ الله ﷻ ټول پس خبربه کړی دوئ په هغه عملونو
عَمِلُوا أَحْصَاهُ اللَّهُ وَنَسُوهُ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ۝٦
چه کړی وؤ،یاددی هغه عملونه الله ﷻ ته اودوئ هیرکړیدی اوالله ﷻ په هرڅیزباندی ګواه دې

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ﴾ دی آیاتونو کښ زجراوتخویف دې هغه کفارواومنافقانوته چه دَالله ﷻ اودَ رسول ﷺ مخالفت کوی،او احکامو دَ شریعت باندې طعن کوی،چه دوئ به دَ تیرشوی کافرانو په شان دنیااواخرت کښ ذلیله وی.

«يُحَادُّونَ اللَّهَ» دشمني او اختلاف کولو ته وائي ، د "حد" نه مشتق دې ، نو د شمني او اختلاف کونکي هم د يو بل مخالف حد آخر کښې وي نو ځکه ورته محاده وئيلې کيږي

﴿ كُبِتُوا ﴾ "کبت" ذليله او رسوا کولو ته وائي ، د ماضی مجهول صيغه ده، مضارع نه تعبير په ماضی سره اوشو دَ وجهی د تيقن فی الوقوع نه،چنانچه دا وعده په خندق او په بدرکښ

پوره شوه، چه مشرکین مکه پکښې ذلیله شول،علماءوائی چه آیت اګرچه دَ منافقانو او یهودیانو باره کښې نازل دې،لیکن مصداق کښې ئې عموم دې.چه کوم مسلمانان بادشاه او اُمراء سوء دَشریعت اسلامی نه جدا قانون جوړه وی اونافذه وی هغه هم په دې وعید کښې داخل دی.

﴿ وَقَدْ أَنزَلْنَآ ءَايَٰتٍۭ بَيِّنَٰتٍ ﴾یعنی باوجود دَدینه چې زمونږ لیږل احکامات بالکل واضحه وؤ، عدل وانصاف اودَعقل تقاضې عین موافق وؤ ،لیکن دوئ هغه پریخودل،جمله معترضه ده یاحال واقع ده دَ کبتوا ضمیر مرفوع نه.

﴿ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ ﴾متعلق دې یادَ﴿مُّهِينٌ ﴾سره،یاپکښې اذکر مقدردې.﴿جَمِيعًا﴾حال مؤکده دې یعنی قیامت په روځ به الله ﷻ دوئ ټول راپورته کوی دَقبرونونه ،یوبه پکښې هم غیر مبعوث نه وی نو کوم کارونه ئې کړیدی نودَټولوخلقومخکښې به ورته ئې ښکاره کړی، دپاره دَتخجیل اودَخزي دَدوئ.

﴿ أَحْصَىٰهُ ٱللَّهُ وَنَسُوهُ ﴾ یعنی الله ﷻ دَدوئ عملونه محفوظ کړیدی،اګرکه دوئ هیر کړیدی یا ئې ورته التفات نه دې کړې﴿وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ ﴾تاکید دې دَماقبل.

أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلْأَرْضِ
آیاته نه وینې نه ئې خبرچه بیشکه الله ﷻ عالم دې په هغه څه چې په اسمانونوکښې دی اوپه هغه څه چې په زمکه کښې دی،
مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ إِلَّا هُوَ رَابِعُهُمْ وَلَا خَمْسَةٍ إِلَّا هُوَ سَادِسُهُمْ
نه وی هیڅ پټه جرګه دَدری کسانو مګرالله ﷻ ئې څلورم وی اونه دَپنځه کسانوجرګه مګرالله ﷻ ئې شپږم وی
وَلَآ أَدْنَىٰ مِن ذَٰلِكَ وَلَآ أَكْثَرَ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ أَيْنَ مَا كَانُوا۟ ۖ ثُمَّ
اونه کم کسان دَدینه اونه زیات کسان مګرالله ﷻ دَدوئ سره وی کوم ځائ کښې چه هم وی دوئ،بیابه
يُنَبِّئُهُم بِمَا عَمِلُوا۟ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ ۞
خبرورکړی دوئ ته دَهغه عملونوچه کړی ئې وو،په ورځ دَقیامت،بیشکه الله ﷻ په هرڅیزباندی ښه عالم دې

﴿ أَلَمْ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يَعْلَمُ ﴾ دی آیاتونو کښې **زجر دې منافقانو ته د هغوئ په خباثت.** او خباثت ني دا وو چه دَ جهاد خلاف به ئې پټې مشورې کولې او دا به ئې گڼړله چه زمونږ دَ پټو مشورو چا ته علم نشته، حالانکه الله ﷻ په هرڅه عالم دې دَهغه نه هیڅ خبره نه شي پټې دلې.

﴿ مَا يَكُونُ مِن نَّجْوَىٰ ثَلَٰثَةٍ ﴾ دَالله ﷻ دَوُسعت علمي تاکید دې "ما" نافیه ده او ﴿يَكُونُ﴾ کښې کان تامه ده "من" زائد دې لپاره دَتاکید، دَدرې(۳) اودَپنځه(۵) دَعدد تخصیص دَدوه وجهونه شوې دې:

(۱) یو دَ دې وجهې نه چې دَمنافقانو یوجماعت وؤچه هغی کښې به درې، کله پنځه کسان وؤ، هغوئ به دَمسلمانانونه جداکیدل اوپه پټه سرگوشیانی به ئې کولې. مقصد ئې دَ مسلمانانو غصه کول وؤ، نودی آیت کښې دوئ ته اووئیلې شول چه که درې کسان وی او که پنځه کسان وی ستاسوپه شان اوکه دَدینه کم وی اوکه زیات وی، الله ﷻ ورسره وی، چه څه وائې الله ﷻ پرې عالم وی

(۲) بله دا چې دَ "نجوی"دپاره کم از کم دوه کسان پکار وې دینه بعد چې څومره زیاتیږی تول نجوی کښې راځی لیکن الله ﷻ ابتداءً درې اوبیا پنځه ذکر کړو دیکښې اشاره ده دیته چه اولی داده چه تعداددَاهل شورئ دې طاق عدد وی، لکه درې، پنځه.. وه(۷)، ځکه چه په وخت دَ اختلاف کښې به طرف راجح متحقق شی(روح المعانی وغیره)

﴿ إِلَّا هُوَ مَعَهُمْ ﴾ یعنی دَالله ﷻ ورباندی علم وی.

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ نُهُوا عَنِ النَّجْوَىٰ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا
آیاته نه گورې هغه کسانو(منافقانو، یهودیانو)ته چه منع کړې شوی دي دَپټوجرگونه بیا کوي هغه عمل
نُهُوا عَنْهُ وَيَتَنَاجَوْنَ بِالْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَمَعْصِيَتِ الرَّسُولِ ۚ وَإِذَا
چه منع کړې شوی وؤدهغی نه اوجرگی کوی دگناه اودَظلم اودنافرمانئ دَرسول اوکله چه
جَاءُوكَ حَيَّوْكَ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ اللَّهُ ۙ وَيَقُولُونَ
راشی تاته(اې پیغمبره!) سلام کوی تاته په هغی الفاظوچه ندې کړې سلام تانه په هغی سره الله ﷻ. اووائی

فِيْٓ اَنْفُسِهِمْ لَوْلَا يُعَذِّبُنَا اللّٰهُ بِمَا نَقُوْلُ ؕ حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ۚ

په زړونو خپلوکښې چه ولې عذاب نه راکوي مونږ ته الله ﷻ په هغه الفاظو چه مونږئې وايو. کافي دې دوئ لره جهنم.

يَصْلَوْنَهَا ۚ فَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ۝٨

ورننوځي به هغې ته، پس ډيريدځائ دورتلو دې دا جهنم.

﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نُهُوْا عَنِ النَّجْوٰى﴾ ديکښې د **منافقينو دويم خباثت** او هغې باندې ورته زجر ذکر کيږي. خباثت ئې دا وو چه دوئ به په لاروکښې به ناست وو. مؤمنان چه به تيريدل نودوئ به يوبل سره په غوږونوکښې پُس پسې کولو، مؤمنانو ته به ئې کتل، په سترګوبه ئې ورته اشارې کولې، نومسلمانان به پريشانه کيدل چه لګه زمونږ اقاربو ته څه نقصان رسيدلې دې ياڅه بل څه مسئله ده، مؤمنانو حضور ﷺ ته ددې شکايت اوکړو، نوحضور ﷺ دوئ ددې عمل نه منع کړل، ليکن څه وخت پس بيا دوئ دا عمل شروع کړو. ﴿النَّجْوٰى﴾ کښې لام دعهد دې معهود په دې سره هغه مشورې دي چه مسلمانانو ته ئې ورسره تکليف رسولو.

﴿ وَاِذَا جَآءُوْكَ حَيَّوْكَ﴾ دې کښې دَ منافقينو يو **بل خباثت اوشرارت** ذکردې، دوئ به دَ حضور ﷺ مجلس ته راتلل نودَالسّلام عليکم په ځائ به ئې انعم صباحاً وئيلو ، د اسلام شعائر به ئې پريخودلو او جاهليت طرز به ئې اختيارولو (تفسير ابن عطيه)

منافقينو په شان د يهودو هم دا طرز عمل وو چې هغوئ به نبي ﷺ ته السلام عليکم په ځائ السّام عليکَ وئيل (يعنى ته مرشې، نعوذبالله) په جواب کښې به ورته حضور ﷺ صرف: وعليکم وئيل، په روايت دَبخاري وغيره کښې دي چه څه کسان دَ يهوديانو حضور ﷺ مجلس ته راغلل اواوئې اووئيل: السّام عليکَ ياباالقاسم، حضور ﷺ ورته په جواب کښې: وعليکم اووئيل، حضرت عائشه ﷺ ورته اووئيل: عليکم السّام ولعنکم الله وغضب عليکم، حضور ﷺ عائشه ﷺ ته اوفرمائيل پريږده: انّ الله لايُحبُّ الفاحشَ ولاالمتفحش. دې ورته اووئيل: آياتادوئ قول وانه وريدلو چه دوئ اووئيل: السّام عليک، حضور ﷺ ورته او فرمائيل: آيا تا وا نه اوريدل ماورته هم صرف: وعليکم: اووئيل اوپه يوروايت کښې داهم دي چه زمونږ خيرې دَهغوئ په حق کښې قبليږي اودَهغوئ خيرې زمونږپه حق کښې نه قبليږي.

﴿ بِمَا لَمْ يُحَيِّكَ بِهِ ٱللَّهُ ﴾يعنى الله ﷻ درباندى لفظ دَسلام وائى كمافى قوله تعالى:وسلام على المرسلين،وسلامٌ على عباده الذين اصطفى'،اوپه تشهدكښ دى:السّلام عليكَ ايُّهاالنبيَّ ورحمة الله وبركاته. ﴿وَيَقُولُونَ فِيٓ أَنفُسِهِمْ ﴾يعنى چه كله بيادَحضورﷺ دَمجلس نه راووځى،نوبيايوبل ته وائى چه كچرته دانبىﷺ په حقه وي نوالله ﷻ مونږته پدى خپلې خبرى او گستاخي باندى عذاب ولې نه راكوى﴿حَسْبُهُمْ جَهَنَّمُ ﴾داددوئ دَمذكورى خبرى جواب دې،چه كچرته په دنياكښ دوئ ته دَخپلوشرارتونوسزاملاؤنشى،خوپه آخرت كښ دَدوئ سزاجهنم دې چه دوئ به ورته داخلېږى اودا ډيره بده ټهكانه ده.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيْتُمْ فَلَا تَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْإِثْمِ وَٱلْعُدْوَٰنِ
اې ايمان والؤ! كله چه جرگى كوئ تاسونومكوئ جرگى دگناه اودظلم زياتى
وَمَعْصِيَتِ ٱلرَّسُولِ وَتَنَٰجَوْاْ بِٱلْبِرِّ وَٱلتَّقْوَىٰ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ
اودنافرمانئ درسول ،اوجرگى كوئ دَنيكئ او دَ پرهيزگارئ ، او اويرېږئ دَ الله ﷻ نه. هغه ذات
إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ۝ إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ لِيَحْزُنَ
چه خاص هغه ته به تاسوجمع كړې شئ،بيشكه دَمسلمانانوخلاف پټې جرگى دشيطان دَطرفه دى چه غمژن كړى
ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَلَيْسَ بِضَآرِّهِمْ شَيْـًٔا إِلَّا
هغه كسان چه ايمان ئې راوړيدې،اونه دې شيطان ضرر رسونكې مسلمانانوته هيڅ ضرر.مگر
بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَعَلَى ٱللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ ٱلْمُؤْمِنُونَ ۝
په اجازت دالله ﷻ سره،اوخاص په الله ﷻ باندى پس توكل دى اوكړى مؤمنان

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا تَنَٰجَيْتُمْ ﴾ **دا اول قانون دې براى اصلاح** ،خطاب منافقانوته دې اودَ﴿ءَامَنُوٓاْ﴾نه مراداىمان باللّسان دې،بعضِ وائى خطاب مؤمنانوته دې،چه كله تاسو مشورى كوئ نو دَ منافقانو په شان دَشرارت او دَ گناه مشورى مه كوئ،بلكه دَنيكئ اودَتقوى

مشورې کوئ﴿إِنَّمَا ٱلنَّجْوَىٰ ﴾ لام العهد دې،هغه مشورې چه :مسلمانانوضرردپاره وي. نو دا دَ شيطان دَطرفه دي،يعنې شيطان دوئ ته داعمل مزين کريدې.چه پدې سره مؤمنان پريشان شي.لکه مخکښې چه تيرشو.

﴿ وَلَيْسَ بِضَارِّهِمْ شَيْـًٔا ﴾تسلي ده مؤمنانوته چه شيطان چاته هيڅ ضرر نه شي رسولې. مګر هغه چه الله ﷻ مقدرکړې وي هغه به رسيږي،صرف په الله ﷻ باندې اعتماد کوئ. او توکل کوئ،هم داتوکل به موانشاءالله دَمخلوق دَهرقسمه ضررنه محفوظه ساتي،په حديث کښې دي چه کله تاسودرې(٣)کسان يئ،نودوه کسان دې يواځې څه پټې خبرې اومشورې نه کوي،ځکه دريم کس به پدې سره پريشانه کيږي(بخاري،مسلم وغيره)دغه شان پداسې ژبې کښې خبرې کول چه دريم کس پرې نه پوهيږي داهم منهي عنهادې

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُواْ فِى ٱلْمَجَٰلِسِ فَٱفْسَحُواْ
اې ايمان والؤ! کله چه اوويلې شي تاسوته چه ځائ فراخه کړئ په مجلسونوکښې نوځائ فراخه کړئ
يَفْسَحِ ٱللَّهُ لَكُمْ ۖ وَإِذَا قِيلَ ٱنشُزُواْ فَٱنشُزُواْ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ
فراخي به راولي الله ﷻ تاسوته،اوکله چه اوويلې شي ځئ پاسئ نوپياځئ پاسئ اوچتوي الله ﷻ هغه کسان
ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَٰتٍ ۚ
چه ايمان ئې راوړې دې دَستاسونه،او هغه کسان چه ورکړې شويدې هغوئ ته علم،په ډېرو درجوسره
وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ⑪
اوالله ﷻ په هغه عملونوچه تاسوئې کوئ ښه خبردار دې

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قِيلَ لَكُمْ ﴾دا دويم قانون دې براې اصلاح ،منافقان به دَحضور ﷺ مجلس ته راغلل،مخکښې به کيناستل چه ځائ تنګ کړی اونورمخلص صحابه کرام دَ خبرو اوريدلونه محرومه شي نوالله ﷻ داآيت نازل کړو،اکثرمفسرين داوائي چه داآيت دَصحابه کرامو ﷺ دَتنافس پوجه نازل شويدې،هرصحابي ﷺ به داخواهش وؤچه حضور ﷺ ته قريب کيني،نودَدې پوجه به ورستوراتلونکي ته ځائ تنګ شوځکه چه دائره به ورکې وه، نو

دا آیت نازل شوچه په مجلس کښ فراخي کوئ،لرې کينئ چه ځائ کهلاوشي.الله ﷻ به ستاسو د پاره خپل رحمت فراخه کړي اودنياآخرت کښ به درته فراخي درکړي

﴿ فِي الْمَجَالِسِ ﴾ عام دي،هرنيک مجلس ورنه مراددې،که دجمعه وي يادبل څه،بلکه په دوران دسفرکښ هم په ګاړي کښ بل انسان ته ځائ ورکول اسلامي تعليمات دي.

﴿ يَفْسَحِ اللَّهُ ﴾جواب امرپه وجه مجزوم دې،او دلته مراددفراخي نه عام دې چه الله ﷻ به تاسو ته خپل رحمت فراخه کړي،فراخي به درکړي په جنت کښ،په قبرونو کښ،اوپه رزق کښ، نو داجزاء من جنس العمل ده،لکه په صحيح حديث کښ دي،مَن بنٰى لِلهِ مسجداًبنى الله له بيتًا في الجنة،په يوبل حديث کښي دي،ومن يسّرعلى معسرٍ،يسّرالله عليه في الدنياوالاخرة،والله تعالى في عونِ العبدماكان العبدفي عونِ اخيهِ.

﴿ وَإِذَا قِيلَ انشُزُوا فَانشُزُوا ﴾ عامومفسرينودامعنى کړيده چه کله تاسوته په يومجلس کښ دمونځ، قتال يا دَ نورو څه نيکو د پاره دَپاسيدلوحکم اوشي نو دا حکم منئ اوپاسئ،بعض وائي چه کله تاسوته دَمجلس دَحضور ﷺ نه دَپاسيدلوحکم اوشي نوپاسئ،ځکه چه دَ حضور ﷺ خپلې ذاتي تقاضې هم وي،

حضرت شيخ حسين على رحمه الله فرمائي چه دَحضور ﷺ په مجلس کښ به چونکه منافقان هم ناست وو،نوکله کله به دَخاص امورو اظهار دَ دوئ په مخکښ مُضر وو،نوپه دې وجه مؤمنانوته هم داحکم اوشوچه کله تاسوته دَپاسيدلوحکم اوشي نوپاسئ.چې منافقين هم لاړ شي اوخاص صحابه کرامو سره دې متعلق مشوره اوشي.

﴿يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا﴾جواب امرپوجه مجزوم دې اوداهم جزاءمن جنس العمل وه،ځکه چه مأموربه تفسح اوترک دَتنافس دې اوپه دې ماموربه باندې عمل کول په وجه دَتواضع سره وي. او تواضع سره درجات رفع کيږي،كقوله عليه السلام:من تواضعَ لله رفعهُ الله،او بيا چونکه دَ علماؤ مقام په مجلس کښ زيات اوچت وي نودَدوئ ذکرئې اوکړوچه دوئ ته اتيان په ماموربه باندې اسان شي(روح المعاني)مفسرين وائي دې آيت کښ لوئ فضيلت دې دَعلماؤ چه په

ایمان والو کښې دَعلماؤدرجه اوچته ده دَوجې دَعلم نه.﴿وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ﴾زجردې هغه چاته چه امتثال دَامر نه کوی(والله اعلم).

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ فَقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ نَجۡوَىٰكُمۡ
اې ایمان والوکله چه پټې خبرې کول غواړئ درسولﷺسره نواول وړکړئ مخکښې دَجرګوخپلونه
صَدَقَةٗۚ ذَٰلِكَ خَيۡرٞ لَّكُمۡ وَأَطۡهَرُۚ فَإِن لَّمۡ تَجِدُواْ
صدقه،دااول صدقه ورکول غوره ده ستاسودپاره اوښه پاکونکې ده.پس کچرته بیانه مومئ تاسو
فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ۝١٢ ءَأَشۡفَقۡتُمۡ أَن تُقَدِّمُواْ بَيۡنَ يَدَيۡ
نو بیشکه اللهﷻبخښونکې رحم کونکې دې،آیا اویریدئ تاسودَدینه چه اول ورکړئ مخکښې
نَجۡوَىٰكُمۡ صَدَقَٰتٖۚ فَإِذۡ لَمۡ تَفۡعَلُواْ وَتَابَ ٱللَّهُ عَلَيۡكُمۡ فَأَقِيمُواْ
دَجرګوخپلونه صدقې،پس کله چه اونه کړوتاسو دغه کار(صدقه ورکول)او توبه قبوله کړه اللهﷻ ستاسو نوقائم کړئ
ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥۚ وَٱللَّهُ خَبِيرُۢ
مونځ اوورکړئ زکوة اوخبره منئ دَاللهﷻاودَرسول دَهغه،اواللهﷻښه خبردې
بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١٣
په هغه چه تاسوئې کوئ.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نَٰجَيۡتُمُ ٱلرَّسُولَ﴾ **دا دریم قانون دې برائ اصلاح** ،منافقان به دَحضورﷺمجلس ته راتلل،نوخپل ځان مخلص ښکاره کولواودَحضورﷺوخت ضائع کولو، او دَ نورو صحابؤو محرومه کیدلو دپاره به ئې دَنبیﷺسره پټې خبرې کولې،اوبې ضرورته تپوسونه به ئې کول،حضورﷺبه ورته دَشرافت په وجه څه نه وئیل،نو اللهﷻدا حکم نازل کړوچه څوک هم دَحضورﷺسره خبرې کوی اوتپوس ورنه کول غواړی نو اول به صدقه کوی بیابه مجلس ته راځی،چه اخلاص ئې معلوم شی،نومنافقان په دې وجه دَخپل عمل نه منع شول.

دا حکم انتهائي مختصر مدت پورې وو، بيا زر الله ﷻ پکښې تخفيف راوستلو. حتي چې حضرت علي رضي الله عنه نه ماسوا بل چا ته په دې حکم باندې عمل موقع هم نه وه ميلاؤ، چې الله ﷻ پکښې تخفيف راوستلو، په يوروايت کښې دی چه حضرت علی رضي الله عنه په دې حکم باندی عمل کړې وؤده سره يو دينار وؤ هغه ئې په لس دراهمو بدل کړو او چه کله به يئ دَحضور ﷺ مجلس ته حاضرې کوله يو درهم به ئې صدقه کولو. ځنې مفسرينو د دې حکم مدت نيمه ورځ او ځنو لس ورځې ليکلې دې.

دا حکم وجوبي وو او که استحبابي؟ ځنې مفسرين فرمائي چې دا استحبابي وو او ځنې وائي چې وجوبي وو، دې باره کښې څه واضح نص نشته او په آيت کښې دَ دواړو جانب قرائن شته، او يو جانب له علي التعيين ترجيح ورکول مشکل دي «حاشيه القونوي علي البيضاوي» بهر حال چې کوم قول هم اختيار کړې شي خو دومره خبره متفق عليه ده چې اول حکم عزيمت باندې مبني او دويم په رخصت باندې مبني دې، او دې باندې اګرچې دَ متقدمينو په اصطلاح کښې ناسخ منسوخ اطلاق کيدې شي خو متاخرينو په نيز معروف د نسخ اصطلاح اطلاق پرې نشي کيدې.

﴿ذَٰلِكَ﴾ مشار اليه تقديم صدقه ده ﴿خَيْرٌ لَّكُمْ﴾ ځکه چې فانی په بدله کښې باقی اجر ميلاويږی، ﴿وَأَطْهَرُ﴾ زړه پاکي ذريعه ده، ځکه چې باربار صدقه ورکولو سره مال سره محبت کښې کموالی راځي او زړه دَدنيا محبت نه پاکيږی.

﴿فَإِن لَّمْ تَجِدُوا﴾ اول صورت کښې دې رخصت موجود وو. چې کوم صاحب استطاعت وو هغوئ خو ددې حکم مخاطب وو خو غريبانان وو نو هغه ترينه مستثني وو جزاء دَ شرط محذوفه ده چه «فلا عليکم» يعنی که ستاسو طاقت دَصدقی نه وی نو په تاسو هيڅ ګناه نشته.

﴿فَإِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ﴾ دَمحذوفی جزاء علت دې، او قائم مقام دَجزا ګرځولي شوي دي. «روح».

«(اشفقتم ان تقدموا)» دې کښې د ماقبل حکم«صدقې» کښې تخفيف بيان دې، حضرت تهانوي رحمه الله ليکي چې ځنو مسلمانانو باندې مخکښنې حکم شاق وو، ځکه چې نه هغوئ ډير مالداره وو چې صدقه ئي ورکولې او نه ډير غريبانان وو چې رخصت دائره کښې شمار وي نو هغوئ د سرګوشئ نه بالکل منع شو، نو دې آيت کښې دا قسم کسان اصل

مخاطب دي،(بيان القرآن بتصرف) استفهام توبيخي دي. يعني تاسو سره د صدقې کولو د وجهې نه د فقر خوف وو چې تعميل ئي درته گران شو؛ ﴿فَإِذْ لَمْ تَفْعَلُوا﴾خو خير چې کله درنه دې حکم تعميل اونشو ﴿وَتَابَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ﴾الله تعالی ته خو رجوع اوکړه نو الله تعالی درباندې نظر کرم اوکړو او رخصت ئې درکړو دَ مناجاة دَ رسول ﷺ بغيردتقديم دَصدقى نه ، نواوس دَدى دَتدارک دپاره اقامت دَصلاة کوئ او ايتاء دَزکوة کوئ اوپه هرکارکښ دَالله تعالی اودَهغه دَرسول اطاعت کوئ.

اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ تَوَلَّوْا قَوْمًا غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ
آياته نه گوری هغه خلقوته(منافقانو ته)چه دوستی کوی دَهغه قوم سره چه غضب کړيدې الله تعالی په هغوئ.
مَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلَا مِنْهُمْ وَيَحْلِفُوْنَ عَلَى الْكَذِبِ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ ﴿١٤﴾
ندی هغوئ(منافقان)ستاسونه اونه دَهغوئ(يهوديانو)نه اوقسم کوی په درغواوحال داحه دوئ پوهيږی(پخپلودرغو)
اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيْدًا ۚ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿١٥﴾
تيارکړيدې الله تعالی دوئ دپاره عذاب سخت،بيشکه دوئ ډيربددی هغه عملونه چې دوئ يې کوی
اِتَّخَذُوْٓا اَيْمَانَهُمْ جُنَّةً فَصَدُّوْا عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُمْ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ﴿١٦﴾
نيولی دی دوئ قسمونه خپل ډال بيا(خلق) منع کوي دوئ دَلاری دَالله تعالی نه نو دوئ لره عذاب دې سپکونکې.

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ تَوَلَّوْا﴾دې آياتونو کښ منافقينو ته د هغوئ **يو بل خباثت** باندې زجر دې. منافقانوبه دَ دنيوی منافعو او وقتی مصالحو په بناء ظاهراً دَ اسلام دعوه کوله،او باطناً دَ يهودو سره ملګری وو،دَمسلمانانو رازونه به ئی هغوئ ته رسول، او کله به چې مسلمانانو ته دَ داسې يو کار پته اولګيده نو بيا خپلې صفائي او خلوص ثابتولو د پاره د دروغو قسمونه خوړل .((الذين تولوا)) دينه مراد منافقان دي ﴿قَوْمًا غَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِم﴾ دينه مراديهود دی لقوله تعالى:من لَعنهُ الله وغضبَ عليه(مائده: ٦٠)﴿مَّا هُم مِّنكُمْ وَلَا مِنْهُمْ﴾يعنى دامنافقان

نه پوره ستاسو سره دي او نه هغوئ(يهودو)سره، بلکه مذبذب دي لکه په سورة نساء(۱۴۳)کښې ذکردي

﴿وَيَحْلِفُونَ عَلَى ٱلْكَذِبِ﴾دَ دروغونه مراد دعوه دَ اسلام . مسلمانو خلاف پټو سازشونو نه براءت ، اسلام سره د وفادارئ اظهار او نبي ﷺ پسې بد رد نه وئيل وغيره امور دي .

﴿وَهُمْ يَعْلَمُونَ﴾ حال دې دَفاعل دَ﴿وَيَحْلِفُونَ﴾نه يعنى دوئ ته خه پته وي چې دروغ او خلاف حقيقت خبره کوو

﴿أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُمْ عَذَابًا شَدِيدًا﴾دا ئي د سزا بيان دې چې الله ﷻ دوئ له په آخرت کښې سخت عذاب تيار کړې دې.

﴿ ٱتَّخَذُوٓا۟ أَيْمَـٰنَهُمْ ﴾ دا د **منافقينو بل خباثت** بيان دې ، چې دوئ دا د دروغو قسمونه ځان دپاره سپر ګرځولي دي چې کله مؤمنانو ته د دوئ اسلام د شمني پته نو دوئ بيا قسمونه خوري او ځان مؤمنان حسابوي ،کله چې مؤمنان د دوئ په قسمونو اعتماد اوکړي نو بيا دا نه کوي چې نور د خپل خباثتونو نه بس کړي او په صدق ايمان راوړي بلکه هغه شان په کفر قائم وي او اسلام دپاره رکاوټونو جوړه وي ، ' ايمان' جمع دَ 'يمين' ده پمعنى دَقسم،يعنى لکه ځرنګه چه په ډهال سره سرې دَدشمن دَحملې نه محفوظ وی،دغه شان دوئ خپل درغو قسمونه دَ مسلمانانو دَ تورو نه دَ حفاظت دپاره ډهالونه ګرځولی دی،خپل ځانونه اومالونه پرې محفوظ کوی.﴿فَصَدُّوا۟ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾ فاء تفريعيه ده ، 'صدوا' لازمى اومتعدى دواړه استعماليږي ، يعني دې دورغو قسمونو په وجه ئي ځان هم د الله ﷻ لارې نه منع کړو او نور خلق د اسلام نه منع کوي ، چې په دروغه ورته د اسلام يو بد شکل پيش کوي او هغوئ د اسلام راوړلو لاره کښې رکاوټ جوړيږي.

لَّن تُغْنِىَ عَنْهُمْ أَمْوَٰلُهُمْ وَلَآ أَوْلَـٰدُهُم مِّنَ ٱللَّهِ شَيْـًٔا ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ
هرګزبه نکړی دفع دَدوئ نه مالونه دَدوئ اونه اولادونه دَدوئ «دعذاب» دَالله ﷻ نه هيڅ څيز،دغه کسان
أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿١٧﴾ يَوْمَ يَبْعَثُهُمُ ٱللَّهُ جَمِيعًا
اور والادی ،دوئ به وی په هغی کښې هميشه ،په هغه ورځ چه راپورته کړی دوئ الله ﷻ ټول

فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ كَمَا يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ
نوقسمونه به خوری الله جَلَّ جَلَالُهُ ته لکه چه قسمونه خوری تاسوته اوگمان به کوی چه دوئ په څه خیرباندی دی.
اَلَآ اِنَّهُمْ هُمُ الْكٰذِبُوْنَ ﴿۱۸﴾ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ فَاَنْسٰهُمْ
خبردارشئ!چه بیشکه دوئ هم دوئ دروغژن دی،غلبه موندلی ده په دوئ شیطان پس هیرئی کړو د دوئ نه
ذِكْرَ اللّٰهِ ؕ اُولٰٓئِكَ حِزْبُ الشَّيْطٰنِ ؕ اَلَآ اِنَّ حِزْبَ الشَّيْطٰنِ
ذکر(یاد)دالله جَلَّ جَلَالُهُ،دغه کسان ډله دشیطان ده،خبردارشئ،بیشکه ډله دشیطان
هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۹﴾
هم دوئ زیان مندی دی.

﴿ لَنْ تُغْنِيَ عَنْهُمْ ﴾دی آیاتونو کښې منافقانوته تخویف دې چه دوئ مال او اولاد په وجه نن پوره پوره په اسلام کښې نه داخلیږي ، خو دغه مال اولاد به ورله بیا قیامت په ورځ هیڅ فائده هم ورنکړي ﴿ مِنَ اللّٰهِ ﴾ای من عذابه.

﴿يَوْمَ ﴾متعلق دې دَ﴿ لَنْ تُغْنِيَ ﴾سره ،﴿ فَيَحْلِفُوْنَ لَهٗ ﴾ دیکښې د دوئ نفاق شدت بیان دې ، چې دا نفاق او دروغ وئیل او دروغو قسمونه خوړل د دوئ رګ او روح کښې پیوست شوی دی ،دا صرف د دنیا خبره نه ده آخرت کښې به هم دوئ دروغ وائي او صرف تاسو سره ئي دا معامله نه ده بلکه الله جَلَّ جَلَالُهُ چې علیم بالسرائر دې هغه په مخکښې به د دروغو قسمونه خوري.

﴿وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ ﴾دَ شيئ نه مرادجلب منفعة،اودفع مضرة دې یعنی دوئ به ګمان کوی چه لکه څرنګه مونږته په دنیاکښې په دی دروغوقسمونوسره نفع میلاویدله نن په آخرت کښې به هم میلاؤشی.

﴿ اِسْتَحْوَذَ عَلَيْهِمُ الشَّيْطٰنُ ﴾ای غلبَ علی عقولهم،استحواذ دَحوذ نه دې ، په یو څیز داسې غلبه او قدرت د تصرف حاصلولو ته وائي چې هغه شې بیا د خپل اختیار پاتې نشي ، او چې څه پرې کول غواړې هغه پرې کوي ، نو مطلب دا دې چې دوئ په عقلونو شیطان قبضه

کړې ده ، او د الله ﷻ ذکر نه ئې غافله کړې نو ځکه داسې د بې وقوفئ خبرې کوي ، کنې الله ﷻ نه به څوک څه پټ کړي ﴿أُولَـٰئِكَ حِزْبُ الشَّيْطَانِ﴾ يعنى منافقان دَشيطان لښکردې اودَهغه اَتباع دی اودَشيطان لښکراواتباع په کامله خساره کښې دی،ځکه چه دوئ دآخرت ابدی نعمتونونه ځانونه محرومه کړل اودَهغې په بدله کښې ئې عذاب اليم واغستلو.

إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أُولَـٰئِكَ فِي الْأَذَلِّينَ ⑳
بېشکه هغه خلق چه مخالفت کوی دَالله ﷻ اودَرسول دَهغه دغه خلق په ډيروذليل شوؤکښې دی
كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي ۚ إِنَّ اللَّهَ
ليکلی دی (فيصله ئې کړې ده) الله ﷻ چه خامخا به غالبه کيږم زه اورسولان زما،بېشکه الله ﷻ
قَوِيٌّ عَزِيزٌ ㉑
ډيرقوی دې ښه غالب دې

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحَادُّونَ اللَّهَ ﴾دازجراوتخويف دې کافرانو،منافقانوته،اوتعليل دې دَماقبل،چه حزب الشيطان ځکه په کامله خساره کښې دې چه کوم خلق دَالله ﷻ اودَهغه دَرسول دَاحکاماتونه مخالفت کوی هغه ناکامه،سپک اوذليله دی الله ﷻ په لوح محفوظ کښې دغه فيصله کړېده چه حق اوصداقت ته به غلبه وی.﴿كَتَبَ اللَّهُ﴾اهلِ اسلام دپاره دَغلبې بشارة دې ای اثبت فی اللوح المحفوظ،يا"کتب"پمعنی دَقضیٰ وحکم سره دې.

لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ
اوبه نه مومې ته داسې قوم چه ايمان راوړی په الله ﷻ اوپه ورځ دآخرت چه دوستی به کوی دَهغه چاسره
حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ
چه مخالفت کوی دَالله ﷻ اودَرسول دَهغه اګرکه وی دامخالفين پلاران دَدوئ ياځامن دَدوئ ياورونړه دَدوئ

أَوْ عَشِيرَتَهُمْ ۚ أُولَٰئِكَ كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ الْإِيمَانَ

یانورخپلوان دَدوئ،قوم قبیله،دغه خلق راسخ کړي دي الله جل جلاله په زړونودَدوئ کښ ایمان

وَأَيَّدَهُم بِرُوحٍ مِّنْهُ ۖ وَيُدْخِلُهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا

اوقوی کړی ئی دی دوئ په مددسره دَخپله طرفه،اوداخله وی به دوئ جنتونه چه بهیږی به دَلاندی دَهغی نه

الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ۚ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ

نهرونه همیشه به وی په هغی کښ،راضی شویدي الله جل جلاله دَدوئ نه اودوئ راضی دی دَالله جل جلاله نه.

أُولَٰئِكَ حِزْبُ اللَّهِ ۚ أَلَا إِنَّ حِزْبَ اللَّهِ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴿٢٢﴾

دغه خلق ډله دَالله جل جلاله ده،خبردارشئ!بیشکه ډله دَالله جل جلاله هم دوئ کامیاب دی

﴿لَا تَجِدُ قَوْمًا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾ دی آیاتو نو کښ ترغیب دي مؤمنانوته چه دامناسبه نه ده چه مؤمنان دی دَهغه خلقوسره دوستی اوکړی چه هغه دَالله جل جلاله اودَهغه دَرسول دشمنان دی، اګرکه هغه ئی پلاران،رونړه،ځامن یائی دَقبیله وی.

دصحابه کرامو زندګی دَقرآن مجید د دې آیت عملی تفسیر دي،حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته یوورځ خپل ځوی اوئیل چی باباجان! ته په جنګ کښې ځو ځو ځله ځما توري لاندې راغلي ، خو ماخپله توره اوچته کړه،حضرت ابوبکر رضی الله عنه ورته اوئیل:بچیه کچرته ته یوځل هم ځما تورې لاندې راغلې وې نومابه ستاسر قلم کړې وو.

امین الامت حضرت ابوعبیده بن جراح رضی الله عنه بدر په میدان کښ خپل پلار قتل کړې وو،مصعب بن عمیر رضی الله عنه خپل وړور عبید بن عمیر قتل کړي وو،حضرت عمر رضی الله عنه خپل ماما عاص بن هشام قتل کړي وو،حضرت حمزه رضی الله عنه ،حضرت علی رضی الله عنه ،اوحضرت عبیده بن حارث رضی الله عنه خپل تره ځامن اوقبیلی افراد عتبه،شیبه،اوولید بن عتبه کړي وو. دې حضراتو ته ټولو نه عزیز دَ الله جل جلاله دین وو،اوهغې په مقابله کښ به ئې د لومة لائم پرواه نه کوله،نن مونږه یو چې قومیت ، مفاد پرستی اومصلحت پرستی دپاره مو په دین کښ څه څه لوبې اونکړی،اوالحب في الله و البغض في الله خصلت نن زمونږ دَ معاشرې نه عنقاء دې.

«لاتجدون قوما يؤمنون بالله » مؤمنانو نه يا کامل مؤمنان مراد دي . نو دې صورت کښې دا د واقع بيان دې، چې چرته به هم تا ته يو کامل مؤمن داسې ميلاؤ نشي چې هغه د الله ﷻ دشمنانو سره محبت ساتي، او يا مطلق مؤمنان مراد دي ، نو دې صورت کښې بيا دا د واقع بيان نه دې ، بلکه مبالغه في النهي ده ،يعني پکار دا ده چې د ايماني غيرت دا کيفيت وي چې چرته هم يو مسلمان د کافر ملګرې او نه موندلې شي

«يوادون» مودت نه مراد دلته موالات دې ،چې کافر سره ئې نفع او نقصان يو شي او دين ته پکښې ثانوي حيثيت ميلاؤ شي ، نو د دې نه منع راغلې ده ، د کافر سره کوم قسم تعلق ساتلې شي او کوم قسم نه ،نو د دې تفصيل په سورت آل عمران کښې تير دې ، هلته رجوع اوکړئ

﴿ مَنۡ حَآدَّ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ ﴾مرادورنه کافردې،بعض وائی فاسق ته هم شامل دې،ځکه دکافرانوپه شان دَفاسقانوسره دَدوستئ نه هم منع راغلې ده.﴿أُوْلَٰٓئِكَ ﴾اشاره ده هغوته چه دکافرانو ،فاسقانوسره دوستئ نه کوی،﴿كَتَبَ فِي قُلُوبِهِمُ﴾ای اثبته الله تعالی.

﴿وَأَيَّدَهُم بِرُوحٖ مِّنۡهُ ﴾منه ضميرراجع دې الله ﷻ ته،اودَروح نه مراددَزړه نور دې، الله ﷻ خپلوبندګانو کښې چه چاته اوغواړی هغه په زړه کښې ئی اچوی چې دَهغی په ذريعی سره ورته اطمينان ميلاويږی«روح» بعض وائی روح القدس،جبرئيل عليه السلام ورنه مراددې«والله اعلم».

﴿وَيُدۡخِلُهُمۡ جَنَّٰتٖ تَجۡرِي ﴾يعنی چه کله دی اولينوصحابوْدَايمان په بنياددَالله ﷻ دَ دشمنانو سره دشمنی اوکړه حتّی چه خپل اقارب ئی پخپلولاسونوقتل کړل،نودَدی په بدله کښې به الله ﷻ دوئ جنتونوته داخله وی چه دوئ به په هغی کښې هميشه وی،الله ﷻ دَدوئ نه راضی شواودوئ دَالله ﷻ نه راضی شول،هم دغه خلق دَالله ﷻ لښکردې چه په دنيااوآخرت کښې کامياب دی،فرضی الله عنهم ورضواعنه،اللّهم ارزقناحبّهم واتباعهم.

ركوعاتها (٣)	سورة الحشر مدنية	آياتها (٢٤)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٥٩) وحسب النزول (١٠١)

نزلت بعد البينه و قبل النور

ربط : (١)داسورة هم دَسورة حديدپه مضمون ثاني يعني ترغيب الى القتال في سبيل الله باندې متفرع دې مخکښې سورة مجادله کښې بدترين قسمه منافقانوباندې زجرونه وو،دې سورة کښې على سبيل التنزل کمې درجې منافقانو باندې زجرونه ذکر کيږي.

(٢)مخکښنې سورت کښې دَ الله ﷻ او ذ هغه رسولانو د غلبې اوکافرونو رسوائی اعلان وو. ان الذين يحادون الله ورسوله اولئک في الاذلين کتب الله لاغلبن اناورسلي ، دې سورت کښې دَ دغه اعلان عملی نمونه ذکر کيږي چې هغه دَبنو نضير اومنافقينو رسوائی اوذلت دې.

دسورة دَمضامينواجمالي خلاصه

په ابتداءکښې دعوه دَتوحيدده،بياتخويف دنيوى دې يهودوته بياتقسيم دَمال فئ دې،بيازجرونه دى منافقانوته،په آخرکښې دَتوحيد دعوه سره دَدلائلو.

تفصيلي خلاصه:

﴿سَبَّحَ لِلّٰهِ﴾آيت(١)دَعوه دَتوحيدده چه دااصل مقصودى دعوه ده.

﴿هُوَ الَّذِيٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ﴾آيت(٢)نه ترآيت(٥)پورى دَتخويف دنيوى نمونه ده،چه يهوديانو ته الله ﷻ څنګه سزاورکړه

﴿وَمَآ اَفَآءَ اللّٰهُ ﴾ آيت(٧)نه ترآيت(١٠)پورې دَمال فئ تقسيم طريقه ده.

﴿اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ﴾آيت(١١)نه ترآيت(١٧)پورې منافقانو ته زجرونه دى.

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ﴾آيت(١٨)نه ترآيت(٢١)پورى منافقانوته زجردې اومؤمنانوته ترغيب دې دَقتال.

﴿هُوَ اللّٰهُ الَّذِىْ لَآ اِلٰهَ﴾ آيت (۲۲) نه تر آخره پورې اعاده د دعوی ده.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ ۚ وَهُوَ

پاکي بيانوي الله جل جلاله ته هرهغه څه چه په آسمانونو کښې دي او هرهغه څه چه په زمکه کښې دي. او هغه

الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ① هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

غالب دې ډېر حکمتونو والا دې الله جل جلاله هغه ذات دې چې وئ ويستل هغه خلق چه کفريې کړي وو

مِنْ اَهْلِ الْكِتٰبِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِاَوَّلِ الْحَشْرِ ۚ مَا ظَنَنْتُمْ

د اهل کتابونه (يعنی بنی نضير) د کورونو خپلونه په وخت د اولي جلا وطنئ. گمان نه کوؤ تاسو (اې مؤمنانو)

اَنْ يَّخْرُجُوْا وَظَنُّوْٓا اَنَّهُمْ مَّانِعَتُهُمْ حُصُوْنُهُمْ

دا چه اوبه وځی دوئ او گمان کولو دوئ چه بيشکه منع کونکی (حفاظت کونکی) د دوئ دی قلاگانی د دوئ

مِّنَ اللّٰهِ فَاَتٰىهُمُ اللّٰهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوْا ۚ وَقَذَفَ

د عذاب د الله نه، پس راغلو دوئ ته عذاب د الله جل جلاله د هغه ځائ نه چه گمان هم نه کوؤ دوئ او واچولوئی

فِيْ قُلُوْبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُوْنَ بُيُوْتَهُمْ بِاَيْدِيْهِمْ وَاَيْدِي الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

په زړونو د دوئ کښې رُعب، ورانول ئی کورونه خپل په لاسونو خپلو سره او په لاسونو د مؤمنانو سره،

فَاعْتَبِرُوْا يٰٓاُولِي الْاَبْصَارِ ②

پس عبرت واخلئ تاسو اې خاوندانو د عقلونو

﴿سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ دا دعوه د توحيد ده، چه د کائناتو هرڅيز د الله جل جلاله پاکی بيانوی قولاً يا حالاً، نو تاسو ئی هم پاکی بيان کړئ او د شريک نه ئی منزه اوگڼړئ.

﴿هُوَ الَّذِيْٓ اَخْرَجَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ دا د تخويف دنيوی نمونه ده، چې الله جل جلاله باندې ايمان نه راوړئ، کني انجام به مو داسې وي لکه چې د بنو نضير وو. د ﴿الَّذِيْنَ كَفَرُوْا﴾ نه مراد بنی

نضير دی، اودی آیاتونوکښې **غزوهٔ بنی نضیر** طرف ته اشاره ده.بنی نضیر دَ یهودو مشهوره قبیله وه، سبب دَدې غزوې داوؤچه بئر معونه په موقع باندې چې کوم اویا(۷۰)صحابه کرام شهیدان شوی وؤ،هغوئ نه عمروبن امیه ضمری بچ شوي وؤ. دې مدینې ته راروان وؤ په لار کښې ورته بنو عامر دوه کسان مخی ته راغلل، او د ده گمان داؤو چې دا غداری مونږ سره بنو عامر اوکړه ، نو ده هغه کسان قتل کړل او مدینې ته چې رااورسیدو نو نبی ﷺ یی ده دینه خبر کړو ،دَبنی عامر دَحضورﷺسره دَصلح معاهده وه، او حقیقت کښې هغوئ عهد شکنی هم نوه کړې. نو ځکه بنی عامرته ئی دَدیت ورکولو اراده اوکړه، بنی نضیر چونکه دَ مسلمانانو حلیف وؤ نوپه دې وجه دَدیت څه حصه په دوئ ورکول هم لازم وؤ ،نو په دې غرض حضورﷺ دَ بنو نضیر خوا ته تشریف یوړلو ،یوڅوصحابه کرام هم ورسره وؤ ،هلته دَدیوال سوری لاندې کیناستل، بنونضیروورسره دَاعانت وعده اوکړله،لیکن دَیوبل سره ئی مشوره اوکړه چه دَ حضور ﷺ دَ قتل کولوښه موقع ده،یوکس دی چهت ته اوخیجی اودَبری نه دی یوه درنه غټه گټه په ده باندی رااوغورځوی نو دې به مړه شی،په دی کښې وخت نه وؤ تیر، چه جبرئیل علیه السلام وحی راؤړله اوحضورﷺئی دَدوئ دَمنصوبی نه خبرکړو،حضورﷺفوراًدَځپل ځائ نه داسې راپاسیدلو لکه دَضرورت دپاره چه څوک راپاسی،واپس مدینې ته راغې،صحابه کرام ئی دَ دوئ دَغدارئ نه خبرکړل اودَحملی حکم ئیورباندی اوکړو،بنونضیرته ئی اطلاع اوکړه چه ستاسو دَ غدارئ په وجه اوّس زمونږاوستاسومینځ کښې عهدباقی نه دې،لهذاتاسوته لس (۱۰) ورځې مهلت دی چې په دی کښې دا خالی کړئ،ځپل اهل وعیال اوسامان چه څومره وړلې شئ هغه هم ځان سره یوځئ اوجلاوطن شئ،دوئ دَجلاوطن کیدلو اراده اوکړه لیکن دَ منافقانو سردارعبدالله بن ابی منع کړل چه مه ځئ مونږه تاسوسره یو ،دَمسلمانانوپه مقابله کښې کلک شئ که چری تاسواوویستلې شوئ دَوطن نه نومونږبه هم درسره اوځو،اوکه مسلمانانو درسره جنگ کولونومونږبه موملګرتیاکوؤ(ورستوپه دویمه رکوع کښې دَدی ذکردې) په دی خبره بنی نضیردهوکه شول اودَجلاوطن کیدلونه ئی انکاراوکړواوجنګ ته تیار شول، حضورﷺعبدالله ابن مکتومﷺدَمدینی عامل مقررکړواوبنی نضیرطرف ته روان شولو ، بنی نضیرپخپلو قلعوکښې داخل شول،حضورﷺدَدوئ محاصره اوکړله،یومنافق ئی هم مدد ته رانه غلو ،دوئ ورنه هم نااُمیده شول،حضورعلیه السلام صحابه کراموته دَدوئ دَباغونو دَ ونو قطع کولو او سیزولو حکم اوکړو. آخر دوئ تنګ شول او جلاوطن کیدل ئی منظور کړل، حضورﷺورته حکم اوکړوچه څومره سامان بغیردَسامان جنګ نه چه اوړلې شئ هغه یوځئ،

دوئ رااووتل څوک خیبرته لاړل ځوک بل ځوا، او دَ مال دَحرص په وجه ئی دَ خپلو کورونو دروازی ، چوکاټونه وغیره رااوباسل ځان سره ئي یوړل، ﴿يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ﴾ کښې دیته اشاره ده، دَدوئ دَتللونه ورستوحضورﷺ دَدوئ مالونه په مهاجرینوباندی تقسیم کړل، چه ورستوئی ذکرراځی.

﴿لِأَوَّلِ ٱلْحَشْرِ﴾ لام دَتوقیت دَپاره دي، (۱) "حشر" معنی یا جلاوطنی ده یعني دَ دوئ دا اوله جلا وطني ده ، دینه مخکښې دوئ چرته وطن بدرکړي شوی نه وؤ، بخلاف دَنورو یهودو ، چې هغوئ بخت نصر بادشاه جلاوطن کړی وؤ. یامطلب دادي چې دادَدوئ اول ځل جلاوطنی ده ، دینه بعد به یوځل بیاهم وطن بدر کیږی، لکه حضرت عمر ﷺ دور کښې دوئ دَخیبر نه شام طرف ته جلاوطن کړي شوی وؤ، (۲) یا حشر دلته دَ جمع پمعنی کښې دي اومراد ترینه جنګ دپاره جمع کیدل دی، یعنی الله ﷻ ورته دَجنګ په اول وهله کښې شکست ورکړو . او جلاوطنئ باندی آماده شول.

﴿مَا ظَنَنتُمْ أَن يَخْرُجُوا۟﴾ یعنی دَبنی نضیرودَبهادرئ، اوقوت اودَ کثرت اسبابو په وجه مسلمانانو هم دا خیال نه وؤچه دوئ به جلاوطن کړې شی، اودَدوئ هم داګمان وؤچه زمونږ مضبوطی قلعی به مونږدَالله ﷻ دَعذاب نه بچ کړي اومانع به اوګرځی.

﴿مِّنَ ٱللَّهِ﴾ ای من عذاب الله ﴿فَأَتَىٰهُمُ ٱللَّهُ﴾ یعنی عذاب اوفیصله دَالله ﷻ، دَجمع ټول مذکوره ضمیرونه بنی نضیروته راجع دی.

﴿مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا۟﴾ حیث ظرف مکان دي او دلته ترینه مراد د مسلمانانو جهت دي، چه دَبی سروسامان مسلمانانو دَلاسه جلاوطن کړې شول حالانکه دادوئ ګمان هم نه وؤ چه زمونږ په شان خلق به د داسي بې سروسامانه خلقو د لاسه جلاوطن کړي شی،

«وقذف في قلوبهم الرعب» دا تفصیل دي د الله ﷻ د عذاب ، چې الله ﷻ دَ دوئ په زړونو کښې دَ مسلمانانو رعب واچولو. ﴿يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُم بِأَيْدِيهِمْ﴾ یعنی دَحرص په وجه ئی کورونه خپل ورانول چه لرګی، چوکاټونه، دروازی دَځان سره یوځی (لکه مخکښې تیرشول) اودغه رنګه چه زمونږدَتللونه ورستو دَمسلمانانولپاره دَاستعمال قابل پاتی نه شی.

﴿وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ﴾ مؤمنانو دَبهرنه ورته کورونه ورانول لپاره ددی چه رُعب پری راشی اونیول ئی اسان شی، اودغه شان نوره صدمه ورته اورسی، دمسلمانانو دتخریب نسبت هم هغوئ ته اوشوځکه چه هغوئ سبب دَتخریب وؤ، ځکه چه عهدشکنی اودهوکه ئی کړی وه، نوداپه اصل کښې سبب طرف ته اسنادشویدې(کشاف، تهانوی رحمه الله).

﴿فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾ یعنی دوئ پخپلوقلعواوطاقت باندی اعتمادوؤ، الله ﷻ ورته سزا ورکړه نوتاسوهم دَدوئ دَانجام نه عبرت واخلئ دَالله ﷻ نه ماسوئ په بل څیزباندې اعتماد مه کوئ، فقهاؤو دا آیت دَقیاس دَحجیت لپاره دلیل ګرځولې دې، تفصیل په کتب د اصول فقه کښې ملاحظه کړئ.

وَلَوْلَا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ عَلَيْهِمُ الْجَلَاءَ لَعَذَّبَهُمْ فِي الدُّنْيَا
اوکچرته نه وی مقررکړې الله ﷻ پدوئ باندی جلاوطنی نوخامخاعذاب به ئې ورکړې وې دوئ ته په دنیاکښې
وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ (3) ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ شَاقُّوا اللَّهَ
اودوئ دپاره دې په آخرت کښې عذاب دَاور، داسزاپوجه دَدی چه بیشکه دوئ مخالفت کړې وؤدَالله ﷻ
وَرَسُولَهُ ۖ وَمَنْ يُشَاقِّ اللَّهَ فَإِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (4)
اودَرسول دَهغه، اوڅوک چه مخالفت کوی دَالله نوبیشکه الله ﷻ سخت عذاب ورکونکې دې
مَا قَطَعْتُمْ مِنْ لِينَةٍ أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً عَلَىٰ أُصُولِهَا
هغه چه پرې کړی دی تاسو، دَ اونودکجوررونه یاپریخی دی تاسوهغه اونی ولاړی په بیخونوخپلو
فَبِإِذْنِ اللَّهِ وَلِيُخْزِيَ الْفَاسِقِينَ (5)
نوداتول په اجازت دَالله سره دی، اوچه رسواکړی فاسقان

﴿وَلَوْلَا أَنْ كَتَبَ اللَّهُ﴾ دا جمله معترضه ده او دې کښې سبب د عذاب بیانیږي، چې چونکه دوئ د الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ مخالفت کړې دې نو ځکه په دنیا کښې په دوئ باندې عذاب راتلل لازمي وو، او هغه عذاب ورله الله ﷻ د جلاوطنئ په صورت کښې ورکړو ، او

کچرته دا عذاب نه وي نو بل عذاب به پرې راغلی وي . قتل او قيد کړې شوي به وو . لکه بدر په موقع باندې قريش او غزوه خندق نه ورستو د بنو قريظه چې کوم انجام وو. خو بهر حال د الله عذاب په دوئ دنيا کښې راتلل لازمي وو. ځکه چې «بانهم شاقوا الله ورسوله» دوئ خالص عناد او ضد په وجه مخالفت کړې دې. ﴿وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابُ النَّارِ﴾ يعني صرف د دنيا په عذاب اکتفا نه ده بلکه آخرت کښې د دوئ استوګنه جهنم دې

﴿مَا قَطَعْتُم مِّن لِّينَةٍ﴾مفسرين وائي چه دادیهودو دیوی طعنی اواعتراض جواب دې،چه کله بنو نضير د تسليم کيدو نه انکار اوکړو او قلعه بند شو نو نبي کريم ﷺ مسلمانانو ته د دوئ اونې او باغات سوزولو حکم اوکړو،نو مسلمانانو د "بويره" مقام کښې د دوئ باغات سوزول شروع کړو نو دوئ دا اعتراض اوکړو چې اونی قطع کول اوسيزه ول خو فساد دې. پخپله فساد کوئ او مونږ ورنه منع کوئ، نوجواب اوشو چې دا فساد نه دې. ځکه چې ددې حکم الله ﷻ ورکړې دې او کوم شي حکم چې الله ﷻ ورکړي هغه فساد نه وي .﴿مِّن لِّينَةٍ﴾ "من" بيانيه دې دَ﴿ مَا قَطَعْتُم﴾ بيان کوی. «لِينَةٍ»عمده کجوری اُونی ته وائی. عرب سوا د عجوه او برني کهجورو نه، نور هر قسم کهجورې وني ته "لينه" وائي. او ميوې ته ئي "لون" وائي. په اصل کښې "لِوْنَةٌ" دې،واؤماقبل مکسورپه ياء سره بدل شوي دې «التحرير والتنوير»

﴿أَوْ تَرَكْتُمُوهَا قَائِمَةً﴾ جواب اګرچې «ما قطعتم» سره پوره شو ،خو د دې راوړلو کښې نکته دا ده چه څنګه چه کهجورې نه کټ کول فساد نه دې نو دغه شان کټ کول ئي هم فساد نه دې ، ځکه چې دَ دې حکم الله ﷻ کړې دې ، او دغه شان ديکښې مسلمانانو ته تسلي ده. ځکه چې کله دوئ ته د باغونو کټ کولو حکم اوشو نو ځنې مسلمانانو عمده او غير عمده هر قسم کهجورې کټ کړې ،چې يهودو غيظ وغضب نور هم زيات شي او ځنو عمده کهجورې پريخودلي او غير عمده اونې ئي کټ کړې ، ځکه چې دا هسې هم مسلمانو لاس ته را رواني دې، نو بيا دواړو فريقينو سره وسواس شو چې مونږ څه اوکړو دا مو خه اوکړو او که نه ؟ نو الله ﷻ ورته اوفرمائيل چې دواړه کاره کول صحيح دی.که مو پريخولي نو بيا هم دَ دوئ ذلت دې، ځکه چې دَدوئ عمده عمده باغونه اوفصلونه مسلمانو قبضې ته لاړ شی اوهغوی به ترینه فائده اچتوی،او دوئ چې دا وينی نو نور به سوزی اوغم وغصه کښ به مبتلا کيږی، او

چا چې دا باغونه کټ کړل او اوسېزل ئې، هغوئ هم خه کړي دي خکه چې ديکښې هم دَدې
يهوديانو ذلت اورسوائي ده، چې دوئ ټول عمر محنت نن دَدوئ په مخ کښې په اورکښې دُود
کيږي، اودوئ سوا دَ حسرت نه نور هيڅ نشي کولي.

﴿ فَبِإِذْنِ ٱللَّهِ ﴾جواب شرط دي. او ﴿ مَا قَطَعْتُم ﴾شرط دي او﴿وَلِيُخْزِيَ ٱلْفَٰسِقِينَ ﴾ علت دي دَ
"اذن" او عطف دي په مقدرباندى اى ليعزّالمؤمنين يعنى الله ﷻ دي اجازت درله خکه درکړو چه
مسلمانانو ته عزت ورکړي او فاسقان (بنى نضير)رسوااوذليله کړي.

وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْهُمْ فَمَآ أَوْجَفْتُمْ عَلَيْهِ مِنْ خَيْلٍ
اوهغه مال چه ورکړې دې، الله ﷻ رسول خپل ته دَ کافرانو نه، نونه دی زغلله ولی تاسوپه هغی باندی هيڅ اسونه
وَلَا رِكَابٍ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ يُسَلِّطُ رُسُلَهُۥ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ ۚ وَٱللَّهُ
اونه اوښان ليکن الله ﷻ مسلط کوی خپل رسولان په هغه چا چه ئې خوښه شي،اوالله ﷻ
عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ قَدِيرٌ ۝٦ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنْ أَهْلِ ٱلْقُرَىٰ
په هر شيزباندی قادردې.هغه مال چه ورکړې دې الله ﷻ رسول خپل ته دَ کلو والا نه
فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَٰمَىٰ وَٱلْمَسَٰكِينِ وَٱبْنِ ٱلسَّبِيلِ
نودادَالله دپاره دې اودَرسول دپاره دې اودَپاره دَخپلوانودَرسول دې،اويتيمانواومسکينانواومسافرودپاره دې،
كَىْ لَا يَكُونَ دُولَةًۢ بَيْنَ ٱلْأَغْنِيَآءِ مِنكُمْ ۚ وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ
دپاره دَدی چه نشی دامال ګرزيدونکي په مينځ دَمالداروستاسوکښې،اوهغه خه چه درکړی تاسوته رسول ﷺ
فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟ ۚ وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۖ
نواخلئ هغه،اوهغه خه چه منع کوی تاسو(رسول الله)دَهغی نه نومنع شئ (دَ هغی نه)،او اويريږئ دَ الله نه
إِنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلْعِقَابِ ۝٧ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ
بيشکه الله ﷻ سخت عذاب ورکونکي دې.(دغه مال فئ استحقاق دې) دَ فقيرانو هجرت کونکو . هغه

أُخۡرِجُوٓاْ	مِن	دِيَٰرِهِمۡ	وَأَمۡوَٰلِهِمۡ	يَبۡتَغُونَ	فَضۡلٗا	مِّنَ	ٱللَّهِ	وَرِضۡوَٰنٗا
چه ويستلی شوی	دی	دكورونوخپلونه	اومالونوخپلونه	طلب كوی	فضل	دالله		اورضاء
وَيَنصُرُونَ	ٱللَّهَ	وَرَسُولَهُۥٓۚ	أُوْلَٰٓئِكَ	هُمُ	ٱلصَّٰدِقُونَ ﴿٨﴾			
اومددكوی	ددين	دالله ﷻ اودرسول	دغه،دغه خلق	هم	دوئ	ريشتني	دی	

﴿ وَمَآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ مِنۡهُمۡ ﴾دبنی نضيرودجلاوطنئ نه ورستومسلمانانوته دهغوئ مالونه پاتی شول.نو اوس دهغی حکم اومصارف ذکرکیږی.روایت دي چه دبنی نضیرو د جلاوطنئ نه ورستو مسلمانانو مطالبه اوکړه چه ددوئ مالونه دی دمال غنیمت په شان په مونږ تقسیم کړې شی.نو داآیت نازل شوچه دامالِ غنیمت نه دې،دامالِ فئ دې چه ددی ټول مالکانه اختیار حضورﷺته دې،دحضورﷺ په مرضئ او فیصلی سره به د حضورﷺرشته دارانو یتیمانانو ، مسکینانو ،مسافرو ،باندی خرچ کولې کیږی،«روح،قرطبی»

فيء: رجوع ته وائی کقوله تعالی فان فاؤوا ،په دې وجه زوال نه ورستوسوری ته هم فيء وئیلې کیږی، ځکه چه دې وخت کښې سورې د هر څیز را واپس شی. په اصطلاح دفقه کښ مالِ فيء هغه دې چه دکافرانو نه صلحًاواغستلې شی یاورباندی رُعب راشی اوپاتې شی ورنه،اوکوم مال چه په غزا ،قتال سره واغستې شی هغه مالِ غنیمت دې چه حکم ئی په لسمی«۱۰»سپاری په ابتداء کښ شویدې،

فيء: کښې نبي کريم ﷺ اختيار مالكانه وو، او په آيت کښې مذكورو مصارفو کښې صرف کولو حکم داسې وو لکه چې عام سړي ته خپل مال کښې زكات، صدقات وركولو حكم دې، نبي کريم ﷺ د بکښې څه حصه د خپل اهل وعيال نان نفقې د پاره پريخوده او د هغوئ د کال خرچه به ئي ترينه پوره كوله، او ديكښې به چې هم كوم مال زياتي شو هغه به ئي د الله ﷻ په لاره کښې وركړو . او دينه علاوه نور ټول مال فيء به ئي الله ﷻ په لاره کښې لګوو ، نبي کريم ﷺ وفات نه ورستو د دې حيثيت د وقف شو او محل د ميراث نه وو چې اولاد او بيبيانو مينځ کښې تقسيم كړې شوې ، نبي كريم ﷺ نه بعد د دې اختيار د وخت حاكم سره دې خو دا اختيار صرف د تصرف دې ، مالكانه ، نه دې، هغه به ئي د مسلمانانو مصالح عامه کښې صرف كوي

((افاءالله)) دلته ((افاء)) د فيء نه دي ، خو اصطلاحي معنى په کښې ملحوظ ده ، لغوي معنى ئي نه ده ملحوظ، يعني دلته صرف د ورکولو معنى کښې استعمال شوې دې. د رجوع او واپسي معنى په کښې نشته ، ځکه چې دا ځمکې او مالونه دينه مخکښې مسلمانانو ملکيت کښې نه وو ، البته په داسې مال باندې فيء اطلاق او افاء لفظ سره تعبير کښې دي طرف ته اشاره ده چې کفار خپل مملوکه مال هم حق دارنه دي، بلکه مؤمنان يې حقدار دي ،هم دي وجهې نه مال فيء ته فيء ويلې کيږي،چې داخپل اصل مستحقينو ته واپس راشي.

﴿ فَمَآ أَوۡجَفۡتُمۡ عَلَيۡهِ ﴾ايجاف،سيرسريع ته وائي،﴿مِنۡ خَيۡلٍ ﴾من زائددې براې تاکيد.

﴿وَلَا رِكَابٍ ﴾رکاب اوښانوته وائي،واحدئې راحله رازي من غيرلفظه،عرب اطلاق دراکب په هغه چاکوي چه په اوښ ناست وي.اوفارس چه په فرس ناست وي(کبير)مطلب دادې چه د دې مال په ميلاويدلو کښې نه تاسوته دسفرمشقت رسيدلې دې ځکه چه بني نضيردمدينې نه دوه ميله باندې وو ،اونه دمعتدبه قتال.((ولکن الله يسلط رسله)) بلکه د الله ﷻ طرف نه دخپل رسول خصوصي مدد وو ،چې هغوئ په زړونو کښې ئې رعب واچولو ، او هغوئ دا پريخودلو او اوتختيدو(جلاوطن شو)،نو په دې وجه دې مال کښې صرف د الله رسول حق دې، ستاسو په کښې استحقاق نشته.

﴿ مَّآ أَفَآءَ ٱللَّهُ عَلَىٰ رَسُولِهِۦ ﴾ دا آيت د ماقبل آيت بيان او تفصيل دې ، دا رنګه ماقبل کښې حکم خاص وو په بنو نضير پورې ، ديکښې حکم تعميم دې، چې مال فيئ کوم ځائ کښې چې هم درته ميلاو شي هغې مصارف دا دي ﴿مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡقُرَىٰ ﴾نه مراد فدک اوڅه حصه دخيبروغيره دی چه داهم بغيردقتال نه ميلاؤشوی وؤ ،

﴿فَلِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ ﴾ دا اول مصرف دې د فيئ، ذکر د الله تبرکادې اواشاره ده ديته چه مالک حقيقي ئي صرف الله ﷻ دې دهغه دحکم مطابق به تقسيمولې شي. او نبي کريم ﷺ حق پکښې د ملکيت وو ، په خلاف د نورو مصارفو ، بخاری مسلم وغيره کښ دی چه حضور ﷺ به مال فئ نه دخپل اهل لپاره ديوکال نفقه جداکوله ومابقي به ئي دجهادپه سازوسامان کښ خرچ کولو. حصه درسول ساقطه شوي ده په موت سره

﴿وَلِذِي ٱلْقُرْبَىٰ﴾ **دويم مصرف دي** ، او دينه مراد دَ حضورﷺ رشته داران، بنو هاشم، بنو مطلب دی، اودَدوئ حصه څکه مقرره شوه چه دوئ باندی نورنفقات واجبه اخستل حرام وؤ.
«واليتامى» **دريم مصرف دي** «والمساكين» **څلورم مصرف دي** «وابن السبيل» **پنځم مصرف دي**

﴿كَيْ لَا يَكُونَ دُولَةً﴾ دادَمصارفودَعلت بيان دي "دولة"دولة معنی مفسرينو دا کړیده، الدولة مايتداول بين الايادي يعنی هغه شي چي يوځو مخصوص لاسونو کښ تاويږی راتاويږی.يعنی الله ﷻ دامصارف څکه بيان کړو چی مال فيئ صرف مالدارو پورې منحصر نشی چې کله يو مالدار اوکله بل ته ميلاوشی بلکه داد غريبانانو ضرورت او احتياج پوره کولو يو ذريعه ده.

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟﴾ دا حکم د فئي او د هغې مصارفو بيان په مينځ کښې جمله معترضه ده، دا خبره مخکښې تيره ده چې صحابه کرامو بنو نضير مال په باره کښې هم دا ګمان وو چې دا به غنيمت په شان تقسيميږي ،خو دلته د هغوئ توقع خلاف حکم راغې او زيات په ځائ کم ميلاو شو او څنو ته بالکل ميلاو نشو ، نو دوئ سره احساس د محرومئ پيداشو، نو دې آيت کښې الله ﷻ د هغې ازاله فرمائي. چې ديته مه پريشانه کيږئ ، د يو مسلمان دپاره ټولو نه لويه سرمايه د نبي حکم اطاعت دې او ټولو نه لوئ نقصان د رسول مخالفت دې ، لهذا د دې فکر کوئ.

نزول په اعتبارسره اګرچه داحکم خاص دې مالِ فئ پورې،ليکن حکم يې عام دې ټول احکاماتوکښ دَحضورﷺاطاعت واجب دې،اودی کښ اشاره ده چه دَهرامراونهی وجودپه قرآن کښ ضروری نه دې بلکه ډيراوامراونواهی اللهﷻدَحضورﷺپه ذريعه سره بيان کړي دی، بخاری وغيره کښ دی ابن مسعودﷺاوفرمائيل:لعن الله الواشمات والمستوشمات و المتنمصات و المتفلّجات للحسن المغيرات خلق الله، يعنی اللهﷻلعنت کړيدې په خالونو لګونکو او لګولو زنانه ؤباندی اوپه هغه زنانه ؤباندی چه ويخته ويستونکی وی (دَ ورځونه چه نری شي اوښکلی ښکاری)اوپه هغوزنانه ؤباندی چه دَحسن لپاره غاښونه فراخونکی وی چه دَاللهﷻخلقت بدلونکی وی،نويوی ښځی داواؤريدل نواشکال ورته اوشو چه ما خو ټول قرآن تلاوت کړوليکن دالعنت می پکښ اونه ليدلو ،نودَابن مسعودﷺخواته راغله اوداخبره

ئی ورته اوکړه،نوهغه ورته اوفرمائیل کچرته تاټول قرآن صحیح لوستلې وې نوتاته به پکښ دا لعنت میلاؤشوې وؤ.آیاتادا آیت نه دې لوستلې ﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمْ عَنْهُ فَٱنتَهُوا۟﴾ نو هغې ورته اووئیل لوستلې می دې،نوابن مسعود ﷺورته اوفرمائیل چه په ځا باندې حضور ﷺلعنت کړې وې نو په هغه الله ﷻهم لعنت کړیدې

﴿ لِلْفُقَرَآءِ ٱلْمُهَـٰجِرِينَ ٱلَّذِينَ ﴾بدل دې دَماقبل﴿ وَلِذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَٱلْيَتَـٰمَىٰ ﴾نه. یعني هغې ما قبل څلور اصناف ټول د دې مصرف ګرځي خو به طور خاص مهاجرن فقرا د دې ډیر مستحقین دي . ﴿ٱلَّذِينَ أُخْرِجُوا۟ ﴾دی کښ دَ مهاجرینو صحابؤیو څوصفات ذکرکیږي.دائي **اول صفت** دې، چی کورونه نه ویستلی شویدی،بې سروسامان دی،

﴿ يَبْتَغُونَ فَضْلًا ﴾**دویم صفت** دې یعنی دَ الله ﷻ د رزق او رضا طلب ګاردي، "فضل" نه مرادرزق دې ای طالبین منه تعالی رزقًافی الدنیاومرضاةً فی الاخرةِ

﴿ وَيَنصُرُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓ ﴾ **دریم صفت** دې، یعنی نصرت دین دَهغوئ شعار اومقصود اصلی دي، یعنی دَالله ﷻاودهغه دَرسول ﷺدَدین حفاظت کوی

﴿أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلصَّـٰدِقُونَ﴾ دا **څلورم صفت** بیانیږي،چی دادَعقیدې اوایمان ،قول اوعمل اعتبار سره ریښتنی خلق دي. دادَالله ﷻدَطرفه دَصحابه کرامو دَایمان اواخلاص ګواهی ده.

قَبْلِهِمْ	مِن	وَٱلْإِيمَـٰنَ	ٱلدَّارَ	تَبَوَّءُو	وَٱلَّذِينَ
او (استحقاق دې دا مال) د هغه خلقو چه اوسیږي په کور دَ هجرت(مدینې)کښ او ایمان کښ،مخکښ دَمهاجرینو نه					
حَاجَةً	صُدُورِهِمْ	فِى	يَجِدُونَ	وَلَا	إِلَيْهِمْ	هَاجَرَ	مَنْ	يُحِبُّونَ
محبت کوی دَهغه چاسره چه هجرت ئی کړیدې دوئ ته اونه مومی په سینوخپلوکښ حسد								
كَانَ	وَلَوْ	أَنفُسِهِمْ	عَلَىٰٓ	وَيُؤْثِرُونَ	أُوتُوا۟	مِّمَّآ
پوجه دَهغې مال چه مهاجرینوته ورکړې شویدې اوغوره کوی(ترجیح ورکوی)په خپلوځانونورخلق اګرکه وی						

بِهِمْ خَصَاصَةٌ ۚ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ٩
پدوئ تنگی،اوهرهغه څوک چه اوساتلې شودبخل دخپل نفس نه،نودغه خلق هم دوئ کامیاب دی
وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا
«داماله فئ استحقاق دي ، د هغه کسانو چه راغلی دی ورستودوئ«مهاجرینونه،وائی دوئ اې ربه زمونږ
اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ
بخنه اوکړه مونږته اوورڼږوزمونږته هغه چه ړومبې داخل شویدی زمونږنه په ایمان کښ اومه ګرځوه
فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ ١٠
په زړونوزمونږکښ کینه هغی کسانوته چه ایمان ئی راوړې دې،اې ربه زمونږ!بیشکه ته ډیرمهربانه،ډیررحم کونکې ئې.

﴿وَالَّذِينَ تَبَوَّءُو الدَّارَ وَالْإِيمَانَ﴾ داکثرومفسرینوپه نیزدا عطف دې په ماقبل « للفقراء المهاجرين » باندې، مراد دَ دینه انصار دَ مدینی دی،یعني ښنګه چې فقرا مهاجرین به طور خاص د دې مستحقین دي نو دغه شان انصار هم د دې مستحق دي ، دیکښ دَ انصارو یو څو صفات بیانیږی،دا **اول صفت** دې،یعنی دهغه خلق دي چې ایمان په حالت کښ مدینه کښ اوسیږی.

﴿ الدَّارَ﴾نه مراد دارالهجرة دې چه مدینه ده،نسبت دَتبوء دارته حقیقی دې،اوایمان ته مجازی دې،دَایمان تشبیه دَمحفوظ مکان سره ورکړې شویده.(۲)بعضِ وائی دادَقبیلی دَ"علفتُهاتبنّاوماءً بارداً"نه دې،تقدیردارنګه دې:تبوّء الدارَ واخلصوالایمان،یعنی مدینه ئی خپله استوګنه ګرځولې ده اوایمان ئی خپل خالص کړیدې.(۳)بعضِ وائی اصل عبارة دارنګه دې،تبوّءوا دارالهجرة ودارالایمان،اومراد دَدارینونه مدینه ده(روح المعانی).

﴿مِن قَبْلِهِمْ﴾جارمجرور متعلق دَتبوّءوا"سره اوکلام کښ مضاف مقدردې ای من قبل هجرتهم اومطلب دادې چه دَمهاجرینودَراتلونه مخکښ ئی ایمان راوړې وؤ،اودامطلب نه دې چه دَمهاجرینودَایمان راوړونه مخکښ ئی ایمان راوړې وؤ.

﴿يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ﴾ دويم صفت دې دَانصارو ،چې خپل مهاجرينو رونړو سره مينه محبت ساتي انصارو دَمهاجرينوسره دَمحبت داحال وؤچه حضور ﷺ دَهرمهاجردَانصاري سره اخوت قائم کړې وؤ، تردې پورې چې دَيوبل وارث به وؤبياچه کله آيت دَميراث نازل شونوبيادا حکم دامنسوخ شو.

﴿وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً﴾دريم صفت دې دانصارو ،چې کوم مال نبی کريم ﷺ ته غنيمت اوفيئ کښې ميلاؤ شي اونبی کريم ﷺ ئې فقرا مهاجرينو کښې تقسيم کړی،نو هغی باندې زړه کښې خفگان نه راولي،او نه دامحسوسه وی،بلکه پدی باندې رضااو خوشحاله وی، ﴿لايجدون﴾وجدان نه مراد وجدان عقلی دې،يعنی اگرچه غير اختياری اوطبعی تقاضه خو وی خوليکن دوئ هغه دومره دباؤ کړې وې لکه چی سره وی هم نه،«حاجة»حاجت نه مراد يا خپله معنی حقيقی احتياج ده ، دې صورت کښې «مما اوتوا» کښې "من" تعليليه دې،يعنی مهاجرينو ته ورکولو په وجه دومره خوشحاله وی چی دوئ سره دَخپل احتياج احساس هم نه وی، يا«حاجة» معنی محتاج اليه ده، اې طلب مايحتاج اليه يعنی هغه مال چی نبی کريم ﷺ ئې فقرا مهاجرينو له ورکوی،دوی باوجود دَ احتياج نه دهغې طلب اوطمع په زړه کښې نه لرې، يا «حاجة» نه مراد اثرلازمی دَحاجت دې،چی هغه حسد اوکينه ده يعنی دوئ زړونو کښې څه حسد اوکينه نه وی.

﴿وَيُؤْثِرُونَ عَلَىٰ أَنفُسِهِمْ﴾دائی بل صفت دې چه مهاجرينوته دَخپل ځان نه زياته ترجيح ورکوی اگرکه خپله په فاقی اوتکليف کښې وی،حتّی چه دَچابه دوه ښځی وی نو يوې ته به ئی طلاق ورکړو او دَ مهاجر سره به ئې ورله نکاح اوکړه،بخاری،مسلم وغيره کښې دی چه دَ ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دې چه يوصحابی رضی الله عنه دَنبی اکرم ﷺ خدمت کښې حاضرشواودَخپلې لوږې شکايت ئې اوکړو، نبی ﷺ خپلو کورونو ته سړې اوليږلو،خوچرته هم څه بيا نه موندلې شول، نو نبی ﷺ صحابؤته اوفرمائيل چه څوک شته چه دَده يوې شپې ميلمستيا اوکړی؟ يو انصاری صحابی عرض اوکړو(په يوروايت کښې دی چه دا ابوطلحه رضی الله عنه وو)څه به ئې بوځم يارسول الله! هغه ئې کورته بوتلو او بی بی ته ئې اووئيل چه دا دَ حضور ﷺ ميلمه دې،څومره چه ئې اکرام کولې شې،کمې پکښې مه کوه،اوڅه چيزمه پټوه،بی بی ورته اووئيل:په الله تعالیٰ مې دقسم وی

چه د ماشومانو د پاره مى څه لږغوندى څيزايخې دې، نورهيڅ هم په كوركښ نشته، صحابى ورته او فرمائيل ماشومان دلاسه كړه او اودهٔ يې كه، خوراک راوړه، مونږ به هم ميلمه سره كينو . بيا ته د ډيوى سمولو په غرض پاسه او ډيوه مړه كړه، نوبى بى هم داسى اوكړل، دواړو ښځې خاوند او ماشومانو نهره شپه تيره كړه اوكله چه صبا شونو حضور ﷺ اوفرمائيل د فلاني او د فلانئ د شپې سلوک الله ﷻ ته ډيرخوښ شو.

په يوروايت كښ دى چه حضرت ابن عمر ﷺ فرمائى چه يوصحابى ته چاد چيلئ سر په هديه كښ وركړو ،نو هغه داخيال اوكړو چه ځمافلانې وروردې زيات ضرورت منددې، د بال بچ خاونددې پدې وجه ئى هغه ته اوليږلو ،مختصره داچه داسراوه ۷ كورونو كښ اوگرځيدلو ، بياد ړومبى صحابى كورته راغې.

﴿وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ﴾ اى فاقة وحاجة، او دا صفت اعلى دې د هغى نه چه الله ﷻ فرمائيلى دى ويطعمون الطعام على حبّه، اودغه شان واتى المال على حبّه.

﴿وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ﴾ يعنى انصاروته لالچ اوبخل نه وؤ . الله ﷻ ورنه بچ كړى وؤ ، او څوک چه الله ﷻ د لالچ اوبخل نه بچ كړى هغه كامياب وى.

شح او بخل كښ فرق دې ،بخل دا دې چې شرعاً د خرچ موقع وى اوانسان هلته خپل مال خرچ نكړى، مثلازكات، صدقات واجبه، جهاد ، وغيره، او شح دادې چې خپل مال هم خرچ نكړى او د بل مال ناجائزې طريقى لاس ته كولو په چكر كښ وى، اودهغه هرپ كولو د پاره منصوبې اوحربې جوړه وى، دې وجهى نه حديث كښ سختئ سره د دينه منع راغليده، چى شح نه ځان ساتئ ،ځكه چې دې ستاسونه مخكښ خلق تباه كړي دى، دې د وجهى نه هغوئ يو بل وينى توئ كړې، او د احترام رشتې ئې پامالې كړې «مسلم»

نن صبا كائنات كښ خورفساد منبع هم دهغه شح دې، حديث كښ راځى، چى آخرى وخت كښ به زمانه يوبل ته نيزدې شى، علم به قبض شى ،زړونو كښ به شح واچولى شى اوهرج به ډير شى صحابه كرامو عرض اوكړو، اى د الله ﷻ رسوله! هرج څه ته وائى، نبى كريم ﷺ اوفرمائيل: قتل عام ته. «مسلم شريف ۱۵۷»

﴿وَالَّذِينَ جَاءُو مِنْ بَعْدِهِمْ﴾ داهم د اكثروپه نيزعطف دې په ماقبل او يو صنف دې د مستحقينو د مال فئ يعنى د صحابؤ ﷺ نه ورستوترقيامته پورى مسلمانان هم د مال فئ

مستحق دی، بعضِ وائی مراددینه هغه دی چه دَموجوده مهاجرینو نه ورستوئی هجرت کړې وؤ مدینی ته. ﴿وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا﴾ ای حسداًوبغضاً، یعني زمونږ زړونه د مؤمنانو سره حسد او بغض نه پاک اوساتې ، امام مالک رحمه الله دَدی آیت نه استنباط کړیدې چه روافض(شعیه ګان) دَ مال فئ مستحق نه دی ځکه چه دوئ موصوف نه دی په صفت مذکوره سره، صحابه کرام سره بغض ساتی اوبدردورته وائی(لعنهم الله).

ابن ابی لیلی فرمائی چه دَخلقودری درجی دی(۱)مهاجرین(۲)انصار(۳)دَدی دواړو سره محبت ساتونکی اودَدوئ په نقشِ قدم باندی تلونکی، نوته کوشش کوه چه دَدی دریؤنه خارج نه شی(خطیب شربینی).

أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا يَقُوْلُوْنَ لِإِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

آیاته نه ګوری هغه خلقوته چه منافقان شویدی وائی دوئ ورڼروخپلوته هغه چه کافران دی

مِنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ لَئِنْ أُخْرِجْتُمْ لَنَخْرُجَنَّ مَعَكُمْ

دَاهل کتابونه، قسم دې کچرته تاسوویستلی کیدئ نوخامخاموږبه هم اوزودَستاسوسره،

وَلَا نُطِيْعُ فِيْكُمْ أَحَدًا أَبَدًا ۙ وَّإِنْ قُوْتِلْتُمْ

اوخبره به اونه منوموږپه حق ستاسوکښی دَهیچا کله هم ، او کچرته جنګ کولې شی ستاسوسره

لَنَنْصُرَنَّكُمْ ۭ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ إِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ⑪

نوخامخا به موږ مدد کوؤ د تاسو، او الله ګواهی ورکوی چه بیشکه دوئ یقیناً دروغژن دی،

لَئِنْ أُخْرِجُوْا لَا يَخْرُجُوْنَ مَعَهُمْ ۚ وَلَئِنْ قُوْتِلُوْا لَا

قسم دې کچرته اوویستلی شی هغوئ(بنی نضیر)اوبه نه ووځی دوئ دَهغوئ سره، اوکچری جنګ اوکړې شی دَهغوی سره نومدد به

يَنْصُرُوْنَهُمْ ۚ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ لَيُوَلُّنَّ الْأَدْبَارَ ۣ ثُمَّ لَا يُنْصَرُوْنَ ⑫

اونکړی دَهغوئ، اوبفرض محال کچری دوئ ورسره امداداوکړی نوخامخابه اوګرځوی شاګانی بیابه مدداونکړېشی

لَاَاَنْتُمْ اَشَدُّ رَهْبَةً فِيْ صُدُوْرِهِمْ مِّنَ اللّٰهِ ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
يقينا چې ستاسو ډير دې هيبت په سينو د دوئ کښ په نسبت الله ﷻ نه،داپدې وجه چه بيشکه دوئ
قَوْمٌ لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿۱۳﴾ لَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ جَمِيْعًا اِلَّا فِيْ قُرًى
داسې قوم دې چه نه پوهيږي.نشي کولې جنګ دوئ تاسوسره ټول په يوځائ مګرپه هغه کلوکښ
مُّحَصَّنَةٍ اَوْ مِنْ وَّرَآءِ جُدُرٍ ؕ بَاْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيْدٌ ؕ
چه محکم وي په قلعوسره ياورستودديوالونونه،جنګ ددوئ په مينځ ددوئ کښ ډيرسخت دې،
تَحْسَبُهُمْ جَمِيْعًا وَّقُلُوْبُهُمْ شَتّٰى ؕ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ
ګمان به کوې ته په دوئ چه يوځائ متحدې حال داچه زړونه ددوئ جداجدادي،داپدې وجه چه بيشکه دوئ
قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۴﴾
داسې قوم دې چه نه پوهيږي.

﴿ اَلَمْ تَرَ اِلَى الَّذِيْنَ نَافَقُوْا ﴾دا زجر او تخويف دې منافقانوته،په ابتداءکښ تيرشول چه منافقانوبنی نضيروته پيغام راوليږلوچه جلاوطنی مکوئ،مونږتاسوسره يو،که تاسو څوک زبردستی اوباسی نومونږ به هم درسره اوځو،او که څوک تاسو سره جنګ کوی نومونږبه درسره نصرت کوؤ،الله ﷻ ددی ګواهی کوی چه دوئ پدی خبره کښ کاذب دی.﴿لِاِخْوَانِهِمُ الَّذِيْنَ ﴾مرادورنه دين اواعتقادی رونړه دی ﴿ولانطيع فيكم﴾يعنی تاسو سره وتلو کښ که راته څوک بل څه خبره کوی (چې مه اوځئ وغيره)نو هيڅ چرته به ئې او نه منو.((والله يشهد انهم لكذبون)) يعني يهودو سره کومې وعدې کوي دا د دروغو وعدې دي، چرته ئې هم نه پوره کوي او نه ئې پوره کولې شي.

﴿لَئِنْ اُخْرِجُوْا﴾ ديکښې د ((لكذبون)) بيان دې ﴿ وَلَئِنْ نَّصَرُوْهُمْ ﴾که بالفرض والمحال نصرت ته راشی هم نوبيابه راهِ فرار اختيار وی.

﴿لَأَنْتُمْ أَشَدُّ﴾دیکښې مؤمنانو ته تسلي ده چې تاسو د یهودو او منافقینو اتحاد ته مه پریشانه کیږئ ، دوئ که متفق هم شي خو په زړونو کښې د ستاسو رعب او خوف پروت دې دوئ خو ستاسو نه دومره یریږي چې دومره د الله ﷻ نه هم نه یریږي، نو دوئ څنګه ستاسو سره جنګ کولې شي، ﴿فِي صُدُورِهِم﴾ضمیرمنافقانواویهودیانو دواړوته راجع دې﴿ذَٰلِكَ﴾ د سبب بیان دې ، او اشاره ده ماقبل حکم ته یعنی ستاسونه یریدل او دَ الله ﷻ نه،نه یریدل ﴿لایفقهون﴾یعنی دوئ ظاهر پرسته دی،ظاهری مشاهدی نه یریږی،لیکن حقیقی قوت او مقدرت والا چې هغه الله دې، هغه دوئ ته نه ښکاری.

﴿لَا يُقَاتِلُونَكُمْ جَمِيعًا﴾ دیکښې هم د دوئ بزدلئ بیان دې، ضمیردَغائب دلته هم دواړوته راجع دې، چه دوئ دومره بُزدله دی چه اول خو تاسو سره جنګ نشي کولې ، که بالفرض کول غواړي نو ټول به نه کوي او چې کوم کوي هغوئ هم اقدام نشي کولې بلکه شکست خورده قوم په شان به قلعو اوښارونو کښې به محصور وي او د ځان دفاع به کوي .

﴿بَأْسُهُم بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ﴾ سبب د بزدلئ ذکر کیږي ، چې هغه د دوئ داخلي افتراق دې ﴿ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعًا ﴾یعنی دَمسلمانانوپه مقابله کښ دَهغوئ په ظاهری اتفاق،اتحادمه دهوکه کیږئ، دَهغوئ په زړونوکښ یوبل سره هیڅ الفت اوخیرخواهی نشته،بلکه یوبل سره ئی عداوت دې،دی کښ تسلی ده مؤمنانوته اوتحریض علی القتال دې

﴿ذَٰلِكَ﴾یعنی داافتراق دَزړونودَدوئ،﴿ لایعقلون﴾اي لایعرفون الحق یعنی دَدوئ اختلاف اصل سبب حق نه انکار اوخواهشاتو اتباع ده،ځکه چی حق یودې او هغې سره اتفاق راځی، او خواهشات دَهر چا جدا جدا دی،نوځرنګه به اتفاق پیدا شي

كَمَثَلِ	الَّذِينَ	مِن	قَبْلِهِمْ	قَرِيبًا	ذَاقُوا	وَبَالَ

مثال دوئ په شان دَ هغو خلقو دې چه مخکښ وؤ دَ دوئ نه په نیزدې زمانه کښ ، چه اوڅکله

أَمْرِهِمْ	وَلَهُمْ	عَذَابٌ	أَلِيمٌ ۝	كَمَثَلِ	الشَّيْطَانِ	إِذْ

هغوئ سزا دَ عمل خپل،اودوئ لره عذاب درناک دې ،مثال دَدوئ په شان دَشیطان دې کله چه

قَالَ لِلْإِنْسَانِ اكْفُرْ فَلَمَّا كَفَرَ قَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنْكَ
اووائی انسان ته کافرشه.نوکله چه کفراوکړی انسان نوشیطان ورته اووائی بیشکه څه بیزاره یم ستا نه.
إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ⑯ فَكَانَ عَاقِبَتَهُمَا
بیشکه څه یریږم د الله ﷻ نه چه ربّ العالمین دی. نو شی آخری انجام د دواړو دا
أَنَّهُمَا فِي النَّارِ خَالِدَيْنِ فِيهَا وَ ذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُا الظَّٰلِمِينَ ⑰
چه دواړه به په اور دجهنم کښې وی همیشه همیشه په هغی کښې. او دا جزاء دظالمانو ده

﴿كَمَثَلِ الَّذِينَ﴾ دې کښې د بنو نضير انجام طرف ته اشاره ده ، چې دوئ قلعه بند شو او د منافقينو په وعدو مطمئن شو ، چې په مونږ څوک غالب نشي راتلې او نه مو څوک اوباسلې شي ، نو الله ﷻ فرمائي چې د دوئ قلعه ګانو او د دوئ مال و دولت کر وفر دوئ ته هيڅ فائده ورنکړه ، او د دوئ هغه انجام اوشو چې کوم دَ دوئ نه مخکښې متکبرينو د قريشو او بنو قينقاع شوې وو ،«كمثل» خبر دَ مبتداء محذوف دې،ای مثلهم كمثل الذين.. ضمير په مثلهم كښې بنی نضيروته راجع دې اودَ﴿مِن قَبْلِهِمْ﴾نه مراد(۱)اهل بدر دی، يعنی دَدی بنونضيرو انجام به هم دَاهل بدرپه شان وی چه دنیاکښې هم ورته سزا میلاو شوه او ذلیله شول اوپه آخرة کښې به هم ورته درناک عذاب وی(۲) او دغه شان مراد ورنه بنی قینقاع هم دی.بنی قینقاع دَ یهودو یوه قبیله وه چه دَرسول اللهﷺسره ئی عهدشکنی کړې وه چه دَهغی په وجه حضورﷺ دوئ شام ته جلاوطن کړل.

﴿قريبا﴾ مفعول فيه دې،دَ "استقر" فعل محذوف،چې هغی سره من قبلهم هم متعلق دې، يا مفعول فيه دې دَ«ذاقو»دَپاره يعنی ډير زر يې خپل عمل سزا وڅكله ﴿ذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ﴾ دا جمله تفسيريه ده،دَ مثل تفسير كوی

﴿كَمَثَلِ الشَّيْطَٰنِ إِذْ قَالَ﴾دا دويم مثال دې دبنو نضير د انجام ، اول مثال او دې مثال كښې فرق دا دې چې هغې كښې بنو نضير انجام ذكر وو او ديكښې ورسره د منافقينو وعدو انجام بيانيږي ، يعني منافقين چې دوئ سره كوم د امداد دعوې او وعدې كولې ، هغه دَ دوئ تشې

لافي وي، موقع باندې ورسره بيا ئې مدد اونكړو ، او بالكل د شيطان غوندې كار ورسره ئې اوكړوچې دې دنيا كښې انسان ته د كفر ترغيب وركوي ، گناه ورته مزين كړي او وعدې ورسره اوكړي ، او انسان په خه سركشۍ باندې آماده كړي ، نو كله چې د حساب كتاب ورځ شي او د الله ﷻ عذاب راشي نو بيا ترينه برات اعلان اوكړي .لكه سورت ابراهيم كښې تفصيل سره دَدې ذكردې،((وقال الشيطان لماقضى الامر ان الله وعدكم...)) (ابراهيم :۲۲) اوكله كله دنيا كښې هم داسې صورت پيدا شي لكه ابوجهل ته ابليس دَ بدر په ورځ دَسُراقه بن مالك كناني په صورت كښې ظاهرشوى وؤ اوورته ئې وئيلي وؤ: ((لاغالب لكم اليوم من الناس و انّى جارٌ لكم...)) (انفال:۴۸) او بيا ئې ورنه په عين موقع براءت وكړو چه ((انّى أرىٰ مالاترون)) ﴿إِنِّىٓ أَخَافُ اللهَ﴾ خوف نه مراد خوف طبعي دې باقي تفصيل په سورة انفال ۴۸ كښې تير دي.

﴿فَكَانَ عَـٰقِبَتَهُمَآ﴾ يعنى عاقبة اواخرى انجام دَشيطان اودَانسان كافرداوى چه دواړه هميشه لپاره جهنم ته لاړشي.

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ وَلْتَنظُرْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ
اې ايمان والؤ!اويريږئ دَالله ﷻ نه اواودې گوري هركس چه څه ئې ليږلي دی لپاره دَصبا،
وَٱتَّقُوا ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ﴿١٨﴾ وَلَا تَكُونُوا كَٱلَّذِينَ
اويريږئ دَالله نه،بيشكه الله ﷻ خبردار دې په هغه څه چه تاسوئې كوئ اومه كيږئ په شانته دَهغه خلقو
نَسُوا ٱللَّهَ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ۚ أُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلْفَـٰسِقُونَ ﴿١٩﴾ لَا يَسْتَوِىٓ
چه هيركړې ئې دې الله،نوهيركړل الله ﷻ دوئ نه دَدوئ ځانونه ،دغه خلق هم دوئ فاسقان دی. نه دی برابر
أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ وَأَصْحَـٰبُ ٱلْجَنَّةِ ۚ أَصْحَـٰبُ ٱلْجَنَّةِ هُمُ ٱلْفَآئِزُونَ ﴿٢٠﴾
خاوندان دَاوردَجهنم اوخاوندان دَجنت،خاوندان دَجنت هم دوئ كامياب دی

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا ٱتَّقُوا ٱللَّهَ﴾ منافقانو ته زجراوتخويف نه ورستومسلمانانو ته وعظ او ارشاد دې،چه تقوىٰ اختياركړئ،اوهركس دی داسوچ اوكړی چه دَآخرت لوئ سفردپاره ئې څه ذخيره جمع كړيده،دَدنياوړكی سفردپاره خامخاهركس تياري كوی دَلاري خرچه وغيره

برابره وی،نو دآخرت او د سفرلپاره خوهم تياري ضروري دي ﴿مَّا قَدَّمَتْ لِغَدٍ﴾ د غد نه مراد ورځ دقيامت ده، تعبيرترينه په غد سره ځکه اوشوچه قيامت هم داسې نيزدې دي لکه صبا چه نيزدې دي، يادوجې دتيقن فی الوقوع نه، بعضِ وائی د﴿لِغَدٍ﴾نه مرادورځ دمرګ ده(روح).

﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ﴾تکرارلپاره دتاکيددي،يااول نه مرادتقوی ده په ادا دفرائضواو واجباتو کښې، او دويم کښې تقوىٰ ده په ترک د محارمو او معاصيوکښې

﴿ولاتکونوا﴾ديکښې تحذيراومنع ده د دين نه د تغافل او اعراض، چې الله ﷻ احکاماتو خلاف ورزي مه کوئ او د کافرانو او منافقانو طرز عمل مه اختياره وئ،﴿کالذين نسوا الله﴾اي حقوقه وعهوده، يعنی نه دالله ﷻ حقوق اداکوی،او نه چې کومی وعدی کړيدی هغه پوره کوی. ﴿ فَأَنسَىٰهُمْ أَنفُسَهُمْ ﴾ دَ الله ﷻ حقوق اوهغه سره کړې وعدو هيرولو سزا الله ﷻ داورکړه چې دوئ نه يې ددوئ ځانونه هيرکړل،په دنيا کښې ورسره دځان اصلاح او آخرت دپاره ځه زادراه جمع کولو هڅو سره فکر هم نشته اوآخرت کښې به ورله هم داسې سزا ګانی ورته اوښائی چې دوئ نه به ددوئ ځانونه هيرکړی

﴿لَا يَسْتَوِىٓ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ﴾ ديکښې د ماقبل آيتونو نتيجې بيان دي ، چې کوم خلق الله ﷻ نه اويريږي او الله ﷻ احکاماتو اومني او عمل پرې اوکړي نو هغه به اهل جنت وي او کوم چې ورنه اعراض اوکړي او په ژوند دنيا کښې د ځان اصلاح اونکړي نو دا به اهل جهنم وي او اواهل جنت او جهنم چرته هم نشي برابر کيدې ، هغوئ کامیابه اوجنتيان دی،اوددوئ ټهکانه به جهنم وی.

لَوْ أَنزَلْنَا هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ لَّرَأَيْتَهُۥ خَٰشِعًا مُّتَصَدِّعًا
کچرته نازل کړې وې مونږ دا قرآن په يوغرباندی نوخامخا به تا ليد لې وۀ دا (غر) بريدونکې،ټوټې ټوټې کيدونکې
مِّنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۚ وَتِلْكَ ٱلْأَمْثَٰلُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٢١﴾
ديرې دَ الله نه ، او دا مثالونه بيانوۀ مونږ دا خلقو ته چه کيديشی دوئ فکراوکړی.

هُوَ	اللّٰهُ	الَّذِىْ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ	عٰلِمُ	الْغَيْبِ	وَالشَّهَادَةِ
داالله هغه ذات دي چه نشته لائق دَعبادت بل هيڅ څوک مګرهم دي دي.عالم دي په غيبواوپه ښکاره باندې.									
هُوَ	الرَّحْمٰنُ	الرَّحِيْمُ ﴿٢٢﴾	هُوَ	اللّٰهُ	الَّذِىْ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ
هغه په هر چا مهربانه ډيررحم كونكې دې.داالله هغه ذات دې چه نشته لائق دَعبادت بل هيڅ څوک مګرهم دي دي.									
اَلْمَلِكُ	الْقُدُّوْسُ	السَّلٰمُ	الْمُؤْمِنُ	الْمُهَيْمِنُ	الْعَزِيْزُ				
بادشاه دې ډيرپاک دې،سلامتئ وركونكې دې.امن وركونكې دې،ساتونكې دې دَخلقو،غالب دې،									
الْجَبَّارُ	الْمُتَكَبِّرُ	سُبْحٰنَ	اللّٰهِ	عَمَّا	يُشْرِكُوْنَ ﴿٢٣﴾				
كارساز دې،بواځې دې په لويئ كښې پاک دې الله جَلَّ جَلَالُهُ دَهغې نه چه مشركان ئې ورسره شريكوي.									

﴿لَوْ أَنزَلْنَا هَـٰذَا ٱلْقُرْءَانَ عَلَىٰ جَبَلٍ﴾ **دا ترغيب دې** لپاره دَ فكر او تأمل كولوپه قرآن كښې او تمثيل دې دَ علوّ شان دَ قرآن،چه باوجود دَدې چه غرسخت اوغيرمتأثردې،كچرته عاقل جوړكړې شي اوقابل دَخطاب جوړكړې شي په شان دَانسان اوقرآن ورباندې نازل كړې شي نو دَ الله جَلَّ جَلَالُهُ دَخوف نه به ټكړې ټكړې شي،ليكن آفسوس دې په انسان چې تلاوت ئې او رې او بياهم پكښې تقوى اوخوف خدا نشته.

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ دَسورت په آخر كښې **دعوه دَ توحيد** مدلل ذكركيږي،چې الله جَلَّ جَلَالُهُ نه ماسوا بل څوک اله او معبود نشته.

﴿عَـٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَـٰدَةِ﴾ **دليل اوعلت** دې دَدعوې يعني الله جَلَّ جَلَالُهُ نه ماسوا بل څوک اله نشته ، ځكه چې صرف هغه دَعالم غيب اومشاهد احوالو باندې خبردې،بل چاسره داسې علم نشته. "**غيب**" هغه ته وائي چې دَهغې ادراک انسان نه په حواسو سره كولې شي او نه په عقل سره، او "**شهادة**" نه مراد هغه امور دې چې انسان بصريابصيرت سره دَهغې مشاهده كولې شي.

﴿هُوَالرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ﴾ **بل دليل دې** په دعوې،يعنې الله جَلَّ جَلَالُهُ ته دَټولو بندګانوحاجات او ضروريات معلوم دې په ټولو باندې رحم كوي،اوحاجات اوضروريات ورله پوره كوي،خواه

بنده مؤمن وي اوكه كافر،البته كافر باندې رحم صرف دنيا كښې دې اومؤمن باندې دنيا او آخرت دواړو كښې دې،اودَالله ﷻ له نه ماسوا دَبل چا رحمت.نودهغې څه نسبت دَ الله ﷻ رحمت سره نشته. لکه حديث کښې راځي،چې الله ﷻ دَرحمت سل حصې ګرځولي دي،يوکم سل(۹۹) ئې ځان سره پريخيدى اويوه حصه دنيا ته راليږليده.نومخلوقاتو كښې چې مونږ كوم تراحم وينو دادهغې مظهر دې،دَرحمت ظهور چونکه دَعلم نه بعد کيږي ځکه چې دَ چا د حاجت اوپريشان حالى علم ورسره نه وى نورحمت به پرى څنګه اوكړى،نوځکه دَ عالم الغيب نه بعد« هو الرحمن الرحيم »ذكر اوشو.

﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِى لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ﴾تكرار دې لپاره دَتاكيد اواهتمام﴿الملك﴾ **بل دليل دې** په توحيد،چې الله ﷻ على الاطلاق بادشاه دې، دَ هغه امر دَ هر چا نه بالا دې،بل څوک ورسره شريک نشته. صفت رحمت نه ورستو صفت"الملک"راوړلو کښې ديته اشاره ده چې رحمت دَ الله ﷻ فضل دې،ګنى الله ﷻ مختار بادشاه دې ،څه غواړى هغه کولي شي

﴿ٱلْقُدُّوسُ﴾**بل دليل دې** په توحيد ،دَ "قَدَسَ" نه مشتق دې،لغت کښې طهارت اوبرکت په معنى کښې استعماليږى دلته "قدوس" فعول په وزن مبالغې صيغه ده،يعنى هغه ذات چې دَ هر قسم نقائصو اوعيبونو نه پاک،هرقسم خيالاتو،تصوراتواو اوهامو نه ماوراء او هر صفت کمال پکښې موجود وي،او دغه معنى صرف الله ﷻ په ذات مبارک کښې موجود ده بل څوک نشته چې هغه دې سره متصف شى نوثابته شوه چې بل څوک "اله"هم نشى کيدې.

﴿ٱلسَّلَـٰمُ﴾ **بل دليل دې** دَ توحيد، سَلِمَ يَسلَمَ نه مشتق دې، لغوى معنى ئې عافيت اوسلامتيا ده، دلته ترينه مراد هغه ذات دې چې دَ هلاكت نه او دَ هر قسم آفاتو،تغيراتو او عيوبونو نه سالم اومحفوظ وي،او دغه صرف الله ﷻ دې بل څوک نشى کيدې کماقې **قوله تعالى كل شئ هالک الا وجهه** لهذا اله هم صرف الله ﷻ دې، بل څوک نشته،«السلام» معنى «القدوس» ته قريب قريب ده څنى مفسرينو دواړو کښې دافرق بيان کړيدې چې «السلام» تعلق دَ زمانه استقبال سره دې،او«القدوس» تعلق زمانه ماضى اوحال سره دې.

﴿ٱلْمُؤْمِنُ﴾**بل دليل دې** په توحيد ،«المؤمن» معنى يا امن ورکونکي ده،يعنى دَفزع اكبر نه امن صرف اوصرف هغه ورکونکې دې بل څوک نشته،دَعذاب نه نجات اوامن ورکونکې

صرف هغه دي ، د بل يو "اله" يا د شفيع اختيار او وس نشته.يا «المؤمن» معنى تصديق كونكي ده ،يعنى دَ خپل الوهيت ، دَخپل انبياوۇ رسالت او دَ مؤمنانودَايمان تصديق كونكي پخپلو آياتونو سره لكه شهد الله انه الااله الاهواو يا په معجزاتو سره.

﴿ٱلْمُهَيْمِنُ﴾بل دليل دي په توحيد ، المهين اسم فاعل صيغه ده دَ هَيمن نه، "هيمن" اصل كښ ايمن دي،دَ "امن" نه ماخوذ دي، همزه بيا "هاء" سره بدل كړي شوه ،نو هَيمن ترينه جوړ شو، المهيمن معنى ده دَ كائنات مكمل نظام نګران چي د هغه محكمي نګرانئ په وجه ټولو مخلوقاتو ته امن ميلاؤ دي،اونظام كښ تبديلي اوفساد نه پيدا كيږي،داسي بل څوك چرته كيدي شي چي دومره لوئ سلطنت اودومره ډيرو مخلوقاتو نګراني انتظام اوكړي.

﴿ٱلْعَزِيزُ﴾يعنى غالب دي،نه ترينه څوك ځان خلاصولي شي او نه ورسره څوك مقابله كولي شي.

﴿ٱلْجَبَّارُ﴾جبار يادَ "جبر" نه دي، اي الذي جبرالخلق على ما اراد يعنى هغه ذات چي خلق يى خپل قضا و قدر فيصلو باندي مجبور كړى دى،كه څوك ډير كوشش اوكړي، خو د هغى نه نشي وتلي،ياجبار دَ "جبيرة" نه دي،پمعنى دَمصلح اوجوړونكى سره.يعنى كارساز ذات دي.

﴿ٱلْمُتَكَبِّرُ﴾.ډير لوئ اوبرتر ذات چي دَهغه كبريائى اوبادشائى هم څه انتها نشته ، او دَ هغه صفات هم دَ كمال دي چي دهغي كمال څه انتها نشته . مخلوقاتو سره يى څه مشابهت او مماثلت نشته. ﴿سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾دي صفاتو كښ هغه سره څوك شريك نشته،اونه يى بادشاهت دَپاره څوك مشير شته نه معاون.

لَهُ	ٱلْمُصَوِّرُ	ٱلْبَارِئُ	ٱلْخَٰلِقُ	ٱللَّهُ	هُوَ

خاص هغه الله دي،پيدا كونكي دي،راويستونكي دي (هر شي لره دَ عدم نه وجود ته) صورت وركونكي دي ، هغه لره

ۚ	ٱلْأَسْمَآءُ	ٱلْحُسْنَىٰ	يُسَبِّحُ	لَهُۥ	مَا	فِى	ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ

نومونه دى ښائسته،پاكى بيانوى هغه لره څه چه په اسمانونوكښ دى اوزمكه كښ دى،

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٢٤﴾

اوهغه غالب دي، حکمتونو والادي

﴿ هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ﴾دا په **توحید باندی بل دلیل** دي ،دیکښ د پیدائش درې(۳)مراحلو بیان دې، بلاتشبیه د دې مثال داسی دې لکه چې یو انسان څه جوړه وی نو اول دهغه شی دپاره یو سوچ او تصور اوکړی، بیاورله مواد راپیدا کړی، بیاهغه مواد له ترتیب ورکړی اودخپل سوچ او نقشی مطابق یې مکمل کړی. نوالله ﷻ دخپل حکمت موافق اول دیوڅیز منصوبه جوړه کړی،او اندازه اولګوی،د دې ذکر په«الخالق»کښ اوشو،بیاورله وجود ورکړی،دې ذکر په «الباریٔ» کښ اوشو،او بیا ورله دخپل تقدیر اوارادې موافق صورت ورکړی. نو دې ذکر په «المصور» کښ اوشو. خلاصه د دلیل داشوه چې صرف الله ﷻ دکائنات خالق او مقدر دې ، وجود هم هغه ورکړې اونقشه یې هم هغه تیاره کړې ده ، نو اله هم صرف هغه دې.

«الخالق» خالق دوه معنو کښ استعمالیږی: (۱)**الایجاد**: یعنی عدم نه یو شی وجود ته راوستل،خو چې دهغی مثل مخکښ موجود نه وی،(۲)**تقدیر**: یعنی یوشي وجود ته راوستلو نه مخکښ دهغی مکمل منصوبه بندی کول، او هغي له نظم وضبط جوړه ول،دلته دادویمه معنی مراد ده

﴿ٱلۡبَارِئُ ﴾ الباریٔ وجود ورکونکې،﴿ٱلۡمُصَوِّرُ ﴾دخپل ارادي اوتقدیر مطابق صورت ورکونکې.

﴿لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ﴾یعنی ددی نه علاوه دالله ﷻ دپاره نورهم ښایسته ښائسته نومونه دی چه په ښائسته ښائسته معانیؤباندې دلالت کوی

﴿يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ﴾ **د دعوی د سورة اعاده ده** چه په ابتداء کښ مذکوره وه.د سورت شروع کښ «سبح» ماضی صیغه استعمال شویده،اودلته مضارع،دیکښ اشاره ده تجدید اواستمرار ته چې داتسبیح د ازل نه شروع ده اوترابده به جاری وی.

دسورة حشر دی آخری آیاتونودیرفضائل په روایاتوکښ راغلی دی،په یوروایت کښ دی چه حضور ﷺ فرمائی چه څوک په وخت دصباکښ"اعوذبالله السّمیع العلیم من الشّیطان الرجیم" دری (۳)ځلی اووائی اوبیادا آخری دری آیاتونه أولولی نو الله ﷻ اویا(۷۰)زره ملائک مقرري

کړی چه دَده لپاره ترماښامه پوری بخنه غواړی، اوپه بعضِ روایاتو کښې دی چه دَده حفاظت کوی ترماښامه پوری. اوکه دې مړ شو په دغه ورځ کښې نو شهید مړ شو، او څوک ئې چه ماښام او وائی نو ترسهاره پوری ورته دعااواستغفارکوی. په یوروایت کښې دی چه دَالله ﷻ اسمِ اعظم په آخردَسورة حشرکښې دې.

ركوعاتها (٢)	سورة الممتحنه مدنية	آياتها (١٣)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٦٠) وحسب النزول (٩١)

نزلت بعدالاحزاب وقبل النساء

ربط : ماقبل سورتونوکښې منافقانوته زجرونه وؤ،دی سورة کښې هغه مخلص مؤمنانو باندی زجردي چه په باره دَجهادکښې ورنه کوتاهي شوې وه.

خلاصه:په ابتداء اوانتهاء کښې زجردې مؤمنانوته،په تعلق ساتلودکفاروسره،چه دکفارو سره تعلق مه ساتئ،بلکه دَابراهيم عليه السلام متبع شئ،اوپه درميان کښې يوقانون براي مؤمنين اوبل قانون براي نبی کريم ﷺ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا عَدُوِّيْ وَعَدُوَّكُمْ اَوْلِيَآءَ تُلْقُوْنَ
اې ايمان والؤ!مه نيسئ تاسودشمن څمااودشمن خپل دوستان ، وړاندې کوئ تاسو
اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوْا بِمَا جَآءَكُمْ مِّنَ الْحَقِّ
هغوئ ته پيغام دَ دوستئ ،اوحال داچه کفرکړيدې هغوئ په هغه چه راغلې دي تاسوته دَحق(دين)نه
يُخْرِجُوْنَ الرَّسُوْلَ وَاِيَّاكُمْ اَنْ تُؤْمِنُوْا بِاللّٰهِ رَبِّكُمْ
اوباسي دوئ رسول ﷺ اوتاسوهم(دَمکې نه)، په وجه د دې چه ايمان راوړيدې تاسوپه الله جل جلاله چه رب دې ستاسو،
اِنْ كُنْتُمْ خَرَجْتُمْ جِهَادًا فِيْ سَبِيْلِيْ وَابْتِغَآءَ مَرْضَاتِيْ ق
کچرته تاسو راوتلی يئ دَپاره دَجهاد په لاره څماکښې اولپاره دَغوښتلودَرضاڅما،
تُسِرُّوْنَ اِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ ق وَاَنَا اَعْلَمُ بِمَآ اَخْفَيْتُمْ
په پټه ليږئ تاسوپيغامونه هغوئ ته دَدوستئ ،حال داچه څه عالم يم په هغه چه پټوئ ني تاسو

وَمَآ اَعْلَنْتُمْ ۭ وَمَنْ يَّفْعَلْهُ مِنْكُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَاۗءَ السَّبِيْلِ ①
اوپه هغه چه ښکاره کوئ ئې.اوهرچاچه اوکړوداکاردَتاسونه،پس یقیناده خطا کړه سمه لاره

﴿ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْا ﴾دازجردې مؤمنانوته د کفارو سره همدردئ اظهار او دوستئ باندې، دَ دی آیاتونوشان نزول دادې چه کله حضورﷺدفتح مکی اراده اوکړه او صحابه کراموﷺته ئې په خفیه طوردَتیارئ حکم اوکړو،حضرت حاطب ابن ابی بلتعه ﷺیومهاجربدری صحابی وؤ،اصلاً دَیمن وؤ،قریشوسره ئې هیڅ خپلولی نه وه،لیکن بال بچ ئې په مکی کښ وؤ،ده سوچ اوکړوچه ځه به قریش مکه ؤته دَحضورﷺدَتیارئ اطلاع اوکړم، نو دَ دی احسان په بدله کښ به هغوئ ځمادَبال بچ خیال اوساتی.اودائې یقین وؤچه حضور ﷺ ته به اللهﷻفتحه ورکوی،مسلمانانوته یااسلام ته پدی رازښکاره کیدوسره هیڅ نقصان نه رسی.چنانچه هغه دَدی تیارئ اطلاع په یوخط کښ اولیکله،یوه ښځه چه ظعینه نوم ئې وؤ،په بل روایت کښ دی چه امّ ساره نوم ئې وؤ،هغې ته ئې حواله کړوچه داقریشوته اورسوه،په خط کښ لیکلی وؤ:انّ رسولَ اللهﷺتوجّه الیکم بجیشٍ کاللّیل یسیر کالسیر،واقسمُ باللهِ لوسارَ الیکم وَحدہُ لنصرہُ اللهُ علیکم فانه منجزٌله ماوعدہُ(روح).

دَدی اطلاع په ذریعی دَوحی حضورﷺته اوشوه،نوحضورﷺ،حضرت علیﷺاوحضرت مقدادﷺاوحضرت زبیرﷺته اوفرمائیل چه لاړشئ،روضۂ خاخ مقام کښ به یوه ښځه وی چه مکی ته به روانه وی،هغې سره به یوخط وی هغه ورنه راوړئ.داحضرات حسب الحکم په آسونوباندی سواره شول،عین مقام کښ ئې هغه ښځه اونیوله اوورته ئې اوونیل چه تاسره کوم خط دې هغه راکړه هغې انکاراوکړوچه ماسره خط نشته،دوئ ورنه تالاشی واخسته اوئې نه مندلو.خویقین ئې وؤچه خط خامخاورسره دې،حضرت علیﷺورته اوونیل خط راکړه ورنه لنلقیّن الثیاب کپړی به درنه اوباسو،نوبیا هغې دَ خپلو کمسو نه خط را اوباسلو، دی حضراتو خط حضورﷺته راوړلو، دَحاطبﷺنوم وؤپکښ حضورﷺرا اوښتلو، تپوس ئې ورنه اوکړوچه تاولې داکارکړیدې،حاطبﷺ ورته عرض اوکړوچه یارسول اللهﷺما دا کار دَ کفر او ارتداد په بناء نه دې کړې،بیائې ورته خپل غرض بیان کړو،حضورﷺئې تصدیق اوکړو، هیڅ ناراضګی ئې ورنه اونکړه،دی واقعې په بناء داآیاتونه نازل شول اومؤمنانوته تنبیه اوشوه چه دکافرانوسره داسې قسمه تعلقات مه ساتئ.قرطبیؒ لیکلی دی چه کله دا

آيت نازل شونوحضرت حاطب رضي الله عنه ډيرخوشحاله شوچه الله ﷻ خه په صفت دایمان سره ياد کړمه، اوډیری خوشحالئ نه بی هوشه شو.

﴿ تُلْقُونَ إِلَيْهِم بِٱلْمَوَدَّةِ ﴾ القاء لغت کښ دلاس نه يوشي په زمکۀ راغورځولوته وائی، اومجازأيی اطلاق بغير دسوچ اوتدبر نه کارکولو باندی هم کيږي،دلته دغه دويمه معنی مراد ده، يعنی تاسودعاقبت اوانجام نه بي پرواه دوئ سره دوستی کول غواړئ؛ او "باء" په «بالمودة» کښ زائده ده يا "القاء" پمعنی "افضاء" دي،يعنی تاسو دهغوئ سره پټه دوسی کول غواړئ؛،او"باء"دپاره دتعديه ده،اويا القاء دمودة کنايه ده دارسال نه او"باء" دسببيت لپاره ده، يعنی تاسوهغوئ ته په سبب دمودة دحضور ﷺ خبرونه ليږئ،

﴿وَقَدْ كَفَرُوا﴾ دا اول علت دي دپاره د«لا تتخذوا عدوي»، يعني دوئ سره دوستي خکه مه کوئ چې دوئ کافران دي ، ﴿يُخْرِجُونَ الرَّسُولَ وَإِيَّاكُمْ﴾ دويم علت دي ، يعني دوستي خکه مه کوئ چې رسول ﷺ او تاسو ئي د خپل علاقې نه په اوباسلي يئ صرف د دی وجهې نه چې تاسو د الله ﷻ په وحدانيت ايمان راوړي دي،﴿ أَن تُؤْمِنُوا بِٱللَّهِ ﴾ "ان"مصدريه دي،مخکښ ورنه لام تعليليه مقدردې،ای لايمانکم بالله.

﴿إِن كُنتُمْ خَرَجْتُمْ﴾ دريم علت دې ، يعنی کچرته تاسو د الله ﷻ په لاره کښې واقعی جهاد کول غواړئ او دَ الله ﷻ رضامندی تلاش کول غواړئ نو بيادَ الله ﷻ دشمنانو سره تعلق دَ دوستئ مه ساتئ، خکه چې الله ﷻ رضامندي په دې کښې ده چې د هغه دشمنانو سره دوستي اونکړې شي ، دې تعلق لاتتخذواسره دې،اوغوره قول دا دې چی دا حال واقع دې دَ «لا تتخذوا» ضمير مرفوع نه ، دې تقدير باندې شرط دپاره جزا رااوباسلو ضرورت نه وي، او نه "إِنْ" دلته د شک معني ورکوي بلکه د تحقيق د پاره وي او خپل متعلق د پاره باعث جوړيږي ،يعني کله چې تاسو الله ﷻ په لار کښې جهاد کوئ او د هغه رضاغواړئ نو بيا ولې د هغه دشمنانو سره دوستي کوئ .﴿جِهَادًا ﴾ مفعول له دي

﴿ تُسِرُّونَ إِلَيْهِم ﴾دا هم سبب دَ عتاب دي،بدل دي دَ﴿تُلْقُونَ إِلَيْهِم ﴾نه،﴿ وَأَنَا أَعْلَمُ ﴾اعلم

اسم تفضيل دي مفضل عليه منکم محذوف دی ﴿بِمَآ أَخْفَيْتُمْ﴾ يعنى پټ او ښکاره هر څه الله ﷻ ته برابر دي هغه نه څه نشئ پټولې، ﴿وَمَن يَفْعَلْهُ مِنكُمْ﴾ ضمير منصوب مرجع اسرار ده يعنى که څوک داسى کار کوى اودايى سوچ وى چى څه به دا د الله ﷻ نه پټ اوساتم نو دې بالکل په غلطه باندې دې، يا د ضمير منصوب مرجع اتخاذ دې، يعنى څوک چې هم د مسلمانانو نه کافر دوست جوړول غواړی نو دې په غلطه باندې دې

اَيْدِيَهُمْ	اِلَيْكُمْ	وَيَبْسُطُوٓا	اَعْدَآءً	لَكُمْ	يَكُوْنُوْا	اِنْ يَّثْقَفُوْكُمْ
که چرې وس اورسى دَدوئ په تاسونوشى به دوئ ستاسودشمنان اواوږده به کړى تاسوته لاسونه خپل						
اَرْحَامُكُمْ	لَنْ تَنْفَعَكُمْ	تَكْفُرُوْنَ ۞	لَوْ	وَوَدُّوْا	بِالسُّوْٓءِ	وَاَلْسِنَتَهُمْ
اوژبې خپلې په تکليف سره اوخوښوی به دوئ چه تاسوکافران شئ،هرګزبه نفع دروښه رسوی تاسوته خپلولی ستاسو						
وَاللّٰهُ	بَيْنَكُمْ	يَفْصِلُ	الْقِيٰمَةِ	يَوْمَ	اَوْلَادُكُمْ	وَلَآ
ستاسوکښ،اوالله ﷻ	مينځ	الله ﷻ به	اوکړى	به	دَقيامت،جدائى ورځ	اونه اولادستاسو،په
بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ۞						
په هغه څه چه تاسوئى کوئ ښه ليدونکې دې						

﴿ إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُوا لَكُمْ أَعْدَآءً ﴾ څلورم علت دی ، يعني دوئ سره دوستي مه کوئ ځکه چې تاسو هر څومره دَدوستئ اظهارورسره اوکړئ خوداکافران هيڅ کله ستاسوخيرخواه نشى کيدلې، کچرته په تاسوئى لاس برشى نوښکاره دشمنى به درسره کوى.﴿وَيَبْسُطُوٓا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ ﴾لاسونه به اوږده کړى يعنى تاسوبه قتل کوى اووهى به مو،اوکفرته به مودوباره واپس کوى.

﴿لَن تَنفَعَكُمْ أَرْحَامُكُمْ﴾ پنځم علت دې ،او رد دې دَ خيال دَ حاطب ﷺ خصوصًا ، او دَ هر مسلمان عمومًا ،چه دَ کومو اقاربو او اولادو په وجه تاسودَ کافرانوسره مودّت کوئ هغه

اولاد ، اقارب تاسو ته دقیامت په ورځ هیڅ نفع نشی درکولې،نو ددوئ په وجه خپل آخرت مه خرابوئ ((ارحامکم)) دلته ترینه یا حقیقی معنی مراد ده یعنی خپلولی اورشته داری،اویاترینه مجازی معنی مراد ده یعنی خپلوان اورشته داران.﴿ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾(۱)متعلق دې د﴿لَن تَنفَعَكُمْ ﴾ سره،یعنی دقیامت په ورځ دوئ تاسو ته هیڅ نفع نشی درکولې څکه چه﴿ يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ﴾ الله ﷻ به جدائی راولی ستاسو مینځ کښ په سبب دهولناکئ.دیوبل نه به منډې وهئ، کقوله تعالی:یومَ یفرّ المرء من اخیه... (عبس:۳۴)

(۲) یا﴿ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ﴾متعلق دې دورستو﴿يَفْصِلُ بَيْنَكُمْ ﴾سره

قَدْ كَانَتْ لَكُمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ فِىٓ إِبْرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ

په تحقیق سره ستاسودپاره نمونه ښائسته ده. په ابراهیم علیه السلام کښ اوپه هغه کسانوکښ چه دده سره وو،

إِذْ قَالُوا۟ لِقَوْمِهِمْ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُا۟ مِنكُمْ وَمِمَّا تَعْبُدُونَ

کله چه ئی اووئیل قوم خپل ته چه بیشکه مونږبیزاره یوستاسونه اودهغه څه نه چه عبادت ئی کوئ تاسو

مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرْنَا بِكُمْ وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ ٱلْعَدَٰوَةُ

بی دالله ﷻ نه،انکارکړې دې مونږ د ستاسواوښکاره شویده په مینځ زمونږکښ اوستاسوکښ دشمنی

وَٱلْبَغْضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤْمِنُوا۟ بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥٓ إِلَّا قَوْلَ إِبْرَٰهِيمَ

اوبغض همیشه دپاره تردی چه تاسو ایمان راوړئ په الله ﷻ باندی یو اځی مگراقتدامکوئ دیوی خبری دابراهیم علیه السلام

لِأَبِيهِ لَأَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمْلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ

چه وئیلی وۍپلار خپل ته چه خامخابه څه بخنه غوارم ستادپاره،اوڅه اختیار نه لرم د بچ کولو تالره دعذاب دالله ﷻ نه

مِن شَىْءٍ ۖ رَّبَّنَا عَلَيْكَ تَوَكَّلْنَا وَإِلَيْكَ أَنَبْنَا وَإِلَيْكَ ٱلْمَصِيرُ ④

دهیڅ څیز.اې ربه زمونږخاص په تاباندی اعتمادکړیدې مونږاوخاص تاته رجوع کړیده مونږاوخاص تاته درتلل دی،

رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَاغْفِرْ لَنَا رَبَّنَا ۚ اِنَّكَ اَنْتَ
اې ربه زمونږه مه ګرځوه مونږ تختهٔ مشق لپاره دكافرانواوبخنه اوكړه مونږته اې ربه زمونږ،بيشكه هم نه
الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۞ لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيْهِمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَنْ
ديرغالب ديرحكيم يې،خامخاپه تحقيق سره ده ستاسودپاره په هغوئ كښې نمونه ښائسته(يعنې)،دپاره دهغه كس
كَانَ يَرْجُوا اللّٰهَ وَالْيَوْمَ الْاٰخِرَ ۭ وَمَنْ يَّتَوَلَّ فَاِنَّ اللّٰهَ
چه هغه اميدساتې دملاقات دالله اودورځې دآخرت،اوهغه څوک چې مخ اوګرځوي،نوبيشكه الله ﷻ
هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۞
هم هغه بې پرواه دې ډيرستائيلې شوېدې

﴿ قَدْ كَانَتْ لَكُمْ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾دكافرانوسره دعدم موالاتودپاره دابراهيم عليه السلام مثال ذكر كيږي،چه دابراهيم عليه السلام متبع شئ چه دتوحيددپاره ئې دخپل مشرك قوم نه برائت اوكړو ،د﴿وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ ﴾نه مراددده مؤمنان متبعين دي لكه لوط عليه السلام ياورنه مرادانبياءكرام دي، ﴿اِنَّا بُرَءٰٓؤُا مِنْكُمْ ﴾جمع دبرئ ده ﴿ كَفَرْنَا بِكُمْ ﴾ يعنې چې تاسو دالله ﷻ وحدانيت اوپه هغې باندې واضح آياتونه انكار كوئ نو مونږ هم ستاسو څه پرواه نكوو،مونږ هم ستاسو اوستاسو معبودانونه انكار كوو،"كفر" دلته كنايه ده تحقير شان نه،يعنې زمونږ په نيز تاسو اوستاسو معبودان هيڅ نه دي.

﴿وَبَدَا بَيْنَنَا وَبَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةُ وَالْبَغْضَآءُ اَبَدًا ﴾يعنې ترڅوچه تاسودالله ﷻ په وحدانيت باندې ايمان نه وي راوړې ترهغې به زمونږستاسومينځ كښې بغض اوعداوة وي."عداوة"ښكاره دشمنې ته وائي اوبغض پټې دشمنې يعنې حسدته وائي،بعض وائي داواړه متقارب دي."بغضاء" شدة البغض ته وائي.

﴿ اِلَّا قَوْلَ اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ لَاَسْتَغْفِرَنَّ لَكَ ﴾استثناء ده د﴿ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ﴾نه،يعنې دابراهيم عليه السلام په ټولواقوالو،افعالوكښې ستاسودپاره اسوهٔ حسنه ده،تابع دارې ئې كوئ

مکرپه دي قول کښې ئې تابعداري مه کوئ،يعنې دمشرکانونه برأت درباندې ضروري دي ليکن دهغوئ لپاره استغفار درباندې حرام دي.استغفاردابراهيم عليه السلام لپاره دخپل مشرک پلار په سورة مريم (۴۷)کښې تيرشويدي.

﴿وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ﴾ واؤ حاليه دي اوجمله په محل دنصب کښې ده،حال دي دفاعل دَ﴿ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ﴾نه يعنې استغفار خودرله کولې شم خونور وس مې نشته چې دالله تعالیٰ دعذاب نه دې هم بچ کرم. استثناء په «الا قول ابراهيم »کښې صرف داستغفارنه ده، وما املک سره يې تعلق نشته ،ځکه داقول قابلِ اتباع دې.

﴿رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا ﴾داهم دعادابراهيم عليه السلام ده،ياپکښې قولوا مقدردي،امردي دې امت ته، اوتنبيه ده په انابت الله تعالیٰ ته،اوپه استعاذې دعذاب داهل کفرنه،اودخپل ګناهونونه استغفار باندې. ﴿ لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةً ﴾اى موضع فتنة وعذاب،يعنې دکافرانودعذاب ځائ مونږه مه ګرځوه،يا فتنة مصدربمعنى دمفتون دي،اى ربّنالاتجعلنامعذبين للذين كفروا(روح).

﴿لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِيهِمۡ ﴾تکراردتاکيددپاره دي په اتباع کښې﴿ لِّمَن كَانَ ﴾بدل دي د لکم نه

عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ بَيۡنَكُمۡ وَبَيۡنَ ٱلَّذِينَ عَادَيۡتُم مِّنۡهُم
نزدې ده چه الله تعالیٰ به پيداکړې په مينځ ستاسوکښې اودهغه کسانوکښې چه دشمنى لرئ تاسودهغوئ سره
مَّوَدَّةٗۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٞۚ وَٱللَّهُ غَفُورٞ رَّحِيمٞ ۝ لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ
دوستى،اوالله تعالیٰ به قادردې اوالله تعالیٰ مغفرت کونکې ديررحم والادې،نه منع کوى تاسوالله تعالیٰ دهغه خلقونه
لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِي ٱلدِّينِ وَلَمۡ يُخۡرِجُوكُم مِّن دِيَٰرِكُمۡ
چه نه ئې دي کړې جنګ تاسوسره په دين کښې اونه ئې ويستلى يئ تاسودخپلوکورونونه
أَن تَبَرُّوهُمۡ وَتُقۡسِطُوٓاْ إِلَيۡهِمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلۡمُقۡسِطِينَ ۝ ٨
ددينه چه نيکى اوکړئ ورسره اوچه انصاف اوکړئ ورسره،بيشکه الله تعالیٰ خوښه وى انصاف کونکى.

اِنَّمَا يَنۡهٰىكُمُ اللّٰهُ عَنِ الَّذِيۡنَ قٰتَلُوۡكُمۡ فِى الدِّيۡنِ وَاَخۡرَجُوۡكُمۡ
بیشکه منع کوی تاسو الله ﷻ د هغه خلقونه چه جنګ ئی کړې وی تاسو سره په دین کښې او اوباسلی یې تاسو
مِّنۡ دِيَارِكُمۡ وَظٰهَرُوۡا عَلٰٓى اِخۡرَاجِكُمۡ اَنۡ تَوَلَّوۡهُمۡ‌
د کورونو د ستاسو نه او مددئی کړيدې په اوباسلو ستاسو کښې، د دینه چه نیکی ورسره وکړئ،
وَمَنۡ يَّتَوَلَّهُمۡ فَاُولٰٓـئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝
او هغه څوک چه ملګرتیا کوی د دوئ نو دغه خلق هم دوئ ظالمان دی

﴿عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجۡعَلَ بَيۡنَكُمۡ﴾ دی کښې مؤمنانو ته د هغوئ مشرک اقاربو د ایمان راوړلو بشارة دې، او تسلی ده ورته چه د ایمان پوجه د کومو رشته دارانو سره، اباؤو او ابناؤو سره تعلقات ختم شوي دی عنقریب به الله ﷻ ستاسو او د هغوئ په مینځ کښې مودت پیدا کړی، یعنی هغوئ ته به د ایمان راوړلو توفیق ورکړی، نو بُغض به په مودت بدل شی، الله ﷻ د مسلمانانو سره دا وعده پوره کړه چه د فتح مکی په وخت کښې ډیر و اهل مکۀ ایمان راؤړلو، لکه ابو سفیان، سُهیل بن عمرو، حارث بن هشام وغیره.

﴿لَّا يَنۡهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ﴾ دا د یو بل نوعیت بیان دې د کفارو سره د تعلقاتو، یعني دوستي او موالات خو هر قسم کافر سره منع دې خو احسان او همدردي کول د هر کافر سره منع نه دي بلکه هغې کښې تفصیل دې، چې کوم اهل حرب دي هغوئ سره منع دې او کوم چې ذمیان دي یا صلح کونکي او مستامنین دي نو هغوئ سره احسان کول منع نه دي،

« لا ينهاكم الله » کښې د ذمیانو او مصالحینو حکم بیان دې. ﴿أَن تَبَرُّوهُمۡ﴾ بدل دې د ﴿ٱلَّذِينَ لَمۡ يُقَٰتِلُوكُمۡ﴾ نه، بخاری وغیره کښې دی چه اسماء رضي الله عنها وائی چه د صلح حدیبیه نه ورستو خما مور مدینی ته راغله، څه حاجت ئی وؤ، نو ما د حضور ﷺ نه تپوس او کړو چه آیا څه هغی ته د صله رحمئ په طور څه ورکولې شم؟ نو الله ﷻ دا آیت نازل کړو، نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل چه هاؤ، خپلی مور سره صله رحمی اوکړه، په یو روایت کښې داسی دی چه د دی مور د دی خواته راغله او څه هدایائی ورته راوړی، دا مشرکه وه نو څکه ورنه اسماء رضي الله عنها انکار اوکړو او کور ته نی نه داخله وله، تردی چه د عائشې رضي الله عنها په ذریعه ئی د حضور ﷺ نه د دی باره کښې تپوس اوکړو، نو

الله ﷻ دا آیت نازل کړو، نو حضور ﷺ ورته امر اوکړو چه هدایا ورنه قبولې کړه اوکورته ئې بوځه، دې آیت نه فقهاؤ دا ثابته کړیده چه دَغیرمسلم مصالح ته نفلي صدقات ورکول جائز دي.

﴿إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ﴾ دینه مراد اهل حرب غیر مصالحین دي، لکه عام مشرکین مکه ﴿أَن تَوَلَّوْهُمْ﴾ بدل دې دَ﴿ٱلَّذِينَ﴾ نه، ﴿فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾ حصر کښې مبالغه ده، او دوئ ظالمان ځکه دي چه دَدشمنې په ځائ ورسره دوستي اوکړه او هم دا دَظلم تعریف دې، یا ظلم کونکي دي پخپلو ځانونو چه عذاب ته ئې ځان وړاندې کړو.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٍ فَٱمْتَحِنُوهُنَّ ۖ ٱللَّهُ

اې ایمان والو! کله چه راشي تاسو ته مؤمنانې ښځې هجرت کونکي نوامتحان ئې واخلئ، الله ﷻ

أَعْلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ ۖ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ

ښه عالم دې په ایمان دَهغوئ، پس کچرته پوهه شئ تاسو په هغوئ چه مؤمنانې دي نو مه واپس کوئ هغوئ

إِلَى ٱلْكُفَّارِ ۖ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ ۖ وَءَاتُوهُم

کافرانو ته، ځکه چه نَدي دوئ حلالې دَهغوئ لپاره او نه هغوئ حلال دي دَدوئ لپاره، او ورکړئ کافرانو ته

مَّآ أَنفَقُواْ ۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ

هغه مال چه لګولې ئې دې اونشته هیڅ ګناه په تاسو دَې چه نکاح ورسره اوکړئ خو کله چه

ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۚ وَلَا تُمْسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ

ورکړئ ورته (ښځو هجرت کونکو ته) مهرونه دَهغوئ او مه ساتئ تاسو تعلق (نکاح) دَکافرو ښځو،

وَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُواْ مَآ أَنفَقُواْ ۚ ذَٰلِكُمْ

او غواړئ هغه مال (مهر) چه لګولې دې تاسو، او غواړي دې کافران هغه مال چه هغوئ لګولې دې، دا

حُكْمُ ٱللَّهِ ۖ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ⑩

حکم دَالله ﷻ دې، حکم کوي په مینځ ستاسو کښې، او الله ﷻ ډیر پوهه او ډیر حکمت والا دې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ﴾ دا اول قانون دي مؤمنانوته په باره دَ مؤمناتو مهاجراتو کښې، چه کله دَ کفارو خوانه تاسوته زنانه هجرت اوکړی اودَایمان دعوه کوی نو تاسو ئې امتحان واخلئ چه په دعوه کښې ریشتنی دی او که نه؟که ستاسویقین اوشی چه په رشتیا مؤمنانی دی،نوبیائی کفاروته مه واپس کوئ،دَهغوئ دپاره اوس دوئ حلالی نه دی، دَ دې آیت شان نزول باره کښې مفسرین وائی چه دَصلح حدیبیه په شرطونو کښې یوداشرط هم وؤچه کچرته دکافرانونه دَمسلمانانوخواته څوک لاړشی اواسلام راوړی نومسلمانان به ئې واپس کوی،اوکه دَمسلمانانونه څوک لاړشی نوکافران به ئې نه واپس کوی،امّ کلثوم بنت عقبه دَ مسلمانانو خواته راغله هجرت ئې اوکړو، نودَدې رونړه پدې پسې راغلل او دَ حضور ﷺ نه ئې مطالبه اوکړه چه داموږته راواپس کړه،نوداآیت نازل شو،حضورﷺورته واپس نه کړه، دَ زیدبن حارثهرضي الله عنهسره ئې ورته نکاح اوکړه،بعضِ وائی هجرت کونکی سبیعه بنت الحارث وه،بعضِ وائی امیمه بنت بشروه،چه کومه یوه هم وی خودآیت مطلب دادې چه دَصلح حدیبیه شرط صرف دَسړوباره کښې دې،ښځوباره کښې نه دې.دا قانون په اووه دفعاتو او احکاماتو باندی مشتمل دې.

(۱)هجرت کونکي ښځو امتحان اخلئ چی په کوم نیت یی هجرت کړې دې،

(۲)کچرته دوئ مؤمناتې وي نوبیایی کفارو ته مه واپس کوئ ځکه دوئ هغوئ دَ پاره اوهغوئ دَدوئ دَپاره اوس حلال نه دی.

(۳) دې مهاجراتومهردَ دوئ کافرخاوندانوته حواله کړئ.

(۴) "دار" بدلیدو سره دوئ دَسابقه خاوندانونه آزادې شوي دي، نو تاسو ورسره بشرط اداء مهر اوس نکاح کولې شئ.

(۵) دغه شان دکومو مسلمانانو کافرې ښځې په دارالحرب کښې پاتی دی هغوئ نکاح مسلمان خاوندانو سره ختم شو.

(۶) دغه شان خاوندان یوبل سره دَ مهر تبادله کولې شی.

(۷)کچرته کافرنه وي تیار، نو مسلمانان دې هم بیامهاجرې ښځې مهر کافر له نه ورکوی.

﴿فَٱمۡتَحِنُوهُنَّۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّ﴾ دا اول حکم دې یعنی باطنی کیفیاتو باندی ئې الله ﷻ ستاسونه زیات عالم دې،صرف ظاهری حالات ئې معلوم کړئ چه دَځه مقصد دپاره ئې هجرت کړیدي، دَخاوندسره ئې ورانه خونه ده کړې؟یادَعشق دَوجی نه ئې خو هجرت نه دې

کړې، بعض روایاتو کښې راغلیدي چې حضرت عمرﷺ به ورته قسم ورکولوچه: ماخرجت رغبةً بارضٍ عن ارض،وبالله ماخرجت من بُغض زوج،وبالله ماخرجت التماس دنیا، وبالله ماخرجت الا لله ورسوله (روح).

﴿فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُؤْمِنَٰتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلْكُفَّارِ﴾دویم حکم دې، روایت دې چه کله به مهاجرې ښځې دغه قسم اوکړو،نوحضورﷺبه ئې کافرخاوندته دَهغې مهروغیره واپس ورکړو، او دا به ئې نه واپس کوله. ﴿لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ﴾تعلیل دې دَنهي مذکورې،چه الله ﷻ دَ مؤمنې نکاح دَ کافر سره حرامه کړې ده اودغه شان کافره ئې دَمسلمان دپاره حرامه کړیده.

﴿وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُوا﴾ دریم حکم دې او حکم امام المسلمین ته دې،چه دَهجرت کونکې ښځې کافر خاوند ته هغه مهروغیره واپس ورکړئ چه دې ښځې ته ئې ورکړیدې،چه دوه تاوانه ورباندې رانشي،تاوان دَښځې اومال،امام به دغه مهردَبیت المال نه ورکوي.

﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ﴾څلورم حکم دې، یعنې دَهجرت کونکې ښځې نکاح دَ کافر خاوند سره په سبب دَاختلاف دداربنوفسخ شواوس ورسره مسلمان نکاح کولې شي بغیر دَ تیرولو دَ عدت نه، کچرته حامله نه وي.اګرچه کافرخاوندورته طلاق نه وي ورکړې،البته شرط دا دې چه مهربه ورته ورکوي،کافرخاوندته چه کوم مهرواپس شویدې هغه قائمقام دَ دې دَ مهر نه دې.

﴿وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ ٱلْكَوَافِرِ﴾پنځم حکم دې، «کوافر» جمع دَ «کافرةٌ» ده او «عصم» جمع دَ«عصمة» ده،دلته ورنه مراد نکاح دې اومقصددادې چه که دَیومومن ښځه کافره په مکه کښې پاتې شوې وي ، هجرت ئې نه وي کړې،نونکاح دَدوئ ختم شو،دَدې دَنزول نه قبل دَمسلمان اودکافرې ښځې نکاح یابالعکس جائزوه،دینه بعد ناجائز شوه،

﴿وَسْـَٔلُوا مَآ أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْـَٔلُوا مَآ أَنفَقُوا﴾شپږم حکم دې، یعنې کچرته(نعوذبالله)یوه مسلمانه ښځه مرتده شي اوکافرانوته لاړه شي نومسلمانان دې دَمهرمطالبه ورنه اوکړي،اوکه یوه ښځه مسلمانه شي اوراشي نوکافران دې دَخپل مهرمطالبه اوکړي.

وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ اِلَى الْكُفَّارِ فَعَاقَبْتُمْ فَاٰتُوا
اوکچرته پاتې شي ستاسونه څه شي دَ ښځوستاسو کافرانوته نوچه ستاسونمبرپرې راشي نوورکړئ
الَّذِيْنَ ذَهَبَتْ اَزْوَاجُهُمْ مِّثْلَ مَآ اَنْفَقُوْا ۗ وَاتَّقُوا اللّٰهَ
هغه کسانو(مسلمانانو)ته چه تلي دي ښځې دَهغوئ په شانته دَهغې(مهر)چه دوئ لګولې دي.اوبيريږئ دَالله ﷻ نه
الَّذِيْٓ اَنْتُمْ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ⑪
هغه الله چه تاسوپرې ايمان راوړې دې.

﴿وَاِنْ فَاتَكُمْ شَيْءٌ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ﴾ **اووم حکم دې**، روايت دې چه کله مذکوره حکم نازل شو نو مسلمانانو دَ مهاجراتو مهرونه واپس کړل،ليکن کافرانو انکار اوکړو نو دا آيت نازل شو﴿شَيْءٌ﴾نه مراد مهر دې ، او دا احتمال هم مفسرينو ذکر کړې دې چې دينه مراد زوجه وي ،او شيئ سره ئي ذکر دَ پاره دَ تحقير دې ، يعني که ستاسو نه يوه ښځه کافرانو ته لاړه شي او کافران دَ هغې مهر تاسو ته واپس نه کړي ﴿فَعَاقَبْتُمْ﴾ دَ "عقبة" نه مأخوذ دې، نوبت او نمبر ته وائي،حاصل دا دې چه کچرته لاړې شي بعضې دَ ښځو ستاسو نه کفارو ته او هغوئ دَ هغې مهر مسلمان ته نه واپس کوئ، نو بيا ستاسو نمبر راشي، يعنې دَ کافرښځه مسلمانه شي نو دَ هغې مهر دَ هغې کافرخاوند ته مه ورکوئ بلکه هغه مسلمان ته ئي ورکوئ چه دَهغه ښځه کافره شويده،اومهرته ورته نه دې واپس شوې، ((مثل ما انفقوا)) يعنې بقدر مهرمال دې مسلمان له ورکړې او که بقايااضافي مال پاتې کيږي نو هغه دې بيا کافرخاوند ته حواله کړي(تفسير عثماني)

څنې مفسرين فرمائي چې ((فعاقبتم))دَعقاب نه ماخوذ دې يعنې کله چې بياتاسو دوئ سره جهاد اوکړئ او تاسوته مالِ غنيمت ميلاؤشي نودَدينه دې دغه مسلمان ته دَهغه مهرورکړې شي، ابن عباس رضي الله عنه وائي چه حضور ﷺ به دَخمس نه مخکښ دغه شان مسلمان ته مال ورکولو (روح وغيره).

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلٰٓى اَنْ لَّا يُشْرِكْنَ
اې نبي ﷺ کله چه راشي تاته مؤمنانې ښځې بيعت کوي تاسره پدې چه شريک به نه ګرځوي
بِاللّٰهِ شَيْـًٔا وَّلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِيْنَ وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَاْتِيْنَ
دَالله ﷻ سره هيڅ شې، اونه به کوي غلا اونه به کوي زنااونه به قتله وي اولادخپل اونه به راتله کوي
بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ بَيْنَ اَيْدِيْهِنَّ وَاَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِيْنَكَ
په بهتان چه تړي به هغه په مينځ دَدلاسونوخپلواوخپوخپلوکښ،اونافرماني به نه کوي ستا
فِيْ مَعْرُوْفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللّٰهَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۲﴾
په نيک کارکښ نوبيعت ورسره اوکړه اوبخنه ورله غواړه دَالله ﷻ نه،بېشکه الله ﷻ غفور رحيم دې

﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا جَآءَكَ الْمُؤْمِنٰتُ يُبَايِعْنَكَ﴾ دا دويم قانون دې حضور ﷺ ته په باره دَبيعت دَ زنانه وُکښ،مفسرين وائي چه کله حضور ﷺ مکه فتحه کړله نوزنانه به راتللې اسلام به ئې قبولو، بيعت به ئې کولو ،نودا آيت نازل شو،چه کوم زنانه داشپږشرطونه قبول کړي نوته ورنه بيعت قبول کړه.

﴿وَلَا يَقْتُلْنَ اَوْلَادَهُنَّ﴾ دينه مرادوأدالبنات يعنى ژوندئ لونړې خخول دي، يا ورنه مطلق اولاددې ځکه چه عربوبه دَفقرفاقې پوجه اولادقتلول،كقوله تعالى: ولا تقتلوا اولادكم خشية املاق.

﴿وَلَا يَاْتِيْنَ بِبُهْتَانٍ يَّفْتَرِيْنَهٗ﴾ جمهور مفسرين دې مطلب دابيانوي چې زمانه جاهليت کښ چې به دکومې ښځې اولاد نه کيدو ،نودَطلاق دَخوف نه به يې داسې اوکړو چې خيټه پړسولو والا دوائ به يې اوځکله اوخيټه به يې خاوند ته ښکاره کړه چې ځه حامله يم، اوبيا مدت حمل پوره کيدلو وخت کښ به يې په ځان درد راوستلو ،اوچرته نه به يې بچې راوستلو اوخپو مينځ کښ به يې اوغورځولو اودابه يې اوئې چۀ ځما بچې اوشو ،مطلب داچې دَ پردي هلک نسبت خپل خاوندانو ته مه کوئ(التحرير والتنوير)

﴿بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ﴾ بين ايدهن اول حالت اعتبار سره دي،چې خاوند ته به پرسيدلى خيته ظاهره كړه چې څه حامله يم حالانكه حامله به نه وه،چونكه خيته د لاسونو مينځ كښ ده ، نو ځكه بين ايديهن ذكر شو ،او ارجلهن آخر حالت اعتبار سره دې يعنى بچى به بى راوړو ، او خپو مينځ كښ به يې اوغورځولو ،اوبيا به ئي خاوند ته اوونيل چې داځما ستانه شوې دې ، يا﴿بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ﴾كنايه ده د ذات نه، اي يفترينه من قبل انفسهن يعنى د ځان نه يې جوړه وئ.

﴿وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ﴾ دى كښې ټول احكام د شريعت،اوامر،نواهى داخل دى، عائشه رضي الله عنها فرمائى چه كومو ښځوبه دااقراراوكړونوحضور ﷺ به ورته اوفرمائيل:انطلقن فقد بايعتكن تاسو لاړې شئ ماستاسوبيعت قبول كړو،والله مامسّت يدُرسول الله ﷺ يدامرأة قطّ، يعنى نبى عليه السلام په وخت د بيعت كښې د اجنبى زنانه د لاس سره لاس نه دې لګولې،په يوروايت كښې دى چه كله حضور ﷺ د زنانه ؤسره بيعت كولو ،نوپه لاس باندى ئى كپړه وه،دى روايت نه مصافحه معلوميږى،ليكن مشهوره داده چه مصافحه به نه وه،ابو حيان رحمه الله وائى چه بيعت د زنانه ؤسره په دويمه ورځ د فتح مكى وؤ،ورستود فراغت د سړونه،حضور ﷺ په صفاغونډئ ناست وؤ،عمر رضي الله عنه لاندى وؤ،حضور ﷺ په امر سره به ئى د زنانه ؤ نه بيعت اخستلو او د حضور ﷺ خبرى به ئي هغوئ ته نقل كولې،

اسماء بنت يزيدوائى چه په وخت د بيعت كښې د ابى سفيان رضي الله عنه بى بى هندبنت عتبه هم موجوده وه،ځان ئى په برقعه كښې پټ كړې وؤچه حضور ﷺ مى اونه پيژنى،ځكه چه دى په أحد كښې د حضور ﷺ تره حمزه رضي الله عنه سره ډيرظلم كړې وؤ،نبى كريم عليه السلام په زنانه ؤداآيت لوستلو، كله ئى چه اوفرمائيل﴿عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشۡرِكۡنَ بِٱللَّهِ شَيۡـٔٗا﴾نودى اوونيل چه داخولازمى شرط دې، د سړونه شرک قبول نه دې نومونږبه څنګه قبول شى،كله ئى چه اوفرمائيل﴿وَلَا يَسۡرِقۡنَ﴾ نو دى اوونيل چه ابوسفيان بخيل سړې دې،څه د هغه د مال نه په پټه لږمال اخلم،پته نشته چه هغه به ځما دپاره حلال وى اوكنه؟ ابوسفيان رضي الله عنه ورته اوونيل ځمامال ستادپاره ټول حلال دې، حضور ﷺ اوخاندل اوونى پيژندله چه ته هندبنت عتبه ئى،دى ورته معافى اوغوښتله چه ماته

خپل جرم معاف کړه، کله چه ئې دااوفرمائیل﴿وَلَا يَزْنِينَ﴾نودی اوونیل، زنا خو دَ شریفو ښځو کار نه دې آیاحرائرې هم زناکوي؟کله چه ئې دااوفرمائیل﴿وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ﴾نودی اوونیل: مونږ خپل اولاد واړه غټ کړل، تاسو راله په بدرکښې قتل کړل،اشاره ئې خپل ځوی حنظله بن ابی سفیان ته وه چه بدرکښې قتل شوې وو،عمرﷺپه دی خبره دومره اوخاندل چه سملاست، او حضورﷺتبسم اوکړو،کله ئې چه دااوفرمائیل﴿وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَٰنٍ﴾دی اوونیل،بهتان امر قبیح دې،او الله ﷻدې ښه اخلاقو امرکوی،کله ئې چه دا اوفرمائیل﴿وَلَا يَعْصِينَكَ فِى مَعْرُوفٍ﴾ نو دی اوونیل په الله ﷻقسم چه ستاپه مجلس کښې مونږناستی یوزمونږپه زړونوکښې داخیال نشته چه مونږبه ستانافرمانی اوکړو.

يَٰٓأَيُّهَا	الَّذِينَ	ءَامَنُوا	لَا	تَتَوَلَّوْا	قَوْمًا	غَضِبَ	اللَّهُ	عَلَيْهِمْ	قَدْ
اې	ایمان	والو!	مکوئ دوستئ		دغې قوم سره	چه غضب کړیدې	الله ﷻ	په هغوئ،	په تحقیق سره
يَئِسُوا	مِنَ	الْأٓخِرَةِ	كَمَا	يَئِسَ	الْكُفَّارُ	مِنْ	أَصْحَٰبِ	الْقُبُورِ ﴿١٣﴾	
نا امیده شوی دی دوئ		دآخرت ثواب نه	لکه چه	ناامیده شویدی	کافران	دخاوندانو		دقبرونو نه	

﴿يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا لَا تَتَوَلَّوْا قَوْمًا﴾په آخرکښې مؤمنانوته دزجراعاده ده کوم چه په ابتداء کښې تیروؤ،قوم مغضوب نه مرادیهودیان دی،لقوله تعالیٰ بل لعنهم الله وغضب علیه· اولی دا ده چه ټول کافران ورنه مرادشی،﴿قَدْ يَئِسُوا مِنَ الْأٓخِرَةِ﴾ای ثواب الاخرة

﴿كَمَا يَئِسَ الْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَٰبِ الْقُبُورِ﴾«من» یا بیانیه دې، «اصحاب القبور »دَ«الکفار»بیان دې اومطلب دادې چه لکه څرنګه اصحاب القبورکافران دَ آخرت دثواب اونجات نه ناامیده شوي دی دغه شان دوئ هم دَ آخرة نه ناامیده دی،یا«من»ابتدائیه دې،او«الکفار»وضع دظاهرده په موضع دَ ضمیر،اومطلب دادې چه داکفاردآخرت نه داسی ناامیده دی لکه چه دوئ دَاصحاب القبورُ دَدوباره ژوندی کیدلونه ناامیده شوي دی.(والله اعلم).

رکوعاتها (۲)	سورة الصّف مدنية	آیاتها (۱۴)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۶۱) وحسب النزول (۱۰۹)

نزلت بعد التغابن وقبل الجمعة

ربط. ماقبل په شان دی سورة کښې هم مضمون دَجهادبیانیږی،او زجرونه دي هغې مسلمانانو ته چه جهاد کښې ورنه کوتاهي شوې وه.

خلاصه: ابتداء کښې بیان دَتوحید دې، چه دَدی دَخاطره جهادلازم دې، دری(۳)خطابونه دی مسلمانانو ته، په آخرکښې بشارت دَفتح دې.

سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَهُوَ الْعَزِيْزُ
پاکی بیانوی الله لره هغه څه چه په اسمانونوکښې دی اوهغه څه چه په زمکه کښې دی،اوالله تعالیٰ غالب
الْحَكِيْمُ ① يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ② كَبُرَ مَقْتًا
حکیم دې،اې ایمان والوولې وایئ تاسو هغه چه نه ئې کوئ ډیره دَخفګان خبره ده
عِنْدَ اللّٰهِ اَنْ تَقُوْلُوْا مَا لَا تَفْعَلُوْنَ ③
په نیزدَالله داچه وایئ تاسوهغه څه چه نه ئې کوئ.

﴿سَبَّحَ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾ دابیان دَتوحید دې چه دَدی دَخاطره جهادکول لازم دی،باقی تفصیل ئې ماقبل کښې تیرشویدې.

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لِمَ تَقُوْلُوْنَ مَا لَا تَفْعَلُوْنَ﴾ دااول خطاب دې مؤمنانو ته،چې کومه خبره کوئ بیا هغه پوره کوئ، داسې خبره مه کوئ چې بیا صبا پوره کولي نشې،قول دې یوڅه وی او عمل دې بل څه وی په دې الله تعالیٰ ډیر خفه کیږی.

روایاتو کښې دي چې يوڅوصحابه کرام ناست وؤ او دا مذاکره ئي کوله چه کچرته مونږته معلومه شی چه کوم عمل الله ﷻ ته زيات محبوب دې نو مونږ به پری عمل اوکړو، نو الله ﷻ دا سورة نازل کړو، چې ماته ناخوخ عمل دادي چې دعوىٰ دې يوه وي اوعمل دي هغې مخالف وی اوخوخ عمل دادي چې څماپه لار کښې نظم وضبط سره قتال اوکړئ،پديکښې مؤمنانو ته زجردې چې الله ﷻ ته محبوب عمل نظم وضبط سره قتال وجهاد کول دي،نوکله چې دا حکم نازل شو نو تاسو بياولې دا وايئ« لم كتبت علينا القتال،لولا اخرتنا الى اجل قريب » او ولې خو په جنګ احد کښې بدانتظامی مظاهره اوکړه

﴿كَبُرَ مَقْتًا عِندَ ٱللَّهِ﴾ «كبر»دلته فعل ذم دې ،فاعل یې ضمير مستتر مبهم دې چې ﴿مَقْتًا﴾ تميز ئي تفسير کوي، ﴿أَن تَقُولُوا﴾ مخصوص بالذم دې،ديکښې ناخوخ عمل بيان دي﴿مَقْتًا﴾خفګان اوناراضګئ ته وائي.

إِنَّ	اللهَ	يُحِبُّ	الَّذِيْنَ	يُقَاتِلُوْنَ	فِيْ	سَبِيْلِهٖ	صَفًّا	كَاَنَّهُمْ	
بيشکه	الله	خوښه وی	هغه خلق	چه جنګ کوی	په لاره	دَالله کښې	صف	تړونکی ګوياچه دوئ	
بُنْيَانٌ	مَّرْصُوْصٌ ۝٤	وَاِذْ	قَالَ	مُوْسٰى	لِقَوْمِهٖ	يٰقَوْمِ	لِمَ		
عمارت دي	کلک شوې په قلعی سره،	اوکله	چه اووئيل	موسیٰ عليه السلام	قوم خپل ته	اې قومه	څماولې		
تُؤْذُوْنَنِيْ	وَقَدْ	تَّعْلَمُوْنَ	اَنِّيْ	رَسُوْلُ	اللهِ	اِلَيْكُمْ	فَلَمَّا	زَاغُوْٓا	
تکليف راکوئ	ماته حال داچه	تاسوپوهيږئ	پدې چه بيشکه	څه	الله	رالیږلی يم تاسوته،	نوهرکله چه	کاږه شول دوئ	
اَزَاغَ	اللهُ	قُلُوْبَهُمْ	وَاللهُ	لَا	يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْفٰسِقِيْنَ ۝٥		
نوکاږه کړل	الله	زړونه دَ دوئ،	اوالله ﷻ	نه کوی	هدايت	قوم	فاسقانوته		

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلَّذِينَ﴾ دې آيت کښې بيان دي دَ محبوب عمل دَالله ﷻ،ورستو دَ مبغوض عمل عندالله نه ﴿صَفًّا﴾ يامفعول مطلق دې ای يصفون انفسهم صفا،ياحال دې دَضمير

﴿يُقَـٰتِلُونَ﴾ نه، پمعنى دَ((صافّين)) ﴿كَأَنَّهُم بُنْيَـٰنٌ مَّرْصُوصٌ﴾ ((بنيان)) عمارت ته وائي ((مرصوص)) ((رصّ)) يو شي بل سره ملاولو اومضبوطولو ته وائي،يعني عمارت چې هغې مختلف اجزاء ترتيب او مضبوطئ سره يوبل سره ميلاو کړې شوې وى چې هغه يو وحدت نمونه پيش کوي.

((بنيان مرصوص)) سره تشبيه کښې دوه قوله دي: **يو دا** چه دَدوئ تشبيه دَبنيان مرصوص سره دَ يوبل سره جُخت جخت اودريدلو کښې ورکړې شوې ده،په دې شان چه دَدوئ په مينځ کښې خالي ځائ او فاصله،مخکښې والې ورستووالې نه وى، يعني داسې کلک اوتينګ ولاړوى په ميدان جهادکښې لکه دوئ ديوالونه وى په قلعې (سيسى) سره تينګ کړې شوى اوجوړشوې وي. **بعضِ وائي** مراد ورنه اتحاد او اتفاق دې په نظرياتو او مقاصدو کښې(روح المعاني).

﴿وَإِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِۦ يَـٰقَوْمِ﴾دانمونه بيانيږي چه موسى عليه السلام بني اسرائيلوته دَ جهاد حکم اوکړو ليکن هغوئ ورنه انکار اوکړو نو الله تعالى ورباندې مهر جباريت اولګولو، نو تاسو دَ هغو په شان مه کيږئ

﴿لِمَ تُؤْذُونَنِى﴾ ايذاء نه مرادمخالفت دې دَحکم دَموسى عليه السلام، موسى عليه السلام ورته وئيلي وو: ((ياقومِ ادخلوا الارض المقدّسة التى....))(مائده: ۲۱) دوئ ورته په جواب کښې اووئيل:((يا موسىٰ انّ فيها قومًا جبّارين.....الى قوله تعالى فاذهب انتَ وربّک فقاتلا)) ﴿وَقَد تَّعْلَمُونَ﴾ جمله حاليه ده﴿فَلَمَّا زَاغُوٓا﴾يعني چه کله ئې دَجهادکولونه اعراض او انکار اوکړو﴿أَزَاغَ ٱللَّهُ﴾يعني الله تعالى ورباندې لعنت اوکړو.

وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَـٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم
اوکله چه اووئيل عيسىٰ ابن مريم عليه السلام اې بني اسرائيلوبيشکه ځه الله رالېږلې يم تاسوته
مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ
تصديق کونکې يم دَهغې کتاب چه مخکښې ځمانه دې چه توراة دې اوزيرې ورکونکې يم په هغه رسول سره

يَأْتِي	مِنْ	بَعْدِي	اسْمُهُ	أَحْمَدُ	فَلَمَّا	جَاءَهُمْ
چه راځي به	ورستو	خما نه	چه نوم	دَهغه احمد ﷺ دي،	پس هرکله چه راغي	دوئ ته هغه رسول
بِالْبَيِّنٰتِ	قَالُوا	هٰذَا	سِحْرٌ	مُّبِينٌ	⑥	
په ښکاره	نووئ	ونيل	معجزوسره	داخوسحردي	ښکاره،	

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَبَنِي إِسْرَاءِيلَ﴾ دادويمه نمونه ده چه عيسى عليه السلام بنی اسرائيلو ته دعوت ورکړولیکن هغوئ ئی تکذيب اوکړو نوالله تعالی دَهدايت نه محرومه کړل.نوتاسواړ مؤمنانوداسی مه کوئ.

﴿مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ﴾ دتورات دَتصديق نه مطلب دادې چه دَدی تصديق کومه چه توراة دَالله تعالی دَطرفه نازل دي،اوخه دَهغی په احکاماتو .اخباروباندی يقين ساتمه، او خه چه کوم دعوت درکومه داهم په حقيقت کښ دَتورات دعوت دي،نولکه څرنګه چه تاسو په موسی عليه السلام اوهارون عليه السلام باندی ايمان راوړي وؤ،نوپه ماهم ايمان راوړئ،

ابن کثيراوبعض مفسرين وائی چه دَ﴿مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ﴾مطلب دادې چه خما وجود دَ توراة تصديق کوی ځکه چه دکوموخبروپه تورات کښ خبرورکړي شوي دي دَهغی مصداق خه يم.

﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾يعنی خه تاسوته دآخرالنبيّن احمد ﷺ دَ راتلو بشارت درکومه، احمد دَ حضور ﷺ په نومونو کښ يو نوم دې، بخاری، مسلم وغيره کښ دَ جبير بن مطعم رضي الله عنه نه روايت دي چه نبی کريم عليه السلام فرمائی: انّ لي اسماءً، انا محمّد و انا احمدُ، و انا حاشرٌ الّذي يُحشرالنّاسُ علٰى قدمي، و انا الماحي، يعنی خماڅونومونه دی،خه محمّديمه،اوخه احمد يمه، او خه حاشر يمه يعنی جمع کونکي چه الله تعالی به په ماباندی ټول خلق راجمع کړی، اوخه ماحی يمه، يعنی محوه کونکي دکفراوشرک، او خه عاقب يمه، يعنی خه ورستو دَ ټولو پيغمبرانو نه راغلی يمه، ورستو رانه بل نبی نشته.

«احمد» يا اسم تفضيل دي،يعنی احمد الحامدين، دَ ټولو حمد کونکو نه زيات حمد کونکي دَ الله تعالی،ياپمعنی دَ محمود دي، يعنی ستائيلي شوي، دَ محمّد معنی هم محمود

یعنی ستائیلې شوې ده،لیکن په محمّدکښې مبالغه اوتکراردې،هغه هستی چه باربار ستائیلې شوې وی او تعریف ئې شوې وی(قرطبی).

دَ قرآن مجید دَ دې تصریح نه بعدچه عیسیٰ بنی اسرائیلوته دَحضورﷺدَراتلوبشارت ورکړې دې بل دلیل اوحجت ته هیڅ ضرورت نشته،لیکن صدآفسوس په عیسایانو چه څومره لرې دَ حق نه پراته دی،اوعذاب مخلدئی قبول کړیدې،اوپه حضوراخرالنبیّنﷺباندی ایمان نه راوړی،دوئ باندې الزام حجت دپاره دلته مونږ دَ دوئ دَ انجیلونو نه یوڅوحوالې ورکوؤچه په هغې کښې هم عیسیٰ علیه السلام دَحضورﷺدَراتلوبشارت اوپه هغه باندی دَایمان راوړلوترغیب ورکړې دې، دَ انجیل یوحنّاپه څوارلسم(۱۴)باب،شپاړسمی(۱۶)جملی کښې دی: "اوځه خپل پلار نه (پلارنه عیسایان دَاللهﷻذات مرادکوی)"درخواست کومه،هغه به تاسوته بل فارقلیط عطاء کړی چه همیشه به تاسوسره وی.....الخ.

اوپه آیت(۲۲)کښې دی:"لیکن هغه فارقلیط(یعنی روح القدس)چه هغه به پلار(الله)ځماپه نوم رالیږی،هغه به تاسوته هرڅه دراُوخائې،او کومی خبرې ماتاسوته وئیلې دی هغه به ټولې تاسو ته یادې کړی".

اوپه آیت(۲۹)کښې دی:"اواوس ماتاسوته دَهغه دَراتلونه مخکښې اووئیل چه کله هغه راشی نو تاسو وریاندی ایمان راوړئ".

اوپه شپاړلسم(۱۶)باب آیت(۷)کښې دی:"لیکن ځه تاسوته رښتیاوایم چه ځماتلل ستاسو د پاره فائده مند دی، ځکه چه کچرته ځه لاړنه شم نو هغه (فارقلیط) به ستاسو خوا ته نه راځی، لیکن چه لاړشمه نوهغه به ستاسوخواته رااولیږمه".

دې بشارتونوکښې دَ "فارقلیط" لفظ راغلې دې،دې معنی احمدﷺده،عیسیٰ علیه السلام عبرانی لغت کښې کلام کړې وؤ اوخالص دَ"احمد"نوم ئې اخستې وؤ،کله چه مترجمینوپه یونانی لغت کښې ترجمه اوکړه نودَ"احمد"ترجمه ئې"پیرکلوطوس"اوکړه،بیاچه کله دالفظ دَیونانی لغت نه عبرانی ته نقل شونو"فارقلیط"ورنه جوړ شو.

عیسایان اعتراض کوی چه یونانی نسخوکښې دا لفظ "پاراکلی طوس" دې،معنیٰ ئې معین، مددګار اوکاساز وکیل ده،لهذا دَ مسلمانانو دَ دینه استدلال صحیح نه دې چه عیسیٰ علیه السلام دَحضورﷺدَراتلوبشارت ورکړې دې.

جواب(۱): دې دواړو لفظونو «پیرکلوطوس،پاراکلی طوس» کښې صرف دَ رسم الخط تفاوت دې معنی کښې تفاوت نشته،او دا تفاوت دَ تلفظ په وجه او دَ عدم اعراب په وجه راغلې دې، ځکه چه په بعضِ لغاتوکښې دَ اعراب په ځائې حروف مفرده ذکرکیږی
(۲)که داهم تسلیم کړې شی چه صرف رسم الخط تفاوت نه دې،نوبیاهم زمونږمدعیٰ ثابته ده ځکه چه زمونږدَنبی کریم ﷺ نوم معین،وکیل هم دې
(۳)دَعیسایانو مشرانوچه په تورات مقدس کښې لوئې لوئې تحریفات کړیدی بعیده نه ده چه په دې لفظ کښې ئی هم تحریف کړې وی.
بل اعتراض عیسایان داکوی چه دَ"فارقلیط"نه مراد حضور ﷺ نه دې بلکه"روح القدس"دې چه دَعیسی علیه السلام نه ورستوپه حوارینونازل شوې وؤدَاخترپه ورځ.
جواب(۱):دینه روح القدس نه شی مرادکیدلې ځکه چه په قول دَعیسی علیه السلام کښې دی"چه هغه به همیشه تاسوسره وی" حالانکه روح القدس همیشه نه وؤبلکه یوه ورځ صرف دَ لږ وخت لپاره راغلې وؤ، بله داچه روح القدس هغه خبری نه وی بیان کړې کومی چه عیسی علیه السلام بیان کړې وی،اوپه قول دَعیسی علیه السلام کښې دی"هغه به تاسوته ټولی خبری درښائی اوچه ماتاسوته وئیلی دی هغه به ټولی تاسوته یاده وی".
(۲)بعضِ عیسایانو دَظهورمحمدی نه قبل دَدې دعوه کړې وه چه لفظ دَ"فارقلیط" مصداق مونږ یو، مثلاً په دویمه صدئ کښې دَعیسایانولوئې ریاضت گزار،عابد،اودَټولونه لوئې متقی "مونتینس" دعوه کړې وه چی دَ"فارقلیط"وعده چه عیسی علیه السلام کړې وه هغه ځه یم (به حواله بائبل سے قرآن تک) دینه معلومیږی چه دَ"فارقلیط" دَراتلو انتظارابتدائی عیسوی صدئ کښې ډیر زیات وؤ، ورنه چه یو څیز دَ سره نه وی نوانتظار او دعوی ئی څنګه کیدې شی،دغه رنګه دَ حضور ﷺ دَ زمانې اهل کتاب هم دَیونبی دَراتلومنتظروؤ،چنانچه دَحبشی بادشاه نجاشی ته چه کله دَنبی علیه السلام خط مبارک اورسیدلونواوئی وئیل:ځه الله ﷻ گواه گرځوم چه داهغه نبی دې چه اهل کتاب ئی انتظارکوی،دغه شان دَقبطیانوسردارمقوقس ته هم چه کله دَحضور ﷺ خط مبارک میلاؤشونواقرارئی اوکړوچه ځماپه علم کښې وه چه یونبی اخرالزمان باقی دې،چه هغه راتلونکې دې،دغه رنګه دَسلمان فارسی رضی الله عنه تفصیلی واقعه هم ده په آخرکښې ورته یوراهب دَ نبی اکرم ﷺ دَتشریف آورئ بشارت ورکړې وؤ، او هم په دې غرض دې مدینی ته راغلې وؤ (خلاصہ از تفسیر حقانی، بائبل سے قرآن تک).

﴿فَلَمَّا جَآءَهُم﴾ ضمیر دَ مفرد با عیسی علیه السلام ته راجع دي، یا احمد علیه السلام ته راجع دي (روح).

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ الْكَذِبَ وَهُوَ يُدْعَىٰ
اوڅوک به وی غټ ظالم دَهغه چانه چه دَځانه تړی په الله جل جلاله باندی دروغ اوحال داچه دي رابللي کيږی
إِلَى الْإِسْلَامِ ۚ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۞ يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا
اسلام ته اوالله جل جلاله نه کوی هدايت قوم ظالمانوته غواړي دوئ چه مړه کړی
نُورَ اللَّهِ بِأَفْوَاهِهِمْ وَاللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ ۞
رنړا دَالله جل جلاله په خُلوخپلوسره، اوالله جل جلاله پوره کونکي دي رنړاخپلی لره اګرکه بد ګڼری کافران
هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ
الله جل جلاله هغه ذات دي چه راليږلي ئی دي رسول خپل په هدايت سره اوپه دين حق سره لپاره دَدی چه غالب ئی کړی
عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ۞
په ټولو دينونو باندی، اګرکه بد ګڼری مشرکان

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ﴾ زجر دي کافرانو ته ، چې دا نبي چې د ده بشارت عیسي علیه السلام ورکړې وو او واضحه معجزات ئې د الله طرف نه رواړي دي ، دوئ ئې تکذیب کوي ، ساحر ورته وائي او د ده دین ختمولو کوششونه کوي .

﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِئُوا نُورَ اللَّهِ﴾ نورالله نه مراد دین دَالله تعالی دي، یعنی داکافران کوشش کوی چه دین دَالله جل جلاله باطل کړی اوتکذیب ئی اوکړی په شبهاتو واهیو اوپه درغو پروپیګنډو سره، او داتمثیل دي دَدوئ دَدی باطل کوشش، یعنی مثال ئی داسی دي لکه یوبې وقوفه سړې چه دَنوریاسپوږمئ رنړاپه پوکلوسره مړه کوی

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ﴾ دیکښې الله جل جلاله خپله دَحضور صلی الله علیه وسلم صداقت اولوئ شان بیانوی، دَدی دواړو آیاتونو تفسیر دَسورة التوبه آیت (۳۲. ۳۳) کښې تیرشوي دي، دلته ئی دوباره ذکرکولو ته حاجت نشته.

يَٰٓأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰى تِجَارَةٍ تُنْجِيْكُمْ مِّنْ عَذَابٍ
اې ايمان والو! آيااوښايم تاسوته داسې تجارة چه نجات به دركړي تاسودعذاب
اَلِيْمٍ ⑩ تُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَتُجَاهِدُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِكُمْ
دردناک نه. ايمان راوړئ په الله جل جلاله اوپه رسول دهغه اوجهاداوكړئ په لاره دالله جل جلاله كښې په مالونوخپلوسره
وَاَنْفُسِكُمْ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ⑪ يَغْفِرْ لَكُمْ
اوپه نفسونوخپلوسره،داويرغوره دې تاسولره كچرته تاسو پوهيږئ اوبه بخښي تاسوته
ذُنُوْبَكُمْ وَيُدْخِلْكُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ
گناهونه ستاسو اوداخل به كړي تاسوداسې جنتونوته چه بهيږي به لاندې دهغې نه نهرونه
وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِيْ جَنّٰتِ عَدْنٍ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ⑫ وَاُخْرٰى
او(داخل به مو كړي)ځايونوپاكيزوته،په جنتونودهميشه اوسيدلوكښې،داكاميابي ده لويه.اودربه كړي بل نعمت
تُحِبُّوْنَهَا ۭ نَصْرٌ مِّنَ اللّٰهِ وَفَتْحٌ قَرِيْبٌ ۭ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ⑬
چه خوښوئ تاسوهغه،مدددې دطرفه دالله جل جلاله اوفتحه ده نيزدې اوزيرې وركړه مؤمنانوته

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَىٰ تِجَٰرَةٍ﴾ دا دويم خطاب دې مؤمنانوته اوترغيب دې قتال في سبيل الله ته. ﴿تُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُجَٰهِدُونَ﴾ مضارع په دواړوځايونوكښې پمعنى دامرده "اى آمنوا وجاهدوا" اومراددايمان راوړونه دوام اوثابته پاتې كيدل دي په ايمان ﴿يَغْفِرْ لَكُمْ﴾ جواب امرپوجه مجزوم دې، ياجواب دشرط مقدردې، اى ان تفعلوه يغفرلكم (جلالين).

﴿وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا﴾ ياپه موضع دنصب كښې دې اى ويُعطِكم نعمة اخرىٰ، يعنى يوبل انعام به دركړي، ياپه محل درفع كښې دې اى ولكم نعمةٌ اخرىٰ، يا ﴿وَأُخْرَىٰ﴾ مبتداء دې او ﴿نَصْرٌ مِّنَ

اللّٰهِ ﴾نی خبردې،﴿وَفَتْحٌ قَرِيبٌ ﴾نه مرادفتح دَخيبراوفتح مكه ده،یاروم وغیره مراددی چه دَخلافت راشده رضي الله عنهم په زمانی کښې فتح شوی وؤ.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُوْنُوْٓا اَنْصَارَ اللّٰهِ كَمَا قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ
اې ایمان والؤ! شئ تاسومددگاران (دَدین) دَالله تعالیٰ لکه چه ونیلی وؤعیسیٰ ابن مریم
لِلْحَوَارِيّٖنَ مَنْ اَنْصَارِيْٓ اِلَى اللّٰهِ ؕ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ نَحْنُ اَنْصَارُ اللّٰهِ
حواریینوته څوک دي مددگارځماپه دعوت الی الله کښې،اوونیل حواریینومونږ یومددگاران (دَدین) دَالله،
فَاٰمَنَتْ طَّآئِفَةٌ مِّنْۢ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ وَكَفَرَتْ طَّآئِفَةٌ ۚ فَاَيَّدْنَا الَّذِيْنَ
پس ایمان راوړلویوی ډلې دَبنی اسرائیلواوکفراوکړوبلی ډلې،پس امداداوکړومونږ دَهغه خلقو
اٰمَنُوْا عَلٰى عَدُوِّهِمْ فَاَصْبَحُوْا ظٰهِرِيْنَ ﴿۱۴﴾
چه ایمان ئی راوړې وؤپه دشمنانودَهغوئ پس اوګرځیدل هغوئ غالب

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوا كُونُوٓا أَنصَارَ اللّٰهِ﴾دادریم خطاب دې مؤمنانوته دی کښې هم ترغیب دَقتال دې﴿ أَنصَارَ اللّٰهِ ﴾ای انصاردینِ الله،هرمؤمن ته حکم دې چه دَدین دَالله تعالیٰ دی مددگار شی، لکه چه څنګه حوارینودَعیسی علیه السلام نصرت کړې وؤپه هغه وخت کښې چه ده ورته اوونیل ﴿مَنْ أَنصَارِيٓ إِلَى اللّٰهِ ﴾ای من ینصرنی و یکون عونی لتبلیغ دعوةِ الله(صفوة التفاسیر)علماء وائی چه دینه معلومه شوه چه دَبل نه استعانت اونصرت طلب کول په دین کارکښې سنت دَ انبیاؤ دي.

﴿قَالَ ٱلْحَوَارِيُّونَ﴾جمع دَحواريّ ده،مخلص او راز دار دوست ته وائی کقوله علیه السلام لکل نبی حواري وحواری زبیر رضي الله عنه،دادولس(۱۲)کسان وؤاول ایمان راوړونکی وؤ،کله چه دوئ اوونیل ﴿نَحْنُ أَنصَارُ اللّٰهِ ﴾نوعیسی علیه السلام بیادوئ دَشام ښارونوته دَدعوت تبلیغ لپاره اولیږل، په

حواری کښې زيات تفصيل اووجه تسميه دَسورة آل عمرآن آيت(۵۲)کښې تيرشويدې هلته ئې اوګورئ،

﴿فَـَٔامَنَت طَّآئِفَةٌ مِّنۢ بَنِىٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ﴾يعنې بنی اسرائيل دوه جماعتونو ته تقسيم شول، يو جماعت ايمان راوړودَعيسیٰ عليه السلام تصديق ئې اوکړو،اويوجماعت کفراوکړو اوتکذيب ئې اوکړو ﴿فَأَيَّدۡنَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ عَلَىٰ عَدُوِّهِمۡ فَأَصۡبَحُواْ ظَٰهِرِينَ﴾مشهوره داده چه په شريعت دَ عيسیٰ عليه السلام کښې قتال حکم نه وُنوپدی وجه دلته دَنصرت اوغلبې نه مرادپه اعتبار دَ حجت او برهان سره غلبه ده، بعضِ وائی چه رفع عيسیٰ عليه السلام نه ورستومؤمنانواوکافرانومينځ کښې قتال اوشونوالله تعالیٰ مؤمنانوته غلبه ورکړه،ليکن داقول خلاف مشهوردې، تهانوی رحمه الله فرمائی چه ممکنه ده چه ابتداءً جنګ دَ کافرانونه شوې وی اومؤمنانومدافعت کړې وی، نو دا په حکم دَقتال کښې نه دې داخل.

ركوعاتها (۲)	سورة الجمعة مدنية	آياتها (۱۱)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۶۲) وحسب النزول (۱۱۰)

نزلت بعد الصّف وقبل الفتح

ربط: (۱) **ماقبل څلور**(۴)سورتونه دَسورة حديد په دويم مضمون يعنى جهادفى سبيل الله مرتب وؤ، اوس آئنده څلور سورتونه،جمعه،منافقون،تغابن،طلاق په اول مضمون يعنى انفاق فى سبيل الله مرتب دى.سورت الجمعه دَ انفاق دَپاره يو تمهيد دي،ځكه انفاق دَ مسلمانانو يوه اجتماعى مسئله ده،او جمعي ورځ هم دَمسلمانو اجتماع وى،نوپديكښ دَ انفاق ترغيب سره دا مقصد ښه طريقي سره حاصليږي.

(۲)مخکښ سورت کښ دَرسول الله ﷺ دَبعثت بشارت وؤ((ياتي من بعد اسمه احمد)) ديکښ دَ بعثت مقاصدو ذکر دي.

(۳)سورت الصف كښ د،يهود دَحضرت موسى عليه السلام سره دَعناد ذكروؤ،چې باوجود دينه چي ښه ورته پته ده چې موسى عليه السلام دَالله ﷻ رسول دي خوبيا يې هم ايمان نه راوړو،((كماقال تعالى:وقدتعلمون اني رسول الله اليكم، فلما زاغوا)) دلته نبى كريم ﷺ سره دَعناد ذكر دي.

خلاصه: ابتداء كښ مسئله دَتوحيد ده،

آيت نمبر ۲ نه تر ۴ پوري،دي امت فضيلت بيان دي.

آيت نمبر ۵ كښ دَ يهودو اولي دعوي رد دي.

آيت نمبر ۷-۸ پوري دَيهود دويمي دعوي رد دي.

آيت ۹، ۱۰ كښ دَيهودو دريمي دعوي رد دي.

او آخر كښ مؤمناتو ته زجر دي.

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ الْمَلِكِ
پاكى بيانوى دَالله ﷻ هغه څيزونه چه په آسمانونكښ دى اوهغه څه چه په زمكه كښ دى،چه بادشاه دي،

الْقُدُّوسِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ ۝١ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولًا
پاک دې،غالبه دې، حکمتونو والا دې . الله جل جلاله هغه ذات دې چه لیږلې ئی دې په امیانو کښې رسول
مِّنْهُمْ يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ
دَدوئ جنس نه چه لولی په هغوئ آیاتونه دَ الله او پاکوی دوئ «دَ قبائحو نه» او ښائی ورته کتاب اوسنت،
وَإِن كَانُوا مِن قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ۝٢ وَآخَرِينَ
اوبیشکه وُو دوئ مخکښې«دَمبعوث کیدلودَرسول نه» په گمراهئ ښکاره کښې«لیږلې ئی دې»نوروخلقوته
مِنْهُمْ لَمَّا يَلْحَقُوا بِهِمْ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ۝٣ ذَٰلِكَ
دَدوئ نه،چه تراوسه پورې نه دی پیوست شوی دَدوئ سره،اوالله غالبه دې حکیم دې«دا»دالیږل دَرسول»
فَضْلُ اللَّهِ يُؤْتِيهِ مَن يَشَاءُ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ۝٤
فضل دَالله دې ورکوی ئی چاته ئی چه خوښه شی،اوالله جل جلاله خاوندفضل لوئ دې

﴿ يُسَبِّحُ لِلَّهِ ﴾دیکښې مسئله توحید بیان دې.

﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ ﴾دادَ **دې امت فضیلت بیان** دې،یعنی نبی کریم ﷺ بعثت،دَ دې امت دومره لوئ فضیلت دې چې دابل چاته نه دې حاصل،دوئ امیان وُو،هغه دَخپل تعلیم وتربیت اوتزکیه په برکته دوئ نه داسې خلق جوړ کړل چې دوئ دَنورودَپاره مقتدیان اوگرځیدل،اوقیامته پورې راتلونکې انسانانوته ئې داسې هدایت پریخودلو چې څوک پرې هم عمل کوی،نوهغه به یوکامل مکمل انسان جوړیدلې شی.

﴿الْأُمِّيِّينَ ﴾نه مرادعرب دی څکه چه اکثروپدوئ کښې لیکل اولوستل نه شول کولې،په صحیحینو وغیره کښې دی"اِنّاامة اُمية لانكتب ولانحسب" نوامی منسوب دې ام یعنی مور ته، انسان چه دَ مور نه پیدا شی نولیکل اولوستل نه شی کولې،﴿رَسُولاً مِّنْهُمْ﴾واضح دلیل دې چه حضور ﷺ بشر دې، ﴿يَتْلُوا عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ ﴾ د **رسالت مقاصدو بیان دې**، دا **اول مقصد** دې،چې

الله ﷻ آيات اواحكام به په خلقو لولی.((يتلوا))واحدصيغه ده دجمع نه ده، ﴿وَيُزَكِّيهِمْ﴾دويم مقصد دې يعنی غلط اوفاسد عقائد اعمال اواخلاقو نه خلق پاکول ﴿وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلْكِتَـٰبَ﴾دريم مقصد دې،او((الكتب)) نه مرادمعانی دَ کتاب الله دی ځکه چه دَالفاظوذکر په ((يتلوا)) کښې راغلې دې، ﴿وَٱلْحِكْمَةَ﴾دَ راجع قول په بناء دَدينه مراد سنت دَ رسول ﷺ دې.

تنبيه:دَدی آيات تفصيلی تفسيراومنکرينوحديث باندې رد دَسورة البقرة آيت(۱۲۹) اوآلِ عمران(۱۶۴) کښې دَوالدمحترم غفرالله له دَلاسه ليکلې شوې دې هلته دی اوکتلې شی.

﴿وَإِن كَانُوا۟﴾"ان"مخففه عن المثقله دې﴿مِن قَبْلُ لَفِى ضَلَـٰلٍ مُّبِينٍ﴾يعنی دَحضور ﷺ دَمبعوث کيدلونه قبل دوئ په شرک اودَجاهليت په ګنده رسمونوکښې مبتلاوو،نوبعثت دَنبی کريم عليه السلام په دوئ لوئ احسان دې.

﴿وَءَاخَرِينَ مِنْهُمْ﴾((آخرين)) جمع دَ"آخر"ده پمعنی "غير" کښې استعماليږی،دلته ترينه مراد يا غيرعرب يعنی عجم دی، اودې تائيد دَحضرت ابوهريره رضی الله عنه حديث نه هم کيږی چی مونږ نبی کريم ﷺ سره ناست وو چې داسورت نازل شو،نبی ﷺ په مونږ دااولوستلو،کله چی ((وآخرين منهم لما يلحقوا بهم)) ته اورسيدو نو يو صحابی عرض اوکړو،چی يارسول الله ﷺ دا کوم خلق دی چی لا تراوسه پورې مونږ سره ميلاؤ شوی نه دی،نو نبی کريم ﷺ خپل لاس سلمان فارسی رضی الله عنه باندی کيخودلو او اوئی فرمائيل:چی قسم مې دې وی په هغه ذات چی هغه په قبضه کښې ځماځان دې کچرته ايمان ثريا ستوری سره هم وی نودَده قوم به هغه حاصل کړی، نو ديکښې اشاره ده چی دينه مراد اهل عجم دی،برابره خبره ده که هغه وخت موجود وؤ او که روستو راغلی دې او يا راروان دی،البته موجودينو په حق کښې((لما يلحقوا)) نه مراد "لحوق فی الاسلام" دې ،يعنی تر اوسه ئې لا ايمان نه دې راوړې خو عنقريب چی ايمان به راوړی، اوغير موجودينو حق کښې "لحوق" نه مراد متبادره معنی ده، يعنی لحوق زمانی دې.

يا((آخرين)) نه مراد دلته مغائرت زمانی دې يعنی موجودينو نه علاوه چی څوک هم دی برابره خبره ده چی هغه عرب وی اوکه عجم تولوته نبی کريم ﷺ مبعوث شوې دې.

«آخرين» **يا حالت جري** كښې دي اوعطف دې په « الامیین» اي بعث في الآخرين، يا «عليهم» ضمير مجرور باندې، اي: يتلو على الآخرين آيته ، **يا حالت نصبي** كښې دې، "واؤ" بمعنى "مع" دې ،او مفعول معه دې او دې تعلق « يتلو، يزكي، يعلم » درې وارو فعلو نوسره دې او د هغوئ پکښې تنازع ده، يعنى بعثت مقاصد صرف امیینو پورې خاص نه دى بلكه «آخرين» هم په دې کښې شامل دی،**او يا** « **يعلمهم** » ضمير منصوب باندې عطف دې يعنى د آخرينو دپاره هم معلم دې.

﴿مِنۡهُمۡ﴾ اي كائنين منهم يعنى دوئ سره به يې تعلق وى، يا صرف دينى ،اويا دينى او نسبى دواړو اعتبار سره ،ضمير مجرور «الامیین» ته راجع دې او ياجارمجرور«آخرين»سره متعلق كيږى، اي مغائرين لهم يعنى چې دَامیینو نه غير دى،«حدائق الروح والريحان»

﴿وهو العزيز الحكيم﴾دا بمنزله دليل دې ځکه چې کله دا اوئيلى شو« وآخرين منهم» نو ذهن كښې دا خبره راتله چې آخرينو ته به دَنبوت مقاصد څنګه رسى نو الله ﷻ اوفرمائيل چې څه قادريم اوځمادَحكمت هم داتقاضا ده، لهذاقيامت پورې ماخپل قوت اوحكمت سره ده د دې تكوينى انتظام كړې دې.

﴿ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ﴾اشاره ده مذكور تولو صفاتو ته يعنى دَنبى كريم ﷺ بعثت تلاوت ، تعليم و تزكيه،او انقاذ من الضلالة داټول دَالله ﷻ په تاسو فضل عظيم دې، دې فضيلت كښې درسره بل څوک شريک نشته.

فائده: دې آيتونو كښې دَدې امت څوفضيلتونه بيان شول:

(۱)الله ﷻ پكښې خپل آخرى پيغمبر مبعوث اوفرمائيلو.

(۲)باوجود دَدينه چې دوئ اميان وؤ، جهالت کښې پراته وؤ،الله ﷻ دَنبى كريم ﷺ دَتعليم وتزكيه په بركته مقتديان اوګرځولو.

(۳)دَنبوت مقاصد تلاوت،تعليم تزكيه دَنبى كريم ﷺ نه بعد دوئ ته حواله دې،اوهغه كار چې دينى ذمه وارى وه اوس دَدوئ سره ده، دوئ به يې آخرينو ته رسوى.

مَثَلُ	الَّذِيْنَ	حُمِّلُوا	التَّوْرٰىةَ	ثُمَّ	لَمْ	يَحْمِلُوْهَا	كَمَثَلِ الْحِمَارِ
مثال دَهغه خلقوچه مكلف		(پابند) كړې شوى وؤدَعمل په تورات،		بيائى اونكړوعمل په هغى.		په شانته دخره دى	
يَحْمِلُ	اَسْفَارًا ؕ	بِئْسَ	مَثَلُ	الْقَوْمِ	الَّذِيْنَ	كَذَّبُوْا	بِاٰيٰتِ اللّٰهِ
چه باركړى ئى وى	غټ كتابونه،	ډيربددې	مثال	دَهغه قوم	چه	تكذيب كوى	په آياتونودالله.
وَاللّٰهُ	لَا	يَهْدِى	الْقَوْمَ	الظّٰلِمِيْنَ ۝٥			
اوالله ﷻ	هدايت	نكوى	قوم	ظالمانوته			

﴿مَثَلُ الَّذِيْنَ حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ﴾ ديكښې دَ يهودو اولې دعوې رد دې، چې دوئ به وې: مونږ ته په تاسو فضيلت حاصل دې، ځكه چې مونږ اهل كتاب يو اوتاسو اميان يئ ،الله ﷻ فرمائي چې دوئ كوم په خپل كتاب باندې عمل كړيدى؟ كچرته واقعى اهل كتاب وې نو خپل كتاب باندې دې عمل اوكړى چې هغې كښې دَنبى كريم ﷺ صفات ذكر دى اوپه هغه باندى ايمان راوړولو حكم دې، كتاب احكاماتوباندى عمل نه كولو باوجود اهل كتاب كيدل داسې دي لكه خرباندې چې لوئ لوئ كتابونه بازكړى، نو كتابونه بار كيدل څنگه هغه د پاره فضيلت خبره نه ده نو داسې د دوئ د پاره هم نه ده.

﴿حُمِّلُوا التَّوْرٰىةَ﴾ اي كلفوا العمل بها، يعنى هغى باندى عمل كولو مكلف گرځولى شوى وؤ، ﴿ثُمَّ لَمْ يَحْمِلُوْهَا﴾ اي لم يعملوا بها يعنى بيا پرى عمل اونكړو، ((كمثل الحمار)) خره سره تشبيه وركولو دَهغوئ بې وقوفتيا اظهار اوتحقير مقصود دې ﴿يَحْمِلُ أَسْفَارًا﴾ دَ سفر جمع ده، غټ كتاب ته وائى، يعنى لكه څرنگه چه په خرباندى دَغټو كتابونو بار پروت وى اوروان وى ماسوئ دَتكليف او سترتيانه ورته هيڅ فائده نه وركوى، دغه شان دايهوديان هم دى. ﴿الظّٰلِمِيْنَ﴾ ظالمان ورته په دې وجه اوونيلې شو، چې تورات كښې دوئ ته دَنبى كريم ﷺ اتباع او تصديق حكم شوې وو او دوئ د تصديق په ځائ تكذيب كوى.

قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ أَنَّكُمْ أَوْلِيَآءُ لِلَّهِ
اووایه‌اي پیغمبره!اي یهودیانو!کچرته گمان کوئ تاسوچه تاسودوستان یئ دَالله،
مِن دُونِ ٱلنَّاسِ فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ۝٦ وَلَا يَتَمَنَّوْنَهُۥٓ
په غیردنورو خلقونه نوتاسواوغواړئ مرگ کچرته یئ تاسوریشتنی اوبه نه غواړی دوئ مرگ
أَبَدًۢا بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ ۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌۢ بِٱلظَّٰلِمِينَ ۝٧ قُلْ
هیڅ کله پوجه دَهغه عملونوچه مخکښ لیږلی دی لاسونودَدوئ،اوالله ښه پوهه دې په ظالمانو.اووایه
إِنَّ ٱلْمَوْتَ ٱلَّذِى تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُۥ مُلَٰقِيكُمْ ۖ ثُمَّ تُرَدُّونَ
بیشکه چه هغه مرگ چه تختئ ورنه تاسونوبیشکه هغه راتلونکې دې تاسوته بیابه بوتلې شئ تاسو
إِلَىٰ عَٰلِمِ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِ فَيُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨
هغه ذات طرف ته چه عالم دې په پټ اوښکاره،پس خبربه کړی تاسوپه هغه عملونوچه تاسو کول

﴿قُلْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ هَادُوٓاْ إِن زَعَمْتُمْ﴾ دیکښ دَ یهودو دویمې دعوې رد دې،چې مونږ ته په تاسو باندې ځکه فضیلت حاصل دې چې مونږ دَ الله ﷻ اولیاء،ابناء او احباء یوو،اوجنت به صرف مونږ ته میلاویږی، نو الله ﷻ ورته اوفرمائیل چه کچرته تاسوپدی خپله خبرې کښ ریشتنی یئ نومرگ اوغواړئ.

دَسورة بقری په تفسیرکښ تیرشویدی چه دَابن عباس رضي الله عنهما نه مروی ده چې مراد دَ ﴿فَتَمَنَّوُاْ ٱلْمَوْتَ﴾ نه مباهله ده او په دې آیت کښ دعوت دَمباهلی دې،ابن کثیر رحمه الله هم دامتعینه کړې ده چه مراد ترینه دُعاعلی وجه المباهلة ده،عام مفسرین داسې توجیه کوی چه کچرته تاسو ریشتنی یئ پخپله دعوه نومرگ اوغواړئ ځکه چه کوم څیزدَمحبوب دَحصول ذریعه اوسبب وی نودَهغی دَ ذریعې طلب ضروری وی،اگرکه داذریعه فی نفسه مکروه اوترخه وی،نوچه جنت تاسولره یقینًا دې،اوتاسو الله ﷻ ته ډیر محبوب یئ- اوجنَت ته دَرسیدلو او الله ﷻ سره ملاقات ذریعه خو مرگ دې- نو دَ موت سوال اوکړئ،لیکن مونږ دا پیشن گوني کوو چه تاسو

دَ مرگ تمنا هيڅ کله نه کوئ، نومعلومه شوه چه تاسو کاذبان يئ.دَ دې مزيد تفسير پاره اوّل جلد صفحه (۲۰۸) آيت نمبر (۹۴) مطالعه اوکړئ.

﴿قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ﴾ ماقبل سره متعلق دې، چه دَ کوم مرگ د يرې نه تاسو دَ مباهلی نه تختئ هغی نه خلاصيدل بياهم نشته، کقوله تعالی: اين ماتکونوا يدرکم الموت و لوکنتم ... (النساء:78) ﴿فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ﴾ اسم موصول متضمن دې معنی دَ شرط لره نوځکه فاء داخله شوه، .

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا

اې ايمان والو! کله چه اوازاوکړې شی اذان لپاره دَمونځ په ورځ دَجمعی نو اهتمام سره ځئ

إِلَىٰ ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿٩﴾

ذکر دَالله ﷻ ته اوپريږدئ بيعَ، دادېرغوره دې تاسولره کچرته تاسو پوهيږئ،

فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ

پس کله چه اداکړې شی مونځ نوخواره شئ په زمکه کښ اوطلب کړئ دَفضل دَالله نه(رزق)

وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾

اوذکرکوئ دَالله ﷻ ډېر، لپاره دَدې چه تاسوکامياب شئ،

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ﴾ ديکښ دَ يهودو دريمې دعوې رد دې، چې دوئ به يوم السبت باندې فخرکولو، اودَ هغې په ذريعه ئې خپل فضيلت ظاهرولو، نو الله ﷻ دې آيتونو کښ مسلمانانو ته دَجمعې مونځ ترغيب ذکر کوی، ځکه چې دايوم السبت په مقابله کښ مسلمانانو ته ورکړی شوی ده اودهغی نه غوره ورځ ده.

﴿نُودِيَ لِلصَّلَاةِ﴾ دينه مراد اذان ثانی دې چه په وخت دَ قعود امام په منبر باندې کيږی، ځکه اذان اول دَ نزول قرآن په وخت کښ نه وؤ، دَحضور ﷺ په وخت کښ به يو اذان کيدلو، د ابوبکر رضي الله عنه اودَحضرت عمر رضي الله عنه هم دغه معمول وؤ، ليکن چه کله دَعثمان رضي الله عنه خلافت راغې او

خلق زيات شول، كورونه دَ مسجدنبوی ﷺ نه لرې شول، نوعثمان رضي الله عنه امر اوكړو دَاول اذان، چه دَ مسجدنبوی نه بهردَ زوراء پَه مقام كښ به كيدلو، خلقوبه دا اذان واوُريدلو نوجمات ته به راغلل ، بيابه دويم اذان اوشو، اذانِ اول هم مسنون دې دَ وجه دَ قول دَحضور ﷺ نه عليكم بسنّتي وسنة الخلفاء الراشدين من بعدي دغه رنگه صحابه كرامو كښ هيڅ چاهم په اول اذان باندې اعتراض اونكړو، په دې وجه احنافورحمهم الله تعالى په نيز دَ بيع وغيره په حرمت كښ اذانِ اول حكم په مثال دَثلنى اذان دې، يعنى دَاذان اول نه ورستوبيع وغيره مشاغل ممنوع اوگرځى، ځكه چه دَعلت په اشتراك سره اشتراک په حكم كښ هم راځى، البته آذان قديم (اذان ثانى) كښ داحكم منصوص او قطعى دې او اول اذان كښ داحكم مجتهد فيه او ظني دې (عثمانی).

﴿مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ﴾ من پمعنى دَ في دې اى في يوم الجمعة، كمافى قوله تعالى: ((اروني ماذا خلقوامن الارضِ)) اى فى الارض (روح) يا من بيانيه دې دَ اذا بيان او تفسير كوى (كشاف) جُمُعَة بضم الميم هم راغلې دې اوبالسكون هم راغلې دې، پمعنى دَمجموع سره، جمعې ورځى ته ځكه جمعه وائى چه خلق پكښ دَ لرې لرې نه دَجمعې مونځ لپاره راجمع كيږى، بعضِ وائى چه په دې ورځې آدم علیه السلام دَخپلى بى بى حواء سره په زمكه ميلاؤشوې وُو، ځكه ورته جمعه وائى. بعضِ وائى چه په دې ورځى خلقت دَآدم علیه السلام جمع شوې وو.

جاهليت په زمانه كښ ديته يوم العروبه وئيلى كيدل، دَعروبه معنى رحمة ده (روح المعانى).

اودجمعه اطلاق ټولونه اول كعب بن لؤى (دحضور ﷺ جدامجد) كړې دې او يا پرې اسلام كښ شويدې، لكه بعضو رواياتو كښ راځى چه دَحضور ﷺ دحكم مطابق انصارو دَ هجرت نه قبل اجتماعى عبادت لپاره داورځ مقرره كړې وه، خالى ورځ دَيهودواوداتوار دَ نصارىٰ وُ د پاره متعينه وه، نومسلمانان سعدبن زراره رضي الله عنه خواته جمع شول، هغه ورته وعظ او نصيحت اوكړو بيا ئى ورته دوه ركعته مونځ اوكړو، نودَغى وخت نه دى ورځى ته جمعه اووئيل شول، ليكن دا ورباندى فرض نه وُ، هجرت نه ورستواول كال باندى داآيت نازل شو او دَجمعى مونځ فرض شو، بعضِ وائى اصح داده چه په شپږم كال دَهجرت دَجمعى مونځ فرض شوي دې (روح المعانى)

ملائکه به په قیامت کښې دې ورځې ته یوم المزیدوائی ځکه چه په دې ورځ به الله ﷻ اهل جنت ته تجلی کوی . په احادیثوکښې دې ورځې ته سیدالایام اوافضل الایّام وئیلي شوي دي، په دې ورځې کښې یو داسې وخت دې چه دَحرام سوال نه علاوه پکښې هره دعاقبولیږی،تعین دَ دغې ساعت نشته، الله ﷻ خفی کړیدې په شان دَاسم اعظم اولیلة القدر

﴿فَٱسۡعَوۡاْ﴾مراددَسعی نه منډه وهل نه دی،ځکه چه په حدیث کښې دی:اذا اُقیمت الصلاة فلاتأتوها و انتم تسعون، واتوها و انتم تمشون ، وعلیکم السکینة ، فما ادرکتم فصلوا وما فاتکم فاتموا، بلکه مرادورنه اهتمام سره اواول وخت کښې تلل مراد دې. دَ﴿ذِكۡرِ ٱللَّهِ﴾نه مرادخطبه او مونځ دواړه دی،﴿وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَ﴾مراد دَبیع نه مطلق عقداومعاملات دی،که بیع وی که شراء وی او که اجاره وغیره وی،او امر دَ وجوب لپاره دې، نو دَ اذان نه ورستو دا هر څه حرام دی. صاحب دَ روح المعانی دَ عطاء نه نقل کړي دی چه مباح کار،کورته راتلل اوخط کتابت کول وغیره ټول حرام دی دَاذان دَجمعې نه ورستو.﴿ذَٰلِكُمۡ﴾ای السعی الی ذکرالله وترک البیع (روح) .

﴿فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾امر دَ اباحت دپاره دې ﴿وَٱبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ﴾ فضل الله نه مرادرزق اوربح ده،بعضِ سلفونه مروی ده چه کوم سړې دَجمعې مونځ کولو نه ورستوتجارت اوکړی نو الله ﷻ به هغې کښې اویا(۷۰)درجې برکت اچوی(ابن کثیر).

﴿وَٱذۡكُرُواْ ٱللَّهَ كَثِيرٗا﴾یعنی چه کله تاسوبیع شراءکوی نوبازارونه دَغفلت ځائ دې نوهلته ذکر ډیر کوئ،حدیث کښې دی چه څوک بازارته لاړشی اوهلته دادعااووائی:لااِله الاّالله وحدهٗ لا شریک له،له الملکُ وله الحمدوهوعلی کلّ شئ قدیر،هغه ته لس لاکهه نیکیانی ورکولې کیږی لس(۱۰)لاکهه گناهونه ئې معاف کیږی.

وَإِذَا رَأَوۡاْ تِجَٰرَةً أَوۡ لَهۡوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيۡهَا وَتَرَكُوكَ قَآئِمٗاۚ قُلۡ
کله چې اولیدلو دوئ تجارت او لهوه نو منډې ئې کړی هغې ته او پریخودې ئې ته ولاړ ، ته ورته اووایه

مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ اللَّهْوِ وَمِنَ التِّجَارَةِ وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ⑪

هغه څه چه الله ﷻ سره دی غوره دی دلهوی نه اودتجارت نه،اوالله ﷻ ډيرغوره دي درزق ورکونکونه

﴿وَإِذَا رَأَوْا تِجَارَةً أَوْ لَهْوًا﴾ دا زجر دي بعضې مؤمنانو ته. بخاری،مسلم، وغیرهما کښ دَ جابر بن عبدالله رضی الله عنه نه مروی دی چه یوځل حضور ﷺ دَجمعې په ورځ خطبه فرمایله چه مدینې ته تجارتی قافله راغله،صحابه کرام چه خبرشول نوورپسی لاړل صرف دولس(۱۲)کسان ورسره په مسجدکښ پاتې شول،نوالله ﷻ داآیت نازل کړو،په یوروایت کښ دی چه دولس سړی او وه(۷)ښځې پاتې شولې،نوحضور ﷺ اوفرمائیل کچرته تاسو ټول تلی وئ نو دا وادی به ټوله په تاسودَ اُورنه ډکه شوی وه.

«اذا» دلته دَماضی معنی ورکوی،استقبال دَپاره نه دې،(روح المعاني،التحرير والتنوير) دَ «لهوا» نه مراد، هغه دف وغیره دي چه دَقافلی راتلووخت کښ به وهلې کیدلو.« انفضوا الیها » ها ضمیر « تجارة » او « لهوا» دواړو ته راجع دې، او عطف په « او» سره شوې دې، نو ځکه ورته ضمیر دَ مفرد راجع شو،او چونکه دې انفضاض او وتلو اصل سبب تجارت وو،لهو نه وه نو ځکه ضمیر د مؤنث راوړلې شو،او دیکښ اشاره ده دیته هم چې تجارت دَ وجهې نه خطبه پریخودل گناه ده حالانکه تجارت یو مباح امر دې، نو لهو دَوجهی نه پریخودل خولاغټه گناه ده. ﴿وَتَرَكُوكَ قَائِمًا﴾استدلال کړې شوي دي په دې سره په مشروعیة دَقیام په خطبه کښ،

﴿قُلْ مَا عِندَ اللَّهِ خَيْرٌ﴾یعنی ثواب اونعمتونه دَجنت،﴿وَاللَّهُ خَيْرُ الرَّازِقِينَ﴾نوپس الله ﷻ طرف ته سعی اوکړئ اودَهغه نه رزق طلب کړئ.

ركوعاتها (۲)	سورة المنافقون مدنية	آياتها (۱۱)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۶۳) وحسب النزول (۱۰۴)

نزلت بعد الحج و قبل المجادلة

ربط : ماقبل سوره کښې دَانفاق حکم وُچه دَجمعې خطبې ته حاضرېدئ او انفاق في سبیل الله مسائل آوري، اوس دې سورة کښې هم دَانفاق حکم دې چه زمونږ دَدرکړې شوی مال نه دَمرګ نه مخکښې مخکښې انفاق اوکړئ.

خلاصه: منافقانو ته زجرونه او دَهغوئ نه شکوی دی، چه دوئ وائی په مهاجرینو باندی مال مه خرچ کوئ، او دَهغوئ دَاحوال خبیثه ؤبیان دې، آخرکښې مقصودی مضمون یعنی دَانفاق في سبیل الله حکم دې (تمت).

شانِ نزول:روایت دې چه په سفردَغزوه بنی مصطلق کښې دَیومهاجر صحابیﷺ او انصاری صحابی په څه خبره په اوبو باندی جګړه اوشوه، نومهاجرصحابی په انصاری باندی ګزاراوکړو، نوانصاری صحابی خپلو انصاروته آوازاوکړو: یاللانصار، اې انصارو راشئ، مهاجر خپلو مهاجرینوته اواز اوکړو: یاللمهاجرین، قریبه وه چه دَانصارو اومهاجرینو مینځ کښې لویه جګړه شوې وې، حضورﷺ تشریف راوړو اواوئې فرمائیل: مَابال دعویٰ الجاهلیة، اوبیائی او فرمائیل: دعوها فانّها مُنتنةٌ، دا بدبوداره دعوه پریږدئ، دَصحابه ؤپه مینځ کښې روغه اوشوه، رئیس المنافقین عبدالله بن سلول چه خبرشونو وئی وئیل: چه زمونږ اودَمهاجرینو مثال خو داسی ده لکه متل دې چه "سمّن کلبک یاکلک" خپل سپې غټ کړه چې تاوخری داتاسودَخان سره پخپله اوکړل، پخپلو کورونوکښې موورته ځائ ورکړو، خرچې موورباندی اوکړې نو اوس دوئ قوی شول اوتاسوضعیف شوئ، لهذاپدوئ خرچې مکوئ چه چرته بل ځائ ته لاړشی، اودائی هم اووئیل ﴿لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ لَيُخْرِجَنَّ ٱلْأَعَزُّ مِنْهَا ٱلْأَذَلَّ﴾ زیدبن ارقمﷺ هم پدغه موقع باندې موجود وو، کله چې یې دغه خبره واؤریدله، نو حضورﷺ ته یې داخبره

اورسوله، حضرت عمرﷺ اجازت طلب کړويارسول الله! ماته اجازت راکړه چه دَدې منافق سر پريکړم ، ليکن نبی کريم ﷺ دې منع کړو ،چه خلق به وائی داپيغمبرخپل ملګری قتلوی، بيا حضور ﷺ عبدالله ابن سلول رااوغوښتلو ،تپوس ئی ورنه اوکړوآياتاداخبره کړيده؟ هغه ورته قسمونه اوکړل چه ماداسې څه خبره هم نه ده کړې،اوزيدﷺ کاذب دې،زيدﷺ چونکه پدغه وخت کښې کم عمره وؤنوحاضرينو اووئيل چه کيديشی زيدﷺ ته وهم شوې وی اوعبدالله به داخبره نه وی کړی،نوحضورﷺ دَعبدالله بن سلول تصديق اوکړو.اودَزيدﷺ خبره ئی اونه منله،زيدبن ارقمﷺ فرمائی چه څه پدې سخت ملامته شوم،اودومره پريشانه شوم چه دومره بل څوک نه وؤ پريشانه،دَزيدﷺ يقين وؤچه اللهﷻ به خمادَتصديق باره کښې خامخاوحی نازلوی حتّی چه پدغه سفرکښې داسورة نازل شو،دَزيدﷺ تصديق اوشواودَعبدالله بن سلول تکذيب اوشو ، بعض صحابه ؤابن سلول ته اووئيل چه ورشه معافی اوغواړه حضورﷺ به درته معافی اوکړی او مغفرت به درله اوغواړی ليکن ده انکاراوکړو .چه ورستوراروان دی.

إِذَا جَآءَكَ الْمُنٰفِقُوْنَ قَالُوْا نَشْهَدُ اِنَّكَ لَرَسُوْلُ اللّٰهِ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ
کله چه راسی تاته منافقان وائی دوئ ګواهی کوؤمونږچه بيشکه ته يقيناً چې دالله رسول ئی،اوالله ﷻ پوهيږی
اِنَّكَ لَرَسُوْلُهٗ ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ لَكٰذِبُوْنَ ①
چه ته خمخادَهغه رسول ئی،اوالله ﷻ ګواهی ورکوی چه بيشکه منافقان دروغژن دی

﴿إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُنَٰفِقُونَ ﴾ديکښې دَ منافقينو اول خباثت ذکر دې چی دوئ دروغو ګواهانی ورکوی،او« المنافقون» نه مرادعبدالله بن أبي دې او دَ ده ملګری دي، « نشهد انک لرسول الله» مونږ تاواقعی دَالله ﷻ رسول ګنړودَزړه نه داګواهی ورکوؤ. ﴿وَٱللَّهُ يَعۡلَمُ إِنَّكَ لَرَسُولُهُۥ ﴾ جمله معترضه ده راوړې شوي ده دَ پاره دفعِ توهم، چه سامع دا توهم اونکړی چه قول دَدوئ «انکَ لرسول الله» هم کذب دې.

﴿وَٱللَّهُ يَشۡهَدُ إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ لَكَٰذِبُونَ ﴾دامنافقينو دعوې رد دې تکذيب ياراجع دې شهادت دَدوئ ته،يعنی دوئی ته،يعنی دوئی دروغژن دی په شهادت کښې ځکه شهادت دَزړه خبری ته وائی نو الله ﷻ فرمائی چه دوئ دروغ ژن دی،دادَدوئ ژبانی جمع خرچ دې ، زړه نه

دوئ ستاد رسالت منکرین دی.یاتکذیب په نسبت سره اعتقاد دَدوئ ته دې،یعنی دروغژن دی په مشهود به کښې دَخپل

اِتَّخَذُوْٓا	اَيْمَانَهُمْ	جُنَّةً	فَصَدُّوْا	عَنْ	سَبِيْلِ	اللّٰهِ	اِنَّهُمْ	سَآءَ
نیولی دی دوئ	قسمونه خپل	ډال	پس منع شول دوئ	دلاری	دالله	ﷻنه،بیشکه دوئ		ډیربددی
مَا	كَانُوْا	يَعْمَلُوْنَ ۝٢	ذٰلِكَ	بِاَنَّهُمْ	اٰمَنُوْا	ثُمَّ	كَفَرُوْا	
هغه عملونه	چه دوئ	ئی کوی،داپه وجه	دَدې	چه بیشکه دوئ	ایمان راوړوبیانی		کفراوکړو	
فَطُبِعَ	عَلٰى	قُلُوْبِهِمْ	فَهُمْ	لَا	يَفْقَهُوْنَ ۝٣			
نومُهروهلې	شویدې	په	زړونودَدوئ	پس	دوئ	نه	بوهیږی	

﴿اتَّخَذُوٓا أَيْمَـٰنَهُمْ جُنَّةً﴾داد **منافقانو دویم خباثت** ذکرکیږی.چه دَروغوقسمونه ئی دَخپل ځان دَ بچ کولو لپاره ډهالونه جوړکړیدی،چی هغی په ذریعی سره دوئ یو طرف ته ځان مسلمانان ظاهری کړی اودَ مجاهدینونه پرې خپل جان ومال بچ کړی،اوبل طرف ته پری مسلمانانو ته نقصان رسوی،چی کوم خلق اسلام راوړل غواړی،یااسلام دَپاره جانی ومالی یا بل څه تعاون کول غواړی دوئ مختلف شکوک وشبهات اوحیلو حربوسره (هغوئ) په لار کښې رکاوټونه پیدا کوی،چونکه دوئ ځان مسلمانان اودین همدرد ظاهر وی نودې وجهی نه ځنی خلق دَدوئ سازشونو شکار شی.

﴿فَصَدُّوا عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ﴾فاء تفریعیه ده یعنی دروغو قسمونو خوړلودَوجهې نه دوئ چونکه ځان مؤمنان ظاهرکړی نو بیا دوئ ته ډیر ښه موقع میلاؤ شوی،او مختلفو طریقوسره خلق دَاسلام نه منع کول شروع کړی.﴿ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴾نه مرادنفاق اودَدروغوقسمونه دی،

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمْ ءَامَنُوا۟ ثُمَّ كَفَرُوا۟ ﴾دې کښې دَدوئ خباثتونو وجه اوسبب بیانیږی،اشاره دَدوئ خباثتونو ته ده،یعنی وجه ئي داده، چی دوئ په ژبه ایمان راوړو اوپه زړه کښې ترینه منکر وؤ، نو الله ﷻ ورله په زړه باندې مهرجباریت اولګولو،نو اوس دوئ هیڅ خیرنه پیژنی،خباثت دَ دوئ فطرت اوګرځیدلو.

تَسْمَعْ	يَّقُوْلُوْا	وَاِنْ	اَجْسَامُهُمْ	تُعْجِبُكَ	رَاَيْتَهُمْ	وَاِذَا
اوكله چه ته اووينې دوئ نوپه تعجب كښ به واچوي تا جثې ددوئ. اوكه خبرې كوي دوئ نوغوږبه كيدې ته						
عَلَيْهِمْ	صَيْحَةٍ	كُلَّ	يَحْسَبُوْنَ	مُّسَنَّدَةٌ	خُشُبٌ	كَاَنَّهُمْ لِقَوْلِهِمْ
خبرودَدوئ ته.گويا كه دوئ لرگې دې تكيه كړې شوې ديوال ته.گمان كوي دوئ دهراواز چه واقع دې په مونږباندې.						
④	يُؤْفَكُوْنَ	اَنّٰى	اللّٰهُ	قٰتَلَهُمُ	فَاحْذَرْهُمْ	الْعَدُوُّ هُمُ
هم دوئ دشمنان دی.نوځان ورنه اوساته، هلاک دې كړي دوئ الله . كوم طرف ته اړه ولې كيږي						

﴿وَإِذَا رَأَيْتَهُمْ﴾دا ئي **بل قباحت ذكر** كيږي،چې ظاهري صورت ته اوگوري نوډير خائسته ، خبرې ئي ډيرې فصيحې،چې تاسو له به خوند دركوي ،خوچې باطن ته ئې اوگورئ نو انتهائي گنده، طلب نه خالي، دشمنئ نه ډك، بې فائده ،بزدله اويروندكې خلق دي.

﴿تُعْجِبُكَ أَجْسَامُهُمْ﴾يعنی ظاهری شكل وصورت اوهيئت ئی سرې په تعجب كښ اچوی،خه غوړ پړ وي،هندو پرې مسلمانيږي،﴿وَإِن يَقُولُوا تَسْمَعْ لِقَوْلِهِمْ﴾يعنی دومره فصيحه دی چه خلق ئی خبروته متوجه كيږی،ابن عباسﷺفرمائي چه عبد الله بن أُبي ابن سلول جسيم، فصيح وؤ ، مجلس دَ حضورﷺته به راتللوسره دَخپلوملگرو،حضورﷺاوصحابه كرام به ئی شكل و صورت ته حيرانيدل،او دَ هغه خبرو ته به ئي غوږكيخودلو﴿كَأَنَّهُمْ خُشُبٌ مُّسَنَّدَةٌ﴾يعنی ظاهری چال چلن خو ئی ښه دې ليكن باطن كښ هيڅ نه وی،تش كدوان دی،مثال ئی داسی دې لكه لرگې چه ديوال ته تكيه كړې شوې وی،تشبيه دَ منافقانو دَ لرگو تكيه كړې شوؤ سره (١) يا په عدم نفع اوخيركښ وركړې شوي ده. خكه چه كوم لرگې ديوال ته اودره ولې شی نوهغه بې فائدی وی په عمارت وغيره جوړه ولوكښ نه استعماليږی،ماسوا دَ سوزولو نه . نو دغه شان دامنافقين هم دي چی جهنم دَاور خشاك جوړيدونه علاوه بل څه سره نه جوړيگی. (٢) يادا چه دوئ په مجلس دَحضورﷺكښ تكيه لگه ولی داسی بی طلبه ناست وی لكه لرگی،چه په هيڅ هم نه پوهيږی.

﴿يَحْسَبُونَ كُلَّ صَيْحَةٍ عَلَيْهِمْ﴾ اي واقعةٍ عليهم. دوئ دومره بزدله دي چه څه څوک خبره كوي نودوئ يريږي چه لكه دا زمونږ خلاف څه خبره كيږي. مقاتل رحمه الله وائي چه چابه دڅه ورک شوي څيزاعلان كولوياڅه بل څه اعلان، نودوئ به اويريدل چه زمونږباره كښې اعلان دې، بعضِ وائي چه دوئ به هروخت كښې په ويره كښې وؤچه هسې نه الله تعالى زمونږباره كښې څه نازل نكړي چه زمونږحقيقت ښكاره شي. ((هم العدو)) دادستاسو اصل دښمنان دي، خان ترينه ساتئ. ﴿قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ﴾ الله دي دوئ غرق كړي په كومه روان دي، دومره هم حق ته نه ګوري.

وَإِذَا	قِيلَ	لَهُمْ	تَعَالَوْا	يَسْتَغْفِرْ	لَكُمْ	رَسُولُ	اللّٰهِ	لَوَّوْا
اوكله چه	اووئيلې شي	دوئ ته	چه راشئ	چه بخنه اوغواړي	تاسولره	رسول	دالله تعالى	نوكاږه كړي
رُءُوسَهُمْ	وَرَأَيْتَهُمْ	يَصُدُّونَ	وَهُمْ	مُسْتَكْبِرُونَ ۝٥				
سرونه خپل	اووينې ته دوئ	چه منع كيږي(دراتلونه رسول الله ته)	اودوئ	تكبركونكي دي				
سَوَاءٌ	عَلَيْهِمْ	أَسْتَغْفَرْتَ	لَهُمْ	أَمْ	لَمْ	تَسْتَغْفِرْ	لَهُمْ	
برابرده	په دوئ باندې	كه بخنه غواړې	ته دوئ لپاره	اوكه	نه	غواړې بخنه	دوئ لپاره	
لَنْ	يَغْفِرَ	اللّٰهُ	لَهُمْ	إِنَّ	اللّٰهَ	لَا يَهْدِي	الْقَوْمَ	الْفَاسِقِينَ ۝٦
هرګزبخنه نه كوي		الله تعالى	دوئ ته	، بيشكه	الله تعالى	نه كوي هدايت	قوم	فاسقانوته

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا يَسْتَغْفِرْ لَكُمْ﴾ دابل **قباحت دَ منافقانو** دې، چې انتهائي متكبر دي كله چې ترينه غلطي اوشي ، او ورته اويلې شي لاړ شئ رسول الله ﷺ ته چې مغفرت درله او غواړي نودوئ نه ځي، روايت كښې دي چه كله الله تعالى دزيدبن ارقم رضي الله عنه تصديق اوكړو نو خلقو عبد الله بن أبي بن سلول ملامته كړو، اوبعضومسلمانانو ورته اووئيل، ورشه حضور ﷺ ته اودخپل جرم اعتراف اوكړه هغه به درله بخنه اوغواړي ليكن ده انكاراوكړو، او ورته ئې اوئيل: تاسوراته وئيل چه ايمان راوړه نوايمان مې راوړو، تاسو راته اووئيل زكوة وركړه نو زكوة مې وركړو، اوس نور څه نه دي پاتې مګر داچه تاسوماپه سجده كوئ محمد ﷺ ته.

﴿لَوَّوۡا رُءُوسَهُمۡ﴾ تاوه ول دَسرونو كنايه ده دَتكبراو اعراض نه.ياحقيقةً تاوه ول ورنه مراد دى لكه څنګه چه عادت دې دَانكاركونكو.

﴿سَوَآءٌ عَلَيۡهِمۡ أَسۡتَغۡفَرۡتَ لَهُمۡ﴾دازجراوتخويف دې منافقانوته،چه دَدوئ مغفرت نشى كيدې اګرچه سيد الكونين ﷺ ورله مغفرت اوغواړى،څه ضرورى تفسيردَدى آيت متعلق دَ لسمى‹١٠›سپارى په آخركښ سورة التوبه كښ تيرشويدې هلته ئى اوګورئ.

هُمُ الَّذِيۡنَ يَقُوۡلُوۡنَ لَا تُنۡفِقُوۡا عَلٰى مَنۡ عِنۡدَ رَسُوۡلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَنۡفَضُّوۡا
دامنافقان هغه دى چه وائى دوئ مه كوئ نفقه په هغه چاچه دَرسول الله سره دى لپاره دَدى چه تول خواره شى،
وَلِلّٰهِ خَزَآئِنُ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضِ وَلٰكِنَّ الۡمُنٰفِقِيۡنَ لَا يَفۡقَهُوۡنَ ۞
اوخاص الله لره دى خزانى دَاسمانونو اودَزمكى ليكن منافقان نه پوهيږى.

﴿هُمُ ٱلَّذِينَ يَقُولُونَ لَا تُنفِقُواْ﴾دائى بل قباحت ذكر كيږى،چى دوئ وائى صحابه باندى خرچ مه كوئ،دوئ سره مالى تعاون مه كوئ،دامهاجره بي كوره خلق دى چى تاسو ورسره امداد بند كړئ نو دوئ به خپله نبى ﷺ اتباع پريګدى، قائل دَدى خبرى رئيس المنافقين عبدالله بن ابي وؤ ، او نور منافقان ورسره په دې راضى وؤ.دَ آيت شانِ نزول ابتداءكښ تيرشويدې.﴿عَلَىٰ مَنۡ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ﴾ دينه مرادئى فقراء مهاجرين ﷺ دى،﴿رَسُول ٱللَّهِ﴾ سره تعبير ئى صرف ظاهراً كړيدې اعتقاداًئى ندى وئيلى﴿حَتَّىٰ يَنفَضُّواْ﴾حتىٰ تعليليه دې، "انفضاض" تفرق او انتشار ته وائى يعنى په دوئ خرچه بنده كړئ چى دوئ منتشر شى.

﴿وَلِلَّهِ خَزَآئِنُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾رد دې په قولِ مذكور دَ منافقانو،چى دَ اسمانونو او دَ زمكى دَ رزق خزانى صرف اللهٔ سره دى،مخلوق سره نه دى چه په چائ بندى كړى،ليكن منافقان په دې نه پوهيږى.

يَقُوۡلُوۡنَ لَئِنۡ رَّجَعۡنَاۤ اِلَى الۡمَدِيۡنَةِ لَيُخۡرِجَنَّ الۡاَعَزُّ مِنۡهَا الۡاَذَلَّ ؕ
وائى دوئ منافقان كچرى واپس شومونږ مدينى ته نو خامخا اوباسى به عزت مند دَ مدينى نه ذليلو لره،

وَلِلّٰهِ	الْعِزَّةُ	وَلِرَسُوْلِهٖ	وَلِلْمُؤْمِنِيْنَ	وَلٰكِنَّ	الْمُنٰفِقِيْنَ	لَا	يَعْلَمُوْنَ ۝
اوخاص الله لره دي	عزة	اودهغه رسول لره دي	اومؤمنانولره دي	ليكن	منافقان	نه	پوهيږي

﴿يَقُولُونَ لَئِن رَّجَعْنَآ إِلَى ٱلْمَدِينَةِ﴾ دا ئي **بل قباحت دې**. چې دوئ وائي :مونږ دمدينې معززين يو اودامهاجرين ذليل خلق دي،چې كله مدينې ته اورسو نو مونږ به دوئ دمدينې نه اوباسو. ددې قائل هم ابن اُبي بن سلول دې

﴿وَلِلَّهِ ٱلْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِۦ﴾ رد دې ددوئ دقول مذكور،يعنى دا خبره صحيح ده چې مدينى عزت مند خلق به ذليل خلق اوباسى ليكن عزت مند خلق خومؤمنان دى اوتاسو ذليل ئى،لهذا هم تاسو به دمدينى نه اوځئ. تقديم دخبر «لله» تخصيص لپاره شويدي. چې عزت صرف الله ﷻ او د الله ﷺ رسول او مؤمنانو دپاره دي، دوئ نه علاوه چې څوک هم دى هغه ذليل دي.

فائده: دې آيت نه ثابتيږى چې عزت معيار صرف الله ﷻ او د هغه رسول اتباع او اسلامى طورطريقې اواسلامى علوم دى، آه! انقلاب د زمانې ته اوګورئ چې نن په مسمانانو داسې زمانه راغليده چې هغوئ ته عزت په غيرو طريقو او دنيوى علومو و فنونو كښې ښكارى اودينى علوم اودهغى حاصلونكى ورته سپک ليدې شى

فائده: «خزائن السموٰت» تخصيص صرف الله ﷻ سره اوشو اوعزت تخصيص الله ﷻ، رسول اومؤمنانو درې واړو سره اوشو ،ديكښې اشاره ده دې خبرې ته چې مؤمن مالداره كيدل ضرورى امر نه دې،البته عزت مند به خامخا وي.

په رواياتونوكښې راغلى دى چه دعبدالله بن اُبي بن سلول داخبره چه كله دَ ده خوى واؤريدله، او هغه مخلص مسلمان وؤ،نوتوره ئى راواوباسله اوپلارته ئى اووئيل چه په الله ﷻ مې دې قسم وى تر هغې دې نه پريدم چه دااونه وائى محمّد ﷺ عزت مند دې اوځه ذليل يمه، حتى چه پلار ئي دې خبرى وئيلو ته مجبورشولو.

يٰٓاَيُّهَا	الَّذِيْنَ	اٰمَنُوْا	لَا	تُلْهِكُمْ	اَمْوَالُكُمْ	وَلَآ	اَوْلَادُكُمْ
اې	ايمان والو!		غافله دې نكړى	تاسولره	مالونه	ستاسواونه	اولادستاسو

عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ	وَمَنْ	يَّفْعَلْ	ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ	هُمُ	الْخٰسِرُوْنَ ⑨		
دذکردالله	نه.اوهرچاچه	اوکړو	داکارنودغه	خلق	هم	دوئ	ـوـبـن	دی

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تُلْهِكُمْ﴾دا په آخردَسورة کښې مؤمنانوته دَ انفاق فی سبيل الله ترغيب دې،مؤمنانوته حکم دې چه په مال او اولادکښې دومره انهماک مه کوئ چه په هغې سره دَالله ﷻ دَيادنه غافل شئ﴿ذِكْرِ اللّٰهِ﴾نه مرادمطلق عبادت دې ﴿وَمَنْ يَّفْعَلْ ذٰلِكَ﴾يعنی دَدنياپوجه دَدين نه غافله کيدل ډيرلوئ تاوان دې،ځکه چه داغوره کول دَفانی څيزدی په مقابل دَباقی کښې.

وَاَنْفِقُوْا	مِنْ	مَّا	رَزَقْنٰكُمْ	مِّنْ	قَبْلِ	اَنْ	يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ
او خرچ کوئ دَهغی مال نه چه درکړيدې مونږتاسوته مخکښې ددينه چه راشي يودستاسونه مرګ							
فَيَقُوْلَ	رَبِّ	لَوْلَآ	اَخَّرْتَنِيْٓ	اِلٰٓى	اَجَلٍ	قَرِيْبٍ	فَاَصَّدَّقَ
نوبيابه وائی اې ربه څما، ولې دی ورستو نه کړم څه ترنيتی نيزدی پورې.نوصدقه به می کړې وې							
وَاَكُنْ مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ⑩	وَلَنْ يُّؤَخِّرَ اللّٰهُ نَفْسًا اِذَا جَآءَ اَجَلُهَا ط						
اوشوې به وې څه دَنيکانونه،اوهرګزنه ورستوکوی الله ﷻ هيڅ نفس لره کله چه راشی نيته دهغی.							
وَاللّٰهُ	خَبِيْرٌۢ	بِمَا	تَعْمَلُوْنَ ⑪				
اوالله ﷻ تنبه	خبردې	په	هغه	عملونوچه	تاسوئی	کوئ	

﴿وَاَنْفِقُوْا مِنْ مَّا رَزَقْنٰكُمْ﴾ ترغيب دې انفاق ته صراحتًا ،يعنی دآخرت دَذخيری جمع کولو د پاره دَخپل مالونه څه حصه خرچ کوئ ﴿اَنْ يَّاْتِيَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ﴾ ای: اماراته ومقدماته. يعنی دَ مرګ آثار راتلو نه مخکښې مخکښې نفقه اوکړئ ورنه بيابه تمنّاکوئ چه ياالله ماته لږغونته مهلت راکړه چه څه صدقه اوکړم،((لولا اخرتني))کښې ((لو)) تحضيض دپاره دې يعنی ولې دې ما له لکه نوره زندګي نه راکوله.

«فاصدق واكن من الصلحين» جواب - لولا - منصوب هم راځی، -أنْ- ناصبه مقدره د وجهی نه. او مجزوم هم راځی، دَ -إنْ- شرطیه مقدره دَ وجهی نه، نو دي وجهې نه «اَصَّدَّقَ» منصوب راغليدې او «اَكُنْ» مجزوم راغلې دې، او «اَكُنْ» عطف دې په «فاَصَّدَّقَ» باندې. دَ فاء مدخول نه دې. اې ان اخرتني اكن من الصالحين.

دغه شان تعبیز سره مختصر الفاظو کښې دوه فائدې حاصلې شوې. (۱) تسبب (۲) تعليق. مطلب به دَ آيت دا شی، اې ځما ربه تا ماله لګه نوره زندګی ولې نه راکوله، چې ما ستا په لار کښې مال خرچ کړې وې او اې ربه! که ته ماله زندګی راکړې نو څه به ښه کارونه کوم، «التحرير والتنوير»

﴿وَلَن يُؤَخِّرَ ٱللَّهُ نَفْسًا ﴾ يعنى الله ﷻ هيڅ چاته هم دَمقررى نيتى نه ورستومهلت نه ورکوی، اوس درته ډیرمهلت دې چه څه نیک کارکوئ او کړئ.

ركوعاتها (۲)	سورة التغابن مدنية	آياتها (۱۸)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم		

ترتيبها حسب التسلسل (۶۴) وحسب النزول (۱۰۸)

نزلت بعد التحريم و قبل الصّف

ربط: ماقبل سورة په آخر کښ دَانفاق حکم اوشو، دی سورة کښ هم دَانفاق حکم دي بطور ترقی، چه د امال ستاسو دي ليکن په قرض ئی الله تعالی ته ورکړئ، څوګنه زيات اجربه ئی درته درکړی.

خلاصه: دي سورت دوه حصي دي:

اوله حصه ايت نمبر۲ تر۱۳ پوري ده.

آيت نمبر۱ نه تر ۴پوری توحيد بيان دي.

آيت نمبر ۵ ، ۶ کښ رسالت بيان دي.

آيت نمبر ۷کښ معاد بيان دي.

آيت نمبر ۸ کښ ماقبل دري وارو مسئلو باندی تفريع ده.

آيت ۹ ، ۱۰کښ بشارت او تخويف دي.

آيت ۹-۱۳ تسلی ده مؤمنانو ته

آيت نمبر۱۴ نه د **سورت دويمه حصه** شروع کيږی، ديکښ دوه مانع دَانفاق ذکر کيږی، بياانفاق حکم دي اوآخر کښ دهغی ترغيب ذکر کيږی

يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَمَا فِي الْاَرْضِ لَهُ الْمُلْكُ
پاکی بيانوی الله ﷻ لره هغه څه چه په آسمانونوکښ دی اوهغه څه چه په زمکه کښ دی،هم ده لره بادشاهی ده،
وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١ هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ فَمِنْكُمْ
اوهم ده لره ثنا ده، او الله ﷻ په هرڅه باندی قادر دي، الله ﷻ هغه ذات دي چه پيدا کړی يئ تاسو پس څني په تاسو کښ

كَافِرٌ وَّمِنْكُمْ مُّؤْمِنٌ ۚ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ②

کافردی اوځنې په تاسوکښ مؤمنان دی.اوالله جل شانه هغه څه چه تاسونی کوئ ښه لیدونکي دی

خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ وَصَوَّرَكُمْ فَاَحْسَنَ صُوَرَكُمْ ۚ

پیداکړیدی الله جل شانه اسمانونه اوزمکه په حقه سره اوصورتونه ئی درکړیدی تاسو ته ښائسته صورتونه ئی درکړیدی

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ③ يَعْلَمُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

اوخاص هغه ته ورتلل دی.عالم دې الله جل شانه په هغی چه په اسمانونوکښ دی اوپه زمکه کښ دی

وَيَعْلَمُ مَا تُسِرُّوْنَ وَمَا تُعْلِنُوْنَ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ ۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ④

اوعالم دې په هغی چه پټوئ تاسواوپه هغی چه ښکاره کوئ یې.اوالله جل شانه عالم دې په رازونودسینوباندی

﴿يُسَبِّحُ لِلّٰهِ مَا فِي السَّمٰوٰتِ﴾دې ځائی نه **توحید بیان** شروع کیږی.اوداتمهید دې چی کائنات کښ چی څه هم دی هغه دَالله ﷻ تسبیح بیانوی.ځکه چي هغه دټول کائنات تن تنها بادشاه دې، اوصرف هغه دَحمد مستحق دې.اودَ هغه په هر څه باندې قدرت دې.

﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ﴾دَ **اول دلیل عقلی** په توحید دې.﴿فَمِنْكُمْ كَافِرٌ وَمِنْكُمْ مُؤْمِنٌ﴾ دا دلیل عقلي په ضمن کښ شکوه ده،چی الله ﷻ تاسو پیداکړئ.قوت اواستعداد یی درله درکړو،علمی اوعملی کمالاتو نه ئی مشرف کړئ،دې تقاضه خوداوه چی تاسوټولو ایمان راوړې وې، لیکن په ځائ ددې، تاسو په فرقو اوحصو کښ تقسیم شوئ.چاایمان راوړو اوچا کفر اوکړو،خو دا واورئ چې دا هرڅه الله ﷻ گوری هغهٔ په درله بدله درکوی.

﴿خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ﴾دا **دویم دلیل عقلی دې** په توحید،چې الله ﷻ د کائنات تخلیق داسې انداز سره کړیدې چی هغی کښ دانسان سراسر نفع ده،دنیوی هم اخروی هم، اوانسان ئې هم دومره خائسته نقشې باندی جوړکړیدې چی داسې ترتیب اوتناسق سره بل مخلوق نه دې جوړ.نو دا کارونه صرف الله کړي دي بل څوک داسې نشته چې دا کارونه اوکړي. ﴿واليه المصير﴾ دا تخویف اخروي دې چې دا کافران دې بی غمه کیږی نه.کائنات کښ

چې څه کیږی او څوک چې څه کوی ، دهغې ټولو رجعه الله ﷻ ته کیږی نو ستاسو اعمالوخبر هم الله ﷻ ته رسی .الله ﷻ به درله دهغې سزادرکوی.

﴿يَعْلَمُ مَا فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ﴾ دادریم دلیل عقلی دې په توحید ،چې الله ﷻ علیم بکل شئ دې.

أَلَمْ يَأْتِكُمْ نَبَؤُا الَّذِينَ كَفَرُوا مِن قَبْلُ فَذَاقُوا وَبَالَ أَمْرِهِمْ
آیا ندې راغلې تاسوته خبردهغې خلقوچه کفرئې کړې وؤمخکښې دَدینه،پس اوڅکلوهغوئ عذاب دعمل خپل
وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ۞ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُ كَانَت تَّأْتِيهِمْ رُسُلُهُم بِالْبَيِّنَاتِ
اوهغوئ لره عذاب دې دردناک.داپه سبب دَدې چه وؤراتلل به دوئ ته رسولان دَدوئ په دلائلوښکاروسره.
فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا فَكَفَرُوا وَتَوَلَّوا وَّاسْتَغْنَى اللَّهُ
نوئیل به دوئ آیا بشر به مونږته هدایت کوی.پس کفرئی اوکړواواعراض ئی اوکړواوښکاره کړه الله ﷻ غنی خپله.
وَاللَّهُ غَنِيٌّ حَمِيدٌ ۞
او الله ﷻ غنی(بی پرواه)دې،ستائیلې شویدې.

﴿أَلَمْ يَأْتِكُمْ﴾ دیکښې **مسئله رسالت بیان** دې،او رسالت نه انکار باندې تخویف دې،یعنی رسول الله ﷺ دَالله ﷻ رسول دې،ده باندی ایمان راوړئ،ګنې تاسوته دَ مخکښنو کفارو نمونې مخې ته دی، چې دَخپلو رسولانو تکذیب ئې اوکړو ،نو الله ﷻ ورله په دنیا کښې څنګه سزا ورکړه.او آخرت سزا دینه علاوه ده . ﴿ذَٰلِكَ﴾یعنی داعذاب دنیوی او اخروي په سبب دَدې چه دوئ دَ رسولانو دَحکم منلو نه ئې همیشه انکارکړې وؤ.

﴿فَقَالُوا أَبَشَرٌ يَهْدُونَنَا﴾ دا اعتراض دې د دوئ په رسولانو .چې زمونږغونته سرې څنګه زمونږ دَ هدایت لپاره راليږلې شوې دې!؟ ګویا که دَ دوئ په نیز دَ بشریت او رسالت په مینځ کښې منافات وؤ .نو په دې وجه ئی کفراختیارکړواودَرسولانو دَحکم منلونه ئی مخ وارؤ .داآیت

دَ هغې عقيدې واضح ترديد کوي چه دَرسول دَبشريت نه انکار کوي. ((بشر)) نه مراد جنسِ بشر دې، نو ځکه ورته په ((يهدوننا)) کښې ضمير دَ جمعې راجع شوې دې.

﴿ وَّاسْتَغْنَى اللّٰهُ ﴾ اى اظهر سبحانه غناهٔ عن ايمانهم، يعنى الله جل جلاله دَدوئ دَايمان راوړلو او طاعت نه بې پرواه شولو، مطلب دادې چه عذاب ئې ورباندې راوستلو تول ئې هلاک برباد کړل

زَعَمَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَنْ لَّنْ يُّبْعَثُوْا ؕ قُلْ بَلٰى وَرَبِّيْ

غلط گمان کړيدې کافرانوچه هرگزبه دوباره پورته نکړې شي دوئ، اووايه ته. ولې نه، قسم دې په رب ځما

لَتُبْعَثُنَّ ثُمَّ لَتُنَبَّؤُنَّ بِمَا عَمِلْتُمْ ؕ وَذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ

چه خامخابه دوباره پورته کولې شئ تاسو، بيابه خبرکړې شئ په هغې چه کړې دى تاسو، اوداکارپه الله جل جلاله باندې

يَسِيْرٌ ۞ فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَالنُّوْرِ الَّذِيْٓ اَنْزَلْنَا ؕ وَاللّٰهُ

آسان دې، پس ايمان راوړئ په الله جل جلاله اوپه رسول دَهغه اوپه هغه نور(قرآن)چه مونږنازل کړيدې، اوالله جل جلاله

بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِيْرٌ ۞ يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ لِيَوْمِ الْجَمْعِ ذٰلِكَ

په هغه څه چه تاسوئې کوئ ښه خبردار دې، هغه ورځ چه راجمع به کړې الله جل جلاله تاسو، په ورځې دَجمع کيدلو کښې، داورځ

يَوْمُ التَّغَابُنِ ؕ وَمَنْ يُّؤْمِنْۢ بِاللّٰهِ وَيَعْمَلْ صَالِحًا يُّكَفِّرْ

ورځ دگټنې بيلنې ده، اوهغه څوک چه ايمان راوړې په الله جل جلاله اووکړې عمل نيک، لرې به کړې معاف به کړې

عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ

دَده نه گناهونه دَ ده اوداخل به يې کړې جنتونوته چه بهيږي به دَلاندې دَهغې نه نهرونه هميشه به وى دوئ

فِيْهَآ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ۞ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ

په هغې کښې هميشه، داکاميابى ده لويه. اوهغه کسان چه کفرئې کړيدې اوتکذيب ئې کړيدې دَآياتونوزمونږ،

أُولَٰئِكَ	أَصْحَابُ	النَّارِ	خَالِدِينَ	فِيهَا	ط	وَبِئْسَ	الْمَصِيرُ ﴿١٠﴾
دغه	کسان	خاوندان دَاوردی	همیشه به وی	په هغی	کښې.او	دیرېدخاۍ	دورتلودې«جهنم»

﴿زَعَمَ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾ دیکښې **مسئله معاد بیان** دې اوشکوه ده مشرکینو نه، چې دوئ داګمان دې چې مونږ به دوباره نه ژوندي کیږو ؟ضرور به دوئ دوباره ژوندی کیږي. اوالله ﷻ به ترینه دَ عملونو حساب کتاب اخلی. اوداکارالله ﷻ ته هیڅ ګران نه دې

﴿فَآمِنُوا بِاللَّهِ﴾ داپه ماقبل باندې **تفریع** ده. یعنی کله چې مسئله توحید ،رسالت اومعاد واضحه شونوتاسوله پکارده چې تاسو اوس په الله ﷻ ، د هغه په رسول او د هغه په کتاب باندې ایمان راوړئ. ﴿وَالنُّورِ﴾ نور نه مرادقرآن دې،ځکه چې قرآن هم دَ نورپشان واضحه دې او بل لره هم رونبانه کونکې دې. ﴿و الله بما تعملون خبير﴾ترغیب دې ایمان ته. اواعمال صالحو ته

﴿يَوْمَ يَجْمَعُكُمْ﴾ مؤمناتو ته **بشارت اخروی** اوکافرانوته **تخویف اخروی** دې چې دګټې او تاوان ورځ قیامت ده. هغه ورځ به تاسو ټول الله ﷻ جمع کوی اوتاسو عملونو مطابق به بدله درکوی. مؤمنان به جنت ته ځی اوکافران به همیشه همیشه لپاره جهنم ته ځي

﴿يَوْمَ﴾متعلق دې ﴿لَتُنَبَّؤُنَّ﴾ پورې اویا« اذکر» فعل محذوف پورې.«لیوم الجمع» یوم الجمع دَ قیامت په نومونو کښې یونوم دې قیامت ته یوم الجمع ځکه وائی چه پدی ورځ اولین اخرین، انس و جن ټول جمع کړې شی﴿ذَٰلِكَ﴾یعنی داورځ جمع کولو﴿يَوْمُ التَّغَابُنِ﴾داهم دَ قیامت په نومونوکښې یونوم دې،« تغابن » د غبن نه مشتق دې. غبن تاوان ورکولو ته وائی، یعنی قیامت په ورځ به حقیقی ګټې او تاوان پته لګی، دنیا کښې خو صرف سودا شوي ده، کافرانو دنیا دَ ژوند سوداکړې ده، کماقال الله تعالی:اولئک الذین اشتروا الحیوة الدنیا بالاخرة(البقره: ۸۶)او مسلمانانو د آخرت ژوند سودا کړیده، کما قال تعالی:ان الله اشتری من المؤمنین انفسهم(توبه، ۱۱۱) وقال الله تعالی:ومن الناس من یشتری نفسه ابتغاءمرضات الله(البقره ۲۰۷) نو دَ دې سودا پته به قیامت په ورځ لګی چې چا پکښې ګټه اوکړه او چاتاوان (قرطبی،

﴿وَمَن يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ﴾ دا دَ تغابن وضاحت دې، مؤمنانو ته بشارت اخرويه دې. ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا﴾ تخويف اخروي دې كافرانو ته.

مَآ	اَصَابَ	مِنْ	مُّصِيْبَةٍ	اِلَّا	بِاِذْنِ	اللّٰهِ	وَمَنْ	يُّؤْمِنْ بِاللّٰهِ
نه رسيږي چاته هيڅ مصيبت مگرپه حکم دَالله ﷻ سره.اوهغه حوک چه ايمان راوړي په الله ﷻ								
يَهْدِ	قَلْبَهٗ ؕ	وَاللّٰهُ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عَلِيْمٌ ⑪	وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ		
هدايت به وكړي الله ﷻ زړه دَهغه ته،اوالله ﷻ په هرڅيزښه عالم دې.اواطاعت کوئ دَالله ﷻ								
وَاَطِيْعُوا	الرَّسُوْلَ ۚ	فَاِنْ	تَوَلَّيْتُمْ	فَاِنَّمَا	عَلٰى	رَسُوْلِنَا	الْبَلٰغُ	الْمُبِيْنُ ⑫
اواطاعت کوئ دَرسول ﷺ،پس کچرته اعراض اوکړئ تاسو،نوبيشکه په رسول زمونږباندې رسه ول ښکاره دی								
اَللّٰهُ	لَآ	اِلٰهَ	اِلَّا	هُوَ ؕ	وَعَلَى اللّٰهِ	فَلْيَتَوَكَّلِ	الْمُؤْمِنُوْنَ ⑬	
الله ﷻ چه دې نشته دې هيڅ څوک لائق دعبادت بغيردَده نه،اوصرف په الله ﷻ دې توکل اوکړي مؤمنان								

﴿مَآ اَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ﴾ ديکښې مؤمنانو ته تسلی او دَ صبر و استقامت درس دې، چې کله تاسو ايمان راوړو اودَ آخرت سودا مو اوکړه نو اوس دې لاره کښې به په تاسو ستونزې او تکليفونو راځي، دا به خه استقامت سره برداشت کوئ او دَ حالاتو دَ وجهې نه به دَ الله ﷻ او د هغه رسول اطاعت نه پرېږدئ، بلکه په الله ﷻ باندې به توکل او بهروسه ساتئ، ځکه چې دا ټول حالات هغه طرف نه راځي، اوهغه ئې په لرې کولو قادر دې.

﴿وَمَن يُؤْمِنْ بِاللّٰهِ﴾ يعنی څوک چې مشکلاتو باندې صبر اوکړي او تقدير باندې تسليم و رضا اختيار کړي، ﴿يَهْدِ قَلْبَهُ﴾(١) الله ﷻ به ورته دَ زړه سکون نصيب کړي چې دهغې په نتيجه کښې به ورته په ايمان باندې مزيد استقامت او په عباداتو کښې مزيد انشراح نصيب شي، (٢) او الله ﷻ به ورباندې دَمعرفت هغه دروازې کولاؤ کړي چې دې مجاهدو بغير دَ هغې حصول نشي کيدې.

﴿ وَأَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ﴾ترغيب دي اطاعت ته،چه هر وخت کښې دَ الله ﷻ او دَرسول الله ﷺ اطاعت کوئ خاص کرپه وخت دَمصيبت کښې﴿فَإِن تَوَلَّيۡتُمۡ﴾يعنى كه تاسو اعراض اوكړئ دَاطاعت دَرسول نه،دا شرط دې جزاء ئې محذوفه ده چه:فلا بأس عليه.﴿فَإِنَّمَا عَلَىٰ رَسُولِنَا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ﴾دا دَمحذوفى جزاء علت او قائمقام دې يعنى كه تاسو دَاطاعت دَرسول نه اعراض اوكړئ نو پدې هغه ته هيڅ ضرر نه رسيږي ځكه چه هغه تاسو ته احكام ښه په وضاحت سره در رسولى دى او د هغه ذمه واري بس دومره وه.

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ﴾ د اعاده ده مقصودي دعوې،چي دَ الله نه ماسوىٰ بل څوك اله، حاجت روا نشته،نو په وخت دَمصيبت كښې دَهغه نه مدد غواړئ،او هم صرف په هغه توكل كوئ. دې سورتونو كښې ضمناً ځائ په ځائ ددې اعاده كيږي ، د پاره ياد دهانئ چې اصل مقصود د الله ﷻ وحدانيت باندې ايمان دې او انفاق وغيره نور ټول اعمال د هغې تابع دي.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ عَدُوّٗا لَّكُمۡ فَٱحۡذَرُوهُمۡۚ
اې ايمان والؤ بيشكه چه بعضې دَښځو ستاسو نه او دَځامنو ستاسو نه دشمنان دى تاسو له نو ځان او ساتئ دَهغوئ نه،
وَإِن تَعۡفُواْ وَتَصۡفَحُواْ وَتَغۡفِرُواْ فَإِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٌ ⑭
او كچرته عفوه اوكړئ او مخ اوګرځوئ دَملامته كولو نه او بخنه اوكړئ نو بيشكه الله ﷻ بخښونكي مهربان دې.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ﴾دى ځائى نه دَ **سورت دويمه حصه** شروع كيږى چى دې كښې دَ انفاق بيان دې،اول دا انفاق دَپاره موانع ذكر كيږى او بيا آخر كښې د انفاق حكم او ترغيب ذكر كيږى،

﴿ إِنَّ مِنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ وَأَوۡلَٰدِكُمۡ ﴾دا **اول مانع بيان دې**،انسان دپاره څنې وخت انفاق نه مانع او ركاوټ خپله بي بي او اولاد اوګرځى،چونكه دوئ ، انسان د ځان دَپاره ټولونه زيات همدرده او خيرخواه ګڼرى نو ځكه دوئ په دام كښې راشي، نو الله ﷻ فرمائي: خيال كوه اي

انسانه! دغه شان ببیانې او اولاد ستا همدرد او خیرخواه نه دی بلکه دا د ستا دشمنان دي. دوئ نه ځان ساته.

﴿وَإِن تَعْفُوا﴾ یعنی داسی ببیانو او اولاد علاج دا نه دې چی ته هغوئ سره په جنګ شي، او سزا ورله ورکړئ، بلکه دَمصلحت اودَهوش نه کار اغستل پکار دي. اوشرعی حدود کښې دننه دَ عفو درګزر معاملې سره دَ هغوئ اصلاح کوشش پکار دي. یقیناً چې الله ﷻ به معامله خیر طرف ته بوځی، ((تعفوا)) معاف کړئ سزاورله ور نه کړئ. ﴿وَتَصْفَحُوا﴾ پیغور اوملامت هم اونه کړئ. ((تغفروا)) اخفاء کښې یې هم اوساتئ. ﴿فان الله غفور رحیم﴾ جزاء محذوفې قائم مقام دې او دیکښې ترغیب دې عفو درګزر ته.

إِنَّمَآ	أَمْوَالُكُمْ	وَأَوْلَادُكُمْ	فِتْنَةٌ ۚ	وَاللَّهُ	عِندَهُۥٓ	أَجْرٌ	عَظِيمٌ ⑮	
بیشکه	مالونه	ستاسواواولادستاسوازمیښت	دي ،	او	الله ﷻ هغه	سره	اجردې	لوئ
فَاتَّقُوا	اللَّهَ	مَا	اسْتَطَعْتُمْ	وَاسْمَعُوا	وَأَطِيعُوا	وَأَنفِقُوا	خَيْرًا	
نواویرېږئ دَالله ﷻ نه خومره چی موطاقت وی، اواورئ دَالله ﷻ خبره اواطاعت ئې کوئ اونفقه کوئ دابه خیروی								
لِّأَنفُسِكُمْ ۗ	وَمَن	يُوقَ	شُحَّ	نَفْسِهِۦ	فَأُولَٰٓئِكَ	هُمُ	الْمُفْلِحُونَ ⑯	
تاسودَپاره، اوڅوک	چه	اوساتلې	شودَبخل	دَځپل	نفس نه، نوهم	داخلق هم	دوئ	کامیاب دی

﴿إِنَّمَآ أَمْوَٰلُكُمْ وَأَوْلَٰدُكُمْ فِتْنَةٌ﴾ دویم مانع بیان دې، چې بعض اوقات انسان مال خه الله ﷻ په لار کښې خرچ کول غواړی خو دَ مال یا اولاد محبت ورله مانع اوګرځی، او دې ئې خرچ نه کړی، او لوئې لوئې اجرونو نه محروم شی، نوالله ﷻ افرمائیل: که دَ مال اولاد داسې محبت وی چې انسان دَطاعاتونه منع کړی نوبیا دافتنه ده. دَ مال محبت چونکه لویه اوکثیر الوقع فتنه ده نوځکه تقدیم دَ "اموال" اوشو په "اولاد" باندی، اولاد مکرر راوړلو کښې غالباًنکته دا ده چې اول آیت کښې کومو اولادو ذکر وۀ، هغه منع انفاق دَپاره سبب هم وۀ او امر کونکی هم وۀ، دې آیت کښې دَ هغه اولادو ذکر دې چې منع دَپاره صرف سبب خو دي ، خو امر کونکی نه دي. (والله اعلم)

په حديث كښې دي چه :يؤتى برجلٍ يوم القيامة فيقال:اكل عياله حسناته،په ابوداؤد،ترمذى وغيره كښې دي چه يوځل نبى كريمﷺخطبه وئيله،حسن حسينؓ راغلل، دَ سرو لكيرو والا قميصونه ئى اغوستى وؤ،غورزيدل بيابه پاسيدل،بياپاسيدل، حضورﷺدَمنبرنه راكوز شو، دواړه ئى اوچت كړل خپل ځان سره ئى كينول اواوئى فرمائيل:چه اللهﷻرشتياوئيلى دى چه:« انمااموالكم واولادكم فتنةٌ» ما دا دواړه بچى اوليدل چه راپاسى او غورزيږى نو صبر مى او نه شو حتّى چه خپله خبره مى قطعه كړه دوئ مى رااوچت كړل په يوحديث كښې دى:الولدثمرة القلوب و انهم مجبنة مبخلة، محزنة، بچې دَ زړونو ميوى دى اوبيشكه دوئ سړې بزدله كوى، بخيل كوى،غم جن كوى (ابن كثير).

﴿وَاللَّهُ عِندَهُۥٓ أَجۡرٌ عَظِيمٌ﴾ اللهﷻبه اجرعظيم وركوى هغه چاته چه ترجيح وركړى محبت او طاعت دَاللهﷻته په محبت دَامو الواواولادوباندى.

﴿ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾ديكښې دَ انفاق حكم دې،چې اللهﷻنه يريږئ.اوهغه چې كوم حكم وركوى نو جان ومال سره دَهغې اطاعت كوئ،اودهغه په لار كښې انفاق كوئ،دَهغې فائده به تاسوته رسى ﴿مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ﴾اى ابذلوا فيها استطاعتكم(كشاف)يعنى خپل طاقت په تقوىٰ كښې خرچ كړئ. رواياتو كښې راځى چه كله چه« يا ايهاالذين امنوا اتقوالله حق تقاتِهِ» (ال عمران)نازل شو نو مسلمانانو باندى عمل كول سخت شول ، نو دا آيت نازل شوچه دَخپل وس موافق تقوىٰ كوئ.

﴿خَيۡرٗا لِّأَنفُسِكُمۡ﴾سيبويه وائى چه خيراً مفعول به دې دَفعل محذوف دپاره اى وأتوا خيراً لانفسكم،يعنى چه كوم څيزستاسولپاره بهتردې هغه اوكړئ.او يا خبر دي، دَ "يكن" فعل ناقص محذوف دپاره.

إِن تُقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنٗا يُضَٰعِفۡهُ لَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡۚ
كچرته قرض وركړئ تاسواللهﷻته قرض ښائسته،نودوه چنده به ئى كړى تاسولره،اومغفرت به اوكړى تاسوته،

وَاللّٰهُ شَكُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿١٧﴾ عٰلِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿١٨﴾
اوالله ﷻ قدردان دي،صبرناک دي، عالم دي په غيبواوپه ښکاره غالب دي،ډيرحکمت والادي

﴿ إِن تُقْرِضُوا اللَّهَ قَرْضًا حَسَنًا ﴾ديکښې دَانفاق في سبيل الله بيان دي، ماقبل سورة نه بطورِترقي، اوترغيب دي چه خپل مال الله ﷻ ته قرض ورکړئ،څه ګنه زيات اجر به ئې درته درکړي،﴿وَيَغْفِرْ لَكُمْ﴾ په برکت دَانفاق سره به موګناهونه معاف کړي﴿وَاللَّهُ شَكُورٌ ﴾الله ﷻ قدردان دي،لګ په بدله کښې ډير ورکوي.﴿عَالِمُ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ ﴾هيڅ هم ورنه پټ نه دی،دَهرڅه بدله به ورکوی.

رکوعاتها (٢)	سورة الطلاق مدنية	آياتها (١٢)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم		

ترتيبها حسب التسلسل (٦٥) وحسب النزول (٩٩)

نزلت بعد الرحمٰن و قبل البيّنة

ربط : دې سورت کښې هم د انفاق بيان دې ، خوماقبل سورتونو کښې دِانفاق نفلي بيان وو، او دې سورة کښې اِنفاق واجبي بيان دې.

خلاصه: دَښځوسره متعلق څلورمسائل،طلاق،عدت،نفقه اوسکنٰی بيانيږي،تخويف دنيوي،بشارت اوتوحيدباندې دليل عقلي(تمت).

يٰاَيُّهَا النَّبِيُّ اِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَآءَ فَطَلِّقُوْهُنَّ

اې نبي(خپل اُمت ته اووايه)کله چه طلاق ورکول غواړئ تاسو ښځوخپلونه نوطلاق ورکوئ هغوئ ته

لِعِدَّتِهِنَّ وَاَحْصُوا الْعِدَّةَ ۚ وَاتَّقُوا اللّٰهَ رَبَّكُمْ ۚ

په وخت دَعدت دَهغوئ کښې اوشمارئ(يادئې ساتئ)عدت،اوويريږئ دَالله جل جلاله نه چه رب دې ستاسو.

لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْۢ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّآ اَنْ يَّاْتِيْنَ

مه اوباسئ دغه(مطلقې)ښځې دکورونودَهغوئ نه اونه دې اوځي دوئ پخپله هم،مګرداچه راتلل اوکړي

بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ۭ وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللّٰهِ ۭ وَمَنْ يَّتَعَدَّ حُدُوْدَ اللّٰهِ فَقَدْ ظَلَمَ

په بدئ ښکاره ، او دا پولي دَالله جل جلاله دي ،اوڅوک چه اوځي دَ پولو دَ الله جل جلاله نه نوپه تحقيق سره ظلم ئې اوکړو

نَفْسَهٗ ۭ لَا تَدْرِيْ لَعَلَّ اللّٰهَ يُحْدِثُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَمْرًا ①

په ځان خپل،نه پوهيږې ته(اې طلاق ورکونکيه)چه کيديشي چه الله جل جلاله پيدا اکړي ورستودَيوطلاق نه څه نوي خبره

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا طَلَّقۡتُمُ ٱلنِّسَآءَ ﴾ دا اوله مسئله ده دښځو سره متعلق خلورو مسائلو کښ، دې کښ مدخول بهاذوات الحيض ښځوته دَطلاق دَ ورکولوشرعي زمانې او وخت بيان دې، چې که څوک خپلې بی بی له طلاق ورکول غواړي، نو په داسې مده اوزمانه کښ دې ورکوی، چې هغې کښ هغه دَحيض نه پاکه وی،

فقهاء کرامو دَ مجموعي رواياتو او آثارو نه ورسره مزيد نور قيدونه هم اضافه کړيدي.

(۱) يو داچې په دې طهر کښ ورسره جماع نه وی کړې.

(۲) بل داچې حمل ئې واضح نه وی.

(۳) بل داچې درې طلاقه په يو طهر کښ نه وی.

رواياتو کښ راځی چې حضرت عبدالله بن عمر ﷺ خپلې بی بی ته دَحيض په حالت کښ طلاق ورکړې وؤ، حضرت عمر ﷺ حضور ﷺ ته دَدې ذکراوکړو، حضور ﷺ ديرناراضه شو، بيا ئې اوفرمائيل : «لِيُرَاجِعْهَا، ثُمَّ يُمْسِكْهَا حَتَّى تَطْهُرَ، ثُمَّ تَحِيضَ فَتَطْهُرَ، فَإِنْ بَدَا لَهُ أَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا قَبْلَ أَنْ يَمَسَّهَا، فَتِلْكَ العِدَّةُ كَمَا أَمَرَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ» (بخاري:4908).

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ ﴾ نداء حضور ﷺ ته ده،ليکن حکم کښ عموم دې، دَ«النساء» نه مرادمدخول بها ښځې دی، چه ذوات الحيض وی، حاملي نه وی، اونه ائسه؛ ځکه دَ دوئ حکم ورستو را روان دې. اومعنی دَ ﴿إِذَا طَلَّقۡتُمُ﴾ اذا اردتم تطليقهنّ،ده. ﴿لِعِدَّتِهِنَّ﴾لام دَپاره دَتوقيت دې، او 'عدت' نه مراد امام شافعي رحمه الله او امام مالک رحمه الله طهر اغستې دې ، او معنی ئې بالکل واضحه ده، چې طلاق ورله په زمانه دَطهر کښ ورکوئ،دَدينه امام شافعي رحمه الله دا استنباط هم کوی، چې عدت اعتبار به په طهر سره کيږی،حيض سره به نه کيږی،ځکه چې دلته دَعدت زمانه کښ طلاق ورکولو حکم دې، اودې مصداق صرف طهر کيديشی،حيض نشی کيدې،ځکه چې حالت حيض کښ طلاق ورکول بالاتفاق ناجائز دې.

امام ابوحنيفه رحمه الله دَ'عدت' نه مراد 'حيض' اغستې دې، نو د هغوئ په مذهب دا اشکال کيږی، چی دې مطلب خو به بيا داشی چې په زمانه دَحيض کښ خپلو بيبيانو له طلاق ورکوئ حالانکه داخو بالاتفاق ناجائز دې.

دې وجهی نه هغوئ فرمائی چې جارمجرور طلقوهن سره متعلق نه دې، بلکه د دې متعلق محذوف دې ، چې هغه 'مستقبلات' دې، اي: طلقوهن مستقبلات لعدتهن و متوجهات اليهن ،

يعني دوئ له دعدت مدې (حيض) راتلونه مخکښې مخکښې طلاق ورکوئ،لپاره دَدې چې را روان حيض نه بيا هغوئ خپل عدت شمارلې شي،او دَ دې تائيد هغې روايت نه هم کيږی چې نبی کريم ﷺ "من قبل عدتهن" لوستلې وؤ(احکام القرآن للتهانوی)

باقی دامسئله چې عدت اعتبار به په حيض سره کولې کيږی اوکه طهر سره؟ ددې تفصيل سورت بقره کښې والمطلقت يتربصن بانفسهن ثلاثة قروءپه ذيل کښې تير شويدې.

﴿وَأَحْصُوا۟ ٱلْعِدَّةَ﴾ **دا دويمه مسئله ده چه عدت ئې** ياد ساتئ . ابتداء او انتهاء ئې پيژنئ، خکه چې دې صحيح ضبط او دَ ياد نه ساتلو دَوجه ډيرې خربيانې پيدا کيږی: (۱)کله به د يوې زنانه دَ عدت مده پوره نه وی او هغه به بل ځائ کښې نکاح اوکړی (۲)کله به خاوند رجوع کول غواړی اودې به دَرجوع نه محرومه شی،(۳)اوکله به دعدت مده پوره وی او خزه به هسې ناسته وی ،اوعدت مده به وربانديې اوګده شی.

﴿وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ رَبَّكُمْ﴾داجمله معترضه ده په مابين دَطلاق اود عدت د احکاماتو، يعنی دَطلاق او عدت مسائلو کښې الله ﷻ نه ډير يريږئ، چې چرته افراط اوتفريط درنه اونشی.

﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنۢ بُيُوتِهِنَّ﴾ **دادويمه مسئله ده** چې ښځه به دوران عدت خاوند کور کښې اوسی،خاوند باندې دَهغې نفقه اوسکنی لازم ده ، دې دوران نه خاوند له جائز ده چې ښځه دَ کوره اوباسی، او نه ښځې له جائز ده چې دادَ کوره اوځی.﴿ بُيُوتِهِنَّ ﴾اضافت دَ "بيوت" مطلقوؤ ته تاکيداً شوې دې.

﴿بِفَـٰحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ ﴾دا دَماقبل حکم نه استثناء ده، د دې جملې مفسرينو متعدد توجيهات بيان کړيدی:

(۱)حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمائی چې« فاحشة بينة» نه مراد نفس خروج دَښځی دې په دوران عدت کښې،نو مطلب به داشی :"لا تسمح لهن الخروج الا الخروج الذي هو فاحشة بينة" نو ديکښې دَخروج اجازت نه دې،بلکه نفی ده په ابلغی طريقې سره ،لکه عرب وائی لاتزن الا ان تکون فاسقا،لا تشتم اخاک الا ان تکون قاطع رحم.

(۲) حضرت ابن عباس ﷺ ترینه مراد بداخلاقي اغستې ده. مطلب دادې چې سوا د دې صورت نه ، چې ښځه کور والوسره، ډیره بداخلاقي شروع کړي، اونور په کور کښې پاتې کیدلو د وجهې نه حالات مزید ابترئ (خرابی) طرف ته درومي. نو دې صورت کښې بیاجائز ده چې دادې خاوند کور پریګدي.

(۳) ځنې مفسرینو ترینه مراد زنا اغستې ده ، یعني سوا د دې صورت نه چې زنا اوکړي او بیا حد د پاره باهر اوباسلې شي.

﴿وَتِلْكَ ﴾ دا خلورم حکم دې، چې دیکښې رجوع طرف ته اشاره ده، چې طلاق او د عدت کوم احکامات الله ﷻ مقرر کړي دي، دا حدود دي ، لهذا د دې رعایت ساتئ. دینه تجاوز مه کوئي ، کچرته تجاوز مو اوکړو، نوځان ته به تاوان اورسوئ. ځکه چې کیدیشي دینه ورستو خو خیال بدل شي، او دوباره جمع کیدل غواړئ، اوبیا رجوع یا بالکل ممکن نه وي. لکه د یو طلاق په ځائ درې طلاقونو ورکول صورت کښې. یا رجوع کول ممکن وي خو خوله مو نه جوړیږي، لکه بدسلوکئ په صورت کښې. ﴿ومن يتعد﴾ دیکښې ترهیب دې د حدود الله نه تجاوز کولو نه، ﴿لَا تَدْرِی لَعَلَّ اللّٰهَ ﴾ دیکښې ترغیب دې د حدودو رعایت ساتلو، خطاب په « لا تدری » کښې عام دې، ﴿أَمْرًا ﴾ نه مراد د حالاتو تبدیلي ده، چې کیدې شي چې بیاخونفرت په محبت بدل شي، بې رخي په توجه بدله شي، د فراق غوختنه د وصال په تمناګانو بدله شي.

فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ
پس کله چه ورسیږی هغوئ، نیتی خپلی ته نوبانی اوساتئ په ښه شان سره اویاجدا کړئ هغوئ په ښه شان سره،
وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ
اوګواهان جوړ کړئ دوه کسان خاوندان د عدل د ستاسو نه، اوقائمه کړئ (ورکړئ) ګواهي صرف د الله ﷻ رضا د پاره،
ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ۚ
دا حکمونه ، نصیحت کیږی پدی سره هغه چاته چه ایمان راوړی په الله ﷻ او په ورځ د اخرت

وَمَنْ	يَتَّقِ	اللّٰهَ	يَجْعَلْ	لَّهٗ	مَخْرَجًا ۝٢	وَّيَرْزُقْهُ	مِنْ	حَيْثُ
اوځوک چه اوبیریږي د الله جل جلاله نه اوبه ګرځوي هغه لره لاردوتلو(دهرتکلیف نه) اورزق به ورکړي ورته دهغه ځایه								
لَا يَحْتَسِبُ	وَمَنْ	يَتَوَكَّلْ	عَلَى اللّٰهِ	فَهُوَ	حَسْبُهٗ	اِنَّ اللّٰهَ		
چه ګمان به نه وی دده.اوځوک چه توکل اوکړي په الله جل جلاله.پس الله جل جلاله کافی دي هغه لره.بیشکه الله جل جلاله								
بَالِغُ	اَمْرِهٖ	قَدْ	جَعَلَ	اللّٰهُ	لِكُلِّ	شَيْءٍ	قَدْرًا ۝٣	
پوره	کونکي	دي	دکارخپل.تحقیق	سره	ګرځولي	ده	الله جل جلاله دپاره	دهرڅیزیوانداز

﴿فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ﴾ای قاربن انقضاء العدة(قرطبی) ، داد طلاق متعلق بله مسئله ده، چه د طلاق رجعی ورکولونه بعد چه کله مطلقه ښځه عدت ختمیدلوته نیزدې شی، نو یا خو ئي صرف رجوع سره بغیر د نکاح جدید نه خپل عقد کښې اوساتئ. او که ساتئ ئی نه، نو بیا ئی په خی طریقی سره رخصت کړئ. دامضمون په تفصیل سره د سورة البقرة آیت (۱۳۰) او (۱۳۱) کښې تیرشویدي.

﴿فَأَمْسِكُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ﴾ای فراجعوهنّ بحسن معاشرة(روح)یعنی په وجه شرعی سره ورته رجوع اوکړئ،صرف د تطویل عدت لپاره ورته رجوع مه کوئ.لکه په جاهلیت کښې دغه شان عادت وو﴿أَوْ فَارِقُوهُنَّ بِمَعْرُوفٍ﴾یعنی مهرورته ورکړئ،متعه دطلاق ورکړئ.

﴿وَأَشْهِدُوا ذَوَيْ عَدْلٍ مِنْكُمْ﴾ ،یعنی که رجوع کول غواړئ اویا ئی پریخودل غواړئ دواړو صورتونو کښې بهتره داده چې په دې باندې کم ازکم دوه ثقه کسان ګواهان جوړکړئ، چه تنازع په وخت کښې بیاګواهی کوی. دا امر استحبابی دې داحنافو په نیز، شوافعو په نیز واجبی دي.﴿وَأَقِيمُوا الشَّهَادَةَ لِلَّهِ﴾ګواهانوته حکم دې چه ګواهی خالص د الله جل جلاله د رضا لپاره ورکوئ. ﴿ذَٰلِكُمْ يُوعَظُ بِهِ﴾اشاره مذکوره ټولواحکاموته ده

﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَل لَّهُ مَخْرَجًا﴾جمله معترضه ده لپاره دتاکید د مخکښنی احکامو، یعنی که څوک چه دالله جل جلاله نه اویریږی، او مذکوره احکام پوره کړی، نوالله جل جلاله به ورته د دنیا

او آخرت هرغم نه دَخلاصی لاره ورکړی، خصوصًا دَ طلاق په وجه ورته چه کوم مشکلات او غمونه لاحق شوی وی، هغی نه به ورته نجات ورکړی، حضرت ابوذر رضی الله عنه فرمائی حضور ﷺ دا آیت بار بارتلاوت کولو حتّی چې ماله خوب راغې اوبیائی اوفرمائیل:یااباذر :لوانّ الناس کلهم اخذوا به لکفتهم. یعني اې ابوذر ! کچرته خلقو په دې حکم عمل کولې نو دې کښې ئې د ټولو مسائلو حل موجود دې

.مفسرینو دې آیت په ذیل کښې دَحضرت عوف بن مالک اشجعی رضی الله عنه قصه ذکر کړیده چه دَ حضور ﷺ خدمت کښې حاضرشو ،عرض ئې اوکړوچه یارسول الله! چه ځماځوی(سالم یا عوف، دشمنانو قید کړیدې،او مونږ ډیری پریشانئ کښې یو ،حضور ﷺ ورته دَصبرتلقین اوکړو اوورته ئې اوفرمائیل:چه ځوی ته دې پیغام اولیږه چه رسول الله ﷺ تاته امرکوی چه"لاحول ولاقوة الاّ بالله" په کثرت سره وایه، ځوې ئې دشمنانوپه زنځیرونوکښې تړلې وۆ ،زنځیرونه ورنه پخپله کلاۆ شول،په یو اوښ باندی سورشو راروان شو ،مخی ته ورته دَقوم ډیراوښان میلاۆشول(په یو روایت کښې دی چه څلورزره اوښان وو)هغه ئې هم دَځان سره راروان کړل،کورته را اورسیدلو ، آواز ئې اوکړو پلارئې اوونیل: داعوف دې وربّ الکعبة،مورئی اوونیل:افسوس عوف به څنګه راشی هغه خوپه زنځیرونوکښې تړلې شویدې،چه دواړو دروازې ته منډه کړه، نو عوف ولاړ وۆ ، ډیر اوښان ورسره وۆ، پلار ته ئې خپله قصه اوکړه،پلار ئې ورته اوونیل (باوجود دَ دې چه ډیره تنګی وه وربانْدی)، چه اودریږئ چه دَحضور ﷺ نه تپوس اوکړم، چه آیا دا اوښان مونږ د پاره جائزدی؟ حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: دا ستامال دې ، څه دې چه خوښه وی ، هغه پرې اوکړه.(ابن کثیر)

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى ٱللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُۥٓ﴾خوک چه په الله تعالیٰ اعتماد اوکړی الله تعالیٰ ورلره دَ ټولو کارونو پوره کولوذمه وارشی،حدیث قدسی دې چه:اذا توکل عليّ عبدي لو کادته السمٰوات والارض جعلتُ له من بین ذلک المخرج،چه کله ځمابنده په ماتوکل اوکړی نوکچری اسمان او زمکه ئې راګیرکړی نوبیابه هم څه ورته دَهغې نه لاره اوباسم(روح المعانی بحواله الزهد للامام احمد).

﴿إِنَّ ٱللَّهَ بَٰلِغُ أَمْرِهِۦ﴾یعنی امراوفیصله دَالله تعالیٰ نافذه او پوره کیدونکی ده، د کوم څیز اراده چه الله تعالیٰ اوکړی، هغه خامخاکیدونکې وي. ﴿قَدْ جَعَلَ ٱللَّهُ لِكُلِّ شَىْءٍ قَدْرًا﴾یعنی

الله ﷻ دَ هرڅيز دپاره ، که خوشحالي وي که غم يواندازه او يوه انتهاء مقررکړيده ، چه دَهغې نه بو اندازه دَ عدت هم ده ، يا﴿ قَدْرًا ﴾پمعنى دَتقديرسره دي. والمرادتقديره قبل وجوده(روح) يعنى هرڅه په تقديردَ الله ﷻ سره کيږي نوهم الله ﷻ ته خپل کارونه سپارل پکاردي.

وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ مِنْ نِّسَآئِكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ
اوهغه ښځې چه نااُميده شوي وي دَحيض نه،دَ ښځو ستاسو نه کچرته په شک کښې يئ تاسو(په عدة دَهغوئ کښې
فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ وَّالّٰٓئِيْ لَمْ يَحِضْنَ ؕ وَاُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ
نوعدة دَهغوئ درې مياشتې دي،او دَ هغو ښځو هم چه حيض نې نه راځي.اوحاملې ښځې عدة دَهغوئ دادي
اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ؕ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّهٗ مِنْ اَمْرِهٖ
چه اوزيګوي حمل خپل(بچي پيداشي)،اوڅوک چه يريږي دَالله ﷻ نه اوبه ګرځوي ده لره په کاردَهغه کښې
يُسْرًا ④ ذٰلِكَ اَمْرُ اللّٰهِ اَنْزَلَهٗٓ اِلَيْكُمْ وَمَنْ يَّتَّقِ اللّٰهَ
آسانې دا حکم دَالله ﷻ دي چه نازل کړې ئې دي تاسوته،اوهغه څوک چه يريږي دَ الله ﷻ نه
يُكَفِّرْ عَنْهُ سَيِّاٰتِهٖ وَيُعْظِمْ لَهٗٓ اَجْرًا ⑤
نو لرې به کړي دَ هغه نه ګناهونه دَ هغه ، او لوئ به ورکړي ورته اجر

﴿وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيْضِ ﴾دې آيت کښې دَعدت بيان دې، روح المعانى وغيره مفسرينو دَ دې آيت شان نزول باره کښې ليکلې دي،چه کله دَسورة البقره آيت(۲۲۸) والمطلّقات يتربّصن بانفسهنّ ثلثة قروٓء،نازل شو ، نو څه کسانوعرض اوکړو: يارسول الله! چه دخنو ښځو دَ عدت متعلق حکم ذکرشوې نه دې:(۱)کم عمروالا(۲)اوډيرعمروالاچه حيض ئې نه راځي او (۳) حاملې ښځې ،نودَدوئ عدت څه دې؟ نوالله ﷻ دا آيت نازل کړو،نودلته دَغيرحائضې دَعدت بيان دې چه دَ دې درې(۳)صورتونه دي:

﴿وَالّٰٓئِيْ يَئِسْنَ ﴾ **دا اول صورت دې،** يعنى هغه ښځې چه دَ کبرسنۍ په وجه دَحيض نه نا اُميده شوي وي نوچه طلاق ورته ورکړې شي نوعدت ئې درې(۳)مياشتې دې.

﴿وَٱلَّٰٓـِٔي﴾ مبتدا دې او ﴿فَعِدَّتُهُنَّ﴾ ئې خبر دې

سن ایاس کښې اختلاف دې، بعض وائی (۷۰) کاله دې، بعض وائی (۵۵) کاله دې. لیکن اصح داده چه دَدې دپاره څه خاص زمانه معینه نه ده. بلکه دَدې انحصار په جسمانی. او آب و هوا په تفاوت باندې دې. بس چه کله حیض بند شی نو دا "سن ایاس" دې

﴿إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ﴾ شرط دلته پمنزله دَقید اتفاقی دې، دَ واقع حکایت کوی. چې چونکه تـ سو دَدې حکم نه جاهله یئ او سوال مو کړې دې، نودا ئې حکم دې. احتراز دَ پاره نه دې . چې کچرته شک کښې وئ نو بیائی داعدت دې، او که شک کښې نه وئ نو بیائی داعدت نه دې.

﴿وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَ﴾ دادویم صورت دې ، چه دَ صغرسنی په وجه ورته حیض نه راځی. چه طلاق ورته ورکړې شی نو دَدوئ عدت هم درې (۳) میاشتی دې ﴿وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَ﴾ مبتداء دې او خبر ئې یامحذوف دې ای والئ لم یحضن کذالک، یا عطف دې په ﴿وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ﴾ باندې او ﴿فَعِدَّتُهُنَّ﴾ ورله خبر دې.

﴿وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ﴾ دا دریم صورت دې ، چه دَحمل په وجه ئې حیض نه راځی، نو دَ دوئ عدت وضع دَحمل ده، برابره خبره ده که طلاق ورته ورکړې شوې وی یامتوفیٰ عنهازوجهاوی او په سورة البقرة آیت (۲۳۴) والّذین یتوفون منکم..... کښې چه دکوم عدت یعنی څلورمیاشتی لس (۱۰) ورځې ذکردې، هغه دَغیرحاملې متوفّی عنهازوجهادې، اوچه حامله متوفی عنها زوجها وی نوعدت ئې وضع دَحمل ده، اګرکه ورځ دوه پس ولې نه وی، حضرت عمر ﷺ فرمائی: لووُلدتْ وزوجهاعلی سریره، لم یُدفن لحلت، یعنی که خاوندئ تراوسه پوری دفن شوې هم نه وی اوبچې ئې اوشی نوعدت ئې ختم شی، باقی تفصیل په کتب دفقه کښې مذکوردې.

﴿وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرٗا﴾ څوک چه ځان کښې تقویٰ پیداکړی الله ﷻ به ورته ټول کارونه اسان کړی. "مِنْ" یا بیانیه دې، یا پمعنی "فی" دې (روح) ﴿ذَٰلِكَ﴾ اشاره مذکوره احکاماتو ته ده.

أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم مِّن وُجْدِكُمْ وَلَا تُضَارُّوهُنَّ

اُسوئ دا مطلقې ښځې چرته چه تاسو اُوسيږئ دخپل طاقت مطابق.اوضررمه رسوئ هغوئ ته

لِتُضَيِّقُوا عَلَيْهِنَّ ۚ وَإِن كُنَّ أُولَاتِ حَمْلٍ فَأَنفِقُوا عَلَيْهِنَّ حَتَّىٰ يَضَعْنَ

چه تنگی راولئ په هغوئ،اوکچرته وی دغه مطلقې ښځې حاملې نونفقه کوئ پدوئ تردې چه اوزيگوی

حَمْلَهُنَّ ۚ فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ فَآتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ ۖ وَأْتَمِرُوا

حمل خپل. پس کچرته تې ئې (پئ) ورکولوستاسودپاره.نوورکړئ هغوئ ته مزدوری دهغوئ،اومشوره کوئ

بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ ۖ وَإِن تَعَاسَرْتُمْ فَسَتُرْضِعُ لَهُ أُخْرَىٰ ⑥

په خپل مينځ کښ په نيکئ سره،اوکه سختی اوکړئ تاسوپه يوبل نوبيا دې تې ورکړی بچی ته بله ښځه

لِيُنفِقْ ذُو سَعَةٍ مِّن سَعَتِهِ ۖ وَمَن قُدِرَ عَلَيْهِ رِزْقُهُ

خرچه دې کوی خاونددغنادخپل طاقت موافق،اوهغه څوک چه تنگ کړې شوې وی په هغه رزق دهغه

فَلْيُنفِقْ مِمَّا آتَاهُ اللَّهُ ۚ لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا

نوخرچه دې کوی دهغې مال نه چه ورکړې وی ورته الله جل جلاله.نه احوی بار الله جل جلاله په چا مگر

مَا آتَاهَا ۚ سَيَجْعَلُ اللَّهُ بَعْدَ عُسْرٍ يُسْرًا ⑦

د هغې چه څومره ئې وس ورکړې وې ورته . زرده چه اوبه گرځوی الله جل جلاله ورستودسختئ نه آسانی

﴿أَسْكِنُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ سَكَنتُم﴾ دی کښ هم دَ عدت مسائلو بيان دې ، چه معتدة لپاره حسبِ استطاعت تر انقضاء دَعدت پوری دَسکنئ انتظام دَخاوندپه ذمه واجب دې،امام ابوحنيفه رحمه الله په نيز طلاق رجعی اوبائن دواړوکښ سکنی اونفقه دواړه واجب دی،ځکه چه سکنی واجبه شی ، نو ښکاره خبره ده چه خوراک هم دَخاوندپه ذمه شی،کچرته صرف سکنی مراد شی نو دَ هغی حکم خومخکنی آيت﴿لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِن بُيُوتِهِنَّ﴾ کښ تير دې، بله داچه دَابن مسعود رضی الله عنه په قراءت کښ "اسکنوهنّ من حيث سکنتم وانفقوا عليهنّ" راغلې دې،په دې سره هم دَ

امام صاحب قول تائيد كيږي، دغه شان دَفاطمه بنت قيس ﷺ قول حضرت عمر ﷺ رد كړې وو چه حضور ﷺ ماته وئيلي ووچه: لاسكنٰى لكِ ولانفقة، په هغه وخت كښ چه كله ماته خاوند درې طلاقه راكړي وو، نوحضرت عمر ﷺ ورته اوفرمائيل: لاندعُ كتاب ربّناولاسنة نبينابقول امرأة لاندرى صدقت ام كذبتْ حفظت ام نسيت، يعني مونږ دَ يوې ښځې په وينا سره دَالله ﷻ كتاب او دَ هغه دَرسول سنت نشوپريښودلې، چه دانه ده معلومه مونږ ته، چه ديته ياد دي كه ورته هير دي، صادقه ده كه كاذبه، ظاهره ده چه دَحضرت عمر ﷺ مراددَ كتاب الله نه هم داآيت دې. او دَ دينه استدلال كوي چه مطلقي ثلاثه ته نفقه اوسكنٰى دواړه واجب دی، اودَسنت ئې مراد دا ووچه دې فرمائي: ماپخپله دَحضور ﷺ نه اوريدلي دي يقول لهاالسكنى والنفقة (طحاوي وغيره).

﴿مِنْ حَيْثُ﴾ كښ مِن ياتبعيضيه دې، يعني دَخپل كورپه څه ځائ كښ ورله ځائ وركړئ. اوكه صرف يوه كمره وي ، نوپه طلاق بائن كښ يوځائ اوسيدل جائزنه دي بلكه يوه پرده به حائله كړي، يا من ابتدائيه دې ﴿وَلَا تُضَآرُّوهُنَّ﴾ يعني په خوراك، سكنٰى كښ ورباندي سختي مه كوئ چه هغه مجبوره شي اوتنګه شي، دكورنه اوځي ﴿وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمْلٍ﴾ يعني كه چرته دامطلقه حامله وي نوهغې ته هم دَوضع حمل پورې نفقه وركوئ. كه څوك سوال: اوكړي چه هركله دَاحنافوپه نيزهرقسمه مطلقي ته سكنٰى اونفقه دواړه واجب دي نودَ﴿وَإِن كُنَّ أُوْلَٰتِ حَمْلٍ﴾ ذكركولوڅۀ ضرورت وو؟جواب: داده چه مده دَحمل كله كله اوږده شي نوچابه وهم كولو چه كيديشي دري مياشتونه زيات نفقه، سكنٰى ساقطيږي، نودَ دې وهم نفي اوشوه (كشاف).

﴿فَإِنْ أَرْضَعْنَ لَكُمْ﴾ ديكښ بل حكم ذكركيږي چه دَوضع حمل نه ورستوكه چرته مطلقه ښځه ستاسو بچي ته پئ وركوي نوهغې ته به دَپئ وركولومزدوري وركوئ.

﴿وَأْتَمِرُواْ بَيْنَكُم بِمَعْرُوفٍ﴾ يعني دَدستوراومعمول مطابق دَيوبل رضامندئ اومشوري سره اجرت مقرر كړئ.

﴿وَإِن تَعَاسَرۡتُمۡ﴾ یعنی که تاسو دَیو بل نه تنګ شئ، نه مور مناسب اجرت باندی پیٔ ورکوی او نه پلار ورته مناسب اجرت ورکوی، نو بله ښځه دی پیٔ ورکړی. ﴿فَسَتُرۡضِعُ لَهُۥٓ أُخۡرَىٰ﴾ خبر دې پمعنی دَامر، ضمنًا او اشارةً پکښ عتاب دې.

﴿لِيُنفِقۡ ذُو سَعَةٖ مِّن سَعَتِهِۦ﴾ یعنی په خرچ کښ دَسړی دَحیثیت خیال اوساتلې شی. که مالداره وی نو دَخپل حیثیت موافق دی خرچ اوکړی، اوکه غریب وی نو هغه دی خپل حیثیت ته اوګوری ﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا﴾ علت دې دَماقبل

وَكَاَيِّنۡ مِّنۡ قَرۡيَةٍ عَتَتۡ عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهَا وَرُسُلِهٖ فَحَاسَبۡنٰهَا

اودیرودکلونه‌داسی وۀچه‌نافرمانی ئی کړې وه دَحکم دَرب خپل نه، اودَرسولانو دده نه، نو حساب اوکړو مونږ ورسره

حِسَابًا شَدِيۡدًا ۙ وَّعَذَّبۡنٰهَا عَذَابًا نُّكۡرًا ﴿٨﴾ فَذَاقَتۡ وَبَالَ اَمۡرِهَا وَكَانَ

حساب سخت اوعذاب ورکړو مونږ ورته عذاب ناآشنا (سخت) پس اوڅکلو هغوئ عذاب دکار خپل اووۀ

عَاقِبَةُ اَمۡرِهَا خُسۡرًا ﴿٩﴾ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمۡ عَذَابًا شَدِيۡدًا ۙ فَاتَّقُوا اللّٰهَ

انجام دکار دَهغوئ زیان مند تیار کړیدي الله جل جلاله دوئ لپاره عذاب سخت، پس اویریږئ دَالله جل جلاله نه

يٰۤاُولِى الۡاَلۡبَابِ ۛۚ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا ۛۚ قَدۡ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكُمۡ ذِكۡرًا ﴿١٠﴾ۙ

اې خاوندانو دَعقل، هغه کسانوچه ایمان ئی راوړیدې، په تحقیق نازل کړیدې الله جل جلاله تاسوته نصیحت

رَّسُوۡلًا يَّتۡلُوۡا عَلَيۡكُمۡ اٰيٰتِ اللّٰهِ مُبَيِّنٰتٍ لِّيُخۡرِجَ الَّذِيۡنَ

دَرالیږلې ئې دې) رسول چې لولی په تاسو باندی داسې آیاتونه دَالله جل جلاله چې ښکاره کونکی دی دَحکماتو لره چه راوباسی هغه خلق

اٰمَنُوۡا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ مِنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوۡرِ ؕ وَمَنۡ يُّؤۡمِنۡۢ

چه ایمان ئې راوړیدې اوعملونه ئی کړیدی نیک دَتیارو (دکفر او ګمراهۍ) نه نور دَایمان ته، اوهرچاچه ایمان راوړو

بِاللّٰهِ	وَيَعْمَلْ	صَالِحًا	يُدْخِلْهُ	جَنّٰتٍ	تَجْرِيْ	مِنْ	تَحْتِهَا	الْاَنْهٰرُ	
په الله ﷻ او عمل ئې اوكړو نيک داخل به كړي هغه جنتونو ته چه بهيږي به د لاندې د هغې نه نهرونه.									
خٰلِدِيْنَ	فِيْهَآ	اَبَدًا	قَدْ	اَحْسَنَ	اللّٰهُ	لَهٗ	رِزْقًا ⑪		
هميشه به وي به هغې كښې هميشه. يقيناً ښائسته تيار كړيدې الله ﷻ هغه لپاره رزق									

﴿وَكَاَيِّنْ مِّنْ قَرْيَةٍ عَتَتْ عَنْ اَمْرِ رَبِّهَا﴾داتخويف دنيوى اواُخروى دې چې الله ﷻ اودهغه رسول كوم احكامات دركوي په هغې باندې عمل كوئ.كوموخلقو چې دهغې تكذيب اونافرمانى كړيده، دهغوئ انجام ته اوګورئ. دنيا او آخرت دواړه ئې تباه شويدى، لهذا د هغوئ نه عبرت واخلئ.

﴿فَحَاسَبْنٰهَا حِسَابًا شَدِيْدًا﴾دې كښې دنيوى عذاب ذكر دې چې دنيا كښې ترينه مونږ د ګناهونو حساب واغست،او سخت حساب موترينه واغست،اوتباه وبرباد مو كړو.﴿وعذبناها عذابا نكرا﴾عطف تفسيرى دې چې په دنيا كښې موروته ناآشنا عذاب وركړو.﴿ فذاقت وبال امرها﴾داپه ماقبل تفريع ده چې نافرمانئ انجام ئې داشو چې دنيا ژوند ئې تباه شو.

﴿ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ ﴾ديكښې داخروى عذاب ذكر دې چې صرف دانه چې دنيائى تباه شوه بلكه آخرت كښې به ورله هم الله ﷻ سخت عذاب وركوى. ﴿فاتقوا الله﴾داپه ماقبل تفريع ده،چې الله ﷻ اورسول دَاحكاماتو بغاوت انجام سابقينو خلقو داوؤ چې دنيائى هم تباه شوه او آخرت هم،نوتاسو دعقل نه كارواخلئ اوالله ﷻ نه اويريږئ كوم كتاب ئې چې نازل كړيدې اوكوم رسول ئې چې درته راليږلې دې دهغه اتباع اوكړئ،ديكښې ستاسو دنيوى فائده هم ده اواخروى هم.

﴿ذِكْرًا﴾اصح قول دادې چې دينه مراد قرآن مجيد دې ﴿رَّسُوْلًا ﴾مفعول به دې دَفعل محذوف دَپاره، اې ارسل رسولا

اَللّٰهُ	الَّذِيْ	خَلَقَ	سَبْعَ	سَمٰوٰتٍ	وَّمِنَ	الْاَرْضِ	مِثْلَهُنَّ	يَتَنَزَّلُ	
الله جل جلاله هغه	ذات دي	چه پيدا كړي ني	دي	وه آسمانونه	او زمكى		په مثل دآسمانونو	نازليږي	
الْاَمْرُ	بَيْنَهُنَّ	لِتَعْلَمُوْٓا	اَنَّ	اللّٰهَ	عَلٰى	كُلِّ	شَيْءٍ	قَدِيْرٌ	
حكم دالله جل جلاله	په مينځ دَدغوكښ	چه پوهه شئ	تاسوچه بيشكه	الله جل جلاله	په	هرڅه	باندى	قادردي،	
وَّاَنَّ	اللّٰهَ	قَدْ	اَحَاطَ	بِكُلِّ	شَيْءٍ	عِلْمًا	⑫		
اوبيشكه چه	الله جل جلاله	په تحقيق	سره احاطه كړيده	په	هرڅيزدجهته	دعلم نه			

﴿ اَللّٰهُ الَّذِيْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ﴾ دا په آخرت دَسورة كښ دليل عقلي دي په توحيد ،اونفى دَشرك فى التصرف ده،چه دَاسمانونو اوزمكو خالق تن تنها الله جل جلاله دي.دټولو كائناتو متصرف او مختار هم صرف هغه دي،نو دَعبادت هم صرف هغه لائق دي.

﴿وَمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ ﴾ مثلهنّ مفعول دي دَفعل محذوف اى وخلق من الارض مثلهنّ ،يعنى زمكى هم الله جل جلاله دَاسمانونو په شان پيداكړيدى، مماثلت اشتراک ته وائى په بعضِ صفاتو كښ، نو ديكښ خواتفاق دي چه اسمانونه وه (۷) دى،او دَ يو بل دَ پاسه دى، كقوله تعالى:الم تروا كيف خلق الله سبع سموات طباقًا، دغه شان دا هم قطعي ده چه زمكى اووه (۷) دى، څكه دى باره كښ صريح احاديث دى لكه په بخاري،مسلم وغيره كښ دى من اخذ شبراً من الارض ظلمًا فانه طوقه يوم القيامة من سبع ارضين،يعنى څوک چه دَچانه په ظلم سره يوه ليشت زمكه هم واخلي نو قيامت په ورځ به ورته غاړى ته دَ ووَ(۷) زمكو طوق اچولي شي. ليكن كيفيت كښ ئى اختلاف دي، نوجمهور وائى چه دا اووه (۷) زمكى دَاسمانونو په شان يوبل دَ لاندى دى، او دَ هرى زمكى په مينځ (۵۰۰) كاله مسافت دي په شان دآسمانونو.اوپه هرزمكه كښ او سيدونكى مخلوقات دى چه حقيقت ئى صرف الله جل جلاله ته معلوم دي،بعض وائي : اووه زمكى دى خويوبل سره مطبقى دى فاصله پكښ نشته(قرطبى).

بعض وائي : زمكه يوه ده خو وه حصى ورنه مراددى،چه دَهرى حصى دَبلى نه جدائى په سمندر سره راغلي ده،چه هغى ته اووه براعظم وائى،لكه ايشيا ،يورپ،شمالي افريقه،جنوبى افريقه،امريكه،انتارټيكا ،استريليا .(روح المعانى).

بعض وائی چه مثلیت دَزمکی اسمانونوسره صرف په خلق کښ دې نه په عدد کښ،یعنی زمکه هم دَاسمانونو په شان دَالله تعالیٰ مخلوق ده ،لیکن داقول رد دې په حدیث سره چه ذکر شو. او دغه رنګه بل حدیث کښ دی:اللّهم ربّ السّموات السبع وما اظللن ورب الارضين السبع و ما اقللن....(شرح مشكل الآثار للطحاوي، عمل اليوم و الليلة للنسائي)دی توجیهاتو نه علاوه نور توجیهات هم شته، لیکن اصح قول دَجمهورو دې کوم چه اول ذکر شو(والله اعلم).

﴿يَتَنَزَّلُ ٱلْأَمْرُ بَيْنَهُنَّ ﴾امرنه مراد امرتکوینی لکه حیات،موت،غنیٰ،فقر،صحت،بیماری هم دې اوامرِتشریعی هم دې،او﴿ بَيْنَهُنَّ ﴾ضمیرراجع دې تولواسمانونو او تولوزمکوته.

﴿لِتَعْلَمُوٓا أَنَّ ٱللَّهَ ﴾ متعلق دې یادَ خلق سره،یاتقدیردارنګه دې:اخبرتُكم بذلكِ لتعلموا یااعلمتكم بذلک لتعلموا.

ركوعاتها (۲)	سورة التحريم مدنية	اياتها (۱۲)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم		

ترتيبها حسب التسلسل (۶۶) وحسب النزول (۱۰۷)

نزلت بعدالحجرات و قبل التغابن

ربط: سورة التحريم د سورت الحديد په مضامينو باندې متفرع سورتونو كښې آخري سورت دې، او ديكښې د سورت الحديد دواړه مضمونونه يعنى انفاق فى سبيل الله اوجهاد بيانيږي.خو انفاق مسئله پكښې ضمناً او اشارتاً، او د قتال ذكر پكښې صراحتاً شوې دې.

خلاصه: اول كښې تمهيددې،خطاب دې حضورﷺ ته چه خپل اهل دَخلاف رضادَبارى تعالى دكارونونه منع كړه،بل خطاب دې مؤمنانوته چه خپل ځان اواهل وعيال دَاورنه بچ كړئ، دَهغى نه بعدامردَانفاق فى سبيل الله دې اشارةً،اوامردجهاددې صراحتًا،اخركښې مثالونه بيانيږى دَدى دپاره چه مداردَنجات په ايمان اوعمل صالحه دې،اومداردَهلاكت په كفر دې(تمت).

يٰٓاَيُّهَا	النَّبِيُّ	لِمَ	تُحَرِّمُ	مَآ	اَحَلَّ	اللهُ	لَكَ	تَبْتَغِيْ مَرْضَاتَ
اي	نبي(ﷺ) ولي	حراموې	ته	هغه	چه	حلال	كړيدى	الله جل جلاله تاله،غواړى ته رضامندى
اَزْوَاجِكَ		وَ	اللهُ	غَفُوْرٌ	رَّحِيْمٌ	①		
د بيبيانو	خپلو	او	الله جل جلاله	بخونكي	دي	مهربانه	دي	

﴿ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَآ اَحَلَّ اللهُ لَكَ ﴾ دا تمهيد دې، او نبي كريم ﷺ ته حكم دې، چې د الله رضامندي غواړه، د بيبيانو د رضامندئ د پاره د الله جل جلاله رضا مندي خلاف كار او نه كړې.

دَدى آياتونوشان نزول باره كښې صحيح قول هغه دې چې په صحيحينوغيره كښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه منقول دى چه دَحضورﷺ معمول وو چه دَ مازيگر مونځ نه ورستو به ئى دَ خير خبر

اغستلو د پاره لړوخت دَازواجومطهراتو کورونوته تشریف وړلو .ام المؤمنین حضرت زینب ﷺ ته چا ګبین په هدیه کښ ورکړې وۀ ،چه کله به حضور ﷺ دَدې خوانه تشریف یوړلو . نو دې به ورته دګبین شربت جوړکړو چه دَدې په وجه به دې سره لګ زیات حصارشو . په دې وجه به بی بی عائشه ﷺاوبی بی حفصه ﷺ خفه کیدلې، نو یو تدبیر .منصوبه ئې جوړه کړه چه حضور ﷺ هلته دَحصاریدلونه اوګبین څکلونه منع شو .هغه داچه دګبین څکلونه ورستوچه د کومې بی بی خوا ته تشریف یوړو، نو هغې به ورته اووئیل یارسول الله! آیا تا مغافیرخوړلی دی؟ ستاسو دَ خولې مبارکې نه خودَمغافیرو بوئ راځی، "مغافیر" یو خوږ څیز وۀ لیکن بدبو داره وۀ، او نبی ﷺ بدبوئ ډیره بدې شوه. حضور ﷺاوفرمائیل چه مغافیرمې نه دی خوړلی، بلکه دګبین شربت می څکلې دې،انده به ئې نه څکمه،په ماباندې حرام دی،اوبی بی حفصه ﷺته ئې اووئیل داخبره امانت اوساته څوک پرې مه خبره وه،هغې عائشه ﷺ ته اوئیل نو الله پاک داآیاتونه نازل کړل.

قَدْ فَرَضَ اللّٰهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ اَيْمَانِكُمْ وَاللّٰهُ

په تحقیق سره مقررکړیدې الله ﷻتاسولپاره حلال والې دَقسمونوستاسو(په کفارې) سره اوالله ﷻ

مَوْلٰىكُمْ وَهُوَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝۲ وَاِذْ اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهٖ

مددګاردې ستاسو،اوهغه ښه عالم ښه حکمت والادې.اوکله چه پټه اوکړه نبی ﷺیو بی بی خپلې ته (حفصی ﷺ)

حَدِيْثًا فَلَمَّا نَبَّاَتْ بِهٖ وَاَظْهَرَهُ اللّٰهُ

یوه خبره،پس کله چه خبرورکړوهغې بی بی(حفصه ﷺ) د هغې خبرې(عائشه ﷺته)اوښکاره کړه هغه خبره الله ﷻ

عَلَيْهِ عَرَّفَ بَعْضَهٗ وَاَعْرَضَ عَنْۢ بَعْضٍ فَلَمَّا

په نبی ﷺباندې،ظاهره کړه نبی ﷺبعضې خبره اواعراض ئې اوکړو دَ بعضې خبرې نه،پس کله

نَبَّاَهَا بِهٖ قَالَتْ مَنْ اَنْۢبَاَكَ هٰذَا قَالَ

چه خبرکړه نبی ﷺبی بی حفصه پدغه خبره باندې اوئیل چاخبرکړې ته پدې خبرې،نبی ﷺاووئیل

نَبَّأَنِيَ		الْعَلِيمُ		الْخَبِيرُ		③
خبراكړوماته	هغه	الله جل جلاله چه	عالم	دې	خبرداردې	

﴿قَدْ فَرَضَ ٱللَّهُ لَكُمْ تَحِلَّةَ أَيْمَـٰنِكُمْ﴾ بعضُ رواياتوكښ دى چه حضور ﷺ قسم کړې وؤ، نو دې آيت کښ ورته دَقسم ماتولوحکم دې په ذريعه دکفارى سره.بعضى وائى قسم ئى نه وؤ کړې، بلکه مباح څيزپه ځان حرامول قسم دې،نوځکه دکفارى حکم اوشو،دى کښ اختلاف دې چه آياحضور ﷺ کفاره اداکړې وه اوکنه؟نوبعضِ وائى چه نه وه اداکړې، ځکه چه داتعليم دې مؤمنانوته،حضور ﷺ مغفوردې دَماتقدم وماتأخرمن ذنبه،ليکن صحيح داده چه رقبه ئى ازاده کړې وه.

﴿تَحِلَّةَ أَيْمَـٰنِكُمْ﴾ تحلة په اصل کښ تحللةدې يولام بل لام کښ مدغم شويدې،مأخوذ دې دَ حَلّ نه،پرانستل او حلالولوته وائى،مراد ورنه کفاره دَقسم ده چه بيان ئى په مائده آيت(۸۹) کښ تيرشويدې،

﴿وَإِذْ أَسَرَّ ٱلنَّبِىُّ إِلَىٰ بَعْضِ أَزْوَٰجِهِۦ حَدِيثًا﴾ بعض ازواجه نه مراد حضرت حفصه رضي الله عنها ده اوپته خبره دا وه چې ګبين مى په ځان حرام کړې دې،آئنده به دَحضرت زينب رضي الله عنها سره نه څکم.

﴿فَلَمَّا نَبَّأَتْ﴾ نبى کريم ﷺ داخبره حضرت حفصه رضي الله عنها ته اوکړه ، خوورته ئى داهم اوئيل چې دابل چاته مه وايه، چونکه دا دَحضرت حفصه اوحضرت عائشه رضي الله عنها مشترکه منصوبه وه،نو که نور چاته ئى نه وئيلو هم، حضرت عائشه رضي الله عنها ته خو به ئى وئيلو ، نو ځکه حفصه رضي الله عنها ددې ذکر عائشه رضي الله عنها سره اوکړو،الله تعالى نبى کريم ﷺ ته دَدې خبرورکړو. نبى کريم ﷺ دَ حضرت حفصه رضي الله عنها نه دَدې ګله اوکړه چې تاځما راز ښکاره کړو، «نبأت»کښ ضميرراجع دې حفصه رضي الله عنها ته، يعنى حفصه رضي الله عنها داخبره عائشه رضي الله عنها ته اوکړه.

﴿وَأَظْهَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ﴾ جمله حاليه ده يعنى الله ﷻ دا خبره حضور ﷺ ته ظاهره کړی وه چه ستا راز ئې ښکاره کړیدې.

﴿عَرَّفَ بَعْضَهُ وَأَعْرَضَ عَنْ بَعْضٍ﴾ يعنى حضور ﷺ حفصه ؓ ته ګله او کړه چه خمارازدی ښکاره کړو ،ليکن دَحسنِ اخلاقو په وجه ئی ورته ټوله خبره اونکړه . بلکه صرف ئی دومره ورته اوئيلو چې ګوره تا خما راز ښکاره کړو، لپاره ددې چه هغې ته ندامت کم وی.

﴿فَلَمَّا نَبَّأَهَا بِهِ﴾ نبأ كښې ضمير مستتر رسول پاک ﷺ ته راجع دې. او"ها" ضمير راجع دې حفصه ؓ ته ﴿قَالَتْ مَنْ أَنْبَأَكَ هَذَا﴾ حفصه ؓ ورته اووئيل چه ته چاپدی خبر کړی چه ما ستا راز ښکاره کړې دې، ګمان ئی داوو چه عائشه ؓ ورته وئيلی دی

﴿قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ﴾ يعنى ماته هغه ذات خبرراکړې دې چه دَهغه نه هيڅ هم پټ نه دی.

فائده: دينه معلومه شوه چه حضور ﷺ ته دَغيب علم نه وو او دَغه شان دَازواج مطهراتوهم داعقيده وه چه حضور پاک ﷺ ته علم غيب نشته.

إِنْ	تَتُوبَا	إِلَى	اللهِ	فَقَدْ	صَغَتْ	قُلُوبُكُمَا	،

که توبه اوباسئ تاسى دواړه الله ﷻ ته نو دا په تاسو ضرورى ده ځکه چه بې شکه کاږه شويدی زړونه ستاسو (دَحق نه)

وَإِنْ	تَظَاهَرَا	عَلَيْهِ	فَإِنَّ	اللهَ	هُوَ	مَوْلٰهُ	وَجِبْرِيلُ

اوکچرته تاسومددکوئ دَيوبل په مقابلې دَپيغمبر کښې نو بيشکه الله ﷻ هم هغه ئى مددګاردې او جبرئيل

وَصَالِحُ	الْمُؤْمِنِينَ	وَالْمَلٰئِكَةُ	بَعْدَ	ذٰلِكَ	ظَهِيرٌ	④

اونيکان مؤمنان ئى هم مددګاردی، اوفرشتی ورستو ددينه ئى مددګارانی دی

﴿إِنْ تَتُوبَا إِلَى اللَّهِ﴾ دې کښې ترغيب دې توبې ته، اوخطاب حضرت حفصه اوعائشه رضي الله عنهما ته دې، چې که توبه اوباسئ نوبه تاسو دَپاره خه وی، ځکه چې تاسو کوم کار کړې

دي، دا مو دَ معاشرت آدابو خلاف کارکړي دي. داشرط دي جزاء محذوفه ده چه فذاک واجبٌ، یا فکان خیرالکما، یا یمح اثمکما (روح وغیره)

﴿ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ ای زاغت ومالت عن الحق (قرطبی) دا قائمقام دَجزاءِ محذوفه دي او سبب دَتوبی دي، چه بیشکه ستاسو دَدواړو زړونه مائله شویدی د حق نه دیته چه دَ زینب ﷺ خصوصیت ختم کړئ، اوپیغمبر علیه السلام ځان ته راواړه وئ، نو دا اگرچه فی نفسه حسن دي خکه چه لوئ سعادت دي، لیکن مستلزم دي قبیح لره، چه حق تلفی ده دَبلی زوجی. اوقبیح لره مستلزم قبیح وی. نو په دی وجه توبه ضروری ده (تهانوی رحمه الله)

بعضِ دَ﴿ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا ﴾ معنی داکوی چه: مالت قلوبکماالی التوبة (قرطبی) یعنی ستاسو زړونه توبې ته مائله شوی دی، لهذا توبه اوباسئ «قلوبکما» په اصل کښ "قلباکما" دي، اضافت دَ تثنیه، تثنیه ته ثقیل اوشنیع وی دَعربوپه نیز، نوپدي وجه دَتثنیه په ځائ جمع راوړې شوه،

﴿وَإِن تَظَـٰهَرَا عَلَيْهِ ﴾ اوکه تاسو دَدي کارنه توبه نه اوباسئ دغه شان مشترکه منصوبې جوړه وئ او دَیوبل مدد کوئ، دَپیغمبر ﷺ په خلاف، نوواورئ چې تاسو هغه ته پدي سره هیڅ نقصان نشئ رسولې، ځکه چې الله ﷻ ،جبرئیل علیه السلام ،نیک مؤمنان او ملائک دَهغه مددګار دی

﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ مَوْلَـٰهُ ﴾ ابوحیان رحمه الله په البحر المحیط کښ فرمائی چې چې په "مولی" باندې وقف احسن دي، او «جبرئیل» مبتدا دي او «صالح المومنین» او «الملائکة» ورباندی عطف دي، او «ظهیر» ورله خبر دي، اوځنې مفسرینو په «وصالح المؤمنین» باندې وقف کړیدې، دې صورت کښ «جبرئیل» او «صالح المؤمنین» جدا جدا مبتدا دی، اوهر یوله خبر "مولاه" محذوف دي.

﴿وَصَـٰلِحُ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴾ دینه مراد تول مؤمنان دي، اوحضرت ابوبکر اوعمر ﷺ پکښ بطریق اولی سره داخل دی. یعنی که تاسو دَپیغمبر ﷺ خلاف منصوبی جوړه وئ، نو تول مؤمنان حتی چې تاسو پلاران به هم ستاسو مخالفت او دَ پیغمبر ﷺ حمایت کوی،

«صالح» یا اسم جنس دې، او یا صیغه دَجمع «صالحون» ده. نون د جمع په وجه دَاضافت غورځیدلې دې، او واؤ رسم الخط کښې غورځولې شوې دې، لکه ویدع الانسان کښې او سندع الزبانیة کښې غورځولې شوې دې.

﴿بَعْدَ ذٰلِكَ﴾ مشارالیه نصرت خداوندی، نصرت دَجبرئیل او مؤمنانو دې، او بعد په معنی دَ مع کښې دې اي والملائکه مع ذلک ظهیر. "ظهیر" صیغه دَمفرد راوړلو کښې اشاره ده دیته چې دا ټول یو مټی او لاس دې دَپاره دَمدد دَپیغمبر نو دوه زنانه به څه او کړي؟

عَسٰى رَبُّهٗٓ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ
قریب دې رب دَده، کچرته طلاق درکړي تاسوته، چه بدل کښې ورکړي ورته بیبیانی بهترې ستاسو نه
مُسْلِمٰتٍ مُّؤْمِنٰتٍ قٰنِتٰتٍ تٰٓئِبٰتٍ عٰبِدٰتٍ
چه هغه به مسلمانانی وی مؤمنانی به وی تابعداری به وی، توبه ویستونکی به وی عبادت کونکی به وی.
سٰٓئِحٰتٍ ثَيِّبٰتٍ وَّاَبْكَارًا ۝
روژه نیونکی به وی ثیبې او پیغلې.

﴿ عَسٰى رَبُّهٗٓ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗٓ ﴾ دا تنبیه ده ازواج مطهراتو ته، او دَهغوئ دَدی خیال تردید دې، چه کچرته پیغمبر علیه السلام مونږته طلاق راکړي نو کور به نی وران شی، زمونږ په شان به ورته نشی میلاوی، الله تعالیٰ ورته فرمائی چه څه په دی قادره یمه چه ستاسو نه غوره بیبیانی به ورته عطا کړمه، دَدینه دا نه لازمیږی چه دَدی نه غوره ښځی پدغه وخت کښې موجودی وی، بلکه مطلب دا دې چه کله دوئ ته دَنافرمانئ په وجه طلاق ورکړې شی نو دوئ به پدی صفت پاتی نشی، نو ښکاره خبره ده چه بیا به نوری دَدوئ نه غوره شی. (کبیر).

﴿مُسْلِمٰتٍ﴾ یعنی منقادې به وی دَپیغمبر ﷺ، ظاهراً هم او ﴿مُّؤْمِنٰتٍ﴾ باطنًا هم.

﴿سٰٓئِحٰتٍ﴾ ابن عباس رضی الله عنهما ئی معنی "صائمات" کوی، سیاحت نه مشتق دې. چونکه صائم هم ټوله ورځ دَلوږی تندی میدان طې کوی نو ځکه ورته سائح وائی. (روح)

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ

اي ايمان والؤاوساتئ ځانونه خپل اوبال بچ خپل دأوردجهنم نه حه خشاک دهغې خلق دی

وَٱلْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ

اوکنړی دی.پدی اورمقرری دې داسي فرشتی چه سخت زړه والا دی تکړه دی نه کوی نافرمانی دالله ﷻ

مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝٦ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟

په هغی کښ چه حکم ئی ورته کړې دی اوکوی هغه څه حکم ورته کولې شی اې کافرانو

لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَ ۖ إِنَّمَا تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٧

عذرمکوئ نن ورځ . بیشکه بدله درکولې شی تاسو ډ هغی چه تاسو به کول

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ قُوٓا۟ أَنفُسَكُمْ﴾ دا اول خطاب دې مؤمنانو ته، چې اهل و عيال په خواهشاتو مه چليږئ، بلکه د الله ﷻ احکاماتولاندې خپله هم زندګي تيره وئ او اهل عيال ته هم دَ دې حکم کوئ ،لپاره دَ دې چه خپل ځان اواهل وعيال دَ اور دَ جهنم نه بچ کړئ.ځان بچ کول په ترک دَمعاصيؤ او په کولو دَ طاعاتوسره دی،اواهل بچ کول دادی چه ورته نصيحت اوکړې شی،او ادب ورته ورکړې شي، اودينی تربيت ئی اوکړې شی. حديث شريف کښ راځی: الاکلکم راع وکلکم مسؤول عن رعيته، فالامام الذي على الناس راع، وهو مسؤول عن رعيته، والرجل راع على اهل بيته وهو مسؤول عن رعيته، والمرأة راعية على اهل بيت زوجها وولده، وهي مسؤولة عنهم(صحيح البخاري٧١٣٨)

بل روايت کښ راځی مرو اولادکم بالصلاة وهم ابنا عشر.وفرقوا بينهم في المضاجع، (ابوداؤد:٤٩٥) يو بل روايت کښ راځی : مانحل والد ولدا افضل من ادب حسن(الترمذي ١٩٥٢) يعنی دخه ادب خودلونه افضله څه عطيه نشته چې پلار خپل ځوی له ورکړی.

دَ حضرت علی ﷺ دَدی تفسيرداسی انقل دې چه:علّموا انفسكم واهليكم الخير و ادّبوهم (روح المعانی).

پدی آیت سره استدلال کړې شویدې چه واجب دی په سړی باندې چه خپل اهل وعیال ته دَ فرائضو حلال حرام وغیره احکاماتو تعلیم ورکړی(روح)

﴿وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ﴾ الناس نه مرادمشرکان دی او الحجارة نه مراد دَدوئ بتان دی چه کانړووغیره نه ئی جوړ کړی وو. ﴿عَلَيْهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٌ﴾ دَنجات لپاره یوځو طریقې وی دلته دَهغې تولونفی ده. **یو دا چه** دَچاپړی شفقت راشی،زړه ئی وربانَدی اوسوزی،نودلته دَدې نفی ده چه په جهنم داسې فرشتې مقررې دی چه ﴿ غِلَاظٌ﴾ بې شفقته دی. که څوک ورته ډیره ژړا فریاد اوکړی ، خوزړه به ئی وربانَدی نه سوزی. **دویم داچه** په زور زبردستی ځان خلاص کړی، نو دَ دې نفی اوشوه چه﴿ شِدَادٌ﴾ پهلوانانې دی، اقویاءعلی الافعال الشدیدة(روح). **دریم دا چه** په رشوت او سفارش ترینه ځان خلاص کړي ، نو د دې نفي اوشوه چې ﴿لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ﴾ دَ الله ﷻ دَحکم نافرمانی نه کوی،په رشوت یاشفارس ورنه ځان څوک نشی خلاصولې،څه چه ورته الله ﷻ حکم اوکړی صرف هغه کوی.((لا یعصون الله)) او ((یفعلون مایؤمرون)) کښې فرق دادې چې عدم عصیان نه مراد احکامات قبولو نه انکار کول،او ((یفعلون ما یؤمرون)) نه مراد حکم مطابق هغې باندې عمل کول اودهغې پوره کولو کښې سستی نه کول دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ تخویف اخروی دې کافرانوته﴿لَا تَعْتَذِرُوا۟ ٱلْيَوْمَ﴾ دینه مخکښې یُقال لهم عنددخول النار مقدردې،یعنی چه کله ملائکې دَجهنم کافران اورته داخله وی نوورته به اووائی چه نن ورځ ستاسوهیڅ عذرقبول نه دې،بیشکه تاسوته دَهغې عملونوبدله میلاویږی چه تاسوپه دنیاکښې کول.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ تُوبُوٓا۟ إِلَى ٱللَّهِ تَوْبَةً نَّصُوحًا عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ
اې ایمان والؤ!توبه اوباسئ الله ﷻ ته توبه خالصه،قریبه ده چه رب ستاسولری به کړی
عَنكُمْ سَيِّـَٔاتِكُمْ وَيُدْخِلَكُمْ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ يَوْمَ
ستاسونه گناهونه ستاسواوداخل به کړی تاسوجنتونوته چه بهیږی به دلاندی دَهغې نه نهرونه،په هغه ورځ

لَا يُخْزِي اللّٰهُ النَّبِيَّ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَعَهٗ نُوْرُهُمْ يَسْعٰى

چه رسوابه نکړی الله جل جلاله نبی ﷺ اوهغه کسانولره چه ایمان ئی راوړی دی دهغه سره،رڼاددوئ منډی به وهی

بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَبِاَيْمَانِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَآ اَتْمِمْ لَنَا نُوْرَنَا

په مخکښ ددوئ اوپه ښی طرفونوددوئ وائی به دوئ اې ربه زمونږه پوره کړه مونږلره رڼازمونږ

وَاغْفِرْ لَنَا ۚ اِنَّكَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۞ ۸

اوبخښنه اوکړه مونږته، بیشکه چه ته په هرڅیزباندی قادرئی.

﴿يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ﴾دادویم خطاب دی مؤمنانوته چه دخپلوگناهونونه خالصه اوصادقه توبه اوباسئ،الله تعالیٰ به مومعاف کړی،دآخرت درسوائی نه به موبچ کړی اوجنت ته موداخل کړی﴿تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾ای بالغةً فی النصح. "نصوح" یا دنصح نه مشتق دی پمعنی دخالص کولو ،یعنی خالصه توبه اوباسئ،اوخالصه توبه دا ده: (۱)چې گذشته گناهونو باندې ندامت اختیار کړی.(۲)دکومو گناهو تلافی کیدیشی دهغې تلافی اوکړی.(۳)فوراً گناه پریگدی.(۴)اوآئنده دپاره نه کولو کلک عزم اوکړی.

یو اعرابی زر زر وئیل : اللّهمّ انی استغفرک و اتوبُ الیکَ. نو حضرت علی رضی الله عنه ورته او فرمائیل : داسی زر زرتوبه اوباسل دَ کاذبینو توبه ده،هغه ورته عرض اوکړو،صحیح توبه څنگه وی،ده ورته اوفرمائیل:چه په هغی کښ شپږ(۶)خبرې وی.

(۱)تیرشوی گناهونوباندی ندامت

(۲)چه کوم فرائض واجبات درنه پاتی وی دَهغی اعاده

(۳)دَ بل چامال واپس کول

(۴)معاف کول دَتکلیف

(۵)عزم کول په عدم عودباندی

(۶)اوداچه ته به ویلی(کمزوری)کړې نفس خپل په طاعة دَالله تعالیٰ کښ ، لکه چه غټ کړې دې دې په معصیت کښ(کشاف)،

معاذبن جبلرضی الله عنهعرض اوکړو ،یارسول الله!توبة النصوح کومی توبی ته وائی، حضور ﷺ اوفرمائیل:ان یَندمَ العبدُ علی الذّنب الّذی اصابَ فیعتذرَ الی الله ثم لا یعودُ الیه کما لا یعودُ اللّبن الضرع

(۲) بعضِ وائی﴿ نَّصُوحًا ﴾دنصاحت نه مشتق دی،ګنډلو اوپیوندلګولوته وائی.یعنی داسی توبه اوباسئ چه په ګناه سره کوم تعلق مع الله شلیدلې وې هغه جوړشی.(روح المعانی)

(۳)بعضِ وائی دَنصیحت نه مشتق دی،یعنی داسی توبه چه خلق ورنه نصیحت اخلی،یعنی په توبه کونکی کښ داسی اثرراشی چه خلق هم دغه شان توبه اوباسی.

﴿عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُكَفِّرَ عَنكُمْ ﴾دافائده دَتوبی ده،تکفیردَسیئاتو په توبی سره یقینی وعده ده دَالله ﷻدلته﴿عَسَىٰ ﴾راوړل اختیارول دَعادة دَملوکودی،دغه رنګه اشاره ده چه تکفیر دَ سیئاتو او دخول جنت ته صرف فضل اواحسان دی دَالله پاک،اودغه رنګه مناسب دی انسان ته ، چه خوف اوامید کښ دی اوسیږی،استدلال کړې شویدې پدی سره چه قبول دَتوبی واجب نه دی په الله ﷻباندی(روح المعانی).

﴿ يَوْمَ لَا يُخْزِي ٱللَّهُ ٱلنَّبِيَّ ﴾ظرف متعلق دی﴿وَيُدْخِلَكُمْ ﴾پوری،مراددَنبی نه سید الانبیاء محمد ﷺ دی، ﴿ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ مَعَهُۥ ﴾عطف دی﴿ ٱلنَّبِيَّ ﴾باندی،دی کښ تعریض دی چه کافران اوفاسقان به الله ﷻرسوا کوی.

﴿نُورُهُمْ يَسْعَىٰ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ ﴾جمله مستأنفه ده یاحال دی،دَنورنه مراد **نور دَ ایمان او انفاق دی** ، لکه سورة حدیدکښ تیر دی، نو دی کښ **مضمون دَ انفاق** ته اشاره ده ضمنًا، یو روایت کښ دی چه حضور ﷺ فرمائی څه به دَقیامت په ورځ خپل امت په دی پیژنم، چه یو نور به دَ دوئ مخې ته روان وی(ابن کثیر).

﴿يَقُولُونَ رَبَّنَآ أَتْمِمْ لَنَا نُورَنَا ﴾ابن عباسرضی الله عنهفرمائی.چه دادعابه مؤمنان هغه وخت او وائی چه دَمنافقانونورمړشی،لکه په سورة حدیدکښ تیردی،اتمام دَنُورنه مراد دوام دی تر جنت پوری.

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ وَالْمُنٰفِقِيْنَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَاْوٰىهُمْ
اې نبي ﷺ جهاد کوه دکافرانو سره اودمنافقانو سره اوسخت شه پدوئ، اوځائ داُسیدلو ددوئ
جَهَنَّمُ ۚ وَبِئْسَ الْمَصِيْرُ ⑨
جهنم دي، اوډیربدځائ دورتلودي داجهنم

﴿يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ﴾دا دَ دويم مضمون دسورت الحديد يعني **دَمضمون جهاد ذکر دې** صراحتًا ، کفارو سره جهادپمعنی دَ قتال سره دي اودَمنافقانو سره په حجت اودَلسان پمعنی دي،په قول دَوالدمحترم نوّرالله مرقده چه حضرت شيخ فرمائي هغه منافقان چه بهر دَ مدينی نه وو ، نوهغوئ سره هم جهادپمعنی دَقتال دي.﴿وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ﴾ يعنی دَجهادپه معامله کښې ورسره سختي کوه هيڅ قسمه نرمی ورسره مکوه.

ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا امْرَاَتَ نُوْحٍ وَّامْرَاَتَ لُوْطٍ ۚ كَانَتَا
بيان کړيدي الله جل جلاله يومثال دکافرانو لپاره دښځی دنوح عليه السلام اودښځی دلوط عليه السلام، چه وې دادواړه
تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتٰهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا
په نکاح کښې دَ دوؤ بندګانو د زمونږ دَ بند ګانو نه چه نيکان وؤ نو خيانت ئې اوکړودهغوئ سره،پس دَفع نکړوهغوئ
عَنْهُمَا مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا وَّقِيْلَ ادْخُلَا النَّارَ مَعَ الدّٰخِلِيْنَ ⑩
دځپلوبيبيانونه دَعذاب دَالله جل جلاله نه هيڅ څيزاواوئيل شول ورته داخلی شئ دواړه اُورته سره دَنوروداخليدونکو

﴿ ضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوا﴾داپه اخرکښې دوه مثالونه ذکرکيږي،اول مثال کافرانوته دې ، اوآخری دوه مثالونه مؤمنانو ته دی،کافرانو ته په مثال کښې دا بيانيږی چه دَ چا خپل ايمان اوعمل صالح نه وی نونسب دَ پيغمبر ورته منجی نه دې،لکه دَ نوح عليه السلام او دَ لوط عليه السلام بيبيانی، چه ژوند ئې ټول دَپيغمبرپه کوراوصحبت کښې تيروؤ ، ليکن چه ايمان ئې نه وؤ نوجهنم ته داخلې شوې،دغه رنګه ديکښې تعريض اوتخويف دي امهات المؤمنين رضی الله

تعالی عنهنّ ته چه کچرته بالفرض دوئ مخالفت اوکړی د پیغمبر علیه السلام ، نو ... به نی ... هیڅ فائده ورنکړی.

﴿فَخَانَتَاهُمَا﴾ خیانت نه مرادزنا ، نه ده، بلکه عدم ایمان دې. ځکه چه د هیڅ پیغمبر بی زنا کاره نه ده تیره شوې، عن ابن عباس رضی الله عنه :مازنتْ امراة نبیّ قط .چنانچه د نوح علیه السلام دبی بی خیانت دا وؤ، چه خلقو ته به ئی وئیل چه دې مجنون دې .او د لوط علیه السلام دبی بی خیانت دا وؤ چه کله به ده کره میلمانه راغلل نوقوم ته به ئی اطلاع ورکوله.صاحب دجلالین وائی چه د شپې به راغلل، نو اوربه ئي بل کړو، اوچه دَ ورځې به راغلل نو لوګې به ئی اوکړو. بعض وائی دادواړه چغل خورې وی،الله پاک به چې څه وحی اوکړه نو دوئ به مشرکانوته اورسوله

« فلم یغنیا عنهما» ضمیر مرفوع حضرت نوح او لوط علیهما السلام ته راجع دې اوضمیر مجرور دَهغوئ بیبیانو ته راجع دې،یعنی چې بیبیانو پرې ایمان نه راوړو ،نوصرف زوجیت ورله هیڅ فائده ورنکړه. ﴿وَقِيلَ ادْخُلَا النَّارَ﴾ په وخت دَمرګ کښ ورته اوونیلې شویابه ورته په قیامت کښ اوونیلې شی تعبیرپه ماضی سره لپاره دَتحقق دَوقوع دې(روح المعانی،کشاف)

وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا امْرَاَتَ فِرْعَوْنَ اِذْ قَالَتْ رَبِّ
اوبیان کړیدې الله جل جلاله مثال لپاره دَمؤمنانودښځې دَفرعون کله چه نی اوونیل اې ربه خما
ابْنِ لِيْ عِنْدَكَ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَنَجِّنِيْ
جوړکړه ماله ستاخواته کورپه جنت .کښ اونجات راکړه مانه
مِنْ فِرْعَوْنَ وَعَمَلِهٖ وَنَجِّنِيْ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ⑪
دَفرعون اودَعمل دَهغه نه اونجات راکړه مانه دَقوم ظالمانو نه

﴿وَضَرَبَ اللّٰهُ مَثَلًا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوا﴾ دادویم مثال دې،مؤمنانوته بیانیږی چه دَچاخپل ایمان اوعمل صالح وی نودَبل چاکفرورته مُضرنه دې،لکه دَفرعون ښځې آسیه چه ایمان راوړې وؤ ، نواګرچه ښځه دَ غټ کافر وه،لیکن په دنیاکښ ورته زیرې دَجنت اوشو دغه شان دیکښ ترغیب دې مؤمنانو ته چې حالات که څنګه هم وی دَایمان باندې استقامت پکار دی

اوگورئ يو زنانه دَفرعون په كوركښ دَهغه جبر و ظلم څنګه مقابله اوكړه اوايمان ئې پرې نخودلو.

﴿ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ﴾ دَدې نوم آسيه بنتِ مزاحم وو،دَموسى عليه السلام ترور وه ، په موسى عليه السلام ئې ايمان راوړې وو ،فرعون چه خبرشو ، نو په لالچ وغيره سره ئې منع كړه، ليكن هغې ايمان پرې نه خودلو ،فرعون ورته سخت سخت عذابونه تجويزكړل. ليكن بيائې هم كفر اختيار نكړو. ﴿رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتٗا﴾ابى هريره رضي الله عنه نه مروى ده چه فرعون پكښې څلورميخونه ټک وهل دوه په لاسونواودوه په خپوكښ نوپدې وخت كښ هغې دادعااوكړه،نوالله تعالى دعاقبوله كړه په جنت كښ ورته كورښكاره كړې شونوتكليف پرې آسان شو ،اومراددَ﴿عِندَكَ بَيۡتٗا﴾ نه اعلى درجه دَمقربينو ده،يا﴿عِندَكَ﴾پمعنى دَعند عرشِکَ دې،اوپه تقديم دَ﴿عِندَكَ﴾ كښ اشاره ده دې قول ته چه اطلب الجارقبل الدار،قالت العلماء اختارت الجارَقبل الدار (ابن كثير). ﴿وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ﴾دَعمل دَهغه نه مرادكفراوشرک دې،اودغه شان بغيردَجرم نه خلقوته عذاب وركول اودغه شان نورقبائح.

وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ ٱلَّتِيٓ أَحۡصَنَتۡ فَرۡجَهَا فَنَفَخۡنَا فِيهِ
اوبى بى مريم لوردَعمران هغه چه پاک ساتلې ئې وؤگريوان خپل پس پوكړل مونږپه گريوان دَهغې كښ
مِن رُّوحِنَا وَصَدَّقَتۡ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِۦ وَكَانَتۡ مِنَ ٱلۡقَٰنِتِينَ ﴿١٢﴾
دَروح خپل نه اوتصديق ئې كړې وؤپه كلمودَرب خپل اوپه كتابونودَهغه اووه هغه دَطاعت كونكونه.

﴿وَمَرۡيَمَ ٱبۡنَتَ عِمۡرَٰنَ﴾دادريم مثال دې، عطف دې په﴿ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ﴾، يعنى الله تعالى مؤمنانو ته دَبى بى مريم عليها السلام مثال هم بيانوى ، چه بى خاونده وه، اوقوم ئې هم اكثركافران وو ، ليكن دَدې باوجودئې ځان دَهرقسم گناه نه بچ اوساتلو ، دغه شان په هغې باندې ډير الزامات او طعنونه اولگيدل خوهغې بې خوفه اوبې پرواه دَ دين دعوت جارى اوساتلو ، نو ديكښ مؤمنانو ته ترغيب دې چې تاسو حالاتو او نقشو نه مه متاثره كيږئ، او خلقو طعنونو او استهزاگانو اوالزاماتو په وجه دين كار مه پريگدئ،دغه شان دې كښ بې خاونده ښځو ته هم

تسلی ده چی دوئ هم لوئ مرتبې حاصلولې شی کچرته په ایمان اواعمال صالحه باندې استقامت اختیار کړی

﴿ أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا ﴾اکثرمفسرین وائی چه دفرج نه مراد گریوان دې دقمیص دَ هغی ، نو دا مبالغه ده په پاکدامنئ اوعفت کښ، چه خپل گریوان ته ئی هم دچالاس نه وو پریښی،لکه په پښتو کښ خلق وائی فلانئ ډیرسپین لمنی ده، او ضمیرپه «فَنَفَخْنَا فِيهِ ﴾کښ گریوان ته راجع دې ځکه چه جبرئیل علیه السلام دَهغی دَقمیص په گریوان کښ پوکړل، هغه دَهغې خیټې ته او رسیدلو ، نوحامله شوه لکه په سورة مریم کښ تیردی

څنې مفسرینو دَ فرج معروفه مراد اغستې ده یعنی دَخپل شرم گاه حفاظت ئی کړې وؤ،دې صورت کښ فرج کښ نفخ کولو مطلب دادې چې جبرئیل علیه السلام ورله په گرایوان پوه کړل نو د هغې اثر فرج ته رااورسیدلو

﴿ وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَٰتِ رَبِّهَا ﴾کلماتونه مراد یا کلمات دَ توحید دي، یا ورنه عیسی علیه السلام مراد دې، ځکه هغه ته هم کلمة الله وئیلی شویدی،بعضو « کلمات ربها» نه ورې ورې صحیفې مراد اغستې دی، چې ادریس او ابراهیم علیهما السلام اوپه نورانبیاوؤ نازلې شوې وې،«کتبه»نه مراد منزل کتب سماویه اغستی دی. خوراجحه داده چې « کلمات ربها» هغه کلمات اوخبرې چې الله تعالی ورسره دَفرشتو په واسطې کړی دی،لکه په سورت مریم ،آل عمران،کښ ذکر دې، اذ قالت الملائکة یا مریم ان الله اصطفاک"او«کتبه » نه عام کتب سماویه مراد دی (تفسیر عثمانی)

﴿وَكَانَتْ مِنَ ٱلْقَٰنِتِينَ ﴾صیغه دَمذکرتغلیباًذکرشویده یااصل عبارة دارنگه دې:وکانت من نسلِ القانتین،ځکه چه دادَ نسل دَهارون علیه السلام نه وه،په حدیث کښ دی : په سړوکښ کاملین ډیر دی ، مگرپه ښځوکښ څلوردي:آسیه بنت مزاحم، امرأة فرعون، ومریم بنت عمران، و خدیجه بنت خویلد، و فاطمة بنت محمدﷺ، وفضل عائشة علی النساء کفضل الثرید علی سائر الطعام، رضی الله عنهنّ ورضین عنه جلّ جلاله.

فائده: ددې دوؤ مثالونو اول دَسورت سره خاص ارتباط دی **اول مثال ربط** داسې دې چې ابتداء دَسورت کښې دَیوې بی بی خیانت ته اشاره وه چې هغې دنبی کریم ﷺ راز نې بلې بی بی ته ښکاره کړې وؤ، نو دیکښې امرأة نوح و امرأة لوط سره تذکیر دې چې ګورئ داهم پیغمبرانو بیبیانې وی، خوچې پیغمبر سره ئې خیانت اوکړو، نوبیا ورله دَپیغمبر زوجت هیڅ فائده ورنکړه.

دویم مثال ابتداء دَسورت ربط داسی دې چی ابتدا کښې دَنبی کریم ﷺ ازواجو تذکره اوشوه او آخر کښې دَبی بی آسیه اومریم تذکره اوشوه اورواياتو کښې راځي چې دابه جنت کښې دَنبی کریم ﷺ بیبیانې وی، نو ابتدا هم په ذکر دَازواجومطهراتو سره اوانتهاء په ذکر ده ازواجو مطهراتو سره اوشوه.

ركوعاتها (٢)	سورة الملك مكيّة	اٰياتها (٣٠)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٦٧) وحسب النزول (٧٧)

نزلت بعد الطّور و قبل الحاقة

دی سورة ته مانعه او منجیه هم وائی.

ربط: دَسورة الحدید نه ترسورة التحریم پوری دَ انفاق او دَ جهاد ذکر وو لپاره دَ توحید، اوس دی سورة نه ترسورة الجن پورې دَ توحید بله پهلو بیانیږی. چه برکت ورکونکې ذات هم صرف یو الله ﷻ دې، او هرسورت کښ علی سبیل الترقی دَدې مسئلی ذکر دې، سورة الملک کښ دلائلو عقلیو سره دَ دې بیان دې، سورة القلم کښ په دې مسئلې کښ لچک او نرمي نه کولو بیان دې، سورة الحاقه کښ تخویف دې ، سورة المعارج کښ پرې زجر ذکر کیږی، سورة نوح کښ دلیل نقلی دې، اوسورة الجن کښ هم دلیل نقلی ذکر کیږی دَ جناتو نه.

خلاصه دَ سورة دَ مضامینو: یولس (١١) دلائل عقلیه دی په دعوه دَ سورة باندی، درې عقلی عامه دې، او اته عقلی خاصه دی، عقلی خاصه دیته وائی چه په هغی کښ مدار دَ کلام او دلیل ذکر وي ، او عقلی عامه هغې ته وائی چه مدار دَ کلام پکښ نه وی ذکر، دینه علاوه پکښ تخویفات اوبشارتونه دی ، او بیان دَ طرقو دَ تبلیغ دې.

فضیلت: (١) دَابوهریره ﷺ نه روایت دې چه حضور ﷺ فرمائی قرآن شریف کښ یو سورت دَ دیرش (٣٠) آیاتونو داسی دې چه هغه دَخپل ویونکی دپاره شفاعت کوی، تردی چه دَهغه بخنه اوکړی اوهغه سورة تبارک الّذی دې (رواه احمد وابوداؤد وغیرهما).

(٢) یوروایت کښ دَنبی اکرم ﷺ ارشادراغلې دې چه خمازره غواړی چه داسورة دې دَ هر مؤمن په زړه کښ وی

(٣) یوروایت کښ دی چه چاسو : سورة تبارک الّذی اوسورة الٓم سجده دَ ماښام او ماسخوتن په مینځ کښ اولوستل گویاهغه دَلیلة القدرشپه رونړه کړه.

(۴) یوروایت کښ دی چه داسورة دعذاب قبر دپاره مانع دې حضرت جابر ﷺ فرمائی چه

نبی کریم ﷺ به ترهغی وخته پوری نه اوده کیدلو ترڅوچه به یې سورة السجده اوسورة الملک نه وؤلوستلی

تَبٰرَكَ الَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ۝١

برکت ورکونکي هغه الله تعالی دي چه په قبضی دهغه کښ بادشاهی ده.اوهغه په هرڅیزباندی قادردي

الَّذِيْ خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيٰوةَ لِيَبْلُوَكُمْ اَيُّكُمْ

هغه الله تعالی چه پیداکړي ئی دي مرگ اوژوندلپاره ددی چه امتحان اوکړی په تاسوچه کوم په تاسوکښ

اَحْسَنُ عَمَلًا ط وَهُوَ الْعَزِيْزُ الْغَفُوْرُ ۝٢

ډیرښه دي په عمل کښ اوالله تعالی غالب دي بخښونکي دي

﴿تَبٰرَكَ﴾دا دعوه دَسورت ده، دَ «تبارک» دري معني بیان شوې دی:

(۱) ډیرخیرواحساناتو والاذات دې چې هغه دَخیر اواحساناتو څه انتهانشته.

(۲) ذات وصفات سره ډیر لوئ ذات دې ، چې دَ چاذات اوصفاتو دهغه سره څه نسبت هم نشته، دې دواړو معنو په صورت کښ دا ماخوذ دې "البركة" نه ، چې په معنی دَ "نما" او "اضافي" سره راځی

(۳) «تبارک» پمعنی دَ "ثبوت" او "دوام" سره دې، یعنی الله تعالی هغه ذات دې چې هغه لره دوام اوثبوت حاصل دې. دې صورت کښ دا ماخوذ دې "برک البعير"نه، چې اوخ په یو ځائ کښ کیني او قرار واخلي

﴿اَلَّذِيْ بِيَدِهِ الْمُلْكُ﴾دا اول دلیل عقلی عام دې په دعوی دَسورت،چې برکتونو والاذات صرف الله تعالی دې: ځکه چې دَټول جهان بادشاهي هغه سره ده ،دَ زمکی هم اودَ آسمان هم ، دَ بحر هم او دَ بر ،او دَ فضا هم هغه تن تنها بادشاه دې او هغه شاهنشاه دې. «بیده» "ید" دَ صفاتو متشابهاتو نه دې متقدمین عموما دیکښې تفویض کوی، اومتاخرین عموماً پکښې تاویل کوی چې دینه قبضه اوتصرف مراد دې

﴿وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ دویم دلیل عقلی عام دي،په دعوی دسورت باندي. چې برکتونو والا ذات صرف الله ﷻ دي ، ځکه چې هر څه باندی قادر دی.هیڅ شي هم دهغه داحاطی قدرت نه باهر نه دي.

﴿الَّذِي خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَيَاةَ﴾دریم دلیل عقلی عام دي،په دعوی دسورت باندي.برکتونو والاذات صرف الله ﷻ دي، ځکه چې الله هغه ذات دي چې هغه په عالم کښ دمرګ وحیات نظام پیدا کړیدي. آیا بل څوک داسي شته چې یوبې جانه څیز کښ روح واچوی،هغه کښ وینه په ګرځیدو شی، سترګو کښ رڼا راشی، غوږونو کښ د سماعت قوت پیداشی . یا آیا داسي څوک شته چې دمرګ نظام هغه په لاس کښ وی،چې الله ﷻ ئی مرګ غواړی اوهغه ئی د مرګ نه بچ کړی، یا مرګ ورکول دهغه په اختیار کښ وی.

﴿ خَلَقَ الْمَوْتَ ﴾نه معلومیږی چه موت هم یومستقل وجودی مخلوق دي، صرف عدم حیات یاعدم محض ته موت نه وائی،ځکه چه عدمی سره خلق نه متعلق کیږی.واستدل بهذه الاية مَن قال ان الموت امروجودی‹ابن کثیر›. په دی وجه حدیث کښ دبخاری وغیره کښ راغلی دی چه مرګ به دقیامت په ورځی د لمه ور ګډ په صورت کښ راوستلې شی، او بیا به ذبح کړیشی.

دلته ئی موت مقدم ذکرکړوځکه چه(۱)الله ﷻ اول موت پیداکړیدي بیاحیاۃ لکه په حدیث کښ دی،چه دروح اچولونه مخکښ دانسان عمل،رزق،اجل،وغیره اولیکلې شی(۲): دویمه وجه داده چه ښه عمل لپاره اقوی داعی موت دې نوځکه ئی مقدم کړو(کشاف).

﴿لِيَبْلُوَكُمْ﴾دیکښ دمرګ او ژوند تخلیق مقصد ذکر کیږی.چې دانظام څه عبث اوتماشه نه ده ، بلکه دینه مقصودستاسوامتحان کول دی چه څوک ښه عمل کوی.حیات ،وخت د تیاری دې لپاره د امتحان، او موت ، وخت د نتیجی دې،علماء وائی چه په﴿أَحْسَنُ عَمَلًا ﴾ کښ اخلاص ته اشاره ده،ځکه چه اکثرعملاً ئې اونه وئیل،په بعضو روایاتو کښ د «احسن عملاً» تفسیر داسي راغلې دي،ایکم احسن عقلاً و اورع عن محارم الله تعالى واسرع في طاعة الله تعالى(روح). ﴿ وهو العزيز الغفور﴾ الله ﷻ غالب ذات دي که چاله عذاب ورکول غواړی،

هغه ترینه بچ کیدې نشي، اومغفرت کونکې ذات دې که چاته هم ښنه کوی نوڅوک ترینه تپوس کونکې نشته.

اَلَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا ؕ مَا تَرٰی فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ

الله ﷻ هغه ذات دې چه پیداکړی ئی دی وه اسمانونه لاندی باندی.اوبه نه وینی نه به پیداکولو درحمان ذات کښ

مِنْ تَفٰوُتٍ ؕ فَارْجِعِ الْبَصَرَ ۙ هَلْ تَرٰی مِنْ فُطُوْرٍ ﴿۳﴾ ثُمَّ ارْجِعِ الْبَصَرَ

څه عیب . نو را .اوګرځوه ته نظر.آیاوینی ته څه چاؤد بیاواپس کړه. نظر

کَرَّتَیْنِ یَنْقَلِبْ اِلَیْکَ الْبَصَرُ خَاسِئًا وَّهُوَ حَسِیْرٌ ﴿۴﴾

باربارواپس به شی تاته نظرستانامراده اووی به دې ستړې دپیداکولوعیب نه.

﴿ اَلَّذِیْ خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ ﴾ **داخلورم دلیل عقلی دې اوخاص دې**،ځکه چې دَ کلام او دلیل مدار پکښ موجود دې، چې هغه ﴿طِبَاقًا﴾ دې، چه الله ﷻ وه اسمانونه لاندی باندی پیداکړیدی، نه خو هغه یوبل باندې راغوځیګی، او نه ئی په یو بل باندې سهاره اواعتماد شته،دې باوجود څه نقص،څه کمزوری څه عیب هیڅ پکښ نه ښکاری،نودینه معلومه شوه خالق اوبرکات ورکولو والا ذات صرف یو الله ﷻ دې،﴿طِبَاقًا﴾ صفت اول دې دَ «سبع سموات» دَ پاره، دَ دې دوه معنی بیان شوی دی:(۱)لاندې باندې،چې دَ آسمانونه الله ﷻ لاندې باندې پیداکړیدی،یو بل سر جوخت او میلاؤ نه دی پیدا کړی،لکه احادیثو کښ هم راځی چې یو آسمان نه بل آسمان ته ختلو مسافت پنځه سوه کاله دې.

(۲)مطابقت اومماثلت:دې صورت کښ مطلب دادې چه دا اووه آسمانونه په نظام، هیئت او صفاتو کښ دَیوبل بالکل مماثل دی.

﴿مَا تَرٰی فِیْ خَلْقِ الرَّحْمٰنِ﴾ دادریم صفت دې دَپاره دسبع سموات دې ، چې دا اووه(۷) آسمانونه ئی لاندې باندې داسی اندازه سره پیدا کړی دې، چې چاته پکښ هیڅ تفاوت نه ښکاری.

﴿ تَفَٰوُتٍ﴾ "تفاوت" ديرې معنې بيان شوې دی. دَهغې ټولو رجعه دینه کیږی چې نه به دیکښې څه نقص اوعیب شته اونه پکښې څه عدم مناسبت اوبې ډنګه توب شته

﴿فَٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ﴾دا په ماقبل باندی تفريع ده ، چې كه يقين دې نه راځی نو بيا بيا دې آسمانونو باندې نظرواچوه، او باربار پرې نظر واچوه، که تا ته پکښې څه عیب ښکاره شو نو بيا اوايه. ﴿فُطُورٍ﴾ "فطور" درزونو او چاودونو ته وائی،يعنی انسان يو معمولی غوندی چهت جوړوی ،دهغې دَپاره ستون اوسهاره هم وی. دَ هغې نه باوجود پکښې درزونه او چاودونه راځی ،خو الله ﷻ قدرت ته اوګوره چې دومره عظيم الشان آسمان ئې بغير دَستون نه اودرولې دې، اوهيڅ چاود او دراز پکښې نشته.

﴿ ثُمَّ ٱرۡجِعِ ٱلۡبَصَرَ كَرَّتَيۡنِ ﴾امر دَپاره دَ تعجيز دې. او تثنيه نه مقصود دَتكثير دې ﴿خَاسِئًا﴾ دَ"خسا يخسا" نه دې، سپې شړلو ته وائی،دلته ترينه مجازی معنی مراد ده . يعنی ذلت سره ناكامه اونامراده كيدل ترينه مراد دی. ﴿حَسِيرٌ﴾يعنی ستړې به وی ډيروكوششونو په وجه.

وَلَقَدۡ	زَيَّنَّا	ٱلسَّمَآءَ	ٱلدُّنۡيَا	بِمَصَٰبِيحَ	وَجَعَلۡنَٰهَا
اوخامخايقيناًښائسته كړې دې مونږدا نيږدې اسمان په ډيوو(ستوروسره اوګرځولی دی مونږدغه ستوری					
رُجُومٗا	لِّلشَّيَٰطِينِ	وَأَعۡتَدۡنَا	لَهُمۡ	عَذَابَ	ٱلسَّعِيرِ ٥
ويشتونكی	شيطانانولره	اوتيارکړيدي	مونږدوئ	لره	عذاب دَجهنم

﴿ وَلَقَدۡ زَيَّنَّا ٱلسَّمَآءَ ٱلدُّنۡيَا ﴾ **ښکلم دليل عقلی دې، او داهم دليل خاص دې**، ځكه چې دليل مدار پكښې موجود دې، هغه ﴿بِمَصَٰبِيحَ ﴾دې او دا دليل على سبيل الترقی ذكر شوې دې، چې آسمانونه خو مو هم پيدا كړيدی، او بيا دې سره سره مو آسمان دنيا په بې شماره ستورو سره مزين او ښائسته كړې هم دې، دَالله ﷻ نه ماسوا ذات داسې مزين كول خو پريګده چې دومره ستوری هم نشی پيدا كولې،نومعلومه شوه چې معبود او بركاتو وركولو والا صرف

الله ﷻ دي ﴿وَجَعَلْنٰهَا رُجُومًا﴾ شپږم **دليل عقلي** دي . او **دليل خاص** دي. مدار د دليل «رجوما» دي، داهم على سبيل الترقي ذكر دي،چې آسمانونه خو پيدا كړي دي.آسمان دنيا خو په ستورو سره مزين كړي دي. او بيا خو ورله په دې ستورو سره د شياطينو نه دحفاظت بندوبست هم كړي دي،چې يو شيطان هم بره نشي راتلې.كچرته پكښ څوک كوشش اوكړي نو شهاب ثاقب ورپسې شي او اوئې څوزوي ﴿وَأَعْتَدْنَا لَهُمْ﴾ شياطينو له دې دنيوي عذاب نه علاوه اخروي عذاب خو ورله هم تيار كړي دي

وَلِلَّذِينَ　كَفَرُوا　بِرَبِّهِمْ　عَذَابُ　جَهَنَّمَ　وَبِئْسَ　الْمَصِيرُ ⑥

اودپاره دهغه كسانوچه كفرئې كړيدې په رب خپل،عذاب دجهنم دی اودېربدځاى دورتلودې جهنم

إِذَا　أُلْقُوا　فِيهَا　سَمِعُوا　لَهَا　شَهِيقًا　وَهِيَ　تَفُورُ ⑦　تَكَادُ

كله چه اوغورځولې شي كافران په هغې كښ وابه وري هغې لره بدآواز اوهغه به خوټكيږي،نيزدې به وی

تَمَيَّزُ　مِنَ　الْغَيْظِ　ط　كُلَّمَا　أُلْقِيَ　فِيهَا　فَوْجٌ

چه اُوچوی دې دغصې نه (په كافرانو)،هركله چه اوغورځولې شی به جهنم كښ يوه ډله دكافرانو

سَأَلَهُمْ　خَزَنَتُهَا　أَلَمْ　يَأْتِكُمْ　نَذِيرٌ ⑧　قَالُوا

پوښتنه به اوكړی دهغوئ نه چوكيداران دجهنم چه آيانه وو راغلي تاسوته يرونكې . اوبه وائى دوئ

بَلَى　قَدْ　جَاءَنَا　نَذِيرٌ ۙ　فَكَذَّبْنَا　وَقُلْنَا

چه ولى نه،په تحقيق سره راغلی وو مونږته يرونكى،نوتكذيب اوكړومونږاومونږورته اوونيل

مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِنْ شَيْءٍ ۖ إِنْ أَنْتُمْ إِلَّا فِي ضَلَالٍ كَبِيرٍ ⑨ وَقَالُوا لَوْ كُنَّا

ندې نازل كړي اللهﷻ هيڅ څيز،نه يئ تاسومگرپه گمراهئ لوئ كښ يئ.اوبه وائى كافران كچرته وې مونږ

نَسْمَعُ أَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِي أَصْحَابِ السَّعِيرِ ⑩ فَاعْتَرَفُوا بِذَنْبِهِمْ

اوريدلې مويامو عقل لرلې نونه به وې مونږ په جهنم والؤ كښ پس اقرار ئي اوكړوپه گناه خپل.

فَسُحْقًا		لِّأَصْحٰبِ		السَّعِيْرِ	⑪
پس	هلاکت	دې	لپاره	دخاوندانو	دجهنم

﴿وَلِلَّذِينَ كَفَرُوا بِرَبِّهِمْ﴾داتخويف اخروي دې،يعنى دَجهنم عذاب به صرف دَشياطينو دَپاره نه وي بلكه دكافرانو دَپاره به هم وي.

﴿إِذَآ أُلْقُوا فِيهَا﴾دې ځائی نه دَ جهنم مختلف اهوال واحوال بيانيږي،دائی **اول هولناک حالت** بيان دې،چې کله ورته کافران اوغورځولې شي نو دَهغې نه به بد . بد آوازونه راوځي،لکه خر چې آوازونه کوي،دا آواز به جهنم هم کوي ، او جهنميان به هم کوي ، لکه سورت هود آيت نمبر ۱۰۲کښې دي: لهم فيها زفير وشهيق. او "شهيق" بد آواز ته وائی،او دَ خر په آواز باندې هم اطلاق کيږي.﴿وَهِيَ تَفُورُ﴾دائی **دويم حالت** بيان دې چې جهنم به داسې خوټ کيږي لکه کتوئ چې خوټ کيږي.

﴿تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ الْغَيْظِ﴾دائی **دريم حالت** بيان دې، "تميز" چولو او جدا کيدلو ته وائی او "غيظ"سختې غصې ته وائی،يعنى جهنم به دَسختې غصې نه داسې معلوميږي چې لکه چوی ﴿كُلَّمَآ أُلْقِيَ فِيهَا﴾ديکښې دَاهل جهنم حالت بيانيږي،چې کومه ډله هم جهنم ته داخليږي ، نو فرشتې به ورنه بطور توبيخ اوپيغور تپوس کوي : چې ولې تاسو ته رسولان نه وو راغلى، چې تاسو گمراه شوئ او جهنم ته راغلئ.

﴿قَالُوا بَلَىٰ﴾دوئ به اعتراف اوکړي چې رسولان راغلې وو خومونږ ئې تکذيب اوکړو، او دَ اتباع په ځائ موهغو ته وئيل چې تاسو گمراه يئ.﴿فَكَذَّبْنَا﴾يعنى خاص دَدوئ تکذيب مو اوکړو.﴿مَا نَزَّلَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ﴾يعنى مطلقا رسالت انکار مو هم اوکړو.﴿إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ كَبِيرٍ﴾په دې خو هم اکتفاء اونکړه، بلکه دَ لوئ گمراهئ نسبت مو ورته اوکړو،ارجح قول دادې چې داهم دکفارو مقوله ده.

﴿وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ﴾ یعنی دوئ به تمنا اوکړی چې کاش مونږ هم ایمان راوړي وې. چې همیشه همیشه دَ پاره خوجهنم کښې نه وې «نسمع» نه مراد په دلائل نقلیه سمعیه باندې ایمان راوړل دی، «نعقل» نه مراد دلائل عقلیه باندې غورکول او ایمان راوړل دی یا په «نسمع» کښې اشاره مرتبه تقلید ته ده، او په «نعقل» کښې اشاره ده مرتبه تحقیق او اجتهاد ته. نو دینه معلومه شوه چې فلاح ته رسیدلو دوه لارې دی یو داچې سړې خپله محقق او مجتهد جوړ شی، خو داسې کیدل د هر سړی دَ پاره عادتاً ناممکن دی. ځکه چې دا دَ بل هر یو کار نه فراغت غواړی، چې دې سره دَ کائنات نظام معطل کیږی، لهذا لا محاله دویم صورت دادې چې دَ محقق اتباع او تقلید اوکړی. دَ «نسمع» دَ پاره مفعول نه ذکر کولو کښې اشاره ده عموم ته، چې هغه دَ هر محقق قول دې خواه که هغه رسول وی او که غیر رسول . نو دا په یو خاص محمل باندې محمول کول دَ تفسیر مسلمه اصولو خلاف ده.

﴿فَسُحْقًا﴾ ای فبعداً لهم من رحمة تعالی، منصوب دې مفعول مطلق دې برائ تاکید، ای سحقهم الله سحقًا.

إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم بِالْغَيْبِ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ كَبِيرٌ ﴿١٢﴾
بیشکه هغه کسان چه یریږی دَرب خپل نه په غیبه دوئ دَپاره مغفرة دې او اجرلوئ دې
وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ ۖ إِنَّهُ عَلِيمٌ
او که پټوئ تاسو خبره خپله او که ښکاره کوئ ئی په دواړوالله عالم دې ځکه چه بیشکه الله ﷻ نبه عالم دې
بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿١٣﴾ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ ﴿١٤﴾
به رازونو دَسینو آیانه پوهیږی هغه ذات چه خالق دې، حال داچه هغه عالم دې په رازونو خبردارد دې

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُم﴾ دابشارت اُخروی دې مؤمنانو ته، بعد دَتخویف اخروی نه کافرانو ته، ﴿بِالْغَيْبِ﴾ یعنی دَعذاب دَالله ﷻ نه یریږی حال داچه عذاب ئی لیدلې نه دې، یا مطلب دادې چه دوئ غائب وی دَسترګو دَ خلقو نه، نو دَ الله ﷻ نه یریږی، اطاعت ئی کوی ، نو چه په خلوت کښې اطاعت کوی نو جلوت کښې خو په طریقه اولی کوی، بعض وائی غیب دَ

انسان قلب دې چه بل څوک ئې نشي ليدلې، نومعنى دا ده چه د زړه نه يا په زړه کښې د الله ﷻ پرېږى (حقانى).

﴿وَأَسِرُّوا قَوْلَكُمْ أَوِ اجْهَرُوا بِهِ﴾ دادماقبل دلائلو ثمره ده.چې دلائلو نه دا ثابته شوه چې الله ﷻ عليم ذات دې، که تاسو به پټه څه خبره کوئ،دهغې نه هم خبردې،که په ښکاره کوئ. هغې نه هم خبر دې،او که په زړه کښې موڅه خبر ده دهغې نه هم خبر دې . لهذا برکات ورکونو والا صرف هغه اوګڼئ ، اودهغه نه ټول حاجات غواړئ «اسروا» او « اجهروا » دواړو ځايونو کښې امر پمعنى خبر دې، يعنى که پټوئ تاسو خبره خپله اوکه ښکاره کوئ ئې. خو الله ﷻ ته يوشان ده، دَ هغه نه هيڅ هم پټ نه دی

﴿إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ﴾ تعليل دې دَ ماقبل،چه الله ﷻ خو دَ سينوپه پټو رازونو هم عليم اوخبرداردې،نوستاسوخبرى به ورنه څنګه پټې وى

﴿ أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ ﴾ «من خلق» فاعل دې دَ﴿ أَلَا يَعْلَمُ ﴾ . اى الا يعلم الخالق.يعنى آيا خالق دَ خپل مخلوق دَ پټوحالاتو يا خبرونه بې خبره کيديشې؟ استفهام انکارى دې. يعنى نه شي کيدې ، ځکه چه تخليق بې دَ علم نه نشي کيدلې . يا «من خلق» مفعول به دې دَ «يعلم» دَ پاره، او فاعل ضمير مستتر دې، چې راجع دې الله ﷻ ته، مطلب به داشى چې آياهغه بې خبره کيديشى دَخپل مخلوق نه. مآل ددواړو توجيهاتو يو دې ﴿وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾حال دې دَفاعل دَ﴿أَلَا يَعْلَمُ﴾نه تاکيد دې دَماقبل.

هُوَ	الَّذِي	جَعَلَ	لَكُمُ	الْأَرْضَ	ذَلُولًا	فَامْشُوا	فِي مَنَاكِبِهَا
الله ﷻ	هغه ذات دې	چه ګرځولې ئې	ده ستاسولپاره	زمکه	تابعداره	پس ځئ	په اوږو(طرفونو)دهغې کښې

وَكُلُوا	مِنْ	رِزْقِهِ	ط	وَإِلَيْهِ		النُّشُورُ	⑮
اوخورئ	نه	رزق	دالله ﷻ نه،اوالله ﷻ	ته	دې	پورته کيدل(ورستودمرګ	نه)

﴿ هُوَ الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ ﴾دا اووم دليل عقلى دې. او دليل خاص دې ﴿ذَلُولًا﴾ مدار کلام دې، يعنى الله ﷻ هغه ذات دې چې زمکه ئې ستاسو تابع ګرځولې ده.تاسو په هغې

کښې ګرځئ راګرځئ. هغې کښې کرونده کوئ. فصلونه ئې خورئ. معدنيات ترينه را اوباسئ. د هغې نه فائده اخلئ. لهذا کوم ذات چې داسې زمکه پيدا کړونکې ده هم هغه معبود او برکات ورکولو والا دې. د هغه نه خپل حاجات غواړئ.

﴿ذَلُولًا﴾ "ذلول" په وزن دَ فعول بمعنی الفاعل دې. هغه څاروی ته وائي چې هغه دخپل مالک تابع وي، او اړيکې نه کوي. او دلته مجازاً دَ زمکې دپاره استعمال شوې دې. چې دا زمکه هم الله ﷻ ستاسو لپاره دَ تابع څاروي پشان ګرځولې ده.

﴿فَامْشُوا﴾ فاء دپاره دَتفريع ده، چې څنګه تابع څاروی باندې ګرځئ راګرځئ. دغه شان زمکه هم تاسو لره مسخره ده، ګرځئ راګرځئ پکښې ﴿فِي مَنَاكِبِهَا﴾ مناکب جمع دَ منکب ده. اوګې ته وائي، او دلته ترينه مراد مجازاً دَ زمکې اطراف و اکناف دي، اومناکب راوړلو کښې مبالغه مقصود ده دَ زمکې په اتباع اوعاجزئ کښې. (کشاف)

﴿وَكُلُوا مِن رِّزْقِهِ﴾ (کلوا) دلته خپلې ظاهري معنی کښې نه دې، بلکه يا معنی "انتفعوا" سره دې، يعنی دَالله ﷻ نعمتونو نه فائده واخلئ، اويا په معنی دَ "التمسوا" سره دې يعنی دَ زمکې اطراف او په اکنافو کښې اوګرځئ اودَ الله ﷻ رزق طلب کړئ. (روح)

﴿وَإِلَيْهِ النُّشُورُ﴾ داتخويف اخروی دې، يعنی زمکې په اطرافو کښې ګرځئ، او دَ الله ﷻ نعمتونو نه خوند اخلئ، خوګورئ چرته ديکښې ډوب نشئ. او هم دا مقصود اونه ګرځوئ. او دَ الله ﷻ احکاماتو نه روګردانی اونکړئ، دا دنيا فانی ده، آخر به مرئ او الله ﷻ په حضور کښې به پيش کيږئ.

ءَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ

آيا په امن کښې شوئ تاسو دَهغه ذات نه چه په اسمان کښې دې دَدی نه چه ژوندی به موخخ کړی په زمکه کښې

فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ﴿١٦﴾ أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي السَّمَاءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ

نو بيا به دا زمکه ولړزيږی. آيابې خوفه يئ تاسودَهغه ذات نه چه په اسمان کښې دې دَدينه چه رااوبه ليږی په تاسو

حَاصِبًا ؕ فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ ﴿١٧﴾ وَلَقَدْ كَذَّبَ الَّذِينَ

باران دکانړو،پس زرده چه پوهه به شئ تاسوپدې چه څنګه وؤیرول خما اويقيناًتکذيب کړي وؤهغه خلقو

مِنْ قَبْلِهِمْ فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ ﴿١٨﴾

چه مخکښ وؤ ددوئ نه،نوڅنګه وؤعذاب خما

﴿ ءَأَمِنتُم مَّن فِي السَّمَآءِ ﴾داتخويف دنيوى دي،چه داكومه خمكه الله ﷻ ستاسولپاره تابعه کرڅوليده، نوکچرته دَالله ﷻ اطاعت نه کوئ نوپدى خمکه کښ به مودَقارون په شان خسف کړي. "من" نه مراد الله ﷻ دي،﴿ فِي السَّمَآءِ ﴾دمتشابهاتو نه دي.ظاهرى معنى ظرفيت نشى مراد کيدلې،څکه چې دينه بارى تعالى لره مکان اوجهت لازميږى. اوپه اتفاق داهل السنت والجماعت دا صحيح نه ده، بلکه ياخوترينه مراد"في السماء"کمايليق بشانه دي لکه متقدمينو مسلک دي ، اويا دَ متاخرينو مسلک مطابق تاويل به کوؤ،اي من في السما امره و قضاءه، او دا دَ مشرکانو دَمحاورى اواعتقادمطابق ورته اووئيل شول،څکه چه دوئ به الله ﷻ ته اله السّماء وئيل اوخپلومعبودانوته به ئي آلهة الارض وئيل، بهر صورت دينه ظاهرى معنى مراد نشو اغستى، او نه داسې معنى چې د هغې نه جهت او مکان اثبات لازميږى په اتفاق دَ مفسرينو،او داسې معنى مراد اغستل يا الحاد دي او يا جهل،او دَ اکابر مفسرينو نيم عبارات راغستل، او بيا دَ هغې نه دَخپل خواهش مطابق نتيجه رااوباسل لوئى علمى خيانت اودَخپل مذهب کمزورئ واضح دليل دي.

﴿أَن يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ﴾بدل الاشتمال دي دَ﴿مَّن فِي السَّمَآءِ﴾نه،

﴿ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ﴾ ديکښ دَخسف منظر کشى ده. "مور"باربار تلوراتلواوپه تيزئ سره خوځيدلو ته وائى،موجونو ته هم وائى،مطلب داچې داساکنه اوتابعه زمکه به حرکت شروع کړى اوموجونوپشان به اوچته شى اوتاسوبه دَځان دَلاندې ډوب کړى او اسفل السافلين ته به مواورسوى.

﴿أَمْ أَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يُرْسِلَ عَلَيْكُمْ﴾ داهم تخويف دنيوى دي. "ام" د پاره داضراب انتقالي دې يعنى دخسف خبره پريږدئ، دا اوايئ چې آيا تاسو ددينه په امن كښ يئ چې الله ﷻ دربانديې د كانړو باران رااوليږى، اوقوم لوط اواصحاب الفيل پشان خو تس نس او هلاک كړى.

﴿فَسَتَعْلَمُونَ كَيْفَ نَذِيرِ﴾ "نذير" ياپمعنى دمُنذرسره دي،حضور ﷺ ورنه مراددي،يعنى بيا به تاسوته معلومه شى اې اهل مكې چه څه رنګه وؤرسول ځما،صادق وؤكه كاذب؟ خوليكن بيا به درته داخه نفع نه دركوى،يا پمعنى د "انذار" مصدر سره دي. اى فستعلمون عاقبة انذارى اياكم بالكتاب والرّسول(كبير).

﴿وَلَقَدْ كَذَّبَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ﴾ مرادورنه قوم عاداوقوم ثمودوغيره معذّب امتونه دى، ﴿فَكَيْفَ كَانَ نَكِيرِ﴾ اى انكارى عليهم بانزال العذاب(روح).

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ
آيادوئ نه ګورى مارغانوته دپاسه دخپل ځان چه وزرى غوړونكى دى او راټولوى،
مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ ⑲ أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي
ندى حصاركړى دوئ په هواكښ مګرالله ﷻ،بيشكه الله ﷻ هرڅيزلره ليدونكې دې آياڅوک دي هغه ذات
هُوَ جُندٌ لَّكُمْ يَنصُرُكُم مِّن دُونِ الرَّحْمَٰنِ إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ ⑳
چه هغه لښكرشى ستاسوچه مددمواوكړى،ماسوى دالله ﷻ نه،ندى كافران مګرپه دهوكه كښ دى

﴿أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ﴾ دااتم دليل عقلى دي،يعنى آيادوئ بره دي مارغانوته نه ګورى چه دالله ﷻ په قدرت سره الوزى،په هواكښ كله وزرې پرانزى كله ئې راټولوي ، دواړو حالتونو كښ، دوئ د راپرى وتلونه الله ﷻ ساتى،هغه ټينګ كړيدى،حالانكه ثقيل او وزنى دى. دوئ په دې خبرې سوچ نه كوى چې دامرغئ چاپيدا كړې دى؟دوئ ته داالوتل چاخودلى

دي؟ داپه دې فضاكښې دَغورځيدلونه څوک ساتي؟كوم ذات چې داتول كارونه كوى هم هغه حقيقي معبوداوبركات وركولووالا دې.

دلته د مرغيؤو دوه صفات ذكر شو، وزر غوړول او راټولول. اول صفت دپاره صيغه داسم فاعل «صٰفّٰت» راوړلې شوه او دويم پاره صيغه د فعل مضارع. چې «يقبضن» دې. مفسرين د دې نكته دا بيانوي .چې چونكه د الوتو په صورت كښې د مرغئ اصل حالت وزر غوړول وي. او هم دې سره ورله الوتل ممكن وي . نو ځكه دې دَ پاره صيغه اسم فاعل راوړلې شوه چې دا په استمرار دلالت كوي ، او وزر راټولو حالت عارضي وي . صرف دَ آرام حاصلولو د پاره وي .نو ځكه د هغې صفت بيان د پاره صيغه فعل مضارع راوړلې شوه ، چې دا په تجدد دلالت كوي . ﴿إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ﴾ يعنى يو الله ﷻ دې چې دا دَ غورځيدلو نه ساتي،اوصرف دانه ،بلكه هر مخلوق باندې نظردې اودَهغه وركى نه وركى حالت باندې ئې نظر دې.

﴿أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي هُوَ جُندٌ لَّكُمْ﴾ داتخويف دنيوى دې،يعنى چه كوم معبودان تاسوبركات دهنده گنړئ،كه الله ﷻ تاسوته دَعذاب دركولواراده اوكړى، نو آيا هغوئ ستاسو لښكر او بادى گاډ جوړيدې شى، چه ستاسونصرت اوكړي نوعذاب نه موبچ كړى،استفهام انكارى دې يعنى نشى نصرت كولې﴿مَّنْ﴾مبتداء دې﴿هَٰذَا﴾ خبردې، "الَّذِى"موصول يابدل دې دَ"هذا"نه يا ئې صفت دې،«هذا» اشاره ده، هر "من دون الله" ته.﴿يَنصُرُكُم﴾ يعنى دَ آفاتو او دَ الله ﷻ دَ عذاب نه موحفاظت اوكړى، يعنى دَفع دَمضرت درنه اوكړى.

﴿إِنِ الْكَافِرُونَ إِلَّا فِي غُرُورٍ﴾"ان"نافيه دې،مطلب دادې چه شيطان كافران دهوكه كړيدى چه داخيال ئې دې چه دَهغوئ باطل خدايان اوبتان به ئې دَالله ﷻ دَعذاب نه بچ كړى، بنه پوهه شئ چه درحمٰن ذات ماسوىٰ هيڅ څوک ئې مددنشى كولې.

أَمَّنْ هَٰذَا الَّذِي يَرْزُقُكُمْ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهُ ۚ بَل لَّجُّوا
آيا څوک دې هغه ذات چه رزق دركړى تاسوته كچرته بندكړى الله ﷻ رزق خپل،بلكه ټنوتى دى دوئ

فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴿٢١﴾	أَفَمَنْ	يَّمْشِيْ	مُكِبًّا	عَلٰى	وَجْهِهٖٓ	أَهْدٰٓى	
په سرکشئ اونفرت کښ.	آیاهغه خوک چه	روان وی	نسکورپه	مخ	خپل پرمخ	بنه لاره موندونکي دي	
أَمَّنْ	يَّمْشِيْ	سَوِيًّا	عَلٰى	صِرَاطٍ	مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٢٢﴾		
اوکه هغه	خوک چه	روان وی	برابرپه	لاری	نیغی	باندی	

﴿ أَمَّنْ هٰذَا الَّذِيْ يَرْزُقُكُمْ ﴾داهم تخويف دنيوی دي،کچرته الله ﷻدرباندی رزق او اسباب دَ رزق ، لکه باران وغيره بندکړی ، نو آيا دا باطل خدايان به درله رزق درکړی ﴿ إِنْ أَمْسَكَ رِزْقَهٗ ﴾يعنی په امساک دَباران سره، يا ځمکه منع کړی د فصل پيدا کولو نه، يا تيار فصل تباه کړی، يا داچه رزق ډير وی ليکن الله ﷻ درنه قوة دَ خوړلو واخلی، نوڅوک به نی درباندی اخوری(خطيب).

﴿بَلْ لَّجُّوْا فِيْ عُتُوٍّ وَّنُفُوْرٍ ﴾بل دپاره دَانتقال دي، يعنی دامشرکان پدی ښه پوهه دی چه زمونږ باطل خدايان نه دفع دَمضرت کولې شی، او نه جلب منفعت کولې شی، ليکن په سرکشئ اوعنادکښ دومره پاخه ورننوتی دی چه دَتوحيد دلائلو باندی ايمان نه راوړی.

﴿أَفَمَنْ يَّمْشِيْ ﴾داتفريع ده په ماقبل، او دَ مشرک او دَ مؤمن مثال دي چې يوسړی هغه دي چې په داسې لار روان وی چې قدم په قدم هغې کښ خندونه وی، خطرې وی، اوپيچمې وی، دَ لارې هيڅ پته ورته نه لږی،حيران اوپريشان تندکونه خوری، روان وی، او بل هغه دي چې په سمه او معلومه لار برابر روان وی،آيا دا دواړه برابر کيدې شی؟ استفهام انکاری دي، چې دا دواړه نشی برابريدلې،نودغه شان مؤمن موحد اومشرک کافر نشی برابريدلې، مؤمن دَ يو الله ﷻ عبادت کوی اوسيده په لار روان وی،اومشرک دَ ډيرو آلهوعبادت کوی،او بغير تحقيقه دَخپل گمراه آباؤونقش قدم باندې روان وی، نو چرته به هم دې منزل مقصود او کاميابی ته اونه رسی.

﴿مُكِبًّا﴾ پرمخې کيدلو ته وائی، ديکښ دَلارې ويرانئ طرف ته اشاره ده، چې سړې پرې سم نشی تللې بلکه قدم به قدم غورځيږی، گوياچې دې پرمخې روان وی، قتادهرحمه الله وائی چه

دی آیت کښې اخبار دې دَحال دکافراومؤمن نه په آخرت کښې. نو کفار به پرمخې جهنم ته روان وی او مؤمنان به سم په لارې جنت ته روان وی كماقال تعالى ونحشرهم يوم القيامة على وجوههم ...(بنی اسرائیل:۹۷).

روايت دې چه حضور ﷺ نه چاتپوس اوکړوچه څنګه به کافرقیامت کښې پرمخې څی. نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل چه کوم ذات ئې په دنیاکښې په خپو بوخی نوهغه قادردې پدې چه پرمخې ئې بوځی په آخرة کښې(ابن کثیر وروح المعانی).

قُلْ هُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَكُمْ وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ وَالْاَفْـِٕدَةَ ؕ
ته اووایه اې نبی ﷺ الله هغه ذات دې چه تاسوئې پیداکړی یئ اوګرځولی ئې دی تاسولره غوږونه اوسترګی اوزړونه
قَلِیْلًا مَّا تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۳﴾ قُلْ هُوَ الَّذِیْ ذَرَاَكُمْ فِی الْاَرْضِ
ډیرلږشکراوباسئ تاسو اووایه اې نبی ﷺ الله هغه ذات دې چه خواره کړی ئې یئ تاسوپه زمکه کښې
وَاِلَیْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۲۴﴾ وَیَقُوْلُوْنَ مَتٰى هٰذَا الْوَعْدُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِیْنَ ﴿۲۵﴾
اوخاص الله ته به تاسوجمع کړې شئ اووائی دوئ چه کله به وی داوعده دقیامت کچرته یئ تاسورشتنی
قُلْ اِنَّمَا الْعِلْمُ عِنْدَ اللّٰهِ ۪ وَاِنَّمَاۤ اَنَا نَذِیْرٌ مُّبِیْنٌ ﴿۲۶﴾
ته ورته اووایه اې نبی ﷺ بیشکه علم دقیامت الله ته دې اوبیشکه ځه خو صرف یرونکې یم ښکاره
فَلَمَّا رَاَوْهُ زُلْفَةً سِیْٓـَٔتْ وُجُوْهُ الَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَقِیْلَ
پس هرکله چه اووینی دوئ قیامت نیزدې نوتوربه شی مخونه دکافرانو اوورته به اوونیلې شی
هٰذَا الَّذِیْ كُنْتُمْ بِهٖ تَدَّعُوْنَ ﴿۲۷﴾
داهغه عذاب دې چه وئې تاسودغه موغوښتلو

﴿قُلْ هُوَ الَّذِیْٓ اَنْشَاَكُمْ﴾ دا نهم دلیل عقلی دې ، او داهم دلیل خاص دې په توحید ﴿وَجَعَلَ لَكُمُ السَّمْعَ وَالْاَبْصَارَ﴾ مدار کلام دې، چه الله ﷻ تاسو پیدا کړی یئ، او دَ توحید دلائلو اوریدلو د پاره ئې درته غوږونه درکړیدی، سترګی ئې درکړیدی دپاره دلیدلو دَ قدرتونو دَ

توحيد ، او زړونه ئې درکړيدی دپاره دَ پوهيدلو . لهذاتوحيداومنئ اوداالله ﷻ اطاعت کوئ

﴿قَلِيلًا مَّا تَشْكُرُونَ ﴾ما زائده دي لپاره دَتاکيد ،قلت شکرياپه ظاهرمحمول دي،ياخطاب کافرانو ته دي اوقلت پمعنی دَنفی اوعدم وجودسره دي ،يعنی تاسوبالکل شکر نه اداکوئ.

﴿ قُلْ هُوَ الَّذِي ذَرَأَكُمْ ﴾دا لسم دليل عقلي دي په توحيد . او داهم دليل خاص دي ، او﴿ ذَرَأَكُمْ فِي الْأَرْضِ﴾ مدارِکلام دي ، چې الله ﷻ هغه ذات دي چې تاسوئې په زمکه کښ خواره کړی يئ، بل ځوک داسې نشته چې ستاسو سلسله داسې محکم اومنظم اندازسره جاری کړی، او قيامت په ورځ به بيا هم هغه ذات طرف ته تاسو جمع کيږئ، اوحساب کتاب به درنه اخلی، لهذا صرف دهغه عبادت کوئ اوهغه برکات ورکولو ولا اومنئ

﴿ وَيَقُولُونَ ﴾داشکوه ده دکافرانونه،چه دوئ مسخری په طورمؤمنانوته وائی چه کچرته تاسوصادق يئ په دی دعوه کښ چه قيامت به راځي، حشربه کيږی، نوموږته ئې وخت بيان کړئ ،کله به وی؟

﴿قُلْ إِنَّمَا الْعِلْمُ ﴾ جواب ـشکوه دي يعني ځما دَمنصب تقاضه اوفريضه داده چې بس تاسو مې خبر کړلئ چې قيامت راروان دي، اوالله ﷻ به درنه حساب کتاب اخلی، باقی دا خبره چې دا به کله وی؟ دي تعيين ځما منصب سره څه تعلق نشته،دا دَ الله ﷻ تکوينی امور دی، او څه دَتشريعی امورو په تبليغ او بيان باندې مامور يم.

﴿فَلَمَّا رَأَوْهُ زُلْفَةً ﴾داتخويف دي،ضميردَاکثروپه نيز "الوعد" يعنی عذاب دَ قيامت ته راجع دي، يعنی چه کله داکافران دَقيامت عذاب اووينی اودَقيامت دَاهوالومعائنه اوکړی نو مخونه به ئې دَ ډيرغم په وجه تورشی،فرشتی دَجهنم به ورته وائی چه داهغه عذاب دي چه تاسو په دنيا کښ غوښتلواوس ورته تيښگ شئ.﴿ زُلْفَةً ﴾حال دي دَمفعول دَ﴿ رَأَوْهُ﴾ نه، پمعنی دَ قريب سره،بعضوئی معنی په حاضرسره کړيده

قُلْ	اَرَءَيْتُمْ	اِنْ	اَهْلَكَنِيَ	اللّٰهُ

نه	ورته	اووايه‌اې	نبی ﷺ خبراکړئ	ماته	کچرته	هلاک	کړی	ماالله ﷻ

وَمَنْ مَّعِيَ اَوْ رَحِمَنَا ۙ فَمَنْ يُّجِيْرُ الْكٰفِرِيْنَ مِنْ عَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿٢٨﴾

اوهغه خوک چه ماسره دی یارحم اوکړی په مونږ،نوخوک دی چه پناه ورکړی کافرانوته دعذاب دردناک نه.

قُلْ هُوَ الرَّحْمٰنُ اٰمَنَّا بِهٖ وَعَلَيْهِ تَوَكَّلْنَا ۚ

ته اووایه چه الله په هر چا مهربان ذات دي،ایمان راوړیدي مونږپه هغه اوخاص په هغه مونوکل اعتماد کړیدي.

فَسَتَعْلَمُوْنَ مَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿٢٩﴾

پس زرده چه پوهه به شئ تاسوپدي چه څوک دي په ګمراهئ ښکاره کښ

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَهْلَكَنِيَ ٱللَّهُ ﴾**دا اوله طریقه دَ تبلیغ ده**،اوجواب دي دقول دَ مشرکانو .اهل مکه ؤ به وئیل چه دانبی اومؤمنان به مړه شی مونږبه ورنه خلاص شو .کماقال تعالی:شاعرٌنتربَصُ به رَیب المنون(طور ۳۰) نوالله ﷻ امراوکړوچه ته ورته اووایه چه مونږخومؤمنان یو .دَ احدی الحسنین انتظارکوؤ (۱) یابه مړه شولکه تاسوئی تمناکوئ، نوداهم زمونږلپاره ښه ده. ځکه چه جنت ته به لاړوشو.(۲)﴿أَوْ رَحِمَنَا ﴾ یابه په مونږ رحم اوکړی غلبه اوقوت به راکړی. دې دواړو کښ زمونږ خیر دي، لیکن تاسوخپل غم اوکړئ،تاسوخوک فراڼ یئ. د عذاب الیم نه به موڅوک بچ کوی

صاحب دکشاف دَدی آیت دری(۳)توجیهات ذکرکړیدی یوه دامذکوره ده.(۲)دویمه داچه مطلب دادي کچرته مونږه الله ﷻ مړه کړو،حال داچه مونږخوتاسونه سمه لارښایو ،دوزخ نه مو بچ کوؤ، نو تاسوبه بیاڅوک بچ کوی دَعذاب الیم نه،اوکچرته رحم ئی راباندی اوکړوغلبه ئی راته راکړه نو تاسو به زمونږ دَ لاسه نه څوک بچ کوی.

(۳) دریمه داچه مونږ باوجود دَایمان نه، دَ خوف او رجاء په مینځ کښ یو، نو تاسو به دَ کفر باوجود دَ عذاب الیم نه څرنګه بچ شئ(کشاف).

﴿ قُلْ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ءَامَنَّا بِهِۦ ﴾**دادویمه طریقه دَتبلیغ** ده.اودَ ماقبل تتمه ده،چه مونږبه رحمن ذات باندی ایمان راوړې دي مونږبه دآخرت دَعذاب نه بچ کوی.اوخاص په هغه مو

توکل دي، مشکلات اوحوادث به راته آسانه وي. اوس خو ایمان نه راوړئ خو آخرت کښې چې فیصله اوشی بیا درته پته اولګی چې څوک په حق دي څوک ناحقه

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ اَصْبَحَ مَآؤُكُمْ غَوْرًا فَمَنْ يَّاْتِيْكُمْ بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ ۝٣٠

نه ورته اووایه خبر راکړئ ماته کچرته اوګرځی اوبه ستاسو ډوبې اوچې نو څوک دی چه رابه ولی تاسوته اوبه روانی

﴿قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَآؤُكُمْ﴾ دا **یوولسم** (۱۱) **دلیل عقلی** دې په توحید او **دلیل خاص** دې.

﴿غَوْرًا﴾ مدارِکلام دې، یعنی دا اووایئ کچرته ستاسو دا اوبه الله ﷻ اوچې کړی. نو بل کوم ذات دې چه هغه ئې درته راوباسی ماسوا دَالله ﷻ نه. چې بل څوک دومره هم نشی کولې نو څنګه به دوئ تاسو دَعذاب نه بچ کړی اوڅنګه به برکتونه درکړی؟ لهذا صرف دَالله ﷻ عبادت کوئ، اوهغه برکات ورکونکې ګنړئ.

«غورا» مصدر دې مبالغتاً راوړلې شوې دې، اي غائرا، یعنی اوبه ډوبې لاړې شی او تاسو ئې بیا را اوباسلې نشئ ﴿بِمَآءٍ مَّعِيْنٍ﴾ معین یاصفت مشبه دې، دَ معن نه مشتق دې، پمعنی دَکثیراوجاری سره، یا معین دَ عین نه مشتق دې، یاء پکښې اصلی ده، دَاسم مفعول صیغه ده، ای ظاهرةً تراهُ العیون قرطبی وغیره یعنی ښکاره اوبه چه په سترګو ښیدلې شی اوپه اسانئ سره راوباسلې شی

ركوعاتها (٢)	سورة القلم مكيّة	آياتها (٥٢)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٦٨) وحسب النزول (٢)

نزلت بعد العلق وقبل المزّمل

ربط: ماقبل سورة کښې داثابته شوه چه برکت ورکونکي صرف الله ﷻ دي، دی صفت کښې ورسره څوک شریک نشته، دی سورة کښې تنبیه ده چه مشرکان به کوشش کوی او دا به وړئ چه تاسو دې مسئله کښې نرمی اوکړئ، مونږ به هم تاسوسره نرمی اوکړو، لیکن تاسوپدی کښې نرمی بالکل مه کوئ کماقال تعالی: وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ.

خلاصه: ابتداء کښې تسلی ده حضور ﷺ ته، بیادعوه دَسورة ده، تخويف دنيوی، بشارت، تخويف اخروی دې (تمت).

نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ① مَآ اَنْتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُوْنٍ ②
الله عالم دې په مراد خپل، قسم دې په قلم او په هغه څه چه کاتبان ئې لیکی، چه نه ئې نه په سبب دَفضل دَرب خپل لیونی
وَاِنَّ لَكَ لَاَجْرًا غَيْرَ مَمْنُوْنٍ ③ وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ ④
اوبیشکه ستا لپاره خامخا ثواب دې نه ختمیدونکي . او بیشکه ته خامخا په اخلاقو لویو باندی ئې

﴿ نٓ ﴾ دا دَحروف مقطعاتو نه دې، معنی حقیقی او معنی مراده ئې الله ﷻ ته ښه معلومه ده لکه تفصیل ئې په ابتداء دَسورة البقری کښې تیر دې،

﴿وَالْقَلَمِ﴾ په قسم سره مؤکده تسلی ده حضور ﷺ ته، او «واو» قسمیه دې، قسم برائ استشهاد دې، دَ قلم نه مراد یا قلم دَلوح محفوظ دې چه دَهرڅه نه اول الله ﷻ پیدا کړې دې، او دَ تقدیر دَ لیکلو حکم ئې ورته کړې وو، په روایت کښې دی: انّ اوّل ماخلق الله القلم، فقال له:

اکتب، فقال : یاربّ وما اکتبُ،فقالَ: اکتب القدر، فجری القلم في تلک السّاعة بما کان و ما هو کائن الی الابدِ (ابوداؤد باب فی القدر)

یادَ قلم نه مراد دَ کراماکاتبینو قلم دي،اولی داده چه دی کښې تعمیم دي .مطلق قلم ورنه مراد دي که دَلوح محفوظ وی،که دَفرشتوی یادَانسانانووی که دجناتو

﴿وَمَا يَسْطُرُونَ﴾ پدی کښې هم عموم اولی دي عام اهل قلم ورنه مراددی(قرطبی)

﴿مَآ أَنتَ بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ﴾داجواب قسم دي،کفاروبه حضورﷺته دَمجنون نسبت کولو (نعوذبالله)، اللهﷻدَدوئ رداوکړوچي ته په فضل دَالله ﷻ سره مجنون نه ئی،اوقسم او جواب قسم کښې مناسبت دادي ، چي دَالله ﷻ قسم خوری چي اوسه پوري څومره قلمونه راغلی دی، خواه هغه دَفرشتو قلم وی اوکه دَجناتو او دَ انسانانو .اوپه هغې چي څه هم لیکلی شوی دی، هغه ټول پدي ګواه دی چي ته مجنون نه ئی ، ځکه چی ستاکومي خبري په دي سره لیکلي کیږی،دغه شان خائسته اوقیمتی خبري دي نه مخکښې نه دی لیکلي شوي، نو بیا څنګه کیدي شی چي ته مجنون وي، او دا دَیو مجنون کلام شی

﴿بِنِعْمَةِ رَبِّكَ بِمَجْنُونٍ﴾ بمجنون کښې "باء" زائده ده"بنعمة"کښې"باء"یاسببیه ده،نعمة نه مراد فضل دي یعنی په سبب دَفضل دَاللهﷻته مجنون نه ئی، یا "نعمة" نه مرادنبوت دي "باء" ملابسة دپاره ده،یعنی ته مجنون نه ئي، ځکه چه تاته اللهﷻ دَ نبوت لوئ منصب درکړي دي، مجنون ته دامنصب نه ورکولي کیږی.

﴿وَإِنَّ لَكَ لَأَجْرًا غَيْرَ مَمْنُونٍ﴾ای غیرمقطوع،داپمنزله دَدلیل دي ماقبل دپاره چه مجنون قابل دمدح و سبب دَاجرنه وی ځکه دَهغه هیڅ عمل معتبرنه وی،پخلاف دَدینه چه تاته به اجرملاویږی اوهغه هم بی انتهاءاجر.

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾داهم دلیل دي چه ته مجنون نه ئی ځکه چه ستااخلاق ډیرلوئ اخلاق دی،دَمجنون اخلاق ښه نه وی،هغه خوخلق په کانړوولی،دَحضرت عائشه ﷺ نه چا تپوس اوکړوچه اي امّ المؤمنین دَحضورﷺاخلاق څنګه وو؟ هغی ورته اوفرمائیل آیاتاقرآن

نه دي لوستلي. اخلاق دحضور ﷺ قرآن وو. يعني په قرآن کښې چه کوم اوامر او نواهي ذکر کړې شوي دي نو په هغې باندې عمل کول دحضور ﷺ اخلاق و.

فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ﴿٥﴾ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴿٦﴾ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ

پس زر به اووينې ته او دوئ به هم اووينې. دا چه په کوم يو د ستاسو نه ليونتوب دی. بيشکه رب ستا هغه

اَعْلَمُ بِمَنْ ضَلَّ عَنْ سَبِيْلِهٖ ۖ وَهُوَ اَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِيْنَ ﴿٧﴾

ښه عالم دي په هغه چا چه گمراه شوي وي د لارې د الله ﷻ نه. او هغه ښه عالم دی په هدايت موندونکو باندې

فَلَا تُطِعِ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٨﴾ وَدُّوْا لَوْ تُدْهِنُ

پس ته مه کوه اطاعت د تکذيب کونکو. غواړي دوئ چه که ته نرمي کوې به مسئله د توحيد کښې

فَيُدْهِنُوْنَ ﴿٩﴾

نو دوئ به هم نرمي کوي په تکليف در کولو کښې

﴿ فَسَتُبْصِرُ وَيُبْصِرُوْنَ ﴾ دا تخويف دي بعض مفسرين فرمائي چې تخويف دنيوی دې، او ديکښې غزوه بدر، فتح مکه او دغه شان نور کوم عذابونه او قحطونه په قريشو نازل شوی دی. هغې ته اشاره ده. او بعض وائي چې دا تخويف اخروی دې، چه د مرګ نه ورستو به درته پته اولګی چه ليوني څوک دي؟

﴿ بِاَيِّكُمُ الْمَفْتُوْنُ ﴾ مفتون يا مصدر ميمی دې په معنی د ليونتوب. يعنی پته به اولګی چه ليونتوب په چا پورې دې، يا مفتون په معنی د مجنون دې او باء زائده ده. يعنی څوک ليوني دې؟

﴿ اِنَّ رَبَّكَ هُوَ اَعْلَمُ ﴾ دا هم دليل دې چه مجنون ته نه ئې بلکه دا کافران مجنونان دی، ځکه د دوئ ګمراهی د دوئ په جنون دلالت کوی، او ستا هدايت ستا په عدم جنون باندې دلالت کوی. الله ﷻ په هر چا ښه پوهه دې.

﴿فَلَا تُطِعِ ٱلْمُكَذِّبِينَ﴾ «فاء» تفريعيه ده. په ماقبل تفريع ده. يعني كله چه دا و صحيح سو ده چه اې پيغمبرﷺ په تا د الله تعالیٰ فضل دی. ته الحمدلله مجنون نه یې. بلکه دا کافران ليوني دی چه د الله تعالیٰ نافرمانه دی. لهذا ته د دوی اطاعت مکوه

﴿وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ﴾ «دا دعوه دسورة ده او علت دی د نهی مذکوري. مشرکين غواړی چه ته (نعوذبالله) خپل منصبی کار کښې نرمی اوکړې. يعني د توحيد په معامله کښې ورسره نرمی اوکړې. او د دوی د معبودانو مذمت پريږدې. نو دوی به هم ستا په مخالفت کښې نرمی اوکړی. ليکن ته د هغوی خبره مه منه. مسئله د توحيد به واضحه بيانوه. د دوی د معبودانو نفی کوه.

«تدهن» د «دهن» نه دی. «دهن» تيلو ته وئيلي کيږی. او د تيلو لازمی اثر نرمی ده. نو دې وجه نه هر څه معامله کښې نرمی خودلو باندې هم اطلاق کيږی. او دلته ترينه مراد مطلقا نرمی نه ده. ځکه چې دا خو مامور به ده (کما في قوله تعالى: فبما رحمة من الله لنت لهم). بلکه مراد ترينه دلته مداهنت دی. چې د خپل طرزعمل سره سره خپل موقف کښې هم لچک او نرمی پيدا کړه

فائده «مداراة» او «مداهنة» قريب المعنى الفاظ دی. خو مدارا د جائز، بلکه مستحسن امر دی. او مداهنت ناجائز امر دی. د دې وجهی نه دواړو کښې فرق پيژندل ضروری دی.

(۱) مداهنت وئيلی کيږی "بذل الدين لصلاح الدنيا" ته چې دنيا جوړلو د پاره دين حکم شاته غورځول او مدارات وئيلی کيږی بذل الدنيا لصلاح الدين او لصلاح الدين او الدنيا اولهما معا يعني دين، يا دنيا، او يا دين او دنيا دواړو د خير د پاره يو دنيوی امر پريخودلو ته.

(۲) مداهنت دا دی چې فاسق سړی سره ناسته پاسته کول. د هغه ناجائز کارونه باندې نه نکير کول او نه ترينه اعراض کول، بلکه د خپل طرزعمل سره ګويا د هغه تائيد کول، او مدارات دا دی چې جاهل او ناواقف ته حق خودل، خو خودنه کښې ورسره نرمی کول، او د غه شان فاسق د ګناه نه منع کول، خو نهی کښې ورسره نرمی کول.

(۳) مدارات او مداهنت دواړو کښې چشم پوشی وی، خو مداهنت کښې د دنيا سلامتی د پاره وی، او مدارات کښې د دين سلامتی د پاره وی.

(۴) مدارات او مداهنت دواړو کښې تلطف او نرمی وی، خو مدارات کښې نرمی د باطل نه راګرځولو د پاره وی. او مداهنت کښې نرمی په باطل باندې اقرار د پاره وی

﴿۵﴾مدارات کښې صرف طرز عمل اواسلوب کښې نرمي وي. عقيدې اوموقف خپل ځای باندې مضبوط پاتې وي،اومداهنت کښې مؤقف اوعقيدې کښې هم ورسره نرمي راشي. اوهغه په خپل اصل حال پاتې نشي،﴿قرطبی، فتح الباری ، احياء العلوم ﴾

وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ مَّهِينٍ ⑩ هَمَّازٍ مَّشَّآءٍۭ بِنَمِيمٍ ⑪

اواطاعت مکوه دهرډيرقسم خور،سپک،بيغور ورکونکي ډيرتلونکي په چغلئ سره ډيرچغلخور

مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ⑫ عُتُلٍّۭ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ⑬ أَن كَانَ ذَا

ډيرمنع کونکي دخير،تجاوزکونکي، ګناه ګار بداخلاقه، علاوه دَدينه حرامي هم دي.دَدي وجې نه چه دي هغه خاوند

مَالٍ وَبَنِينَ ⑭ إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ ءَايَٰتُنَا قَالَ أَسَٰطِيرُ ٱلْأَوَّلِينَ ⑮

دَمال او د اولاد. کله چه لوستلې شي پده باندې آياتونه زمونږنووائي دادروغوقصې دپخوانوخلقودي.

سَنَسِمُهُۥ عَلَى ٱلْخُرْطُومِ ⑯

زرده چه داغداربه کړومونږده لره په پوزه باندې.

﴿وَلَا تُطِعْ كُلَّ حَلَّافٍ﴾ماقبل کښې دَعامو کافرانو دَاطاعت نه منع وه،دلته دَيو خاص کافر دَاطاعت نه منع ده چه وليدبن مغيره،يا ابوجهل، يا اخنس وؤ،جمهوروائي دا آيت دَ وليدبن مغيره باره کښې نازل دي،چه دې ډيردروغژن وؤ،خبرې خبرې باندې به ئي قسمونه خوړل،چغل خور وؤ،بداخلاقه اوسرکشه وؤ،خپل مال اولادباندې ډيرمغروروؤ،

﴿مَّهِينٍ﴾حقيراوسپک ته وائي،﴿هَمَّازٍ﴾همز نه صيغه دَمبالغې ده طعنه بلز اوبيغور ورکونکي ته وائي.﴿بِنَمِيمٍ﴾چغلي دَفساد وراني راوستلو په غرض دَيو کس خبره بل کس ته ورلو ته وائي، ﴿روح،کشاف﴾.﴿مَّنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ﴾خير يا پمعنى دَاسلام سره دې،منع کونکي وؤ دَ اسلام نه،دَده لس﴿۱۰﴾ځامن وؤ،دوئ ته او نورو خپلوانو ته به ئي وئيل چه کچرته په تاسو کښې چا اسلام راوړو، نوځه به ورسره چرته هم ښه اونکړم،خپل راشن به ورباندې بند کړم، يا خير پمعنى دَمال سره دې، مال منع کونکي وؤ،حقوق دَمال ئي نه اداکول،بخيل وؤ﴿مُعْتَدٍ﴾

اعتداء نه دي يعنى ظلم كښې دحد نه تجاوز كونكې دې. ﴿أَثِيمٍ﴾فاسق پيشه دې چې كار ئې بس گناه كول دي(ماجدی)﴿عُتُلٍّ﴾ بداخلاقه،ډيرجگړمار. دعتل دمشتق دې په سختئ سره يوشې لرې كولو ته وئيلى كيږى﴿بَعْدَ ذَٰلِكَ﴾ "بعد" پمعنى د "ثم" دې ، اشاره مذكور ټولو قباحتونو ته ده، "ثمّ" په تفاوت رتبى باندى دلالت كوى،نومطلب دادې چه دټولونه لوئ قباحت ئى دادې چه حرامى دې،ولدالزناء دې ، يا" بعد" په معنى د "دون" سره دې، يعنى علاوه د دې بدو اوصافو نه حرامى هم دې. ﴿زَنِيمٍ﴾ د "زنمة" نه مشتق دې،د بيزى غتيالوته وائى،چونكه دغه شان بيزه په نوروبيزوكښې پيژندلې كيږى،نودغه شان دې هم په خلقوكښې په كمينه والى اورذيل والى كښې پيژندلې كيږى،اوچونكه دغه غوتيالى فضولى وى،ضرورت ورته نه وى،نودغه شان دې هم په قريشوكښې نه دې بلكه حرامى ولدالزناءدې.

روايت دې چه كله داآيت نازل شونوولیدخپلى مورته راغې ورته ئى اووئيل،چه محمد ﷺ ځما نهه(۹) صفات بيان كړل،نورټول ماته معلوم دى ليكن ماسوى دآخيرى نه،آياپه ريشتيا ځه حرامى يم،مورئى تصديق اوكړو،ورته ئى اووئيل،ستاپلار عنين(نامرده)وو،نوځه دهغه په مال ضائع كيدوباندى يريدمه،نويوشپونكى سره مى زنااوكړه،نوته دهغه ځوې ئى.

﴿أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ﴾ لام تعليليه پكښې مقدردې،اى لان كان ذامال. (۱)او دا علت دې د ﴿وَلَا تُطِعْ﴾، يعنى داسې بدكردار انسان اتباع ددې وجهى نه مه كوه چې دده مال ډير دې اولادئې ډير دى، (۲) او يا علت دې د محذوف ،چه كذَبَ ياكَفَرَدې،اې: كذب لان كان ذا مال... ، مراد دا دې چه دې د تكذيب او د مذكوره قباحتونو ارتكاب په دې وجه كوى چه دمال اولادپه نشه كښې ډوب دې،حالانكه دمال او اولاد شكر ورته پكار وو.

﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا﴾دائى بل قباحت دې،چه دقرآن آياتونوته ددروغوقصى وائى ﴿سَنَسِمُهُ عَلَى الْخُرْطُومِ﴾دمذموم اوصافوبيان نه بعدئى اوس دجزاء بيان دې، چې د ده جزاء دا ده چې مونږ به ئى دنيا او آخرت دواړه كښې ذليله او ناكامه كړو،ددنيا ذلت ئى دا وو چې غزوه بدر كښې مسلمانانو د لاسه قتل شو،او د آخرت ذلت دپاره ئى دقيامت ورځ ده.

«سنسمه» د وسم نه دي . نښان زد کول او داغ لګولو ته وايي . او دا داغ حقيقت وو او که صرف کنايه ده د ذلت او رسوائي نه؟ مفسرينو دواړه قوله ذکر کړي دي بعض وائي چي داکنايه ده ذلت او رسوائي نه. ځکه چي پوزه به عربو د عزت محل ګڼلو . او خمل ذلت و رسوائي تعبير به ئي د پوزي کښ کيدلو سره کولو . نو به پوزه داغ لګولو کښ د هغه رسوائي طرف ته اشاره اوشوه . او بعض وائي دا حقيقتا وو . غزوه بدر کښ دده به پوزه داغ لګيدلي وو ، او آخرت کښ به پري هم الله ﷻ اولګوی . چي هغې کښ به دده اهانت هم وي . او کفر او جرم به ئي هم هر چانه ښکاره شي

«خرطوم» د هاتي او خنزير خرتم ته وائي. اومراد ترينه دلته پوزه ده. او د انف ذکر کولو په ځائ خرطوم راوړلو کښ د ده اهانت طرف ته اشاره ده . چي کوب دي د خنزير په شان بدشکله دي

إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ إِذْ أَقْسَمُوا۟

بیشکه مونږ ازمائش کړیدي په اهلِ مکه لکه چه آزمائش کړي وو مونږ د باغ والو. کله چه قسمونه اوکړل هغوئ

لَيَصْرِمُنَّهَا مُصْبِحِينَ ﴿17﴾ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴿18﴾ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ

چه خامخا شوکوی به میوی د باغ په وخت د صباکښ، او ان شاالله ئی نه وئیل، نو تاؤ راتاؤ شو په دی باغ یو تاویدونکي عذاب

مِّن رَّبِّكَ وَهُمْ نَآئِمُونَ ﴿19﴾ فَأَصْبَحَتْ كَٱلصَّرِيمِ ﴿20﴾ فَتَنَادَوْا۟

د طرفه د رب ستانه او دوئ اوده وو، پس اوګرځیدلو هغه باغ پشان د کټ کړي شوی فصل. پس دوئ آوازونه اوکړل یو بل ته

مُصْبِحِينَ ﴿21﴾ أَنِ ٱغْدُوا۟ عَلَىٰ حَرْثِكُمْ إِن كُنتُمْ صَٰرِمِينَ ﴿22﴾ فَٱنطَلَقُوا۟

په وخت د صباکښ چه د وخته راشئ باغ خپل ته کچرته يئ تاسو میوی شوکونکی. نو دوئ لاړل

وَهُمْ يَتَخَٰفَتُونَ ﴿23﴾ أَن لَّا يَدْخُلَنَّهَا ٱلْيَوْمَ عَلَيْكُم مِّسْكِينٌ ﴿24﴾

او دوئ ورو ورو داخبری کولې چه داخل نه شی هرګزدی باغ ته نن ورځ په تاسو مسکین.

وَغَدَوْا۟ عَلَىٰ حَرْدٍ قَٰدِرِينَ ﴿25﴾

او سهروختی اوتلل، (په دې ګمان چې دوئ) په منع کولو د مسکینانو، قادر دي.

﴿ إِنَّا بَلَوْنَٰهُمْ كَمَا بَلَوْنَآ أَصْحَٰبَ ٱلْجَنَّةِ ﴾دادنخویف دنیوی نمونه ده.چه دی اهلِ مکوْنه مونږ دنیاوی نعمتونه.دعیش سامان ورکړل.دیني نعمتونه چه قرآن دې .او بعثت دَ اخری رسول دې.موهم ورکړل. لیکن دوئ ئې ناشکری اوکړه. نو مونږ وربانديٰ ازمائښت اوکړو. قحط او لوږه کښې مومبتلاکړل. لکه څرنګه چه مو باغ والؤو ته نعمتونه ورکړی وو.په ناشکرئ سره ورباندی عذاب راغې،باغ ئې هلاک شو.حضورﷺاهل مکوْو ته بد دعاء کړې وه چه"اللّهم اشدد وطاتکَ علی مضر ، واجعلهاعلیهم سنین کسني یوسف"په دې وجه دوئ په قحط کښې څو کاله مبتلا وؤ.

دَ **اصحب الجنت واقعې خلاصه** داده. چې دا یو څو رونړه وؤ . دَ دوئ یو مشترکه باغ وؤ. چې کله میوې پخې شوې. نو دوئ مشوره اوکړه چې سحر وختی به په. پټه پټه میوې اوشکوؤ. چې څوک مسکین رانشی او څه رانه اونه غواړی.(کیدې شي دَدغې علاقی دستور به دا وؤ چې مساکینو له به ئې حصه ورکوله. یا دَ دوئ نه مخکښې دَپلار ئې داعمل پاتې شوې وی، لکه بعض آثاروکښې راغلی دی) بهر حال الله ﷻ ته دَ دوئ دامشوره ډیر ناخوښه شوه .اوشپې شپې ئې دَدوئ په باغ عذاب نازل کړو، اوباغ ئې تباه وبربادشو. سحر دوئ مشورې مطابق روان شول.او دَ یرې نه ئې خبرې هم یوبل سره پټې پټې کولې، چې چاته پته او نه لګی،خو چې کله باغ ځائ ته اورسیدل، نوهلته باغ نه وؤ.حیران شول چې لارمو غلطه کړه او که بل څه معامله ده .آخر ورته دَخپلې غلطئ احساس اوشو.او توبه اواستغفار ئې اوکړو.

دا باغ دَ چا وؤ؟ کومې علاقې کښې وؤ؟ اوکومې زمانې کښې دا واقعه تیره شوې ده؟دې باره کښې هیڅ قطعی ثبوت نشته، اونه په قرآن کښې دَ واقعاتو بیان نه دا خبرې مقصود وی، لهذا بهتره خبره دا ده چې داخپل اجمال باندې پریخودلې شی، البته مفسرینو قرائنو او آثارو په بنیاد دې متعلق مختلف اقوال ذکر کړی دی،چې هغې کښې اقرب الی الصحة قول دادې ، چې دا باغ صنعاء یمن مضافاتی علاقې کښې دَ یوسړی وؤ،د هغه معمول دا وؤ چې کله به میوې پخې شوی، نو مساکینوله به ترینه حصه ورکوله ،خوکله چې هغهٔ وفات شو ، نو ځامنو دَ هغه معمول خلاف دامشوره اوکړه. صنعایمن په مضافات کښې واقع . دې علاقې کښې اوس هم تور کانړی اوشواهد شته چې هغه دې احتمال ته ترجیح ورکوی.

﴿ وَلَا يَسْتَثْنُونَ ﴾استثناء درې معنې مفسرینو ذکر کړیدی:

(۱) استثناء: پمعنی دَ ترک: ده، چې مسکینانو له به هیڅ نه پریږدو، ټول په ځان له اخلو
(۲) استثناء نه مراد ان شاءالله ونیل دی، یعنی دومره په غرور کښې وو، چې ان شاءالله ئې هم او نه وې، چې مونږ به صباخیل فصل شکوو، دې دویمې معنې مطابق عذاب سبب ان شاءالله نه وئیل، نه وو، بلکه اصل سبب تکبر او غرور دَدوئ وو
(۳) "لایستثنون" دَ "لایثنون" په معنی کښې دې، او انثناء رجوع او واپس کیدلو ته وائي، یعني دوئ په خپلې ارادې ټینګ اولاړ وو، واپس کیدل ترینه نه .

﴿ فَطَافَ عَلَيْهَا طَآئِفٌ ﴾ یعنی دوئ ځان سره داتدبیر ونه جوړکړل او اوده شول. خو بل طرف ته تقدیر الهی دا وو، چې مساکین محرمه پاتي کیږی نو دوئ به هم ترینه محرومیږی. نو دَ الله ﷻ عذاب په شپه کښې په باغ نازل شو اوباغ مکمل تباه شو ،

طواف: ګیر چاپیره تاویدلو ته وائي، یعنی دې عذاب دَ باغ مکمله احاطه کړې وه.
"طائف" صفت دې د موصوف محذوف دَ پاره ، اې بلاء طائف . دَ عذاب نوعې تعین په روایاتو کښې نشته، صرف دومره دې چې عذاب پرې راغې اوباغ ئې ټول تباه کړو

﴿ فَأَصْبَحَتْ كَالصَّرِيمِ ﴾ مفسرینو متعددې معنې بیان کړیدی.

(۱) صریم: هغه باغ ته وائي چې هغې میوې بوټی هرڅه کټ شوی وی، مطلب دا چې ودان او آباد باغ داسی وران وجاړ شو.
(۲) صریم: تورې ایرې ته وائي، یعنی باغ تورې ایرې په شان اوګرځیدو.
(۳) صریم په معنی د "لیل" شپې سره دې، یعنی باغ دَشپې په شان تک تورشو.

﴿ أَنِ اغْدُوا عَلَىٰ حَرْثِكُمْ ﴾ "ان" تفسیریه دې دَ ﴿فَتَنَادَوْا﴾ تفسیرکوی یعنی کچرته میوی شوکول غواړئ، نوسهاروختی راووځئ ﴿ إِن كُنتُمْ صَارِمِينَ ﴾ ای قاصدین للصرم وقطع الثمار .

﴿وَغَدَوْا عَلَىٰ حَرْدٍ ﴾ «حرد» درې معنو کښې استعمالیږی: (۱) سرعت (۲) منع (۳) غصه اودلته ترینه درې واړه معنې اغستلې شی، که اوله معنی مراد واخلو ، نو بیا «علی» پمعنی "باء" سره دې، او جار مجرور به متعلق کیږی «غدوا» سره، اې غدوا بسرعة ونشاط، یعنی څه په تیزئ اوچستئ سره سهار روان شول، اوګمان ئې داوو چې مونږ په کټ کولو باندې قادر یو. اوکه «حرد» پمعنی دَ "منع" سره واخلو، نوبیا به مطلب داشی چې دوئ سهار روان شول،

او حال داوؤ چې دوئ صرف په منع باندې قادر وؤ، په خير بلكل نه وؤ قادر ، اګر كه دوئ غوختلې هم، څكه چې باغ ورله الله ﷻ هلاک کړې وؤ. يادا تهکم دې چې دوئ دا غمه توره ګڼړله چې مونږ په منع باندې قادر يو ،

اوكه «حرد» پمعنى غصې سره واخلو بيابه مطلب داشي چې دوئ سهار روان شول، او حال دا وؤ چې صرف يو بل ته په غصې قادر وؤ، نه په بل څه باندې ، كما في قوله تعالى: يتلاومون ، چې ولې مو داسې مشوره کوله . چې د مکمل باغ نه خو لاس اووينځلو ،آخرى دوؤ معنو په صورت كښې دَ جار مجرور تعلق «قادرين» سره دې. او تقديم دَپاره دَحصر دې. (ابو السعود، التحرير والتنوير)

فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوٓا إِنَّا لَضَآلُّونَ ﴿٢٦﴾ بَلْ نَحْنُ

پس هركله چه وئ ليدلوداباغ نواوئى وئيل بيشكه مونږخامخالاره وركه كړيده،بلكه دګناه پوجه مونږ

مَحْرُومُونَ ﴿٢٧﴾ قَالَ أَوْسَطُهُمْ أَلَمْ أَقُل لَّكُمْ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴿٢٨﴾

محرومه کړې شوى يو دَميوى نه، اووئيل مينځنى په هغوئ كښ آيا نه وؤ ويلې ماتاسوته ولې پاكى نه بيانوئ دَالله ﷻ

قَالُوا سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ إِنَّا كُنَّا ظَٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ

اووئيل هغوئ پاكى ده رب زمونږلره بيشكه مونږوؤظلم كونكى پخپله،پس مخ كړو(شروع شول)بعض دَهغوئ

عَلَىٰ بَعْضٍ يَتَلَٰوَمُونَ ﴿٣٠﴾ قَالُوا يَٰوَيْلَنَآ إِنَّا كُنَّا طَٰغِينَ ﴿٣١﴾

په بعضو باندې چه يو بل ته ملامته كول،اووئيل هغوئ هائې افسوس مونږلره بيشكه مونږتول وؤسركشى كونكى

عَسَىٰ رَبُّنَآ أَن يُبْدِلَنَا خَيْرًا مِّنْهَآ إِنَّآ إِلَىٰ رَبِّنَا

قريبه ده داچه رب زمونږ به بدل راكړى مونږ ته (په بركت دَتوبې)غوره باغ دَ دى باغ نه،بيشكه مونږخپل رب ته

رَٰغِبُونَ ﴿٣٢﴾ كَذَٰلِكَ الْعَذَابُ وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَكْبَرُ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٣٣﴾

رغبت كونكى يو .هم داسى وى عذاب دَدنيا ،اوخامخا عذاب دَآخرة ډيرلوئ دى دَدې نه، كچرته وي دوئ چه پوهيدلې

﴿فَلَمَّا رَأَوْهَا قَالُوٓا﴾ يعنى كله ئى چه باغ اوليدلو .چه هلته خو هيڅ هم نه وو .نو وى وئيل لكه چه مونږ لاره غلطه كړيده .بل ځائ ته راغلى وو .ليكن چه سوچ ئى اوكړو چه لاره خو هغه ده، نو اوئي وئيل چې لار مو نه ده غلطه كړې. بلكه حقيقت دا دې چه مونږ د خپل جرم په وجه محرومه شوى وو.

﴿قَالَ أَوْسَطُهُمْ﴾ ديكښې ورته يو دَيو ورو طرف ته تنبيه اوياددهانى ده په خطاء باندې. چې ګورئ داستاسو بدنيتى نتيجه ده، او دا كارمو غلط كړيدې .تاسو ته مامخكښې هم وئيلى وو چې داسې كارمه كوئ. « اوسطهم» يا پمعنى د خير سره دې. يعنى هغه ورور چې دوئ كښې دَدين اوعقل په اعتبار سره بهتر وو .اويا په معنى مينځنى سره دې.

﴿ لَوْلَا تُسَبِّحُونَ ﴾تسبيح نه مراد دلته نافرمانى اوګناه ترک كول دى ، ځكه چې ديكښې تنزيه ده الله ﷻ دَدينه چې په معصيت سره ئى نافرمانى اوكړې شى .اودغه شان ترغيب دې پكښې توبى ته، ځكه چې تسبيح تمهيددې دَپاره دَتوبې كما في قوله تعالى:فسبح بحمد ربک واستغفره. ﴿قَالُوا سُبْحَٰنَ رَبِّنَآ ﴾ داپه اول وهلة كښې اعتراف د جرم دې ، چې واقعى مونږ ظلم كړيدې . او د عبديت تقاضه هم دا ده چې انسان حيلې ،بهانې تلاش كولو په ځائ فوراً د خپل خطا اعتراف اوكړې.

﴿ فَأَقْبَلَ بَعْضُهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ﴾اعتراف جرم نه بعد ملامتيا ذكر كيږى. چې هر يو په بل باندې خبره اوچوله چې ستادلاسه داسې اوشو .لكه ځنګه چې عام عادت موافق څه كار ورانيدلو نه بعدخلق داسې كوى.

﴿ قَالُوا يَٰوَيْلَنَآ ﴾ملامتيا نه بعد اوس دَدې خبرې اعتراف دې چې مونږ ټول دې كښې برابر شريک يو،او ټولو له توبه اوباسل پكار ده، كيديشى چې الله ﷻ راباندې رحم اوكړى، مجاهد رحمه الله فرمائى چې دوئ توبه اوباسله نو الله ﷻ دوباره دَهغې نه غوره باغ وركړو بعض وائى چه دوئ دَدى په بدله كښې دآخرت ثواب اوغوښتلو(ابن كثير).

﴿ كَذَٰلِكَ ٱلْعَذَابُ﴾تنبيه ده خلقوته چه داخودَدُنيادَعذاب يوورکى نمونه وه،دَاخرت عذاب دَدى نه ډيرزيات دې،خوتاسونه پوهيږئ.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ جَنَّٰتِ ٱلنَّعِيمِ ﴿٣٤﴾ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ

بیشکه لپاره د پرهېزګارانو به نیزد رب د دوی جنتونه د عیش وعشرت دي. آیا نو او به ګرځوو مونږ مسلمانان

كَٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٣٥﴾ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ لَكُمْ كِتَٰبٌ فِيهِ

په شان د مجرمانو (کافرانو)؟ څه شوي دي تاسو لره. څنګه فیصله کوئ تاسو آیا شته دی تاسو لره کتاب چه په هغې کښې

تَدْرُسُونَ ﴿٣٧﴾ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴿٣٨﴾ أَمْ لَكُمْ

تاسو درس وایئ. چه بیشکه وي تاسو لره په هغې کښې خامخا هغه څه چه تاسو یې خوښوئ. آیا شته دي ستاسو لپاره

أَيْمَٰنٌ عَلَيْنَا بَٰلِغَةٌ إِلَىٰ يَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ إِنَّ

قسمونه چې لازم وي په مونږ باندې. چه رسیدونکې وي انتها ته (په تاکید کښې) هغه وي تر ورځ د قیامت پورې. چه بیشکه

لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴿٣٩﴾ سَلْهُمْ أَيُّهُم بِذَٰلِكَ زَعِيمٌ ﴿٤٠﴾

وي به تاسو لپاره هغه څه چه تاسو یې فیصله کوئ. تپوس اوکړه د دوی نه چه څوک په دوی کښې په دغه خبره باندې ذمه وار دې.

أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ فَلْيَأْتُوا۟ بِشُرَكَآئِهِمْ إِن كَانُوا۟ صَٰدِقِينَ ﴿٤١﴾

آیا شته دي دوی لره شریکان پس را دې ولي شریکان خپل کچرته وي دوی رښتني.

﴿ إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ عِندَ رَبِّهِمْ ﴾ دا مؤمنانو ته بشارت اخرویه دي.

﴿ أَفَنَجْعَلُ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴾ دې کښې زجر وتوبیخ دې مشرکینو ته. او د هغوئ په زعم رد دې، چې دوئ به وئیل چې اول خو به قیامت نه راځي. او که قیامت راغې . نو مونږ به هلته مال دار او معزز یو ، او د مسلمانانو نه به په غوره حالت کښې یو . استفهام انکاري دې، چې قیامت په ورځ چرته هم مؤمن او مجرم نشي برابر کیدې؟

﴿ مَا لَكُمْ كَيْفَ تَحْكُمُونَ ﴾ ام دې ره د انتقال دې، او دیکښې انتقال دې زجر او توبیخ نه د دوئ مذکوره قول په دلیل سره رد کولو ته، چې دوئ کومه خبره کوي د دې خلور وجهې کیدې شي:

(۱) دوئ سره به کتب سماویه وی هغې کښې به ئې داخبره لیدلی وی.

(۲) دوئ به مونږ سره دَ دې خبرې عهد ومعاهده کړې وي.

(۳) چاورله زمونږ طرف نه ددې ذمه داری به اغستې وی.

(۴) یا به دَ دوئ خود ساخته معبوذان ورله دا مقام ورکړی وی.

﴿أَمْ لَكُمْ كِتَابٌ﴾دیکښې دَاولې وجهې رد دې،یعنی دوئ سره په دې خبرې څه نقلی دلیل نشته،﴿ إِنَّ لَكُمْ فِيهِ لَمَا تَخَيَّرُونَ ﴾داجمله مفعول به ده دَپاره دَ ﴿تَدْرُسُونَ﴾،یعنی هغه کتاب کښې تاسودا لوستلی وی چې تاسو دَپاره به هغه څه وی چې څه ستاسو خوښه وی.او جمله چې کله مفعول به وي، نو دې په شروع کښې "أَنَّ" (بفتح الهمزه) وي ، "إِنَّ" (بكسر الهمزه) نه وي ، او دلته "إِنَّ" بکسر الهمزه دې ، ځکه چې دا جمله دلته محکي بلفظها ده ، او مطلب دا دې چې آیا تاسو یو داسې کتاب لولئ چې په هغې کښې داعبارت لیکلې وي چې ((ان لکم فیه لما تخیرون)) ، ﴿فیه﴾کښې "هاء" ضمیر مجرور((کتب)) طرف ته راجع دې، او دا دَ اول "فیه" دَ پاره تاکید دې.((تخیرون))بمعنی دَ "تختارون" سره دې.

﴿أَمْ لَكُمْ أَيْمَانٌ عَلَيْنَا﴾ دا دَ دویمې وجهې رد دې ، چې کیدې شی دوئ دا خبره دې وجهې نه کوی چې دوئ زمونږ سره عهد وپیمان کړې وی، چې قیامت په روځ به مونږ دوئ سره داسې معامله کوو،چې څنګه دوئ فیصله کول غواړی،لیکن دوئ خومونږ سره څه داسې عهد و پیمان نشته.

((لکم)) خبر مقدم دې، ((ایمان)) مبتدا موخر دې، ((علینا)) صفت اول دې دَ پاره دَ ((ایمان))، چې دا قسمونه پوره کول په مونږ لازم وی،﴿ بَالِغَةٌ ﴾صفت ثانی دې دَ ((ایمان)) یعنې تاکید او مضبوطئ کښې دا قسمونه انتهاء ته رسیدلی وی،﴿إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ﴾جار مجرور متعلق دې "ثابت" سره، چې "خبر" ورسره هم متعلق کیږی، مطلب دادې چې داقسمونه ترقیامته پورې قائم وی، ﴿إِنَّ لَكُمْ لَمَا تَحْكُمُونَ ﴾جمله جواب قسم دې، قسم اګرچې مذکورنه دې خوملحوظ دې، یعنی مونږ دا قسمونه خوړلی دی چې تاسوڅه فیصله خوښه وی زمونږ به په هغې عمل وی.

﴿سَلْهُمْ﴾دي كښې دَ **دريمي وجهې رد** دې . چې كيدې شي چا ورله د دې ذمه دارى اغستې وى؟ الله ﷻ فرمائى چې كه چا ورله ذمه وارى اغستې وى . نو اودې خائى چې څوك دې؟

﴿ أَمْ لَهُمْ شُرَكَآءُ﴾ديكښې دَ**څلورمې وجهې رد** دې، چې كيدې شي دوئ داخبره څكه كوئ چې دوئ بتان به ئى مدداوكړى اودامقام به ورله وركړى. « لهم » كښې لام اجليه دې، او مضاف محذوف دې اي لاجل نصرهم. ﴿فَلْيَأْتُوا ﴾الله ﷻ ورله جواب وركوى چې دغې سختى ورځې كښې به ورله شركاء هيڅ نفع ورنكړى.

يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ وَّيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ فَلَا يَسْتَطِيْعُوْنَ (٤٢)

په هغه ورځ چه كشف اوكړې شى دپنډئ نه اوراوبللې شى دوئ سجدى كولو نه نودوئ به بې طاقت اونه لرى

خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۗ وَقَدْ كَانُوْا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُوْدِ

ټيټې به وى سترګى دَدوئ خور به وى په دوئ ذلت،اوپه تحقيق وو به دوئ چه رابللې به شول سجدى كولوته

وَهُمْ سٰلِمُوْنَ (٤٣) فَذَرْنِيْ وَمَنْ يُّكَذِّبُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ

او دوئ روغ رمټ وو (بيا ئي هم سجده نه كوله)پس پريده ما اوهغه څوك چه تكذيب كوى پدى قرآن

سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِّنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُوْنَ (٤٤) وَأُمْلِيْ لَهُمْ

زرده چه په رورو به ونيسومونږدوئ پداسى طريقه چه دوئ به نه پوهيږى،اومهلت وركوم دوئ ته،

إِنَّ كَيْدِيْ مَتِيْنٌ (٤٥) أَمْ تَسْـَٔلُهُمْ أَجْرًا فَهُمْ مِّنْ مَّغْرَمٍ مُّثْقَلُوْنَ (٤٦)

بيشكه تدبيرخمامحكم دې آياغوارى ته دَدوئ نه مزدورى بدله نوپه دوئ دتاوان دَوجى نه بوج دې

أَمْ عِنْدَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُوْنَ (٤٧)

آيلشته دوئ سره علم دَغيب چه دوئ ئى ليكى.

﴿يَوْمَ يُكْشَفُ عَن سَاقٍ﴾داتخویف اخروی دې،چې قیامت په ورځ چې کله سختی شی دوئ به سجدې ته رااوبللی شی، خودوئ به سجده نشی کولې.سترګې به ئې د شرمه ټیټې وی، ذلت اورسوائی به پرې خوره وی،

«یوم» ظرف متعلق دې ﴿فَلْيَأْتُوا﴾ پورې، یا "اذکر" محذوف پورې. ﴿ یکشف عن ساق ﴾ بعض مفسرین فرمائی چې دا د متشابهاتو نه دې، او دینه مراد کشف ساق دې کمایلیق بشانه . او څنو پکښې تاویل کړې دې، چې دا کنایه ده دَ معامله سختیدلو نه، او دا تاویل دَ حضرت ابن عباس ﷺ مجاهد ﷺ ابراهیم نخعی ﷺ اونورو متقدمینو اودَخیر القرون اسلافو نه په صحیح سندونو سره مروی دې. تاویل ته بدعت وئیل او دې قائلینو باندې دَالحاد فتوې لګونکو حضراتو دَپاره لمحه فکریه ده چې داسې حضراتوپاره کښې به دوئ څه وائی؟ او دکومو سلفو د اتباع دعویداري کوي؟

﴿وَيُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ﴾یعنی کله چه داتجلی اوشی نوخلق به فرشتی یا الله ﷻ، سجدی کولو ته را اوغواړی، مسلمانان به سجده اوکړی، لیکن بعضې خلق به دَ سجدې طاقت نه لری، ابن مسعود ﷺوائی چه ملاګانې به ئې تخته شی، یوهډوکی به شی،جوړ به پکښې نه وی، کوزسترګی به وی،ذلیله به وی. دابه کوم خلق وی؟ دې باره کښې تفسیرونه مختلف راغلی دی:

(۱)ابن عباس ﷺاوابن جبیر ﷺنه نقل کړې شویدی چه دابه هغه خلق وی چه اذان به ئې اوریدلو او جمع مونځ ته به نه تلل.

(۲)دَ ابو سعیدخدری ﷺدَروایت مطابق هغه خلق په دنیاکښې دَ ریاء او خودنې دپاره مونځ کولو.

(۳)بعض وائی چه دینه مراد کافران دی.

﴿وَقَدْ كَانُوا يُدْعَوْنَ إِلَى السُّجُودِ﴾سجدونه مرادفرض مونځونه دی،دَدریم تفسیرمطابق ورنه مرادټول طاعات دی.

﴿ فَذَرْنِي وَمَن يُكَذِّبُ ﴾ دا تسلی ده نبی کریم ﷺ ته،چه دومره دلائلو،نصائحو او تخویفاتو باوجود، دوئ ایمان نه راوړی، نو ته ترینه بې غمه شه ،ما ته ئې پریګده، څه به

ورسره پوهه شم، ﴿ذرني﴾ داكنايه ده په طاقت لرلو د سزاوركولو .يعني ځوك چه تكذيب كوى نو ماته ئې پرېږده، ﴿بِهَٰذَا الْحَدِيثِ﴾اى بالقرآن، ﴿سَنَسْتَدْرِجُهُم﴾ استدراج: رو رو درجه وار كوزولو ته وائي،يعني مونږ به ئې مختلف اسبابو اواحوالو نه تيره وو. اوخپل عذاب او گرفت ته ئې را نيزدې كوو، «من حيث لايعلمون» يعني مونږبه ئې په داسې طورسره رو رو نيسو ، چه دوئ به نه پوهيږي چه دا زمونږ نيول دي،بلكه گمان به كوى چه دا زمونږ ترقي ده، دَ دې آيت پوره تفصيل اعراف(۱۸۲)كښې تيرشويدې هلته ئې اوګورئ.

﴿أَمْ تَسْأَلُهُمْ أَجْرًا فَهُم﴾دې آيتونو كښې مشركينوته زجر دې په ايمان نه راوړلو باندې . او دَ ايمان راوړلو په لار كښې چې كوم موانع دى دَهغې نفي هم كيږي،اودې آيت كښې داول مانع نفي ده،چې كله سړې دَپاره مالي تاوان مانع اوګرځي، ليكن ته خو دَ دوئ نه څه چنده او اجرت نه غواړې چې دوئ پرې تاواني كيږي.

﴿أَمْ عِندَهُمُ الْغَيْبُ فَهُمْ يَكْتُبُونَ﴾دې كښې دويم مانع نفي ده ،چې كله سړې دې وجهې نه ايمان نه راوړي چې څه ته ضرورت ئې نه وي،هغه ته خپله دَالله ﷻ طرف نه وحي كيږي، دَ هغه نبي اورسول ته احتياج نه وي ، ليكن دوئ سره څه وحي هم نشته ،"غيب" نه مراد وحي ده، فهم يكتبون:يعني دوئ هغه ليكي اوتاته ئې حاجت نشته.

فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ إِذْ نَادَىٰ وَهُوَ مَكْظُومٌ ﴿٤٨﴾
پس صبركوه ته دَحكم دَرب خپل اومه كيږه په شان دَمهي والا،كله ئې چه اواز اوكړوالله ته اوودې ډك دَغم نه،
لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ مِّن رَّبِّهِ لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ وَهُوَ
كچرته نه وې رسيدلې ده ته نعمت دَطرفه دَرب خپل نه نوخامخاغورځولې شوې به وې په صحراء،اووهٔبه دې
مَذْمُومٌ ﴿٤٩﴾ فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ ﴿٥٠﴾
ملامته كړې شوې پس غوره كړوده لره رب دَ ده پس اوئې ګرځولو دې دَ نيكانو نه

﴿فَاصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ﴾داتسلي ده اودَصبرحكم دې حضورﷺته،﴿وَلَا تَكُن كَصَاحِبِ الْحُوتِ﴾ دينه مراديونس عليه السلام دي،يعني لكه څرنګه چه يونس عليه السلام عجلت اوكړو، دَالله ﷻ دَحكم

راتلونه بغیر دَ ښار نه اووتلو، نو بطورتنبیه مونږه دَمهی په خیټه کښې قید کړو .نو ته دغه شان مکذبینو په معامله کښې تنګدلی مه کوه . (قصه دَیونس علیه السلام په سورة انبیاء وغیره کښې تیره شویده).

﴿إِذْ نَادَىٰ﴾ ندا نه مراد دعا خوښتل دی یعنی په خیټه دَمهی کښې ئې دادعااوئیله لاالٰه الاانت سُبحٰنک انی کنتُ من الظالمین(انبیاء:۸۷)﴿وَهُوَ مَكْظُومٌ﴾ای مملوءٌ غمًا(جلالین)دغم نه ډک وؤ، یادَغصی نه ډک وؤقوم ته چه دَ ده په دعوت سره ئې ایمان نه وؤراوړی(روح).

﴿لَّوْلَا أَن تَدَارَكَهُ نِعْمَةٌ﴾مراددَنعمةنه دَتوبې کولوتوفیق ورکول دی (کبیر) ﴿لَنُبِذَ بِالْعَرَاءِ﴾ یعنی په یوخالی اوبی اب وګیاه ځائ کښې به ئې غورځولې وؤ .اودې به قابل مذمت وې، نه به موبرې یقطین (کدو)اونه راخیژولې وه اونه به ورله رسالت ورکړې وؤ لیکن الله ﷻ ورباندې خپل رحمت اوکړو نوځکه دَدې ملامتیٔ نه بچ شو.

﴿فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ﴾یعنی الله ﷻ ئې توبه قبوله کړه، اوغوره ئې کړو، یعنی دَوحی اعاده ئې ورته اوکړه ورستودَانقطاع نه.﴿فَجَعَلَهُ مِنَ الصَّالِحِينَ﴾ای من الکاملین فی الصَّلاح،یعنی کامل اصلاح ئې ورله اوکړه،بعض وائی داتفسیردې دَ﴿فَاجْتَبَاهُ رَبُّهُ﴾.

وَإِن	يَكَادُ	الَّذِينَ	كَفَرُوا	لَيُزْلِقُونَكَ	بِأَبْصَارِهِمْ	لَمَّا		
اوبه تحقیق سره شان دَخبری دادې چه قریب دی کافران خامخا او به خویه وی تاله په سترګوخپلوسره، هرکله چه								
سَمِعُوا	الذِّكْرَ	وَيَقُولُونَ	إِنَّهُ	لَمَجْنُونٌ ﴿٥١﴾	وَمَا	هُوَ	إِلَّا	
دوئ اوری قرآن،اووائی		دوئ چه بیشکه دانبی ﷺ خامخالیونې دې،اونه دې داقرآن مګر						
ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٥٢﴾								
نصیحت دې دپاره دټولوخلقو.								

﴿وَإِن يَكَادُ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ دا دَمشرکانو دَقرآن او دَحضورﷺ سره دَعداوت بیان دې.چه دوئ قرآن واؤری نودومره په غصَی سره تاته گوری چه قریب وی چه تا پخپلو سترگو سره اوښویه وی .(۱) دا یادَمحاوری مطابق وئیلی شویدی،لکه خلق وائی فلانې داسی گوری لکه چه خوری می، لکه نظرالیّ نظراً یکاد یصرعني او یکاد یاکلني (۲) یامراد دینه نظربازان دی، یعنی دوئ دا کوشش کوی چه نظره دې کړی اوهلاک دې کړی.

روایت دې چه په بنی اسدکښ نظر بازان وو،بعضوپکښ اراده اوکړه چه نبی کریمﷺ نظره کړی نو دا آیت نازل شو (روح).

حسن بصری رحمه الله وائی څوک چه نظره شوې وی دا آیت لوستل دَهغه نه ضرر دفع کوی،دی آیت کښ دلیل دې په دې چه نظرلگیدل اودَهغی اثرحق دې،په دې باره کښ ډیرحدیثونه راغلی دی، په یوحدیث کښ دی: انّ العین حق(ابن کثیر)ابن عباس رضی الله عنه فرمائی حضورﷺ به حضرات حسنین پدې دعاء سره دم کول: أُعیذکمابکلمات الله التّامة من کلّ شیطانٍ وهامةٍ،ومن کلّ عینٍ لامةٍ،دی نه علاوه نور ډیر احادیث ابن کثیروغیره دی باره کښ ذکرکړیدی.

﴿ وَيَقُولُونَ إِنَّهُۥ لَمَجْنُونٌ ﴾ یعنی دَډیرعداوت په وجه تاته مجنون وائی،حالانکه مجنون داسی کلام نشی کولې چه ته ئی کوی، دا خو نه دې مگر ټولو خلقوُ دپاره نصیحت دې.

رکوعاتها (۲)	سورة الحاقة مکیّة	آیاتها (۵۲)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۶۹) وحسب النزول (۷۸)

نزلت بعد الملک وقبل المعارج

ربط: مخکی سورة کښې وؤچه دَتوحیدپه مسئله کښې نرمی مه کوئ ﴿وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ﴾ اوس دی سورة کښې دَدی بیان دی چه کوم کسانِ دامسئله نه منی حال دَهغوئ به په شان دَحال دَثمود،عادوی.

خلاصه: دَتخویف دنیوی پنځه نمونی،تخویف اخروی،بشارت اخرویه،دعوه دَسورة چه ﴿فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ﴾.

اَلْحَاقَّةُ ۝۱	مَا	اَلْحَاقَّةُ ۝۲	وَمَآ	اَدْرٰىكَ	مَا	اَلْحَاقَّةُ ۝۳
هغه خامخا راتلونکې،	څه دې	هغه خامخا راتلونکې،	اوڅه	پته ده تاته	چه څه دې	هغه خامخاراتلونکې

﴿ اَلْحَاقَّةُ ۝ مَا اَلْحَاقَّةُ ۝ ﴾ داتخویف دې توحیدنه منونکوته،چه قیامت یقینی راتلونکې دې چه هغه ډیرلوئ آفت دې،دَهغی دَراتلونه مخکښې تَوحیدمنل پکاردی.

﴿ اَلْحَاقَّةُ ﴾ دَقیامت په نومو کښې یو نوم دې، دَ"حقّ یحقّ" نه اسم فاعل صیغه ده، یقینی امر ته وائی، او قیامت ته هم "حاقة" په دی وجه وائی: (۱)چه قیامت هم یقیناًبلاشک واقع کیدونکې دې، (۲)امورحقّه لکه بعث حشرحساب کتاب میزان پکښې واقع کیږی(۳)حقیقت دَ اعمالو پکښې معلومیږی(روح،ابن کثیر).

﴿ ٱلْحَآقَّةُ ﴾مبتداء دي، ‹‹ما›› استفهاميه مبتداء ثاني دي﴿ ٱلْحَآقَّةُ ﴾خبردي.جمله خبردي د﴿ ٱلْحَآقَّةُ ﴾ مبتداء.جمله چه کله خبر وی نودَعائد نه لابدی وی،نوپه اصل کښ ماهی دي،وضع دَ ظاهر په ځائ دَضميرلپاره دَتهويل اودَعظمت شان شويده.

﴿ وَمَآ أَدْرَىٰكَ مَا ٱلْحَآقَّةُ ﴾ "ومَاادراک کذا"داتعبير بطور ضرب المثل بيانيږي دَيوشی عظمت اوتهويل دَپاره، چې دادومره عظيم الشان يا هولناک شې دي چې ستا ذهن دَدې عظمت يا هولناکۍ ادراک نشی کولې،دې وجهې نه مخاطب که مذکروی اوکه مؤنث،واحد اوکه تثنيه يا جمع،صيغه دَواحد مذکر ورله راوړلې کيږي. ‹‹ما›› دواړو ځائيونو کښ استفهاميه ده، اوله ‹‹ما›› مبتدا دې، ‹‹ادراک›› ‹ادرى› فعل درې مفعوله غواړي،ک ضمير ورله مفعول اول دې. او‹‹ماالحاقة›› مبتدا خبر جمله ورله دَدوؤ مفعولو قائم مقام ده.اوداپوره جمله بيا خبرواقع کيږي دَاولې ‹‹ما››نه

كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌۢ بِٱلْقَارِعَةِ ﴿٤﴾ فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهْلِكُوا۟ بِٱلطَّاغِيَةِ ﴿٥﴾
تکذيب اوکړو ثموديانو او عاديانو په ټکوؤنکې (قيامت) .هرچه ثموديان وؤنو هلاک کړې شول په چغې تيزې سره،
وَأَمَّا عَادٌ فَأُهْلِكُوا۟ بِرِيحٍ صَرْصَرٍ عَاتِيَةٍ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا عَلَيْهِمْ سَبْعَ
اوهرچه عاديان وؤنو هلاک کړې شول په داسې هوا تيزې سره چه دَ قابونه بهر وه ، مسلط شوې وه په دوئ ووه(٧)
لَيَالٍ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومًا ۖ فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا صَرْعَىٰ كَأَنَّهُمْ
شپې اواته (٨) ورځې ، پرله پسې(مسلسل) ، نو ليدلې به تاقوم عاد په هغې کښ مړه پراته په زمکه،لکه دوئ
أَعْجَازُ نَخْلٍ خَاوِيَةٍ ﴿٧﴾ فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ ﴿٨﴾
تنې وې دَ کهجورو غورځيدلو ، نو آيا وينې ته دَ هغوئ نه څوک پاتې؟

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ وَعَادٌ ﴾دادَتخويف دنيوى اوله اودويمه نمونه ذکر کيږي، اوله نمونه ئې قوم ثمود ده او دويمه نمونه ئې قوم عاد ده، اوالله ﷻ مشرکينوته خودل غواړي چې دومره

دلائلونه ورستو هم كه تاسو ايمان نه راوړئ. نو دَقوم ثمود او عادانجام خپل مخې ته کړئ. چې څه موهغوئ سره کړي وؤ تاسو سره به هم هغه شان اوکړم

﴿بِٱلۡقَارِعَةِ﴾ القارعتهم دَقيامت نوم دې،دَ قَرَعَ يقرع نه مشتق دې. ټکولوته وائی.اوقيامت ته قارعه څکه وائی چې دا ورځ به آسمانونه ، نور اوسپوګمئ ټول اوټکوی اوريزه ريزه به ئې کړی.

﴿فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ﴾دیکښې په قوم ثمود باندې دَعذاب تفصيل بيانيږی، دا مخکښې په تفصيل سره تير شويدی چې قوم ثمود باندې درې قسمه عذاب نازل شوې وؤ (۱) زلزله (۲) تندر (۳) چغه، اودلته ذکر دَ «طاغية» شوې دې، داځه بل مستقل عذاب نه دې. بلکه صيغه اسم فاعل ده، پمعنی دَحدنه شرکشه اوتجاوز کونکې.اوصفت دې دَپاره دَموصوف محذوف ، بعضو ورله موصوف "الصيحة"محذوف رااوباسلې دې. يعنی داصيحه عام چغه نه وه، بلکه ډيره تيزه وه چې څه حدئی نه وؤ،او بعضو ورله "الرجفة" محذوف رااوباسلې دې. يعنی داڅه معمولی زلزله نه وه، بلکه ډيره تيزه زلزله وه ،اوځنو مفسرينو ليکلی دی چې «الطاغية» مصدر دې په وزن دَاسم فاعل، او"باء" سببيه ده، اي: فاهلكوا بسبب طغيانهم يعنی دَ خپل سرکشئ په وجه هلاک شو.

﴿وَأَمَّا عَادٌ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٍ صَرۡصَرٍ﴾دیکښې قوم عاد باندې دَعذاب تفصيل ذکر کيږی، بريح صرصرتيز چليدونکی اوتيز آواز اوباسونکی يا ډيره يخه هوا ،تفصيل ئی مخکښې تير شويدې،﴿عَاتِيَةٖ﴾ دَ "عتو" نه دې، سر کشئ نافرمانی اوسخت تکبر ته وائی، اودلته ترينه مراد دَ حد نه تيزه هوا ده،څکه چې داهم چا قابوکښې نه وی، اونه ترينه څوک بچ کيدی شی،بعض مفسرينو دلته حقيقی معنی مراد اغستې ده ،چې دا هوا نافرمانه وه، څکه چې کومه فرشته په دې مامور ده، دا دهغې اجازت نه بغير بې اندازې راوتلې وه. كما اشاراليه البخاري تعليقا.

﴿سَخَّرَهَا﴾ "تسخير" زبردستئ په يوکارباندې لګولوته وائی ، چونکه هوا دَ معمول خلاف وه، ګويا داپه دې مجبوره کړې شوې وه، څکه "سخرها" راوړلې شو.

﴿حُسُومًا﴾ حسوم په دوؤ معنو کښ استعمالیږی: (۱) مسلسل یعنی داهوا اوه (۷) شپې اواته (۸) ورځی مسلسل په دوئ اوچلیده، (۲) قطع کونکې. یعنی داسې هوا چې دوئ نوم نشان ئې ختم کړو. (۳) بعضو ئې معنی سپیره والی سره هم کړې ده (روح)

﴿فَتَرَى ٱلْقَوْمَ فِيهَا﴾ فاء تفریعیه ده، یعنی دې عذابٌ نتیجه دا شوه چې داټول هلاک شول، ﴿فیها﴾ ضمیر مجرور "ایام" او "لیال" ته راجع دې، ﴿صرعى﴾ جمع د "صریع" ده، یعنی مړه پراته، ﴿اعجاز نخل﴾ یعنی داسې ښکاریدل لکه د کهجورو بیخونه چا رااوباسلی وی، اوپه زمکه ئې غورځولی وی، دې تشبیه تفصیل مخکښ په سورت القمر کښ تیر دې، هلته ئې اوگورئ. ﴿خَاوِيَةٍ﴾ پمعنی د "خالية" سره ده، "ډډ" چې د ننه نه خالي وی. دا هوا په يوطرف نوته او بل طرف به ترینه راوتله، او یاپه پمعنی د "ساقطة" سره ده. یعنی دابیخونه چا راوباسلی وی اوبیا ئې په زمکه غورځولی وی.

﴿فَهَلْ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٍ﴾ یااسم فاعل دې، موصوف ئې محذوف دې ای من نفسٍ باقیة، یا مصدر دې، په وزن داسم فاعل، ای هل ترىٰ لهم من بقية. یعنی ته ددوئ څه نوم نشان گورې.

وَجَآءَ	فِرْعَوْنُ	وَمَن	قَبْلَهُۥ	وَٱلْمُؤْتَفِكَٰتُ	بِٱلْخَاطِئَةِ	٩
او راغلې فرعون اوهغه خوک چه مخکښ ووډفرعون نه، اوکلی اولته کړې شوی په گناه سره.						
فَعَصَوْا	رَسُولَ	رَبِّهِمْ	فَأَخَذَهُمْ	أَخْذَةً	رَّابِيَةً	١٠ إِنَّا
نو دوئ نافرمانی کړې وه درسول درب خپل، نو اونیول دوئ لره الله ﷻ په نیولوسختوسره، بیشکه مونږه						
لَمَّا	طَغَا	ٱلْمَآءُ	حَمَلْنَٰكُمْ	فِى	ٱلْجَارِيَةِ	١١
کله چه سرکشی اوکړه اوبو سواره کړل مونږ (پلاران) ستاسو په کشتئ دنوح کښې.						
لِنَجْعَلَهَا	لَكُمْ	تَذْكِرَةً	وَتَعِيَهَآ	أُذُنٌ	وَٰعِيَةٌ	١٢
چه اوگرځو مونږدغه قصه تاسولپاره نصیحت اوبادیې اولری غوږونه یادونکی.						

﴿وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ﴾ دا دريمه نمونه ده، دَتخويف دنيوي، چه دَرسول په نافرمانئ سره فرعون او نور قومونه مونږ هلاک کړل، نو تاسو هم دَ هغوئ نه عبرت واخلئ ﴿وَمَن قَبۡلَهُۥ﴾ قوم نوح، قوم عاد، قوم ثمود وغيره مراد دي، نو پدې کښې تعميم بعد التخصيص دې.

﴿وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ﴾ دا څلورمه نمونه ده، مراد ورنه قوم لوط دې، يعنې لوط عليه السلام قوم په ګناهونو اصرار او دَ پيغمبر تکذيب ئې اوکړو، نو الله ﷻ پرې روغ کلي الټه کړو، نو که تاسو هم داسې کوئ نو دَدوئ به شان نه موالله ﷻ هلاک کړي.

﴿بِٱلۡخَاطِئَةِ﴾ مصدر دې په وزن دَاسم فاعل، متعلق دې دَ«جاء» سره. ﴿أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً﴾ دَ «ربو» نه مأخوذ دې، اى زائدة فى الشدة، يعنې مخکې قومونو نه ئې عذاب سخت وؤ

﴿إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ﴾ دا پنځمه نمونه ده دَ تخويف دنيوى، چې قوم نوح دَ نوح عليه السلام نافرمانى اوکړه، نو اوبو سيلاب مو پرې راوستو، اومکذبين خو ټول هلاک کړو، او کومو خلقو پرې ايمان راوړې وو، هغه موبچ کړو، چې هغوئ نسل کښې تاسو يئ، نو که اوس تاسو هم نافرمانى کوئ، نو الله ﷻ خو به هلاک کړي.

﴿طَغَا ٱلۡمَآءُ﴾ يعنې حد معتادنه ئې تېجاوزاوکړو، حتّى چې دَغرونونه پنځلس پنځلس ګزه اوچتې وې. ﴿حَمَلۡنَٰكُمۡ﴾ اى حملنا اباءكم، ﴿فِي ٱلۡجَارِيَةِ﴾ يعنې په کشتئ دَنوح عليه السلام کښې، ﴿لِنَجۡعَلَهَا﴾ ضمير يا کشتئ ته راجع دې، يا قصې ته راجع دې.

فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ۝ وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ
پس کله چه پوه کړې شي په شپیلئ کښې، صرف يو پوه ، او پورته کړې شي زمکه او غرونه
فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ۝ فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ۝ وَٱنشَقَّتِ
بيا مات کړې شي په يو درز سره ، نو په دغه ورځ به واقع شي واقع کيدونکې قيامت او مات مات به شي
ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ۝ وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ
آسمان نو دې به په دغه ورځ کمزورې وي او فرشتې به په طرفونو دآسمان وي، او اوچت کړې به وي عرش

تُعْرَضُوْنَ	يَوْمَىِٕذٍ	⑰	ثَمٰنِيَةٌ	يَوْمَىِٕذٍ	فَوْقَهُمْ	رَبِّكَ
درب ستا، دَ ځان د پاسه په دغه ورځ، اته فرشتو . په دغه ورځ به پیشی کیږی ستاسو «حضور دَالله ﷻ ته»						

لَا تَخْفٰى مِنْكُمْ خَافِيَةٌ ⑱

نه به وی پټ ستاسو نه (په الله باندی) څه پټ شي

﴿ فَإِذَا نُفِخَ فِى ٱلصُّورِ ﴾ داتخويف اخروى دي،چي كه دوئ ايمان نه راوړی، نو داسې هولناكه ورځ را روانه ده چي هغې كښ به دوئ دَالله ﷻ دَعذاب نه بچ نشی،په ديكښ دَ قيامت احوال بيانيږی، څه د وقوع احوال دی،څه دَوقوع نه بعد حساب كتاب اوحوال دی، او څه حساب كتاب نه بعد سزااوجزاء احوال دی.

﴿نَفْخَةٌ وَٰحِدَةٌ ﴾دا دَ قيامت **اول حالت** بيان دي ، چي پوشپيلئ به اوهلې شی.

﴿ وَحُمِلَتِ ٱلْأَرْضُ ﴾**دويم حالت** بيان دې چي زمكه اوغرونه به پورته كړې شی.

﴿فَدُكَّتَا دَكَّةً وَٰحِدَةً ﴾**دريم حالت** بيان دې،چې فضا كښ به يوبل له راپريخودلې شی، او يو درز سره به زمكه او غورونه دړې وړې شی، "دک"يو شې بل له راپريخودلو ته وائی،نو زمكه او غروته به يوبل له راپريخودلې شی، او دواړه به ريزه ريزه شی، او دَ غر او زمكې فرق او تميز به نه كيږی، ټول به برابر وی.

﴿ فَيَوْمَئِذٍ ﴾دا **څلورم حالت** دي، چې دغه وخت به قيامت قائم شی "يوم" په معنى دَ "حين" سره دې، مطلق وخت ترينه مراد دې. •

﴿وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ ﴾دا **پنځم** او **شپږم** حالت بيان دې، چې آسمانونه به مالوچو پشان بالكل پاسته اوكمزورې به وی،داسې به نه وی لكه نن چې څنګه مضبوط ښكاری، او بيا به دا آسمان هم دړې وړې شی،﴿وَاهِيَةٌ ﴾دَ "وهي" نه مشتق دې، "وَهيّ" او "وهن"دواړه په يوې معنى كښ استعماليږی،كمزورئ ، ضعف، فتور، وغيره معنې ئی راځی، خو "وهي"دَغير ذوی العقول دَپاره استعماليږی او "وهن" دَذوی العقول دَپاره.

﴿وَٱلْمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرْجَآئِهَا﴾دا اووم حالت بیان دي . چې آسمان په ټکړې کیدو شروع شي. نو فرشتې به ئې اطرافو اواکنافو ته لاړې شي،«والملکُ» نه جنس فرشته مراد دي.﴿ أَرْجَآئِهَا ﴾ "ارجاء" جمع دَ "رجا"ده، اطراف اوجوانب ته وئیلی کیږي ،او"ها"ضمیرآسمان ته راجع دي
دا وه(٧) حالات دَ قیامت وقوع وؤ، اوس دینه بعد دَ حساب کتاب حالات بیانیږي.

﴿وَيَحْمِلُ عَرْشَ رَبِّكَ فَوْقَهُمْ يَوْمَئِذٍ ثَمَٰنِيَةٌ﴾دااول حالت دي. دَ حساب کتاب شروع کیدلو دَ پاره به اته فرشتې به خپلوسرونو عرش الهی راغستې راوړي. اوفیصلی اوحساب کتاب دَ پاره به ئې اولګوي،
دَدې اته فرشتو په احادیثو کښ عجیب وغریب کیفیت بیان شوې دې، ابوداؤد شریف کښ راځي چې د غوږنونرمې حصې نه تر اوګو پورې دومره فاصله وی چې هغه په اووه سوه (٧٠٠) کالوکښ طې کیږي، اوبعضو روایاتو کښ داهم راغلیدی چې دامسافت دَمرغئ الوتلو رفتار سره دې.

﴿يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ﴾دویم حالت دي، چې عرش الهی لګیدلونه بعد به حساب کتاب او خلقو پیشې به شروع شي،﴿لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ﴾دادریم حالت دي، چې حساب کتاب نه به نه څوک خپل ځان پټولې شي، اونه خپله څه ګناه یاغلطي، "خافية"صیغه دَواحد مؤنث اسم فاعل ده،اوصفت دې دَپاره دَموصوف محذوف،چې هغه، "فعلة"یا "نفس" دې.
فائده: بعض ضعیف روایاتو کښ راغلي دي چې دَقیامت په ورځ به درې ځله پیشی کیږي:
(١)اول ځل چې پیشی اوشی، نودې کښ به بنده جدل اوجدال کوی چی مونږ ته انبیاء نه وؤ راغلی، دَ خپلو ګناهونو نه به انکار کوی وغیره، په دې پیشئ کښ به دَدوئ فیصله اونشی.
(٢)دینه بعد به دویم ځل بیادَدوئ پیشی اوشی،دیکښ به دوئ دَخپلو ګناهونو اعتراف اوکړي، خو عذر او بهانی به هغې دَپاره کوي، چې په غلطئ سره مې کړی دی ګناهونه، یا را باندې زبردستی شوې وه وغیره،دې ځل به هم فیصله اونشی.

﴿۳﴾ دينه بعد به دريم خل پيښي اوشي، اعمال نامې به ورته ورکړې شي، د دوئ هر قسم دلائلو او اعذارو جوابونه به ورکړې شي ، او د جنت جهنم فيصله به اوشي

فَاَمَّا	مَنْ	اُوْتِيَ	كِتٰبَهٗ	بِيَمِيْنِهٖ	لا	فَيَقُوْلُ

پس هرهغه څوک چه ورکړې شي هغه ته اعمال نامه دهغه په ښي لاس دهغه کښ. نو وائي به ﴿د ډيرې خوشحالئ نه﴾

هَآؤُمُ اقْرَءُوْا كِتٰبِيَهْ ۝۱۹ اِنِّيْ ظَنَنْتُ اَنِّيْ مُلٰقٍ حِسَابِيَهْ ۝۲۰ فَهُوَ

واخلئ اَلوَلئ عملنامه ځما بيشکه ځما يقين وو چه زه ملاقات کونکې يم د حساب خپل سره، پس وې به دې

فِيْ عِيْشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝۲۱ فِيْ جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ۝۲۲ قُطُوْفُهَا دَانِيَةٌ ۝۲۳ كُلُوْا

په ژوندخوشحاله کښ.په جنت اُوچت کښ به وي ميوې دجنت به نيزدې وي ده ته ورته به اوونيل شي خورئ

وَاشْرَبُوْا	هَنِيْٓـئًا	بِمَآ	اَسْلَفْتُمْ	فِي	الْاَيَّامِ	الْخَالِيَةِ ۝۲۴

څکئ په خوندخوند سره په وجه دهغه نيکوعملونوچه کړې وو تاسو په ورځو تيرو شوو کښ

﴿فَاَمَّا مَنْ اُوْتِيَ كِتٰبَهٗ بِيَمِيْنِهٖ﴾ دې ځائ نه بعداز حساب وکتاب د جنتيانو احوال بيانيږي، او دا ئې اول حالت دې، چه دوئ ته به دقيامت په ورځ اعمال نامه په ښي لاس ورکولې کيږي چه دابه دهغوئ دفلاح اونجات علامه وي،دوئ به خوشحاله وي هرچاته به خپله اعمال نامه ښائي﴿هَآؤُمُ ﴾د هاء او ميم مضمومه نه مرکب دې،هاء اسم فعل دې، بمعنى د خذ سره، او ميم ورسره علامت دجمعې دې، ﴿كِتٰبِيَهْ ﴾مفعول به دې اوتنازع ده پکښ﴿ هَآؤُمُ﴾ او﴿ اقْرَءُوْا﴾ دوارو فعلونو ،بصريانوپه نيز فعل ثانى له عمل ورکول مختار دى، او کوفيانوپه نيز فعل اول له،او ياء په کتابيه کښ ضمير مجرور د متکلم دې، او هاء ضمير نه دې بلکه ياء سکته ده، چې وقف په حالت کښ سکته کولې کيږي،دغه حکم د حسابيه ، ماليه، او سلطانيه هم دې.

﴿ اِنِّيْ ظَنَنْتُ ﴾ ظن يا بمعنى دعلم سره دې، يعنى څه دنيا کښ مؤمن اومسلمان وم، او ځما يقين اوعقيده وه چې قيامت به واقع کيږي اوحساب کتاب به کيږي،يا ظن خپلې

حقيقي معنی کښ دې،اوحساب نه مراد حساب یسیر دې چې ظن اوغالب ګمان دا وو.چې الله ﷻ به ما رحم کوي اوآسان حساب کتاب به راسره کوي.

﴿فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ﴾دائی حساب کتاب نه بعد دویم حالت دې چې په ماقبل باندې متفرع دې، اعمال نامه ورته ښې لاس کښ میلاؤیدلو په نتیجه کښ به دې الله ﷻ جنت داخل کړی،اوهلته به دَ راحت، اسائش اودَ مزو خوندونو ژوند به تیره وی

﴿راضية﴾ صیغه دَمؤنث راوړلې شویده اوضمیر پکښ راجع دې «عیشة» ته، او دا مجاز في الاسناد دې، حقیقت داسې دې في عیشة راض صاحبها. (۲)بعضو «راضية» پمعنی دَمفعول "مرضيٌ" سره اغستې دې، خونده ورې زندګئ کښ به وی. (۳) خنوونیلی دی چې «راضية» فاعل ذي کذا دې، چې نسبت باندې دلالت کوی لکه لابن ،تامر،او راضية معنی "ذات رضا" ده. ﴿فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ﴾یعنی په اُوچت جنت کښ به وي، ځکه چه جنت په آسمان کښ دې. ب مضاف محذوف دې، ای: عالیةِ درجاتها، په حدیث کښ دی: الجنة مائة درجة، کل درجة منها ما بین السماء والأرض...(ابن ماجه:۴۳۳۱) د جنت سل(۱۰۰) درجې دی، او هر دوو درجو په مَا بین کښ دومره فاصله ده لکه اسمان اوزمکه.

﴿قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ﴾یعنی میوی دَجنت به دومره قریبی وی چه په ولاړه،په ناسته،په ملاسته به ئې شوکولې شی، اونو ته دَ ختلوضرورت به نه وی.

﴿كُلُوا وَاشْرَبُوا﴾ دینه مخکښ "یُقال لهم" مقدردې﴿هَنِيئًا﴾ صفت دې دَمفعول مطلق مقدر ای: اکلاًهنیئًا ، یا حال دې دَضمیر دَ ﴿كُلُوا وَاشْرَبُوا﴾ نه، یعنی اوس په جنت کښ ښه بې غمه خوراک څکاک کوئ، نه بیمارئ شته، نه مرګ،نه شوګرنه بلډپریشر،په حدیث کښ دی چې جنت کښې به ورته اعلان اوشي چې: إِنَّ لَكُمْ أَنْ تَصِحُّوا فَلَا تَسْقَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَحْيَوْا فَلَا تَمُوتُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَشِبُّوا فَلَا تَهْرَمُوا أَبَدًا، وَإِنَّ لَكُمْ أَنْ تَنْعَمُوا فَلَا تَبْأَسُوا أَبَدًا (مسلم).

﴿فِي الْأَيَّامِ الْخَالِيَةِ﴾ مراد تیرینه دنیا زندګی ده، "الخالية"یا په معنی "الماضية" سره دې، یعني تیرې شوې ورځې،او یا په خپلې معنې کښ دې، او مطلب داچې دَ شهواتو او لذائذو نه خالی ورځې،ددې وجهی نه مجاهد رحمه الله ئی تفسیر په روژو سره کړیدې.

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي

اوهغه څوک چه ورکړې شی هغه ته عملنامه دهغه په چپ لاس دَ هغه کښ.نووائی به هاې کاش چې ما ته

لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَٰلَيْتَهَا

نه وې راکړې شوې علمنامه ځما،او نه وې پته ما ته چه څه دې حساب ځما.هاۍ آفسوس

كَانَتِ ٱلْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنِّى مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّى سُلْطَٰنِيَهْ ﴿٢٩﴾

چې دامرګ ختمونکې وې مالره،هیڅ فائده رانکړه ماته مال ځما بربادشوه ځمانه بادشاهی ځما

خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾ ثُمَّ ٱلْجَحِيمَ صَلُّوهُ ﴿٣١﴾ ثُمَّ فِى سِلْسِلَةٍ

حکم به اوشی فرشتوته،اونیسئ دې بیا طوق واچوئ ورته،بیاپه جهنم کښ داخل کړئ دې،بیاپه زنځیرکښ

ذَرْعُهَا سَبْعُونَ ذِرَاعًا فَٱسْلُكُوهُ ﴿٣٢﴾

چه اُوږدوالې دَهغی اویاګزه دې پس ننباسئ دې

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ﴾ دیکښ د **جهنمیانو احوال** بیانیږی **بعد از حساب و کتاب،** چې کله حساب کتاب اوشی، نودوئ ته به اعمال نامه په چپ لاس میلاو شی، نو دوئ به ډیر پریشانه اوخفه شی اوتمنا به کوی،چې هډوسره ماته میلاؤ شوې نه وې ، اوڅه دَخپل انجام نه خبر نه وې،کاش چې مرګ سره هر څه ختم شوې وې.

﴿ وَلَمْ أَدْرِ﴾عطف دې په﴿لَمْ أُوتَ ﴾ یعنی افسوس چه ماته دَخپل حساب پته هم نه وې، ځکه چه دا دَ غم خبردې او دَ غم خبرنه چه سړې بالکل خبرنشی نو دا ښه وی.

﴿ يَٰلَيْتَهَا﴾ضمیرراجع دې مرګ ته،یعنی هاۍ افسوس چه دامرګ مالره ختم کونکې وې، او دوباره نه وې ژوندې شوې، مرګ اګرچه ماقبل کښ نه دې ذکرلیکن دَ وجې دَظهورنه کالمذکور دې (کبیر).

﴿ مَآ أَغْنَىٰ ﴾ما نافیه ده﴿مَالِيَهْ ﴾ما موصوله په محل د رفع کښې فاعل دې د اغنی. او لیه جار مجرور سره د متعلق نه ئې صله ده ،او هاء د پاره د سکتې ده ، یعنی هغه شئ ماته هیڅ فائده رانکړه چه په دنیاکښې ماسره وؤ، لکه مال اتباع وغیره.یا مال مضاف دې ی متکلم طرف ته،یعنی څمامال ماته څه فائده رانه کړ«روح».

﴿هَلَكَ عَنِّي سُلْطَٰنِيَهْ ﴾ سلطان نه مراد یاحجت اودلیل دې. یعنی کوم حجت چه په دنیا کښې ما نیولې وؤ، هغه حجت باطل شو، یا مطلب دادې چه څما د نجات څه دلیل پاتې نه شو. یا ورنه مرادرُعب اودبدبه اوبادشاهی ده په خلقو.

﴿خُذُوهُ ﴾دیکښې دَجهنمیانُو دویم حالت بیان دې،چې کله ورته اعمال نامې په چپ لاس میلاؤ شی، نو دَې نه ورستو به الله ﷻ فرشتوته حکم.اوکړی چې دوئ جهنم ته اوغورځوئ. فرشتې به ئې راونیسی، مرئ کښې به ورله طوقونه واچوی، بیابه ئې اوګدو اوګدو زنځیرونو کښې بند په بند اوتړی، او جهنم ته به ئې اوغورځوی ﴿خُذُوه ﴾نه مخکښې یقول الله للزبانیة مقدر دې. ﴿فَغُلُّوهُ﴾ دَغل نه دې، طوق ته وائی یعنی طوق ورته واچوئې.

﴿ثُمَّ الْجَحِيمَ﴾ "ثم" دَ تراخی رتبی دَپاره دې یعنی طوق اچولونه غټ عذاب جهنم ته غورځول دی.

﴿ ثُمَّ فِي سِلْسِلَةٍ﴾ دلته هم ثم دَ تراخی رتبی دپاره دې ، تراخی ذکری لپاره نه دې ،او دامطلب نه دې چې اول به جهنم کښې اوغورځولې شی، او بیا په زنځیرونو اوتړلې شی، بلکه ثم دَ تراخی رتبی دَپاره دې ،چې هسې بغیر دَ زنځیرونو جهنم ته داخلول نه، لوئ عذاب زنځیرونو کښې جهنم ته ننباسل دی. ﴿سِلْسِلَةٍ ﴾ زنځیرته وائی،تنوین پکښې تفخیم لپاره دې، دَابن عباس﷛نه مروی ده چه کچرته دَ دی رنځیریوه حلقه (کړئ) په غره باندی کیخودلې شی نو غر به دَ تانبې په شان ویلې شی.﴿ذَرْعُهَا ﴾د ذرع نه مراد اندازه اومقدار دې، او ذراع نه ګز مراد دې، یعنی اندازه اومقدارئې طولاً به اویا(۷۰)ګزه وی،بعض وائی دلته عدد مقصود

نه دي، بلکه مراد ورنه مبالغه ده په طول کښې، کماقال تعالى ان تستغفرلهم سبعين مرةً «التوبة ٨٠».

﴿فَاسْلُكُوهُ﴾ای فادخلوهُ (روح) په زنځير کښې داخلولو مطلب دا دې چه زنځير دَ ده ، دَ ټول بدن نه تاؤ راتاؤ کړئ، او بند په بند ئې اوتړئ، نودې به ئې په مينځ کښې راشي ، او داسې به شي لکه چې دې پکښې ننوتلې وي.

إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ بِاللَّهِ الْعَظِيمِ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ
بې شکه وو دې چه ايمان ئې نه راوړو په لوئ الله ﷻ باندې، اونه ئې ترغيب ورکولو په طعام
الْمِسْكِينِ ۝ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ ۝ وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ ۝
دَمسکين باندې، پس نشته ده لره نن ورځ دلته قريبي دوست ، اونه طعام مګردوينوزووژدجهنميانودزخمونونه
لَا يَأْكُلُهُ إِلَّا الْخَاطِئُونَ ۝
چه نه خوري هغه مګر کافران

﴿إِنَّهُ كَانَ لَا يُؤْمِنُ﴾تعليل دې دَماقبل، ﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ﴾يعنى خپل مال خوئې خود نه خرچ کولو ،چې بل چاته ئې هم ترغيب نه ورکولو ،حضرت ابو دردا ﷺ به خپلې ښځې ته حکم کولو چه ترکاري زياته پخه وه، اووئيل به ئې چه نيم زنځير دَ جهنم نه مونږ په ايمان سره خلاص شوي يو، نو دَ نيم نه به ځان په دې خلاص کړو.

﴿ فَلَيْسَ لَهُ الْيَوْمَ هَاهُنَا حَمِيمٌ ﴾يعنى داسې ملګرې به ئ نه وي چه حمايت ئې اوکړي ياورنه عذاب دفع کړي،ځکه چه په دغه ورځ به هرملګرې دَبل نه تختي﴿ غِسْلِينٍ﴾هغه وينو زوو ته وائي چه دَاهل ناردَدَزخمونونه به بهيږي، ﴿ إِلَّا الْخَاطِئُونَ ﴾جمع دَخاطئ ده،قصداً عمداً ګناه کونکو ته وائي، مرادورنه مشرکان دي،او مخطئ په غلطئ سره ګناه کونکي ته وائي.

فَلَا أُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُونَ ۝ وَمَا لَا تُبْصِرُونَ ۝ إِنَّهُ لَقَوْلُ
بس قسم خورم ځه په هغه ځه چه تاسوئې وينئ،اوپه هغه ځه چه تاسوئې نه وينئ،چه بيشکه داقرآن خامخاخبره

رَسُوْلٍ	كَرِيْمٍ ۙ﴿۴۰﴾	وَّمَا هُوَ	بِقَوْلِ	شَاعِرٍ ؕ	قَلِيْلًا	مَّا تُؤْمِنُوْنَ ۙ﴿۴۱﴾	وَلَا بِقَوْلِ	
درسول	عزت مندده.اوندي	دافرآن	قول	دشاعر،ډيرلږايمان	راوړئ	تاسو اوندي‌قرآن‌قول		
كَاهِنٍ ؕ	قَلِيْلًا	مَّا تَذَكَّرُوْنَ ؕ﴿۴۲﴾	تَنْزِيْلٌ	مِّنْ	رَّبِّ	الْعٰلَمِيْنَ ﴿۴۳﴾		
دكاهن،ډيرلږنصيحت	اخلئ	تاسو دا(قرآن)	نازل	شويدي	دطرفه	دربّ	العالمين	نه

﴿ فَلَآ اُقْسِمُ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ﴾ نبی کریم ﷺ چې کله مشرکینو ته کلام الهی واورولو . او قیامت اودَحشر نشر خبرې به نی ورته اوکړې، نو دوئ په قرآن اونبی پاک ﷺ باندې ایمان راوړلو په ځائ اعتراضات شروع کړل:

(۱)چابه وئیل دا قرآن شعر و شاعری مجموعه ده.

(۲)چابه وئیل چې دا دَ کاهنانو کلام دې.

(۳)چابه وئیل چې دانبی کریم ﷺ په خپله ځانه جوړکړې دې اوبیا قصداًپه دروغه الله ﷻ ته منسوب کوی.

الله ﷻ په دې آیتونو کښ اول دَ نبی کریم ﷺ او دَ قرآن حقانیت اثبات کوی، او بیا دوئ اعتراضات رد کوی، نوپه دی آیاتونو کښ اثبات دَرسالت اوحقانیت دَقرآن ذکردې. اوالله ﷻ قسم خوری چې ذَا نبی قیامت متعلق کومې خبرې تاسوته کوی دا حق او رښتیا خبرې دې،دې څه شاعر نه دې چې خیالاتو ته دَ الفاظو جامه اچوی، اونه کاهن دې چې اندازې اوتخمینې ولي، بلکه دَالله ﷻ معزز رسول دې، دَالله ﷻ طرف نه ورته دَ دې خبرو وحی کیږی، خوستاسو بدقسمتی ده چې تاسو ایمان نه روادړئ، اونصیحت نه قبلوئ

﴿ فَلَآ اُقْسِمُ ﴾ "فاء" تفریعیه ده ، دَ داسې قسم تحقیق په سورت الواقعه کښ تیردې،﴿ بِمَا تُبْصِرُوْنَ ،وَمَا لَا تُبْصِرُوْنَ ﴾عام دې هر قسم مرئی اوغیر مرئی ځیزونه ته،علوی دی که سفلی. مشاهدات دی که مغیبات،اجسام دی که ارواح،نعمتونو اوکه قدرتونه(ابو السعود)

﴿اِنَّهٗ لَقَوْلُ رَسُوْلٍ كَرِيْمٍ ﴾"انه" کښ ضمیر قرآن ته راجع دې،"رسول"نه مراد راجح قول مطابق نبی کریم ﷺ دې، او "رسول" راوړلو کښ اشاره ده دیته چې دَ ده حیثیت دَپیغام

رسولو دي، څه پیغام ورته الله ﷻ رالیږي، هغه خلقونه اوروي.ځان نه څه نه جوړ وي «کریم» اي: علی الله. په الله ﷻ باندې ډیرګران.

قسم اوجواب قسم کښ مناسبت دادې چې لکه څنګه دنیا کښ څه څیزونه تاسو ته ښکاري اومنئ ئې. او څه څیزونه تاسو ته ښکاري نه، اومنئ ئې او یقین برې لرئ. جناتو وجود شو. وغیره وغیره، دغه شان دانبی کریم چې کوم دغیب اودقیامت احوال تاسو ته بیانوي داحق دې، اګر چې تاسو لیدلی نه دي،داټول احکامات ده ته دَ الله ﷻ طرف نه وحی کیږي او فرشته ورته راځي،اګر چې تاسوته دانبکاري نه.

﴿ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَاعِرٍ ﴾ داد مشرکینو **اول اعتراض جواب** دې.الله ﷻ قسم خوري چې دا دَ شاعرانو قول نه دې، بلکه دَالله ﷻ کلام دې،ځکه چې شاعرانه کلام دپاره خپل بحور. اوزان وي، او خیالاتو مجموعه وي اودې کښ دایوهم نشته.

﴿ وَلَا بِقَوْلِ كَاهِنٍ ﴾دادَمشرکینو **دویم اعتراض جواب** دې.چې قسم مې دې وي چې دا قرآن دَ کاهن کلام هم نه دې، ځکه هغه مسجع اوپرتکلف قافیو نه جوړوي ، تخمینه او اندازه وي پکښ ، بې معنی الفاظ وي پکښ ، او قرآن دې ټولو نه منزه دې . او مزید داچې دَ قرآن په شان کلام څوک نشی پیش کولې،کچرته دا دَشاعر اوکاهن کلام وې،نوبل شاعر اوکاهن به ددې مثل پیش کړې وي.

﴿قَلِيلًا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴾ **قلیلا**په دواړوآیتونو کښ صفت دې دَمصدر محذوف، اي ایمانا قلیلا، و تذکرا قلیلا ، او مفعول مطلق واقع کیږي دَ مابعد فعل دپاره. او یا صفت دې دَ "زمانا" محذوف دپاره، او مفعول فیه جوړیږي دَ ما بعد دَ پاره . او "ما" زائده ده او جمله معترضه ده ، "**قلیل**" یا خپل حقیقي معنی کښ استعمال دې،او **مفعول مطلق** په صورت کښ به ئې معنی داسې کیږي چې لګ غوندې ایمان اونصیحت قبولوئ،هغه داسې چې کوم احکامات ستاسو عاداتو او خواهشاتو سره برابر وي، بس هغه منئ،**او مفعول فیه** په صورت کښ به ئې معنی دا وي چې لګ ساعت ایمان اونصیحت قبلوئ،اوداهغه وخت چې درنه تپوس اوکړې شي چې رازق ، خالق څوک دې، او یا **قلیل** پمعنی دَ"عدیم" سره دې،یعنی لګ غوندې ایمان ونصیحت

او لگ ساعت دپاره هم نه قبلولئ. ﴿تَنزِيلٌ﴾خبردې دَ مبتدا محذوف چې "هو" دې. اوېخبر دې د "انّ"، په "انه" کښې، او دا هم جواب قسم تحت داخل دې.

حضرت عمر فرمائی دَاسلام نه قبل څه دَحضور ﷺ په تالاش کښې دَقتل په غرض ر اووتلم، حضور ﷺ مسجد حرام کښې مونځ کولوسورت الحاقه ئې شروع کړې وؤ. د قرآن حسن تالیف نه ماته ډیر تعجب اوشو، ماپه زړه کښې اوونیل چه دا محمد ﷺ خوډیر ښه شاعر دې په الله ﷻ مې دې قسم وی، نو حضور ﷺ دا آیت اولوستلوچه انه لقول رسول کریم، وما هو بقول شاعر،ما اوونیل چه دې خو ډیر ښه کاهن دې چه څما د تصوراتو علم ورته اوشو او رد ئې اوکړو، نو حضور ﷺ وړپسی دا آیت اولوستلو چه ولابقول کاهن ،قلیلا ما تذکرون. حضرت عمر ﷺ فرمائی چه حقانیت دَ اسلام په دغه وخت کښې څما په ذهن کښې راغلې وؤ(ابن کثیر)

وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا بَعْضَ الْأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِالْيَمِينِ ﴿٤٥﴾

اوکچرته دَخان نه جوړې کړې وې دی پیغمبر، په مونږ باندې څه خبرې، نو خامخا مونږ به نیولې وې دې په قوت سره،

ثُمَّ لَقَطَعْنَا مِنْهُ الْوَتِينَ ﴿٤٦﴾ فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ عَنْهُ حَاجِزِينَ ﴿٤٧﴾

بیابه خامخا پرې کړې وې مونږ دَ ده نه رګ دَزړه، پس نه به وؤ ستاسو نه ، هیڅ څوک ، ده لره منع کونکې څخه،

وَإِنَّهُ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾ وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ

اوبې شکه داقرآن خامخانصیحت دې پرهیزګارانولره.اوبې شکه خامخامونږپوهیږو چه بې شکه

مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾ وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴿٥٠﴾

بعض په تاسوکښې تکذیب کونکې دی،اوبې شکه داقرآن سبب دَارمان دې په کافرانوبه قیامت کښې

وَإِنَّهُ لَحَقُّ الْيَقِينِ ﴿٥١﴾ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

اوبې شکه داقرآن خامخاحق یقینی دې،پس پاکی سره بیانه وه نوم دَرب خپل چه لوئ دې

﴿وَلَوْ تَقَوَّلَ عَلَيْنَا ﴾داد **دريم اعتراض جواب** دي. چې داخبره خو مسلمه ده چې الله ﷻ په هر چا قادر دي اوپه هرڅه عليم دي. نو که دا نبي- نعوذبالله- دروغ ژن وي. نوموږ نه به خامخا پته وي، اوموږ به رانيولي اوهلاک کړي خوبه وي. ليکن دي هلاک نه دي نو معلومه شوه چې دروغ ژن هم نه دي، او دا قرآن واقعتاًدالله ﷻ کلام دي

﴿ تَقَوَّلَ﴾افتراءته وائي﴿ ٱلْأَقَاوِيلِ ﴾ دروغوخبرو ته وائي،جمع ده د "قول" .او يا د "اقوال" او جمع الجمع ده ، او يا د "اقولة" جمع ده، لکه اضاحيک جمع ده اضحوکة ده

﴿ لَأَخَذْنَا مِنْهُ بِٱلْيَمِينِ ﴾يمين په معنى دقوت سره دي او"من"زائددي اى لاخذناه باليمين (قرطبي) يعني په قوت سره به مونيولي وي،نه به وي رانه خلاص شوي، يا د "يمين" نه مراد خي لاس دي، "باء" زائده ده،يعني دخي لاس نه به مونيولي وي، بيابه موهلاک کړي وي.صاحب دروح المعاني رحمه الله دوائي دى تعبيرکښې ديورسوا کن حالت بيان دي. چه لکه ملوک باغى ته سزا ورکوى ، نوجلاد ترينه اول خي لاس قطع کړى، بيا ترينه څټ قطع کړى،دغه شان کچرته دا پيغمبرکاذب وي نوداسى کاربه موورسره کړي وو.﴿ٱلْوَتِينَ﴾ وتين دزړه رګ دي چه قطع شى نوسړي ورنه مړکيږى،نوقطع د وتين نه مراد مړکول هلاکول دى

﴿فَمَا مِنكُم مِّنْ أَحَدٍ ﴾"من"زائده دي لپاره دتاکيد﴿حَٰجِزِينَ ﴾اى مانعين(روح)يعنى کچرته دى پيغمبرپه الله ﷻ باندى يوه خبره هم په دروغه تړلي وي. نودغه حشربه ني ورسره کولو ، اوتاسو کښې به هيڅ چاهم دالله ﷻ نه ، نه شو خلاصولي.ليکن چه دغه عذاب ورته نه دي ميلاو ، نو معلومه شوه چه په حقه پيغمبردي.

فائده:په ﴿ وَلَوْ تَقَوَّلَ ﴾وغيره کښې ضمير حضور ﷺ ته راجع دي نومذکوره استدلال خاص دي په حضور ﷺ پورى،هريومدعى نبوت باره کښې دا قانون نه دي.لهذا دملعون قاديانى کاذب قول باطل دي چه کچرته څه کاذب وي نوماته به داسزاراکړي شوي وه.

﴿وَإِنَّهُۥ لَتَذْكِرَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ﴾يعنى متقين ورنه فائده اخلى.ورنه قرآن خوټولوخلقولپاره نصيحت دي،

﴿وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم ﴾ تخويف دي اوخطاب ټولوخلقوته دي.چه بعض په تاسوکښې به قرآن تکذیب کونکی، بعض پری تصدیق کونکی دی،ددواړو موږته علم دی.مکذبینو ته به سزا ورکوؤ، تصدیق کونکو ته به ثواب ورکوؤ.

﴿وَإِنَّهُ لَحَسْرَةٌ ﴾ضمیریاتکذیب ته راجع دی یعنی داتکذیب بالقرآن به حسرة وی لپاره د کافرانو په ورځ دقیامت،یاضمیرقرآن ته راجع دی او﴿ لَحَسْرَةٌ ﴾نه مرادسبب دحسرة دی.یعنی دا قرآن به سبب اوباعث دحسرة وی په کافرانوکله چه دوی ته عذاب ورکولی کیږی او مؤمنانوته ثواب(کشاف وغیره) ﴿وَإِنَّهُ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴾یعنی اخبارنی یقینی اومجرب دی

﴿ فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴾داپه اخردسورة کښې دسورة دعوه ذکرده.چه خپل عظیم رب دشریک نه منزه اوپاک اوکړه،برکت ورکونکی صرف هغه اوکڼه

ركوعاتها (٢)	سورة المعارج مكيّة	آياتها ٤٤
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٧٠) وحسب النزول (٧٩)

نزلت بعدالحاقة، وقبل الانبياء

ربط : ماقبل سورة الحاقه سره ئی ربط دادې چه ماقبل کښ تخويف وؤمشرک فی البرکة ته، دې سورة کښ ورته زجر دې، او شکايت دې چه توحيد خو خود نه منی بلکه الټه اعتراضونه کوی چه دا عذاب به کله راځی په مونږ؟

ع:چه دلاوراست دُزدی که بکف چراغ دارد. (غل څومره زړه ور دې چه په لاس کښ ئې چراغ هم نيولې دې)

خلاصه: ابتداءانتهاء کښ زجرونه دی، برائ منکرين، درميان کښ تسلی ده حضورﷺ ته، مؤمنانوته بشارات دی.

سَاَلَ	سَآئِلٌۢ	بِعَذَابٍ	وَّاقِعٍ	لِّلْكٰفِرِيْنَ ①	لَيْسَ	لَهٗ	دَافِعٌ ②
اوغوښتلو يو غوښتونکی		داسې عذاب	چه واقع کيدونکې دې.	په کافرانو	چه نشته دې	هغی لره	څوک دفع کونکې
مِّنَ	اللّٰهِ	ذِى	الْمَعَارِجِ ③	تَعْرُجُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	وَالرُّوْحُ	اِلَيْهِ
د طرفه	د الله جل جلاله	چه	خاوند د آسمانونو دې،	ورخيجی	فرشتی	او جبرئيل عليه السلام	هغه ته
فِىْ	يَوْمٍ	كَانَ	مِقْدَارُهٗ	خَمْسِيْنَ	اَلْفَ	سَنَةٍ ④	
واقع کيږی به داعذاب)	په يو ورځ کښ	چه	اندازه	دهغی	پنځوس زره	کاله ده	

﴿ سَاَلَ سَآئِلٌ ﴾شکوه اوشکايت دې دمشرکينونه، چه مسئله دتوحيدخوخود نه منی بلکه سرکشی ئی دومره حد ته اورسيدله چې اوس د الله ﷻ عذاب طلب کوی

مفسرين فرمائی چې داسوال کونکې نضربن حارث وؤ چې ده ونيلی وو. اللهم ان كان هذا

هو الحق من عندک فامطرعلینا حجارة من السماء اوائتنا بعذاب الیم(الانفال ۳۲)

﴿سَآئِلٌۢ﴾ کښې تنوین دَپاره دَتحقیر دي﴿ بِعَذَابٍ ﴾کښې تنوین دپاره دتعظیم دي یعنې یوحقیر اوسپک سړي دَلوئ عذاب تقاضه اوکړه. ﴿وَاقِعٍ﴾ صفت اول دي دعذاب . او تنوین د تهویل دَپاره دي،یعنې داسې عذاب خامخا واقع کیدونکې دې،اوواقعی عذاب دي

﴿ لِّلْكَـٰفِرِينَ ﴾صفت ثاني دې، یعنې خاص دکافرانو دَپاره جوړ دې،جارمجرور متعلق "کائن" محذوف دي، یا جارمجرور متعلق کیږی دَ واقع سره،او "لام"تعلیلیه دې. ای واقع لاجلهم، یعنې دې عذاب واقع کیدلو سبب هم دوئ دی، او یا"لام"په معنی دَ "علی" سره دې.ای واقع علی الکافرین، یعنې په کافرانو باندې واقع کیدونکې عذاب.

﴿لَيْسَ لَهُۥ دَافِعٌ﴾دا صفت ثالث دې دیکښې دَسائل مزید تحقیر او دعذاب مزید تهویل بیان دې ، یعنې دَده حیثیت ته اوګوره! او عذاب داسې غواړی چې یوځل راشی نوبیا څوک منع کونکې ورله هم نشته.

﴿مِّنَ ٱللَّهِ﴾جارمجرور « دافع » سره متعلق کیږی،یعنې دَالله ﷻ دَطرفه دَراتللو نه ورله څوک رکاوټ نشی جوړې دې،یا«واقع» سره دی،یعنې الله ﷻ طرف نه به خامخا واقع کیږی.

﴿ذِى ٱلْمَعَارِجِ ﴾دا صفت دې دَلفظ جلاله یعنې هغه الله ﷻ چې دَاسمانونو مالک دې، "معارج"جمع د "معرج" ده، پوړو ته وائی، او مراد ترینه آسمانونه دی چې داد فرشتو دَپاره پوړو حیثیت لری،اوفرشی پکښې دَیو اسمان نه بل آسمان ته خیږی.

﴿تَعْرُجُ ٱلْمَلَـٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ ﴾کښې تفصیل دې،د "المعارج"، چې دآسمانونه "المعارج" داسې دی چې فرشتې پدیکښې الله ﷻ ته خیژی، "روح"نه مرا دجبرئیل علیه السلام دې. ﴿إِلَيْهِ﴾کښې "ها" ضمیر راجع دې الله ﷻ ته،اوعروج نه معروفه معنی نه ده مراد ، بلکه کمایلیق بشانه ، او یا به تاویل کؤو ،چې الله ﷻ ته ختلو نه مراد عرش اوهغه ځائ ته ختل دی چې هلته نه فرشې دَالله ﷻ احکامات راخلی.

﴿فِي يَوْمٍ﴾جارمجرور متعلق دی دَ یقع فعل محذوف سره. او یوم نه مراد ورځ دقیامت ده، یعنی داعذاب به دَقیامت په ورځ واقع کیږی چې هغه دَستاسو پنځوس زروکالو برابر ده او یا ﴿فِي يوم﴾متعلق دې په «تعرج» پورې،نو بیادَ آیت دوه مطلبه کیدیشی «۱»یودا چې «تعرج» په معنی دَ "تصیر"او"ترجع"شی ،او یوم نه مراد دَ قیامت ورځ شی،یعنی د فرشتو چې دومره لوئ نظام قائم دې،چې هغه دَ کائنات قیام دَپاره سبب ظاهری ګرځیدلې دې،دا هرڅه به دَ قیامت ورځ ختم شی،اودَالله ﷻ ته به اوسپارلې شی.«۲» او یا«تعرج»خپله حقیقی معنی کښې دې، "یوم" نه مراد دَ دنیا ورځ ده ، مطلب دادې چې الله ﷻ خو هغه قدرتونه والا ذات دې چې فرشتی چې کله دَ هغه حکم نافذ کړی، او بیا دَهغه طرف ته خیږی نو یوه ورځ مقدار پرې اولګی، اوکه تاسو دَخپل رفتار اندازه واخلئ، نو دا پنځوس زره کاله جوړیږی

﴿كَانَ مِقْدَارُهُ خَمْسِينَ أَلْفَ سَنَةٍ﴾اشکال کیږی چې دلته دَپنځوس زروکالوذکر دې. اوپه سورت الم سجده کښې دَ زرکالوذکردې،نوداخو تعارض دې؟

یو جواب ترینه دا شوی دې، چې دلته څه عدد مخصوص نه دې مراد ، بلکه محض کثرت مراد دې، نو کله ترینه تعبیر په «الف سنة» سره، اوکله ترینه په «خمسين الف سنة» سره شوې دې

«۲»دلته مراد "طول زمان" دې، او دا په مختلف اشخاصو اعتبارسره مختلف وې، نو په چا باندې به دا ورځ دَسختئ دَوجهی دومره اوګده شی لکه زر کاله، او په چاباندې به دومره اوګده شی لکه پنځوس زره کاله،لکه حدیث کښې راغلی چې یوصحابی نبی کریم ﷺ ته اوئیل چې پنځوس زره کاله ورځ څومره اوګده به وی؟نو نبی کریم ﷺ ورته اوفرمائیل والذي نفسی بيده انه ليخفف علي المؤمن حتي يكون اخف عليه من صلاته مكتوبة يصليها في الدنيا. په هغه ذات مې دې قسم وی چې هغه په قبضه کښې څما ځان دې چې داورځ په مؤمن ډیره لنډه وی حتی چې فرض مونځ باندې چې دنیا کښې څومره وخت لګوی هغې نه به هم لنډه وی.

«۳»«الف سنة » یوموقف اعتبارسره ورته وئیلی شوی دی،او«خمسين الف سنة» ټول مواقفو اعتبار سره وته وئیلی شوی دې، ځکه چې ټول مواقف به پنځوس وی.

«۴»اوکه« في يوم» نه قیامت ورځ مراد نه شی، بلکه دنیا ورځ مرادشی، او د آسمان او زمکی فاصله مراد شی، نو بیا« الف سنة »نه مراد آسمان دنیا اودَزمکی فاصله ده،اودَ

«خمسين الف سنة» نه دَ کائناتو بالکل لاندې حصې نه تر آسمانونو نه برده بالکل انتهائي حصې پورې فاصله مراد ده. (والله تعالى اعلم)

فَاصْبِرْ	صَبْرًا	جَمِيلًا ۞	إِنَّهُمْ	يَرَوْنَهُ	بَعِيدًا ۞
پس صبرکوه ته صبرښائسته‌بې شکه داکافران گمان کوي پدیعذاب باقیامت، چه لرې دی					

وَنَرَاهُ قَرِيبًا ۞

اومونږئې وينوچه نزدې دې

﴿فَاصْبِرْ صَبْرًا جَمِيلًا﴾ داتسلي ده حضورﷺته، چه دَدوئ په اعتراضونوزړه مه تنګوه بلکه صبرکوه، دَدوئ لپاره ورځ دَعذاب مقرر ده، صبرجميل هغي ته وائي چه جزع پکښې نه وي او دَ الله تعالى نه ماسوي بل چاته شکوې هم نه وي.

﴿إِنَّهُمْ يَرَوْنَهُ﴾ ضميرياراجع دې «عذاب واقع» ته، ياورځ دَقيامت ته ﴿بَعِيدًا﴾ يابمعنى دَغيرکائن اودَغيرواقع سره دې يعني دوئ داګمان کوي چه قيامت نه شي راتلې يابمعنى دَبعيداًعن القدرة والامکان دې، يعني دَامکان نه بعيده ده.

﴿وَنَرَاهُ قَرِيبًا﴾ قريباً يا بمعنى دَ واقع کيدونکي دې، او يا قريباًمن الامکان اوتعبير په ﴿وَنَرَاهُ﴾ سره مشاکلة اوشو.

يَوْمَ	تَكُونُ	السَّمَاءُ	كَالْمُهْلِ ۞	وَتَكُونُ	الْجِبَالُ
واقع به شي دغه عذاب‌به هغه ورځ چه وي به آسمان په شان دتامبې ويلې شوي. او وي به غرونه					
كَالْعِهْنِ ۞	وَلَا	يَسْأَلُ	حَمِيمٌ	حَمِيمًا ۞	يُبَصَّرُونَهُمْ
په شان درنګينې وړئ، اونه‌به‌پوښتنه کوي يودوست دبل دوست نه. خودلې کيږي به دوئ ته يوبل					
يَوَدُّ الْمُجْرِمُ لَوْ يَفْتَدِي مِنْ عَذَابِ يَوْمِئِذٍ بِبَنِيهِ ۞ وَصَاحِبَتِهِ					
خواهش به کوي مجرم چه په فديه‌بدله‌کښې ورکړي دَعذاب دَدغې ورځې نه ځامن خپل اوښځه خپله					

وَأَخِيهِ ﴿١٢﴾ وَفَصِيلَتِهِ الَّتِي تُؤْوِيهِ ﴿١٣﴾ وَمَن فِي الْأَرْضِ

اوورورخيل، اوقبيله ده هغه چه ځای يې ورکولوده ته په وخت د مصيبت کښې وهغه خوک چه په زمکه کښې دی

جَمِيعًا ثُمَّ يُنجِيهِ ﴿١٤﴾ كَلَّا إِنَّهَا لَظَىٰ ﴿١٥﴾ نَزَّاعَةً

ټول، بياخلاص کړی خپل ځان، هرگزداسی نه شی کيدلې، بيشکه دااور دجهنم خالص لمبی دی. ويستونکې دي

لِّلشَّوَىٰ ﴿١٦﴾ تَدْعُوا مَنْ أَدْبَرَ وَتَوَلَّىٰ ﴿١٧﴾

څرمنی د سرلره، راغواړی به ځان ته هغه څوک چه شاکړې وو ايمان نه، اومخ ئی ورنه اړه ولې وو

وَجَمَعَ فَأَوْعَىٰ ﴿١٨﴾

اومال ئی جمع کړې وو پس ذخيره کړې ئی وو.

﴿يَوْمَ تَكُونُ السَّمَاءُ﴾ دا تخويف اخروی دې چې د يکښې دقيامت هول ناک احوال بيانيږی.

«يوم» متعلق دې يا د محذوف سره چه "يقعُ" دې، اودا جواب د سوال دې چه: متى يقعُ ذلك العذاب، يا متعلق دې د ﴿قَرِيبًا﴾ سره،

﴿كَالْمُهْلِ﴾ دا اول حالت دې، يعنی دقيامت په ورځ به اسمان دغه شان کلک نه وی، بلکه ضعيف اوبهيدونکې به وی په شان د ويلی کړې شوې تانبې، ابن عباس رضي الله عنه "المهل" معنی دُردی الزيت" کوی، يعنی دقيامت په ورځ به دآسمان رنګ داسی شې لکه د تيلو ويخ اوخيرې، يعنی تور به وی، بل آيت کښې چه "كالدّهان" ونيلی شويدی، نو دسرخئ په شدّت سره د تور رنګ سره مشابهت پيدا کيږی نو په دې وجه دواړه ونيل صحيح دی.

﴿وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ﴾ دا دويم حالت دې، «العهن» رنګينی وړئ اومالوچوته وائی، د وړئ سره تشبيه په خفت، سپکوالی کښې ده، يعنی درانه به نه وی، بلکه د وړئ په شان به سپک وی، او رنګينی وړی سره ځکه تشبيه ورکړې شوي ده، چه غرونه مختلف رنګونو والا دی

﴿وَلَا يَسْئَلُ حَمِيمٌ حَمِيمًا﴾ دادريم حالت بيان دي. يعنى په دغه ورځ به دومره بدحال وي. چه يوقريبي دوست به دَبل قريبي دوست دَفائدي لپاره به دَهغه نه تپوس نه شي كولي. چه ځه حال دي؟ ځما لايق څه خدمت شته دي؟ ﴿يُبَصَّرُونَهُمْ﴾ يعنى ښه به يوبل وينى ليكن دَډيري سختئ په وجه دَيوبل نه تپوس نه شي كولي.

﴿يَوَدُّ ٱلْمُجْرِمُ﴾ داځلورم حالت بيان دي مجرم نه مراد كافر دي. ياهرګنهګار ﴿لَوْ يَفْتَدِي﴾ "لو" مصدريه پمعنى دَ "اَن" دي (جلالين) يعنى قيامت په ورځ مجرم داغواړي چه ځما په فديه او عوض كښې ځمابچى، بى بى، رونړه، خاندان او هر څه واغستلې شى. خو ما ته دي نجات ميلاؤ شى. ﴿ثُمَّ يُنجِيهِ﴾ "ثم" دَنجات دَاستبعاد لپاره دي، عطف دي په "يَفْتَدِي" اى يود لو يفتدى ثم ينجيه (روح، كشاف).

﴿كَلَّآ﴾ حرف ردع دي، زجردي مجرم ته، اوتصريح ده چه داسى بالكل نه شي كيدلي ﴿إِنَّهَا لَظَىٰ﴾ ضمير نار ته راجع دي، ذكر دَ عذاب ورباندى دلالت كوى. "لَظَىٰ" يا پمعنى دَاللهب سره دي، يعنى شعلى اولمبى وهونكې دي، يا نوم دي دَ جهنم.

﴿نَزَّاعَةً لِّلشَّوَىٰ﴾ جمع دَ "شواة" ده، دَ دې دوه معنې بيان شوي دي: (١) اطراف دَ جسم لكه لاس اوخپې، (٢) دَ سر څرمن، يعنى دومره تيز او ګرم اور دي چه دَ كافرانو نه به د سر څرمن اوباسى، چونكه دَ دې رااوباسل مشكل وي، نوچه دا ورله را اوباسى. نودَټول بدن څرمن به ورله په اسانئ سره رااوباسى.

﴿تَدْعُواْ﴾ ضمير مستتر راجع دي جهنم ته ، يعنى داجهنم به كافرانو او منافقانو ته آوازونه كوى چه دلته راشئ. (١) او دا اواز كول ياحقيقةً دى. الله ﷻ به ورته دكلام قدرة وركړى، ابن عباس رضي الله عنه فرمائى جهنم به دَ هر كافر او منافق نوم اخلى، او ورته به وائى الىّ يا مشرك، الىّ يامنافق، بيابه ټول دَدانو په شان راټول كړى (قرطبى وغيره).

(٢) يا ﴿تَدْعُواْ﴾ كنايه ده دَجذب او حاضرولونه (٣) بعض وائى ﴿تَدْعُواْ﴾ پمعنى دَ "تهلك" سره دي، لكه عرب وائى، دعاك الله، اي: اهلكك. يعنى كافران به هلاكوى (روح وغيره).

(۴) يادلته جانب د فاعل مضاف محذوف دي اى تدعو ربانيتها. يعنى دجهنم داروغى به آوازونه كوى، كافران به جهنم ته راغواړي.

﴿مَنْ أَدْبَرَ﴾ ديكښ اسبابو دَعذاب طرف ته اشاره ده او دا اول سبب دي چې حق ته نى شاكرې وه، ﴿وَتَوَلَّىٰ﴾ دويم سبب دي دَ عذاب چې حق نه اعراض كړې وؤ. "ادبار" او "تولي" كښ فرق دا دي، چې "ادبار" كښ اعراض دَ اول وهلې نه، يعنى حق ته بالكل نيز دي شوې نه وى، او "تولي" كښ اعراض وى ورستو دَ حق پيژندلو او حق ته نيز دي كيدلو نه. د مدبرينو حالت په قرآن كښ دا بيان شوي دي: وقال الذين كفروا لاتسمعوا لهذا القرآن (فصلت ۲۶) او "متولينو" حالت دا بيان شوې دي: واذا تتلى عليهم آياتنا قالوا قدسمعنا لونشاء لقلنا مثل هذا، ان هذا الا اساطير الاولين (الانفال ۳۱) (التحرير والتنوير).

﴿وَجَمَعَ﴾ ديكښ دريم سبب ته اشاره ده چې هغه حرص دَ مال دي چې حلال وحرام نه كتل او بس مال جمع كول ﴿فَأَوْعَىٰ﴾ ديكښ څلورم سبب ته اشاره ده چې هغه طول امل او بخل دي،

إِنَّ الْإِنسَانَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ الشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾

بې شكه چه انسان پيدا كړې شويدې په زړه كمزورې (بې صبره) كله چه ورسيږى ده ته تكليف نو فرياد كونكې وى

وَإِذَا مَسَّهُ الْخَيْرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا الْمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ

او چه كله ورسيږى ورته خير نو منع كونكې شي مګر مونځ كونكى هغه چه هغوئ په

صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَالَّذِينَ فِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴿٢٤﴾ لِّلسَّائِلِ

مونځونو خپلو هميشوالې كونكى وى او هغه چه په مالونو دَهغوئ كښ حق وى (حصّه وى) معلومه دپاره دَسوال ګرى

وَالْمَحْرُومِ ﴿٢٥﴾ وَالَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ الدِّينِ ﴿٢٦﴾ وَالَّذِينَ هُم مِّنْ عَذَابِ

او محروم (سوال نه كونكي) او هغه چه تصديق كوى په ورځ دَقيامت او هغه چه هغوئ دَعذاب

رَبِّهِمْ	مُشْفِقُوْنَ ﴿٢٧﴾	اِنَّ	عَذَابَ	رَبِّهِمْ	غَيْرُ	مَاْمُوْنٍ ﴿٢٨﴾	وَالَّذِيْنَ
درب خپل	نه يريدونكى وى	بى شكه	عذاب	درب	ددوئ نه دى	دبى غمه كيدونكى	اوهغه چه

هُمْ	لِفُرُوْجِهِمْ	حٰفِظُوْنَ ﴿٢٩﴾	اِلَّا	عَلٰى	اَزْوَاجِهِمْ	اَوْ	مَا	مَلَكَتْ اَيْمَانُهُمْ
هغوئ	دغورتونو خپلو حفاظت	كونكى	دى مكر په	ښځو خپلو باندى		يا په		وينزو خپلو باندى

فَاِنَّهُمْ	غَيْرُ	مَلُوْمِيْنَ ﴿٣٠﴾	فَمَنِ	ابْتَغٰى	وَرَآءَ	ذٰلِكَ	فَاُولٰٓئِكَ
پس بى شكه دوئ	نه دى	ملامته كړى شوى،	پس چاچه	طلب كړو	ماسوى	ددغه خپلو ښځو وينزو نه	نو داكسان

هُمُ	الْعٰدُوْنَ ﴿٣١﴾	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	لِاَمٰنٰتِهِمْ	وَعَهْدِهِمْ	رٰعُوْنَ ﴿٣٢﴾
هم دوئ	تجاوز كونكى دى	اوهغه كسان چه	دوئ	داماناتو خپلو لره	اوعدو خپلو لره	ساتونكى دى

وَالَّذِيْنَ	هُمْ	بِشَهٰدٰتِهِمْ	قَآئِمُوْنَ ﴿٣٣﴾	وَالَّذِيْنَ	هُمْ	عَلٰى	صَلَاتِهِمْ
اوهغه كسان چه	دوئ	په گواهئ خپلو پوره	ولاړدى،	اوهغه كسان چه	دوئ	په	مونځونو خپلو باندى

يُحَافِظُوْنَ ﴿٣٤﴾	اُولٰٓئِكَ	فِيْ	جَنّٰتٍ	مُّكْرَمُوْنَ ﴿٣٥﴾	
ساتنه كونكى دى	داكسان	به په	جنتونو كښى	وى عزت مندبه	وى

﴿ اِنَّ الْاِنْسَانَ خُلِقَ هَلُوْعًا ﴾ دا درې آيتونه جمله معترضه دى په مابين دَ "تدعو من ادبر" او "الا المصلين" كښى، او ديكښى زجر دې په حرص اوطول امل باندې، چې انسان فطرى طور باندې حريص اوبخيل دې، معمولى غوندې تكليف ورته اورسى نوصبر كولو په ځائ جزع فزع شروع كړى، اوكه څه خير ورته اورسى نو بيا هم دَالله ﷻ شكرنه اداكوى، او دَ نورو . حق منع كوى، گوياچې دې به هميشه ژوندې وى، اودامال به ده له پكار راځى

"هلوع" وائى هغه چا ته چه دَتكليف په وخت كښى ډير زرفريادونه شروع كړى، اوچه كله مالداره شى نو بيا ډير زرمستى شروع كړى، حضرت شاه صاحب ئى ترجمه داسى كوى چې

انسان په زړه ډیرکمزوري دي.دحضرت ابن عباسرضي الله عنهنه چاد هلوع باره کښ تپوس اوکړو نو هغه ورته اوفرمائيل چه ﴿ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ۝ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ مَنُوعًا ﴾ ئې تفسيردي

﴿ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلْخَيْرُ ﴾دخيرنه مرادمالداري،صحت دي.

﴿ إِلَّا ٱلْمُصَلِّينَ ﴾استثنا منقطع ده د ماقبل وعيد نه، چې ابتداء ئې د "يود المجرم" نه شوې وه، چونکه ماقبل کښ د کفارو هغه مذموم صفات مذکور وو چې هغه باعث دعذاب وو. نو اوس دهغې په مقابله کښ دمؤمنانو هغه صفات بيانيږي چې دافع د عذاب دی.نوداا**ول صفت** دي چې دمونځ پابندی کول دی،﴿ دَآئِمُونَ﴾په معنی د مواظبون سره دي، يعنی مونځ ادائيګی اهتمام اوپابندی کوی.او بعضو د﴿دَآئِمُونَ﴾معنی په لايلتفتون سره کړيده،دائم په معنی د ساکن. لکه په يوروايت کښ دی.نهی عن البول فی الماء الدائم.نومطلب دآيت دادي چه په مونځ کښ يوطرف ته بل طرف ته التفات اوتوجه نه کوی بلکه همه تن مانځه کښ متوجه وی.

﴿حَقٌّ مَّعْلُومٌ ﴾دا**دويم صفت**دي چې ددوئ په مال کښ دغريبانوحصه وی،د حق معلوم نه مراد يازکوة نه علاوه مقرره حصه ده، او يا ورنه مراد زکوٰة دي. خکه چه ددی مقدار مقرر او معلوم وی.﴿ لِّلسَّآئِلِ وَٱلْمَحْرُومِ ﴾يعنی غوښتونکی اونه غوښتونکی دواړه ته ورکوی.

﴿وَٱلَّذِينَ يُصَدِّقُونَ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴾**دريم صفت** دي ، چې په قيامت باندی ايمان راوړل دی، ﴿والذين هم عذاب ربهم﴾**څلورم صفت** دي،چې خپل عباداتو باندې نازان نه وی،بلکه دالله ﷻ دعذاب نه په خوف کښ وی.

﴿ وَٱلَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَـٰفِظُونَ ﴾**پنځم صفت** دي ، چې باعفت اوپاک دامن وی،دې آيت مکمل تفصيل په سورت المؤمنون ابتدا کښ تير شوې دي،

﴿وَٱلَّذِينَ هُمْ لِأَمَـٰنَـٰتِهِمْ ﴾**شپږم صفت** دي، چې امانت داره اووعده پوره کونکی وی، ﴿وَٱلَّذِينَ هُم بِشَهَـٰدَٰتِهِمْ ﴾**اووم صفت دي**، اوګواهی قائمولو مطلب دادي چې (۱)نه ګواهی

پټوی،(۲)اونه ګواهی ورکولونه انکارکوی(۳)بلکه عدل وانصاف سره پوره پوره ګواهی ورکوی.

﴿الَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ﴾دا داول صفت تکرار دې، اوديکښې دمانځه اهميت ته اشاره ده، او په ابتداء او انتهاء کښې راوړلو کښې کيديشي اشاره وی ديته چې که مونځ دڅاصحيح شو نو داټول صفات به پکښې پيداشي.

﴿أُولَٰئِكَ﴾يعنی داموصوفين په صفاتو مذکوروسره،دابشارت دې.

فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا قِبَلَكَ مُهْطِعِينَ ۝ عَنِ الْيَمِينِ وَعَنِ الشِّمَالِ
پس څه شويدی کافرانولره چه ستاطرف ته منډې راوهونکی دی،ښی طرف نه اوډکس طرف نه
عِزِينَ ۝ أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُدْخَلَ جَنَّةَ نَعِيمٍ ۝ كَلَّا ۖ
ډلی ډلی. آیاطمع لری هريوسړې ددوئ نه داچه داخل به کړې شی جنت دعيش وعشرته،هرګزداسی نده
إِنَّا خَلَقْنَاهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ۝ فَلَا أُقْسِمُ بِرَبِّ الْمَشَارِقِ وَالْمَغَارِبِ
بی شکه پيداکړيدی مونږدوئ دهغی څيزنه چه دوئ نی پيژنی،پس خمادی قسم وی په رب دمشرقونواومغربونو
إِنَّا لَقَادِرُونَ ۝ عَلَىٰ أَن نُّبَدِّلَ خَيْرًا مِّنْهُمْ وَمَا نَحْنُ بِمَسْبُوقِينَ ۝
چه بی شکه مونږخامخاقادريو.پدی چه بدل راوړو غوره ددوئ نه،اونه يومونږعاجزه کړې شوی

﴿فَمَالِ الَّذِينَ كَفَرُوا﴾اثبات درسالت دې اوزجردې کفاروته،روايت دې چه حضورﷺ به خانه کعبی سره مونځ کولو،قرآن به ئې لوستلو،مشرکان به ګيرچاپيره ډلی ډلی کيناستل، دحضورﷺپه کلام پوری به ئې استهزاءکوله،اووئيل به ئې، چه کچرته داخوار غريباناڼ مؤمنان جنت ته ځی،مونږ به ددوئ نه مخکښې ورته ځو،نودا آياتونه نازل شول(روح) او ددوئ دقول ردداوشو، چه آياهريوپه دوئ کښې دجنت طمع لری،جنت ته تلل دهر چا کارندې، بلکه ايمان اوعملِ صالح په وجه سړې جنت ته ځي،هغه ورسره نشته دې نوڅنګه دوئ طمع کوی.

﴿ فَمَالِ ﴾ لام جدا ليكل د قرآن مخصوص رسم الخط دې . عام كتابت كښې لام جاره د اسم موصول نه جدا نه ليكلې كيږي ﴿مُهْطِعِينَ ﴾اى مسرعين عِزِينَ ﴾جمع د عزة ده. ډلې اوجماعت ته وائى

﴿أَيَطْمَعُ كُلُّ امْرِئٍ ﴾دا د مشركانو د باطل قول ذكر دې

﴿ كَلَّآ ﴾ حرف ردع دې. او د قول مذكور رد دې ،يعني داسې هرګزنه ده لكه چه دوئ طمع كوى د دخول د جنت ﴿إِنَّا خَلَقْنَٰهُم مِّمَّا يَعْلَمُونَ ﴾تعليل دې د ما قبل. ﴿ مِّمَّا﴾ كښې من يا

(۱)اجليه دې،نومطلب دادې چه مونږدوئ دكوم مقصدلپاره پيدا كړيدى. هغه دوئ ته پته ده،چه هغه ايمان دې اوعمل صالح دې، نو چا چه دا مقصد پوره نه كړو. نو هغه به څنګه د مؤمنانو ځائ ته داخل شي.

(۲)يا من ابتدائيه دې،اومطلب دادې چه دوئ ته پته ده چه دوئ مونږ ګنده نطفى نه پيدا كړيدى،هغه جنت ته د داخليدلو سبب نه دې،ترڅوپورى چه په ايمان اوعمل صالح سره نى پاكى اونه كړې شى.

(۳)دريم دا چې كلا باندې مخكښې خبره پوره شوه،او اناخلقناهم نه جمله استئنافيه ده، ديكښې د الله ﷻ قدرت بيان دې، او دا د مابعد د پاره تمهيد دې. چه كوم الله چې په يوې بې جانې نطفې نه ، دوئ پيدا كولو باندې قادر دې ، هغه په دې هم قادر دې چې دا كافران د تكذيب او استهزا په وجه هلاک كړي او دوئ په ځائ نور خلق پيدا كړي ، چې هغه ايمان راوړونكي وي

﴿فَلَآ أُقْسِمُ ﴾ فا فصيحيه ده او لا زائده دې﴿بِرَبِّ ٱلْمَشَٰرِقِ وَٱلْمَغَٰرِبِ ﴾ مشارق مغارب جمع ذكر كولو وجه په سورت الصفات اوسورت الرحمن كښې تيره شوې ده ﴿إِنَّا لَقَٰدِرُونَ ﴾ جواب قسم دې.

فَذَرْهُمْ	يَخُوضُوا	وَيَلْعَبُوا	حَتَّىٰ	يُلَٰقُوا	يَوْمَهُمُ	ٱلَّذِى
بس بريږده دوئ	چه مشغوله وى	په دنياكښې اولوبى كوى	ترڅو چې	ملاقات اوكړى	د ورځې خپلې سره	هغه ورځ

يُوعَدُونَ ﴿٤٢﴾ يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ
چه دوئ سره ئې وعده كيږي.هغه ورځ چه راوځي به دوئ دقبرونونه.په منډه منډه لكه دوئ
إِلَىٰ نُصُبٍ يُوفِضُونَ ﴿٤٣﴾ خَاشِعَةً أَبْصَارُهُمْ تَرْهَقُهُمْ ذِلَّةٌ ۚ ذَٰلِكَ الْيَوْمُ
په طرف دبتانوچې منډې وهي.ذليله به وي سترګې ددوئ خوربه وي په دوئ ذلت.داورځ
الَّذِي كَانُوا يُوعَدُونَ ﴿٤٤﴾
هغه ورځ ده چه دوئ سره به ئې وعده كيدله

﴿فَذَرْهُمْ يَخُوضُوا﴾ داتخويف أخروي اوتسلي ده نبي كريم ﷺ ته دكفارو په طرزعمل باندې، چې داكافران نن دنياكښ ايمان نه راوړي،اوتاپورې استهزاء كوي، ته ددې پرواه مه كوه، دمرګ نه ورستوبه سيده شي﴿يَوْمَهُمُ الَّذِي﴾مراد ورنه ورځ دقيامت ده.

﴿يَوْمَ يَخْرُجُونَ﴾بدل دې د﴿يَوْمَهُمُ﴾نه.﴿مِنَ الْأَجْدَاثِ﴾اى من القبور﴿سِرَاعًا﴾جمع دسريع ده، حال دې دفاعل د﴿يَخْرُجُونَ﴾نه.

﴿كَأَنَّهُمْ إِلَىٰ نُصُبٍ﴾يعنى كله چه دوئ دقبرونونه راوځي اوفرشته ورته اوازاوكړي چه: هلموا الى عرض الرّحمن،نودوئ به داسې منډې وهي لكه دنياكښ چه بتانوطرف ته منډې وهي، دا عادت د مشركانو وؤ، چه سهاروختى به د بتانو تقرب حاصلولولپاره هر يو منډه وهله، او د يو بل نه به مخكښ كيدلو.

﴿نُصُبٍ﴾جمع دنصاب ده.(١)بتانوته وائي. (٢)بعض وائي نصب نشاني ته وائي،چې په لاره كښ لګيدلې وي اومنزل طرف ته راهنمائي كوي،نولكه څنګه په دنيا كښ تلونكي هغې پسې روان وي، اخوديخوا كيږي ترينه نه، نودغه شان به قيامت كښ دداعي په آواز پسې روان وي، اخوديخوا كيدې به ترينه نشي. (٣)بعض وائي چې نصاب جال ته وائي، چه ښكار پكښ اونخلي، نوښكاري ورته تيزه منډه وهي چه خلاص نه شي(روح).

ركوعاتها (۲)	سورة النوح مكيّة	آياتها (۲۸)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۱) وحسب النزول (۷۱)

نزلت بعد النّحل وقبل ابراهيم

ربط: ماقبل سورة کښې زجروؤمعاندينوته چه توحيدنه مني بلکه الټه عذاب طلب کوي، دې سورة کښې په توحيددليل نقلي دې، چه نوح عليه السلامدَدې مسئلې لپاره نهه نيم سوه(۹۵۰)کاله تبليغ کړې وؤ ،ليکن هغوئ اونه منلو ،اې اهلِ مکه،راشئ دامسئله اومنئ، ورنه په تاسوبه هم عذاب راشي.

خلاصه

آيت ۱ ،تر ۴ پورې دليل نقلي دې، اودې نه بعد دَدعوت مختلف مراحل ذکر کيږي.

آيت ۵ نه تر ۷پورې اوله مرحله ده، ديکښې عموم دَ عوت ذکر دې، اوقاتو لحاظ سره، او دَ قوم طرز عمل بيان دې.

آيت۸،۹پورې دويمه مرحله ده ، ديکښې عموم دَ دعوت ذکر دې،اساليبو لحاظ سره.

آيت ۱۰ نه تر ۲۰ پورې دريمه مرحله ده، ديکښې عموم دَدعوت ذکر دې انداز اومضمون اعتبار سره،

آيت ۲۱نه تر۲۴ پورې څلورمه مرحله ده، ديکښې دَقوم نه شکايت ذکردې.

آيت ۲۴نه ترآخر پورې پنځمه مرحله ده،ديکښې کافرانو ته دَبدعا اومؤمنانو ته دَدعاذکر دې.

اِنَّآ اَرۡسَلۡنَا نُوۡحًا اِلٰى قَوۡمِهٖۤ اَنۡ اَنۡذِرۡ قَوۡمَكَ مِنۡ قَبۡلِ اَنۡ يَّاۡتِيَهُمۡ
بيشکه مونږليږلې وؤنوح عليه السلامقوم خپل ته چه اويره وه قوم خپل مخکې دَ دينه چه راشي دوئ ته
عَذَابٌ اَلِيۡمٌ ① قَالَ يٰقَوۡمِ اِنِّىۡ لَـكُمۡ نَذِيۡرٌ مُّبِيۡنٌ ② اَنِ اعۡبُدُوا اللّٰهَ
عذاب دردناک اووئيل نوح عليه السلاماې قومه څمابې شکه زه تاسولره يرونکې يم ښکاره ،چه عبادت کوئ دَ الله

وَاتَّقُوْهُ وَاَطِيْعُوْنِ ۝ يَغْفِرْ لَكُمْ مِّنْ ذُنُوْبِكُمْ وَيُؤَخِّرْكُمْ

اودهغه نه اويرېږئ او اطاعت کوئ ځما، او به بخي تاسو ته ګناهونه ستاسو او روستي به کړي تاسو بلاعذابه

اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ اِنَّ اَجَلَ اللّٰهِ اِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ ۘ لَوْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝

ترنيټې مقررې، مرګه پورې. بې شکه نېټه دعذاب دالله چه کله راشي نو بيا نه ورسو کېږي کاش چه تاسو پوهيدلي.

﴿ إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا ﴾ دا دليل نقلي دي، چې نوح عليه السلام مونږ خپل قوم ته ليږلي وو. اوهغه نهه نيم سوه (۹۵۰) سوه کاله خپل قوم ته صرف ددې خبرې دعوت ورکړې وؤ چې الله ﷻ يو دې اوصرف هغه برکات ورکولو والا دې. ﴿أَنْ أَنذِرْ﴾ مقصد د ارسال ذکر کيږي. چې د ارسال مقصد دا وؤ چې قوم ته توحيد دعوت ورکړي، اود توحيد په نه منلو باندې دالله ﷻ عذاب نه ئې اويره وي، «ان» يا تفسيريه دې او « ارسلنا» د قول معنې ته متضمن دې. او يا «ان» مصدريه ده، اودينه مخکښ لام حرف جر مقدر دې، اي لان انذر قومک. او يا باء حرف جر مقدر دې ،اي: فلنابان انذر ﴿عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾ دې نه مطلق عذاب الهي مراد دې، دنيوي وي او که اخروي.

﴿قَالَ يَٰقَوْمِ إِنِّي لَكُمْ﴾ ديکښ د نوح عليه السلام تعميل حکم اودعوت بيان دې، يعنې د الله ﷻ حکم تعميل ئې اوکړو، اوخپل قوم ته ئې ددې خبرو دعوت ورکړو. ﴿أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ﴾ دا اوله خبره ده، چې غير الله عبادت پريګدئ اوصرف د الله ﷻ عبادت شروع کړئ. "ان" دلته هم تفسيريه ده. ﴿وَٱتَّقُوهُ﴾ دا دويمه خبره ده چې تقوی اختيار کړئ ﴿وَأَطِيعُون ﴾ دا دريمه خبره ده چې ځما اطاعت اوکړئ څه درته کوم احکامات بيانوم هغه اومنئ اوعمل پرې اوکړئ.

﴿ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ ﴾ دا نعامات بيانيږي په دعوت منلو باندې. اول انعام دا دې چې الله ﷻ به درله ګناهونه معاف کړي، ﴿وَيُؤَخِّرْكُمْ إِلَىٰٓ أَجَلٍ مُّسَمًّى﴾ ديکښ د دويم انعام ذکر دې، چې دنيوي عذاب نه به په امن کښ شئ. او الله ﷻ به مو په عافيت سره تر اجله پورې اورسوی

﴿إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ إِذَا جَآءَ لَا يُؤَخَّرُ﴾ پاتې شو مرګ، هغې نه خو هسې بچ کیدل نشته. هغه خو به خامخا راځی، ایمان راوړئ او که نه. ایمان راوړلو په صورت کښې به دربانډې دنیوی عذاب نه راځی، او نه راوړو په صورت کښې به دربانډې راځی دې تقدیر بانډې دَ «اجل مسمی» او «اجل الله» دواړو نه مراد موت طبیعی دې، اوجمله « ان اجل الله » کښې یاترغیب دې ایمان زر راوړلو ته، چې ګورئ ایمان زر، زر راوړئ ، دَ مرګ یو وخت مقرر دې، هغه چې کله راشی، نو بیا به مهلت بالکل نه میلاویږی، یا دتوهم ازاله ده چې ایمان سره خوبه دنیوی عذاب نه بچ شئ، خو مرګ بهرحال یقینی دې هغه به خامخا راځی.

ځنی مفسرینو دَ « اجل الله» نه مراد عذاب دنیوی اغستې دې. دوئ وائی چې الله ﷻ قوم نوح دپاره دوقسمه اجل مقرر کړې وؤ: (۱) یو نیزدې اجل ، چې داعذاب دنیوی نه عبارت دې، نو الله ﷻ ورته وائی چې « یؤخرکم الی اجل مسمی» کچری ایمان مو راوړو. نو اجل قریب به درنه لرې کړو ، او « اجل مسمی» چې طبیعی موت دې هغې ته به مو اورسو ، لیکن کچری ایمان مونه راوړو نو بیابه دې اجل قریب کښې تاخیر نشی کیدې. او ﴿إِنَّ أَجَلَ ٱللَّهِ﴾ کښې دَ دې بیان دې

﴿لَوْ كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ یعنی افسوس که تاسو په دې خبرو پوهیدلې، نو ایمان به مو راوړې وې، ځکه چې دیکښې دَ ستاسو دنیا او آخرت دواړو نفع ده.

قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلًا وَنَهَارًا ﴿٥﴾
لوونیل نوح علیه السلام اې ربه ځمابی شکه دعوت ورکړوماقوم خپل ته شپې اوورځی
فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِيَ إِلَّا فِرَارًا ﴿٦﴾ وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ
پس زیات نکړو دوئ لره دعوت ځمامګر تیښته، اوبی شکه ما چه کله هم دعوت ورکړې دې دوئ ته چه ته بخنه اوکړې
لَهُمْ جَعَلُوٓا أَصَٰبِعَهُمْ فِيٓ ءَاذَانِهِمْ وَٱسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ
: دوئ نو دوئ ورکړې دې ګوتی خپلی په غوږونو خپلو کښې او پټ کړې نې دې ځانونه په جامو خپلو کښې

وَاَصَرُّوْا	وَاسْتَكْبَرُوا	اسْتِكْبَارًا ۝	ثُمَّ	اِنِّیْ	دَعَوْتُهُمْ
او دوام ئې کړې دې	په کفر او تکبر ئې کړې دې	لوئ تکبر	بیا	ما	دعوت ورکړو ورته
جِهَارًا ۝	ثُمَّ	اِنِّیْ	اَعْلَنْتُ لَهُمْ	وَاَسْرَرْتُ لَهُمْ	اِسْرَارًا ۝
ښه په زوره	بیا	ما	ښکاره دعوت ورکړو ورته	او پټ دعوت مې ورکړو ورته	په پټه

﴿ قَالَ رَبِّ اِنِّیْ دَعَوْتُ قَوْمِیْ ﴾ دی آیتونو کښې دَنوح علیه السلام دَدعوت تفصیلی کار گزاری اودَهغې مختلف مراحل بیانیږي، دا ئې **اوله مرحله** ده، چې دیکښې عموم د دعوت ذکر دې، په لحاظ د اوقاتو سره، یعنی اې الله ! ماخپل قوم ته مسلسل دعوت ورکړو ،دَورځې هم. دَ شپې هم، په گرمئ کښې هم اویخنئ کښې هم، صحت کښې هم اوبیمارئ کښې هم،غرض هر حالت کښې مې دعوت ورکړو ،خو دوئ ایمان رانه وړو. ﴿لَيْلًا وَّنَهَارًا ﴾کنایه ده دَ دوام نه.

﴿فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَآءِیْٓ ﴾دیکښې دَ **قوم طرزعمل او رد عمل** بیانوی، ﴿ اِلَّا فِرَارًا﴾دائی **اول رد عمل** دې، چې اعراض دې ، یعنی دَ بلنې مقصد خو دَاوی چې څوک درله نیزدې راشي، خو دوئ ځما نه تختي. ﴿جَعَلُوْٓا اَصَابِعَهُمْ فِیْٓ اٰذَانِهِمْ ﴾ **دویم رَدّ عمل** دې . چې نفرت دې د دعوت نه، یعنی دعوت سره انتهائی نفرت په وجه په غوږونو کښې گوتې ورکړې. ﴿وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ ﴾**دریم رد عمل** دې چې کراهت دې دَداعی نه، یعنی ځمانه ئې دومره کراهت شروع کړو، چې کله ورته پته اولگی چې دې راغې، نوخان ټینگ په کپړو کښې بندکړی، چې نه دوئ ما اوگوری، اونه زه دوئ اوگورم، "استغشوا"کښې سین اوتاء دَ پاره دَمبالغې دی. ﴿وَاَصَرُّوْا ﴾**څلورم ردعمل** دې، چې هغه اصراردې په گناهونو ،یعنی ایمان نه راوړل خوځه کوې چې مزید په گناهونو کښې سختیږی، ﴿وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا﴾دیرلوئ تکبر کوی،نه ما په ځه کښې گڼري ، نه ځما اصحاب او نه ځمادعوت په ځه کښې گڼري.

﴿ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا﴾ داد کارگزارۍ **دویمه مرحله** ده، چې اسلوب وطریقه کار اعتبار سره عموم دَ دعوت بیان دې پکښې، چې اې الله ! ما دوئ ته دا دعوت مختلف طریقو سره ورکړو، او په متنوع اسالیبو کښې مې ورته پیش کړو، خو دوئ بیا هم ایمان را نه وړ

«جهارا» دااوله طریقه ده چې اجتماعی دعوت مې ورته ورکړو، ټول مې راجمع کړو او تقریر مې ورته اوکړو. "جهار" په زوره وینا ته وائی، نودینه معلومیږی چې دا اجتماعی او د جلسې صورت وو. ﴿ثُمَّ إِنِّيَ أَعْلَنتُ لَهُمْ﴾ دویمه طریقه ده دَ دعوت، چې انفرادی اوعلانیه دعوت دې، یعنی یویو کس مې مخاطب کړو، اوهغه ته مې علانیتًا دعوت ورکړې دې، ﴿وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا﴾ دریمه طریقه ده دَدعوت چې انفرادي اوسری ده، یعنی یو یوپسې جداجدا تلې یم او دَ نورخلقونه مې ورله په پټه دعوت ورکړې دې.

فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴿١٠﴾ يُرْسِلِ السَّمَاءَ عَلَيْكُم

نوووئیل ماچه بخنه اوغواړئ دَرب خپل نه بې شکه هغه دې ډیربخونکې. رالیږبه وروی باران په تاسوپه

مِّدْرَارًا ﴿١١﴾ وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴿١٢﴾

نیبوشیبو، اوزیات به کړی تاسو په مالونواوپه ځامنوسره اواوبه ګرځوی تاسولره باغونه اواوبه ګرځوی تاسولره نهرونه

مَّا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ وَقَارًا ﴿١٣﴾ وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا ﴿١٤﴾

څه شویدی تاسولره چه عقیده نه ساتئ الله جل جلاله لره دَعظمت، حال داچه پیداکړی ئې تاسوپه مختلف حالتونو،

أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ سَبْعَ سَمَاوَاتٍ طِبَاقًا ﴿١٥﴾ وَجَعَلَ الْقَمَرَ

آیانه ګورئ تاسوچه څرنګه پیداکړیدی الله جل جلاله وه اسمانونه لاندی باندی اوګرځولې ئې ده سپوږمۍ

فِيهِنَّ نُورًا وَجَعَلَ الشَّمْسَ سِرَاجًا ﴿١٦﴾ وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ

په دوئ کښې رڼااوګرځولې ئې دې نمرډیوه.اوالله جل جلاله پیداکړی یئ تاسودَزمکی نه

نَبَاتًا ۝١٧ ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا ۝١٨

په پيداکولوسره، بيابه واپس کوي تاسو پدې زمکه کښې اوبيابه مورااوباسي په راويستلوسره

وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا ۝١٩ لِتَسْلُكُوا مِنْهَا سُبُلًا فِجَاجًا ۝٢٠

اوالله ﷻ گرځولې ده تاسولره زمکه فرش،په شان دپوځي،چه گرځئ ددينه په لاروارتو،فراخوکښې

﴿فَقُلْتُ اسْتَغْفِرُوا﴾دې کښې دکارگزارې **دريمه مرحله** شروع کيږي.چې ديکښې عموم دَدعوت ذکر کيږي،په اعتبار دَ طريقو،يعني په مختلف اندازونو سره مې دعوت ورکړو، چې کله ترغيب سره ، او کله دلائل اونعمتونو بيان سره، نو دې آيتونو کښې دعوت دې په ترغيب سره﴿إِنَّهُ كَانَ غَفَّارًا ﴾دااول ترغيب دې،يعنې شرک وکفرنه توبه اوباسئ. اوالله ﷻ نه متوجه شئ، الله ﷻ به خو اوبښي،هغه ډيربښونکي ذات دې ﴿يُرْسِلِ السَّمَاءَ ﴾دويم ترغيب دې چې الله ﷻ به درنه قحطونه اوخشک سالې ختمه کړي،اوبارانونه به درباندې را اوروي. "السماء" نه مرادباران دې. ﴿مِدْرَارًا ﴾دَ دَرَّ يَدُرُّ،دُروراً، نه دَ مبالغې صيغه ده، ډير زيات بهيدونکې ته وائې،حال واقع دې السماء نه.

﴿وَيُمْدِدْكُم بِأَمْوَالٍ وَبَنِينَ ﴾دريم ترغيب دې چې الله ﷻ به موبه مال اواولاد کښې اضافه اوبرکت واچوي،﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ جَنَّاتٍ﴾څلورم ترغيب دې چې الله ﷻ به درله باغونه درکړي،﴿وَيَجْعَل لَّكُمْ أَنْهَارًا ﴾پنځم ترغيب دې،نهرونه به درله جاري کړي﴿مَا لَكُمْ لَا تَرْجُونَ﴾دې کښې دَ دلائلو او نعمتونو په بيان سره دعوت دې،چې دومره لوئ الله ﷻ چې داکائنات اودې کښې چې څه دي هغه ئې تول پيداکړي دي، اوپه تاسو ئې گڼ شمير انعامات کړي دي،خوتاسو بياهم دَهغه عظمت خيال نه ساتئ اوايمان پرې نه روړئ،﴿لَا تَرْجُونَ لِلَّهِ ﴾يا پمعنې دَ "لاتعتقدون"سره دې، اويا "لاتخافون"سره دې، "وقارا"عظمت ته وائې.

﴿وَقَدْ خَلَقَكُمْ أَطْوَارًا﴾ دااول دليل عقلي دي اودليل انفسي دي.چي الله ﷻ تاسو مختلف مراحلو كښې پيدا كړي يئ «اطوارا» جمع دَ طور ده.او دينه مراد

(۱)ياهغه مراحل دى چي سورت المؤمنون ابتداء كښې تيردي،چې اول نطفه وی.بيا علقه. بيامضغه... الخ

(۲) يا مراد پيدائش نه بعد تر مرګ پورې دَماشوم توب،خوانئ او بوډاتوب مختلف مراحل دی.

(۳) ياد دي نه زندګئ مختلف احوال بيمارئ وصحت وغيره مراد دی

(۴)رنګونو اختلاف ترينه مراد دي،راجح قول دادي چي داټول ترينه مراد دی.څکه چی دا ټول دَ الله ﷻ په عظمت باندي دلائل دی، اوجمله حال واقع ده،دضمير دَ ترجون نه

﴿أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ خَلَقَ اللَّهُ﴾ دا دويم دليل عقلي دي چي آفاقي اوعلوي دي.ګورئ

(۱) چې الله ﷻ څنګه اووه آسمانونه لاندي باندې بې دَستون نه قائم كړي دی،داسې بل څوک كولې شی؟

(۲) بيائی پكښې سپوږمئ اېښيده چي په توره شپه كښې رڼا وركوی،داسې بل څوک كولې شی؟

(۳) او پكښې نمر اېښيدې،چې دَهغې حيثيت دَډيوې دي،ټول جهان ئی روښانه كړې وی.

﴿فِيهِنَّ﴾ضمير مجرور مرجع "سموات" دی، او سپوږمئ اګرچې په آسمان دنيا كښې ده، خو چونكه داآسمان ټولو آسمانونو باندې محيط دي،نودې كښې واقع كيدل داسې ده لكه ټولو كښې واقع وی نوځكه "فيهن"اووئيلی شو. ﴿نُورًا﴾ "منورا"﴿سِرَاجًا﴾ډيوه،سپوږمئ ته نور او نمر ته ډيوه اووئيلی شو ، څكه چې سپوږمئ خپله هم روښانه وی اوځمكه هم روښانه كوی،خودې رڼا دومره نه وی چي خلقوته پرې هر څه ښكاري،او كاروبار دَ زندګئ پرې روان وی،بخلاف دَ نمر نه.چي دَدې حيثيت ټولې دنيا دَپاره داسې دي لكه يوه كمرې دَپاره ډيوه اوبلب.چې هغې سره كمره مكمله روښانه وی او هر څه پرې ښكاري

﴿وَاللَّهُ أَنبَتَكُم مِّنَ الْأَرْضِ نَبَاتًا﴾ديكښې دَسابقه دليل انفسي اعاده ده،چونكه دي كښې دَمعاد ذكر سره دَ الله ﷻ مزيد قدرت اظهار دي، نوځكه مكرر شو ، دليل خلاصه دا ده چي الله ﷻ

تاسو مخصوص انداز سره دَ زمکې نه پيدا کړي يئ، چې ابتداء دحضرت آدم عليه السلام نه
اوکړه، اوهغه ئې خالص دَختونه پيدا کړو، بيا دَ هغې نه بعد دَ انسانيت سلسله شروع شوه. نو
دې دپاره اګرچه ظاهري سبب نطفه ده، خو ديکښې هم دَ زمکې دخل دې، چې نطفه دَزمکې
عذاګانو نه جوړيږي. ﴿ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا﴾ يعني بيا موهم دې زمکې ته ليږي اوقيامت په ورځ به
مو را اوباسي، اوحساب کتاب به درنه اخلي، لهذا په داسې ذات باندې ايمان راوړئ
﴿وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ﴾ دا دليل عقلي سفلي دې، اومطلب دادې چه الله ﷻ درته زمکه کښې
ګرځيدل داسې آسان کړيدی لکه په بسترې باندې چه سړې اوړي رااوړي. ﴿بِسَاطًا﴾ درئ او
پوځې ته وائي ﴿فِجَاجًا﴾ جمع دَ فج ده، فراخې لارې ته وائي.

قَالَ نُوحٌ رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ
اووئيل نوح عليه السلام اې ربه خما بې شکه چه دوئ نافرماني اوکړه خما اواتباع ئې وکړه دهغه چاچه زيات نکړو هغوئ ته
مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾
مال دَهغوئ او اولاد دَ هغوئ مګر تاوان (دَ آخرت) او مکر اوکړو هغوئ مکر لوئ
وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا
اواوئيل مشرانو کشرانو ته چه مه پريدئ هرګزعبادت دَمعبودانو خپلو اومه پريدئ هرګزعبادت دَوَد اونه دَسواع،
وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا ۚ وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ
اونه دَيغوث اويعوق اونسر. اوبه تحقيق ګمراه کړيدی دوئ ډيرخلق، اومه زياتوه ظالمانو له
إِلَّا ضَلَالًا ﴿٢٤﴾ مِّمَّا خَطِيئَاتِهِمْ أُغْرِقُوا فَأُدْخِلُوا نَارًا فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم مِّن
مګرعذاب، په سبب دګناهونو خپلو هغوئ غرق کړې شول نوداخل کړې شول اُورته، پس اونئ نه موندل خپلوځانونو له
دُونِ اللَّهِ أَنصَارًا ﴿٢٥﴾ وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا ﴿٢٦﴾
ماسوئ دَالله ﷻ نه مددګاران اووئيل نوح عليه السلام اې ربه خمامه پريږده په زمکه باندې دکافرانو نه دکور اُوسيدونکې

إِنَّكَ إِنْ تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴿٢٧﴾							
بې شکه که ته پریدې دوئ ژوندي، نوګمراه به کړي نوربندګان ستاً او نه پیداکیږي ددوئ نه مګر فاجر غټ کافر							
رَّبِّ	اغْفِرْ	لِي	وَلِوَالِدَيَّ	وَلِمَنْ	دَخَلَ	بَيْتِيَ	مُؤْمِنًا
اې ربه	څمابخنه اوکړه	ماته	اومورپلار څماته	اوهغه چاته	چه داخل شي	کورڅمانه	پدې حال کښې چه مؤمن وي،
وَلِلْمُؤْمِنِينَ	وَالْمُؤْمِنَاتِ	وَلَا	تَزِدِ	الظَّالِمِينَ	إِلَّا	تَبَارًا ﴿٢٨﴾	
اومؤمنانو سړو	اومومنانو ښځوته،	اومه	زياتوه	ظالمانو لره	مګر هلاکت		

﴿قَالَ نُوحٌ رَّبِّ﴾ دا دَنوح عليه السلام کارګزاري **څلورمه مرحله** ده، چې دیکښې دَخپل قوم شکایت کوئ الله ﷻ ته، ﴿إِنَّهُمْ عَصَوْنِي﴾ یعني دوئ دَنجات لارپریخوده چې هغه څمااتباع ده. ﴿وَاتَّبَعُوا مَن لَّمْ يَزِدْهُ﴾ او دَ هلاکت لار ئې اختیار کړه، اوپه مال او اولاد باندې مغروره رئیسانو او سردارانو اتباع ئې اوکړه. ﴿لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا﴾ یعنی دَ هغه خلقو اتباع اوکړه ، چې دَ هغوئ مال او اولاد دَهغوئ دَپاره خسارې سبب دې، ځکه چې هم دوئ په وجه، ئې سرکشي او دَالله ﷻ احکاماتو نه بغاوت کړیدې، «يزده» او «ماله» کښې ضمير مفرد رؤساؤو ته راجع دې اومفردضمير راوړلو کښې دَ "من" لفظي حثیت لحاظ ساتلې شوې دې.

﴿وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا﴾ دا دَرؤساؤو بل صف مذموم دې، یعني صرف ئې دَالله ﷻ احکاماتو نه بغاوت نه وؤکړې ، بلکه دین په لارکښې رکاوټونه ئې هم اوچول.

﴿وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ﴾ دا عطف دې په "ومکروا مکرا" باندې او دَ رؤساؤو دَ مکر يو نمونې بيان دې، یعنې متبوعینو خپلو اتباعو ته اووئیل، چه دَخپل معبودانو عبادت بالکل مه پریدئ، او خاصکر دَ دې پنځه ؤمعبودانو ،چه "وُد" دې، سواع دې، یغوث دې، یعوق او نسر دې، چونکه داپکښې دَتولونه لوئ بتان وؤنو ځکه ئې ورته ذکر اوکړو، دَبخاري شريف وغيره دَ دې آيت په تفسير کښې دی چه داپنځه واړه دَنوح عليه السلام دَقوم صلحاء وؤ، کله چه وفات شول، نو شيطان دَ دوئ مریدانو ته اووئیل چه دَدوئ تصویرونه جوړکړئ. په کورونوکښې ئې کیږدئ، چه دَ دوئ یاد درته تازه وی، او د تصورِشیخ په وجه به درته نیک عملونه اسان وی، کله چه دا

تصویرونو جوړولو والا وفات شول،نوشیطان ئی اولادته اووئیل چه ستاسوآباؤو د دی عبادت کولو، نو هغوئ دَدې بُتانوعبادت شروع کړو، دَ هر مطلب دپاره ئی بیل بیل بُت مقرر کړو.

"وُدّ" مشتق دې دَمَوَدة نه، دَ چابه چه عشق اودَمحبت حاجت وؤ .معشوقی به ورسره محبت نه کوؤ، نوده ته به راتلو ،هندوان دیته برهما وائی.

﴿وَلَا سُوَاعًا﴾ "سواع" حصارولوته وائ،دادَبقاء اودَنظام عالم چلولووالاوؤ .هندوان ورته بشنئ وائی. **﴿وَلَا يَغُوثَ﴾** دَ"غوث" نه دې، حاجت روائی لپاره وؤ .هندوان ورته.دیوتا وائی **﴿وَيَعُوقَ﴾** "عوق" نه مأخوذ دې، دَ دښمن رفع کولولپاره وؤ ،هندوان ورته شوجی وائی. **﴿وَنَسْرًا﴾** دادَطول العمرلپاره وؤ.

﴿وَقَدْ أَضَلُّوا﴾ ضمیرياراجع دې رؤساؤدَقوم ته یعنی دې مشرانودیرخلق پدی بتانوپه وجه گمراه کړل،یامذکوره پنځه بُتانوته،یعنی دَدوئ پوجه دیرخلق گمراه شول.

﴿وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا﴾ دادَنوح علیه السلام کارگزارئ **پنځمه او اخری مرحله** ده، چې قوم ایمان راوړلونه مایوسه کیدلونه ورستو دهغوئ دَپاره بدعاء او دَ مؤمنانو دَپاره دعاکوی.

«ضلال»(۱) یاپمعنی دَهلاک اوعذاب دې،یعنی نوح علیه السلام بددعاوکړه چه اې ربه:بس أوس صرف دوئ هلاک کړې دَایمان طمع ورنه نشته دې. (۲)یاورنه مرادناکامه کول دی پخپلومنصوبوکښ، یعنی یاالله دوئ چه څماخلاف اودَدین خلاف کومی منصوبی کوی هغه ناکامه کړې. (۳) یااضلال پخپله ظاهری معنی دې،نوذابعینه دَموسی علیه السلام په شان بد دعاء ده، ربنااطمس علی اموالهم واشددعلی قلوبهم... (یونس:۸۸)

﴿مِمَّا خَطِيئَاتِهِمْ﴾ داجمله معترضه ده ماقبل اومابعد په منیځ کښ، او دَ عذاب علت اوسبب بیان دې پکښ، "من" تعلیلیه دې او"ما"زائده دې ای من اجل خطیئاتهم(روح)یعنی دَ خپلو گناهونوپه وجه ورباندی طوفان راغې اوپکښ غرق کړې شول **﴿فَأُدْخِلُوا نَارًا﴾** ناردَبرزخ ورنه مراد دې، "فاء"دَتعقیب لپاره ده، نو دینه عذاب دَقبر ثابت شو.

﴿فَلَمْ يَجِدُوا لَهُم﴾زجراوپيغوردې مشركانوته. چه دَدوئ خودساخته معبودانوبيادداكئ نصرت نشوكولې

﴿وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ﴾ دا دَ بد دعاء تسلسل دې، چې ربه دوئ كښې يو كس هم ژوندې پرې نكړې ﴿ دَيَّارًا ﴾په اصل كښې"ديوار"دې،په وزن دَ"فيعال". واؤ په "ياء" بدل شو، او ادغام اوشو.نو "ديار" شو، ساكن الدار،يعنى دَ كوراوسيدونكى ته وائى.يا دَ "دور" نه ماخوذ دې، گرځيدلو ته وائى(روح) يعنى هيڅ گرځيدونكې اوحركت كونكې دَ كافرانونه په مخ دَزمكى مه پريږده.

﴿يُضِلُّوا عِبَادَكَ ﴾يعنى چه كوموپه ماايمان راوړيدې، هغه به هم گمراه كړى،پخپله خو خود ايمان نه راوړى،يادَ"عبادك"نه مرادنابالغه هلكان دَدوئ يا دَمؤمنانودى.﴿وَلَا يَلِدُوا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ﴾يعنى نهم نيم سوه كاله تجربه څمااوشوه، چه دينه ورستودَدوئ خامن هم ايمان نه راوړى،بعضِ وائى داعلم ورته په وحى سره اوشو.لكه په سورة هود(٣٦)كښې دى:واُوحى الى نوحٍ انّه لن يؤمنَ من قومكَ....

﴿رَّبِّ اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ ﴾كافرانوته بددعاء نه ورستوخپل خان،مورپلار،اومؤمنانوته ئى دعا اوكړه، دينه معلوميږى چه مور پلار دَ نوحعليه‌السلام مؤمنان وو.خكه كافرته دَمغفرت دعانه ده جائز، بعضِ وائى دَمورپلارنه مرادئى ادمعليه‌السلام اوحواء وو.

﴿وَلِمَن دَخَلَ بَيْتِيَ ﴾ياورنه حقيقةً كورمراد دې،ياورنه كشتئ مراده،﴿مُؤْمِنًا ﴾احتراز دې پدى سره دَخوى نه اودَښځې نه،﴿وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ﴾تعميم بعد التخصيص دې،يعنى تر قيامته پورى دَهر اُمت مؤمن اومؤمنه ته مغفرت اوكړى.

صاحب دَروح المعانى وائى چه نوحعليه‌السلام كافرانوته بددعااوكړه،مؤمنانوته ئى دُعا اوكړه،بددعاء ئى قبوله شوه،بعيده نده چه دُعائى هم قبوله شى.

رکوعاتها (۲)	سورة الجنّ مكيّة	اٰياتها (۲۸)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بېحده مهربان او ډېر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۲) وحسب النزول (۴۰)

نزلت بعد الاعراف وقبل يٰسين

ربط: ماقبل سورة کښې دعوې دَتبارک باندی دَحضرت نوح عليه السلام دليلِ نقلی تفصيلی ذکرشوې وۆ،اوس دی سورة کښې دَجناتونه دليلِ نقلی تفصيلی دې چه جناتو دامسئله تسليم کړه اوخپل قوم ته ئی تبليغ اوکړوحالانکه هغه قوی اوناری مخلوق دې.

خلاصه: دې سورت کښې درې دليل وحی ذکر کيږی.

(۱)اول دليل وحی دآيت (۱)تر ۱۰ پورې دې اودَجناتو نه نقل دې،اوذادليل وحې په درې حصوباندې تقسيم دې:

(۱)اولو اووه(۷) آيتونو کښې دَجناتو ايمان راوړلو،اودشرک نه برات ذکر دې،

(۲) ۸ تر ۱۰ پورې دآسمانی حالاتو بيان دې،

(۳)۱۱نه تر۱۵پورې تقسيم دَجناتو دې قبل ازاسلام اوبعداز اسلام.

(۲)دويم دليل وحی وان المساجد لله آيت ۱۸ دې.

(۳)دريم دليل وحی انه لما قام دې اوداپه خلورواعلاناتو مشتمل دې،دينه نه علاوه څه بشارات وتخويفات پکښې هم دی.

قُلۡ	اُوۡحِيَ	اِلَيَّ	اَنَّهُ	اسۡتَمَعَ	نَفَرٌ	مِّنَ	الۡجِنِّ
ته اووايه(اې پغمبره)چه وحی کړې شويده ماته چه غوږ کيخودلو (قرآن ته)يوجماعت دَجناتونه،							
فَقَالُوۡۤا	اِنَّا	سَمِعۡنَا	قُرۡاٰنًا	عَجَبًا	ۙ۝۱ يَّهۡدِيۡۤ	اِلَى	الرُّشۡدِ
نواووئيل دوی(خپل قوم ته چه کله لاړل)بې شکه مونږه واورېدلوقرآن عجيبه،چه ښائي دَ کاميابۍ لاره ته							

فَاٰمَنَّا بِهٖ ۭ وَلَنْ نُّشْرِكَ بِرَبِّنَآ اَحَدًا ۝۲ وَّاَنَّهٗ تَعٰلٰى جَدُّ رَبِّنَا
پس مونږ ایمان راوړو په هغه، او هرګزبه شریک نکړو د رب خپل سره هیڅوک. او بې سکه هغه چه لوئ دي شان د رب زمونږ
مَا اتَّخَذَ صَاحِبَةً وَّلَا وَلَدًا ۝۳ وَّاَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ سَفِيْهُنَا عَلَى اللّٰهِ شَطَطًا ۝۴
نه ئي ده نیولی ښځه او نه اولاد. اوبې شکه وئیل به زمونږ کم عقلو په الله باندې خبرې لرې د حق نه
وَّاَنَّا ظَنَنَّآ اَنْ لَّنْ تَقُوْلَ الْاِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ۝۵ وَّاَنَّهٗ كَانَ
اوبې شکه زمونږګمان ووچه هرګزنه به وائي انسان او پیریان په الله ﷻ باندې دروغ. اوبې شکه ووبه
رِجَالٌ مِّنَ الْاِنْسِ يَعُوْذُوْنَ بِرِجَالٍ مِّنَ الْجِنِّ فَزَادُوْهُمْ رَهَقًا ۝۶
ډیرسړي د انسانانو نه چه پناه به ئي غوښتله په کسانو د پیریانو نه، نوزیاته کړه انسانانو پیریانو له سرکشي
وَّاَنَّهُمْ ظَنُّوْا كَمَا ظَنَنْتُمْ اَنْ لَّنْ يَّبْعَثَ اللّٰهُ اَحَدًا ۝۷
اوبې شکه دوی ګمان کولولکه چه ګمان کوئ تاسوداچه هرګزبیابه ژوندي نکړي الله هیڅوک

﴿ قُلْ اُوْحِيَ اِلَيَّ اَنَّهُ اسْتَمَعَ ﴾ دا دلیل نقلي دي د جناتو نه، چې په درې حصو تقسیم دي، او دا ئي اوله حصه ده ، چې دیکښې د جناتو د ایمان راوړو ذکر دي.

بخاري شریف کښې دي چې نبي کریم ﷺ د خپلو اصحابو یو جماعت سره سوق عکاظ طرف ته اووتلو، داهغه زمانه وه چې ښیاطینوباندې د آسمانونوخبرې بندې شوې وې اوپه انګاربه ویشتلې کیدل، شیاطینو یوبل نه تپوس اوکړو چې څه وجه ده چې مونږ د آسمان خبرونه منع کړی شوی یو ، اوشهاب ثاقب راباندې ویشتلې کیږي، ضرورڅه چل شوې دې، لهذا مشرق نه تر مغرب پورې ټول زمکه چاڼ کړئ، شیاطین په تلاش کښې اووتل، یوجماعت د تهامه په طرف تشکیل شو ، نبي کریم ﷺ هلته وادي نخله په مقام کښې صحابه کرامو ته سهر مونځ ورکولو ، هغوئ چې کله قرآن واوریدلو نو اوئې وئیل هم داستاسوپاره د آسمان خبرونه رکاوټ ګرځیدلې دې، اوقوم ته واپس شولواودائې اووئیل، ﴿اِنَّا سَمِعْنَا قُرْاٰنًا عَجَبًا ﴾ «بخاري باختصار».

مسلم شریف کښ ورسره داهم دي چې دي موقع باندې نبی کریم ﷺ نه دوئ باندې قرآن لوستلې وؤ، اونه ئې دوئ ليدلی وؤ، نودې آيت کښ يوخوا مشرکينو ته او زجر پيغور دی چه جناتوقرآن يو ځل آوريدلو سره ايمان راوړو،تاسوعرب يئ. هروخت قرآن آورئ. اوبياهم ايمان نه راوړئ . بل ددې نه داهم ثابته شوه چې نبی کريم ﷺ عالم الغيب نه دې. ځکه چې نبی کريم ﷺ جناتوپه راتګ اوپه دې واقعې نه وؤ پوهه شوې،بلکه الله ﷻ ورله خبر ورکړو . او دغه شان داهم ثابته شوه چې جنات هم عالم الغيب نه دی .ځکه دوئ ته دَ رکاوټ سبب معلوم نه وؤ.

﴿أَنَّهُ﴾ضمير شان دې ﴿فَقَالُوٓا﴾يعنی قوم طرف ته واپس کيدلو نه بعد ئې هغوئ ته اوئيل

﴿عَجَبًا﴾صفت اول دې دَقرآن،عجب ناآشنا ته وائی،نو قرآن هم فصاحت وبلاغت اواسلوب بيان اعتبارسره دَمخلوق نه بالکل جدا اومعجز دې، نوځکه ئې ورته عجب اوئيلو،يائی ورته عجب دَمضامينو اواحکاماتو اعتبارسره اوئيلو .ځکه چې دوئ مشرکان وؤ،اوددې مضامين دَعقيده شرکيه خلاف دی، ﴿يَهۡدِيٓ إِلَى ٱلرُّشۡدِ﴾داصفت ثانی دې دَقرآن،الرشد خيراوحق ته وائی،يعنی حق اوخير طرف ته راهنمائی کوی﴿فَـَٔامَنَّا﴾دائی د ايمان بالقرآن اعلان دې، ((به)) کښ ضمير مجرور قرآن راجع دې﴿وَلَن نُّشۡرِكَ﴾شرک نه برات دې

﴿وَأَنَّهُۥ تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا﴾ديکښ دَالله ﷻ تنزيه بيانوی چې الله ﷻ ډير عظيم الشان ذات دې، هغه د عجز سماتو نه پاک دې ، دهغه نه بی بی شته اونه اولاد .﴿تَعَٰلَىٰ جَدُّ رَبِّنَا﴾جد په معنی دَعظمت ،شان،اوقدرت سره دې،اوداجمله معترضه ده په مابين دَ ((انه)) او ((ما اتخذ)) کښ.

ان کښ دلته اودينه ورستو چې يولس (١١) ځل ذکر دې،دوه قرات متواتره دی، بالفتح او بالکسر ان بالکسر په صورت کښ هيڅ اشکال نشته،ځکه چې داعطف دې په انا سمعنا باندې، البته أنّ بالفتح په صورت اشکال جوړيږی،چې دا په چا عطف کيږی، متعدد اقوال منقول دی، بې تکلفه قول دادې چې داعطف دې په((فامنا به))کښې ضمير مجرور باندې چې

به کښې دي ، او عطف په ضمير مجرور باندې بلا اعاده د جار نه . د کوفيانو په نيز جائز دې ،او د دې ګڼر شمير شواهد دی

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ يَقُولُ﴾دې کښې دَخپل مشرک مشرانونه براءت اعلان دې.چې دوئ الله ﷻ ته کومې خبرې منسوب کولی چې الله ﷻ لره بی بی ده او فرښتې دَهغه لونړه دی. وغيره، دا ډيرې غلطې خبرې دی،اوبې وقوف توب باندې مبنی دی ﴿سَفِيهُنَا ﴾ سفيه نه مراد خپل مشران مشرکان دی، چې سردارئی ابليس عليه اللعنة دې. «شَطَطًا»شطط حد نه تجاوز اوبې انصافی ته وئيلی کيږی،يعنی دوئ خبرې دَحق نه لرې وی.جلال محلی ئی معنی غلو في الکذبسره کړيده ،يعنی ډيرغټ دروغ ئی په الله ﷻ باندې وئيل

﴿وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن تَقُولَ ٱلْإِنسُ﴾ دا دَ وعظ کونکو جناتو معذرت دې،چه تراوسه پورې خو مونږ په دی سوء ظن کښې پراته وؤ، چه هيڅ څوک دَجن وانس نه په الله ﷻ باندی دروغ نه وائی، په دی وجه مونږ دا ګڼړله چه زمونږمشران چه (نعوذبالله) الله ﷻ لره شريک اونائب ثابتوی، دوئ په حقه دی،ليکن اُوس دَقرآن اوريدلوسره راباندی داحقيقت ښکاره شوچه دوئ بی وقوفه دی، کاذبان دی.

﴿وَأَنَّهُۥ كَانَ رِجَالٌ مِّنَ ٱلْإِنسِ﴾ديکښې دَجناتوسرکشئ اسباب بيانوی،چې دا انسانو ډير سرکشه کړيدی، ځکه چې کله به دَدوئ په لاره په سفرکښې په ځنګل يابيابان کښې شپه راغله، بريدل به نوپه زوره به ئي اوازاوکړو :ياعزيزهذاالوادی اعوذبک من السفهاءالذين في طاعتک، يعنی ستانه دَدی ځنګل دَسرکشونه پناه غوارم،جناتوبه چه داواوَريدل ، نو نور به هم په غرور کښې راغلل، چه مونږ دَ جناتو او انسانانومشران يو ،او هم دا مقصد دې دَ« يعوذون برجال من الجن» ﴿فَزَادُوهُمْ رَهَقًا﴾ضميردَفاعل انسانانوته راجع دې اوضميردَمفعول جناتوته،"رهقا" بمعنی دَسرکشئ سره دې انسانانو دَجناتوپه تکبرکښې اوطغيانئ کښې زياتوالې اوکړوپه قول مذکور سره،بعض وائی دَ﴿ رَهَقًا﴾ معنی"اثما"ده،نوضميرونه بالعکس دی،نومعنی داده چه جناتودَانسانانوپه ګناه کښې زياتوالې اوکړو(روح). عبدالماجد دريا آبادی صاحب دی ايت په

ذیل کښې لیکلی دی، چې نن صبا کوم مسلمان عاملان خپلو تعویذونو او عملیاتو کښې جناتو او مؤکلینو نه مدد طلب کوی،هغوئ له پکار ده چې دغه شان آیاتونه لګ په غور سره اولوی.

﴿وَأَنَّهُمْ ظَنُّوا﴾ داهم کلام دَجناتو دي،دیکښې په بعث الموت باندې ایمان راوړلو ذکر و دعوت دي ، یعنی دانسانانو هم داعقیده وه چې کله یوځل مړه شونو بیا دوباره پورته کیدل نشته، لکه څنګه چې ستاسوعقیده ده، هغوئ هم په غلطه عقیده وو ، تاسوهم په غلطه یئ. نو کله چې داقرآن نازل شو نوهغوئ دا عقیده پریخودله اوپه بعث بعدالموت باندې ایمان راوړلو، لهذاتاسو هم ایمان راوړئ ﴿كَمَا ظَنَنتُمْ﴾ کښې خطاب خپلو جناتو ته دي.

یا داجمله معترضه ده او ظنوا کښې ضمیر جناتو ته اوپه ظننتم کښې خطاب کفارونه دي، یعنی اي کفارمکه ! دَجناتو هم عقیده دا وه، خوکله چې قرآن ئې واوریدلو، نو ایمان ئې راوړلو، لهذاتاسو ایمان راوړئ(تفسیر مظهری) ﴿أَن لَّن يَبْعَثَ اللَّهُ أَحَدًا﴾ مطلب دادي چه لکه څنګه ستاسو داګمان وو چه دَمرګ نه ورستوبیاژوندي نشته دغه شان دَبعض انسانانوهم دغه ګمان وو،نودَ بعث نه مرادبعث بعدالموت دي.

وَأَنَّا لَمَسْنَا السَّمَاءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَسًا شَدِيدًا وَشُهُبًا ﴿٨﴾

اوبې شکه مونږ مسه کړوآسمان پس بیاموندومونږهغه چه ډک کړې شوي دي دَخوکیدارانوسختونه اودلمبوداُورنه

وَأَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ ۖ فَمَن

اوبې شکه وومونږچه کیناستلوبه پدی آسمان کښې په ځایونودکیناستلوکښې دَپاره دَاوریدلو،پس هغه څوک

يَسْتَمِعِ الْآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَابًا رَّصَدًا ﴿٩﴾ وَأَنَّا لَا نَدْرِي أَشَرٌّ أُرِيدَ

چه غوږکیدی اوس نوبیامومی ځان لره لمبه تیاره،اوبې شکه مونږنه پوهیږوچه آیا د څه شراراده شویده

بِمَن فِي الْأَرْضِ أَمْ أَرَادَ بِهِمْ رَبُّهُمْ رَشَدًا ﴿١٠﴾

په هغه چاچه په زمکه کښې دی اوکه اراده کړیده پدوئ رب دَدوئ کامیابی

﴿وَأَنَّا لَمَسْنَا ٱلسَّمَآءَ﴾ دا د دليل نقلي دويمه حصه ده. چې دی کښې جنات داسمانونو حالات بيانوی، چه دينه قبل به مونږ اسمانونو ته ختلو اوس نه شو ختلې ، دينه قبل به مودملأ اعلی خبری اوريدلی، ليکن اوس نه شو اوريدلی، نو دينه معلوميږی چې الله ﷻ خپل رسول مبعوث کړيدی لهذا ايمان پری راوړئ.

«لمسنا» پمعنی دَ "طلبنا" سره دې،يعنی مونږ دَ فرشتوخبرواوريدلودپاره آسمان ته ځان رسول طلب کړل، ليکن سخته چوکيداری ئی شروع وه،نومونږپوهه شوچه څه نوې واقعه شويده دنيا کښې،اوهغه بعثت دَ دې رسول اکرمﷺ دې، ځکه چه دَده دبعثت نه قبل به مونږ خبرو اوريدلو دپاره کيناستلو ، ليکن اوس خولاناست نه يو ،چه شغله راته تياره رارسيدلی وی.

﴿وَأَنَّا لَا نَدْرِيٓ﴾ددې آيت دوه مطلبه بيان کړې شوې دی.

«۱»يوداچې مونږ ته تر اوسه پورې پته نوه چې دآسمان کوم دَحراست انتظام شوې دې، نودينه څه مقصود دی؟آياپه خلقوباندې څه عذاب راروان دې اوکه نه،څه دَخيراراده شوی ده، خو اوس چې کله قرآن واريدلو ، نومعلومه شوه راته چې دَخلقو خيراوهدايت مقصود دې، چې جنات کاهنانوله خبررانه وړی اوخلق پرې گمراه نشی.

«۲» دويم طلب دابيان شوې دې چې دې رسول بعثت خو حق دې،خو ليکن مونږته داپته نشته چې دې سره دَخلقو خير اراده شوې ده اوکه شر،ځکه چې داپته نشته چې داخلق به پرې ايمان راوړی او که نه؟نو که ايمان ئی راوړلو نو دَدوئ خير اراده شوې ده، دنيوی اواخروی انعامات به ورته ميلاويږی،اوکه ايمان ئی رانوړو ، نو بيا دَ دوئ شراراده کړې شوې ده ، او دَ دوئ هلاکت وخت قريب دې«مظهری روح المعانی،جواهر».

وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ۖ كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ⑪
اوبې شکه بعضی زمونږنه نيکان دی اوبعض زمونږنه غيردی له دوئ نه وؤمونږمختلفی فرقی.
وَأَنَّا ظَنَنَّآ أَن لَّن نُّعْجِزَ ٱللَّهَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَن نُّعْجِزَهُۥ
اوبې شکه مونږيقين کوؤداچه هرگزنشوعاجزه کولې مونږالله ﷻ لره په زمکه کښې اوهرگزنشوعاجزه کولې هغه لره

هَرَبًا ﴿١٢﴾ وَّاَنَّا لَمَّا سَمِعْنَا الْهُدٰٓى اٰمَنَّا بِهٖ ؕ فَمَنْ یُّؤْمِنْ

په تيختې سره اوبې شكه مونږ هركله چه واؤريدلو داقرآن نوايمان موراؤړوبېده. پس څوک چه ايمان راوړي

بِرَبِّهٖ فَلَا یَخَافُ بَخْسًا وَّلَا رَهَقًا ﴿١٣﴾ وَّاَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُوْنَ

په رب خپل نونه به يريږي دكمولودنيكئ نه اونه زياتولودبدئ نه اوبې شكه بعضې زمونږنه مسلمانان دي

وَمِنَّا الْقٰسِطُوْنَ ؕ فَمَنْ اَسْلَمَ فَاُولٰٓىٕكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾

اوبعضې زمونږنه ظالمان دي پس هغه چاچه اسلام راوړونو دغه كسانوقصداوكړودكامينئ

وَاَمَّا الْقٰسِطُوْنَ فَكَانُوْا لِجَهَنَّمَ حَطَبًا ﴿١٥﴾

اوهرچه ظالمان دي نو دي دوئ دجهنم خشاک

﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلصَّٰلِحُونَ ﴾دا دليل نقلي دريمه حصه ده چې دې كښې دا جنات نورو جناتو ته قبل ازاسلام خپل حالات ذكركوي، چې قبل ازاسلام مونږ كښې مختلف مذاهب وو، څوک مؤمنان اوڅوک كافران ،او كوم چې مؤمنان وو ، نو هغوئ هم درجاتو اعتبار سره مختلف وو، څنې كامل مؤمنان وؤ، او څنې ناقص،او زمونږ حالت دا وو چې مونږ مؤمنان نه وؤ، كافران وؤ، خواوس موچې كله قرآن واريدلو، نو دَ الله ﷻ په عظمت اوقدرت په هدايت حقانيت خويقين راغې نو ايمان موراوړو.

﴿وَمِنَّا دُونَ ذَٰلِكَ ﴾"دون" په دوؤ معنو كښې استعماليږي(١)تحت او"اقل".(٢)غير،كه اوله معنى واخلو نومطلب به داوي چې څنې مونږ كښې كامل مؤمنان وؤ اوڅنې دَهغوئ نه كم درجې والا، اوكه"غير"په معنى كښې نې واخلو نومطلب به داوي چې څنې مونږ كښې صالحان مؤمنان وؤ اوڅنې نه وؤ، ﴿كُنَّا طَرَآئِقَ قِدَدًا ﴾تفسير دې دَماقبل،طرائق جمع دَطريق ده اومراد ترينه مذاهب دي ،او مضاف محذوف دې اې ذي طرائق"قددا"جمع "قِد"ده،متفرق اومختلف په معنى كښې راځي.

.﴿وَأَنَّا ظَنَنَّآ﴾ اي علمنا الآن بعد نزول القرآن﴿أَن لَّن نُّعۡجِزَ ٱللَّهَ فِي ٱلۡأَرۡضِ﴾يعنى زمكه كښې ترينه نشوبچ كيدلې ﴿وَلَن نُّعۡجِزَهُۥ هَرَبٗا﴾اوآسمان ته ترينه هم نشو تختيدلې،هلته به هم په شهاب ثاقب ويشتلې كيږو،يادَ "لن نعجز الله في الارض"معنى داده چې مقابله ئې هم نشو كولې،اونه ئې مغلوبه ولې شو او "ولن نعجزه هربا"اوپه تخته ترينه هم ځان نشو بچ كولې.

﴿وانا لما سمعنا الهدى﴾ "هدىٰ" نه مراد قرآن دې ، چې قرآن مو واوريدلو ،نو ايمان مو پرې راوړو . ﴿فَمَن يُؤۡمِنۢ﴾ داترغيب دې ايمان ته﴿فَلَا يَخَافُ بَخۡسٗا﴾اى نقصاًفى الجزاء(روح)﴿وَلَا رَهَقٗا﴾ اى لازيادة فى سيئاته،يعنى مؤمن به په ثواب اوبدله كښې دكموالى خوف نكوى اونه به زياتوالى دګناه خوف كوى،بعضو دَ﴿رَهَقٗا﴾معنى ذلة كړيده، يعنى دَ ذلة اورسوايئ خوف به ورسره نوى(روح)

.﴿وَأَنَّا مِنَّا ٱلۡمُسۡلِمُونَ﴾داتقسيم دې دَدوئ بعدازاسلام، يعنى څنګه د اسلام نه مخكښې مونږ كښې فرقې وې، نو اسلام نه بعد هم په طبقوكښې تقسيم شو،چا ايمان راوړو او چا را نوړو، اوپه ځان ئې ظلم اوكړو.﴿وَمِنَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ﴾يعنى دَحق لارى نه ګمراه،"قاسط" دَ ثلاثى مجرد نه پمعنى دَظالم اوبى انصافه دې،اوثلاثى مزيدفيه نه يعنى مقسط ، پمعنى دَانصاف او مُنصف سره دې. ﴿فَمَنۡ أَسۡلَمَ﴾بشارت دې چه اسلام راوړونكودكاميابئ لاره اوموندله.

﴿وَأَمَّا ٱلۡقَٰسِطُونَ﴾ دا تخويف دې چه ظالمانواومشركانودَناكامئ لاره اوموندله چه دوئ به دَجهنم خس خشاک وى.

وَأَن لَّوِ ٱسۡتَقَٰمُواْ عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ لَأَسۡقَيۡنَٰهُم مَّآءً غَدَقٗا ﴿١٦﴾ لِّنَفۡتِنَهُمۡ
اودا هم ماته وحى شويده چه،كچرته داخلق روان شوپه لارى سمى دَاسلام،نوخامخااوبه څكوو مونږ دوئ اوبه ډيرى دَپاره ددى چه مونږ ازمينت
فِيهِۚ وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا ﴿١٧﴾
اوكړودَدوئ پدغه نعمت كښې اوڅوک چه اعراض اوكړى دَعبادت دَرب خپل نه نوداخل به ئې كړى الله تعالىٰ عذاب سخت ته

﴿وَأَلَّوِ ٱسْتَقَـٰمُوا۟﴾ دَجناتو بيان ختم شو، اوس ديګښ التفات دې اهل مکې وته او داعطف دې په ﴿أَنَّهُ ٱسْتَمَعَ نَفَرٌ﴾ باندې اى قل اُوحى اِلىَّ ان لَواستقاموا. ضميرپه ﴿ٱسْتَقَـٰمُوا۟﴾ کښې راجع دې اهلِ مکه وته ﴿عَلَى ٱلطَّرِيقَةِ﴾ دَ الطَّريقة نه مراددين اسلام ايمان اواطاعت دې. روايت دې چه داآيت کريمه په هغې وخت کښې نازل دې چه اهل مکه په سخت قحط کښې مبتلاوو. نو الله ﷻ ورته اوفرمائيل کچرته دوئ ايمان راوړې په لارې دَاطاعت باندې مستقيم شي نو مونږبه بارانونه راولو، قحط به ختم شي، ﴿مَّآءً غَدَقًا﴾ اى کثيرا، مراددَډيروالى دَاُوبونه وسعت اوډيروالې دَرزق دې، ځکه چه په کثرت دَاوبوسره کثرت درزق راځي (روح وغيره)

﴿لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ﴾ يعنې مونږبه ېې امتحان کوؤچه شکرکوى که ناشکرى. بعضِ وائى دَ الطَّريقة نه مرادلاردګمراهئ اودکفردہ، نوبيامطلب دادې کچرته دوئ پخپل کفرباندې دغه شان پاتې شي ايمان نه راوړى نوبطوراستدراج به ورله مونږپه دنيوى نعمتونوکښې وسعت اوکړوبيابه ورله عذاب ورکړو، کقوله تعالى: فلمّانسواماذکّروابه فتحناعليهم ابوابَ کلّ شيئ (انعام: ۴۴).

﴿وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ﴾ داتخويف دې کفرکونکوته، دَذکردَرب نه مرادعبادة دَالله تعالى دې، يعنې چاچه دَالله ﷻ دَعبادة نه اعراض اوکړونوسخت عذاب کښې بۀ ورداخل کړو، بعضِ وائى نصيحت ورنه مراددې، بعضِ وائى وحى يعنې قرآن ورنه مراددې

وَأَنَّ ٱلْمَسَـٰجِدَ لِلَّهِ فَلَا تَدْعُوا۟ مَعَ ٱللَّهِ أَحَدًا ۝١٨ وَأَنَّهُۥ لَمَّا

(داهم ماته وحى شويده چه بيشکه جماتونه صرف دَالله ﷻ عبادت لپاره دی نومه بلئ دَالله سره بل هيڅوک اوبى شکه هرکله

قَامَ عَبْدُ ٱللَّهِ يَدْعُوهُ كَادُوا۟ يَكُونُونَ عَلَيْهِ لِبَدًا ۝١٩

چه به اودريدلوبنده دَالله (حضور ﷺ) چه عبادت به ئې کولو دغه نونيږدې وؤدوئ چه شي پده بلندى راپنډ.

قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا۟ رَبِّى وَلَآ أُشْرِكُ بِهِۦٓ أَحَدًا ۝٢٠

ته ورته اووايه اې پغمبره چه بې شکه ځه خوعبادت کوم صرف دَرب خپل اونه شريکوم دَهغه سره هيڅوک

قُلْ إِنِّي لَا أَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا وَلَا رَشَدًا ﴿٢١﴾ قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي

ته اوایه بېشکه څه نه یم مالک تاسولره دضرردفع کولواونه دنفع رسولو نه اوایه بی شکه مابه هرګزخلاص نکړی

مِنَ اللَّهِ أَحَدٌ ۚ وَلَنْ أَجِدَ مِن دُونِهِ مُلْتَحَدًا ﴿٢٢﴾ إِلَّا بَلَاغًا مِّنَ اللَّهِ

دالله ﷻ دعذاب نه هیڅوک اوهرګزبه پیدانکړم دهغه نه ماسوی ځای دننهؤ لیکن رسول دطرفه دالله نه

وَرِسَالَاتِهِ ۚ وَمَن يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَإِنَّ لَهُ

اوپیغامونه دهغه داخماکاردي،اوهغه څوک چه نافرماني اوکړی دالله ﷻ اودرسول دهغه نوبي شکه هغه لره دي

نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ﴿٢٣﴾ حَتَّىٰ إِذَا رَأَوْا مَا يُوعَدُونَ

اوردجهنم چه همیشه به وی په هغی کښی همیشه‌تردی چه اووینی هغه عذاب چه وعده ئی ورسره کولي شي

فَسَيَعْلَمُونَ مَنْ أَضْعَفُ نَاصِرًا وَأَقَلُّ عَدَدًا ﴿٢٤﴾

بس زرده چه پوهه به شی کافران چه څوک دي ډیرکمزوري دجهته دمددګاراوډیرلږدي په شمارکښ

﴿وَأَنَّ الْمَسَاجِدَ لِلَّهِ﴾ دویم دلیل وحی دي ، او داهم په ابتداء دسورة یعني﴿ أَنَّهُ اسْتَمَعَ نَفَرٌ﴾ باندی عطف دي، یعنی ماته داهم وحی شویده چه جماعتونه صرف دالله ﷻ دعبادت لپاره دی،دیکښی دبل چاعبادت، تجارت، دنیاوی خبری مکوئ.

بعضِ وائی المساجد نه مراددسجدی اعضاء دی،اومطلب دادي چه اعضاء دسجدی الله ﷻ پیدا کړیدی ، نو د الله ﷻ نه بغیرپری بل چاته عبادت اوسجدی مکوئ،بعضِ وائی المساجد جمع دمسجدده،مصدرمیمی دي،پمعنی دسجدی،نومطلب دادي چه سجدی صرف الله تعالی ته کوئ بل چاته مه کوئ،روح،قرطبی وغیره.

﴿وَأَنَّهُ لَمَّا قَامَ﴾دادریم دلیل وحی دي، او دا هم په﴿ اسْتَمَعَ نَفَرٌ﴾باندی عطف دي،﴿عَبْدُ اللَّهِ﴾ نه مرادحضور ﷺ دي،یعنی کله چي ته عبادت کوی، نو دا خلق تول راپنډ شی، او ډیر په تعجب درته ګورځی، چه ته داڅه کوي؟ ځکه چي دوئ بتانو ته سرټیتی نه علاوه بل څه لیدلی

نه دی،نو اې څما پیغمبره ،ته ورته څه صفا اوایه چې څما معبود صرف الله ﷻ دې.هغه د هر څه مالک دې، او څه دَهغه رسول یم،اوتاسوته دَهغه پیغام دررسوم ﴿ يَدْعُوهُ﴾نه مراد عبادت دَ الله ﷻ دې . ﴿ كَادُوا يَكُونُونَ﴾ ضمیر مرفوع کښې مفسرینو متعدد احتمالات ذکر کړیدی

(۱) ضمیر راجع دې کفاروته ،یعنی نبی کریم ﷺ چې عبادت دَپاره اودریږي، نودوئ په هغه باندې راپنډ شی ، یادَ تعجب دَوجهی نه ،یا تکلیف د رسولو په غرض،اویاپه عبات کښې خلل راوستلودَپاره.

(۲)ضمیر جناتو ته راجع دې، یعنی کله چې نبی کریم ﷺ بطن نخله کښې سهر مونځ دَپاره اوریدلو . نو دوئ دَقرآن اوریدلو په غرض پرې راپنډ شو.

(۳)ضمیرمؤمنانوصحابوًته راجع دې، یعنی کله چې نبی کریم ﷺ دَعبادت دَپاره اودریږی، نو دوئ پرې راپنډ یږی اواقتدا ئې کوی.

چونکې دې ټولو احتمالاتو جمع ممکنه ده ، لهذا راجحه خبره داده چې دا ټول مراد دی.

﴿قُلْ إِنَّمَآ أَدْعُوا رَبِّي وَلَآ أُشْرِكُ ﴾ دا اعلانات دی او دااول اعلان دې،یعنی کله چې دوئ راپنډ شی، نو ته ورته اوایه چې صرف دَالله ﷻ عبادت کوم اوهغه سره څوک نه شریکوم.

﴿قُلْ إِنِّي لَآ أَمْلِكُ لَكُمْ﴾دویم اعلان دې . چې نفع نقصان ورکول اوهدایت ورکول اوګمراه کول دَالله ﷻ په اختیار کښې دی،څما سره داهیڅ نشته

﴿قُلْ إِنِّي لَن يُجِيرَنِي ﴾دریم اعلانً دې، چې تاسو ماته دا وایئ چې دَخپل رب عبادت او دَهغه طرف ته دعوت ورکول پریګدم، داهرګزنشی کیدی،ځکه داخوځما فرض منصبی دې، که دا مې پریخودلو نو بیا مې څوک دَالله ﷻ دَعذابه نشی بچ کولې ﴿مُلْتَحَدًا ﴾نه مراد پناه ګاه او محفوظ مقام دې.

﴿ إِلَّا بَلَٰغًا مِّنَ ٱللَّهِ ﴾ استثناده یادَ "ضرا و لارشدا" نه ده،یعنی څه دَ هیڅ مالک نه یم سوا دَ تبلیغ نه ، او یا استثناه ده دَ "ملتحدا" نه، یعنی هیڅ جائی پناه نه مونده‌م، سوائ دَ دعوت الی الله نه. ﴿وَمَن يَعْصِ ٱللَّهَ ﴾تخویف دې.

﴿حَتّٰۤى اِذَا رَاَوْا مَا يُوْعَدُوْنَ﴾ داد ماقبل تخويف ((ومن يعص الله)) سره متعلق دې.يعنې دا تخويفات په دوئ هيڅ اثر نه کوي .او دوئ ايمان نه راوړي . د دوئ دا ګمان دې چې مسلمانان به هميش دغه شان کمزوري اوبې يارو او مددګاره وي.تردې چې دوئ دَالله ﷻ عذاب دنيوي يا اخروي مشاهده اوکړي.نوبيا به ورته پته اولګي. حتیٰ ابتدائيه ده اوغايه ده دپاره دَمحذوف،چې لايزالون يعصون ويستضعفون دي.

قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ اَقَرِيْبٌ مَّا تُوْعَدُوْنَ اَمْ يَجْعَلُ لَهٗ رَبِّيْٓ

ته اووايه نه پوهيږم څه چه آيانيزدې دې هغه عذاب چه تاسوسره ئې وعده کيږي اوکه مقررکړيدی هغې لره رب څما

اَمَدًا ۝ عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ۝ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى

لرې نيټه‌الله عالم دې دغيبوپس نه خبروی په مغيبانوخپلوهيڅوک ليکن هغه چه غوره ئې کړي

مِنْ رَّسُوْلٍ فَاِنَّهٗ يَسْلُكُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَمِنْ خَلْفِهٖ رَصَدًا ۝

کوم رسول پس بې شکه الله روان کړي دَمخکې دَهغه نه اودورستودَهغه.نه څوکئ دفرشتو

لِّيَعْلَمَ اَنْ قَدْ اَبْلَغُوْا رِسٰلٰتِ رَبِّهِمْ وَاَحَاطَ

دپاره ددې چه ښکاره کړي الله داخبره چه بې شکه دی فرشتو ورسول پيغامات درب خپل اواحاطه کړيده الله

بِمَا لَدَيْهِمْ وَاَحْصٰى كُلَّ شَيْءٍ عَدَدًا ۝

پوره عالم دې‌په هغې احکاماتوچه پيغمبرانوسره دی،اوشمارلې ئې دې هرڅيزپه پوره شمارلوسره.

﴿قُلْ اِنْ اَدْرِيْٓ﴾ خلورم اعلان دې، چې دامشرکين ستانه تپوس کوی‌چې کوم دنيوی اواخروی عذاب نه مونږ يروې دا به کله وی؟ او ستا نه دَهغې تعيين په باره کښې تپوس کوی، نو ته ورته اوايه ماته هيڅ پته نشته،څمامنصب تقاضه صرف انذار وڼ دعذاب نه، چې هغې راتلل يقينی دي، باقی دَهغې وخت تعيين دا امورتکوينيه دی،دې څمامنصب سره څه تعلق نشته. ((ان)) نافيه دي،﴿ اَمَدًا ﴾ نيتې نه مرادلرې نيټه ده،يعنی داماته علم نشته چه قريب دې که‌لرې دي.

﴿عَٰلِمُ ٱلۡغَيۡبِ﴾اى هوعالم الغيب،تعليل دې دَماقبل چه ماته علم خکه نشته چه دَقيامت علم : مغيباتونه دې، او علم دَ غيب صرف الله ته دې،اوالله ﷻ دَخپلو مغيباتو اطلاع هرچاته نه ورکوى ﴿فَلَا يُظۡهِرُ﴾داظهار دلته دوه معنى کيدې شى (۱)اطلاع ورکول.يعنى الله ﷻ اطلاع چاله نه ده ورکړى،(۲)غلبه ورکول،يعنى چاله ئى په غيب باندې غلبه نه ده درکړې چې څه وخت اوڅه ئى خوښه شى راواخلى ترينه.﴿عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ﴾دينه مراد تکوينى مغيبات دى.چې دهغې کلى علم الله ﷻ چاله هم نه دې ورکړې.

﴿إِلَّا مَنِ ٱرۡتَضَىٰ﴾مستثنى منقطع ده،﴿مِن رَّسُولٖ﴾نه معلوميږى چې ددې قسم مغيب تو تعلق صرف دَامور رسالت او تشريعاتو سره دې،نومطلب داشو چې سوائى دَداسى مغيباتونه چې دَهغې تعلق رسالت سره اوتشريعى احکاماتو سره دې. نو هغې باندې الله ﷻ خپل رسولان مطلع کوى. نودَدينه معلومه شوه چه مرادورنه هغه بعضِ علم غيب دې چه دَنبوت سره متعلق وى.

تفسيرابوالسعودکښ دى چه حاصل ئى دادې چه غيب په درى(۳)قسمه دې.

(۱)يوهغه دې چه تعلق ئى دَمبادى دَرسالت سره وى لکه معجزات شول.

(۲)بل هغه چه ارکانُ دَرسالت نه وى،لکه تکاليف شرعيه شول.

(۳)دريم هغه دې چه دواړوسره ئى تعلق نه وى . نودې قسم باره کښ اووئيل شوچه﴿فَلَا يُظۡهِرُ عَلَىٰ غَيۡبِهِۦٓ أَحَدًا﴾ نو علم دَ قيامت هم دَدى قسم نه دې،يعنى نه ئى مباديوسره تعلق شته اونه ئى ارکانوسره،لهذاکافرانوته اووئيل شوچه دَده نه داسوال مه کوئ چه کله به قيامت وى.

﴿فَإِنَّهُۥ يَسۡلُكُ﴾دې کښ دَاطلاع کيفيت ذکر کيږى،چې الله ﷻ کله خپل نبى ته يوحکم اطلاع ورکوى، نو الله ﷻ ورته فرشتى اوليږى چې هغه فرشتې دَپيغمبر نه چارچاپيره شى، چې داپيغام بالکل حقيقى صورت اوپه حفاظت سره ورته اورسى اودَشياطينو هر قسم دخل ، وساوسو اواثراتو نه محفوظ شى.

﴿لِيَعْلَمَ أَن قَدْ أَبْلَغُوا﴾دامتعلق دي په یسلک پوري اودهغي علت بیان دي.یعنی الله ﷻ دا فرشتی څکه رالیږی چې پیغمبرانو ته دایقین اوشی چې دوئ دالله ﷻ پیغام صحیح سلامت رارسولي دي. ﴿لِيَعْلَمَ﴾کښې ضمیر رسول ته راجع دي. اوپه ﴿أَبْلَغُوا﴾ کښې ضمیر رصدا محافظوفرشتو ته راجع دي،دیکښې دویم احتمال داهم دي چې لیعلم کښې ضمیرالله ﷻ ته راجع وی،او ابلغو کښې ضمیر رسولانو ته راجع وی.یعنی دافرشتی الله ﷻ څکه لیږی چې معلوم کړی چې دده رسولانو خپله فریضه کماحقه اداکړه.اودالله ﷻ پیغام ئی پوره پوره اورسولو.

﴿وَأَحَاطَ بِمَا لَدَيْهِمْ﴾دیکښې دالله ﷻ کمال علم بیان دي،یعنی الله ﷻ دافرشتی رالیږی . خوحال دادي چې دي فرشتواوپیغمبرانو کوم کوم احکامات اوشرائع دی هغه هم دالله ﷻ په احاطه علم کښې دی اودینه نه علاوه هرهر څیز تعداد الله ﷻ معلوم دي.

ركوعاتها (۲)	سورة المُزّمل مكيّة	اٰياتها (۲۰)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۳) وحسب النزول (۳)

نزلت بعد القلم وقبل المدثر

ربط: ددې ربط ماقبل سره په څو وجوه دې:

(۱)ماقبل سورتونو کښ نفي دَشرک في البرکت بنه په تفصیل سره اوشوه. اوس دې کښ دَقرآن تلاوت حکم دې چې دامسئله بنه زړه ته کوزه شي.

(۲)ماقبل سورت کښ دَجناتو قرآن نه متاثره کیدلو تذکره وه. اوس دې کښ دَقرآن تلاوت حکم دې چې انسانان ئې واوری اودوئ ترینه هم متاثره شي.

خلاصه

داابتدانه ترآیت ۱۰ پورې شپږ اوامر دی.

آیت نمبر ۱۱نه تر ۱۹پورې مختلف تخویفات دی.څه دنیوی اوڅه اخروی.

آیت نمبر ۱۹ کښ ترغیب دې ایمان ته.

آیت ۲۰متعلق دې ابتدادَسورت سره.

يٰۤاَيُّهَا الۡمُزَّمِّلُ ۝۱ قُمِ الَّيۡلَ اِلَّا قَلِيۡلًا ۝۲ نِّصۡفَهٗۤ اَوِ انۡقُصۡ مِنۡهُ قَلِيۡلًا ۝۳

اې نغښتونکیه دَخان په جامه کښ،قیام کوه دَشپې سوا دلږ ساعت نه چې هغه نیمه شپه ده، یاکمه کړه دَنیمې شپې نه لږشانتې

اَوۡ زِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ الۡقُرۡاٰنَ تَرۡتِيۡلًا ۝۴

اویازیاته کړه په نیمې باندې او ورو رووایه قرآن بنه په ورو لوستلو سره،

اِنَّا سَنُلۡقِيۡ عَلَيۡكَ قَوۡلًا ثَقِيۡلًا ۝۵ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيۡلِ

بې شکه مونږه زردې چه نازل کړوپه تاباندې قول درونددقرآن،بې شکه چه پاسیدل دَشپې

هِيَ أَشَدُّ وَطْأً وَأَقْوَمُ قِيلًا ۝ إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا ۝

دا ډیر سخت دي په پائمال کولو دنفس کښ او ډیر فائده مند دي په ویناکښ. بی شکه ستا له په ورځی کښ شغل دي اوږد،

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمُزَّمِّلُ ﴾ دي آیتونو کښ امردي حضور ﷺ ته دقیام اللیل. "المزمل" په اصل کښ متزمّل وؤ، "تاء" په "زاء" بدل شوه، او بیا زا په زا کښ مدغم شوه، «المزمل» هغه چاته وئیلی کیږی چې په کپړه یا څادر کښ ئی ځان رانغښتي وی. او دیکښ اشاره ده واقعې د غار حرا ته، چې کله جبرئیل ﷺ په نبی کریم ﷺ باندي نازل شو، او وحی او هم کلامی ئی ورسره اوکړه. نو نبی ﷺ کورته راغي، اوخپلي بی بی حضرت خدیجه ﷺ ته ئی اوئیل چې زملوني، زملوني ماپټ کړئ، ماپټ کړئ. او د ندا نه مقصود بې تکلفي پیدا کول ،دشرم حجاب لرې کول او انس مقصود دي.

بعضو د "المزّمل" معنی المتحمّل، کړیده، یعنی اې پورته کونکیه د ذمه وارئ دنبوت (قرطبی).

﴿قُمِ ٱلَّيْلَ ﴾ دصحیح قول مطابق مونځ فرضیت نه مخکښ قیام اللیل فرض وؤ، خو دیکښ اختلاف دي چې دا صرف نبی کریم ﷺ باندي فرض وؤ، اوکه په امت باندي هم ،بعض علماء فرمائی چې دا صرف په نبی کریم ﷺ باندي فرض وؤ، او دوئ استدلال په آیت دسورت الاسراء "ومن اللیل فتهجد به نافلة لک" سره کړیدي،چې "نافلة لك" معنی داده چې داپه تاباندي اضافي فرض دي.

لیکن اکثر علماء وائی چې دا په امت باندي هم فرض وؤ ، ځکه چې:

(۱) دسورت په آخر کښ د امت په حق کښ دَدې نسخ ذکردي، "علم ان لن تحصوه فتاب علیکم".

(۲)متعدد و احادیثونه هم معلومیږی چې دا په تولو باندي فرض وؤ ، لکه تفسیر ابن ابي حاتم کښ دحضرت ابن عباس ﷺ نه روایت دي چې صحابوُو به قیام اللیل کښ داسې قیام کولو لکه څنګه چې رمضان کښ دتراویحو قیام دي،او دغه شان په مسند احمد (۲۴۲۲۹) او تفسیر طبری روایت کښ راځی چې کله داحکم راغي، نو صحابوُ دنبی کریم ﷺ سره قیام شروع کړو،او دومره به اودریدلو چې خپې به ئی اوپړسیدلې،البته داحکم تقریباً تر یو کاله

پورې وؤ، دینه ورستو بیامنسوخ شو، لیکن دې کښې هم اختلاف دې چې نسخه صرف امت په حق کښې راغلیده اوکه نبی کریم ﷺ په حق کښې هم؟ دواړه قوله ښنه دي. خوځنې علماؤ دې له ترجیح ورکړې ده چې نسخه صرف دامت په حق کښې ده.نبی ﷺ په حق کښې نسته.لکه تهجد به نافلة نه معلومیږی،چې داپه نزول کښې ددې سورت نه مؤخر دې.اودغه شان په دې باندې مواظبت د نبي ﷺ ، هم د دې دلیل دې.(والله تعالی اعلم)

﴿إِلَّا قَلِيلًا﴾استثناء ده د﴿الَّيْلَ﴾ نه،یعنی دشپې قیام کوه خوسوادلګ ساعت نه.ځکه چې ټول شپه علی الدوام قیام کول غیرممکن دی.نودراحة دجسدلپاره ورنه قلیل وخت مستثنی کړې شو، ﴿نِّصْفَهُۥٓ﴾بدل الکل دې د "قلیلا" نه ،البته په دې دااشکال کیږی.چې نصف ته قلیل ځنګه اوئیلی شو،کلام عرب کښې خوپه نصف باندې دقلت اطلاق نه کیږی؟ جواب دا دې چې دلته په نصف باندې دقلت اطلاق یونکتې دوجهی نه شوې دې.اوهغه نکته داده چې دلته اګرچې د شپې دواړه حصې حالت نوم اوحالت قیام کمیت اعتبارسره برابری دی، خوکیفیت اعتبارسره هر ګزنه دی برابرې ،کومه حصه کښې چې قیام اوعبادت کیږی هغه په کیفیت کښې دبلې حصې نه ډیره او دابله ترینه قلیله ده.

حضرت شاه ولی الله رحمه الله د قم اللیل الا قلیلامعنی داکړې ده چې هرې هرې شپې پاسه خو سوا د څه شپونه، چې هغه دعذراوبیماری اودسفر شپې دي. او﴿نِّصْفَهُۥٓ﴾ د"اللیل" تفسیر دې، چې کومو شپوکښې پاسی نوهغې کښې نیمه شپه قیام کوه.یا نیمې شپې نه کم اویادینه زیات.

﴿وَرَتِّلِ ٱلْقُرْءَانَ تَرْتِيلًا﴾دیکښې دویم حکم یعنی تلاوت دقرآن ذکر دې، یعنی په تهجدکښې قرآن ښه په ارام او وضاحت سره لوله، چه حرف حرف ئې صحیح معلومیږی،ځکه چه په داسې لوستلوسره فهم اوتدبر ښه حاصلیږی، اوپه زړه ښه اثر کوی.

ترتیل په اصل کښې ترتیب اوحسن نظام ته وائی،علامه بیضاوی رحمه الله دې په تفسیر کښې فرمائی :ای جوّد القرآن تجویداً،یعنی قرآن تجوید سره وایه،حضرت علی رضی الله عنه فرمائی الترتیل هوتجویدالحروف ومعرفة الوقوف(الاتقان)یعنی ترتیل سره قرآن وئیلو مطلب دادې چه حروف تجوید سره اداکړې شی، یعنی هرحرف دځپل مخرج نه اداشی، او د وقف محل او

طريقه او پيژندل شي داَمَ سلمه ﷺ نه چادَحضور ﷺ دتلاوت حال سپوس اوکړونو اوئي وئيل چه دَحضور ﷺ تلاوت به حرفاحرفاوو.

﴿إِنَّا سَنُلْقِي عَلَيْكَ﴾ اى سنوحى اليك (روح) "قولاً ثقيلاً" نه مرادقرآن مجيددي، اوداجمله معترضه ده په مابين د "قم الليل" او "ان ناشئة الليل" كښې. چونكه قيام الليل بالعموم گران دى، نو پدى وجه پدې آيت كښې بطور ترغيب فرمائيلې كيږي چه مونږدَدى نه زيات ثقيل او مشكل كارتاباندى نازلوو ، نوپدى مشقت باندى پرواه مه كوه (روح)

قرآن ته قول ثقيل ياپه دى وجه وئيلى دى چه داثقيل دې په مشركانو اومنافقانو ،ځكه چه دوئ ته پكښې تخويفات وى، ياداچه ثقيل دې په ميزان دَعملونوكښې. يعنى كنايه ده دكثرت ثواب نه، يا دا چه ثقيل دې په اعتباردَاحكامو ،يا داچه نزول ئې ثقيل دې،چه په كوم وخت كښې به وحى كيدله نودَحضور ﷺ دَتندى نه به په سخت ژمى كښې هم خولې بهيدلې،لكه په كتاب بدء الوحى كښې چه راغلى دى،بعض وائى ثقيل پمعنى دَ "كريم" دې،ياپمعنى دَعظيم دې اى كلامًا عظيمًا (كبير).

﴿إِنَّ نَاشِئَةَ اللَّيْلِ﴾ دا داعى دې دَقيام الليل،يعنى دَشپې قيام ځكه كوه،چې دې سره نفس پائماله كيږي، او دَخواهشاتو تقاضه ئې كمزورې كيږي،چې په دې سره انسان ته په نورو طاعاتو او عباداتو باندې عمل اواستقامت آسان شى.

"ناشئة الليل" دَدې څو معنې بيان شوى دى:

(۱) ناشئة صيغه دَاسم فاعل ده،دَنشأنه پمعنى دَحدوث اووقوع سره،اوموصوف محذوف دې،چې الصلاة دې. اي الصلاة الواقعة في الليل يعنى هغه مونځ چې په شپه كښې اداكيږي.

(۲) ناشئة صيغه داسم فاعل ده پمعنى دَ ناهضة او قائمة سره، اوموصوف ئې "نفس" دې، اي النفس الناهضة في الليل يعنى هغه نفس چې شپې راپاسى.

(۳) "ناشئة" مصدر دې په معنى دَقيام سره، لكه كاذبة،خاطئة اي قيام الليل.

﴿وَطْئًا﴾ "وطئًا" پائمالو اودباولو ته وائى.﴿وَأَقْوَمُ قِيلًا﴾ "اقوم" نيغ ته وائى اودلته ترينه مراد انفع دې (التحرير والتنوير)، او "قيلا" پمعنى قولاً سره دې،اومراد ترينه تلاوت ، ذكر، دعا

ګاني، وغیره دي اومطلب دآیت دادي چې داوخت دذکر واذکار .تلاوت اودعاګانو کښې زیات معاون دي،ځکه چې خاموشه خاموشي وی،ذهن تازه وی اوهیڅ قسم اضطراب نه وی

فائده:دقیام اللیل اوناشئة اللیل وخت باره کښې دوقوله دي

(۱)حضرت عائشه ﷺ فرمائی چې داخوب نه ورستومونځ دپاره پاسیدلووخت دي

(۲)حضرت ابن عباس ﷺ فرمائی چې شپې هری حصې کښې مونځ ته دافضیلت حاصل دي

﴿إِنَّ لَكَ فِي ٱلنَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيلًا﴾دادویم داعی دقیام اللیل ذکر کیږی.یعنی شپې قیام ځکه کوه چې ستاتوله ورځ په دعوت کښې مشغوله وی، یکسوئی درته نه میلاویږی، "سبح" اوبو کښې لامبو وهلو ته وائی، او دلته ترینه حوائجو او کارونو کښې مصروفیت دي.اوداکارونه او اشغال دعوت الی الله وو ،بعض وائی"سبح"فراغت ته وائی، نومطلب دادي چه دورځې تاسره دخوب اوراحت دپاره ډیرفراغت وی،نودشپې څه حصه دعبادت دپاره اوګرځوه(قرطبی)

وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا ⑧
اوذکرکوه دَ نوم دَرب خپل اوجداکره خان هغه ته په جداکونوسره
رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ⑨
الله رب دي دمشرق اومغرب نشته بل معبودمګرهغه دي پس اونیسه هغه لره کارساز
وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا ⑩
اوصبرکوه په هغه خبروچه دوئ تاته کوی اوپرېږده دوئ په پرېښودوښائسته سره،

﴿وَٱذۡكُرِ ٱسۡمَ رَبِّكَ﴾دریم حکم دي یعنی دالله ﷻ په ذکر باندې مداومت کوه، ورځې، شپې هر وخت دالله ﷻ تذکرې په ژبه کوه دبل چا تذکری مه کوه.

﴿وَتَبَتَّلۡ إِلَيۡهِ﴾څلورم حکم دي، دي تعلق باطن سره دي، یعنی زړه هم دغیر الله نه کټ کړه، او صرف الله ﷻ طرف ته متوجه شه، اوصرف اوصرف هغه سره خپل زړه اولګوه،

﴿رَّبُّ ٱلۡمَشۡرِقِ﴾پنځم حکم دي چې صرف الله ﷻ خپل کارسازاوحاجت روا،اوګرځوه.ځکه چې هغه دټول کائناتورب دي اوهغه نه سوابل څوک معبود نشته.

﴿وَاصْبِرْ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ﴾دا شپږم حکم دې او دا تسلی ده حضور ﷺ ته،چه داکفارتاته ساحر، مجنون، کاهن وائی نو پدی صبر کوه﴿وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيلًا﴾ هجرجمیل داچه کینه ورسره مه ساته، لیکن تعلق ورسره هم مه ساته،اودانتقام اوایذاء رسولو قصدهم مه کوه،ځکه چه پدی سره ستادَدعوت لاره بندیږی.

وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ أُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا (۱۱) إِنَّ لَدَيْنَا أَنكَالًا

اوپریږده مااوتکذیب کونکی چه خاوندان دنعمت دی اومهلت ورکړه دوئ ته لږه زمانه بی شکه مونږسره زنځیرونه دی

وَجَحِيمًا (۱۲) وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَعَذَابًا أَلِيمًا (۱۳) يَوْمَ تَرْجُفُ

اودوزخ دې اوطعام دې انختونکې په مرئ کښ اوعذاب دې دردناک واقع به شی داعذاب په هغه ورځ چه اوبه لړزیږی

الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا (۱۴)

زمکه اوغرونه او وی به غرونه په شان دَډیرئ دَشگو بهیدونکو

﴿وَذَرْنِي وَالْمُكَذِّبِينَ﴾داتخویف دې،چه تکذیب کونکی اودَدنیاپه تماشوکښ مست خلق ماته پریږده،ته ورته مهلت ورکړه،ماورته قسم قسم عذابونه سزاگانی تیاری کړیدی ﴿النَّعْمَةِ﴾بفتح النون مالداری اوبې غمی ته وائی.﴿وَمَهِّلْهُمْ قَلِيلًا﴾ای زمانًاقلیلاً(روح) دَلږی زمانی نه مراد ژوند دَ دنیادې،بعضِ وائی تروږخی دَبدرپوری زمانه ورنه مرادده.

﴿إِنَّ لَدَيْنَا﴾داجمله بمنزله دَعلت ده،دَ ذرنی دَپاره ،یعنی ته دوئ ته څه ماوایه، مونږ سره ئی بندوبست شته،چې هغه دَدوئ دنیوی احوالوموافق عذابونه دی.﴿أَنكَالًا﴾دا اول عذاب دې، چې دنیا کښ خودوئ آزاد گرځی،اوهیڅ پرواه دَالله ﷻ احکاماتو نه کوی، خو آخرت کښ به ورته درانه درانه زنځیرونه واچولې شی،اوبالکل به ترینه نشی خوځیدلې.انکال جمع دَ نکل ده، درنوزنځیرونو ته وائی.﴿وَجَحِيمًا﴾ دویم عذاب دې چې دامست خلق په دنیا کښ دَبخو یخوسورو اویخو اوبو اومشروباتو نه څه خوندونه اخلی،خو چې دَالله ﷻ احکامات نه

منى نوآخرت كښې به ئې الله ﷻ سخت كرم اورته واچوي. ﴿وَطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ﴾ دريم عذاب دي، چې نن خو ډيرلذيذ اواعلى خوراكونه كوي خوآخرت كښې به ورته داسې خوراك وركولې كيږي چې هغه به ئې مرئ كښې خخيږي، او ازغن به وي، لكه زقوم وغيره شو. ﴿وَعَذَابًا أَلِيمًا﴾ ځلورم عذاب دې ، چې دنيا كښې دوئ ډيره بې غمه فارغ البال اوخوشحالئ زندګي تيروي. تكليفونه، پريشانئ اومرضونه پرې ډير نه راځي ، خوآخرت كښې به دوئ دردناك عذابونو كښې مبتلاوي (التحرير والتنوير)

﴿يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ﴾ يوم ظرف دې، متعلق كيږي د "لدينا" ظرف متعلق سره، يعنى دا عذابونه به په ورځ دَقيامت وي، "ترجف" دَرجف نه دې زلزلې اوخوځيدلوته وائى، ﴿كَثِيبًا﴾ دشګوډيرى ته وائى، ﴿مَّهِيلًا﴾ اې منشورا يعنى ډيرى ډيرى به خواره واره روان وي، يا پمعنى دَ "رِخوًا لينًا" سره دې، يعنى خويه ډيرى په شان به شى، يا پمعنى دَبهيدونكى سره دې، يعنى دَ شګو هغه ډيرې په شان به وي چې هغه هوا يا اوبو سره دوړيږي او بهيږي روان په ختميدو وي

إِنَّا	أَرْسَلْنَا	إِلَيْكُمْ	رَسُولًا	۬	شَاهِدًا	عَلَيْكُمْ

بې شكه مونږه راليږلې دې تاسوته اې تولوخلقو رسول، ګواهى كونكې دې ستاسو په عملونو (په قيامت كښې)

كَمَا أَرْسَلْنَا إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴿١٥﴾ فَعَصَىٰ فِرْعَوْنُ الرَّسُولَ

لكه چه مونږ ليږلې وو فرعون ته رسول (موسى عليه السلام)، نونافرمانى اوكړه فرعون دَرسول (موسى)

فَأَخَذْنَاهُ أَخْذًا وَبِيلًا ﴿١٦﴾ فَكَيْفَ تَتَّقُونَ إِنْ كَفَرْتُمْ يَوْمًا

نواونيولو مونږ په نيولو سختو سره، پس څنګه به بچ شئ تاسو كه كفر مواوكړو دَ داسې ورځې عذاب نه

يَجْعَلُ الْوِلْدَانَ شِيبًا ﴿١٧﴾ السَّمَاءُ مُنْفَطِرٌ بِهِ ۚ كَانَ وَعْدُهُ مَفْعُولًا ﴿١٨﴾

چه اوبه ګرځوى هلكانو لره بوډاګان، آسمان به چودې وى په دغه ورځ كښې. وعده دَالله خامخاكيدونكې ده

إِنَّ هٰذِهٖ تَذْكِرَةٌ ۚ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ اِلٰى رَبِّهٖ سَبِيْلًا ﴿١٩﴾
بې شکه دا نصيحت دي،پس دچاچه خوښه وي اودې نيسي رب خپل ته لاره

﴿إِنَّآ أَرْسَلْنَآ إِلَيْكُمْ ﴾داتخويف دنيوى دې اهل مکه ؤته،چه لکه څرنګه موفرعون ته موسى عليه السلام ليږلې ووُهغه ئې تکذيب کړې ووُنوهلاک شو،دغه شان چه تاسوتکذيب کوئ نوتاسوبه هم هلاک شئ﴿شَٰهِدًا عَلَيْكُمْ﴾يعنى دقيامت په ورځ به ستاسودکفراوعصيان ګواهى کوى﴿إِلَىٰ فِرْعَوْنَ رَسُولًا ﴾مرادورنه موسىٰ دې﴿ٱلرَّسُولَ ﴾کښې الف لام عهدى دې. معهودموسى عليه السلام دې﴿وَبِيلًا﴾صيغه دصفت مشبه دهٔ دَوبل المکان نه،فضاء خرابيدلو ته وائى، او دلته ترينه مراد بدترين اوسخت عذاب دې چې هغه په بحيره قلزم کښې غرقول ووُ،

﴿فَكَيْفَ تَتَّقُونَ ﴾يعنى که دنياکښې دنبى الرحمةﷺپوجه ددنياوى عذاب نه خلاص شئ،ليکن په آخرت کښې به څرنګه خلاصيږئ، چه هغه دومره اوږده اوسخته ورځ ده چه وارهٔ هلکان به پکښې بوډاګان شى.﴿ يَوْمًا﴾مفعول به دې﴿تَتَّقُونَ ﴾دپاره،﴿ يَجْعَلُ ﴾کښې ضمير دَ فاعل يا ﴿ يَوْمًا﴾ ته راجع دې ، يعنى دا ورځ به هلکان بوډاګان کړى، او اسناد مجازى دې، يا ضمير راجع دې الله تعالى ته،او اسنادحقيقى دې ، بوډاګان کيدل دابه ياحقيقتاًوى څکه چې بو طرف ته به داورځ اوګده وى اوبل طرف ته به سخته اوهولناکه وى، نو ددى وجهى نه به ماشومانو ويخته سپين او بوډاګان به شى.(٢)اوياتمثيلا وئيلى شوى دى،حقيقت کښې به نه بوډاګان کيږى،بلکه مقصودترينه سختى ده.

﴿ٱلسَّمَآءُ مُنفَطِرٌۢ بِهِۦ﴾بهٔ کښې باء سببيه ده،اى بسبب ذلک اليوم،يعنى اسمان به ددغې ورځې دهيبت په سبب اوچوى،يا بِهٖ پمعنى دفيه سره دې،يعنى پدغه ورځ به اسمان اوچوى،

﴿إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ﴾ترغيب دې ايمان ته او اتباع دقرآن ته هذهٖ کښې اشاره تيرشوى آياتونه ده چه پکښې وعيدات ذکرشول.

إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ أَدْنٰى مِنْ ثُلُثَيِ الَّيْلِ وَنِصْفَهُ وَثُلُثَهُ

بې شکه رب ستاپوهيږي پدې چه بې شکه ته قيام کوې کم ددوؤحصودشپې.اوکله نيمه شپه اوکله دريمه حصه

وَطَائِفَةٌ مِّنَ الَّذِينَ مَعَكَ ؕ وَاللّٰهُ يُقَدِّرُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ ؕ عَلِمَ

اويوه ډله دمؤمنانوهم قيام کوي تاسره.اوالله ﷻ اندازه کوي دشپې اودورځې.عالم دې الله پدې چه

أَنْ لَّنْ تُحْصُوهُ فَتَابَ عَلَيْكُمْ فَاقْرَءُوا مَا

هرګزتاسونه لرئ طاقت د ضبط د وختونودشپې نو معافي ئې اوکړه تاسو ته . پس اوس لولئ هغه مقدار

تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ ؕ عَلِمَ أَنْ سَيَكُونُ مِنْكُمْ مَّرْضٰى ۙ

چه آسان وي درته دقرآن نه،عالم دې الله پدې چې وي به بعض په تاسوکښې مريضان.

وَاٰخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللّٰهِ ۙ وَاٰخَرُونَ

اووي به نورکسان چه سفرېه کوي په زمکه کښې تالاش کوي به دفضل دالله نه رزقِ حلال، اونورکسان به وي

يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ ۖ فَاقْرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنْهُ ۙ وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ

چه جنګ به کوي په لاره دالله کښې،پس لولئ هغه مقدارچه آسان وي دقرآن نه،اوقائموئ مونځ

وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ وَأَقْرِضُوا اللّٰهَ قَرْضًا حَسَنًا ؕ وَمَا تُقَدِّمُوا

اوورکوئ زکوة اوقرض ورکوئ الله ﷻ ته قرض ښائسته اوهغه عمل چه مخکښې وليږئ تاسو

لِأَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللّٰهِ هُوَ خَيْرًا وَّأَعْظَمَ أَجْرًا ؕ

دځانونوخپلودپاره دنيک عمل نه،اوبه مومئ هغه عمل الله ﷻ سره ډيرغوره اوډيرلوئ د اجر په اعتبار سره،

وَاسْتَغْفِرُوا اللّٰهَ ؕ إِنَّ اللّٰهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿۲۰﴾

اوبخنه غواړئ دالله ﷻ نه، بې شکه الله ﷻ بخښونکې دې مهربانه دې

﴿إِنَّ رَبَّكَ يَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُومُ﴾ دادابتداء دَسورة سره متعلق دي. د هغې ناسخ دي.ابتداءکښې دَقيام الليل يعنې دَتهجد دَمونځ فرضيت بيان شوې وؤ، چه نصف الليل قيام کوه،يا کم.يعنې ثلث الليل يا زيات،يعنې دوه ثلثه،نوحضور ﷺاوصحابهٔ کراموبه قيام کولو.ليکن په هغه وخت کښې ګهړئ اونوراسباب دَوخت دَمعلومولونه وؤ، نودَوخت اندازه به نه وه،نوپدې خوف چه نصف ياثلث رانه فوت نشي، صحابهٔ کراموبه دَشپې ابتداء نه ترسهاره پورې قيام کولو. نو دَ بعض صحابه کراموخپې اوپړسيدلې،دَبعضوچاودې شوې.بعض به په سفر وؤ ، نو دا حکم ورته پوره کول مشکل وؤ،نو الله ﷻ دې آيت سره ماقبل حکم منسوخ کړو،اودَشپې قيام نې مستحب اوګرځولو.«ادنى من ثلثي الليل» ادنى په معنى د اقل سره دي او مراد ترينه د دوه ثلثو نه کم او نيم شپې نه زيات قيام کول دي.

﴿وَٱللَّهُ يُقَدِّرُ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ﴾ يعنې مقادير دَ شپې او ورځې صرف الله تعالى ته معلوم دي چه دانصف دې،داثلث دې. ﴿عَلِمَ أَن لَّن تُحْصُوهُ﴾ دااول علت دې دَناسخ والې،«تحصو» د حصاة نه ماخوذ دې ، او دا وړو کاڼرو ته وائي ،او چونکه عربو به ډير شمار په وړو وړو کاڼرو سره کولو نو ځکه بياد شمار د پاره د دې فعل استعماليدل شروع شول،او دشمار نه علاوه مختلفو معنو کښې استعماليږي خو هغې ټولو کښې د شمار معنى څه نه څه درجه کښې ملحوظ ده:(۱) حفظ په معنى کښې استعماليږي، لکه په حديث کښې دي ، ان لله تسعا وتسعين اسما ، من احصاها دخل الجنة ، (۲)احاطه په معنى کښې ، لکه واحاط بما لديهم و احصى کل شئ عددا، (۳)طاقت او قدرت لرلو په معنى کښې ، لکه يو حديث کښې دي ، استقيموا و لن تحصوا، او دلته هم دا آخري معنى مراد ده ،اوضميرغائب په﴿لَّن تُحْصُوهُ﴾ کښې يا قيام ته راجع دې ، چې د « تقوم » په ضمن کښې موجود دې، يعني الله ﷻ ته پته ده چې تاسو دَ دې قيام طاقت او قدرت نه لرئ، او يا ضمير غائب راجع دې تقدير ته، يعنې اندازه کولو ته ، يعني الله ﷻ عالم دې په دې چې تاسو دَ شپې اوقاتو او ساعاتو صحيح صحيح ضبط وس او طاقت نه لرئ نوځکه ئې درنه فرضيت منسوخ کړو.

﴿فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ﴾توبې نه مراد عدم مؤاخذه ده، چونکه دې معامله کښې تقصیر یقیني امر وو، نو ځکه دلته رفع حکم د پاره مجازا توبه فعل راوړلې شو.

﴿فَٱقۡرَءُواْ مَا تَيَسَّرَ مِنَ ٱلۡقُرۡءَانِ﴾مراد دَقرآن وئیلونه په تهجد کښې قرآن وئیل دی یعنی چه څومره درته اسانه وی نو هغه اومره تهجد کوئ،ای فصلوا ماتیسر لکم من صلاة اللیل(روح)امام ابوحنیفه رحمه الله دی آیت نه استدلال کوی چه فاتحه لوستل په مونځ کښې فرض ندی. بلکه مطلق قرائت فرض دې،البته فاتحه لوستل واجب دی، دَ خبر واحد په وجه. تفصیل په کتابونو دَ فقهی او اصول فقهی کښې دې.

﴿عَلِمَ أَن سَيَكُونُ مِنكُم﴾دا دویم علت دې دَحکم مذکور"ان"مخففه عن المثقله دې.

﴿وَءَاخَرُونَ يَضۡرِبُونَ﴾دا دریم علت دې﴿فَضۡلِ ٱللَّهِ﴾نه مراد تجارت دې. ﴿فَٱقۡرَءُواْ﴾تکرار د پاره دَ تاکید دې. ﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾مراد ورنه صلوٰت خمسه دی،چه عند البعض ناسخ دی دَقیام اللیل. ﴿وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ﴾مراد ورنه یازکوٰة مفروضه دې نو بیا دا آیت مدنی دې،بعض وائی دَزکوٰة فرضیت په مکه کښې راغلې دې البته نصاب ئې مدینه کښې مقرر دې،یا ورنه مراد تزکیه دَ عقائدو او استقامت دې په لااله الاالله(جواهر).

﴿وَأَقۡرِضُواْ ٱللَّهَ قَرۡضًا حَسَنًا﴾مراد ورنه په نیک ځایونو کښې نفقه کول دی،تعبیر ترینه په قرض سره ځکه اوشو چه بدله اوثواب به ئې خامخا ورکولې کیږی،اوقرض حسن نه مراد په اخلاص اوپه طریقې دَسنت سره خرچ کول دی.

﴿وَمَا تُقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُم﴾حکمت دې دَورکولو،خرچ کولو دَمال یعنی هرنیکی که مال خرچ کول وی یابله نیکی هغه نه ضائع کیږی دَهغې بدله به ډیر ښه صورت کښې دَالله تعالیٰ سره اوموموئ﴿هُوَ خَيۡرًا﴾"خیراً"مفعول ثانی دې دَ﴿تَجِدُوهُ﴾او"ه"مفعول اول دې،او"هو"ضمیر فصل دې.

﴿وَٱسۡتَغۡفِرُواْ ٱللَّهَ﴾ هرحال کښې دَ الله ﷻ نه بخنه غواړئ، ځکه چه انسان اګرکه ډیر محتاط وی خو بیاهم بعضِ عمل داسی وی چه دَهغه په نسبت تقصیروی ﴿إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٞ رَّحِيمٞ﴾ نو څوک چه ورنه بخنه اوغواړی بخنه ورته کوی.

اللهم اغفر لنا و لاباءنا و لابنائنا و لجميع المؤمنين والمؤمنات

ركوعاتها (۲)	سورة المُدثر مكيّة	آياتها (۵۶)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۴) وحسب النزول (۴)

نزلت بعدالمزّمل وقبل الفاتحة

بعض وائی سورة المدثر دَسورة المزمل نه مخكښې نازل دي،ابو سلمه ﷺ دَحضرت جابر بن عبدالله ﷺ نه تپوس اوكړوچه اول كوم سورة نازل دي؟ نو هغه ورته اووئيلْ سورة المدثر. نو ابوسلمه ﷺ ورته اووئيل: چه خلق خو وائی چه سورة المزمل اول نازل دي. نو جابر ﷺ ورته اووئيل: چه ځه تاته هغه خبره كوم كومه چه ما دَحضور ﷺ نه اوريدله،چه حضور ﷺ فرمائی: چه ځه دَغارِحراء نه راكوزيدم ، نوماته اوازاوكړې شو ،نبی طرف ته مې اوكتل. خوځه مې اونه ليدل، ګس طرف ته هم څوک نه وؤ ،ورستوهم څوک نه وؤ ،نوماسرا وچت كړو ،نوهغه فرشته چه په غارحراءكښې ماته راغلې وه، په كرسئ ناسته وه په مابين دَاسمان اوزمكی كښې، ځه مرعوبه شوم، كور ته راغلم، ما اووئيل:دَثروني دَثروني، يعنی ماباندې كمبل واچوئ ، نو په مائی كمبل واچولونوالله ﷻ وانازل كړل چه﴿ يٰٓاَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴾ تر﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ﴾(بخاری وغيره مفهومًا).

ظاهردَدی روايت نه داهم معلوميږی چه سورة المدثردَسورة العلق نه هم قبل نازل دي، حالانكه په صحيحينو وغيره كښې دَعائشه ﷺ نه نقل دی چه سورة العلق اول نازل دي،اوداقول دَ جمهورو هم دي،(۱) نوجواب دادي چه دَجابر ﷺ نه سوال دَپوره كامل سورة باره كښې شوې وؤ، نوځكه هغه ورته اووئيل چه سورة المدثراول نازل دي،ځكه چه دَسورة العلق صرف ابتدائی آياتونه اول نازل دی. (۲)دويم داچه مراد دَجابر ﷺ دَاوليت نه اوليت مخصوصه دي، چه هغه دَ فترة نه ورستودي، اوليت مطلقه ئی نه دي مراد ،يعنی علی الاطلاق چه اول نازل دي، نو هغه سورة العلق اودَفترة الوحی نه ورستو چه اول نازل دي نوهغه سورة المدثر دي (روح المعانی).

ربط :دَمضمون په لحاظ سره سورة مزمّل اوداسورة يو دی،ماقبل سورة مزمل كښې داوؤ

چه قرآن تلاوت کوه چه مسئله دتوحيد دی زړه ته کوزه شی. اوس دی سورة کښې داحکم دې چه تلاوت سره سره دقرآن تبليغ هم کوه. يعنی مسئلی دتوحيد او نورو احکامو تبليغ هم کوه

خلاصه: آيت ۱ نه تر ۷ پوری. شپږ حکمونه دی او ديکښې دعوې دسورت بيان دې.

آيت۸ نه تر ۱۰ پوری. تخويف اخروی دې

آيت ۱۱ نه ۲۵ زجر دې

آيت ۲۲ نه تر ۳۰ پوری تخويف اخروی دې.

آيت ۳۱ نه تر ۳۷ پورې زجر دې،

آيت ۳۸ نه تر ۴۰ پوری بشارت دې

۴۱ نه تر ۴۸ پوری تخويف اخروی دې.

۴۹ نه تر ۵۲ پوری زجر دې.

يَٰٓأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ۝١ قُمْ فَأَنذِرْ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ۝٣
اې خان نغښتونکيه په کمبل کښې، پاسه نو اويره وه خلق دالله ﷻ نه. او د خپل رب لوئي بيان کړه
وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ۝٤ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ ۝٥ وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ ۝٦
او جامې خپلې پاکې کړه ته. او پليتئ نه لرې اوسيږه. او احسان مه کوه پدې نيت چه زيات به غواړې.
وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ ۝٧
او رب خپل لره صبر کوه.

﴿ يَٰٓأَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ﴾ په اصل کښې مُتدثّر دې، تاپه دال بدل شوه، او ادغام اوشو، د دِثار نه مأخوذ دې، کمبل يا څادر اغستوته وائی دقميص دپاسه، او قميص نه لاندی ته شعار وائې، حضور ﷺ قول دې: الانصارُ شعار و الناسُ دثارُ، حضور ﷺ پدی وصف سره مخاطب کول د ملاطفت په وجه دې.

﴿قُمْ فَأَنذِرْ﴾ دا اول حکم دې ، او دعوه دسورة ده، چه دنبوت ميلاويدلونه ورستو دټولونه اول دتبليغ حکم اوشو، چه پاسه اودوحی دبوج اوفرشتی دهيبت نه مه مرعوبه کيږه، بلکه دنبوت منصب سنبال کړه ، راحت ارام پريده، خلق دالله دعذاب نه اويره وه، چونکه ابتداء

دَنبوت وه، نوځکه ورته صرف امرد َانذار َ اوشو .دَ تبشیر َاونشو . اومراد دَ قیام َ نه دلته قیام دی لپاره دَتبلیغ.

﴿وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ﴾دویم حکم دی چی تعظیم دَالله ﷻ دی یعنی خلقوته دَخپل رب لونی بیان کړه، ځکه چه دَالله ﷻ دَ لونی بیانولوسره دَهغه عظمت او بره په زړونو کښې پیدا کیږی. ((ربک)) مفعول به دی دَپاره((فکبر)) فعل، او تقدیم دَ وجهی دَ تخصیص نه شوی دی، او فاء جزائیه ده، اوجمله جزا ده د شرط محذوف، چی مهما یکن شیءدی یعنی چی څه حالات هم وی ته دَخپل رب تعظیم بیانوه.

﴿وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ﴾دریم حکم دی چی هغه تطهیر دَ ثیابو دی (۱) تطهیردَثیابویاکنایه ده د تطهیر دَ نفس دَ اعمالِ ذمیمه ؤ نه،ای وعملک فاصلح(روح) یعنی خپل عمل صالح کړه ځکه چه غیرصالح وی نودعوت په کارکښې روکاوټ وی.

(۲)بعض محمول کوی په معنیٰ حقیقی باندی،یعنی خپل کپړی دَنجاست نه پاکی ساته. داَ امرحضورﷺته لپاره دَمخالفت دَمشرکانواوشو ،ځکه چه هغوئ به خپلی کپړی دَنجاست نه،نه بچ کولی.

(۳)بعض وائی تطهیرنه مراددَنجاست معنوی نه تطهیردی چه گناه دی،یعنی خپلی کپړی دَ گناه نه پاکی ساته. (روح).

﴿وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ﴾څلورم حکم دی ، چی هغه هر گنده عمل اوعادت نه ځان ساتل دی. .رُجز. قبیح اوگنده څیزته وائی،یعنی هرقبیح عمل مکوه دَمشرکانو دَاخلاقونه ځان ساته، دَ رجز معنی اوثان یعنی بتان هم کړی شویده یعنی دَبتانودَعبادت نه لری اوسیږه،یامضاف مقدر دی:ای واهل الرجزفاهجر،مرادمشرکان دی،یعنی دَمشرکانونه لری اوسیږه کقوله تعالی: ولاتکوننّ من المشرکین(جواهر) او دا امر دَ دوام لپاره دی، یعنی په توحید او په نبه اخلاقو دائم اوسیږه لکه چه څنگه دَنبوت نه قبل وی.

﴿وَلَا تَمْنُن تَسْتَكْثِرُ﴾ پنځم حکم دی، چی هغه ممانعت دی دَ بدلی په نیت َچاسره احسان کولو نه،یعنی په دی نیت دَچاسره احسان مه کوه چه تاسره به زیات احسان اوکړی،دانهی حضورﷺدپاره خاص ده، عاموخلقودپاره جواز شته چه پدغه نیت دَ چا سره احسان اوکړی.

مګر بیا هم مذموم دي . او یا ئي مطلب دا دي چي چا سره څه احسان اوکړي .نو خپل احسان او خیګړه بیا ډیره او لویه مه ګڼړه ، ځکه چي دیکښي یو طرف ته عجب دي او طرف ته بخل «تستکثر» جمله حال واقع ده دَ ضمیر مستتر دَ «لاتمنن» نه.

﴿وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ﴾ شپږم حکم دي چي هغه حکم دصبر دي او تسلی ده نبی پاکﷺ ته، چه دَمشرکانو په اذیتونو صبرکوه، یا په اداء دَ فرائضو او دَ تبلیغ به وجه چه کوم تکلیفونه تاته رسی په هغی صبرکوه.

فَإِذَا	نُقِرَ	فِي	النَّاقُورِ ۝	فَذَٰلِكَ	يَوْمَئِذٍ	يَوْمٌ	عَسِيرٌ ۝			
پس کله	چي	پوکړې	شي	په	شپیلئ کښې	نو دغه	ورځ	به	سخته ورځ	وی
عَلَى الْكَافِرِينَ غَيْرُ يَسِيرٍ ۝										
په کافرانو نه به وی آسانه										

﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي النَّاقُورِ﴾ داتخویف اخروی دي، ناقور به وزن فاعول شپیلئ ته وائی. یعني چه کله په شپیلئ کښې پوکړیشی، قیامت قائم شی نوداورځ به په کافرانوباندی ډیرسخته وی، څه قسمه آسانی به ورته نوی ﴿فَذَٰلِكَ﴾یعنی داورځ دَشپیلئ پوکلو،مرادورنه نفخ ثانی ده، ﴿فَذَٰلِكَ﴾ مبتداء ده او﴿يَوْمَئِذٍ﴾ورنه بدل دي، ﴿يَوْمٌ عَسِيرٌ﴾خبردي،یعنی داورځ دَشپیلئ وهلوورځ سخته ده. ﴿عَلَى الْكَافِرِينَ﴾متعلق دي دَ﴿عَسِيرٌ﴾سره او﴿غَيْرُ يَسِيرٍ﴾تاکیددي، دینه معلومیږی چه په مؤمنانوبه داورځ سخته نه وی.«روح المعانی»

ذَرْنِي	وَمَنْ	خَلَقْتُ	وَحِيدًا ۝	وَجَعَلْتُ	لَهُ	مَالًا	مَمْدُودًا ۝	وَبَنِينَ		
پریږده	ماا وهغه	چه	پیداکړي	می	دي	یواځی.اوګرځولی	می	دي	ده لره	مال ډیر.اوځامن
شُهُودًا ۝	وَمَهَّدْتُ	لَهُ	تَمْهِيدًا ۝	ثُمَّ	يَطْمَعُ	أَنْ	أَزِيدَ ۝			
حاضرورسره	په هرځائ کښې.اوفراخی	می	ورکړیده	ده ته	ښه فراخی.بیاطمع	کوی	داچه	نورزیات	به	ورکړمه

﴿كَلَّا ۖ إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا ﴿١٦﴾ سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا ﴿١٧﴾﴾

هرگزداسی نده،بې شکه دې دآیاتونوزمونږسره عنادکونکې دې،زرده چه اوبه ئې خیژوم په صعودغرباندې

﴿ذَرْنِي وَمَنْ خَلَقْتُ وَحِيدًا﴾ دا زجر دې او متعلق دې ولربک فاصبر سره. مفسرین فرمائي چې داآیتونه دَ ولید بن مغیره په باره کښې نازل شوی دی، چې کله ئې قرآن واوریدلو اوترینه متاثره شو،نو یوڅو تعریفي کلمات ئې دَقرآن په باره کښې اوئیل. خلقو مشهوره کړه چې ولید مسلمان شو،قریش مکه پریشانه شولو ، چې کچرته دې واقعی مسلمان شو ، نو ټول خلق به بیا مسلمانان شی،ابوجهل ورپسې لاړو چې خلق ستاپه باره کښې داسې وائی.لهذاوس ته څه داسې خبره اوکړه چې هغې سره دَقرآن مذمت اوشی، او خلقو ته هم پته اولګی چې ته مسلمان شوې نه ئې،نوده ورته اوئیل چې صبرکوه څه سوچ کوم چې څه اووایم. دَسوچ وفکر نه بعد ئې دااوئیل چې محمد نه مجنون دې، نه کاهن دې، نه شاعر دې. بلکه نعوذبالله ساحر دې، او دې سحر نقل کوی اوخلقو په مینځ کښې تفریق راولی.نو الله ﷻ به طور د زجر دا آیتونه نازل کړو،چې ماپه ده څومره احسانات کړی دی،اودې دهغې څه بدله ورکوی.

﴿وَحِيدًا﴾دا(۱)حال دې دَمفعول به محذوف نه ای:خلقته وحیدا . او دیکښې تهکم دې په ولید بن مغیره باندې،ولید بن مغیره په مال دولت،اولاد اوحسن زانی اوداسې نور اوصافو داجتماع دَ وجهې نه په عربو کښې په وحید باندې مشهور وو.خکه چې دې دې صفاتو کښې دې یکتا وو، بل څوک ورسره برابرنه وو، نو الله ﷻ ورته دې آیت کښې فرمائي چې دې خپل دې حالت مغروره کړیدې،اودهوکه کښې ئې اچولې دې، ده ته خپل حالت یاد نه دې چې دې مونږ تن تنها او خړ لغړ پیدا کړې وو،او یا(۲)حال دې دَمفعول دَ﴿ذَرْنِي﴾نه،ای ذرنی وحدی معه.یعنی ماورته یواځې پریده، څه به ورنه ستا انتقام واخلم، یا(۳)حال دې دَفاعل دَ﴿خَلَقْتُ﴾نه ای خلقته وحدی لم یشرکنی فی خلقه احد،یعنی تنهاماپیدا کړې دې،څه به ئې تنهاهلاکوم ، دَده په هلاکت کښې مې بل چاته احتیاج نشته.

﴿وَجَعَلْتُ لَهُ مَالًا مَّمْدُودًا﴾ای کثیرا،داپه په ولید باندې نعمتونو اواحساناتو تذکره ده او اول انعام اواحسان دې، یعنی ډیرمال مې ورته ورکړو .ابن عباس رضی الله عنه وائی چه مکې نه تر

طائف پورې دَده باغونه،څاروی،غلامان وو ،بعض وائی دده په طائف کښ داسی باغ ؤچه په ژمی اوګرمئ دواړوموسمونوکښ به ئی میوه کوله،نورنقدی هم ورسره دبیزیات وو

﴿وَبَنِينَ شُهُودًا﴾دویم انعام دې چې نارینه اولاد می ورکړی دې چې هروخت ده سره وی،

(۱) د«شهودا» مطلب دادې چې هروخت ده سره حاضر وی،تجارت یا کاروبار دپاره ترینه بل چرته سفر نه کوی،دینه معلومه شوه چې اولاد ته په وطن کښ درزق اسباب مهیاکیدل د الله ﷻ غټ احسان دې. (۲)یاد «شهودا» مطلب دادې چې داذی وجاهت دې، چې دشان وشوکت په وجه هر محفل اومجلس کښ دوئ حاضروی(۳) یامطلب دادې چې ګواهی اوخبرې اعتبار به ئی کیدلو.

﴿وَمَهَّدتُّ لَهُ تَمْهِيدًا﴾ دریم انعام دې،یعنی دنیوی جاه او وقارکښ ورته ښه فراخی ورکړې وه،قریش به هرمشکل کارکښ ده ته ورتلل،ریحانة القریش به ورته وئیل کیدل.

﴿ثُمَّ يَطْمَعُ أَنْ أَزِيدَ﴾یعنی دَ دومره ناشکری اودَ عناد باوجود دا امید هم لری چه ماته به په مال اولادکښ نورهم زیاتوالې کیږی،ده به وئیل کچرته محمد ﷺ پخپل بیان کښ صادق وی ، نوخمایقین دې چه دجنت نعمتونه به هم ماته میلاویږی.

﴿كَلَّا﴾ردع اوزجردې دَده دَطمع﴿إِنَّهُ كَانَ لِآيَاتِنَا عَنِيدًا﴾تعلیل دې دَماقبل،یعنی دې دَ دلائلو دَ توحید اودَقرآن دآیاتونونه معانداوانکارکونکې دې،پدی وجه دَده په مال اولادکښ به نورزیاتوالې نه کیږی،روایت دې چه دَدی آیاتونودنزول نه ورستودَده په مال اولادکښ پرله پسی نقصان راتلو ، تردې چه ذلیله مړشو.

﴿سَأُرْهِقُهُ صَعُودًا﴾داجمله معترضه ده په مابین د« انه کان لآیاتنا عنیدا» او« انه فکر و قدر» کښ ، اَو دیکښ دَ ولید ذلت اورسوائی طرف ته اشاره ده.یعنی اضافه به ورله نه کوم بلکه رسوا کوم به ئی،او"ارهاق"سترې کولو اومجبوره کولوته وائی،"صعودا"دَ غر پیچمې ته وائی، چې ختل پرې مشکل وی، او دا کنایه ده دَ رسوائی او دَسخت عذاب نه،یا"صعود"په جهنم کښ یوغردې،په یوروایت کښ دی چه دادَ اُورغردې چه کافربه وربانذی اویا(۷۰)کاله برخیژی،اوبیابه اویاکاله کښ ورنه لاندی راغورځولې کیږی،همیشه به ئې دغه سزا وی.

إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ﴿١٨﴾ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ﴿١٩﴾ ثُمَّ قُتِلَ

بی شکه ده فکراوکړواواندازه ئې وکړه،پس هلاک دی شی دې څنګه اندازه ئې وکړه،بیادی هلاک شی

كَيْفَ قَدَّرَ ﴿٢٠﴾ ثُمَّ نَظَرَ ﴿٢١﴾ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ﴿٢٢﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ

څنګه اندازه ئې اوکړه،بیائې فکراوکړو،بیائې مخ تریو کړو،اوتندې ئې ګونجې کړو،بیائې شاکړه

وَاسْتَكْبَرَ ﴿٢٣﴾ فَقَالَ إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ ﴿٢٤﴾ إِنْ هَٰذَا إِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ﴿٢٥﴾

اوتکبرئې اوکړوپس وې وئیل ندې داقرآن مګرسحردې چه نقل کولې شی،ندی داقرآن مګرقول دانسان دې.

سَأُصْلِيهِ سَقَرَ ﴿٢٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا سَقَرُ ﴿٢٧﴾ لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ ﴿٢٨﴾

زرده چه داخل به ئې کړودوزخ ته اوتاته څه پته ده چه څه دې سقر،نه به ئې پرېګدې ژوندې، او نه به ئې پرېګدې مړ.

لَوَّاحَةٌ لِلْبَشَرِ ﴿٢٩﴾ عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ ﴿٣٠﴾

سیزونکې دې دخرمنی مقرردی په هغې باندی نولس(۱۹) فرښتې

﴿إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ﴾دیکښ تفصیل دې دعناد دَ ولید،چې دهغې ذکر په ﴿عَنِيدًا﴾ کښ اجمالا اوشو، چې کله ورته ابوجهل راغې، او ده ته ئې اوئیل چې قرآن په باره کښ څه مذمتی کلمات اوایه، چې قوم ته پته اولګی چې تاآیمان نه دې راوړې. نو دې په سوچ کښ شو چې قرآن په باره کښ څه اوایم،څان سره ئې مختلف اندازې لګول شروع کړې،﴿إِنَّهُ فَكَّرَ﴾یعنی سوچ ئې شروع کړو چې دقرآن په باره کښ څه اوایم،﴿قَدَّرَ﴾یعنی مختلفې اندازې ئې څان سره اولګولې چې قرآن ته دمجنون کلام اوایم،دَ کاهن کلام اوایم،که دشاعر شعری مجموعه ورته اوایم، اوکه سحر ورته اوایم،﴿فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ﴾داتعجب دې چې دې دی هلاک شی دقرآن په باره کښ دې داڅنګه اندازې لګوی،یاداتهکم دې چې څومره بهادر دې چې قرآن په باره کښ داسې خیالات لری.﴿ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ﴾داد ماقبل تاکید دې.

﴿ثُمَّ نَظَرَ﴾ يعنى لګ ساعت ئې بيا سوچ اوفكر اوكړوچې څه اووايم ﴿ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ﴾ يعنى ډير سوچ وفكر نه بعد ورته هم څه دَاعتراض اوطعن ځاي مېلاؤ نشو، نو ډير بوج نه ئې تندې تريو كړو، اومخ ئې تورشو، عبس تندى تريوالى ته وائى. بسر هم دَ تندې تريوالى ته وائى، خودې كښې مبالغه ده چې ډير تريووالى نه ورسره مخ هم تور شى. اوياد «ثم نظر» مطلب دا دې چې خلقو ته ئې اوكتل اوتندې ئې تريو كړو، او دا تاثر ئې وركړو چې ځماد قرآن نه ډير نفرت دې. اويائى مطلب دادې چې نبى ﷺ ئې ته اوكتل اودَنفرت په وجه ئې تندې تريو كړو.

﴿ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ﴾ يعنى ډير سوچ اوفكر نه بعد چې هم ده په قرآن كښې څه نقص يا طعن اونه مندلو، نو پكاروه چې حق ئې قبول كړې وې، اوايمان ئې راوړى وې خوده اعراض اوتكبر اوكړو، اودائى اوئيل چې قرآن سحر دې.

﴿إِلَّا سِحْرٌ يُؤْثَرُ﴾ اى يُروىٰ ويُنقل، يعنى دَبابل وغيره ساحرانونه نقل شويدې، يا دا چه غوره اوراجح دې په نوروسحرونوباندې.

﴿سَأُصْلِيهِ سَقَرَ﴾ تخويف اخروى دې اودآخرت سزابيان دې. سقر دَجهنم دَيوى طبقى نوم دې. ﴿لَا تُبْقِي وَلَا تَذَرُ﴾ «لا تبقي» مطلب دا دې چې دا جهنم به جهنمي ژوندې نه پريګدي، بلكه هلاک به ئې كړي، او «لاتذر» چې بيا به ئې مړ هم نه پريګدي، بلكه بيا به ژوندې كيږي او عذاب به ورله وركولې كيږي، كقوله تعالىٰ: ثم لايموتُ فيها و لا يحيىٰ (الاعلى:١٢). او يا د «لا تبقي» مطلب دا دې چې په جهنميانو به هيڅ نه پريګدي، غوښه او څرمن هر څه به ورله او سوزه وي، او «لا تذر» كښې نفي د حالت ده، چې په يو حال به ئې هم نه پريګدي، بلكه عذاب پسې عذاب او هر عذاب به د بل عذاب نه سخت وي، او دا هم كيدې شي چې «لا تبقي» خپلې معروفه معنى كښې نه وي، بلكه د "رحم" په معنې كښې وي، لكه عرب وائي: ابقيت على فلان، اذا ارعيت عليه ورحمته، او چا ته چې بد دعا كوي نو وائي: لا ابقى الله عليک، يعنې الله ﷻ دې په تا رحمت او نكړي، (لسان العرب)، نو دې صورت كښې به معنې داسې شي، چې نه به پرې رحم كوي چې څه عذاب ترينه كم كړي، او نه به ئې څه وخت د پاره بې د عذابه

پريګدي ، يعني نه به پکښې تخفيف وي او نه چهټي ﴿لَوَّاحَةٌ لِّلْبَشَرِ﴾يعنى دکافرانو سکلونه بدلونکې دې، مخونه اوڅرمنى به ورته تورې کړي.بعضِ وائى لوّاحة پمعنى د محرقةٌ يعني سوځونکې دې .﴿عَلَيْهَا تِسْعَةَ عَشَرَ﴾يعنى(١٩) فرشتى ورباندى مقرردى

وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ وَّمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا

اوندى ګرځولى مونږه خاوندان(مؤکلين)دجهنم داورمګرملائکى اونه دي ګرځولي مونږشماردهغوئ مګر

فِتْنَةً لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۙ لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ

امتحان دپاره دکافرانو،چه يقين راشي داهل کتابو(يهودنصارى)اوزيات کړى

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا إِيْمَانًا وَّلَا يَرْتَابَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۙ

مؤمنانولره ايمان اوشک اونکړى هغه کسان چه ورکړې شويدې هغوئ ته کتاب(اهلِ کتاب)اومؤمنان

وَلِيَقُوْلَ الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ وَّالْكٰفِرُوْنَ مَاذَآ أَرَادَ

اوچه اووائى هغه کسان چه په زړونودهغوکښې مرض دنفاق دي اوکافران چه څه غواړي

اللّٰهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۘ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللّٰهُ مَنْ يَّشَآءُ

الله پدى سره مثال ورکولو نه . هم داسى ګمراه کوى الله هغه څوک چه خوښه ئې شى

وَيَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ

اولاره ښائى هغه چاته چه ئې خوښه شى،اونه دې معلوم هيڅ چاته لښکردرب ستامګرالله تعالى نه

وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ ﴿٣١﴾

اوندې سقرمګرلپاره دنصيحت دې انسان نه،

﴿ وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ ﴾کله چې مخکښې آيت "عليها تسعة عشر"نازل شو ، نو کفارو استهزاء شروع کړه،ابوجهل خپل ملګرو ته اوئيل چې تاسو دومره ډير يئ،دومره هم نشئ

کولې چې لس(۱۰) لس کسان یوه یوه فرشته رااونیسي، ابوالاشد دَعرب یو مشهور پهلوان وؤ، هغه ورته اوئیل چې اوولس(۱۷)فرشتی ماته پریکدئ، اودوه(۲)تاسو سنبهالې کړئ، نو الله ﷻ داآیت نازل کړو چې دافرشتې دی انسانان نه دی، چې دوئ ئې مقابله اوکړی، یوې یوې فرشتې روغ کلی اوقومونه هلاک کړی دی، نهه لس(۱۹) خو ډیر غټ شې دې، اوبل داچې دَ الله ﷻ فرشتې صرف نهه لس نه دی، بلکه بې حسابه دی. خودې عدد ذکر کښې یوڅو حکمتونه وؤ، ﴿إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا﴾دااول حکمت دې چې داعدد دَ کفارو د پاره ابتلاء او امتحان دې، اوفتنې کښې واقع کیدلو سبب دې، ځکه چې دوئ به دغه اعتراضونه کوی چې نولس ولې دی، دې نه زیات اوکم ولې نه دی؟ مونږ دومره ډیر یو، دا لګ تعداد به مونږ له څنګه عذاب راکړی؟

﴿لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ﴾دویم حکمت بیان دې چې اهل کتابو یقین راشی چې داواقعی دَالله ﷻ کتاب دې ځکه چې سابقه کتب سماویه کښې هم ددې عدد ذکروؤ ،

﴿وَيَزْدَادَ الَّذِينَ آمَنُوا إِيمَانًا﴾دریم حکمت بیان دې چې اهل ایمان ،ایمان کښې زیادتی راشی کیفاً هم،او دا داسې چې اهل کتاب ئې تصدیق اوکړي ، نو دې سره به مسلمانانو ته مزید طمانیت میلاو شي، اوکماً هم، چې ایمانیاتو کښې یو زیات شو ، چې هغې په تصدیق سره ایمان کښې اضافه اوشي.

﴿وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ﴾څلورم حکمت دې چې دَ یقین اثبات نه بعد دریب اوتردد نفی ده،

﴿وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ﴾پنځم حکمت دې چې منافقینو اودزړه بیمارانو اضطراب او تردد کښې مزیده اضافه اوشی، "مرض" نه مرض دَنفاق مراددې، اوداپیشن ګوئی ده، ځکه چې داسورت مکې دې، او مکې کښې منافقین نه وؤ. «بهذا» کښې اشاره ده عدد دَ فرشتو ته ، او اسم اشاره قریب راوړلو کښې دَ عدد قلت طرف ته اشاره ده ، «مثلاً» یا په معنې دا "مثال" سره دې ، یعنې دوئ استهزا کوي چې مثال بیانولو نه الله ﷻ څه غواړي ؟آیا مونږ یرول غواړي ؟ نو څنګه به نولس کسان د دومره لوئې ډلې مقابله اوکړي!! خو دا د دوئ جهالت او غباوت دې، ځکه چې غلبې دار ومدار په کثرت نه وي بلکه په قدرت وي ، لکه لس ماشومان په یو

سري غالبه نشي راتلي او دا خو بيا فرشتي دي، يا ((مثلا))بمعني د عجيب و غريب څيز دي. چي داسي قابل تعجب تعداد بيانولو نه الله ﷻ څه غواړي،(نظم الدرر)

﴿كَذٰلِكَ﴾مشار اليه ماقبل اضلال اوهدايت دي،يعنى څنګه چه الله ﷻ دغه كافران ګمراه كړل اومؤمنانوته ئې هدايت وركړو، نو دغه شان الله ﷻ چاته چه خوښه شي ګمراه كوي ئې اوچاته چه ئې خوښه شي هدايت ورته كوي.

﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾داردي دَاستهزاء دكافرانو ﴿وَمَا هِيَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْبَشَرِ﴾ ضمير راجع دي سقر ته،يعنى دادَانسان دَنصيحت دپاره دي.

كَلَّا وَالْقَمَرِ ۝ وَاللَّيْلِ إِذْ أَدْبَرَ ۝ وَالصُّبْحِ إِذَا أَسْفَرَ ۝
هرګزداسى نده،قسم دي په سپوږمئ اوپه شپى كله چه په شاشى(لاړه شى)اوپه سهارباندى كله چه روښانه شى.
إِنَّهَا لَإِحْدَى الْكُبَرِ ۝ نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ ۝ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ
بى شكه داقيامت خامخايودلويوڅيزونونه دي يرونكي دَانسان دي،هغه انسان لره چه غواړى دَستاسونه
أَن يَتَقَدَّمَ أَوْ يَتَأَخَّرَ ۝
داچى وړاندى شى خيرته ياورنه ورستوشى،

﴿كَلَّا وَالْقَمَرِ﴾ددي آيتونو دوه تفسيره شويدى:(١)حضرت حسين على رحمه الله فرمائى چي داتسلى ده مسلمانانو ته ،دَكفارو په استهزاباندي،((كلا))په معنى دَ حقاً سره تاكيددي دَ ما بعد قسمونو دَ پاره،جواب دَقسم محذوف دي،چي "لتركبن طبقاعن طبق"دي، او قسم او جواب قسم كښى مناسبت دادي چي لكه څنګه په سپوږمئ باندي په مياشت كښى مختلف احوال راځى،شپي كښى مختلف حالات وى ،شپي ابتداء وي ،بياتكه توره شى بيا ورو ورو ختميږى،آخر رونړ سهر راوخيژى، نو دغه شان تاسو باندي به هم مختلف حالات راځى، او مختلف دَ ازمائش او امتحان مراحلو نه تيريدلونه پس به موكاميابئ اوكامرانى سهر روښانه راخيژى، دي تفسير مطابق ((انها لاحدى الكبر)) جمله مستانفه ده ،(جواهر القرآن)

(۲)دويم تفسير دَجمهور علماؤدي،چې دا كفاروته زجر دي په استهزا اوانكار باندې، دَ سقر نه، چې سقر نه انكار مه كوئ،لكه څنګه چې سپوګمئ ،شپه اوسهر حقيقت دي، دغه شان دا هم حقيقت دي، او دَ لويو عذابونو نه دي،دې تفسير مطابق «كلا» ردع دَپاره دي او «انها لاحدى الكبر» جواب قسم دي. قسم او جواب قسم كښې مناسبت داسې بيان شوي دي چې لكه څنګه چې په سپوګمئ مختلف احوال راځي،ابتداء كښې هلال وي،بيا بدركامل شي، بيا ورو ورو، وړه كيږي،حتى چې آخر كښې بالكل ختمه شي،نودغه شان دادنيا هم ده ختمه به شي ، قيامت به راشي، اوتاسو به عذاب وينئ،اوتاسو چې نن دامستبعد ګنړئ،اوپه حقيقت ئې نه رسئ نوداپه دې وجه چې تاسو دَدنيا په تياره كښې پراته ئې.كله چې داپه انتهاء شي او قيامت ظهور اوشي(نوڅنګه چې شپه په ختميدو اوسهرپه روښانه كيدوسره سرې دَډير هغه څيزونه مشاهده اوكړې چې هغه دَشپې په څادر كښې پټ وي) نودغه شان داهر څه به تاسو مشاهده كښې راشي اويقين به پرې اوكړئ(بيان القرآن)

﴿ إِنَّهَا لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴾ انها كښې ضمير سقر ته راجع دي، الكبر جمع دَ كبرى ده،يعنى دا جهنم خامخا يو دَ لويو څايونو نه دي اولويوحادثوكښې لويه حادثه ده. ﴿نَذِيرًا لِّلْبَشَرِ﴾ تذيراً يا تميز دي دَ﴿ لَإِحْدَى ٱلْكُبَرِ ﴾مصدردې پمعنى دَ انذار يعنى په اعتبار دَ تخويف او انذار جهنم په سختوڅايونوكښې يودي،ياحال دي دَضمير دَ انها نه پمعنى دَ منذرة يعنى حال داچه دې خلقولره يره ونكې دي﴿لِمَن شَآءَ مِنكُمْ ﴾بدل دي دَ﴿لِّلْبَشَرِ﴾ نه، يعنى جهنم يرونكې دي هغه چا لره چه هغه غواړي چه مخكښې شي خيرته يا ورنه ورستو شي، يا ان يتقدم الى النار او يتاخر عنها ياداچه ايمان ته مخكى شي،يعنى ايمان راوړي او﴿أَوْ يَتَأَخَّرَ ﴾ يعنى كفر اوكړي، كقوله تعالى:فمن شاء فليؤمن ومن شاء فليكفر(كهف:۲۹).

كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ ۞ إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ ۞ فِى جَنَّٰتٍ
هرنفس به په خپل عمل كښې ګانړه«ګرفتار»وي ليكن خاوندان دښى لاس په جنتونوكښې به وي،

يَتَسَآءَلُونَ ﴿٤٠﴾ عَنِ ٱلْمُجْرِمِينَ ﴿٤١﴾ مَا سَلَكَكُمْ فِى سَقَرَ ﴿٤٢﴾ قَالُوا
تپوس به کوی،دمجرمانونه‌چه څه څيزداخل کړئ تاسوپه دوزخ کښ،اوبه وائی هغوئ
لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ ﴿٤٣﴾ وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ ﴿٤٤﴾ وَكُنَّا
چه نه وؤمونږدمونځ کونکونداونه وؤمونږچه طعام موورکړي وي مسکینانوته، اووؤمونږ
نَخُوضُ مَعَ ٱلْخَآئِضِينَ ﴿٤٥﴾ وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ ﴿٤٦﴾ حَتَّىٰٓ
استهزاءموکوله «دین پوری» داستهزاءکونکوسره،اووؤمونږتکذیب موکولوپه ورځ دقیامت‌تردې چه
أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ ﴿٤٧﴾ فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ ﴿٤٨﴾
راغې مونږته مرګ پس نفع به ونه رسوی دوئ ته شفاعت دشفاعت کونکو

﴿كُلُّ نَفْسٍۭ بِمَا كَسَبَتْ رَهِينَةٌ﴾ دیکښ دَ سابقه اختیار "لمن شاء" انجام بیانیږی،چې قیامت کښ به هر سړی ته دخپل عمل جزا میلاویږی، که بد وی ، نو ټهکانه ئی جهنم ده، اوکه نیک وی نوټهکانه ئی جنت ده.

﴿إِلَّآ أَصْحَٰبَ ٱلْيَمِينِ﴾ دابشارت دې، یعنی هغه خلق چه اعمال نامی ورته په خی لاس کښ میلاؤشی، هغوئ به په جنتونوکښ وی﴿يَتَسَآءَلُونَ﴾باب تفاعل دَمجردپمعنی یعنی پمعنی دَ "یسئلون" دې، یعنی دَمجرمانونه به دَهغوئ دَاحوالو باره کښ، تپوس کوی چه تاسو دَ کومو بد عملونو په وجه جهنم ته لاړلې

﴿قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ﴾مجرمین به ورته دَخپل عذاب اوسقر ته دَ تللو څلور اسباب بیان کړی،﴿لَمْ نَكُ مِنَ ٱلْمُصَلِّينَ﴾ دا اول سبب دې چی مونځ مو نه کولو چې دا دَتقرب الی الله ذریعه ده .﴿وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ ٱلْمِسْكِينَ﴾دویم سبب دې، غریبانواومساکینو ته مو دَ هغوئ حصه نه ورکوله﴿وَكُنَّا نَخُوضُ﴾دریم سبب دې چې اسلام اومسلمانانو په لار کښ خو

رکاوټونه جوړول. هغوئ ته موایذاء رسوله . او ورپورې خو ټوقی مسخرې کولې ﴿وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ ٱلدِّينِ﴾ څلورم سبب دې چې انکار دآخرت اوقیامت دې

فائده: کفاردشریعت فرعی احکاماتو مخاطب دی اوکنه؟دایوه اختلافی مسئله ده. احنافو په نیز نه دی، او شوافعو په نیز مخاطب دی،اوهغوئ دې آیت او دغه شان نور آیاتونو نه استدلال کوی،خودې آیتونو نه استدلال صحیح نه دې:

(۱)یوخو دې وجهی نه چی داڅلور اسباب کنایه دی دعدم ایمان نه،نوعذاب په ایمان نه راوړلو باندې مرتب شو ، نه په فروعاتو پریخودلو باندې

(۲)دویم داچې مجموعه دڅلوروامورو سبب دعذاب ده اوداخوصریح کفر دې.(التحریر والتنویر)

(۳)دریم داچې سقر کښ دوه څیزونه دی(۱)یونفس عذاب(۲)اوبل زیادت د عذاب،نو نفس عذاب دپاره سبب ایمان نه راوړل دی، او زیادت دعذاب دپاره سبب فروع نه منل دی. نو فروعو مخاطب اومکلف نه ګرځیدلومطلب دادې چې نفس عذاب به دې د وجهی نه .نه وی، چونکه داصولو په ضمن کښ داهم راځی، نوزیادت دعذاب دپاره په سبب ګرځی(بیان القرآن)

﴿حَتَّىٰٓ أَتَىٰنَا ٱلْيَقِينُ﴾داغایت ده دمذکو څلور واړو امورو د پاره،او یقین نه مراد مرګ اومقدمات دمرګ دی،یعنی دغه کارونه موکول چې مرګ راباندې راغې.

﴿فَمَا تَنفَعُهُمْ شَفَٰعَةُ ٱلشَّٰفِعِينَ﴾کلام علی سبیل الفرض دې،یعنی که بالفرض څوک دوئ باره کښ شفاعت اوکړی هم نوهم به ورته څه نفع نه ورکوی.

فَمَا لَهُمْ عَنِ ٱلتَّذْكِرَةِ مُعْرِضِينَ ۞ كَأَنَّهُمْ حُمُرٌ مُّسْتَنفِرَةٌ ۞
پس څه شویدی دوئ لره چه دنصیحت نه اعراض کونکی دی،لکه دوئ چه خرونه دی تختیدونکی.
فَرَّتْ مِن قَسْوَرَةٍ ۞ بَلْ يُرِيدُ كُلُّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ أَن يُؤْتَىٰ صُحُفًا
چه تختیدلی وی دزمری نه بلکه غواړی هریوسړې ددوئ نه داچه ورکړې شی ورته پاڼړې

مُّنْفَرَةٌ ۝ كَلَّا ۭ بَلْ لَّا يَخَافُوْنَ الْاٰخِرَةَ ۝ كَلَّآ اِنَّهٗ تَذْكِرَةٌ ۝ فَمَنْ
کړلاوې، هرګزوربه نکړیشی،بلکه نه یریږي دوئ دآخرت نه یقیناداقرآن نصیحت دی.پس څوک چه
شَاۗءَ ذَكَرَهٗ ۝ وَمَا يَذْكُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَاۗءَ اللّٰهُ ۭ هُوَ اَهْلُ
غواړي نو نصیحت دې واخلي ورنه‌اونه اخلي نصیحت دوئ مګرداچه خوښه شي دالله ﷻ.الله لائق دې
التَّقْوٰى وَاَهْلُ الْمَغْفِرَةِ ۝
چه یره تری اوکړې‌شي اولائق دمغفرت دې

﴿فَمَا لَهُمْ عَنِ التَّذْكِرَةِ مُعْرِضِيْنَ﴾زجردې مشرکانوته ، او"فاء" دپاره دتفریع ده، یعنی چې دکفر اوشرک انجام دادي، نو بیا ولې دوئ دنصیحت نه تختي اوقرآن نه داسې اغراض کوي. لکه حماروحشي چه زمري اووینی!!

﴿فَرَّتْ مِنْ قَسْوَرَةٍ﴾"قسورة"زمري ته وائي ، یاغشي ویشتونکي ته وائي. دکافرانو دقرآن نه اعراض تشبیه دهغه حمار سره ورکړی شویده چې زمری او ویني اوتختي، دې تشبیه کښې درې امور ملحوظ ساتلې شوی دي:

(۱)خرسره تشبیه ورکولو کښې ددوئ حماقت اوبلادت طرف ته اشاره ده چې دوئ دومره بې وقوفان دی چې خپل نفع اونقصان نه پیژني.

(۲)مراد دلته دحمار نه حمار وحشي دې چې هغه اکثر بلاسبب تیختکه کوي،نودغه شان دوئ هم دی چې قرآن نه تختیدل نه دې پکار،اودوئ ترینه تختي.

(۳)"من قسورة"اضافي سره انتهائي تیزی منډې اواعراض طرف ته اشاره ده(بیان القرآن)

﴿بَلْ يُرِيْدُ كُلُّ امْرِئٍ﴾بل دپاره داضراب انتقالي دې، او دیکښې ددوئ عناد اواعراض بله نمونه ذکر کیږي. مشرکینو به نبی کریم ﷺ ته وئیل چې مونږ په تا تر هغه پورې ایمان نه راوړو، تر څو چې دالله ﷻ طرف نه زمونږ هر یوکس په نوم خط نه وی راغلې، چې هغې کښې ستا د اتباع حکم وی.

﴿ كَلَّا ﴾زجر دي چې دوئ له داسې مطالبې نه دي کول پکار ﴿بَل لَّا يَخَافُونَ ٱلۡأٓخِرَةَ﴾ اضراب ابطالی دي چې اصل معامله دَایمان نه راوړلو "ایتاء د صحف" نه ده ، بلکه خوف آخرت فقدان دي، چې دوئ سره دآخرت فکراوخوف نشته.

﴿كَلَّآ إِنَّهُۥ تَذۡكِرَةٞ ﴾دلته هم «کلاً»ردع دي، چې دوئ دَخطوطو مطالبې څه دَپاره کوی. دَنصيحت اغوستلو لپاره خو قرآن کافی دي، خطونو ته حاجت نشته، څوک چه نصيحت قبولول غواړی نودَقرآن نه دی نصيحت واخلی،ليکن داهم دَالله ﷻ په توفيق اوخوښه سره کيږي.

﴿هُوَ أَهۡلُ ٱلتَّقۡوَىٰ وَأَهۡلُ ٱلۡمَغۡفِرَةِ ﴾يعنی الله ﷻ دَدی لائق دي چه دَعذاب نه ئی يره اوکړې شی، ايمان پری راوړې شی،اوهغه لائق دي چه ايمان راوړونکواوتوبه ايستونکوته مغفرت اوکړی.

ركوعاتها (٢)	سورة القيامة مكية	آياتها (٤٠)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٧٥) وحسب النزول (٣١)

نَزَلَتْ بَعْدَ سُورَةِ الْقَارِعَةِ وَقَبْلَ سُورَةِ الْهُمَزَةِ

ربط: ماقبل سورتونو كښې مسئله دَتوحيد وه، اوس دى سورة نه ترسورة الاعلى پورى مسئله دَثبوت دَقيامت ذكر كيږي هريو سورة كښې على سبيل الترقى، څكه چه مشركان لكه څنګه دَتوحيد نه منكروؤ دغه شان دَقيامت نه هم منكروؤ، او چونكه توحيد اصل الاصول دي نو دَتوحيد ذكر به ورسره هم كيږي يو سورة كښې به توحيد ذكر وى بل كښې به نه وى.

خلاصه: آيت ١. ٢ كښې پورى ثبوت قيامت باندې دوه مشاهدى پيش كيږي.

آيت ٣ نه تر ٧ پورى، زجر او دعوه د سورت ده.

آيت ٧ نه تر ١٥ پورى تخويف اخروى دي.

آيت ١٦ نه تر ١٩ پورې جمله معترضه ده لپاره دَحفاظت قرآن.

آيت ٢٠ او ٢١ كښې دَماقبل تخويف تتمه ده.

آيت ٢٢، ٢٣ كښې بشارت اخروى دي.

آيت ٢٢ نه ترآخر پورې درې زجرونه ذكر كيږي.

لَآ اُقْسِمُ بِيَوْمِ الْقِيٰمَةِ ۙ وَلَآ اُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ ۙ اَيَحْسَبُ الْاِنْسَانُ
قسم دي وى خماپه ورځ دَقيامت او قسم دى وى خماپه نفس ملامته كونكى باندى، آيا گمان كوى انسان داچه
اَلَّنْ نَّجْمَعَ عِظَامَهٗ ۙ بَلٰى قٰدِرِيْنَ عَلٰٓى اَنْ نُّسَوِّيَ بَنَانَهٗ ۝
چرى به هم جمع نكړو مونږ هډوكى دَده. خامخا به ئي جمع كړؤ، حال داچه قادريو مونږ په دى چه برابر كړو بندونه دګوتو دَده
بَلْ يُرِيْدُ الْاِنْسَانُ لِيَفْجُرَ اَمَامَهٗ ۚ يَسْـَٔلُ اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيٰمَةِ ۙ
بلكه اراده لرى انسان دَدى چه تكذيب اوكړى دَهغه څه چه دَده مخې كه دي، تپوس كوى چه كله به وى ورځ دَقيامت

﴿ لَآ أُقْسِمُ بِيَوْمِ ٱلْقِيَـٰمَةِ ﴾دادوه شاهده پيش كيږي په قيامت باندې.«۱»اول شاهد خپله قيامت دي ،يعنى داقيامت خپله د خپل حقيقت گواهي وركوي.آفتاب آمد دليل آفتاب. دَ قيامت څومره احوال اواهوال بيان شوي دي داټول دَدې گواهي وركوي چې قيامت شته دې.
«۲»دويم شاهد نفس لوامه دې،يعنى كله چې هم انسان دَدې نه انكار كوي، نو د هغه ضمير او نفس دې په انكار باندې ملامته كوي.

﴿ وَلَآ أُقْسِمُ بِٱلنَّفْسِ ٱللَّوَّامَةِ ﴾داهغه نفس دې چې انسان په خلاف شرع اوناجائز باندې ملامته كوي،نفس درې قسمه دي«۱»نفس مطمئنه«۲»لوامه«۳»اماره ،نوپه دې قسم سره قسم خوړولونه معلوميږي چې دَدې عندالله لوئ قدر دى،دَنفس اقسامو تفصيلات ديارلسمى سپارى ابتدا كښې تيردى،اوجواب دَقسم محذوف دې چې هغه لَتُبعثُنَّ دې.

﴿أَيَحْسَبُ ٱلْإِنسَـٰنُ ﴾دازجر دې منكرينو دَقيامت ته، دليل دې دَ جواب قسم. او دعوه دَ سورت ده . ﴿ٱلْإِنسَـٰنُ﴾نه مراد كافراومنكر دَقيامت دې، چې آيا دَ ده گمان دادې چې مونږ دَده هډوكى رايوځى كولې نشو.

﴿بَلَىٰ قَـٰدِرِينَ عَلَىٰٓ ﴾داابطال دې دَدوئ گمان،چه دوئ باكل غلطه خبره كوي ،قيامت به خامخا راځى،باقى داخبره چې زمونږ هډوكى به څنگه رايوځى كولې شى نوداالله ﷻ ته څه گرانه ده، الله ﷻ خو دَ دوئ دَ گوتو څوكو او بندونو په دوباره جوړولو باندې هم قادر دې،
«قـٰدرين»حال دې دَ"تجمع" فعل محذوف دَپاره، اى لجمع قادرين"﴿نُسَوِّىَ﴾ "تسوية" تخليق په احسن اومضبوط اندازسره "اتمام" ته رسولو ته وائى، ﴿بَنَانَهُۥ﴾ "بنان" دگوتو څوكوته وائى او دلته ترينه مراد يا پوره جسم دې څكه چې دادَجسم انسانى اطرافو«خپې لاسونو»انتهاده،نو چې كله چې دَ دې تخليق اوشى نو جسم تخليَق ورسره انتهاء ته اورسى، يا "بنان" نه مراد حقيقتاً د گوتو څوكې دى، اومقصد دادې چې ستاسو وجود خوغټ اوښكاره شې دې،داخو آسان كار دې الله ﷻ خوستاسو دگوتو څوكې هم دوباره پيدا كولوباندې قادردې، حالانكه «۱»دا خويو دَجسم مركزى حصه نه ده«۲»بل وركې غوندې جزدې«۳»بيادگوتو يوبويند كښې كنږ شمير ورې ورې لكيرى دى هغه هم جوړول دى«۴»اوبيادَهرسرى دگوتو لكيرى دَبل نه جداهم وى.

﴿بَلْ يُرِيدُ ٱلْإِنسَٰنُ لِيَفْجُرَ﴾ اضراب دې او ترقی ده. دماقبل نه چې صرف داګمان نه دې بلکه ده خو دَقیامت او راتلونکی حالاتو تکذیب خه کلکه اراده کړی ده ﴿لِيَفْجُرَ﴾ ای لیکفر ویکذب ﴿أَمَامَهُۥ﴾ ضمیر راجع دې انسانِ مکذب ته. ای ماامامه. یعنی چه کوم حالات ده ته مخی ته راروان دی چه قبر دې، بعث بعدالموت دې په هغی دې کفر کوی.

﴿يَسْـَٔلُ أَيَّانَ﴾ داد فجور تفصیل دې یعنی بطوراستهزاء تپوس کوی چه قیامت به کله راځی

فَإِذَا بَرِقَ الْبَصَرُ ﴿٧﴾ وَخَسَفَ الْقَمَرُ ﴿٨﴾ وَجُمِعَ الشَّمْسُ
پس کله چه اوبریخي نظر اوتوره شی سپوږمۍ اوجمع کړې شی نور
وَالْقَمَرُ ﴿٩﴾ يَقُولُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ أَيْنَ الْمَفَرُّ ﴿١٠﴾ كَلَّا لَا وَزَرَ ﴿١١﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ
اوسپوږمۍ. وائی به انسان پدغه ورځ چه چرته دې ځائ دَتیختی هرګزداسی نده نشته دې ځائ دَخلاصۍ په طرف دَرب ستا
يَوْمَئِذٍ الْمُسْتَقَرُّ ﴿١٢﴾ يُنَبَّأُ الْإِنسَانُ يَوْمَئِذٍ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ ﴿١٣﴾
پدغه ورځ ځائ دَقرارئ دې خبربه کړې شی انسان پدغه ورځ په هغه عملونو چه ئی مخکښې لیږلي دي او ورستو ئي پرېخې دي
بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ بَصِيرَةٌ ﴿١٤﴾ وَلَوْ أَلْقَىٰ مَعَاذِيرَهُ ﴿١٥﴾
بلکه انسان به پخپل ځان ښه لیدونکې وی،ګواهی کونکې به وی،اګرکه پیش به کړی ډیرعذرونه خپل

﴿فَإِذَا بَرِقَ ٱلْبَصَرُ﴾ داتخویف اخروی دې او جواب دې دَالله ﷻ طرف نه، او جواب کښې ورته دَ قیامت اهوال بیانیږی، چې نن خودوئ استهزاء کوی قیامت پورې، خو چې کله دوئ اهوال او ګوری نو بیا به دَ تیختې ځائ تلاش کوی او تختې دې به نشی، برق البصر ته مراد دَسخت خوف او هیبت ناک منظر نه سترګو بریخیدل دی.

﴿وَخَسَفَ ٱلْقَمَرُ﴾ دویم هولناکی بیانیږی، چې سپوګمۍ نه به الله ﷻ نور او رڼا سلب کړی. 'خسف' نه دلته مراد بې نوره کول دی، معروفه معنی تندرنیول نه دی.

﴿ وَجُمِعَ ٱلشَّمْسُ وَٱلْقَمَرُ ﴾دریم هولناک حالت بیان دې یعنی کله چې نوراو سپوږمۍ جمع کړی شی، «۱» نوراودسپوږمۍ جمع نه مرادیا دادې چې دواړه یوبل سره ټکراوخوری او کائنات نظام درهم برهم شی،«۲» یاداچې دواړه الله ﷻ دمغرب نه طلوع کړی،«۳»یادادواړه الله ﷻ بې نوره کړی الی غیر ذلک من الاقوال.

﴿ يَقُولُ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍ ﴾ای یوم اذ تقع هذه الامور«روح»یعنی کومه ورځ چه دا امور واقع شی،چه هغه ورځ دقیامت ده،﴿كَلَّا﴾ردع دې،چه دفرارلاره بالکل نشته﴿ لَا وَزَرَ ﴾وزرپناه ګاه ته وائی یعنی هیڅ پناه ګاه نشته.﴿إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ﴾یعنی تختیدل تختیدل نشته نن ورځ صرف دالله ﷻ په حضور اودرباز کښې حاضری اودخپلو سزاوجزا دپاره استقراردې.

﴿ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾«۱» قدم نه مراد فعل دې،یعنی کوم عمل ئې چه کړې وی که خیروی او که شر، نو په خیر به ورته ثواب ورکولې کیږی،په شربه ورته عذاب، او د﴿وَأَخَّرَ ﴾ معنی ترک ده،یعنی ترک خیرئې کړې وی که ترک شر،نوپه اول به ورته عذاب ورکولې کیږی اوپه دویم به ورته ثواب.

«۲»یا﴿ قَدَّمَ﴾نه مرادهغه عمل دې چه پخپله ئې کړې وی که نیک وی که بد ، اود﴿ وَأَخَّرَ ﴾ نه مرادهغه عمل دې چه دې ئې ذریعه جوړه شوی وی نیک وی که بد ،لکه په حدیث کښې دی: مَن سنّ فی الأسلام سُنّةً حسنةً کانَ له اجرهاواجرمن عمل بهابعده من غیران ینقصَ من اجورهم شئ، و مَن سنّ فی الاسلام سنةً سیئةً کان علیه وزرهاووزرُمن عمل بهابعدهُ،من غیران ینقصَ من اوزارهم شئ«مسلم وغیره».

«۳»یاد﴿قَدَّمَ ﴾نه مرادهغه مال دې چې خپل ژوندکښې ئې صدقه کړې وی او﴿وَأَخَّرَ ﴾نه مراد هغه مال دې وارث ته ئې پریښې وی،یا ئې وقف کړې وی.

﴿ بَلِ الْإِنسَانُ عَلَىٰ نَفْسِهِ ﴾ماقبل نه ترقى ده،چه انسان دعمل نه خبره ول خوصرف د اعزاز يا توهين لپاره وي، ورنه هرانسان پخپلوعملونوبه پخپله گواه او ښه خبر به وی.اگرچه ځان باندی به بيا ډيرې پردی اچوی،عذرونه به پيش کوی،لکه کافران به وائی والله ربّنا ما کنّا مشركين ﴿بَصِيرَةٌ ﴾په معنى دَ بينة او واضحة سره دې،اوصفت دې دَموصوف محذوف دَ پاره، اي حجة بينة او «على نفسه» جار مجرور "بصيرة" سره متعلق دى. او دا خبر دې دَ "الانسان" د پاره ﴿ مَعَاذِيرَهُ﴾جمع دَ"معذرة" پمعنى دَعذر

لَا تُحَرِّكْ	بِهِ	لِسَانَكَ	لِتَعْجَلَ	بِهِ ⑯	إِنَّ	عَلَيْنَا	جَمْعَهُ
مه خوزه وه ته پدى قرآن ژبه خپله چه ته جلتى اوكړى په دې بې شكه زمونږ په ذمه دى جمع كول ئې په سينه ستاكښې							
وَقُرْآنَهُ ⑰	فَإِذَا	قَرَأْنَاهُ	فَاتَّبِعْ	قُرْآنَهُ ⑱			
اولوستل ئى «په ژبه ستا»،پس كله چه مونږاولولوقرآن«په لسان جبرئيل»نوته اتباع كوه دَهغه دَلوستلو،							
ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُ ⑲							
بيازمونږپه ذمه دى بيان دَمعانيؤددى قرآن							

﴿ لَا تُحَرِّكْ بِهِ لِسَانَكَ ﴾ داجمله معترضه ده،پديكښې دَقرآن مجيددَحفاظت بيان دې،په بخارى وغيره كښې دَحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دې چه ابتداء كښې به كله حضور ﷺ باندى وحى نازليده، نوحضور ﷺ به اوريدله هم، اوورسره به ئې په خولى وئيله هم، دَ دې خوف نه چه هيره رانه نشى، نو دا امرمشكل وؤ، نوالله ﷻ داآياتونه نازل كړل، چه داخوف مه كوه چه قرآن به رانه هير شى، ضائع به شى، دا زمونږ ذمه وارى ده چه مونږ به ئى ستاپه سينه كښې محفوظه كوؤ، نو دَ وحى ختميدلو نه مخكښې ئى مه وايه،كقوله تعالى: ولاتعجل بالقرآن من قبل ان يُقضىٰ اليک وحيهُ. «طه».

﴿إِنَّ عَلَيْنَا جَمْعَهُ ﴾ يعنى دَدې قرآن جمع كول اومحفوظه كول ستاپه سينې كښې زمونږ ذمه وارئ ده، ﴿وَقُرْآنَهُ﴾قرآن دلته مصدردې پمعنى دَقراءة.يعنى ستاپه ژبه باندى لوستل هم

زمونږ ذمه واری ده، داسی به ئې درته اسان کړوچه کله هم ستاخوښه وی قرأت بې کولې شی﴿فَإِذَا قَرَأْنَٰهُ﴾یعنی چه کله په لسان دَجبرئیل زمونږوحی تمامه شی نوبیائی لوله په ذهن کښ به دی راسخه شی، بعضِ وائی دَاتباع نه مراددَاوامراونواهی ؤاتباع ده.

﴿ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا بَيَانَهُۥ﴾یعنی دَقرآن دَمشکلومقاماتوتشریح، دَاحکاماتو وضاحت، داهم زمونږذمه واری ده، که تاته دَیوآیت په معنی اومطلب ځان پوهول مشکل وی، نوسوال کولو کښ جلدی مه کوه، مونږ به ئې درته بیان کوؤ، ګویاچه حضورﷺته په حفظ اوپه مطلب باندی پوهیدلو دواړوکښ عجلت وؤ. دینه معلومه شوه چه حدیث دَحضورﷺهم دَالله ﷻدَطرفه الهام دې، پدی وجه دَقرآن په شان ئې منل ضروری دی.

دَ دې اياتونو دَ ماقبل سره ربط باره کښ دَ مفسرينو ډير اقوال دي:

(۱)امام رازی رحمه الله فرمائی چه دادَجملی معترضی په شان ده. او دَ قبیلی دَتنبیه دَمدرس نه ده، لکه په دوران دَ درس کښ یوطالب علم لیکل کوی، یا یوخوا بل خواګوری، نو مدرس ورته تنبیه ورکړی، چه اې طالبه اوس لیکل مه کوه، بلکه ماته متوجه شه، چه سبق ختم شی بیا به ئې اولیکی ، بیا دې نه پس مدرس خپل درس بیاشروع کړی، نو درس دَ مدرس مربوط وی، دغه شان احتمال دې چه حضورﷺپه وخت دَ نزول دَ دې آیاتونوکښ دَ یادولو په نیت وحی لوستله نوپه عین وخت کښ ورنه منع کړې شو ، او بیا دوباره دَ قیامت ذکر شروع شو چه ﴿كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ﴾.

(۲)علامه شبیراحمدعثمانی رحمه الله فرمائی چه دادَ﴿يُنَبَّؤُا۟ ٱلْإِنسَٰنُ يَوْمَئِذٍۭ بِمَا قَدَّمَ وَأَخَّرَ﴾ یو وړه نمونه ده په دنیاکښ، یعنی څنګه چه الله ﷻ په دی قادردې چه خپله وحی دَفرشتی دَ تګ نه ورستو په پوره ترتیب سره، متفردمتفردحرف، سره دَمعانیؤمعارفودَخپل پیغمبر علیه السلام په سینه کښ جمع کوی، نوهغه په دی هم قادردې چه دَ انسان نوی زاړه ټول عملونه راجمع کړی، انسان پری په قیامت کښ خبرکړی، اودغه شان دَبدن خورې ورې ذرې په قیامت کښ را جمع کړی، انسان ترینه دوباره پیدا کړی(تفسیرعثمانی).

(۳)حضرت حسین علی الوانی رحمه الله فرمائی چې ماقبل سره مناسبت دادې چې دیکښ تسلی ده نبی کریم ﷺ ته، چې کله الله ﷻ په دې قادر دې چې انسان ته دَمخکښ او ورستو

تول اعمالو خبروركړی، نوهغه پدې هم قادر دې چې دافراں ... به ... جمع ... لهذاته غم مه کوه (جواهر)

كَلَّا بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ ﴿٢٠﴾ وَتَذَرُونَ الْآخِرَةَ ﴿٢١﴾ وُجُوهٌ

چرته هم نه ده داسې، بلکه محبت ساتئ تاسو ددنیاسره، اوپرېږدئ يعنی ... د آخرت. ځينې مخونه ...

يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ﴿٢٢﴾ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ﴿٢٣﴾

پدغه ورځ تازه وی خپل رب ته به کتونکی وی

وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ ﴿٢٤﴾ تَظُنُّ أَنْ يُفْعَلَ بِهَا فَاقِرَةٌ ﴿٢٥﴾

او ځنې مخونه به پدغه ورځ تراوه وی یقین به کوی داچه اوبه کړې شی ددوئ سره معامله ملاماتونکې سخته.

﴿كَلَّا﴾ دپاره دَابطال دی (التحرير والتنوير)، اودې تعلق د "ولو القى معاذيره" سره دې. يعنې که ډير معذرتونه اوکړی خو دا معذرتونه به ئې نه قبليږی.

﴿بَلْ تُحِبُّونَ الْعَاجِلَةَ﴾ دا دَ ﴿كَلَّا﴾ اجمال تفصيل دې، يعنی عذرونه به ئې ځکه نه قبليږی چې دوئ دنیا پسې لګيدلی وؤ، او آخرت ئې پريخودلې وو.

﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ﴾ دابشارت اخروی دې، چه دَمؤمنانو مخلصانه مخونه به دقيامت په سخته ورځ کښې دَډيرې خوشحالئ په وجه تروتازه وی ﴿إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ يعنې دخپل رب ديداركونكی به وی، په ترمذی وغيره کښې دَابن عمرﷺنه روايت دې چه رسول اللهﷺ فرمائی: انَّ ادنىٰ اهلَ الجنة منزلة لمن ينظرالى جنانه وازواجه ونعيمه وخدمه وسُرره مسيرة الف سَنة، واكرمهم على الله من ينظرالى وجهه غدوة وعشية، اهل جنت کښې به ادنی ترينه درجه د هغه کس وی چې هغه به ديو کال په مسافت خپل باغات، بيبيانې، خادمان، اوتختونه وينی، او تولو نه ګران به دَالله ﷻ هغه کس وی چې سحر مابنام دَهغه ديدار کوی. بيا حضورﷺ دا آيت تلاوت کړو.

اهل السنت والجماعت دی ايت اودغه شان نوروآياتونه اواحاديثونه استدلال کوی چه مؤمنان به په جنت کښې دَاللهﷻ ديداركوی، معتزله وغيره ګمراه فرقی ورنه انكاركوی، ددی

تفصيل دَدی تفسيرپه دويم جلدصفحه نمبر(۴۵۱)کښې تيرشويدي هلته دی اوکتلې شی ﴿وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ بَاسِرَةٌ﴾تخويف اخروی دې چه دکافرانومخونه به دقيامت دَسختئ پوجه بې رونقه، بدشکله به وی،﴿ تَظُنُّ أَن يُفْعَلَ بِهَا ﴾ضمير په "تظن" کښې راجع دې وجوهو دَ کافرانو ته، "ظن" پمعنی دَيقين دې،﴿فَاقِرَةٌ ﴾دَ "فقر" نه دې ملاهډوکی ته وائی اومراد ترينه لوئ عذابونه دی، يعنی دايقين به کوی چه اوس به ماسره داسی معامله کيږی چه ملابه می ماته وی، دَ ملاهډوکي دَټول بدن بادشاه دې چه دې مات شی نوټول بدن کارپريدی

كَلَّآ إِذَا بَلَغَتِ التَّرَاقِيَ ﴿٢٦﴾ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴿٢٧﴾
هرګزدنياسره محبت مکوئ،کله چه اورسيږی روح مرئ ته،اواووئيلې شی څوک دې.دم اچونکې،علاج کونکې
وَظَنَّ أَنَّهُ الْفِرَاقُ ﴿٢٨﴾ وَالْتَفَّتِ السَّاقُ بِالسَّاقِ ﴿٢٩﴾ إِلَىٰ رَبِّكَ
اويقين اوکړی مړکيدونکې چه داوخت دَفراق دې،اوتاؤشی يوه پنډئ دَبلی پنډئ سره،په طرف دَرب ستا
يَوْمَئِذٍ الْمَسَاقُ ﴿٣٠﴾
پدغه ورځ ورتلل دی.

﴿ كَلَّآ ﴾دېکښې ردع اوزجر دې دَدنيا په محبت يعنی دنيا محبت پريګدئ،مرګ درته راروان دې دهغې فکر اوغم اوکړی،﴿إِذَا بَلَغَتِ ٱلتَّرَاقِيَ ﴾ضمير دَ"بلغت"روح انسانی راجع دې چې حکماً مذکور دې "التراقی" جمع دَ "ترقوة"ده، دَمرئ هډوکی ته وائی،يعنی کله چې انسان ځنکدن شروع شی اوروح ئی مرئ ته را اورسی او حالت ئی خرا ب شی.

﴿ وَقِيلَ مَنْ ۜ رَاقٍ ﴾يعنی دی حالت کښې ده نه ګير چاپيره ناست کسان چغې کړی، هلئ دم ګرې راولئ، زر کړئ طبيب راولئ ، «قيل» فعل مجهول ځکه راوړلې شوې دې چې دې وخت کښې هائ هوئ وې دَ قائل پته نه لګی، «من راق»استفهام خپلې حقيقې معنی باندې محمول دې ، يعنی دم ګری څوک دې،چې راشی اودې دم کړې. يا استفهام دَ استبعاد او انکار دَ پاره دې، يعنی اوس به څوک دَ ده علاج اوکړی؟دې نشی بچ کيدلې.

﴿رَاقٍ﴾ دَ 'رقية' نه مأخوذ دې، دم گری ته وائی، دلته ورنه مراد مطلقاًمعالج دې، برابره خبره ده چې هغه دم گرې وي او که طبیب وی ، چونکه عربو کښې دمونو رواج ډیر وؤ، نوځکه 'راق' ذکر اوشو. بعضِ وائی ﴿رَاقٍ﴾ دَ "الرُقی" نه مأخوذ دې ، 'عروج' یعنی بره ختلو ته وائی، نو دا کلام دَ ملائکو دَ موت دې ، یعنی ملائک دَ موت به دَ موت په وخت کښې وائی،دَده روح اچتونکې څوک دې، دَ رحمة ملائکی به ئې پورته کوی او که دَ عذاب؟
په 'منْ' باندی سکته ده، ځکه دغه وخت خلقو باندې هم رعب په وجه سکته وی، ساه ئې لنډیږی.

بهر حال جمهور مفسرینوپه نیز دَ 'من راق' قائلین یو نوع کسان دې،چې هغه دَقریب المرگ خپل خپلوان دی اویا ملائک دی، البته دَحضرت شیخ غلام الله خان صاحب رحمه الله په نیز دَ'منْ' قائل جدا دې اودَ'راق'قائل جدا دې، دَ'من'قائل خپل خپلوان دی چی دَانسان ځنکدن شروع شی، نو دوئ 'من،منْ' شروع کړی،چې چاپسی ئې بوځو ،چرته ئې بوځو ،وغیره او 'راق' قریب المرگ په خپله دې، یعنی دې به ورته اوائی چې څوک دم گرې را اوغواړئ، چونکه قائلین جدا جدا دی دې وجهې نه مینځ کښې سکته راغلی ده.

﴿وَظَنَّ أَنَّهُ ٱلْفِرَاقُ﴾ 'ظن'بمعنی دَیقین دې،یعنی دامړې دغه وخت کښې یقین اوکړی چه بس اوس دی څوک بچ کولو والانشته،محبوبی دنیا،دَ دی دَخوندونواو د بال بچ اوبی بی، دوستانو نه دَ فراق وخت راغې،تعبیر دَ یقین نه په ظن سره ځکه اوشوچه ترڅودَانسان روح دَده په بدن کښې وی دې ترهغه وخته طمع کوی دَژوند ،دَوجی دَډیرمحبت نه،نویقین ئې نه راځی چه زه مرکیږم(روح).

﴿ وَٱلْتَفَّتِ ٱلسَّاقُ بِٱلسَّاقِ ﴾یامحمول دې په ظاهرباندی،چه دَمړی دَبدن نه روح اوځی، نو ځنې وخت دَډیری سختئ وجهې نه یوه پنډئ دَبلی پنډئ نه تاؤشی ،یوه دَبلی نه بیلول دَده په واک کښې نه وی،یاساق کنایه ده دَسختئ نه،یعنی یوه سختی دَبلی سره ضم شی،پرله پسی وریاندی سختیانی راشی،دنیانه فراق یوه سختی،مرگ بله سختی، قبر بله سختی،بعث بله سختی،حساب کتاب بله سختی.﴿إِلَىٰ رَبِّكَ يَوْمَئِذٍ ٱلْمَسَاقُ﴾دادَالله تعالیٰ طرف ته راونگی ورځ ده ،'مساق'مصدر میمی دې په معنی دَ'سوق'سره

فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى ﴿٣١﴾ وَلٰكِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿٣٢﴾ ثُمَّ ذَهَبَ
پس نه ئې تصديق ـ اوكړو اونه ئې مونځ اوكړو،بلكه تكذيب ئې اوكړواواعراض ئې اوكړو،بيالاړو
إِلٰى أَهْلِهٖ يَتَمَطّٰى ﴿٣٣﴾ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴿٣٤﴾ ثُمَّ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴿٣٥﴾
خپل اهل ته تكبر كوي‌هلاكت دې وي تاله بيادې هلاكت وي بياهلاكت دې تاله بياهلاكت دې

﴿فَلَا صَدَّقَ وَلَا صَلّٰى﴾دازجردې منكرينو دَحشرنشرته،ضميرپه دواړوخايونوكښې انسان ته راجع دې چه مذكوردې په﴿أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَلَّن نَّجْمَعَ عِظَامَهُ ﴾كښې،چه مرادورنه مطلق كافرمكذب دې،يعنې دومره دلائلو،وعظ ونصيحت اوتخويف وبشاراتو باوجود ده نه ايمان راوړلو او نه ئې شريعت احكامات اومنل.﴿ صَدَّقَ ﴾دَتصديق نه دې،يعنې تصديق ئې اونكړو په الله ﷻ،اوپه رسول الله ﷺ،اوپه قرآن ،اوپه قيامت،چه دااصول دَدين دي،﴿وَلَا صَلّٰى﴾ اونه ئې فروع اوكړل چه مونځ وغيره دي، بلكه بنه په بنګاره ئې ترينه انكاراواعراض اوكړو.

﴿ ثُمَّ ذَهَبَ إِلٰى أَهْلِهٖ ﴾يعنې كفراوعصيان باندې فخراوغروراوتكبرسره دَخپلو متعلقينو اوخپلوانوپه لورې ځي،اهل نه مراداهل مجلس دي﴿يَتَمَطّٰى ﴾مأخوذدې دَ"المط"نه په اصل كښې"يتمطط"دې،اى يتمدّد،تكبر په وجه اوږدو اوږدو قدمونو اغستلوته وائي،يادَ"مطا"نه دې، شا ته وائي،متكبر هم دَ تكبر په وجه شا ګرځوي.

﴿ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴾"اولى"مقلوب دَ"ويل"دې، پمعنى دَهلاكت"اولى"مبتدادې"لک"ئې خبردې،يا"اولى"اسم تفضيل دې پمعنى دَاحسن،او،احرىٰ نو خبردې دَمبتدامحذوف اى النار اولى لک،يعنې اوردَجهنم تادپاره بنه لائق اوبنه دې(روح المعاني).

﴿ ثُمَّ أَوْلٰى لَكَ فَأَوْلٰى ﴾تكراردَتاكيدډپاره دې،ياپكښې څلورقسمه عذابونوته اشاره ده، اول عذاب دَمرګ،بياعذاب دَ برزخ،بياعذاب دَبعث،بياعذاب دَجهنم(قرطبي).

أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى ﴿٣٦﴾ أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ								
آیاگمان کوی انسان ددی خبری چه پرې به خودلې شی بیکاره آیانه وزداانسان یوڅاڅکي پلیت دمنی								
يُمْنَىٰ	﴿٣٧﴾ ثُمَّ	كَانَ	عَلَقَةً	فَخَلَقَ	فَسَوَّىٰ	﴿٣٨﴾	فَجَعَلَ	
چه غورځولې شوپه رحم کښې بیاوو دې ټکره دوینی نو الله ﷻ پیدا کړو بیائی برابر کړل اندامونه دده بیائی اوګرځولو								
مِنْهُ الزَّوْجَيْنِ الذَّكَرَ وَالْأُنثَىٰ ﴿٣٩﴾ أَلَيْسَ ذَٰلِكَ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ ﴿٤٠﴾								
دده نه دوه جوړې نارینه اوښځه آیانده دغه ذات قادرېدی چه ژوندی کړی مړی ورستو دمرګ نه								

﴿أَيَحْسَبُ الْإِنسَانُ أَن يُتْرَكَ سُدًى﴾ داهم زجردې چې آیا دې داګمان کوی چې خه بې کار پیدا شوی یم، نه ورته دنیا کښې خه ذمه داری حواله شوې ده، اونه دخه احکاماتو مکلف کړې شوې دې، اونه به ورسره آخرت کښې حساب کتاب کیږی، اودوباره به نه ژوندې کیږی.

﴿أَلَمْ يَكُ نُطْفَةً مِّن مَّنِيٍّ﴾ داپه ثبوت دقیامت اوبعث بعدالموت باندی دلیل عقلی دې، او رد دې د مذکوره ګمان، چه آیاهغه ذات چه انسان ئې دمرداری نطفی دمنی پیدا کړیدې او برابر اندامونه ئې ورله ورکړیدی، او ښوک ئې نر او ښوک ئې ښځه پیدا کړې ده ، نو آیا دا دومره عظیم الشان نظام بې غرضه او بې مقصده پیدا دې؟ هرګز نه . بلکه د انسان تخلیق په دې ګواه دې چې دې بې مقصده نه دې پیدا کړې شوې ، د ده نه ضرور خه مطالبات شته دې ، او دمرګ نه بعد به ورنه د دې حساب کتاب کیږي ، او دې به دوباره ژوندې کیږي ، او کوم ذات چې اول خل دې پیدا کړې دې هغه به ئې دوباره پیدا کوي، او هغه په دوباره پیدا کولو قادر دې ، «الیس ذلک بقادر » په حدیث کښی دی چه کله به حضور ﷺ داآیت اولوستلو ، نو اوونیل به ئې "سبحانک اللهم وبلیٰ" په یوروایت کښی دی چه ښوک داآیت الولی نو "بلیٰ" دی ورپسی اووائی.

رکوعاتها (۲)	**سورة الدهر مدنية**	آياتها (۳۱)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۷۶) وحسب النزول (۹۸)

نزلت بعدالرّعدوقبل الرّحمٰن، دی سورة ته سورة الانسان هم وائی

ربط: ماقبل سورة کښ مسئله دَقیامت اوبعث بعدالموت باندی شواهد ذکرشول، دی سورة کښ دامسئله علیٰ سبیل الترقی ذکرکیږی چه دَانسان وجودپخپله یوه نمونه ده دَبعث بعدالموت چه انسان مودَعدم نه دَنطفی په ذریعه وجودته راوستلو، آلات دَاوریدلو، لیدلو مورته ورکړل نودانمونه ده چه الله ﷻ دَدی انسان په دوباره پیداکولوباندی هم قادردی.

خلاصه دسورة: دَاول آیت نه ترآیت(۳) پوری دَالله ﷻ دَقدرت یوه نمونه ذکرکیږی، آیت(۴) تخویف اخروی دی، بیاترآیت(۲۲) پوری بشارت اخروی دی، آیت(۲۳) ترغیب الی القرآن دی، آیت(۲۴) تسلی ده حضور ﷺ ته، آیت(۲۵، ۲۶) بیان دَتوحید دی، او ذکر الهی دی، آیت۲۷. ۲۸ کښ زجردی، اوآیت ۲۹نه ۳۱ کښ دَسورت لب لباب اوخلاصې بیان دی.

هَلۡ اَتٰى عَلَى الۡاِنۡسَانِ حِيۡنٌ مِّنَ الدَّهۡرِ لَمۡ يَكُنۡ شَيۡـًٔا
بیشکه راغلی دی په انسان باندی یووخت دَزمانی نه داسی چه نه وو دی څه شی
مَّذۡكُوۡرًا ① اِنَّا خَلَقۡنَا الۡاِنۡسَانَ مِنۡ نُّطۡفَةٍ اَمۡشَاجٍ ۖ نَّبۡتَلِيۡهِ
قابل دَذکر بی شکه مونږ پیداکړیدی انسان دَنطفی مخلوطی دَموراوپلارنه، چی ازمیښت اوکړو مونږ دَده
فَجَعَلۡنٰهُ سَمِيۡعًاۢ بَصِيۡرًا ② اِنَّا هَدَيۡنٰهُ السَّبِيۡلَ اِمَّا شَاكِرًا
نواوګرځولو مونږ دی اوریدونکی لیدونکی، بی شکه اوښودله مونږده ته سمه لاره، یابه دی شکرکونکی شی
وَّاِمَّا كَفُوۡرًا ③ اِنَّاۤ اَعۡتَدۡنَا لِلۡكٰفِرِيۡنَ سَلٰسِلَاۡ وَاَغۡلٰلًا وَّسَعِيۡرًا ④
اویابه کفرکونکی شی، بی شکه مونږ تیارکړیدی لپاره دکافرانو زنځیرونه اوطوقونه اواوردَجهنم

﴿ هَلۡ أَتَىٰ عَلَى ٱلۡإِنسَٰنِ ﴾داد قدرت الهی یو ء نمونه ده په امکان د بعث بعد الموت یعنی انسان دې خپل تخلیق باندې غوراوکړی ده باندې یوه زمانه داسې تیره شویده چې د ده پکښې هیڅ وجود نه وو،بیا الله ﷻ وجود ته راوستلو نوکله چې مړشی نوبیابه ئی هم دغه الله ژوندې کوی، "هل" د پاره د تحقیق پمعنی د "قد" سره دې، "الانسان" نه مراد جنس انسان دې.

﴿حِينٌ﴾ محدود زمانې ته وائی لګه وی اوکه ډیره، اودلته ترینه دنیاته راتلو نه مخکښې زمانه مراده ده، ﴿ٱلدَّهۡرِ﴾غیر محدود زمانی ته وائی، یعنی د دهر یو زمانه پرې تیره ده.

﴿لَمۡ يَكُن شَيۡـٔٗا مَّذۡكُورًا ﴾جملہ صفت ده "حین" اونفی د قید "مذکورا" ده او "مذکورا" نه مراد قابل ذکر او خاص شې دې، یعنی یقینا په انسان د دهر یو داسې وخت هم تیر دې چې دیکښې څه خاص اوقابل ذکر شې نه وو، او دانسانیت په لقب نه یادیدلو ،بلکه چرته د عناصرو اربعؤو په صورت کښې، چرته د میوؤ او غذاګانو په ضمن کښې، او چرته د نطفې په شکل کښې وؤ.

﴿خَلَقۡنَا﴾ دیکښې ئی د تخلیق کیفیت ذکر کیږی﴿أَمۡشَاجٖ ﴾صفت دې د "نطفة" جمع ده د مَشَجٌ اختلاط په معنی کښې استعمالیږی، یعنی د موراوپلار مخلوطی نطفې نه مودې پیدا کړو.

سوال: امشاج جمع ده، اونطفه مفرد دې، اوموصوف صفت مطابقت ضروری دې په وحدت، تثنیه اوجمع کښې؟

جواب: (۱)یوجواب داورکړې شوې دې چې چونکه نطفه مختلفواجزا ومجموعه ده ، اوبیا دلته مراد د ښځې اوخاوند دواړو نطفه ده، نوځکه ورله صفت جمع راوړلې شو.

(۲)دویم جواب داورکړی شوې دې چې "امشاج" جمع نه دې، بلکه "افعال" په وزن مفرد دې لکه اعشار.

﴿نَّبۡتَلِيهِ﴾ دې کښې مقصد د تخلیق بیانیږی، یعنی عبث موندې پیدا کړې، بلکه د خپلو احکاماتو مکلف خوګرځولې دې اودنیاکښې ئی آزمیښت کوؤ چې عمل کوی اوکه نه.

﴿ فَجَعَلۡنَٰهُ سَمِيعَۢا بَصِيرًا ﴾ یعنی چو نکه مقصود د انسان تخلیق نه ،د ده ابتلاء ده، نو ځکه ورله سمع اوبصر قوت ورکړو ، چې د الله ﷻ وحدانیت دلائل پرې واوری او اوګوری، او د حق اخذ او فهم استعداد پکښې پیدا شی.

﴿إِنَّا هَدَيْنَٰهُ﴾ اوصرف په دی مو هم اکتفاء اونکړه ، بلکه ده ته مو سمه لاره هم اوښودله په ذریعې دَانبیاؤو ، او آسمانی کتابونو ، اوس دَ ده مرضی ده چه شکرکونکې ګرځی یعنی ایمان راوړی اوکه ناشکره یعنی کفرکوی.﴿ إِمَّا شَاكِرًا وَإِمَّا كَفُورًا ﴾دواړه یاحال دی دَمفعول دَ ﴿هَدَيْنَٰهُ﴾ نه یا خبر دي "کان" مقدر د پاره ، تقدیر دا رنګه دي ، سواء کان شاکراً او کان کفوراً.

﴿إِنَّآ أَعْتَدْنَا لِلْكَٰفِرِينَ﴾ انسان ته تخویف دې چه کفورمه جوړیږه، ځکه چه مونږ په آخرت کښې دکافرانو لپاره ډیر سخت سخت عذابونه تیار کړیدی.

إِنَّ الْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ مِن كَأْسٍ كَانَ مِزَاجُهَا كَافُورًا ۝٥ عَيْنًا

بې شکه نیکان څکی به دَشرابو دکاسی نه چه وی به خلط دَهغې سره کافور دابه یوه چینه وی

يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ اللَّهِ يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا ۝٦ يُوفُونَ بِالنَّذْرِ وَيَخَافُونَ

چه څکی به دینه بندګان دَالله ﷻ بیوی به ئې به بیولوسره پوره کولودوی نیکان نذراو ویریدل به

يَوْمًا كَانَ شَرُّهُ مُسْتَطِيرًا ۝٧ وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا

دَهغې ورځې نه چه عذاب دَهغې خوردې او ورکوؤ به ئې خوراک په محبت دَالله تعالی کښې مسکین ته

وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝٨ إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ

اویتیم ته اوقیدی ته، وائی دوئ بې شکه مونږ خوراک درکوؤ تاسو ته لپاره دَرضاد الله ﷻ نه لرومونږ اراده

مِنكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا ۝٩ إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا

ستاسو نه دَبدلې اونه دَصفت کولو بې شکه مونږ یریږو دَخپل رب نه دَداسې ورځې

عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا ۝١٠

چې دَغم دکه او اوګده ده

﴿إِنَّ ٱلْأَبْرَارَ يَشْرَبُونَ﴾ دې کښې بشارت دې شاکرينو ته.چې دوئ به جنتونو کښې مزې و عيش وعشرت کوی، او داسې شراب به وربانديې څکولې کيږی چې هغې کښې به د کافوروچينې اوبه ميلاوې شوې وی،﴿مِن كَأْسٍ﴾ دَشرابو دکې پيالې ته وائی . اوکله نې اطلاق په شرابوباندې هم کيږی،دلته دواړو معنی اغستلې کيدې شی او من دَپاره دَتبعيض دې اي بعض كاس، دې کښې اهل جنت عيش وعشرت طرف ته اشاره ده چې داشراب دَ خوند لو مستئ نه څکی،تندې دَوجهې به نه څکی،لکه دنيا کښې دَ مستو اومالداره خلقو عادت وی﴿مِزَاجُهَا كَافُورًا﴾ دَدې جملې متعدد تفسيره شوی دې:

(۱) کافور چينه ده په جنت کښې، چې دَ هغې اوبه په رنګ اوخوشبو کښې دکافوروپه شان دې نودهغې اوبه به دې شرابوکښې ميلاوولې کيږی،دې صورت کښې ورستونې آيت کښې را روان عينا بدل دې دَ کافوراً نه.

(۲)کافور نه حقيقتاً کافور مراد دې الله ﷻ به په دې شرابو کښې کافور ميلاو کړی او دا جنت کافور دې چې دَ هرقسم نقصان اوضرر به پاک نه وی، اوبيا پرې دَ مشکو مهر اولګوی، اوجنتياتو ته به پيش کولې کيږی.

(۳) حقيقتاً به دَ کافورآميزش هډو سره وی نه،خو چونکه داشراب به په صفائی ، رنګت، او خوشبوئی کښې دکافور په شان وی، نودې اوصافو سره اتصاف دَوجهې نه وربانديې اطلاق دَ آميزش اوشو،دې دواړو صورتونو کښې عينا بدل دې،دَ من کاس محل نه.

﴿يَشْرَبُ بِهَا عِبَادُ ٱللَّهِ﴾ شرب فعل بلاواسطه حرف جر متعدی کيږی، خودلته چونکه تلذذ اومزج معنې ته متضمن دې، نو څکه ورنه ورستو باء ذکر شويده،اي يشرب ب متلذذا لها وممزوجاً لها،يعنی نيکان به دا شراب چې دکافورو اميزش پکښې وی په خوند اومستئ سره څکی، جمله صفت ده دَعيناًدَپاره.

﴿يُفَجِّرُونَهَا تَفْجِيرًا﴾ دابل صفت دې دَ﴿ عَيْنًا﴾يعنی چه مؤمنان ئې کوم طرف ته غواړی بوځی به ئې،بطوراکرام په دغه چينه دَدوئ تابع وی.

﴿يُوفُونَ بِٱلنَّذۡرِ﴾ علت دي دَماقبل چه دوئ ته دانعمتونه ولې ملاویږي.او دَ ابرارو اوصاف ذکر کیږي چې هغه دَدې نعمتونو میلاویدلو سبب گرځیدلی دې. وفائ نذر دائی اول صفت دې، او دا کنایه ده دَ ادا کولو دَ ټولو واجباتونه.بعض وائی:نذر نه مراد عهد دې. یعنی وعدې پوره کوي،عام ده که خلقو سره وي اوکه الله ﷻ سره وي. چه هغه دَشریعت احکام پوره کول دي،په ازل کښې چه ورنه کومه وعده اخستې شوې وه.

﴿وَيَخَافُونَ يَوۡمٗا كَانَ شَرُّهُۥ﴾ دويم صفت دې دَعباد الله ، چې هغه خوف آخرت دې، شر نه مراد عذاب دې، ﴿مُسۡتَطِيرٗا﴾ خور وور ، دَ استطار نه دې ،اوسین اوتادَپاره مبالغې دی.

﴿وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ﴾ دائی دریم صفت دې چې ایثار دې، ضمیر یا طعام ته راجع دې، نومطلب دادې چه خپل محبوب طعام مسکین ته یتیم او اسیر ته ورکوي، گویا چه لن تنالوا البرّحتّی تنفقوا ممّا تحبّون باندې عمل کوي، یاضمیر الله ﷻ ته راجع دې یعنی دَ الله ﷻ دَ محبت ،رضا د پاره طعام ورکوي،ریاء اوشهرت ئې مقصد نوي.﴿أَسِيرًا﴾ نه مراد قیدی هم کیدې شی اوغلام هم، دَ صحابه کرامو طرزعمل دَدوئ سره دَچانه مخفی نه دې،نبی کریم ﷺ چې کله دَبدر اسیران صحابؤ ته سپارل نودَهغوئ سره دَښه سلوک وصیت به ئې ورته هم کولو،خپله دَبدراسیرانو بیان دې چې صحابؤ سر به غنمو روټئ نه وه،خوکه چاچرته نه پیدا کړه نوهغهٔ به خپله نه خوړه،مونږ له به ئې راکوله،اودغه شان جال بلکه دَدینه هم ښه سلوک دَغلامانو سره وؤ،دَعهد اول لوئ علماء اوگوره، نواکثر پکښې موالی«غلامان»دی، صحابؤ به لباس وخوراک کښې ځان سره برابر ساتل، اوخپل خدمت په ځائ ئې دینی تعلیم ته فارغه کړی وؤ.

﴿إِنَّمَا نُطۡعِمُكُمۡ لِوَجۡهِ ٱللَّهِ﴾ جمله حال دې دَفاعل دَ﴿وَيُطۡعِمُونَ﴾ نه قائلین پکښې مقدر دې، یعنی دَدوئ دَاخلاص دَعلاماتونه داظاهرېږي چه دوئ په لسان حال سره وائی چه مونږتاسو ته صرف دَالله ﷻ دَرضادپاره خوراک درکوؤ،نه درنه بدله غواړونه شکریه،چه زمونږصفت اوکړئ. بلکه زمونږخیرات صرف دَقیامت دَورځې دَسختئ نه بچ کولودپاره دې ، مونږ دَ هغې ورځې دَسختئ نه یرېږو ،حضرت عائشه صدیقه ﷺ به چه چاته صدقه ورکړه نوکه هغه به ورته

څه دعا او کړه، نو دې به ورته هم هغه شان دعا او کړه. په دې نیت چه دُعا به دِ دُعا په بدله کښې شي او ثواب دَ صدقې به الله ﷻ سره باقي پاتې وي.

﴿يَوْمًا عَبُوسًا﴾ عبوسا شوند تریو لو ته وائي ،او اسناد ئې یوم ته مجازي دې یعنې داسې ورځ چې پدیکښې به ډیرې سختې پریشانۍ وجهې نه کافر سرې به شوند تریو اووران نیولې وي ﴿قَمْطَرِيرًا﴾ ابن عباس رضي الله عنه ئې معنى طویلا سره کړیده ،او بعضو ئې معنى تریو تندی سره کړیده.

فَوَقٰىهُمُ	اللّٰهُ	شَرَّ	ذٰلِكَ	الْيَوْمِ	وَلَقّٰىهُمْ	نَضْرَةً	وَّسُرُوْرًا	⑪
پس وبه ساتي دوئ	لره الله	دَعذاب	دَغې ورځې		اووربه كړي دوئ	ته تازګي	اوخوشحالي.	
وَجَزٰىهُمْ	بِمَا	صَبَرُوْا	جَنَّةً	وَّحَرِيْرًا	⑫	مُّتَّكِـِٕيْنَ	فِيْهَا	
اوبدله كښې به وركړې دوئ ته	په سبب	دَصبردَدوئ	جنت	اوريښمي لباس.		تكيه وهونكي به وي	په جنت كښې	
عَلَى الْاَرَآىِٕكِ	لَا يَرَوْنَ	فِيْهَا	شَمْسًا	وَّلَا	زَمْهَرِيْرًا	⑬	وَدَانِيَةً	عَلَيْهِمْ
په تختونو باندې	نه به ويني	پكښې	نور دګرمۍ	اونه	يخني		اونزدې به وي	په دوئ
ظِلٰلُهَا	وَذُلِّلَتْ	قُطُوْفُهَا	تَذْلِيْلًا	⑭				
سورې دَهغې	اوتابع شوي به وي	ميوې دَهغې	په تابع كيدلو سره					

﴿فَوَقٰىهُمُ اللّٰهُ شَرَّ ذٰلِكَ الْيَوْمِ﴾ دا بشارت دې چې متفرع دې په ماقابل صفاتو باندې، یعنې دَدوئ دَخوف دَوجهې نه به الله ﷻ دوئ دَدې ورځې عذاب نه محفوظ کړي ﴿وَلَقّٰىهُمْ نَضْرَةً وَّسُرُوْرًا﴾ دَدې ورځې پریشانۍ اوغم جنئ په بدله کښې به ورله الله ﷻ تازګي او خوشحالي ورکړي. ﴿وَجَزٰىهُم بِمَا صَبَرُوْا﴾ یعنې دَطاعاتو په تکلیفونو دَنفس خواهشاتو پریښودلو اودَ محرماتو نه اجتناب کولو باندې صبر پوجه به ورته الله ﷻ جنت ورکړي، ریښمي لباس بۀ اچولې وي، دَجنت په پالنګونو بۀ تکیه ګانې لره ولې وي، نه به ئې ګرمي کیږي نه ساړه.

﴿لَا يَرَوْنَ فِيهَا شَمْسًا﴾نه مراد اثرلازم حرارت دي او﴿ زَمْهَرِيرًا ﴾يخني ته وائي يعنى جنت موسم به متعدل وی نه به پکښ ګرمي وی اونه يخنی،بعض مفسرين وائی چې شمسا نه مراد پخپله نور دي، او زمهرير نه مراد سپوږمئ ده لکه قبيله طئ په لغت کښ ورته وئيلی کيږی. او مطلب دادې چې جنت به په خپله روښانه وی نه به سپوږمئ ته محتاج دی او نه نور ته او بعض مفسرينو دَ شمسا نه نور اوزمهرير نه يخنی مراد اغستې ده، او وائی چې کلام کښ صنعت احتباک دې اي لايرون فيها شمسا و لا قمرا،ولا حرًا و لا زمهريرا

﴿وَدَانِيَةً ﴾عطف دې په «متكئين» باندی اوحال دې، يعنی دَدوئ په مجلس باندې به دَ ونو څانګې راټيټې شوې وی،چې هغې سره به ئی دَمجلس حسن اوسرور دوبالا وی، ظلال سوری ته وائی، او دَ سوری نيزديکت اوټيټدل نه دې مراد ،بلکه کنايه ده دَ څانګو ټيټيدلو نه، نو څانګو باندې ظلال اطلاق شويدې،يا دانية صفت دې دموصوف محذوف "جنة"اي وجنة دانية اوداعطف دې په جنة باندې په «وجزاهم بما صبروا جنة» کښې، يعنی الله ﷻ به ورله يوبل جنت ورکړی چې دهغې به داکيفيت وی،کماقال الله تعالى: ولمن خاف مقام ربه جنتان(الرحمن)

﴿ وَذُلِّلَتْ قُطُوفُهَا﴾اوداځانګې به دومره راټيټې وی چې دَدې نه دَميوې راشکول به بالکل آسان وی، هيڅ مشکل اوتعب به پکښ نه وی.

وَيُطَافُ	عَلَيْهِمْ	بِآنِيَةٍ	مِّنْ	فِضَّةٍ	وَأَكْوَابٍ	كَانَتْ	قَوَارِيرَا ﴿١٥﴾ قَوَارِيرَا
اوګرځولې به شی	پدوئ	لوخی	دَسپينوزرو	اوګلاسونه	چه هغه به	شيشی	وی،شيشی
مِنْ	فِضَّةٍ	قَدَّرُوهَا	تَقْدِيرًا ﴿١٦﴾	وَيُسْقَوْنَ	فِيهَا		

دَسپينوزرو به وی په اندازه کړی به ئی وی هغه جامونه په پوره اندازه کولوسره،اوخکولې به شی پدوئ په جنت کښ

كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا ﴿١٧﴾ عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّى سَلْسَبِيلًا ﴿١٨﴾

پياله دَشرابوچه وی به خلط هغی سره عرق سونډداپوه چينه ده په جنت کښ نوم ورته وئيلی شی سلسبيل

﴿وَيُطَافُ عَلَيْهِم بِآنِيَةٍ مِّن فِضَّةٍ﴾يعنی په دوئ باندی دَسپینو زرو په لوخوکښ طعه، شراب پیش کولې کیږی، اوداسی گلاسونوبه وی چه شیشه به ئي د سپینو زرو نه جوړه وی، نو دَ سپینو زروپشان به چمک داراوسپین هم وی اودَشیشی په شان به پکښ دَبهرنه باطن هم ښکاری، دَ دنیایوه کارخانه هم داسی نشی کولې چه دَسپینو زرو نه داسی گلاس جوړکړی چه دَشیشی په شان پکښ بهرنه څیزښکاری.

دَدی آیت اودَسورة زخرف(۷۱)وَيُطَافُ عليهم بصحافٍ من ذهب.په مابين کښ منافاة نشته. ځکه چه کله به ورته دَسروزرو په لوخوکښ اوکله به ورته دَسپینوزروپه لوخوکښ شراب ورکولې کیږی.

﴿قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا﴾ضمیرمرفوع یاساقیانو دَجنت ته راجع دې، نومطلب دادې چه دوئ به داگلاسونه په هغه اندازه ډک کړی وی چه جنتیان پری سیرابه کیږی، نه به لږ وی چه تږی پاتی شی، نه به زیات وی چه زړه ئی ترینه موړشی،بلکه چه څومره ئی زړه غواړی په هغه اندازه به پکښ شراب وی ، یا ضمیرجنتیانوته راجع دې،نومطلب دادې چه دوئ پخپلوزړونوکښ کومه اندازمقررکړې وه اودَ کوم مقداراشتهائی وه په هغه اندازه به ورته پیش کولې شی،نه زیات نه کم (کبیر،روح).

﴿وَيُسْقَوْنَ فِيهَا كَأْسًا كَانَ مِزَاجُهَا زَنجَبِيلًا﴾دابل قسم شراب بهورباندی څکولې کیږی، چه دیکښ به زنجبیل خلط شوی وی. زنجبیل سونټه(ادرک)ته وائی،داگرم وی،دَدی په خلط سره یو مزیدار تریخ والې پیداکیږی، دغه شان دَعربودامرغوب څیزوو،نومطلب دادې چه جنتیانو باندی به یوقسم یخ شراب څکولې کیږی چه کافوربه پکښ ملاؤوی،بل قسمه گرم شراب چه زنجبیل به پکښ وی، بعضِ وائی زنجبیل په جنت کښ یوه چینه ده،مقربین به ورنه څکل کوی نودی قول په بنا﴿عَيْنًا فِيهَا تُسَمَّىٰ سَلْسَبِيلًا﴾بدل دې دَ﴿ زَنجَبِيلًا ﴾نه،یعنی دازنجبیل په جنت کښ یوچینه ده چه سلسبیل نوم ئی دې،دیته ځکه سلسبیل وائی چه سلسبیل معنی ده، صافی بهیدونکی، اوپه حلق کښ اسانئ سره تیریدونکی ،دابه هم په حلق کښ په آسانئ سره تیریږی،اول قول په بنا﴿عَيْنًا ﴾بدل دې دَ﴿كَأْسًا ﴾نه،نومطلب دادې چه جنتیانوباندی به دَچینی دَشرابونه شراب څکولې کیږی چه هغی چینی ته سلسبیل وائی.

وَيَطُوفُ	عَلَيْهِمْ	وِلْدَانٌ	مُّخَلَّدُونَ ۚ	إِذَا	رَأَيْتَهُمْ	حَسِبْتَهُمْ		
اوګرځي به چاپېره پدوئ هلکان همیشه به وي هلکوالي دهغوئ کله چه اووینې نه هغوئ نوګمان به کوې یرې								
لُؤْلُؤًا	مَّنثُورًا ﴿١٩﴾	وَإِذَا	رَأَيْتَ	ثَمَّ	رَأَيْتَ	نَعِيمًا	وَمُلْكًا	كَبِيرًا ﴿٢٠﴾
دملغروخوروکړي	شوو اوکله	چه	ته	اووینې	هغه	ځائ نواوبه	وینې	نه نعمت اوبادشاهي لويه
عَالِيَهُمْ	ثِيَابُ	سُندُسٍ	خُضْرٌ	وَإِسْتَبْرَقٌ ۖ	وَحُلُّوا	أَسَاوِرَ	مِن	فِضَّةٍ
وي به په دوئ جامې دباریکوریښمو شنې اودغټوریښمو.اواغوستولي به شي دوئ ته بنګړي دسپینوزرو،								
وَسَقَاهُمْ	رَبُّهُمْ	شَرَابًا	طَهُورًا ﴿٢١﴾	إِنَّ	هَٰذَا	كَانَ	لَكُمْ	جَزَاءً وَكَانَ
اواوبه څکوي	په دوئ	رب	ددوئ	شراب	پاکیزه‌بې شکه	داده	ستاسوبدله	اووز
سَعْيُكُم مَّشْكُورًا ﴿٢٢﴾								
عمل ستاسومقبول(الله ته).								

﴿وَيَطُوفُ عَلَيْهِمْ وِلْدَانٌ مُّخَلَّدُونَ﴾ یعنی ددوئ دخدمت دپاره به داسې هلکان پدوئ ګرځي چه په صفت دولدانیت به همیشه وي، یعنی همیشه به هلکان وي. او داسې ښکلي به وي چه جنتي ته به دخوروملغروپشان ښکاري، دملغروسره ئې مشابهت په حسن اوجمال کښې دی، او خورو ملغرو سره پدې وجه چه دوئ به یوطرف بل طرف ته دخدمت دپاره خواره وي، نوداسې به ښکاري لکه خوري ملغرې.

﴿ وَإِذَا رَأَيْتَ ثَمَّ ﴾ ثَمَّ ظرف دي پمعنی دهناک، مفعول فیه دي د رأیت مرادورنه جنت دي، یعنی چه کله ته دغه ځائ اووینې یعنی جنت﴿رَأَيْتَ نَعِيمًا ﴾ئې جزاءده، نواوبه وینې ته بې شماره نعمتونه چه صفت ئې نشي کیدي، ﴿وَمُلْكًا كَبِيرًا ﴾یعنی ډیره لویه بادشاهي، د رقبې لحاظ سره هم، چه د یوادنی مرتبې والاجنتي به پخپلې بادشاهئ کښې زرکاله مسافت کوي، د هیبت او وقار لحاظ سره هم ،چې فرشتې به هم دده اجازت بغیر جنت ته نشي داخلیدي، د قدرت اعتبار سره هم،چې څه غواړي فوراً به هغه اوشي.

﴿وَحُلُّوٓا أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ﴾په سورة كهف(۳۱)كښې مِن اساورمن ذهبٍ دي.دواړو مابين كښې منافاة نشته ځکه ممکنه ده چه دواړه قسمه کالی به ورته وراچولې کيږی په يوځل. يا به يوقسم اوباسی بل قسم به واچوی،دغه شان چاته به د سروکالی چاته به د سپينوکالی وراچولې کيږی،رغبت په لحاظ سره يامرتبې په لحاظ سره.چونکه په جنت کښې به کالی اچول عيب نه وی بلکه زينت به وی،نوځکه به سړوته هم اچولې کيږی. لکه دامشاهده چه دنياکښې هم بعض بادشاهان کالی اچوی دسروزرو تاجونه په سره وی.

﴿وَسَقَىٰهُمْ رَبُّهُمْ شَرَابًا طَهُورًا﴾دابل قسم شراب دی چه دمخکښې دوؤقسمه شرابونه اعلى دی . طهوراً يامبالغه ده د طاهر يعنی ډيرپاک شراب به ورباندی الله ﷻ اخکوی چه نه به پکښې چکر وی نه دردسر (کمافی الصفت،والواقعه) يا طهوراً په معنی د مطهر دې،يعنی پاکونکی شراب، چه جنتيان ئې دخوراک نه ورستواوځکی نوګيډی به ورله صفاکړی.دبدن نه به ئې خوله رااوځی چه خوشبوبه ئې د مشکو په شان وی،هرڅه به ئې هضم شی، مقاتل رحمه الله وائی چه دې شرابوڅکلوسره به زړه دخيانت،حسد ،دهوکی وغيره ګناهونونه صفا شی،او زړه به دبل څيزدمحبت نه صفاشی(روح،کبير).

﴿إِنَّ هَٰذَا كَانَ لَكُمْ جَزَآءً﴾يعنی دالوئ لوئ نعمتونه ستاسودأعمالِ صالحه بدله ده، او ستاسو کوشش عندالله مقبول دې،الله ﷻ پری راضی دې،داخطاب دالله ﷻ دطرفه به جنتيانو ته وی،يعنی دخول جنت نه بعدبه ورته دغه اوويلی شی،نوپدی سره به ئې په سرورکښې نوره هم اضافه اوشی،روايت دې چه حضور ﷺ داسورة تلاوت کولويوحبشی ناست وؤ، حضور ﷺ چه تردې ځايه رااورسيدلونوهغه کس اورپيدلواوساه ئې اووتله مړ شو ، نو حضور ﷺ او فرمائيل: چه ستاسوملګرې دجنت دشوق نه مړشو.

إِنَّا	نَحْنُ	نَزَّلْنَا	عَلَيْكَ	الْقُرْءَانَ	تَنزِيلًا ۝	فَاصْبِرْ	لِحُكْمِ	رَبِّكَ
بی شکه	مونږه	نازل کړيدې	په	تاباندی	قرآن	په نازولوسره،نوصبرکوه	حکم	درب خپل
وَلَا تُطِعْ	مِنْهُمْ	ءَاثِمًا	أَوْ	كَفُورًا ۝				
اوتابعداری	مکوه	ددوئ	نه	دګنهګار	اوناشکره			

﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ ﴾داترغيب دي اتباع دقرآن ته. چه بې شكه مونږنازل كړيدې په تاباندې اې پېغمبره داقرآن،نه قول دساحردې نه دكاهن.نه شعردې،بلكه حق كلام دې،وعدې دده اووعيدونه ئې حق دی،اتباع كونكی به ئې دآخرت نعمتونه اوكاميابی حاصله كړي،مخالفت كونكی به ئې جهنم ته ځي.

﴿ فَٱصْبِرْ لِحُكْمِ رَبِّكَ ﴾داتسلی ده حضورﷺته،چه داكافران دقرآن اتباع نه كوی اوتاته تكليفونه دركوی،نوته صبركوه اودالله تعالىٰ دفيصلی انتظاركوه.هغه چې ستاپه نصرت كښې څه تاخيركوی،نوپه هغی كښې ئې حكمت دې.﴿وَلَا تُطِعْ مِنْهُمْ ءَاثِمًا أَوْ كَفُورًا ﴾ آثم گنهگارته وائی او كفور كفركونكی ته،يعنی ددی دواړه قسمه خلقو كښې دچاهم اطاعت مكوه،

وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ بُكْرَةً وَأَصِيلًا ﴿٢٥﴾ وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ وَسَبِّحْهُ

اوياده وه نوم درب خپل سهاراوماښام اوڅه حصی دشپی كښې نوسجده كوه الله تعالىٰ ته اوپاكی بيانوه دالله

لَيْلًا طَوِيلًا ﴿٢٦﴾ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ وَيَذَرُونَ وَرَآءَهُمْ يَوْمًا

په شپه اوږده كښې بې شكه داخلق محبت كوی دنياسره اوپرېږدی ورستودخپل ځان نه ورځ

ثَقِيلًا ﴿٢٧﴾ نَّحْنُ خَلَقْنَٰهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ ۖ وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ

درنه قيامت.مونږپيداكړيدی دوئ اوكلک كړيدی مونږبندونه ددوئ اوكله چه اوغواړومونږبدل به راوړو

أَمْثَٰلَهُمْ تَبْدِيلًا ﴿٢٨﴾

ددوئ په شان په بدل راوړلوسره.

﴿وَٱذْكُرِ ٱسْمَ رَبِّكَ ﴾صبر نه بعد ذكر الهی حكم دې، چې دا صبر د پاره معاون اوممددې كمافي قوله تعالى،ولقدنعلم انک يضيق صدرک بما يقولون فسبح بحمدربک وكن من السّٰجدين (الحجر٩٧، ٩٨) يعنی د مسلسل تكذيب،ركاوټونواواستهزادوجهی نه انسان خامخا پرېشانه اوبې حوصله كيږی،لهذا ددې علاج دادې چې ذكر الهی كښې مستغرق اوسه، او هر

وخت الله ﷻ یادوه. ﴿بُكْرَةً﴾سهارته وائی،﴿ وَأَصِيلاً ﴾مانښام ته. اوداکنایه ده ددوام نه . و بعض مفسرین فرمائی چې دَبکرةً نه مراددَفجرمونځ دې اودَاصیلاً نه مراد. ظهر. عصردې. او دَ﴿وَمِنَ ٱلَّيْلِ فَٱسْجُدْ لَهُۥ﴾نه دَمغرب اوعشاء مونځ مراددې﴿وَسَبِّحْهُ لَيْلاً طَوِيلاً﴾نه مرادتهجددې.

﴿إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ يُحِبُّونَ ٱلْعَاجِلَةَ﴾دازجردې منکرینودَقیامت ته اودنیاسره محبت کونکو ته، آخرت نه غفلت کونکوته،چه دوئ خودنیاخوښه وی لیکن دوئ پسی خوورسته سخته درنه ورځ راروانه ده.

﴿نَّحْنُ خَلَقْنَٰهُمْ وَشَدَدْنَآ أَسْرَهُمْ﴾"اسر"په اصل کښې"تړلو"ته وائی،اطلاق ئی په تړلی شوی څیزباندی کیږی،مرادورنه دلته بندونه دَاعضاؤدی، چه په اعصابو او رګونو سره مضبوط اوکلک تړلی شویدی(روح). ﴿وَإِذَا شِئْنَا بَدَّلْنَآ أَمْثَٰلَهُمْ﴾یعنی که مونږاوغواړونودوئ به هلاک کړونورخلق به پیداکړودَدوئ په بدل کښې،چه دَالله ﷻ اطاعت کونکی به وی،یادَ﴿أَمْثَٰلَهُمْ﴾ معنی(اشکالهم) ده،یعنی دَدوئ شکلونه به مسخ کړو ،بدل به ئی کړو.

إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ ۖ فَمَن شَآءَ ٱتَّخَذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ سَبِيلًا ۝ وَمَا تَشَآءُونَ
بی شکه داقرآن نصیحت دې،نودَچاچه خوښه وی اودی نیسی خپل رب طرف ته لاره.اونشئ خوښولې تاسو

إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ۝ يُدْخِلُ
مګرچه اوئی غواړی الله ﷻ بی شکه الله ﷻ ښه پوهه اوښه حکمت والا دې داخلوی

مَن يَشَآءُ فِى رَحْمَتِهِۦ ۚ وَٱلظَّٰلِمِينَ أَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا أَلِيمًۢا ۝
هغه څوک چه ئی اوغواړی په رحمت خپل کښې اوظالمان چه دی تیارکړیدی الله ﷻ دوئ لره عذاب دردناک

﴿إِنَّ هَٰذِهِۦ تَذْكِرَةٌ﴾دې آیاتونو کښې دَسورت غرض اولب لباب ذکر کیږی. یعنی داقرآن نصیحت دې،نودَچاچه خوښه وی دادی خپل رب ته دَرسیدلولاره اوګرځوی،البته

وادالله ﷻ په خوښه او توفيق سره کيږي، الله ﷻ د خپل علم او حکمت په بنا چه چاته ئې خوښه شي د نصيحت اخستلو د پاره ورته توفيق ورکړي.

﴿يُدْخِلُ مَن يَشَآءُ﴾ دا بشارت دې مؤمنانو ته چه کوم خلق الله ﷻ ته انابت کوي الله ﷻ ئې خپل رحمت کښې داخلوي يعنې دَقبول حق او دَثابت قدمئ توفيق ورکوي ﴿وَٱلظَّٰلِمِينَ﴾ تخويف دې کافرانو ته، منصوب دې على شريطة التفسير، اى: اعد الظالمين اعدلهم عذابًا اليمًا، يعنې الله ﷻ کافرانو د رناک عذاب تيار کړيدې.

ركوعاتها (٢)	سورة المرسلات مكيّة	آياتها (٥٠)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او دیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (٧٧) وحسب النزول (٣٣)

نزلت بعد سورة الهمزة و قبل سورة ق

ربط: ماقبل سورة کښې په بعث بعد الموت باندې دَانسان وجود به طورِ نمونه ذکرشو، دې سورة کښې به طورِ ترقي دَثواب عقاب نمونه بیانیږي چه په دنیا کښې عذاب ورکول په قیامت کښې دَعذاب ورکولو نمونه ده ﴿أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ۝ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ﴾.

خلاصه: ابتداء کښې شواهد دي براۓ دعوه، یعني په اثبات دَقیامت، بیاپرې دوه (٢) دلائل عقلیه دي درمیان کښې تخویف اخروي اوبشارت دې آخرکښې زجر دې (تمت).

وَالْمُرْسَلٰتِ	عُرْفًا	①فَالْعٰصِفٰتِ	عَصْفًا	②
قسم دې په هغه هواګانو چې الوتونکی دی په تیزۍ سره		بیاقسم دې په هغه هواګانو چې الوتونکی دی په نرمۍ سره،		
وَّالنّٰشِرٰتِ	نَشْرًا	③فَالْفٰرِقٰتِ	فَرْقًا	④
قسم دې په هغه هواګانوچه خوره ونکی دی په خوره ولوسره،		بیاقسم دې په هغه هواګانو چې جداکونکی دی په جداکولوسره		
فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا	⑤عُذْرًا	اَوْ نُذْرًا	⑥اِنَّمَا تُوْعَدُوْنَ لَوَاقِعٌ	⑦
بیاقسم په هغه هواګانوچه القاکونکی دی دَنصیحت لپاره دَعذر یادَیریدلو		بې شکه هغه چه تاسو سره ئې وعده کولیشی خامخا واقع کیدونکي دی		

﴿وَالْمُرْسَلٰتِ عُرْفًا﴾ داشاهد ذکر کیږي په دعوی دَسورت، چې هغه دَ هواګانو نظام او د هغې مختلف اصناف دي.

((المرسلت)) دا اول قسم دې، موصوف ئې محذوف دې اي الرياح المرسلت ، ((عرفا)) حال دې په معنی دَ متابعة سره، یعني قسم دې په هغه هواګانو چې مسلسل چلیږي، یاپمعنی دا لینة سره دې ، یعني نرمۍ سره چلیدونکي،

﴿فَٱلْعَٰصِفَٰتِ عَصْفًا﴾دويم قسم دې. دينه مراد طوفاني هواګانې دی چې تباهي خوروي.

﴿وَٱلنَّٰشِرَٰتِ نَشْرًا﴾دريم قسم دې،دينه مراد هغه هواګاني دی چې وريځې خوره وي.ياپه نرمۍ سره چليږي،

﴿فَٱلْفَٰرِقَٰتِ فَرْقًا﴾څلورم قسم دې ،اودينه مراد هغه هواګاني دی چې وريځې جدا کوي،لکه عموما دباران کيدلونه ورستو چې کومې هواګانې وي،

﴿فَٱلْمُلْقِيَٰتِ ذِكْرًا﴾پنځم قسم دې، اودينه مراد هغه هواګاني دی چې انسان ته نصيحت ورکوي، اوالله ﷻ طرف ته ئې متوجه کوئ.﴿عُذْرًا﴾مفعول له دې. يعنې کله انسان ته دخپلو تقصيراتو اوکوتاهيانو يाददهاني کوي اوعذر اومعافي ته ئې متوجه کوي،﴿نُذْرًا﴾اوکله انسان په زړه کښې دالله ﷻ خوف پيدا کوي،لکه چې کله تيزې وي.

﴿إِنَّمَا تُوعَدُونَ لَوَٰقِعٌ﴾داجواب قسم دې، اودعوه دسورت ده،قسم اوجواب قسم کښې مناسبت دادې چې لکه څنګه چې هواګانو مختلف قسمونه دي . ځنې هواګاني نرمې دي، او د کائنات د نظام قيام سبب دې، او ځنې هواګاني طوفاني دي . او د کائنات خرابئ ذريعه ده، چې دا راشي نو نظام درهم برهم کړي،اوني اوغورځوي،ديوالونه کورونه ورسره وران شي، مواصلاتي نظام برباد شي،نو دغه شان د جهان هم دوه قسمه دي . يو دنيا او بل آخرت ،دنيا چې څومره عمر الله ﷻ ليکلې دي ، چې هغه پوره کړي ، نو بيا به قيامت برپا کيږي اوداټول نظام به تس نس کيږي.اولکه څنګه چې ځنې هواګاني نرمې اوفائده مندې وي، کله چې راشي نو وريځې خورې کړي، باران اوشي ، او مړه ځمکه ورسره ژوندئ شي،دغه شان به الله ﷻ تاسو هم قيامت په ورځ ژوندي کوي.

بعض مفسرين فرمائي چې مرسلت،عاصفات وغير صفات دی دفرشتو ،اومرسلت نه مراد هغه فرشتې دی، چه په انبياؤکرامو باندې پی درپی ليږلې کيږي،يا﴿عُرْفًا﴾معنى نيکی اواحسان ده،يعنې هغه فرشتې چه دانتظام ددنيااومصالحودينه ؤدپاره ليږلې کيږي په هغو قسم، نو﴿عُرْفًا﴾پدې معنى سره مفعول له دې،ای اُرسلت للاحسان والمعروف(کبير)اول معنى په اعتبارسره حال دې.

﴿ فَالْعٰصِفٰتِ ﴾يعني قسم په هغه فرشتو چه کله دَ الله ﷻ اوامر راوخلي نوبيا ئې تعميل دَپاره دَهوا ګانو په شان تيزي چليږي،ياهغه فرشتي چه هلاکونکي دي کافرانولره.

﴿ وَالنّٰشِرٰتِ ﴾يعني قسم په هغه فرشتوچه خورونکي دي وزرونوخپلولره په هواکښ ياخورونکي دي شرائعولره،يانشردَرحمت اوعذاب کوي ﴿فَالْفٰرِقٰتِ ﴾يعني قسم په هغه فرشتوچه حق اوباطل مينځ کښ فرق کونکي يعني جدائي راوستونکي دي

﴿فَالْمُلْقِيٰتِ ذِكْرًا ﴾ذکرنه مرادياوحي ده يعني انبياؤته وحي راوړونکي.ياوزنه مراد صرف قرآن دې،يانصيحت،يعني دَخلقوپه زړونوکښ نصيحت اچونکي.﴿ عُذْرًا أَوْ نُذْرًا ﴾ دواړه مفعول له دی،يعني وحي دی دپاره راوړي چه دَخلقوعذرد فع کوی چه عند الله ئې حجت باقي پاتي نشي په کفرباندي،اوخلق يره وی دَالله دَعذاب نه دينه علاوه هم متعدد اقوال شته

فَإِذَا	النُّجُوْمُ	طُمِسَتْ ﴿٨﴾	وَإِذَا	السَّمَآءُ	فُرِجَتْ ﴿٩﴾			
پس هرکله	چه ستوري	بی نوره کړې شی	اوکله چه	اسمان	اچوی			
وَإِذَا	الْجِبَالُ	نُسِفَتْ ﴿١٠﴾	وَإِذَا	الرُّسُلُ	أُقِّتَتْ ﴿١١﴾			
اوکله چه	غرونه	والوزولې شی	اوکله چه	رسولان	جمع کړې شی په وخت مقرر کښ			

لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ ﴿١٢﴾ لِيَوْمِ الْفَصْلِ ﴿١٣﴾ وَمَآ أَدْرٰىكَ مَا يَوْمُ الْفَصْلِ ﴿١٤﴾

دکومي ورځ دپاره ورستوکړې شويدی، دپاره دورځی دفيصلی اوڅاپوهه کړې ئی ته چه څه ده ورځ دفيصلی

وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١٥﴾

تباهي ده پدغه ورځ دَپاره دتکذيب کونکو.

﴿ فَإِذَا النُّجُومُ طُمِسَتْ ﴾دې آيتونو کښ تخويف اخروی دې، تفصيل اوتعيين دې دَ "انما توعدون لواقع"،يعني قيامت به په هغه ورځ وي چې کله داځلور احوال واقع شي،اوداول حالت بيان دې چې ستوري بې نوره اوبالکل به ختم شي.

﴿وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ فُرِجَتْ﴾دويم حالت دي چې اسمان به اوچوی اودروازو په شان درزونه پکښې پیداشي. ﴿وَإِذَا ٱلْجِبَالُ نُسِفَتْ﴾دریم حالت دي چې غرونه ایره ایره والوځي

﴿وَإِذَا ٱلرُّسُلُ أُقِّتَتْ﴾څلورم حالت دي چې قیامت به هله واقع کیږی چی کوم ورځ انبیاء او رسول دَالله ﷻ په دربار کښې پیښی اوکړی دَهغوئ نه خپلو ذمه داریانو اودَامت احوالو تپوس اوکړې شي.

«اقتت» دَتوقیت نه دي اصل کښې "وُقتت" وو،تخفیفاً واؤ په همزه سره بدل کړې شوي دي،توقیت په دوه معنو کښې استعمالیږی: (۱)وخت متعین کول دي تقدیر باندی به ئې معنی داسې شي، چی کله رسولانوته دَالله ﷻ په دربار کښې دَپیشی وخت تعیین اوکړې شی چې دیکښې به دوئ خپله مکمله کارگزاری الله ﷻ بیانوی،(۲)مقرره وخت ته رسیدل اوحاضریدل: یعنی کله چې رسولان خپل مقرره وخت ته اورسی اوحاضر شی. چې داورځ دَقیامت ده، هم دي معنې پیش نظر حضرت ابن عباس ﷺ دَدې آیت معنی "جُمعت"کړیده،"اذا" په څلورو وارو آیاتونو کښې شرطیه ده اوجوب شرط محذوف دي چې هغه تقع الساعة دي.

﴿لِأَيِّ يَوْمٍ أُجِّلَتْ﴾جمله مستانفه ده اواستفهام دَپاره دَ تعجب اوهیبت دي، اوضمیر مؤنث په «اجلت»کښې هغه حوادثو اواحوالو ته راجع دي چې قیامت په ورځ به واقع کیږی، یعنی دا حالات دَ کومې هیبت ناکې ورځې د پاره مؤخر کړې شوی دي، او یا ضمیر مونث "الرسل" ته راجع دي، خومراد ترینه هغه احوال دی چی دَرسولانو په تصدیق اوتکذیب باندې مرتب کیږی.

﴿لِيَوْمِ ٱلْفَصْلِ﴾داجواب استفهام دې چې د حق اوباطل اومؤمن او کافر په مینځ کښې فیصلی ورځې لپاره مؤخر کړې شوی دی.

ابن عاشور رحمه الله فرمائی چې "لاي یوم"کښې "اي"کمالیه ده.اوصفت دې دَپاره دَ موصوف محذوف اي لیوم اي یوم ، اوجار مجرور د «اقتت» په معنی دَ جمعت سره متعلق کیږی، اولام تعلیلیه دې ، او« اجلت» جمله صفت ده دَ«یوم» دَپاره اي اجلت الیه. معنی په داشی :کله چې

رسولان حاضر کړې شی هغه عظیم الشان ورځی دوجهی نه. چې هغې ته دا امور مؤخر کړې شوی دی. او «لیوم الفصل» بدل دې «لاي یوم» نه

﴿وَمَآ أَدْرَىٰكَ﴾ دلته استفهام دمزید تهویل اودعظمت دپاره دې یعنی د فیصلې ورځ څه ده؟اوڅنګه ده؟دابیانول ذوس نه بهر خبره ده داسې څوک نشته چې تاته ددې خبر درکړی

أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ نُتْبِعُهُمُ الْآخِرِينَ ﴿١٧﴾ كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ

آیاندی هلاک کړی مونږاولنی خلق بیابه وریسی کړیدی ورستنی خلق دغه شان کوؤمونږ

بِالْمُجْرِمِينَ ﴿١٨﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿١٩﴾

دمجرمانوسره تباهی ده پدغه ورځ دپاره دتکذیب کونکو

﴿أَلَمْ نُهْلِكِ الْأَوَّلِينَ﴾ دانمونه ده داخروی غذاب چه لکه څرنګه مودنیاکښې مکذبین هلاک کړل دغه شان به ورته آخرت کښې هم عذاب ورکړو ﴿الْأَوَّلِينَ﴾نه مرادقوم دنوح اوعاد،ثمود دی او﴿الْآخِرِينَ﴾نه مراد لوط عليه السلام قوم،قوم شعیب،قوم موسی یعنی فرعون وغیره دی.

﴿كَذَٰلِكَ نَفْعَلُ﴾دغه سزادهر جرم ده دې کښې اهل مکوؤ ته تهدید دې.

أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ ﴿٢٠﴾ فَجَعَلْنَاهُ فِي قَرَارٍ مَّكِينٍ ﴿٢١﴾ إِلَىٰ قَدَرٍ

آیانه یئ پیداکړی مونږتاسوداوبوحقیرو نه‌منی‌بیا اوګرځولی مونږدغه اوبه په ځای دقرارئ مضبوط کښې. تروخت

مَّعْلُومٍ ﴿٢٢﴾ فَقَدَرْنَا فَنِعْمَ الْقَادِرُونَ ﴿٢٣﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٤﴾

معلوم پوری‌پس قادریومونږ،پس ښه قدرت لرونکی یومونږ،تباهی ده پدغه ورځ دپاره دمکذبینو

﴿أَلَمْ نَخْلُقكُّم مِّن مَّاءٍ مَّهِينٍ﴾داپه حشرنشرباندی اول دلیل عقلی دې،چه لکه څرنګه مونږانسان پخپل قدرت سره دحقیری نطفی نه پیداکړیدې دغه شان پدی هم ښه قادریوچه دوباره ئې پیداکړو.

﴿فَجَعَلْنَٰهُ فِى قَرَارٍ مَّكِينٍ﴾ محکم جائ قرارنه مراددمووررحم دي چه ماشوم بچې پکښې ښه په حفاظت سره پروت وی ﴿إِلَىٰ قَدَرٍ مَّعْلُومٍ﴾ يعنی ترمقدارِ معلوم عند الله پوری چه ترولادت پوری ئې مقرر کړيدې، چه کثيرالوقوع نهه (۹) مياشتی دی.

﴿فَقَدَرْنَا﴾ يعنی مونږ پدغه کارونوقادريو، اومونږ څومره ښه قدرت لرونکی يو، هيڅ څيز زمونږ دَ قدرت نه بهرندې، نودوباره ژوندی کول مونږته آسان دی. اوبعضو په معنی دَتقدير سره اغستې دې، پمعنی دَاندازه کولو، يعنی مونږ په رحم دَمورکښې دَانسان د اعضاؤ جوړولو اندازه اوکړه، نوڅومره ښه اندازه کونکی يومونږه، چه تمام اعضاء مو ورله برابر جوړ کړل. يو اوږ او بل لنډنه دې.

أَلَمْ نَجْعَلِ	الْأَرْضَ	كِفَاتًا ﴿٢٥﴾	أَحْيَاءً	وَأَمْوَاتًا ﴿٢٦﴾	وَجَعَلْنَا فِيهَا	رَوَاسِيَ
آيانده گرځولی مونږځمکه		جمع کونکی،	ژوندولره	اومړولره،	اوپيداکړيدی مونږپدی کښې	غرونه
شَامِخَاتٍ	وَأَسْقَيْنَاكُم	مَّاءً	فُرَاتًا ﴿٢٧﴾	وَيْلٌ	يَوْمَئِذٍ	لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٢٨﴾
دنگ دنگ	اوڅکولی مودی په	تاسواوبه	خوږې تنده ماتونکی،	تباهی ده	پدغه ورځ	دپاره دَتکذيب کونکو

﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ كِفَاتًا﴾ دويم دليل عقلی دې اوديکښې الله ﷻ خپل، درې عظيم نعمتونه ذکر کوی، چې هغه يوطرف ته په بنده باندې امتنان دې اوبل طرف ته دَالله ﷻ عظيم قدرت طرف ته اشاره کوی، اوداپيغام ورکوی چی کله الله ﷻ دا امور پيدا کولې شی نو اعاده هغه دَپاره څه مشکل ده؟ مزيدا چې بنده ته د داسې مهربان رب ناشکری نه ده پکار.

«کفاتا» دا اول نعمت دې، کفات دَکفت نه دې، په معنی دَجمع اوضم سره راځی، لوخی ته هم کفات وئيلی کيږی، ځکه چې دا هم شې په ځان کښې جمع کوی اوراغونده وی، اوځمکی ته کفات ځکه وئيلی کيږی چې دې هم انسانيت په ځان کښې جمع کړې دې مړی دی اوکه ژوندې، ژوندې په سر باندې اوسيږی، اومړی پکښې ننه دی. ﴿أَحْيَاءً وَأَمْوَاتًا﴾ مفعول به دې دَپاره دکفاتا.

﴿ وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ ﴾دويم نعمت بيان دي چې زمكه خوداوسيدلوقابله نه وه. الله ﷻ پكښې مضبوط مضبوط اورنگ رنگ غرونه دَميخونو پشان اولگول ،نوكوم ذات چې داكار كولې شي نوآيا هغه دوباره پيداكول نشي كولې.

﴿وَأَسْقَيْنَاكُم﴾دريم نعمت بيان دې چې خوږې اوبه دي.

اِنْطَلِقُوٓا اِلٰى مَا كُنْتُمْ بِهٖ تُكَذِّبُوْنَ ﴿٢٩﴾ اِنْطَلِقُوٓا اِلٰى ظِلٍّ
ورته به اووئيل شي، ځئ لاړشئ هغه عذاب ته چه تاسود هغې تكذيب كولو ځئ لاړشئ هغه گرم لوږې ته
ذِيْ ثَلٰثِ شُعَبٍ ﴿٣٠﴾ لَّا ظَلِيْلٍ وَّلَا يُغْنِيْ مِنَ اللَّهَبِ ﴿٣١﴾ اِنَّهَا تَرْمِيْ بِشَرَرٍ
چه خاونددَرې حصُودې،نه به وي يخ اونه به دفع كوي دگرمولمبونه،بې شكه دا ولي به بسركي
كَالْقَصْرِ ﴿٣٢﴾ كَاَنَّهٗ جِمٰلَتٌ صُفْرٌ ﴿٣٣﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٣٤﴾
په شان دَبنگلو.لكه چې دااوښان وي زيړ. تباهي ده پدغه ورځ لپاره دَتكذيب كونكو.

﴿ اَنطَلِقُوٓا اِلَىٰ مَا كُنتُم﴾ديكښې تخويف اخروي دې په انكار دَبعث الموت چې نن خودوئ ډير په تكبر سره دَدوباره پيداكيدلو ،دَقيامت اوسزاجزا تكذيب كوي خو دقيامت په ورځ به ډير ذلت سره عذاب ته واچولې شي، "انطلقوا"ديكښې دوئ تذليل طرف ته اشاره.

﴿اَنطَلِقُوٓا اِلَىٰ ظِلٍّ ﴾دابدل دې دَمخكښې "انطلقوا" نه ، اوداجمال تفصيل دې، "ظل" په اصل كښې سورې ته وائې ، اودلته مراد ترينه"دخان"(لوگې)دې،لوگې باندې اطلاق د "ظل" تهكما شوې دې،ځكه چې دوئ به دَقيامت په سخته گرمئ كښې به دَسورې ډير محتاج او په طلب كښې به وي، نوورته به اوئيلې شي،دې لوگې پسې لاړ شئ داستاسو دَپاره سورې دې.

﴿ذِي ثَلَٰثِ﴾ صفت اول دې د"ظل"، يعنې هغه به سورې چرته وي هغه به لوئ مقدار كښې لوگې وي، چې دكثرت دَوجهې نه په درې حصو كښې تقسيم شوې وي،يوحصه به دَدې جهنمې سر دَپاسه وي،اودوه حصې به ښي ښي اوچپ طرف ته وي.

﴿ لَّا ظَلِيلٍ وَلَا يُغْنِي مِنَ ٱللَّهَبِ ﴾ دویم اودریم صفت دې د ظل. چې داځه حقیقت کښې خوبه سورې نه وی چې څه سکون اوراحت ورته میلاؤ شی. نه به یخ وی اونه به دجهنم داور شغلو ګرمی کموی

﴿إِنَّهَا تَرْمِي بِشَرَرٍ كَٱلْقَصْرِ ﴾انها کښې ضمیر مؤنث دجهنم اورته راجع دې. یعنی دابه دومره لوئ اور وی چې دَدې یویو بسرکې به دَلوئ لوئ محلاتو هومره وی قصر بنګلی اومحل سره تشبیه په ذات او لوئ والی کښې ده،﴿كَأَنَّهُۥ جِمَٰلَتٌ صُفْرٌ ﴾دادویمه تشبیه ده چې زیړ اوښانو سره ده، اودا تشبیه دَ اوصافو اعتبار سره ده،زیړ اوښانوسره تشبیه څوجهو نه ورکړې شوې ده: (١)په رنګ کښې(٢)کثرت کښې(٣)تتابع کښې(۴)سرعت کښې کانه کښې ضمیر شرر ته راجع دې جمالة جمع دَجمل ده

هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴿٣٥﴾ وَلَا يُؤْذَنُ لَهُمْ فَيَعْتَذِرُونَ ﴿٣٦﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ

داهغه ورځ ده چه خبرې به نشی کولې کفار.اونه به اجازت ورکولې شی دوئ چه عذراوکړی.تباهی ده پدغه ورځ

لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٣٧﴾ هَٰذَا يَوْمُ الْفَصْلِ جَمَعْنَاكُمْ وَالْأَوَّلِينَ ﴿٣٨﴾ فَإِن كَانَ

دپاره دَتکذیب کونکو،داورځ دَفیصلی ده.جمع کړی یئ مونږتاسواواولنی خلق.پس که وی

لَكُمْ كَيْدٌ فَكِيدُونِ ﴿٣٩﴾ وَيْلٌ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِينَ ﴿٤٠﴾

تاسولره څه منصوبه دَخلاصئ نه نو اوئی کړئ ماسره.تباهی ده پدغه ورځ دَپاره تکذیب کونکو.

﴿هَٰذَا يَوْمُ لَا يَنطِقُونَ ﴾دادَسابقه تخویف تتمه ده، نفی یادَنطق مفیدده یعنی ګویاکه حجت اودلیل به ورسره نوی چه دَجهنم نه خلاص شی،لکه خلق وائی فلانې زماپه مخکښې خبری هم نشی کولې،یاپه بعضو مواطنوکښې نفی مراد ده ځکه چه دَقیامت ورځ طویله ورځ ده، نوپدې وجه دَنوروآیاتونوسره دَدی آیت تعارض نشته،دغه شان نفی دَعذرهم ده.

﴿فَإِن كَانَ لَكُمْ كَيْدٌ ﴾داسخت وعیددې جهنم والوته،کچرته نن تاسوڅه دګرفت نه دَخان دَخلاصوڅه تدبیراومنصوبه جوړولې شئ نوجوړه کړئ،خان خلاص کړئ.

اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿٤١﴾ وَّفَوَاكِهَ مِمَّا يَشْتَهُوْنَ ﴿٤٢﴾
بې شکه متقيان به په سوروکښې وي اوچينوکښې به وي.اوميوؤکښې به وي دهغې نه چه زړه ئې ورته کيږي
كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ اِنَّا كَذٰلِكَ نَجْزِي
(ورته به اوونيل شي)خورئ اوڅکئ په مزې سره په سبب دنيکوعملونوستاسو بې شکه مونږدغه شان بدله ورکوو
الْمُحْسِنِيْنَ ﴿٤٤﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٥﴾ كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا اِنَّكُمْ
نيکانوته.تباهي ده پدغه ورځ لپاره دتکذيب کونکو.خورئ اوفائده واخلئ لږوخت بې شکه تاسو
مُّجْرِمُوْنَ ﴿٤٦﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٧﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمُ ارْكَعُوْا
مجرمان يئ. تباهي ده پدغه ورځ لپاره دتکذيب کونکو.اوکله چه اوونيلې شي دوئ ته چه رکوع اوکړئ
لَا يَرْكَعُوْنَ ﴿٤٨﴾ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ﴿٤٩﴾ فَبِاَيِّ حَدِيْثٍۭ بَعْدَهٗ يُؤْمِنُوْنَ ﴿٥٠﴾
نورکوع نکوي. تباهي ده پدغه ورځ لپاره دتکذيب کونکو.پس په کومه خبره ورسته دقرآن نه،ايمان به راوړي دوئ

﴿اِنَّ الْمُتَّقِيْنَ فِيْ ظِلٰلٍ﴾دابشارت دې مؤمنانوته،کفارومشرکينوپه مقابل کښې به مؤمنان اومتقيان دجنت په يخ سوروکښې مزې اخلي،هرقسمه ميوې به ورته ورکولې کيږي.

﴿كُلُوْا وَاشْرَبُوْا هَنِيْٓـًٔا﴾:يُقال لهم ورته مخکښې محذوف دې،يعنې دوئ ته به اوونيلې شي چه دنيک عملونوپه بدله کښې نن بېنه بې غمه خوراک څکاک کوئ،هم داسې بدله وي دنيکوکارانو.

﴿وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ﴾دمکذبينودپاره هلاکت دې چه دوئ دخپل تکذيب يوجه دجنت دلويولويونعمتونونه محرومه شول.

﴿كُلُوْا وَتَمَتَّعُوْا قَلِيْلًا﴾داده‌مکي اوخطاب دې مکذبينوته په دنياکښې چه خورئې څکئ اويوڅوورځې مزې واخلئ،اخربه زمونږخواته راځئ،مونږدرته عذابونه تيارکړيدي.

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱرْكَعُوا﴾ دائی دَجرم تفصیل دي او رکوع نه احکامات الهیه ته غاړه ایخول او هغې نه اعراض نه کول دی یعنی دوئ دومره سرکشه دی چه دنیاکښ دوئ ته اوونیلې شي چه دَالله ﷻ اطاعت کوئ . د هغه دَدین اتباع کوئ . نودوئ دَ تکبر او سرکشئ په وجه دا خبره نه مني،بعض وائی دابه ورته په قیامت کښ اوونیل شی،په هغه وخت کښ چه کله کشف دساق اوشی لکه سورة القلم آیت«۴۲»کښ تیردی.او دې صورت کښي معنی د «لایرکعون» دا وي ، چې دوئ به الله ﷻ ته سجده نشي کولې.

﴿فَبِأَيِّ حَدِيثٍ بَعْدَهُۥ﴾ضمیرراجع دي قرآن ته،یعنی چه دوئ دَقرآن په شان معجز، فصیح بلیغ،مدلل،مفصل کتاب باندی ایمان نه راوړی نوبیابه په کوم کتاب ایمان راوړی.

ركوعاتها (۲)	سورة النباء مكيّة	اٰياتها (۴۰)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۸) وحسب النزول (۸۰)

نزلت بعد المعارج و قبل النازعات

ربط: ماقبل سورة مرسلات کښی دَقیامت په ثواب عقاب باندی دنیوی عذاب نمونه وه.دی سورة کښی دنیوی انعامات،عقوبات او دَقیامت دَانعاماتو عقوباتونمونه ده نولکه څرنگه چه دنیاکښی انعامات اومصائب دی دغه شان به آخرت کښی هم بعضِ خلق په انعاماتوکښی وی بعض په مصائبوکښی،دغه شان ماقبل سورة کښی دَقیامت دَورځی باره کښی استفهام وؤچه وماادراک مایوم الفصل،دی سورة کښی دَیوم الفصل تشریح ده چه(ان یوم الفصل کان میقاتا).

خلاصه دَسورة:

آیت ۱نه تر **۵** پورې ابتدائیه دَسورت ده،چې دیکښی دَمشرکینو دَقیامت په باره کښی اختلاف ذکردی.

آیت **۶**نه تر ۱۶ یو لس(۱۱)انعامات به طور دلیل دَبعث الموت ذکر کیږی.

آیت،۱۷نه تر ۲۰ پوری دَ فیصلی ورځ (قیامت)واقع کیدلو احوال بیانیږی.

آیت ۲۱نه تر **۳۷**پوری دَ فیصلې تفصیلات بیانیږی.

آیت **۳۷**،او**۳۸**کښی دَ فیصلی ساعت اهوال بیانیږی.

آیت ۳۹ ، **۴۰**خاتمه دَسورت ده چې پکښی دَقیامت ورځې دَپاره تیاریٔ ترغیب دی.

عَمَّ يَتَسَآءَلُوۡنَ ۞ عَنِ النَّبَاِ الۡعَظِيۡمِ ۞ الَّذِىۡ هُمۡ فِيۡهِ
دَڅه شیزباره کښی دویٔ تپوس کوی دَیوبل نه،تپوس کوی دَهغې واقعې لویٔ په باره کښی، چه دویٔ په هغې کښی
مُخۡتَلِفُوۡنَ ۞ كَلَّا سَيَعۡلَمُوۡنَ ۞ ثُمَّ كَلَّا سَيَعۡلَمُوۡنَ ۞
اختلاف کونکی دی.هرگزدی نکوی تپوسونه زرده چه پوهه به شی دویٔ،بیاهرگزندی کوی زربه پوهه شی

﴿عَمَّ يَتَسَآءَلُونَ ﴾دازجر دي مشركينو ته په انكار دَبعث بعدالموت،چې دومره عظيم الشان واقعې نه انكار كوى اوهغې پورې استهزا اوخانداګانې كوى،چې كله به راځي،څنګه به واقع كيږي،مونږ به دوباره څنګه ژوندي كيږو.الله ﷻ فرمائي چې تپوس كولو ضرورت نشته چې كله راشي بيابه درته پته اولګي.

﴿عَمَّ ﴾اصل كښې "عن، ما" وو، "نون" په "ميم" سره بدل كړې شو، او بيا ميم په ميم مدغم كړې شو، نو "عما" شو، "ما" استفهاميه ده، دې باندې چې كله حرف جر داخل كړې شى نو اكثر ورنه الف حذف كړې شى دَ پاره دَ دې چې "ما" موصوله سره ئې فرق راشي، نو "عم"ترينه جوړ شو.

﴿يَتَسَآءَلُونَ ﴾ضمير مشركين مكه ته راجع دې،چونكه سياق كلام نه د مرجع پته لګى نو دَ تحقير واهانت دَپاره ئې صراحتاًذكر اونشو(روح). "تساؤل" د سوال نه دې، معنى ئې تپوس ده، او تپوس په دو قسمه باندې وى: (۱)كله تپوس دَحق پيژندلو او دَجهالت ازالى دَپاره وى،(۲)اوكله تپوس انكار، عناد او استهزاء دَپاره وى،دلته دويم قسم تپوس مراد دې،اوهم دې باندې زجر دې. باب تفاعل دلته خپلى حقيقى معنى"مشاركت" كښې استعمال دې، يعنى يوبل نه تپوس كول، اومطلب دادې چې دوئ مسئله دَبعث دَ خپل مجلس موضوع ګرځولى ده، اودَ خپل ناقص عقل او آراؤو دخل اندازى پكښې كوى، يا تفاعل مشاركت په ځائ تكرار په معنى دلالت كوى،يعنى دوئ څه به باره كښې باربار دَنبى ﷺ اومؤمنانو نه سوال كوى.

﴿عَنِ ٱلنَّبَإِ ٱلۡعَظِيمِ ﴾جارمجرور متعلق دې محذوف"يتساؤلون"سره، اويا بدل واقع كيږى دَ "عم" نه، د" النبأ العظيم " په باره كښې مفسرينو مختلف اقوال دى:

(۱)بعضو ترينه توحيد مراد اغستې دې.

(۲)بعضو ترينه قرآن اودَنبى ﷺ نبوت مراد اغستې دې.

(۳)راجح قول دادې چې دينه مراد قيامت او بعث بعدالموت دې.

دې تعبير كښې په درې وجوهو سره دَقيامت تعظيم بيان كړې شوې دې:

(۱)"النبأ" لفظ راوړلو سره، چې دا هغه خبرته وئيلى كيږى چې دَهغې څه شان وى ،عام خبرته نه وئيلى كيږى.

(۲)الف لام سره معرفه ګرځولو سره.

(۳): العظیم صفت راوړلو سره.

﴿الَّذِي هُمْ فِيهِ مُخْتَلِفُونَ﴾ اختلاف د دوئ داوو چې بعضو بالکل محال ګڼړلو چې ان هي الا حیاتنا الدنیا نموت ونحیا.بعضو پکښې شک کولو چې ماندري ماالساعة ان نظن الاظنا وما نحن بمستیقنین.بعضو صرف د روحانی معادقائل وو .وغیره

﴿كَلَّا سَيَعْلَمُونَ﴾ کلا د پاره د ردع دي د قیامت تپوسونه او دیکښې اختلاف مه کوئ.تاسوته به خپله پته اولګی،﴿ثُمَّ كَلَّا سَيَعْلَمُونَ﴾دا د ماقبل د پاره تاکید دي.

أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا ۝٦ وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا ۝٧ وَخَلَقْنَاكُمْ أَزْوَاجًا ۝٨
آیامونږنه ده ګرځولې زمکه غوړیدلی.اوغرونه میخونه د زمکی.اوپیداکړی یئ مونږتاسوجوړی جوړی.
وَجَعَلْنَا نَوْمَكُمْ سُبَاتًا ۝٩ وَجَعَلْنَا اللَّيْلَ لِبَاسًا ۝١٠ وَجَعَلْنَا النَّهَارَ
اوګرځولې مودې خوب ستاسوسبب د ارام.اوګرځولی موده شپه پرده.اوګرځولې موده ورځ
مَعَاشًا ۝١١ وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا ۝١٢ وَجَعَلْنَا سِرَاجًا وَهَّاجًا ۝١٣
وخت د ګټلو. اوجوړکړی مودی د پاسه د ستاسووه اسمانونه سخت.اوپیداکړې مودې نمرروښانه
وَأَنْزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ مَاءً ثَجَّاجًا ۝١٤ لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا ۝١٥ وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا ۝١٦
اونازلې کړې مودی د وریځونه اوبه راوریدونکی باران چه رااوباسوپه هغی سره دانې اوګیاه اوباغونه ګڼ

﴿أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا﴾ دا یولس(۱۱) انعامات د الله ﷻ بطورنمونه اودلیل ذکر کوی په بعث بعد الموت ،چې کوم ذات په دنیا کښې دومره لویولویو قدرتونو والا دې هغه ته بعث څه ګران دې؟ کوم ذات چې په دې دنیا کښې نعمتونوورکولوباندې قادردې،اودغه شان تکلیف اومصیبت رسولو باندې قادر دې هغه ته جزاورځ راوستلو کښې څه مشکل دی؟ ځکه چې هغه ورځ هم د ثواب اوعقاب نعمت اونقمت نه عبارت ده،

﴿مِهَٰدًا﴾ دا **اول انعام** دې. "مهادا" يا پمعنی د "فراشا" سره دې، چې الله ﷻ تاسو له ځمکه بستره ګرځولې ده ، يا پمعنی دَ "مَهْدا" سره دې، نوبياپه دې آيت کښې تشبيه ده يعنی په شان دَځانګونی ګرځولې ده.

﴿ وَٱلۡجِبَالَ أَوۡتَادٗا ﴾ دا **دويم انعام** دې. "اوتاد" جمع دَ "وتد" ده. ميخ ته وائی، دې کښې هم تشبيه ده اي کالاوتاد، مراد داچې الله ﷻ ځمکه غرونو سره کلکه کړې ده. لکه ميخ سره چې يوشی کلک شی، يوبل آيت کښې راغليدی دې والقی في الارض رواسي ان تميدبکم(لقمان) دغه شان يوحديث کښې هم راغليدی چې الله ﷻ کله ځمکه پيدا کړه نو هغه خوځيده،نوبيائې غرونه پيدا کړل اوهغه ئې پرې کيخودل نوپه قرار شوه.

﴿وَخَلَقۡنَٰكُمۡ أَزۡوَٰجٗا ﴾ دا **دريم انعام** دې، "ازواجا" نه مراد(۱)جوړه ده يعنی بعض مذکر اوبعض مؤنث لپاره دَدې چې توالد اوتناسل جاري وی،(۲)يادورنه مراد اصناف دی .يعنی تاسومختلف رنګونو، صورتونو او ژبو والا پيدا کړي يئ.

﴿ وَجَعَلۡنَا نَوۡمَكُمۡ سُبَاتٗا﴾ دا **څلورم انعام** دې، "سباتا" دَ "سبت" نه ماخوذ دې (۱) پمعنی دَ "قطع" . او مراد ورنه مرګ دې، ځکه چې دا هم دا بيداري زندګئ نه سرې کټ کوي ، نو په آيت کښې تشبيه ده اي کالسبات لکه بل آيت کښې راغليدی: وهوالذي يتوفاکم بالليل.(۲)بعض وائی"سباتا"په معنی دَنوم خفيف سره دې،يعنی خوب مې درله خفيف ګرځولې دې ،ډير درونډ نه دې، چې دنيا او معاش کښې مو خلل واقع شی.(۳) بعضو په معنی دَ"راحة"سره اغستې دې، يعنی خوب مو درله دَ راحت ذريعه ګرځولې ده.

﴿ وَجَعَلۡنَا ٱلَّيۡلَ لِبَاسٗا﴾ **پنځم انعام** دې، دې آيت کښې هم تشبيه ده اي کاللباس يعنی شپه الله ﷻ بمنزله دَلباس ګرځولی ده، يو په سترکښې چې څنګه لباس سره انسان ځان پټوی، دغه شان ډير کارونه چې انسان ئې بل په مخ کښې نه کول غواړی دَ شپې په پرده کښې ئې اوکړی،اوبل په راحت کښې، چې څنګه لباس کښې انسان ته راحت ميلاويږی، دغه شان شپه کښې ورته هم راحت اواطمينان نصيب شی.

﴿وَجَعَلْنَا النَّهَارَ مَعَاشًا﴾ شپږم انعام دې، "معاشا" مصدر ميمي دې عيش او ژوند ته وائی او ورځ "معاش" ګرځولو نه مراد "سبب د معاش" دې يعنی زندګی ضروريات ټول په ديکښې پوره کيږی. او يا ورنه مراد وخت دمعاش دې، اومعاش نه مراد ما يعيش به الانسان دې يعنی رزق.

﴿وَبَنَيْنَا فَوْقَكُمْ سَبْعًا شِدَادًا﴾ اووم انعام دې، د "سبعا" نه مراد اووه آسمانونه دی، "شدادا" ئې صفت دې ،معنی ئې مضبوط اوکلک ده، يعني هيڅ چاود اوكمزوری پكښې نشته.

﴿وَجَعَلْنَا سِرَاجًا﴾ دا اتم انعام دې، "جعلنا" په معنی د "انشأنا" سره دې، يعنی مونږ په اسمان كښې روښانه نمر پيدا كړيدې "سراج" ډيوې ته وائی اودلته ترينه مراد نمردې. ﴿وَهَّاجًا﴾ نه مراد پړ قيدونكې.

﴿وَأَنزَلْنَا مِنَ الْمُعْصِرَاتِ﴾ دا نهم انعام دې، "المعصرات" جمع د "معصرة" ده ، د "اعصر" نه مأخوذ دې، همزه پكښې دحينونت دپاره ده،اى آن لها ان تعصر، يعنی هغه وريځی چه داوبونه ډكی وی. وريدلو ته قريب وی،ليكن لا وريدلی نه وی. ﴿ثَجَّاجًا﴾ په زور سره بهيدونكی.

﴿لِنُخْرِجَ بِهِ حَبًّا وَنَبَاتًا﴾ دا لسم انعام دې، يعنی دباران په ذريعه غنم،جوار ،سبزی،واخه رااوباسو. ﴿وَجَنَّاتٍ أَلْفَافًا﴾ يولسم انعام دې، چی دباران په ذريعه ګڼ ګڼ باغونه را اوباسو ، د ډير ګڼ والی په وجه يوبل پورې انختی وی.

إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا ﴿١٧﴾ يَوْمَ يُنفَخُ فِي الصُّورِ فَتَأْتُونَ
بی شكه د ورځی دفيصلی(قيامت)،وخت مقرردې په هغه ورځ چه پوبه كړې شی په شپيلئ كښې نوراځئ به تاسو
أَفْوَاجًا ﴿١٨﴾ وَفُتِحَتِ السَّمَاءُ فَكَانَتْ أَبْوَابًا ﴿١٩﴾ وَسُيِّرَتِ الْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا ﴿٢٠﴾
ډلې ډلې،اوخيری به شی اسمان نوشی به دروازی دروازی،اوروان به كړيشی غرونه نوشی به سراب

﴿إِنَّ يَوْمَ الْفَصْلِ كَانَ مِيقَاتًا﴾ دا تخويف أخروی دې،دفيصلی ورځ (قيامت)واقع كيدلو احوال بيان دې، چه ورځ دفيصلی يعنی دقيامت وخت مقرردې،چه كله په شپيلئ كښې پوكړې شی نوټول

خلق به دقبرونونه موقف دحساب ته ډلی ډلی راروانی شی.هرانسان سره به دخپل عمل باره کښی فیصله کیږی.

﴿يَوْمَ ٱلْفَصْلِ﴾نه مرادورځ دقیامت ده ځکه چه پدغه ورځ به الله ﷻ دخلقو مینځ کښی فیصله کوی.

﴿مِيقَٰتًا﴾ مقرره وخت او حد ته وئیلی کیږي ، یعني قیامت ورځ د دنیا نظام حد او انتهاء ده ، یا وخت دې دهغه امورو چه الله ﷻ ئې وعده کړیده، او وخت دې د اولینو او اخرینو د جمع کولو.

﴿يَوْمَ يُنفَخُ فِي ٱلصُّورِ﴾بدل دې د﴿يَوْمَ ٱلْفَصْلِ﴾نه مرادورنه نفخه ثانیه ده،چه ټول خلق به ورسره راژوندی شی، ﴿أَفْوَاجًا﴾ای اُمَمًا، یعنی امتونه امتونه به جداجداځی هریوامت سره به خپل پیغمبر وی، کماقال تعالی «يومَ ندعواكلَّ الناسِ بامامِهم» ، یا ورنه ډلي ډلي مراد دی په اعتبار د اختلافو د اعمالو ، د نیکو خلقو به جدا ډلی وی، گنهگارانو به جدا ډلی وی.

په سورت مریم کښی دیواځی راتلو تذکره ده چي« وكلهم أتيه يوم القيامة فردا» . نوتطبيق پکښی داسی شوې دې چي جماعت او ډلي ډلي راتلل به د قبرونو نه پورته کیدلو وخت کښی وی، او تنها او یواځی به هغه کښی وی چي کله الله ﷻ ته حساب کتاب اوسوال وجواب ورکولو دپاره ځی.

﴿وَفُتِحَتِ ٱلسَّمَآءُ﴾دلته نه د دروازو کهلاویدلو ذکر دې،اوځني آیاتونو کښی دشق اوانفطار ذکر دې، دې تطبیق ځنی علماؤو داسی کړیدی چي "فتح" نه مراد هم "شق" دې، یعنی اسمان به اچوی، لکه بل ځائ دی: اذالسمّاء انشقت، خو تعبیر ترینه په فتح سره کولو اشاره ده کمال قدرت د الله تعالی ته، چه د دومره لوئ اسمان شق به الله ﷻ ته د دروازی د کولاولو په شان آسان وی«روح» او بعضو مفسرینو ئې تطبیق داسی کړې دې چي اول په کښی چاوداوشق اوشی،اوهغې نه بعد به دروازې دروازې کهلاوشی.﴿فَكَانَتْ أَبْوَٰبًا﴾آیت مبنی دې په تشبیه باندی،مطلب دادې چه دومره به اُچوی لکه ډیری دروازی چه کولاوی شی، نوداشبنه نشی کیدلې چه دروازی داسمان خواوس هم شته دې.

﴿وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ﴾یعنی غرونه به وَالوځی،ریزه ریزه به شی،خوره وره دوره به ترینه جوړه شی،اوسراب به ترینه جوړشی،چه په هواکښی به دلری نه داسی ښکاری لکه غر،لیکن غربه نوی بلکه هسی یو غباربه وی،زمکه به ټوله یوشان همواره شی،کمافی سورة طه(۱۰۵، ۱۰۶).

إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ مِرْصَادًا ﴿٢١﴾ لِّلطَّاغِينَ مَآبًا ﴿٢٢﴾ لَّابِثِينَ فِيهَآ أَحْقَابًا ﴿٢٣﴾
بې شكه جهنم ځاى دانتظار دى ،دپاره دسركشوتكانه ده اوسېږى به پكښى ډېره زمانه
لَا يَذُوقُونَ فِيهَا بَرْدًا وَلَا شَرَابًا ﴿٢٤﴾ إِلَّا حَمِيمًا وَغَسَّاقًا ﴿٢٥﴾ جَزَآءً
نه به څكى دوئ په هغى كښې څه يخ اونه څه دڅكلو څيزمگرگرمى اوبه دجهنم اووينى زوى بدله به وركولى شى
وِفَاقًا ﴿٢٦﴾ إِنَّهُمْ كَانُوا لَا يَرْجُونَ حِسَابًا ﴿٢٧﴾ وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا كِذَّابًا ﴿٢٨﴾
بدله پوره ،ځكه بې شكه دوئ وؤچه اعتقادئ نه لرلو دحساب اوتكذيب ئې كولوزمونږ دا ياتونو په تكذيب كولو سره
وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴿٢٩﴾ فَذُوقُوا فَلَن نَّزِيدَكُمْ إِلَّا عَذَابًا ﴿٣٠﴾
اوهرڅيزمحفوظ كړيدي مونږهغه په ليكلوسره پس اوڅكئ نوهرگزنه زياته وؤمونږتاسولره مگرعذاب

﴿إِنَّ جَهَنَّمَ كَانَتْ﴾ دفيصلى ورځ احوالونه بعد اوس دفيصلې تفصيلات اوكيفيت بيانيږى.

دې آيتونو كښې دكافرانو فيصلى بيان دې،چې دوئ به هميشه هميشه جهنم كښې وى اومختلف عذابونه به ورته ميلاويږى.

﴿مِرْصَادًا﴾ دمرصاد دلته مختلفې معنى بيان كړې شوې دى:

(۱)بعض مفسرين وائى چې دا صيغه دَ اسم آله ده، يعنى دَ انتظار گاه ،ځكه چې دې سره فرشتې انتظار كوى، قيامت په ورځ كله چې فيصله اوشى اوخلق روان شى نوكه كافران وى اوكه مؤمنان، لار به ئى په جهنم وى، نو دَ جنت فرشتې به دې سره ولاړې وى او دَ جنتيانو انتظار او استقبال به كوى، او دوئ به دَجهنم دَ لمبو نه بچ ساتى، او د جهنم فرشتې به ورسره هم ولاړې دَ جهنميانو انتظار كوى.

(۲)بعض مفسرينو دا صيغه دَ مبالغې اغستې ده: يعنى ډېر انتظار اوتلاش كونكې، يعنى كافرانو پسې به په تلاش كښې به گرځى.

(۳)څنو ئى معنى په "الطريق" سره كړې ده، يعنى دا به لار وى، مؤمنان به پرې په خيرسره تير شى، او كافران به پكښې اوغورځيږى.

﴿لِلطَّاغِينَ مَآبًا﴾ جار مجرور دَ"مابا" سره متعلق دي، "مآب" مرجع او ټهکانې ته وائي، يعني د سرکشانو ټهکانه ده.

﴿لَّابِثِينَ فِيهَآ أَحۡقَابًا﴾ "لابثين" حال دي د "الطاغين" ضمير نه، "احقابا" جمع د "حقب" ده، "حقب" مطلق مدت دَ زماني ته وائي لکه په سورت کهف کښې دي «او امضى حقبا»، او دلته ترينه څومره زمانه مراد ده؟ دې باره کښې مفسرينو مختلف اقوال ذکر کړي دي.

«۱» حضرت ابن مسعود، ابن عباس او ابن عمر رضي الله عنهم نه مروي دي چې دې نه مراد څه دَ پاسه اتيا «۸۰» کاله دي، او څنې علماؤو دې قول په تفسير کښې دا هم ليکلې دي چې يوه يوه ورځ به ئې دَ دنيا زر کالو برابر وي.

«۲» بعضو اويا زره کاله ترينه مراد اغستي دي.

«۳» بعضو درې سو کاله.

«۴» خو راجح قول دا دي چې دلته ترينه مراد لامتناهي زمانه ده، کما رواه الطبري عن قتادة.

﴿لَّا يَذُوقُونَ فِيهَا﴾ ذوق اصل معنى څکل ده، دَ "احساس" په معنى کښې هم راځي، لکه وائي ذاق الالم تکليف ئې محسوس کړو، مونږ پښتو کښې هم وايو خوند ئې درکړو، او دغه شان دَ نفس وجدان باندې ئې هم اطلاق کيږي، نو دلته اولنۍ دوه معنې مراد دي، "برد" اعتبار سره دويمه معنى مراد ده، او "شراب" لحاظ سره اوله معنى مراد ده. ﴿بَرۡدًا﴾ نه داسې يخ شی مراد دي چې انسان ظاهري بدن دَ حرارت او اور نه بچ کړي. ﴿شَرَابًا﴾ نه مشروب مراد دي چې باطن دَحرارت نه بچ کړي، ﴿حَمِيمًا﴾ انتهائي ګرمې اوبه، ﴿وَغَسَّاقًا﴾ د جهنميانو ويني زوې، ﴿جَزَآءً﴾ مفعول مطلق دي دَ فعل محذوف، اي: يجزون جزاء ﴿وِفَاقًا﴾ يعنى دَاعمالو موافق بدله،

﴿إِنَّهُمۡ كَانُواْ لَا يَرۡجُونَ حِسَابًا﴾ تعليل دي، دَاستحقاق دَعذاب، "رجاء" يا په معنى دَ اعتقاد دي يا په معنى دَخوف دي، يعنى دوئ دَدينه نه يريدل چه مرګ سره به حساب کيږي، او زمونږ دَ اياتونو تکذيب ئې کولو.

﴿ وَكُلَّ شَيْءٍ أَحْصَيْنَاهُ كِتَابًا ﴾ داجمله معترضه ده. ﴿كِتَابًا﴾ يا حال دې دمفعول نه،يامفعول مطلق دې،يعنى مونږدهرڅيزاحاطه كړيده په ليكلو كښې.نولهذاپوره پوره بدله به ورته وركوو.﴿فَذُوقُوا ﴾ فيقال لهم،ورنه مخكښې مقدردې.

إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ۝ حَدَائِقَ وَأَعْنَابًا ۝ وَكَوَاعِبَ أَتْرَابًا ۝ وَكَأْسًا دِهَاقًا ۝
بې شكه متقيانو د پاره ده كاميابى چه باغونه دى او انګور دى، او حورى ځوانى همزولې اوكاسى ډكى دشرابو
لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا لَغْوًا وَلَا كِذَّابًا ۝ جَزَاءً مِّن رَّبِّكَ عَطَاءً حِسَابًا ۝
، نه به اورى دوئ په جنت كښې فضول خبرې اونه دروغ بدله به وركولې شى بدله دطرفه درب ستا نه عطا پوره پوره

﴿إِنَّ لِلْمُتَّقِينَ مَفَازًا ﴾ دې آيتونو كښې دجنتيانو فيصلې بيان دې،او بشارت دې متقيانوته،چه دوئ دپاره په آخرت كښې كاميابى ده،اوهغه انعامات به ورته وركولې كيږى كوم چه په ورستو آيتونوكښې مذكوردى﴿ مَفَازًا ﴾يامصدرميمى دې پمعنى د"فوز"يااسم مكان دې،يعنى ځائ د كاميابى.

﴿حَدَائِقَ ﴾دادكاميابئ تفصيل دې، بدل دې د﴿ مَفَازًا ﴾نه،جمع دحديقة ده يعنى متقيانوته به داسې باغونه وركولې كيږى چه په هغى كښې به قسمه قسم ميوه دارى اونى وى،اوانګوربه وى.

﴿وَكَوَاعِبَ ﴾يعنى متقيانو دپاره په جنت كښې خائسته پيغلې حورى هم وى."كواعب" جمع د "كاعب" ده، هغې پيغلې ته وائى چې سينې ئې غونډى راوتلې وى،چېرې نه وى.﴿أَتْرَابًا ﴾داحورې به تولې همزولې وى. ﴿ وَكَأْسًا دِهَاقًا ﴾"كاس"داشرابو پيالې ته وائى، "دهاقا" يا پمعنى د "ممتلئة" سره دې، يعنى ډكې پيالى به د شرابو ورله وركولې كيږى ، يا پمعنى د "متابعة" سره دې، يعنى پرله پسې به ورله پيالې وركولې كيږى، يا پمعنى د "صافية" سره دې، يعنى عمده خالص شراب چې ګندګيونه پاک وى.

﴿ لَا يَسْمَعُونَ فِيهَا ﴾ ضمير په « فيها » كښې يا جنت ته راجع دې . يعنې جنت كښې به پرسكون او اطمينان بخش ماحول وى، خلاف مزاج اوګډې وډې خبرې به نه وى، او يا ضمير مجرور راجع دې﴿ وَكَأْسًا ﴾ته، نو "في" سببيه دې، يعنې دَ دې دَڅکلو په سبب به لغو او دروغ نه وى.

﴿ جَزَآءً ﴾مفعول مطلق دې فعل محذوف دَپاره، اي يجزون جزاء. ﴿عَطَآءً ﴾ورنه بدل دې يعنې دا بدله عطاء رباني اوفضل الهي دې، د چا ذاتي كمال اواستحقاق نه دې. ﴿حِسَابًا ﴾صفت دې دَ "عطاءً" پمعنى دَ "كافيًا" ، يعنې پوره اوكافي بدله به ورته وركړى، يا معنى داده چه دَدوئ دَاعمالو په حساب به ورته وركړى،خومره اعمال وى هومره عطاء ربّاني.

رَّبِّ	السَّمٰوٰتِ	وَالْأَرْضِ	وَمَا	بَيْنَهُمَا	الرَّحْمٰنِ	
چې رب دَاسمانونودې اودَزمكې دې اودهغه څه چه په مينځ دَدوئ كښې دى،چه ډيرمهربانه دې،						
لَا يَمْلِكُونَ	مِنْهُ	خِطَابًا ﴿٣٧﴾	يَوْمَ	يَقُومُ	الرُّوحُ	وَالْمَلٰٓئِكَةُ صَفًّا ۖ
اختيارنه لرى دَالله ﷻ سره هيڅوك دَخبرو. په هغه ورځ اوبه دريږى جبرئيل اوملائكې صفونه صفونه						
لَا يَتَكَلَّمُونَ	إِلَّا	مَنْ	أَذِنَ	لَهُ	الرَّحْمٰنُ	وَقَالَ صَوَابًا ﴿٣٨﴾
خبرى به نشي كولې هيڅوك مګرهغه څوك چه اجازت ورته اوكړى مهربانه الله ﷻ اووائى به سمه خبره.						

﴿رَّبِّ السَّمٰوٰتِ﴾بدل دې دَ﴿رَّبِّكَ﴾نه﴿ الرَّحْمٰنِ ﴾ئې صفت دې.

﴿لَا يَمْلِكُونَ ﴾دا دَ فيصلې كيفيت بيان دې چې هر انسان دَپاره به دهغه عمل دكارې مل وى، جاه او منصب به په كار نه رازى، هلته به نه څوک ځان په باره كښې دَالله ﷻ سره خبره كولې شي اونه به دَبل چابه باره كښې . « لا يملكون » كښې ضمير تولو خلقو ته راجع دې. ﴿مِنْهُ ﴾جار مجرور كښې دوه احتماله دى: (١)يادا حال مقدم دې د دَ﴿خِطَابًا ﴾ نه، يعنې دوئ به دَځان نه دَالله ﷻ سره خبرې كولو قدرت نه لرى بغير دَ اجازت نه. (٢) ياجارمجرور متعلق دې دَ«لايملكون» سره، يعنې دوئ ته

به داسی خبری قدرت او طاقت دَالله ﷻ طرف نه ، نه ورکولې کیږی چې دوئ پرې خان بچ کړی. ب خپلې مرتبې اوچتې کړی. «روح»

﴿يَوْمَ يَقُومُ ٱلرُّوحُ﴾ دیکښ دَفیصلې ساعت مزید هیبت بیانیږی چې دابه دومره هیبت ناک ساعت وی چې روح اوفرشتې بلکه ټول مخلوقات به الله ﷻ په تواضع سره لاس په نامه صف در صف ولاړ وی، څوک به الله ﷻ دَاجازت نه بغیر خبره هم نشی کولې. اوچاته چې الله ﷻ اجازت ورکړی هغه به هم خبره اخوادیخوانشی کولې، بلکه مکمل آدابو سره اوشرعی حدودوکښ به خبره کوی.

روح نه دلته په آیت کښ څوک مراد دی؟ دې باره کښ مختلف اقوال دی.

(۱) اکثر مفسرینو په نیز دې نه مراد جبرئیل علیه السلام دې.

(۲) بعض وائی دینه ارواح دَبنی آدم مراد دی.

(۳) بعض وائی چې بنی آدم ترینه مراد دې . دینه علاوه نوراقوال پکښ هم شته، خواول قول ارجح دې.

﴿لَّا يَتَكَلَّمُونَ﴾ ضمیرټولوخلقوته راجع دې، اوداتاکید دې دَ لایملکون منه خطابا ﴿إِلَّا مَنْ أَذِنَ لَهُ﴾ مراد ورنه شفاعت کونکې دې یعنی شفاعت اوخبرې به چاپه اختیار کښ نه وی، صرف به هغه کس کوی چې هغه ته الله ﷻ اجازت ورکړی وی، ﴿وَقَالَ صَوَابًا﴾ یعنی چاته چې اختیار د خبرو او شفاعت میلاو شو، نو دې مطلب دانه دې چې هغه څه وښیل غواړی او چا سفارش کول غواړی، کوی به، بلکه دَ الله ﷻ مرضیاتو په حدود کښ به سفارش کوی، دَکوم کس سفارش کولو اجازت چې ورله الله ﷻ ورکړی نو دهغه سفارش به قاعدې اوقانون مطابق کوی، تزکیه کښ به ئې مبالغه نشی کولې.

ذٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ فَمَنْ شَآءَ اتَّخَذَ
داورځ حقه ده، نودچاچه خوښه وی اودی نیسی
إِلَىٰ رَبِّهِ مَآبًا ۞ إِنَّآ أَنذَرْنَٰكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا ۚ يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ
خپل رب ته ځائ دورتللو، بی شکه مونږه یره ووتاسودعذاب نیزدی نه، هغه ورځ چه اوبه وینی انسان

مَا قَدَّمَتْ يَدَاهُ وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا ۞

هغه عملونه چه مخکښې رالیږلی دی دواړولاسونودهغه اووائی به کافرافسوس مالره چه وې خه خاوره

﴿ذَٰلِكَ الْيَوْمُ الْحَقُّ﴾ دادسورت خاتمه ده، دَ وعد او وعید ،بشارات اوقیامت ورځ هولناکیږو بیان نه ورستو الله ﷻ ترغیب ورکوی د دې ورځ دَ تیارئ ، چی دَدې ورځی حساب کتاب، دَ دې نعمتونو اودَدې عذابونه یقینی اوبرحق دی، که څوک دا نعمتونه حاصلول اودَدې عذابونه به بچ کیدل غواړي، نو اوس نه دې الله ﷻ طرف ته رجوع اوکړی، ورنه په هغه ورځ په ئی هیڅ په لاس نه راځی.

﴿إِنَّا أَنذَرْنَاكُمْ عَذَابًا قَرِيبًا﴾ عذاب قریب نه مراد دآخرت عذاب دې، اهل عرب دَچې کوم څیز وجود یقینی وی هغې باندې دَ قرب اطلاق کوی، او بل داچې مرګ خو د هر کس قریب دې، اوڅوک چې مرشی دَهغه قیامت قائم شی، نو دې اعتبار سره ورباندې هم دَقریب اطلاق شوې دې، مطلب داچې کوم عذاب نه خوځه یروم هغه بالکل یقینی او نیزدې دې.

﴿يَوْمَ يَنظُرُ الْمَرْءُ﴾ په هغهٔ ورځ به هرا نسان ته خپله اعمال نامه مخکښې پرته وی﴿وَيَقُولُ الْكَافِرُ يَا لَيْتَنِي كُنتُ تُرَابًا﴾ کافر به بیا ډیر تمناګانی کوی خو هیڅ فائده به نه ورکوی، اودَدې جملې متعدد تفسیره شوی دی:

(۱) کاش چې څه خاورې وې هډوسره پیدا شوې نه وې.

(۲) کا ش چې په قبر کښې خاورې خاورې شوې وې، اوبیاپورته کړې شوې نه وې.

(۳) څنی روایاتو کښې راځی قیامت په ورځ الله ﷻ حیوانات دوباره پیدا کړی، هغوئ کښې چې چاپه یوبل باندې ظلم کړی وی هغې بدله به ترینه واغستې شی اوبیابه ورته الله ﷻ اوائی چې خاورې شئ نو هغه به ټول خاوری شی نو کافر چې دااوګوری نودې به هم دَدې تمنا اوکړی.

ركوعاتها (۲)	سورة النازعات مكيّة	آياتها (۴۶)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكې دى شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۷۹) وحسب النزول (۸۱)

نزلت بعد النّبأ و قبل الانفطار

ربط: ماقبل سورة كښې دنيوى انعامات نمونه وه په بعث بعد الموت باندى، دى سورة كښې ترقى ده چه لكه څرنګه دنياكښې روح قبض كولوخت كښې فرشتې دمؤمنانوسره نرمى كوى كافرانوسره سختى كوى نودانمونه ده چه آخرة كښې به مؤمنانوسره نرمى كيږى. كافرانوسره سختى.

خلاصه: آيت ۱ نه تر ۵ پورې پنځه قسمونه بطور شاهد ذكر كيږى، په اخروى ثواب اوعقاب.

آيت ۲ نه تر ۹ پورى تخويف اخروى دې.
آيت ۱۰ نه تر ۱۴ شكوه اوجوب شكوه ده.
آيت ۱۱ نه تر ۲۲ تخويف دنيوى نمونه ده.
آيت ۲۷ نه تر ۳۳ دليل عقلى دې په اثبات دقيامت.
آيت ۳۴ نه تر ۴۱ تخويف اخروى اوفيصلې تفصيل دې.
آيت ۴۲ نه تر ۴۶ شكوى اوجواب ذكر كيږى.

وَالنّٰزِعٰتِ	غَرْقًا	۝	وَّ	النّٰشِطٰتِ
قسم دې په هغه فرشتوچه رااوباسى روح دكافرپه سختئ سره. اوقسم په هغه فرشتوچه اوباسى روح دمومن				
نَشْطًا	۝	وَّ	السّٰبِحٰتِ	سَبْحًا ۝
په نرمئ سره. اوقسم دې په هغه فرشتوچه لامبووهى په په تيزئ سره				

امْرًا	فَالْمُدَبِّرٰتِ	سَبْقًا	فَالسّٰبِقٰتِ

بیاقسم په هغه فرشتو چه مخکښ کیدونکی دی په مخکښ کیدلو سره. بیاقسم په هغه ملانکو چه تدبیر کونکی دی دامر

﴿وَٱلنَّٰزِعَٰتِ غَرْقًا﴾جمهور مفسرینو په نیز النزعات،النشطت،السبحت،السبقت،المدبرت پنځه واړه صفات دی دَفرشتو، اودَهغه فرشتو چې دروح اوباسلو اوبیادَهغې نه ورستو دَهغې نورانتظامات کولو باندې مامور دی.

﴿وَٱلنَّٰزِعَٰتِ﴾ "نزع" الجذب بشدة ته وائی(روح)یعنی سختئ سره راخکل،او دا ورته د کافرانو او بدعمله انسانانو اعتبار سره وئیلی شوی دی ، چې دَ هغوئ ارواح دا فرشتې په ډیرې سختئ سره قبض کوی.﴿غَرْقًا ﴾مفعول مطلق من غیر لفظه دې دَ"النزاعت"دَپاره اوداهم په شدت اوسختئ سره رابنکلو په معنی کښ استعمالیږی.

﴿وَٱلنَّٰشِطَٰتِ نَشْطًا ﴾"النشط" الاخراج بسهولة و رفق ته وائی. یعنی نرمئ اوپه آسانتیا سره رااوباسل ،اودا ورته دَمؤمنانو اونیک عمله انسانانو روح اوباسلو اعتبار سره وئیلی شوی دی،چې دوئ ارواح فرشتې په نرمئ اوسهولت سره قبض کوی.

دمؤمن روح په نرمئ او دَ کافر روح په سختئ سره قبض کولو وجه حدیث (مسند احمد ، ابوداؤد ، رقم الحدیث۴۷۵۳) کښ دا راغلې ده چې بنده مؤمن ته دَمرگ په وخت کښ کومې فرشتې راځی، نوهغه ډیر خه شان سره راځی،ځان سره دَجنت خوشبوئی راوړی، ډیر خه انداز کښ ورسره مکالمه کوی،او دَ جنت او دَ هغې نعمتونو بشارت ورکوی، نو دَ ده روح ډیر په خوشحالئ سره اوځی، او بنده کافر روح قبض کولو دَ پاره چې راشی نو ډیر بدهیئت اوحالت کښ راشی، ډیر بد انداز کښ ورسره مخاطبت اوکړی، چې اې خبیث نفسه: راوخه دالله ﷻ عذاب اوقهر ته، نوهغه روح دَخوف دَوجهی نه راوتل نه غواړی. نو دوئ ئې داسې په زور سره ئې راخکی لکه دَغوښې ریتو لو والا سیخ پورې چې انختې وړئ دهغې نه لرې کولې شی.

﴿وَٱلسَّٰبِحَٰتِ سَبْحًا﴾دادریم قسم اوصفت دې دَدې فرشتو .بعض مفسرین فرمائی چې فرشتې کله انسان نه روح قبض کوی ، نو جسم کښ داخلې شی. نو دَ فرشتو دَده جسم ته

داخلیدل او دَهغی نه روح راوباسل داسې وی لکه یو لامبوزن په اوبو کښې لامبو اووهی او دننه شی، او هلته نه څه راواخلی او راوخی.

خو اکثر مفسرین فرمائی چې داسرعت سیر نه کنایه ده، یعنی دروح اوباسلو نه ورستو په ډیر تیزئ سره ئې د رب طرف ته وړی لکه حدیث کښې هم دَدې ذکر راغلې دې.

﴿فَالسّٰبِقٰتِ سَبۡقًا﴾ داځلورم قسم او صفت دې دَفرشتو، "سبقت" نه مراد انقیاد او تبادر دې حکم الهی ته، او 'سبقت' ماده راوړلو کښې دې وصف کښې مبالغې طرف ته اشاره ده. ګویاچې انقیاد او اطاعت کښې یوبل نه مخکښې کیږی، اومقصود دلته دَروح په باره کښې حکم الهی ته انقیاددې، چې روح په باره کښې الله ﷻ کوم احکامات ورته ورکړی ډیر په تیزئ سره دَهغې تعمیل کوی او ځائ ته ئې رسوی.

﴿فَالۡمُدَبِّرٰتِ أَمۡرًا﴾ داپنځم قسم او صفت دې، یعنی روح خپل مقام ته وړلو نه ورستو کوم احکامات ورته دَثواب اوعقاب دَالله ﷻ طرف نه میلاو شوی وی، دَ هغې انتظام اوتدبیر کوی.

بهرحال داپنځه قسمونو وؤ، اوجواب قسم محذوف دې، چې «لتبعثن» دې، اوقسم او جواب قسم کښې مناسبت دادې: (۱) چې روح قبض کول دادَقیامت توطئه او اولین منزل دې من مات قامت قیامته (۲) اوبل داچې داپنځه قسمونه شواهد دی په ثواب اوعقاب دَبعثت او آخرت، چې څنګه دنیا کښې مؤمنانو روح په آسانئ اونرمئ سره اوکافرانو روح په سختئ او تکلیف سره قبض کیږی، نو دهغه شان فرق به په آخرت هم وی، مؤمنان به په راحت اوکافران به په تکلیف کښې وی.

يَوۡمَ تَرۡجُفُ الرَّاجِفَةُ ﴿٦﴾ تَتۡبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴿٧﴾ قُلُوبٌ يَوۡمَئِذٍ
په هغه ورځ چې اوخوزوی خوزونکی وریسې راشی وریسې راتلونکې ډیر زړونه به په دغه ورځ
وَاجِفَةٌ ﴿٨﴾ أَبۡصَارُهَا خَاشِعَةٌ ﴿٩﴾ يَقُولُونَ أَءِنَّا لَمَرۡدُودُونَ فِي الۡحَافِرَةِ ﴿١٠﴾
درځیدونکی وی سترګی به ئې ښکته وی وائی دوئ آیا مونږ به واپس ګرځولې شو زوړ حالت ته

ءَإِذَا	كُنَّا	عِظَامًا	نَّخِرَةً	⑪	قَالُوا	تِلْكَ	إِذًا	كَرَّةٌ	خَاسِرَةٌ ⑫
آيا كله	چه شو	مونږه	هډوكي	وراسته	وائي چه دا	خو	به بيا	تاواني	واپسي وي
فَإِنَّمَا	هِيَ	زَجْرَةٌ	وَاحِدَةٌ	⑬	فَإِذَا	هُم	بِالسَّاهِرَةِ ⑭		
بي شكه	دادوباره	پيدا كيدل	صرف اواز	دي يو	بيا به	دا ټول	خلق په مخ دزمكې وي		

﴿يَوْمَ تَرْجُفُ ﴾داتخويف دې متعلق دې دجواب قسم محذوف سره، چه لتُبعثنّ دي، يعني دابعثت به په هغه ورځ وی چې كومه ورځ زورداري زلزلې سره هر څه فنا شی، اوبيا به دوباره صور پوكلې شی، او تاسو ټول به دوباره ژوندی شئ.﴿الرَّاجِفَةُ ﴾دَرجف يرجف نه داسم فاعل صيغه ده ،په معنی دَخوزونكې ، دينه مراد نفخه اولی ده چې دې سره به ساكن شې په خوځيدوشی

﴿تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ﴾الرادفة وريسی راتلونكی ته وائی،اودينه مراد نفخه ثانيه ده.

﴿قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ ﴾ډير زړونه به په دې ورځې لړزان وی، ﴿وَاجِفَةٌ ﴾بمعنی دَدرځيدلو اوبريدلو كنس دي،﴿ أَبْصَارُهَا﴾ضمير راجع دې﴿قُلُوبٌ﴾ته په حذف دَمضاف سره ای ابصار اهلها(روح) يعنی دَ ډير خوف په وجه به ئې سترګې خكته وی،يا دَابصار نه مرادبصائر يعنی عقلونه دی، يعنی عقلونه به پدغه ورځ خراب وی په هيڅ به هم نه پوهيږی چه څه اوكړو (روح).

﴿ يَقُولُونَ أَئِنَّا لَمَرْدُودُونَ ﴾داشكوه ده،دَمشركانونه، چه دوئ په قيامت پورې استهزاء كوی، او وائی چه آيا كله چه زمونږ هډوكی اوريژيږی په زمكه كښ، آيابيا به مونږزوړحالت ته واپس كيږو ،يعنی بيابه ژوندی كيږو.﴿الْحَافِرَةِ ﴾معنی زوړ حالت دې.

﴿قَالُوا تِلْكَ إِذًا كَرَّةٌ خَاسِرَةٌ ﴾يعنی كچرته داواپس كيدل زوړحالت ته يعنی بيازوندی كيدل واقعی په حقه وی، نومونږبه په لويه خساری كښ يو، دَ وجې دَ تكذيب نه، يامطلب دادې چه دابه خولوئ تاوان وی، ځكه چه زمونږ په مالونو،جائيدادونو باندې به نورو خلقو قبضه كړې وی(جو لهر).

﴿فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَاحِدَةٌ﴾ جواب شکوه دي. "هي" ضمير یا ژوړ حالت ته واپس کیدلونه راجع دي، یا "رادفة" ته. یعني دا واپس کیدل او بیا ژوندی کیدل مشکل مه ګڼړئ او استهزاء ورپوري مه کوئ، ځکه چه دا خو به یو چړق وی، چه بس ټول خلق به د قبرونونه را بیدار شی په زمکه به ولاړ وی. ﴿بِالسَّاهِرَةِ﴾ "ساهرة" وجه الارض ته وائی.

هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ مُوسٰى ﴿١٥﴾ إِذْ نَادٰىهُ رَبُّهُ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى ﴿١٦﴾

آیا راغلي ده تاته قصه ده موسیٰ علیه السلام کله چه آواز او کړوده ته رب ده په وادی پاکی کښ چه طوی دے

اِذْهَبْ إِلٰى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغٰى ﴿١٧﴾ فَقُلْ هَلْ لَكَ إِلٰى أَنْ تَزَكّٰى ﴿١٨﴾

ورته ئی او وئیل لاړ شه فرعون ته بې شکه هغه سرکشه شویدې نو ورته او وایه آیا نه غواړی دا چه پاک شی د ګناه نه،

وَأَهْدِيَكَ إِلٰى رَبِّكَ فَتَخْشٰى ﴿١٩﴾ فَأَرٰىهُ الْآيَةَ الْكُبْرٰى ﴿٢٠﴾ فَكَذَّبَ

او خه لاره او ښایم تا ته په طرف د رب ستا نو ته او یریږی. نو اوئی خودله هغه ته معجزه لویه نو هغه ئی تکذیب او کړو

وَعَصٰى ﴿٢١﴾ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعٰى ﴿٢٢﴾ فَحَشَرَ فَنَادٰى ﴿٢٣﴾ فَقَالَ

او نافرماني ئی او کړه بیائی شاکړه کوشش ئی کولو. خلق ئی راجمع کړل اواز تقریر ئی ورته او کړو نو اوئی وئیل

أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلٰى ﴿٢٤﴾ فَأَخَذَهُ اللّٰهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولٰى ﴿٢٥﴾

خه یم ستاسو رب لوئی. نو او نیولوده لره الله جل جلاله په عذاب د آخرة او د دنیا

إِنَّ فِي ذٰلِكَ لَعِبْرَةً لِّمَنْ يَخْشٰى ﴿٢٦﴾

بی شکه پدی قصې کښ خامخا عبرت دي لپاره د هغه چا چه یریږی د الله جل جلاله نه

﴿هَلْ أَتٰىكَ حَدِيثُ مُوسٰى﴾ دا د تخویف دنیوی نمونه ده او تسلی ده حضور ﷺ ته چه مونږه حضرت موسیٰ علیه السلام فرعون ته د دعوت ورکولو د پاره اولیږلو. لیکن هغه ئې تکذیب او کړو. نافرمانی ئی او کړه نو دنیوی عذاب سره موهم او نیولو چه غرق دي او آخرة کښ به هم ورته

عذاب ورکوؤ، نودغه شان که دااهل مکه ستاتکذیب کوی نوهغوئ له به هم مونږ عذاب ورکړو.

﴿اذْهَبْ إِلَىٰ فِرْعَوْنَ﴾ قال له ورنه مخکښې مقدر دی. یا تفسیر دی د ﴿إِذْ نَادَاهُ رَبُّهُ﴾ نو "ان" مفسره پکښې محذوف دی، سورت طه کښې صیغه دتثنیه "اذهبا" راغلې ده. دواړو کښې هیڅ منافات نشته:

(۱)چونکه موسی ﷺ او هارون ﷺ دواړه فرعون ته لیږلې شوی نوځکه هلته دتثنیې صیغه ده او اصل پکښې موسی ﷺ وؤ، نوځکه دلته واحد صیغه راوړلې شوه

(۲)یا اول صرف حکم موسی ﷺ ته شوې وؤ، اوبیا هغهٔ دعا اوکړه، اوخپل وروړئ خان سره معاون کړو، نودې وجهې نه اول حکم اعتبار سره صیغه واحد اودویم حکم اعتبار سره صیغه دتثنیې راوړلې شوی ده

﴿تَزَكَّىٰ﴾ په اصل کښې تتزکی دې یعنی ته ځان پاک کړې دګندګئ دکفراوسرکشئ نه

﴿فَأَرَاهُ الْآيَةَ الْكُبْرَىٰ﴾ لوئی معجزی نه مراددعصانه مارجوړول دی. یاورنه عصا او ید بیضاء دواړه دی، په اعتبار د دلالت یوه معجزه ده نوځکه واحد ذکرشوه.

﴿ ثُمَّ أَدْبَرَ يَسْعَىٰ﴾ ادبار وئیلی کیږی شاه کولو ته. او سعی وئیلې کیږی تیزتللو اومنډی وهلو ته، خو دلته دواړه مجازی معنو کښې استعمال شوی دی "ادبار" نه مراد اعراض او سعی ته مراد دین موسوی ابطال کول دی.

﴿فَحَشَرَ﴾ دا ئې د اعراض او سعي تفصيل دې ،یعنی ساحران ئی راجمع کړل. کقوله تعالی فارسل فرعون فی المدائن حاشرین بیا ئې خپل لښکر او خلق راجمع کړل اوبیان ئی ورته تقریر اوکړواوورته ئی اووئیل﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ﴾ دلته ئی خان ته لوئ رب اووئیل اوپه سورة قصص (۳۸)کښې اووئیل:ماعلمتُ لکم من الهٍ غیری، یعنی څمانه علاوه بل اله نشته دې

﴿فَأَخَذَهُ اللَّهُ نَكَالَ الْآخِرَةِ وَالْأُولَىٰ﴾ نکال پمعنی دتنکیل دې،هغه عذاب اوسزا ورکولوته وائی چه لیدونکې او اوریدونکې ورنه عبرت واخلی.او دهغه عمل نه ئی منع

کړی، نکالً یامفعول مطلق دې ای نکل الله به نکالَ الاخرة ،یامنصوب بنزع الخافض دې ای اخذهٗ بنکالِ الاخرة(روح).

﴿ اَلْاٰخِرَةِ﴾نه مراداحراق دې په آخرة کښې په جهنم کښې او﴿وَالْاُوْلٰى ﴾نه مرادغرق دې په دنیا کښې،یعنی دنیا و آخرت دواړوکښې مووړته عبرتناکه سزاورکړه.چه څوک دَالله ﷻ نه یریږی هغه دپاره پکښې لوئ عبرت دې.

ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا اَمِ السَّمَآءُ ۚ بَنٰىهَا ۝۲۷ رَفَعَ سَمْكَهَا
آیاتاسوزیاتِ سخت یئ په پیداکولوکښې یااسمان چې جوړ کړې دې الله اوچت کړې ئې دې چت دَهغې
فَسَوّٰىهَا ۝۲۸ وَاَغْطَشَ لَيْلَهَا وَاَخْرَجَ ضُحٰىهَا ۝۲۹ وَالْاَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ
بیائې برابر کړې دې هغه او تیاره ئې ګرځولې ده شپه دَهغې او روښانه کړې ئې ده ورځ دَهغې.اوزمکه ورستودَدینه
دَحٰىهَا ۝۳۰ اَخْرَجَ مِنْهَا مَآءَهَا وَمَرْعٰىهَا ۝۳۱ وَالْجِبَالَ اَرْسٰىهَا ۝۳۲
خوره کړې ده . را اوباسلی ئې دي دَ دینه اوبه دَ دې او ګیاه . او غرونه ئې قائم کړي دي
مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِاَنْعَامِكُمْ ۝۳۳
لپاره دَفائدې ستاسواودَڅناورو ستاسو.

﴿ءَاَنْتُمْ اَشَدُّ خَلْقًا ﴾داپه دعوی دَسورة یعنی حشرنشرباندې دلیلِ عقلی دې،چه آیاستاسودوباره پیداکول ګران دی اوکه دَآسمان اوځمکی پیداکول؟بلکه اسمان اودَځمکی پیداکول ګران دی،نوچه الله ﷻ پخپل قدرت سره دا پیداکړیدې،تصرفات ئې پکښې کړیدی نو ستاسو پیداکول خوآسان دی کقوله تعالی: لخلق السمٰوات والارض اکبرمن خلقِ الناس.

﴿رَفَعَ سَمْكَهَا ﴾بیان دې دَ﴿ بَنٰىهَا﴾ یعنی صرف پیدا کول ئې نه دی ،بلکه په هوا کښې اوچت بلاستون اوسهارې نه ئې پیداکړې دې، سمک اوچتوالی ته وائی،چت دَاسمان ورنه مراد دې، اومطلب دادې چه اسمان ئې اوچت پیداکړیدې،دامطلب نه دې چه اول لاندې وو بیائې اوچت کړې دې.

﴿ فَسَوّٰنهَا﴾بيانى هوا کښې داسې ادرولي دي چې هيڅ عيب پکښې نشته.نه پکښې لاندي باندي والي شته.نه پکښې چاودنشته. نه پکښې پيوند شته.اوخپسه ستورو سره ئې مزين کړي دي

﴿وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحٰهَا ﴾صرف آسمان نه.بلکه شپه ئې پيداکړه ورځ ئې پيداکړه. شپه ئې تياري والا اوګرځوله. او ورځ ئې روښانه اوګرځوله. "اغطش"بمعنى د"اظلم" سره دي. او "اخرج"بمعنى "اظهرو ابرز"سره دي. "ضحى" نه مراد ټوله ورځ ده. خوچونکه داوخت په ټولو کښې اشرف دي نوځکه د"نهار"نه تعبير په دي سره اوشو

دلته "ليل"او"ضحى"دواړو نسبت آسمان ته شوي دي.يعنى د آسمان شپه اود آسمان ورځ. ددي وجه داده چې دشپې اوورځې تعلق نمر سره دي. چې د ډوب شي.نوشپه شي اوچې طلوع شي نوورځ شي.اودا امر سماوي دي. نوادنى ملابست اوتعلق په وجهې دليل اوضحى نسبت آسمان ته اوشو

﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ ﴾يعنى صرف آسمان اودهغې انتظامات نه دي.بلکه ځمکه ئې پيدا کړي ده.هغه ئې غوړه ولې ده.هغې کښې دخوراک سکاک بندوبست کړي دي.اوددي استقرار دپاره ئې پرې غرونه ايخيدى.داټول ئې انسانانو اوځناورو فائدي دپاره دي

«الارض» منصوب دي بنا بر "ماضمر عامله على شريطة التفسير". «ذلك» مشاراليه خلق السماء. اغطاش الليل .او اخراج النهار دي . ﴿دَحٰهَا﴾خوروټو نه وائي.دينه معلوميږي چې خلق السماء اول شوي اودځمکې تخليق دينه وروستو شوي دي. نو بظاهر ددي تعارض راځي د سوره البقره.آيت ١٩ الذي جعل لكم الخ او سورت فصلت آيت ١١ قل ائنكم لتكفرون سره. ځکه چې هلته صراحت دي د دي خبرې چې اول ځمکې تخليق اوبيا دآسمان تخليق شوي دي. دا تعارض مفسرينو څوطريقو سره حل کړي دي .تفصيل دپاره ددى تفسير جلد١ صفحه ١٢٥ آيت ١٩ تفسير ملاحظه کړئ

﴿ وَمَرْعٰهَا ﴾"مرعى"ظرف دي يعنى ورشو.يامصدربمعنى دمفعول دي.هغه واخه چه حيوان پکښې سرکوى. د انسان غذا لکه سبزى فصل وغيره ته هم شامل دي.البته اطلاق ئې دباندي مجازاً شويدي.

﴿ فَسَوّٰهَا﴾بيائی هوا کښې داسې ادرولې دې چې هيڅ عيب پکښې نشته،نه پکښې لاندې باندې والی شته،نه پکښې چاود شته، نه پکښې پيوند شته،اوخائسته ستورو سره ئې مزين کړې دې.

﴿وَأَغْطَشَ لَيْلَهَا وَأَخْرَجَ ضُحٰهَا ﴾صرف آسمان نه،بلکه شپه ئې پيدا کړه ورځ ئې پيدا کړه، شپه ئې تيارې والا اوګرځوله، او ورځ ئې روښانه اوګرځوله. "اغطش"بمعنی دَ"اظلم" سره دې، او "اخرج"بمعنیٰ "اظهرو ابرز"سره دې، "ضحی" نه مراد ټوله ورځ ده، خوچونکه داوخت په ټولو کښې اشرف دې نوځکه دَ نهار نه تعبير په دې سره اوشو.

دلته "ليل"او"ضحی"دواړو نسبت آسمان ته شوې دې،يعنی دَ آسمان شپه اودَ آسمان ورځ، دَدې وجه داده چې دَشپې اوورځې تعلق نمر سره دې، چې داډوب شی،نوشپه شی اوچې طلوع شی نوورځ شی،اودا امر سماوی دې، نوادنی ملابست اوتعلق په وجهی دَليل اوضحی نسبت آسمان ته اوشو.

﴿وَالْأَرْضَ بَعْدَ ذٰلِكَ ﴾يعنی صرف آسمان اودهغې انتظامات نه دی،بلکه ځمکه ئې پيدا کړې ده،هغه ئې غوړه ولې ده،هغې کښې دَخوراک سکاک بندوبست کړې دې،اودَدې استقرار دَپاره ئې پرې غرونه ايخيدی،داټول ئې انسانانو اوځنانوروفائدې دَپاره دی.

«الارض» منصوب دې بنا بر "مااضمر عامله علي شريطة التفسير"، «ذلک» مشار اليه خلق السماء، اغطاش الليل ،او اخراج النهار دې ، ﴿دَحٰهَا﴾خورولو ته وائی،دينه معلوميږی چې خلق السماء اول شوې اودَځمکې تخليق دينه ورستو شوې دې، نو بظاهر دَدې تعارض راځی دَ سوره البقره،آيت ۱۹ الذي جعل لکم الخ او سورت فصلت آيت(۱۱)قل انکم لتکفرون سره، ځکه چې هلته صراحت دې دَ دې خبرې چې اول ځمکې تخليق اوبيادآسمان تخليق شوې دې، دا تعارض مفسرينو څوطريقو سره حل کړې دې ،تفصيل دَپاره دَدی تفسير جلد(۱)صفحه ۱۲۵ آيت ۱۹تفسير ملاحظه کړئ.

﴿ وَمَرْعٰهَا ﴾"مرعیٰ"ظرف دې يعنی ورشو،يامصدربمعنی دَمفعول دې،هغه واخه چه حيوان پکښې سرکوی، د انسان غذا لکه سبزی فصل وغيره ته هم شامل دې،البته اطلاق ئې وړباندې مجازاًشويدې.

﴿وَالْجِبَالَ﴾منصوب على شريطة التفسيردي﴿أَرْسٰهَا﴾نى تفسير دي﴿مَتَاعًا لَّكُمْ﴾مفعول له دي.اى فعل ذلک تمتعالکم.يعنى ستاسو اودخناور ستاسو دپاره نى داکارونه اوکړل

فَإِذَا جَآءَتِ الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ مَا سَعٰى ﴿٣٥﴾
نوکله چه راشى حادثه لويه‌قيامت‌چه پدغه ورځ به يادشى انسان ته هغه عملونه چه ئى کړى وى
وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِمَن يَرٰى ﴿٣٦﴾ فَأَمَّا مَن طَغٰى ﴿٣٧﴾ وَاٰثَرَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا ﴿٣٨﴾
اوښکاره به کړې شى جهنم هرليدونکى ته‌نوهغه چه سرکشى ئى کړى وى اوغوره کړې ئى وى ژونددنيا
فَإِنَّ الْجَحِيمَ هِىَ الْمَأْوٰى ﴿٣٩﴾ وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ
نوبى شکه جهنم بس هم هغه ئى ځکانه ده . اوهغه څوک چه يريدلې وى داودريدلونه په حضوردرب خپل کښ
وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوٰى ﴿٤٠﴾ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِىَ الْمَأْوٰى ﴿٤١﴾
اومنع کړې ئى وى نفس خپل دناجائزخواهش نه، نوبى شکه جنت صرف هغه ئى ځکانه ده

﴿فَإِذَا جَآءَتِ﴾داتخويف اخروى دې چې کله قيامت راشى نو الله ﷻ به دانسان سره حساب کتاب کوى،چې دې نعمتونو شکرادکړې دې اوکه نه.

﴿الطَّآمَّةُ الْكُبْرٰى﴾لونى حادثى اومصيبت ته وائى دَ طمّ يطمُّ نه دې،پمعنى دَغالب راتللو سره،او داعلم گرځيدلې دې دَپاره دَ قيامت ، او دې ته"طامة"ځکه وائى چې داټولونه لويه حادثه ده او نور ټول مصيبتونه تکليفونه دې په مقابله کښې هيڅ نه دى.

﴿يَوْمَ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ﴾بدل دې دَ "اذاجاءت"نه، "تذکر" دَ يو شى هيريدلو نه پس ياديدلو ته وائى، دې کښې اشاره ده حساب کتاب ته ، ځکه چې انسان کوم عملونه کړى دى، نوترينه به هير وى،نوچې کله حساب،کتاب ورسره اوشى، نو يو يو عمل به ورته اوخودلې شى، ده ته به دا ټول ياد شى، او اعتراف به ئى اوکړى. ﴿مَا سَعٰى﴾نه مراد اعمال دى.

﴿وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ﴾ جهنم به راوړلې شي اوبالکل په ډاګه به کیخودلې شي.هرسړی ته به ښکاري، مؤمن وي اوکه کافر، اوداسې حالت کښې به حساب کتاب اغستې شي.حدیث شریف کښې راځي چې جهنم به داسې حالت کښې راوستلې شي چې دې پورې به اویا(۷۰)زره پړې تړلې شوې وي،اوهر پړې به اویا(۷۰) زره فرښتې راکاږي. مسلم﴿لِمَن يَرَىٰ﴾اې لکل راء.

﴿فَأَمَّا مَن طَغَىٰ﴾داتفصیل دَجزا دې ، چې کومو خلقو دنیا کښې دَالله ﷻ حکمونو بغاوت کړې وي اودنیا زندګئ له ئې په آخرت باندې ترجیح ورکړې وي، نوهغه به جهنم ته اوغورځولې شي.

﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ﴾داموٴمنانو جزا بیان دې، یعنی کوم خلقو سره چې دَالله ﷻ خوف وؤ،او دَ نفس خواهشاتو اتباع نه ئې ځان ساتلې وؤ، نوهغوئ به جنت ته اولیږې شي .
«مقام ربه» نه مراد قیامت په ورځ الله ﷻ دربار کښې پیښې ده،اولفظ "مقام"دلته مقحم (زائد) دې دَپاره دَمبالغې، اومراد مطلقاًخوف الهی دې، ځکه چې دَ مکان نه خوف وي، نو مکین نه خو په پطریق اولی خوف وي، دلته صرف مبالغې معنی مقصود ده باقی الله ﷻ دَمکان نه منزه دې.
دَخوف صوفیاوؤ درې درجې بیان کړې دي:
(۱)داهل تقوی درجه:چې دآخرت دَمؤاخذې خوف وي.
(۲)داهل محبت درجه:دخطاپه وجه دَمحبوب دَنظر نه غورځیدلو خوف وي.
(۳)مقام عبدیت:بلالحاظ دځه نتیجې بلکه محض دَذات الهی عظمت اوهیبت دَوجهی خوف وي. (تفسیر ماجدی)

يَسْـَٔلُونَكَ	عَنِ	السَّاعَةِ	أَيَّانَ	مُرْسَاهَا	۝
تپوس کوي مشرکان ستانه	په باره دَقیامت کښې	چه کله	به وي راتلل	دَهغې.	
فِيمَ أَنتَ مِن ذِكْرَاهَا ۝	إِلَىٰ رَبِّكَ مُنتَهَاهَا ۝	إِنَّمَا أَنتَ			
ستاځه کاردې دَ بیانولودې سره،	صرف رب ستاته ده انتهادَقیامت(علم ئې ورته حواله دې)	بې شکه ته			

يَرَوْنَهَا	يَوْمَ	كَأَنَّهُمْ ۝	يَخْشَاهَا	مَنْ	مُنْذِرُ
اووینی قیامت	ورځ چې	په هغه	نه گویا چې دوئ	چاچه یرېږي دقیامت	صرف یرونکې ئی دهغه
۝	ضُحَاهَا	أَوْ	عَشِيَّةً	إِلَّا	يَلْبَثُوا لَمْ
یا بوصبا	بیگا	مگر یو	دنیا کښ	دوئ	تیرکړې نه دې چې ، وې کیفیت دا به

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ السَّاعَةِ﴾داشکوه ده اوزجردې منکرینودقیامت ته چه دوئ استهزاء تپوس کوی چه قیامت به کله راځی﴿مُرْسَاهَا﴾مُرسی یامصدرمیمی دې پمعنی داثبات اوقیام ، یعنی راتلل دقیامت،یامُرسی ' پمعنی د'منتهیٰ' دې، د 'ارساءالسفینة' نه ماخوذ دې، یعنی لکه په سفر روانه کشتئ چې کله په کنارې لنگر اوغورځوی اومنزل مقصود راشی نودغه شان دې عالم دنیا کشتئ به کله غاړې سره لگی اوقیامت به راځی؟

﴿فِيمَ أَنْتَ مِنْ ذِكْرَاهَا﴾ داجواب دې دوئ سوال،چې دوئ داسوال ستانه بالکل بې محل دې ځکه چې ستاکار تشریعیات بیانول دی تکوینیات بیانول نه دی، اودې تعلق خو تکوینیاتو سره دې، 'فیم'او'من ذکرها' دواړه جارمجرور د یو متعلق سره متعلق دی، او خبر دی دپاره دمبتدا 'انت'. ﴿ذِكْرَاهَا﴾حذف دمضاف سره دې، اي ذکری وقتها.

﴿إِنَّمَا أَنْتَ مُنْذِرُ﴾ تفسیر ماجدی کښ دی،چې دې آیت کښ دوو خبر تعلیم میلاؤشو: (۱)یوددې چې ستاحیثیت محض دمبلغ اومنذر دې،خبرول اوپوهه کول دستا کاردې،زړه ته خبره کوزول دادستا کارنه دې،(۲)دویم داچې ستاتبلیغ اوتعلیم نه به هغه خلق اثر اخلی چې هغوئ په زړونو کښ خوف قیامت وی،اوچاسره چې خوف قیامت نۀ وی نوهغه باندې به ستاتبلیغ هیڅ اثر نه کوی.﴿كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَهَا﴾داهم دهغوئ اعتراض جواب دې مشرکینو به وئیل چې کچرته قیامت وې، نو تراوسه پورې به راغلې وې؟الله ﷻ ورته فرمائی چې قیامت شته ،اگرچې لگ مؤخر دې، اودوئ ته داموده اوس خودیره ښکاری، خوکله چې قیامت قائم شی نوبیابه ورته د قیامت داسې ښکاری لکه یوبیگا یا صبا، 'یوم یرونها'ظرف متعلق دې حال محذوفه سره "لم یلبثوا" جمله خبر ده ،د "کان"دپاره.

ركوعاتها (۱)	سورة العبس مدنية	آياتها (۴۲)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۸۰) وحسب النزول (۲۴)

نزلت بعدسورة النجم و قبل القدر

ربط: (۱) ماقبل سورة کښې دَثبوت دَقیامت اوتخويف اخروی نمونه ذکرشوه، دی سورة کښې تخويف أخروی علی سبيل الترقی ذکر دي، چه قيامت ورځ به په کافرانو دومره سختی وی چې نفسی نفسی کښې به وی. اوهرسړې به دَيوبل نه تختی.

(۲) مخکنی سورت په آخر کښې ذکروۇ چې انما انت منذر من يخشاها اودې سورت په ابتدا کښې دَدې عملی نمونه ذکرده.

خلاصه: دَمضمون په اعتبارسره دَسورة درې حصې دی:

اوله حصه ترآيت (۱۶) پورې ده ، ديکښې د انما انت منذرمن يخشاها عملی نمونی بيان دې او دَعظمت قرآن ذکر دې.

دويمه حصه ترآيت (۲۳) پوری ده، ديکښې زجر دې مشرکانو ته.

دريمه حصه ترآيت (۳۲) پوری ده، ديکښې دليل عقلی دې په ثبوت دَقيامت، بيا تر آيت (۴۲) پوری تخويف اخروی دې، بيااخرکښې بشارت اوتخويف دې (تمت).

عَبَسَ وَتَوَلّٰىٓ ۙ اَنْ جَآءَهُ الْاَعْمٰى ۙ وَمَا يُدْرِيْكَ
تَنْدِی تَنْدِی اوکړه پیغمبرﷺ او مخ یی وگرځولو، پدی وجه چه راغی ده ته ړوند. اوڅه پته ده تاته
لَعَلَّهٗ يَزَّكّٰىٓ ۙ اَوْ يَذَّكَّرُ فَتَنْفَعَهُ الذِّكْرٰى ۙ اَمَّا مَنِ
چه کیدیشی هغه پاک کړی ځان یانصیحت قبول کړی نونفع ورکړی هغه ته نصیحت. هغه څوک چه
اسْتَغْنٰى ۙ فَاَنْتَ لَهٗ تَصَدّٰى ۙ وَمَا عَلَيْكَ اَلَّا يَزَّكّٰى ۙ
بی پرواهی کوی دَدین نه، نوته هغه ته متوجه کیږی. اونیشته په تاباندی څه ضررکه پاک مسلمان نشی.

وَأَمَّا مَنْ جَآءَكَ يَسْعٰى ﴿٨﴾ وَهُوَ يَخْشٰى ﴿٩﴾ فَأَنْتَ عَنْهُ تَلَهّٰى ﴿١٠﴾

او هغه څوک چې راغې تاته په منډه منډه ، او هغه يريږي . نو ته هغه نه غفلت کوې

﴿عَبَسَ وَتَوَلّٰى﴾ دا آياتونه دَحضرت عبدالله بن ام مکتوم ﷺ باره کښې نازل شوى دى قصه داسې ده چې يوځل نبى کريم ﷺ دَمشرکينو يوسردار ته دعوت ورکولو ، چې دې دوران کښې دې راغې، او دا آواز ئې لګول شروع کړو: يارسول الله ارشدني"اې دَالله رسوله خما راهنمائى اوکړه(وفي رواية موطا استدنيييعنى ماځان ته نيزدې کړه) نبى کريم ﷺ ده طرف ته توجه ورنکړه اوهغه مشرک ته ئې خپل دعوت جارى اوساتلو .اودائى ورته اوئيل يافلان !اترى بما اقول فيه باسا، اې فلانيه څه چې کوم وينا کوم، دې کښې تاسوته څه حرج ښکارى.اودې مشرک به ورته وئيل"لا"يعنى نه ښکارى،نودې باره کښې دا آياتو نه نازل شول (ترمذى. موطا امام مالک)

دلته يوڅو خبرو پيژندل ضرورى دى.

(۱)احاديثو کښې ددې واقعې صرف دومره ذکر راغلې دې، دينه علاوه څومره اضافات او زيادات دى يا بلاسنده دى اويا انتهائى ضعيف سند سره منقول دى، او دَ حديث يومعتبر کتاب کښې هم دَدې ذکر نشته ، خصوصاً دَ دې الفاظو چې "مرحبا بمن عاتبني فيه ربي" څو هډو ثبوت نشه،بلکه بعض محدثينو ورته دَموضوعى نسبت کړې دې.

(۲)ديکښې اختلاف دې چې نبى کريم ﷺ به اجتهاد کولو اوکه نه؟جمهور علماؤواقول دې چې نبى کريم ﷺ اجتهاد کړې دې،خوبيا په دې کښې اختلاف دې چې نبى ﷺ اجتهاد کښې خطاواقع شوې ده اوکه نه ،عام اصوليين دا وائى چې اجتهاد کښې ترينه خطاواقع شوې ده، اګر چې قرار پرې نه دې شوې، بلکه فوراًبذريعه وحى تنبيه شوې ده،ليکن محققينو او دَ عامو محدثينو قول دادې چې نبى ﷺ نه خطا نه ده واقع شوې،دوئ فرمائى چې څنګه دَنبى الهام اوامتى الهام کښې فرق دې،د نبى الهام قطعى وى ديکښې دَخطا احتمال نه وى،په خلاف د امتى الهام نه چې داقطعى نه وى اوپه ديکښې دَ خطااحتمال وى، نودغه شان دَنبى اجتهاد او امتى اجتهاد کښې هم فرق دې،امتى نه په اجتهاد کښې خطا کيدې شى (اګرچى خطا باوجود هم ورته يو اجر ميلاويږى،کله چې دَ اجتهاد اهل وى،اوخپل مکمل صلاحيتونو ئې پکښې

صرف کړی وی، خو د نبی اجتهاد قطعی وی . دیکښ خطا نشی واقع کیدې.نورتفصیل دپاره ئی دَاصول فقه کتابونه ملاحظه کړئ.

(۳)کوم حضرات چې وائی چې نبی ﷺ نه په اجتهاد کښ خطا واقع شوې ده. نو هغوئ داواقعه هغو واقعاتو په ضمن کښ ذکر کړې ده، چې نبی ﷺ یکښ اجتهاد کړې دې او اجتهاد کښ ترینه خطا شوې ده،دوئ وائی چې دلته نبی کریم ﷺ اجتهاد داسې اوکړو چې

(۱)ابن ام مکتوم ځماجان نثار اوحاضر باش صحابی دې .ده نه هروخت تعلیم ورکولې شم، په خلاف دَدې مشرک نه، چې دې ځما مجلس ته نه راځی. او دا موقع رانه ضائع کیږی، لهذادې مشرک ته توجه ورکړه.

(۲)اوبله داچې ابن ام مکتوم دَمجلس آدابو خلاف ورزی هم اوکړه،ځکه چې نبی ﷺ مخکښ نه دې مشرک سره خبرتروکښ مصروف وؤ،اودې په کښ مینځ راغې، او دَ نبی ﷺ خبرې ختمولو ته انتظار ئی اونکړو، او آوازونه ئی شروع کړل. او دا دَ آدابو دَ مجلس خلاف وه، نو دَ تادیب اوتنبیه دَپاره ئی ورته توجه ورنکړه.

نودې اجتهاد کښ څواعتبار سره خطا واقع شوې ده:

(۱)عاجلې اویقینی نفع باندې آجلې اوموهوم نفع له ترجیح ورکړې شوه ، دَ حضرت ابن ام مکتوم نفع عاجله اویقینی وه، په خلاف ددې مشرک نه ،چې دَده نفع غیر یقینی اوموهوم وه.

(۲)دیکښ دَغریبانو زړه ماتیدلو خطره وه.

(۳)دَصحابی طلب صادق وؤ اودَمشرک طلب غیر صادق وؤ.

(۴)مزید داچې دَمجلس آدابو خلاف کولو عذر الله ﷻ دَهغه لونړ والې بیان کړو.

کوم حضرات چې وائی چې نبی ﷺ په اجتهاد کښ خطاامکان نشته نوهغوئ وائی چې دا اجتهاد بالکل صحیح دې، دیکښ هیڅ قسم خطا نشته ،ځکه چې دا مشرک سردار وؤ،خلق دَ ده متبع او مقلدین وؤ، نو دَ ده په ایمان راوړلو سره مسلمانانو ته ډیر خیر او فائده حاصلیده، او دَ لوې فائدې په ځائ ډیرې فائدې له ترجیح ورکول اواعظم المصلحتین باندې عمل کول عین دَشریعت حکم دې، نو ځکه نبی کریم ﷺ دې مشرک ته توجه اوکړه اوصحابی ته ئی اونکړه، نودااجتهاد بالکل صحیح وؤ،البته دَغیب خبرې نورې وې،الله په علم ازلی کښ دا لیک وه چې دا مشرک به ایمان نه راوړی، نودې وجهی نه ئی نبی ﷺ ته اخبار دَغیب اوکړو چې دې پریګده، اودې صحابی ته توجه اوکړه، ځکه چې ده ته دعوت ورکولو کښ هیڅ نفع نشته.

اوآيت کښې چې کوم صورت عتاب دې نودې باره کښې محققين فرمائي چې دا عتاب على النبي نه دې بلکه عتاب للنبي دې، اوعتاب على الشئ اوللشئ کښې ډير فرق دې. د عتاب على الشئ منشأ ناراضگی وی، اوعتاب للشئ منشأ ترحم وی. لکه يو طالب سبق نه يادوی فضول گرځي نواستاد ورته غصه شي، نو دې عتاب منشأ نارضگی ده، او يوبل طالب دې چې محنت کوی ،تر ناوخته پورې ناست وی، سبق وائی، نو استاد ده ته هم غصه شي چې دا څه کوی؟ستاجسم په تاباندې حق دې، دې له لګ آرام ورکوه اوس داهم عتاب دې، خو دې سبب اومنشأ ترحم دې، نودلته هم دوه کسان وو يو معاند ،مشرک،دشمن اوبل مؤمن ،جان نثار، هر حکم منونکې، نو اوس آسانه خو دا وه چې نبی ﷺ دې دويم کس ته دعوت ورکړې وې، ليکن نبی ﷺ شدت حرص ايمان اوامت دخير د پاره گرانه لاراختيار کړه، نو دې په وجه ترحم باندې مبنی حکم ورته الله ﷻ راوليږلو.

اوبعضو وئيلی دی چې دلته هډوسره عتاب نشته بلکه دامحض حکايت حال دې،يعني دې وخت کښې چې د نبي کريم ﷺ کوم کيفيت وو ، هغې بيان مقصود دې اوتذکير دې.

﴿عَبَسَ﴾ عبس دعبوس نه دې تندې تريولو ته وائی ،اودلته ترينه مراد ناگوارئ اظهار اوبدگنړل دی،اود تولی نه مراد اعراض کول دی اوضمير دغائب نبی کريم ﷺ ته راجع دې.

﴿أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ﴾ دايامنصوب بنزع الخافض دې،اې لان جاءه الاعمى، او يا مفعول له دې، اوماقبل دواړو فعلونه على سبيل التنازع دې ته متوجه دی. الاعمى نه مراد حضرت عبدالله بن ام مکتوم دې.

کوم حضرات چې دااجتهادی خطاګڼړی هغوئ وائی چې دالطيف عتادب دې اوصيغه دغائب راوړلوکښې تلطيف دې نبی کريم ﷺ سره اوتکريم دې دهغوئ ،اوکوم حضرات چې وائی دا اجتهادی خطانه وه نوهغوئ وائی چې دامحض تذکير دې اوحکايت حال دې، او يا عتاب للنبي دې على النبي نه دې.

﴿لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ أَوۡ يَذَّكَّرُ﴾ يزکي اصل کښې يتزکي دې،اودې کښې ددی صحابیؓ کاملې نفعې طرف ته اشاره ده چې کيدی شی ستانصيحت سره ده کامله اصلاح شوې وې، "اويذکر" داهم په اصل کښې يتذکروؤ ،اوديکښې جزوی فائدی طرف ته اشاره ده يعنی خاص حکم ئې اوريدلې

وي، اوپه هغې باندې ئې عمل کړې وی «او» د مانعة الخلو دپاره دې. يعنى دادواړه حالته هم جمع کیدې شی.خو داسې نشی کیدې چې يو هم نه وې حاصل شوې.

﴿فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكْرَىٰٓ ﴾تزکيې اوتذکير دواړو باندې مرتب دې يعنى يا به ئې تزکيه شوې وه . يا به تذکير اويابه دواړه، خوبه هرصورت نفع به ورته ميلاؤشوې وه.

﴿ أَمَّا مَنِ ٱسْتَغْنَىٰ﴾يعنى کوم سړې چې ځان دقرآن اوعلوم نبوت اوهدايت نه ځان مستغنى ګنړئ ستاتوله توجه هغه ته ده.

﴿ وَمَا عَلَيْكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ﴾دهغه دايمان نه راوړلو به ستانه تپوس نه کيږي،ته ورته مه دومره پرېشانه کيږه،'ما'نافيه ده 'عليک'خبرمقدم دې او'الايزکي'مبتدا مؤخر دې.

﴿ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسْعَىٰ ﴾يعنى ابن ام مکتوم چه دهدايت او دخصال الخيرطلب کونکې دې﴿وَهُوَ يَخْشَىٰ ﴾يعنى دالله تعالىٰ نه خوف کوی،ياخوف کوی داذيت د کفارو نه ستا خوا ته راتلو کښې،ياخوف کوی په لاره کښې دغوړزيدلونه،ځکه چه ړوند ورسره نه وی چه دلاس نه ئې اونيسى ، ياخوف کوی چه ستادرس ورنه فوت نشی«روح المعانى»

كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ⑪ فَمَن شَآءَ ذَكَرَهُۥ ⑫ فِى صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ⑬
هرګزداسې مه کوه،بې شکه قرآن نصيحت دې،نوڅوک چه غواړی نصيحت دی ورنه واخلی په پاڼوعزت مندوکښې دې
مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍۭ ⑭ بِأَيْدِى سَفَرَةٍ ⑮ كِرَامٍۭ بَرَرَةٍ ⑯
چه لوړ قدروالادی پاکی دی،په لاسونودفرشتوليکونوکښې دی،چه عزت مندی دی،نيکانی دی

﴿ كَلَّآ إِنَّهَا تَذْكِرَةٌ ﴾ کلا په نيز دمحققينو په معنى د'الا'حرف استفتاح دې، اوجمهور مفسرينو په نيز ردع دې يعنى داسې انداز د دعوت مه اختياره وه،«انها» ضمير يا قرآن ته راجع دې، او مؤنث د وجهى دخبر نه راوړلې شوې دې، او يا ضمير الدعوة الى الله ته راجع دې چې مقام په دې باندې دلالت کوی.

﴿ فِي صُحُفٍ ﴾بيان دَعظمت دَقرآن دي، جارمجرور په اعتبارد محذوف متعلق صفت دي دَ
تَذْكِرَةٌ ﴾ اى كائنةٌ يا مثبتة فى صحفٍ، يا خبرثانى دي دَ﴿ إِنَّهَا ﴾(روح). مرادورنه لوحِ محفوظ دي.
يعنى دغه قرآنى آياتونه په عزت ناكو پانړويعنى لوح محفوظ كښ ثابت اوليكلى شويدى

﴿ مَّرْفُوعَةٍ ﴾يعنى مرفوعة القدردى، لوئ قدر ئى دي عند الله ، يا مرفوعة المكان دى
ځكه چه لوحِ محفوظ تحت العرش دي.

﴿مُّطَهَّرَةٍ ﴾دَهرعيب نه پاكې دى كه هغه عيب دَتناقض دې په مضامينو كښ، يا دلائلو
كمزورى ده، يا دَ شيطانانو مس كول دى.

﴿ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ﴾جمع دَسافر ده پمعنى دَ كاتب،مرادورنه فرشتې دى. دَ لوح محفوظ
نه نقل كولو په وجه دوئ ته "سفرة" اووئيل شول،يعنى داقرآنى آياتونه په لاسونو دَ كاتبانو
فرشتو كښ دى چه عزت مندى اونيكانى دى دَالله اطاعت كونكى دى، يا﴿سَفَرَةٍ ﴾جمع دَ
سافرٌ ده پمعنى دَسفير،يعنى هغه فرشتى چه دَالله ﷻ اودَانبياؤ مينځ كښ سفيرانى دى، (ابن
كثير،روح).

﴿ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ﴾ كرام يا دَ كرامة نه ماخوذ دي، پمعنى دَعزت مند . يعنى دا فرشتې دَالله
ﷻ خواه ته ډيرې عزت مندې دى،اويادَ "كرم" نه ماخوذ دي، يعنى ډيرې كريمې اومهربانې
فرشتې دى، مؤمنانو دَ پاره مغفرت سوال كوى او انسانيت دَ پاره دَ خير رسائى ذريعه
گرځيگى، "بررة" نيكوكارې دَ افعالو په اعتبار سره. يعنى دَالله ﷻ اطاعت كونكى دى، په
حديث كښ دى:الّذى يقرأالقرآن وهوماهرٌبه مع السّفرة الكرام البررة،والذى يقراء وهوعليه شاق،له
اجران(ابن كثير).

ابن كثير رحمه الله وائى دلته نه دامعلومه شوه چه حامل قرآن يعنى حافظ قرآن دپاره مناسب
ده چه دَهغه په افعالواقوالوكښ دى دَفرشتوپه شان درستگى وى.

قُتِلَ الْإِنسَانُ مَا أَكْفَرَهُ ﴿١٧﴾ مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ ﴿١٨﴾ مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ
هلاك دى شى انسان څومره ناشكره دې دكوم څيزنه الله ﷻ پيداكړيدې دې دَنطفى نه پيداكړې ئى دې

فَقَدَّرَهٗ ⑲	ثُمَّ	السَّبِيْلَ	يَسَّرَهٗ ⑳	ثُمَّ	اَمَاتَهٗ	فَاَقْبَرَهٗ ㉑	ثُمَّ	اِذَا			

نواندازه كړې ئى دې بيالار دراوتلوئى اسانه كړيده ورته بيائى مړكړى نو ئبركښ ني دفن كړى بيا چه كله

شَآءَ	اَنْشَرَهٗ ㉒	كَلَّا	لَمَّا	يَقْضِ	مَآ	اَمَرَهٗ ㉓	

دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ خوښه شي دوباره به ئى پيداكړي يقيناندې پوره كړې انسان هغه حكم چه امرورته كړيدې الله جَلَّ جَلَالُهٗ

﴿قُتِلَ الْاِنْسَانُ مَآ اَكْفَرَهٗ ﴾ديكښ زجر دې انسان كافرمتكبر ته. چې دې څنګه څان دَالله جَلَّ جَلَالُهٗ احكاماتو اوهدايت نه مستغنى ګنړى!؟دَخپل زندګى اطوارو اوحالاتو باندې غورنه دې كړې چې دې هر هر حالت كښ الله جَلَّ جَلَالُهٗ ته محتاجه دې، نوچې جسم اعتبار سره محتاجه دې نو روح اعتبار سره څنګه مستغنى كيدې شى؟

﴿قُتِلَ الْاِنْسَانُ ﴾دينه مقصود لعنت اواظهاردَناراضګئ دې ﴿مَآ اَكْفَرَهٗ ﴾ ما تعجبيه ده يعنى تعجب دې چې دومره واضحه دلائلو باوجود هم دې كفركوى.يا ما استفهاميه دې يعنى دومره دلائلو باجود كوم شى دې په كفرآماده كړو؟

﴿مِنْ اَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهٗ﴾ ديكښ دَانسان زندګئ مختلفو مراحلو بيان دې، او دا اوله مرحله ده چې دمور خيټى زندګى ده ، مفسرين فرمائى چې دلته استفهام دَپاره دَتحقير دې لكه مونږ پښتو كښ به طور تحقير چا ته وايو: ده ته اوګوره! او دَ څه نه پيدائى؟ كمافي قوله تعالى:خلق الانسان من نطفة فاذا هو خصيم مبين(سورت يٰس)حضرت حسن بصرى رحمه الله فرمائى: كيف يتكبر من خرج من سبيل البول مرتين(الزهد للامام احمد)يعنى څنګه هغه كس تكبر كوى چې دوه كرته متيازو دَلارې وتلې دې.

﴿فَقَدَّرَهٗ ﴾تقدير نه مراد(۱) دلته دَمور خيټه كښ مختلف مراحل هم كيدى شى، كوم چې سورت المؤمنون كښ ذكر دى ثم خلقنا النطفة علقة فخلقنا العلقة مضغة فخلقنا المضغة عظاما فكسونا العظام لحما. (۲)دغه شان دَ ټول اعضا اواندامونه په ترتيب سره كيخودل ترينه هم مرادكيدې شى، كمافي قوله تعالى:خلقك من ترب ثم من نطفة ثم سواك رجلا. (۳) او دينه تقدير

هم مراد کیدې شي لکه حدیث کښې راغلی،چې انسان دَ مور په خیټه کښې څلورمیاشتې تېرې کړی، نو الله ﷻ ورته فرشته رااولیږی او هغه ئې تقدیر اولیکی

﴿ ثُمَّ ٱلسَّبِيلَ يَسَّرَهُۥ ﴾دادرّوند دویمه مرحله ده چې انسان دمور خیټې نه راوځی او دنیا کښې قدم کیدی.

"السبیل" نه(۱)ځنې مفسرینودَمورخیټې نه وتلو لار مراد اغستې ده. (۲) اوځنې مفسرینو ترینه دَهدایت اوحق لاراغستې ده. (۳) اوځنو ترینه دَحصول رزق لار مراد اغستې ده. خلاصه داچې دَمور خیټې کښې پروت وی،تنګه لار وی الله ﷻ ورته آسانه کړی.دې ترینه را اوځی،بیاورله دَغذابندوبست اوکړی اودَمور تې روی،اودَقبول حق فطری استعداً پکښې هم کیدی،نوکچری په سمه تلل غواړی نوتلې شي.

﴿ثُمَّ أَمَاتَهُۥ فَأَقْبَرَهُۥ ﴾دادریمه مرحله ده چې انسان مړشي اوقبرکښې خخ کړی شي. "اقبره" اي صيره ذا قبر، باب افعال کښې خاصه دَتصيير ده، يعنی صاحب ماخذ ګرځول .يعنی دَ الله ﷻ پرې په دې حالت کښې غټ احسان دادې چې هسې په داګه ئې نه پريګدی، چې بې احترامه پروت وی،اوځاروی مرغان ئې خوری، لکه دَنورو مخلوقاتو حال دې.بلکه قبر ورله ورکړی، اوخه په احترام سره هغې کښې دفن کړې شي.

﴿ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُۥ﴾داڅلورمه مرحله ده چې بعث بعدالموت دې يعنی انسان په قبر کښې پروت وی بيا چې کله الله ﷻ قيامت قائم کول اوغواړی، نودې به دوباره راژوندې کړی.

﴿كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ ﴾"كلا"په باره کښې دلته دَمفسرينو متعدد اقوال دی. بې تکلفه قول دادې دا پمعنی دَ "الا"استفتاحيه سره دې،اوالله ﷻ ګله کوی دَانسان نه چې دومره احساناتو باوجود ده دَ الله ﷻ حکم لا تر اوسه نه دې منلې.

ځنې مفسرين فرمائی چې ﴿كَلَّا ﴾ خپلې معنی ردع دَپاره دې، خو ماقبل کښې ظاهراً صراحتاً څه داسې شې نشته چې دا ورله ردع اوګرځی، نودې وجهې نه مفسرينو دَدې متعدد توجيهات ذکر کړی دی:

(۱)دامخکښې آيت ثم اذا شاءانشره باندې دَمنکرينو دَبعث الموت اشکال نه ردع ده، هغه اشکال دادې چې داڅلورمراحل ذکر کړی شو، دې کښې اول درې مرحلې زمونږ په مشاهده

کښ دی او مونږ ئې منو. خو دا ځلورمه مرحله خو مونږ اونه لیدله .کچرته دا هم برحق وی نو اوسه پورې څومره مړی اوشول. څوک خوبه ژوندې شوې وې؟ نو الله ﷻ ورته فرمائی چې داسې خبره نه ده چې تاسو کوئ. بلکه بعث حق دې خو وقوع خکه نه کیږی چې لاتر اوسه پورې ورته دَالله ﷻ حکم نه دې شوې

(۲)ځنې مفسرین فرمائی چې دادَمابعد یعنی ﴿ لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُۥ﴾نه ردع ده، یعنی انسان که ډیر اووائی چې مادَالله ﷻ حق اداکړې دې خونه دې کړې (التحریر والتنویر)

فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ ﴿٢٤﴾ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ صَبًّا ﴿٢٥﴾ ثُمَّ شَقَقْنَا							
پس اودې ګوری انسان خوراک خپل ته. چې مونږ راتوئی کړې اوبه څه ډیرې بیا مو اوشلوله ځمکه په ناآشنا							
ٱلْأَرْضَ شَقًّا ﴿٢٦﴾ فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا ﴿٢٧﴾ وَعِنَبًا وَقَضْبًا ﴿٢٨﴾ وَزَيْتُونًا							
طریقې	سره،نورازرغون	موکړه په دې کښ غلهدانې	اوانګور	اوسبزیانې	اوزیتون		
وَنَخْلًا ﴿٢٩﴾ وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴿٣٠﴾ وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا ﴿٣١﴾ مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ ﴿٣٢﴾							
اوکجوری	اوباغونه	ګڼړ اومیوی	اوګیاه لپاره	دفائدی	ستاسو	اودځناورستاسو	

﴿فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَٰنُ ﴾دادلیل عقلي آفاقی دې په ثبوت دَقیامت، چې انسان دې خپل طعام باندې غوراوکړی نوده ته به معلومه شی چې الله ﷻ ته د ده دوباره پیدا کول هیڅ ګرانه نه ده، یعنی باران اوشی،دَهغې اوبه تخم سره میلاوې شی تخم ډډ شی. نو په ځمکه باندې بوټې را شین شی، نو کوم ذات چې ځمکې کښ دننه پروت تخم نه تک شین تروتازه بوټې باهر په ځمکه راوباسلې شی هغه تاسوهم دوباره پیدا کولې شی.

﴿ أَنَّا صَبَبْنَا ٱلْمَآءَ ﴾بدل دې ﴿ طَعَامِهِۦٓ﴾نه، ﴿حَبًّا ﴾ نه مرادغنم،جوار،روجې وغیره ده

﴿وَقَضْبًا﴾ تازه سبزیانو ته وائی، دغه شان هغه چه بغیر دَ پخولونه خوړلې کیږی.لکه مولئ. ګاجری، پیاز، وغیره. مقصودورنه سرکاریانې دی، یا شنو وابښو ته وائی.

﴿وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ﴾ غلبا جمع دَ اغلب وغلباءده، اصل کښ غت سټ ته وئیلی کیږی.اودلته نرینه مقصود تشبیه ده دَباغونو په لوئ والی دَغټو سړو سره، یعنی لکه څنګه دَغټ ستی

سري په سټ کښې پرسيدلې رګونه ښکاري دهغه شان دې باغونو شاخونه هم په ګڼو ولې داسې ښکاري

﴿ وَأَبًّا ﴾ دَ څناورشنې ګياه ته وائي. بعض وائي بوسوته وائي. دابوبکر رضي الله عنه ددې لفظ د معنی باره کښې سوال اوکړې شونو اوئې فرمائيل:ای سماء تظلنی وای ارض تقلنی اذاقلتُ فی کتاب الله مالااعلم،دغه شان دَحضرت عمر رضي الله عنه نه هم دې باره کښې توقف راغلې دې اوفرمائيلې دي چه الله تعالیٰ مونږ دَ دې دَمعنی مکلف کړي نه يو ،بلکه دَقرآن په کوم مطلب چه پوهه شئ په هغې عمل اوکړئ اوچه په کوم نه پوهيږئ الله تعالیٰ ته ئې حواله کړئ(روح المعاني).

مفسرين فرمائي چې دينه مقصود دَدې حضراتو دَقرآن معاني معلومولونه منع کول مراد نه وو، بلکه په دې خبرې تنبيه کول وو چې اصل مقصد عمل دې.چې انسان دآيت په مدعا باندې پوه شي، اوبيا ورله يودوه الفاظو معنی نه ورځي، نودَهغې تحقيق کولو نه اول په آيت مدعاباندې عمل ضروري دې، اوبل داچې بې جاتعمق نه منع کول دی،ځکه چې "اب"معروف بوټې دې، اوعرب شعروشاعرئ کښې هم استعمال شوې دې،نودانشې کيدې چې داحضرات دَ دينه ناواقفه وو،بلکه دَخاص نوع،شکل او جنس تحقيق کولونه منع کول دی. چې داد آيت مطلب کښې مفيد نه دې.(تفسير القرضاوي لجزعم)

﴿مَّتَٰعًا لَّكُمْ﴾ مفعول له دې يامفعول مطلق ای متعکم بذلک متاعًا.

فَإِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴿٣٣﴾	يَوْمَ يَفِرُّ الْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾	وَأُمِّهِ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾	
نوکله چه راشي سخت اواز(قيامت)	پدغه ورځ به تختي هرسړې دَوروررخپل	نه اودَمورنه اودَپلارنه	
وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾	لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ	شَأْنٌ	يُغْنِيهِ ﴿٣٧﴾
اودَښځې خپلې نه اودَځامنوخپلونه	دَهرکس به دَدوئ نه پدغه ورځ	داسې حال وي	چه بې پرواه کړې به ئې وي دَبل نه

﴿فَإِذَا جَآءَتِ الصَّآخَّةُ ﴾داتخويف اخروي دې اودعوه دسورة پکښې مذکورده علی سبيل الترقي دَماقبل سورة نه، "صاخة" تيز او غوږونه کنړونکې اوازته وائي،بعض مفسرين وائي دا دَقيامت نوم دې اوځنې مفسرين فرمائي چې دينه مراد نفخهٔ ثاني ده، جواب دَ"اذا"محذوف

دي اى اشتغل كل واحدٍ بنفسه،يعنى چه كله نفخهٔ ثانى اووهلي شى. قيامت راشى نوهرسړي سره به دَخپل ځان غم شى. دَ ورور، اومور، پلار، ښځى، ځامنو نه به تختى

دَام المؤمنين عائشه ﷺروايت كښ دى چه حضورﷺاوفرمائيل چه دَقيامت په ورځ به دَ خلقو حشر ابلى خپى، بربنډ، ناسنته كيږى، حضرت عائشه ﷺعرض اوكړوچه داخوبه خلق يو بل ته ګورى، حضورﷺاوفرمائيل دابه دومره سخته ورځ وي چه خلقوته به هوش نه وى، هر سړي په دَخپل ځان په فكركښ مشغوله وى، عكرمهﷺوائى ميدانِ حشركښ به يوسړي دَ خپلى ښځى سره ميلاؤشى ورته به اووائى آياځه ستاخاوندنه ووم؟ هغه به اقراراوكړى اوښه مدح به ئي اوكړى چه ته ځماډيرښه خاوندوى،خاوندبه ورته اووائى ماته دَخپلونيكونه صرف يوه نيكى راكړه، كيدې شى چه ماته پرې نجات ميلاؤشى، ښځه به ورته اووائى تاځمانه دَ ډير اسان ځيز مطالبه اوكړه ليكن پوره كولې ئى نه شم ، ځكه څه هم دَ هغه ځيزنه يريږم كوم نه چه ته يريږى،دغه شان به يوسړي ځوى سره ملاؤشى، دَ يوې نيكى مطالبه به ورنه اوكړى، چه څه صرف يوې ذرې نيكئ ته محتاج يم،ماته راكړه، كيدې شى ماته نجات ملاؤشى ليكن ځوې به هم ورته دغه شان جواب وركړى(ابن كثير).

پدې وجه به هرسړي دَقيامت په ورځ دَخپلوخپلوانونه تختى. چه مانه دَځه نيكى مطالبه اونكړى،بعضِ وائى پدى وجه به تختى چه دَحقوقومطالبه اونكړى، مثلاًورورېه ورته وائى تاماسره ځماپه غم كښ همدردى نه وه كړې،مورپلاربه ورته وائى تاځمونږپوره خدمت نه وؤ كړې، بى بى به ورته وائى تاماباندې حرام خوړلى وو،دا كار او دا كار دې كړې وؤ،ځامن به ورته وائى تامونږته تعليم اودينى تربيت نه وؤكړې(روح المعانى).

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴿٣٨﴾ ضَاحِكَةٌ مُّسْتَبْشِرَةٌ ﴿٣٩﴾ وَوُجُوهٌ

څنى مخونه به پدغه ورځ روښانه وى،خنديدونكى به وى خوشحالى كونكى به وى،اوځنى مخونه به

يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا غَبَرَةٌ ﴿٤٠﴾ تَرْهَقُهَا قَتَرَةٌ ﴿٤١﴾ أُولَٰئِكَ هُمُ الْكَفَرَةُ الْفَجَرَةُ ﴿٤٢﴾

پدغه ورځ كښ پرته به ورباندې وى دوړه،خوربه وى ورباندى توروالي،داكسان هم دوئ كافران فاجران دى.

﴿ وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ مُّسْفِرَةٌ ﴾مؤمنانوته بشارت اخروى دې،چه دَدوئ مخونه به دقيامت په ورځ روښانه، خنديدونكى، خوشحاله به وى.

﴿ وَوُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ عَلَيْهَا ﴾تخويف اخروي دي كافرانو فاجرانو ته. چه ددوئ مخونو باندي به د قيامت په ورځ غبار كدورة وي، دَ ډيرغم پوجه به ورباندې توروالې خور وي. چه داډير اوحش اوقبيح هيئت دې.

﴿ غَبَرَةٌ ﴾ او ﴿قَتَرَةٌ ﴾كښې متعدد اقوال دي:

(١)بعض وائي چې دواړه يوشې دې غبارته وائي.

(٢)ځنې مفسرين فرمائي چې ﴿ غَبَرَةٌ ﴾ نه مرادغبار دې او﴿قَتَرَةٌ ﴾نه مراد دَغم اوپريشانئ اثرات په مخ اوتندي تريوالې دې

(٣) او بعض وائي﴿ غَبَرَةٌ ﴾ هغه دوړې ته وائي چه دَبرې نه زمكې ته راكوزيږي،او﴿قَتَرَةٌ ﴾ هغه دوړې ته وائي چه دَ زمكې نه بره خيژي نومطلب دادې چه لاندې باندې به دوړوكښ راګيروي نعوذبالله.

ركوعاتها (۱)	سورة التكوير مكيّة	آياتها (۲۹)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۸۱) وحسب النزول (۷)

نزلت بعد سورة اللهب و قبل الاعلى.

ربط: مخکني سورت کښ دَقیامت هولناکئ بیان وؤ، چي یوم یفر المرا من اخیه. اوس دي سورت کښ علی سبیل الترقی بیان دي چي علمت نفس ما احضرت هر کس ته به دَهغه اعمال نامه ورکړې شی او جنت یا جهنم ته به روان شی.

خلاصه:

آیت ۱ نه تر ۱۴ پورې دولس حوادثو دَقیامت بیان دي، اولنو شپږو تعلق نفخه اولی سره دي او نورو شپږو تعلق نفخه ثانیه سره دي،

آیت ۱۵ نه تر ۲۵ پورې دَقرآن او نبی ﷺ دَرسالت حقانیت اثبات کیږی،

آیت ۲۶ نه تر آخر پورې زجر دي.

إِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ ۝ وَإِذَا النُّجُوۡمُ انۡكَدَرَتۡ ۝ وَإِذَا الۡجِبَالُ سُيِّرَتۡ ۝
کله چه نمر راغوندکړې شی. اوکله چه ستورې په غورځیدو شی. اوکله چه غرونه روان کړیشی (والوځولي شی)
وَإِذَا الۡعِشَارُ عُطِّلَتۡ ۝ وَإِذَا الۡوُحُوۡشُ حُشِرَتۡ ۝ وَإِذَا الۡبِحَارُ سُجِّرَتۡ ۝
اوکله چه دلسو میاشتو اوښې پریخودلي شی. اوکله چه وحشی خاور راجمع کړیشی. اوکله چه دریابونه ته اوور ورکړی شی.

﴿ إِذَا الشَّمۡسُ كُوِّرَتۡ﴾ دا شپږ حالات او حوادث دی دَقیامت دَنفخهٔ اولی نه قبل، دا اوله حادثه داده چه دَ نمر والا رنړا به ختمه شی.

'تکویرٌ' ګول راغونډه ولو او انغښتلو ته وائی، کتکویر العمامة، په حدیث کښ دی: نعوذبالله من الحور بعد الکور، یعنی دراغوندیدلو او اتفاق نه ورستو دَ بې اتفاقئ نه پناه غواړو. بعضو ترینه

دلته مراد ازاله اغستې ده، يعنې نمر به لرې کړې شي ځکه چې بوشی کله خلق لرې کوی نو اول ئې راټول کړې او بيائې لرې کړې،(۲)اوبعضوترينه بې نوره کول مراد اغستې دی

﴿وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتْ﴾دادويمه حادثه ده،چه کله ستورې خواره واره شي اوغورځيږي

"انکدار" اصل کښې انصباب،بهيدلوته وائي، دَقيامت په ورځ دَباران په شان ستورې دَاسمان نه او وريږي،يوستورې به هم په اسمان کښې پاتې نه شي، بعضو "انکدار"دَ "کدر"نه اغستې دې په معنى خړکيدلو اوبې نوره کيدلو سره،اودامطاوع دې،دَ"کورت"يعنى نمر چې راټول کړې شي نو ورسره به ستورې هم بې نوره شي.

﴿وَإِذَا ٱلْجِبَالُ سُيِّرَتْ﴾دادريمه حادثه ده چه غرونه به دَخپل ځائ نه والوځي.په هواکښې به ذرې ذرې خواره شي:کماقال تعالى:وترى الجبال تحسبهاجامدة وهي تمرّ مرّ السحاب.

﴿وَإِذَا ٱلْعِشَارُ عُطِّلَتْ﴾داځلورمه حادثه ده، "عشار"جمع دَ"عشراء" ده،هغه حامله اوښه چه لس(۱۰)مياشتوته رسيدلې وي،دَ قيامت دَسختئ په وجه به دوئ بيکاره پريخودلې شي، حالانکه عربو ته د دې نه بل محبوب څيز نشته دې،دابه ډيرقيمتي څيز وؤ. تر وضع حمل پورې به مالك ورنه، نه جداکيدلو.چونکه اکثرمال اوعيش دَ عربو دَ اوښانونه وؤ،پدې وجه دَ دې ذکر به طورِ خاص اوشو،ورنه مقصودهرڅيزپريخودل دی، اوخپل ځان باره کښې په غم کښې اخته کيدل دی.

بعضو مفسرينو دااحتمال هم ظاهر کړې دې چې دلته "العشار"نه وريځې واغستلې شي، ځکه چې اهل عرب داوبونه ډکو وريځو باندې"عشراء"او"العشار" اطلاق کوي،او"عطلت" مطب به داشي چې باران نه به وروي،اوديکښې اشاره ده چې قيامت ته قريب به سخت قحط راځي، چې دې سره به خلق اوځناور هلاک کيږي.

﴿وَإِذَا ٱلْوُحُوشُ حُشِرَتْ﴾داپنځمه حادثه ده، "حشرت" نه مراد يا جمع کيدل دي چه وحشي ځناور به ځنګل او غر پريدي، آبادئ طرف ته دَپناه اخستلولپاره به راجمع شي، وحشيت به ئې ختم شي، خپل ځان بچ کولو باره کښې به ورسره خوف وي، لکه اوس هم دا مشاهده ده چه ځنګل کښې سيلاب راتلوسره دوئ ابادئ طرف ته منډې وهي،"انسانانوته څه نه وائي، علامه عثمانى رحمه الله ليکلي دی چه يوځل هندوستان کښې سيلاب راغې ، خلقو اوکتل

چه لوئ چهپراوبه اوړی، اوپه هغه باندی سرو ،خناور ،مارانوخانونه کلك نیولی وؤ. یوبل ته نی هیخ نه وئیل ،نفسانفسی وه

بعضو مفسرینو دَحشرت معنی مړه کیدل کړیده ،یعنی کله خناورمړه شی .بعضونی معنی دَ قصاص دپاره دَراژوندی کیدوکړیده ،لکه سورة النباء کښ تیردی. خو دا احتمال ضعیف دې

﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ ﴾دا شپږمه حادثه ده. تسجیر دوه معنې دلته مفسرینو بیان کړی دی: (۱)ایقاد ،یعنی دریابونه گرم شی اواوبه ئې وچې شی او دې په خائ پکښې اور پیدا شی (۲) بعضو ئې معنی تفجیر سره کړې ،یعنی الله ﷻ دریابونه په مینځ کښ پردې ایخیدی، خوگ اوتریخ جداجدا روان وی، قیامت ته نیزدې به داختم شی اویوغټ دریاب به ترینه جوړ شی.

وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ ۞ وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ ۞ بِأَىِّ ذَنۢبٍ
اوکله چه خلق جوړه جوړه تقسیم کړې شی.اوکله چه ژوندئ خخه کړې شوې جینئ نه تپوس اوکړیشی. چه په کوم گناه
قُتِلَتْ ۞ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ ۞ وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ ۞ وَإِذَا ٱلْجَحِيمُ
قتل کړې شوې وه.اوکله چه عملنامی کولاؤکړې شی.اوکله چه اسمان نه پوستکې اوباسلې شی.اوکله چه جهنم
سُعِّرَتْ ۞ وَإِذَا ٱلْجَنَّةُ أُزْلِفَتْ ۞ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّآ أَحْضَرَتْ ۞
گرم کړې شی.اوکله چه جنت نیزدې کړې شی پوهه به شی هرنفس په هغه عملونوچه حاضرکړی ئې وی.

﴿وَإِذَا ٱلنُّفُوسُ زُوِّجَتْ﴾دا نفخه ثانیه نه ورستو اوله حادثه ده. ددې آیت مفسرینو متعدد توجیهات کړی دی:

(۱)النفوس نه مراد خلق دی، او زوجت نه مراد جوړه جوړه کول او جماعتونو کښ تقسیمول دی، یعنی قیامت په ورځ به خلق مختلف جماعتونو اوصنفونو کښ تقسیم کړې شی لکه سورت الواقعه تیردی: وکنتم ازوجاثلثة،اودابه درې جماعته اوصنفه به وی:(۱) السابقون(۲)اصحٰب المیمنة (۳)اصحٰب المشئمة.

(۲)ځنی مفسرین فرمائی چې النفوس نه مراد خلق دی. او زوجت نه مراد ضم کول دی او میلاوول دی ، یعنی هر سړی به خپل هم مثل سره ضم کړی شي. مؤمنان د مؤمنانو سره. کافر به کافرانو سره ،زانی به زانیانو سره، ذاکر به د ذاکرینو سره...

(۳)اوځني مفسرین وائی چې النفوس نه مراد ارواح دی او زوجت معنی بدنونو سره میلاول دی، اود روح د بدن سره نفس تعلق اگر چی د مخکښ نه وی خو ډیر ناقص وی. او دا میلاول به داسی وی چې دې سره حیات کامله په بدن کښ راشی. دې نه علاوه نورجیهات هم شته دی،

﴿وَإِذَا ٱلْمَوْءُۥدَةُ سُئِلَتْ﴾دادویمه حادثه ده د قیامت د ورځ. د ژوندئ خخه کړې شوی جینئ نه تپوس کول به د تبکیت د قاتل دپاره وی، لکه د عیسی علیه السلام نه به تپوس د پاره د تبکیت د عیسایانو وي، یا موؤدی ته نسبت مجازأ دې،مقصوددادې چه دی باره کښ به تپوس کولې شی چه داپه کوم جرم قتل کړې شوی وه.

فائده: عربو په زمانه جاهلیت کښ خپلې لونړی خخه ولې، چاسره به ئی د رزق فکر وؤ، نو ځکه به ئی قتل کړی،اوچابه عار گنړلو.

بعضو به عین پیدائش په وخت کښ ژوندئ خخه ولې، او هغه داسې چې کله به ولادت ایام قریب شو،نو یوه کنده به ئی اوکنسته له،اوښځه به ئی د هغې په غاړه کینوله،کچرته اولاد نارینه پیدا اوشو،نو داینړی به راونیولو،اوکه جینئ به وه نو هغې کندې ته به ئی او غورځوله.

اوځنو طریقه کار داوؤ چې کله جینئ به د شپږ کالوشوه،نومورته به ورله اونیل چې دا خائسته کړه اوخوشبو ورباندې اولگوه، څه داسخرگنئ خواله بوزم، نو صحراته به ئی بوتله اوهلته به ئي خخه کړه(روح مختصرا)

﴿ وَإِذَا ٱلصُّحُفُ نُشِرَتْ ﴾داریمه حادثه ده، یعنی عملنامی به کولاؤ شی دپاره د حساب، یا دا معنی ده چه تقسیم کړې شی د خلقو مینځ کښ.

﴿وَإِذَا ٱلسَّمَآءُ كُشِطَتْ ﴾ داځلورمه حادثه ده د قیامت د ورځ، کشط په اصل کښ د ذبح کړې شوی ځناورنه څرمن اوباسلوته وائی.اودلته ترینه مراد ازاله ده یعنی بالکل به لرې کړې شی،ابن عاشور رحمه الله فرمائی چې حساب څوپورې نه وی شوې نوترهغه وخت پورې به آسمان

شلېدلې قائم وی، خو چې کله حساب کتاب ختم شی نو دا به بالکل لرې کړې شي. او مراد د "کشط" نه انکشاف او جوړ بدل دی خو دا بیا نفخه اولی د حالاتو نه دي، السجرت والتکویر

﴿وَإِذَا الْجَحِيمُ سُعِّرَتْ﴾ د جهنم اور به تېز کړې شی لکه به سوزې کېږي چه اور لړولې او وهلې شی او اور تېز شی د جهنمیانو د راتللو د پاره

﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ﴾ جواب د "اذا" دي، یعنی کله چه دا حالات راشي، نو هر انسان ته به هغه عملونه حاضر شی، چه د دنیا کښې ئې کړی وو، نو ده ته به معلومه شي چه ما سره څومره د خیره د نیک عمل ده او څومره د بد عمل ﴿مَّآ أَحْضَرَتْ﴾ مراد ورنه نیک او بد اعمال دی، حاضر بدلو نه مراد یا حاضریدل د عملنامو دی، یعنی عمل نامې به حاضرې شی، یا به هر عمل صورتًا حاضر شی، یعنی مجسم به شی

فَلَآ أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ ۝ الْجَوَارِ الْكُنَّسِ ۝ وَالَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ۝

پس ځما دی قسم وی په ستورو واپس کېدونکو سیدا تلونکو پټېدونکو باندی او قسم به شپه کله چه خوره شی

وَالصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ۝

او په سهار کله چه ساه اخلی

﴿فَلَآ أُقْسِمُ بِالْخُنَّسِ﴾ «الخنس»، «الجوار» او «الکنس» درې واړه صفات دی د ستورو،

"الخنس" جمع ده د "خانس" یا "خانسة"، د "خنوس" نه ماخوذ دي، په معنی د پټېدلو او اختفاء سره

"الجوار" اصل کښې "الجواري" وو، یاء تخفیفا حذف شوې ده، جمع ده د "جارية"، او ماخوذ دي د "جري" نه، په معنی د منډو وهلو سره

"الکنس" جمع ده "کانس" یا "کانسة"، دا هم پټېدلو ته وائی، خو "کنوس" او "خنوس" کښې فرق دا دي چې "خنوس" کښې د مقابل د نظر نه پټ کېدل وی خو بغیر د ځه سهارې نه، یعنی کور ته داخلیدل یا ونې یا کاڼی شاته پټېدل نه وی، بلکه هسې د هغه نظر نه ځان پټ کول وی، او "کنوس" د ځه شی په سهارې پټېدلو ته وائی، ځکه چې دا "کناس" نه ماخوذ دي، او کناس د

ځاروی هغې پناه ګاه ته وائی چې ونوبوتو ځانګو نه ئی ځان له جوړه کړې وی .عرب وائی کنس الوحش اذادخل في كناسه.

(۱)نوځنی مفسرین فرمائی چې داستورو مختلف حالاتو بیان دې اوتشبیه ئی ده هوسئ سره . "الخنس"داستورو دَ ورځې حالت بیان دې، چې دا په مطلع باندې موجود وی خونظر کونکی ته نه ښکاری ، نو دا داسې شو لکه چې هوسئ بغیر دَخه شی پناه اغستلو ځان دَ ښکاری دَ نظر نه بچ کړی. "الجوار"دائی مابنام وخت کښ دَظهور کیفیت بیان دې چې کله مابنام شی نو یو یوستورې په مطلع کښې ښکاره کیږی، او لیدونکی ته داسې ښکاری لکه چې دا روان وی، نوداسی شوه لکه هوسئ چې منډې وهی "الکنس"دائی دَسحر کښ پناه کیدوحالت بیان دې، یعنی چې کله سحر شی نو دا ستوری داسې معلومیږی لکه چې ډوبیږی، نودې تشبیه هغه هوسئ وسره ورکړه چې ښکاری نه بچ کیدو دَپاره خپل کورته داخله شی(التحریر والتنویر)

(۲)ځنی مفسرین فرمائی چې دادکواکب خمسه متحیره زحل ،مشتری،مریخ ،زهره ، عطارد اوصافو بیان دې، او"الخنس"پمعنی "رواجع" سره دې، او دا سیارې هم نیغې روانې وی، بیا را واپس شی او بیا ځی ځی تردې چې خپل مطلع کښ ډوبې شی. (جواهر،ماجدی)

(۳)بعض معاصر علماؤ ددې مصداق هغه ستوری ګرځولې دی چې جدید تحقیق مطابق هغه دَ فضادَ صفائی کار ورکوی،دې ستوروته عربئ کښ "الثقوب السوداء"وائی،چونکه دا ډیر تیزرفتارئ سره حرکت کوی، اونه ښکاری نودې وجهی نه ورته،((الخنس الجوار)) اوئیلی شو، او دا دَفضا صفائی کارورکوی،غبار،ګند،بلکه هرشې چې دوئ طبقې ته داخلیږی هغه ختم کوی اوصفایه ئی کوی،نودې اعتبارسره ورته ((الکنس)) اوئیلی شو ، ((الکنس)) په معنی دَ جارو کولو او صفا کولو سره کلام عرب کښ استعمالیږی. دا توجیه اګرچې متحمل ده خو تفسیر دَ آیاتو صرف په دې مبنی نه دې.

﴿ وَٱلَّيْلِ إِذَا عَسْعَسَ ﴾"عسعس"دَاضدادونه دې،پمعنی دَ"اقبل"هم راځی،یعنی مخ را اوګرځوی،یعنی تیاره ئی خوره شی، او دغه شان پمعنی دَ"ادبر"هم راځی،شاه اوګرځوی،یعنی لاړه شی. ﴿ وَٱلصُّبْحِ إِذَا تَنَفَّسَ ﴾ساه واخلی یعنی روښانه شی.

جواب قسم باره كښې دوه قوله دي.دحضرت شيخ غلام الله خان رحمه الله رائې داده چې جواب قسم محذوف چې هغه لتركبن طبقاعن طبقدي.اوپه دې دليل دسورت الانشقاق داآيتونه دي فلااقسم بالشفق، والليل وما وسق، لتركبن طبقاعن طبق.

اوقسم اوجواب قسم كښې مناسبت داديچې داقسم شاهد دې په بعث بعدالموت ، او د هغې نه ورستو مختلفو حالاتو باندې، اوهغه داسې چې لكه څنګه دستوررومختلف حالات دي چې نيغ روان دي،بياراوابس شي اوپټ شي دهغه شان تاسوبه هم دژندګئ مسافت مخ په وړاندې تيرلو نه بعد به خپل آخرى منزل ځمكې ته راګرځئ، او د ژندګئ چراغ خو به مړيږي. او څنګه چې شپه اوورځ كښې او د دې مختلفو حصوحالاتو كښې فرق دې دغه شان به تاسو هم مختلف حالاتو سر مخه كيږي.

اوعام مفسرين فرمائى چې جواب انه لقول رسول كريم دې.اودې تقدير باندې قسم او جواب قسم كښې مناسبت دا ذكر شوې دې چې څنګه دستورو مختلف حالات دي، كله پټ كله څرګند وي،كائنات كښې كله شپه كله ورځ وي، نودغه دې قرآن په باره كښې باوجود دينه چې دابرحق كتاب دې، د خلقو مختلف طرزعمل دې،ځنې ترينه راندہ دي، اوځنو نه ورته هدايت حاصل دې،ځنې دجهالت په تيارو كښې سرګردانه ګرځي،اوځنې ددې دهدايت په رڼا كښې ژندګى تيره وي.(اضواءالبيان)

إِنَّهُ لَقَوْلُ رَسُولٍ كَرِيمٍ ﴿١٩﴾ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ﴿٢٠﴾
بې شكه داقرآن خامخاقول درسول عزت مندديخاونددقوة دي دعرش دخاوند(دالله)په نيزمرتبې والادې
مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴿٢١﴾
خبره منلې شويده دده هلته،امانت داردې

﴿إِنَّهُ﴾ ضميرراجع دې قرآن ته او دقرآن حقانيت بيان دې﴿ رَسُولٍ ﴾نه مراد جبرئيل عليه السلام دې، چونكه دې واسطه او ناقل دې د الله تعالى د طرفه نه ، نو ځكه ورته نسبت د رسول اوشو ، نو مطلب دادې چه قرآن دالله تعالى كلام دې په واسطى دجبرئيل عليه السلام سره حضور ﷺ ته وحى كيږي. بيا الله تعالى درسول پنځه صفات بيان كړو.

﴿ كَرِيمٍ ﴾دا اول صفت دي يعنى شريف او معزز دي ﴿ذِى قُوَّةٍ ﴾دا دويم صفت دي "قوت" د معنى حقيقى اعتبار سره په مقابله د "ضعف" كښې راځى، او كله مجازاً په مقابله د "كبراهټ" اوېره كښې استعماليږى، لكه يايحى خذ الكتاب بقوة، او دلته دواړه معنې مراد كيدې شى، نو اولې معنې اعتبار سره مطلب دا دې ډېر لوئ قوت والا دې، غټ غټ كارونه په يواځې ځان كولې شى. نو دا دسفارت كار په مابين د الله ﷻ او دهغه رسول كښې هم ډېر په ښه طريقې سره كوى. او دويمې معنې اعتبار سره به مطلب داشى چې الله ﷻ كلام رسول الله ﷺ ته بيانولو حالت كښې ده باندې څه كبراهټ نه راځي، چې هغې دَوجهې نه پيغام واضح اونه رسوى، او ياترينه پكښې څه حصه پاتى شى، څكه چې كبراهټ اود يرې دَوجهې نه ځنې وخت سړې ډېر څه ونيل غواړى خو اونه وائى.

﴿عِندَ ذِى ٱلْعَرْشِ ﴾دا ئى دريم صفت دې يعنى دَ الله ﷻ په نيزچه خاوند دَعرش دې، لويه مرتبه ئى ده. ﴿ مُّطَاعٍ ﴾دا ئى خلورم صفت دې، يعنى فرشتى ئى اطاعت كوى خبره ئى منى، بقول والد محترم رحمه الله چه شاه منصور باباجى رحمه الله بهوائى چه دَفرشتو صدر اعظم دې.

﴿ثَمَّ ﴾ظرف دې او اشاره ورسره كيږى مكان بعيد ته، او دلته اشاره ده عرش الهى ته . او دې تعلق يا ماقبل "مطاع" سره دې، او مطلب دا دې چې عرش الهى كښې هم مطاع دې، يعنى دَ عرش الهى مقربې فرشتې هم دده اطاعت كوى، او يائى تعلق مابعد سره دې يعنى بارگاه الهى كښې دې امانت داره دې. ﴿ أَمِينٍ ﴾پنځم صفت دې دَرسول.

وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴿٢٢﴾ وَلَقَدْ رَآهُ بِالْأُفُقِ الْمُبِينِ ﴿٢٣﴾ وَمَا هُوَ

اونه دې ملگرې ستاسوليونې او يقيناً ده ليدلې دې جبرئيل عليه السلام په كناروښكاره دَاسمان او نه دې دې

عَلَى الْغَيْبِ بِضَنِينٍ ﴿٢٤﴾ وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَانٍ رَجِيمٍ ﴿٢٥﴾ فَأَيْنَ

په بيانولو دَغيب كښې بخل كونكې او نه دې قرآن قول دَشيطان رټلى شوى نو كوم طرف ته

تَذْهَبُونَ ﴿٢٦﴾ إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِينَ ﴿٢٧﴾ لِمَن شَاءَ مِنكُمْ

ځئ تاسو نه دې دا قرآن مگر نصيحت دې لپاره دَخلقو لپاره دهغه چاچه غواړى ستاسو نه

أَنْ يَسْتَقِيمَ ﴿٢٨﴾ وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٩﴾

داچه په سمه لاره لاړشي. اونه شئ خوښه ولي تاسومګرداچه خوښه سي دالله ﷻ چه رب دي دخلقو

﴿ وَمَا صَاحِبُكُم بِمَجْنُونٍ ﴾دازجردي مشرکانو ته.اودهغوئ یو څواعتراضاتوجوابونه دي، اول اعتراض دَ هغوئ دا وو چې نبی کریم ﷺ دَ بعث بعدالموت خبرې کوی. دا دَ لیونتوب خبرې دی ، او دې نعوذبالله مجنون دې ، نو الله ﷻ ورته بطور زجر جواب ورکوی چې حضورﷺچه تاسو سره ئی څلویښت کاله تیرکړي دي ، تاسو ئی دَ اخلاقو. دَ عقل. دَ صدق په خپله معترف وئ ، نو اوس څنګه مجنون شو. بلکه ده ته مجنون وئیل دا د احمق او مجنون کار دې.

﴿وَلَقَدْ رَءَاهُ بِٱلْأُفُقِ ٱلْمُبِينِ﴾دا ئی دویم اعتراض جواب او ورستونی آیت دَ پاره تمهید دې.

مشرکینو به وئیل چې نبی کریم ﷺ ته نعوذبالله نه فرشته راځی او نه ده فرشته اوجبرئیل ؑ لیدلې دې، بلکه چرته ئې جنی لیدلې دې نو ګمان ئی پرې دَفرشتې کړې دې. الله ﷻ ډیر په تاکید سره دَدوئ قول رد کوی چې دې نبی خه په کهلاؤ افق دَ آسمان کښې جبرئیل ؑ لیدلې دې اويقيناً چې ئی لیدلې دې. "راه"کښې ضمیر مرفوع نبی کریم ﷺ ته اوضمیر منصوب جبریل ؑ ته راجع دې.

﴿وَمَا هُوَ عَلَى ٱلْغَيْبِ ﴾ دادَمشرکانو یوبل اعترض جواب دې چې نبی کریم ﷺ نعوذبالله نبی نه دې بلکه کاهن دې، نو الله ﷻ ورته بطور زجر جواب ورکوی چې دې هرګزکاهن نشنی کیدلې، کاهن اوده کښې ډیر فرق دې: (١) کاهن کښې د کتمان ماده وی ،هغه خبرې بغیر دَاجرت نه چاته نه خائی،اودې داخبرې پټول نه غواړی، بلکه حریص دې په دې چې ټولوته ئی اورسوی. (٢)کاهن سره ټول علم دَغیب نه وی، یوه خبره ورسره چرته دَغیب وی چې شیطان ورته رارسولې وی، نورې ټولې دروغ وی، اوده ته خو دَ دې خبروالله ﷻ وحی کړې ده.

﴿بِضَنِينٍ﴾بخیل ته وائی، او"الغیب"نه مراد وحی اوقرآن دې،دیکښې اول فرق طرف ته اشاره ده ، یعنی مغیباتو خبرورکولو دَبخل نه کارآخلی، یوبل متواتر قرات ﴿ظنین﴾په "ظاء" سره راغلې دې پمعنی دَ "متهم" سره، یعنی دا نبی متهم نه دې په دروغو، یا په بل څه سره.

﴿وَمَا هُوَ بِقَوْلِ شَيْطَٰنٍ رَّجِيمٍ﴾ دیکښې دویم فرق طرف ته اشاره ده چې کاهن اقوال خود شیطان له طرف وی او دا د شیطان مردود قول نه دی.

﴿ فَأَيْنَ تَذْهَبُونَ ﴾ دیکښې دَ مشرکینو عناد ذکر دې اوهغوئ ته زجر دې چې دومره تخویفات نه ورستو بیاولی ایمان نه راوړئ آخر په کوم طرف راون یئ.

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ﴾ یعنی قرآن دَهدایت اونصیحت کتاب دې خوهدایت ورنه هغه چاته میلاویږی چې انصاف پسنداو د هدایت او حق طلب گار وی، عنادیانو اومتعصبینو ته ورسره هدایت نه میلاویږی، ﴿ لِمَن شَآءَ ﴾ بدل دې دَ﴿ لِّلْعَٰلَمِينَ﴾ نه.

رکوعاتها (١)	سورة الانفطار مكيّة	اٰياتها (١٩)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (٨٢) وحسب النزول (٨٢)

نزلت بعدالنازعات وقبل الانشقاق

ربط: دی سورة کښ ماقبل سورت مضمون بيان دی. على سبيل الترقی. ماقبل کښ ئی اوفرمائیل چه دَحساب نه ورستوبه هريو په تاسوکښ خپل مقام جنت یا جهنم، ته اورسی لکه ستوری چه پس دَحرکت نه خپل مقام ته اورسی، دی سورة کښ فرمائی چه بیابه دخپل مقام نه غائب کیدلي هم نشی. بلکه همیشه همیشه پدیکښ وئ وماهم عنهابغائبين.

خلاصه: آیت١ نه تر ٥ دیکښ دآخرت احوال بیانیږی.

آیت ٦ – ٨ زجردي په ناشکرئ باندي،

آیت ٩ تا آخر: دَقیامت اثبات دي، بشارت اوتخویف دي اوبیان دَتوحید اونفی دَشفاعت قهری ده.

اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ ۝١ وَاِذَا الْكَوَاكِبُ انْتَثَرَتْ ۝٢ وَاِذَا الْبِحَارُ فُجِّرَتْ ۝٣
کله چه اسمان اچوی اوکله چه ستوری خواره واره اوغورزیږی اوکله چه دریابونه روان کړي شی
وَاِذَا الْقُبُوْرُ بُعْثِرَتْ ۝٤ عَلِمَتْ نَفْسٌ مَّا قَدَّمَتْ
اوکله چه قبرونه لاندی باندی کړي شی پوهه به شی هرنفس په هغه عملونوچه مخکښ ئی رالیږلی دی
وَاَخَّرَتْ ۝٥
اوورستوئی پریخی وی

﴿اِذَا السَّمَآءُ انْفَطَرَتْ﴾ داځلورحالات دَقیامت بیانیږي، دا اول حالت دي، چه پدغه ورځ به اسمان اوچوی دپاره دَنزول دَملائکو، کقوله تعالى: يوم تشقق السماء بالغمام ونزل الملائكة

تنزيلا(الفرقان: ۲۵)يابه دٰډيرهيبت په وجه اوچوي.

﴿وَإِذَا ٱلْكَوَاكِبُ ٱنتَثَرَتْ ﴾دادويم حالت دې،ستوري دٰاسمان به خواره واره اوغورځيږي.

﴿ وَإِذَا ٱلْبِحَارُ فُجِّرَتْ ﴾ دادريم حالت دې چه دٰدريابونوكناري به اوشليږي اوبه به ئې اوبهيږي تول دريابونه به يوځائ شي.

﴿وَإِذَا ٱلْقُبُورُ بُعْثِرَتْ ﴾داځلورم حالت دې،چه قبرونه به لاندې باندې شي، يعنې لاندې حصه به ئې باندې اوباطن به ئې ظاهر شي. نواهل قبوربه ورنه بهرراوځي،مرادورنه بعث بعدالموت دې.

﴿عَلِمَتْ نَفْسٌ ﴾ جواب دٰ"اذا"دې ، يعنې چه كله دغه حالات واشي، قيامت قائم شي ، نو هر انسان ته به خپل ښه اوبدمعلوم شي.﴿مَّا قَدَّمَتْ وَأَخَّرَتْ ﴾مفسرينومتعددې معنې ذكر كړې وې:

(۱)قدمت،نه مرادهغه اعمال دي چې كوم ئې كړي ذي كه خير وي اوكه شر،او"اخرت"نه مراد هغه اعمال دي چې نه ئې وي كړي خيراوكه شر.

(۲)"قدمت" نه مراد هغه اعمال دي چې پخپله ئې كړي وي ،اعمال خيروي او كه شر، او "اخرت" نه مراد هغه اعمال، دي چې دې ئې ورستونوخلقو دٰپاره سبب اونمونه ګرځيدلې وي، اعمال خير وي اوكه بد.

يَٰٓأَيُّهَا	ٱلْإِنسَٰنُ	مَا	غَرَّكَ	بِرَبِّكَ	ٱلْكَرِيمِ ﴿٦﴾	ٱلَّذِى	خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ
اې انسانه!څه شيزدهوكه كړې ئې ته په رب خپل عزت مند.هغه رب چه ته ئې پيداكړې بيائې برابركړې							
فَعَدَلَكَ ﴿٧﴾	فِىٓ	أَىِّ	صُورَةٍ	مَّا	شَآءَ	رَكَّبَكَ ﴿٨﴾	
بيائې معتدل كړې،په كوم صورة كښې چه خوښه ئې وه ته ئې جوركړې							

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلْإِنسَٰنُ ﴾زجردې دٰالله ﷻ نافرمانې كونكې انسان ته،چه كوم شيزته په دهوكه كښې اچولې ئې، اودٰالله ﷻ په عصيان باندې ئې جرأت مند كړې ئې،حالانكه په تاچه كوم حالات را

روان دی هغه تاته معلوم شول ﴿ٱلَّذِى خَلَقَكَ فَسَوَّىٰكَ﴾يعنى الله ﷻ پخپل قدرت سره ته پیدا کړې، دَ مور په ګیده کښې ئی درته اعضاء دَ بدن برابرکړل. سلیم الاعضاء ئی کړې . دَ منافعو استعداد ئی در کښې پیداکړو. ﴿فَعَدَلَكَ﴾یعنی هریواندام ئی دَبل اندام سره یوشان جوړ کړو ،داسی نه چه یوه خپه لنډه اوبله اوږده،ورنه انسان به ګرخیدلې نه شو ،بلکه دواړه ئی یوشان کړې چه په اسانئ سره ګرځیدې شی،دغه شان دواړه لاسونه.سترګی . غوږونه

﴿فِىٓ أَىِّ صُورَةٍ﴾اي كماليه ده اي في صورة كاملة بديعة.جارمجرور متعلق دې په رکب پورې، اوداجمله بيان دې دَپاره فسواک فعدلک، يعنى تعديل اوتسويه دَاعضاؤو داسې ده چې الله ﷻ ورله خپله صورت خوخ کړو اوهغې مطابق ئی دَانسان ترکیب اوتخلیق اوکړو.

كَلَّا بَلْ تُكَذِّبُونَ بِالدِّينِ ﴿٩﴾ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴿١٠﴾

نه دی دهوکه کیدل پکار،بلکه تاسو خوتکذیب کوئ په ورځ دَجزا(قیامت)اوبې شکه په تاسومقرردی نګرانې فرشتې

كِرَامًا كَاتِبِينَ ﴿١١﴾ يَعْلَمُونَ مَا تَفْعَلُونَ ﴿١٢﴾ إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿١٣﴾

عزت مندی دی،لیکونکی دی،پته وی ورته دَ هغه څه چه تاسوئی کوئ،بې شکه نیکان به به نعمتونوکښې وی.

وَإِنَّ الْفُجَّارَ لَفِي جَحِيمٍ ﴿١٤﴾ يَصْلَوْنَهَا يَوْمَ الدِّينِ ﴿١٥﴾ وَمَا هُمْ عَنْهَا

اوبې شکه فاجران به په جهنم کښې وی،داخلیږی به ورته په ورځ دَجزاء(قیامت)اونه به شی دوئ دَهغې نه

بِغَائِبِينَ ﴿١٦﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٧﴾ ثُمَّ مَا أَدْرَاكَ مَا يَوْمُ الدِّينِ ﴿١٨﴾

پټیدونکی. اوڅه پته ده تاته چه څه ده ورځ دَجزا.بیاڅه پته ده تاته څه ده ورځ دَجزاء.

يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ لِّنَفْسٍ شَيْئًا ۖ وَالْأَمْرُ يَوْمَئِذٍ لِّلَّهِ ﴿١٩﴾

په هغه ورځ نه به وی مالک یونفس دپاره دَبل نفس دَهیڅ څیزاوحکم به په دغه ورځ الله لره وی.

﴿كَلَّا﴾ردع دي،يعنى هرگزدَ كريم رب نه دهوكه كيدل نه دى پكار. او دهغه داحكاماتو نافرمانى نه ده پكار، بلكه هغه شكر اواطاعت پكاردي. ﴿بَلْ تُكَذِّبُونَ﴾ بل دپاره داضراب انتقالى دي، يعنى تاسو خو اطاعت او شكر خود نه كوئ، بلكه دبعث اوحساب كتاب نه هم انكاركوئ.

﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَافِظِينَ ﴾دې كښې دَجزاء اثبات دي،يعنى تاسودَقيامت تكذيب كوئ حالانكه مونږپه تاسوفرشتى مقرركړيدى چه ستاسو هر عمل ليكى.محفوظ كوى.تاسوچه څه هم كوئ په هغى پوهيږى.

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ ﴾دابشارت اخروى دي مؤمنانوته﴿وَإِنَّ الْفُجَّارَ ﴾داتخويف اخروى دي فاجرانو ته، چه دَقيامت په ورځ به جهنم ته داخليږى،پتى دلې به نشى.﴿وَمَا أَدْرَاكَ ﴾ دا د قيامت دَشدت بيان دې چه دومره شديده ورځ ده چه ادراک ئې څوک نشى كولې.

﴿يَوْمَ لَا تَمْلِكُ نَفْسٌ ﴾بيان دَتوحيداونفى دَشفاعت قهرى ده.چې دنياكښ اګرچې چاته مجازى بادشاهى حاصل وى،غالب مغلوب،غريب،فقير،حاكم محكوم وغير ه ترتيب وى، خوآخرت كښ به داهيڅ نه وى،صرف به دَ الله ﷻ اختياراوبادشاهى وى.

ركوعاتها (۱)	سورة المطففين مكية	اٰياتها (۳۶)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	

خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم

ترتيبها حسب التسلسل (۸۳) **وحسب النزول** (۸۶)

نزلت بعد سورة العنکبوت وقبل سورة البقرة

مکي سورتونو کښې آخري سورة دي، بعض وائي مدني دي. چې مدينه کښې يو کس وو، ابوجهينه ئې کنيت وو، دوه مکيله ورسره وو، يوباندې به ئې پوره اخستل، بل باندې به ئې کم ورکول، نوده باره کښې دا سورة نازل شو، په يو روايت کښې دي چه نبی ﷺ مدينې ته راغي نو خلقو په ناپ تول کښې کمی کوله نو الله ﷻ دا سورة نازل کړو. نو بيا به خلقو صحيح ناپ تول کولو.

ربط: ماقبل سورة کښې حالات دقيامت ذکر شول، دې سورة کښې على سبيل الترقي ذکر کيږي، سورة الانفطار کښې ئې اوفرمائيل چه "وماهم عنها بغائبين" چه څوک به هم غائب کيدې نشي، دې سورة کښې فرمائي چه دَهر چا نوم په مخصوص رجسټر کښې مرقوم دي، څوک به هم دَچا په سفارش سره خپل نوم نشي اوباسلي "کتاب مرقوم".

خلاصه: دا سورت په څلورو حصو باندې تقسيم دي:

اوله حصه: آيت ۱ نه تر ۶ پورې: ديکښې زجر دي مطففينو ته.

دويمه حصه: ۷ نه تر ۱۷ پورې، ديکښې دَالله ﷻ دَاحکاماتو نافرماني کونکو حالاتو تذکره ده.

آيت ۷، ۸، ۹ کښې ورته تخويف دي،

آيت ۱۰ نه تر ۱۲ پورې پکښې زجر دي،

آيت ۱۳، ۱۴ کښې شکوه ده.

او ۱۵ نه تر ۱۷ پورې پکښې اخروي سزا ذکر دي.

دريمه حصه: ۱۸ نه تر ۲۸ پورې ده ديکښې دَمؤمنانو حالاتو تذکره ده.

۱۸ نه تر ۲۰ پورې بشارت دي.

۲۱ نه تر ۲۸ پورې اخروي انعاماتو ذکر دي.

خلورمه حصه : ۲۹نه ترآخره پورې ده،دیکښې دکافرانو اومؤمنانو ددنیا اوآخرت ژوند به طور دَ تقابل ذکر دې.

وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ① الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ ②
هلاکت دې لپاره دکمی کونکوپه ناپ تول کښې،هغه کسان چه کله ځان دپاره پیمانه کوی په خلقو نوپوره اخلی
وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَّزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ ③ أَلَا يَظُنُّ أُولَٰئِكَ أَنَّهُمْ
اوچه کله هغوئ ته په پیمانه ورکوی یاورته وزن کوی نوکمی کوی.آیاګمان نکوی دوئ چه یقیناً دوئ به
مَّبْعُوثُونَ ④ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ⑤ يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَٰلَمِينَ ⑥
پورته کولې شی،په ورځی لوئ کښې.په هغه ورځ چه اودریږی به خلق لپاره دفیصلی درب العالمین

﴿ وَيْلٌ لِّلْمُطَفِّفِينَ ﴾دادسورت **اوله حصه** ده ، چې دیکښې زجر دې مطففینوته. ویل په باره کښې دَمفسرینومتعدد اقوال دی خوراجح قول دادې چې داکلمه دَوعید ده یعنی هلاکت دې دی دَپاره دَمطففینو.او مطففینو ته څوک مراد دی؟نوورستنی آیات دَدې پخپله وضاحت کوی ﴿الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا﴾دابیان دې دَمطففینو،یعنی کله چې ځان دَپاره کیل کوی نو خپل حق پوره پوره اخلی اوکله چې بل چادَپاره کیل یاوزن کوی نوپکښې کمی کوی.

دلته دَیو څوخبرو پیژندل ضروری دی:

(۱)علمافرمائی چې دې آیت اصل مصداق اګر چې ناپ تول کښې کمی کونکی خلق دی، خودې وعید کښې هرهغه څوک شامل دی چې هغه خپل مکمل حقوق طلب کوی اودَبل حقوق اداکولو کښې کوتاهی کوی،مثلاښځې دَخاوند نه اوخاوند دَښځې نه خپل حقوق مطالبه کول اودَبل حقوق پوره نه ورکول،ملازم دَ مالک نه اومالک دَملاز م نه خپل مکمل حقوق اغستل اوهغه دَبل حقوق پوره نه اداکول، اودغه شان هغه ټول تعلقات چې دَجانبینو نه وی لکه استاد شاګرد تعلق اوبادشاه رعایا تعلق دیکښې راځی.

(۲)"اکتالو" داکتیال نه دې اواکتیال خپل حق پوره پوره اغستلو ته وائی،اوخپل حق پورا اغستل څه عیب اومذموم امر خونه دې نوبیائی ولې دې آیت کښې ذم بیان شوې دې؟جواب دادې چې دلته اصلا دَ دې مذمت بیان مقصود نه دې،بلکه کمو الی اونجس صفت قباحت کښې

تاكيد مقصود دې. چې بل له كم تلل اوكم كيل كول هڅې دګناه اوبده خبره ده. خوليكن چې بيادبل رعايت هم نه ساتي، يعنې چې كله ځان له كيل كوي نوپوره پوره كوي. نو دا بيا ډيره بده خبره ده «بيان القرآن»

(۳) ځان دپاره پيمانه كولو صورت كښې صرف دَ كيل «اكتالوا» ذكر شوې دې، اوبل دپاره پيمانه كولوصورت كښې دَ كيل اووزن دواړو ذكر شوې دې، مفسرينو ددې متعددې نكتې بيان كړې دى، حضرت تهانوى رحمه الله فرمائي چې چونكه كمې كول مذموم امر دې نوځكه دكيل اووزن دواړو تصريح اوشوه، چې خبره خه واضحه شي، اوخپل حق پوره اغستل مدار ذم نه دې نوځكه صرف په كيل اكتفا اوشوه «بيان القرآن»

﴿ أَلَا يَظُنُّ ﴾ ديكښې سبب دَتطفيف ذكر دې، يعنې ناپ تول كښې كمې اوخيانت كولو بنيادى سبب دَ آخرت هيرول دى، كچرته دوئ سره دَ آخرت استحضار اوپه آخرت ئې يقين وې نو دوئ به هرګز داسې نه كولې. استفهام توبيخى دې، ظن پمعنى دَيقين دې ياپخپله معنى دې، يعنى آيادوئ دا ګمان نه كوى چه په كومه ورځ الله تعالىٰ دَټولو خلقوفيصله كوى په هغه ورځ به مونږهم دَالله تعالىٰ مخې ته ورځو.

ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دې چه نبى كريم ﷺ فرمائي: دَقيامت په ورځ به خلق دَربّ العالمين مخې ته ولاړوى، حتّى چه بعض خلق به پخپلوخولوكښې ترغوږونه پورى پټ وى، په يوروايت كښې دى چه دَقيامت په ورځ به نمرپه اندازى دَيوميل يادوه ميله قريب شي، نوخلق به په دَخپلوعملونومطابق په خولوكښې ډوب وى، بعض به دَپوندوپورى، بعض دَركبتينوپورى، بعض به داسې هم وى چه دَخولولګام به ورته اچولې شوې وى، ابوهريره رضي الله عنه فرمائي چه حضور ﷺ بشيرغفارى رضي الله عنه ته اوفرمائيل چه په هغه ورځ به ستاڅه حال وى چه په كوم ورځ خلق ربّ العالمين ته دَدنيادَورځوبرابردرى «۳۰۰» سوه كاله ولاړوى، نه به څه خبراځي نه به ورته امركيږى، هغه عرض اوكړو، الله تعالىٰ مدد كونكې دې، حضور ﷺ ورته اوفرمائيل چه كله اوده كيږى نودَالله تعالىٰ نه دَقيامت دَسختئ اودَسوء الحساب نه پناه غواړه «ابن كثير»

﴿ لِيَوْمٍ عَظِيمٍ ﴾ «لام» پمعنى دَ «في» دې.

كَلَّآ	إِنَّ	كِتٰبَ	الْفُجَّارِ	لَفِيْ	سِجِّيْنٍ	﴿٧﴾ وَمَآ	أَدْرٰىكَ
هرګز داسې مكوئ، ځكه بې شكه اعمال نامه دَفاجرانوپه سجين كښې ده اوتاته څه پته ده چه							

مَا سِجِّينٌ ۝ كِتٰبٌ مَّرْقُومٌ ۝ وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ لِّلْمُكَذِّبِيْنَ ۝ الَّذِيْنَ

څه دي سجين. كتاب دي مهروهلې شوې هلاكت دې پدغه ورځ لپاره دتكذيب كونكو هغه چه

يُكَذِّبُوْنَ بِيَوْمِ الدِّيْنِ ۝ وَمَا يُكَذِّبُ بِهٖٓ اِلَّا كُلُّ مُعْتَدٍ اَثِيْمٍ ۝

تكذيب كوى په ورځ دجزاء.اونكوى تكذيب پدغه ورځې مگرهرتجاوزكونكې دحدنه.گنهگار

﴿ كَلَّآ اِنَّ كِتٰبَ الْفُجَّارِ ﴾دادسوت **دويمه حصه** ده، چې ديكښ دفاجرانو اودالله ﷻ احكامات نه منونكو تذكره كيږي،او داتخويف اخروى دې اودماقبل سورت مضمون پكښ على سبيل الترقى بيان دې، ځكه چې ماقبل كښ وۇ چې دوئ به جهنم نه، نشي غائب كيدې او پټې دې نشى،اوس ديكښ دى چې ﴿كِتٰبٌ مَّرْقُومٌ﴾چې دوئ په نومونو باندې مهر لگولې شوې وى هلته نه به كله هم راوتلې نشى.

"كلا"يايعنى د"الا"او"حقا"سره دې، اويادپاره د ردعې دې چې ناپ تول كښ كمى مه كوئ، او «ان كتاب الفجار» ورله تعليل دې، «كتاب الفجار» نه مراد اعمال نامې دى چې كافرانو اعمال بد پكښ ليكلى شوى وى،﴿ سِجِّيْنٌ ﴾داوو ځمكو لاندې مقام دې چې هلته دكفارو ارواح اودهغوئ اعمال نامې پرتې وى.﴿وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا سِجِّيْنٌ ﴾داجمله معترضه ده اوديكښ سجين تهويل بيان دى.

﴿ كِتٰبٌ مَّرْقُومٌ ﴾دادكتاب الفجار بيان دې،مرقوم پمعنى دمختوم سره دې،يعنى په دې باندې به مهر لگيدلې وى، څوک به پكښ اضافه اوكمې نشى كولې، يا دا د سجين بيان دې، خودې صورت كښ به تقدير دعبارت داسې وى وما ادراک ماكتاب سجين، او آيت كښ تهويل داعمال نامې دې دسجين نه دې.

﴿وَيْلٌ يَّوْمَئِذٍ ﴾داتخويف اوزجر دې على سبيل الترقى،ځكه چې ماقبل سورت كښ صرف د تكذيب ذكروۇ،اوس دلته دتكذيب كونكو تعيين صفات هم ذكر كيږى،چې هغه معتدى يعنى حدنه تجاوز كونكى اوپه گناهونو كښ منهمک خلق دى.

إِذَا	تُتْلَىٰ	عَلَيْهِ	آيَاتُنَا	قَالَ	أَسَاطِيرُ	الْأَوَّلِينَ ﴿١٣﴾	كَلَّا
کله چه لوستلې شي پده باندې آياتونه زمونږ وائي داد روغي قصې دي دېخوانوخلقو هرګزنه ده داسې خبره							
بَلْ ۜ	رَانَ	عَلَىٰ	قُلُوبِهِم	مَّا	كَانُوا	يَكْسِبُونَ ﴿١٤﴾	
بلکه	زنګ	لګولې	دي	په	زړونودَدوئ	هغه	ګناهونوچه دوئ کوی
كَلَّا	إِنَّهُمْ	عَن	رَّبِّهِمْ	يَوْمَئِذٍ	لَّمَحْجُوبُونَ ﴿١٥﴾	ثُمَّ	
خبرشئ بې شکه دوئ به دَ لیدلودَربخپل نه دَ قیامت په ورځ خامخا په پرده کښې منع کړې شوي به وي بیابه							
إِنَّهُمْ لَصَالُو الْجَحِيمِ ﴿١٦﴾ ثُمَّ يُقَالُ هَٰذَا الَّذِي كُنتُم بِهِ تُكَذِّبُونَ ﴿١٧﴾							
دوئ ننوتونکي وي جهنم ته بيا به اوونيلې شي ورته دا هغه عذاب دې چه تاسو د دې تکذيب کولو							

﴿إِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِ آيَاتُنَا﴾ داشکوه ده چه کله دوئ باندې زمونږآياتونه لوستل کيږي نودوئ ورته دَپخوانئ دروغوقصې وائي.﴿كَلَّا﴾ ردعيه دې،زجردې چه قرآن هرګز دَ دروغو قصو کتاب نه دې، بلکه حقيقت دې،ليکن اصل خبره داده چه دَدوئ دَ ګناهونوپوجه دَدوئ په زړونوزنګ لږيدلې دې،چه دَهغې پوجه حق باندې پوهيدلوصلاحيت پکښې نشته دې.

﴿بَلْ ۜ رَانَ﴾ رينٌ زنګ ته وائي،يعني دګناهونوپه مسلسل ارتکاب سره توروالې اوزنګ چه په زړه اولږي. په حديث کښې دی چه کله بنده يوه ګناه اوکړی نوپه زړه ئې توره نکته اوداغ اولږي ، که توبه اوباسی نوهغه داغ وران شي، ورنه کله چه بياګناه اوکړی نوبل داغ پرې اولږي، دأرنګې زړه ئې تک تورشي، نوداهغه زنګ اوتوروالې دې چه الله ﷻ په قرآن کښې ذکرکړيدې(ابن کثير)مجاهد رحمه الله وغيره وائي چه رين مهرته وائي يعني دَدوئ په زړونو دَ بدبختئ مهرلږيدلې دې.

په حديث کښې دی چه څلورخصلتونه دَ سړی زړه فاسده وي:

(۱)احمقانوسره مقابله اوبحث مباحثه کول.

(۲)کثرت دګناهونو.

(۳)دَزنانه وُ سره خلوت او دَ هغوئ په رائ عمل کول،

(۴) مروسره ناسته كول.

چاعرض اوکړومړی څوک دی اونی فرمائیل هغه غنی چه خپلی مالداری پکښ تکبر پیدا کړی وی. (روح)

﴿ كَلَّآ ﴾ په معنی دَ الا سره دې، تخویف اخروی دې مکذبینوته اوخروی سزاګانو ذکر دې، چه دوئ به دقیامت په ورځ دَالله ﷻ دَدیدارنه محرومه وی، جهنم ته به داخلیږی، فرشتی به ورته وائی داهغه جهنم دې چه تاسوئی تکذیب کولو.

﴿ لَّمَحْجُوبُونَ ﴾ حجاب کنایه ده دَعدم رؤیت نه، آیت کریمه نه معلومه شوه چه مؤمنان به دَقیامت په ورځ دیدارالهی کوی اودغه رنګه دیدارالهی به په ټولونعمتونوکښ لوئ نعمت وی، ځکه چه دکافرانودپاره غټ عذاب دَدیدارالهی نه محرومه کیدل ذکرشو.

كَلَّآ	اِنَّ	كِتٰبَ	الْاَبْرَارِ	لَفِيْ	عِلِّيِّيْنَ ﴿١٨﴾	وَمَآ	اَدْرٰىكَ		
حقه	ده	بې شکه	اعمال نامه	دَنیکانو	په علیین کښ	به وی	اوڅه	پته	ده تاته
مَا	عِلِّيُّوْنَ ﴿١٩﴾	كِتٰبٌ	مَّرْقُوْمٌ ﴿٢٠﴾	يَّشْهَدُهُ	الْمُقَرَّبُوْنَ ﴿٢١﴾				
چه	څه دې علیین	یوکتاب دې	مهروهلې،	حاضریږی	هغې ته	مقربی فرشتې			

﴿كَلَّآ ﴾ داهم په معنی الا سره دې او دادَسورت دریمه حصه ده چې پکښ به طور تقابل دَمؤمنانو تذکره ده ، دابشارت دې مؤمنانوته چې دوئ اعمال نامی اوروحونه به علیین کښ وی چې هغهٔ اوچت اومعززمقام دې.

﴿عِلِّيِّيْنَ ﴾ داضد دَسجین دې په اووم آسمان باندې یوځائ دې چې هلته دَنیکانو اعمال نامی اوارواح پراته وی ﴿وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا عِلِّيُّوْنَ ﴾ دیکښ یا دَعلیین عظمت شان بیان دې، اوپه علیین باندی پرتی اعمال نامو عظمت شان بیان دې، اودې صورت کښې به عبارت کښ تقدیر وی اي ومااَدراک ماکتاب علیین.

﴿يَشْهَدُهُ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴾ صفت دې دکتاب﴿ الْمُقَرَّبُوْنَ ﴾نه مرادفرشتی دی یعنی دا اعمال نامې کتو دَپاره دَالله ﷻ مقربې فرشتې حاضریږی، لکه دنیا کښ چې انسان څه امتحان یامقابله

کښې کامیاب شی. او انعام یاسند واخلی نوهغه داانعام خپلې مهمان خانې باداسې ځای کښ آویزان کړی، چې خلق ئې اوګوری. نو د نیکانو اعمالنامې به ددوئ دپاره انعام اودجنت حصول سند وی، الله ﷻ به عزت افزائی دپاره داپه علیین کښ کیدی اومقربې فرښتې به راخی اوهغه به ملاحظه کوی،په روح المعانی کښ دکعب رضی الله عنه روایت دې چه کله ملائکې دمؤمن روح قبض کړی،ملائکې دَرحمت ئې پورته وړی. نودهراسمان مقربې فرښتې ورسره خی تردې چه ووم اسمان ته ئې اورسوی،خپلومخوته ئې کیدی.دعاګانې ورته کوی. او الله ﷻ ته عرض کوی چه یاالله ﷻ مونږته دده عملنامه اوښایه.نودهغه عملنامه کولاوه شی، نو دَ دوئ په حضورکښ دَمړی نوم په هغې کتاب کښ محفوظ کړې شی اودامطلب دې دَقول دَالله ﷻ چه کتاب مرقوم یشهده المقربون(مختصراًومفهوماً).

إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ ﴿٢٢﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ ﴿٢٣﴾ تَعْرِفُ
بې شکه نیکان به خامخاپه نعمتونوکښ وی،په تختونوباندې به وی ګوری بهتماشابه کوی،پیژنی به ته
فِي وُجُوهِهِمْ نَضْرَةَ النَّعِيمِ ﴿٢٤﴾ يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ مَّخْتُومٍ ﴿٢٥﴾ خِتَامُهُ
په مخونودهغوئ کښ تازګی دنعمتونو.څکولې به شی په دوئ خالص شراب چې مهر به پرې لګیدلې وی مهربه ئې
مِسْكٌ ۚ وَفِي ذَٰلِكَ فَلْيَتَنَافَسِ الْمُتَنَافِسُونَ ﴿٢٦﴾ وَمِزَاجُهُ
مشک وی اوصرف پدې شرابوکښ دی پس رغبت اوکړی رغبت کونکې اوخوند به وی دې شرابو کښ
مِن تَسْنِيمٍ ﴿٢٧﴾ عَيْنًا يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ ﴿٢٨﴾
دَ تسنیم ، چه دا یوه چینه ده په جنت کښ چه څکی به دهغې نه مقربین

﴿إِنَّ الْأَبْرَارَ لَفِي نَعِيمٍ﴾داپه مؤمنانو فرمانبردارانو انعاماتوذکر دې به طور تقابل دَ الا انهم عن ربهم يومئذ ،چه دوئ به دَقیامت په ورځ په نعمتونوکښ وی﴿عَلَى الْأَرَائِكِ يَنظُرُونَ﴾ یعنی دَجنت مرغوب مناظربه ګوری ، یابه یوبل ته ګوری نویودوست به دَبل دوست نه غائب نوی، «روح المعانی».

﴿تَعْرِفُ فِي وُجُوهِهِمْ﴾ يعنى دَنعمتونورونق به ئې په مخونوښکاری. هرچاته به پته لګی چه دوئ ښه خوشحاله دی.

﴿يُسْقَوْنَ مِن رَّحِيقٍ﴾ درحيق مفسرينو دوه معنې ذکر کړې دی (۱) خالص شراب (۲) عمده شراب، ﴿مَّخْتُومٍ﴾ دااول صفت دې دَشرابو، يعنى سيل بند به وی اومهربه پرې لګيدلې وی، استعمال شده به نه وی.

﴿خِتَامُهُ مِسْكٌ﴾ دادويم صفت دې دَشرابو، او "ختام" په معنى دَخاتمه اوانتهاء سره دې، يعنى کله چې جنتيان داشراب اوڅکی نوآخر کښې چې کوم اجزاء پاتې شی نو دَ هغې بوئى به دَ مشکو وی، په خلاف دَ شرابو دَ دنيا، چې هغه ډير بدبودار وی، او يا "ختام" نه مراد مهر دې، يعنى دې پيالو او جامونو باندې به دَمشکومهر لګيدلې وی. ﴿وَفِي ذَٰلِكَ﴾ اشاره يارحيق مختوم ته ده، يانعماؤدَجنت ته، جارمجرورتقديم لپاره دَحصردې، يعنى صرف هم دَجنت په شرابوکښې دی رغبت اوکړی رغبت کونکی، نه په شرابودَدنياکښې، اوهم صرف دَدی دَحصول لپاره دی عمل اوکړی عمل کونکی، کقوله تعالى: لمثل هذافليعمل العاملون (صفات: ۲۱).

﴿وَمِزَاجُهُ﴾ دادريم صفت دې دَ شرابو دَ جنت، او "مزاج" مصدر دې دَ "مازج يمازج"، په معنى اسم مفعول سره، اي الممزوج به، يعنى هغه شې چې هغې کښې آميزش وی دَبل شی، يعنى دې شرابو کښې به دَ تسنيم شرابو خوند وی. او "تسنيم" دَ "سنم" او "سنام" نه دې، په معنى دَ بلندئ سره، داپه جنت کښې يوه چينه ده چې دَ آبشارپه شان دَبلندئ نه راغوځيږی، او دَ دې شراب به دَتولو نه عمده وی اواوچت شراب وی نوځکه ورته تسنيم وئيلی کيږی.

﴿عَيْنًا﴾ منصوب على المدح دې، ﴿يَشْرَبُ بِهَا الْمُقَرَّبُونَ﴾ "باء" په "بها" کښې يازائده ده، يا په معنى دَ "من" ده، يعنى تسنيم داسی عظيمه چينه ده دَ شرابو. چه مقربين يعنى السابقون الاولون، به ورنه شراب څکی، اوهرچه ابراريعنى اصحاب اليمين دی نوهغوئ په شرابوکښې به دَدې چينی خلط وی، بعض وائی ابراراومقربون پدی سورة کښې په يوه معنى دی.

إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا يَضْحَكُونَ ﴿٢٩﴾ وَإِذَا

بې شکه هغه کسان چه مجرمان کافران دي وؤدوئ په دنیاکښې مؤمنانوپورې به ئ خاندل او کله چه

مَرُّوا بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ﴿٣٠﴾ وَإِذَا انْقَلَبُوا إِلَىٰ أَهْلِهِمُ

تیریدل به مؤمنان پدوئ نوپه سترګوبه ئې یوبل ته اشارې کولې او کله چه به واپس شول خپلوکورونوته

انْقَلَبُوا فَكِهِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَٰؤُلَاءِ

واپس کیدل به په خوند خوند اوکله چه به اولیدل کافرانومؤمنان اوبه ئې وئیل بې شکه دامؤمنان

لَضَالُّونَ ﴿٣٢﴾ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ ﴿٣٣﴾ فَالْيَوْمَ الَّذِينَ آمَنُوا

یقیناګمراه کم عقل دي حال داچه نه دي لیږلي شوي دوئ په مؤمنانوباندې نګرانان پس نن ورځ به مؤمنان

مِنَ الْكُفَّارِ يَضْحَكُونَ ﴿٣٤﴾ عَلَى الْأَرَائِكِ يَنْظُرُونَ ﴿٣٥﴾ هَلْ ثُوِّبَ الْكُفَّارُ

په کافرانوپورې خنداکوي په تختونوبه ناست وي تماشې به کوي یقیناًبدله ورکړې شوه کافرانوته

مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿٣٦﴾

دهغه عملونو چه دوئ کول

﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا﴾ دادسورت **خلورمه اواخرې حصه** ده،مخکنو دوو حصو کښې دَ کافرانو اومؤمنانو احوالو به طور تقابل جداجدا تذکره وه،اوس دیکښې په یوځائ دَ دواړو فریقینو دنیوي اواخروي احوالو انقلاباتو به طورتقابل تذکره کیږي.

﴿إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُوا﴾دیکښې دَمشرکینودنیوي زندګۍ صورت حال بیانیږي،اود آیت اسلوب داوائي چې داحکایت دې دَ هغه قول چې قیامت په ورځ به دَالله ﷻ دَ طرفه کفارو ته بطور زجر وتوبیخ وتیلې کیږي.﴿يَضْحَكُونَ﴾داد کافرانو اول حالت دې چې هغه استهزاء ده یعنې دوئ به مؤمنان سپک ګنړل اوهغوئ پورې به ئې خنداګانې کولې،﴿مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا﴾ جار مجرور په خپل متعلق باندې تقدیم کښې اشاره دَدې قول انتهائي شناعت ته،چې چاپورې

خنداكول خوهڅې خه خبره نه ده،اوبیا مؤمن پورې اودهغه دایمان په وجه هغه پورې خندل؟

﴿وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ﴾دائی دویم حالت دی، "اذا"دلته دپاره دماضی دی (التحریروالتنویر) یعنی مؤمنان چې کله په دوئ باندې تیریدل ، نودوئ ورپورې اشارې کولې ﴿تغامز﴾ سترګو سره اشاره کولو ته وائی،اودینه مقصود دَ دوئ مؤمنانو تنګول وؤ او"عیب"پمعنی کښې هم استعمالیږی یعنی دَدوئ کښې به ئی عیبونه لټول اوخلق به ئې ترینه متنفرکول.

﴿وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ﴾دائی دَدریم حالت بیان دی، یعنی چې کله به کورته واپس شول نوبیا ورته په دې خپلو زیاتو باندې ندامت نه وؤ، بلکه په خوند خوندبه ئی په کورکښې دَدې تذکرې کولې،﴿فَكِهِينَ﴾اي متلذذین.

﴿وَإِذَا رَأَوْهُمْ﴾دائی دَڅلورم حالت بیان دی ، چې مؤمنان به ئی کله اولیدل نوخلقوته به ئی وې چه داګمراهان دی،دَدوئ اتباع مه کوئ،خلاصه داچې دوئ دَزندګئ نصب العین دَمؤمنانو تنګول اوایذا رسانی ګرځولې وه نوځکه الله ﷻفرمائی ﴿وَمَآ أُرْسِلُواْ عَلَيْهِمْ حَـٰفِظِينَ﴾څه دوئ خو الله ﷻ نګرانان نه وؤ جوړکړی په مؤمنانو، چې دوئ دَهغوئ هر قول اوفعل جائزه نی اغستله او دَ دوئ رشد و ضلال فیصلې ئی کولې؟ او جمله حال ده دَضمیر دَ"قالوا" نه.

﴿فَٱلْيَوْمَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ﴾ دادآخرت حالاتو اوانقلاباتو تذکره ده،چې دنیا کښې کافرانو مؤمنانو پورې خندل،اوس په آخرت کښې به مؤمنان دوئ پورې خاندی.﴿عَلَى ٱلْأَرَآئِكِ﴾دنیا کښې به کافرانو خوندونه کول، اوس به آخرت کښې مؤمنان عیش وعشرت کوی،په تختونو باندې به ناست وی. ﴿يَنظُرُونَ﴾دنیا کښې به کافرانو دَمسلمانانو غربت او بدحالئ ته کتل اوخندل، اوس په آخرت کښې به مؤمنان دَ دوئ بدحالئ ته ګورې او دَ خپل خه حال باندې دَالله ﷻ شکر ادا کوی.

﴿هَلْ ثُوِّبَ ٱلْكُفَّارُ﴾الله ﷻ فرمائی چې دا جزاء من جنس العمل ده، چې څه ئی کول دَ هغې بدله به ورکولې کیږی،اوچې څه کرلی دی هغه به نن ریبی. "ثوب" دَ تثویب نه دې،جزاء او بدلې ورکولوته وائی،اواستفهام تقریری دې.

ركوعاتها (۱)	سورة الانشقاق مدنية	اٰياتها (۲۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی سروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۸۴) وحسب النزول (۸۳)

نزلت بعد سورة الانفطار و قبل الروم

وبط (۱) ماقبل سورة کښ تخویف اخروی وو چه دوئ نومونه په جهنمیانو رجسټر کښ لیکلی شوی دی، پس حیله بهانه او زورسفارش سره دوئ دلته نه خان نشی خلاصولې. نودې سورت کښ علی سبیل الترقی دامسئله بیانیږی چې دوئ به خامخا هلته ځی اوبیا به هلته مختلف قسمه حالاتو او عذابونه سره مخامخ کیږی

(۲) دغه شان ماقبل سورة کښ دقبیح عمل یعنی ناپ تول کښ کمی کونکو ذکروو. دی سورة کښ نیك اعمالو ته ترغیب دې چه﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحًا ﴾.

خلاصه: ابتداء نه تر آیت (۵) پورې تخویف اخروی دې، آیت (۲) ترغیب دې اعمال صالحو ته. بیاتر آیت (۹) پوری بشارت اخروی دې، بیاآیت (۱۵) پوری تخویف اخروی دې، آیت (۱۲) نه تر آیت (۱۹) پوری شواهد دی په دعوی دسورة بیاتر آخره زجر دې مشرکانو ته (تمت).

إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ۝ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ۝ وَإِذَا ٱلۡأَرۡضُ
کله چه اسمان څیری شی، اوتابع شی حکم درب خپل ته او دا ورسره لائقه ده . او کله چه زمکه
مُدَّتۡ ۝ وَأَلۡقَتۡ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتۡ ۝ وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا وَحُقَّتۡ ۝
اوږده کړې شی. او را اوباسی هغه چه پدی کښ دی اوخالی شی. او تابع شی حکم درب خپل ته او دا ورسره لائقه ده.

﴿ إِذَا ٱلسَّمَآءُ ٱنشَقَّتۡ ﴾ تخویف اخروي دې، دقیامت دراتلو حالات دی، چه کله اسمان اوشلیږي، لپاره دنزول دملائکو.

﴿وَأَذِنَتۡ لِرَبِّهَا ﴾ د الله ﷻ حکم ته غوږ کیدی، غوږ کیخودل کنایه ده دانقیاد او طاعت نه.

﴿وَحُقَّتْ﴾ یعنی اسمان لائق دې ددی چه دَالله ﷻ دحکم انقیاد اوکړی. څکه چه الله ﷻ ئې خالق دې.

﴿وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ﴾ خوره به شي، دا به دوه طریقو سره وی (١) یو دا چې زمکه اوس غونډه اوګول ده نو قیامت په ورځ به ئې ګولائی ختمه کړې شی اودفرش پشانتې به تړوله اوغوړولې شی. (٢) اوبل دا چې زمکه کښې لاندې والې باندې والې دې، غرونه دی، کندې دی. دا هرڅه به ختم کړې شی اوبالکل برابره سطحه به اوکرځولې شی. (الکنزالثمین) دَ دې وجهې نه حدیث کښې راځی چې خلق به ټول یو بل وینی دَځمکې یو کناره نه به بلې کناری ته نظر رسی

﴿وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ﴾ یعنی دی کښې مدفون مړی اوخزانی وغیره به رااوباسی اوورنه خالی به شی. حدیث شریف مفهوم دې: چې زمکه به دَخپلې جګر ټکړې دَ سرو او سپینو زورو . په شان لویو ستونونو باهر به رااوغورځوی، نوقاتل به ورته راشی. اوبه وائی مادې دَپاره قتل کړې وو، قطع رحمی کونکې به ورته راشی اواوبه وائی چې مادې دَوجهې نه قطع رحمی کړې وه، غل به راشی اواوبه وائی چې خمالاس دې دَوجهی نه کټ شوې وو! اوبیا دا خزانې داسې پریګدی اوهیڅ تریحنه نه اخلی. (مسلم شریف)

جواب دَ "اذا" یامحذوف دې "ای یلاقی الانسان ماکدح" یعنی کله چه دا حالات راشي نو انسان به خپلوعملونوسره ملاقات اوکړی، یعنی اوبه ئې وینی، دغه شان په سورة التکویر او انفطار کښې هم تیردی، یاجواب ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ﴾ دې، یا ﴿فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ﴾.

يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡإِنسَٰنُ إِنَّكَ كَادِحٌ إِلَىٰ رَبِّكَ كَدۡحٗا
اې انسانه بې شکه ته کسب (عمل) کونکې ئې دَ ملاقات دَ رب خپل پوری (وخت دَمرګ پوری) په کسب کولوسره
فَمُلَٰقِيهِ ﴿٦﴾ فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ﴿٧﴾ فَسَوۡفَ
بیا ته میلاویدونکې ئې ورسره. پس هغه څوک چه ورکړې شی ورته عملنامه دَهغه په ښی لاس دَهغه کښې. نو زردې
يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا ﴿٨﴾ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِۦ مَسۡرُورٗا ﴿٩﴾ وَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ
چه حساب به ورسره اوشی حساب اسان. اولاړبه شی اهل خپل ته خوشحاله. اوهغه څوک چه ورکړې شی

كِتٰبَهٗ وَرَآءَ ظَهْرِهٖ ﴿١٠﴾ فَسَوْفَ يَدْعُوْا ثُبُوْرًا ﴿١١﴾ وَّيَصْلٰى سَعِيْرًا ﴿١٢﴾ اِنَّهٗ كَانَ
ورته عملنامه دهغه ورستو دشادهغه نه، نوزردې چه راغواړی به هلاکت اوداخليږی به جهنم نه. بيشكه دې وو
فِيْٓ اَهْلِهٖ مَسْرُوْرًا ﴿١٣﴾ اِنَّهٗ ظَنَّ اَنْ لَّنْ يَّحُوْرَ ﴿١٤﴾
په اهل خپل(دنيا)کښ خوشحاله څکه دده داګمان وو چه هرګزبه رجوع نه کوی(الله ﷻ ته)
بَلٰٓى اِنَّ رَبَّهٗ كَانَ بِهٖ بَصِيْرًا ﴿١٥﴾
داګمان غلط دې څکه چه بې شکه رب دده پده ليدونکی دې

﴿يٰٓاَيُّهَا الْاِنْسَانُ﴾ داترغيب دې اعمال صالحوته، چه اې انسانه تاته تروخت دمرګ پورې موقع ده، مرګ نه ورستوبه الله ﷻ سره ملاقات کوې نونيك اعمال اوکړه چه رسوا نشې.

﴿اِنَّكَ كَادِحٌ﴾ اې كاسبٌ وجاهدٌ، "كدح" اصل کښ کار اومحنت کښ ځان ستړې کولو ته وائی، ځنې مفسرينو دلته ﴿كَادِحٌ﴾ په خپلی ظاهری معنی کښ اغستې دې اې جاهد، ﴿اِلٰى رَبِّكَ﴾ په تقدير دمضاف سره دې اې الى لقاء ربك، اومراد ترينه مرګ دې، مطلب دآيت دادې چې دمرګ وخت پورې دعمل کولو اوستړې کولو موقع ده، مرګ نه ورستو په دې الله ﷻ سره ملاقات وی.

اوځنې مفسرينو﴿كَادِحٌ﴾ په معنی د"ساع" او"ماش" سره اغستې دې يعنی اې انسانه ته خپل رب طرف ته روان ئې، هغه سره به دې ملاقات وی. ﴿فَمُلٰقِيْهِ﴾ "فاء" دپاره دترتيب ده او ضمير راجع دې "رب" ته، يعنی بيا به دې خپل رب سره ملاقات وی هغه به درله جزا درکوی، که نيک اعمال دې کړی وې، نونيکه بدله اوکه بداعمال دې کړې وی نوبده بدله. او يا ضمير "كدح" ته راجع دې ، يعنی دخپل عمل جزاء سره ملاقات کونکې ئې، د خپل کسب ثمره موندونکې ئې، نودې وجه نه لازمه ده چه دځان سره داعمال صالحه ذخيره جمع کړې.

﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ﴾ دادجزا تفصیل دي اوبشارت دي نیك عمل كونكوته﴿ حِسَابًا يَسِيرًا﴾ حساب یسیر یعنی اسان حساب دیته وائی چه څه مناقشه وربانديي اونكړې شي،صرف پیشی ئی اوشي،په ترمذی ابوداؤد وغیره كښ دي چه حضورﷺاوفرمائیل چه دقیامت په ورځ دچاسره هم حساب اوشی نوهلاك به شی،عائشه ﷺعرض اوكړو،یارسول الله: قربان شم،اللهﷻ خوفرمائی چه﴿ فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ۝ فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ﴾مطلب دعائشهﷺداوؤچه آیت نه معلومیږی چه حساب خوبه مؤمن سره هم كیږی لیكن هلاك به نوي بلكه بنه خوشحاله به وی ، نوحضورﷺاوفرمائیل چه داخوبه صرف پیشی وي چه دوئ به پیش كیږی،دچاسره چه په حساب كښ مناقشه اوشوه نوهلاك به شي.

بل روایت كښ دئ چه حضورﷺبه په مانځه كښ دادعاكوله:اللّهم حاسبنی حسابًا یسیرًا كله چه دمونځ نه فارغ شو ، نو حضرت عائشه ﷺ عرض اوكړو: حساب یسیرڅه دي، حضورﷺ اوفرمائیل چه صرف دعغه په عملنامی نظراوكړې شي،تجاوزورنه اوكړې شي.

﴿ وَيَنقَلِبُ إِلَىٰٓ أَهْلِهِۦ ﴾:اهل نه مرادخپل خاندان دي چه خوشحاله به وي اوهغوئ ته به خپله عملنامه ښائی چه:هاؤم اقرؤاكتابیه ، یادأهل نه مرادهغه نعمتونه دی چه كوم ورته اللهﷻاختیاركړی وی چه حوری غلمان دی.

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ ﴾داتخویف اخروي دي،بدعمل كونكوته،چه عملنامه به ورته په گس لاس دشادطرفه میلاویږی،نودوئ به ځان ته دغي وخت كښ خیرې كوي، چه مونږ دي هلاك شو ، بیابه جهنم ته داخلیږي.

فائده:دلته د"وراءظهره"ذكر دي اوپه سورت الحاقه "بشماله"ذكر دي ، نو اكثر مفسرین فرمائی چي دا دواړه صورته به وی،یعنی یوخواعمال نامي به كفاروته په گس لاس میلاویږی اوبل انتهائی ناراضګئ اوكراهیت اظهار د وجهی نه به ورله مخامخ نه وركولې كیږی، بلكه "شا" طرف نه به ورله وركړې شی، او بعضو داتوجیه هم كړي ده چي "شماله"په اعتبار مؤمنانو گناهگارانو سره دي او"وراء ظهره"په اعتباردكفاروسره دي.

﴿فَسَوْفَ يَدْعُوا ثُبُورًا﴾ ثبور هلاکت ته وئيلې کيږي. يعنی دوئ به هلاکت ته چغې وهی دَدې جملې تفسير په سورت الفرقان کښ تير شوې دې.

﴿إِنَّهُ كَانَ فِي أَهْلِهِ﴾ داعلت دې دَماقبل جزايعنی جهنم ته به ځکه ځی چې دنيا کښ دوئ مستئ کولې اوآخرت نه په غفلت کښ پراته وو. دَ هغې غم ورسره نه وو

﴿إِنَّهُ ظَنَّ﴾تعليل دې دَخوشحالئ په دنياکښ.چه دَده داګمان وؤچه الله تعالی ته رجوع نشته پس دَمرګ نه، ياداګمان ئی وؤچه ځمارجوع به عدم ته يعنی مرګ ته نه کيږی.دمرګ نه غافله وؤ. ﴿أَن لَّن يَحُورَ﴾ حور رجوع ته وائی.

﴿بَلَىٰ﴾يعنی داسی نده لکه چه دې ګمان کوې بلکه مونږته به واپس کيږی﴿إِنَّ رَبَّهُ كَانَ بِهِ بَصِيرًا﴾ ئی تعليل اوتاکيد دې.يعنی خامخابه واپس کيږی ځکه چه رب دَده. په ده اودَده په اعمالو بصيردې،هيڅ هم دَالله تعالی نه خفی نه دی.

فَلَآ أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ ﴿١٦﴾ وَالَّيْلِ وَمَا وَسَقَ ﴿١٧﴾ وَالْقَمَرِ إِذَا اتَّسَقَ ﴿١٨﴾									
پس څه قسم خورم په شفق باندی.اوپه شپه اوپه هغی چه دائی جمع کوی.اوپه سپوږمئ چه کله پوره شی رڼا دَهغی									
لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ ﴿١٩﴾ فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿٢٠﴾									
چه خامخابه مخامخ کيږئ تاسو دَ يو حال سره ورستو دَ بل حال نه. پس څه شوی دی دوئ لره چه ايمان نه راوړی.									
وَإِذَا	قُرِئَ	عَلَيْهِمُ	الْقُرْآنُ	لَا	يَسْجُدُونَ ﴿٢١﴾				
اوکله	چه	اولوستلې	شی	په	دوئ	قرآن	نودوئ	سجده	نه کوی.

﴿فَلَآ أُقْسِمُ بِالشَّفَقِ﴾داقسم دې جواب قسم ئی﴿لَتَرْكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ﴾دې،پدې آياتونو کښ په دعوې دَسورت يعنی په موت او مابعد دَ موت نه چه کوم احوال دَقيامت دی په هغی شواهد ذکرکيږی،چه لکه څرنګه په کائناتومختلف حالات راځی دغه شان به په تاسوهم مختلف حالات راځی،چه مرګ دې،بيابرزخ ، بيادوباره ژوندی کيدل،بياحساب

"شفق" هغه حمرة (سرخي) ته وائي چه په اُفق باندې ورستو دَ نور غروب نه ليدلې کيږي. يا هغه بياض (سفيدي) چه ورستو دَدغه حمرة نه وي.

﴿وَٱلَّيۡلِ وَمَا وَسَقَ﴾ای وماضمّ وجمع (روح) يعنی چه کوم څيزونه په ورځ کښې منتشر وي. خواره وي، هغه راجمع شي، نو "وسق" جمع کولو، راټولو ته وائي، بعض وائي معنی داده چه هغه څيزونه چه شپه ئې خپلې تيارې سره پټ کړي. ﴿وَٱلۡقَمَرِ إِذَا ٱتَّسَقَ﴾ای اجتمع نوره، يعنی رڼائی جمع شي اوبدر کامل ترې جوړه شي.

﴿لَتَرۡكَبُنَّ طَبَقًا عَن طَبَقٍ﴾داجوا ب قسم دې يعنی څنګه چې کائنات کښې مختلف احوال دي، او مختلف احوال پرې څې راځي، دغه شان به ستاسو په قيامت کښې مختلف حالتونه وي، اومختلف حالتونه به درباندې څې راځي،

دَدې آيت مفسرينو متعدد توجيهات بيان کړي دي:

(١)اکثر مفسرين فرمائي چې دې کښې خطاب مشرکينوته اودَبعث اوآخرت منکرينوته دې، چې نن خوتاسودآخرت اوقيامت انکار کوئ، خو هلته به مسلسل يوحالت نه ورستوبه حالت سره مخامخ کيږئ اوهرحالت دَبل نه سخت وي، دې توجيه مطابق "رکوب" دلته په معنی دَ "ملاقات" او "ملازمه" سره دې يعنی خامخا به مخامخ کيږئ. او "طبقا" نه مراد اخروی حالت او عذاب دې، څکه چې طبق وئيلی کيږي "مايطابق غيره في الحجم والقدر" ته، يعنی هغه شې چې په مقدار اوحجم کښې دَ بل شي برابر وي، نوچونکه داعذاب دَانسان عمل مطابق وي نوځکه ورته "طبق" اوئيلې شو، "طبقا" يامفعول به دې اوياحال دې، او "عن طبق" ورله صفت دې او "عن" دلته په معنی دَ "بعد" سره دې اي حالة بعدحالة وعذاب بعد عذاب، او يا دلته بعديت اعتباری دې اي حالة هي اشدمن الاولي وافظع.

(٢)څنې مفسرينو په احوالو کښې عموم کړې دې چې دلته مراد حالت نه عام دې:

(١) خواه که هغه احوال زمانی وي، لکه نن مالداره صباغريب، نن بادشاه صباغريب، نن فاتح صبا مفتوح وغيره کمافي قوله تعالى: وتلک الايام نداولها بين الناس.

(٢) يااحوال مکانی وي، لکه نن دنيا صباقبر، بله ورځ قيامت، نن په يوځائ صباپه بل ځائی کښې.

(۳) یا احوال بدني وی، لکه ماشوم توب،ځوانی،بوډا والې کما في قوله تعالی:الله الذين خلقكم من ضعف ثم جعل من بعد ضعف قوة(الروم)

(۴) یااحوال قلبي وی، چې نن مال سره محبت ، صبا جاه سره. کله ګاډوبنګلو سره ئې محبت وی اوکله ئې ښځو سره محبت وی کمافي الحديث ان القلوب بين اصبعين من اصابع الله يقلبها كيف يشاء(ترمذی).

(۳)اوځنې مفسرین فرمائی چې طبق نه مراد دلته مقام اومرتبه ده، رکوب په معنی دَ انتقال دې، یعنی قیامت کښې به ستاسو حالات بدل شی، دنیا کښې به ذلیل هلته به معزز وی، او دنیا کښې معزز به هلته ذلیل وی ، د دنیا نعمت پرور خلق به هلته په سختئ کښې وی، او مصیبت زده به په راحت کښې وی کما في قوله تعالی خافضة رافعة.

﴿فَمَا لَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴾دازجردې،یعنی چه دَقیامت پهٔ ورخ باندی په دوئ مختلف قسمه سخت حالات راځی نودوئ ایمان ولې نه راوړی چه دې شدائددَقیامت نه بچ شی.

﴿وَإِذَا قُرِئَ عَلَيْهِمُ الْقُرْآنُ لَا يَسْجُدُونَ ﴾ سجده کنایه ده دَخضوع نه،یعنی دوئ په وخت دَ تلاوت دَقرآن کښې خضوع ولې نه کوی،یاورنه مرادمونځ دې،یاورنه خپله ظاهري معنی یعنی سجده مرادده،نوداآیت دَسجدی دې،حضورﷺنه دَدی آیت لوستلووخت کښې سجده کول منقول دي.

بَلِ الَّذِينَ كَفَرُوا يُكَذِّبُونَ ۞ وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ۞
بلکه کافران تکذیب کوی دَقرآن او الله تعالی ښه پوهه دې په هغې چه ساتی ئې دوئ په زړونوکښې
فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ۞ إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ
پس زیری ورکړه دوئ ته دَعذاب دردناک مګرمؤمنان اونیک عمل کونکی چه دی هغوئ لپاره
أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۞
اجردې نه ختمیدونکې.

﴿ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ ﴾ترقی ده دَماقبل نه،یعنی قرآن لوستلو وخت کښې سَجده خوخود نه کوی بلکه دَقرآن تکذیب کوي.

﴿وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا يُوعُونَ ﴾ یعنی دَدوئ په زړونو کښې چه کوم کفر،حسد،بُغض اودشمنی دَ مسلمانانو سره پټ دي،الله ﷻ ته دَهغې ښه علم دي،یا﴿ يُوعُونَ ﴾پمعنی دَ يجمعون دي، نو مطلب دا دې چه دوئ پخپلو عملنامو کښې کوم بداعمال جمع کوي الله ﷻ ته معلوم دي، نو الله ﷻ به ئې بدله ورکوي(روح المعانی).

﴿ فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ ﴾مشرکانوته تخویف اخروي دې﴿ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ﴾استثناء یا متصل ده، یعنی چه کافرانو کښې چه کوم ایمان راوړي اوعمل صالح اوکړی نوهغوئ ته به الله ﷻ نه ختمیدونکی اجرورکوي،یااستثناء منقطع ده،پمعنی دَ لکن یعنی لیکن مؤمنانو لپاره اجر غیرمقطوع دې،﴿ ءَامَنُوا۟ ﴾و﴿وَعَمِلُوا ﴾دواړه دَماضی صیغی په اعتباردَعلم دَالله ﷻ سره دي یادواړه پمعنی دَمضارع دي.

رکوعاتها (۱)	سورة البروج مكيّة	اٰياتها (۲۲)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	

خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دي شروع کوم

ترتيبها حسب التسلسل (۸۵) وحسب النزول (۲۷)

نزلت بعدالشمس وقبل التين.

ربط: دې سورة کښې احوال دَقيامت باندې درې شواهد ذکر دي بطور ترقی دَماقبل نه دغه شان دې سورة کښې دَتوحيد ذکر دې.

خلاصه: آيت (۱) نه تر آيت (۳) پورې په ثبوت دَقيامت درې شواهد دي، آيت (۴) نه تر آيت (۸) پورې متعلق دې دَدريم شاهد پورې په طريقې دَلف نشرغيرمرتب، آيت (۹) دَتوحيد بيان دې، آيت (۱۰) تخويف اخروی دې، آيت (۱۱) بشارت اخروی دې. آيت (۱۲) نه تر آيت (۱۲) پورې متعلق دې دَدويم شاهد سره، آيت (۱۷) نه تر (۲۰) پورې دَاول شاهد سره متعلق دې، آيت (۲۱، ۲۲) بل الذين کفروا سره متعلق دي (تمت).

وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ ۝ وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ۝ وَشَاهِدٍ وَّمَشْهُوْدٍ ۝
قسم په اسمان چه خاوند دَبروجونو دې، او په ورځې وعده کړې شوې باندې، او په حاضر او په حاضرشوې

﴿وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ﴾ دا په ثبوت دَقيامت باندې اول شاهد دې، ﴿البروج﴾ نه بعض مفسرينو ستورې اغستي دي، ځنې فرمائي چې دينه دَستورومنازل مراد دي، او جواب قسم محذوف دې، چې هغه لتبعثن دې، او يا ان الله من ورائهم محيط دې، او قسم او جواب قسم کښې مناسبت دا دې چې لکه ځنګه چه اسمان په تاسو احاطه کړيده او دَ ده دَکيرې نه تاسو نشئ وتلې، نو دا پېدی شاهد دې چه الله ﷻ هم دغه شان په تاسو محيط دې، دَقيامت په ورځ ورنه چرته نشئ تختيدلې.

﴿وَالْيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ﴾ دا دويم شاهد دې، مراد دَيوم موعود نه ورځ دَقيامت ده ځکه چې دَدې وعده کيږي مؤمنانو سره هم، لکه لايحزنهم الفزع الاكبر وتتلقهم الملائكة هٰذا يومكم الذي كنتم

توعدون، او كافرانو سره هم لكه فذرهم يخوضو ويلعبوا حتى يلاقو مومهم الذي يوعدونااوجواب قسم محذوف دي، چې ان بطش ربک لشديد دي، اوقسم اوجواب قسم كښې مناسبت دادې چې لكه څرنګه چه دَقيامت ورځ به سخته وی.نوغه شان پدغه ورځ به دَالله ﷻنيول هم سخت وی.

﴿وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ﴾دادريم اوڅلوم شاهد دې په قيامت.د "شاهد" معنى حاضر اوكتونكې، اودَ "مشهود" معنى حاضركړې شوې اوليدلې شوې ده. دَدې دواړو اوصافونه دلته څه مراد دی ؟ دَ دې متعلق دَمفسرينو شل نه زيات اقوال منقول دی.

(۱) بعض وائی چې "شاهد "نه مراد هغهٔ كافران دی چې مسلمانانوته تكليف اوايذارسائی دَ پاره حاضريدل او "مشهود "نه مرادهغه مؤمنان دی چې هغوئ ته به تكليفونه ميلاويدل.

(۲) شاهد نه مراد جمعه اومشهود نه مراد يوم عرفه ده.

(۳) شاهد نه مراد انبيا اومشهود نه مراد امتيان دی.

(۴)شاهد نه مراد امت محمديه اومشهود نه مراد نورامتونه دی.

(۵)شاهد نه مراد فرشتې اوكراما كاتبين دی اومشهود نه مراد بنی آدم دی.

(۶)شاهد نه مراد اعضا دَانسان اومشهود نه مراد انسان دې.

راجحه خبره داده چې شاهد اومشهودداټول بلكه هغه ټول څيزونه دی چې هغه شاهد او مشهود جوړيدو صلاحيت لری،اوكومو رواياتو كښې چې ئې تعيين راغلی دې نوهغه به طور تمثيل دې بطور تخصيص نه دې.

• جواب قسم محذوف دې چې ان كفارقريش للمعونون، چې كفارقريش به دَالله ﷻ غضب مورد وی په قيامت كښې، قسم اوجواب كښې مناسبت دادې چې څنګه دوئ مؤمناتو ته تكليف رسولو دَپاره حاضريږی نودغه شان به قيامت په ورځ به الله ﷻ دوئ له عذاب وركوی، او مؤمنان به ئې دَ نيندارې دَ پاره حاضريږی،هغه ورځ به مؤمنان شاهد اودوئ به مشهود وی.

قُتِلَ اَصْحٰبُ الْاُخْدُوْدِ ۙ﴿۴﴾ النَّارِ ذَاتِ الْوَقُوْدِ ۙ﴿۵﴾ اِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُوْدٌ ۙ﴿۶﴾
لعنت كړې شويدې په خاوندانو دَ كندو، دَ اور چه لمبو والا وؤ، كله چه دوئ به غاړودكندوناست وؤ.

وَهُمْ	عَلَىٰ	مَا	يَفْعَلُونَ	بِالْمُؤْمِنِينَ	شُهُودٌ ۞	وَمَا	نَقَمُوا	مِنْهُمْ	إِلَّآ	

اودوئ په هغه کارونوچه کول ئی مؤمنانوسره حاضر وؤ اونه ئي اغستو انتقام د مؤمنانو نه مګر

أَن	يُؤْمِنُوا	بِاللَّهِ	الْعَزِيزِ	الْحَمِيدِ ۞	الَّذِي	لَهُ	مُلْكُ

صرف د دې وجه نه چې دوئ ايمان راوړو په الله چه غالب دې،ستائيلې شويدې هغه ذات چه هغه لره ده بادشاهي

السَّمَاوَاتِ	وَالْأَرْضِ	وَاللَّهُ	عَلَىٰ	كُلِّ	شَيْءٍ	شَهِيدٌ	۞
دآسمانونو	اوزمکې	اوالله جل جلاله په		هرخيز باندې		ګواه	دې

﴿قُتِلَ أَصْحَابُ الْأُخْدُودِ﴾ "قُتِلَ" په معنی د "لُعِنَ" دي،ابن عباس رضي الله عنه فرمائي قرآن کښې چه "قُتِلَ" کوم ځائ ذکر وی، نوپه معنی د "لُعِنَ" دي(قرطبي)

داد دريم شاهد سره متعلق دي يعنې څنګه چې اصحاب الاخدود ملعون شول دهغه شان به کفار مکه هم ملعون کيږي."اخدود" جمع د "خده" ده کندی ته وائی﴿النَّارِ﴾بدل دي د ﴿الْأُخْدُودِ﴾ نه، يعنې په اصحاب الاخدودباندی دی لعنت وی چه د اورکندې ئی بلې کړې وی په مؤمنانو.

دی آياتونوکښې دکافرانو دیوقوم قصې ته اشاره چه مؤمنانوباندی ئی کوشش اوکړوچه دخپل دين نه واوړی،ليکن چه انکارئی اوکړونوکندی ئی ورته اوکنستلې،اورئی پکښې بل کړو،مؤمنان ئی ورته غورځول.

قرطبي،ابن کثيروغيره په حواله دمسلم،ترمذی،ليکلی دی چه دصهيب رضي الله عنه نه روايت دي چه حضور ﷺ فرمائي،چه يوبادشاه وؤ،دهغه سره يوساحروؤ،کله ئی چه عمر زيات شو نو بادشاه ته ئې اووئيل،ماته يوغلام يعنې شاګردراکړه چه څه ورته سحراوښايم چه داعلم ضائع نشي،بادشاه ورته شاګرد ورکړو،ساحر به ورته سحر ښودلو، دا هلک به چه ساحر خوا ته راتللو، نو لاره کښې يوراهب ناست وؤ،نوداماشوم به چې کله هم په دې راهب تيريدلو نوڅه ساعت به دې راهب سره کيناستلو، د هغه خبرې ترې به ئی اوريدلې اوخوندبه ئی ورله ورکولو، نوچه ساحرخواته به راغې نوهغه به په ناوخته راتلوباندی به ئي اووهلو،نوده راهب ته شکايت اوکړو،راهب ورته اووئيل چه کله دی ساحر وهي نوته ورته وايه چه څه کوروالؤ په څه کار کښې حصارکړې ووم،اوچه کورته ناوخته لاړشې نوورته وايه ساحر راباندی ناوخته

کړو، یوه ورځ داهلک راتلونوپه لاره کښې یوه لویْ بلاناسته وه. چه بعض وائی زمري وۀ خلق ئې حصارکړی وۀ، څوک هم تلې نشو، نودی هلک اووئیل نن به خه معلومه وم. چه آیا دین د راهب حق دې،اوکه ساحر په حقه دې،یوکانړې ئې راوخستلو اونې وئیل:یاالله کچرته راهب دین په حقه وی اودې تاته خوښ وی نوپه دی کانړی دا بلا مړه کړې.چه خلق تیرشی،لاره ورته ازاده شی،کانړې ئې اوویشتلو، نو هغه مړه شوه، خلقو ته لاره کولاوه شوه،هلک راهب ته خبر ورکړو دَ دی واقعی،راهب ورته اووئیل:اوس ته ځمانه افضل ئې.ستامرتبه ځمانه لویه ده، تا باندی به امتحانات راځی،لیکن ځمابا‌ره کښې چاته څه مه وایه،داهلک خلقوکښې مشهور شو، دَ نابینا او ابرص والا اودغه شان دَنوروبیمارانوعلاج به ئې کولو،دَ بادشاه یو نابینا ملګرې وۀ،ډیری هدیی دې هلک ته راوړې،ورته ئې اووئیل کچرته تاماته شفاراکړه. نو دابه ټول ستاوی،هلک ورته ووئیل څه چاته شفاءنشم ورکولې، شفاءورکونکې صرف الله ﷻ دې،کچرته په الله ﷻ دی ایمان راوړونوځه به دعااوکړم.الله ﷻ به درته شفادرکړی ایمان ئې راوړو،الله ﷻ ورته شفا ورکړه ، نظر ئې راغې،دَبادشاه خواته راغې،بادشاه ورته اووئیل: نظر درته چادرکړو،نوده ورته اووئیل:ځمارب،بادشاه ورته اووئیل ځمانه علاوه ستا بل رب شته دې؟ده ورته اووئیل:رب ځمااورب ستاالله ﷻ دې،بادشاه ګرفتارکړو، سزائی ورکوله حتّی چه هغه ورته هلك اوښودلو،بادشاه هلك ته اووئیل آیاته دَخپل سحرپه وجه دا کارونه کوی، هلك ورته اووئیل: داځه نه کوم،بلکه شفاء ورکونکې الله ﷻ دې،بادشاه دې هم ګرفتار کړو، حتّی چه هغه ورته راهب اوښودلو،بادشاه راهب ته اووئیل دَخپل دین نه واپس شه، راهب انکاراوکړونوبادشاه په آری باندی دوه ټکړې کړو،بیائی دغه شان کارخپل ملګري سره هم اوکړو، بیا ئې هلك ته اووئیل چه خپل دین نه واپس شه، لیکن هغه هم انکار اوکړو، نو یو څو نوکرانو(پولیس والؤ)ته ئې حواله کړوچه دې.بوځئ دَفلانی غرنه ئې اوغورځوئ چه مړ شی، هغوئ چه غرته بوتلونوهلك دعااوکړه:اللّهم اکفنیهم بماشئتَ،نوپه غرزلزله راغله، هغوئ دَغرنه لاندې اوغورزیدل او هلك بچ شو، بادشاه ته راغې،واقعه ئې ورته بیان کړه، بادشاه نوروکسانوته حواله کړوچه دې بوځئ په سین کښې ئې ډوب کړئ،هغوئ چه بوتلونوده بیاهغه دعااوکړه،نوپه هغوئ کشتئ اولټه شوه، ټخپله غرق شول،دې بچ شو،بیابادشاه ته راغې واقعه ئې ورته بیان کړه، اوبیائی ورته اووئیل چه ترهغی ته مانشی قتل کولې چه کومه طریقه درته څه اونه ښایم. بیائی ورته طریقه اوښودله چه په یومیدان کښې خلق راجمع کړه،

يوې اوني پوري ماواوتړه، غشې راواخله څمادتركش نه.ليندنه كښې غشې كيده، او دا اوايه بسم الله ربّ الغلام، بياما اووله، نوځه به قتل شم،بادشاه چه دغه شان طريقه اوكړه نوهلك مړ شو، ليكن څومره خلق چه راجمع وؤ، ټولو ايمان راوړو،اوئې ونيل:امنّابربّ الغلام، امنّابربّ الغلام، دَ بادشاه په حكم كندى جوړې شوې،اورونه پكښې بل كړې شول،چابه چه دَ مرتدكيدلونه انكاراوكړو، هغه به ئې پكښې غورځولو،تردى چه يوه ښځه راوستلې شوه، په غيږ كښې ورسره ماشوم بچې وؤ،هغې هم دَمرتدكيدلونه انكاراوكړو،په اوركښې ورتللوته ئې هم زړه اونه نيولو، ليكن بچى ورته اووئيل:ياامة اصبرى فانكِ على الحق(قرطبي).

دينه علاوه دى قصى كښې دَمفسرينونوراقوال هم دى،دَاختلاف په وجه په موضع كښې ئې هم اختلاف دې،بعضِ وائى داواقعه نجران كښې شويده،بعضِ وائى حبشه كښې،بعضِ وائى دَيمن په يوكلى كښې شويده،روايت دې چه حضورﷺبه چه كله دَاصحاب الاخدودتذكره كوله نوپه ازمائش اوامتحان كښې واقع كيدلونه به ئې پناه غوښتله.

﴿ إِذْ هُمْ عَلَيْهَا قُعُودٌ ﴾يعنى پدغه وخت كښې دكندونه ګيرچاپيره ناست وؤ﴿وَهُمْ عَلَىٰ مَا يَفْعَلُونَ ﴾ددې مطلب يا(۱)دادې چه دوئ دَبادشاه په حضوركښې دَيوبل په كاركردګئ باندې ګواهى وركوله چه ستاپه امركښې چاهم تقصيرندې كړې،(۲)يادا دې چه دَقيامت په ورځ به دوئ پدى خپل فعل شنيع يوبل خلاف ګواهى كوى،يادَدوئ اعضاء به پدوئ ګواهى كوى،(۳)بعضِ وائى﴿ عَلَىٰ ﴾پمعنى دَ"مع"دې،نومطلب دادې چه دوئ سره دَدينه چه مؤمنانوته ئې كوم عذاب وركولو، حاضر وؤ، ليكن بيائى هم دَقسوة قلبى پوجه په زړونوكښې نرمى نه پيداكيدله(روح المعانى).

﴿ وَمَا نَقَمُوا مِنْهُمْ ﴾يعنى كافرانودَمؤمنانوصرف داعيب ليدلې وؤچه دوئ ولې دَاللهﷻپه وحدانيت باندې ايمان راوړې دې﴿ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ﴾دادَتوحيدبيان دې﴿وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ﴾وعيددې عذاب وركونكوكافرانوته چه اللهﷻستاسوپه عمل باندې عالم دې دَدې بدله به درنه دَقيامت په ورځ اخلي.

إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ
بی شکه هغه کسان چه تکلیف ئی رسولي وی مؤمنانوسړومؤمنانوښځوته بیائی توبه نه وی اوباسلی نودوئ لره
عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ ۝١٠ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ
عذاب دَجهنم دي اودوئ لره عذاب دَ اور سیزونکی دي بی شکه مؤمنان اونیک عمل کونکی
لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ ۚ ذَٰلِكَ الْفَوْزُ الْكَبِيرُ ۝١١ إِنَّ بَطْشَ
دوئ لره جنتونه دی بهیږی به دَلاندی دَهغی نه نهرونه دا کمیابی لویه ده بی شکه نیول
رَبِّكَ لَشَدِيدٌ ۝١٢ إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ۝١٣ وَهُوَ الْغَفُورُ
دَرب ستاخامخاسخت دی،بی شکه هغه الله اول خل پیداکول کوی اودوباره پیداکول کوی اوهغه ډیر بخونکي دي
الْوَدُودُ ۝١٤ ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ ۝١٥ فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ ۝١٦
ډیر محبت کونکي دي،مالک دَعرش دي ډیرلوئی دي،کونکي دي دَهغه څه چه اراده ئی اوکړی

﴿ إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ ﴾داتخویف اخروی دي،چه کو موخلقو مؤمنانو سړو اوښځو ته دَتوحیدپه وجه عذاب ورکړیدي اوتوبه ئ نده اوباسلی،دوئ دَپاره دوه عذابونه دی : یو عذاب جهنم دابه په سبب دکفر وی،اودویم عذاب الحریق چې دابه عام جهنم نه سخت عذاب وی، اودابه ورته مسلمانانو ته تکلیف رسولو په سبب میلاویږی،

ځنې مفسرینو لیکلی دی چې عذاب جهنم نه مراد عذاب دَزمهریر دې چې دا دَجهنم انتهائی یخه طبقه ده اوعذاب الحریق نه مراد داور اوګرمئ عذاب دې.

﴿ إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا ﴾دابشارت اخروی دې.

﴿إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ﴾.دا متعلق دې تخویف اخروی ان الذين فتنوا المؤمنين سره يعنى دَالله ﷻ عذاب معمولی مه ګڼری هغه ډیر سخت دې.

﴿إِنَّهُ هُوَ يُبْدِئُ وَيُعِيدُ ﴾يعنى دوئ دی داګمان نه کوی چې بس د ،دي دنیا ژونددې چې څه کولې شئ هغه اوکړئ، دینه ورستو هیڅ نشته،بلکه دینه ورستو آخرت دي څنګه موچې

اول خل پیدا کړی یئ. دغه شان به دوباره پیدا کوؤ. اودهر څه تپوس نه درنه کوؤ. ﴿يبدئ﴾ نه مراد اوخل پیدا کول دی او ﴿يعيد﴾ نه مراد دوباره پیدا کول دی.

﴿وَهُوَ ٱلْغَفُورُ ٱلْوَدُودُ﴾ دي تعلق دي بشارت اخروی ان الذين امنوا وعملوا الصلحت سره. یعنی الله ﷻ بخونکې ذات دې اوخپل بندګانو سره ډیر مینه کونکې ذات دې ﴿ذُو ٱلْعَرْشِ﴾ عرش مالک اوفضل وکرم والا.

﴿فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ﴾ دهغه قوت اوطاقت لامحدود دې چې څه فیصله اوڅه کول غواړی هغې کښې ورته څوک رکاوټ نشی اچولی.

هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ ۝١٧ فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ ۝١٨ بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا
آیاراغلې دې تاته خبر دَ لښکرو. فرعون دې اوثمودیان دی بلکه داکافران دَمکی
فِى تَكْذِيبٍ ۝١٩ وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم مُّحِيطٌۢ ۝٢٠ بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ۝٢١
په تکذیب کښې دی. اوالله ﷻ ګیرچاپیره دَدوئ نه احاطه کونکې دې بلکه داقرآن دې لوئ شان والا.
فِى لَوْحٍ مَّحْفُوظٍۭ ۝٢٢
په لوح محفوظ کښې لیکلې شوې.

﴿هَلْ أَتَىٰكَ حَدِيثُ ٱلْجُنُودِ﴾ تاکید دې دَ فعّال لمایرید اودَ بطش ربّك لشدید او تسلی ده حضور ﷺ ته ﴿فِرْعَوْنَ وَثَمُودَ﴾ بدل دې دَ ﴿ٱلْجُنُودِ﴾ نه په حذف دَمضاف سره ای جنود فرعون، دَ فرعونیانو اوثمودیانو هلاکت ته پکښې اشاره ده چه دَسرکشئ په وجه څرنګه الله ﷻ هلاك کړل نو که داخلق هم سرکشی کوي نو دوئ به هم هلاك کړی.

﴿بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا﴾ اضراب دې دَمماثلت نه یعنی دااهلِ مکه دَفرعونیانو ثمودیانو نه زیات سخت دی په کفرکښې، ځکه چه دَقرآن په شان عظیم الشان کتاب تکذیب

کوي،نودوئ زيات مستحق دَعذاب دی.﴿وَٱللَّهُ مِن وَرَآئِهِم ﴾دَاول شاهد سره متعلق دي.﴿بَلْ هُوَ قُرْءَانٌ مَّجِيدٌ ﴾دکافرانودَتکذيب رددي،يعنی داسی قرآن باندی تکذيب نه دي مناسب ﴿ فِي لَوْحٍ ﴾ای کائن فی لوحٍ﴿مَّحْفُوظٍ ﴾يعنی دَرسيدلو دَشياطينونه محفوظ دي.

رکوعاتها (۱)	سورة الطارق مکیّة	آیاتها (۱۷)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم		

ترتیبها حسب التسلسل (۸۶) وحسب النزول (۳۶)

نزلت بعدسورة البلد وقبل اقتربت الساعة

ربط: ماقبل سورتونوکښ دَقیامت مسئلې بیان تفصیلاً اوشو،دې سورة کښ اوس فرمائي چه اوس هم چه داکافران قیامت نه منی نوبیا ئي ما نه پریده ﴿فمهّل الکافرین امهلهم رویداً﴾.

خلاصه: ترآیت (۴) پورې تخویف أخروي دې،بیاآیت (۱۰) پورې حشرنشرباندې دلیل عقلی دې بطورنمونه،آیت نمبر(۱۴) پورې دویم دلیل دې بطورنمونه،﴿انهم یکیدون﴾ شکوه ده کافرانو نه،آخری آیت تخویف دې (تمت).

وَالسَّمَآءِ وَالطَّارِقِ ﴿١﴾ وَمَآ اَدۡرٰىكَ مَا الطَّارِقُ ﴿٢﴾ النَّجۡمُ الثَّاقِبُ ﴿٣﴾							
قسم دې په اسمان اوپه راتلونکی دَ شپې . او څه پته ده تاته چه څه دې دَشپې راتلونکې.ستورې دې ځلیدونکې.							
اِنۡ	كُلُّ	نَفۡسٍ	لَّمَّا	عَلَيۡهَا	حَافِظٌ ﴿٤﴾		
نه	دې	هرنفس	مګرپه	هغه	باندې	مقرردې	یو ساتونکې

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَٱلطَّارِقِ﴾ دادوه قسمونه دی دَپاره دَاستشهاد، اول قسم په آسمان باندې دې اودویم قسم په"الطارق"باندې،"الطارق" دَ"طرق"نه دې اصل کښ "دق" یعنی ټکولو ته وئیلې کیږی،اوبیادَشپې راتلو په معنی کښ استعمال شو،ځکه چې شپې راتلونکې هم دَ کور دروازه ټکوی، لکه په حدیث کښ دې معنی کښ راغلې دې ﴿نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم ان یطرق المسافر اهله لیلا﴾، اودلته ترینه مراد ستورې دې چې شپې رابنکاره کیږی.

﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلطَّارِقُ﴾ داسوال دَپاره دَبیان دَعظمت دَ"الطارق" دې،

﴿اَلنَّجۡمُ اَلثَّاقِبُ﴾خبردي دَمبتدامحذوف ای هوالنجم الثاقب.یعنی طارق یو چمکدار ه روښانه ستوري دې،ثاقب ورته ځکه وائی چه دې تیاری روښانه کوی.بعض وائی ثاقب پمعنی دَمرتفع دې

﴿ إن كُلُّ نَفۡسٍ لَّمَّا ﴾داجواب قسم دې چې تاسو کښې هر چاباندې نګرانې فرشتې مقرر دی، چې هغه ستاسو اعمال لیکی، **قسم اوجواب قسم کښې مناسبت** دادې چې لکه څرنګه په آسمان ستوری هروخت موجود وی خوظهور ئې صرف دَشپې کیږی نودغه شان په تاسو هم نګرانې فرشتې مقرر دې هغوئ ستاسو اعمال خیر وشرټول لیکی.خوددې پته تاسو ته اوس نه لګی قیامت په ورځ به ددې ظهور کیږی(بیان القرآن)

اوځنی مفسرینو مناسبت داسې بیان کړې چې:لکه ستوري په آسمان کښې وی اوخپله ذمه داری پوره کوی،چې شیطان اسې پرې راشي په قيرې،اودآسمان زینت ذریعه ګرځی، کمافي قوله تعالی: انا زينا السما الدنيا بزينة الكواكب وحفظا من كل شيطان مارد، نودغه شان په تاسو هم نګرانې فرشتې مقرر دی، اوهغه خپله ذمه واری پوره کوی، چې کله تاسو کښې څوک څه عمل اوکړی نو هغه ئې فورا اولیکی. "ان"نافیه دې پمعنی دَ "ما"سره، "لما"په معنی دَ "الا"سره دې، ﴿حَافِظٌ﴾ نه مراد کراما کاتبين دی کمافي قوله تعالی:وان عليكم لحافظين كراماكاتبين، یا ترینه هغه فرشتې مراد دې چې دَانسان په حفاظت باندې ماموردی کمافي قوله تعالی:له معقبٰت من بين يديه ومن خلفه يحفظونه من امر الله(الرعد) اویاترینه مراد په خپله الله ﷻ دې کمافي قوله تعالی:وکان الله علی کل شئ رقیبا.

فَلۡيَنظُرِ ٱلۡإِنسَٰنُ مِمَّ خُلِقَ ۞ خُلِقَ مِن مَّآءٖ دَافِقٖ ۞ يَخۡرُجُ
پس اودې ګوری انسان چه دَڅه څیزنه پیداکړې شویدې،پیداکړې شویدې دَاوبو ټوپ وهونکونه چه رااوزی
مِنۢ بَيۡنِ ٱلصُّلۡبِ وَٱلتَّرَآئِبِ ۞ إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجۡعِهِۦ لَقَادِرٞ ۞ يَوۡمَ
دَمینځ دَملادَسری نه اودَسینودښځی نه.بی شکه الله ﷻ په دوباره پیداکولودَانسان خامخاقادردې.په هغه ورځ

تُبْلَى	السَّرَآئِرُ ۝٩	فَمَا	لَهُ	مِنْ	قُوَّةٍ	وَّلَا	نَاصِرٍ ۝١٠
چه ښکاره به کړې شي	رازونه دسينو.پس	نه به وي	ده لره	هيڅ	قوت	اونه	مددکونکي

﴿فَلْيَنظُرِ ٱلْإِنسَـٰنُ مِمَّ خُلِقَ﴾داپه حشرنشرباندی اول عقلي نمونه ده.چه انسان دی په نظرد عقل اوفکرسره اوګوری چه الله ﷻ دې دمني داوبونه څنګه پخپل قدرت سره پيدا کړيدې نودغه شان ئی پخپل قدرت سره دوباره پيدا کولوباندی هم قادردې.

﴿خُلِقَ مِن مَّآءٍ دَافِقٍ﴾توپ وهونکو اوبونه مرادمني ده،دفق په تيزئ سره بهيدلوته وائی. نو﴿دَافِقٍ﴾ ياپمعنی مدفوق دې،يعني په تيزئ سره بهيولې شوی،يافاعل ذی کذادې،ای ذی دفق.

﴿مِن مَّآءٍ﴾ ئی مفردراوړوحالانکه انسان دسړی اوښځی د دواړو اوبونه پيداکيږی،څکه چه مراد ورنه مخلوطی اوبه دی، نوداپه شان دَ ماء واحد دی،اووصف ئی په دفق سره ياپه اعتبار دَ احد الجزئين دې،چه مني دَسړی ده يامني دَښځی هم دافقه ده رحم ته(روح المعانی).

﴿يَخْرُجُ مِنۢ بَيْنِ ٱلصُّلْبِ وَٱلتَّرَآئِبِ﴾ "الصلب"ملاته وائی، "الترائب" جمع دَ "تريبة"ده، دَ سينی بالائی هډوکی ته وائی،دې وجهې نه څنې مفسرينو ئی معنی موضع قلادة المرأة کړې ده ، يعنی هغه هډوکې چه هغې باندې دَښځی هارپروت وی.ددې آيت په تفسير کښې مفسرينو نه متعدد توجيهات منقول دی:

(۱)څنی مفسرين فرمائی چی"الصلب"کښې اشاره دهٔ سړی ته،چونکه سړی کښې صلابت او مضبوط والې وی نوځکه ورته الصلب سره اشاره اشوه،او"الترائب"کښې اشاره ده ښځې ته ، چونکه ديکښې نزاکت وی نوځکه ورته دې سره اشاره اشوه،اوداسې دې لکه عرب وائی يخرج من بين زيد وعمرو خير کثير،اومقصد داوی چې دادواړه دَخير سبب دی،نودآيت مطلب دادې چې دانسان پيدائش سبب ظاهری دَسړی اوښځی مخلوطه نطفه ده.

(۲)څنې مفسرين فرمائی چې "الصلب"نه مراد صلب الرجل او"الترائب"نه مراد"ترائب المراة" دې ، نوديکښې اشاره ده چې سړی نطفه دَملا نه رااوځی اودَښځی نطفه دَسينورااوځی.

(۳)څنې مفسرين فرمائی چې"الصلب" او"الترائب"دواړو نه دَسړی صلب اوترائب مراد دی، څکه چې "دفق"وصف دَسړی په مني کښې وی ښځی په مني کښې نه وی.

(۴)څنو مفسرینو دصلب اوترائب نه مراد دسړی اوښځو دواړو صلب اوترائب اغستي دی

فائده: (۱)قرآن مجید کښې دمنی خروج په باره کښې صرف دومره ذکر راغلې دې چې من بین الصلب والترائب نه رااوځی .اودومره خبرې باندې اجمالا ایمان او عقیده ساتل ضروری دی،باقی دااحتمال هم شته چې خروج نسبت ورته حالا شوې وی. یعنی عین انزال په وخت کښې دَ "من بین الصلب والترائب"نه رااوځی، اوداهم ممکن ده چې انزال په وخت کښې دادسړی خصیتینو اودَښځې "مبیضة"نه رااوځی، خو "من بین الصلب والترائب" ته نسبت تسببیا شوې دې، ځکه چې کوم قوت اوغذا دیته ورکولې کیږی هغه دَ "من بین الصلب والترائب" نه راځی

فائده۲: طب قدیم دَمسلماتو نه داخبره وه چې منی دَپوره جسم نه خارجیږی، طب جدید دَ دې رد کړې دې، اوداوائی چې نطفه دَسړي خصیتینو او دَ ښځی "مبیضة" نه خارجیږی. به ظاهر دا دَ قرآن دَدې آیت مخالف تحقیق دې، دې وجهی نه بعض علماؤ مُوجوده سائنسی او طبی تحقیقاتو اودَقرآن ظاهر کښې تطبیق کوشش کړې دې، چې کله انسان جنین حالت کښې وی، نودَده خصیتینو خلیې اواصول "من الصلب والترائب"وی. بیا ورو ،ورو دَوخت تیریدلو سره لاندې راکوزې شی، حتی چې دَسړی خصیتین آله تناسل لاندې لفافې ته راکوزې شی او دَ ښځی منی اصول دَ رحم خواه نیزدې مقام ته راکوز شی، اوبیا دَدې نه منی خارجیږی، نو قرآن دَدې آیت سائنسی تحقیقاتو سره هیڅ مخالفت نشته،بلکه دادَقرآن اعجاز دې چې د منی تاریخ بیان کړې دې چې دَ هغې انکشاف دیارلس سوه کاله ورستو سائنس اوکړو.

البته داتطبیق دَتکلف نه خالی نه دې:

(۱)ځکه چې سائنسی تحقیقاتو کښې خصیتینو راکوزیدلو ذکر دې اوقرآن کښې دَمنی خروج ذکر دې.

(۲)دویم داچې قرآن کښې بین الصلب والترائب ذکر دې اوترائب دَسینې بالائی هډوکی نه وائی،اوسائنسی تحقیقاتو کښې دَدَاضلاعو(پختو)لاندې حصې ذکر دې،

لهذا راجحه خبره داده چې دې باندې اجمالا ایمان راوړلې شی اوالله اعلم بمراده وهو الحق عقیده اوساتلې شی، باقی سائنسی اوطبی تحقیقات داځه قطعیات نه دی بلکه ظن اوتجرباتو باندې مبنی دی، نن یوځه وائی صبابل څه،نودې وجهی نه دَقرآن مفهوم اوتفسیر دَتبدل اوتغیر تخته مشق نه دی کرځول پکار.

﴿إِنَّهُۥ عَلَىٰ رَجْعِهِۦ﴾داسابقه دليل دَپاره پمنزله دَنتيجه دي يعني د انسان په دي انداز تخليق باندي غوركونكي په دي واضحي نتيجي رسی چي كوم ذات دَمنی نه انسان په پيداكولو قادر دي هغه دَانسان په دوباره پيداكولو هم قادر دي. 'انه' كښې ضمير منصوب الله ﷻ طرف ته راجع دي او'رجعه' كښې ضمير مجرور انسان ته راجع دي.

﴿يَوْمَ تُبْلَى ٱلسَّرَآئِرُ﴾ظرف متعلق دي دَ﴿رَجْعِهِۦ﴾سره،يعني چه په كومه ورځ به رازونه ښكاره كيږي نوالله ﷻ دَانسان په دوباره پيداكولوباندی قادردي،﴿ٱلسَّرَآئِرُ﴾نه مرادپه زړونوكښې پټ عقائد،اونيات دی،دغه شان هغه رازونه چه دَانسان اودَالله ﷻ ترمينځ كښې وؤ،كه خيروی كه شر،اداكونكي وی كه ضائع كونكي،نوپدغه ورځ به هرڅه ښكاره شی،انسان لپاره به دَالله ﷻ نه بچ كولونه څه قوت وی اونه مددكونكي.

وَٱلسَّمَآءِ	ذَاتِ	ٱلرَّجْعِ ⑪	وَٱلْأَرْضِ	ذَاتِ	ٱلصَّدْعِ ⑫	إِنَّهُۥ	لَقَوْلٌ	
اوقسم دي په	اسمان	چه دَ باران والا دي	اوپه زمكی	چه چودولووالاده	چه بيشكه داقرآن	خامخاخبره		
فَصْلٌ ⑬	وَمَا	هُوَ	بِٱلْهَزْلِ ⑭	إِنَّهُمْ	يَكِيدُونَ	كَيْدًا ⑮	وَأَكِيدُ	
فيصله كونكي دي	اوندي	داقرآن	توقي‌بی	شكه داكافران	تدبيركوی	په تدبيركولوسره	اوځه هم تدبيرجوړم	
كَيْدًا ⑯	فَمَهِّلِ	ٱلْكَٰفِرِينَ	أَمْهِلْهُمْ	رُوَيْدًا ⑰				
په تدبيرسره،پس	مهلت وركړه	كافرانوته	مهلت وركړه	لږه زمانه				

﴿وَٱلسَّمَآءِ ذَاتِ ٱلرَّجْعِ﴾دادويمه نمونه ده په حشرنشرباندی،﴿ذَاتِ ٱلرَّجْعِ﴾يعني باران والا، باران ته ځكه 'رجع' وائی چه بار بار راځی.

﴿وَٱلْأَرْضِ ذَاتِ ٱلصَّدْعِ﴾'صدع'شق ته وائی،په نباتاتو،اوچينوسره زمكه شليږی. جواب قسم محذوف دي چي 'كذلک تخرجون' دي، يعني څنگه چي مونږ آسمان نه باران اوروؤ، نوځمكه ورسره اوشليږی اوبوټی را اوځی، نودغه شان به قيامت په ورځ تاسو هم را اوباسو.

﴿إِنَّهُۥ لَقَوۡلٌ فَصۡلٌ﴾ضمیرراجع دې مذکورکلام ته چې هغې دبعث بعدالموت ذکر دې. یعنی دابعث فیصله کن خبره ده، هغې توقی نه دې، یاضمیر قرآن ته راجع دې یعنی داقرآن فاصل فیصله کونکې دې بین الحق والباطل، هغې دټوقوکتاب نه دې.

﴿إِنَّهُمۡ يَكِيدُونَ﴾داشکوه اوتخویف دې مشرکینوته، چې دومره دلائل شواهد او تخویفاتو باجود دوئ قرآن نه منی اوکمزوری اوواهی شبهاتو سره ردکوی.

﴿وَأَكِيدُ كَيۡدٗا﴾ مکر مونږ په خپل لطف سره ددوئ اعتراضاتو جواب ورکووا وددوئ هره حیله اوشبه باطل کوؤ، او یا د "اکیدکیدا"مطلب دادې چې زمونږ تدبیردادې چې دوئ له به طور استدراج مهلت ورکوؤ، خودوئ په دې نه پوهیږی.

﴿فَمَهِّلِ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾داتخویف اخروی دې یعنی که دوئ بیا هم نه پوهیږګی نوته ورته څه مه وایه،مونږ به ورنه خپله انتقام اخلو، ﴿أَمۡهِلۡهُمۡ﴾بدل دې د"مهل الکافرین"نه ﴿رُوَيۡدَۢا﴾پمعنی د"قلیلا"سره صفت دې دمفعول مطلق محذوف اې امهالاقلیلا.

ركوعاتها (۱)	سورة الاعلى مكيّة	آياتها ۱۹
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۸۷) وحسب النزول (۸)

نزلت بعدسورة التكوير وقبل سورة الليل

ربط: دَسورة القيامة نه ترسورة الطارق پورې مسئله دَقيامت على سبيل الترقي تفصيلاً بيان شوه، اوس دې سورة نه ترآخره پورې مسئله دَتوحيد بيانيږي . او چونکه دَ توحيد نه اعراض دَدنيوي عيش وعشرت کښې انهماک په وجه وي. نو په دې وجه دَ مسئلې دَ توحيد سره سره تزهيد من الدنيا مضمون هم ذکرکيږي.

خلاصه: خلاصه ددې سورت دوه حصې دي:

اوله حصه تر ابتدا نه آيت ۱۵ پورې ده اوديکښې دَمسئله توحيد ذکردې.دويمه حصه دَبل تؤثرون " نه ترآخره پورې ده او ديکښې تزهيد من الدنيا ذکر دې

اولې حصې کښې دَ دؤو دعوو ذکر دې اوبيا په هرې دعوې يو يوانعام ذکر دې. اوله دعوه داده چې کائنات کښې متصرف اوکار ساز صرف الله جلّ جلاله دې ،اوآيت ۲ نه تر ۵ پورې بيا په دې دعوې شپږ شواهد ذکر دی،آيت نمبر ۲ کښې په دې انعام ذکر دې، آيت۷ کښې "انه يعلم الجهر" کښې دَدويمې دعوې ذکر دې،چې عالم الغيب صرف الله جلّ جلاله دې. اوآيت ۸کښې ورباندې دَ انعام ذکر دې، .۹او ۱۰ کښې تسلی ده،۱۱نه تر۱۳کښې تخويف اخروي دی،۱۴، ۱۵کښې بشارت دې .

حضور ﷺ دې سورة سره ډيرمحبت وؤ،په حديث کښې راغلی دی چه دی سورة ته افضل المسبحات پيغمبر عليه السلام وئيلی دی،په يوحديث کښې دی چه حضور ﷺ به دَوترو په اول رکعت کښې سورة الاعلى اودويم کښې سورة الکافرون اودريم کښې "قل هو الله احد" وئيل، دَ اختر او دَ جمعې په مونځ کښې به هم داسورة او"هل اتاک حديث الغاشية" وئيل

سَبِّحِ	اسْمَ	رَبِّكَ	الْأَعْلَى ۙ	الَّذِي	خَلَقَ	فَسَوَّىٰ ۙ	وَالَّذِي

باکی بيان کړه دَنوم دَرب خپل چه ډيرلوئی دې،هغه الله جلّ جلاله چه پيدا کړيدې هرڅيزبيائی برابرکړيدې.اوهغه الله جلّ جلاله

قَدَّرَ فَهَدٰى ۝ وَالَّذِیْٓ اَخْرَجَ الْمَرْعٰى ۝ فَجَعَلَهٗ غُثَآءً اَحْوٰى ۝
چه اندازه ئي مقرر کړه (دهر شي) بيا هدايت ئي ورته کړيدې، او هغه الله چه را اوباسلی ئي دی واخه ، پس گرځوی ئي وچ تور (بوس)

﴿سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى﴾ دا په ابتدا دَسورت کښې دَمکمل سورت لب لباب او خلاصی بيان دې ، چې دسورت دواړو دعوؤ (چې الله متصرف اوعالم الغيب دې) حاصل او نتيجه داده چې صرف دَ الله ﷻ عبادت کوه اوهغه دَهرقسم شريکانو نه پاک گڼړه ﴿اسْمَ رَبِّكَ﴾ لفظ دَاسم باره کښې مفسرينو مختلف اقوال دی :

(١) بعض وائی چې دادلته مقحم (زائد) دې لپاره دَتعظيم دَمسمي، لکه لبيد وائي، الى الحول ثم اسم السلام عليكما

(٢) بعض وائی چې اسم نه مراد دلته مسمی دې چې هغه ذات دَالله ﷻ دې.

(٣) اوځنی مفسرين فرمائی چې اسم نه مقحم دې او نه ورنه مراد مسمی دې، بلکه خپله معنی ترينه مراد ده ،يعنی دَخپل رب نوم تسبيح کوه ،نودې کښې حکم دې چې صرف ذکر قلبی .. ني اکتفاء مه کوه، بلکه ذکر لسانی هم اختيار کړه.

﴿الَّذِیْ خَلَقَ﴾ ديکښې دَسورت اوله دعوی مذکورده، چې کارساز او متصرف صرف الله ﷻ دې، اوپه دې باندې شپږشواهد اودلائل ذکردی، دااول دليل اوشاهددې، چې خالق دَ کائنات صرف الله ﷻ دې لهذا کارساز هم صرف هغه دې.

﴿فَسَوّٰى﴾ دادويم شاهد دې ،چې بيائی هر شی تهيک اوتناسب سره پيدا کړې دې، انسان جسم ته اوگوره څومره خائسته انداز سره ئی تخليق شوې دې، هرعضو اواندام ئی مناسب او برمحل دې، اودغه شان آسمان ،زمکه، حيوانات بلکه هر مخلوق ته اوگوره ، نو دينه به هم تا ته پته اولگی چې متصرف په کائنات کښې صرف الله ﷻ دې.

﴿وَالَّذِیْ قَدَّرَ﴾ دريم شاهد دې يعنی بيائی دَهر شی اندازه هم لگولې ده ، دَهغه دَجنس اندازه ئې هم لگولی ده چې دې به دکوم جنس نه وی، دَهغه دَاجل اندازه ئې هم کړيده چې کوم وخت به وی تر کوم وخته پورې وې، دَهغه دَافعالو اندازه ئی هم لگولې ده چې څه به کوی څه به نه کوی، دغه شان دهغه صفاتو ،ارزاقو وغيره دَهرشی ورله اندازه لگولې ده.

﴿ فَهَدَىٰ ﴾ څلورم شاهد دي ، يعني بيائی هر يوته دَخپل وظائف اداء کولو طريقه هم خودلې ده اوتقدير موافق تللو لارئی ورته هم هموار ه کړې ده.

﴿وَٱلَّذِىٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ﴾ پنځم شاهد دي، چې حيواناتو دَپاره وابنه دَځمکی نه رااوباسلی دی، 'مرعی' مصدر ميمی دي مرادترينه وابنه دی.

﴿فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ﴾ شپږم شاهد دي،يعني تک شنه وابنه راوباسلو نه لګه موده پس هغه وچ اوتور اوګرځوی،نوداټول تصرفات په دې دلالت کوی چې متصرف في الامور صرف الله ﷻ دي، 'غثاء' وچو واخوته وئيلی کېږی،'احوی' تورمائل رنګ ته وئيلی کیږی.

سَنُقۡرِئُكَ	فَلَا	تَنسَىٰٓ ⑥	إِلَّا	مَا	شَآءَ	ٱللَّهُۚ	إِنَّهُۥ	يَعۡلَمُ
زرده چه اوبه لولومونړيه تاقرآن نونه به ئی هيره وي مګرهغه چه اوغواړی الله ﷻ بی شکه الله ﷻ عالم دي								
ٱلۡجَهۡرَ	وَمَا	يَخۡفَىٰ ⑦	وَنُيَسِّرُكَ	لِلۡيُسۡرَىٰ ⑧				
په ښکاره اوپه هغه چه پټ وی، او اسان به کړو تا ته دا آسان شريعت								

﴿سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴾ داپه اولې دعوی انعام دي ،چه انعام کښی به مونږتاته قرآن درکړو کله چه ته دَتوحيدبيان کوی چه خالق اورازق صرف الله ﷻ دي، او قرآن به درته داسی ياد کړو چه درنه هيريږی به نه، البته هغه آياتونه چه دَهغوهيرول دَالله ﷻ خوښه وی هغه به درنه هيريږی چه داهم يوقسم نسخ ده.

حضورﷺ باندی به چه کله وحی نازليده نوجبرئيل عليه السلام به فارغه شوې نه وو،چه حضورﷺ به لوستل شروع کړل دَوحی دَخوف نه په هيريدلونودا آيت نازل شو(قرطبی).

﴿سَنُقۡرِئُكَ ﴾ کښی 'سين' يا دَ تاکيد د پاره دې، يا دَ استقبال دي نو وعده ده دَ استمرار د وحی. ﴿إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ ﴾ سوا دَ هغې نه چې الله ﷻ دَ هغې هيرول اوغواړی، او دَ دې دوه صورته دی : يو به طورنسخ هيرول دی،يعني که الله ﷻ دَيو آيت يازيات نسخ اوغواړی نوهغه به درنه هيرشی،لګه تيرشو ،اوديته انساء وئيلې شی،اودويم صورت دادې چې عارضی طور باندې بتقاضائی بشريت ترينه هير شی ،لګه په روايت کښی دی چه حضورﷺ دَسهارمونځ

کښې بوآیت پریخودلو . نو ابی بن کعب رضي الله عنه گمان اوکړو چه دا به منسوخ وی. تپوس نی اوکړو نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل مانه هیرشوې وو

﴿ إِنَّهُۥ يَعْلَمُ ٱلْجَهْرَ وَمَا يَخْفَىٰ ﴾ دویمه دعوی ده اوماقبل علت دې. یعنی الله ﷻ ظاهری باطنی اقوالو، افعالو، اعمالو باندې عالم دې، او ستاپه حال اوحرص په حفظ دماېوحی باندې هم عالم دې، نو د نسیان نه به دې محفوظه ساتی. مگرهغه چه دخپل علم اوحکمت موافق به درنه هیرکړی

﴿وَنُيَسِّرُكَ لِلْيُسْرَىٰ ﴾ داانعام دې په دویمه دعوی منلو باندې.چې ددین ټول کارونه به ستادپاره آسان کړو، خواه هغه دعوت اوتبلیغ وی، یاتعلیم اوتعلم وی. خواه هغه دوحی تلقی وی یا دهغې حفظ وی

فائده: "تیسیر" فعل په صله کښې چې"لام"حرف جر راشی، نودهغې مدخول "میسرله"وی. اومفعول به ئی "میَسَّر"وی، لکه وَ يَسِّرلِي فِي امري،دلته موسی علیه السلام "میسرله" او امر ورله "میسر" دې، حالانکه دلته خبره ددې عکس ده، مفسرینو ددې متعدد توجیهات لیکلی دی:

(۱)تیسیر دلته خپلې معنی کښې نه دې، بلکه توفیق او تهیئة په معنی کښې دې، اي نوفقک و نهیئک للطریقة والشریعة الیسری، او "لام" په «للیسری» کښې اجلیه دې، اي لاجل الیسری وقبولها.

(۲)ځنې مفسرین فرمائی چې "تیسیر"خپلې معنی کښې دې. خوآیت کریمه کښې"قلب"شوې دې، میسر پمنزله د"میسر له"، او"میسرله" پمنزله د"مسیر" گرځولې شوې دې ، د تیسیر حکم کښې مبالغې دپاره،اصل کښې داسې دې ونیسرلک الیسری، نوقلب دلته حکم کښې مبالغه راوستلو سره سره نوری دوه فائدې ورکړې:

(۱)یوداچې کوم احکاماتو مونږ تا مکلف گرځوو هغه یسیر اولګ دی خو مقصود باندې محیط دی.

(۲)دویم داچې دهغې لګواحکاماتو اداکول هم به تاته آسان کړو(التحریروالتنویر)

﴿لِلْيُسْرَىٰ﴾ صفت دې دموصوف چې هغه "الشریعة"دې.

فَذَكِّرْ	اِنْ	نَّفَعَتِ	الذِّكْرٰى ۞	سَيَذَّكَّرُ	مَنْ	يَّخْشٰى ۞
پس نصيحت کوه	که	نفع ورکړي	نصيحت	ژر ده چه نصيحت به واخلي	هغه څوک چه	يريږي د الله ﷻ نه.
وَيَتَجَنَّبُهَا الْاَشْقَى ۞	الَّذِيْ	يَصْلَى	النَّارَ الْكُبْرٰى ۞	ثُمَّ	لَا	يَمُوْتُ
او ډډه به کوي ورنه لوئي بدبخت	هغه چه	داخليږي به	اور لوئ ته	بيا به	نه	مړکيږي

فِيْهَا وَلَا يَحْيٰى ۞

په جهنم کښ او نه به ژوندي وي.

﴿فَذَكِّرْ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكْرَىٰ﴾ تسلی ده حضور ﷺ ته او د تبليغ حکم دي، چې الله ﷻ تا ته دعوت لار آسانه کړې ده، د هغه مدد به در سره پل په پل وي، لهذا ته مسلسل خپل دعوت او تذکير جاري ساته.

"ان نفعت الذکری" (۱) "ان" دلته يا په معنی د "قد" سره دي، او مطلب د آيت دا دي چې نصحيت کوه ځکه چې نصيحت خامخا فائده ورکوي.

(۲) يا ان شرطيه دي خو د شرط د پاره تقييد نه دي، چې که د نصيحت فائده وي نو بيا کوه، کنې هڅې مه کوه، بلکه شرط اتفاقي دي، لکه ((فلا جناح عليکم ان تقصروا من الصلوٰة ان خفتم)) او ((لاتکرهوا فتياتکم على البغاء ان اردن تحصنا)) (النور) کښ، او مقصد د شرط دا دي چې نصيحت کول خو هڅې هم پکار دي، خو کچرته نفع ورکوي نو بيا خو ډير زيات پکار دي، خو چونکه يقيني طور باندې داسې څه محل متعين نه دي چې هغه به قبولوي يا به نه قبولوي، نو لهذا هر چا ته پکار دي، په دې امکان چې کيدې شي دې نصيحت قبول کړي، نو دَدې نه د تذکير او تبليغ عموم تاکيد ثابت شو.

(۳) بعض مفسرينو شرط د پاره د تقييد ګرځولې دې، خو هغوئ تذکير او تبليغ کښ فرق کړې دې، چې تبليغ د پاره خو دا شرط نه دې، البته تذکير د پاره دا شرط دې، بشرطيکه چې يقيني علم وي چې دلته او س نصيحت څه فائده نه ورکوي.

﴿سَيَذَّكَّرُ مَن يَخْشَىٰ﴾ يعني چاكښ چه خوف وی هغه به ترینه خامخا نصیحت اخلی. او

څوک چه بدبخت وی هغه به ورنه لری تختی﴿ ٱلنَّارَ ٱلْكُبْرَىٰ ﴾نه مراد دَجهنم آخری طبقه ده.

بعض وائی دَ جهنم اور ورنه مراد دې مطلقًا، دنیا اورته نارصغری وائی،آخرت اور ته نارِ

کبریٰ، په صحیحنوکښ دَابوهریره‌رضي الله عنهنه روایت دې نارُکم هذه جزءٌ من سبعین جزءً من

نارجهنم.

﴿ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحْيَىٰ﴾کنایه ده عدمِ نجات نه،ځکه چه نجات په مرگ سره راځی

نوجهنم کښ مرگ نشته دې،اونه به ئې داسی حیات وی چه نفع ورته ورکړی.

قَدْ	أَفْلَحَ	مَنْ	تَزَكَّىٰ ⑭	وَذَكَرَ	اسْمَ	رَبِّهِ	فَصَلَّىٰ ⑮	
يقيناًكامياب دې هغه څوک چه ځان ئې پاک کړو(دشرک نه)اويادئې کړونوم درب خپل پس مونځ ئې اوکړو.								
بَلْ	تُؤْثِرُونَ	الْحَيَوٰةَ	الدُّنْيَا ⑯	وَالْآخِرَةُ	خَيْرٌ	وَأَبْقَىٰ ⑰	إِنَّ	هَٰذَا
بلکه غوره کوئ تاسوژوندددنیا حال داچه اخرة غوره دې اوباقی پاتی کیدونکې دې بی شکه دا(خبری)								
لَفِي	الصُّحُفِ	الْأُولَىٰ ⑱	صُحُفِ	إِبْرَٰهِيمَ	وَمُوسَىٰ ⑲			
خامخا په	صحيفومخکنوکښ	وی چه	صحیفی	دَابراهیم علیه السلام دی	اودَموسی علیه السلام دی			

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّىٰ﴾بشارت اخروی دې،دَاهل جنت دَپاره ﴿ تَزَكَّىٰ ﴾چې ځان ئې دَشرک نه

پاک کړو،دیکښ تصدیق قلبی ته اشاره ده.

﴿وَذَكَرَ ٱسْمَ رَبِّهِۦ﴾دَ لااله الا الله اقرار ئې هم اوکړو چې خپل حاجات ئې صرف دَالله ﷻ

نه اغوختل بل چاته ئې ندااونکړه نودیکښ اقرار ساتی طرف ته اشاره اوشوه.

﴿فَصَلَّىٰ ﴾اوخپله عملی زندگی ئې هم دَشریعت دَاحکاماتولاندې تیره کړه،مونځ چونکه

عملی احکاماتو کښ دَټولونه اهم عبادت دې نوځکه دَدې تخصیص اوشو،نودیکښ اعمال

صالحۇ طرف ته اشاره اوشوه،نوتصدیق، اقرار او عمل مجموعی نه ایمان کامل حاصل

شو،چې مؤمنین کاملین کامیاب دی.

﴿بَلْ تُؤْثِرُونَ ٱلْحَيَوٰةَ ٱلدُّنْيَا ﴾دادويم مضمون يعنی تزهيد من الدنيا ذكر كيږی.چه دنيا د ترجيح ځيز نه دي،پدی كښې ځان ډيرمه مشغوله كوئ ځكه دافانی ده.باقی آخرت دې هغی ته ترجيح وركړئ.

بل داضراب انتقالی دپاره دي،يعنی تاسوخودې خبرو له ترجيح نه وركوئ،بلكه دنيا خو ليدلې ده، هغې پسی شوی يئ.

﴿وَٱلْآخِرَةُ خَيْرٌ وَأَبْقَىٰٓ ﴾يعنی دآخرت نعمتونه ددنيا نعمتونو نه بهترهم دی اودائم هم دی. هميشه به وی په خلاف ددنيا نعمتونونه چې دانه په عمدګئ دآخرت نعمتونوته رسی اونه ئی هميش والې شته.

﴿إِنَّ هَٰذَا ﴾مشاراليه دهذاكلام مذكور دي،چې ﴿قَدْ أَفْلَحَ﴾نه شروع كيږی اوپه "ابقی" ختم شوې دي،يعنی دامضمون په مخكښنو صحيفو كښې هم وؤ: خصوصا دحضرت ابراهيم اوموسی عليهما السلام صحيفو كښې.﴿صُحُفِ إِبْرَٰهِيمَ ﴾بدل دې د﴿ٱلصُّحُفِ ٱلْأُولَىٰ ﴾نه.

ركوعاتها (١)	سورة الغاشية مكيّة	اٰياتها ٢٦
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	

خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دی شروع کوم

ترتيبها حسب التسلسل (٨٨) **وحسب النزول** (٦٨)

نزلت بعدسورة الذاريات و قبل الكهف

ربط: داسورة دَاول سورة يعنی دَسورة الاعلیٰ تتمه ده، يعنی دَتزهيدمن الدنيا بيان دي پکښ په ذکردَتخويف اخروی اوبشارت اخروی سره، اوبيان دَتوحيد دي.

خلاصه: اول نه ترآيت (٧) پوری تخويف اُخروی دي، بياترآيت (١٦) پوری بشارت دي بياترآيت (٢٠) پوری تفريع ده په مذکوره امورِاربعه ؤپه طريقی دَلف نشرمرتب ايت (٢١، ٢٢) تسلی ده حضور ﷺ ته، بياترآخره تخويف اخروی دي (تمت).

هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ الۡغَاشِيَةِ ① وُجُوۡهٌ يَّوۡمَئِذٍ خَاشِعَةٌ ② عَامِلَةٌ
يقيناًراغلي دي تاته خبر دَ پټوونکی (ورځ دَقيامت) بعض مخونه به په دغه ورځ ښريدونکي وی مشقت کونکی به وی
نَّاصِبَةٌ ③ تَصۡلٰى نَارًا حَامِيَةً ④ تُسۡقٰى مِنۡ عَيۡنٍ اٰنِيَةٍ ⑤ لَيۡسَ لَهُمۡ
ستړی به وی داخليږی به اورډيرګرم ته څکولي به شی ورته دَچينی ډيری ګرمی نه . نه به وی دوئ ته
طَعَامٌ اِلَّا مِنۡ ضَرِيۡعٍ ⑥ لَّا يُسۡمِنُ وَلَا يُغۡنِیۡ مِنۡ جُوۡعٍ ⑦
خوراک مګر دَ ازغی دار تريخ بوټی نه، چه نه به څربوی بدن اونه به دفع کوی څه لوږه

﴿هَلۡ اَتٰىكَ حَدِيۡثُ الۡغٰشِيَةِ﴾ داتخويف اخروی دي "هل" بمعنی دَقد دي، ياپخپله معنی دي او استفهام لپاره دَتعجب اوتشويق دي،

﴿الۡغٰشِيَةِ﴾ نه مرادياقيامت دي، قيامت ته غاشيه وائی چه خلق پټوی پخپلو اهوالو سره. بعض وائی چه "غاشية" نه مراد دَ دوزخ اور دي، کقوله تعالیٰ "ومن فوقهم غواشٍ"

﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ خَاشِعَةٌ﴾ دابيان دې د ﴿ٱلْغَـٰشِيَةِ﴾ يعنى هغه سرونه چې دنيا كښې ئې الله ﷻ ته خشوع نه كوله، پدې ورځ به ذليله وى. هغه كسان چې دنيا كښې دالله ﷻ احكامانو تعميل نه كولو ،اواعمال ئې نه اداكولو هغه به په دې ورځې مسلسل عمل كښې لګياوى.زنځيرونه او درنې زولنې به ځان سره راكاږى، اوهغه كسان چې دنيا كښې دَالله ﷻ په عبادت كښې ستړې نه برداشت كوله اوس به هميشه ستړى وى.

خاشعة، عاملة، ناصبة: درې واړه اخبار دى، اومبتدا ئې وجوه دې. خاشعة معنى ذليله او رسوا ده، ﴿عَامِلَةٌ﴾ عمل كونكى به وى.مختلف دَعذاب اعمالو مكلف كړى شوى به وى، زنځيرونه او زولنې به ځان سره ګرځوى،جهنم كښې به ورله غوپې وركولې كيږى،وغيره، ناصبة مسلسل عمل دَوجهې به ستړى وى،څه دَدمې كولو موقع به ورته هم نه ميلاويږى.

﴿تَصْلَىٰ نَارًا حَامِيَةً﴾ خبر رابع دې دَوجوه. يعنى داسى اُورته به داخليږى چه ګرم والې دَ هغې به انتهاءته رسيدلې وى،دَډيرى ګرمئ پوجه به اوبه اوغواړى نودَسختى ګرمى چينى نه به ورته اوبه وركولې كيږى، چه په څكلوسره به ئې كلمې راأوزى،لكه په سورة محمد كښې تيردى، ﴿عَيْنٍ ءَانِيَةٍ﴾ يعنى هغه ګرمې اوبه چه ګرم والې ئې آخرى حدته رسيدلې وى نورى نه ګرميږى.

﴿إِلَّا مِن ضَرِيعٍ﴾ ضريع ازغى داراوتريخ بوټې دې،دوزخى باندى چه اوخوړولې شى نونه به لاندى تيريږى دَډيرتريخ والى په وجه، او نه به بهرته واپس راځى دَ ازغوپه وجه.

بخارى كتاب التفسير كښې دى چه ضريع يوو ابنه دې،چه شبرق ورته وائى، داچه كله اوچ شى نو ضريع ورته وائى، دا ډير تريخ وى، زهريله وى، غالبًا پښتو كښې ورته كاپركنډه وائى. دلته دَجهنميانو دَخوراك حصر شوې دې په ضريع كښې. چې دوئ ته به جهنم كښې صرف ضريع ميلاويږى،اوسورت الحاقه كښې ئې حصر شوې دې په غسلين كښې، نو مفسرين فرمائى چې دواړو كښې تعارض نشته:

(١)چې ضريع دَ ونې نوم دې، اودې ونې نه چې كوم خوراك را اوځى نو دهغې نوم غسلين دې.

(٢)ياضريع اوغسلين دواړو نه مراد دَجهنميانو وينى زوې دى.

۳، او یا ضریع کنایه طعام مکروه نه ،خواه که هغه غسلین وی او که زقوم وی

﴿ لَا يُسْمِنُ وَلَا يُغْنِي مِن جُوعٍ ﴾روایت دي چه کله دامخکنی آیت کافرانو واوریدلو. نو اوئی وئیل چه ضریع خوداسی واښه دی چه اوښان ئی په خوراک سره ښه څربیږی.نو داآیت نازل شوچه هغه ضریع به دَدنیاضریع په شان نه وی.نه به ورسره څوک څربیږی او نه به ورسره لوږه ختمه وی.

وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴿٨﴾	لِّسَعْيِهَا رَاضِيَةٌ ﴿٩﴾	فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿١٠﴾	لَّا تَسْمَعُ		
بعض مخونه به پدغه ورځ تروتازه وی	په عمل خپل به راضي وی	په جنت اوچت کښ به وی	نه به اوری		
فِيهَا لَاغِيَةً ﴿١١﴾	فِيهَا عَيْنٌ جَارِيَةٌ ﴿١٢﴾	فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ ﴿١٣﴾			
په هغی کښ فضول خبرې	پدی جنت کښ به چینه وی جاری	پدی کښ به تختونه وی دنگ دنگ			
وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ ﴿١٤﴾	وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ ﴿١٥﴾	وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ ﴿١٦﴾			
اوګلاسونه کیخودلي شوی	په ترتیب سره اوبالختونه په صف ایخودلي شوی	اوقالینونه غوړولی شوی			

﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاعِمَةٌ ﴾ دابشارت اخروی دي مؤمنانوته،چه دَقیامت په ورځ به ډیر خوشحاله وی،دَخپلونیکوعملونواومجاهدوپه اجروثواب به راضي وی.

. "ناعمة"داپه مقابله دَ "خاشعة"کښ دي، چي جهنمیانو په مخونه به ذلت اورسوائی اثرات وی او دَ مؤمنانو مخونه به دَخوشحالئ نه تروتازه وی.

﴿ لِّسَعْيِهَا ﴾ یعنی دَعمل خپل چه کوم ئی دنیاکښ کړي وی داپه مقابله دَ عاملة ناصبة کښ دي . یعنی کافرانو دنیا کښ عمل نه کولو،نونن الله ﷻ دَهغې نه سخت اوشاق عملونو مکلف اوګرځول په خلاف دَمؤمنانو چي هغوئ دنیا کښې عملونه کړی وو .نونن به ورته الله ﷻ دَهغې صله اوبدله ورکوی،اودوئ به هغې راضي وی.

﴿ فِي جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴾داپه مقابله دَ تصلی ناراکښ دي، چي کافران به جهنم ته غورځولي شي او مؤمنان به جنت کښ ډیر په عیش وعشرت کښ وی، عالیة قیمتی،لوئ شان والا،دنګ دنګ محلات.

﴿لَا تَسْمَعُ﴾ صيغه دَواحدمذكرمخاطب ده خطاب جنتي دي. ياصيغه دمؤنث ده ضمير يكښ ﴿وُجُوهٌ﴾ ته راجع دي ، ﴿لَٰغِيَةً﴾ شور شرابه، لغو، فضول اوبكواس به يكښ نه وي. چې دانسان په مزاج بوج راولی ﴿فِيهَا عَيْنٌ﴾ عين جنس دي مرادترينه ډيرى چينې دى كافور. سلسبيل. تسنيم وغيره ﴿جَارِيَةٌ﴾ په زمكى به رواني وي. لكه سورة الدهركښ دى چه هرجنتى به ورنه خپلى بنګلى ته يونهرجارى كړې وي (يُفجّرونها تفجيرا).

﴿فِيهَا سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ﴾ جمع دَسريرته، تخت ته وايي ﴿مَّرْفُوعَةٌ﴾ يعنى مرفوعة القدربه وى. يااوچت به وى په هواكښ. چه كله ورباندى جنتى كيناستل اوغواړى نوداوښ په شان به ورته راخكته شي.

﴿وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ﴾ يعنى مخى ته به ئې كيخودلې شوى وى. ياپه كناروددنهرونو چينوبه كيخودلې شوى وى.

﴿وَنَمَارِقُ﴾ جمع دَنمرقة ده تكيه ګانوته وائى، چه تكيه لګولودپاره به په صف كښ يعنى يوبل سره جوختى پرتى وى.

﴿وَزَرَابِيُّ﴾ جمع دَزربية ده، بستروته وائى، چه هرطرف ته به غوړولى شوى وى.

أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾ وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ ﴿١٨﴾
آيا نو نه ګورى دوئ (مشركان) اوښ ته چه څرنګه پيداكړې شويدې اواسمان ته چه څرنګه اوچت پيداكړې شويدې
وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ ﴿١٩﴾ وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ ﴿٢٠﴾
اوغرونوته چه څرنګه اودرولى شويدى اوزمكى ته چه څرنګه غوړه ولى شويده.

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ﴾ دَدې څلور آياتونو متعلق مفسرينو متعدد اقوال دى.

(١) ځنى مفسرين فرمائى چې دې تعلق ماقبل سره دې اوهغه داسې چې كله مخكښ آياتونو كښ چې دَ جنت كوم آخرى څلور اوصاف (فيها سرر مرفوعة تر و زرابي مبثوثة) بيان

شول . نو مشرکینو په دې ډیر دتعجب اظهار اوکړو چې داځنګه کیدې شی.نو الله ﷻ ورله دې آیتونو کښ به طور لف نشر مرتب ددې دنیوی نظائر اونمونې پیش کوی

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ﴾ داد ﴿سُرُرٌ مَّرْفُوعَةٌ﴾ نمونه ده،مشرکانو وئیل چه دومره دنګو تختونو باندې به جنتیان ځنګه ورخیژی، نوجواب اوشوچه اوښانوته نه ګورئ چه څومره دنګ دنګ پیدا کړې شوې دی،لیکن چه تاسو پرې سوریږئ نوراځکته شی،دغه شان به دجنت تختونه هم وی

﴿وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ﴾ داد ﴿وَأَكْوَابٌ مَّوْضُوعَةٌ﴾ نمونه ده.مشرکینو وئیل چې دا څنګه کیدې شی چې دومره ډیر ګلاسونه وی، د هغی ترتیب نه ګډوډیږی، نو الله ﷻ ورته فرمائی چه لکه څرنګه اسمان کښ ستوری،نمر،سپوږمئ په ترتیب سره پیدا کړې شوی پراته دی، دغه شان به دجنت ګلاسونه هم په ترتیب سره کیخودلی شوی وی

﴿وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ﴾ داد ﴿وَنَمَارِقُ مَصْفُوفَةٌ﴾ نمونه ده.چه لکه څرنګه غرونه مضبوط دی پخپلوځایونو.دغه شان به دجنت تکیه ګانې بالختونه هم په صف اوقطار کښ پراته وی.

﴿وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ﴾ داد ﴿وَزَرَابِيُّ مَبْثُوثَةٌ﴾ نمونه ده.چه لکه څرنګه الله ﷻ زمکه خوره کړیده دغه شان به جنت کښ بسترې،قالینونه خواره وی.

(۲)اوځنی مفسرین فرمائی چې ددې آیاتونو تعلق ورستو "فذکر" سره دې،چونکه هغې کښ ددعوت حکم اوامردې نودې آیتونو کښ به طور تمهید دداعی اوصافوطرف ته اشاره کیږی:

﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ﴾ دیکښ وصف انقیاد ته اشاره ده چې لکه څنګه اوښ لوئ لوئ بوجونه راغستې په لرې لرې سفرونو روان وی،خوهغې باوجود هغه منقادوی،اړیکی او سختی نه کوی،بلکه نرمی اختیاره وی نودغه صفت دداعی هم پکار دې.

﴿وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ﴾ دیکښ نافعیت اواستغناء طرف ته اشاره ده چې آسمان ته اوګوره څومره منافع ورسره زمونږ وابسته دی،نور،سپوګمئ.په دیکښ دی،باران دلته نه وریږی، وغیره،خوزمونږ نه ئې څه منافع نشته،دغه شان داعی له پکارده چې بې غرضه خلقو

ته نفع رسائی کوشش کوی ﴿وَإِلَى ٱلْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ﴾ دیکښ استقلال او استقامت طرف ته اشاره ده ﴿وَإِلَى ٱلْأَرْضِ﴾ دیکښ تواضع ته اشاره ده.

فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ ﴿٢١﴾ لَّسْتَ عَلَيْهِم بِمُصَيْطِرٍ ﴿٢٢﴾ إِلَّا مَن

پس نصیحت کوه، بی شکه ته صرف نصیحت کونکې ئې، نه ئې ته پدوئ مسلط کړې شوې، مګر هغه څوک

تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ ﴿٢٣﴾ فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ ﴿٢٤﴾ إِنَّ إِلَيْنَآ

چه اعراض اوکړی اوکفراوکړی نو عذاب به ورته ورکوی الله ﷻ عذاب لوئ بی شکه صرف مونږ ته ده

إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم ﴿٢٦﴾

رجوع　د دوئ بیابی　شکه　په　مونږ دي　حساب　اغستل　د دوئ

﴿فَذَكِّرْ إِنَّمَآ أَنتَ مُذَكِّرٌ﴾ دا تسلی ده حضور ﷺ ته، یعنی ته دی مشرکانو ته وعظ نصیحت کوه، ستاذمه واری صرف دغه ده باقی ته د دوئ د نصیحت په قبلولو مسلط او ذمه وار نه ئې. ﴿بِمُصَيْطِرٍ﴾ جمهور وپه قرائت کښ په صاد سره دي. لیکن اصل کښ په سین سره دي ځکه چه مأخوذ دي د سطر نه پمعنی د تسلط.

﴿إِلَّا مَن تَوَلَّىٰ وَكَفَرَ﴾ تخویف دي کافرانو ته استثناء منقطع ده پمعنی د لکن من موصوله مبتداء دي.

﴿فَيُعَذِّبُهُ ٱللَّهُ﴾ ئې خبر دي، مبتداء متضمن دي معنی د شرط لره ، نو په خبرئې فاء داخله ده یعنی ته نصیحت کوه لیکن څوک چه اعراض اوکړی او په کفر قائم پاتی شی نو الله ﷻ به ورته لوئ عذاب ورکوی. ﴿ٱلْعَذَابَ ٱلْأَكْبَرَ﴾ مراد ورنه عذاب د آخرة دي، عذاب د دنیائی په نسبت سره اصغر دي.

﴿إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ﴾ اياب مصدر دي، پمعنی د رجع، یعنی مونږ ته د دوئ رجوع ده په موت سره او بعث سره، مونږ به ورسره حساب کوؤ.

آیاتها ۳۰	سورة الفجر مكيّة	رکوعاتها ۱
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۸۹) وحسب النزول (۱۰)

نزلت بعدسورة الليل وقبل الضحى

ربط: (۱)داسورة دَسورة الاعلى دَيومضمون يعني تزهيدمن الدنياتفصيل دي (۲)ماقبل سورت په آخر کښې دَالعذاب الاکبرذکر راغلې وۀ، اوس دې سورت ابتدا کښې دَهغې لوئى والى احساس ورکولو دَپاره پنځه قسمونه خوړلي کيږي، اودغه شان په آخردَسورت کښې لګ تفصيل هم بيانيږي

خلاصه: ابتداءنه ترآيت(۵)پورې دعوه دَسورة ده يعنې ترغيب دې تضرع الى الله ته پدغه پنځه مبارک اوقاتوکښې، آيت(۸)پورې اوله نمونه ده دَتخويف دنيوى، لپاره دَتزهيدفي الدنيا، آيت(۹)دويمه نمونه ده، آيت(۱۰)دريمه نمونه ده، آيت(۱۵)نه تر ۲۰ پورې زجر دې. آخرکښې تخويف اوبشارت دې(تمت).

وَالْفَجْرِ ﴿۱﴾	وَلَيَالٍ	عَشْرٍ ﴿۲﴾	وَّالشَّفْعِ	وَالْوَتْرِ ﴿۳﴾	وَالَّيْلِ	اِذَا	يَسْرِ ﴿۴﴾	
قسم دې په صبا	باندې، اوپه	شپولسو باندې، اوپه	جفت اوپه	طاق، اوپه	شپې	چه	کله روانه شي	
هَلْ	فِيْ	ذٰلِكَ	قَسَمٌ	لِّذِيْ	حِجْرٍ ﴿۵﴾			
آياشته	دې	په دې	قسمونوکښې	عبرت	دخاوند	دَعقل	لپاره	

﴿وَالْفَجْرِ﴾ داپنځه قسمونه دى دَعذاب اکبر احساس ورکولو لپاره ذکر کيږي، دااول قسم دې: (۱)دَبعض مفسرينوپه نيزدَفجرنه مرادجنس فجردې، بغيردَفجر دَيوم مخصوص نه (۲) دَابن عباس رضی الله عنه اومجاهد رحمه الله قول دې چه مرادورنه فجردَيوم النحريعنى دَغټې اختر فجر دې (۳)بعض وائى فجر دَ يوم الجمعه ورنه مراددې (۴)بعض وائى دَفجرمونځ ورنه مراددې. او دا دَ ورځې اولنې مونځ دې اودَورځې اوشپې ملائکې دیته حاضريږي، کقوله تعالى: انّ

قرآن الفجر كان مشهوداً بهرحال حاصل دادې چه دامبارک وخت دې.دی کښې الله ﷻ ته تضرع كوه.

﴿وَلَيَالٍ عَشْرٍ﴾دادويم قسم دې،دَدی په باره کښې هم مختلف اقوال دی: (۱)بعضِ وائی دَذی الحجه اولنۍ لس ورځې ورنه مراددی. دَ لیال' نه مراد مطلق وقت دې. ورځ او شپه دواړو ترینه مراد دې،چه په حدیث کښې دَدی ورځو ډیرفضائل راغلی دی،دَابن عباس ﷺ نه روایت دې: مامن ایام فیهنّ العملُ احبُّ الی الله والفضل من ایّام العشر.یعنی دَ دې لسو ورځونه نورو ورځوکښې یونیک عمل الله ﷻ ته زیات خوښ نشته .چاعرض اوکړوچه آیاجهادهم .اونی فرمائیل چه هاؤ،مګرهغه کس چه جهادته لاړشی مال هم ځان سره یوځی،نه ئي مال راواپس شی نه ئي ځان (ابن کثیربحواله بخاری وغیره).(۲)بعضِ وائی چه مرادورنه دَرمضان آخری لس شپې دی،چه پکښې لیلة القدرهم ده.

﴿وَالشَّفْعِ وَالْوَتْرِ﴾دادریم اوڅلورم قسم دې،دَدی په مرادکښې هم دَمفسرینوډیراقوال دی: (۱)بعضِ وائی دینه مرادمونځونه دی څکه بعضِ مونځونورکعتونه جفت دی دَبعضوطاق. (۲)بعضِ وائی یوم عرفه اویوم النحرورنه مراددې،(۳)اوبعض وائی چې شفع نه مراد مخلوقات دی چې دَهرڅا جوړه شته او'وتر'نه مراد الله ﷻ دې.

﴿وَالَّيْلِ إِذَا يَسْرِ﴾داپنځم قسم دې،مرادورنه دَهری شپې آخری وخت دې، چه داهم ډیرمبارک وخت دې.

﴿هَلْ فِى ذَٰلِكَ قَسَمٌ لِّذِى حِجْرٍ﴾دیکښې دَپنځوقسمونوعظمت بیان دې ،چې داځه معمولی قسمونه، نه دی،بلکه ډیر لوئ قسمونه دی اودیکښې دَیوعقل مند دَپاره دَعبرت ډیر سامان پروت دې.﴿ذَٰلِكَ﴾مشارالیه ورله مذکور پنځه اموردی په تاویل دَ'مذکور'سره،﴿قَسَمٌ﴾ تنوین دَپاره دَتعظیم دې اې قسم کاف ومقنع، یعنی آیا دې مذکوره پنځوو امورو باندی خوړل دا دَ یو عقل مند قانع کولو دَپاره کافی نه دې؟ یا'قسم'په معنی دَ'مقسم به'سره دې،یعنی آیا دا مذکوره اشیاء دَ دې لائق نه دی چې یو عقل مند دَپاره پرې قسم اوخوړلې شی، "ذي حجر"

حجر په معنی د عقل سره دي، اصل معنی ئې د منع ده. عقل چونکه انسان د منعم نافرمانی نه او د ضرر رسونکي څیزونو نه منع کوی نو څکه ورته حجر ونیلی کیږی

جواب قسم محذوف دي، چې لیعذبن دي. **قسم اوجواب قسم کښې مناسبت** دا دي (۱) چې څنګه دا امور عظیم دی نودغه شان داعذاب هم ډیرعظیم او اکبر دي (۲) او بل دا چې دامبارک اوقات او دقبولیت ساعات دی لهذا په خصوصیت سره په دیکښې دالله ﷻ دعذاب نه دپناه غوختلو دعاپکار ده.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ۝

آیاته نه وینی چه څرنګه کارکړې وزرب ستادعادسره چه ارم وو. دنګ دنګ قدونووالا

الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ۝

هغه چه نه وزپیداکړې شوی ددوئ په شان په ښارونوکښ

﴿أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ﴾ دا د **تخویف دنیوی اوله نمونه** ده برانی تزهید فی الدنیا. چه قوم عاد ته اوګورئ الله ﷻ څنګه هلاک کړل، حالانکه څومره طاقتور قوم وو، لهذا تاسو هم دنیا پسی منډی مه وهئ بلکه دآخرت فکر کوئ. ﴿إِرَمَ﴾ عطف بیان یابدل دي. ارم د دوئ جد امجد نوم دی او د حضرت هود ؑ قوم وو، دیته عادارم هم ونیلی کیږی او عاد اولی ورته هم ونیلي کیږی.

﴿ذَاتِ الْعِمَادِ﴾ "عماد" نه مراد یاستنی دي، اومقصود دلته د دوئ تشبیه ده دستنو سره په اوچت والی کښې، او یا عماد جمع د عمادة ده په معنی د دنګ دنګ عمارتونو. او یا عماد نه مراد قوت دي، یعنی ډیر قوت ورله الله ورکړی وو. ذات مؤنث د ذو دي مؤنث څکه راوړلي شو، چې عاد نه مراد قبیله عاد ده. ﴿الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا﴾ یعنی د دوئ په شان غټو او دنګو بدنونو والا او قوة والا په دنیا کښې نه وو پیدا شوی.

وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۝ وَفِرْعَوْنَ ذِي الْأَوْتَادِ ۝

او ثمودیانو سره هغه چه تراشلی وو کانړی په وادی کښې او فرعون سره چه خاوند د میخونو وو.

ٱلَّذِينَ طَغَوۡا فِي ٱلۡبِلَٰدِ ⑪ فَأَكۡثَرُوا فِيهَا ٱلۡفَسَادَ ⑫ فَصَبَّ

هغوئ هغه وۈجه سرکښي ئې کړې وه په ښارونوکښ پس زیات کړې وۈيدې کښ فساد پس نازله کړه

عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ سَوۡطَ عَذَابٍ ⑬ إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ ⑭

بدوئ باندې رب ستاکوړه دعذاب بې شکه رب ستا به خائ دانتظارکښ دي

﴿وَثَمُودَ ٱلَّذِينَ﴾ دا دَ **تخويف دنيوي دويمه نمونه ده،** چه قوم ثمود ته اوګوره چه څومره طاقتور او کاريګرقوم وۈچه په غرونوکښ بۍ کانړي ته تراش کول.مکانات به ئې جوړه ول،ليکن دَ نافرمانۍ په وجه هلاک شول

﴿وَفِرۡعَوۡنَ ذِي ٱلۡأَوۡتَادِ﴾**دادريمه نمونه ده.** «اوتاد»دَوتدجمع ده،ميخ ته وائي.فرعون ته «ذی الاوتاد» وئيل ياکنايه ده دَ هغه دَ سلطنت دَ استحکام نه. يا په دې وجه چه هغه به چاته سزا ورکوله نوميخونه به ئې څلورپه هغه ټک وهل.

﴿ٱلَّذِينَ طَغَوۡا﴾محلاً مجرور دي، صفت دې دَ مذکورينو . يعنی دَ عاد و ثمود او فرعون يعنی دی ټولو قومونوسرکشی اوکړه،فسادئې اوکړو،په دې وجه الله ﷻهلاک کړل.

﴿فَصَبَّ عَلَيۡهِمۡ رَبُّكَ﴾صب وئيلی کيږی بهولواو تيولو ته، او ديکښ اشاره ده دَعذاب کثرت اوسرعت ته،چې لکه څنګه يوه مشکيزه اچانک اوشليږی،اودَهغې نه اوبه کثرت او تيزۍ سره بهيدل شروع شي،چې سړی له ئې بيا هيڅ بند نه ورځی. نو دَغه شان دَالله ﷻ عذاب په دوئ داسې تيزۍ اوشدت سره احاطه اوکړه.

﴿سَوۡطَ عَذَابٍ﴾ سوط کوړې ته وائی،مفسرين فرمائی چې دلته اضافت دَصفت دې موصوف طرف ته، او «سوط» کنايه ده دَشدت نه.چونکه دکوړې سزا دَعربو په نيزسخت ترينه سزا وه، نو هر سختې سزا دَ پاره به ئې دَ«سوط» لفظ راوړلو، اي عذابا کالسوط في الشدة والسرعة،

﴿إِنَّ رَبَّكَ لَبِٱلۡمِرۡصَادِ﴾ مرصاد کمين ګاه ته وائی،داکنايه ده دَاحاطه علمی نه،يعنی لکه څنګه چې کمين ګاه کښ ناست کس دَخپل مخالف حرکاتو اوسکناتوته ګوری اوانتظارئی

کوی. دغه شان الله ﷻ دخپل بندګانو حرکاتو سکناتو نه خبردي. اومقرر وخت راتلو باندې به ورله بدله دهغې ورکوی. لهذا دنیا پریګدئ اودآخرت غم اوکړئ

فَأَمَّا الْإِنسَانُ إِذَا مَا ابْتَلَاهُ رَبُّهُ فَأَكْرَمَهُ وَنَعَّمَهُ

پس هرچه انسان دې چه کله آزمیښت اوکړی دده رب دده نوعزت ورکړی ورته اونعمت ورکړی ورته

فَيَقُولُ رَبِّي أَكْرَمَنِ ﴿١٥﴾ وَأَمَّا إِذَا مَا ابْتَلَاهُ فَقَدَرَ عَلَيْهِ رِزْقَهُ

نودې وائی رب خماعزت راکړوماته اوکله چه آزمیښت اوکړی دده نوتنګه کړی په ده روزی دده

فَيَقُولُ رَبِّي أَهَانَنِ ﴿١٦﴾

نودې وائی رب خماسپکوالي اوکړوخما

﴿فَأَمَّا الْإِنسَانُ﴾ دې آیاتونو کښې دمذکوره قومونو دطغیان اوفساد سبب بیان دې. اوزجر دې کافرانو ته، چې دوئ دنیا زندګئ اصل ګنړلې ده، دنیا عزت دوئ ته حقیقی عزت ښکاری. او دنیا مالداری دوئ په نظر کښې حقیقی کامیابی ښکاری. دنیا کښې غریبی اوتنګ دستی د دوئ په نظر کښې حقیقی رسوائی اوذلت دې، حالانکه غریبی مالداری، نعمت اومصیبت ټول ازمائش اوامتحان مختلف صورتونه دی.

"اما" دَ پاره د تفصیل دې، اودتفصیل دوه صورتونه وی:

(۱) کله ماقبل کښې څه اجمال وی دَهغې تفصیل بیانوی. لکه فمنهم شقي وسعيد، فاما الذين...

(۲) کله ماقبل کښې اجمال نه وی، خوورسره مدمقابل کښې دبل حالت بیان وی نودهغې سره فرق دپاره تفصیل بیانوی، اودلته دادویم صورت دتفصیل دې.

﴿وَنَعَّمَهُ فَأَكْرَمَهُ﴾ امام راغب رحمه الله د، اکرام دوه معنی بیان کړی دی:

(۱) یوداچې څه قابل قدرشې ورکول، مال وی اوکه بل څه وی.

(۲) دویم داچې څوک قابل قدر اومعزز ګرځول، نو "اکرمه" کښې اوله معنی مراد ده. چې الله ﷻ ورله خلقو کښې عزت ورکړی، مال ورله ورکړی، او "اکرمنِ" کښې دویمه معنی مراد ده، چې واقعی خان معزز اوګنړی اوداخپل ذاتی صلاحیت اوګنړی.

كَلَّا بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ٱلۡيَتِيمَ ﴿١٧﴾ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿١٨﴾								
هرگزداسې نده بكار، بلكه نه كوئ تاسوعزت دیتیم اونه ترغیب وركوئ يوبل ته په خوراک دمسكين								
وَتَأۡكُلُونَ	ٱلتُّرَاثَ	أَكۡلٗا	لَّمّٗا ﴿١٩﴾	وَتُحِبُّونَ	ٱلۡمَالَ	حُبّٗا	جَمّٗا ﴿٢٠﴾	
اوخورئ	تاسومیراث	په	خوړلوټولوسره	اومحبت	كوئ	دمال	سره	محبت ډیر

﴿ كَلَّا ﴾ دپاره دَ ردع دې یعنی دَدنیازندگی اودَدې احوال حقیقی زندگی اواحوال نه دی گرځول پکار ،بلکه آخرت له ترجیح ورکول پکاردی.

﴿بَل لَّا تُكۡرِمُونَ ﴾"بل"اضراب(ابطالی)دې دَردع دَمضمون نه یعنی دنیا زندگی حقیقی زندگی نه ده گرځول پکار خوستاسوئې گرځوئ،ځکه چې ستاسو طرزعمل په دې دلالت کوی،اومخکښ دَدې څلورعملی مظاهر علی سبیل الترقی بیانیږی:

﴿لَّا تُكۡرِمُونَ﴾دااول مظهر دې،چه تاسودَیتیم سره ښه سلوک نه کوئ،حق ئې نه ادا کوئ، دَحضورﷺارشاددې چه"خیربیتٍ فی المسلمین بیتٌ فیه یتیم یُحسن الیه،وشرّبیتٍ فی المسلمین بیتٌ فیه یتیم یساءالیه"یعنی په مسلمانانوکښ ښه کورهغه دې چه یتیم وی پکښ اودهغه سره ښه سلوک کولیشی، او بد کور هغه دې چه یتیم وی پکښ اوبدسلوکی ورسره کولې شی(ابن کثیر).

﴿ وَلَا تَحَٰٓضُّونَ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴾"تحاضون"په اصل کښ تتحاضَون دې،تخفیفاًیوه تاء حذف ده،دادویم مظهر دې دَماقبل نه علی سبیل الترقی چه یوبل ته دَمسکین دَحقوقو اوخوراک باره کښ ترغیب هم نه ورکوئ.

﴿وَتَأۡكُلُونَ ٱلتُّرَاثَ ﴾دادریم مظهر دې علی سبیل الترقی،چه دَیتیمانانوکوم خپل حق دې چه میراث کښ ورته پاتی وی هغه هم ورنه ټول په ټول قبضه کړئ.﴿أَكۡلٗا لَّمّٗا ﴾ "لمّا" پمعنی دَ "جمعًا" دې، دَ یوسړی کارونه چه راغونډشی نوعرب وائی"لمّ الله شعثه"، مراد ورنه دلته(۱)جمع کول دې،دَحلال اوحرام،یعنی تاسودَمیراث په مال کښ خپله حصه اودَبل حصه جمع کوئ اوقبضه کوئ،داپرواه نه کوئ چه دابل چاحصه ده،داحرام دې،روایت دې چه دوئ

به ښخوته.ماشومانوته میراث نه ورکولو،اوداطریقه نی وه چه میراث به صرف هغه چانه میلاویږی چه جنګ کولې شی اودخپل ملکیت حفاظت کولې شی(روح)

(۲)بعضِ وائی مراددادې چه دمړی نه کوم مال پاتی وی اوهغه جمع کړې وی،هغه اخلی اوخورئ ئی،که حلال وی که حرام،حالانکه تاسوته دابنه علم وی چه دائی په حرامه طریقه جمع کړې دې.

﴿وَتُحِبُّونَ الْمَالَ حُبًّا جَمًّا﴾ جمًّا یعنی دکثیرأدې.داځلورم مظهر دې،چه دتولونه لوئ دلیل دې، په دی چه دمال سره دومره زیات محبت کوئ چه دحرام حلال فرق پکښې نه کوئ.

كَلَّآ إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا ﴿٢١﴾ وَجَآءَ رَبُّكَ وَالْمَلَكُ صَفًّا

هرګزداسی مکوئ کله چه ماته کړې شی زمکه توټې توټې اوراشی رب ستااوملائکی صفونه

صَفًّا ﴿٢٢﴾ وَجِاْيٓءَ يَوْمَئِذٍۭ بِجَهَنَّمَ ۙ يَوْمَئِذٍ يَتَذَكَّرُ الْإِنسَانُ وَأَنَّىٰ

صفونهاورابه ویستلې شی پدغه ورځ جهنم.نوپدغه ورځ به نصیحت قبلوی انسان(لیکن)چرته به وی

لَهُ الذِّكْرَىٰ ﴿٢٣﴾ يَقُولُ يَٰلَيْتَنِى قَدَّمْتُ لِحَيَاتِى ﴿٢٤﴾

ده له نصیحت موقع.وائی به هائی افسوس مالره چه مامخکښې رالیږلې وې دپاره ددی ژوند(څه نیک عمل)

فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٥﴾ وَلَا يُوثِقُ وَثَاقَهُۥٓ أَحَدٌ ﴿٢٦﴾

پس پدغه ورځ به عذاب نه ورکوی په شان دعذاب دالله هیڅوک.اونه به شی تړل کولې په شان دتړلو دالله ﷻ هیڅوک

﴿كَلَّآ﴾ ردعیه دې،یعنی د دې طرزعمل نه ځان اوساتئ، داسی هرګز مه کوئ،ورنه پدی به درته دقیامت په ورځ سخت حسرت وی، لیکن بیابه دغه وخت کښې حسرت فائده نه درکوی،﴿إِذَا دُكَّتِ﴾تخویف اخروی دې اودقیامت احوالوبیان دې،﴿إِذَا دُكَّتِ﴾اول حالت دې ﴿دَكًّا دَكًّا﴾ تکراردتاکیدلپاره دې،یعنی زمکه به داسی باربارماتولوسره ماته ماته شی چه غونډئ غرونه به پکښې واړه واړه،ریزه ریزه شی اوبالکل همواره به شی.

﴿وَجَآءَ رَبُّكَ﴾ دويم حالت دي دَمجيئت«راتلو»نسبت الله ﷻ دمتشابهاتونه دي.چې ددې په حقيقي معنی او کيفيت الله ﷻ عالم دي.باقي متقدمين اهل السنة عموما پديکښ تفويض کوي، نه ئې دمعنی لغوي اثبات کوي اونه ئې تاويل کوي.اومتاخرين ئې عمومی طورباندې تاويل کوي. چه«ای وجاء امر ربک و قضاءه، يعنی فيصله اوامردالله ﷻ راشي چه بعث بعد الموت دې،بعضِ وائي چه راشي آثاردَقدرت اودَبادشاهی دَالله ﷻ،بعضِ وائي راتلل دَرب کنايه ده دَشبهاتواوشک زائله کيدلونه .يعنی دَمشرکانوچه دَقيامت باره کښ کوم شک شبهات وؤ . هغه به ختم شي په سترګو به ئې او ويني.«قرطبی»

﴿وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا﴾ دريم حالت دې،يعنی دَهراسمان ملائکی به صفونه صفونه شی، او کناروته به لاړې شي او دَانسانو اوجناتواحاطه به اوکړي.

﴿وَجِاْيٓءَ يَوۡمَئِذِۭ بِجَهَنَّمَ﴾ څلورم حالت دې، يعنی جهنم به ښکاره کړې شي.کقوله تعالی «وبرّزت الجحيم لمن يّرى»په مسلم اوترمذی وغيره کښ دی.حضورﷺفرمائی چه جهنم به داسی راوستلې شي چه دَهغه به اويازره مهارونه وی،اودَهريومهارسره به اويازره فرښتی وی، راکاږی به ئې.

﴿يَوۡمَئِذٖ يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ﴾ اوداپنځم حالت دې ، بدل دې د« إِذَا دُكَّتِ ٱلۡأَرۡضُ﴾ نه،

﴿يَتَذَكَّرُ ٱلۡإِنسَٰنُ﴾ يادا مطلب دې چه پدغه ورځ به انسان نصيحت قبولوته تيارشی ليکن دغه وخت به ورته نصيحت قبولول هيڅ فائده نه ورکوی، ځکه هغه دارالجزاء دې،يادامطلب دې چه خپل ګناهونه اوکوتاهئ، غلطئ به رايادی کړی،اودَحسوت اوندامت اظهاربه کوی، ليکن هيڅ فائده به ورته ندامت نه ورکوی،اوافسوس به کوی چه هائ افسوس مالره چه مادنياکښ دی ژوندلپاره هم څه راليږلې وې.

﴿قَدَّمۡتُ لِحَيَاتِي﴾ لحياتي:کښ لام تعليليه دې اوحيات نه مراد اخروی حيات دې اومفعول دَ ﴿قَدَّمۡتُ﴾حذف دې چه اعمالاً صالحةً دې،يالام وقتيه دې،حيات نه مرادحيات دنيوی دې، يعنی هائی افسوس چه ماپخپل دنياوی ژوندکښ نيک عملونه کړې وې،نونن ورځ به ماته نفع ميلاوه شوې وه.

﴿فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُعَذِّبُ عَذَابَهٗٓ﴾شپږم حالت دي ضميرپه﴿عَذَابَهٗٓ﴾ او ﴿وَثَاقَهٗٓ﴾کښ راجع دي الله ﷻته، اوددي دوه مطلبه کيدې شي: يو دا چه دقيامت په ورځ به دالله ﷻدعذاب او دوثاق به شان به بل هيڅ څيزعذاب نشي ورکولې، يادامطلب دي چه دعذاب الهی متولی او واک داربه بل څوک نه وی، چه چاته ئې خوښه شی عذاب ورکړی اوڅوک معاف کړی،

بعضِ وائی ضميرد﴿ عَذَابَهٗٓ﴾او﴿وَثَاقَهٗٓ﴾انسان موصوف ته راجع دي نو﴿ عَذَابَهٗٓ﴾کښ اضافت مفعول ته دي، نومطلب دادي چه دملائکی دجهنم به دده په شان عذاب بل چاته نه ورکوی(روح المعاني).

يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ارْجِعِيٓ اِلٰى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَّرْضِيَّةً ﴿٢٨﴾
اې نفس ارام کونکيه! واپس راشه دخپل رب حضورته پدې حال کښ چې راضي ئې ته دهغه نه، اوهغه راضي دې ستا نه

فَادْخُلِيْ		فِيْ	عِبٰدِيْ	﴿٢٩﴾	وَادْخُلِيْ		جَنَّتِيْ		﴿٣٠﴾
پس	داخل	شه	په	بندګانو	خماکښ	اوداخل	شه	جنت	خماته

﴿ يٰٓاَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ ﴾دابشارت اخروی دي،چه په وخت دمرګ کښ به دمؤمن روح ته اووئيلې شی چه خپل رب طرف ته واپس شه پدی حال کښ چه ته دخپل رب نه اورب دستانه خوشحاله اوراضی دي. اوجنت ته داخل شه،نفس مطمئنة نه مرادنفس دمؤمن دي،داخطاب به ورته په وخت دموت کښ کيږی،بعضِ وائی دبعث په وخت کښ به ورته اوشی.اوابن کثير رحمه الله وائی چه په وخت دخنګدن اوپه ورځ دقيامت دواړوکښ به ورته کيږی،لکه څرنګه چه ورته نورزيری دواړووختونوکښ ورکوی.﴿ رَاضِيَةً﴾يعنی چه کوم نعمتونه ئی درته تيارکړيدی په هغی به راضی ئې﴿ مَّرْضِيَّةً ﴾يعنی ستارب هم ستانه راضی دي﴿فَادْخُلِيْ فِيْ عِبٰدِيْ ﴾يعنی خمادمخلص اونيکوبندګانوجماعت کښ داخل شه، دَ ابو امامه رضی الله عنه نه روايت دي چه حضور ﷺيوکس ته اوفرمائيل چه دادعاوايه"اللّٰهم انّی اسألکَ نفسًابکَ مطمئنةً تؤمنُ بلقائکَ وترضیٰ بقضائکَ وتقنعُ بعطائکَ"دی دعاکښ دنفس مطمئنه بعضِ صفات بيان دی.

ركوعاتها (۱)	سورة البلد مكيّة	آياتها (۲۰)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دي شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۹۰) وحسب النزول (۳۵)

نزلت بعدسورة ق وقبل الطارق

ربط: داسورة دَتيرشوى سورة تمته ده، ماقبل سورة كښ دنيا او دَ دنيا دَ محبت مذمت مذكور ووُ، اوس دى سورة كښ دَمال صحيح مصرف ذكردي، چه هغه مال ښه دي چه په صحيح ځائ كښ خرچ كړې شى.

خلاصه: ۱ نه تر۴ پورى: دوه شواهد ذكردى، په تزهيد في الدنيا.

۵ نه تر۷ پورى: زجردي.

۸ نه ۱۰ پورى انعاماتوبيان دي، دَپاره تزهيد في الدنيا،

۱۱ نه ۱۷ پورى زجر دي،

۱۸ بشارت دي.

۱۹، ۲۰ تخويف دي.

لَآ	أُقۡسِمُ	بِهٰذَا	الۡبَلَدِ	۝وَأَنتَ	حِلٌّۢ	بِهٰذَا	الۡبَلَدِ	۝وَوَالِدٍ	
قسم	كوم	پدى	ښار اوته	اوسيدونكي	ئى	پدى	ښاركښ اوپه	پلار	
وَّمَا	وَلَدَ	۝لَقَدۡ	خَلَقۡنَا	الۡإِنسَانَ	فِي	كَبَدٍ	۝		
اوپه	هغوچه	دَده	نه	پيدادى	يقيناًمونږپيداكړيدى	انسان	په	مشقت	كښ.

﴿لَآ أُقۡسِمُ﴾ داتزهيد في الدنيا دي چې كافر دَدې دنيا ژوند اصل اوحقيقى ژوند گڼرى، او دې راحتونه اوآرام حاصلولو كوشش كوى، اودآخرت زندگئ نه ئى ځان بالكل غافله كړې دې، حالانكه دادنيا مسلسل دَپريشانيو اوازمائشونونوم دې دآخرت زندگى اصل زندگى ده.

﴿لَآ أُقۡسِمُ بِهٰذَا الۡبَلَدِ﴾ دااول قسم دي دَپاره دَاستشهاد دَ جواب قسم، "لا" زائده دي لپاره دَ

تاکید "البلد" نه مراد ښار دَ مکی دی، یعنی ډیر لرې مه ځئ خپل ښار مکې ته اوګورئ څنګه بې آب وګیاه بیابان وؤ،حضرت ابراهیم اواسماعیل علیهما السلام په څومره مشفقت سره آبادکړو

﴿ وَأَنتَ حِلٌّۢ بِهَٰذَا ٱلْبَلَدِ ﴾ حل' د 'حلول' نه دې،یعنی ته دې خپل حالاتوته اوګوره اې پیغمبره! چې په تا څومره مصیبتونه اوتکلیفونه راغلی دی چې کله ته دلته مقیم وې ،بعض مفسرین وائی چې 'حل' دَ 'حلت' نه دې،یعنی دې شهر کښې ستادپاره قتال حلال دې، یعنی دَ تکلیف دورانیه ختمه نه ده، بلکه ته به دې ښارکښې قتال کوی اوالله ﷻ به درله فتحه درکوی.

﴿ وَوَالِدٍ وَمَا وَلَدَ ﴾ دادویم قسم دې دپاره دَاستشهاد،دَ 'والد' او 'ولد' په مصداق کښې دَ مفسرینو ډیراقوال دی:

(۱)بعض وائی چې 'والد' نه مراد آدم علیه السلام او 'ولد' نه مراد ټول بنی آدم دی.

(۲)څنی مفسرین فرمائی چې مطلق والد او ولد مراد دی.

(۳)اوبعض مفسرین دَسیاق اعتبارسره دیته ترجیح ورکړې ده چې دینه مراد حضرت ابراهیم واسماعیل علیهما السلام دې(التحریروالتنویر)

یعنی تاسو خپل آباؤو اجدادتاریخ ته اوګورئ هغوئ څومره امتحانوتو اوتکلیفونو نه تیر شوی دی.

﴿لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ﴾جواب قسم دې ،چې انسان ژوند دَتعب اومشقت نه عبارت دې، **قسم اوجواب قسم کښې مناسبت** دَمخکښې تفصیل نه بالکل ظاهر دې،چې دوئ دَ آباؤواجداد او دَ علاقې تاریخ دَجهد مسلسل اوتکلیف نه عبارت دې، نودوئ څنګه دادنیا دراحت اوآرام ځائی ګنړی، او دا زندګی اصل زندګی ګنړی اودَالله ﷻ احکاماتونه بغاوت کوی.

﴿فِى كَبَدٍ﴾مشقت اوتکلیف ته وائی

أَيَحْسَبُ	أَن	لَّن	يَقْدِرَ	عَلَيْهِ	أَحَدٌ ۞	يَقُولُ	أَهْلَكْتُ
آیاګمان کوی دې	داچه	هرګزبه	قادرنه شی	پده	باندی هیڅوک.	وائی	چه خرچ می کړو
مَالًا	لُّبَدًا ۞	أَيَحْسَبُ	أَن	لَّمْ	يَرَهُۥٓ	أَحَدٌ ۞	
مال	ډیر.	آیاګمان کوی دې	داچه	نه دې لیدلې	ده لره	هیڅ چا.	

﴿أَيَحْسَبُ أَن لَّن يَقْدِرَ عَلَيْهِ أَحَدٌ﴾ دازجر دي.انسان کافر نه. چې دَ دنيا بې ثباتى تقاضهٔ خو دا ده چې دې دَالله ﷻ احکاماتو ته منقاد شوې وې، ليکن دې دَهغې نه بغاوت کوى، دَ رسولانو په لارى کښې رکاوټونه اچوى، او دَهغې دَپاره زرکثير خرچ کوى،اودا باورکوى چې داسې يوځوک نشته چې په ده قادر وى، اودَ ده نه به دې باره کښې تپوس اوکړى، خو دا دَ ده هير دى، الله ﷻ ئې مسلسل تعاقب کښې دې، هغه ئې هر څه ته ګورى

﴿يَقُولُ أَهْلَكْتُ﴾ "اي انفقت"چونکه داما ل خرچ دَاسلام خلاف کوششونو کښې وؤ. او به طور دَ رياء وؤ ، نو ځکه ورله "اهلکت" فعل استعمال شو﴿مَالًا لُّبَدًا﴾اي کثيرا

أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ عَيْنَيْنِ ﴿٨﴾ وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ ﴿٩﴾ وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ ﴿١٠﴾
آيانه دى ګرځولى مونږده لره دوه سترګې.اوژبه اودوه شونډې.اوښودلى دى مونږده ته دوه لارې.
فَلَا اقْتَحَمَ الْعَقَبَةَ ﴿١١﴾ وَمَا أَدْرَاكَ مَا الْعَقَبَةُ ﴿١٢﴾ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴿١٣﴾ أَوْ إِطْعَامٌ
نودې ندې ختلې غونډۍ ځاى دَنجات.ته اوڅه پته دۀ تاته چه څه ده غونډۍ.هغه آزادول دَغلام دى. ياخوراک ورکول دى
فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَةٍ ﴿١٤﴾ يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ ﴿١٥﴾ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴿١٦﴾
په هغه ورځ کښې چه لوږې والاوى.يتيم ته چه رشته داروى.يامسکين ته چه دَخاوروو الاوى.

﴿أَلَمْ نَجْعَل لَّهُ﴾مخکښې آياتونو کښې دعوت وؤ دَتزهيد في الدنيا اودَالله ﷻ احکامات منلو په محنو اومشقتونو بيان سره،اوس دې آياتوکښې دعوت دې ورته دَنعمتونو بيان سره ، "الم"استفهام تقريرى دې ﴿عَيْنَيْنِ﴾مونږ ورله دوه سترګې نه دى ورکړى،چې دحق دلائل پرې اوګورى اوعبرت واخلى،﴿وَلِسَانًا وَشَفَتَيْنِ﴾ژبه اوشونډې خوورله نه دى ورکړى چې پرې حق بيان کړى،. ﴿وَهَدَيْنَاهُ النَّجْدَيْنِ﴾يعنى دَخير وشردواړه لارې مو ورته خودلى دى،پکار ده چې دې په خير لارې روان شي، "النجدين"تثنيه ده دَ "النجد"، اوچتې لارې ته وائى،اودلته ترينه دَ خير و شر لاره ده، کمافي قوله تعالى:اناهديناه السبيل اما شاکرا و اما کفورا(الدهر)

﴿فَلَا ٱقۡتَحَمَ ٱلۡعَقَبَةَ﴾ دازجر دې انسان ته ، چې دومره انعاماتو اوهدايت اسبابو مهيا کولو باوجود دې نه دَالله ﷻ احکامات منی اونه خپل استعداد صحيح لاره کښ صرف کوی.
"العقبة" غر کښ تللې تنګې اوګرانې لارې ته وائی، او "اقتحام" وائی په تکليف اومشقت سره يوځائی ته داخليدلو يا په لاره تيريدلو ته،او "اقتحم العقبه"نه مراد اعمال صالحه کول دی ځکه چې دا په نفس داسې شاق وی لکه غرته ختل اودَغرپه لارې تلل.
فائده: "لا" په باره کښ دَمفسرينو اختلاف دې،چې کومه "لا" ده:
(۱)بعض وائی چې دانافيه ده او"لا" چې فعل ماضی باندې داخل شی نوعام نحويانوپه نيز اګرچې تکرار دَ "لا" شرط دې،خوسيبويه په نيز داشرط نه دې (اعراب القرآن للنحاس).
(۲) کوم نحويان چې تکرار شرط ګڼړی،هغوئ په نيز ثم كان من الذين"داقائمقام دَ"لا" دې، او"لا"معناموجود دې،ځکه چې دې معنی داسې ده: لااقتحم العقبه ولاآمن(اللباب).
(۳)ځنې مفسرين فرمائی چې"لا"نافيه نه ده بلکه په معنی دَ "هلا" سره ده.
﴿وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡعَقَبَةُ﴾تکراردَعظمت شان دَپاره دې.

﴿ فَكُّ رَقَبَةٍ ﴾دادَعقبه بيان دې،اول حکم دې دَ "عقبة"لاندې داخل احکاماتو کښ، يعنی غلام دَغلامئ نه خلاصول،دا عقبه ته دَاخيلدل دی، دَدی په ضمن کښ بی ګناه قيدی خلاصول،مقروض دَقرض نه خلاصول هم داخل دی.

﴿أَوۡ إِطۡعَٰمٞ فِي يَوۡمٖ ذِي مَسۡغَبَةٖ﴾دا دويم حکم دې،"مسغبة"مصدرميمی دې پمعنی دَ"سغب"، قحط سالی ته وائی،نومطلب دادې چه دَلوګې اودَقحط په وخت کښ يتيم اومسکين ته خوراک ورکول. دَ "في يوم ذي مسغبة"قيد اتفاقی دې دَتاکيد دَپاره ،چې اطعام هرقسم حالاتو کښ پکار دې خوبيا چې کله زمانه دَ قحط وی اوخلقو احتياج ورته ډير وی نوديکښ خو لا ضروری دې.

﴿يَتِيمٗا ذَا مَقۡرَبَةٍ﴾مفعول به دې دَ"اطعام" دَ "ذا مقربة"مطلب قرابت دار او رشته دار دې، دا قيد هم اتفاقی دې دَتاکيد دَپاره، يعنی يتيم له خوهسی طعام ورکول ضروری دی خوچې بيا کله خپلوانو کښ وی نودهغه خيال ساتل خوډير زيات ضروری وی.

﴿ أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ ﴾ او دَتقسيم دَپاره دي متربة مَصدر ميمي دي.اى ذا تراب. دَ خاور والا، مرادورنه هغه مسکين دي چه کورئی نه وی په لاروکښ په خاورو ناست وی.

ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ وَتَوَاصَوْا
بیاولی نشو دي دَهغوخلقونه چه ايمان ئی راوړيدي اووصيت کوی يوبل ته دَصبراووصيت کوی يوبل ته
بِالْمَرْحَمَةِ ﴿١٧﴾ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْمَيْمَنَةِ ﴿١٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِنَا هُمْ
دَرحم کولوپه مخلوق،داکسان خاوندان دَښی لاس دی،اوهغه کسان چه کفرئی کړيدي په اياتونوزمونږدوئ
أَصْحَابُ الْمَشْأَمَةِ ﴿١٩﴾ عَلَيْهِمْ نَارٌ مُؤْصَدَةٌ ﴿٢٠﴾
خاوندان دګس لاس دي پدوئ به اوروی بندکړي شوي

﴿ثُمَّ كَانَ مِنَ الَّذِينَ﴾داهم زجرتحت داخل دي، او ثم دَتراخی رتبی دَپاره دي يعنی داخوپريگده دَايمان په شان اهم امر ترينه هم پاتي دي،دينه داهم معلومه شوه چي مال په دغه مصارفو کښ خرچ کول به هله فائده ورکوی،چي ايمان ورسره وی که ايمان نه وی نو بيا فائده نه ورکوی،لکه حديث شريف کښ دی چي حضرت عائشه ﵂ يوځل نبی کريم ﷺ نه دَابن جدعان په باره کښ تپوس اوکړو چي ده په زمانه جاهليت کښ صله رحمی کوله،طعام به ئی ورکولو،قيديان ئی خلاصول،اوغلامان ئی آزدول،اودَالله ﷻ رضادَپاره به ئي خلق په خپل اوبښ کينول، آيا دابه ده له څه نفع ورکړی؟نوبنی کريم ﷺ اوفرمائيل:نا،ده يو ورځ هم داسي نه دی وئيلی رب اغفرلي خطيئتي يوم الدين،اي څماربه په ورځ دَقيامت څمادګناهونه ماته بخنه اوکړه.(مسلم شريف۳۷۵).

﴿وَتَوَاصَوْا﴾عطف دي په﴿آمَنُوا﴾ يعنی يوبل ته دَصبروصيت کوی، په ايمان اوپه ثابت قدم پاتی کيدلوباندی اودګناه نه دَمنع کيدلو.

﴿وَتَوَاصَوْا بِالْمَرْحَمَةِ﴾يعنی په خلقوباندی دَرحم کولويوبل ته وصيت کوی،چه دَدينه امربالمعروف اونهی عن المنکرهم دي،څکه ديکښ دَخلقوډيره خيرخواهی ده(روح)يامطلب دادي چه يوبل ته دَداسی کارونوترغيب ورکوی چه هغه اسباب دَرحمة دَالله ﷻ دی.

﴿أُولَٰئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلْمَيْمَنَةِ﴾ دابشارت أخروى دي چه داموصوف پدغه صفاتومذکورۇسره هغه دی چه اعمالنامی به ورته په خی لاس کښ ورکولې کيږی.

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾ داتخويف اخروى دې کافرانوته، چه دوئ زمونږدَدلائلواودَقرآن انکار کوی نودوئ ته به عملنامې په کس لاس کښ ورکولې کيږی.

﴿عَلَيْهِمْ نَارٌ مُّؤْصَدَةٌۢ﴾ "مؤصده" دَ اوصدالباب نه دې دروازې بندلوته وائی، يعنی جهنم ته به اوغورځولې شی اوبيابه پرې دروازې دَجهنم بندکړی شی. نوهميشه په دې کښ وی او راوتلې به ترينه نشی.

ركوعاتها (۱)	سورة الشمس مكيّة	اٰياتها (۱۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۹۱) وحسب النزول (۲۶)

نزلت بعد سورة القدر و قبل البروج

ربط: دې سورت کښې دَسورت الاعلى دواړو مضمونونو یعنی توحید اوتزهید اعاده ده، په ضمن دَتفریق دَاعتقاد په مابین دَمؤمن اومشرک کښې،چې مؤمن عقیده دَتوحید لری او کافر عقیده دَشرک لری،نودوئ داوړو کښې لوئ فرق دې،مؤمن کامیاب اوکافر ناکام دې ځکه چې توحید حق اوشرک باطل دې.

خلاصه: په موضوع دَسورة یعنی تفرقی فی الاعتقادباندې څلورشواهد.چه لکه څرنګه رڼا او تیاره،ورځ اوشپه،اسمان اوزمکه،نفسِ زکیه اونفسِ خبیث برابرنه دی دغه شان عقیده دَ مومن اوکافربرابرنده.﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوٰىهَآ ﴾نه آخره پورې تخویف دنیوی دې.چه څوک کفرشرک کوې نوانجام به،ئې دَقوم ثمودپشان وی.

وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا ① وَالْقَمَرِ اِذَا تَلٰىهَا ②وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰىهَا ③ وَالَّيْلِ
قسم دې په نمراوپه رڼادَهغې.اوپه سپوږمئ چه کله تابع شی دَنمر.اوپه ورځ چه کله ښکاره کړی نمر اوقسم په شپه
اِذَا يَغْشٰىهَا ④ وَالسَّمَآءِ وَمَا بَنٰىهَا ⑤وَالْاَرْضِ وَمَا طَحٰىهَا ⑥
چه کله پټ کړی نمر.اوپه اسمان اوپه هغه ذات چه جوړکړې ئی دې،اوپه زمکی اوپه هغه ذات چه غوړه ولې ده.
وَنَفْسٍ وَّمَا سَوّٰىهَا ⑦فَاَلْهَمَهَا فُجُوْرَهَا وَتَقْوٰىهَا ⑧
اوپه نفس اوپه هغه ذات چه برابرکړې ئی دې،پس ښودلې ئی ده ورته بدکاری دَهغه اوپرهیزګاری دَهغه

﴿وَالشَّمْسِ وَضُحٰىهَا﴾ داپه ابتدا دَسورت کښې الله ﷻ په نهه امورو باندی(هغه صورت کښې چې ورستونو آیتونو ۵، ۶ ، ۷ کښې 'ما' موصوله واغستلې شي) قسم خوړلې دې. او

دوه دوه امرونو تقابل ئې به طور شاهد په جواب قسم پیش کړی دی. اوجواب قسم قد افلح من زکّهادې یعنی څنګه چې دادواړه امره یوشان نشی کیدې دغه شان توحید وشرک اوموحد اومشرک هم یوشان نشی کیدې.

دا اول تقابل دې په مابین دَ نمر اوسپوګمئ کښ، چې چرته نمر چې رڼړا کښ مستغنی دې دَ سپوګمئ نه، او چرته سپوګمئ چې محتاجه ده خپلې رڼړا کښ نمرته، نوچې څنګه دادواړه یو شان نشی کیدې، دغه شان مؤحد اومشرک نشی برابرکیدې.

﴿وَضُحٰهَا﴾ اې ضوءها. ﴿اذا تلها﴾ ضمیر مرفوع قمر ته اوضمیر منصوب شمس ته راجع دې، یعنی قسم دې په سپوګمئ، چې کله دا تابع شی دَ نمر ، سپوګمئ په ډیرو امورو کښ دَ نمر تابع ده :

(۱)په طلوع کښ هم د نمر تابع ده، چې میاشتې ابتداء کښې کله نمر دَمشرق نه طلوع شی، نو ورپسی سپوګمئ هم دَمشرق نه طلوع شی، خو چونکه دا ډیره وړه وی، او رڼړا ئې ډیره کمزوری وی، نو هیڅ پته ئې نه لګی،چې نورغروب شی نو بیا خلقوته اولیدې شی (روح)

(۲)په رڼړا ورکولو کښ دَنور تابع ده،اوهغه داسې چې دا دَخپلی رڼړا اکتساب دَ نور نه کوی، اوبیا چې څوپورې طلوع وی دَ دې رڼړا نه وی،خو چې کله غروب شی نو بیا دا رڼړا ورکول شروع کړی،اومیاشتې مینځنئ ورځو شپوکښ ددې ښه اندازه کیږی.

(۳)حرکت کښ هم دَنمر تابع ده چې دَنمر سره نه برابرې دې شی اونه ترینه مخکښ کیدې شی.

حضرت حسین علی رحمه الله فرمائی چې دلته ترینه مرادخصوصاًاتباع دَاولې توجیه ده، چې دې سره دَنمر اوسپوګمئ تقابل اوتفاوت ډیر ښې طریقې سره کیږی.

﴿ وَالنَّهَارِ اِذَا جَلّٰهَا ﴾ دا دویم تقابل دې په مابین دَ ورځ اوشپه کښ، چې لکه ورځ او شپه یو شان نشی کیدې، دَ ورځې نور وی ، ټوله څمکه روښانه وی، هر څه واضحه ښکاری، او دَ شپې تکه توره تیاره وی، چې ښکاره څیزونه هم دَ نظر نه غائب شی، دغه شان دَتوحید په نور منور اودَشرک په تیارو کښ غرق انسان نشی برابرې دې.

ضمير منصوب راجع دي شمس ته.يعنى قسم په ورځ چه نمرظاهركړى اوقسم په شپى چه نُورپټ كړى،بعض وائى ضميرونه راجع دي زمكى ته يعنى قسم په ورځ چه زمكه روښانه كړى،اوقسم په شپى چه زمكه تياره كړى

﴿وَٱلسَّمَآءِ وَمَا بَنَىٰهَا ۝ وَٱلْأَرْضِ وَمَا طَحَىٰهَا ﴾ **دا دريم تقابل** اوشاهد دي، چې چرته دآسمان بلندى او چرته دَزمكې پستى څنګه چې دې دواړو كښې بون بعيددي،دهغهٔ شان مؤمن اومشرک كښې هم بون بعيد دي،چرته نشى برابرې دلې مؤمن كامياب اومشرک نامراد دي ما په دواړوځايونوكښې مصدريه دي،اى وبنائهاوَطحوِها يعنى قسم په اسمان اودَهغى په جوړيدلواوپه زمكى اودَهغى په غوړيدلو. يا ما موصوله ده په معنى د من موصوله سره ، يعني قسم دي په اسمان او په هغه ذات چې ئي جوړ كړې دې ، او قسم دې په زمكې او په هغه ذات چې ئي غوړولې ده ،

﴿ وَنَفْسٍ وَمَا سَوَّىٰهَا ﴾**څلورم تقابل اوشاهد دې** په جواب قسم. چې الله ﷻ انسان پيدا كړې دې، دَ خير او شر شعور او استعداد ئى پكښې ايخيدې. څوک دَخير استعداد نه كار اخلى، نو دَ معاشرې صلاح ذريعه گرځى، او څوک دَ شر استعداد نه كار اخلى نودَمعاشرې دَ فساد ذريعه گرځى، هر سړې داتسليمه وى چې مصلح اومفسد برابر نشى كيدې، نودغه شان موحد چې حقيقى مصلح د كائناتو دي اومشرک چې حقيقى مفسد دي په كائناتو كښې، دوئ هم نشى يوشان كيدلې، دلته هم ما مصدرى يا موصوله پمعنى د من سره ده ، مراد دَ تسويه نه تعديل دَاعضاؤدي

﴿فَأَلْهَمَهَا ﴾اى عرّفها(قرطبى)يعنى دَبدكارئ اودَپرهيزګارئ لارى ئى ورته اوښودلې په ذريعه دَوحى اوعقل.

قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ۝	
يقيناًكامياب دې هغه څوک چه پاک ئى كړونفس،اويقيناًناكامه دې هغه څوک چه خخ ئى كړونفس.	

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ﴾جواب قسم دي﴿وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا ﴾ دسّى په اصل كښې دسّس دي دويم سين په الف سره بدل شويدې تخفيفا ،پمعنى دَپټولواودوبولويعنى هغه انسان كامياب

شوچه خپل ځان ئی پاك كړودګناه اودشرك نه.اوهغه ناكام شوچه خپل ځان ئی په ګناه اودشرك په دلدل كښ خخ كړو، بعض وائی ضميرپه ﴿زكی﴾او ﴿دسّی﴾كښ راجع دی الله ﷻ ته، نومعنی داده چه كامياب دی هغه كس چه الله ﷻ دهغه نفس پاك كړو اوناكام دی هغه كس چه الله ﷻ دهغه نفس په ګناهونوكښ خخ كړو .دابن عباس رضي الله عنه نه مروی دی چه حضور ﷺ به كله دا آيت﴿ وَنَفْسٍ وَمَا سَوّٰىهَا﴾ اولوستلو، نو وقفه به ئی اوكړه او دا دعا به ئی اوكړه: اللّهم آت نفسی تقوٰها، انتَ وليّها و مولاها وخيرُ من زكّاها او پوبل روايت كښ ددی ذكر داسی راغلی دی اللهم آت نفسي تقواها وزكها انت خير من زكاها انت وليها ومولاها (ابن كثير)

كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوٰىهَآ ⑪ اِذِ انْۢبَعَثَ اَشْقٰىهَا ⑫ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ
تكذيب كړی وو ثموديانو په سبب د سركشئ خپلی ،كله چه راپورته شو ډير بدبخت يدوئ كښ نو اووئيل ورته رسول
اللّٰهِ نَاقَةَ اللّٰهِ وَسُقْيٰهَا ⑬ فَكَذَّبُوْهُ فَعَقَرُوْهَا فَدَمْدَمَ
دالله صالح خيال كوئ داوښی دالله اوداوبودهغی.نودوئ تكذيب اوكړودرسول نوزخمی ئی كړه،نوهلاكت راوستلو
عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰىهَا ⑭ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ⑮
پدوئ رب ددوئ په سبب دګناهونودوئ نو برابر ئی كړو دوئ (دخمكی سره).اونه يريدلوالله ﷻ دانجام دهلاكت ددوئ نه

﴿ كَذَّبَتْ ثَمُودُ بِطَغْوٰىهَآ ﴾تر آخره پوری تخويف دنيوی دی. طغوی مصدر دی دطغيان يعنی په عصيان كښ دحدنه تجاوزكول او"باء" سببيه ده، يعنی قوم ثمود په سبب دطغيان او سركشئ تكذيب اوكړو، يا "طغوی" نه مراد سخت عذاب دی اوعذاب باندی اطلاق د "طغوی"او "طاغية" كيږی لكه سورت الحاقه كښ دی، فاهلكو بالطاغية، او "باء" صله ده د تكذيب فعل ، يعنی قوم ثمود د هغه عذاب تكذيب اوكړو چی كوم نه صالح عليه السلام دوئ يرول.

﴿ اِذِ انْۢبَعَثَ ﴾متعلق دی د﴿ كَذَّبَتْ ﴾سره،انبعاث يعنی راپاسيدلو نه مرادتلل دی يعنی چه د اوښی زخمی كولو لپاره لاړو.﴿ اَشْقٰىهَا ﴾ضمير راجع دی قوم ثمودته،يعنی لوئ بدبخت په ثموديانو كښی چه هغه "قُدار بن سالف" وو. (روح).

﴿ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ ٱللَّهِ ﴾دَالله دَرسول نه مرادصالح علیه السلام دي.چې هغه دوئ اوبرول چې تاسو دا معجزه غوختله، نو الله ﷻ ستاسوفرمائش مطابق داظاهره کړه اوس خيال کوئ چې ديته څه نقصان ياتکلف اونه رسوئ، کنې دَالله ﷻ عذاب به درباندې راشي. باقي تفصيلي واقعه دَقوم ثمودپه سورة اعراف وغيره کښ تيره ده.﴿نَاقَةَ ٱللَّهِ ﴾ناقة منصوب على التحذير دي، اى احذروانالة الله،يعنى دَناقة الله دَزخمى کولونه ځان بچ کړئ،اضافت دَناقى الله ﷻ ته تشريفًا شوي دي لکه بيت الله، ﴿وَسُقْيَـٰهَا ﴾اى واحذرواسقياها(روح)يعنى دَدى دَاوبوڅکلونه ځان بچ کړئ دَدى په نمبرکښ دامه منع کوئ.﴿فَكَذَّبُوهُ ﴾قوم ثمودد َخپل پيغمبر خبره اونه منله اوښه ئې قتل کړه نودَ الله ﷻ عذااب پرې نازل شو.﴿فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ ﴾"دمدم" لغت کښ متعدد معنو کښ استعمال شوې دي: (۱)غضب: يعنى دَدوئ رب په دوئ باندې غصه شو(۲)الارجاف والتحريکيعنى خوځول چې دَدوئ رب به دوئ باندې زلزله راوسته .(۳)اطباق:دَبره نه پرې څه شي راښندول،يعنى مسلسل عذاب پرې الله ﷻ داسې اورولو لکه چې دَدوئ دَپاره سرپوخ اوسائبان وؤ،هيڅ طرف ته ترينه نشو وتلې (۴) الصاق بالارض:زمکې پورې انخولول،يعنى دَسراچتولو موقع ئې ورنکړه، بلکه زمکې پورې ئې خخ کړو. (۵) طحن: يعنى ريزه ريزه ئې کړو،دې معنو په بنياد مونږ دَ "دمدم" دا جامعه معنى کولې شو چې الله ﷻ دَدوئ نه دَقهر ډک انتقام واغستلوچې هغې کښ داتول امورڅه نه څه درجه کښ وؤ،

﴿فَسَوَّىٰهَا﴾دانتيجه ده دَچې دې انتقام نتيجه دا وه چې الله ﷻ دَزمکې سره برابرکړو،هيڅ نوم نشان ئې پاتې نشو،ضمير منصوب قوم ثمود ته راجع دې اي سوى الله ثمود بالارض، يا "سوى" په معنى دَعموم سره دې،ضمير منصوب "دمدمه"ته راجع دې ،يعنى داانتقام ټولو ته شامل اوعام وؤ.

﴿وَلَا يَخَافُ عُقْبَـٰهَا ﴾دَدنيا بادشاهان چې چاله سزا ورکوى،نودَهغوئ سره دَبغاوت خوف وى، ياخپل صباني انجام ورته مخې ته وى،نودې وجهى نه په سزا کښ څه نه څه رعايت اوکړى،چونکه الله ﷻ سره دَدې هيڅ خوف نشته نو خه سخت عذاب ئې پرې مسلط کړو اومکمله بيخ کنې ئې ورله اوکړه.

ركوعاتها (۱)	سورة اللّيل مكيّة	آياتها (۲۱)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۹۲) وحسب النزول (۹)

نزلت بعدسورة الاعلىٰ وقبل الفجر.

ربط: دي سورت کښ هم دَسورت الاعلى دواړو مضمونه توحيد اوتزهيد في الدنيا ذکر کيږي خو په ضمن دَتفريق په مابين دَاعمالو دَمؤمن اودَمشرک کښ

خلاصه: آيت(۴)پورې په موضوع دَسورة يعنى تفريق فى الاعمال باندې دوه شواهد ذکر کيږي چه عمل دَمؤمن په شان دَورځې اوسرې دې اوعمل دَمشرك په شان دَشپې اودَښځې دي، آيت(۱۳)پورې دَجواب قسم تشريح اووضاحت دې،آيت(۱۲)پورې تخويف اخروی دې بیاترآخره بشارت اخروی دې(تمت خلاصة السورة).

وَالَّيۡلِ	اِذَا	يَغۡشٰى ۝	وَالنَّهَارِ	اِذَا	تَجَلّٰى ۝	وَمَا
قسم دې په شپه چه کله پټ کړی عالم(په خپلوتیارو)اوپه ورځ چه کله روښانه شي،اوپه هغه ذات						
خَلَقَ	الذَّكَرَ	وَالۡاُنۡثٰى ۝	اِنَّ	سَعۡيَكُمۡ	لَشَتّٰى ۝	
چه پیداکړي نې دي نراوښځه چه بې شکه عملونه ستاسوجداجدادي						

﴿ وَالَّيۡلِ اِذَا يَغۡشٰى ﴾دا اول شاهد دې چې څنګه ورځ او شپې آثار اوخصوصيات جداجدا دی، ورځ کښ هر څه ښکاره شي، اوشپې کښ هر څه پټ شي، ورځ کښ رڼرا اوشپې کښ ظلمت وی،نوداپه دې شاهد دې چې ستاسواعمال هم جداجدا دی داچااعمال ښه او چا بد دی. ﴿ وَالنَّهَارِ اِذَا تَجَلّٰى ﴾يعنى ښکاره شي، تياره دَشپې زائله شي.

﴿ وَمَا خَلَقَ الذَّكَرَ ﴾دادويم شاهد دې په جواب قسم ،چې څنګه ښځه اوسړی یوشان نشی کیدی، دَ دواړو صنف جداجدا دي، مزاج اوخويونو کښ اختلاف دې، دغه شان ستاسو اعمال هم یو شان نشی کیدي،"ما"دلته هم یا مصدریه ده اویا"ما"موصوله پمعنی دَ "الذی" دې،

یعنی قسم په هغه قادر عظیم القدرة ذات چه دوه صنفه ئی پیدا کړیدی د یو حیوان. مذکر او مؤنث

﴿إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّىٰ﴾جواب قسم دې،شتّی جمع دَشتیت.ده پمعنی دَمتفرق.لکه دَمریض جمع مرضیٰ ده،یعنی ستاسو سعی اوعملونه مختلف دی بعض په طاعت سره عمل کونکی دی لپاره دَجنت اوبعض په معصیة سره عمل کونکی دی لپاره دَجهنم

فَأَمَّا	مَنْ	أَعْطَىٰ	وَاتَّقَىٰ	﴿٥﴾وَصَدَّقَ	بِالْحُسْنَىٰ ﴿٦﴾
نوهرهغه څوک چه ورنی کړومال اوځان ئی اوساتلو(شرک،بخل نه)اوتصدیق ئی اوکړوپه کلمی بنائسته(کلمه توحید)					
فَسَنُيَسِّرُهُ	لِلْيُسْرَىٰ	﴿٧﴾وَأَمَّا	مَنْ	بَخِلَ	وَاسْتَغْنَىٰ ﴿٨﴾
نوخامخااسان به کړو دوئ ته اسباب دَ آسانئ.اوهرهغه څوک چه بخل ئی اوکړو اوبی پروائی ئی اوکړه.					
وَكَذَّبَ	بِالْحُسْنَىٰ	﴿٩﴾	فَسَنُيَسِّرُهُ	لِلْعُسْرَىٰ	﴿١٠﴾
اوتکذیب ئی اوکړوپه کلمی بنائسته نوخامخا اسان به کړو ورته اسباب دَ سختئ.					

﴿ فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ ﴾داتشریح اوتفصیل دې دَجواب قسم،یعنی چاچه پخپل مال کښې دَ الله ﷻحق ورکړو،دَالله ﷻپه لاره کښې ئی نفقه کړو﴿وَاتَّقَىٰ ﴾تقوي نه مراد دلته لغوي معنی خوف ده، یعني د ځان فکر اوغم وي ورسره. او یا ورنه معروفه اصطلاحي معنی مراد ده ، چې ګناهونو او محارمو نه ئي ځان بچ کړو، ﴿وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ﴾ موصوف ورله مقدردې ای بالكلمة الحسنیٰ، مراد ورنه کلمه دَ لا اله الاّ الله ده یا"الملة الحسنیٰ"چه ملت اسلام دې،بعض وائی موصوف ئی"الجنة"دې،ای بالجنة الحسنیٰ

صاحب دَروح المعانی وائی ځماپه نیزراجحه داده چه﴿ مَنْ أَعْطَىٰ ﴾کښې اشاره ده عبادات مالیه ؤته،او﴿وَاتَّقَىٰ ﴾ کښې اشاره ده عبادات بدنیه ؤته،او﴿ وَصَدَّقَ بِالْحُسْنَىٰ ﴾کښې اشاره ده اعتقاد یاتو ته،

﴿فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْيُسْرَىٰ ﴾ بشارت دي،يعنى چه دَ كوم كس سعى چه مذكوره اعمالولپاره وى. نو مونږ به هغه ته دَنيكۍ اوطاعت توفيق ورکړو، دا كارونه به ورته اسان كړو، "يسرىٰ"نه مراد هغه خصلت دي چه "يُسر"او "راحت" ته رسول كوي ، چه هغه اعمال صالحه دى چې داسبب دې دَدخول جنت، ﴿فَسَنُيَسِّرُهُۥ﴾كښې"سين" دَ تاكيد لپاره دې، يا د "يُسرىٰ" نه مرادلاره دَجنت ته،يعنى خامخابه ورته دَجنت لاره اسانه كړو.

﴿وَأَمَّا مَنۢ بَخِلَ ﴾دا په مقابله دَ"اعطىٰ" كښې دې، يعنى چاچه په مال كښې بخل كښې اوكړو.

﴿وَٱسْتَغْنَىٰ ﴾ دا په مقابلى دَ"واتقىٰ"كښې دې، يعني د خپل نجات او اصلاح فكر ورسره نه وو، بلكه ځان ئي مستغني او ګنړلو، او كه تقوى نه مراد معروفه معنى شي ، نو بيا مطلب دا دې چې دَ محارمو اوګناهونه ئى ځان نه كړو بچ،نودا دَجنت او دآخرت نعمتونو نه اعراض دې نو ځكه "استغنىٰ"فعل راورلې شو. يعنى دَالله ﷻ سره چه كوم اجرونه ثوابونه دى هغى نه ئى استغنااوكړه.

﴿وَكَذَّبَ بِٱلْحُسْنَىٰ ﴾دا په مقابله د"وصدق بالحسنى" كښې ده. يعنى دكلمهٔ دَتوحيدنه ئى انكار اوكړو،يادَملت حسنٰى تكذيب ئى اوكړو،يادَجنت تكذيب ئى اوكړو.

﴿فَسَنُيَسِّرُهُۥ لِلْعُسْرَىٰ ﴾تخويف دې ،يعنى چه دكوم كښې سعى چه مذكوره اعمالولپاره وى نو مونږ به هغه ته دَنافرمانۍ لاره اسانه كړو،"عسرىٰ" نه مرادهغه خصلت دې چه تنګۍ او تكليف ته رسول كوى، يا ورنه لاره دَ جهنم مراد ده.

قرآن مجيد كښې دا مضمون څو ځايه بيان شوي دې، چه كوم كس دَ خير او رُشد لاره خپله كړى،نوالله ﷻ ورته دَخيرتوفيق وركوى اوچه كوم كس دَشراومعصيت لاره اختياره وى نوالله ﷻ ورته هغه لا رآسانه كړى.اوداټول دَهغه تقديرمطابق كيږى چه علم الهى كښې موجوددي(ابن كثير)

په يوحديث كښې دى:اعملوافكل ميّسرلماخُلق له،امّامن كان من اهل السعادة فييسرلعمل اهل السعادة وامّامن كانَ من اهل الشقاء فييسرلعمل اهل الشقاء،بياحضور ﷺ دا دواړه آياتونه اولوستل (روح بحواله بخاري مسلم وغيره).

وَمَا يُغْنِيْ عَنْهُ مَالُهٗٓ اِذَا تَرَدّٰی ⑪ اِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدٰی ⑫								
اوپه کار به رانشي د ده مال د ده کله چه اوغورځيږي جهنم ته بې شکه مونږ به ذمه دی لاربنودل								
وَاِنَّ لَنَا لَلْاٰخِرَةَ وَالْاُوْلٰی ⑬ فَاَنْذَرْتُكُمْ نَارًا تَلَظّٰی ⑭ لَا يَصْلٰهَآ								
اوبې شکه مونږلره دی آخرة اودنیا پس یرومه څه تاسوداورنه چه لمبې وهي،نه داخليږي دیته								
اِلَّا	الْاَشْقَی ⑮	الَّذِيْ	كَذَّبَ	وَتَوَلّٰی ⑯				
مګر	ډیربدبخت هغه	چه	تکذیب	کوی	اواعراض	کوی		

﴿ وَمَا يُغْنِي عَنْهُ ﴾ دازجر دې بخيل ته چې اوس دَخرچ کولو وخت دې اوس خرچ کړه، خو چې کله مړ شي بیادرله دامال هیڅ فائده درنکړي. "ما"نافيه ده،يعنى چه کله دابخيل دَهلاکت کندې ته اوغورځيږي نوبيابه ورته دامال هيڅ فائده نه ورکوی.یا"ما"استفهاميه دې،يعنى بيابه ورته کوم څيزفائده ورکړي﴿إذَا تَرَدَّىٰ﴾مراد ترينه دَقبر ياجهنم کندې ته غورځيدل دی.

﴿ إِنَّ عَلَيْنَا لَلْهُدَىٰ ﴾يعنى زمونږ په ذمه خو هدايت لارخودل وو،هغه موورته خودله ده اوس خو مرضى ده چې ايمان راوړئ اوکفر کوئ،

﴿ وَإِنَّ لَنَا لَلْآخِرَةَ وَالْأُولَىٰ ﴾داهدايت اودَلارې خودل هم زمونږ فضل واحسان وو ،کنې الله ﷻ باندې دَچاحق نه وو،هغه سره خودنیا وآخرت بادشاهی ده چې څه کول پکښې غواړی دَهغه مرضى ده،اوحضرت تهانوی رحمه الله ليکي:دنيا بادشاهی هم زمونږ ده څکه مودلته درباندې احکام مقرر کړی دې اودآخرت بادشاهی زمونږ ده نوهلته به درله دَاعمالوموافق سزاوجزا درکوو.

﴿ فَأَنذَرْتُكُمْ نَارًا ﴾ داتخويف اخروی دې چه څه تاسو دَلمبو وهونکي أوريعنى جهنم نه يره وم، چه الله ﷻ دَهغه کافرلپاره تيارکړيدې چه تکذيب کوی اواعراض کوی دَالله ﷻ دَخبرى نه.

﴿ لَا يَصْلَاهَا إِلَّا الْأَشْقَى ﴾"اشقی"نه مرادکافردې،نوحصر(۱)په اعتباردَدخول ابدی سره دې، يعنى کافربه ورته هميشه لپاره داخليږي اوهرچه مؤمن عاصی دې،نودَلږوخته لپاره به

داخليږي (۲)یاپه اعتبارد سخت والی دعذاب سره دي. یعنی کافرته به پکښې سخت عذاب ورکولې کیږي. اودلالت کوی پدی باندی لفظ د لایصلیٰ. ځکه صلی دیته وائی چه کنده اوکنستلې شي، سکروټی پکښې جمع کړې شي، بیزه وغیره ئی په مینځ کښې واچولې شي او وریته کړې شي، نومطلب دادې چه کافربه ئد مینځ ته ور داخلیږي اومؤمن عاصي ته کم عذاب ورکولې کیږي(روح المعاني).

(۳)بعض وائی اشقی"پمعنی ده شقی دې، نومؤمن عاصی هم پکښې داخل دې، لهذاد آیت کریمه نه دمرجیه ؤمسلك نه ثابتیږي چه مومن عاصی به جهنم ته نه داخلیږي

وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى ﴿١٧﴾ الَّذِي يُؤْتِي مَالَهُ يَتَزَكَّى ﴿١٨﴾ وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ
اولری به ساتلې شی ورنه لوئ پرهیزګار.هغه چه ورکوی مال خپل چه پاک شی.اونه وی دهیڅ چاپه ده باندی
مِنْ نِعْمَةٍ تُجْزَى ﴿١٩﴾ إِلَّا ابْتِغَاءَ وَجْهِ رَبِّهِ الْأَعْلَى ﴿٢٠﴾ وَلَسَوْفَ يَرْضَى ﴿٢١﴾
څه احسان چه بدله ئی ورکولې شی،مګرلپاره دطلب درضادرب دده چه لوئ دې.اوزرده چه راضی به شي دې

﴿وَسَيُجَنَّبُهَا الْأَتْقَى﴾دابشارت اخروی دې، سین دتاکید لپاره دې، یعنی هغه ډیر پرهیزګار چه بخل نه کوی بلکه صرف دالله ﷻ درضاء لپاره مال ورکوی هغه به دجهنم نه لری اوساتلې شي.﴿ الَّذِي يُؤْتِي ﴾یعنی مال خپل په مصارفودخیرکښې لګوی. ﴿يَتَزَكَّى﴾ حال دې، یعنی پدی حال کښې چه خپل ځان پاکونکې وی عندالله، د ریاء او شهرت لپاره ئی نه ورکوی، اونه وربادی دچاڅه احسان وی چه دهغی بدله ورته ورکوی، بلکه صرف دالله ﷻ رب العزة رضا طلب کوی.

مفسرین وائی چه دا آیاتونه دحضرت ابوبکرصدیق ﷺ باره کښې نازل دی، حضرت بلال ﷺ چه دامیه بن خلف غلام وؤ، هغه به ورته داسلام راوړلوپوجه عذابونه ورکول، نو ابوبکر ﷺ ورنه واخستلواوازادئی کړو، خلقو اووئیل چه دائی ځکه ازادکړوچه دبلال ﷺ په ابوبکر ﷺ څه احسان وؤ، نوالله ﷻ ئی تردیداوکړوچه﴿ وَمَا لِأَحَدٍ عِنْدَهُ ﴾.

په يوروايت کښ دی چه ابوبکر ﷺ به عموماً کمزوری مسلمانان غلامان اخستل او ازادول. نو پلار ئې ورته اووئيل چه داسي خلق ازاده وه چه صبا دې پکار راځي. نو ابوبکر ﷺ ورته اوفرمائيل: چه څمامقصدصرف دَالله ﷻ رضاطلب کول دی

مروي دی چه حضرت ابوبکر ﷺ وه (۷) داسي غلامان ازادکړيدی چه هغوئ ته داسلام پوجه عذابونه ورکول کيدل، پدی آيت کريمه سره استدلال شويدې چه ابوبکر ﷺ په امت کښ دَټولونه افضل دې (کبير، روح).

﴿وَلَسَوْفَ يَرْضَىٰ ﴾ ضمير الْقِيٰ ته راجع دې، چه عندالاکثر ابوبکر ﷺ ورنه مراددې، يعنی الله ﷻ به دې، په ثواب اوجنت سره راضی کړی اوچه کوم مقصدلپاره چه مال خرچ کوی چه طلب دَرضاء الهی دې، هغه به ئې پوره شي، ياضميرراجع دې الله ﷻ ته. يعنی الله ﷻ به ضروردَده نه راضی کيږی، صاحب دَروح المعانی وائی دادويم احتمال څماپه نيزدَاول نه زيات ښه دې ځکه چه رضادَالله ﷻ دَبنده نه زياته دَخوشحالئ خبره ده.

ركوعاتها (١)	سورة الضحىٰ مكيّة	اٰياتها (١١)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٩٣) وحسب النزول (١١)

نزلت بعدسورة الفجروقبل الم انشرح

ربط: داسورة اوورستنۍ سورة بطورجمله معترضه ذکرکیږي. لپاره دتسلی حضورﷺ ته چه په شان نزول کښې ئې بیان راروان دي.

خلاصه: ابتداء کښې دمشرکانو داعتراض جواب اوتسلی ده حضورﷺ ته ﴿ أَلَمْ يَجِدْكَ﴾ درې انعامات په حضورﷺ اوپه هغې تفریع بطورلف نشرمرتب یاغیرمرتب، کماسیاتی.

وَالضُّحٰى	﴿١﴾ وَالَّيۡلِ	اِذَا	سَجٰى	﴿٢﴾ مَا	وَدَّعَكَ	رَبُّكَ
قسم دي په وخت چاښت باندې،	اوپه شپې	چه	کله کامله شي تیاره	نه	دی چه ئې پریخي	ته رب ستا

وَمَاقَلٰى ﴿٣﴾
اونه ئې تاسره بغض کړیدي

﴿ وَالضُّحٰى ﴿١﴾ وَالَّيۡلِ اِذَا سَجٰى ﴾ دې سورت بنیادی موضوع تسلی ده نبی ﷺ ته، مفسرین فرمائی چې جبرئیل ؑ یوځل وحی راوړلو کښې څو ورځی تاخیراوکړو، نومشرکینو شورجوړکړو چې محمد ﷺ نه ،نعوذبالله دهغه رب ناراضه شو، اودې ئې پریخودلو ،نوالله ﷻ په ورځ اوشپې باندې قسم خوری چې اې حبیبه، نه ته خپل رب پریخې ئی اونه هغه ستانه خفه دې.

"سجی" دوه معنې دی: (١) سَکَنَ: اومقصود دلته ترینه دادې چې ښه تیاره شی اودخلقورانګ بند او آوازونه خاموش شی اوبالکل سکون شی. (٢) غشی: یعنی تیاره هر خواه ته خوره شی (ماجدی).

﴿مَا وَدَّعَكَ﴾جواب قسم دي، چې په ديکښې د دوو انعامتو ذکر دي (۱)يو داچې ﴿ما ودعک﴾ چې ستارب به تاچرته هم نه پريګدی.(۲)دويم ﴿وَمَا قَلَىٰ﴾ خفګان ،بغض او ناراضګئ ته ونيلی کيږی،چې ستا رب ستا نه نه خفه کيږی.

اوقسم اوجواب قسم کښې مناسبت مفسرين څوطريقو سره واضح کړې دي

(۱) يو داچې څنګه دَ ورځې رڼا اودَشپې تيارې کښې فرق دې ، دغه شان ستا دين او جاهليت کښې فرق دې ، تا سره نور دې اودوئ سره تيارې دی. نوبيا څنګه کيدې شی چې ستا رب تا پريګدی.

(۲) څنګه چې شپې پسې ورځ اوتيارې پسې رڼا راتلل دَالله ﷻ دَرحمت مقتضی ده ، نو دغه شان داهم دَالله ﷻ دَ رحمت مقتضی ده چې نور انسانيت دَ جاهليت دَ تيارو نه دَ هدايت نور طرف ته رااوباسی، او دا دَ هدايت نور تا ته درکړې شوې دې نوبيا څنګه هغه تاپريګدی او ستانه ناراضه شي.

(۳) بعضومناسبت داسې بيان کړی دې چې څنګه دکائنات احوال مختلف وی ،کله ورځ کله شپه ،کله رڼا کله تياره ،اوکله ورځ ،اوګده ،کله شپه اوګده،نودغه شان دَوحی حالات دی، کله به تاخير وی کله به تعجيل ،ديکښې دَالله ﷻ خپل مصلحت اوحکمت وی دا نه ده چې الله ﷻ ته پريخودلې اوستانه خفه شو.

وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ مِنَ الْأُولَىٰ ۞ وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَىٰ ۞
اوخامخاآخرت غوره دې تالره دَدنيانه‌اوزرده چه درکړی تاته رب ستاډيرنعمتونه نوته به راضی شی.

﴿ وَلَلْآخِرَةُ خَيْرٌ لَّكَ ﴾بل انعام دې، او د آخرت او اولی په مصداق کښې د مفسرينو څو اقوال دي :

(۱) آخرت نه مراد ژوند د آخرت دې ، او"اولی" نه مراد ژوند دنياده،يعنی آخرت ستالپاره دَ دنيا نه ډير بهتر دې.

(۲) ياآخرة نه مراد ورستې حالت يعنی تاخير دَوحی دې او"اولی"نه مراداولنې حالت يعنی عدم تاخيردې،نومطلب دادې چه ستالپاره تاخيردَوحی دَعدم تاخيرنه اولی دې،ځکه دې سره ستادَنبوت تصديق دې، کچرته وحی دَځان جوړه وې نوتاخيربه پکښې نه راتلو.

(۳) یاد آخرة نه مرادورستوراتلونکي وخت دي او اولی نه تېرشوي وخت دي.نومطلب دادي چه هرراتلونکي وخت به ستالپاره دَاول حالت نه ښه وی.ورځ په ورځ به درته ترقی درکولې کیږی اودَ کفاروتنزل کیږی.

راجحه خبره داده چی دلته مرادتول احوال دَنبی ﷺ دی چې ستاهرهرحالت مسلسل په ترقئ کښ دې اوهر راتلونکي حالت ستادَپاره دَتیرشوی نه غوره دې

﴿ وَلَسَوۡفَ يُعۡطِيكَ رَبُّكَ فَتَرۡضَىٰٓ ﴾دادَبل انعام وعده ده اوداټولو عطایا ئی الهیوته شامل دي ،چې هغې کښ کثرت اَتباع هم دی،په نورو انبیاؤو باندې .اسلام ته ترقی اوغلبه میلاویدل هم دی، دَحجت وبرهان غلبه هم ده، او دشمنانو باندې رعب هم دې. حوض کوثر اومقام محمود شرف دې، اوشفاعت عامه وخاصه منصب هم دې. اودینه علاوه نور اخروی مقامات اومراتب هم دی چې هغې نه یو الله ﷻ خبر دې.

اَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ۞ وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا فَهَدَىٰ ۞
آیانه ئې موندلې ته یتیم نوځائې درکړو،اوموندلې ئی وې ته بی خبره‌دتفاصیلودشرع نه‌نوهدایت ئی درته اوکړو
وَوَجَدَكَ عَآئِلٗا فَأَغۡنَىٰ ۞
اوموندلې ئی وی‌ته فقیرنوغنی‌ئی کړې

﴿ أَلَمۡ يَجِدۡكَ يَتِيمٗا ﴾دادرې انعامات ذکرکیږی برائې تسلّی‌چې قبل ازنبوت مونږ دَستامکمله دستګیری کړې ده ته مونه ئی پریخې چې نبوت مودرکړو نو اوس څنګه پریخوې شوی،

﴿يَتِيمٗا فَـَٔاوَىٰ ﴾دا **اول انعام** دې، چی ته له نه وې پیدا شوې چې پلار دې وفات شو،چې دَ شپږ کالو شوې، نو دَمورغیږی نه محروم شوې، الله ﷻ ستاپرورش عبدالمطلب په ذمه اولګولو ، لګه موده پس هغه وفات شونو الله ﷻ درله هغه په ځائی ابو طالب درکړو.

﴿وَوَجَدَكَ ضَآلّٗا ﴾دادویم **انعام**َ دې، دلته داخبره یادساتل پکار دی چې ضلال په لغت کښ په ډیرو معنو کښ استعمال شوې دې، چې په کښ معروفه معنی "ګمراهی" او دَ "هدایت" ضد ده. خو دلته دامعنی هرګز نه ده مراد، ځکه چې دا صَریح نص خلاف ده ماضل صاحبکم

وماغوى(النجم: ۲)، لهذ دلته به هغه معنى اخلو چې هغه دجناب نبوت سره منافي نه وي.د دې وجهې نه علماؤو دَ دې متعدد معنې ذكر كړې دي:

(۱)بعضو ئې معنى "غير عالم" او "غافلا"سره كړې ده، اي غير عالم بالنبوة و علومها، او دې معنې تائيد دَډير آياتونو نه كيږي: ((ماتدري ما لكتٰب ولا الايمان)) الشورى، ((نحن نقص عليک احسن القصص بما اوحينا اليک هذ القرآن ، وان كنت من قبله لمن الغافلين))(يوسف) ((وعلمک مالم تكن تعلم))(النساء)

(۲)بعض مفسرينو ئې معنى هائما في المحبة كړې ده،چې ته دَالله ﷻ په مينه محبت كښې مشغول وې نو الله ﷻ درله نبوت دركړو. "ضلال"لغت كښې په دې معنى كښې استعماليږي، لكه سورت يوسف كښې دي: انک لفي ضلالک القديم ، نو دلته هم دَ ضلال نه مراد محبت دې. بقول والدمحترم رحمه الله چې حضرت شاه منصورباباجي رحمه الله به دې معنى له ترجيح وركوله.

(۳)بعض علماؤو ضالا دَ ضل في الطريق نه اغستى دې ، يعنى لار خطاكول ،اوفرمائي چې ديكښې دَسيرت په كتابونو مذكور يوې واقعې طرف ته اشاره ده، چې نبى كريم ﷺ يوځل دَمكې په ګلوكوڅوكښې ورک شو،ډير ئې تلاش كړو، خو اوئې نه موندلو،عبدالمطلب او دَ كور نوركسان ډير پريشانه وو،الله ﷻ غيبي طريقى سره دَدې بندوبست اوكړو،اونبى كريم ﷺ خپل كور ته راغې. دې علاوه نو هم متعدد توجيهات مفسرينو نقل كړي دي.

﴿وَوَجَدَكَ عَآئِلاً فَأَغْنَىٰ﴾دريم انعام دې ، چې نبوت نه مخكښې زندګى مالى اعتبار سره دَ كمزورې وه، الله ﷻ غنى كړې،حضرت خديجه رضي الله عنها خپل مال درله تجارت دَپاره دركړو، حضرت ابوبكر رضي الله عنه خپل مال ستا د قدمونو نذركړو.

فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ۝ وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ ۝ وَأَمَّا بِنِعْمَةِ
پس هرچه يتيم دې نوغصه ورته مكوه اوهرچه سوال كونكې دې نومه ئې رټه‌اوهرچه نعمت
رَبِّكَ فَحَدِّثْ ۝
دَرب ستادې نوبيانوه‌ئې.

﴿فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ ﴾دادری تفریعات دی په دری انعاماتوباندی په طور دلف نشر مرتب، نو﴿ فَأَمَّا ٱلْيَتِيمَ ﴾مرتب دي په﴿أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا ﴾باندی. یعنی چونکه تاهم دیتیمئ دور تیرکړیدي،نولهذا په یتیم سختی مه کوه،امرحضورﷺته دي خوعموم دي پکښ چه هرکس ته دیتیم خیال ساتل پکاردی،احادیث پدی باب کښ ډیردی.

﴿ وَأَمَّا ٱلسَّآئِلَ فَلَا تَنْهَرْ ﴾داپه دویم انعام یعنی﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا ﴾باندی تفریع ده. چه الله ﷻ تاته علم درکړوپه وحی سره، نواوس سائل فی العلم والدین مه رټه،بلکه دهغه دسوال جواب په ښه طریقی سره ورکوه.بعض وائی داپه دریم انعام یعنی﴿وَوَجَدَكَ عَآئِلًا ﴾ باندی مرتب دي،نولف نشرغیرمرتب دي،مطلب دادي چه ته فقیروی اللهﷻغنی کړي نواوس سائل دمال مه رټه څه احسان ورسره کوه،یائی په نرمی وېناسره واپس کوه،صاحب دروح المعانی وائی چه نهی درټلونه دهغه سائل باره کښ ده چه ډیرتنګول نه کوی،که یوسائل درپوری اونخلی اوپه نرمئ سره نه واپس کیږی نوبیاورسره سختی کول هم جائزدي.

﴿وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ ﴾داپه دریم انعام مرتب دي،چه اللهﷻتاته دولت درکړو نوددی نعمت شکراداکوه اوددی اقراراواعتراف کوه،تحدیث بالنعمة هم شکردي، علماء فرمائی چې تحدیث بالنعمت په دوه طریقو سره کیږی: (۱)یوداچی دنعمت په ژبه اعتراف اوکړی(۲)دویم داچی دنعمت په مقتضی عمل اوکړی،مثلا علم ورله اللهﷻ ورکړي وی، نو بل ته ئی هم اوښائی،وغیره،خوزبانی تحدیث بالنعمت دپاره یوڅو شرائط دی:

(۱)یوداچی بطورریاء نه وی.

(۲)بطور تفاخر نه وی.

(۳)دبل زړه ماتیدلوخوف نه وی.

(۴)حسدخوف نه وی(التحریر والتنویر، التسهیل)

بعض وائی داپه دویم انعام یعنی﴿ وَوَجَدَكَ ضَآلًّا ﴾باندی مرتب دي نودنعمت نه مرادنبوت دي،یعنی ته نبی نه وې،نبوت ئی درکړونواوس ددی تبلیغ کوه.

فائده: مفسرينو ليکلي دي چه مستحب دي چه دَسورة الضحى نه ترآخره پورې دَهرسورة په اختتام کښ تکبير اووئيل شي يعنى الله اکبر، ځکه دَدې سورة په نزول باندې خوشحاله کيدلو سره حضورﷺ الله اکبراووئيل، په روايت کښ دي حضورﷺ دَدې امرکړيدے(روح المعاني، قرطبي وغيره).

رکوعاتها (۱)	سورة الانشراح مکیّة	آیاتها (۸)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۹۴) وحسب النزول (۱۲)

نزلت بعدسورة الضحیٰ وقبل العصر

ربط: ماقبل سورة کښ حضور ﷺ ته تسلی وه دَمشرکانو داعتراض باری کښ. دی سورة کښ هم تسلی ده، دمشرکانو دَدی اعتراض باره کښ چه مؤمنانو سره مال نشته دې. په تنګۍ کښ دی او مونږ مالداره یو، نوجواب اوشوچه په تاباندی الله ﷻ خومره انعامات کړیدی دغه شان به فقرهم ختم کړی ، دعسرنه ورستویسرراځي.

خلاصه: ابتداء کښ انعاماتِ ثلثه ؤبیان دي، بیاتسلی ده آخرکښ دَمسئلی دَتوحید دَتبلیغ حکم دې(تمت).

اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ ﴿۱﴾ وَوَضَعۡنَا عَنۡكَ وِزۡرَكَ ﴿۲﴾ الَّذِيۡۤ
آیانده فراخه کړیده مونږتاله سینه ستا. اولری کړیدی مونږستانه بوج ستا. هغه چه
اَنۡقَضَ ظَهۡرَكَ ﴿۳﴾ وَرَفَعۡنَا لَكَ ذِكۡرَكَ ﴿۴﴾
درنه کړي وه ملاستا اواوچت کړیدي مونږتاله یادول ستا

﴿اَلَمۡ نَشۡرَحۡ لَكَ صَدۡرَكَ﴾ دااول انعام دې، استفهام تقریری دې، یعنی مونږستاسینه مبارکه فراخه کړیده په علم حلم سره، یعنی علم موهم درته وسیع درکړواودَمشرکانو په ایذاء په مقابله کښې مودرته حلم هم درکړو، بعضِ مفسرینودَشرح صدرنه معجزه دَشقَ صدر مراد کړي ده.

﴿وَوَضَعۡنَا عَنۡكَ وِزۡرَكَ﴾ دادویم انعام دې، وزر بوج ته وائي. دینه مراد هغه مباحاتو بوج هم دې چه قبل ازنبوت خلاف اولی وؤ، چه د دې په ارتکاب سره به په حضور ﷺ ثقل او بوج وؤ، نودې آیت کښ دَ هغی په عدم مواخذه بشارت دې، تو دا قول دَ الله ﷻ په شان دَ

ليغفرلكَ الله ماتقدّم من ذنبكَ دي، دغه شان دَرسالت دَمنصب اوذمه واريوبوج هم ورنه مراد دي، چه دَهغې حق اداکولو اوقوم ته رسول وؤ، الله ﷻ ورته اسان کړو. چه په ښه طريقې سره ئې ادا ئې کړو. دَوحي بوج هم ورنه مراد دې چې ابتداء کښې په نبي ﷺ دَوحي ډير بوج وؤ حتى چې سخت ژمی کښې به ترينه خولې بهيدلې. «روح وقرطبي وغيره».

﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾ دادريم انعام دي، چه تولو انبياؤ کښې دَحضور ﷺ مرتبه اوچته ده، په حديث کښې دی چه «اذاذُکرتُ ذکرتَ معي» يعنې کوم ځائ چه دَالله ﷻ نوم ذکرکيږي هلته ورسره دَحضور ﷺ تذکره هم کيږي، په اذان کښې، اقامت کښې، تشهد کښې. خطبو کښې. تحريرونو کښې، دغه رنګه کوم ځائ کښې چه الله ﷻ دَخپل اطاعت امرکړيدې نو دَحضور ﷺ دَاطاعت امرئې هم کړيدې.

فَإِنَّ	مَعَ	الْعُسْرِ	يُسْرًا ﴿٥﴾	إِنَّ	مَعَ	الْعُسْرِ	يُسْرًا ﴿٦﴾	فَإِذَا فَرَغْتَ
پس بی شکه دَسختئ سره اسانی وی				بی شکه دَسختئ سره آسانی وی				پس کله چه فارغ شی ته «دَدعوت نه»

فَانْصَبْ ﴿٧﴾		وَإِلَىٰ		رَبِّكَ		فَارْغَبْ ﴿٨﴾		
نوعبادت	کوه.	اوصرف	رب	خپل	ته	پس	عاجزی	کوه.

﴿فَإِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ داتسلي ده حضور ﷺ ته، مشرکانو به حضور ﷺ اومؤمنانو ته دَ فقر او دَ تنګئ پيغورورکولو، نونبی کريم عليه السلام دااوګڼړله چه دامشرکان زمونږ دَ فقر په وجه اسلام نه راوړي، نو الله ﷻ ورته مذکوره انعامات هم ذکرکړل اوتسلي ئې ورکړه چه نن په تاسوکوم عُسردي الله ﷻ به دَدی په ځائ يُسرراولي.

﴿إِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا﴾ دَاصول فقه قاعده ده چه اسم معرفه دوباره معرفه ذکر شي نوثاني عينِ اول وي، اوچه اسم چې دوباره نکره ذکر شي نکره نوثاني غير وی دَ اول نه، دی آياتونو کښ ﴿الْعُسْرِ﴾ معرفه ذکرشويدې او ﴿يُسْرًا﴾ نکره، نو دلته دَ يو عُسر په بدله کښ دَ دوؤ يسرونو وعده ده، نوحضور ﷺ ته دَ دوؤ يُسرونو بشارت ورکړې شو، يو يُسر دنيوی چه فتوحات دی، بل يُسراخروی، بعضِ وائی يوهغه فتوحات دی چه دَحضور ﷺ په زمانه کښ شوی وؤ، بل هغه چه دَ خلفاءِ راشدينو په زمانه کښ شوی وؤ.

﴿ فَإِذَا فَرَغْتَ فَٱنصَبْ ﴾دا په آخر کښې نبی کريم ﷺ ته دوه حکمونه دی.دااول حکم دې چې کله فارغ شې نوبياځان سترې کوه، دَ «فرغت» او «فانصب» دواړو مفعول به نه دې ذکر. مفسرين کرام فرمائی چې دينه مقصودعموم دې چې يوحالت اوعمل نه فارغ شې نوبل حالت اوعمل کښې ځان مشغول کړه، دَ جلوت اعمالونه فارغ شې نودَخلوت اعمالو کښې مشغول شه، دَ دعوت نه فارغ شې انفرادی عبادت کښې مشغول شه ، دَ فرائضو نه فارغ شې نوافلو کښې مشغول شه وغيره،بهرحال زندگی مسلسل دَ عمل او کار نه عبارت پکارده.

﴿وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَٱرْغَب ﴾يعنی ټول اعمالوکښې مقصود دَرب رضاساته.دنيوی اومادی فوائد يا جاه و شهرت مد نظر مه ساته.

ركوعاتها (۱) — **سورة التين مكية** — آياتها (۸)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

شروع په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم

ترتيبها حسب التسلسل (۹۵) وحسب النزول (۲۸)

نزلت بعد سورة البروج وقبل القريش. (۰)

ربط: سورة الضحى اوسورة الانشراح په طور دَجملې معترضې ذكرشول. اوس دى سورة كښې مسئله دَ توحيد ذكركيږي. پنځه دلائل دى چه انسان ته اوچت مقام دتوحيد په وجه وركولې كيږي.

خلاصه: ابتداء كښې څلور قسمونه دى ﴿لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَـٰنَ﴾ جواب قسم دې ﴿ثُمَّ رَدَدْنَـٰهُ﴾ تخويف دې بداعمال كونكوته، ﴿إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا﴾ بشارت دې مؤمنانوته ﴿فَمَا يُكَذِّبُكَ﴾ زجردې. (تمت).

وَالتِّيْنِ. وَالزَّيْتُوْنِ ۙ﴿۱﴾ وَطُوْرِ سِيْنِيْنَ ۙ﴿۲﴾ وَهٰذَا الْبَلَدِ الْاَمِيْنِ ۙ﴿۳﴾
قسم دې په انځراوپه خونهزيتون اوپه غردَسينين باندې اوپدې ښارامن وركونكي باندې
لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِنْسَانَ فِيْٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۙ﴿۴﴾
يقيناً مونږ پيداكړيدي انسان په ډيرښكلي شكل كښې

﴿ وَٱلتِّينِ وَٱلزَّيْتُونِ ۝ وَطُورِ سِينِينَ ۝ وَهَـٰذَا ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ ﴾ داڅلورقسمونه دى په مقاماتِ مباركه ژباندې.

"بلدامين" نه مراد بالاتفاق مكه مكرمه ده، "امين" فعيل يابمعنى دَ فاعل دې يعنى امن وركونكې ښار، يا بمعنى دَ مفعول دې يعنى مامون، او "طورسنين" نه هم مراد بالاتفاق هغه غر دې چه الله ﷻ پكښې موسى عليه السلام سره كلام كړې وۀ، "طور سينا" هم ورته هم وائى. البته "التين والزيتون" په باره كښې مفسرينو اختلاف كړې دې چې دينه مراد معروفه ميوه ده، يا "منابت

التين والزيتون دي؟ څني مفسرينو ترينه ظاهري معنى مرا داغستې ده چې دينه مراد انځر اوخونه دي، او په قسم دَ دی وجهی نه اوخوري شو چې دي سره دانسان ډيرمنافع تړلی دی.
حضرت والد رحمه الله دويمی توجيه له ترجيح ورکړې ده چې دينه مراد منابت التين والزيتون (يعنی هغه مقام چې هلته انځر او زيتون ميوه ډيره کيږی) دې. چې دا بيت المقدس دې په دليل دَ سياق سره، ځکه چې ورستو هم ذکر دَمکان دې، نو دلته ذکر دَ دري مقاماتو اوشو. خو مراد ترينه مقامات نه دی، بلکه دا دَ ذکر المکان و ارادة المکين دَ قبيلې نه دی. يعنی مراد دَ دينه هغه رسولان دی چې هغه دې علاقو ته مبعوث شوی وو.
﴿التين والزيتون﴾کښ اشاره ده حضرت عيسی عليه السلام ته چې هغه بيت المقدس اودې خواه شاه علاقو کښ مبعوث آخری پيغمبر وو، هم دا وجه ده چې دَ زيتون تذکره دَحضرت عيسی عليه السلام مناسبت سره په مسيحی مصادر کښ کثرت سره ميلاويږی. تفصيل دپاره رجوع اوکړئ تفسير ماجدی ته.﴿ وَطُورِ سِينِينَ ﴾کښ اشاره ده حضرت موسی عليه السلام ته او﴿ٱلْبَلَدِ ٱلْأَمِينِ﴾ کښ اشاره ده نبی کريم ﷺ ته.
﴿لَقَدْ خَلَقْنَا ٱلْإِنسَٰنَ ﴾جواب قسم دې،الانسان نه مراد مطلق انسان دي﴿أَحْسَنِ تَقْوِيمٍ﴾نه ښائسته خلقت اوهيئت مراددې،اودَانسان خلقت ظاهری اعتبار سره هم هم ښائسته دې اوباطنی اعتبار سره هم، ظاهری اعتبارسره داسې چې متناسب اعضائی ورکړی دی، مناسب ځائيونو باندې ورله الله ﷻ ايخيدی،بل يو مخلوق هم دَ اعضاؤ په ترکيب کښ دَانسان په شان نشته، او باطنی اعتبارسره ښائست ورله داسی ورکړې دې چې دې په فطرت باندې پيداکړې دې ، عقل وشعور ئې پکښ ايخيدی،دَخير وشرپيژندلو استعداد ئې ورکړی دې.
قسم اوجواب قسم کښ مناسبت دادې چې الله ﷻ په دې قسمونو کښ دادرې رسولان او دَ دوئ شرائع شواهد او ګواه ګرځوی،په دې خبره چې انسان ته کوم مقام الله ﷻ ورکړې دې، او دَ ظاهری اوباطنی خوبونو نه ئې مالامال کړې دې نوهغه صرف دَدې وجهې نه چې دې توحيد اومنی، اوسزاوجزا باندې ايمان راوړی.

ثُمَّ	رَدَدْنَٰهُ	أَسْفَلَ	سَٰفِلِينَ	إِلَّا	ٱلَّذِينَ	ءَامَنُوا	وَعَمِلُوا	ٱلصَّٰلِحَٰتِ
بیاګرځولې	دې	مونږده.	لره	لاندې	دَلاندونه	مګرمؤمنان	چه	دی	اونيک	عمل	کونکی

فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ ۝٦

[illegible] — خسبوکی

غَيْرُ مَمْنُونٍ [illegible] ده چې [illegible] توحيد [illegible] عرض وکړي چې [illegible] خپل تخليق مقصد ونه [illegible] او بدترين [illegible] الفرقان ٤٤ [illegible] دجهنم لاندې [illegible]

• إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا [illegible] چې د خپل تخليق مقصد [illegible] فَلَهُمْ أَجْرٌ غَيْرُ مَمْنُونٍ يعني [illegible] غير مقطوع [illegible] يعني جنت نعمتونه به [illegible] چې هغه [illegible]

فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ ۝٧ أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ ۝٨

[illegible]

• فَمَا يُكَذِّبُكَ بَعْدُ بِالدِّينِ [illegible] تفسير [illegible]

[illegible] توحيد [illegible] رسالت او آخرت [illegible] اسلام او توحيد [illegible] او رسوائي [illegible] أَلَيْسَ اللَّهُ بِأَحْكَمِ الْحَاكِمِينَ [illegible] ﷺ [illegible] حکمت [illegible]

• [illegible] آيتونه به [illegible] خلقت [illegible]

کتاب درنه واخلی؟څه بنیاد باندې ته دبعث نه انکار کوی. ﴿ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَحْكَمِ ٱلْحَٰكِمِينَ﴾ دلیل عقلی دې په بعث . چې دنیا مجازی بادشاهان خپل احکامات په رعایا باندې لازمی گڼړی اوخلاف ورزی په صورت کښ ورله سزاورکوی، نوالله ﷻ خواحکم الحاکمین دي . دَ بادشاهانو بادشاه دې هغه به څنګه حساب کتاب درسره نه کوی اوڅنګه به په دې قادر نه وي.

"ما"په ﴿ فَمَا يُكَذِّبُكَ﴾ کښ استفهامیه ده،اوتقدیر دَعبارت داسې دې، اي ما يجعلك مكذبا ﴿بَعْدُ﴾مبنی دې مضاف الیه محذوف دې ، اي: بعد هذه الحجج و البراهين او بعد هذا البيان.

حضرت ابوهریره ﷺ دَنبی کریم ﷺ نه نقل کوی چې څوک سورت التین شروع کړی. او د آخری آیت الیس الله باحکم الحاکمین هم تلاوت کړی ،نوبیا دې ورپسی دااوئی بلی وانا علی ذلک من الشاهدین.(تفسیر ابن کثیر)

ركوعاتها (١)	سورة العلق مكيّة	آياتها (١٩)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكې دې شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٩٦) وحسب النزول (١)

ربط: ديكښې دَسورت الاعلى اول مضمون توحيد ذكر دې.اونبى كريم ﷺ ته حكم دې چې دَقرآن تلاوت اوتبليغ كوه ، نوتاته به پرې استقامت نصيب كيږي.اودغه شان چې كوم خلق دَدې نه انكاركوى اودې لاره كښې خنډونه اچوى هغوئ ته زجر اوتخويف دې.

خلاصه: په ابتداء كښې ترآيت(۵)پورې ترغيب دې قرائت دَقرآن ته.آيت (٦) او(٧)شكوه ده چه انسان دمالدارئ په وجه سركشه دې.آيت(٨)تخويف اخروي دې چه رجوع دَانسان الله ﷻ ته ده، الله ﷻ به ورته دَطغيان سزاوركوي،آيت٩نه تر(١۴)پورې زجردې منكرينو ته، آيت (١۵) نه تر(١٨)پورې تخويف اُخروي دې،آخركښې خطاب دې حضورﷺته،امردې ورته دَاستقامت.

اِقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِىۡ خَلَقَ ۞ خَلَقَ الۡاِنۡسَانَ مِنۡ عَلَقٍ ۞
لوله په توكل دَنوم دَرب خپل،هغه رب چه پيداكړې دې هرځيز.پيداكړې يې دې انسان دَټكرى دَوينى نه
اِقۡرَاۡ وَرَبُّكَ الۡاَكۡرَمُ ۞ الَّذِىۡ عَلَّمَ بِالۡقَلَمِ ۞ عَلَّمَ الۡاِنۡسَانَ
لوله اورب ستاډيركريم دې.هغه رب چه تعليم ئې وركړيدې په قلم سره.تعليم ئې وركړيدې انسان ته
مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ۞
دَهغې چې ده ته ئې علم نه وو.

﴿ اقۡرَاۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الَّذِى خَلَقَ ﴾ دانبى كريم ﷺ ته دَقرآن تلاوت اوتبليغ حكم اوترغيب دې، چې ته مسلسل دَدې تلاوت كوه،اودَمخالفينو پرواه مه كوه

دا ابتدائى پنځه آياتونه دَقرآن كريم اولين آياتونه او اوله اوله وحى ده،بخارى شريف روايت مفهوم دې چې نبى كريم ﷺ غارحرا كښې خلوت نشين وؤ،چې حضرت جبرئيل ﷺ ورته راغې، اوورته ئې اوويل: اقرأ، نبى كريم ﷺ ورته اوئيل ماانا بقارئ، چې څه لوستلې

نشم، حضرت جبرائیل علیه السلام ورته غیږه ورکړه اوخه زور ئی ورکړو .بیائی پریخودلو اوورته ئی اوئیل چې اقرأ ، نبی کریم ﷺ بیا هغه جواب ورکړو چې ماانا بقاری. دغه شان درې ځلې دا عمل اومکالمه اوشوه،اودینه ورستو جبرئیل علیه السلام داپنځه آیاتونه اولوستل

﴿ بِٱسْمِ رَبِّكَ ﴾اي مستعینا باسم ربک یعنی دقرآن لوستل اوتبلیغ کول ډیرګران کاردې اوبیا چې یوکس امی هم وی، خودې ته سوچ اوکړه چې کوم ذات ستاموقع په موقع تربیت کړې دې،دیتم سفرئی درته آسان کړې دې، دجاهلیت ګندګیو نه ئی پاک ساتلې ئی .داهم د هغه ذات د ربوبیت تقاضه ده چې د کل عالم ستاپه ذریعې سره تربیت اوکړی،لهذا دهغه نوم واخله اودقرآن لوستل اوتبلیغ شروع کړه،هغه به درته داهم آسان کړی.

﴿ٱلَّذِى خَلَقَ﴾ کوم ذات چې داټول کائنات دنیست نه هست اوعدم نه وجود ته راوستې دې هغه له دا څه ګرانه ده چې تاله به لوستلو قدرت درکړی، اودکوم ذات په قدرتونو چې داسې لوئ دلائل موجود دی اودهغې باوجود څوک ددې انکار کوی،نودهغه دمخالفت پرواه مه کوه اودقرآن تلاوت اوتبلیغ جاری ساته.

﴿خَلَقَ ٱلْإِنسَٰنَ مِنْ عَلَقٍ﴾(۱)کوم ذات چې بې جانه اوبې عقله وینی ټکرې نه روغ موټ عقل مندانسان پیداکړې دې هغه په دې قادر دې چې امی انسان ته په لوستلو قدرت ورکړی،(۲) کوم ذات چې دوینی ټکرې کښې دومره انقلابات راوستلونه ورستو انسان پیدا کړې دې هغه ذات د دې قرآن اوستا په ذریعې سره کائنات کښې یوغټ انقلاب راوستلو اراده کړې ده لهذا ته دقرآن تلاوت اودی تبلیغ شروع کړه.(۳)کوم ذات په وحدانیت اوقدرت چې داسې واضح دلائل موجود دی که څوک ددې باوجود بیا هم ترینه انکار کوی نوته دهغه پرواه مه کوه بلکه دقرآن تلاوت او تبلیغ تسلسل سره جاری ساته.

﴿ٱقْرَأْ وَرَبُّكَ ٱلْأَكْرَمُ﴾قرآن لوله.دستارب شان کریمی تقاضه داده چې تاله په دې قدرت درکړی، اوددې دعوت جاری ساته، دهغه شانِ کریمی انسانیت دجهالت نه رااوباسلو اراده کړې ده.

﴿ٱلَّذِى عَلَّمَ بِٱلْقَلَمِ﴾کوم ذات چې قلم ذریعه دتعلیم اوتعلم ګرځولې ده نوهغه دقلم نه سوا بل شې ورله هم ذریعه ګرځولې شی لکه دلته ذریعه حضرت جبرئیل علیه السلام دې.

﴿عَلَّمَ ٱلْإِنسَٰنَ مَا لَمْ يَعْلَمْ﴾ واسطه اوآله څه ضروري ده؟ انسان له د څومره اشياؤو علم بغير دَ آلې اوواسطې نه درکړې دي، لهذا هغه تاله هم علم بغير دَواسطې اوذريعې درکولې شي.

فائده: "ربک الاکرم" مبتدا دې، او "الذي علم بالقلم" يا "علم الانسان" ورله خبر دې. اوديکښې اشاره ده دېته چې انسان د علم نه مالامال کول دَالله ﷻ دَکرم انتهاء ده.

كَلَّآ	إِنَّ	ٱلْإِنسَٰنَ	لَيَطْغَىٰٓ ⑥	أَن	رَّءَاهُ	ٱسْتَغْنَىٰٓ ⑦	إِنَّ
هغه دَ داخبره چه بې شکه انسان يقيناً چې سرکشي کوي څکه چه ګڼړي خپل ځان بې پرواه بې شکه							
إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ⑧							
رب ستاته واپس تلل دي							

﴿كَلَّآ إِنَّ ٱلْإِنسَٰنَ﴾ داشکوه ده انسان نه چې دومره انعامات. چې پکښې څه جسماني دي لکه دَويني لوټړې نه پيدا کول ، اوڅه روحاني دي چې علم ئې ورکړو، اوانبياوؤ په ذريعې سره ئې ورله دَتربيت انتظام اوکړو، دومره انعاماتو باوجود دې ځان مستغني ګڼړي اوالله ﷻ بندګان دَهغه عبادت نه منع کوي.

داآياتونه آخره پورې دَابوجهل باره کښې نازل دي،چه دَمالدارئ په وجه سرکشه وؤ، حضور ﷺ به ئې دَمانځه نه منع کولو.يوځل ئې قسم اوکړوچه کچرته محمدﷺما په سجده کښې اوليدلو ، نو په څټ بې خپې کيدم،حضورﷺمونځ کولو.دا لعين په دغه اراده راغې ليکن زر واپس شو ،اوپه لاسونوئې دَځان نه څه څيزونه لرې کول،چاورنه تپوس اوکړوچه څه دربانديې اوشول؟ اوئې وئيل چه ماته مخې ته دَ اور يوخندق جوړ شو ، او دَ وزرو والا څيزونه مې اوليدل. حضورﷺاوفرمائيل:قسم دې که راغلې وې ماته نيزدې شوې وې نوفرشتوبه نيولې وؤ ، اوټوټې ټوټې کړې به ئې وؤ(مسلم،نسائي وغيره).

«کلا» ردعيه دهٔ، اوماقبل کښې صراحتاًڅه داسې امر نشته چې دادَهغې نه ردعه اوګرځي،دې وجه نه څنې مفسرين فرمائي چې دلته دا دَ مابعد نه ردع نه ده، اوځنې فرمائي چې په معنی "الا" سره ده.

﴿أَن رَّءَاهُ ٱسْتَغْنَىٰٓ ﴾ لام تعليليه مقدر دي. اى لان راه مستغنيا، مفعول له دي د ((ليطغى)). ((رءاه)) كښې ضمير منصوب او ضمير مرفوع دواړه انسان ته راجع دي ، او ((استغنى)) ئې مفعول به دي ،يعنى سركشي ځكه كوي چه ځان غنى ګڼړي، الله ﷻ ته محتاج ځان نه ګڼړي.

﴿إِنَّ إِلَىٰ رَبِّكَ ٱلرُّجْعَىٰٓ ﴾داورته تخويف دي چې كه هرڅومره سركشي وى اودى كړى آخربه الله ﷻ دربار كښې پيش كيږى هغه به ترينه حساب كتاب اخلى.

اَرَءَيْتَ الَّذِيْ يَنْهٰى ﴿۹﴾ عَبْدًا اِذَا صَلّٰى ﴿۱۰﴾ اَرَءَيْتَ اِنْ كَانَ
اوايه ماته هغه كس چه منع كوي بنده (حضور ﷺ) چه كله هغه مونځ كوي اوايه ما ته كچرته وى دي (حضور ﷺ)
عَلَى الْهُدٰى ﴿۱۱﴾ اَوْ اَمَرَ بِالتَّقْوٰى ﴿۱۲﴾ اَرَءَيْتَ اِنْ كَذَّبَ وَتَوَلّٰى ﴿۱۳﴾
په سمى لارى يا حكم كوي د تقوىٰ اوايه ما ته كچرته دي (ابوجهل) تكذيب كوي او اعراض كوي.
اَلَمْ يَعْلَمْ بِاَنَّ اللّٰهَ يَرٰى ﴿۱۴﴾
آيا نه پوهيږى دي په دي چه بې شكه الله جل جلاله وينى.

﴿ أَرَءَيْتَ﴾ دازجر اوتعجب دي په حال د مشرک چې خپله خوهسې ځان مستغى ګڼړى او د الله ﷻ عبادت نه كوى،اوچې كوم بنده عبادت كوى، اوبيا هغه عبادت د مونځ پشان عبادت وى نودې هغه هم منع كوى.﴿ ٱلَّذِى يَنْهَىٰ ﴾ مرادورنه ابوجهل دي﴿عَبْدًا إِذَا صَلَّىٰٓ ﴾ مرادورنه حضور ﷺ دي.

﴿ أَرَءَيْتَ إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴾دادريم زجر اوتعجب دې په دوه حالت،چې كوم كس دوه بيت الله كښې د عبادت نه منع كوى د هغه ذاتى حالت هم ښه دې چې په هدايت باندې قائم دې اونورو ته هم د خير او د تقوى دعوت وركوى، او د منع كوونكى،ذاتى احوال هم خراب دى چې عقيده او عمال ئې دواړه صحيح نه دى او د خير اوتقوى دعوت خو هسې نه وركوى،نوتعجب دې چې خپله خه نشى كولې نوبل څه له منع كوى؟!

﴿إِن كَانَ عَلَى ٱلْهُدَىٰٓ ﴾دې تعبيراو اسلوب کښې اشاره ده دېته چې کچرې يو جانب دَهدايت اوبل جانب دضلالت صرف امکان وي نو بيا هم داطرزعمل نه وۀ پکار، اودلته خو ياجانب په هدايت باندې کيدل اوبل جانب په ضلالت باندې کيدل يقيني دی،نودلته خو په طريق اولی سره داسې نه ده پکار.

﴿أَوْ أَمَرَ بِٱلتَّقْوَىٰٓ ﴾"او"مانعه الخلو دَپاره دې اودې راوړلو کښې اشاره ده دېته چې کچرته هدايت اوامربالتقوی کښې يو امر هم موجود وي نوبياهم مخالفت مذموم وۀ،اودلته خودواړه موجود دی نودَدې مخالفت خوډېر زيات مذموم دې(بيان القرآن)

﴿أَلَمْ يَعْلَم بِأَنَّ ٱللَّهَ ﴾دا سابقه زجر تحت داخل دې چې ده سره دومره هم خوف خدا نشته،چې خپله خوهسې څه کارنه کوي چې بل هم ترينه منع کوي

فائده: دلته درې ځله د «رايت» تکرار اوشو، او دا چونکه د افعال قلوبو نه دې، نو دې وجهې نه د دوؤ مفعولو تقاضه کوي، نو اول ځائ (ارايت الذي ينهی)کښې مفعول اول شته، چې هغه «الذي» دې په «الذي ينهی» کښې، او دويم مفعول ئي حذف دې،چې په هغې دلالت کوي «الم يعلم بان الله يری»چې دا دويم مفعول دې د دريم «رايت».

دريم ځائ(ارايت ان کذب وتولی) کښې ئي مفعول ثاني شته .چې جمله استفهام «الم يعلم بان الله يری» ده، او مفعول اول ئي حذف دې ،چې هغې باندې «الذي» دلالت کوي چې دا مفعول اول دې د اول «رايت».

او دويم ځائ (ارايت ان کان علی الهدی)کښې د «رايت» نه مفعول اول شته او نه مفعول ثاني، دواړه حذف دي ، مفعول اول باندې ئي «الذي» دلالت کوي او مفعول ثاني باندې ئي «الم يعلم بان الله يری» دلالت کوي.

دويم او دريم «رايت» نه ورستو فعل شرط راغلې دې ، چې جواب ورله محذوف دې ، چې تقدير ئي " ا فلم يعلم بان الله يری " دې ،او په دې قرينه «الم يعلم بان الله يری» ده ، او فعل شرط سره د جواب نه جمله مستانفه ګرځي .(البحر المحيط)

كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ ۙ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ﴿١٥﴾

هرګزداسې نده پکار.قسم دې کچرته دې منع نه شو،نوخامخابه مونږدې راکاږو جهنم ته په ویښتوتندې سره.

نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ﴿١٦﴾ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴿١٧﴾ سَنَدْعُ

هغه تندی نه چه دَدروغ جن دې دَخطاکاردې،پس را اودې غواړي دې ملګری دمجلس خپل زرده چه راؤبه غواړومونږ

الزَّبَانِيَةَ ﴿١٨﴾ كَلَّا ؕ لَا تُطِعْهُ وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ ﴿١٩﴾

ملائکې دَجهنم هرګزبه نې بیاخلاص نکړي. مکوه نه اې پیغمبره اطاعت دَده.او سجده کوه اوقربت حاصلوه الله ته

﴿ كَلَّا لَئِنْ لَّمْ يَنْتَهِ ﴾ داتخویف اخروی دې چې ده له نورداخپل طرزعمل پریخودل پکار دی، قسم دې کچرته دې منع نه شودَنبي کریمﷺدَمخالفت نه اودَمونږ نه منع کولونه نوپه سختئ سره بئ رکاږودَقیامت په ورځ اوردَجهنم ته.

﴿ لَنَسْفَعًا ﴾ سفع وئیلې کیږی په سختئ سره راکاږلوته.نون خفیفه په صورت دَتنوین کښ لیکلې شویدې اصل کښ لَنسفَعَنْ دې.بعضِ وائی مطلب دادې چه په دنیاکښ به دده په مخ داغ اولګوؤ.لکه په بدرکښ داسې اوشول.

﴿نَاصِيَةٍ كَذِبَةٍ ﴾ بدل دې دَ بِالنَّاصِيَةِ ﴾، کاذبة او خاطئةاصل کښ صفت جوړیږی دَ صاحب ناصیه اودَانسان، خودلته ئې نسبت ناصیه ته مجازا شوې دې دَپاره دَمبالغې، چې دَ ده دروغ ژن کیدل اوباطل کیدل دومره عیان اوظاهر امر دې،چې : ده تندی نه معلومیږی.

﴿ فَلْيَدْعُ نَادِيَهُ ﴾ مضاف مقدردې ای اهل نادیه یعنی دې دې بیاخپل اهل مجلس را اوغواړی،روایت دې چه حضورﷺمونږ کولوابوجهل تیریدلوورته ئې اووئیل آیاماته دَمونږ نه منع کړې نه ئې،نبي کریمﷺورسره سختې خبرې اوکړې،ابوجهل اووئیل ایاته ماته سختې خبرې کوې ته خبرنه ئې چه مکه کښ ځماډیراهل مجلس دی ماسره ناسته پاسته کوي نوداآیت نازل شو.چه دې دی خپل ملګری رااوغواړی،مونږبه ورپسې دجهنم ملائك رااوغواړوچه جهنم ته بئ راکاږی.لیکن هغوئ به ورسره هیڅ مددنه شي کولې

﴿ كَلَّا ﴾ردعيه دي.زجردي لعين ابوجهل ته.يعني هرګزبه ده لره خپل اهل مجلس دالله ﷻ دعذاب نه خلاص نه کړي لکه دده چه ګمان دي

﴿لَا تُطِعْهُ ﴾داخطاب دي حضورﷺته. اوامرد داستقامت دي.چه دابوجهل وغيره کافرانوپه مخالفت کښې همیشه اوسیږه او الله ﷻته سجده کوه ددوئ په منع کولومه منع کیږه ﴿وَٱسْجُدْ ﴾سجده ورنه مرادده،یاکنایه ده دمونځ نه.﴿وَٱقْتَرِب ﴾یعنی پدی سره د الله ﷻ تقرب حاصله وه. دابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي چه اقربُ مایکون العبدُ من ربّه وهو ساجد فاکثروا الدعاء. یعنی دټولونه زیات دسجدی په حالت کښې انسان الله ﷻته قریب وی.نوسجدی کښې ډیری دعاګانی کوئ.

ركوعاتها (١)	سورة القدر مكية	آياتها (٥)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكي دې شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٩٧) وحسب النزول (٢٥)

نزلت بعدسورة الطارق و قبل الحشر

ربط: سورة العلق كښې حكم وؤ دَ تلاوت دَ قرآن، دى سورة كښې عظمت دَقرآن ذكردې چه قرآن لوله، ځكه داعظيم الشان كتاب دې په عظيم الشانه شپه كښې مونږنازل كړيدې.

شان نزول: رواياتونوكښې راغلي دى چه نبي اكرم ﷺ دَمخكنوامتونوعمرونوته اوكتل چه ډيرډيروؤ، اودَدى امت عمرونه كم وؤ، نوكه دوئ په نيك عملونوكښې دَهغوئ برابرې كول غواړى نو نامكنه ده، پدى باندى حضور ﷺ سره غم شو، پدى داسورة نازل شو، بعضِ رواياتو كښې دى چه نبي اكرم عليه السلام دَبني اسرائيلودَيوكس تذكره اوكړه چه دَزرومياشتو پورى ئې دَ الله ﷻ په لاره كښې جهادكولو، صحابه كرام ﷺ ورته اوپسخيدل نو الله ﷻ داسورة نازل كړو، يو روايت كښې دى چه حضور ﷺ بني اسرائيلوكښې دَڅلوروحضراتوتذكره اوكړه، حضرت ايوب عليه السلام، حضرت زكريا عليه السلام، حضرت حزقيل عليه السلام، حضرت يوشع عليه السلام چه اتيا (٨٠) كاله پورى دَالله ﷻ په عبادت كښې مشغول وؤ، اودَسترګى دَرپ برابرئ نافرمانى نه وه كړې، پدى صحابه كرام ﷺ حيران شول نو داسورة نازل شو (روح، قرطبي وغيره).

إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ	فِى	لَيْلَةِ	ٱلْقَدْرِ ﴿١﴾	وَمَآ	أَدْرَىٰكَ	مَا	لَيْلَةُ	ٱلْقَدْرِ ﴿٢﴾
بيشكه مونږنازل كړيدې قرآن	په	شپې	دقدركښې	اوڅه	پته دَه	تاته	چه څه ده شپه	دَقدر
لَيْلَةُ	ٱلْقَدْرِ		خَيْرٌ	مِّنْ	أَلْفِ	شَهْرٍ ﴿٣﴾		
شپه	دَقدرچه		ده، غوره	دې	عبادت	دَهغې	زروميا شتونه	

﴿ إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ ﴾ دى آياتونو كښې دَقرآنِ مجيد عظمت ذكر كيږى، ضمير منصوب قرآن ته راجع دې، اګر چې ماقبل كښې ئې ذكرصراحتاًنشته دې اوديكښې دَقرآن عظمت شان طرفَ ته اشاره ده، چې دادومره عظيم الشان كتاب دې چې دې دَپاره مرجع ضرورت نشته، بلكه هر

چاپه ذهن کښې حاضر دي مراد دنزول نه په ليلة القدر کښې دلوح محفوظ نه اسمان ددنياته نازل دی دفعةً واحدةً، يعنې قرآن پاک دلوح محفوظ نه ددنيا په اسمان پدی شپه کښې نازل شوې دې ، او بيا حسب الضرورت (۲۳) کاله کښې زمکې ته نازل دې، يامراد دنزول نه ابتداء دنزول ده يعنې دقرآن پاک دنزول ابتداء مونږ په دی شپه کښې کړېده.

﴿فِي لَيْلَةِ الْقَدْرِ﴾ قدر يا پمعنى دتقدير سره دې، نودې شپې ته ليلة القدر ځکه وائي چه دی کښې تقادير دمخلوقاتو دټو کال فرشتوته حواله کيږي، يا قدر پمعنى دعظمت اوشرافت دی، نودې شپې ته ليلة القدر ځکه وائي چه څوک پدی شپه کښې نيک عمل کوی هغه عند الله قدرمند اوعزت مند ګرځی، ياپدی شپه کښې قدرمند کتاب نازل شويدې، په واسطی دقدرمنی فرشتی، په قدرمند پيغمبر دَ امت قدرمند لپاره ، ياقدر پمعنى دتنګ والی دې، ځکه چه زمکه پدی شپه دملائکو دنزول بوجه تنګه شي (روح المعاني).

﴿لَيْلَةُ الْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ يعنې دَ زرو مياشتو دَ عبادت چه څومره ثواب دې دهغې نه زيات شب قدر کښې دَ عبادت کولو ثواب دې، هغه زر مياشتې چه شب قدر پکښې نه وی، دَ زر مياشتو نه تقريبًا دری اتيا (۸۳) کاله څلورمياشتې جوړيږي.

تَنَزَّلُ	الْمَلٰٓئِكَةُ	وَالرُّوحُ	فِيهَا	بِإِذْنِ	رَبِّهِمْ	مِّن	كُلِّ	أَمْرٍ	④
نازليږي	ملائکي	اوجبرئيل امين	پدی کښې	په اجازت	درب خپل	لپاره	دهرکارمقرر،		
سَلٰمٌ		هِيَ	حَتّٰى	مَطْلَعِ	الْفَجْرِ	⑤			
داشپه	دسلامتی	ده،	ترختلو	دصباپوری	ده.				

﴿تَنَزَّلُ الْمَلٰٓئِكَةُ وَالرُّوحُ﴾ يعني دادومره مبارکه شپه چه فرشتی اوجبرئيل پدغه شپه دَ اسمان نه زمکې ته راکوزيږي، مؤمنانوباندی سلام کولولپاره اودهغوئ عبادت کتلولپاره، بعض وائي چونکه پدی شپه کښې دعبادت ډيرثواب دې نودوئ هم دعبادت لپاره را کوزيږي، نو دی کښې ترغيب دې انسان ته دطاعت.

﴿بِإِذْنِ رَبِّهِم﴾ متعلق دې دَ ﴿تَنَزَّلُ﴾ پوری، يامحذوف پوری ای متلبسين باذن ربهم، يعنې الله ﷻ په امرسره راکوزيږي، دې کښې هم ددی شپې فضيلت ته اشاره ده.

﴿مِّن كُلِّ أَمْرٍ﴾ من یا پمعنی دَلام تعلیلیه دي.متعلق دي د تَنَزَّل ﴾پوری. نو مطلب دا دي چه فرشتی دَهغی کارلپاره راکوزیږی چه هغه مقررکړې شوې وی د راتلونکی کال پوری. ب من پمعنی دَ باء دي،ای تنزل بکلّ امر.مراددامرنه هرخیراوبرکت دي.یعنی هرخیر اوبرکت خان سره راوړی.

﴿سَلَٰمٌ﴾مصدر دي پمعنی دَ سلامة، خبرمقدم دي او﴿هِيَ﴾مبتداء دي، یعنی دا شپه دَ سلامتئ ده دَ هر شر نه، یا داچه ټوله شپه دَملائکودَطرفه په مؤمنانو باندی سلام کیږی.

﴿حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ﴾جارمجرورمتعلق دی په﴿سَلَٰمٌ﴾پوری.غایه ده دَسلامتئ.یعنی دَ دي شپی سلامتی ترصباختلوپوری جاری وی،دانه چه دَشپی څه خاصه حصه کښ دابرکتونه وی اوپه څه حصه کښ نه وی،

یاوقف په ﴿سَلَٰمٌ﴾ دي،خبردي دَمبتداء محذوف او﴿هِيَ﴾ مبتدادي.او﴿حَتَّىٰ مَطْلَعِ ٱلْفَجْرِ﴾ خبردي.

نودي سورت کښ دَلیلة القدر فضیلت متعدد وجوهو سره بیان شو:

(۱)دَقرآن نزول پکښ شوی دي.

(۲)استفهام سره "وماادراک ما لیلة القدر"چي دادَتفخیم دَپاره دي.

(۳)الله ﷻ ورته زرو شپونه بهتره شپه اوئیل.

(۴)فرشتي پکښ راکوزیږی.

(۵)الله ﷻ ورته سلام وئیلی دي.

(۶)بله داچي مکمل سورت الله ﷻ په قرآن کښ دَدی په مدحه کښ نازل کړو،نو دا یواځی مستقل اوغټ فضیلت دئ.

ركوعاتها (١) **سورة البينة مدنيّة** اٰياتها ٨

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکی دی

ترتيبها حسب التسلسل (٩٨) وحسب النزول (١٠٠) دی

نزلت بعدسورة الطلاق وقبل الحشر

ربط: ماقبل سورة کښې دَقرآن دَعظمت بیان وو دی سورة کښې دکفارو اومشرکانو په عنادشکوه ده، چه دَداسی عظیم الشان کتاب نه اعراض کوی.

خلاصه: ابتداء کښې دَاهل کتابو اومشرکانو په عنادشکوه ده. درمیان کښې تخویف اخروی دې، آخر کښې بشارت دې (تمت).

لَمۡ يَكُنِ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا مِنۡ اَهۡلِ الۡكِتٰبِ وَالۡمُشۡرِكِيۡنَ مُنۡفَكِّيۡنَ
نه دی هغه کسان چه کفرئې کړیدی دَاهل کتابونه (یهود نصاری) اومشرکان پریخودونکی (خپل دین لره)
حَتّٰى تَاۡتِيَهُمُ الۡبَيِّنَةُ ۙ﴿۱﴾ رَسُوۡلٌ مِّنَ اللّٰهِ يَتۡلُوۡا صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ۙ﴿۲﴾ فِيۡهَا
تردی چه راشی دوئ ته دلیل واضحه چه رسول دې دَطرفه دَالله جَلَّ شَانُه، لولی (پدوئ) صحیفی پاکی (قرآن) پدی کښې
كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ؕ﴿۳﴾ وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيۡنَ اُوۡتُوا الۡكِتٰبَ اِلَّا مِنۡۢ بَعۡدِ
احکام دی برابر. اواختلاف ندې کړې هغه کسانوچه ورکړې شوو ورته کتاب (اهل کتاب) مګر وروستودَدینه
مَا جَآءَتۡهُمُ الۡبَيِّنَةُ ؕ﴿۴﴾ وَمَآ اُمِرُوۡۤا اِلَّا لِيَعۡبُدُوا اللّٰهَ
چه راغلو دوئ ته دلیل واضح. حال داچه حکم نه وو کړې شوې دوئ ته په توراة، انجیل کښې مګر داچه عبادت دې کوی دَالله جَلَّ جَلَالُه
مُخۡلِصِيۡنَ لَهُ الدِّيۡنَ ۙ حُنَفَآءَ وَيُقِيۡمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤۡتُوا الزَّكٰوةَ
چه خالص کونکی به وی الله جَلَّ جَلَالُه لره دَدین. مائله به وی (دَشرک نه) اوقائموی به مونځ اوورکوی به زکوۃ

وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ ۝

اوداماموراتدین برابردي

﴿ لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾داشکوه ده دکافرانونه ،چې دوئ جهالت په تورو تیارو کښې پراته وو ،نوالله ﷻ عظیم پیغمبررااولیږلو ،عظیم الشان کتاب ئې ورکړو ،اوپاکیزه احکامات اوتعلیمات ئې ورکړل، نو دوئ باوجود دعلم نه محض دَ حسد اوعناد په وجه دَهغې نه انکار اوکړو.

﴿مُنفَكِّينَ ﴾ اې تارکین کفرهمیعنی دوئ ټول په خپل کفر باندې مضبوط وو اوهغه ئې نه پریخودلو ، ﴿حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ الْبَيِّنَةُ ﴾تردې چې الله ﷻ پیغمبر اوکتاب ورته راغې نو څنو ایمان راوړلو اوځنې بدبخته بیاهم په خپل کفر کښې پراته دي. البینه نه مراد نبی کریم ﷺ دي﴿رَسُولٌ مِّنَ اللَّهِ ﴾دابدل دې دَ البینه نه . ﴿صُحُفًا مُّطَهَّرَةً ﴾نه مراد قرآن مجید دې چې دَهرعیب او نقص نه پاک دي ﴿فِيهَا كُتُبٌ قَيِّمَةٌ ﴾بل وصف دې دَقرآن "کتب"په معنی دَاحکام سره دي او "قیمة"په معنی دَ "مستویة" او "محکمة"سره دې یعنی پکښې پاکیزه محکم احکامات دی.

﴿وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ ﴾دیکښې دَهغه خلقو مذمت بیان دې چې بینه راتلو نه ورستوئې بیا کفرکړې دې،چې دوئ خه دَعلم باوجود محض حسد اوعناد په وجه انکار اواختلاف کړې دې.

فائده: دَسورت البینه داابتدائی آیاتونه دَقرآن پاک دَمشکل ترین مقاماتونه دی،ځکه چې دلته دآیت په ظاهر باندې ناقص علم په بنیاد څلورسوالات راځی:

(۱)اول داچې ﴿لَمْ يَكُنِ الَّذِينَ كَفَرُوا ﴾ او﴿وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِينَ﴾کښې ظاهر تعارض دې ځکه چې اولنی آیت نه معلومیږی چې دوئ کفر منتهیٰ په "بینة"باندې کیږی او دَ "بینه"راتلو نه ورستو بیا کفر نشته،ځکه چې دلته﴿حَتَّىٰ تَأْتِيَهُمُ ﴾ذکر دې، او"حتی" دَخپل مابعد دَمقابل نه

مغائرت تقاضه کوی .اوبل طرف ته د ﴿وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ﴾ نه ښه په صراحت سره معلوميږی.چې دوئ "بينة" راتلو نه ورستو کفر کړې دې.

(۲) ﴿حَتَّىٰ تَأۡتِيَهُمُ ٱلۡبَيِّنَةُ﴾کښ حتی نه ورستو"ان"ناصبه مقدردې.اودافعل مضارع په مستقبل سره خاص کوی،نودينه خوداثابتيږی چې دَ "بينة" ظهور به مستقبل کښ کيږی. حالانکه دې مصداق خونبی کريم ﷺ دې او دَ هغوئ بعثت خو شوې وو

(۳) اول آيت کښ دَمشرکينو اواهل کتابو دواړو ذکر دې چې ﴿مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ﴾او دويم آيت کښ صرف دَاهل کتابو ذکردې،چې ﴿وَمَا تَفَرَّقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ﴾، دې څه وجه ده؟

(۴) څلورم داچې اهل کتابو خودَنبی ﷺ بعثت نه مخکښ اختلاف کړې وو لکه دَقرآن په ډيرو آياتونو کښ دَدې ذکر شوې دې،لکه: وآتيناهم بينٰت من الامر، فما اختلفو الا من بعد ما جاءهم العلم بغياً بينهم (الزخرف) فما اختلف فيه الا الذين اوتوه من بعد ماجاءهم البينٰت(البقره) نوبيادَدې څه مطلب دې چې رسول کريم ﷺ راتلونه ورستو دوئ اختلاف اوکړو؟
مفسرينو دَخپل خپل ذوق دَدې **مختلف توجيهات** کړې دی:

(۱)څنی مفسرينو داتوجيه کړې ده چې"حتی"في الجمله مغائرت تقاضه کوی اوهغه ئی دلته ثابت کړې دې، چې دَ "بينة"راتلو نه مخکښ ټول په کفر کښ وو،او "بينة"راتلو نه ورستو بيا داحال نه وو، بلکه څنو ايمان راوړلو اوځنې کفر باندې قائم پاتې شو،اوکوم چې کفر باندې قائم پاتې شوې وو ، نو دَ هغوئ دَ کفر سبب په ومالتفرق الذين اوتوا الکتاب کښ بيان شو. نو دې توجيه مطابق دَڅلورو نکاتو جواب داسی کيږی:

(۱)اول آيت دَدې تقاضه هډو سره کوی نه چې بينه راتلو نه ورستو دوئ ټولو ايمان راوړې دې،بلکه في الجمله دَمغائرت تقاضه کوی چې څنو ايمان راوړلو اوځنونه راوړلو.

(۲)دويمې نکتې جواب دا شو چې حتی تاتيهم مجازاپه معنی دَ حتی اتتهم، سره دې.

(۳)دريمې نکتې جواب داشوچې دلته اهل کتابو به طور خاص تذکره اوشوه اومشرکين - پکښ ضمنا شامل دی، ځکه دوئ اهل علم وو چې دوئ باوجود دَعلم نه اختلاف اوکړو

نومشركين چې هغوئ جهلاوؤ. اوامور سماويه كښې خصوصاً ددوئ متبعين وؤ نو هغوئ خو به پطريق اولى ددې مخالفت كړې وى

(۴)څلورمې نكتې جواب دادې چې قرآن باندې ايمان راوړل يوطرف نه ددين حق اتباع وه نوبل طرف ته ددوئ سابقه اختلافاتوخاتمه وه. نوچې دوئ ايمان رانه وړلو نو دوئ دهغې اختلافاتوتجديد اوكړو ورستو ددينه چې دهغې خاتمې اسباب موجود شوى وؤ

(۲)مفسرينو يوجماعت ددې توجيه داسې كړې ده چې "لم يكن الذين كفروا"كښې د كفارو دعوه نقل ده به طور حكايت،اوپه "وما تفرق الذين اوتوالكتب"كښې ددې ابطال دې. تفصيل ئې دادې چې اولنى آيت كښې الله ﷻ ددوئ دعوى ،دوئ باندې دتعريض په طور،نقل كوى . چې داهغه خلق دى چې نبى آخر الزمان بعثت نه مخكښې ئې دا لافې كولې چې كچرته دده بعثت اوشو، نوموږ به كفر پريګدو اوپه ده به ايمان راوړو اوپه دويم آيت وماتفرق الذين كښې ددې ابطال اوشو چې كله نبى آخرالزمان مبعوث شو نوايمان راوړل خو پريګده دوئ ورسره حسد اوعناد شروع كړو دمشركينواواهل كتابو داقول اوپه دې ردقرآن كښې مختلف ځائونو كښې ذكر دې مثلا مشركينو په باره كښې راځى واقسموا باالله جهد ايمانهم لئن جائهم نذير ليكونن اهد من احدى الامم،فلما جائهم نذير مازاد هم الا نفورا ، اواهل كتابو په باره كښې سورت البقره كښې راغلى دى چې وكانوا من قبل يستفتحون على الذين كفروا،فلما جاءهم ماعرفوا كفروابه .

دې توجيه مطابق داولنو دوه سوالونو جواب دا شو چې دلته اولنې آيت به طور حكايت د هغوئ كلام معنى نقل ده،نودې اعتبار سره ئې ورستو كلام سره تعارض هم نه راځى،ځكه چې قائلين بدل دى اومستقبل زمانه مراداغستلو كښې هم څه خرابى نشته.اوباقى دوؤ سوالونو جواب هغه دې چې مخكښې توجيه كښې مذكور دې.

(۳)ابن عاشور رحمه الله هم دلته يو عمده توجيه كړيده چې دهغې حاصل دادې چې لم يكن الذين او وماتفرق الذين دوه جداجدا مستقل ردونه دى،اول كښې رد په مشركينو اواهل كتابو دواړو باندې دې ، او ديكښې د"بينة" نه مراد بنى كريم ﷺ دې، او دا د دوئ قول وعمل كښې د تضاد بيان دپاره به طور حكايت نقل شوې دې، اومقصود ترينه توبيخ دې په ايمان نه راوړلو باندې، چې تاسو هغه خلق نه يئ چې وئيل مو موږ ايمان نه راوړو ترسو چې موږ ته "بينة" نه

وی راغلی؟اوچې "بینه راغله نو بیا ئی ولې مخالفت کوئ؟ اودوېم آيت کښې خاص په اهل کتابو باندې رد دې اوديکښې د"بينة"نه مراد حضرت عيسى عليه السلام دې. او مقصود ترينه د دوئ ضد و عناد بيان دې.چې دوئ ته دَدينه مخکښې هم"بينه"راغلې وه.دحضرت عيسى دبعثت وعده يهودوسره کړې شوې وه . خوچې کله مبعوث شو نوباوجود دعلم محض دعناد په بنياد دوئ اختلاف اوکړو.دې توجيه مطابق دَخلوروسوالاتو جوابات بالکل واضح دی تفصيل ته ئې ضرورت نشته. في الاية توجيهات أُخر تركناها مخافة التطويل

﴿وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا﴾ديکښې اهل کتابو يهودو او نصاری عنادوضاحت دې چې دوئ ته مونږ تورات اوانجيل کښې بس دااحکامات ورکړی وو چې"يودالله تعالى عبادت کوئ. هغه سره څوک شريک مه ګرځوئ، مونځ قائم کوئ، اوزکات ورکوئ.اوقرآن مجيد کښې هم دَدې حکم دې اونبی کريم ﷺ هم دَدې تعليم ورکوی،دې باجود چې دوئ ايمان نه راوړی نو داصرف عناد دې.﴿مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾خالص اوصرف دَالله تعالى طاعت اوعبادت به کوئ. ﴿ حُنَفَآءَ﴾ جمع دَحنيف ده،يعنی مائله دَټولو عقائدوباطله ؤنه.

﴿وَذَٰلِكَ﴾اشاره "الا" نه بعد مذکور اوامرو ته ده. ﴿ دِينُ ٱلۡقَيِّمَةِ ﴾ القيمة نه مراد شديدالاستقامة دې اودا صفت دې دَموصوف محذوف اي دين الملة القيمة او دين الكتب القيمة او يا اضافت شويدې دَموصوف خپل صفت ته اي الدين القيم او"تاء" په القيمة کښې يادَ پاره دَ مبالغې ده اويادَپاره دَتانيث ده، خو"الدين" په معنی "الملة"سره دې.

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۡ أَهۡلِ ٱلۡكِتَٰبِ وَٱلۡمُشۡرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ
بې شکه هغه کسان چه کفرئې کړيدې دَاهل کتابونه اومشرکانونه دوئ به په اوردجهنم کښې وی همیشه به وی
فِيهَآۚ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ شَرُّ ٱلۡبَرِيَّةِ ۞ إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ
په هغې کښې.داخلق هم دوئ بدترين خلق دی په مخلوقاتوکښې.بې شکه هغه کسان چه ايمان ئې راوړيدې
وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ۞ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ
اوعملونه ئې کړيدی نيک داخلق هم دوئ بهترين خلق دی په مخلوقاتوکښې.بدله دَدوئ په نيزدَرب دَدوئ

جَنّٰتُ عَدْنٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ۭ رَضِيَ اللّٰهُ

جنتونه دهمیشه اوسانې دی چه بهیږی به لاندې دهغی نه نهرونه ،همیشه به وی په هغی کښې همیشه راضی به وی الله ﷻ

عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ ۭ ذٰلِكَ لِمَنْ خَشِيَ رَبَّهٗ ۝۸

دَدوئ نه اودوئ به راضي وی دهغه نه،دادرجه دهغه چاده چه بریدلې وی درب خپل نه

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟﴾تخویف اخروی دې ،یهودونصاریٰ ؤاومشرکینوته چه دوئ به همیشه په اوردجهنم کښې وی،اودوئ په ټولو مخلوقاتو کښې بدترین مخلوق دی.

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟﴾بشارت أخروی دې مؤمنانوته،چه ددوئ أخروی ژوندبه په ښه نعمتونو کښې وی،اوپه ټولو مخلوقاتو کښې غوره مخلوق دی.

﴿رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا۟ عَنْهُ﴾یعنی الله ﷻ ددوئ نه راضی دې اوددوئ دالله نه راضی دی.﴿ذَٰلِكَ﴾ یعنی دامذکوره جزااورضادالله ﷻ دهغه چاده چه دخپل رب نه هرحال کښې یریږی.

ركوعاتها (١)	**سورة الزلزال مدنية**	اياتها (٨)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم كونكې دې شروع كوم	

ترتيبها حسب التسلسل (٩٩) وحسب النزول (٩٣)

نزلت بعد سورة النساء و قبل الحديد

ربط: ماقبل سورة كښې شكوه وه په عناد دَ كفارو، دى سورة كښې ورته تخويف اخروى دې.

إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ① وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ② وَقَالَ
كله چه اوخوزولې شى زمكه په سخت خوزولو دَدى سره. او را اوباسى زمكه بوجونه خپل او اوبه وائى
الْإِنسَانُ مَا لَهَا ③ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ④ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا ⑤
انسان څه شويدى دى لره. په دغه ورځ به بيانوى خبرونه خپل. په سبب دَدى چه رب ستا حكم كړيدې ديته
يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ⑥
پدغه ورځ به راځى خلق ډلى ډلى. دَدى دپاره چه اووينى بدله دَعملونو خپلو.
فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ⑦ وَمَن يَعْمَلْ
پس هغه څوک چه عمل كوى په اندازه دَيوى ذرى نيک، نو اوبه ئى وينى ثواب دَهغى او څوک چه عمل كوى
مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ⑧
په اندازه دَيوى ذرى بد، نو اوبه ئى وينى (سزا دَهغى).

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ﴾ مراد دَزلزلې نه په نيز دَبعض مفسرينو هغه ده چه نفخه اولى په وخت به راځى، چه دى سره به عمارتونه، غرونه وغيره هيڅ پاتى نشى، هموار ميدان به شى. او څنى مفسرين فرمائى چې دينه مراد نفخه ثانيه ده، چې دينه ورستو مړى ژوندى كولې كيږى.

﴿زِلْزَالَهَا﴾ مفعول مطلق دی،دپاره دتاکید. ای زلزالها اللائق هایعنی داسې به ئې اجرفوی

څنګه چې پدې ورځ ددې جرفول مناسب وی لکه عرب وائی. اکرم العالم اکرامه یعنی دعالم

شیان شان اکرام اوکه

﴿وَأَخْرَجَتِ ٱلْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴾ جمع دثقل ده.مرادورنه مړی دی اودغه شان نوری دفینی.

دا به دنفحه ثانیه په وخت کښ وی.مسلم شریف حدیث مفهوم دې چې زمکه به خپلې ټکړې

دسرواوسپینو زروباهر ته راوباسی قاتل به راشی اوبه وائی.چې اوه.مادې دجهی نه قتل

کړې ؤو قطع رحمی کونکې به راشی اوبه وائی چې اوه!مادې دوجهی نه قطع رحمی کړې

وه،غل به راشی هغه به داسی وائی بیابه ټول داخزانې داسی پریګدی اوڅه به ترینه نه اخلی

﴿وَقَالَ ٱلْإِنسَٰنُ﴾ یعنی انسان به چې دامنظر اګوری نوحیران به پاتی شی اوډیر په تعجب

سره به وائی چې دې زمکې له څه چل شوې دې؟

﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ﴾ یعنی پدغه ورځ به زمکه خپلی خبری خلقوته بیانوی،انسان چه څه

عمل کړې وی که خیروی که شرهغه ټول به ښکاره کوی،الله ﷻ به ورته حقیقةً دخبرکولو طاقت

ورکړی

په حدیث کښ دی دابوهریره ﷺنه روایت دې چه حضور ﷺ داآیت کریمه﴿يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ

أَخْبَارَهَا﴾ اولوستلو ،بیائی اوفرمائیل آیاتاسوته پته ده چه څه دی خبرونه ددی، صحابؤعرض

اوکړوچه الله ورسوله اعلم،دینه پس ئی اوفرمائیل چه ددی خبری دادی چه ګواهی به ورکوی

په هرسړی اوښځی باندی چه څه ئی ورباندی کړی وی،وائی به چه دا دا کار ئې په دی په دی

ورځی کړې وؤ(ترمذی)

﴿بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَىٰ لَهَا﴾ باء سببیه ده،یعنی زمکه به هرڅه ځکه بیانوی چه الله ﷻ به ورته

حکم کړې وی.

﴿يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ ٱلنَّاسُ﴾دينه مراد يادَقبرونو نه موقف اوميدان حشرطرف ته راتلل دى، نودې صورت كښې ليروا اعمالهم نه مراد اعمال نامې ليدل دى،ياحساب كتاب نه فارغيدلونه ورستو تګ مراد دې اودې صورت كښې ليروا اعمالهم نه مراد داعمالونتيجه ليدل دى.

﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ﴾تفصيل دې،دَ﴿ لِّيُرَوْا﴾چه چاذره برابرنيكى كړې وى دَهغى بدله به ورته هم ميلاويږى اوچاچه ګناه كړې وى ذرى برابردَهغى بدله به هم ورته وركولې كيږى.

دلته داسوال نشي واريدلې چې داآيت عام اومطلق دې چې چاڅه خيراوشركړې وى،هغې بدله به ورته هم هغه شان ميلاويږى حالانكه مؤمن كه ګناه اوكړى اودَهغې نه توبه اوباسى نوبياخوورته دهغې سزا نه ميلاويږى،دغه شان كافر كه ډيرې نيكئ اوكړى خوآخرت كښې ورته دهغې ثواب اواجر نه ميلاويږى؟جواب دادې چې داپه هغه صورت كښې دې چې خيراوشر آخرت ته پاتې هم وى،اومذكوره صورتونو كښې خيراوشر پاتې نه دې ځكه چې ګناه په توبه كولو اودَحق تلافى اواداثيګى سره ختم شو ،اوپاتې نشو نوځنګه وزله دې سزاوركړې شى.دغه شان دكافر ايمان نه راوړلو په وجه دَهغه نيک اعمال حبط شو اوآخرت ته پاتې نشو نوځنګه درله پرې اجر وركړې شى«بيان القرآن»

ركوعاتها (۱)	سورة العاديات مكيّة	آياتها (۱۱)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۰۰) وحسب النزول (۱۴۰) دي

نزلت بعد العصر و قبل الكوثر

ربط: ماقبل سورة کښې تخويف اُخروی وؤ په عناد دکفاروباندی. دی سورة کښې شکوه ده په ظلم دَ کفاروباندی، چه څومره دَالله ﷻ ناشکرګزاره دی.

خلاصه: ابتداء نه آيت (۲) پوری بيان دَمرض دي، چه انسان دَخپل پروردګارناشکره اونافرمانه دي، آيت (۷، ۸) بيان دَسبب دَمرض دي چه دَده دَناشکرئ سبب مال ودولت سره محبت دي، بياترآخره علاج مرض دي، (تمت).

وَالْعٰدِيٰتِ	ضَبْحًا ①	فَالْمُوْرِيٰتِ	قَدْحًا ②
قسم دي په هغه اسونو تيزز غليدونکو په هوکيدلو سره. بياقسم دي په هغه اسونو چې بسرکی اوچتونکی دی په خپووهلو سره.			
فَالْمُغِيْرٰتِ	صُبْحًا ③ فَاَثَرْنَ	بِهٖ	نَقْعًا ④ فَوَسَطْنَ
بياقسم دي په هغه آسونو چې حمله کونکی وی په سحر کښې بيا پورته کوی پدې منډووهلوسره دوړه. پس مينځ کښې			
بِهٖ جَمْعًا ⑤			
ورننوځي پدغه وخت کښې په جمعې (لښکر) دَدشمن کښې.			

﴿وَالْعٰدِيٰتِ ضَبْحًا﴾ دادرې قسمونه دی په آسونو اودهغې مختلفو صفاتو باندې دَپاره دَاستشهاد په دې خبرې چې انسان دَخپل رب ډير ناشکره دي.

﴿وَالْعٰدِيٰتِ﴾ دا اول قسم دي دَ "علو" نه مشتق دي منډې اوتيز زغليدو ته وائی، او موصوف ئی محذوف دي چې هغه "الخيول" دي، يعنی قسم دي په هغه آسونو چې تيز زغليدونکي دي. ﴿ضَبْحًا﴾ ضبح هغه آواز ته وائی چې منډې په وخت کښې دَ اس سينې نه

را اوخی، او ٔ اح اح ٔ کوی.

﴿ فَٱلۡمُورِيَٰتِ ﴾ دویم قسم دي ایراء نه مأخوذدي، اور اوباسلو او بسرکی اوچتولو ته وائی، ﴿قَدۡحٗا﴾ وهلو او مړلو ته وائی، یعنی هغه اسونه چه کانړی جنه زمکی باندی تیزئی سره تلو وخت کښ خپلی سُوی(نوکونه)کانړوسره جنګوی. نو دَ هغی نه اوراو بسرکی پورته کیږی.

﴿فَٱلۡمُغِيرَٰتِ صُبۡحٗا ﴾ دریم قسم دي چي حمله اوغارت ګری کوی په وخت دَسحر کښ، اودَ سحر وخت تخصیص دَ عربو رواج په وجه اوشو، ځکه چی عربو عادت وؤ چه دَ سهار په وخت کښ به ئی په دشمن حمله کوله، چه دشمن ته پته اونه لږی.

﴿فَأَثَرۡنَ بِهِۦ﴾دَ ٔ اثارة ٔ نه مشتق دي اوچتولو اوپورته کولو ته وائی، ﴿نَقۡعٗا﴾غبار ته وائی. ﴿ فَوَسَطۡنَ بِهِۦ ﴾وسط په مینځ کښ ورننوتلو ته وائی ﴿جَمۡعًا ﴾نه مراد دَدشمن جماعت دي یعنی دا آسونه غبار اوچت کړی اودَدشمن په صفونو مینځ کښ ورننوځی.

﴿بِهِۦ ﴾ضمیر مرجع په باره کښ دوارو آیتونو کښ څو احتماله دی:

(۱)دوارو آیتونو کښ ئي مرجع ٔعدو ٔ یعنی منډه ده، یعنی خپلو منډو سره دوړه اوچتوی او په منډه منډه دَدشمن په صفونو ورننوځی.

(۲)دوارو آیتونو کښ دَضمیر مرجع ﴿صُبۡحٗا﴾دي یعنی سحر وخت باوجود ددینه چي پرینه وریدلي وی اوخاوره ناسته وی، خو دا آسونه په دومره تیز رفتارئ سره زغلی چي پدي وخت کښ ګردي اوچت کړی اوددشمن په صفونوورننوځی.

(۳)اول ضمیر ٔعدو ٔته راجع دي دویم ٔنقعا ٔ ته راجع دي یعنی منډوسره دوړي ګردي اوچتي کړی اوبیاپه دي ګردو کښ په دشمن حمله اوکړی.

(۴)اول ضمیر ٔضبحا ٔته او دویم ٔنقعا ٔ ته راجع دي، یعنی سحر کښ ګردي جوړی کړی او بیاپه دي ګردو کښ په دشمن حمله اوکړی.

إِنَّ	الْإِنسَانَ	لِرَبِّهِ	لَكَنُودٌ ۝	وَإِنَّهُ	عَلَىٰ	ذَٰلِكَ	لَشَهِيدٌ ۝
بې شکه انسان دخپل رب خامخاناشکره دې اوبې شکه انسان پخپلې ناشکرئ خامخاګواه دې							
وَإِنَّهُ	لِحُبِّ	الْخَيْرِ	لَشَدِيدٌ ۝				
اوبې شکه	دې	په	محبت	دمال	کښ	ډيرسخت	دې

﴿إِنَّ الْإِنسَانَ﴾ جواب قسم دې، **او قسم اوجواب قسم کښ مناسبت** دادې چې دیکښ زجر دې انسان ته ، چې ده له داس په شان څناورنه عبرت اخستل پکاردی، چه هغه ته دهغه مجازی مالک وابنه او دانه ورکوی، نودې څومره دخپل مالک وفادار دې، چه کوم طرف ته ئې بوځی په تيزئ سره ځی، او ډيرې منډې په وجه هوکيږی، اودشمن په جمع کښ ورننوځی ، خپل ځان قربانوی، حالانکه الله ﷻ دانسان حقيقی مالک دې اوډير زيات احسانات ئې پرې کړې دی اومسلسل کوی، خودې باوجود دې دهغه حکم منلوته تيار نه دې !؟

د "کنود" په لغت عربی کښ ډيرې معنی بيان شوی دی(۱) نعمت ناشکری کونکې (۲)بخيل (۳) ګناه ګار (۴)اويو موقوف حديث کښ د"کنود" تفسير داسې بيان شوې دې الكنود الذي يمنع رفده وينزل وحده ويضرب عبده(الادب المفرد)يعنی "کنود"هغه کس دې چې چاله څه عطيه نه ورکوی ، يواځې خوراک کوی، بل ځان سره نه شريک کوی، اوخپل خادم نوکر، اوغلام وهی، دې وجهې نه بعض مفسرينو ئې معنی انتهائی نافرمان سره کړې ده، چې دادې تولو معنو لره جامع ده.

﴿وَإِنَّهُ عَلَىٰ ذَٰلِكَ﴾ای علی کنوده، يعنی انسان پخپلې ناشکرئ باندې ګواه دې، ياپه لسانِ حال سره چه دده حال دناشکرئ دې، ياپه لسانِ قال سره خوپه آخرت کښ

﴿وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ﴾ داديبمارئ سبب بيان دې چې هغه حب مال دې "انه" کښ ضمير منصوب انسان ته راجع دې "الخير"نه مراد مال دې لکه بل آيت کښ دخير اطلاق په مال شوې دې ان ترک خيرا الوصية(البقره) او﴿لَشَدِيدٌ﴾په معنی بخيل سره دې ،نودې تقدير باندې"لام" په"لحب الخير" کښ لام تعليل دې يعنی انسان دمال محبت په وجه ډير بخيل اوکنجوس دې ،

حقوق نه اداکوی،یا "شدید" خپلی ظاهری معنی کښ دې،یعنی قوی اوسخت،او دې تقدیر باندې لام په معنی دَ "في" سره دې،یعنی انسان دَمال په محبت کښ ډیر پوخ اوکلک دې.

اَفَلَا	يَعۡلَمُ	اِذَا	بُعۡثِرَ	مَا	فِي	الۡقُبُوۡرِ ﴿٩﴾	وَحُصِّلَ	مَا	
آیادې نه پوهیږی پدی چه کله راپورته کړی شی هغه مړی چه په قبرونوکښ دی.اوښکاره کړیشی هغه پټی خبری									
فِي	الصُّدُوۡرِ ﴿١٠﴾	اِنَّ	رَبَّهُمۡ	بِهِمۡ	يَوۡمَئِذٍ	لَّخَبِيۡرٌ ﴿١١﴾			
چه په	زړونوکښ	دی.بی	شکه	رب	دَدوئ	پدوئ	باندی	پدغه	ورځ	خامخاخبرداردې

﴿أَفَلَا يَعۡلَمُ إِذَا بُعۡثِرَ﴾دې آیاتونو کښ دَبیمارئ علاج بیان دې،چې هغه دَ آخرت یادول دې، یعنی انسان له هروخت دَدې خبرې استحضار پکاردې چې خمارب خمادَهر حالت نه خبر دې، څه به مړکیږم ،بیابه ژوندې کیږم،اوخپل رب مخکښ ته به پیش کیږم،هغهٔ به خمانه دَزړې زرې حساب اخلی.

﴿وحصل﴾یعنی دَ اظهار او دَ جمع دې، یعنی دَزړه اعمال به جمع اوظاهر کړی اوحساب به ترینه واغستې شی نوظاهری اعمال په څه کښ دی!؟ ﴿إِنَّ رَبَّهُم بِهِمۡ﴾یعنی الله ﷻ دربار به دَفیصلې لګیدلې ئی اودَهر بنده هر هرعمل به ورته پته وی اودَهغې مطابق به فیصله کوی.

آیاتها (۱۱)	سورة القارعة مكيّة	ركوعاتها (۱)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۰۱) وحسب النزول (۳۰)

• نزلت بعدسورة قريش وقبل القيامة.

ربط: ماقبل سورة کښې شکوه وه کافرانوته په ناشکرئ دَهغوئ. دې سورة کښې ورته تخویف اخروی دې چه گرم اوردَجهنم ته به داخلیږي.

اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۲﴾ وَمَآ اَدْرٰىكَ مَا الْقَارِعَةُ ﴿۳﴾ يَوْمَ
هغه ټکونکې څیز،څه څیزدې دغه ټونکې،څه پته ده تاته چې څه دې داټکونکې په هغه ورځې
يَكُوْنُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ ﴿۴﴾ وَتَكُوْنُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ ﴿۵﴾
چه شی به ټول خلق په شان پتنګانوخواره واره‌اوشی به غرونه پشان دَرنګ داری وړئ جداجداکړې شوی

﴿اَلْقَارِعَةُ ﴿۱﴾ مَا الْقَارِعَةُ﴾ قارعه نوم دې په نومونودَقیامت کښې، قارعه ورته څکه وائی چه زړونه دَخلقوبه پخپلواهوالوسره ټکوئ، بیدار وی، دَعذاب الهی نه به کافران خبره وی ، دَ قرآن دا اسلوب دَ دې حادثی هولناکئ طرف ته اشاره کوی چې داخه داسې واقعه نه ده چې سرې پرې سرسری تیر شی، بلکه ډیر هیبتناکه اوخوفناکه حادثه ده لهذا غورسره ئې احوال واوره.

﴿كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوْثِ﴾ په دغه ورځ به انسانان خواره واره پتنګانو په شان شی، پتنګانو سره تشبیه دَډیرو جهونه ورکړې شوې ده: (۱) کثرت کښې (۲) انتشار کښې (۳) بې بسئ اوضعف کښې (۴) بې اختیاره یوطرف ته تلو کښې.

﴿كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوْشِ﴾ عهن وړئ ته وائی، اوبعضو عهن رنګینې وړی سره خاص کړې دې. « المنفوش » په معنی دَ المتفرق اجزاءه سره دې یعنی جداجداکړې شوې به وی، غرونو تشبیه وړئ سره دَخووجهی نه ورکړې شوې ده: (۱) رنګینئ کښې څکه چې غرونه هم

مختلف رنګونو والاوې.(۲)سپک والی کښ(۳)تفرق دااجزؤو کښ.یعنی دا مضبوط اوکلک غرونه به داسې ذرې ذرې شی لکه چې وړئ چاجداجدا کړی وی.

فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ۝ وَأَمَّا مَنْ
پس هغه څوک چه دروندشی تول دنیکوعملونودهغه نوهغه به وی په ژوندمزیدارکښ اوهغه څوک
خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ۝ وَمَا أَدْرَاكَ مَا هِيَهْ ۝ نَارٌ حَامِيَةٌ ۝
چه سپک شی تول دنیکوعملونودهغه نواستونګه دده به هاویه کښ وی اوڅه پته دده تاته چه څه سی دی هغه هاویه اورګرم دی دجهنم

﴿فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ﴾ بشارت اخروی دې چه دقیامت په ورځ دچادنیکوعملونوتله درنه شی نوهغه په خوشحاله ژوندکښ وی، آیت سره متعلق څه مباحث سورة الاعراف(۸)کښ تیردی.﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ﴾ تخویف اخروی دې﴿فَأُمُّهُ﴾(۱)ام یاخپلی ظاهری معنی کښ دې او "هاویه" بمعنی د"هالکة" سره دې ، اي فامه هالكة ، چونکه موردبچی په درد درد یږی اوپه غم نی کړیږی، اودغه شان دهغه په خوشحالئ خوشحالیږی اوراحت اوسرور ورته میلاویږی، نو دې وجهې نه اهل عربو اسلوب دادې چې هغوئ دیوکس غم درد اوخوشحالئ بیان اوتعبیر د مور په درد اوخوشحالئ سره کوی، کلام عرب کښ د دې ډیرمثالونه دی لکه یو اعرابی "دیهاتی" دامام نه په مونځ کښ دا آیت واوریدلو واتخذالله ابراهيم خليلا(الله ﷻ ابراهیم خپل خلیل اوګرځو) نو ده اونی وئیل لقد اقرت عين ام ابراهيم (اوس دابراهیم مورسترګی یخې شوی) دغه شان چاته مصیبت اوتکلیف اورسی نوعرب وائی: هوت امه ، نودلته هم مراد ددې سری هلاکت دی اوتباهی ده خو تعبیر ترینه کنایتاً دموربه هلاکت اوتباهئ سره شوې دې.

(۲)او داهم کیدیشی چې "ام" نه مجازی معنی "ماوی" او تهکانه مراد وی، او"هاویه" نه مراد جهنم دې، "هاویه" اصل کښ مخ په کته ډوب ځائ ته وائی.اوداهم چونکه داووه زمکو لاندې ډوب دې نوځکه ورته "هاویه" وائی . بعض وائی "ام" معنی "دماغ ده،یعنی دماغ به ئې په هاویه کښ وی ځکه دې به ورته سردلاندی غورځولې کیږی(روح)

﴿مَا هِيَهْ﴾ "ها" پکښ دسکتی لپاره ده په وقف کښ، اوپه حالت دوصل کښ ساقطه کیږی.

ركوعاتها (١)	سورة التكاثر مكيّة	آياتها (٨)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم		

ترتيبها حسب التسلسل (١٠٢) وحسب النزول (١۶) دي

نزلت بعد الكوثر و قبل الماعون.

ربط: ماقبل سورتونو کښې تخويفات وؤاوس دي سورة نه دَسورة الكوثر پوري بيادَ تزهيد من الدنيا مضمون ذکر کيږي.

اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ ① حَتّٰى زُرْتُمُ الْمَقَابِرَ ② كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ③
غافله کړئ تاسو فخر په ډيروالي.ترديٰ چه لاړئ قبرونوته هرګزداسی مکوئ زرده چه تاسوبه پوهه شئ
ثُمَّ كَلَّا سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ④ كَلَّا لَوْ تَعْلَمُوْنَ عِلْمَ
بیاهرګزداسی مکوئ زرده چه تاسوبه پوهه شئ. چرته هم داسې نه وه پکار . کچرته وې تاسو ته علم ، علم
الْيَقِيْنِ ⑤ لَتَرَوُنَّ الْجَحِيْمَ ⑥ ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِيْنِ ⑦
د يقيني امرونو داسې به نه کولې ، قسم دي چه خامخابه وينئ تاسو جهنم بيابه خامخا وينئ جهنم په ليدلو يقيني وسره
ثُمَّ لَتُسْـَٔلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيْمِ ⑧
بيابه خامخاتپوس کيږي ستاسونه پدغه ورځ په باره دَنعمتونوکښې

﴿اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ ددنيا طلب انسان په غفلت کښې واچوی، خپله حقيقی کاميابی په ديکښې ګڼړی، اوټوله زندګی ئې مال ،دولت،جاه اومنصب دَطلب نه عبارت وی، حتی چې مړ شی، او هر څه ترې پاتې شی، اوقبر ته لاړ شی، يوحديث کښې راځی چې نبی کريم ﷺ داآيت تلاوت کړو اوبيائی اوفرمائيل: يقول ابن آدم مالي مالي،وهل لک من مالک الا ما اکلت فافنيت اولبست فابليت اوتصدقت فامضيت يعنی بنی آدم وائی چې: ځمامال، ځمامال،دَده مال

څه دي؟ بس دادي چي اوخوړو نوفنائی کړو، واچولو نو زوړ ئی کړو. یا ئی صدقه کړو نو هغه ئی ځان دپاره مخکښ اوليږلو (مسلم، مسند احمد)

﴿حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ﴾تردي چي مړه شوئ اوقبرونه ته لاړئ. حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله دَ دې آيت نه لطيف استدلال په بعث بعدالموت کړي دي،ميمون بن مهران رحمه الله فرمائی چې څه عمر بن عبدالعزيز رحمه الله سره ناست ووم، نو دا آياتونه ئی تلاوت کړل، الهاكم التكاثر حتى زرتم المقابر، بيا لگ ساعت خاموشه شو،او بيا ئی اوفرمائيل، ياميمون ماارى المقابر الازيارة و ما للزائر بد من ان يرجع الى منزله ، يعنی اې ميمون قبر يو زيارت گاه دې او زيارت کونکي به خامخا خپل اصل منزل ته ترينه خی.(ابن كثير)دې وجهې نه بعضوعلماؤو ليكلى دي چې قبرباندې "آخرى آرام گاه" ليكل صحيح خبره نه ده

﴿ كَلَّا ﴾ردعيه دې،يعنى دنيا دَفخر اوقابل توجه شې نه دې اوآخرت د ،هيرولو امر نه دي

﴿سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾قبرته تلو سره به په تاسو داحقيقت كولاؤ شی﴿ثُمَّ كَلَّا ﴾بيا ردع ده چې دنيا دَفخر اوقابل توجه امر نه دې اوآخرت دَغفلت والا امر نه دي﴿سَوْفَ تَعْلَمُونَ ﴾قبرته تللو سره به دادرته معلوم شی.

﴿كَلَّا ﴾دريم ځلې ردعه ده چې گورئ دنيا قابل فخر اوتوجه شې نه دې اوآخرت دهيرولو امر نه دي چې تاسوئی هير وئ.

﴿لَوْ تَعْلَمُونَ ﴾ دا بيان دې د ردعې ،اوعلم اليقين نه مراد علم الامر المتيقن دي ،چې هغه آخرت دي ،يعني كچرته تاسو ته د هغه يقيني راتلونكي امر علم وې ، نو بيا به تاسو خپله دا فيصله كړې وې چې واقعي دنيا د فخر شې نه دې ، بلكه د آخرت غم پكار دي،او ياد "علم اليقين"نه مراد علم قطعى دې چې دلائل قطعيه نه انسان ته حاصل شی،يعني كچرته تاسو د لائل قطعيه اتباع كړې وې نو تاسو به په دې حقيقت پوهه شوې وې ،

﴿لَتَرَوُنَّ ٱلْجَحِيمَ ﴾ديكښ دماقبل مضمون مزيد تشديد اوتخويف اخروی دې چې په دلائلو قطعيو باندې هم ستاسويقين نه راځی،چې كله ورته حاضر شئ نوبيا به درته خپله يقين راشی اوهيڅ انكار گنجائش به درسره نه وی.

﴿ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا﴾ تكرار دَپاره دَتاكيد دي﴿عَيْنَ الْيَقِينِ﴾نه مراد رؤيت مشاهد دي.

﴿ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ﴾خطاب يا كفاروته دي چه الله ﷻ دنعمتونو ناشكرى كوى په سبب دَ كفر يا خطاب عام دي دَنعمتونونه مراد دَالله ﷻ ټول نعمتونه دى لكه صحت، فراغت، امن، خوراک څكاک، كور، سوراى، بى بى، وغيره.

رکوعاتها (۱)	سورة العصرمکیّة	آیاتها (۳)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دی شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۱۰۳) وحسب النزول (۱۳)

نزلت بعدالانشراح و قبل العادیات

ربط: دی سورة کښې هم تزهید من الدنیادي بطورترقی. او دَ کامیابئ څلوراصول ذکر کیږی. یعنی مال او اولاد په زیاتوالی فخر مه کوئ، تاریخ دَزمانی پدی ګواه دې چه انسان په لویه خساره کښې دې، مګر هغه چه دا صفات پکښې پیدا شی ایمان، عمل صالح، ایمان محنت، اعمالو محنت.

جمعوا لکنوز لانفسهم وترکوها کما هیه   الاّ قبوراً دارِسة فیهاعظامٌ بالیة

وَالْعَصْرِ ﴿۱﴾ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴿۲﴾ إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
قسم دې په زمانی. چه بی شکه انسان خامخاپه تاوان کښې دې. مګرهغه کسان په تاوان کښې ندی چه مؤمنان دی
وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿۳﴾
اوعملونه ئی کړیدی نیک. اووصیت کوی یوبل ته دَایمان. اووصیت کوی یوبل ته دَصبر.

﴿ وَالْعَصْرِ ﴾ وخت دَمازیګرورنه مراددې، یادَمازیګرمونځ. بعضِ وائی زمانه دَحیات دَحضورﷺ ورنه مرادده، اولی داده چه مطلق زمانه ورنه مراد ده. قسم برائی استشهاد دې یعنی تاریخ انسانی په دی ګواه دې، چه انسان په نقصان کښې دې، چه خپل قیمتی عمر او سرمایه دَ عمر په فانی څیزکښې خرچ کوی، مال جمع کوی او فخرپری کوی.

﴿إِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ﴾ اول صفت دکامیابئ دې، چه ایمان ئی راوړې وی، دویم داچه ﴿وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ ﴾ دریم ﴿وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ﴾ صاحب دَجلالین دَحق تفسیرپه ایمان سره کړیدې، یعنی دَایمان اویقین محنت کوی، څلورم ﴿وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴾ یعنی دَاعمالو محنت کوی، دَمعاصیونه

منع کوی،امربالمعروف نهی عن المنکرکوی ،دَصبرنه مراددری واړه اقسام دَصبردی. صبرعن المعصية،صبرعلی الطاعات،صبرعلی المصائب.

حضرت امام شافعی رحمه الله فرمائی چې انسانیت دکامیابئ اوهدایت دَپاره صرف داسورت هم کافی دې،حافظ ابن قیم رحمه الله په خپل کتاب مفتاح دارالسعاده کښ دَدې قول ډیر عمده انداز سره تشریح کړیده،فرمائی چې کمال ته رسیدلو دَپاره څلور مراحل دی:

(۱)حق پیژندل

(۲)حق باندې عمل کول

(۳)دَحق تعلیم اوتبلیغ کول.

(۴)بیاپه دې درې واړو امورو باندې استقامت اختیارول،

نو((الذین آمنوا))کښ اولې مرحلې بیان دې،((وعملوا الصّٰلحٰت)) کښ دَدیمې مرحلې بیان دې، ((تواصوبالحق)) کښ دَدریمې مرحلې بیان دې، او ((وتواصوا بالصبر)) کښ دآخری مرحلې بیان دې.

رکوعاتها (۱)	سورة الهمزة مكيّة	آياتها (۱۱)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۰۴) وحسب النزول (۳۲)

نزلت بعد القيامة و قبل المرسلات

ربط: ماقبل سورة کښې تزهيدمن الدنيابيان وۇ،دى سورة کښې مال جمع کونکواومال باندې اعتمادکونکوته تخويف أخروى دې.

وَيۡلٌ	لِّكُلِّ	هُمَزَةٍ	لُّمَزَةٍ ۝١	الَّذِيۡ	جَمَعَ	مَالًا	وَّعَدَّدَهٗ ۝٢	
هلاکت دې لپاره دهرېشى شاه عيب ويونکى مخامخ عيب ويونکى،هغه چه جمع کوى مال اوشمارى ئى.								
يَحۡسَبُ	اَنَّ	مَالَهٗۤ	اَخۡلَدَهٗ ۝٣					
آياګمان	کوى	دې	داچه	مَال	دَده	به	هميشه	ژوندې اوساتى ده لره
كَلَّا	لَيُنۡۢبَذَنَّ	فِي	الۡحُطَمَةِ ۝٤	وَمَاۤ	اَدۡرٰىكَ	مَا	الۡحُطَمَةُ ۝٥	
هرګزنى نشى ساتلې،قسم دې خامخااوبه غورځولې شى په حطمه کښې څه پته ده تاته چه څه څيزدې حُطمه								
نَارُ	اللّٰهِ	الۡمُوۡقَدَةُ ۝٦	الَّتِيۡ	تَطَّلِعُ	عَلَى	الۡاَفۡـِٕدَةِ ۝٧	اِنَّهَا	عَلَيۡهِمۡ
دااُوردالله دې بل کړې شوېدې،په امردالله،هغه اُورچه رسيږى به زړونودجهنميانوته،بې شکه دااُوربه پدوئ								
مُّؤۡصَدَةٌ ۝٨	فِيۡ	عَمَدٍ	مُّمَدَّدَةٍ ۝٩					
بندکړې	شوې	وى	په	ستنو	اوږدو	اوږدو	کښې	

﴿ وَيۡلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ﴾ "همزة" او "لمزة" بروزن "فُعَلَة" د مبالغې صيغې دى، اي كثير الهمز و اللمز، او دينه مراد هغه خلق دى چې دَ بل تحقير کوى او عيبونه ئى بيانوى، علماؤ "همزه" او "لمزه" په باره کښې ډير اقوال ذکر کړى دى:

(۱)خنی فرمائی چې: همزة هغه چه پشی شاه عیب بیانوی. لمزة هغه دې چه مخامخ طعنه ورکوی(۲) بعض بالعکس وائی،(۳)خنی وائی همزة هغه دې چه په سترگو اولاسونو اشاروسره عیب بیانوی او لمزة هغه دې چه ژبی سره عیب بیانوی.دی نه علاوه نوراقوال هم پکښی شته چې حاصل ئی بس دادې چی دَبل تحقیر اوسپکاوی کول

﴿ٱلَّذِى جَمَعَ مَالاً﴾بدل کل دې ماقبل نه،چه مال جمع کوی،اودَډیرمحبت پوجه ئی هروختی شماری،نفقات واجبه ورنه اداکوی.

﴿يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ﴾دده طرزعمل نه داسې معلومیږی لکه چې دَده خیال داوی چې مال به دې همیشه دَپاره باقی ساتی.

﴿كَلَّا﴾ردعیه دې،یعنی هرگزبه ورته مال دَمرگ نه امان ورنکړی﴿لَيُنۢبَذَنَّ﴾ جواب قسم دې دَمقدرای والله لینبذنّ.﴿ٱلْحُطَمَةِ﴾ دَجهنم نوم دې، د حطام نه ماخوذ دې، چوره چوره کولو او زرې زرې کولو ته وائی،نو دیته هم حطمئکه وائی چې داجهنم په دې انسان له هډوکی زرې زرې کړی.

﴿نَارُ ٱللَّهِ﴾داجواب دې دَ "وما ادراک ماالحمطه"، او اضافت دَ نار "الله" ته دَپاره دَ تهویل دې چې داهغه هولناک اوردې چې الله ﷻ بل کړې دې.

﴿ٱلْمُوقَدَةُ﴾صفت دې دَنار اودیکښی هم دَاوور هولناکئ بیان دې چې دوئ راتلو نه مخکښی اوپه جکم دَالله ﷻ سره بل کړې شوې دې.

﴿ٱلَّتِى تَطَّلِعُ عَلَى ٱلْأَفْـِٔدَةِ﴾دویم صفت دې دَنار اودیکښی هم دَاورهولناکی بیان دې تطلع یا په معنی ختلوسره دې چې دااوربه دومره سخت وی چې لگیدو سره به ئی زړه ته اورسی،اویا په معنی دَعلم اواطلاع سره دې، یعنی دا اور به دَ زړونو نه گناه اوجرم پته اواندازه لگوی اوبیا به په هغه کس باندې هومره سختئ سره مسلط کیږی.

﴿إِنَّهَا عَلَيْهِم مُّؤْصَدَةٌ﴾دیکښی مزید تهویل دې یعنی دې اور کښی واچولې شی او دروازې به پرې بندکړې شی چرته به تختیدلې نشی.﴿فِى عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍۭ﴾ عمد جمع دَعمود یا عماد ده

ستنې ته واني ، ممددةپه معنی دطِوَالْ سره دي، او في په معنی د باء سره دي، اوتقدير دَ آيت به داسې وی مؤصدة ابوابها باعمدة ممدودةيعنی جهنم دروازې به اوګده اوګدو اوسپنوسره کلکې بندې کړې شوې وی دوئ به ئی دَخلاصولو طاقت نه لری یا في خپلې ظرفيت معنی کښې دی، یعنی دوئ په دَپاڼې په شان اوګدواوګدو ستنوکښې اچولې شوې وی،اوهغې کښې به وړباندی او زبلیږی،اويو طرف نه بل طرف نه په ددې خوله بنده وی ، نعوذبالله منها

بهرحال داسخت عذاب په درې قسم مذموم صفاتوباندې دي.

(۱) په ژبې دَخلقو عیب بیانول.

(۲) په عمل سره دَخلقو عیب بیانول.

(۳) حب مال اوحرص.

آیاتها (۵)	سورة الفیل مکیّة	رکوعاتها (۱)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتیبها حسب التسلسل (۱۰۵) وحسب النزول (۱۹)

نزلت بعد سورة الکافرون وقبل الفلق

ربط: ماقبل سورة کښې تخویف اُخروی وو په مال جمع کولو فخر کولو باندې، دی سورة کښې دَتخویف دنیوی نمونه ذکر کیږی، چه اصحاب الفیل دَدنیا په مال مغروره شول، دَایمان او توحید مرکز ختمولو کوشش ئی کولو، الله ﷻ پخپله هلاک کړل

اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصۡحٰبِ الۡفِيۡلِ ﴿۱﴾ اَلَمۡ يَجۡعَلۡ كَيۡدَهُمۡ
آیا ته نه ئی خبر چه څنګه کار کړی وو رب ستا دَخاوندانو دَهاتیانو سره. آیا نه ئی وو ګرځولی تدبیر دَهغوئ
فِيۡ تَضۡلِيۡلٍ ﴿۲﴾ وَّاَرۡسَلَ عَلَيۡهِمۡ طَيۡرًا اَبَابِيۡلَ ﴿۳﴾
په بیکارئ کښې ناکامئ کښې، اولیږلی ئی وو په هغوئ مارغان ډلې ډلې
تَرۡمِيۡهِمۡ بِحِجَارَةٍ مِّنۡ سِجِّيۡلٍ ﴿۴﴾ فَجَعَلَهُمۡ كَعَصۡفٍ مَّاۡكُوۡلٍ ﴿۵﴾
چه ویشتل به ئی هغوئ په کانړو چی په اور کښې پاخه شوی وو پس اوئ ګرځول په شان دَکیاه خوړلی شوی

﴿ اَلَمۡ تَرَ كَيۡفَ فَعَلَ رَبُّكَ ﴾ دا دَتخویف دنیوی نمونه ده ﴿بِاَصۡحٰبِ الۡفِيۡلِ﴾ نه مراد ابرهه او دَهغه لښکر دی، رؤیت نه مراد رؤیت قلبی دی، کنایه ده دَعلم نه، استفهام تقریری دی، یعنی تامعلومه ده چه الله ﷻ اصحاب الفیل سره څنګه کار اوکړو، دا واقعه چونکه په تواتر سره حضور ﷺ ته رارسیدلی وه نو څکه ئی ورته علم وو، جمهور وائی چه دَحضور ﷺ ولادت په کال دا واقعه شوی ده، پنځوس ورځی مخکښې، دا واقعه دَحضور ﷺ دَبعثت لپاره توطئه او تمهید وو چه دیته ارهاص وائی.

اصحاب الفیل مختصره واقعه داده چه دَیمن حاکم (ګورنر) ابرهه دَحبشی بادشاه خوشالولو لپاره په صنعاء کښې یوه لویه ګرجا (عبادت خانه) جوړه کړه، او دا اعلان ئی اوکړو چه

خلق دی خانه کعبی په ځائی عبادت اوحج عمری لپاره دلته راځی. عرب اګرچه بُت پرست وو. لیکن دَخانه کعبه محبت دَهغوئ په زړونو کښې پروت وو، نو دا کار دوئ ته ډیر بد ښکاره شو، قریشونه یو کس راغې، دَشپې ئی په هغه عبادت خانې کښې اودس ماتې اوکړو، پلیته ئی کړه، ابرهه ته اطلاع اوشوه، نو ډیر غصه شو، قسم ئی اوکړو چه څه به خانه کعبه ورانوم. بادشاه نه ئی اجازت او مدد واخستو، او څه هاتیان ئی ځان سره کړل، راروان شو، په لاره کښې ورسره دوه دری ځایه عربو جنګ هم اوکړو، لیکن شکست ورته اوشو. ځکه چه الله ﷻ دَبیت الله شریف کرامت، عظمت ښکاره کولو، او دَ ابرهه رسوا کولو، کله چې دې مکی ته قریب راغې، نو هلته دَ اهل مکه ؤ اوښان څریدل، هغه ئی اونیول. چه پکښې دَعبدالمطلب دوه سوه اوښان وؤ، ابرهه یو سفیر مکی ته را اولیږلو چه سرداران دَ قریش دَ خپل مقصد نه خبر کړی، سفیر ئی مکی ته راغې، نو خلقو ورته عبدالمطلب اوښودلو چه هغه سره میلاؤشه، عبدالمطلب سره میلاؤ شو، خپل مقصد ئی ورته بیان کړو، عبدالمطلب ورته اووئیل چه والله مونږ نه جنګ کوؤ، او نه ئي کولې شو، دا بیت الله دې، که الله ﷻ ئی منع کوی، نو منع به ئی کړی، که نوی نو مونږ ئی دفاع نشو کولې، سفیر دې دَځان سره ابرهه خواته بوتللو. عبدالمطلب لیدلو سره ابرهه دَخپل تخت نه راکوز شو، په پوزی ورسره کیناستلو. دَترجمان په ذریعه ئی ورنه تپوس اوکړو، ستاڅه حاجت دې، عبدالمطلب ورته اووئیل چه ماته خپل اوښان واپس کړه، ابرهه اووئیل ستادَوجاهت په وجه ماته ډیرلوئ سړې ګڼړلې، څه خو ستا سو خانه کعبه ورانولو لپاره راغلې یم، هغې باره کښې مانه څه مطالبه نه کوې، اوخپل اوښان غواړې، عبدالمطلب اووئیل: دَ اوښانو مالک څه یم، اودَخانه کعبې رب شته دې، هغه به ئی حفاظت کوی، ابرهه اووئیل هغه مانښې منع کولې.

ابرهه عبدالمطلب ته اوښان واپس کړل، عبدالمطلب راغې دَخانه کعبې غلاف ئی اونیولو، دعاګانې ئی اوکړې دَحفاظت، بیاسره دَقوم نه دَغرونو سر ته لاړل، ابرهه اودَهغه لښکر چه راروان شو، او وادئ محسر ته چه را اورسیدل، نو الله ﷻ وربانډی لښکر دَ مرغانو را اولیږل، چه دَهغوئ سره په پنجو او مخوکو کښې واړه واړه دَچنړې یا مسورو برابر کانړی وؤ، لښکر به ئی پری ویشتلو، هرې یوې سره به درې درې کانړی وؤ، چاباندی چه به کانړې لږیدلو، نو دلاندې حصه نه به ئی اووتلو اوذرې ذرې به شو. (ابن کثیر بالاختصار).

﴿وَأَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا أَبَابِيلَ﴾ ابابيل اي جماعات يعنى ډلې ډلې. لفظ دَجمع دي، مفردنى نشته دي، بعضِ وائى دَ اِبَالة جمع ده، بعضِ وائى دَ ابول جمع ده. لکه دَعجول جمع عجاجيل ده، بعضِ وائى دَ ابيل جمع ده، لکه دَسکين جمع سکاکين ده، بعضِ وائى دَ ابّال جمع ده، لکه دَمفتاح جمع مفاتيح ده (جلالين)

﴿بِحِجَارَةٍ مِّن سِجِّيلٍ﴾ يعنى دَسجيل کانړی ﴿سِجِّيلٍ﴾ دَ سنگ او گل نه معرّب دي، سنگ کانړی ته وائی، او گل ختي ته، دَختونه واړه واړه کانړی جوړشی اوپه أورکښ پاخه شی هغی ته ﴿سِجِّيلٍ﴾ وائی (روح المعانی) داکانړی هم په جهنم اورکښ پاخه شوی وو.

﴿فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ مَّأْكُولٍ﴾ (۱) عصف هغه پاڼړی ته وائی چې چينجی ورته لگيدلې وی اوهغه ئی دننه بالکل خوړلې وی اويوجال غوندې ئې په سطح باندې پاتې وی (۲) يادينه مراد گياه اوبوس دی چې څناور ئی اوخوری، بيائی غوشيانو شکل کښ راوباسی بيا غوشې وچ شی اواجزا ئی اخواديخوا منتشر شی، دې وخت کښ چې دااجزا څنگه ښکاری دغه شان الله ﷻ دَدوئ حال کړې وو.

آياتها «۴»	سورة القريش مكيّة	ركوعاتها «۱»
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل «۱۰۶» وحسب النزول «۲۹»

نزلت بعد سورة التين و قبل القارعة

ربط : ددی سورة موضوع تزهيدمن الدنياده،چه دَشمنان دَتوحيداوبيت الله مى بربادكړل، قريشوته مى تجارتى سفرونونعمت وركړو،خوتاسولره هم مناسب ده چه دَرب دَبيت الله بندګى اوكړئ،مال محبت كښې رانده كيږئ مه.

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ۝ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ۝
دَوجى دَعادت كيدلو دَ قريشو . عادت كيدل دَ هغوئ دَ تجارتى سفر دَ ژمى او دَ ګرمئ سره
فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ۝ الَّذِيْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ
نوپكارده چه عبادت اوكړى صرف دَرب دَدى خانه كعبى.هغه رب چه خوراک ئى وركړودوئ ته دلوږى نه
وَّاٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝
اوامن ئى ورته وركړودخوف نه

﴿لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ﴾ داتزهيدمن الدنيا دي قريشو ته خاص طورباندي،چې الله ﷻ تاسوله دَ تجارت اسباب او مواقع دركړى دى ، ګرمئ كښې شام ته سفر كوئ اويخنئ كښې يمن ته، حالانكه مكه خوشې بيابان وؤ، نه پكښې څه تجارتى مركز او بازار وو، اونه څه كروندې بندوبست، او بيا ئى ستاسو دا تجارتى سفرونه پرامن ګرځولى دى،دَبيت الحرام دَتقدس اوحرمت په وجه درته څوک هيڅ هم نه وائى(حالانكه داقتل وغارت او دَ داكوزمانه وه)، لهذا كوم رب چې درله دامال دركړې دي اودَبيت الله په وجه ئى عزت دركړې دي،دَهغه عبادت كوئ، اومال ودولت په وجه ،ددې بيت رب دَاحكاماتو نه سر كشئ مه كوئ.

لام په لایلاف کښې لام اجلیه دې، اوجارمجرورمتعلق باره کښې دَمفسرینو ډیرزیات اقوال دی، بې تکلفه قول دادې چې دامتعلق دې دَمابعد فلیعبدو سره.

﴿ إِۦلَٰفِهِمْ ﴾بدل دې دَ﴿ لِإِيلَٰفِ قُرَيْشٍ ﴾ نه﴿رِحْلَةَ ﴾مفعول به دې.

﴿ أَطْعَمَهُم مِّن جُوعٍ ﴾یعنی دَدی تجارتی سفرپه سبب دَدوئ لوږه ختمه کړه،اومکې کښې تجارتی مراکز قائم شول اواسباب اوضروریات زندگی ورته مهیا شول.

﴿ وَءَامَنَهُم مِّنْ خَوْفٍ ﴾اوهر قسم خوف نه ورله امن ورکړو .تجارتی سفرونو کښې دوئ ته څوک څه نه وائی،مکه ئی حرم گرځولې دې،څوک پرې حمله اوقتل وقتال پکښې نه کوی، کما في قوله تعالى:اولم يروا انا جعلنا حرما امنا ويتخطف الناس من حولهم

ركوعاتها (۱)	سورة الماعون مكيّة	آياتها (۷)
	بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکي دي سروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۰۷) وحسب النزول (۱۷)

نزلت بعد سورة التكاثر وقبل الكافرون

ربط: دې سورة کښې هم تزهيد من الدنيا ذکر کيږي.

اَرَءَيۡتَ الَّذِيۡ يُكَذِّبُ بِالدِّيۡنِ ۞ فَذٰلِكَ الَّذِيۡ يَدُعُّ الۡيَتِيۡمَ ۞ وَلَا يَحُضُّ
آياته وينى هغه کافرچه تکذيب کوی دقيامت نوداهغه دې چه رټی يتيم لره. اوترغيب نه ورکوی
عَلٰى طَعَامِ الۡمِسۡكِيۡنِ ۞ فَوَيۡلٌ لِّلۡمُصَلِّيۡنَ ۞ الَّذِيۡنَ هُمۡ عَنۡ صَلَاتِهِمۡ
په طعام دمسکين پس هلاکت دې لپاره دهغه مونځ گزاروچه هغوئ دمونځ خپل نه
سَاهُوۡنَ ۞ الَّذِيۡنَ هُمۡ يُرَآءُوۡنَ ۞ وَيَمۡنَعُوۡنَ الۡمَاعُوۡنَ ۞
غافله وی بېرواه ئی نکوی، دوئ هغه دی چه رياکوی اومنع کوی معمولی شئ هم

﴿ أَرَءَيۡتَ ٱلَّذِي ﴾ رؤيت نه مراد رؤيت قبلی دې، چې آيا خه تاته اونه بنايم دآخرت تکذيب کونکې، آيا خه تاته معلومات درنکړم دآخرت نه دانکار کونکی؟. استفهام دلته دپاره دتشويق دې

﴿ فَذَٰلِكَ ٱلَّذِي يَدُعُّ ٱلۡيَتِيمَ ﴾ دَ آخرت نه منکر دَ دنيا بنده اوغلام وی، چې دمخلوقاتو همدردی ئی به زړه کښې نه وی، چاسره څه احسان نه کوی، حتی چې دَيتيم په شان قابل رحم انسان هم دَخپل درگاه نه شړی.

﴿ وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴾ يعنی خپله خوهسې هم چاله څه نه ورکوی چې بل کس له هم د دې ترغيب نه ورکوی.

﴿فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ﴾داورته زجر دې چې دادنیا غلامان اوبندګان دې هلاک شی،دَ دوئ هیڅ کار په خلوص باندې مبنی نه وی، خپل ذاتی او دنیوی مفاداتو تحت هر یو کار کوی، دَ منافقت نه ډک وی ، دَمونځ په شان عظیم الشان عبادت اول خو کوی نه ،اوکه کچرته ئی اوکړی ، نو هم دځه غرض په بنیادئی کوی،دَزړه نه غافله اوبل ته خودونکی وی.

﴿وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾اودَحرض ئی داحال دې چې معمولی غوندې شې ترینه هم تیرې نه وی، "الماعون"دکوردَضرورت معمولی سامان ته وائی،لکه کټوئ.ماچس،مالګه،وغیره.

ركوعاتها (١)	سورة الكوثر مكيّة	آياتها (٣)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان ډير رحم کونکي دي شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (١٠٨) وحسب النزول (١٥)

نزلت بعد العاديات و قبل التكاثر

ربط: دی سورة تعلق دَسورة الاعلى دَدواړو مضمونو سره دي، ځکه چه دی کښې دَبدني عبادت حکم دي چه ﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ﴾ نو دا توحيد دي او دَمالي عبادت حکم دي چه ﴿وَانْحَرْ﴾، نو دا تزهيد من الدنيا دي (تمت).

إِنَّا أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ ﴿١﴾ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ ﴿٢﴾ إِنَّ شَانِئَكَ
بې شکه مونږ در کړيدي تاته ډير خير، حوض کوثر نو ته مونځ کوه لپاره دَخپل رب او قرباني کوه، بې شکه دَشمن ستا
هُوَ الْأَبْتَرُ ﴿٣﴾
هغه به ميرات وي.

﴿ إِنَّا أَعْطَيْنٰكَ الْكَوْثَرَ﴾ حضور ﷺ ته تسلی ده، او زجر دي کافرانو ته، دَحضور ﷺ صاحبزاده قاسم وفات شو، کافرانو او وئيل چه دي ابتر دي، ميرات يعني مقطوع النسل دي، (نعوذبالله) عاص بن وائل او وئيل چه دي پريدئ، دي ابتر دي، چه کله وفات شی، نو نوم نشان به ئې ختم شی، مونږ به ورنه خلاص شو، دی طعن باندی حضور ﷺ ته ډير تکليف اوشو، نو دا سورة نازل شو، چه پکښې ورته تسلی ده چه ته دکافرانو پدی خبرو مه خفه کيږه، مونږ تاته ډير خير درکړيدي، روحاني اولاد يعني امت مو دومره درکړيدي چه دَقيامت په ورځ به ئې دَحوض کوثر نه سيرابه کوي.

﴿ الْكَوْثَرَ﴾ عربي کښې خير کثير ته وائی، دلته ترينه څه مراد دي؟ نو مفسرينو دي په باره کښې دَشلو نه پاځه اقوال دی خو هغي کښې دوه قوله زيات غوره معلوميږي.

(۱)دینه مراد حوض کوثر دي ،حضرت انس ﷺ فرمائی چې یو ځل نبی کریم ﷺ مونږسره وؤ،چې دیکښې نبی کریم ﷺ اوده غوندې شولو،بیائی سرمبارک رااوچت کړو اومسکې وو،مونږ ورته اوئیل اي دَالله رسول!ولې خاندې؟نواوئی فرمائیل چې اوس ماباندې سورت نازل شو،اوبیائی مکمل داسورت تلاوت کړو،بیائی تپوس اوکړو چې تاسو کوثر پیژنئ. مونږ ورته اوونیلو:الله ﷻ اودهغه رسول دَدې نه ښه خبر دي؟اوئی فرمائیل چې دایو نهر دي. چې ځما رب ماسره دَدې وعده کړې ده، پدیکښې ډیر خیر دي، دایو حوض دي چې ځما امت به ترینه قیامت په ورځ اوبه ځکی،لوښی به ئی دَستورو په شماروی. الخ

(۲)بعض روایاتو نه معلومیږی چې دابه جنت کښې یونهر وی. لکه بخاری شریف روایت کښې دی چې نبی کریم ﷺ فرمائی چې معراج په موقع باندې یو نهر خواه له راغلم، چې هغې دواړو طرفونو کنارو باندې غوندې "قبه نما" ملغرې لګیدلې وې. نو ما تپوس اوکړو چې اي جبرئیل!داڅه دی؟نوهغه اوئیل چې داکوثر دي.

مفسرینو دې دواړو اقوالو کښې تطبیق داسې کړې دي چې دانهربه جنت کښې هم وی اودهغې اوبه ، به میدان حشر حوض ته راغورځیږی.

(۳)یل قول دادې چې دینه مراد مطلقا خیر کثیر دي، نو دیکښې بیا حوض کوثر هم راغې ، نبوت، قرآن اور هر قسم خیر پکښې راغلو.داقول امام بخاری رحمه الله دَحضرت ابن عباس ﷺ نه نقل کړې دې.

﴿ فَصَلِّ لِرَبِّكَ ﴾یعنی دَدی خیرکثیرنعمت په شکریه کښې خپل رب په حضورکښې مونځ کوه،دیکښې نفی دَشرك فی العبادة ده﴿وَٱنْحَرْ ﴾نحر اوښ ذبح کولوته وائی،دلته ورنه مراد مطلقًاقربانی کول دی،دیکښې نفی دَشرك فعلی ده،اوترغیب دې دَتزهید فی الدنیا﴿ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلْأَبْتَرُ﴾یعنی ستا دشمن به ابتروی،دَهرخیرنه به محروم وی.

ركوعاتها (١)	سورة الكافرون مكيّة	آياتها (٦)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان ډير رحم کونکی دی شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (١٠٩) وحسب النزول (١٨)

نزلت بعد الماعون وقبل الفيل

ربط : دې سورت کښې هم دَسورت الاعلی اول مضمون يعنی توحيد اونفی شرک بيان دې ، او دې سره سره دَ منکرينو دَ مقاطعې (بائيکاټ) اعلان هم دې،مفسرين وائی چه قريشو دَحضورﷺ نه مطالبه اوکړه چه ته زمونږ دَدين تابعداری اوکړه مونږبه ستاددين اتباع اوکړو، ته زمونږ دَ آلهه ؤ يو کال عبادت کوه ، مونږ به ستا دَ معبود يو کال عبادت کوؤ. نو حضورﷺ ورته اوفرمائيل معاذالله يعنی دَالله تعالیٰ نه پناه غواړم دَدينه چه غيرورسره شريک کړم، کافرانوورته اووئيل: زمونږ دَبعضو الهؤ استلام اوکړه.مونږبه ستادَمعبودتصديق اوعبادت اوکړو ،نوداسورة نازل شو، حضورﷺ مسجدحرام ته لاړو،دَ کافرانوسردارانوپه مجمع کښې ئې داسورة اولوستلو،نوهغوئی نااميده شول(روح المعانی).

قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ ۝١ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝٢ وَلَآ اَنْتُمْ
اوايه اې کافرانونه کوم څه اوس هم عبادت دَهغه معبودانوباطلوچه تاسوئی عبادت کوئ،اونه تاسو
عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٣ وَلَآ اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝٤
عبادت کونکی يئ دَهغه ذات چه څه ئی عبادت کوم،اونه يم څه اَئنده هم عبادت کونکې ستاسودَمعبودانو.
وَلَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝٥ لَكُمْ دِيْنُكُمْ وَلِيَ دِيْنِ ۝٦
اونه تاسوعبادت کونکی يئ دَهغه ذات چه څه ئی عبادت کوم.ستاسولپاره ستاسودين دې اوځمالپاره ځمادين دې

﴿قُلْ يٰٓاَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ﴾مرادورنه کفارقريش دی خاص،الله تعالیٰ ته معلومه وه چه دوئ ايمان نه راوړی نوځکه خپل پغمبرته دَهغوئ سره دَمقاطعی اعلان کوی.

﴿ لَآ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ ﴾ کچرې **ځوک سوال اوکړي** چې مشرکينو خو الله ﷻ هم معبود گنړلو. نو بيا ولا اعبدماتعبدون وئيل څنګه صحيح دی ځکه چې ماعام ده اوديکښ خو الله ﷻ هم راځي؟ **جواب دا دي** چه دلته مراد دَ معبودانو من حيث المجموعه ده، يعنې ستاسو چې کوم مجموعې معبودين دی، څه هغه مجموعه معبودين نه ګنړم اونه دَهغې عبادت کوم، نو دينه دانه لازميږي چې انفراداً هم په هغوئ کښ ځوک معبود نه وی، بالفاظ ديګر و مختصر دا چی دا رفع دَ ايجاب کلی ده،سلبِ کلی نه دي،ځکه دامعنی نده چه څه ستاسو دَ هيڅ معبودعبادت نه کوم،دامعنیٰ فاسده ده ځکه چه دَدوئ معبودانوکښ اللهﷻهم دي، بلکه رفع دَايجاب کلی ده،يعنی څه ستاسودَمجموعی اوکل معبودان چه دی،دَهغی عبادت نه کوم.

﴿وَلَآ أَنتُمْ عَـٰبِدُونَ مَآ أَعْبُدُ ﴾يعنی څه چه دکوم ذات تنِ تنهاعبادت کوم تاسودَهغې نه کوئ،عبادت خپل په هغه پوری نه منحصرکوئ.

﴿وَلَآ أَنَا۠ عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ﴾تکراريا تاکيدلپاره دي چه دکفاروطمع قطع شی،يااول کښ نفی دَعبادت ده حالاًاودويم کښ نفی ده مآلاًيعنی په آئنده کښ هم نی عبادت نه کوم،يااول کښ نفی ده دَعبادت دَمشرکانودَمعبودانو،دويم کښ نفی ده دَطريقی دَهغوئ،يعنی دَغيرالله عبادت هم نه کوم،دَيوذات عبادت کوم،اوعبادت دَمشرکانوپه طريقی هم نه کوم بلکه ځمادَعبادت طريقه هم دَخداوندی موافق ده.

﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِىَ دِينِ ﴾يعنی ستاسوچه کوم دين دي چه شرك دي هغه تاسوپوری محصور دي،ستاسو چه کومه طمع ده چه څه به هم شرك اوکړم دانشي کيدلې،اوځمادين ماپوری محصور دي،ځکه اللهﷻ ستاسو دَ عملونو په وجه ستاسو په زړونو مهر دَ ضلالت لګولې دي، توحيد نه قبلوئ (روح). يا دَ "دين" نه مراد بدله او جزاء ده ، يعنی تاسو ته به ستاسو دَ عملونو بدله ميلاويږي،ماته به ځمادَعملونو.

ركوعاتها (۱)	سورة النصر مدنيّة	اٰياتها (۳)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان ډیر رحم کونکي دي شروع کوم	

حسب التسلسل (۱۱۰) دي اودنزول په اعتبارسره دتولونه اخرى سورة دي، سورة التوبه نه ورستونازل دي

ربط: ماقبل سورة کښې اعلان دمقاطعی وو، دی سورة کښې بطورِانعام اعلان دفتح دي، سورة ته سورة التوديع هم وائی ځکه پدی کښې دحضورﷺ دوفات کیدلو اودنیانه رخصت کیدلواشارةً ذکردي، په یوروایت کښې دی چه کله داسورة نازل شونوحضورﷺ خپله لور فاطمهؓ راواوغوښتله، ورته ئي اوفرمائیل:چه ماته ځمادمرګ خبرراکړې شویدې نوهغی اوژړل، حضورﷺ بیاورته اوفرمائیل:چه ځمادمرګ نه بعد ځما په اهل کښې تولونه اول به ته ماسره ملاویږی، یعنی وفات کیږې به، نوبیائی اوخاندل(روح بحواله بیهقی)قتادهؒ وائی چه حضورﷺ ددی سورة دنزول نه ورستوصرف دوه کاله ژوندي وؤبیاوفات شو.

إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ① وَرَاَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُوْنَ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ
کله چه راشی مددد الله اوفتح(دمکې)اوته اووینی خلق چه داخلیږی به په دین د الله ﷻ کښې
اَفْوَاجًا ② فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ اِنَّهٗ كَانَ تَوَّابًا ③
ډلې ډلې نوته پاکی بیانوه په حمددرب خپل اوبخنه ورنه غواړه، بې شکه الله باربار توبه قبلونکې دی

﴿ إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَالْفَتْحُ ﴾ اذا دلته دپاره دماضی دي اوکه مستقبل؟داموقوف دي په دي چې داسورت دفتح مکه نه مخکښې نازل شوې اوکه ورستو؟دې په باره کښې دمفسرینو دواړه قوله موجود دی، که دفتح مکې نه مخکښې نازل شوې وی لکه بعض ضعیف روایاتو کښې ددې ذکرراغلې دې، نوبیا اذا دمستقبل دپاره دې، اوکچرته داسورت دفتح مکی نه ورستو نازل شوې وی لکه ددې ذکر هم په متعدد روایاتو کښې راغلې دې اوځنې مفسرینو ورله ترجیح هم ورکړې ده ، نو بیا اذا دماضی دپاره دې، یعنی چې کله دا امور واقع شو نو اوس ته د الله ﷻ حمد اواستغفار کوه.

﴿نَصْرُ ٱللَّهِ وَٱلْفَتْحُ﴾نصرت اوفتح کښې فرق دادې چې نصرت دَمقصود اومطلوب حصول دپاره اعانت اومددته وئيلې کيږي او فتح دَمقصود اومطلوب حصول ته وئيلې کيږي نوګويانصرت سبب دې اوفتح ئې غايت اومقصد دې، دلته دَدې په مصداق کښې مفسرينو اختلاف دې (۱)بعض فرمائي چې دينه مرادمطلق نصرت اوفتوحات دی. (۲)ځنې فرمائي چې "نصرت" نه اعانت او "الفتح"نه فتح مکه مراده.(۳)اوځنې فرمائي چې نصرت مصداق صلح حديبيه او خيبر دې او "الفتح"مصداق فتح مکه ده.

﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ﴾داجزاده يعنی کله چې داانعامات درباندې اوشول يا اوشی نوبيا دی کارونوله خصوصی توجه ورکړه:

(۱)تسبيح: چې دالله ﷻ په حمد سره تنزيه بيانه وه.

(۲)استغفار: حضرت عائشه﵂فرمائی دې آيت په تعميل کښې به نبی کريم ﷺ په کثرت سره دا دعا وئيله: "سبحانك اللّهم ربناوبحمدك،اللّهم اغفرلی(بخاری)يوروايت کښې دی چه نبی کريم ﷺ دَعمر مبارک آخری زمانه کښې به ئی کثرت سره داوئيل:سبحان الله وبحمده،استغفرالله واتوبُ اليه".

ركوعاتها (۱)	سورة اللهب مكيّة	آياتها (۵)
	بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۱۱) وحسب النزول (۶)

نزلت بعدالفاتحه وقبل التكوير

ربط: ماقبل سورة کښې اعلان دَفتح وو، دې سورة کښې دَدشمن دَهلاکت اعلان دې

شان نزول: ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دې چه کله داآیت نازل شو: وانذرعشيرتك الاقربين (شعراء:۲۱۴) نوحضور ﷺ صفاغونډئ ته اوغوښتلو، قريشو ته ئې اعلان اوکړو، خلق ټول راجمع شول، که یوسړې به پخپله نشوراتلې، نوبل کس به ئې اولیږلو، چه ورشه اوګوره څه خبره ده، چې کله دوئ ټول راجمع شول نو حضور ﷺ ورته اوفرمائیل: کچرته څه تاسوته اووایم چه دَدې غونډئ نه ورستو یولښکر را روان دې، تاسوباندې حمله کوی، نوآیاتاسوبه داخبره منئ؟ ټولو اووئیل، هاؤ څکه چه مونږ باربارتجربه کړیده، ته موصادق مونډلې ئې په هره خبره کښې، نوحضور ﷺ او فرمائیل: فانی نذیرلکم بین یدی عذاب شدید یعنی دَالله ﷻ عذاب درباندې راروان دې څه ورنه تاسویروم، ایمان راوړئ چه دَعذاب الهی نه بچ شئ، ابولهب ورته اووئیل: تبّالكَ يامحمّد، الهذاجمعتنا، یعنی (نعوذبالله) تباه شې دَداسې خبرې لپاره دې مونږ دلته راجمع کړو، نو الله ﷻ داسورة نازل کړو (روح).

تَبَّتْ	يَدَآ	أَبِيْ	لَهَبٍ	وَّتَبَّ ۞	مَآ	أَغْنٰى	عَنْهُ	مَالُهٗ	وَمَا
تباه دې شي	دواړه لاسونه	دَابولهب		اوتباه دې هغه		فائده ورنکړه	ده ته	مال دَده	اوهغه څه

كَسَبَ ۞	سَيَصْلٰى	نَارًا	ذَاتَ	لَهَبٍ ۞	وَّامْرَاَتُهٗ	حَمَّالَةَ	الْحَطَبِ ۞
چه ګټلي ئې دي	زرده چه داخل به شي	اورد	لمبو والا		اوښځه دَده به ورسره هم وي	چه بارونکې	دَلرګوو ده

فِيْ	جِيْدِهَا	حَبْلٌ	مِّنْ	مَّسَدٍ ۞
په	څټ دَدې	کښې به	رسئ وه	دَکجورو دپټونونه جوړه شوې

﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ ﴾دواړه لاسونه کنایه ده دپوره بدن نه.یعنی دې دی هلاك اوتباه شی ، دعربو محاوری مطابق تعبیردکل نه په جزء سره اوشو.او «یدا»راوړلو کښی دیته اشاره دهٔ چې لاسونه اګرچې آله اوذریعه ده دعذاب او تکلیف نه بچ کیدلو. خو دده دپاره ذریعه دعذاب اوګرځیدله، ځکه چې ده پرې نبی کریم ﷺ ته ایذا رسوله. اوبل داچې لاسونه ئی تباه شی نونور جسم خوبه ئی په طریق اولی تباه کیږی ځکه چې دبچ کیدلو ذریعه پاتې نشوه. ﴿ابي لهب﴾ "لهب" لمبی ته وائی، "ابو" حقیقی معنی پلار ده خو کله دمضاف الیه سره لزوم معنې باندې دلالت کولو دپاره هم استعمالیږی، لکه ابوهریره ،ابوالبرکات،وغیره، دلته هم دا دویمه معنی مراد ده ، دَ ده اصل نوم عبد العزی وو لیکن ډیر خائست دوجهې نه ورته خلقو ابولهب وئیلو، اوپه دې سره مشهور وؤ، نودلته په قرآن کښی په کنیت سره ذکرکولو یووجه داهم ده چې دې پې کنیت معروف وؤ اونوم ئی غیر معروف وؤ . بله وجه داهم ده چې نوم ئی شرکیه دې، اودریمه وجه داهم ده چې کنیت دده اصل حال موافق اومناسب هم دې ځکه چې دیکښی دده جهنمی کیدلو طرف ته اشاره ده. ﴿وَتَبَّ﴾یعنی یقیناًچه هلاك شو،اول بددعاده دویم اخباردې.

﴿ مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ﴾"ما"په"مااغنی" کښی یا استفهامیه ده یعنی څه نفع ورکړه دَه له دَده مال اوکسب،یا نافیه ده یعنی هیڅ فائده ورنکړو دله دَده مال اوکسب،دَمال "ودولت دوه فائدې وی کله ورسره دَځان نه ضررلرې کوی اوکله ورسره نفع مند شې حاصلوې نو "ما اغنی عنه ماله"کښی دَاولې خبرې نفی اوشوه چې دَده مال ده نه ضرر لرې نه کړوای ما بعد عنه ماله مضرة،او "ماکسب"کښی دَدیمې خبرې نفی اوشوه اې وماکسب منفعة، دې تقدیر باندې دویمه"ما"هم نافیه ده،او دا هم کیدې شي چې دویمه "ما" موصوله وې ، نو چونکه مال نه فائده په دوه طریقو سره حاصلیږی، کله ئی خرچ کړی اوفدیه کښی ورکړی نوځان پرې بچ کړی اوځه فائده حاصله کړی،اوکله دَمال په بنیاد قائم،جاه ،رعب،اودبدبه دَانسان دَپاره فائده منداوګرځی،نو "ماله"کښی دَاولې طریقې نفی اوشوه اوپه "ماکسب"کښی دَدویمې طریقې نفی اوشوه،دې تقدیر باندې دویمه "ما"موصوله ده،بهرحال "کسب" نه مرا دعام دې ،مال وی اوکه بل څه وی دې جهې نه حضرت ابن عباس ﷺ دَدې تفسیر په اولاد سره کړې دې.

فائده

دابولهب درې خامن وو،عُتبه،معتب،عُتيبه.اول دوؤدَفتح مكې په موقع ايمان راوړي وؤ، جنګ حنين،طائف كښې شريك شوى وؤ،اوعتُيبه ايمان نه وؤراوړي.دَحضورﷺلور ام كلثوم دَده په نكاح كښې وه،رخصتى ئې نه وه شوې،اورقيهﷺدَعتبه په نكاح كښې وه،كله چه داسورة نازل شو،ابولهب دواړوته اووئيل چه دواړوته طلاق وركړئ ، ورنه ځمااوستاسومينځ كښې به تعلق حرام وى،نودواړوطلاق وركړو،عتبه صرف طلاق وركړو. اوعتيبه بدبخته بد رد هم اووئيل اوحضورﷺته ئې توكړل،ليكن اللهﷻدَحضورﷺمخ مبارك ته اونه رسول، حضور پاكﷺديرغصه شوبددعائى ورته اوكړه"اللّهم سلّط عليه كلبًامن كلابكَ"ياالله دَخپلو سپونه ورباندې يوسپى مسلط كړه.

يوځل شام ته قافله تلله چه پكښې عُتيبه اوابولهب هم وؤ،دوئ سره دَپيغمبرﷺدَ بد دعا فكر وؤ،خطره ورسره وه،يوځائ شپې لپاره پړاؤاوكړو،چه هلته درندګان هم وؤ،دَعتيبه دَحفاظت لپاره دَقافلې ټول سامان كيخودلې شو،دې ورباندې دپاسه اوده شو،اودَقافلې ټول خلق څلور واړو طرف ته دَحفاظت په نيت سملاستل،دَشپې يوزمرى راغې دَټولوځلې ئې بوئ كړې،چاته ئې هم څه اونه وئيل،بيائې ټوپ كړو،سامان ته اورسيدلو،عُتيبه هلته ملاست وؤ، حمله ئې ورباندې اوكړه،سرئې ورله دَتن نه جداكړو.اوابولهب دَجنګ بدرنه وه(۷)ورځې ورستوپه يومتعدى مرض كښې مبتلاشو،څوك ورته دَخوف نه نيزدې كيدلې هم نه شول،درې ورځې پروت وؤ، بدبوئې شروع كړله كنده ئې ورته اوكنستله په يولرګى ئې پكښې وړ اوغورځولو،دپاسه ئې ورباندې كانړى واچول او پټ ئې كړو(روح وغيره)دادَده اودَخوې دنياوې سزاوه اوآخرت كښې بئ سزاداوى چه ګرم اوردَجهنم ته به داخليږى.

﴿سَيَصْلَىٰ نَارًا﴾يعنى هيڅ شى ورله نفع ورنكړه بلكه جهنم ته به داخليږى.﴿وَٱمْرَأَتُهُۥ﴾ دا عطف دې په ضمير مستتر دَ"سيصلى" باندې،يعنى ښځه به ئې ورسره هم داخليږى،دَښځې نوم ئې ام جميل وؤ، دَابوسفيانﷺ خور وه ، داهم خپل خاوند سره دَنبى كريم ﷺ په دشمنئ او هغه سره بغض وعداوت كښې برابر شريک وه، ﴿حَمَّالَةَ ٱلۡحَطَبِ﴾دادَدې بغض وعداوت يوصورت بيانيږى،چې باوجود دَدينه چې دا دَ سردار ښځه وه،نعمت پرورده ،او نازبرداره وه،اودَخدمت دَپاره ئې نوكران اوخادمان وؤ، خودَنبى كريم ﷺ سره بغض وعداوت دې حال

ته رسولې وه چې غاړې ته به ئې کجهوروډپوستکونه جوړه شوی یو معمولی غوندې رسئ پرته وه ،اوتله صحرا نه به ئې دازغوګیډې راوړلو ، اوبیا به ئې ازغی نبی کریم ﷺ په لار کښې اچول، یعني داهرڅه ئې دَنبی کریم ﷺ دشمنئ کښې برداشت کولو

اوځنې مفسرین فرمائی چې دیکښې دَدوزخ سزاکیفیت مذکور دې، چې دَدنیا نازونعمت به ئي هلته نه وی، په سربه ئې دَلرګو ګیډې وی ، اوخپل خاوند عذاب سامان به ئې روان کړې وی، اوپه غاړه کښې به ئې دَزیوراتو پهٔ ځائ رسئ وی.

اوبعض مفسرینو د حمالة الحطب معنی چغلخورئ سره هم کړې ده، ځکه چې عرب دالفظ چغلئ په معنی هم استعمالوی حطب به اي سعی الیه النمیمة. "حمالة الحطب"منصوب دې بنا بر ذم، اي اذم حمالة الحطب﴿فِي جِيدِهَا﴾ جید غاړې ته وائی،﴿مَّسَدٍ﴾ مسد غختلې شوې دَ کجهورو پوستکو نه.

ركوعاتها (۱)	سورة الاخلاص مكيّة	آياتها (۴)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکي دی شروع کوم		

ترتيبها حسب التسلسل (۱۱۲) **وحسب النزول** (۲۲)

نزلت بعدسورة الناس وقبل النجم

ربط: دشمن سره دَ مقاطعې او متارکت او دَفتحې اعلان اودَدشمن هلاکت نه ورستو اوس اعلان دَ توحيد دې سرعام، چې اې پيغمبره! ته دَتوحيد سرعام اعلان اوکه.

شان نزول: کافرانو، مشرکانو حضور ﷺ ته اووئيل چه مونږته دَخپل رب نسب بيان کړه، نو داسورة نازل شو.

فضائل: دَدې مختصرسورة ډيرفضائل په احاديثوکښې راغلی دی، په ډيرورواياتونوکښې دی سورة ته ثلث القرآن يعنی دَقرآن دريمه حصه وئيلې شويده. يعنی ثواب ئې دومره دې لکه دری حصی قرآن چه تلاوت کړې شی، حضرت عائشه ﵂ فرمائی چه حضور ﷺ يوی علاقی ته دَصحابوٌجماعت اوليږولو، يوکس ئې ورله اميرکړو، اميرصاحب به چه جمع ورکوله نوهر رکعت کښې به ئې داسورة لوستلو، واپسئ باندی داخبره چاحضور ﷺ ته عرض کړه، حضور ﷺ وفرمائيل دَوجی تپوس ورنه اوکړئ نو اميرصاحب عرض اوکړو چه داسورة دَرحمان صفت دې ځکه ورسره ځما ډيرمحبت دې، حضور ﷺ اوفرمائيل ده ته اوايئ چې الله ﷻ هم دی وجه دده سره محبت کوی.

دغه شان بل روايت کښې دی چه يوصحابی عرض اوکړو يارسول الله! ځمادی سورة سره ډيرمحبت دې حضور ﷺ ورته اوفرمائيل دَدی محبت به تاجنت داخل کړی (ابن کثير) دينه علاوه نورهم فضائل ابن کثير رحمه الله ليکلی دی.

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝
ته اووايه شان دادې چه الله يک يودې، الله تعالی بې نيازه دې، نه ئې څوک شته، اونه ئې پلارشته

وَلَمْ	يَكُنْ	لَّهُ	كُفُوًا	أَحَدٌ	﴿٤﴾
اونشته	دې	دده	سره	برابرهيڅ	څوک

﴿ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ﴾ دادَتوحيد اعلان دې ديکښې رد دې په هغه خلقو چې هغه دَالله ﷻ دَوجود نه منکر وؤ، يا ئې د وجوب منکر وؤ، يا ئې دَتوحيد منکروؤ، چې الله ﷻ شته دې، واجب الوجود دې، اويکتادې. "هو"ضمير مبتدا دې او"الله احد" مبتداخبر جمله اسميه ورله خبردې، "هو"ضميرشان هم کيدې شي چې مرجع ئې نشته، اوداهم کيدې شي چې ضمير مرجع"رب"وی چه مذکوردې په سوال دَمشرکانوکښې، چه حضور ﷺ ته ئې اووئيل، مونږته دَ خپل رب نسب اوصفت بيان کړه، نوجواب ورته اوشوچه الله ﷻ يك يودې، ذات اوصفاتوکښې يکتادې، مثل نمونه ئې نشته، نسب ئې نشته، نه ئې بچې شته نه ئې والد.

﴿ أَحَدٌ ﴾همزه پکښې اصلي ده يابدل ده دَ "واؤ" نه، دلته﴿ أَحَدٌ ﴾ذکرشو"واحد"ذکرنه شو، دواړومينځ کښې لفظی فرق هم دې اومعنوی هم، "احد" او "واحد" کښې علماؤو څوفرقونه ليکلی دی:

(١) "واحد" نه دَ عدد افتتاح کيږی، دينه ورستو اثنان، ثلاثه، اربعه، راځی. اوپه "احد"سره دَ عدد انقطاع کيږی، مطلب داچې دينه ورستو اثنان ثلاثه، وغيره نشی راتلې.

(٢) "احد"نفی دَعموم کښې منصوص دې ، په خلاف ده "واحد" نه، يعنی چې کله اوئيلې شی چې "ليس في الدار احد"، نومطلب دادې چې هيڅ څوک هم نشته په کورکښې نو يو، نه دوه، نه درې، اوکله چې اوئيلې شی چې "ليس في الدار واحد"نودې مطلب دادې چې يوکس نشته ، خودوه درې وغيره کيدې شی.

(٣)په کلام مثبت کښې واحد باعتبار اتصاف عام دې ، او"احد"خاص دې، يعنی"واحد"سره هرڅوک متصف کولې شی، چې "رجل واحد، ثوب واحد"خو په "احد" سره هر څوک نشي متصف کولې، الا داچې مرکب استعمال ئې اوشی لکه "احد عشر، يوم الاحد، احدكما".

فرق معنوی دادې چه(١)په"احد"کښې ثبوت اودوام دې په نسبت دَ"واحد"، لکه صفت مشبه کښې چه دوام اوثبوت وي، نو"احد"ابلغ دې په ثناء کښې، ځکه دلته ذکرشو.

(۲) دَ واحد اطلاق اکثرپه هغه څیزکیږی چه ثانی ئی نه وی. یعنی عدد فردی فائده کوی، او دَ احد اطلاق اکثرپه هغه څیز کیږی چه نظیر ئی نه وی، یعنی ذاتی حقیقی فائده کوی، نودَدی وجی نه دَ احد ترجمه په یك یو سره کیږی اودَ واحد ترجمه په یو سره کیږی (والله اعلم).

﴿ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ﴾ دیکښې رد دې په هغه خلقو چې هغوئ الله ﷻ سره په استعانت کښې شریکان ګرځولو، چې الله ﷻ صمدذات دې. صرف هغه ته رجوع کوئ بل چانه مدد مه غواړئ، دَ صمد معنی مکملی ادائیګی دَپاره په پښتو یا بله ژبه کښې متبادل لفظ نشته دې، چې څومره معنی بیان کړې شوی دی دَهغې ټولو خلاصه داده چې صمد هغه سردار چې خلق هغه ته محتاجه وی اودې چاته نه وی محتاجه، ابوهریره ﷺ نه روایت دې چې صمد هغه ذات چه مستغنی اوبی پرواه وی دَهرچانه، اوهرڅوك ده ته محتاج وی

﴿ لَمْ يَلِدْ ﴾ دیکښې رد دې په هغه مشرکانو چې هغوئ الله ﷻ لره نسب ثابتولو چې الله ﷻ لره اولاد دی، عیسایان وائی چې عیسی ﷺ دَالله ﷻ ځوې دې. یهود وائی چې عزیر ﷺ دَ الله ﷻ ځوې دې، اومشرکانوبه وئیل چې ملائک دَالله ﷻ لونړه دی.

﴿ وَلَمْ يُولَدْ ﴾ دیکښې رد دې په هغه مشرکینو چې هغوئ دَبعض بشر اوانسانانو دَالوهیت قائل وؤ، مثلا بعض حضرت عیسی ﷺ ته دَالوهیت درجه درکوی.

﴿وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴾ دیکښې نفی دمماثلت، نظیر. اوشبیه ده یعنی هیڅ څوک دَالله ﷻ په شان نشته، نه ئی نظیر شته، نه مثل شته، نه برابر څوک شته، لهذا نه د هغه زوجه کیدې شی، نه دَهغه خاندان اوکنبه کیدې شی، اونه په مخلوق کښې څوک بل اله کیدې شی.

رکوعاتها (۱)	سورة الفلق مكيّة	آياتها (۵)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بيحده مهربان او ډير رحم کونکې دې شروع کوم	

ترتيبها حسب التسلسل (۱۱۳) وحسب النزول (۲۰)

نزلت بعد سورة الفيل و قبل النّاس

ربط: مخکنی سورت کښې سرعام دَتوحيد اعلان حکم وو. اوس دې سورت کښې دَدې خبرې بيان دې چې کله ته توحيد اعلان اوکړې ، نوستادشمنان به ستاخلاف مختلفې منصوبې جوړه وی، اوستاپه لارکښې به خنډونه اچوی چې هغې کښې سحر، جادواوحسدوغيره سر فهرست دې لهذا ته دَالله ﷻ نه دَحفاظت سوال اودهغه پناه غواړه.

فضائل: دَدې دواړوسورتونوفضائل په متعددحديثونوکښې راغلی دی، يوحديث کښې دی چه حضور ﷺ اوفرمائيل: نن شپه ماباندې داسې آياتونه نازل شويدی چه دَدې په مثل ماچرته نه دی ليدلی، بيا حضور ﷺ دادواړه سورتونه اولوستل (مسلم)

دَحضور ﷺ معمول ووچه دَشپې به اوده کيدلونوسورة الاخلاص اودادواړه سورتونه به ئې اووئيل په لاسونوبه ئې پوکړل او لاسونه مبارك به ئې په ټول بدن راخکل (بخاری).

شان نزول: په بخاری، مسلم وغيرهماکښې دَحضرت عائشه رضي الله عنها نه روايت دې چه په حضور ﷺ باندې سحرشوې وو، دهغې اثر به داوو چه يوکاربه ئې کړې وو. اوخيال به ئې داووچه مانه دې کړې، يوه شپه ئې الله ﷻ ته باربار دعااوکړه، بيائې اوفرمائيل ماته، چه الله ﷻ ماته خما دَ مرض باره کښې خبراکړو، ماورته عرض اوکړوچه څنګه دې؟ اوئې فرمائيل چه ماته په خوب کښې دوه کسان راغلل، يوخماخپوطرف ته کيناستلوبل سرته، نويوکس هغه بل ته اووئيل ده ته څه تکليف دې، بل ورته اووئيل: مطبوب يعنی مسحوردې، بل ورته ووئيل: چا ورباندی کړې دې؟ هغه ورته اووئيل: لبيدبن اعصم، بل ورته اووئيل: په څه شئ کښې؟ هغه ورته اووئيل: فی مُشطٍ ومشاطةٍ وجف طلعة يعنی ګمنزده په هغې کښې ويختنه دی (دسرمبارك) ، اوهغه ئې دَ کجوری دګنګې په غلاف اوپټ کښې ايخی دی، بل ورته اووئيل: هغه کوم ځائ دی؟، هغه ورته اووئيل: په "بئر ذی اروان" دَذی اروان په کوهی کښې، عائشه رضي الله عنها فرمائی: دې خوب نه ورستو

حضورﷺ خان سره څه صحابه کرام بوتلل.دهغې کوهې اوبه داسې سرې وې لکه نکريزې چه پکښې اچولې شوې وي. اودَ کجور دَ اونو سرونه داسې شوي وو لکه دشيطانانو سرونه بو کس کوهې ته کوزشو. دَ کجورې کنګ ئې رااوباسلو. نوپه هغې کښې دَحضورﷺ دَ سر مبارك ويخته او ګمنز وه.اودحضورﷺصورت ئې هم دموم نه جوړکړې ووپه هغې کښې ئې ستنې خخې کړې وې.اوهغه ويختوته يولس(۱۱)غوټې ورکړې شوې وې. دايولس (۱۱) آياتونه نازل شول،حضورﷺبه يوآيت لوستلويوه غوټه به کولاويدله اوستنې به هم کولاويدلې،تردې چه ټولې غوټې کولاؤشوې،اوحضورﷺته راحت ميلاؤشو (روح المعاني).

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ﴿١﴾ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ﴿٢﴾ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ﴿٣﴾
نه. اووايه چه زه پناه نيسم په رب دَصبا.دَشرډټولومخلوقاتونه اودَشردشپې نه چه کله خوره شي.
وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ﴿٤﴾ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ﴿٥﴾
اودَشردَساحرانونه چه پوکې وهونکې وي په غوټو دَتارونو کښې او دَ شر د حسد کونکې نه چه کله حسداوکړي.

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾ فلق چاودلوته وائي.کقوله تعالى انّ الله فالق الحبّ.دلته ورنه مراد صبادې،چه تياره دَشپې لرې کړي،رانړابنکاره کړي.تخصيص دَفلق څکه اوشو،چه لکه څرنګه اللهﷻدَشپې تياره ختم کړي اوورځ راولي. نودغه شان دَخوف نه پناه غوښتونکوته پناه ورکولې شي اودَهغوئ نه خوف او يره لرې کړي،ياداچه لکه څرنګه انسان په شپه کښې دَطلوع صَباح منتظروي نودغه رنګه خائف دکاميابئ اميدكوي

بعض مفسرينو دَفلق نه مراد عام اغستې دې ،ورځ چې شپې نه رااوځي ،چينه چې دَغرونه را اوځي، باران چې وريځونه را اوځي، دانه چې زمکې نه را اوځي (روح،قرطبي).

﴿مِن شَرِّ مَا خَلَقَ﴾ اول مستعاذمنه دې،يعنى دَشردَجميع مخلوقاتو،دَانس،جن،دواب، هوام، نه او دَ شر دَ هر موذي نه چه اللهﷻپيدا کړيدي.

﴿وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ﴾ دويم مستعاذمنه دي.غاسق نه مرادشپه ده﴿إِذَا وَقَبَ﴾اى اذادخل ظلامُهُ فى كلّ شئ (روح) يعنى چه خوره شي،چونکه دَشپې په تياره کښې هرقسمه موذي

حیوانات، حشرات الارض،جنات،شیاطین خواره شی،اوجادوگرهم اکثردشپې جادوکوی پدی وجه دَشپې دَتیاری دَشرنه پناه اوغوښتلې شوه.

بعضِ وائی﴿غَاسِقٍ﴾نه مرادسپوږمۍ ده چه کله ئی تندراونیسی،توره شی.نوپدی وخت کښې جادوگرجادوکوی،په ترمذی وغیره کښې دی چه حضورﷺیوځل سپوږمۍ طرف ته اوکتل، حضرت عائشه ﷺ ته ئی اوفرمائیل:استعیذِی بالله من شرّ هذا هوالغاسقُ اذا وقب، یعنی دَالله نه پناه غواړه دَشردَدینه داغاسق دې چه کله خوره شی(روح).

﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ﴾دریم مستعاذمنه دې،"نفاثات"صفت دې دَ"نفوس"محذوف. ای ومن شرّ النّفوس النفّاثات،یعنی دَشردَهغه ساحرانونه پناه غواړم چه تارونه اوویخته غوټه کوی اوپه هغی کښې پوکی. یا"نفاثات"صفت دې دَ"النّساء"چونکه دَجادوپه کولوکښې لبیدبن اعصم سره خپلې لوریانی هم شریکې وی اودغه شان داکارونه اکثرزنانه کوی نوتغلیبًائی مؤنث ذکرکړو.

﴿ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ ﴾ داځلورم مستعاذمنه دې،حضورﷺباندی جادوکول هم دَحسد په وجه وو، چه یهودیانودَمسلمانانوترقی نه شوه برداشت کولې.﴿ حَسَدَ﴾دیته وائی چه دَ چا دَ نعمت او راحت باره کښې دا تمنا کول چه دا د ده نه زائله شی،ماته که نه شی میلاؤ هم، نو دا حسدگناه کبیره ده،اوبله غبطه ده چه تمنادَحصول دَنعمت کول لپاره دَخپل ځان.نوداگناه نه دې، بلکه امرِمستحسن دې.

حسدئی مقیّدکړوپه﴿ إِذَا حَسَدَ﴾سره،ځکه چه که دَیوسړی په زړه کښې بی اختیاره حسد پیداشی خوهغه پخپل نفس ضبط اوکړی، او حسد ښکاره نکړی، بلکه دَاللهﷻپه فیصلی راضی وی، نودَهغه نه ضررمحسودته نه رسی،حسدهغه وخت کښې ضرر رسوی چه حاسدپه عملی طورسره خپل حسدښکاره کړی.

ركوعاتها (١)	سورة الناس مكيّة	آياتها (٦)
	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	
	خاص په نوم د الله چه بیحده مهربان او ډیر رحم کوونکي دې شروع کوم	

دَ ترتیب قرانی اعتبارسره تولونه اخری سورة دې اوحسب النزول (٢١) دې

ربط: (١) مخکښې سورةکښې تلقین دَاستعاذی وؤمضراتو جسمانیؤنه، دی سورة کښې تلقین دې دَاستعاذی دَمضراتو روحانیؤنه.

(٢) ماقبل کښې دَخارجی شرنه پناه غوختل وو، دیکښې دَداخلی شره نه پناه غوختل دی.

مفسرین وائی چه ماقبل سورة الفلق کښې مستعاذبه یووؤ چه رَبّ الفلق وؤ، اومستعاذمنه یعنی چه دکوموڅیزونونه پناه غوښتلې شویده کثیر وؤ، او دی سورة کښې مستعاذبه کثیر دی، او مستعاذ منه صرف یودې چه دَ وسوسی شیطانی نه پناه غوښتلې شویده، نودی کښې اشاره ده چه وسوسه دَشیطان چه دا روحانی او دینی مضرت دې، دادَجسمانی مضرت نه سخت دې (کبیر).

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ﴿١﴾ مَلِكِ النَّاسِ ﴿٢﴾ اِلٰهِ النَّاسِ ﴿٣﴾ مِنْ شَرِّ
نه اووایه څه پناه نیسم په رب دَخلقوسره چه مالک دې دَخلقو، معبوددې دَخلقودَشر
الْوَسْوَاسِ ۬ الْخَنَّاسِ ﴿٤﴾ الَّذِیْ یُوَسْوِسُ فِیْ صُدُوْرِ النَّاسِ ﴿٥﴾
دَوسوسی اچونکی نه (شیطان) واپس کیدونکې دَزړه نه، هغه چه وسوسی اچوی په زړونودَخلقوکښې.
مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ﴿٦﴾
دَپیریانونه اودَخلقونه

﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ﴾ دې سورت کښې هم دَاستعاذې (پناه غوختلو) بیان دې، مستعاذ به (یعنی هغه ذات چې دَهغه پناه غوختلی شوې ده) الله ﷻ دې، او مستعاذ منه (چې کوم شې نه پناه غوختلې شوې ده) شیطانی وساوس دی.

((برب الناس ، ملک الناس ، اله الناس)) دیکښې د "مستعاذبه" درې صفاتو بیان دې. ربوبیت ، مالکیت، اوالوهیت،دَدې درې صفاتو دَ استعاذې سره تعلق اومناسبت دَتوسل دې، ځکه چې انسان باندې کوم حالت راځی نوهغه دَهغې حالت موافق صفت په وسیلی دَالله ﷻ نه سوال کوی،چونکه وساوسو نه پناه غوختلو کښې ددې درې صفاتو ډیر غټ دخل دې. نوځکه دَدې بطور خاص ذکر اوشو ،

تفصیل ددې دادې چې"رب" معنی ده تربیت کونکې ،یعنی هغه ذات چې بنده هرهرحالت باندې ئې نظر وی ،که څه شی ورته ضرورت وی هغه ورله ورکوی. څه شی کښې ئې نفع وی هغه ورته رسوی، اوکه څه شې ورته نقصان ورکوی نوهغه ورنه لرې کوی،

"مالکیت"او"ملکیت"مطلب دادې چې قادر وی نفع رسولو اوضررلرې کولو. او "اله" مطلب دادې چې مستحق دَالوهیت وی بنده صرف دَهغه عبادت اواطاعت کوی . نو"رب الناس" کښې دَصفت ربوبیت اودَهغې اثبات وسیله ده،چې اې الله "ته مو رب ئې. ستادربوبیت تقاضه داده چې ته خپل بنده دَمضر اشیاؤو نه حفاظت اوکړې نوځماوسوسه ځماد پاره ټولونه لویه خطره ده اې الله "ته ځما دَدینه حفاظت اوفرمائې.

﴿ مَلِكِ ٱلنَّاسِ﴾کښې دَصفت مالکیت وسیله ده،چې اې الله"ته بادشاه اومالک ئې. دَبنده هم مالک ئې ، دَهغه زړه هم مالک،اودَوسوسو هم مالک ئې . داهرڅه ستاپه قبضه اختیار کښې دی، ستادَتصرف نه هیڅ هم باهر نشته،اې مالکه ذاته،مالک په خپل مملوک کښې هر قسم تصرف کولې شی، ته ځما دَزړه غلطې وسوسې ختمې کړه.

او﴿إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ﴾کښې صفت الوهیت اودَهغې اعتراف بطور وسیله پیش کیږی،چې اې الله مونږ د،بادشاهانودادستور لیدلې دې چې هغه خپل فرمانبردارړعایا سره احسان کوی،په هغوئ کرم اونوازشات کوی اې اللهمونږ ستادَالوهیت اعتراف کوو،صرف تاخپل معبود ګرځوو اوصرف ستااطاعت کوؤ، اې کریمه ذاته په مونږ کرم اوکړه ، اودې وساوسو نه راله نجات راکړه.

فائده:(۱)دې درې صفاتوسره اثبات دَتوحید هم اوشو علی سبیل الترقی من الادنی الی الاعلی،اوهغه داسې چې داخومونږ په سترګو وینوچې الله ﷻ دکائنات نظام روان کړې دې، څومره تغیرات اوواقعاتو وقوع چې کیږی الله ﷻ ئې کوی، نودینه معلومه شوه چې الله ﷻ

رب دي دَ کائناتو ، چونکه دادومره عظیم الشان انتظام دَ کامل اومکمل بادشاهی تصرف او قدرت نه بغیر نشی کیدي. لهذادینه معلومه شه چې الله ﷻ ملک الناس هم دي، او د ربوبیت مطلقه او مالکیت اعلی لازمی نتیجه دا ده چې الله ﷻ اله الناس دي

فائده ۲: دقرآن ابتدا دَالله کومو صفاتو سره شوې وه نوانتهائی هم داسې صفاتو سره اوشوه چې هغه دَابتدا سره ډیر موافق اومناسب دي، رب الناس درب العالمین سره مناسب دي، **ملک الناس** دَ مالک یوم الدین سره مناسب دي، او اله الناس دَ ایاک نعبدوایاک نستعین سره مناسب دي.

فائده۳: دلته صرف دَ رب تخصیص الناس سره اوشو حالانکه الله ﷻ خورب العالمین دي ، نودا ځکه چې دلته دَ وسوسو بیان دې، او دا په انسان پورې خاص دی. اوبل دا چې دیکښې اظهار دَشرافت دانسان دې په ټولو مخلوقاتو باندې

﴿ مِن شَرِّ ٱلْوَسْوَاسِ ٱلْخَنَّاسِ ﴾دیکښې دَمستعاذ منه اودهغه درې صفاتو بیان دې .

"الوسواس" دا ئې اول صفت دې، صیغه د مبالغې ده، یعنی باربار وسوسه اچونکې . "الخناس" دویم صفت دې، دَ خنس نه دې ، معنی ئې ظاهریدلو نه ورستو پټیدل ده، یعنی په یو موقع باندې ظاهر شی ، په بله موقع باندې بیا پټ شی،دَدې کیفیت مفسرینو داسې بیان کړې دې چې شیطان انسان ته مسلسل متوجه وی، دَهغه په زړه ناست وی. او وسوسې ورته اچوی ، خو چې کله دې دَالله ﷻ ذکر شروع کړی، نو په شا اوختی. دَ جنی شیطان دا کیفیت په روایاتو کښې راغلې دې او د انسی شیطان دا کیفیت مشاهد دې په مجالسو او پروګرامونو کښې، چې شریعت مطابق اوکړی شی نودوئ خفګان پرې کوی اوشرکت پکښې نه کوی.

او ځنې مفسرین لیکی چې دیکښې "وکان الانسان خذولا" طرف ته اشاره دهٔ، چې ګناه کولو موقع باندې ورته حاضر وی او ترغیب ورکوی،خوکله چې ګناه ترینه صادرکړی، نو بیا ترینه په شا شی او براءت اعلان اوکړی. کمافي قوله تعالی: کمثل الشیطان اذقال للانسان اکفر، فلما کفر قال اني برئ منک(الحشر)

﴿ٱلَّذِى يُوَسْوِسُ فِى صُدُورِ ٱلنَّاسِ﴾دریم صفت دې دیکښې دَوسوسې سره دَمحل بیان هم دې اودرجه فعلیت ذکر هم دې، ځکه چې ماقبل کښې دَوسوې اچولو ذکر به طور وصف بالقوة وؤ،اودلته ئې ذکر به طور وصف بالفعل دې،لکه یو وی غل . او بل د هغه غلا کول

نو "غل" وصف بالقوة دې، او"غلاکول"دا ئې وصف بالفعل دې. "صدور الناس"سينه دَزړه دپاره درشل اوغولي حيثيت لري،شيطان زړه ته نه داخليږي، بل که سينې ته داخل شي او دې ځای نه بيا القاء زړه ته اوکړي،دې وجهې نه فوسوس اليه الشيطان وئيلی شوی دی فوسوس ليه الشيطان نه دې وئيلی شوی.

﴿مِنَ ٱلْجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ﴾ديکښې تعميم دې دَشيطانانو،چې بعض دَجناتو دَقبيلې نه دی او بعض دَ انسانانو دَقبيلې نه دی، کماقي قوله تعالى:وکذلک جعلنا لکل نبی عدوا شيطان الانس و الجن.

الحمدلله پدې الفاظو تفسير خپل اختتام ته اورسيدلو.

الحمدلله الذي هدانا لهذا وماکنا لنهتدي لولا ان هدانا الله.وصلى الله على سيدنا وحبينا ومولانا محمد صلى الله عليه وسلم.

۱۳جون۲۰۱۷ ، بمطابق ۱۷رمضان المبارک ۱۴۳۸هـ.

سورة قٓ

ربط، دسورة دمضامینو اجمالي، تفصیلي خلاصه 1

قد علمنا ما تنقص الارض دمشرکانو ددلیل جواب، او دلیل عقلي په امکان دبعث 4

كذلك الخروج دسورت مرکزي دعوی 6

ولقد خلقنا الانسان ونعلم تخویف اخروي او انسان باندې دقدرت کامله او علم کامل بیان 9

جهنم ته تللو شپږ وجوهات او صفات، او جنت ته تللو اوصاف 15

ولقد خلقنا السموات والارض دویم دلیل په ثبوت دقیامت 22

سورة الذاريات

ربط، او دمضامینو دسوره اجمالي تفصیلي خلاصه 26

والذاريات ذروا اثبات دقیامت باندې شواهد، او دالفاظو په تفسیر کښې دوه قوله 27

وفي الارض آيات په ثبوت قیامت باندې دلیل عقلي افاقي، انفسي، علوي 33

هل اتاك حديث ضيف ابراهيم تخویف دنیوي پنځه نمونې 35

والسماء بنيناها بأيد ثبوت دقیامت باندې دلیل عقلي 41

وما خلقت الجن والانس دانس جن تخلیق مقصد، او دآیاتونو تفیسر 44

سورة الطور

ربط، دسورت دمضامینو اجمالي، تفصیلي خلاصه 47

والطور دعوی داثبات لپاره پنځه قسمونه، او دآیاتونو تفسیر 48

ان المتقين في جنت متقینو ته بشارات او اخروي انعامات 53

فذكر فما انت بنعمت ربك دکفارو څوا اعتراضات او دهغې جوابات 58

سورة النجم

ربط، دسورت دمضامینو اجمالي، تفصیلي خلاصه 66

والنجم اذا هوى درسول پاک ﷺ دصداقت اثبات باندې قسم، قسم او جواب قسم

مينځ کښې مناسبت باره کښې اقوال 68

فائده:آيا حضور ﷺ شب معراج کښې ديدار الهي کړې وو او کنه؟ 74

افرأيتم اللات والعزى دَسورت اوله ضمنی دعوي ذکر اوآياتونو تفسير ... 76

ألكم الذكر وله الأنثى دَسورت دويمې ضمنی دعوي ذکر 78

وكم من ملك في السموات دَسورت مقصود دعوى اثبات.اوآياتونو تفسير 82

أفرأيت الذي تولى يو کافر ته زجر .اوآياتونو شان نزول 85

وان ليس للانسان الا ما سعى دآيت په تفسير کښې مختلف اقوال 88

سورة القمر

ربط او دسورت دَمضامينو اجمالي.تفصيلي خلاصه 96

اقتربت الساعة وانشق القمر اثبات قيامت لپاره نمونه. معجزى دَانشق القمر بيان 97

كذبت قبلهم قوم نوح تخويف دنيوى پنځه نمونو کښې اوله نمونه 102

كذبت عاد فكيف دويمه نمونه دَتخويف دنيوى، اودآياتونو تفسير 105

كذبت ثمود بالنذر دريمه نمو نه دَتخويف دنيوي او دآياتونو تفسير 107

كذبت قوم لوط بالنذر څلورمه نمونه دَتخويف دنيوى 110

ولقد جاء آل فرعون النذر پنځمه نمونه دَتخويف دنيوى او دآياتونو تفسير 112

سورة الرحمن

ربط،دَمضامينو دَسورت تفصيلي خلاصه 118

الرحمن دسورت اوله حصه په انسان باندى دَشپږو انعاماتو بيان 119

خلق الانسان په دعوى دَتوحيد باندى دلائل ،اودآياتونو تفسير 119

سنفرغ لكم ايها الثقلان دسورت دريمه حصه دَتخويفاتو بيان،اوتفسير دآياتونو 130

ولمن خاف مقام ربه دسورت څلورمه حصه،متقيانو ته بشارات اودآياتونو تفسير 135

سورة الواقعه

ربط فضيلت دسورت دمضامينو اجمالي تفصيلى خلاصه
اذا وقعت الواقعة تمهيد چه پكښې دقيامت احوال بيانيږى ......
وكنتم ازواجا ثلاثة دقيامت په ورځ دازواج ثلاثه بيان او آياتونو تفسير.
والسابقون السابقون دري وارو جماعتونو احوال بطور لف نشر غير مرتب، دسابقينو يوځو احالتو ب
واصحاب اليمين ددويم جماعت داحوالو بيان......... ....
واصحاب الشمال ددريم جماعت احوالو بيان........ ....
افرايتم ما تحرثون په توحيد او په بعث بعد الموت باندى يوځو دلائل........
فلا اقسم بمواقع النجوم دقرآن دعظمت بيان او دآياتونو تفسير........................
فسبح باسم ربك العظيم په آخر كښې كښې دعوه دسورت.........................

سورة الحديد

ربط ،دسورت دمضامينو اجمالى،تفصيلى خلاصه.........................
تمهيد دسورت اوله حصه،دمسئلى توحيد ذكر.........................
آمنوا بالله ورسوله دسورت دويمه حصه .دسورت اول مضمون انفاق في سبيل الله بيان.
دانفاق يوځو وجوهاتو بيان.........................
لقد ارسلنا رسلنا بالبينات دسورت دريمه حصه،دويم مضمون جهاد في سبيل الله بيان

سورة المجادله

ربط،دسورت دمضامينو اجمالى،تفصيلى خ
قد سمع الله قول التي دآيت شان نزول بيان...
الذين يظاهرون منكم حكم دظهار او
يا ايها الذين امنوا اذا ناجيتم دآصل

سورت الحشر

ربط، او دَسورت دَمضامينو اجمالي، تفصيلي خلاصه 228
هو الذي اخرج الذين كفروا غزوه بني نضير بيان 229
وما افاء الله على رسوله دَمال فئ بيان او دآياتونو تفسير 235
يا ايها الذين امنوا اتقوا الله مسلمانانو ته وعظ او ارشاد، دآياتونو تفسير 246
هو الله الذي لا اله الا هو اخر دَسورت كښې دعوه دَتوحيد او په هغې دلائل 248

سورة الممتحنه

ربط، او خلاصه دَسورت 253
يا ايها الذين امنوا لا تتخذوا مسلمانانو ته زجر او دآياتونو شان نزول 254
يا ايها الذين امنوا اذا جاءكم المؤمنات اول قانون په باره دَمهاجراتو كښې اووه (۷) احكامات 262
يا ايها النبي اذا جاءك المؤمنات دويم قانون حضور ﷺ ته 265

سورة الصف

ربط، او خلاصه دَسورت 268
يا ايها الذين امنوا لم تقولون اول خطاب مؤمنانو ته، او شان نزول 268
يا ايها الذين آمنوا هل ادلكم دويم خطاب او ترغيب دَقتال 275
يا ايها الذين امنوا كونوا انصار الله دريم خطاب، او دآياتونو تفسير 276

سورت الجمعه

ربط، او خلاصه، دَسورت 278
هو الذي بعث في الاميين دَدې امت فضيلت او دَرسالت دَمقاصدو بيان 279
مثل الذين حملوا التوراة دَيهودو اولى دعوى رد او دآياتونو تفسير 282
قل يا ايها الذين هادوا دَيهودو دويمې دعوى رد او دَمباهلې دعوت 283
يا ايها الذين امنوا اذا نودي للصلوة دَيهودو دريمې دعوى رد 284

سورة المنافقون

ربط، خلاصه، او دَسورت شان نزول 288

اذا جاءك المنافقون دَ منافقانو يو څو خباثتونو ذکر 289

يايها الذين لا تلهكم مؤمنانو ته دَانفاق في سبيل الله ترغيب 295

سورة التغابن

ربط، او خلاصه 297

يسبح لله ما في السموات دا توحيد او دلائل دَتوحيد 298

الم يأتكم نبؤ الذين دَرسالت بيان او دَآياتونو تفسير 299

زعم الذين كفروا دَمعاد مسئلې بيان او مؤمنانو ته بشارت 301

يا ايها الذين امنوا ان من ازواجكم دَسورت دويمه حصه، دَانفاق بيان 303

سورت الطلاق

ربط، خلاصه دَسورت 307

يا ايها النبي اذا طلقتم النساء دَښځو سره متعلق دَخلورو مسائلو بيان، او دَآياتونو تفسير 308

الله الذي خلق سبع سموات په توحيد دليل عقلي او دَنفي دَشرک في التصرف 319

سورة التحريم

ربط، خلاصه دَسورت 321

يا ايها النبي لم تحرم دَآياتونو شان نزول، او تفسير 321

يا ايها الذين امنوا قوا انفسكم اول خطاب مؤمنانو ته 327

يا ايها الذين امنوا توبوا دويم خطاب دَتوبة نصوحاً بيان 329

سورة الملك

ربط، خلاصه دَسورت دَمضامينو، فضيلت 336

تبارك الذي بيده الملك دَسورت دعوه په دعوى دَسورت باندې دلائل 337

الذی خلق سبع سموات څلورم دلیل عقلی په توحید او آیاتونو تفسیر 339
ولقد زینا السماء الدنیا پنځم دلیل عقلی په توحید 339
وجعلناها رجوما شپږم دلیل عقلی 341
هو الذی جعل لکم الارض اووم دلیل عقلی په توحید او تفسیر 344
اولم یروا الطیر اتم دلیل عقلی په توحید 347
قل هو الذی انشاکم نهم .لسم دلیل عقلی په توحید .او دآیاتونو تفسیر 350
قل ارئیتم ان اصبح ماءکم یولسم دلیل په توحید .او دآیاتونو تفسیر 353
سورة القلم
ربط او خلاصه دَسورت 354
نٓ والقلم حضور ﷺ ته په قسم سره مؤکده تسلی او دآیاتونو تفسیر 354
ولا تطع کل حلاف دآیاتونو شان نزول او یو کافر اطاعت نه منع 358
انا بلوناهم کما بلونا تخویف دنیوی نمونه ،دَاصحاب الجنه واقعه 361
افنجعل المسلمین دَمشرکانو دَیوزعم په یو څو وجوهاتو سره رد 365
یوم یکشف عن ساق تخویف اخروي او دکشف ساق مطلب 368
سورة الحاقه
ربط ،خلاصه ، دَسورت 372
کذبت ثمود وعاد بالقارعة تخویف دنیوی یو څو نمونی 373
فاذا نفخ فی الصور تخویف اخروی او دَقیامت احوال 377
فلا اقسم بما تبصرون نبی کریم ﷺ او دَقرآن حقانیت اثبات 384
سورة المعارج
ربط ،او خلاصه دَسورت 389

سأل سائل مشركانو نه شكوه او دآياتونو تفسير 389

الا المصلين دَمؤمنانو هغه صفات چه دافع دَعذاب دي 397

فمال الذين كفروا اثبات دَرسالت او دآياتو نو شان نزول 398

سورة النوح

ربط، او خلاصه د سورت 401

انا ارسلنا نوحاً دليل نقلي په توحيد 402

قال رب اني دعوت قومي دَنوح عليه السلام ،دَدعوت مختلف مراحلو بيان او دَقوم طرز عمل بيان 404

سورة الجن

ربط، او خلاصه دَسورت 412

قل اوحي الي دَجناتو نه دليل نقلي او دآياتونو شان نزول 413

وان المساجد لله دويم دليل وحي 421

قل انما ادعو ربي دَحضور ﷺ دَطرفه يو څو اعلانات 422

سورة المزمل

ربط او خلاصه دَسورت 426

يا ايها المزمل حضور صلى الله عليه وسلم ته قيام الليل امر ،آيا مونځ فرضيت نه
قبل قيام الليل فرض وو؟ 427

انا ارسلنا اليكم رسولا اهل مكه ؤ ته تخويف دنيوي ،اودآياتونو تفسير 433

ان ربك يعلم انك تقوم آياتونو شان نزول 435

سورة المدثر

اول نازل شوي سورة ربط، او خلاصه دَسورت 438

يا ايها المدثر حضور صلى الله عليه وسلم ته يو څو حكمونه اودآياتونو تفسير 439

ذرني ومن خلقت وحيدا دآياتونو شان نزول او تفسير 442

كلا والقمر دآياتونو تفسير 448

سورت القيامة

ربط او خلاصه دَسورت 454

لا اقسم بيوم القيمة په اثبات قيامت باندې دوه شواهد 455

لا تحرك به لسانك دآياتونو ناقبل سره ربط بارې كښې مختلف اقوال 458

فلا صدق ولا صلى دَحشر نشر منكرينو ته زجر اودآياتونو تفسير 463

سورة الدهر

ربط او خلاصه د ،سورت 465

هل اتى على الانسان په بعث بعد الموت باندې دَقدرت الهيه نمونه 466

ان الابرار يشربون شكر كونكې انسانانو ته بشارات،اودآياتونو تفسير 468

ان هذه تذكرة دَسورت غرض اولب لباب ذكر 476

سورت المرسلات

ربط،اوخلاصه دَسورت 478

والمرسلات عرفاً په دعوى دَسورت دَشواهدوذكر ،اودآياتونو تفسير 478

الم نخلقكم من ماء مهين په حشر نشر باندې دلائل عقليه 482

ان المتقين في ظلال مؤمنانو متقيانو ته بشارت 486

سورة النبأ

ربط او خلاصه دَسورت 488

الم نجعل الارض مهادا يولس انعامات دَالله بطور نمونه اودليل 490

ان يوم الفصل تخويف اخروي اودَقيامت دَاحوالو تفصيلي بيان 492

سورة النازعات

ربط اوخلاصه دَسورت 500

والنازعات غرقا، نازعات ناشطات، سابحات، الى اخره، دَچا صفات دي؟ 501
أانتم اشد خلقا په دعوى دَسورت باندي دليل عقلي او دآياتونو تفسير 506
سورة العبس
ربط او خلاصه دَسورت 511
عبس وتولى دآياتونو شان نزول او يو څو خبرو پيژندل 512
سورة التكوير
ربط او خلاصه دَسورت 523
اذا الشمس كورت دَنفخ اولى نه قبل دَقيامت شپږم حالات او دآياتونو تفسير 523
سورة الانفطار
ربط او خلاصه دَسورت 533
اذا السماء انفطرت دَقيامت څلور احوالو بيان او آياتونو تفسير 533
سورة المطففين
ربط او خلاصه دَسورت 537
ويل للمطففين دَسورت اوله حصه ناپ تول كښې كمى كونكو ته زجر اودَيو څو خبر پيژندل 538
سورة الانشقاق
ربط او خلاصه دَسورت 547
آياتونو تفسير 548
سورة البروج
ربط او خلاصه دَسورت 555
والسماء ذات البروج په ثبوت دَقيامت باندي دري شواهد 555
قتل اصحاب الاخدود اصحاب الاخدود واقعه او تفسير 557
سورة الطارق
ربط او خلاصه دَسورت 563

والسماءوالطارقحشر نشر باندی دلائل عقليه 563

سورة الاعلى

ربط اوخلاصه دَسورت،اوفضيلت 569

سبح اسم ربك الاعلى په ابتدا دَسورت كښې دَټول سورت خلاصه 569

سورة الغاشية

ربط اوخلاصه دَسورت او دَ آياتونو تفسير 576

سورة الفجر

ربط اوخلاصه دَسورت 582

والفجردعوه دَسورت آياتونو تفسير 582

سورة البلد

ربط خلاصه دَسورت 591

لااقسم دوه شواهد په تذهيد في الدنيا او دآياتونو تفسير 591

سورة الشمس

ربط اوخلاصه دَسورت 597

والشمس وضحاها په موضوع دَسورت څلور شواهد او آياتونو تفسير 597

سورة الليل

ربط اوخلاصه دَسورت 602

والليل اذا يغشى په موضوع دَسورت دوه شواهد اُو دآياتونو تفسير 602

سورة الضحى

ربط اوخلاصه دَسورت 608

والضحى الخ سورت شان نزول او تفسير 608

سورة الانشراح

ربط اوخلاصه دَسورت اوتفسير 614

سورة التين

ربط او خلاصه دَسورت .او تفسير 617

سورة العلق

ربط او خلاصه دَسورت او دَسورت شان نزول او تفسير 621

سورة القدر

ربط شان نزول تفسير 628

سورة البينة

ربط او خلاصه دَسورت 631

فائده دَدى سورت ابتدائى آياتونه دَقرآن پاک مشکل ترین مقاماتو نه دى 632

سورة الزلزال

ربط او تفسير 637

سورة العاديات

ربط خلاصه او تفسير 640

سورة القارعة

ربط او سورت تفسير 644

سورة التكاثر

ربط او تفسير 646

سورة العصر

ربط او تفسير [illegible]

سورة الهمزة

ربط او تفسير [illegible]

سورة الفيل

[illegible] [illegible]

سورة قريش

ربط دعوه دسورت اوتفسير 657

سورة الماعون

ربط اوتفسير 659

سورة الكوثر

ربط اوتفسير 661

سورة الكافرون

ربط،شان نزول اوتفسير 663

سورة النصر

ربط،اوتفسير 665

سورة اللهب

ربط شان نزول اوتفسير 667

سورة الاخلاص

ربط،شان نزول ،فضائل اوتفسير 671

سورة الفلق

ربط فضائل شان نزول اوتفسير 674

سورة الناس

ربط ،تفسير 677